يَهْدِيْ إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقيقي انداز کښې،
علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمي تحفه

رُشْدُ القُرآن

فِي تَفْسِيرِ آيَاتِ القُرآن

دوم جلد

له ابتداء د سورة نساء نه تر آخره د سورة اعراف پورې

تاليف

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا أسيد الله صاحب حفظه الله

جديد مكتبه رشيديه

محله جنګي قصه خوانې پشاور
091-2580074

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

يَهۡدِیۡۤ اِلَی الرُّشۡدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَ لَنۡ نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَاۤ اَحَدًا

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقیقي
انداز کښې، علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل ، لاجوابه علمي تحفه



رشد القران
في تفسير آيات القرآن

دویم جلد

له ابتداء د سورة نساء نه تر آخر د سورة اعراف پورې

تاليف
شيخ القرآن والحديث
حضرت مولانا أسيد الله صاحب رحمه الله

جدید مکتبه رشیدیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : **رشد القران فی تفسیر آیات القرآن**

تالیف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا **أسید الله** صاحب رحمه الله

تصحیح ونظر ثانی : مولانا تقی الله صاحب

جلد : دویم

صفحات : ٦٧٦

تاریخ : ٢٠١٦ء

جدید مکتبہ رشیدیہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور 091-2580074

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

پشاور ◦	◦ کندوز	◦ بغلان
اکوړه خټک ◦	◦ غزني	◦ لوګر
کوټه ◦	◦ جلال آباد	◦ خوست
پروان ◦	◦ قندهار	

رکوع	سورة النساء مدنیة	آیتونه
۲۴	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	۱۷۶
	خاص په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکي دي شروع کوم	

رقم تلاوتها «۴» تسلسلها حسب النزول «۹۲» ، نزلت بعد الممتحنة

ربط: ددي سورة دماقبل سره ربط په دوه قسمه دي - «۱» اسمی «۲» معنوی یعنی مضمونی ربط

ربط اسمی د سورة فاتحه نه شروع دي «۱» ((ایاك نعبد وایاك نستعين)) . «فاتحه» . «۲» ((لانعبد كما عبدت اليهود)) . «البقره» . «۳» ((لانعبد ولانستعين كاالنصرى)). «آل عمران» . «۴» ((ونؤدى حقوق النساء)) . «۵» ((فانزل علينا مائدة رحمتك)) . «مائده»

ربط مضمونی - دادي چه سورة بقرة د مضامینو په اعتبار سره ام او اصل دي په هغې کښې مضمون توحید .نفی دشرک اعتقادی.نفی شرک فعلی. نفی شرک فی الشفاعة او رسالت ، جهاد . انفاق.امور انتظامیه .امور مصلحه دا ټول مذکور وو نو په سورة آل عمران کښې ترینه مضمون توحید . نفی شرک اعتقادی. او رسالت او ددي دواړو متعلق د شبهاتو جوابونه ذکر شوی وو او دا رنګې مسئله د جهاد او انفاق ذکرشوي وه او دلته دهغه مضامینونه د امور انتظامیؤو تفصیل ذکرکیږی

خلاصه

په دې سورة کښې امور انتظامیه ذکرکیږی او دا په دوه قسمه دی «۱» یو قسم هغه دی چې د هغې تعلق د رعیت سره دې «۲» دویم قسم هغه دی چه دهغې تعلق حکامو او سلاطینوسره دې نو په دې اعتبارسره دا سورة دوؤحصوته منقسم دې اوله حصه د ابتداء نه تر آیت «۵۷» پورې ده . په دې کښې «۱۴» احکام د رعیت اومسئله د توحید بالاختصاربیانیږی او دویمه حصه ترآیت «۱۲۶» پورې ده په دې کښې نهه احکام سلطانیه او مسئله د توحید په تفصیل سره بیانیږی

د «۱۴» احکامو د رعیت خلاصه داده چه د یو بل حق تلفی مه کوئ. او په یو بل ظلم مه کوئ. او د نهه «۹» احکامو سلطانیو خلاصه داده چه بل څوک هم ظلم کولو ته مه پریږدئ

د سورة په ابتداء کښې تخویف اخروی دې یعنی کوم احکام چې دلته ذکرکیږی نه دی باندی عمل اوکړئ ورنه تاسو ته به عذاب درکړې شی . او د عذاب نه دیخ کندو دپاره دری اموردی دوه سلبی یو ایجابی دې (۱) ظلم مه کوئ دا خلاصه د احکامو درعیت ده (۲) شرک مه کوئ (۳) احسان کوئ او د دوارو حصونه روستو تر آخر پورې تنویر دې یعنی حصه اولی د دوو احکامو توضیح او تفصیل دې یعنی د دویم حکم او د څوارلسم حکم تفصیل دی او د حصه ثانی د نهم حکم تنویر او توضیح ده

مختصره خلاصه

دا سورة دوه حصې دې په اوله حصه کښې څوارلس احکام د رعیت او مسئله د توحید بالاختصار ده او په حصه ثانی کښې نهه احکام سلطانیه او مسئله د توحید تفصیلا ده او په خاتمه کښې تنویر دې په دې دوارو حصوباندې

تنبیه په سورة آل عمران کښې د شرک اعتقادی یوقسم نفی اوکړې شوه یعنی دا چې د الله تعالی نه ماسوی هیڅ څوک د بلنې او دعبادت حقدار مه ګنړئ او په سورة نساء کښې د بل قسم شرک اعتقادی نفی کیږی چې **هغه شرک فی التشریع دې** یعنی دا چې د الله تعا لی د حکم په مقابله کښې د بل چا حکم واجب الاتباع منل . حضرت شیخ دخپل شیخ رحمه الله عبارة دا سې نقل کوی ,,ان الله بيّن فى سورة النسآء احكامًا ثم قال اعبدوا الله ولاتشركوا به شيئًا فعلم ان كــون العبد بحيث يعتقدون انّ عليّ اتباع امور غير ما امر به الشارع شرك ،،

فائده بعضې خلق تقلید ته شرک فی التشریع وائی ځکه چې مقلد د خپل اما م قول د شارع ,,رسول، دقول په مقابله کښې منی

ددې **جواب** دادې چه دا جهل یا تجاهل دې او مبنی دې په عدم فرق په ما بین د تشریع او تشریح کښې او دشارع او د شارح کښې او که د مجتهد قول په ظاهر کښې د یو حدیث نه مخالف وی نو په حقیقت کښې د بل حدیث قوی سره موافق وی او د ترجیح دپاره د هر مجتهد خپل خپل اصول دی هر کس او نا کس دا صلا حیت نه لری ,والله الموفق،

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

اې خلقو[١] ویریږئ دخپل هغه رب نه چې پیداکړي یئ تاسو دیونفس نه اوپیداکړي ئې ده هغه نه بي بي دهغه

١ تخویف اوتمهید داحکامو د سورة

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ

اوخواره کړي ئې دي ددغه دواړو نه سړي ډېر او ښځې ډېرې، اوویرېږئ دهغه الله نه چې تاسو دیوبل نه سوال کوئ

بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ۝١ وَآتُوا الْيَتَامَىٰ

دهغه په نامه اوویرېږئ دصله رحمی قطع کولونه . بېشکه الله په تاسونګهبان دي اوورکوئ (۱) یتیمانو ته

أَمْوَالَهُمْ ۖ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ۖ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ

مالونه دهغوئ اومه اخلئ دهغوئ عمده مال په بدله دخپل ردي مال کښې، اومه خورئ دهغوئ مالونه

إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا ۝٢

د خپلو مالونو سره . بېشکه دا ګناه دې لوئي

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ﴾ دا تخویف دې او تمهید دې ټولواحکامو د سورة ته ځکه چې د سورة خلاصه داده چې ظلم مه کوئ. شرک مه کوئ د یو بل سره احسان او ښائسته سلوک کوئ . نو دا آیت ورله تمهید دې چې ستاسو خالق او ستا سو رب یو ذات دې هغه تاسو د یونفس نه پیدا کړی یئ. حاصل دا چې ستاسو خالق یو ذات دې او ستاسو «مخلوق منه» هم یو دې. ستاسو رب او ستاسو اب یو دې نو تاسو په مـ . . : اعضاؤ د جسدواحد یئ او د یو جسد اعضاء په یو بل باندې ظلم نه کوی بلکه د یو بل تعاون او خدمت کوی بغیر د څه معاوضه نه نو تاسو هم دغه شان شئ ، وفی الحدیث عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه قال، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ((تری المؤمنین فی تراحمهم وتوادّهم وتعاطفهم کمثل الجسد الواحد اذا اشتکی عضو تداعٰی له سائر الجسد بالسهر والحمی)) . (متفق علیه) . ((وعن رضی الله تعالی عنه : المؤمنون کرجل واحد ان اشتکی عینه اشتکی کله، وان اشتکی رأسهٗ اشتکی کله)) . (مسلم)

شیخ سعدي وائی

بنی آدم اعضای یک دیگراند | که در آفرینش زیک جوهر اند
چو عضو بدرد آورد روزگار | دیگر عضوها را نماند قرار

۱ اول حکم داحکامو درعیت نه یعني دیتمانو مالو مه خورئ داستاسودپاره حرام دي

﴿نَفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ آدم علیه السلام مراد دي ﴿وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا﴾ حضرت حواء په جنت کښې د آدم علیه السلام د چپې پښتۍ نه پیدا شویده (کما ورد فی الحدیث)، ﴿وَبَثَّ مِنْهُمَا﴾ یعني د دنیا په اطرافو او اکناف کښې چې خومره سړي او ښځې دي دا ټول الله تعالی د آدم علیه السلام او د حواء نه پیدا کړي دي او خوارہ کړي دي په اطرافو د عالم کښې ﴿تَسَاءَلُونَ﴾ دا په اصل کښې ((تتساءلون)) وو یو تا د تخفیف دپاره حذف شویده باب تفاعل د اشتراک دپاره دي یعني تاسو د یو بل نه د الله تعالی په نامه سره سوال کوئ نو د هغه د حکم نه هم خلاف مه کوئ یا ﴿تَسَاءَلُونَ﴾ په معنی د ((تسئلون)) سره دي او ((به)) کښې (با) زائد ده یعني تاسو سوال کوئی د هغه نه ﴿وَالْأَرْحَامَ﴾ دا عطف دي په لفظ د الله باندې ای ((واتقوا الارحام ان تقطعوها)) یعنی ځان بچ کړئ د صله رحمی (خپل ولی) قطعه کولو نه ﴿رَقِيبًا﴾ نګاهبان او نګرانی کونکې. ابن کثیر رح وائي چې په دې کښې اشاره ده مضمون د حدیث ته: ((اعبدوالله کأنک تراهُ فإن لَمْ تکنْ تَرَاهُ فَإنَّهُ یَرَاکَ)).

﴿وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ﴾ دا اول حکم دې په احکامو د رعیت کښې او دا خطاب دې اولیاؤ د یتیم ته او د ورکولو نه مراد حواله کول نه دې ځکه دا روستو ذکر کیږی بلکه مراد ترینه ترک سالمةً دې (روح) یعنی تاسو مه خورئ مالونه د یتیمانانو

د هغوئی مال به په جاهلیت کښې به په دریو طریقو سره خوړې کیده.

۱- یو دا چې د یتیم مال نه به ئی عمده څیز ځان لره واخستو او ردی څیز به ورله په بدله کښې ورکړو ۲- دا چې خپل مال او ضرورت څه شې به ورسره نه وو نو د یتیم مال به ئې اخستلو ۳ - دا چې د یتیم سره به ئی شرکت اوګډون اوکړو نو یدې طریقه به ئې د یتیم مال خوړلو د لته د درې وارو طریقو نه منع شویده د اولې طریقې نه منع دا ده

﴿وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ﴾ یعني مه اخلئ عمده مال د یتیم په بدل د ردی مال ستا سوکښی علامه قرطبی وائی ((ای لاتتبدلوا الشاة السمینة من مال الیتیم بالهزیلة ولا الدراهم الطیب بالزیف وکانو فی الجاهلیة لعدم الدین لایتحرجون عن اموال الیتامٰی فکانو یأخذون الطیب والجید من اموال الیتامی ویبدلونه بالردی من اموالهم ویقولون اسمٌ باسمٍ ورأسٌ برأسٍ فنهاهم الله عن ذلك، هذا قول سعید بن مسیب والزهری والسدی والضحاك وهو ظاهر الایة))

یعنی د آیت دا معنی کول ظاهر دی چې مه اخلئ عمده مال د یتیم په بدله دَ ردی مال

ستاسو کېږي لکه چه دا قول د سعيد ،زهري. او سدي دې خوېدي تقديربه تبدل باب تفعل په معنی د تبديل باب تفعيل سره شي خکه چې صاحب د روح المعاني وغيره دا تفصيل ذکر کړې دې چې د دې مادې نه چې کله باب استفعال را شي لکه استبدال .يا تفعل را شي لکه تبدل. نو د فعل نه روستو دوه امره ذکرکيږي يو مدخول الباء وي او بل مدخول الباء نه وي نو مدخول الباء به متروک وي اوکوم چې مدخول الباء نه وي نوهغه به ماخوذ او موجود وي لکه ﴿أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ﴾ د لته ((ادنی)) چه غير مدخول الباء دې ماخوذ او ((خير)) چه مدخول الباء دې متروک دې او يا لکه ﴿وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ﴾ دلته کفر ماخوذ او باقي دې او ايمان متروک دې نو بناء په دې قانون دلته کېږي يکار ده چې ((طيب)) چې مدخول الباء دې متروک شي او ((خبيث)) ماخوذ شي او معنی ئې دا شي چې مه اخلئ ردی مال د يتيم په بدله دعمده مال خپل کېږي حالانکه دلته امر بالعکس دې خکه چې دوئی به عمده شې اخستلو ديتيم نه او ردی به ئې ورله په بدل کېږي ورکولو

يوجواب داسې دې چې ولي د يتيم چونکه د هغه د طرف نه وکيل دې نو د ده استبدال اخذ د ردی شو د يتيم پاره په بدله دعمده کېږي

اوبل جواب دادې چې دلته باب استفعال په معنی د تفعيل سره دې يعنی استبدال په معنی دتبديل سره دې او په تفعيل کېږي کله مدخول د با متروک وي لکه ﴿وَبَدَّلْنَٰهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ﴾ اوکله بالعکس وي يعنی مدخول دَ باء موجود اوحاصل وي اوکوم چې مدخول الباء نه وي نوهغه به حاصل اوموجود نه وي لکه ((بَدَلْتُ الْحَلْقَةَ بِالْخَاتِمِ)) چې دحلقه نه خاتم جوړ کړی نو په دې آيت کېږي به باب ((تفعل)) په معنی د ((تفعيل)) سره شي او باب تفعيل په دې دويمې محاورې سره مستعمل دې

دريم جواب اوبعض مفسرين وائي چې ((خبيث)) په معنی د حرام سره دې او ((طيب)) په معنی د حلال سره دې او معنئ داده چې مه اخلې حرام يعنی عمده مال د يتيم چې ستاسو دپاره حرام دې په بدله د حلال کېږي چې ستاسو مال دې

﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَٰلِكُمْ﴾ په دې کېږي دويمې اودريمې طريقې منع ده ((الي)) په خپل معنی سره دې او مضاف مقدر دې ((اي الی وقت حصول اموالکم)) نو دا ددو يمې طريقې د منع

د ي الى په معنى د مع سره دي نودا د دريمې طريقې منع ده

﴿إِنَّهُ كَانَ حُوبًا﴾ ضمير راجع دي ماقبل ته چې تبدل او اكل دي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چې حوب اثم يعنى گناه او ظلم ته وائي په لغت حبشى كښې

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا

اوكه ... تاسو يعني كه پوهېږئ چې انصاف نشئ كولي په باره ديتيمانوجينكو كښې نو نكاح كوئ

مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَ رُبٰعَ ۚ فَإِنْ خِفْتُمْ

دهغې سره چې حلالې وي تاسولره دنورونښخونه. دوه دوه اودرې درې اوڅلور څلور. پس كچرې تاسوويريږئ يعني پوهه شئ

أَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۭ ذٰلِكَ أَدْنٰى

چې عدل نشئ كولې نونكاح كوئ ديوې سره ياگزاره كوئ په هغه وينځې چې مالک دي ښى لاسونه ستاسو. دا ډېره نزدې ده

أَلَّا تَعُوْلُوْا ۝

دې خبرې ته چې تاسو به ظلم اونكړئ

﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتٰمٰى﴾ **دا دويم حكم دي** د احكام د رعيت نه او ددې حاصل دا دي كه تاسو د يتيمانانو جينكو سره نكاح كول غواړئ نو مهر او نور حقوق ورلره پوره پوره وركوئ او كه مهر او نور حقوق نه ادا كوئې نوبيا د يتيمانانو جينكو سره نكاح مه كوئ د نورو ښخوسره نكاح اوكړئ د حسن رحمه الله نه روايت دي چې په جاهليت كښې به دا رواج وو چې د چا په توليت او قبضه كښې به جينئ وه او مالداره به وه او د غې ولى به ورته رغبت د نكاح او مينه نه وه خو د هغې د مال قبضه كولو دپاره بئ ورسره نكاح اوكړه او بيابئ ورسره حسن سلوک نه كوو او حقوق د زوجيت به ئې نه ادا كول نو الله تعالى دوئى منع كړل ددينه، او د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دي چې يتيمه جينئ چې دولى په ولايت او تصرف كښې به وه او د ده رغبت او مينه به ورته هم وه د مال او د جمال په وجه نو اراده به ئ وه چې نكاح ورسره اوكړي ليكن په مهر كښې به ئ ورسره انصاف نه كولو چې ديته هغه مقدارمهر وركړى چې څومره بل څوک ورته

١ دويم حكم يعني كه د يتيمانو جينكو سره نكاح كوئ نومهر اونور حقوق ادا كوئ

ورکوی نودوني منع کړي شو د دينه چي نکاح وکړي د يتيمانو جينکو سره مګر دا چي دوئ سره انصاف کوئ او پوره پوره مهر ورکوئ او امر ورته او شو چي دنورو ښځو سره نکاح کوئ يعني مسوی د يتيمانو جينکو نه «او پدي حکم باندي تنوير په آخر د سورة کښي راځي»

﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ ﴾ په ايت کښي د خو ف نه مراد علم دي او لفظ د خوف هغه معلوم دپاره مستعمليګي چي خوف ترينه کيديشي او استقبالي وي «الاتقسطوا» دا په تاويل د مفرد سره مفعول د «خفتم» دي « اى ان خفتم عدم الاقساط» «قسط» ظلم ته وائي او قاسط ظالم ته وائي. او اقساط عدل او انصاف ته وائي او مقسط منصف ته وائي «يتامى» دا جمع د يتيمةٌ ده

﴿ فَانْكِحُوا ﴾ هغه چي حلا ل وي ياهغه چي ستاسو خو خي وي او (ما) په معنى د (من) سره دي او تعبير په (ما) سره شويدي نو د يکښي اشاره ده نقصان دعقل د دوئ ته خکه چي ما دَ غير ذوى العقل دپاره راځي او «من النساء» بيان د ما دي «اى غيراليتامى» ﴿ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ دا درې واړه منصوب دي بنابر بدليت د «ماطاب» نه يا بنابر حاليت د ضمير مستتر د «طاب» نه او حال چونکه بيان وي د کيفت د فعل دپاره او قيدوى د عامل دپاره او قيد په حقيقت کښي نفي د مقابل وي نومعلومه شوه چي نکاح په دي کيفيت سره جائز دي چي مَثْنى او ثُلثَ او رُباعَ وي اوکه د دينه متجاوز شو نو بيا جائز نه دي، د ترکيب نحوى په اعتبار سره هم دا اسماء غير منصرف دی د عدل اووصفيت د وجه نه خکه چي (مثنى) معدول دي د اثنين اثنين نه او (ثلث) معدول دي د ثلا ثةٌ ثلا ثةٌ نه او (رباع) معدول دي د اربعةٌ اربعةٌ نه په نزد د بصريونو باندي ددي دريونه علاوه په نورو اسماء عددو کښي عدل نشته او په نزد د کوفيينو باندي راتلي شي «خماس مخمس» نه تر «عُشار معشر» پوري اګر چي مسموع نه دي اووصفيت په اسماؤ عددوکښي اګر که عارضي وي نو دا معتبر نه وي په منع صرف کښي ليکن دلته د نقل په وجه سره دا وصفيت اصلي ګر ځيدلي دي نو معتبر دي او دلته اسماء معدوله ذکر شو يعني مثنى . ثلث ،رباع او اسماء عدد غير معدوله ذکر نه شو يعني «اثنين ،ثلا ثة ، اربعة» خکه چي په د غه صورت کښ به فهميږي اشتراک د ټولو په «اثنين» يا «ثلا ثة» يا «اربعة» کښي خکه چي «فانکحوا اثنين» معنى داده چي تاسو ټول د اثنين سره نکاح کوئ يا تاسو ټول د ثلا ثة سره نکاح اوکړئ يا د اربعوسره نکاح اوکړئ حالانکه د ا معنى فاسدده او د معدول په معنى کښي تکرار دي نو د «مثنى» معنى دا شوه «اثنين، اثنين» نو په ديکښي توزيع او تقسيم دي يعني يوسړي د

دوو ښځوسره نکاح وکړئ او بل سړي هم او بل سړي هم او په دغه شان ثلاث .او ربع دي او بله وجه داده چې په اسماؤ عددکښې صرف عددمقصودوی او په اسماؤمعدولو کښې د عدد نه علاوه بل مرادهم وی نو چې دا سې ويلې شي ((جاء القوم اثنان)) نو معنی داده چې دوه راغلل برابره خبره ده که مع وی او که جداجدا وی اوکه دا سې اويلې شي چې ((جاء القوم مثنى))

نومعنی ئې داده چې دوه معاً راغلی دی او بيا دوه جمعاً راغلل او دغه رنګې دری او ځلور او دلته دوه بيبيانې اودرې يا ځلور جمع کول مقصود وو د يوسړی دپاره نوځکه اسم معدول ذکرشو . او عطف په ((او)) سره اُونه شوځکه چې مقصود دلته کښې دادې چې هرڅوک چې هر يو عدد ددې اعدادو نه چې اختياره وی نو جائز ده نو که ((او)) ذکر شوې وی نو هغه دلا لت کوی په تقسيم باندې نو مطلب به دا وو چې د يو قسم سرودپاره اثنين دی او بل قسم دپاره ثلث دی او د بل قسم دپاره به رباع وی او د هرچا دپاره هر يو عدد جائز نه دې حالانکه دا خلاف المقصود دې او د عطف بالواو نه مقصود جمع د داعداد مذکوره نه ده لپاره د شخص واحد حتی چې د شخص واحد دپاره نکاح د تسعو(۹) سره جائز شي ((کماهو رأیُ بعض الروافض وبعض الظاهرية)) (قرطبی) بلکه مقصود بيان د هغه مراتبو دعدد دې، چې په هغې باندې ختميږی جواز د نکاح يعنی جواز د نکاح د عدد مثنی نه شروع دې او په رباع باندې ختم دې

﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا﴾ يعنې تاسوته علم يا ګمان وی چې دوؤ يادرېو ښځو په منځ کښې انصاف نشې کولې ﴿فَوَاحِدَةً﴾ أی ((فَاخْتَارُوا وَاحِدَةً)) يعنی اختيار کړئ يوه په نکاح سره او ﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ دا عطف دې په ((واحدة)) باندې او د هغې مقابل دې نو دا اشاره ديته ده چې په وينځو کښې عدل او عددشرط نه دې البته حسن سلوک او احسان ضروری دې او د ا رنګې اشاره ده چې مملوکه مقابل د منکوحې ده نومعلومه شوه چې نکاح او ملکيت دواړه په يو محل باندې نه جمع کيږی، او دلته فعل ناصب يا هغه سابق دې چې ((فاختاروا)) دې البته دلته اختيار په طريقه د تسرّی سره دې او هلته په طريقه د نکاح سره وو، يابل فعل ناصب مقدر دې ای ((فاقتصروا يا فالتفوا))

سوال چې دلته کښې ذکرشو ((ان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة)) يعنی که تاسو د ډيرو ښځو په حق کښې عدل او مساوات نشئ کولې نوبيا يوه ښځه کوئ او په روستو آيت ۱۲۹ کښې دی ((ولن تستطيعوا ان تعدلوا)) يعنې دا يقينی خبره د چې تاسو عدل او مساوات نشئ کولې نو د

دواړو اياتونو د جمع نه دا معلومه شوه چې د يوې نه زياتې ښځې کول جائز نه دی

جواب د ((ولن تستطيعوا ان تعدلوا)) مطلب دادې چې قلبي محبت او ميلان ستاسو په اختيار کښې نه دې نو په هغې کښې د کمی او بيشی په وجه ستاسومواخذه نه کيږی نودا قسم کمې او زياتې مانع نه دې د تعددد ازواجو دپاره البته کوم امور چې ستاسو په اختيارکښې دی يعني ظاهري امورو کښې عدل او مساوات لازم دې لکه نفقه او سکنی وغيره شو او که پدې امورو کښې تاسو عدل او مساوات نه کوئ نو بيا د يوې ښځې نه زياتې ښځې مه کوئ دپاره ددې چې ظلم او نه شی او دامطلب دې د دې کلام الهی ﴿فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ﴾ اود ﴿وَلَن تَسْتَطِيعُوٓا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَآءِ﴾ دا مطلب نه دې چې تاسو قدرت نه لرئ د مساوات په ظاهري امورو کښې څکه دا قدرت لرل خو مشاهد دی نونفې نه صحيح کيږی ﴿ذَٰلِكَ﴾ يعني نکاح د يوې او يا اکتفاء په وينزه باندې ﴿أَدْنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُوا﴾ ډيره قريبه ده ديته چې تاسوبه ظلم او نکړئ. علامه قرطبی رحمه الله د ابن عربی نه نقل کړې دې چې ((عال)) په او وه مشهورومعنوسره راځی (۱) ميلان ((عال أی مال)) (۲) زيادت (۳) جوراو ظلم کول (عَالَ ای جَارَ) ، (۴) په معنی د افتقار (ای افتقر) (۵) او په معنی د ثقل (ای ثقل) (۶) عال أی قامَ بمؤنة العيال ومنه قوله عليه السلام وابدأ بِمَنْ تَعولُ په معنی د غلبې سره ((عال عليه ای غلب عليه)) او اتمه معنئ ئی کثرت د عيال ده. دامام شافعی رحمه الله نه روايت دې چې دلته دا معنی مرادده ليکن امام ثعلبی رحمه الله او ابن عربی رحمه الله پدې اعتراض کړې دې چې په لغت کښی دعال اوۀ معانی دی او نورې معاني ورله نشته **قرطبی جواب** کړې دې چې دا قول د زيدبن اسلم او د جابر بن زيدنه هم منقول دې چې د عال معانی پدغه اوۀ کښې منحصرې نه دی ((عال الامر اشتد الامر وتفاقم)) هم ده کما قال الجوهری او (عالنی الشئ) د (اعجزنی)) په معنی دې

جمهورمفسرينو د ابن عباس رضی الله عنه او دنوروسلفو نه نقل کړېدی چې د ((الا تعولوا)) معنی ظلم دې. د حضرت امام شافعی رحمه الله نه چې کوم تفسير مروی دې نودې زمانې بعضې زانغين هغه د خاندانی منصوبه بندی (ضبط توليد) د استدلال دپاره پيش کوی

نواول جواب ترينه دا دې چې جمهورمفسرينو او سلفو د غه تفسير ندې کړې او نه امام شافعی رحمه الله د ضبط توليد قول کړې دې

دويم جواب دادې چې د ضبط توليدقول ددې آيت نه خلاف دې څکه چې په دې آيت

کښي صراحة د ځلورو ښځوسره د نکاح اجازت ورکړي شوي دي نو دا خو ظاهره خبره ده چي د ډيرو ښځونه خو اولادهم ډيرپيدا کيږي نوبيا څنګه د اولاد د کم والی ترغيب ذکر کيږي

او د امام شافعي رحمه الله د کلام توجيه داسي ممکنه ده چه «ذلك» اشاره ده عدد د ځلورو ته او د آيت مطلب داي چه د ځلورو ښځو اجازت الله تعالى ورکړي دي نه د زياتو. نو دا قريب دي چه په تاسو بوج د عيال زيات نه شي. يعني که د ځلورو نه زياتي جائز شي نو په تاسو به بوج زيات شي او برداشت به ئې نشی کولي او د ځلورو يا د کم د ځلورونه بوج برداشت کيدي شي

وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ

وورکوئ [1] ښځونه مهرونه دهغوئ په خوشحالئ سره. نوکه راضي شي دابښځي تاسونه په بخښنه دڅه څيز

مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا ﴿٤﴾

دمهرنه په خوشحالئ دنفس خپل نوخورئ هغه پداسي حال کښي چي خوندور حلال بي ضرر

﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ﴾ **دا دريم حکم** دي چي د کوم ښځوسره چي تاسونکاح اوکړئ نو مهربه ورته پوره پوره ورکوئ «صدقات» جمع د صدقة ده. مهرته ځکه صدقه وائی چي پدي سره معلوميږي صدق د رغبت خپلي زوجي ته «**نحلة**» منصوب دي بنابرحاليت او «**نحلة**» په معنی د فريضة سره دي «أی حال کون المهور فريضة لهنّ من الله» ، يامنصوب بنابرمفعول مطلق دي ځکه چه «نحلة» په معنی د «اعطاء» سره دي «أی : أعطوا النساء صدقاتهن إعطاءً» او دا مفعول مطلق بيان د نوع لپاره دي ځکه چي د «اعطاء» نه مراد هغه اعطاء ده چي په طيب نفس او په خوشحالئ سره وی او يا هغه اعطاء ده چي پوره پوره وی يعنی ښځوته د دوئ مهرونه پوره پوره او په خوشحالئ سره ورکړئ.

﴿فَإِن طِبْنَ﴾ د طِبْنَ معنی ده په خپلي رضا اوخوښئ سره وربخل. يعني کچري ښځو تاسوته په خپله رضا اوخوښئ سره بخنه وکړه د څه شی د مهر نه ﴿عَن شَيْءٍ مِّنْهُ﴾ په موضع د حال کښي دي «أی : عافيات عن شئ». د «منه» ضمير راجع دي صدقات ته په تاويل د مال باصداق سره ﴿نَفْسًا﴾ دا تميزدي د نسبت د «طبن» نه خپل فاعل ته او پدېکښي تاکيد د معنی

[1] دريم حکم يعنی ديتيمانو جينکو نه علاوه چي نوروښځو سره نکاح کوئ نومهرونه ورکوئ

د ،،طبن،، دي چي دا وربخل د مهر د زړه نه وي او صرف ظاهري نه وي
نفسا،، مفرد مذکر ذکر شو او ،،نفوسا،، ذکر نه شو اګرکه مرادترینه ،،نفوسهن،، دي خکه دلته
مقصود په تمیز ذکرکولوسره بیان د جنس دي چي طیب دي ﴿فَكُلُوهُ﴾ مراد اکل نه اخذ او
تصرف دي ﴿هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا﴾ دا دواړه منصوب دي بنا په دي چه صفتین دی دمفعول مطلق مقدر
دپاره ،،أی . أکلاً هنیئا مریئا،، یا منصوب بنابر حالیت د ضمیر د ،،کلوه،، نه دي. ،،هنیی، مریئ،،
دا دواړه په وزن د فعیل سره قریب المعنی دی فرق ئي دادې چي ،،هنیئ،، هغه طعام ته وائي چي
خوندور او مزیدار وی یا هغه طعام چي بغیر د مشقت نه حاصل شوي وی او ،،مریئ،، هغه طعام
ته وائي چه زر هضم کیږی یا هغه طعام ته وائ چي بي ضرره وی. او دواړه ذکر شو د پاره د
مبالغي په اباحت کښي. علامه قرطبی او علامه روح المعانی وغیرهما د حضرت علی رضی
الله عنه نه روایت نقل کړي دي چه چاته دڅه بیماری شکایت وی اګر چي لاعلاج بیماري وی
،،کمافی بعض الروایات،، نو د خپلي بي بي نه دي دمهر دمال نه څه روپۍ او غواړی او هغه دي
ورته په طیب خاطر سره ور کړی نو پدي باندي دي شهد ،،ګبین،، واخلی او د باران د ابو سره دي
خلط کړی او استعمال دي کړی نوان شاءالله بیماری به ئي ختمه شي. او حضرت علی رضی الله
عنه ددي دپاره دري آیاتونه اولوستل (۱) ﴿وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبَٰرَكًا﴾ (۲)﴿يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا
شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾ (۳)﴿فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا﴾ نو چه کله ،۱، برکت ،۲، شفاء ،۳،
هنیئا .دري واړه راجمعه شي نو معجون شفاء به ترینه جوړ شي

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ الَّتِى جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَٰمًا

اومه ،[۱] ورکوئ کم عقلوته مالونه دهغوئ چي تاسوسره دي هغه چي ګرزولی دي الله سبب دبرابرئ دمعیشت ستاسو

وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝

اوخوراک ورکوئ دوئ ته په هغي کښي اوجامي ورکوئ دوئ ته او وایئ دوئ ته خبره نیکه یعني سمه

﴿وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ﴾ دا خلورم حکم دي چي یتیم ترڅوپوري بالغ شوي نه وی نومال

۱- خلورم حکم یعني چي یتیم بالغ شي نو دګواهانو په حضور کښي ورته مال حواله کړئ

نی وررته مه ورکوئ او خرڅې ورته ورکوئ او کله چې بالغ شی نو مال ورته ورکړئ د ګواهانو په حضور کښې ((سفهاء)) د ((سفیه)) جمع ده نابالغ ،مبذر ،پاګل. دې ټولو ته شامل دې او د ((اموالکم)) نه مراد هغه مالونه د یتیمانانو دی چې د ولی په قبضه کښې وی او دې نی حفاظت کوی او اضافت دوئ ته مجازاً دې

﴿الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا﴾ ((قیاما)) مفعول ثانی د ((جعل)) دې او مفعول او ل نی محذوف دې ((ای جعلها الله)) قیامًا په اصل کښې ((قواما)) وو نو ((واو)) په ((یا)) سره بدل شوې دې او معنې نی ده سبب د معیشت. خکه چه مال سبب د ګذارې او د معیشت د انسان دې او ((التی جعل الله)) دا صفت د ((اموالکم)) دې او پدې صفت ذکر کولو کښې علت ته اشاره ده چې مالونه سبب دمعیشت دی نو سفهاؤ ته چه ورکړ ې شی نو د دوئې معیشت ته به نقصان ورسی او صاحب دروح المعانی وائی چې پدې کښې اشاره ده مدح دمال ته، لکه چې بعض سلفو صالحینونه نقل دی چې مال د مؤمن دپاره صلاح ده او په یو روایت کښې دی ((نعمًا بالمال الصالح للرجل الصالح)) (مشکوة) یعنې د صالح سړی دپاره پاکیزه مال ډیرښه متاع حیات دې او په بل روایت کښې دی ((لاباس بالغنی لمن اتقی الله عزوجل)) (مشکوة) یعنې د متقی دپاره په مال کښې څه حرج نشته دې او په کومو روایاتو کښې چې د مال مذمت ذکر دې (١) نو د هغې نه مراد هغه مال دې چې په حرامه طریقه سره حاصل شوې وی (٢) او یا د معصیت په لاره کښې نی استعمالوی او د خپل خان دپاره نی ذریعه د عذاب جوړوی (٣) او یا دا دهغه چا د پاره دې چې دنیوی ساز اوسامان لره ډیر اهمیت ورکوی او د دین او ایمان اهمیت کم لری او د دنیا دپاره دین پریدی نو ددغه شان خلقو په باره کښې دا حدیث وارد دې ((کادالفقریکون کفرا)) خکه چې بعض وخت کښې تنګدستی مسلمان لره کافر ګرخوی کوم انسان سره چې د دین اهمیت کم وی او د دنیا اهمیت ورسره زیات وی نو چې کله تنګدسته شی (نعوذباالله) نوبیا د مال د حصول دپاره کافر کیدوته تیاروی نو چې کله دا دواړه خبرې نه وی نوبیامال مذموم نه دې لکه

امام سفیان سوری رحمه الله فرمائلی دی ((کان المال فیما مضی یُکره فاما الیوم فهو ترس المؤمن)) یعنې مخکښې زمانه کښې به خلقوته مال بدلګیده لیکن پدې زمانه کښې مال د مؤمن دپاره ډال دې او دارنګې دوئی ویلی دی ((من کان فی یده من هذه شیئًا فلیصلحه فانه زمانٌ ان احتاج کان اول من یبذل دینه)) یعنې د چاسره چې څه مال وی نو د هغې دې حفاظت کوی خکه چې دا داسې زمانه ده چې څوک محتاج شی نو د خپل حاجت پوره کولو دپاره اول دین خرڅوی

﴿ وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا ﴾ یعني یتیمانانولره خرچ، خوراک، لباس دوائي وغیره ضروریات د هغوئی د مال نه ورکوئ او په لفظ د ((فیها)) کښې اشاره ده دیته چې د دوئی اموال محل د خرچ خوراک او لباس دپاره دی نو په هغې کښې انصاف پکاردې چې ختم نه شی او که ((منها)) نې ویلې وې نو بیا به دې خبرې ته اشاره نه راتله او په حدیث پاک کښې راغلی دی ((الامن ولي یتیما فلیتجره في ماله حتی لاتاکله الصدقة)) یعني ولی د یتیم لره پکار ده چې د یتیم په مال کښې دې تجارت کوی چې په صدقې سره ختم نه شی او دلته د صدقه نه مرادنفقه ده لقوله علیه السلام ((نفقة الرجل علی اهله صدقة))

﴿ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا ﴾ یعني سفهاؤ او نابالغوته مال مه ورکوئ او نرمه خبره ورسره کوئ چې دا ستا مال زما سره امانت دي او د ستاسو د فائدي دپاره یې حفاظت کوم او دغه شان نورې نرمي او خوږې خبرې ورسره کوئ او د لاسه کوئ نې او علامه روح المعاني وائی چې په دې کښې تعلیم د ضروریاتو د دین هم داخل دي.

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ

او آزمینت کوئ په یتیمانو ترهغې چې کله اورسي دوئ حد دنکاح ته (بلوغ) نوکه معلومه کړه تاسو دهغوئ نه

رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ

هوښیارتیانوورکړئ مالونه دهغوئ هغوته. اومه خورئ هغه په اسراف سره اوجلتئ سره دوچې د یرې ددې نه چې دوئ به

يَّكْبَرُوْا ۭ وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ

لوئي شي.اوڅوک چې غني وي نوځان دې بچ ساتی دمال دیتیم نه.اوڅوک چې فقیروي نو خوراک دې کوي دهغې

بِالْمَعْرُوْفِ ۭ فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ۭ

نه په ښه طریقه. بس کله چې تاسو حواله کوئ دوئ ته مالونه ددوئ نوګواهان اونیسئ په هغوئ باندې

وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

او پوره دې الله حساب کوونکې

﴿ وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى ﴾ دا د ماقبل سره متعلق دې یعنی سفهاؤته او نابالغوته مالونه مه ورکوئ.

البته د دوئی د صلاحیت ازمیښت کوئ او امتحان ئې اخلئ معمولی کارونه او خرید اوفروخت وغیره پرې کوئ ترڅو چې دوئ بالغ شي نو د بلوغ نه بعد ﴿فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا﴾ که چرې تاسو په دوئ کښې قابلیت او صلاحیت ا ولیدو نومالونه ورته حواله کړئ د ګواهانو په حضور کښې. اوکه په دوئی کښې قابلیت او صلاحیت نه وو، نو که مجنون وؤ نوهغه ته خوبه مال نشي حواله کیدې او که مجنون نه وی هسې مبذوروی یا د ماشوم والی اثرات ترینه نه وی زائل شوی بلکه مال خرابوی نوحجربه پرې لګولې شي. نواکثرفقهاء کرام وائی چې ترڅوپورې پده کښې صلاحیت د رشد نه وی راغلې نوحجربه پرې لګولې شي اوامام اعظم امام ابوحنیفه علیه السلام وائی تر پنځویشت کالوپورې به پرې حجرکولې شي. دینه وروستوبه پرې نشی کولې ځکه پنځویشت کاله عمر د جد (نیکه) مرتبه ده یعني په (۲۵) کالو کښې سړې جد (نیکه) جوړیدې شي نوحجر پرې ندې پکار ځکه دولس کاله ادنی مُده د بلوغ ده او شپږ میاشتې ادنی مده د حمل ده نوچې کله په دولس نیموکالوکښې ځوک اب جوړشي نو په پنځویشت کالوکښې جدجوړیدې شي ﴿إِسْرَافًا وَبِدَارًا﴾ دا دواړه حال دی د ضمیر د ((لا تأكلوا)) نه او ((اسراف)) په معنی د ((مسرفين)) سره دې او ((بدارا)) په معنی د ((بادرين)) سره دې ﴿أَن يَكْبَرُوا﴾ دا په تاویل: مفرد سره دې او مضاف مقدردې ((اي مخافة ان يكبروا)) یعني مه خورئ مالونه دیتیمانو په داسې حال کښې چې تاسواسراف کونکی يئ او جلدی کونکی يئ د وجه د خوف د دېنه چې یتیمانان به لوئ شي نو مونږنه به مالونه واخلی نوددې وجه نه تاسو د یتیم مال په جلتئ سره خورئ نوداسې مه کوئ.

﴿وَمَن كَانَ غَنِيًّا﴾ یعنی ځوک چې غنی وی نو د یتیم دمال حفاظت دې کوی او څه دې ترینه نه اخلی اوکه ځوک فقیر وی،اونفقې ته محتاج وی نوکه دځپل خان لپاره مستقل کسب کولو سره د یتیم د مال حفاظت نشی کولې نودغه شان سړې دې د یتیم د مال خدمت کوی او د عرف مطابق دې ترینه اجرت اخلی، یا دې ترینه قرض واخلی اوبروقت دې اداء کړی.

﴿فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ﴾ داحکم داشهاد استحبابًا دې

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُوْنَ وَ لِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا

د نارينه وو دپاره حصه ده د هغه مال نه چې پرېخودې وي مورپلار او خپلوانو. او د ښځو دپاره هم حصه ده د هغه مال نه

تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ اَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوْضًا ۝ وَ اِذَا حَضَرَ

چې پرېخودې وي مورپلار او خپلوانو لږوي هغه مال يا ډېروي، حصه مقرر کړې شوې[1] او کله چې حاضر شي

الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۸

تقسيم د ميراث ته خپلوان او يتيمان او مسکينان نو خرچه ورکړئ هغوئ ته د دغه مال نه او وايئ دوئ ته خبره نرمه[2]

وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا

او ويرېږي[3] دې دالله نه په باره د يتيمانو کښې، هغه کسان چه که چرې پرېږدي د ځان نه روستو اولاد ضعيفان

خَافُوْا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ

چې يره کوي د ظلم زياتي نه په هغوئ. نو او دې ويرېږي د الله نه او خامخا وائي دې دوئ خبره سمه. بېشکه[4] هغه کسان

يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ط

چې خوري مالونه ديتيمانو په ظلم سره نو دوه مگر دا چې دوئ اچوي په خېټو خپلو کښې اور.

وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ۝۱۰

او زر ده چې داخل به شي دوئ اور ته

﴿لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُوْنَ﴾ داپنځم حکم دي د احکامو د رغيبت نه يعني په ترکه کښې د تمامو ورثو حصي مقرري دي نو د هيچا حصه مه کموئ. د جاهليت د رسمونو نه يو

۱ پنځم حکم په ميراث کښې د ټولو وارثانو حصي مقرري دي د هيچا په حصه کښې کمي مه کوئ
۲ شپږم حکم يعني په وارثانو کښې چې يتيمان مساکين وي نو د تقسيم نه قبل هغوئ ته د خوراک د پاره څه لږ څيز د خوراک ورکړئ او قول معروف ورته وائي يعني داچې په تقسيم کښې به تاسو ته بيا پوره حصه درکړې شي
۳ زجر اول
۴ - زجر ثاني

رسم د او چي دمړی دمیراث نه به زنانو ،ماشومانو ،اومعذوروته حصه نه ورکولی کیده او ویل به ئی چي دمیراث حقدار هغه څوک کیدي شی چي جنګ کولي شی او دخپلي علاقي او قوم او د مال حفاظت کولي شی. نوپدې آیت کښي ددغه رسم رد دې او پدې آیت کښي اجمالی طورسره ددې خبرې ذکردې. او نورتفصیل ئی په شپږم حکم کښي راځی (ان شاء الله تعالی)

لفظ د ((رجال)) بالغ، نابالغ، معذور، تندرست ټولو ته شامل دې او دغه شان لفظ د ((نساء)) او په ﴿تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ﴾ کښي علت داستحقاق دمیراث ته اشاره ده چي ولادت او قرابت دې. نه هغه چه اهل جاهلیت وائی . او قرابت زوجیت ته هم شامل دې په خلاف دولادت نه. نو ددې وجي نه ((الوالدان والاقربون)) دواړه ذکرشو

﴿مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ﴾ دابدل دې د (ما) نه په ﴿مِمَّا تَرَكَ﴾ کښي ﴿نَصِيبًا مَّفْرُوضًا﴾ دا تاکیددې د ((نصیبٌ)) دپاره او یا حال دې ترینه. او یاحال دې دضمیرد ((قلّ)) او ((کثر)) نه. او مفروض په معنی دمصلح سره دې یعنی داحصه ورکول الله تعالی فرض کړی دی. او یا فرض په معنی دتقدیر سره دې یعنې دا الله تعالی پخپله مقررکړی دی

﴿وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ﴾ داهم په پنځم حکم کښي داخل دې اوحاصلې ئی دادې چي کله میراث تقسیمولوته خپلوان او یتیمانان او مساکین حاضرشی نودوئی لره ترینه ورکوئ او نرمه او پسته خبره ورته کوئ پدې کښي دمفسرینو دوه رائی دی یو دا چي داحکم منسوخ دې په آیت دمیراث سره چي روسته راځی. او دویمه رایه داده چي دا حکم منسوخ نه دې او مراد ((اولوالقربی)) وغیره نه دادې چي دوئی وارثان نه وی او داحکم استحبابی دې یعنې په وخت دتقسیم دمیراث کښي هغه خپلوانو او مساکینوته چي وارثان نه وی څه ورکول په طور دتصدق پکار دی چي دا اخلاقی فریضه ده

حضرت شیخ فرمائی چي د ((او لو القربی)) نه مراد هغه خپلوان دی چي وارثان وی او ((والیتامی والمساکین)) عطف تفسیر دې یعنې په ورثو کښي هغه ورثه چي یتیمان او مساکین وی دهغوئ دحقوقو خاص خیال ساتل ضروری دی چي ددوئ حق ضائع نه شی. یا دا چي کله دوئ دمیراث دتقسیم دعوی کوی فی الحال دوجه دحاجت ددوئ نه اوفی الحال تقسیم مشکل وی نو دوئ له دې د ضرورت مطابق څه لږه حصه ورکړې شی. چه روستو به د دوئ په حصه کښي حساب شی. نو دا حکم د دوئ د ضرورت په بناء واجب دې. او ﴿وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا

﴿ مَّعۡرُوفٗا ﴾ مطلب دادې چې تاسو ورته نرمه خبره کوئ اوهغه دا چې دا لره حصه في الحال دضرورت پوره کولو دپاره واخلئ او روستو چې کله پوره تقسيم کيږی نوتاسوته به پوره حصه در کړې شی

﴿ وَلۡيَخۡشَ ٱلَّذِينَ لَوۡ تَرَكُواْ ﴾ دا زجردې هغه خلقوته چې ديتيمانانو او مسکينانو حق تلفی کوی ((الذين)) موصول سره دصله نه فاعل دې او مفعول مقدر دې ((اي وليخش الله)) او يا ((وليخشى الظلم)) او د ((الذين لوتركوا)) نه ولی ديتيم ياموصی مراد دې يعني متولی ديتيم دې د يتيمانانو سره داسې سلوک کوی چې هغه سلوک او معامله دخپل اولادسره کول غواړی يعني ولی دې دا قسم سوچ اوکړی که خه مړشم او زمايتيمانان بچی پاتې شی نو دهغوئ په حق کښې به زه څنګه قسم تمنا کوم دغه شان دې دنوروېتيمانانو سره سلوک کوی او د ﴿قَوۡلٗا سَدِيدًا ﴾ نه مراد نرمه خبره ده او د ښائسته ادابو تعليم دې. يامراد د ((الذين لوتركوا)) نه مريض قريب الموت دې يعني هغه خلق دې دالله تعالى نه وه يريږی چې قريب الموت وی او اولاد ئې پاتې کيږی. نودوئ دې دالله تعالى نه ويريږی په وصيت کولو کښې
اوقول سديد دې وائی يعنی وصيت دې په جائزه طريقې سره کوی او په ناجائزه دې وصيت نه کوی چه هغه ثلث نه زيات وصيت کول دی (شاه ولی الله رحمه الله)

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ﴾ دا زجر او تخويف دې هغه خلقوته چې ديتيما نانو مالونه خوری مراد د اکل نه اخذ دې. په ﴿فِي بُطُونِهِمۡ ﴾ په ذکر د ((فی)) کښې اشاره ده عظمت دبطونو اوکثرت دحرص ته څکه چې اصولين وائی کله چې ظرف مجرور شی په ذکر د ((فی)) سره نوهغه بتمامه ظرف نه وی بلکه زائدوی دمظروف نه. نومطلب دا شو چې د دوئ خيټې ډيرې لوئې دی او حرص ئې ډير زيات دې نو په دغه اموالوسره نه مړيږی ﴿نَارٗا ﴾ ذکر د نار په طريقه دمجازمرسل سره دې څکه اکل دمال ديتيم سبب دې او نارمسبب دې نو ذکر دمسبب شو او مراد ترينه سبب دې ((وفی الروح : اخرج ابن جرير وابن ابي حاتم عن ابی سعيدالخدری رضی الله عنه قال حدثنی النبي صلى الله عليه وسلم عن ليلة أسري به قال نظرت فاذا انابقوم لهم مشافر كمشافرالابل وقد وكّل بهم من ياخذ بمشفارهم ثم يجعل في افوههم صخرا من نار فيقذف في اجوافهم حتى تخرج من اسافلهم ولهم خواروصراخ ،فقلت ياجبريل من هؤلاء ! قال: الذين ياكلون اموال اليتامي ظلما)).

ترجمه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چي په شپه دمعراج کښي ما نظر اوکړلو نوداسي قوم مي اوليدلو چي دهغوئ شونډي داسي لوئ وي لکه داوښ نو شونډي او په دوئ باندي مقرر داسي فرشتي وي چي ددوئ شونډي به ني اونيسلي او خولې به ني ورلره وازي کړي او په اورکښي گرم کړي شوي يوغټ کاڼي به ني به خولو کښي ورلره واچولو او هغه به ترينه لاندي وتلو او دوئ به چغي او فريادونه کول نو ما سپوس اوکړو دجبريل عليه السلام نه چي دا خلق څوک دي نوهغه او فرمائيل چي داهغه خلق دي چي دخلقو مالونه به ني په ظلم سره خوړل ﴿وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾ دا تفسير دماقبل دي ((صلى يصلى)) اور ته داخيلدل او په اور باندي سيزولو او وريتولو ته وائ او بعضي وائ چي (صلى) قرب من النار. ته وائ او استعمال ني په دخول في النار کښ مجازًا کيږي

يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ

کلک حکم درکوي تاسو ته الله په باره داولاد ستاسو کښي. چي دنارينه اولاد دپاره پشان دحصي د دوؤ ښځو دی

فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَاِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً

نو که وي زنانه زياتي دوؤ نه نو پس ددوئ دپاره دي دوه ثلثه دهغه مال نه چي پريخودلي وي ده. اوکه يوه لور وي

فَلَهَا النِّصْفُ ۗ وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ

نو هغې لره نيمه حصه دمال ده. اود پاره دمور پلار دمري دهريوشپږمه حصه ده دهغه مال چي پريخي وي مړي

اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗٓ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ

کچري وي هغه لره اولاد پس که نه وي هغه لره اولاد او وارثان ده ده موروپلار ده وي نو دمور د ده دپاره دريمه حصه دمال ده

فَاِنْ كَانَ لَهٗٓ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ

پس کچري وي دده دپاره رونړه نوموراره يي شپږمه برخه ده روستو دپوره کولو دصيت نه چي وصيت ني کړي وي

بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۭ اٰبَاۗؤُكُمْ وَاَبْنَاۗؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ

په هغې سره ياروستو د ادا کولو دقرض نه، پلاران ستاسو اوخامن ستاسو نه پوهيږئ تاسو چي کوم يو ددوئ

اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۱۱

زیات نږدې دي تاسو ته په نفع کښې حصې مقرر کړې شوي دي د طرفه دالله نه بیشکه الله دي علیم حکیم

﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ﴾ ((ای فی ارث اولادکم)) **دا شپږم حکم دې** یعني دورثاؤ مقرري حصې هغه دی چې دلته ذکرشویدی.نوددي مطابق تقسیم دمیراث کوئ د ((یوصیکم)) معنی ابن کثیر کړې ده چې امرکوئ تاسو ته په عدل سره. اودارنګې وصیت هغه حکم ته ویلې شي چې دهغې دپاره ناسخ نه وی لکه چې څه رنګې دوصیت نافذ کول لازمی او ضروری وی نودغه شان نه د کوم حکم پوره کول څه ضروری وی نو هغې ته هم وصیت ویلې شي. نو د ((یوصیکم)) په ذکر کولوکښې اشاره او شوه دې نه چه داحکم دمیراث دعدل او انصاف دې او ددې دپاره ناسخ نشته. نو ددې پوره کول لازمی او ضروری دی

دمیراث بنیاد په دریو اسبابو دي (۱) تولد (۲) زوجیت (۳) اخوت او میراث په وجه دتولدسره مقدم شوځکه چې دانسان تعلق داولادسره دهر چا نه زیات وی. او میراث په وجه داخوت سره مؤخرشو دهغه میراث نه چې په وجه دزوجیت سره وی ځکه چې اخوت اخیافی حاصیلږی دغه مور په وجه چه دیو زوج نه بعد بل زوج په نکاح کړی وی او اولاد ترینه پیدا شي او په دې رکوع کښې دتقسیم دمیراث ټول دولس صورتونه ذکردي

اول صورت دادي چې څوک مړشي او اولادې پاتې شي. ځامن او لونړه نوځوئ ته دوچنده حصه دلور ورکولې شي ﴿لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ﴾ . **دویم صورت** دادي چې دمړی په اولاد کښې نارینه اولاد نه وی بلکه صرف لونړه وی نوکه دوه او یازیاتې ددوونه وی نو دوئ ته به ثلثین ورکولې شي ﴿فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ﴾ لفظ د ((فوق)) زائد دي لکه په ((فاضربوافوق الاعناق)) کښې زائددې **دریم صورت** دادي چې صرف یوه لوربې پاتې شوې وی نودیته به نصف ورکولې شي ﴿وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾ **څلورم صورت** دادي چې څوک مړشي او موریلارئې پاتې شي او اولادېې هم وی نومور او پلار هریوته به سدس یعني شپږمه حصه ورکولې کیږی یعني یوه شپږمه حصه مور ته او یوه شپږمه حصه پلار ته او باقی څلورحصې به اولادته ﴿وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ﴾ په ((ولابویه)) کښې ضمیر میت ته راجع دې چې فهمیږی دمقام نه **پنځم صورت** دادي چې څوک او صرف

مور او پلار یې پاتې شي او اولاد او خویندې اوروڼه نې هم نه وی نو پدې صورت کښې دمور دپاره دریمه حصه ده او باقي دوه حصې دپلار دی

﴿وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُ﴾ **اوشپږم صورت** دادې چې اولادیې نه وی او خویندې روڼړه نې مخلوط او یایوفسه وی برابره خبره ده که دوه وی او که زیات و ی نو پدې صورت کښې دمور دپاره شپږمه حصه ده او دپلاردپاره مابقي پنځه حصې دی. ﴿فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ﴾ ((**اخوة**)) صیغه دجمع ده. خو په باب دمیراث کښې دوه عدده هم دجمعې په حکم کښې دی هذا عند الجمهور خلافا لابن عباس رضی الله تعالی عنهما .

﴿مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ﴾ دا متعلق دې ماقبل تمام صورتونو سره. دلته دا سې دوه حقوق یعنې وصیت او دین بیان شویدی چې دهغې اداکول مقدم دی په هغه حصو ورکولو چه وارثانو ته په تقسیم کښې میلاویږی ﴿مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ﴾ خبر دمبتدا مقدردې او په عبارة کښې حذف دمضاف دې ((ای هذه الانصباء من بعد اخراج وصية)) یا ((بعد تنفيذ وصية واداء دين))

اول حق وصیت پوره کول دی او مراد ددینه هغه وصیت دې چې موافق وی د حکم شرعی سره یعنې وصیت په ثلث یاکم دثلث سره وی. **دویم حق** په مړی باندې ددین دې چې هغه قرض چې په میت باندې په حال دحیاة کښې وؤ

فقهاءکرام وائی چې متعلق دی په ترکې دمیت پورې څلورحقوق مرتبه (**ترتیب وار**) (۱) تجهیز تدفین (۲) اداء کول د دین د میّت (۳) وصیت نافذ کول دثلث مال نه (۴) تقسیم دمابقي په مستحقینو باندې. نومعلومه داشوه چې ادکول ددین مقدم دی په وصیت باندې لیکن په آیت کښې وصیت مقدم ذکر شوېدې په دین باندې اګرکه تنفیذ د وصیت روستو دې د ادا ددین نه. (۱) وجه دتقدیم دذکر دوصیت په دین باندې یوه داده چې دوئ به په ادا دوصیت کښې کوتاهي کوله نوځکه مقدم ذکر شو. پدې کښې اشاره ده اهتمام دشان ته. (۲) او دویمه وجه داده چې وصیت په شان دمیراث بې عوضه شي دې نو په ورثؤباندې ددې نافذ کول ګران دی په خلاف ددین نه نوځکه مقدم ذکرشو نواشاره ده دې خبرې ته چه لکه څنګه دین ورکول ضروری ګڼرئ نودغه شان وصیت نافذکول هم ضروری دی

﴿ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ﴾ دابیان دعلت دې دمذکورتعین حصصو دپاره. دجاهلیت دستورووچې میراث به يې صرف خامنوته ورکولو او لونړه به نې دمیراث نه محروم کولې او په ابتداء داسلام کښې دوالدینودپاره حکم دوصیت وونو په آیت دمیراث سره دتماموارثانوحصې مقررشوې او مخکنۍ حکم منسوخ شو او وې فر مائیل چه تاسوته معلومه نده چې په والدینویا په او لادکښې څوک تاسوته زیات نفعه رسوی کله والدین ددنیوی او دینی نفع سبب شی او کله اولاد. او دارنګې کله لونړه د نفعې سبب شی او کله خوې نو ددې وجه نه مونږه په نفس میراث کښې ټول برابرکړل او حصې مو ورلره مقررې کړې

﴿فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ﴾ دامفعول مطلق دفعل مقدر دې ((ای فرض ذلک فریضة من الله)) داهغه مفعول مطلق دې چې تاکیدوی دجملې چه ((لامحتمل لها غیره)) لکه ((هذا بنی حقا — ای احقه حقا)).

دا مخکې شپږ صورتونه چه ذکر شو نو دا د میراث نسبی لپاره وؤ. ددې نه بعد د میراث سببی ذکرکیږی یعنی هغه میراث چه په سبب د زوجیت سره وی. او ددې څلور صورتونه دی

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ

اوتاسولره نیمه دهغه مال نه ده چې پریخودلې وی ښځو ستاسو. کچرې نه وې دهغوی دپاره هیڅ اولاد

فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنۢ بَعْدِ

نوکه وې هغوی لره اولاد نوتاسولره څلورمه حصه ده دهغه مال نه چې پریخودې وې دوی روستودپوره کولو

وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ

د وصیت نه چې وصیت کړې دې دوی په هغې سره او روستو دادا کولو د قرض نه. او ښځو دپاره څلورمه حصه

مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ

ده دهغه مال نه چې پریخودې وې تاسو کچرې نه وې تاسولره څه اولاد. نوکه وې تاسولره اولاد نودښځو دپاره

ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ

اتمه حصه ده دهغه مال نه چې پریخودې وې تاسو روستو دپوره کولو دوصیت نه چې تاسو وصیت کړې وي

بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۗ وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ

په هغې سره اوروستو دادا کولو دقرض نه. اوکه کچېرې وي يو سړی چې ميراث ترېنه اخستی شي ميراث د سخه د سي

وَّلَهٗۤ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَاِنْ كَانُوْۤا اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ

او وي ده لره رور ياخور اخيافي، نوهريو لره ددوی دواړونه شپږمه حصه ده. پس که وي دوی زيات ددېنه

فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى

نودوی برابر حصهوالا دي په دريمه حصه کښې روستو دپوره کولو د وصيت نه چې وصيت کولی شي

بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۙ غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً

په هغې سره اوروستو دادا کولو دقرض نه ، نه به وي ضرر ورکوونکي هيچاته په وصيت سره. داګلک حکم دی

مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ۝

دالله دطرفه اوالله پوهه دي صبرکوونکې دي

﴿وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ﴾ **اووم صورت** : چه ښځه مړه شي او اولاد ئې نه وی نو خاوند نه به د هغې د مال نه نصف ورکولې شي اومابقی به نورو وارثانو ته دهغوئ د حصو مطابق ورکولې شي **اتم صورت** دادې چې اولادېې وی نو خاوندته به ئې ربع يعنې څلورمه حصه ورکولې شي ﴿فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ﴾ **نهم صورت** چه خاوندې مړشی اواولاد نه وی نوښځې ته به څلورمه حصه ورکولې شی ﴿وَلَهُنَّ الرُّبُعُ﴾ **لسم صورت** چې اولادېئ وی نوښځې ته به اتمه حصه ورکولې شی ﴿فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ﴾ **يوولسم او دولسم صورت** ﴿وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً﴾ ((رجل)) اسم د ((کان)) دې او ((يورث)) ورله صفت دې او ((کلالة)) ئې خبر دې. يا ((يورث)) خبر د ((کان)) دې او ((کلاله)) ترينه حال دې. پدې صورت کښې د ((کلاله)) په ميراث کښې شپږ صورتونه بيان شويدی څلور دسورت په آخر کښې اودوه پدې رکوع کښې (يولسم اودولسم).

((**کلالة**)) په لغت کښې هغه ميت سړی اويابنځې ته ويلې شی چې په اصولواوفروعو

کښې نې مذکر نارینه نه وی پاتې شوی او په شرع کښې هغه ته ویلې شی چې په اصولو او فروعو کښې ئې هیڅ څوک نه وی پاتې شوې نه مذکر او نه مؤنث او داقول دجمهورو اوداهل لغتو دی. اوقرطبی او ابن جریر وائی چې پدې باندې اجماع ده چې دلته هم دامعنی مراد ده او ددینه علاوه متعدد اقوال په تفسیر د ((کلالة)) کښې دی. چاویلې دی چې ((کلالة)) هغه دې چې والد ئې نه وی اوچا ویلی دی چې ((کلالة)) دمیت مذکوره مال موروثه نه وائی اوچا ویلی دی چه وارثانو د میت مذکوره نه وائی. وغیر ذٰلك اولفظ د ((کلالة)) ماخوذ دې د ((کلال)) نه په معنی دضعیف کیدلو او بې قوته کیدلو په وجه دستړی والی سره او د چا چه اصول اوفروع نه وی نو ده نه نسبت دقرابت ضعیف وی ځکه ورته کلاله ویلې کیږی

امام بخاری رحمه الله دابوعبیده قول نقل کړې دې چې دا ماخوذ دې د ((تکلله النسب)) نه ای تطرّفه .عینی. اودکلاله په صورت کښې میراث هغه رشته داران اخلی چې په طرف کښې وی یعنې اصول افروع نه وی

﴿وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٌ﴾ دایوولسم صورت دې اومراددینه اخیافی اخ اواخت دی یعنې هغه چې په مورکښې شریک وی اوپلاران ئې جدا جداوی او پدې خبره باندې دصحابؓ اجماع ده چې په دې ځائ کښې اخ اواخت نه مراداخیافی دی. او د ډیروصحابؓ لکه حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوسعدبن ابی وقاص رضي الله عنه په قراءت کښې د اخ اواخت نه روستو ((من الأم)) لفظ په تصریح سره شته دې. اوددې سورت په اخری آیت کښې چې دکلاله دمیراث په بیان کښې ((اخت)) دې نو هلته د ((اخت)) نه اودارنګې ((اخ)) نه اعیانی مراد دی. یعنې سکه رور اوخور چې په موراوپلار دواړو کښې شریک وی اوعلاتی چې په پلار کښې شریک وی اومیندې ئې جداجدا وی مراد دی نو لهذا ددواړو آیاتونو په منیځ کښې څه تعارض نشته دې نو د اخیافی رور او اخیافی خور یوشان حصه ده چې هغه سدس (شپږمه) حصه ده

﴿فَإِن كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ﴾ دادولسم صورت دې یعنې چې اخیافیان دیونه زیات وی نوکه دوه رونړه یادوه خویندې وی یارور اوخور وی اویا ددینه زیات وی نودوئ ته به ثلث (دریمه) حصه ورکولې شی اومذکر اومؤنث دواړه په حصوکښې یوشان ته دی. وجه ئې داده چې دوئ مستحق دمیراث په وجه دمور سره دی نودمذکرفضیلت په مؤنث باندې نشته

﴿مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ﴾ یعنې روسته دوصیت پوره کولونه ﴿يُوصَىٰ بِهَآ﴾ دلته دوه قراء ته

دي يو په صيغه دمعلوم سره اوبل په صيغه دمجهول سره نو بنا براول ﴿غَيْرَ مُضَآرٍّ﴾ حال دي دفاعل نه يعني حال دكون دوصيت كونكى كنبي چي نوى ضرر رسونكي هيڅا ته اوبنا په دويم قراءت سره حال دي دفاعل دَ فعل مقدر نه چي هغه فعل معلوم دي اودلالت كوى په هغه باندي دافعل مذكور ((اى يوصى غير مضار)) اوددي مذكورفعل مجهول دفاعل محذوفه نه حال نه دي ځكه چي هغه متروك دي بالكلية نوحال ترينه نه صحيح كيږى او ((غير مضار)) دوصيت اودين دواړو سره متعلق دي يعني چي نه وى ضرر رسونكي هيڅ چاته په وصيت اودين سره. ضرر په وصيت سره دادي چي وصيت زيات دثلث نه اوكړى اوضرر رسول په دين سره دادي چي په دروغه اقرار ددين اوكړى اويا د زيات اقراراوكړى ((وصية)) ((أى : يوصيكم الله وصيةً)) نودامنصوب بنا پدي چه دا مفعول مطلق دَ فعل محذوف دي دپاره دتاكيد

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

دا بوني د الله تعالى دي. اوچاچي تابعداري اوكړه دالله اودرسول دهغه داخل به كړي الله هغه لره جنتونوته چه بهيږي به

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٣﴾ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

لاندي دهغي نه ولي. همېشه به وي په هغې كښي داكاميابي لويه ده. اوچاچي نافرماني اوكړه دالله اودرسول دهغه

وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۠ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٤﴾

اوتجاوز ني اوكړو ديولو دهغه نو داخل به كړي هغه لره اور ته همېشه به وي په هغې كښي. اوده لره عذاب دي رسواكونكي

﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ﴾ په ((تلك)) سره اشاره ده ټولو احكامو ته يا خصوصا حكم دميراث ته اود حدود نه مراد احكام اوشرائع دي. ديته حد ځكه وائى چي ددي نه تجاوز اوياكمي بيشي كول جائزنه دي

﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ﴾ دابشارت اخروى دي ﴿وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ﴾ دا تخويف اخروى دي اومراد دعصيان نه درجه كامله ده يعني څوک چي پدي احكامو باندي ايمان نه لرى نو هغه كافر دي اوهميشه به په جهنم كښي وى

وَالّٰتِيْ يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ
اوهغه زنانه[1] چې بدکاري اوکړي د زنانه ستاسونه نو گواهان طلب کړئ په هغوئ باندې څلور دنارينه ستاسونه
فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ
سوكه گواهي اوكړه دوئ نو بندي كړئ دوئ لره په كورونو كښې تردې چې واخلي دوئ لره مرگ يا به مقرر كړي الله
لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَأْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا
ددوئ لره څه لار اوهغه دوه كسان[2] چې اوكړي بدكاري ستاسونه نوتكليف ورته رسوئ نوكه دوئ توبه اوكړه
وَ اَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾
اوښه ئې كړو عمل نو اعراض كوئ د هغوئ نه، بېشكه الله توبه قبلوونكي رحم كوونكي دي

﴿وَالّٰتِيْ يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ﴾ دا اووم حكم دې داحكامو درعيت نه. يعنې بې شكه زنانه خو دميراث نه مه محرومه كوئ ليكن كه چرته زنا ترينه صادره شوه نوحكم شرعي يعنې حد به پرې نافذ كوئ. دفاحشه نه مراد زنا ده ﴿مِن نِّسَآئِكُمْ﴾ دينه مراد مسلمانانې ښځې دى او اضافت په اعتبار د دين سره مراد دې برابره خبره ده كه منكوحه وى اوكه غير منكوحه.

﴿اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ﴾ داثبات دزنادپاره څلور گواهان ضروري دى او په نورومعاملاتو كښې دوه گواهان وى. وجه د فرق ئې داده چې د زنا په الزام سره د انسان عزت او آبرو مجروح كيږي اوپوره خاندان دپاره عار جوړيږي اوعزت او آبرو د انسان دپاره د هرشي نه زيات عزيز او اوچت څيز دې نو په دې كښې سختي پكارده دپاره ددې چې څوك په دروغه سره په چا باندې د زنا الزام اونه لگوي څكه چې څلورگواهان پيش كول شاذ اونادر وى اوكه د: څلورونه كم گواهان څوك پيش كړي نودغه معتبر نه دى بلكه په مدعى به حد قذف جاري كيږي. اوبعضې علماءكرام وائي چې چونكه په زنا كښې دوه كسان يعنى زاني او مزنيه ملوث وى نوځكه گواهان څلور ضروري شول بنا په هرتقدير په شبهاتو دزنا كښې تشديد دې (۱) يودا چې څلور

[1] اووم حكم . زنانه دميراث نه مه محرومه كوئ ليكن كه زنا ئې اوكړه نو حكم شرعي پرې نافذ كړئ

[2]. متعلق د اوم حكم سره

گواهان به وی (۲) اودویم دا چې څلور واړه به نارینه وی ځکه دلته ((اربعة)) په (تا) سره ذکرشوي دي او په اسماء عددکښې قانون دا دې چې د واحد اواثنان نه علاوه د دمذکر دپاره په (تا) سره راځی اود مؤنث دپاره بغیر د (تا) نه راځی نو په زنا کښې شهادت دښځونه قبلیږی (۳) او په ((منکم)) سره اشاره ده دیته چه گواهان به آزاد وی. غلامان به نه وی نوشهادت دغلامانو په باب د زنا کښې نه قبلیږی (۴) اومسلمانان به وی ځکه چې دکافر گواهی په مسلمان باندې نه قبلیږی (۵) اوعادلان به وی او مستورالحال یا فاسقان به نه وی نودشهادت دزنادپا ره داضروری شوه چې څلوربه وی او نارینه، احرار اومسلمانان اوعادلان به وی اوشهادت به هم په طریقې دمشاهدې سره وی چې دسړی شرمگاه (ذکر) دښځې په شرمگاه (فرج) کښې داسې داخل وو لکه سلائ د رنجو په رنجرومه کښې

﴿فَإِن شَهِدُوا فَأَمۡسِكُوهُنَّ﴾ یعنې چې څلورکسان گواهی ورکړی نوبیابه دغه ښځې په کور کښې مقیدې اوساتی چې دکورنه باهر اونه وځی تردې پورې چې یامړه شی او یا الله تعالی دهغې دپاره بل حکم اوسزا مقررکړی.

د دې آیت دنزول پورې دزنا لپاره څه حد نه وومقرر، څه زمانه روستو په سورة نور آیت (۲) کښې حد نازل شو چې د باکرې دپاره سل دُرې دی اود ثیبې دپاره رجم. اوتغریب عام د امام ابوحنیفه رحمه الله به نزد ثابت دې لیکن جزء نه دې دحد نه.

فائده متاخرین علماء داسې قسم آیت نه منسوخ نه وائ چې پدې کښې تقید صراحة وی بلکه منسوخ هغه دې چې ظاهر دهغه اطلاق اودوام وی اوپدې آیت کښې ((حتی یتوفهن الموت اویجعل الله لهن سبیلا)) صراحة مذکوردې لهذا دامنسوخ اصطلاحًا ندې اگر چې منسوخ دې پدې معنی سره چې ددې حکم تبدیل راغلې دې

﴿وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ﴾ دا دمذکور حکم سره متعلق دې اوبعض مفسرین وائ چې ددینه مراد زانی اومزنیه دی اوتثنیة دمذکر تغلیبا ده اود ﴿فَـَٔاذُوهُمَا﴾ نه مراد حد دې چې دلته کښې اجمالا ذکر دې او په سورة نوراونورو احادیثوکښې ئی تفصیل ذکر دې، اودمجاهد رحمه الله نه مروی دې چې ددې نه مراد دوه مُذکَرَیْن دی چې د خلاف فطرت عمل ((لواطت)) مرتکب شی نود دوئی سزا ئی اجمالا په ایذا ورکولو سره اوفرمائیله. هرکله چې دلواطت سزا په قرآ ن کښې تفصیلا نشته لکه چې څنگه دزنا سزا ذکرده نو ددې وجه نه د علماء مجتهدینو

په سزا د لواطت کښې مختلف قولونه دی. بعضو حضرات ويلی دی چې په دوئ باندې به حدزنا جاری کولې شی اوبعضې وائی چې په دوئ باندې به هدم کولې شی يعنې يومکان دې پرې راوغورزولې شی اوبعضې وايی چه د مرتفع يعنې ډير اوچت غر يا مکان نه دې ښکته را وه غورزولې شی. او د ابن عباس ﷺ نه روايت د قتل د فاعل او مفعول دواړو دې.
او په تفسير مظهری کښې واقعه نقل ده چې دحضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کښې دلواطت واقعه پيش شوه نو هغوئ دصحابؤ نه پدې کښې رائ طلب کړه نو هغوئ مختلف تجاويز پيش کړل چا هدم تجويز کړو اوچا دمکان مرتفع نه رابښکته غورځول تجويزکړل اوحضرت علی رضی الله عنه فيصله اوکړه اوفرمائيل

((من وجدتموه يعمل عمل قوم لوط فاحرقوه فى النار)) نواحناف وائې چه هرکله چه دلواطت دسزا په قرآن اوحديث کښې تفصيل نشته نو دا مفوض ده رائې دحاکم ته نوکه مرتکب ددې عمل قبيح عادت نه ووجوړ شوې نودخفيفه سزادې ورکړی اوکه عادت ئې جوړشوې وونوبيادې سخته سزا ورکړی اودغه رنګې دحضرت علی ﷺ په قول کښې هم ديته اشاره ده ((يعمل عمل قوم لوط)) دا جمله مشعره ده په اعتياد باندې.

اوپدې عمل قبيح باندې سخت سخت وعيدونه په احاديثو کښې راغلی دی

عن ابي هريرة ان رسول الله قال لعن الله سبعةً من خلقه من فوق سبع سموا ته ورددا اللعنة على واحدمنهم ثلاثا ولعن كل واحدمنهم لعنة تكفيه قال ملعونٌ من عَمِلَ عَمَلَ قوم لوط، ملعون من عمل عَمَلَ قوم لوط، ملعون من عَمِلَ عَمَلَ قوم لوط

ترجمه دحضرت ابو هريرة رضی الله تعالی نه روايت دې چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فر مائيلی دی چې الله تعالی په خپل مخلوق کښې په اوو (۷) قسمه خلقو باندې د اوو(۷) آسمانونه دپاسه لعنت راليږی او په دوئ کښې په يو باندې درې وارې لعنت راليږی او په نورو باندې يو وارې چه هغه به دده دپاره کافی وی اوئې فرمائيل چې ملعون دې هغه څوک چې عمل دقوم لوط کوی (اودائې درې ځله اوفرمائيل) اودينه علاوه په کثرت سره احاديث پدې کښې مروی دی.

﴿ فَـَٔاذُوهُمَا ﴾ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه ددې تفسير په ((ضرب بالنعال)) اوپيغورسره مروې دې ﴿ فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا ﴾ يعنې دتوبې نه بعد بيا ورته طعن

او بخښونکی مهربان دی او الله تعالی توبه قبلوی او رحم کوی

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ

بیشکه وعده د قبول دتوبې په ذمه دالله هغه چالره ده چې عملونه کوي بد په ناپوهۍ سره بیا توبه اوباسي

مِنْ قَرِيبٍ فَأُولَٰٓئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ

په نږدې وخت کښې نو دغه کسان توبه قبلوي الله ددوی. او الله پوهه او حکمتونو والا دی. او نشته دی وعده دقبول دتوبې

لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّـَٔاتِ ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْـَٔانَ

هغه خلقو دپاره چې عملونه کوي بد. ترهغې چې کله حاضر شي یو ددوی ته مرګ وائی دی چې ما توبه اوکړه اوس

وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُولَٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ

او نه د هغه کسانو چې مړه شي په داسې حال کښې چې دوی کافروي. دغه کسان تیار کړي دي مونږ دوی لره

عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾

عذاب دردناک

﴿ إِنَّمَا ٱلتَّوْبَةُ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ پدې آیت کښې دتوبې بیان دې په مناسبت دماقبل سره یعني توبه خو بیشکه داسې عمل دې چې په هغې سره دزنا اودلواطت پشان جرمونه معاف کېږی لیکن ددې خبرې لحاظ ساتل هم ضروری دی چې توبه دې صحیح توبه وی

فایده دلته دقبول دتوبې دپاره دوه خبرې ذکر شوېدی (۱) ((بجهالة)) (۲) ((ثم یتوبون من قریب)) نومعتزله وائی چه که چا عمداً ګناه اوکړه سره دعلم نه نود هغه توبه نه قبلیږی او که چا ته توبه کښې تاخیر اوکړو نوکوم ګناه چه یی کړې دې نوهغه ګناه به ئې زیاتیږی دیته هغوئ وئیلی وائی یعنې دیو ګناه نور زیاتیدل. لیکن داهل سنت والجماعت په نزدباندې دهر ګناه توبه قبلیږی برابره خبره ده که سره دعلم نه ئې دغه ګناه کړې وی اوکه په ناپوهۍ سره ئې کړی وی او د تاخیر سره په ګناه کښې زیادت نشی راتلې. او د ((**جهالة**)) نه مراد دادې چې مرتکب دګناه به انجام ددغه ګناه باندې سوچ اوفکر نه کوی (ناعاقبت اندیش) لکه په سورة یوسف آیت ۳۳ کښې دی چه ((إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ)) معنی ده بې خبره دانجام نه. دحضرت قتاد رضی الله عنه نه روایت دې ((اجتمع اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرأو أنّ کُلّ شئ عصی الله

تعالي به فهو جهالة عمدا كان اوغيره)) (ابن كثير، اومراد د ((مِن قَرِيبٍ)) نه قبل الموت دي. څکه موت د هر څه نه زيات قريب دې لکه چه شاعر وايي

ع والموت ادنى من شراك نعله

اوقرينه پدې باندې روستنې آيت دې ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ﴾ اوداين عباس رضي الله عنه نه روايت دې چې دقريب نه مراد دادې چې مخکښې ددېنه چې نظروکړی ملک الموت نه. او احاديث مرفوعه پدې باره کښې په کثرت سره مروی دی د ډيرو صحابونه ((ان نبي الله صلى الله عليه وسلم قال ان الله يقبل توبة العبد ما لم يغرغر)) اوبن كثير په روايت د ابن جرير سره ذكر كړی دی چې حضرت قتادة رضي الله عنه وائي چې مونږه دحضرت انس رضي الله عنه سره وواو دغلته ابوقلابه هم وو نو ابو قلابه حديث بيان کړو . چې هرکله الله تعالی په ابليس باندې لعنت اوکړلو نو ده سوال اوکړو چې مهلت راکړه نو د ده سوال قبول شو او مهلت ورکړې شو، نو چه مهلت ورکړې شو نو ده وه وئيل چه ((وعزتك وجلالك لا اخرج من قلب ابن آدم مادام فيه الروح فقال الله عز وجل وعزتي لا امنعه التوبة مادام فيه الروح)) اوحضرت مولانا شبير احمدعثما نی رحمه الله ليکلې دی چې د ((جهالة)) او ((قريب)) د قيدونو نه معلوميږی چې څوک په ناپوهئې سره ګناه اوکړی او روستو ترينه زر توبه اوباسی نو دهغه دتوبې قبوليت ضروری دې تفضلاً اوڅوک چې ګناه په عمد اوقصد سره کوی اويا په توبه کښې تاخير کوی نو دده سره وعده اوذمه داری د قبوليت نشته، دا معنئ نده چې نشی قبليدې. يعنی په اول صورت کښې دقبليدلو وعده او ذمه داری تفضلا ده نه په دويم صورت کښې

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ﴾ دحضوردموت نه مراد علامات دموت دی اوليدل دملک الموت دی. نو که چرې عالم الغيب مشاهده شی نوه بيا توبه نه قبليږی

﴿وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ﴾ يعنی دموت واقع کيدلونه روستو هم توبه نه قبليږی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗاۖ وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ
اې (۱) مومنانوحلال ندي تاسولره چې په ميراث سره واخلئ ښځې په زور سره، اومه تنګوئ مه بندوئ دوئ لره

۱ اتم حکم په ميراث سره مال ملاويږي نه ښځې البته دهغوئ په رضا باندې ورسره نکاح کولې شئ

لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّأْتِيْنَ

دپاره ددې چې واخلئ بعضې هغه مال (مهر) چې ورکړې دې تاسو دوئ ته مګر په هغه وخت کښې چې راتلل اوکړي دوئ

بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا

په بدکارۍ ښکاره سره، اوژوندتیروئ دوئ سره په ښه طریقه. نوکه بدګنړئ تاسودوئ لره نوکېدېشي چې بداوګنړئ تاسو

شَيْـًٔا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ۝

یوخیزاو ګرځولې وي الله په هغې کښې خیر ډېر

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ ﴾ **دا اتم حکم دې داحکامو درعیت نه**
خلاصه ئې داد چې په میراث سره به مال میلاویږي اوښځې به په میراث سره نه میلاویږي
البته دهغوئ په رضا سره دهغوئ سره نکاح کولې شي. بخاري شریف وغیره دا روایت ذکر
کړیدې دابن عباس رضی الله عنهما نه چه په جاهلیت کښې به دا دستور وو چې کله به یو سړې مړشو
اوښځه به ترې پاتې شوه نو ددغه میت وارثان به ددغه ښځې حقدار ګنړلې کیدل که د چا به
خوښه وه نو پخپله به ئې په نکاح سره واخسته اویا به ئې بل چا لره په نکاح سره ورکړه اوکله
به ئې دنکاح نه بالکل منع کړه، او په بل روایت کښې دي چې دیو سړي د مرګ نه به روستو یو
وارث راغې اوخپله جامه (څادر وغیره) به ئې په هغه ښځې باندې واچوو اوویل به ئې لکه
چې څرنګ څه د مال وارث یم نودغه شان د ښځې هم وارث یم نودا حکم نازل شو چې ((لایحل
لکم))، او ((کرهاً)) حال دې په معنی د ((کارهات)) یا ((مکرهات)) سره اودا قید احترازی ندې څکه
په میراث کښې راوستل دښځو مطلقا نا جائز دی بلکه دغه قید مزید داظهار دقباحت د دغه
رسم دپاره دې ﴿وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ﴾ عضل بندولو ته وائي د یو کار نه یعنې مه منع کوئ ښځه د
میّت (کونډه) د نکاح نه د بل چا سره ﴿لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ﴾ یعنې دا منع کول
دنکاح نه د دې لپاره دی چه تاسو د دوئ نه هغه مال واخلئ چه ښځې ته ملاوْ شویدې په
میراث کښې د ﴿اٰتَيْتُمُوْهُنَّ﴾ معنی داده چه په میراث کښې ورته پاتې شوې دې ستاسو د
اقاربو نه . نو نسبت دوئ ته مجازًا دې ﴿اِلَّآ اَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ ((الا)) په معنی د
((لکن)) سره استثناء منقطع ده. مابعد ترینه په تاویل د اسم سره مبتداء ده. او خبر ئې محذوف

دي او د ((فاحشه)) نه مراد زنا ده او خبر ئې محذوف دي ((اى فعليكم تاديبهن وعـضلهن)) . يعنې په وخت د اتيان د دوئ كښې زنا نه لازم دي تاديب د دوئ يا منع كول د فاحشه نه.په خپله يا قاضي نه په پيش كولو سره

ابن كثير د عبدالله بن مبارك او ده د عبدالرزاق نه روايت كړې دې چه ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ ﴾ نازل شوې دې په باره د رسم د جاهليت كښې لكه تفصيل ئې تيرشو او ﴿وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ ﴾ نازل شو دې په باره د امر د اسلام كښې او مطلب ئې دادې چه مه تنګوئ ښځې ،عضل په معنى د تنګولو سره دې، په جوند تيرولو كښې لپاره د دې چه دوئ مجبوره شي په خلع او مال وركړې خاوند ته

﴿لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ ﴾ معنى داده چه تاسو ورله چه كوم مال په عوض د مهر كښې وركړې وو هغه ترينه واپس واخلئ

﴿إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ ددېنه مراد نشوز دې يعنې كومه ښځه چه بداخلاقه وى نو په بدل خلع اخستلو كښې حرج نشته دې ليكن كه بداخلاقى دخاوند ؛طرف نه وى نوښځې لره اګركه وركول جائز دى خو خاوند لره ئې اخستل جائز نه دى نو په دې تقدير د ((الا ان يأتين)) سره استثناء متصله د عموم الاحوال والاوقات نه ده ((اى لايحل لكم ان تذهبوا بعض ماآتيتموهن فى حال من الاحوال يا فى وقت من الاوقات الا ان يأتين — الخ)) .

﴿ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ﴾ يعنې دښځوسره زندګى په شرعى طريقه سره تيره وئ اوشرعى حقوق ئې اداكوئ. نرمى ورسره كوئ وهل. ټكول. كنځل اوسختى ورسره مه كوئ.

ښه سلوك ورسره كوئ اودجاهليت په شا ن خراب سلوك مه كوئ ﴿فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ ﴾ داشرط دي او جزا ئې مقدره ده چه ((فاصبروا)) دې يعنې كه دښځې خوئ. خصلت. عادت تاسوته خوښ نه وى نو بيا هم صبر كوئ ځكه كيدې شى يوشې تاسوته خه نه ښكارى اوالله تعالى به تاسو دپاره په هغې كښې دينى يا دنيوى فايده ايښودې وى مثلا ښځو نه به اولا د صالحه دركړ ى او د صبر كولو ثواب به دركړى اودخير كثير دپاره تكليف بر داشت كول دا دعقل اوحكمت تقاضا ده

وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ وَّ اٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا

اوکه تاسو اراده لرئ بدل راوړل دیوښځې په ځای دبلې ښځې اوورکړې وي تاسویوددوی ته ډیرمال په مهر کښې

فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْئًا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ۝ وَكَيْفَ

پس مه اخلئ ددغه مال نه څه ځیز، آیا اخلئ تاسودغه مال. بدنامه لګونکی او ګناه کونکی ښکاره اوڅه رنګه

تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّ اَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝

اخلئ تاسودا اوحال دادې چې رسیدلی دی بعضې ستاسوبعضو ته اواخیستې ده دې ښځو ستاسونه وعده محکمه

﴿ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ ﴾ دا دماقبل سره متعلق دې چې ښځې دمال دخاطره مه تنګوئ اوکه په تاسوکښې څوک اراده اوکړی چې یوه ښځه طلاقوی اوبلې ښځې سره نکاح کوی نو مخکنئ ښځې ته ئې چې حق مهر ورکړې دې هغه دې ترینه واپس نه اخلی اګرکه ډیر مال وی لکه دجاهلیت په دور کښې به دا دستور وو چې یوه ښځه به ئې پریخودله نو په هغې باندې به ئې په ناحق تهمت اولګولو اوظلم به ئې پرې کولوددپاره ددې چې دا مجبوره شی اومهر خاوند ته واپس ورکړی نو پدې آیت کښې دغه قسم کارونو نه منع اوشوه

﴿ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ قِنطَارًا ﴾ دې آیت نه معلومړی چې ډیر مهر مقررکول هم جائز دی. ابن کثیر په روایت داحمد وغیره سره نقل کړې دې چې حضرت عمر رضی الله عنه منع وکړه چه مغالات مه کوئ په مهر کښې ځکه چې که دا عزت وې په دنیا کښې اوتقوی وې نوپدې سره به زیات لائق نبی ﷺ وو لیکن هغه دخپلو لونړو او بیبیانو مهر د دولس اوقیو نه زیات نه وو مقرر کړې. او په بل روایت کښې دڅلورسوو درهمو ذکر دې. نو یوه ښځه راغله ((وفی روایة امرأة من قریش)) او په عمر رضی الله عنه باندې ئې اعتراض اوکړو چه ((اماسمعت ما انزل الله تعالی : واتیتم احداهن قنطارا ؟)) نوحضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل ((اللّٰهُمَّ غُفْرًا كُلُّ النّاس افقهُ مِنْ عمر)) اوبیائی په منبر باندې دا اعلان اوکړو چه که څوک په مهر کښې څومره مال ورکول غواړی نو وردې کړی

شیعه ګانو ددې واقعې د وجې نه اعتراض اوطعن کړې دې په حضرت عمر رضي الله عنه په نقصان دَ علم اوعدم اهلیت دخلافت لپاره، صاحب د روح المعانی جواب کړ یدې (۱) چې دا آیت نص ندې په جواز دورکولو دقنطار په مهر کښې ځکه دلته زیادت دمهر په جمله خبریه

کښې په طريقه دشر ط سره دي او دا په جواز دلالت نه کوی لکه دا قول ((ان جاءک زيد وقدقتل اخاک فاعف عنه)) دا دلالت نه کوی په جواز دقتل د اخ باندې (۲) اوکه دا تسليم کړو نو بيا په جواز د اعطاء فی المهر دلالت نه کوی بلکه احتمال دي چې دا اعطاء دې د «حِلی» يعنې زيوراتو وی په طريقه د هبې سره نه دمهر سره (۳) اوکه دا اومنلې شی نوکيدي شی چې جواز دزيادت دمهر صرف جواز او رخصت وی اوبهتر اولی او عزيمت کم والې دمهر وی لکه چې ابن حبان په روايت دابن عباس رضی الله عنه سره نقل کوی ((قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ان من خير النسآء ايسرهن صداقا)) ، ((وعن عائشه رضی الله عنها قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم يمن المرأة تسهيل امرها فی صداقها)) واخرج احمد والبيهيقی مرفوعا ((اعظم النساء برکة ايسرهن صداقا)) نونهی دحضرت عمر رضی الله عنه دتيسر اود رغبت دپا ره وه ماهوالافضل ته چې ثابت وو په عمل اواقوالو درسول الله صلی الله عليه وسلم سره اوهر چې جواب نه ورکول زنانه ته دی نو هغه دَ تواضع او کسر نفسی دَ وجه نه وه اودترغيب ورکولو دپاره وۇ په فهم دکتاب الله کښې او دا رنګې په اظهار دمغلوبيت دکبير کښې حوصله افزائی اوخوشالول دصغير وی.

﴿ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴾ استفها م انکاری دې په معنی د ((لايجوز)) سره او ((بهتانا)) او ((اثما)) منصوب بنابر حاليت دی ((ای باهتين وآثمين)) اوودې مطلب داندې چې بغير دبهتان او اثم نه واپس اخستل ترينه جائز دی بلکه ددې ذکر لپاره د اظهار دمزيد قباحت دې اوعادت دجاهليت ته اشاره ده چې ددوئ عادت به بهتان اواثم وو .

﴿ وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى ﴾ پدې کښې بيان دعلت دپاره د ((لا تأخذوا)) دې يعنې مهر واپس مه اخلئ، ځکه چه يو خو افضاء راغلې ده اوبل ميثاق غليظ يعنې معاهده شوېده «افضاء» کنايه ده دجماع نه او په حکم ددې کښې خلوت صحيحه هم داخل دې اودميثاق نه عقد نکاحی مراد دې .

وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا
اونکاح (۱) مکوئ دهغه چاسره چې نکاح ورسره کړې وې پلارنېکه ستاسو دښځونه مګر هغه چې

۱- نهم حکم . ښځې بېشکه په نکاح سره ملاويږي خودا مندرجه ذيل مذکورِ ښځې په نکاح سره هم نه ملاويږي

قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا ۝

محکمي تیر شوي دي. بیشکه داده بې حیایي . اوسبب دغضب دالله . اوډېره بده لار ده

﴿ وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم ﴾ دانهم حکم دي داحکامو درعیت نه. ددي خلاف داده چي ښځي خو په نکاح سره میلاویدې شی لیکن دا مذکوره ښځي خو په نکاح سره هم نشی میلاویدې. دجاهلیت درسمونونه یو رسم داوو چي پلار به مړشو نوخوئ به ني دهغه ښځي (میرې مور) سره نکاح کوله او دارنګي که پلاربه ښځه طلاقه کړه نوخوئ به ورسره نکاح کوله اودې قسم نکاح ته به ئی ((نکاح مقت)) ویلو او ناکح ته به ئي ((ضیزن)) ویلو او ولد به چه ترینه پیدا شو نو هغه ته به ئی ((مقیت)) او ((مقتی)) ویلو . نوپدې آیت کښې ددې قسم نکاح نه منع اوشوه. او ((مانکح)) عام دې شامل دې عقد ته اونکاح ته په نزد داما م ابو حنیفة اوامام احمد رحمهما الله باندې. نو پلار چه دَ کومې خزې سره عقد نکاح وکړی نو څوئ به ورسره نکاح حرام دې. برابره خبره ده چه وطی ئ کړی وی یا ئ نوی کړی. او دارنګه چه پلار د کومې خزې سره زنا کړې وی نو دَ څوئ نکاح ورسره ندې صحیح په نیزد دامام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله

﴿إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ﴾ دا استثناء منقطعه ده یعني لیکن هغه چي په جاهلیت کښې تیر شویدی نوهغه ترک کړئ یا هغه چي په جاهلیت کښې تیر شویدی هغې ته حرام نه ویلې کیږی اومواخذه په هغې هم نشته. البته ددې حکم دنزول نه پس که چا نکاح اوکړ له نوهغې ته حرام ویلې شی اومواخذه به پرې کیږی ﴿إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا ﴾ د ((انه)) ضمیر نکاح د مانکح ته راجع دې پدې کښې ددغه عمل نهایت قباحت بیان شوېدې

فائده مراتب دقبح امام رازی رحمه الله وائی چي مراتب دقبح درې دی (١) قبح شرعی (٢) قبح عقلی (٣) قبح عادی. اوالله تعالی دا قسم نکاح موصوف کړې ده په دریو واړو قبحو سره نو په ((فاحشة)) سره اشاره ده قبح عقلی ته اوپه ((مقتا – ای ممقوتا مبغوضا)) سره اشاره ده قبح شر عی نه . او په ((وساء سبیلا)) سره اشاره ده قبح عادی ته. نومعلومه شو ه چي په کوم عمل کښې دا درې واړه قبح راجمع شی نو دا ډیر قبیح وی اوبعضې وائ چي په ((فاحشة)) سره اشاره ده قبح شرعی ته او ((مقتا)) سره اشاره ده قبح عقلی ته. مقت منافرت عقلی ته وائی او

په ((ساء سبيلا)) سره اشاره ده قبح عادي ته. صاحب د روح المعاني وائي چي ((لعل ترتيب الامام اولى))

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ

حرام کړي شوي دي په تاسو باندې (نکاح) دمیاندو ستاسو اولونړوستاسو او دخويندوستاسو او ترورياتوستاسو

وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْأَخِ وَبَنٰتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ أَرْضَعْنَكُمْ

او دمسي گانوستاسو د رويرو او خورزو او مياندې ستاسو هغه چي تاسوته ئي پي دركړي وي

وَأَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ

او ستاسو د رضاعي خويندو. او مياندې د ښځوستاسو (خواښې) او پرکټې ستاسو هغه چي ستاسو په پالنه کښې دي. ستاسو

مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ز فَإِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ

د ښځو هغو نه چي يوځاې. شوي يئ تاسو دهغوي سره، پس كچري نه يئ تاسو يوځاې شوي دهغوي سره نو نشته گناه

عَلَيْكُمْ ز وَحَلَآئِلُ أَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ لا وَأَنْ تَجْمَعُوْا

په تاسو باندې او ښځي دخامنو ستاسو هغه چي پيدا شوي وي ستاسو د شاگانو نه. او دا چي تاسو جمع اوكړئ

بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ط إِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾

په مينځ د دوه خويندو كښې مگر هغه چي مخكښې تيرشوي دى. بيشكه الله دې بخښنه كونكې اورحم كونكې

﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ﴾ ((اى نكاح امهاتكم)) پدې كښې دمحرماتو د نكاح بيان دې. ابن كثير دحضرت ابن عباس رضى الله عنه نه روايت نقل كړي دي چي سبع نسبي اوسبعه صهري حرام كړي شوي دي. نوټول پدې آيت كښې د ۱۴ محرماتو بيان دې اووه (۷) د نسب د وجهي نه حرام دي. نسبي محرمات (۱) مور (۲) لور (۳) خور (۴) ترور (۵) ماسى (۶) وريره (۷) خورزه

او اووه (۷) د سبب د وجه نه حرام دى نو اسباب درې دى: (۱) رضاعت لكه (۱) رضاعى مور (۲) اوخور (۲) سبب مصاهرت لكه سخر گنئي لكه (۱) خواښې (۲) پركټي (۳) اينگور (۴) خينه. يعنى دواړه خويندې په نكاح كښې جمعه كول (۳) دريم سبب تعلق دنكاح دې دغير چي

په راتلونکی آیت کښې ذکرشوېدې هغه یوه (۱) ده. نودا مجموعه وره شوې. لفظ د ((امهات)) شامل دې مور او هر قسم نیاګانوته برابره خبره ده که دمو ر دطرف نه وی اوکه دپلار دطرف نه وې همدارنګه لفظ دبنات صلبی لور. بنت الابن. اوبنت البنت وی ټولوته شامل دې. اودارنګې د ((اخواتکم)) نه هم مراد عام دې. اخت اخیافی وی اوکه اعیانی وی او ((عمات)) هم عام دې چه دپلار اعیانی خور وی اوکه علاتی وی اوکه اخیافی وی او په ((خالاتکم)) کښې هم دغه سې تفصیل دې اودارنګې په ((بنات الاخت اوبنات الاخ)) کښې هم دغه تفصیل دې

﴿وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ﴾ رضاعت په لغت کښې چوپلو دتی ته وائ او په اصطلاح کښې چوپل دتی دصبی دی په مُده درضاعت کښې چې دوه کاله ده په نزد دجمهور او دوه نیم کاله ده په نیزد دامام ابو حنیفة رحمه الله باندې او مراد ددینه دادې چې یوبچې دیوې ښځې یئ اوخری برابره خبره ده چې که په چوپلوسره وی اویا په بل څه ذریعې سره وی لکه بوتل وغیره. دلته دحرمت رضاعی نه صرف ددووذکر دې او په حدیث کښې دی چه ((یحرم من الرضاعة مایحرم من النسب)). نوفقهاء کرامو تفصیل کړې دې چه دمرضعې یعنې دتی ور کوونکې ښځې دطرفه ټول حرامیږی او د رضیع یعنې دتی رودونکی دطرفه دغه بچې اودهغه ښځه او اولاد حرامیږی نو مرضعه درضیع دپاره مور ده او د مرضعه خاوند ورلره رضا عې پلار دې او د مرضعې لیور ورلره تره دې او دمرضعې خویندې ورلره تروراني دی اودمرضعې اولاد ورلره رونړه اوخویندی دی اود تی رودونکی د طرفه صرف دې دمرضعې اودهغې دخاوندخوئ دې اودده منکوحه ورلره اینګورده اودده اولادورلره نمسی (نوسی) دی.

شعر

از جانب شیر ده همه خویشان شوند وازجانب شیر خوار همان زوجان وفروع

داتفصیل په امومیت او په اختیت کښې درج دې چې نص کښې مذکور دی

﴿وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ﴾ پدې کښې دمنکوحې. مور. اونیاګانې ټولې داخلې دی اوصرف په نکاح کولو سره حرمت دخواښې راځی برابره خبره ده که صحبت ئې اوکړو اوکه نه

﴿وَرَبَٰٓئِبُكُمُ﴾ پرکتئ .دلته دوه قیدونه ذکر شوی دی اول ﴿ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم﴾

هغه پرکتی چې ستاسو په پر ورش کښې وی. دا قید احترازی نه دې بلکه ((خرج مخرج العادة)) دې اودویم قید احترازی دې یعنی دا چه ﴿ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ﴾ نوکه دیوې ښځې

سره نکاح اوشوه اوجماع یاخلوت ورسره نوی شوې نو که دغه ښځې لره طلاق ورکو ی اود لور سره ئې نکاح کو ی نوکولې شی. نو ددې وجه نه علماء کرام وائی چه ((**وطی الامهات یحرم نکاح البنات، ونکاح البنات یحرم نکاح الامهات**))

﴿وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ﴾ ((حلائل)) جمعه د ((حليله)) ده په معنی د ((محللة)) سره یعنې دخامنو منکوحې (اینګیندې) په صرف نکاح کولو دخوی سره دغه ښځه (انیګور) دسخر دپاره حرامه ده اګرکه جماع ئې ورسره نه وې کړې ﴿مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ﴾ ((اصلاب)) جمع د ((صلب)) ده ملا ته وائی اومراد ترینه هغه نطفه دپلار ده چې دپلار دملانه را اووزی. او په دې کښې احتراز دې دمتبنې نه چې هغه په عرف دعربو کښې خوې ګڼرلې کیدلو اودا احتراز دابن الابن نه ندې ځکه چې دهغه حکم دابن دې ﴿وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ﴾ دخینې سره یعنې دښځې خورسره نکاح کول حرام دی تر څو چې هغه په نکاح اویا په عدت کښې وی او دامعنی دجمع ده اود اختین نه مراد عام دې نسبی وی، که اعیانی وی اوکه علاتی یا اخیافی یارضاعی وی اوپدې حکم کښې هرهغه دوه ښځې داخلې دی چې پدې دواړو کښې هره هره یوه داسې وی که چرې دا نارینه وې نو دبلې سره به ئې نکاح حرام وی لکه یوه ښځه او دهغې عمه یاخاله نو د دوئې جمع ناجائز ده اوکه دطرفینونه داسې صورت نه وو نودهغوئې جمع جائز ده اګرکه دیو طرف نه دغه مذکوره صورت وی لکه چې خوک دکونډې ښځې سره نکاح اوکړی اوبیا دکونډې، اینګور سره نکاح کوی نو دا جمع جائز ده ځکه که دغه اینګور مذکر فر ض کړې شی نونکاح ددې کونډې سره جائز کیږی فی الجمله ﴿إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ﴾ یعنې لیکن هغه چې په جاهلیت کښې څه شویدی نوهغې ته حرام نشی ویلې اومواخذه پر ې نشته دې ځکه چې ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا﴾

اوهرکله چې نکاح دمنکوحة الاب سره ډیره قبیحه وه نو دهغې سره ((انه کان فاحشة ــ الخ)) ذکر شوېدې اوجمع بین الاختین په تحریم کښې قباحت دهغې نه کم دې. ځکه ویلې شویدی چې حضرت یعقوب علیه السلام جمع بین الاختین کړیده (لیا) ام یهودا او (راحیل) ام یوسف علیه السلام خویندې وې ((وهذا إنْ صح كان حلالاً فی شریعته)). (روح) نو د دې وجه نه د دې په آخر کښې ((غفورًا رحيمًا)) ذکر شو

څلورمه پاره ختمه شوه ولله الحمد

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَامَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ

او حرامې دي خاوندانو والاښځې مګر هغه ښځې چه مالکان سی دهغوی ښي لاسونه ستاسو. لازم کړيدی ده

عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

په تاسو. وحلال کړی شوی دی تاسولره ماسوا ددغه مذکورونه چه طلب دنکاح به کوی تاسي په خپلو مالونو سره

مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ

په قید دنکاح کښي راوستونکي. نه بې زناکونکي. پس هغه زنانه چه نفع واخلی تاسو پدې مهرسره دهغوی نه

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ

نو ورکوئ هغوی ته مهرونه دهغوی مقرر کړي شوي. او نشته ګناه په تاسو په هغې کښې چه تاسو دیو بل سره راضي سی

بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

په هغې. روستو دمقرر کولونه . بیشکه الله پوهه په هر څه او حکمتونو والا دي

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ

اوڅوک چه نه لري ستاسونه مالی طاقت ددې چه نکاح اوکړی دآزادو مومنانوښخوسره نونکاح دې اوکړي

مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

دهغې سره چه مالک وي دهغې ښي. لاسونه ستاسو د هغه ښخوستاسونه چه مومنانې دی. اوالله زيات عالم دي

بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

په ايمان ستاسو. بعضې ستاسونه دجنس دبعضو نه دی، نونکاح کوئ ددوی سره په اجازت دمالکانوددوی سره

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ

وورکوئ دوی ته مهرونه ددوی په ښه طريقې سره چه پاکدامنی به وی نه به وي ښکاره زناکونکی اونه به پټې

١ د معنی نفې ته اشاره ده

أَخْدَانٍ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ

دوستانې نیسونکې. نوپس کله چه دوئ په قېددنکاح کښې راشي نوکه راتله اوکړې دوئ په بدکارۍ سره

فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ

نوپه دوئ باندې نیمه ده دهغې نه چه واجب دې په آزادو ښځو دسزا نه. دانکاح دوینځو دهغه چاد پاره دې چه یریږي

الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝

دزنانه، ستاسونه اوصبر کول ستاسو دنکاح دوینځونه ډیرغوره دی تاسولره اوالله بخښونکې رحم کونکې دې

﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ﴾ داعطف دې په ماقبل محرماتو اوپدې کښې دمحرمات سببیو اووم(۷) قسم ذکر کیږی، ((محصنة)) د ((محصنات)) جمع ده اودا په قرآن کښې په دریو معانیوسره مستعمل دې اوله معنې ذات الا زواج دې. اودلته دامعنی مر اد ده، اودویمه معنی حُره ده، اودامعنی روستو پدې قول کښې ذکر کیږی ﴿وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ﴾ ((ای الحرائر)) اودریمه معنی د عفیفه او پاکدامنه ده. او دا معنی مراد ده پدې قول کښې ﴿وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ﴾ ددې آیت مطلب دادې چه کومه ښځه دبل منکوحه وی نو دهغې سره نکاح جائز نه دې.

﴿إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ د دې د ظاهری معنی نه دا معلومیږی چه وینځه اگر که منکوحه د غیر وی نو د هغې سره نکاح جائز ده. حالانکه د خپلې وینځې سره خو نکاح مطلقًا کیدې نشی او پردئ وینځه چه د بل چا منکوحه وی نونکاح ورسره هم جائز نه دې. نو د دې وجه نه مفسرین وائی چه د دینه مراد ((سبایا)) دی یعنې هغه ښځې چه د یوکافر په نکاح کښې وی اومسلمانان ئې په جهاد کښې قید کړی نو چه د دارالکفر نه ئې دارِ اسلام ته راولی نو د هغه کافر حربی سره ئې نکاح ختمه شوه، نو که دا ښځه کتابیه وه یا مسلمانه وه نو د ((استبراء)) نه بعد ورسره نکاح جائز دې.

﴿كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾ دامفعول مطلق دفعل محذوفه دې ((ای کتب الله علیکم تحریم ماذکر سابقا کتابا))

﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ﴾ **دا لسم حکم دي** خلاصه ئې داده چه دکومو ښځو سره نکاح حلاله ده يعنې چه هغه ماسوی ددغه مذکوره محرماتونه دي نو هغوئ سره نکاح يو طريقه سره حلاله ده چه ﴿أَن تَبْتَغُوا۟﴾ دا په تقدير د (با) سره متعلق دې په ((احل)) پورې ((ای احل بان تبتغوا))چه تاسو به طلب کوئ يعنې ايجاب اوقبول به وی. او دويم داده چه ﴿بِأَمْوَٰلِكُم﴾ يعنې نکاح بغير دمهر نه به نه وی نو که مهر نه ووذکر شوې اويا نفې شوې وو نو بيا هم مهر مثل لازم دې. دريم دا چه ﴿مُّحْصِنِينَ﴾ هميشه دپاره به وی په زوجيت کښې د ساتلو به غرض سره او شرعی عقد سره، ديوځو ورزو دشهوت پوره کولو په غرض سره به نه وی. نو يدي سره اشاره ده نفی دمتعې ته (**روح المعانی**).

﴿مُّحْصِنِينَ﴾ حال دې دفاعل د ﴿تَبْتَغُوا۟﴾ نه او ﴿غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ﴾ ترينه دويم حال دې نو ددينه دامعلومه شوه که زانی مال ورکړی نو په هغې سره حلالوالې نشی راتلې اوورکول ئې هم حرام دی ﴿مُسَٰفِحِينَ﴾ د ((سفاح)) نه مشتق دې او مراد ترينه زناکول دی. او سفاح په اصل کښې بهولو ته وائی لکه((دَمًا مَّسْفُوحًا))نو چونکه په زنا کښې صرف منی بهول وی اونور مقصود نه وی لکه رشته داری، نسب وغيره پرې نه ثابتيږی نوځکه ورته سفاح ويلې شی

﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ ((ای مهورهن)) ددې آيت مقصو داديې چه پوره مهر ورکول په استمتاع سره يعنې په جماع اويا په خلوت صحيحه سره لازميږی اوکه دجماع اويا دخلوت صحيحه نه بغير جدائی راشی نوپوره مهر ندې واجب بلکه نيم مهر واجب دې، يا صرف متعه ده، اوکه چرې تقرر دمهر نه وی شوې اوښځې نه داسې عمل صادر شو چه نکاح پرې باطليږی لکه ارتداد (نعوذ بالله) اوکړی يا تمکين ابن الزوج، نو بيا هيڅ نشته ور لره. په ((فمااستمتعتم)) کښې (ما) موصوله دې . ((استمتعم)) ئې صله ده، موصول سره دصله نه مبتدا ده او ((فاتو هن اجورهن)) ورلره خبر دې. اويا ((ما)) شرطيه دې مبتدا ده اوخبر ورلره فعل شرط دې اوياجواب شرط دې اولفظ د (ما) (١) ياعبارت دې دنساء نه او ((منهن)) ورله بيان دې. نو معنی داده چه ((**فما**)) پس هغه ((**منهن**)) يعنې ښځې ((**استمتعم به**)) چه تاسو په هغوئ سره نفعه واخلئ په جماع يا په خلوت صحيحه سره نو ((**فاتوهن**)) نوورکوئ هغوئ ته دهغوئ مهرونه. (٢) او يا (ما) عبارت دې دفعل اوطريقې نه او((**منهن**)) متعلق دې په ((**استمتعم**)) پورې.

یعنی پس فعل اوطریقه شرعیه (جماع اوخلوت) چه تاسو په هغې سره نفعه واخلئ دښځو نه نوورکوئ دوئې ته مهرونه ددوئ. دا تشریح ددې آیت د دجمهورو سلف اوخلفونه منقول ده

اوشیعه گان وائی چه دد ښه متعه ثابته ده، دلیل دا وائی چه په قراء ت د حضرت ((أُبی)) رضی الله تعالی عنه کښې د ((فمااستمتعم)) نه روستو ((الی اجل)) لفظ راغلې دې چه دد ښه صراحة جواز دمتعې معلومیږی. **جواب ددې** دادې چه حرمت دمتعې قطعی اجماعی مسئله ده او په نصوصو قطعیو سره حرمت دمتعې ثابت دې نو د جواز دثابتولو دپاره یو قراء ت شاذه نه کافی کیږی اوکه بالفرض قطعی دلیل راشی نو ددلیل دحرمت په مقابله کښې به مرجوح اوغیر معتبر وی، نو په قراء ت شاذه سره به څنگه جواز ثابت شی. **دویم دا چه** دې آیت نه متعه اصلاحی مراد کول مخالف دسوق د آیت نه دې ځکه چه دلته ئی دمحرماتو د ذکر کولو نه روستو اوفرمائیل ((واحل لکم ما وراء ذالکم)) چه دغه مذکوره نه علاوه تاسولره ښځې حلال دی لیکن طریقه اواصول ئې دابیان کړی دې ((ان تبتغوا)) چه ایجا ب اوقبول به وی، ((باموالکم)) مهر به وی ((محصنین غیر مصافحین)) یعني مقصود به همیشه په قید د نکاح کښې راوستل وی چه بغیر دموت اویا طلاق نه به ښځه دخاوندنه ، نه جدا کیږی اوصرف منی بهول اوشهوت رانی به مقصودنه وی، نوپدې سره نفی دمتعه ده ځکه چه په متعه سره همیشه دښځې ساتل مقصود نه وی، او((تأهّل)) یعني اهل اوعیال اورشته داران او اقارب جوړول، اولادپیداکول مقصود نه وی نوکه د ((فما استمتعم)) نه اصطلاحی متعه مراد شی نود آیت دسوق نه خلاف رازی اوبالفرض که په آیت کښې دمتعې دحلالوالی طرف ته اشا ره اوشی نو بیا هم دا منسوخ دې په ﴿ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴿٣١﴾ ﴾ سره ځکه ممتوعه نه منکوحه ده اونه مملوکه ده، امام ترمذی رحمه الله دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت ذکر کړې دې ((كانت المتعة في ابتداء الاسلام حتي اذا نزلت الاية ﴿ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ ﴾قال ابن عباس رضی الله عنه فکل فرج سواهما فهو حرام)).

او دارنگې امام ترمذی رحمه الله اوامام بخاری رحمه الله روایت کړې دې ((ان عليًا قال لابن عباس ان النبي صلى الله عليه وسلم نهي عن متعة النساء وعن لحو م الحمر الاهلية زمن خيبر قال

ابو عبدالله (بخاری) وبَيّنهُ علی رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم انه منسوخ))
(٢ ٧٧٢) دصحيح مسلم ديو روايت نه معلوميږی چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه دمتعي
قائل وو . دعبدالله بن زبير رضی الله عنه دخلافت په وخت کښې روايت داسې دې ((ان عبد
الله بن زبير رضی الله عنه قام بمكة فقال فقال ان ناسا اعمی الله قلوبهم كما اعمی ابصارهم يفتون
بالمتعة، يعرّض برجل (قال النووی: أی : ابن عباس) فناداه فقال انک لجلف جاف فلعمری لقد
كانت المتعة تفعل فی امام المتقين يريد رسول الله صلی الله عليه وسلم فقا ل له ابن زبير رضی الله
عنه فجرب نفسک فوالله لئن فعلتها لا رجمنک باحجارک)) ليکن رجوع دابن عباس رضی الله
عنه په صحيح رواياتو سره ثابته ده (کمافی روايت ترمذی) نو کيدې شی چه رجوع ئې روستو
ددغه قصې نه کړې وی

فائده ابن عباس رضی الله عنه چه اولاً دجواز دمتعي قائل وو نو په دې کښې د دوه
خبرو لحاظ ساتل ضروری دی **اول دا** چه ابن عباس رضی الله عنه په حالت اضطرار کښې ددې
دجواز قائل وولکه روايت دې چه سعيد بن جبير دوئ ته اويل : ((لقد سارت بفتياک الركبان
وقال فيهاالشعراء)) نوحضرت ابن عباس رضی الله عنه جواب ورکړو ((ماهذا افتيت وماهی الا كا
لميتة والدم ولحم الخنزير ولاتحل الا للمضطر)) لکه دطبرانی. تر مذ ی، بيهقی په روايت کښې
دی چه ابن عباس رضی الله عنه وائی ((انما كانت المتعة فی اول الاسلام كان الرجل يقدم البلدة
ليس لها معرفة فيتزوج المرأة بقدر مايری انه مقيم فتحفظ له متاعه وتصلح له شأنه حتی نزلت
الآية ﴿إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ﴾ فكل فرج سواهما فهو حرام)) **دويم** دا چه ابتداء
داسلام کښې کومه متعه جائز وه نوهغه په حقيقت کښې نکاح مؤقت وؤ لکه پدې مذکوره
روايت کښې د ی ((فيتزوج المرأة)) اودشيعه گانو چه کومه معروفه اومصطلحه متعه ده نوددې
جواز په هيڅ وخت کښې نه دې ثابت ځکه دامحض زنا ده

دنکاح مؤقت اودمتعه په مابين کښې فرق دادې چه په نکاح مؤقت کښې ايجاب اوقبول
اوگواهان وی اود ولی اجازت وی اواستبراء بحيضة وی او په متعه کښې دا امور نه وی
اودارنگې حضرت ابن عباس رضی الله عنه اولاً صرف د اباحت دمتعه قائل وو دضرورت دپاره
اودثواب قائل نه وولکه (چه شيعه گان قائل دی) اودغه وجه ده چه وې فرمائل ((كا لميتة والدم

ولحم الخنزير)) اوشيعه متعه ته عظيم ترين عبادت وائي اوددوئي دا عقيده ده چه څوک يو ځل متعه اوکړي نو د حضرت حسين رضى الله عنه مرتبې سره مساوى شى او چه دويم وارئې اوکړي نو دحضرت حسن رضى الله عنه مرتبې سره مساوى شى اودريم وارې دحضرت على رضى الله عنه اوڅلورم وارې دحضور صلى الله عليه وسلم مرتبې سره برابر شى (نعوذ باالله. ثم نعوذ باالله)

﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ﴾ يعنې دمهر مقررکولو نه روستو کمې زيادتې جائز دې يا معاف کول ليکن دا موقوف دى په اجازت دښځې پورې او زيادتې کول موقوف دى په رضا دخاوند باندې.

﴿وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا﴾ پدې آيت کښې دنکاح دوينځو بيان دې چه نکاح دوينځې سره جائز دې په اجازت دمالک سره. څوک چه طاقت دحرې لرى نونکاح دوينځې بهترنه دې ځکه چه اولادبه ئې غلامان وى دمالک دوينځې دپاره.

ترکيب ((من)) اسم شرط دې په محل درفع کښې مبتدا ده او ((لم يستطع)) **فعل** شرط دې ((فيما ملکت)) ورله جزاده . اوشرط اوجزا دواړه يايوازې شرط خبر دمبتدا دى ((طولا)) مفعول به د((لم يستطع)) دې او ((ان ينکح المحصنات)) په تاويل دمفرد سره مفعول به دې د ((طولا)) دپاره ځکه چه ((طولاً)) مصدر دې عمل کولې شى، او دا هم کيدې شى چه ((ان ينکح)) بدل شى د ((طولاً)) نه اوداهم کيدې شى چه ((ان ينکح المحصنات)) مفعول شى د ((لم يستطع)) دپاره او ((طولاً)) مفعول له شى په حذف دمضاف سره ((اى من لم يستطع نکاح المحصنا ت لعدم الطول)) او((طول)) په فتح سره وسعت دمال اوقدرت ته ويلې شى او په ضمې سره اوږدوالى ته ويلې شى اودمحصنات نه مراد حرې دى يعنى څوک چه دحرې دنکاح طاقت نه لرى دوجه دډير والى دمهر نه نو وينځې سره دې نکاح اوکړي

﴿فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم﴾ ((اى فليتزوج)) اود ((ايمانکم)) نه دبل مسلمان مملوکه مراده ده ځکه چه دخپلې مملوکه سره نکاح ته حاجت نشته. وجه داده چه ملک رقبه اوملک مملوکه دواړه په يو ځاې نشى جمع کيدې. او ((المؤمنات)) سره احتراز دې دوينځې مشرکې نه. امام شافعى رحمه الله وغيره پدې آيت سر ه استدلال کوى چه څوک دحرې دنکاح طاقت لرى نو دهغه دپاره دوينځې سره اوياکتابيئ وينځې سره نکاح کول جائز نه دى. اوامام ابوحنيفه رحمه الله وائې چه نکاح دوينځې سره مطلقاجائز دې برابره خبره د که طاقت دحرې لرى اوکه نه لرى

اوهم دارنګې نکاح دکتابيې وينځې سره جائز دې ځکه چه داعدم جواز مفهوم مخالف داعتبار دوجه نه دې اوځمونږ په نزد مفهوم مخالف معتبر نه دې په استدلال کښې

اوقيدد ((لم يستطع)) اود ((المؤمنات)) صرف دفضيلت اوترغيب دپاره دې يعنی نکاح دوينځې سره اولی نه دې ځکه چه اولاد به ئې مملوک دغير شی ليکن که چا سره داخطره وی چه په زناکښې واقع نشم نوبيا دې ورسره نکاح اوکړی ليکن بياهم اولی او بهتره نکاح دمؤمن وينځې سره ده اګرکه نکاح دکتابيې سره هم جائز ده لکه نکاح دحرې کتابيې سره چه جائز ده.

فائده په صورت داستطاعت کښې نکاح دوينځې مؤمنې سره يادکتابيې سره په نزد احنافو جائز دې خو مکروه دې او په نزد دنورو آئمؤو باندې نکاح دمؤمنې وينځې سره په صورت داستطاعت کښې حرام دې اود کتابيې سره مطلقا جائز نه دې.

﴿وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ﴾ وجه دفضيلت اوغوره والی ايمان دې نوکله به وينځه دايمانی قوت دوجه نه دحرې نه غوره وی چه ايمانی قوت يې کم وی نوځکه نکاح د وينځې مطلقا قابل نفرت ندې لکه چه اکثر خلق ترينه نفرت کوی ﴿بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ﴾ يعنې تاسو ټول ديوبل نه پيدا يئ. هم جنس يئ نو نفرت ترينه مه کوئ ﴿فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ﴾ يعنې دوينزوسره نکاح په اجازت د مالك سره کيږی بغير د اجازت د مالك نه صحيح ندې او دارنګه حال د غلام دې

﴿وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ د أُجور نه مراد مهور دی يعنې چه وينځې سره نکاح اوکړئ نو مهر ورکول لازم دی اودا مهر په نزد دجمهورو ملك دمولی دې لکه چه څنګه وينځه ملك دمولی دې. نسبت دمهر وينځې ته ځکه اوشو چه دا سبب دمهر دې او په نزد د امام مالك رحمه الله داملکيت دوينځې دې ﴿مُحْصَنَاتٍ﴾ دا حال دې دضمير د ((أتوهن)) نه. دلته محصنات په معنی دپاک دامن سره دې ﴿غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ﴾ داهم حال دې دضمير د((هن)) نه. ((سفاح)) ښکاره زنا کولو ته وائی ﴿وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ﴾ دا عطف دې په ((مسافحات)) باندې مسافحات هغه ښځو ته وائی چه بر سرعام زناکوی، دحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت کښې دی ((لاتمتنع ممن جاءها وهن البغايا كن ينصبن على ابوابهن رايات)) او ((متخذات اخدان)) هغه دی چه پټه به ئې زناکوله او يا هغه دی چه مخصوص کسانو سره به ئی زنا کوله ((چه دابه

شریفانې شمارلې کیدلې)) لکه په روایت دبخاری شریف کښې دی ((یجتمع الرهط مادون العشرة فیدخلون علی المرأة کلهم یصیبها – الخ)) ،په ((ولامتخذات اخدان)) کښې د دغه قبیح عمل رد هم اوشو اواشاره ده اشتراط دشهادت ته په نکاح کښې یعنې که په عقدکښې ګواهان نه وي نو دا نکاح نه دې بلکه یارانه کول دی ﴿فَإِذَآ أُحۡصِنَّ﴾ یعنې کله چه وینځې په قید دنکاح کښې راشی نوکه زنا ترینه صادره شوه نو بیا په دوئ باندې نیم حد جاری کیږی ﴿نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ﴾ دمحصنات نه مراد حرّې دې اوعذاب نه مراد جلد دې یعنې پنځوس دُرې به وهلې کیږی اودلته دعذاب نه رجم نشی مرادکیدې ځکه دوینځواوغلامانو دپاره رجم نشته دې او په هغې کښې تنصیف هم نشی کیدې لکه دا مذهب دائمه ؤاربعه ؤ دې او ((عبد)) هم پدې حکم کښې داخل دې په دلالة النص سره.

فائده وینځه چه په نکاح سره نوی ورکړې شوې نوبیا ئی هم دا حکم مذکور دې نو اشتراط ((اذا احصن)) ددفعه دتوهم دپاره دې چه هغه دادې چه ددوئ حد به دنکاح په وجه زیاتیږی په شان دحرو ښځو. نوپدې قید سره دغه توهم دفعه شو.

﴿ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ﴾ په ((ذالک)) سره اشاره ده نکاح دوینځو ته ((العنت)) مشقت ته ویلې کیږی اودلته کښې مرادترینه زنا ده اوهغه سبب دعذاب دنیوی او اخروی دې.
مطلب دادې چه نکاح دوینځو سره هغه چا دپاره مناسب دې چه شهوت پرې غالب وی اوخطره لری په ځان باندې په حرامو کښې دواقع کیدلو ، اوکه دچا خطره نه وی نوبیا نکاح دوینځو سره نده پکار ځکه چه اولاد به ئې دبل چامملوک وی او (لام) په ((لمن)) کښې په نزد دبعضو دپاره دتخصیص د جواز دې یعنې جواز ددې قسم نکا ح خاص پدې قسم کسانو پورې دې او په نزد دبعضو دپاره دانتفاع اودبیان دمناسبت دې یعنې دا قسم نکاح ددې قسم خلقو دپاره مناسب اونافع دې نه دبل چا دپاره ﴿وَأَن تَصۡبِرُواْ﴾ یعنی تاسوځان صبر کړئ دنکاح دوینځونه اویاځان صبر کولې شئ د زنا نه اونکاح اونکړئ د وینځوسره نودا ډیره غوره ده.
حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی : چه کوم سړې دوینځو سره نکاح اوکړی نوخپله نیمه حصه ئې مملوکه کړه (قرطبی)

يُرِيدُ	ٱللَّهُ	لِيُبَيِّنَ	لَكُمۡ	وَيَهۡدِيَكُمۡ	سُنَنَ	ٱلَّذِينَ
اراده لري الله	چه بیان کړی	تاسوته	داحکامو خپلونه	اواوښائی تاسوته	طریقې	د هغه کسانو

مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ

چه مخکښې ستاسونه وؤاو رحمت اوکړي په تاسو. اوالله عليم حکيم دې اوالله اراده لري چه قبوله کړي توبه

عَلَيْكُمْ ۗ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا

ستاسو. او اراده لرى هغه کسان چه روان دى دنفس په خواهشاتو چه کاږه شئ تاسو دالله دحکم نه

مَيْلًا عَظِيْمًا ۝ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ۝

په کوږوالي ډېرسره اراده لري الله چه آسانتياراولي په تاسو، ځکه چه پيداکړي شوېدې انسان کمزورې

﴿ يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ ﴾ پدې کښې تر غيب دې عمل کولو ته په احکامو باندې يعني چه په عمل کولو کښې ستاسو فائده ده

فائده د «يُريد» نه روستو کله «ان» ذکر وى لکه روستنى آيت کښې دى ﴿ يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ﴾ يالکه دسورة توبه په آيت نمبر(۳۲) کښې دى ﴿ يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ ﴾ اوکله ترينه روستو لام ذکر کيږى لکه په دې آيت کښې او لکه د سورت صف په آيت نمبر (۸) کښى ﴿ يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ ﴾ نو په کوم ځاې کښې چه (ان) ذکر وى نو دغه (ان) سره دخپل مدخول نه په تاويل دمفردسره بالاتفاق مفعول به د «يُريد» دپاره وى چه هغې ته مراد ويلې شى او په کوم ځاې کښې چه روستو ترينه لام ذکر وى لکه پدې آيت کښې نو پدې کښې دنحاتو کوفيينو مذهب دادې چه لام په معنې د (ان) سره دې اودا په تاويل دمفردسره مفعول به دې اومراد دې اوسيبويه اونحات بصرين دينه ضعيف وائى چه فعل متعدى کيدل مفعول متاخر ته په لام سره ممتنع ياضعيف دى، نوددوئ مذهب دادې چه مفعول د «يُريد» دپاره به مقدر وى په مناسبت دمقام سره نودلته مفعول مقدر دې اوهغه ته «مراد» ويلې شى اوتقدير دمفعول دلته دعموم دپاره دې ((اى يريدالله مصالح امركم يا مايحل لكم ويحرم ، يا ايصال النفع اليكم)) يعني پدې احکامو سره به الله تعالى خير رسول غواړى اوستاسو مصالح غواړى. اولام په ((ليبين لكم)) کښې لام دعاقبت دې يعني انجام ئې دادې چه تا سو ته بيان کوى او يا لام دعلت دې يعني مدخول د سبب دې دمفعول محذوفه دپاره ځکه بيان سبب دې د

ايصال دنفع ديږه او د مصالح دپاره. حاصل دادي چه كله به ,,مراد،، محذوف وى او علت به ئي مذكور وى او كله به مراد مذكور وى او علت به ئي محذوف وى

﴿وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ﴾ دا منصوب دي عطف دي په ((يُبَيِّن)) باندي او ,,لِيُبَيِّنَ،، نه مراد دادي چه ستاسو د مصلحت لپاره احكامات بيانوى او د ﴿وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ﴾ نه مراد قصص دانبياؤ او دهغوئ دأمتونو دى چه د انبياؤ داطاعت كوونكو انجام څه وو. او دهغوئ دنافرمانو انجام څه وو او په قرآن كښي چه اوامر او نواهي ذكر كيږى نو مقصود ترينه احكامات دى او چه قصص او امثال ذكر كيږى نو مقصود ترينه عبرت حاصلول دى او ددي دواړو مشترك مقصود دادي چه ﴿وَيَتُوبَ عَلَيۡكُمۡۗ﴾ چه الله تعالى په تاسو باندي توجه د رحمت كوى او الله تعالى عليم دي نو د بندګانو په مصلحت باندي پوهيږى او حكيم دي نو بغير دوجوب نه ددوئ رعايت كوى ﴿وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ﴾ يعني الله تعالى غواړى چه تاسو ته خپل رحمت متوجه كړى او دا په طاعت اوامتثال داحكامو سره كيدي شى. نولهذا تاسو په احكامو باندي عمل اوكړئ چه رحمت درته متوجه شى ﴿وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ﴾ يعني فاسقان يهود اونصارى وغيره كفار دا غواړى چه تاسو دحق نه واړوى او اطاعت ترك كړئ نو د رحمت نه به محرومه شئ.

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ﴾ يعني الله تعالى په تاسو باندي د آسانتيا اراده كوى نو ددي وجه نه ئي اجازت اوكړو دنكاح دوينځو سره او دارنګي په مهر كښي دطرفينو رضامندى ئي مدنظر كړه او دارنګي ئي اجازت وركړو چه څلورو پوري ښځي په نكاح كولي شئ په شرط دعدل اوانصاف سره ﴿وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا﴾ دا ترغيب دي اتباع داحكامو ته يعني انسان دفطرت اوخلقت په اعتبار سره كمزوري دي. نو الله تعالى احكام د ده د طاقت مناسب مقرر كړى دى او يا دا علت دماقبل دي يعني انسان ضعيف دي دخلقت په اعتبار سره يا د وجه دكثرت داسبابو دشهوت اولذت نه كمزور دي په معامله دنساؤ كښي چه هغوئ نه صبر نشي كولي ,,وفى الخبر،، ((لاخير في النساء ولاصبر عنهن يغلبن كريما ويغلبهنّ لئيم فاحب ان اكون كريما مغلوبا ولا احب ان اكون لئيما غالبا)) ، **روح المعانى** ، ((قال طاؤس ليس يكون الانسان فى شيئ اضعف منه فى امرالنساء ، قرطبى) ((قال ابن مسيب لقد اتى عليَّ ثمانون سنة وذهبت احدى عينى وانا

اعشو بالاخرى وصاحبي اعمى واصم (يعنى ذكره) وانى اخاف من فتنة النساء. ونحوه من عبادة بن صامت رضى الله عنه قال عباده رضى الله عنه الاتروني لا اقوم الاّ رفدًا ولا أكل الامالُوق لى (يعنى لَين وسُخِن) وقدمات صاحبى منذ زمان (قال يحى يعنى ذكره) ومايسرني انى خلوت بامرأة لاتحل لى وان لى ماتطلع عليه الشمس مخافة ان يانتينى الشيطان فيحركه عليَّ انه لاسمع له ولابصر)) ,قرطبى.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ

اې[1] ايمان والو مه خورئ مالونه ديوبل په مينځ ستاسو كښې په ناحقه سره مگر كه وى دامعامله تجارت په رضا

مِّنْكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۚ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ۝ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

ستاسو. اومه قتلوئ خپل نفسونه. بېشكه الله په تاسوباندې مهربان دې اوچاچه اوكړوداكاريعني خلاف كول د حكمونو

عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

زياتي كونكي اوظلم كونكي نو زردې چه داخل به كړو مونږ هغه لره اور ته. اودې داكار الله ته آسان

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ دا يوولسم حكم دې داحكام درعيت نه. يعني ديو بل مالونه په حرامه طريقه سره مه خورئ دا حرام خوړل دقتل سره برابر دى. ددې نه مخكښې دحرام خوړلو مخصوص دريو طريقونه ممانعت ذكر شو (۱) ديتمانو مالونه په ناحقه خوړل (۲) دښځو مهر بغير درضا اودمعافي نه خوړل (۳) او دميراث نه د وارثانو حق خوړل. دلته دحرامو خوړلو نه عام ممانعت ذكر كيږى اودباطل نه تمام ناجائز طريقې مراد دى. مثلا سرقه .غصب . رشوت . بيع باطل .بيع فاسد . اوربا وغيره مراددى او دا ټول پدې كښې داخل دى.

﴿إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً ﴾ دا استثناء منقطع ده ځكه تجارت شرعيه ندې داخل په بيع باطل كښې اواسم د ((تكون)) دپاره ضمير دې چه راجع دې اموال ته ((اى تكون الاموال ذوات تجارة)) اويا راجع دې تجارت ته او((تجرة)) خبر د ((تكون)) دې او﴿عَن تَرَاضٍ ﴾ ورلره صفت دې په اعتبار دمتعلق سره ((اى تجارة صادرة عن تراض)) اود ((تراض)) نه مراد دعاقدينو رضا ده په

1 يولسم حكم . دمال د يتيم اوميراث اومهر نه علاوه حرام مه خورئ. حرام خوړل دقتل سره برابر دى

وخت دايجاب اوقبول كنبي اوبيع دمُكْرِه موقوفه ده. بيع نافذه نده نو د دي وجه نه ترينه احتراز اوشو . اوحلال اشياء بغير دتجارت نه نور هم ډير دی خوپيدې آيت كنبي دتجارت تخصيص بالذكر اوشو اومقصود دلته دناجائزه طريقونه منع كول او د جائز طريقو اجازت وركول دی. نوتخصيص دتجارت ددې وجه نه اوشو چه دا ډير عام دې اوبركت والادې ((واخرج سعيد بن منصور عن نعيم بن عبدالرحمن الازدي قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تسعة اعشار الرزق في التجارة والعشرة في المواشي)) (روح المعانى) په لسو حصوكنبي نه ۹ حصې رزق اوبركت (يعني نوې فيصده رزق اوبركت) په تجارت كنبي دې اولسمه حصه (لسم فيصد) په مواشي يعني په حيواناتو كنبى دې اوددې نه علاوه نور روايا ت په كثرت سره وارد دی. اوداهم كيدې شی چه مراد دتجارت نه منتقل كيدل دمال شی دغير نه په طريقه شرعی سره برابره خبره ده كه تجارت وی اوكه هبه وی اوكه دارث په ذريعې سره وی اويا نورې جائز طريقې وی نو دا ذكرالخاص او مراد ترينه عام دې (روح المعانى)

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ﴾ ددينه ياظاهری معنى مرادده چه ځانونه مه قتلوئ اوخودكشی حرامه ده نو په اتفاق دمفسرينو سره پدې كنبي خودكشی داخله ده اوددې معنې تائيد دابو داؤد دحديث نه معلومېږی چه حضرت عمرو بن عاص رضى الله عنه دجهاد دسفر په دوران كنبي په سخته يخنئ كنبي دغسل جنابت په ځائ تيمم اوكړلو او امامت ئې اوكړلو كله چه واپس شو نو ملګرو ئی ددې خبر ې شكايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اوكړلو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغه نه ددې په باره كنبي پوښتنه وكړه نودوئې جواب وركړو چه ((سمعت الله تعالى يقول ولا تقتلوا انفسكم)) نونبى صلى الله عليه وسلم تبسم اوفرمائيلو. او يا مراد دادې چه يوبل مه قتلوئ نو په ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ﴾ كنبي دمالی حقوقو دحفاظت حكم وو اوپدې كنبي دجانی حقوقو د حفاظت حكم دې او په مالی حقوقو كنبي ظلم اوكوتاهي او غفلت چونكه ډير دې نوددې وجه نه هغه مقدم شو. يا ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ﴾ دماقبل تتمه ده چه ديو بل مالونه په ناحقه سره مه خورئ ځكه چه دا دقتل سره برابر دې اويا سبب دقتل اوقتال دې

﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ﴾ دا تخويف دې اواشاره ده تير شوی منهياتو ته او دفعل نه مراد ارتكاب ددغه منهياتو دې ﴿عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا﴾ منصوب بنا بر حاليت دې او يا مفعول له دی او

دا دواړه په یوه معنی سره دی بعضې وائی چه پدې کښې فرق شته اوهغه دا چه ((عدوان)) په بل چا زیاتی کولوته وائی لکه مال دیتیمانو یا د بل چامال خوړل په ناحقه سره او ((ظلم)) گناه کول دی په خان خپل باندې لکه په باطلې طریقې سره مال حاصلول. یا دمحرماتو سره نکاح کول اوپدې دواړو قیدونو سره خارج شو هغه چه سهواً خطأ وی یا په طریقه دخطا فی الاجتهاد سره وی ﴿فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا﴾ ((صلا)) داخلول دتعذیب او په أور کښې سوزولو دپاره ویلې کیږی

إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ

کچرې تاسوخان ساتئ دهغه غټوگناهونونه چه تاسومنع کړې شوی یئ دهغې نه نولرې به کړو مونږ ستاسونه

سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

واړه گناهونه ستاسواوداخل به کړو کړوتاسوخائې د داخلیدودعزت مند ته ،عزت مند خائې د داخلیدلوته

﴿إِن تَجْتَنِبُوا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ﴾ مخکښې آیت کښې تخویف اووعید وو په ارتکاب دمنهیاتو کښې اوپدې آیت کښې بشارت دې په اجتناب دمنهیاتو سره اووددې حاصل دادې چه خوک خان او ساتی دکبائرونه نو الله تعالی دحسناتو په وجه (لکه اودس وغیره نیک اعمال شو په شرط دقبولیت سره) دصغائرو گناهونو به معافی اوکړی. **دلته یوخو خبرې قابل تحقیق دی** (۱) چه په نزد دبعضو دگناه دپاره او دالله تعالی دمعصیت دپاره اقسام او قسمونه نشته بلکه گناه ټوله یوقسم دې یعنی صرف کبیره دې اودا قول داستاد ابواسحاق اسفرائینی اوقشیری او دقاضی ابوبکر باقلانی دې. دوئ وائی چه گناهونه ټول کبیره دی خو بعضو ته صغیره په نسبت دبلې گناه سره ویلې کیږی چه هغه ډیر لوئ وی لیکن جمهور علماء وائی چه گناه په دوه قسمه ده یو صغیره دې اوبل کبیره دې لکه ددې آیت دظاهر نه معلومیږی اودسورة نجم دآیت نه هم معلومیږی ﴿يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَٰحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ﴾ او دارنگې د ډیرو روایاتو نه هم معلومیږی

(۲) **دویمه خبره** فرق په مابین دگناه صغیره اوکبیره کښې نوبعضو فرق په تعریف سره کړې دې اوبعضو فرق په تعداد سره کړې دې هر چه دې فر ق دتعریف په اعتبار سره نوپدې کښې ډیر اقوال دی (۱)کبیره گناه هغه دې چه وعیدشدید پرې شوی وی په نص دکتاب

او سنت کښي اوصغيره داسي نه وي (۲)، کبيره هغه دي چه دهغي په کولو سره حد نښيږی اوصغيره ددي په عکس دي (۳) کبيره هغه دي چه نص دکتاب الله وارد وی په تحريم دهغي يا واجب وی په جنس دهغي باندي حد (۴) دحرام لعينه ارتکاب کبيره دي

اوددينه علاوه نور هم اقوال شته دي اوامام رازی رحمه الله وائ چه اکثر اهل علمو ويلی دی چه الله تعالی دټولو کبائر و تعين اوتميز ندي کړي په شان دليلة القدر او په شان دساعت دقبوليت په جمعه کښي اوحکمت په کښي دادي که تعين اوشی نوبيابه دانسان جرأت پيداشی اوصغيره گناه خفيف گڼړل هم کبيره دی. اوهر چه دي فرق په اعتبار دعدد سره نوپه دي کښي هم مختلف روايات راغلی دی په يو روايت کښي اووه (۷) دی لکه ارشاد دي ((اجتنبواسبع الموبقات الشرک بالله والسحر وقتل النفس التي حرم الله تعالي الأبالحق واکل مال اليتيم واکل الربوا ، والتولي يوم الزحف. وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات)) (**متفق عليه**) او د حضرت علی رضی الله عنه نه هم اووه (۷) مروی دی او د ابن عمر رضی الله عنه نه . نه (۹) مروی دی.اود ابن مسعود رضی الله عنه نه په يوروايت کښي دري مروی دی او په بل روايت کښي لس دی. او په يوروايت دصحيحينو کښي څلور دی ((الاشراکُ بالله. سحر. عقوق الوالدين. قتل النفس)) او په يوروايت دبخاری شريف کښي ورسره ديمين غموس ذکر دي او په يو روايت دصحيح مسلم شريف کښي ورسره دقول الزور ذکر دي

دريمه خبره داده چه په نزد داهل سنت والجماعت گناه کبيره ((سوی دکفر اوشرک نه)) معافی بغير دتوبه نه هم ممکنه ده لقوله تعالی ﴿وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ ځکه چه دا عام دي که په توبي سره وی اوکه بغير د توبي نه وی او په نزد دمعتزلو باندي بغير دتوبي نه معافی نشی کيدي اودارنگي په نزد ددوئ باندي دگناه صغيره دمعاف کيدلودپاره دا شرط دي چه اجتناب به کوی دکبائرونه نوکه څوك اجتناب نه کوی دَ کبائرونه نودغه صغائر گناهونه په حسنات کولوسره نشی معاف کيدي او په نزد داهل سنت والجماعت باندي گناه صغيره په توبي هم معاف کيدي شی او په حسنات کولو سره هم معاف کيدي شی اودگناه کبيره معافی په توبه سره کيږی. ياکه الله تعالی اوغواړی نوهم معافی ممکنه ده او په حسنات کولو سره گناه کبيره نه معاف کيږی. البته تخفيف په کښي راتلي شی اوصغائر په حسنات سره معاف کيږی لکه په حديث کښي راغلی دی چه په اودس کولوسره گناه معاف کيږی او په مضمضه کولوسره د ژبي گناه معاف کيږی او په استنشاق کولو سره دپوزي گناه

معاف کیږی او په مخ وینځلوسره دسترګو ګناه معاف کیږی او په لاسونو وینځلوسره دلاسونوګناه معاف کیږی او په مسح کولو سره دغوګونو او دسر ګناه معاف کیږی اودخپووینځلو سره دخپوګناه معاف کیږی اود اودس په آخر کښې ((حتی یخرج نقیامن الذنوب)) یعني ټول صغائر ګناهونه ئې معاف شي. اودارنګې دمونځ دپاره په راتلوسره په هر قدم باندې ګناه صغیره معاف کیږی

خلورمه خبره پدې آیت کښې ﴿ إِن تَجْتَنِبُوا ﴾ مذکور دې نوپدې سره معتزله استدلال کوی چه صغیره ګناه معاف کیدلودپاره اجتناب دکبائرونه شرط دې لیکن. اهل سنت والجماعت ددې استدلال نه جوابونه کوی (۱) دا مذکورشرط نحوی دې شرط شرعی یعني خارج موقوف علیه ندې او په انتفا دشرط نحوی سره د حکم انتفا ضروری نده لکه ﴿ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ ﴾ نوګواهی دزنانو جائز ده اګرکه دوه نارینه موجودوی یالکه ﴿ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ﴾ نوکه څوک مسافرنه وی اوکاتب هم موجود وی نوبیاهم رهن جائزدې اودارنګې په سورة نساء کښې دی ﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي ٱلْيَتَٰمَىٰ ﴾ نوکه دا خوف نه وې نوبیاهم نکاح د ﴿ مَا طَابَ لَكُم ﴾ سره جائز دې اودارنګې ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ ﴾ نوکه خوف نه وی نوبیا هم قصر په سفر کښې جائز دې

(۲) دکبائرونه مرادکفر اوشرک دې اوجمعیت په اعتباردانواعواواقسامو سره دې نومطلب ددې آیت دادې چه کله تاسو دکفر اوشرک دټولواقسامونه ځان بچ کوئ نوکبیره اوصغیره ګناهونه به الله تعالی په خپل فضل اوکرم سره درته معاف کړی کما قال تعالی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾

۳. بعضی مفسرینو ویلی دی چه دلته اجتناب ذکر دې ترک نه دې ذکر او اجتناب دېته وائی چه څوک قادر شی په ګناه کولو باندې اوبیائې محض دالله تعالی دخوف دوجه ترک کړی لکه چه په حدیث الغار کښې مذکور دی چه هغه یوسړې په زناکولو باندې قادرشوخوصرف دالله دیرې نه ئې پرېخودله اوداسې پرېخودل دګناه. عمل صالح اوحسنه ده نوبدې سره تکفیر دسیئات رازی. دا تفسیر دعامو مفسرینو دې اوحضرت مولاناشبیر احمد عثمانی رحمه الله ددې آیت تفسیر په یو بل طرزسره کړې دې چه دهغې خلاصه داده معتزله

اوددئ نور ملګری په سرسری طريقې سره ددې آيت په مضمون داسې پوهيدلی دی که دکبيرو ګناهونو نه څو ک ځان اوساتی اوپوګناه کبيره هم اونه کړی نوبيا يوازی صغيره ګناه هرڅومره چه کوې نو هغه به ضرور بالضرور بښلي کيږی اوکه صغائرو سره هم (کيف ما اتفق) يوه يا دوه کبيره شامل شی نوبيائې معافی ممکنه نده بلکه ضرور بالضرور به دټولوسزاورکولي کيږی. اهل سنت والجماعت وائی چه پدې دواړو صورتونوکښې الله تعالی ته دمعافئ او دمؤاخذې اختيار دې نو په اول صورت کښې دمعافۍ لزوم او په دويم صورت کښې دمؤاخذې وجوب. دا د معتزلو بد فهمی اوناپوهی ده اوددې آيت دظاهری الفاظونه چه دمعتزلو مذهب راجح په نظر راځی(نوددې جواب چه عامو مفسرينو کړې دې هغه تير شو، ددې نه روستو مولانا رحمه الله وائی چه اصل داده چه ددې آيت عمده توجيه اواصلی مطلب معلوم شی نو دمعتزلو خرافاتو ته به هيڅ ځاې پاتې نشی او اهل حق ته به دهغوئ دترديد هيڅ ضرورت پاتې نه شی نو په غور سره واورئ دا خو ښکاره خبره ده چه ﴿إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ﴾ ارشاد دې چه دلته مذکور دې. او ﴿ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَ﴾ سورة نجم. آيت ۳۲. پاره ۲۷ کښې موجود دې د دواړو مطلب يو دې. په لفظونو کښې لږ شان فرق دې نوکوم مطلب چه دهغې آيت دې نوهغه به هم ددې آيت وی اودسورة نجم دآيت په باره کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه ارشاد دې چه هغه په بخاری شريف وغيره کتابونوکښې داسې دې: ((عن ابن عباس رضی الله عنه قال مارأيت شيئا اشبه بااللمم مما قال ابوهريرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله عليه وسلم ان الله کتب علی ابن آدم حظه من الزنا ادرک ذالک لامحالة فزنی العين النظر وزنی اللسان النطق والنفس تمنی وتشتهي والفرج يصدق ذالک ويکذبه)) حبر الامة. لسان القرآ ن حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ((لمم)) اوعلی هذ القياس دسيئاتو تشريح اومعنی هغې نه زياته خه نه شی کيدې کوم چه دحضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه مروی ده پدې حديث کښې او دا حديث دابوهريرة رضی الله عنه بهترين تشريح اوتحقيق د ((لمم)) دې چه خلاصه ئې داده چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی الله تعالی چه دبنی آدم په ذمه باندې د زناکومه برخه مقرر فرمائيلې ده نو هغه خامخاورته رسيدونکې وی نود زنا په فعل کښې دسترګو برخه ليدل دی اودژبې برخه د هغه خبرې ويئيل دی چه ذريعه دفعل د زنا وی او د نفس حصه داده چه د زنا تمنی اوغوښتنه کوی

مکر د زنا واقع کیدل اونه واقع کیدل دفرجینو په عمل باندې مؤقوف دی نو که دفرجینو په واقع شوه نو دستر کو . ربې. نفس تولو په زناکښې واقع کیدل محقق شو اوکه دټولو اسبابو ذرائع بوجود دفرجینو فعل متحقق نه شی بلکه د زنا نه توبه او اجتناب نی نصیب شی نو اوس د زنا هغه ټول وسائل او ذرائع دمغفرت لائق شو ل یعني کله چه د فرجینو زناکول منع شو نوګویاکه ددوئ ماهیت منقلب شو نو دګناه نه خاي عبادت اوګرځیدل مثلاً یو سړی دغلا په نیت سره د مسجد پوزي اورسیدلو مکر په عین موقع ئي توبه اوکړله اوټوله سبه ئی په عبادت کښې تیره کړه نوښکاره خبره ده چه دهغه تلل دغلا ذریعه وو لیکن اوس دعبادت ذریعه شوه. نوابن عباس رضی الله عنه دحدیث د ابوهریرة رضی الله عنه نه دامعلومه کړه چه ((لمم)) په اصل کښې هغه خبرې دی چه لوئ ګناه نه ده مګر دګناه دسبب کیدلو په وجه ګناه ګرځی نو چه څوک داصل ګناه نه اجتناب اوتوبه اوکړی نو ددغه ګناه ذرائع ورته معاف کیږی لکه ﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ۝٤٠ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ۝٤١﴾ او دا مطلب ندې چه دیو ګناه کبیره دسلسلې صغائر به بلې کبیره سره تعلق وی مثلاً دزنا د سلسلې صغائر به دشرابو په ترک سره معاف کیږی (**انتهی مختصرا**)

﴿نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ﴾ تکفیر دکفر نه ماخوذ دې پټولو ته وائی او مراد ترینه معافی ده اود سیئات نه مراد صغائر دی.

﴿وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا﴾ ((مُدخلاً)) مصدر میمی هم کیدې شی اومفعول د ((ندخلکم)) دپاره مقدر دې ((ای ندخللکم الجنة دخولا کریماای حسنا)) اوظرف مکان هم کیدې شی مراد ترینه جنت دې او ((کریما)) ورلره صفت دې په معنی د((حسنا)) سره

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ

ترجمه: مه کوئ دهغه څیز چه غوره والې ورکړې دې الله په هغې سره بعضی ستاسونه په بعضو باندې

لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ وَ لِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ وَسْئَلُوا

دپاره دسړیو برخه ده دهغه عملونو چه دوئ کړیدی، اودښځو دپاره برخه ده دهغه عملونو نه چه دوئ کړیدی. اوسوال کوئ

١ دولسم حکم یعنی د کومو وارثانو حصې زیاتې دی د هغوئ حصې پوره ورکوئ او دخپل حق نه دزیات خواهش مه کوئ

اللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ۝

دالله نه دهغه دفضل بېشكه الله په هرڅيز باندې عالم دی

﴿وَلَا تَتَمَنَّوۡاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ﴾ **دا دولسم حكم دي** چه دوارثانو څومره حصه مقرر ده نودهغې نه زياتی تمنا هم مه کوئ. مخکښې په شپږم نمبر حکم کښې فرمائيلی وو چه په ميراث کښې څومره حصه چه د چامقرر ده نودهغې نه دې زياتې نه کوی او په حکم نمبر (۱۱) کښې اوفرمائيل چه ديو بل مالونه په حرامه طريقې سره مه اخلئ نودلنه على سبيل الترقي اوفرمائيل چه دبل چا دحصې اودمال تمنی هم مه کوئ ام سلمه رضي الله عنها يوواري نبی صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړلو چه نارينه جهاد له ځی اوزنانه نشی تلې او په ميراث کښې هم زنانو ته دناريبه په نيمه باندې حصه ميلاويږی دَدينه مقصد اعتراض نه وو بلکه تمنی وه چه زنانوته هم دنارينو په شان فضيلت حاصل وې نوپدې ايت کښې منع اوشوه چه په داسې فضيلتونوکښې چه نه کسبی وی اونه اختياری وی نوڅوک دې دهغې تمنی نه کوی مثلا زنانه وائ کاش که زه نارينه وې. اوياعجمی وائ کاش که زه عربی وی وغير ذالک بلکه تمنی اوسوال دداسې فضيلتونو پکار دې چه هغه اختياری وی مثلاداسې سوال دې کوی چه ياالله مامتقی اوصالح اوګرځوې اوداسې سوال دې څوک نه کوی چه خدايا ما صحابی اوګرزوه

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ﴾ ابن کثير په روايت دابن ابی حاتم دابن عباس رضی الله عنه نقل کړی دی چه يوه زنانه راغله اونبی صلی الله عليه وسلم ته ئې عرض اوکړلو چه زنانوته دميراث نيمه برخه ملاويږی او دارنګه شهادت دښځو په نصف د شهادت دسړو دې نو آيا د حسناتوثواب به ورته هم په نيمه ورکولې شی؟ نوپدې آيت کښې جواب ذکر شو لکه چه څنګه نارينوته پوره ثواب دکسب د اعمالو ددوئ ملاويږی نودغه شان به زنانوته هم پوره حصه دثواب ملاويږی چه دوئ کسب کړېدې

﴿وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ﴾ يعنې د وهبی ا وغير اختياری فضيلتونوتمنی دې څوک نه کوی او دکسبی فضيلتونو تمنی خو بهتره ده ليکن د هغې د حصول طريقه دا نه ده چه صرف تمنی ئی وکړې شی بلکه دهغې د حصول طريقه داده چه د الله تعالی نه دهغې سوال وکړئ. قرطبی وائی چه دا دليل دې په دې چه د الله تعالی نه سوال کول واجب دی

«وعن ابن مسعود رضی الله عنه مرفوعا سلوالله تعالى من فضله فانه يحب ان يسئل وافضل

العبادة انتظار الفرج)) يعني سوال كوئ دالله تعالى نه دهغه دفضل ځكه چه الله تعالى په سوال كولو باندي خوشاليږى اوبهترين عبادت انتظار د فراخئ دي. او په بل روايت دحضرت ابرهريرة رضى الله عنه نه مرفوعا نقل دي چه څوک دالله تعالى نه سوال نه كوى نوالله تعالى هغه ته په غصه كيږى او په يو روايت كښ دى چه څوك اووه (۷) واري د جهنم نه پناه وغواړى نو جهنم د ده نه پناه غواړى په الله تعالى سره اوڅوك چه اووه (۷) واري د جنت سوال وكړى نو جنت هم دالله تعالى نه سوال وكړى چه دا انسان ماته راوله

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ

اودهرچادپاره مقرر كړيدى موږ وارثان دهغه مال نه چه پريخودلي وى مورواوپلار اوخپلوانو. اوهغه كسان

عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ۝

چه كلك شوى دى قسمونه ستاسو دهغوى سره نوور كوئ هغوى ته برخه دهغوى. بيشكه الله په هرڅيز باندي حاضر ناظر دى

﴿ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ ﴾ دا د دولسم حكم سره متعلق دي يعني دخپلي حصي نه دزياتي تمنى ځكه مه كوئ چه دالله تعالى دهر چا دپاره وارثان ګرځولى دى اودهغوئي حصي ئي مقرر كړى دى ﴿مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ ﴾ ((اى يرثون مماترك —— الخ)) بعضي مفسرين وائي چه ددي اوله حصه ناسخه ده اودويمه حصه يعني ﴿وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ ﴾ منسوخه ده. ځكه د((عقدت ايمانكم)) يعني چه غوټه شوى دى اوكلك شوى دى قسمونه ستاسو په دوستئ ددوئ، ددينه مراد حلف دي چه په جاهليت كښي دا قانون وو چه يو سړى به دبل سړى سره حلف اووعده اوكړله چه خماوينه ستاوينه خما جنګ ستاجنګ خما صلحه ستا صلحه ده. نه به خماوارث ئي اوزه به ستا وارث يم او ته به خما ديت وركوي اوزه به ستا. نوديته به حلف ونيلي كيدلو نو په ميراث كښي به ديوحليف دبل حليف دپاره سدس حصه وه او دا به ابتدا، داسلام كښي هم وه نوبه ﴿وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ ﴾ سره ددي قسم ميراث ذكر دي اودآيت اولي حصى دا حكم منسوخ كړلو اودارنګي دامنسوخ دي په سورة انفال آيت نمبر (۷۵) سره يعني ﴿ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ ﴾ اودا قول دابن عباس رضى الله عنه اودحسن بصرى رحمه الله وغيره نه منقول دي اودحضرت ابن عباس رضى الله عنه نه بوقول

داسي مروى دي چه پدي آيت كښې منسوخ نشته اودي وائي چه هركله مهاجرين مدينې ته راغلل نونبى صلى الله عليه وسلم ددوئي دانصاروسره مواخات قائم كړلو نوميرات به ئي په مواخات سره ملاويدلو نو دغه حكم په حديث سره ثابت وو نو منسوخ شو ددي آيت په اولې حصې سره اودحصه ثانيه نه مراد يعنى ((والذين عقدت ايمانكم فاتوهم نصيبهم)) نه مراد نصرت اوتعاون دي اوميراث ترينه ندي مراد چه منسوخ شي

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

نارينه [1] حاكمان دى په ښځوباندې په سبب د دې چه غوره والې وركړې دې الله بعضوددوئ ته په بعضوباندې

وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ

اوپه سبب ددې چه دوئ خرچ كوى دمالونوخپلونه (په ښځو باندې) پس نېكې زنانهٔ هغه دى

قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ

چه تابعدارى كونكې وى دخاوندانو. حفاظت كونكې وى دخپل ځان اومال په وخت د غائب كېدلو دخاوندانو كښې

بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ

په سبب دحفاظت او توفيق دالله سره، اوهغه زنانه چه يريږئ تاسو دبدخوئى دهغوئ نه نو وعظ اوكړئ دوئ ته

وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا

اوجدا شئ ددوئ نه په ځانې دخملاستو كښې او اوهئ دوئ لره، نوكه خبره اومنله ستاسو نومه لټوئ

عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ۝۳۴

په دوئ باندې لار (دظلم) بېشكه الله دې اوچت صفاتووالا لوئې ذات والا

﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ دا ديارلسم حكم دې خلاصه ئي داده چه بيشكه زنانه به استحقاق دميراث كښې دنارينوسره شريک دى ليكن دې باوجود زنانه دنارينو محكومې

[1] ديارلسم حكم يعنى وراثت كښې بېشک زنانهٔ دنارينوٓ سره شريک دى ليكن نارينه حاكمان او غوره دى د دوه (۲) وجو نه

دی او نارینه حاکم دي اوددي لپاره دوه ۲ سببونه بیانیږی (۱) ((قوام)) اودارنګي ((قوام))
او نمه. هغه چا ته ویلې کیږی چه دکار ذمه دار اوچلوونکی وی اوداخبره عقلا اوعرفا
ضروری ده چه دیو اجتماعی کار اونظام دپاره یومشر ضروری وی خکه که مشر نه وی نو بیا
نظم خراب وی اوکه ټول مشران شی نو بیا هم نظام خرابیږی نو الله تعالی دتدبیرالمنزل
دامورو دپا ره سړي منتخب کړي دي لیکن حکم ئی ورته اوکړلو چه دشرعیت دقانون
اودمشورې په پابندی وی اومحض آمریت به نه چلوی کقوله تعالی ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾
نساء . آیت ۱۹ ﴿عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ﴾ بقرة . آیت ۲۳۳

﴿بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ﴾ دابیان داول علت دي یعنې سړي خکه حاکم دې چه الله تعالی نارینه
ته وهبی فطرت اوفضیلت ورکړي دي په ښځو باندې نوخکه الله تعالی نارینه خاص کړی دی
په رسالت .نبوة . امامت کبری اوصغری سره . او په اقامت دشعائر وسره لکه اذان . اقامت.
خطبه . وغیره شو . اوددې آیت نه اهل علمو استدلال کړي دي چه ښځه حاکمه نشی جوړیدې
اودارنګې حدیث دبخاری شریف ((لن یفلح قوم ولو امرهم امرأة)) پدې صریح دلالت کوی
اودلته په دې آیت کښې ابهام اوشولو یعنې ((بعضهم علی بعض)) اوداسې اونه ویلې شو ((فضلهم
علیهن)) نو په دې کښې (۱) اشاره ده غایت ظهور ته یعنې دیته اشاره مقصود ده چه فضیلت د
سړی په ښځه باندې دا ډیر واضحه خبره ده اوددې تصریح ته ضرورت نشته. (۲) اودارنګې
پدې کښې اشاره ده دیته چه فضیلت په اعتبار دجنس سره دې اوهر چه دې د افرادو په اعتبار
سره نوکیدې شی چه بعضې افراد دښځو دتقوی اونسبت درسول د وجه نه بهتر وی د ډیرو
افرادو د رجالونه (۳) دارنګې پدې ابهام کښې دیته اشاره ده چه فضیلت دسړو په ښځو
باندې پدې سره دښځې درجه کښې څه نقصان نه راځی خکه پدې آیت کښې ئی زنانه دسړو
ابعاض ګرځولی دی نوددې مثال داسې دې لکه چه سر په بدن کښې غوره دې دلاس نه. دّ دې
غوره والی په وجه دّ لاس په خپل مقام او درجه کښې څه نقصان او کمې نه راځی نودغه شان د
نارینو دفضیلت په وجه سره د ښځو په خپل مقام اودرجه کښې هم څه فرق نه راځی

﴿وَبِمَا أَنفَقُوا﴾ دادویم علت دي. پدې کښې دکسبی فضیلت بیان دي یعنې دښځې
اودخاوند په اجتماعی زندګی کښې دټولوضروریاتو بوج دسړی په سر باندې دي نه دښځې
په ذمه باندې. مثلا دخوراک. څکاک اولباس اوسکنی ذمه دار خاوند دي او دارنګې مهر

خاوند ورکوی ښځې ته او د عقل تقاضاهم داده چه څوک خرچ کوی نو هغه دې حاکم وی نو ددې وجې نه مفسرینو لیکلی دی چه کله خاوند دخرچه نه عاجز شی نو بیا حاکمیت دده ختمیږی نو په داسې وخت کښې په نزد دامام مالک رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله قاضی فسخ دنکاح کولې شی او په نزد دامام ابوحنیفة رحمه الله قاضی ته حق دفسخې دنکاح نشته بلکه مهلت به ورکولې کیږی تر حالت دیسر پورې.

﴿فَالصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ﴾ دا تفریع ده په ماقبل او دخاوند دحال ذکر کولونه روستو دښځو ددووقسمونوبیان دې چه یوصالحات اوبل قسم ناشزات دی ((فالصالحات)) مبتداء ده او ((قانتات)) ورلره خبر دې یعنې صالحة ښځه هغه ده چه دخاوند تابعداره وی په مباحو کارونو کښې. په حدیث پاک کښې دی چه کومه ښځه دمونځ، روژې او دخاوند تابعداره وی نو دجنت تمامې دروازې ورته کولاؤ وی. نو په کومه دروازه چه ئې خوښه وی نو داخله دې شی جنت ته. کماقال صلی الله علیه وسلم ((المرءة اذاصلت خمسها وصامت شهرها واطاعت بعلها فلتدخل من اي ابواب الجنة شآءت))

﴿حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ﴾ یعنې دصالحې ښځې بله علامه داده چه دا به دخپلې حیا او د پردې حفاظت کوی او دخاوند دمال او د اولاد به حفاظت کوی په وخت دغائب کیدلو دخاوند کښې. نولام وقتیه دې اومراد دادې لکه چه څرنګه په وخت دموجودګئ دخاوند کښې چه کله غیرت منده وی، دخپلې حیا او د پردې خیال کوی نودغه شان که حاضر نه وې نو بیا دې هم دخپلې حیا اوپردې خیال ساتی. وفی الحدیث ((خيرالنسآء امرأة اذا نظرت اليها سرتك واذا امرتها اطاعتك واذا غبت عنها حفظتك في مالها ونفسها)) یعنې بهترینه ښځه هغه ده چه کله ته ورته اوګورې نوته خوشحاله شی اوکله چه حکم اوکړې نواطاعت دې کوی اوکله چه ته حاضر نه ئې نودخپل ځان اودمال حفاظت کوی.

﴿بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ﴾ جار اومجرور د ((حافظات)) سره متعلق دې او (ما) مصدریه دې او (با) سببیه ده ((ای بسبب حفظ الله وتوفیقه)) اویا (ما)موصوله دې اوعائد محذوف دې ((ای بالذی حفظ الله لهن من مهور ازواجهن والنفقة عليهن))

﴿وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ﴾ دا ددویم قسم ښځو بیان دې چه ناشزات دی. دلته ئې

((والناشزات)) اونه ویل په صیغه داسم فاعل سره اوحالانکه په بیان دقسم اول کښي ((فالصالحات)) په صیغه داسم فاعل سره ذکر شو. ځکه دمسلمانانو ښځو کښې غالب حال دصالحات وی اوهرچه دې نشوز نو داکله کله وی اود ((تخافون)) نه مراد علم ظنی دې او نشوز بداخلاقی او دخاوند نافرمانی ته وائی او دلغت په اعتباره سره معنې ئی پورته کیدل دی لکه ﴿وَإِذَا قِيلَ انشُزُوا فَانشُزُوا﴾ اودخمکې اوچتې حصې ته هم ناشزه ویلې شی او دنشوز صفت دخاوند هم رازی لکه ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا﴾ دامام شافعی رحمه الله نه نقل دی چه علامې دنشوز دپاره دوه دی یوقولی او بل فعلی. قولی دادې چه کله دښځې عادت اول دا وو چه کله به خاوند آواز کوو نوښځې به لبیک سره جوا ب ورکوو او چه خبرې به ئی ورسره کولې نو عاجزئ سره به ئی کولې، لیکن ناساپه دا حالت بدل شو. اوفعلی دادې چه کله به خاوند کورته داخل شو نودابه ورته پاڅیدله او چه څه کار اوحکم به ئی ورته کولونو په خوشالئ سره به ئې هغه کار کولو لیکن دا حالت ئې ناساپه بدل شو نو دا علامه دنشوز ده. نوپدې علاماتوسره علم ظنی په نشوز باندې حاصل شو

﴿فَعِظُوهُنَّ﴾ دا دښځو دتادیب دپاره اوله طریقه ده ، د وعظ نه مراد فضائل بیانول دی په اطاعت لکه مخکښې تیرشول. یالکه په حدیث دبخاری کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی که چرې ماچاته دسجدې کولو اجازت ورکولې غیرالله ته نومابه ښځو ته حکم کړې ووچه خپلو خاوندانو ته دې سجده وکړی. اودارنګې وعید بیانول په نافرمانئ دخاوند باندې لکه دیوبل روایت مفهوم دې چه کله خاوند ښځه خپلې بسترې ته را اوبلی اوهغه انکار اوکړی نوملائک به په دغه ښځې باندې ترصبا پورې لعنت وائ (بخاری شریف)

﴿وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ﴾ دادویمه طریقه دتادیب ده. مضاجع جمع دمضجع ده ځاې د ډډې یا بسترې ته وائی نوعلماء کرام وائی چه پدې کښې اشاره ده چه صرف بستره ترینه جداکړئ اوهم بسترې دې نه کوی. البته دخپل کورنه دې جدائی نه کوی ځکه پدغه صورت کښې زیات تکلیف رسیږی او دا جائز نه دی ځکه دفساد خطره ده او په حدیث کښې دی ((لاتهجرالا فی البيت)) یعنی جدائی ترینه صرف په کورکښې کوه

﴿وَاضْرِبُوهُنَّ﴾ دا دریمه طریقه دتادیب ده. دیته ضرب تادیبی ویلی شی اودضرب طریقه هم بیان شوبده په شرع کښې. دابن عباس رضی الله عنه نه منقول دی ((بالسواک ونحوه))

یعني دا وهل په مسواك اویا دهغې په مثل لرګی سره دی، او په بل روایت کښې دی چه دا وهل به داسې وی چه په هغې سره به هډوکې یایو اندام وغیره نه ماتیږی اونه به عیب جن کیږی. او په بل حدیث کښې دی ((ولاتضرب الوجه)) چه مخ به نه وهې. ابن عطیه رحمه الله وائي چه دا درې واړه طریقې په ترتیب سره دی. داسې دې نکوی چه ضرب مقدم کړی په نورو باندې . اولې دواړه طریقې د تادیب لپاره شریفانه، مهذّبې طریقې دی او د انبیاؤ . صلحاؤ نه منقول دی. او دریمه طریقه د مجبورئ په درجه کښې جائزه ده لیکن په خپلو حدودو کښې دننه جائزه ده

په روایت د ابوداود کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائل ((لاتضربوا اماءالله تعالی)) یعنی د لله تعالی وینځې ((زنانه)) مه وهئ. نوحضرت عمر رضی الله عنه راغې او وې فرمائل ((ذئرن النسآء علي ازواجهن)) یعنی ښځې په خاوندانوباندې زړه ورې شوې نو بیا نبی صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړلو دوهلو نو بیا ښځو شکایت وکړلو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دخپلو خاوندانونه نونبی صلی الله علیه وسلم ووفرمائیل ((لقد طاف بآل رسول الله نساء کثیرة یشکون ازواجهن لیس اولائک بخیارکم)) یعنې دکوموخاوندانونه چه ښځې شکایت کوی نو دا غوره خلق ندی، ابن کثیر په روایت دابن عباس رضی الله عنه سره نقل کړې دې که امر ثالث (ادب ثالث) سره بیاهم اطاعت نه کوی نو بیا حلاله ده چه فدیه ددوئې نه واخلی یعنې خلع دې وکړی، یا دې طلاق ورکړی اوددې ذکرپه قرآ ن کښې اونه شو ځکه طلاق (ابغض الحلال الی الله)) دی .

﴿ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ ﴾ که ښځه نشوز پریدی نوبیا ترینه هجران یاضرب جائز نه دې اود ﴿ عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ﴾ نه مراد لار دظلم ده یا ترینه مراد بهانې جوړول دی د ظلم کولو دپاره په دوئ باندې

﴿ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴾ دا په منزله دعلت دې د ماقبل لپاره یعنې حقیقة خو علو اوکبریاء دالله تعالی صفت دې نوهغه سره دد حقیقی علواوکبریاء . اوهغه په چا باندې ظلم نه کوی نوخاوندانو په ښځوباندې حقیقی علونشته دې بلکه صرف ظاهری حاکمیت دې نودوئ ولې ظلم کوی

وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا
اوکچرې ويريږئ تاسو يعني معلوم کړئ خلاف اوکشمکش په مينځ دښځې اوخاوند کښې نو مقرر کړئ

حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا
يو صلح کونکې دخپلوانو دسړی نه او صلح کونکې د خپلوانو ښځې نه. کچرې نيت لرې دا دواړه داصلاح

يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ۝
نو جوړښ به راولې الله په مينځ ددوئ کښې بيشکه الله دې پوهه خبردار

﴿ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا ﴾ **داخوارلسم حکم دې** داحکامو درعيت نه اوپدې حکم باندې دسورة په آخرکښې تنوير ذکرکيږی اوددې خلاصه داده که چرې دښځې اودخاوند په منځ کښې اختلافات طويل شی اودغه مذکورو طريقوسره اصلاح رانشی نوچونکې ددينه دخاندانونو دجګړې خطره وی نو داسې نده مناسب. چه هرخاندان دې دخپل فريق والا حمايت په هر حال کښې اوکړی بلکه دوئ دې دخاوند دخاندان دطرف نه يو حَکم مقرر کړی او يو حَکم (فيصله کونکې) دې دَ خزې دَ خاندان نه مقرر کړی، اودا حکمين دې داصلاح کوشش اوکړی.نو الله تعالی به ددوئ اصلاح راولی اوخطاب په((**وان خفتم**)) اوپه((**فابعثوا**))کښې اقاربو دزوجينو ته دې ياحکاموته راجع دې

﴿ حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ﴾ حَکَم دخاندان دسړی اوخاندان دښځې نه لکه چه کيدې شی نو دارنګې دغير خاندانونونه هم کيدې شی ليکن دخاندان تخصيص حکه شوی دې چه دوئ په حالاتوباندې خه واقف کيدې شی اودارنګې دمشکلاتو اود اسبابو دهغې اودهغې دحل کولو باندې زيات واقف کيدې شی

﴿ اِن يُّرِيدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَآ ﴾ ضمير راجع دې حکمينو ته اوددينه دوه خبرې معلومې شوې **اول** دا چه دزوجينو په منځ کښې اتفاق راتلل دحکمينو په صحيح نيت سره کيدې شی که نيت صحيح وی نو دالله تعالی امداد به شامل حال وی او دانسانانو زړونه دالله

خوارلسم حکم يعنی که دخاوند اوښځې په مينځ کښې اختلاف پيداشی نومسلمانانو لره داصلاح کوسس نکاردی ددې آيت پورې خوارلس احکام درعيت پوره شوچه دهغوئ خلاصه داده چه ظلم مه کوئ

په قبضه اوقدرت اوتصرف کښې د ی نو الله تعالی به ددوئ په منځ کښې اتفاق راولی

فائده اوداحکم دهرې جرګې والو دپاره دې چه دوئ ددوؤ فریقینو په منځ کښې صلحه کوی نوکه ددوئ نیت صفا وی نو الله تعالی به ددوئ مدد کوی او په مقصدکښې به ئی کامیاب کړی

او دویمه دا چه دحکمینو دتقرر اودلیګلو مقصد دزوجینو په منیځ کښې صلح کول اوددوئ اتفاق راوستل دی اوهرچه ده دا مسئله چه دوئ دتفریق اودجمع اختیار لری یانه نوپدې کښې اختلاف دې بعض وائی چه دتفریق یعنې دطلاق اودخلع اختیار نه لر ی ترڅوپورې چه زوجینو ورته اختیار نه وی ورکړې ځکه دوئ شرعی حاکمان اوقاضیان ندی اودتفریق کول بغیر دتوکیل نه دشرعی حاکم اودقاضی کار دې دا قول دحسن او زجاج دې اودارنګې منسوب دې امام ابوحنیفه رحمه الله ته، **دویم قول** دادې چه دوئ بغیر دتوکیل نه دجمع اوتفریق اختیار لری اودوئ قاضیان دی صرف وکیلان ندی اودا قول مروی دې دابن عباس اوحضرت علی رضی الله عنهما نه، اوامام مالک اوشافعی رحمهما الله هم همدا غوره کړې دې اوپدې قول کړې دې امام شعبی، دوئ دلیل پیش کوی په یو واقعه سره چه صاحب دروح المعانی په روایت دشافعی اوبیهقی سره نقل کړې ده دعبیدة السلمانی نه چه یو سړې اوښځه راغلل حضرت علی رضی الله عنه ته اوهر یوسره ډیر خلق وو د هغوئ دخاندان نه نو حضرت علی رضی الله عنه امر اوکړلو چه یوحکم دسړی خاندانه اوبل حکم دښځې دخاندان مقررکړئ نوهغوئ مقررکړلو نوحضرت علی رضی الله عنه دواړه حکمینو ته اوئیل ((تدریان ماعلیکما)) یعنې آیا تاسو پوهیګئ چه ستاسو ذمه داری څه ده او بیائې اوفرمائیل که تاسو دواړه په جمع او د یوبل سر ه په مصالحت باندې متفق شوئ نودغه شان اوکړئ اوکه ستاسو رائ په تفریق اوجدائی راغله نو تفریق اوکړئ نوکله چه ښځې دا خبره واریده نواوئیل چه ماته منظورده چه حکمین دواړه په قانون الهی څه فیصله اوکړی اوسړی اوئیل چه تفریق ماته منظور ندې، نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه ته به هم دغه شان حکمینو ته اختیارورکوی څنګه چه اختیار ښځې ورکړې دې، نوددې واقعې نه شوافع دلیل قائموی چه حکمین دتفریق اختیار لری اواحناف وائ چه داواقعه خوپدې دلالت کوی چه تفریق راوستل داموقوف دی په رضامندی باندې نو ددې وجه نه ئې سړی ته اوئیل چه ته هم حکمینو ته اختیار ورکړه لکه چه څرنګې ښځې اختیار ورکړی دې یا دا تفریق په امر دحضرت علی رضی

الله عنه سره وو او امام د تفريق اختيار لري ځرنګې چه مصلحت اويني

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِی الْقُرْبٰی

اوعبادت [١] کوئ دالله اومه شريکوئ د هغه سره هيڅ څيز اودموربلار سره نيک سلوک کوئ اودخپلوانوسره

وَالْيَتٰمٰی وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ

اوديتيمانوسره اومسکينانوسره اودګاونډي نژدې (خپل)سره اودګاونډي لري (پردي) سره اودملګری دډډي سره

وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ

او دمسافر سره او د هغوئ سره چه مالکان وی دهغوئ ښی لاسونه ستاسو، بېشکه الله نه خوښوي هغه څوک

كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرَا ۙ ۝ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ

چه وی متکبره خپله ستاينه کونکې داهغه دی چه بخل کوي (پخپله هم)او حکم کوی نوروخلقوته دبخل

وَيَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا

اوپټوی هغه څيزچه ورکړې دي دوئ ته الله دخپل فضل نه اوتيار کړې دي مونږ دپاره دکافرانو عذاب

مُّهِيْنًا ۝ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

رسواکونکې اودوی [٢] هغه کسان دی چه خرچ کوی مالونه خپل دپاره دخودنې خلقوته اوايمان نه لري په الله

وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا ۝

اونه ورځ دآخرت باندې اوهغه څوک چه وی شېطان هغه لره ملګرې نوډېربد دې داملګرې

﴿ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا ﴾ دڅوارلس احکاماتو بيان نه بعد د اصل مسئلې يعنې دتوحيد بيان دې يعنې هر قسم عبادت مالی، بدنی، قولی خاص الله تعالی لره دی او

١ دڅوارلس احکام رعيت نه پس مسئله د توحيد، د الله ﷻ عبادت کوئ شرک مه کوئ دا دويم امر دې (وبالوالدين) درېم امر د دفعيه دعذاب دپاره يعنی احسان کوئ

٢ زجر تخويف

،،شيئا،، مفعول به د تعميم دپاره دي يعني دالله سره هيڅ څوک شريک مه ګرځوئ نه ولي. نه نبي نه بت وغيره يا مفعول مطلق دي ((اى لا تشركوا شركا شيئا)) يعني هيڅ قسم شرک مه کوئ نه اعتقادي اونه فعلي او نه بل قسم

﴿ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ ﴾ ((اى واحسنو الى الوالدين)) ﴿ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ داقرابت عام دي دنسب په اعتبارسره وي اوکه د دار په اعتبارسره وي ﴿وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ ﴾ ((الجنب)) دا صفت دي د ((الجار)) دپاره. جنب بُعد ته وائ او دا بُعد عام دي دنسب په اعتبارسره وي اوکه د دار په اعتبارسره وي. په مسند بزاركښې دحضرت جابر رضى الله عنه مرفوعا روايت دي چه **ګاونډي په درې قسمه دي** **اول** هغه دي چه دهغه درې حقوق وى **اودويم** هغه دي چه دهغه دوه حقوق وى اودريم هغه دي چه دهغه يوحق وى. اول هغه دي چى ګاونډى وى اومسلمان وى او دقرابت والا وى **اودويم** هغه دي چه مسلمان وى خوقرابت نسبي نه وى. اودريم هغه دي چه كافروى نو دده صرف يوحق شو ﴿ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ ﴾ ددي مختلف تفسيرونه دى : (١) دسفرملګرې (٢) شريک درس (٣) شريک دکسب (۴) په جمات يامجلس کښې ناست ملګرې چه ستا ورسره تعارف پيداشي (٥) ښځه ﴿ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾ وينځې غلامن اودارنګې حيوانا ت چه د انسان په ملکيت کښې وى

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴾ ((مختال)) (خود پسند) هغه چاته وائي چه خپل شخصيت ورته زيات ښکارى اودبل حقوق په ځان باندي نه منى اود لوئي دوجې نه دخپلوانو اوګاونډيانو نه نفرت كوى اوفخورهغه دي چه خپل صفتونه پخپله خلقوته كوى اوخپله لوئى خلقوته ښكاره كوى (دوزمار). صاحب دروح المعانى دفخورپه تفسير کښې وائى ((يعدمناقبه عليه تطاولا وتعاظما)) .

﴿ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ ﴾ دا خبر دمبتدا مخذوف دي ((اى هم الذين)) يابدل دي د ((من)) نه

﴿وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ ﴾ ماقبل دضلا ل درجه وه اودا د اضلا ل درجه ده چه نورو خلقوته دبخل تعليم وركوى په قول يا په فعل او عمل سره

﴿ وَيَكْتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ﴾ دينه مراد مال اودولت دي ياعلم دى چه حقداران ترينه اُميد هم اون لرى . او يا ترينه مراد علم دين دي چه يهوديانو د رسول الله صلى الله عليه

وسلم صفتونه پټول . نو بخل عام دي چه د مال وی او که د علم دين وی.او په بهودوکښې دا دواړه قسم بخل په اعلی درجه او معيار کښې موجودوو

﴿ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ دا تخويف دي. مؤمن گنهگارته چه عذاب ورکولې شی نو دتطهيردپاره ورکولې شی اوکافرانو اومنافقانوته دتوهين دپاره ورکولي شی

﴿ وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ ﴾ دا عطف دي په ((الذين يبخلون ـ الايه)) باندې اوهغه چه بدل شی دماقبل نه نودابه هم بدل شی نو معنی به ئی داشی ((لايحب الله الذين ينفقون اموالهم رئاء الناس)) يعنی الله تعالی ددې دواړوقسموخلقوسره محبت نه کوی يوهغه خلق دی چه بخل کوی اوکتمان کوی اوبل هغه قسم خلق دی چه انفاق خوکوی ليکن لله يی نه کوی بلکه دخلقودخودنې دپاره ئی کوی ﴿وَلَا يُؤْمِنُونَ ﴾ دمنافق ايمان صرف لسانی نوهغه کالعدم دي ﴿ وَمَن يَكُنِ الشَّيْطَـٰنُ لَهُ قَرِينًا ﴾ په کلام کښې تقديردي ((ای قرينهم الشيطان ومن يکن ـ الخ)) او دشيطان نه مراد عام دي انسی وی اوکه جنی وی

وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ ءَامَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْـَٔاخِرِ وَأَنفَقُوا مِمَّا

اوڅه نقصان به وو دوئ ته کچرې دوئ ايمان راوړې وې په الله اوپه ورځ دآخرت اوخرچ يی کولې دهغه مال نه

رَزَقَهُمُ اللَّهُ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا ۞ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۖ

چه ورکړېدې دوئ ته الله اودې الله په دوئ باندې عالم بېشکه الله ظلم نه کوي په اندازه ديوې ذرې

وَإِن تَكُ حَسَنَةً يُضَـٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ۞

اوکه وی (١) ذره مقدار نېکې، زياتوی هغې لره الله اوورکوی دخپل طرفه ثواب لوئی

﴿ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ ﴾ دا زجردي. په ((ماذا)) کښې دنحويانو دوه قوله دی اول داچه ((ما)) په معنی د ((ای شئ)) استفهاميه سره دي په محل درفع کښې مبتداده او ((ذا)) موصوله په معنی د ((الذی)) سره دي او ((عليهم)) سره دمتعلق نه صله ده، اوموصول سره د صلې نه خبر د ((ما)) لپاره دي. دويم دا چه ((ماذا)) مجموعه په معنی د ((ایّ شئ)) سره مبتداء ده او ((عليهم)) سره د متعلق

١ . ترغيب الی الانفاق

نه خبر دې ﴿لَوْ ءَامَنُوا﴾ ((لو)) شرطيه دې اوجواب ئې محذوف دې ((ای لوامنوا فماذا يضرهم ذلک)) يعنى كه چرې دوئى په صدق قلب سره ايمان راوړې وې نوڅه نقصان به ورته نه وو.

بلکه فائده به وه ﴿وَأَنفَقُوا﴾ داعطف دې په ((آمنوا)) باندې او دا مقابل دبخل دې اود انفاق نه مراد شرعى انفاق دې

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ﴾ دا زجراوتخويف دې ﴿مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ منصوب بنابر صفت دې دمفعول مقدردپاره نوتقدير دعبارة داسې شو ((ای ان الله لا يظلم ظلما مثقال ذرة)) اوبعضې وائى چه ((لايظلم)) متضمن دې معنى د ((لاينقص، لايبخس)) لره نو دوه مفعوله غواړى. مفعول اول محذف دې چه ((احدا)) دې او ((مثقال ذرة)) ورلره معفول ثانى دې ((مثقال)) دثقل نه ماخوذ دې په اصل كښې مطلق مقدار ته ويلې شى اوپه عرف كښې ځليريشت قيراط ته ويلې شى اودلته په معنى دمقداراواندازې سره دې او ((ذرة)) وړوكى سور ميږى ته ويلى شى اودحضرت ابن عباس رضى الله عنه نه روايت دې چه دميږى سر ته ويلې شى اودويم روايت داهم دې چه دنمر واړه واړه بسرى چه په پلوشوكښې ښكاريږى هغې ته وائى.

﴿وَإِن تَكُ حَسَنَةً﴾ دا ترقى ده دماقبل نه چه الله تعالى ظلم نه كوى بلكه د حسناتو بدله په كثير مقداركښې وركوى ((ان تک)) په اصل كښې ((ان تكون)) وو، دجزم په وجه دنون حركت ساقط شواو د التقاء ساكنين په وجه واؤ حذف شوو اونون كله حذف كيږى چه روستو ورسره ضميرمتصل نه وى لكه پدې ځائې كښې اوكله نه حذف كيږى لكه ((ان يكن غنيا اوفقيرا)) او ((تک)) د كان ناقصه نه دې اواسم ورلره ضميردې چه راجع دې مثقال ته اوهغه مؤنث دې په سبب د اضافت كولومؤنث ته. ﴿يُضَٰعِفْهَا﴾ ددينه مراد تكثيردې صرف دوه مثله ترينه ندى مراد او په ﴿وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ﴾ كښې اشاره ده چه زيادت دثواب محض په فضل دالله سره دې

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ

نوڅنګه[1] حال به وى ددوئ كله چه راولومونږ دهر امت نه ګواه اوراولو مونږ تالره پدوئ باندې ګواه په دغه ورځ به

---

۱. تخويف اخروى.

يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ

ارمان کوی هغه کسان چه کفرئي کړي دي اونافرماني ئي کړېده درسول نه چه هموار ه شی بدوی باندې زمکه

وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿۴۲﴾

اونه به شی پټولي دوئ دالله نه هيڅ خبره

﴿ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا ﴾ دا تخويف اخروی دي اودا خبر دمبتدامحذوف دپاره دي **اى كيف حالهم اذا ـ الخ**

﴿ مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ ﴾ نه مراد نبی دا اُمت دي ﴿ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ د ((هؤلاء)) نه مراد دغه انبياء سابقين دی.او مراد دشهادت نه په دوئی باندې شهادت دې په صدق ددوئ باندې دې يا ((هؤلاء)) نه مراد مكذبين ددې امت دی اومراد دشهادت نه په دوئی باندې شهادت په تكذيب په دوئ باندې دې. اوياترينه مراد صحابه دی او ((على)) په معنی د ((لام)) سره دې اومراد ترينه شهادت دې په ايمان اوپه تابعدارئ دصحابؤ باندې. په بخاری شريف کښې روايت دې دعبدالله بن مسعودنه چی نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه ته ماته دقرآن پاک تلاوت اوکړه نو ما عرض اوکړو چه ((يا رسول الله أقرأ وعليك أنزل)) آيا څه تلاوت کړم اوحالانکه داخوپه تاسوباندې نازل دې نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چې زه غواړم چه دبل چانه واورم نو ما دسورة نساء تلا وت شروع کړو. کله چه دې آيت ته څه اورسيدم ﴿ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا ﴾ نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل ((حسبک)) يعنې بس چه کافی دی . کله چه ما دهغه مخ مبارک ته نظراوکړو نو د سترګونه ئې اوښکې بهېدلې . قسطلا نی شرح بخاری وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم ته آخرت منظر مستحضر شو او د امت دکوتاهئ خيال ئی راغې نوځکه ئې اوژړل، پدې آيت کښې لفظ دشهيد دنبی صلی الله علیه وسلم په حق کښې ذکرشوې دې. اهل بدعت ددې نه ثابتوی مسئله دحاضر او نا ظر د رسول الله ﷺ

جواب چه دشهيد نه مراد نګهبان اونګران دې اوخصوصا په هغه خلقوچه دنبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې موجود وو لکه عبدالله بن مسعود. ددغه مذکورروايت نه هم ظاهريږی او دمسلم شريف په روايت کښې دی ((شهيدًا مادمت فيهم)) اودغه شان دبخاری

شریف په یوروایت کښې د ی ((فاقول کماقال عبدالصالح وکنت علیهم شهیدا مادمت فیهم فلما توفیتنی کنت انت الرقیب علیهم)) اوبعضوؤیلی دی چه دشهادت نه مراد دټولوامت په اعمالوشهادت دې په دلیل دهغه حدیث سره چه قرطبی ذکرکړې دې چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندې اعمال دامت پیش کیږی لیکن پدې حدیث باندې ابن کثیر ردکړې دې چه پدې حدیث کښې انقطاع ده اویو راوی پکښې مجهول دې اودا حدیث مرفوع نه دې بالفرض که دا حدیث ثابت هم شی نوبیا تر ینه داخبره نه ثابتیږی چه نبی صلی الله علیه وسلم هرځائ کښې حاضر اوناظر دې او دا ډیره واضحه خبره ده

﴿ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ دا تتمه دتخویف ده ﴿ وَعَصَوُا الرَّسُولَ ﴾ دکفرنه علاوه عصیان مراد دی ﴿ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ﴾ ((لو)) مصدریه دې ((تسوی)) په تاویل دمفرد سره مفعول به دې د«یود» دپاره ((ای یتمنون تسویة الا رض بهم بحیث یدفنون فیها)) او ((الْأَرْضُ)) نائب فاعل د ((تسوی)) دپاره دې او «با» دتلبس دپاره ده ((ای متلبسة بهم))

﴿ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴾ د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه چا سوال وکړو چه په دې آیت کښې داسې ذکر دی چه دوئ به هیڅ خبره نشی پټولې لیکن بل آیت کښې داسی دی ﴿ وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ په ظاهر کښې ددې دواړو په مینځ کښې تعارض دې ځکه په اول آیت کښې دی چه خبرې به نشی پټولې اوپه دویم آیت کښې ددې په عکس سره ذکردې

جواب نوهغوئ جواب اوکړو چه هرکله کفاردا وه وینی چه جنت ته دمسلمانانونه علاوه بل څوک نشی تلې نو دوئ به وائی یوبل ته چه راشئ چه انکاراوکړو دشرک نه نو وائی به «**والله ربناماکنامشرکین**» نو بیا به په دوئ باندې د دوئ اعضاء او جوارح ګواهی اوکړی نو په دغه وخت کښې به اقرار اوکړی نودډې وجه نه ئی او فرمائیل ﴿ وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴾ .

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا

اې ایمان (۱) والو ! مه نږدې کیږئ مونځ ته پداسې حال کښې چه تاسو نشه یئ ترډې چه پوهیږئ په هغه څه

۱. د امورثلاثو «ظلم مکوئ . شرک مکوئ احسان کوئ» نه بعد دامر مصلح یعنی مونځ بیان . چه دادامور مذکوره دپاره ممد اومعاون دې

تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِیْ سَبِیْلٍ حَتّٰی تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

چه تاسونې وايئ اونه په حال دجنابت کښې مګر که تيريدونکی يئ دلارې تردې پورې چه غسل اوکړئ. اوکه تاسو

مَّرْضٰۤی اَوْ عَلٰی سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

ناجوړه يئ يا په سفر کښې يئ ياراشی يوستاسونه لونې حاجت نه ياتاسويوخائې شوی يئ دښخوسره

فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَیَمَّمُوْا صَعِیْدًا طَیِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَیْدِیْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

اونه مومئ تاسواوبه نوتيمم کوئ په زمکه پاکه باندې نومسح کړئ مخونه خپل اولاسونه خپل بيشکه الله دې

عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝

ډير عفوکونکې ډيربخنه کونکې

﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰی ﴾ مخکښې خوارلس احکامه ذکرشو نو دا ټول امور انتظاميه وو، اوس دلته امرمصلح ذکرکيږي چه هغه مونځ دې ځکه دمونځ په ذريعه سره دباطن اصلاح رازی اوخصوصا په جمعې سره مونځ کول اوصفونه سيده کول پدې سره اتفاق رازی، ((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لتسون صفوفكم اوليخالفن الله بين قلوبكم)) (مشكوة بحواله مسلم)

امور مصلحه د امور انتظاميؤ لپاره ممد اومعاون دي، دمونځ دپاره ظاهری طهارت او دزړه په استحضار سره قرآن پاک لوستل او اوريدل هم ضروری دی.

نو دلته حکم دې چه په حالت دَ نشه کښې مونځ مکوئ، او دَ بې اودسئ په حالت کښې مونځ مه کوئ. نو معلومه شوه چه په مونځ کښې قرآن لوستل او اوريدل ډير اهتمام لری. نو دَ دې وجه نه په حالت دَ نشه کښې مونځ کول ممنوع دی او دَ دې وجهې نه أقرء او أعلم بكتاب الله لره امام جوړل ضروری دی ﴿ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰی ﴾ داجمله حاليه ده او حال چونکه قيد وی او دارومدار دکلام وی نومقصود په نهی سره هم دا قيد دې ﴿ حَتّٰی تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ ﴾ دا غايه ده د ((لا تقربوا)) تر دې چه پوهيږئ په هغه څه باندې چه تاسو ئی وايئ په مونځ کښې. او د دې آيت مقصد دا نه دې چه دنشې لپاره مونځ پريږدئ بلکه مقصد دادې چه دمونځ په وخت کښې

نشه مه کوئ.

نودشرابو حرمت تدریجا راغلې دې، اول آیت دسورة بقره نازل شو اوپدې کښې اشاره وه حرمت ته خو صریح ممانعت نه وو نوځکه حضرت عمر رضی الله عنه اوویل ((اللهم بین لنا بیانا شافیا)) د هغې نه بعد بیا دا آیت نازل شو او پدې کښې هم صراحةً ممانعت نه وؤ، نوبیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل ((اللهم بین لنا بیانًا شافیًا)) نوبیا روستو آیت دسورة مائده نازل شو، ددې آیت په شان نزول کښې روایت دترمذی دې چه ترمذی ورته حسنٌ صحیحٌ ویلی دی او هغه دادې چه حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه دعوت کړې وو نومونږه طعام اوخوړلو اوبیا مو ورپسې شراب اوسکل او علی رضی الله عنه فرمائی چه څه دوئی امام جوړکړم نو ماسورة کافرون شروع کړو نو د ﴿ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ﴾ په ځائې ما داسې اوویل ((ونحن نعبدماتعبدون)) نودا آیت نازل شو، چونکه دا واقعه دحرمت دشرابونه قبل وه نوپدې وجه دحضرت علی رضی الله عنه په مقام باندې څه داغ نه شی لګیدې نو د دې نه دانکار څه وجه نشته، اګر که په بعض روایتونوکښې دامامت نسبت حضرت عبدالرحمن بن عوف ته ذکر شوې دې چه ده امامت کړې وؤ او غلطی ترینه راغلې وه.

﴿ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ ﴾ ((جنب)) دا لفظ په وزن د مصدر سره دې نو ددې وجه نه مفرد، تثنیه اوجمعه مذکراو مؤنث پکښې برابردې او د جنب اصل معنی بُعد دې اوجنب اصطلاحی ((فاقدالطهارة الکبری)) هم دَ مونځ،تلاوت، مسجد نه بعید وی ځکه ورته جنبی وایئ، په دې آیت کښې دوه توجیه دی : (۱) احناف وائی چه صلوة دلته په خپله معنی سره دې نومعنئ داده : ((لا تقربوا الصلوة جنبا حتی تغتسلوا)) او ((الا عابری سبیل)) ترینه استثناء ده اوپدې کښې ابهام دې اوتفصیل ئ وروستو دې اومطلب د آیت داشو چه مه نیزدې کیږئ مونځ ته په حالت دجنابت کښې ترڅوچه تاسوغسل نه وی کړې مګرکه تاسوتیریدونکی دلارې یئ یعنی په حالت دسفرکښې یئ او اوبه بیا اونه مومئ، نو سفر اودهغه شان نور عذرونه اودهغوئ حکم روستو بیانیږی په ((وان کنتم مرضی ۔ الایه)) سره

(۲) شوافع وغیره وائی چه دلته دصلوة نه موضع دصلوة مراد دې په طریقه داستخدام سره ((ای لا تقربوا موضع الصلوة المسجد جنبًا الا عابر سبیل)) مطلب دادې چه جنب دې مسجد ته نه داخلیږی مګر داچه په لارې باندې تیریدونکې وی نو بیا جائز دی تیریدل اومکث جائز نه دې اوپه نیزد د احنافو تیریدل هم جائز نه دی البته په وخت دضرورت کښې دې تیمم

اوکړی چه قادر نه وی په غسل باندې نوبیا تلې شی

﴿ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ ﴾ دا تفصیل دهغه اجمال دې چه په «الا عابری سبیل» کښې وو او د سفرنه علاوه دنوروعذرونوبیان دې چه هغه مرض دې نوپه ماقبل کښ ذکر دعابری سبیل یعنی ذکر د سفر بطور مثال وؤ او دلته د مرض نه هغه مرض مراد دې چه د اوبو استعمال سره د مرګ او یا د مرض زیاتیدلو خطره وی ﴿ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ ﴾ دا په محل دنصب کښې دې اوعطف دې په ((مرضی)) باندې ((ای کنتم علی سفر)) لیکن روستوشرط ورسره مراددې چه هغه ((ولم تجدوا ماء)) دې اوهرچه دې په حالت د روغ والی اود مقیم والی کښې یعنی څوک چه روغ وی. مقیم وی خو اوبه نه مومی نو د هغه دپاره نو دده دپاره هم په مذهب دامام ابو حنیفه اود امام مالک رحمهما الله باندې تیمم جائزدې اوذکر دسفر ددې وجه نه شوې دې چه غالب په حالت دسفرکښې اوبه نه موندلې کیږی اوپه حالت د حضر او اقامت کښې اسانی سره موندلې کیږی

﴿ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ ﴾ مدارک په حواله دامام رازی رحمه الله سره وائی چه دلته ((او)) پخپله معنی سره نه دې ځکه چه ((او)) داحد الامرین دپاره راځی نوبیا دا لازمیږی چه مریض اومسافر لره دې تیمم کول لازم شی اګرکه حدث اصغراو اکبرورته نوی لا حق شوې بلکه ((او)) په معنی د واو سره دې اوحال دې دفاعل نه نومعنی نی داده که تاسوپه سفرکښې وئ اوحال داوو چه تاسوته حدث اصغرلا حق شوې وو «وجاء احدمنکم من الغائط» او بیا درته حدث اکبر یعنی جنابت شوې وی.

﴿ أَوْ لَٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ او اوبه مو اونه موندلې نوبیا تیمم کوئ اوبعضې وائی چه ((او)) زائد دې اوحضرت شیخ رحمه الله په حواله دشاه انورشاه کشمیری رحمه الله سره وائی چه ((او)) کله دتغایر مفهومی دپاره راځی (کمافی مسلم الثبوت) اودلته مفهوم د ((جاء احدمنکم من الغائط)) عام دې دماقبل نه نو د ((او جاء احدٌ منکم من الغائط)) مطلب دادې چه یا تاسو مریضان اومسافران نه وئ بلکه روغ اومقیم وئ لیکن بې اودسه اویاپه جنابت کښې وئ او اوبه درته نه میلاویدې نوبیا هم تیمم کوئ.

فائده دلته قرآن نسبت دمجئ مخاطبینو ته اونکړو یعنی داسې او نه ویل ((اوجئتم من الغائط)) بلکه نسبت ئې ((احدکم)) ته اوکړو یوه وجه داده چه دانسان دا عادت دې چه په داسې

حدلت کښي یوازې والي اوتفرد خوښوی. بله وجه دا چه تصریح رانه شی په نسبت کولو مخاطبینوته د هغه فعل چه انسان ترینه حیا او شرم کوی

﴿ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ پدې کښي دحدث اکبربیان دې یعنی دجنابت اومراد ددینه جماع ده په نیزد د امام ابوحنیفه رحمه الله باندې او دا قول مروی دې درئیس المفسرین لسان القرآن حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه او دا قول زیات راجح دې ځکه چه دا مروی دې د ابن عباس رضی الله عنه نه او دارنګې صیغه دمفاعله پدې دلالت کوی اوبل داچه پدې تقدیر به آیت جامع شی ټولو انواعو دحدث لره (اصغر،اکبر) او انواعو دطهارت لره (چه غسل اوتیمم) دی

اوپه نیزد دامام شافعی رحمه الله باندې مرادترینه لمس په لاس سره دې اوقُبلی (ځکلولو) ته هم شامل دې اوداقول مروی دې دابن عمر اوابن مسعود رضی الله عنهما نه. نوپه نیزد د امام شافعی رحمه الله باندې لمس په لاس سره دنواقضو دوضوء نه دې. په یوروایت کښي ((بشهوة مس)) اوپه بل روایت کښي ((مطلق مس)) اوپه یوروایت کښي بلا حائل اوپه بل روایت کښي مطلقا نوبناء پدې قول باندې پدې آیت کښي دحدث اکبر یعنی دجنابت ذکرنشته دې

﴿ فَلَمْ تَجِدُوا ﴾ نه مومندل د ابو ډیرصورتونه لری یابه بلکل موجود نه وی اویابه ورته رسیدل مشکل وی لکه لوښې درا ویستلونه وی یاخوف د دشمن یا د درنده وی او یا اُوبه وی مګرکمې وی او د تندې ویره وی یاد مرض خطره وی او یا انسان په قیدکښي وی یا په ګران قیمت ورته میلاویږی چه غبن فاحش پکښې وی ((فا)) په ((فلم تجدوا)) کښي دعطف دپاره ده او دا عطف دې په ((کنتم)) باندې اودا مجموعه شرط دې اوجزا ورلره دا قول‌دې چه ((فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا)) ((صعیدًا)) مفعول به ده او ((طیبًا)) ورلره صفت دې اود صعید معنی په نیزد دامام ابوحنیفه رحمه الله باندې وجه الا رض ده نوتیمم په هغه شی سره کول جائز دې چه هغه دجنس الارض نه وي چه په اور باندې به نه ویلي کیږی اونه به سوزی او امام شافعی رحمه الله په نیزد د ((صعید)) معنی تراب منبت ده (هغه خاوره چه ګیاه ترینه زرغونیږی) نوپس داسې کاڼړې چه په هغې باندې ګرد اوغبارنه وی نوپه هغې باندې تیمم په نزد د امام ابوحنیفه رحمه الله جائز دې اوپه نزد د امام شافعی رحمه الله جائزنه دې ترڅوچه خاوره پرې نه وی.

﴿ فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ﴾ دا تفصیل دتیمم دې او ددېنه مراد لاسونه دی ترڅنګلو پورې په نیزد د احنافو باندې.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ

آيا (۱) ته نه گوري هغه کسانو ته چه ورکړې شويدى ورته يوحصه دکتاب نه اخلي گمراهي اوغواړي

اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ۞ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۖ

چه تاسو هم واوړئ دسمي لارې نه اوالله ښه عالم دي ستاسوبه دښمنانواوكافي دي الله دوست حمايتي

وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ۞ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

اوكافي دي الله مددگار بعضې ديهوديانو نه داسې خلق دي چه بدلوى كلمې دالله (تورات) په اړولوسره

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ

دخپلو ځايونو نه اووائي دوئ واوريدومونږ اونه ني منومونږ او وائي واوره ته آوريدل دې نه وى كړى شوې تاوته

وَّرَاعِنَا لَيًّا بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى الدِّيْنِ ۚ وَلَوْ اَنَّهُمْ

اوراعناوائي پداسې حال كښې چه تاووى ژبې خپلې (محرّف ته) اوعيب لگوى په دين اسلام كښې، اوكه دوئ

قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا

ونيلې وې چه واوريدومونږ اوخبره منو اواسْمَعْ ني ونيلې وې بغيرد غَيْرَ مُسْمَعٍ نه او اُنْظُرْنا ني ونيلې وې (نه راعنا)

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ

خامخابه غوره وې دوئ لره اوښه برابر، ليكن لعنت كړيدې پدوئ باندې الله په سبب دكفردوئ

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۞

نوايمان نه راوړى دوئ مگر كم خلق

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ ﴾ دا زجردي اهل كتابوته چه دوئ په خپل كتاب باندې عمل پريښودلې دي اوگمراه شوى دى اود اغوا ړى چې تاسوهم په خپل كتاب باندې

۱ - زجر اهل كتابو ته

عمل پرېږدئ او گمراه شئ، ﴿ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ﴾ دا تسلی ده مؤمنانو ته چه الله تعالی ته ستاسو دشمنان ښه معلوم دی او هغه به ستاسو مدد کوی او د ستاسو نصرت به کوی او د الله مدد او نصرت چه شامل حال شی نو دا کافی دی.

﴿ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا ﴾ دا بيان د ((أوتوا)) د ي يا خبر د مبتدا محذوفي دي ((اى هم من الذين هادوا)) يا ((من الذين هادوا قوم يحرفون ــ الخ)). ((يحرفون الكلم)) تحريف تغير او تبدل ته وائی نو که صرف معنی بدله شی نو دا تحريف معنوی دي او که لفظ بدل شی نو دا تحريف لفظی دي

او د ((الْكَلِمَ)) نه مراد کلمات او احکام د تورات دی ﴿ عَن مَّوَاضِعِهِ ﴾ د مقدر سره متعلق دي ((اى بصرفه عن مواضعه)) يعنی دوئ تغير او تبديل کوی په احکامو د تورات کښې په اړولو سره د خپل ځای نه چه د کلماتو مدلول او مقصد وغيره پرېږدی او بل څه ترينه اراده کوی

﴿ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ﴾ په خوله ((سمعنا)) وائی او په زړه کښې ((عصينا)) وائی يا د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په حضور کښې ((سمعنا)) وائی او چه ځان له شی نو ((عصينا)) وائی

﴿ وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ ﴾ دا عطف دي په په ((سمعنا)) باندې نو د ((يقول)) ماتحت دي او ((غيرمسمع)) حال دي او پدې کښې دوه احتماله دی يو معنی صحيحه ده او بل معنی فاسده ده او دوئ به اراده کوله معنی فاسده ، معنی صحيحه ئ دا ده ((غيرمسمع کلامًا مکروها ولا اذى)) يعنی تا ته دی نشی اورولې بده خبره او د تکليف خبره نو پدې صورة کښې دا دعاء خير ده او معنی فاسده ئې دا ده چه په تا دې هيڅ څه نشی اورولې يعنی کوڼ شی او يا چه مړ شی څکه مړی ته هم څه نشی اورولې نو پدې صورة کښې دا بددعا ده او دارنګې د ((راعنا)) دوه معنی دې يوه معنی صحيحه ده چه زمونګ رعايت اوګړه او مونږته توجه اوکړه او بله معنی فاسده ده چه دا په سريانئ ژبې کښې مشتق دې د رعونت نه او احمق ته ائی يا ئې معنی ده ګډوبيزو شپونکې يعنی ((راعينا)) چه عين ته کسره اشباعی ورکړې نو دا بد ترين الفاظ د کفر دی چه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وائی چه ته د انسانانو د پاره مربی او معلم نه ئی بلکه د ګډو او بيزو د پاره ئی ياد ((راعنا)) معنی د نګاهبان ،حاضر او ناظر ده يا دا لفظ د مصر په

اصطلاح کښې معبود اعظم (نمر) ته وائی نو دا لفظ موهم د شرک دی ﴿ لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ ﴾ ((ليا)) مصدر دې په معنی د لامتم فاعل سره او دا حال دې د ضمير د ((يقولون)) نه يا د ضمير د ((يحرفون))

نه یعنی خپلي ژبي اړوي او ناوه وي ئی دمنزل نه محرّف ته ﴿ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ﴾ دامفعول مطلق دي يامفعول به دي دفعل محذوفه دپاره ((ای یطعنون طعنا یایقصدون طعنا)).

فائده پدې آیت کښې بیان دي چه یهودپخپله ګمراه دی خپل کتاب ئي بربنسي دی اونسو هم ګمراه کول غواړی پدې طریقې سره چه کوم مرکز د هدایت کتاب الله دي نو په هغي کښې تحریف او تبدیلي کوی اودا (چشمۀ هدایت) ناسوته خړوی او اشتباه. التباس درباندي راولی اوالفاظ کفریه موهومه دشرک په تاسوکښې رائج کوی خو تاسو دالله بنده اونبیـئ نوهغه تاسولره کافی دي اوستاسوحافظ دي

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ ﴾ یعنی که چری دوئې د((**سمعناوعصینا**)) په ځائ ((**سمعناواطعنا**)) ونیلي وي اوصرف واسمع ئي ویلي وې بې د((**غیر مسمع**)) نه او ((**انظرنا**)) ئي ویلي وي په ځائې د ((**راعنا**)) باندي نودابه دوئی دپاره خیروې ﴿ وَأَقْوَمَ ﴾ ای اعدل یعنې ډیره دعدل خبره اوبرابره به وي ﴿ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ ﴾ دلته ذکر دمسبب دي په ځائ دسبب باندي یعنې دوئ خیر او اقوم پرینبودلو نولعنت پرې الله نازل کړلو ﴿ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ که ((قلیلا)) صفت درجال وی نومعنې ئې داده چه دوئ نه ډیر لږ خلق ایمان راوړی یاصفت د ((ایمانا)) دي ((ای لایؤمنون الاایمانا قلیلا)) ایمان قلیل خو ندي معتبر نومعنې داشوه چه ددوئ بالکل ایمان نه راوړی

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ ءَامِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا

اې اهل کتابو ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل کړیدي مونږ تصدیق کونکې دهغه کتاب

مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ

چه تاسوسره دي مخکښې ددینه چه وران کړو مونږ مخونه (صورتونه)نواوبه کرځوو هغه په شاګانو دهغوئ

أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ السَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ۝

یابه لعنت اوکړوپه دوئ لکه چه لعنت کړیدي مونږ په خاوندانو د خالي دورځې. اودي حکم دالله پوره کړي شوي

﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ ﴾ پدې کښې دعوت دې اهل کتابوته دایمان. اودتخویف دي یعنې که تاسوایمان رانه وړئ نو خطره ده چه تاسو ته به په دې دوه قسمه سزاګانو کښې یوه سزا درکړې شي. اول داچه﴿ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا ﴾ ((**طمس**)) په لغت کښې دیته وائی چه لیکلي

شوې خط اويا نقش دلوح نه وران کړې شي. صاحب د روح المعاني وغيره فرمائي چه الله تعالى چه دانسان په مخ کښې حاجبين ((روزې)) په شکل دنون جوړې کړی دی اوسترګې په شان دصاد دی اوپوزه په شان دالف ده اوخوله په شکل دميم ده نود الله تعالى به داروان کړی ﴿فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ﴾ (فا) دتفصيل دپاره ده دا تفصيل د طمس دې چه مخونه به ئې په شان دشهونو اوګرخوؤ چه سترګې اوپوزه به پکښې نه وی اويا دا چه مخکښې حصه به ئې شاته کړو اوشاته حصه به ئې مخکښې راولو. يا دا معنى ده چه ددوئ رؤساء او مشران به ذليل کړو. دويمه سزا داده چه ﴿أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ﴾ ضمير د ((هم)) راجع دې اهل کتابونه يا وجوه ته اود ((لعن)) نه مراد مسخ اوتبديل دصورت انساني دې چه په صورت اوشکل کښې به دخنزير او دشادوګانوپه شان وی، اويا ترينه مراد دخائسته انساني اخلاقو ازاله ده او په خسيس اخلاقو کښې اخته کول دی. دلته کلمه د ((او)) دمانعة الخلو دپاره ده اوکه څوک اعتراض اوکړی چه ايمان خودوئې نه وو راوړی نوداعذابونه په دوئې ولې نازل نشو. نوددې **څوجوابات دی**: (۱) حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه په قرآن کښې دا سې لفظ نشته دې که چرې دوئ ايمان نه راوړی نوخامخابه طمس اومسخ راځی. بلکه مطلب دادې چه ددوئی دا جرم ددې مذکورې سزا مستحق دې نوکه الله تعالى سزاورنه کړی نودا دهغه رحمت دې (۲) داعذابونه به قرب دقيامت کښې وی لکه په مشکوة شريف باب القدر کښې دی چه دا قسم عذابونه به په منکرينو دقدر راځی (۳) داعذابونه به په دوئ باندی په قيامت کښې راځی (۴) دطمس نه مراد ذليل کول دمشرانو ددوئی دی اودلعنت نه مراد دصفاتو د انسانيت زائل کول دی اودا اُمور واقع شوی دی (۵) د آيت مطلب دادې چه که چرې هيڅا په دوئ کښې ايمان رانه وړلو نو دا مذکوره عذابونه به واقع شی اوهرکله چه بعضو لدوئ نه ايمان راوړلونوعذاب نازل نه شو، ابن کثير او روح المعاني په روايت دابن جرير ذکر کړې دی چه عبدالله بن سلام رضی الله عنه دشام نه واپس شو او دا آيت ئې واوريدلو نوخپل اهل اوعيال ته دتلونه مخکښې دنبی صلی الله عليه وسلم حضورته راغې اواسلام ئې راوړلواو وې وئيل چه يارسول لله زما دا ګمان وو چه تاته درسيدلو نه مخکښې زماشکل مسخ نه شی. دغه شان دکعب الاحبار چه لوئی عالم د يهودو وؤ په زمانه دحضرت عمر رضی الله عنه کښې ئې اسلام راوړلو((قال کعب اسلمت مخافة ان تصيبه هذه الآية)) نومعلومه سوه چه دغه عذابونه په دنياکښې موعود وو خودبعضې اهل کتابو دايمان راوړلو په وجه واپس شو

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ

بېشکه الله نه بخښي چه شرک اوکړې شي دالله سره او بخښي هغه گناهونه چه ددېنه علاوه دي هغه چا

لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى إِثْمًا عَظِيْمًا ۝ أَلَمْ

چه خوښه ئې شي اوچاچه شرک اوکړو دالله سره نويه تحقيق سره ده جوړکړه، په الله باندې دروغ لوئې ئې

تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ أَنْفُسَهُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ

نه گورې هغه کسانو[۱] ته چه ستائنې کوي دخانونوخپلو، بلکه الله پاکوي هغه چالره چه خوښه ئې شي

وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۝ أُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

اوظلم به نشي کېدې پدوئ په اندازه د تاردهډوکي دکهجورې، اوگوره څنګه جوړه وي دوئ په الله باندې دروغ

وَ كَفٰى بِهٖٓ إِثْمًا مُّبِيْنًا ۝

او پوره دي دا دورغ گناه ښکاره.

﴿ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ ﴾ پدې آيت کښې دتوحيد د دعوې اعاده ده سره دتفصيل نه چه گناهونه خوهر يو قبيح اوبد دې ليکن شرک زيات قبيح اوبد ترين دې، څکه چه شرک ناقابل معافى جرم دې، ددې دمعافى هيڅ صورت نشته حضر ت على رضى الله عنه فر مائى چه په قرآ ن کښې دا آيت ماته زيات مرغوب دې ((فقد اخرج الترمذى منه وحسنه، احب اية الى فى القرآن ان الله لايغفر ان يشرک به ويغفر مادون ذالک لمن يشآء)) اومراد دشرک نه کفر دې مطلقا اوتخصيص بالذکر دشرک شوې دې دوجهِ دکثرت نه حتى چه بعضې علماء کرام فرمائى چه تمام انواع دکفر راجع دى شرک ته اومراد د ((لايغفر)) نه دادې چه څوک مرشى په حالت دشرک باندې نودهغه مغفرت محال دې اوڅوک چه په حالت دحياة کښې وى نودشرک نه معافى په توبه سره کيدې شى ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ يعنې علاوه د کفر او شرک نه د نورو گناهونو معافى کيدې شى برابره خبره ده که په توبې سره وى اوکه بغير دتوبې نه وى، نو د

۱- زجر اهل کتابو ته

گناه کبیره معافی پغیر د توبې نه هم کیدې شی په شرط د دې سره که مشیت الهی وی. هم ددې وجه نه حضرت علی رضی الله عنه دې آیت نه ((احب آیة الیٰ فی القرآن)) وئیلی دی ﴿ فَقَدِ افْتَرَىٰ ﴾ ,,افتراء,, دروغ جوړولو نه اوارتکاب دګناه ته وائی اوداجمله دماقبل دپاره علت دې یعنی شرک ځکه ناقابل معافی دې چه دا ددروغوانتها ده ددینه زیات دروغ اوزیات ګناه بلکه ددې سره برابره ګناه بله نشته دې

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ ﴾ دمسئله توحید بیان نه روستو اهل کتابوته دوه زجرونه بیانیږی داول زجر دې چه دوئ ځان نه اولیاؤالله اواحباؤ الله وائی اودارنګې ابناء الله وائې لیکن الله تعالی فرمائی چه دافیصله زما په اختیارکښې ده چه زه چاته پاک اومقرب اوولی وایم نوپه حقیقت کښې هغه پاک اومقرب وی لیکن دوئ خو په شرک اونوروٍ معاصیو کښې مبتلا دی نودوئ څنګه اولیاء او مقرب کیدې شی

﴿ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴾ دا کنایه ده دقلت نه. فتیل په اصل کښې ((مافی شق النواة)) ته وائی یعنی هغه مزې چه دکجورې دهډوکی په چاؤد کښې وی دفتل اصل معنی ده مزې رانغښتل دی. دتقلیل دبیان دپاره دا درې الفاظ استعمالیږی: (۱) فتیل (۲) نقیر (۳) قطمیر اونقیر هغه داغ ته وائی چه دکجوری په هډوکی کښې وی اوقطمیر هغه نرې پټ چه دکجورې دهډوکی دپاسه وی

﴿ انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ ﴾ یعنی دا دتعجب خبره ده چه دوئ په الله تعالی باندې افتراکوی یعنی شرک وغیره اوبیاهم ځان ته مقربین وائی یا دامطلب دې چه دوئ دادعوه کوی چه ﴿نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ﴾ یا دا دعوه کوی چه ﴿لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ﴾ نوجواب اوشوچه دامحض افتراء ده ﴿ وَكَفَىٰ بِهِ ﴾ بازائده په فاعل د ,,کفی,, داخیلږی نو ,,به,, فاعل دکفی دې اوبازائده ده.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ

آیا[۱] ته نه ګورې هغه کسانوته چه ورکړې شوېده ورته یوه حصه د کتاب نه یقین کوی په بُت ,یاسحر,

---

۱ - دویم زجر اهل کتابو ته.

وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِينَ اٰمَنُوا سَبِيلًا ۝ اُولٰٓئِكَ

اوشیطان باندي اووائی په باره دکافرانو کښي چه دوئ دمومنانونه زيات په سمه لار دي دغه کسان دي

الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيرًا ۝

چه لعنت کړيدي پدوئ باندي الله. اوهغه څوک چه لعنت اوکړي په هغه باندي الله نوهيڅري به ته اونه مومندي هغه لره مددګار

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِينَ ﴾ دادويم زجر دي چه دوئ پخپله شرک کوی اودمشرکانو په حق کښي وائی چه ﴿ هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِينَ اٰمَنُوا سَبِيلًا ﴾ نوپدي وجه دوئ ملعون دی او دوئ ته علم ندي حاصل شوي بلکه حسد ورته ملاؤشوي دي. ﴿ اَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ ﴾

﴿ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ ﴾ اهل لغت وائي چه ((جبت)) په اصل کښي جبس وو. سين په تاسره بدل شوي دي اوجبس رذيل اوبي خيره شی ته وائی اوطاغوت مبالغه ده په طغيان کښي. اوددي دوادرو په مصداق کښي مختلف اقوال دی حضرت ابن عباس رضی الله عنه ابن جبير اوابوالعاليه وائی چه جبت په حبشی لغت کښي ساحر ته وائی اودطاغوت نه مرادکاهن دي اودحضرت عمر رضی الله عنه نه منقول دی چه جبت سحر دي اوطاغوت شيطان دي امام مالک رحمه الله نه مروی دی چه جبت بتان دی اوطاغوت هرمعبود من دون الله دي. امام قرطبی وائی چه دا قول زيات پسنديده دي . يوقول دا دي چه جبت بت اوطاغوت هغه شيطان دي چه په بت کښي داخل شی او آوازونه کوی اود ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دي چه جبت حيی بن احطب دي اوطاغوت کعب بن اشرف دي اودا دواړه ديهوديانوغټ علماء وو ددي ټولو اقوالو په منځ کښي څه تناقض نشته ټول ترينه مرادکيدي شی اوددي آيت په **شان نزول** کښي مفسرين وائی چه حی بن احطب اوکعب بن اشرف دواړه دجنګ اُحد نه روستو مکي ته لاړل سره ديوجماعت نه. او دَ ابو سفين سره چه پدغه وخت کښي ئی ايمان نه وو راوړي او دکفاروسردار وو نوده سره ملا ؤ شو اودنبی صلی الله عليه وسلم خلاف ئي دتعاون وعده ورسره اوکړه نواهل مکه والو دوئ ته اوئيل چه تاسويهود يي اعتماده خلق ئي نومونږه په تاسواعتمادنه کوو ترڅوپوري چه تاسوزمونږ دي بتانوته سجده نه وی کړي (جبت، طاغوت) نودوئ دقريشو د مطمئن کولودپاره بتانوته سجده اوکړه اومشرکينوته ئی ((**اهدی سبيلا**)) هم اوئيل حالانکه دوئ ديهودو علماء وو اوبتانوته سجده خو د دوئ عقيده نه وه خو د خپل سياسی مفاد دپاره ئی کړي وه اوبياديرش ديرش کسان د

طرفینو نه دخانه کعبې مخې جمع شواوعهد ئې اوکړلو چه مونږ به ټول دمحمد ((صلی الله علیه وسلم)) خلاف جنګ کوو

﴿هٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ﴾ ابوسفیان دوئ ته اوئیل چه تاسو اهل علم یئ نوتاسو اوایئ چه څوک په حقه دي مونږه یامحمد ؟ نوکعب تپوس اوکړلو چه ستاسو دین څه دي. نو ابوسفیان اوئیل چه مونږ حج ،عمره، طواف. دحاجیانوخدمت. صله رحمی کوؤ لیکن دوئ خپل آبائي دین ترک کړې دي. صله رحمی ئی پریخودې ده. نوکعب ورته اوئیل چه تاسو زیات په حقه یئ. کله چه په انسان باندې نفسانی خواهشات غالب شی اود دنیا لالچ ئی واخلی نو بیا هر قسم اقوالواوکارونوته اماده شی ((اعاذناالله بفضله)) ﴿أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ﴾ یعني دغه دمذکوره قول اوعمل په وجه دوئ مستحق دلعنت دي

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ۝

آیاشته دوئ لره حصه دبادشاهۍ نه(که وې) نودغه وخت به ورنکړي خلقوته په قدر دداغ په هډوکي دکهجورې کښې

أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۖ فَقَدْ

آیا حسد کوی دوئ دخلقو سره په هغه څه چه ورکړي دي الله دوئ ته دفضل خپل نه نو پس په تحقیق سره

ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَءَاتَيْنَٰهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ۝

ورکړې وؤ مونږ آل دابراهیم　ته کتابونه اوپیغمبری او ورکړې وه مونږ هغوئ ته بادشاهی لویه

فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ ۚ

پس بعضې[۱] ددوئ نه هغه څوک دی چه ایمان ئې راوړې دې پدې، اوبعضې هغه دی چه منع یې کړېده دده نه

وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ۝

او پوره دي جهنم اور بل کړې شوې

﴿أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ﴾ ((ام)) منقطعه دي په معنی د ((بلْ أ)) سره دې او ((بل)) د انتقال دپاره راځی اوهمزه داستفهام انکاری لپاره ده، پدې آیت کښې دیهودیانو دقول رد دې چه

۱ - اهل کتابو کښې دوه جماعتونه دي.

دوئ به ویل خپلو اتباعوته چه بادشاهی به زمونږه لاس ته راځی اودارنګي دعوه به ئی کوله چه الله تعالی دخزانو اختیار مونږته راکړي دي او دنبوة حق صرف زمونږه دي نو الله تعالی ددوئ رد اوکړو چه دا اُمور ددوئ حصه اوحق نه دي بلکه وي فرمائیل چه په دوئ کښي بخل په داسي اتمي طریقي سره موجود دي که چرې د دوئ په لاس کښي څه اختیاروي نودوئ به هیچ چاته څه نه وورکړی دنقیر په مقدار

﴿ أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ ﴾ ((ام)) په معنی د ((بل)) سره یعني دوئ سره نه علم شته. نه بزرګی اونه استحقاق دنبوة اومملکت بلکه دوئ سره حسد دي چه دوئ حسد کوی مؤمنانوسره اورسول الله صلی الله علیه وسلم سره په وجه دهغه دفضائلوچه الله تعالی ورله ورکړی دی

﴿ فَقَدْ ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ نو لکه چه څه رنګه مونږه آل دابراهیم ته چه اسلاف دمحمد صلی الله علیه وسلم دی انعامات ورکړی ووخکه چه په هغوکښي اهلیت اوصلاحیت وونودغه شان مونږه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته انعامات ورکړی دی ځکه چه پده کښي هم اهلیت اوصلاحیت وو اوچه څنګه مونږ ابراهیم علیه السلام ته حکومت اوبادشاهی ورکړي وه نودغه شان به حضرت محمد ﷺ اودده اتباعوته ورکوو ﴿ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ ﴾ په اهل کتابوکښي بعضي نیکان او انابت والا دی نوهغوئ ایمان راوړی په محمد ﷺ باندي اوبعضي ضد او دتعصب والا دی نوهغوئ ایمان نه راوړی.

﴿ صَدَّ عَنْهُ ﴾ ((صدّ)) لازمی هم رازی نومعنی ئی داده چه منع کیږی د ایمان نه. او متعدی هم رازی نومعنی ئی داده چه نورخلق منع کوی د ایمان نه

﴿ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴾ دا تخویف دي[1] او ((جهنم)) فاعل د ((کفی)) دي او ((سعیرا)) تمیزدي په معنی دمفعول سره ((اي مسعورة علیهم)) یعني بل کړي شوي په دوئي باندي

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا ۖ كُلَّمَا

بیشکه هغه کسان چه کفر ئي کړیدي په آیاتونوزمونږ زرده چه داخل به کړومونږ هغوئ لره اورته. هروخت

نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ ۗ

چه سیکوړي شي څرمني ددوئ بدلي به کړو دوئ له څرمني نوري دپاره ددي چه اوڅکی عذاب

[1] تخویف اخروی

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ۞ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

بېشکه الله دې زورآور حکمتونووالا اوهغه کسان[1] چه ايمان ئې راوړې دې اوعملونه کوي نېک

سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ط

ژر ده چه داخل به کړومونږ هغوئ لره جنتونوته چه بهيږي به لاندې دهغې نه ولې. همېشه به وي په هغې کښې همېشه.

لَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ ز وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ۞

وي به ددوي دپاره په هغې کښې بيبيانې پاکې اوداخل به کړو مونږ دوئ لره سورې همېشه راحت ورکوکې ته

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا تخويف اخروي دې په ترک دايمان ﴿نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا﴾ يعني دهرې سوزيدلې خرمنې په ځائ به بله خرمن ورکړو چه هغه به په صورت کښې دهغې نه بدله وي ليکن اصل ماده به يوه وي صرف صورت به بدل شوې وي. نودا سوال وارد نه شو چه هغه بلې خرمنې خو ګناه نده کړې نوهغه ولې سوزولې کيږي اوالله تعالى پدې هم قادر دې چه بغير دبدلولونه هميشه دغې ته عذاب ور کړي خوحکمت په بدلولو کښې دادې چه دالله تعالى ديوبل قسم قدرت اظهار اوشي. اودويم حکمت دادې چه کله خرمن بدله شي او نوې خرمن رابنکاره شي نوهغه ډيره تنکئ وي نوعذاب ورته زيات محسوسيږي.

﴿لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ﴾ مراد دوام دذوق دې ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا﴾ دا بشارت اخروي دې ﴿وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا﴾ ((ظليل)) صفت مشبه دې دلفظ د ((ظلا)) لپاره دَ مبالغه اوتاکيد. لکه طول طويل. يومٌ آيومٌ. ليلٌ أليل. که څوک **سوال** وکړي چه په جنت کښې خونمر نشته نوسورې به څنګه وې ، **جواب** دادې چه اګر که نمر نشته ليکن نُور شته دې. نوسورې دنور دې نه ده نمر. امام رازي رحمه الله وائي چه بلاد دحجاز ګرم دی اوسورې دهغوئ په نزدلوئ سبب د راحت دې نو ددې وجه نه سورې کنايه ده دهميش راحت نه نوکه څوک **سوال** اوکړي چه په جنت کښې خوګرمي نشته نو دسورې څه فائده ده. نو**جواب** دادې چه داشجار وغيره سورې نه کنلو کښې يو قسم لذت اومزه حاصليږي اګرکه دګرمي دفع کولو دپاره نه وي

---

[1] بشارت اخروي

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمْتُمْ

بېشکه الله حکم کوی تاسوچه اداکوئ امانتونه (حقونه) حقدارودهغي ته (اودافرمائي) کله چه فېصله کوئ تاسو

بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ

په مېنځ دخلقو کښې نوفېصله کوئ په انصاف سره . بېشکه الله - ډېرښه دې هغه څيز چه وعظ درکوی تاسونه

بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًۢا بَصِيْرًا ۝

په هغې . بېشکه الله دې اوريدونکې لېدونکې

دسورة دويمه حصه نهه [۱] احکام سلطانيه پدې حصه کښې دهغه احکاماتو ذکر دې چه دهغې تعلق د سلاطينو او وُلاتو او اصاحب اقتدار سره دې

اول حکم ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ ﴾ دا خطاب حکامو او اُمرائو ته دې «**خازن قرطبى وغيره**» حُکامو اوصاحب اقتدار طبقې ته حکم دې چه دحقدارو حقوق دخلقونه واخلئ اوحقدارو ته ئې اورسوئ او په عدل او انصاف سره فيصله کوئ اورعيت ته حکم دې چه ددغسې حکامو تابعداری کوئ اوپدوئ باندې خپلې فيصلې اومسئلې حل کوئ

﴿أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ يعنې رسوئ حقوق حقداروته. ددې آيت **د شان نزول** په باره کښې مفسرين وائی چه دا په حق دعثمان بن طلحه رضی الله عنه کښې نازل شوې دې. عثمان بن طلحه وائی چه په جاهليت کښې به دبيت الله چابيانې زما په لاس کښې وې نومابه دپير او د جمعرات په ورځ خانه کعبه کولاوه وله اوخلق به ورته داخيلول نويوه ورځ نبی صلی الله عليه وسلم تشريف راورلو بيت الله ته د داخيلدلو دپاره، «او پدغه وخت کښې عثمان بن طلحه نه وو مسلمان شوې» نوده نبی کريم صلی الله عليه وسلم منعه کړلو اوسختې سختې خبرې ئې ورته اوکړې نو نبی صلی الله عليه وسلم برداشت وکړو اوده ته ئې اوفرمائيل چه اې عثمان شايد چه ته به يوه روځ دبيت الله چابيانې زما په لاس کښې اووينې اوزما به اختيار وی چه چاته ئې حواله کوم. عثمان بن طلحه اووئيل که چرې داسې اوشول نوقريش به

[۱] دسورت دويمه حصه (احکام سلطانيه) دااول حکم دې يعنی حکام دې دحقدرانو حقوق دخلقو نه دوئ دپاره واخلی او رعيت دې دحکامو فرمانبرداری کوی اوپه دغه شان حکامو دې خپلې فېصلې کوی

هلاک اوذلیل شی. نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه قریش به آباد اوعزت مند شی.
نو عثمان اووئیل چه زه په زړه کښې په خپلو خبرو نادم شوم اود اسلام راوړلو اراده مې اوکړله خودقوم دیرې مې پوره نه کړله ، اوکله چه فتح مکه اوشوه نونبی صلی الله علیه وسلم دده نه چابیانې واغستلې اوپه بل روایت کښې دی چه حضرت علی رضی الله عنه دده دلاس نه چابیانې واغستې په زوره سره نودا آیت نازل شو، نونبی صلی الله علیه وسلم واپس چابیانې ورکړې اوورته ئی اوفرمائیل چه دابه همیشه تاسره اوستاخاندان سره وی اوکه څوک ئی تانه اخلی نوهغه به ظالم وی ((آه ، مختصراً)) ددې آیت شان نزول اګرکه خاص دې لیکن حکم ئې عام دې. مفسرین وائی چه پدې کښې هر حق داخل دې برابره خبره ده که حقوق الله وی اوکه حقوق العباد وې، اعتقادې وی اوکه قولی وی یافعلی وی نودا هر یوامانت او هر حق خپل حقدارته رسول ضروری دی، دارنګې امامت ، افتاء ، درس اوتدریس ،اوهره عهده ، ملازمت ،حقدارته رسول لازم دی. حتی چه بعضې علماء وائې چه ووټ هم یو امانت دې اوحقدار ته ورکول ضروری دې اوغیر مستحق ته ورکول خیانت دې اوبعضې مفسرینو مزید تشریح کړې ده چه ژبې ته د ژبې حق ورکول هم ضروری دی اوهغه داچه د دروغواوفحش ګوئی، غیبت، چوغلئ نه اوساتلې شی او دالله ذکر اوتلاوت او دخیر خبرې پرې اوکړې شی اودارنګې سترګوته دسترګو حق ورکول ضروری دی نو دغه شان ټولو اندامونوته دهغوئ حقوق ورکول اودالله تعالی په مرضی کښې استعمالول دهغوئ آمانات دی، اوددې نعمت شکریه هم ده نوبناپدې تشریح ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ ﴾ خطاب عام دې حاکم، محکوم، زوج، زوجه مالک، مملوک، استاد، شاګرد، ټولو ته خطاب دې، او امانات ورکول دتمامو هغه حقوقو اواوامرو پوره کول دی چه د هر هر کس سره متعلق دی.

﴿أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ﴾ عدل په لغت کښې برابروالی ته وائی او په عرف کښې مقابل د ظلم او زور ته وئیلی شی. دبل چا په حق کښې کمې کول تفریط دې او زیاتی کول افراط دې افراط اوتفریط دواړه ظلم او جور دې او د دې په مینځ کښې عدل دې او تعیین او معلومیت د دې په غیر د کتاب الله او سنت نه ممکن نه دې ﴿إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ﴾ دا د ماقبل دپاره په منزله د تعلیل دې. لفظ د ((الله)) اسم د ((ان)) دپاره دې او جمله د ((نعما)) ئې خبر دې. ((نعما)) په اصل کښې ((نعم ما)) دې ((نعم)) فعل دې، فاعل ئې ضمیر مبهم دې او ((ما)) ئې تمیز دې په معنی د ((شیئا)) سره یا ((ما)) په معنی د ((الشئ)) معرف سره دې او ((یعظکم)) صفت د موصوف

محذوف دیاره دي ((ای نعم الشئ شئ يعظكم به)) يعنى هغه شئ چه په هغې سره الله تعالى تاسو ته وعظ او نصیحت کوی هغه ډیر ښه شئ دي

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ

اې ایمان والو حکم منئ دالله اوحکم منئ درسول او دحاکمانو ستاسونه. نوکه اختلاف اوکړ

فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

تاسو په څه څیز کښې نو اوګرځوئ فیصله دهغې الله او رسول ته که یئ تاسو ایمان لرئ په الله او په ورځ

الْاٰخِرِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۝

دآخرت. دادیرغوره او ډیر ښاسته انجام والادي

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ حكم بالعدل بغير د كتاب او سنت نه ممكن نه دي نو ځکه حکم وشو چه ((**اطيعوا الله**)) د دې نه مراد کتاب الله دي او ((**واطيعوا الرسول**)) د دې نه مراد سنت د رسول الله دي او دا دواړه په شرع کښې مستقل دلیلونه دی نو دد ي وجه نه ئې دواړه ذکر کړل او ((**اطيعوا**)) ئې مکرر ذکر کړو ﴿ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ﴾ دلته ((اطيعوا)) په لفظ کښې مکرر نه دي ذکر شوي ځکه چه د اولوالامر اطاعت مستقل او مطلقا نه دي بلکه په دې شرط سره ضروری دي چه د الله تعالى او د رسول د حکم ماتحت او موافق وی ((مالم يؤمر بمعصية فاذا امر بمعصية فلا سمع ولا طاعة)) (**متفق عليه**)

د ((**اولوالاومر**)) **په تفسير کښې مختلف اقوال دی** (١) د دې نه مراد سلاطين. بادشاهان خلیفه ګان دی . لیکن د دوئ اطاعت مشروط دي په ((مالم يؤمر بمعصية)) سره (٢) امير د لښکر مراد دی لکه د بخاری شریف د يو روايات نه معلومیږی چه دا آیت د عبدالله بن حذافه او دده د ملګرو په حق کښې نازل شوي دي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه ملګرو ته تاکید کړي وو چه د امیر اطاعت کوئ نو دې غصه شو. او پل بل روایت ((د غير بخاری)) کښې دی چه مزاح ئې ملګرو نه حکم وکړو چه لرګی جمع کړئ نو هغوئ راجمع کړل او په هغې ئې اُور بل کړو نو امیر ورته حکم وکړو چه اوس ورداخل شئ دي اُور ته. نو بعضو اراده اوکړه دداخلیدو او بعضو انکار اوکړو نو بیا دا اور مړ شو او د امير غصه هم کمه شوې وه. نو نبی

کریم صلی الله علیه وسلم سره ده دا قصه بیان شو ده نو دوئ او فرمائیل ((لو دخلوها ماخرجوا منها الی یوم القیامة انما الطاعة في المعروف))

۳. علماء، فقهاء یعنی مجتهدین اُمت ترینه مراد دی. دا قول په نیز د مفسرینو راجح دی نو د امر نه مراد علم دین دي نو دوئ خاوندان د علم دین دی. پوهه دی په استنباط د حکمو د نصوصو نه. یعنی هغه احکام چه صراحه په قرآن او سنت کښي نشته یا په کښي احادیث متعارض دی نو د دغه شان احکامانو تلاش مجتهدین دقرآن او سنت د منصوصاتو نه کوی نو د دوی اطاعت او تابعداری په حقیقت کښي اطاعت دالله او د رسول دي. چونکه په ظاهر کښي دغه احکامات مجتهدینو ته منسوب دی نو په ظاهر کښي د دوئ اطاعت او تابعداری ده. او ددوئ اطاعت ځکه ضروری دي چه هر کس نه پوهیږی په استنباط داحکامو دنصوصو اونه هر څوک د احادیثو په مابین کښي دتطبیق یا د ترجیح صلاحیت لری نو دَ دي وجه نه دهغه چا اتباع ضروری ده چه صلاحیت لری.

(۴) امام رازی رحمه الله وائي چه د ((**اولوالامر**)) نه مراد اجماع دامت ده ځکه چه د اجماع معصومیت قطعی دي نو دهغي داتباع قطعی حکم پکار دي په خلاف د اُمراؤ او د سلاطینو نه ځکه چه معصوم ندی دخطاء نه . او همدارنګه ((**المجتهد قد یصیب وقدیخطئ**)) نو ددي وجه نه د دوئ اتباع حکم قطعا اومطلقًا نشی کیدي.

﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾ یعني کله چه ستاسو نزاع په یوه مسئله کښي راشی نو دهغي دحل دپاره رجوع اوکړئ کتاب الله اوسنت د رسول الله ته. منکرین دقیاس استدلال کړي دي په دي آیت سره چه قیاس حجت شرعی ندي ځکه چه الله تعالی په دي آیت کښ حکم کړي دي درجوع کولو کتاب الله اوسنت ته. نه قیاس کولوته. که قیاس حجت وي نوالله تعالی به حکم کړي وي درجوع کولو قیاس ته. نوددي **جواب داد ي** چه دا آیت دلیل په نفی دقیاس ندي بلکه دا دلیل دي په اثبات دقیاس باندي. بلکه دا آیت متضمن دي تمام ادله شرعیو لره

﴿فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ﴾ دا دحجیت دکتاب الله بیان دي او په ﴿وَٱلرَّسُولِ﴾ کښي حجیت دسنت دی. او رد الی الکتاب والسنة قیاس دي. ځکه علة القیاس مستنبط وی. یادکتاب الله نه یا د سنت درسول نه. نوقیاس رد الی الکتاب والسنة دي بل شئ ندي او د ﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ﴾ نه

معلومه شوه که چرې نزاع نه وی نوعمل به په متفق علیه باندې کیږی اودغه اجماع ده ﴿إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ﴾ دا تاکید د ماقبل دې ﴿ذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾ دا اشاره ماقبل ته ده یعني الله تعالی او اولو الامرخیر دې. دخیر نه مراد اصلح دی ﴿وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ او ډیر ښائسته انجام. یعني په اطاعت دالله اودرسول اود اولوالامر کښې ستاسو دپاره ډیره اصلاح ده او انجام ئې هم ډیر ښائسته دې. نومعلومه شوه چه د اولوالامر اتباع نه کولوکښې اصلاح هم نشته او انجام ئې هم ښائسته نه وی. دتاویل معنی ده انجام اومآل او دزجاج نه مروی دی چه رد الی الکتاب والسنة احسن دې ستاسو دهغه تاویل نه چه په کښې رد الی الکتاب والسنة نه وی (روح) رد الی الکتاب والسنة بعینه قیاس دې نو تاویل پدې تقدیر سره په معنی دبیان المراد من اللفظ سره دې او په اول تقدیر سره تاویل په معنی دعاقبت اوانجام سره دې او تاویل پدې دواړو معنو کښې حقیقت دې

فائده بعضې غیر مقلدینو دامام زجاج داقول نیم ګړې ذکر کړې دې چه کتاب اوسنة نه رجوع کول ښائسته دی ستاسو تاویلاتونه، حالانکه د زجاج پوره کلام هغه دې چه مونږه ذکر کړلو. او په تفسیر د «**فان تنازعتم فی شئ**» کښې داسې وائی چه «الفاظ د آیت او اقوال د محققینو . مفسرینو صریح دلالت کوی چه خطاب عام دې اوهر چه مقلد دې نو په هغه باندې الله تعالی دمسئلې اودلیل تحقیق کول واجب کړی دی په دلیل ددې آیت سره

چه ﴿فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ ځکه چه علم مسئله ده سره ددلیل شرعی نه نوهر کله چه مقلد ته علم ددلیل حاصل وی نودغه وخت کښې کله تنازع دمجتهد سره پیداکیږی «انتهی». لوئ مفسر اومحقق علامه الوسی رحمه الله وائې چه ((ولاشک ان هذا انمايلائم حمل اولوالامر على الامراء دون العلماء لان الناس والعامة منازعة الامراء فى بعض الامور وليس لهم منازعة العلماء اذالمراد بهم المجتهدون والناس ممن سواهم لاينازعونهم فى احكامهم)) اودا قول هم قابل تعجب دې چه الله تعالی په مقلد باندې دمسئلې اودلیل وضاحت واجب کړې دې په دلیل د ((فاسئلوا اهل الذكر)) سره ځکه دلته خوالله تعالی په مقلد باندې داهل الذکر نه سوال اودهغه اتباع لازم کړې ده نو بیا دمقلد تنازعه دمجتهدسره څرنګه پیداکیدې شی نود نص ((فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون)) مدلول اودعقل مقتضی داده چه څوک پوهه نه وی نود پوهه اتباع دې کوی. نه چه نزاع دې ورسره کوی ځکه د ((لایعلمون)) نزاع د ((اهل الذكر)) سره خلاف

دمقتضی دعقل اودنص نه ده او د تقلید حاصل هم دادې چه څوک قدرنه وی په استنباط دجزئیاتو دنصوصو او په احادیثو متعارضوکښې دتطبیق یا د ترجیح صلاحیت نه لری نوهغه دې دهغه چا اتباع کوی چه هغه دغې صلاحیت لری اوچونکه مجتهد ددې صلاحیت لری نولهذا په هغه لازم دی معلومول دمسئلې ددلیل نه اوجائز ندی ورلره تقلید دبل مجتهد په خلاف دمقلد نه (صرح به الفقهاء) اوهر چه ددی دموجوده زمانې غیر مقلدین چه عوام بلکه اکثر ملایان ئې دعربی دعبارة دقواعدومطابق دصحیح لوستلوصلاحیت نه لری نو دوئې دخپلو مشرانو ړوند تقلید کوی اود سلف صالحینو تقلید ته ناجائز اوشرک وائې. اومشران اواکابر علماء ئې د اجتهاد او داستنباط صلاحیت نه لری نو په خپل فهم سره چه دقرآن اوحدیث څه مفهوم بیان کړی نوهغې ته کتاب اوسنت وائې اودسلف صالحینو بیان کړې مفهوم اوتشریح دکتاب الله اودحدیث مقابل ګرځوی چنانچه دوئ لیکی چه

فائده: بعضې مقلدینو پدې آیت سره دلیل نیولې دې دتقلید داثبات دپاره چه پدې آیت کښې امر دې اطاعت دالوالامرباندې، اوهغه علماء مجتهدین دی لیکن دا استدلال ئې ډیر کمزورې دې دډیرو وجوهو نه **اوله وجه** داده چه اطاعت غیر دې د تقلید نه اوپدې کښې ذکر داطاعت دې ..... آه. **جواب** بیشکه الفاظ اولغوی معنی غیر دی لیکن مصداق ئې غیر ندې **والا فعلیکم البیان، اودویمه** وجه چه مخ کښې ذکر شوچه د اولوالامر اطاعت ئې مستقل ندې ذکر کړې بلکه ددوئ اطاعت د الله اودرسول داطاعت دلاندې داخل دې. ((**جواب** هر کله چه اطاعت ثابت شو اوضروری شو نو بیا ئی اطاعت ضروری شو نو تقلید ثابت شو)) یعنی چه اولوالامر په قرآن اوسنت سره قول اوعمل کړې وی نوهله به دهغه اطاعت کیږی ((آیا مجتهدینو قرآن اوسنت پریخودلې دې اودهغوئ قول اوعمل دقرآن اوسنت مقابل دې؟)) **دریمه وجه** داده چه اطاعت د اولوالامر ئی مشروط کړې دې چه په وخت د تنازع کښې قرآن اوسنت ته رجوع لازم ده اودا خلاف دې دمعنی د تقلید نه ((**جواب** د اولوالامر د اطاعت حکم اوبیا ورسره دتنازع حکم عجیبه دې)).

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ

آیا [1] نه ګورې هغه کسانوته چه دعوی (خودا) کوی چه دوئ ایمان راوړې دې په هغه څه چه نازل کړی شویدی تاته

[1] زجر منافقینو ته چه فیصله درسول ئې کافی نه ګڼرله.

وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ

او په هغه كتابونو چه نازل كړې شوي دي مخكښې دستانه. اراده لري چه فيصله يوسي شيطان ته

وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ

اوحال داچه دوئ ته حكم كړې شوې وو چه دوئ دې انكار كوي دفيصلې دهغه نه. اواراده لري شيطان

اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝

چه گمراه كړي دوئ لره په گمراهئ لرې سره

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ﴾ داد ﴿أَطِيعُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا ٱلرَّسُولَ﴾ سره متعلق دي اومنافقينوته زجر دې چه په خوله باندې دعوى دايمان كوي اوعمل ئې ددوئ ددعوې نه سراسر مخالف دې. ددې آيت په **شان نزول** كښې حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه نقل دى چه يو منافق چه نوم ئې بسر وو بظاهر كلمه گو مسلمان وو ديهودى سره ئې جگړه وه نو يهودى او دهغه متعلقينو منافق ته اوئيل چه فيصله په نبى عليه السلام باندې كوو دا ځكه چه دده يقين وو چه نبى عليه السلام به دحق فيصله كوى او رشوت به نه اخلى. نومنافق اوئيل چه فيصله به ديهوديانو په سردار كعب بن اشرف باندې كوو «دا ځكه چه هغه رشوت اخستلو اوپه ناحقه به ئې فيصله كوله اودغه منافق هم په ناحقه باندې وو» خو بالاخر فيصله نبى عليه الصلوة والسلام ته پيش شوه. نونبى عليه الصلوة والسلام ديهودى په حق كښې فيصله اوكړه نومنافق په دې باندې راضى نه شو. په قرطبى كښې دى چه بيا فيصله حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته پيش كړې شوه نوهغه هم ديهودى په حق كښې فيصله اوكړه. نو بيا هم منافق راضى نه وو. او يهودى ته ئې اووئيل چه فيصله به په حضرت عمر رضي الله عنه باندې كوو. دمنافق داخيال وو چه دا حضرت ظاهر مسلمان يم نوحضرت عمر رضى الله عنه به زما په حق كښې فيصله اوكړي. اوزما به رعايت اوكړي. نوكله چه لاړل دواړه حضرت عمر رضى الله عنه ته پيش شو. نو يهودى اوئيل چه ددې مقدمې فيصله رسول الله اوابوبكر صديق دواړو زما په حق كښې كړې ده ليكن بسر په هغې راضى ندې نوحضرت عمر رضي الله عنه ترينه تپوس اوكړو چه آيا دغه شان قصه ده. نومنافق اقرار اوكړلو چه هو. نو بيا حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه تاسو دلته كينئ زه راځم. اولاړ اوخپله توره ئې را واغستله او دمنافق سر ئې قلم كړلو. او وې فرمائيل څوك چه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فیصله باندې نه راضی کیږی نو د عمر فیصله بیا د هغه په حق کښې داده. نوبیانورو منافقانو دمقتول په باره کښې دقصاص اویا د دیت مطالبه اوکړله اوعذر نې پیش کړلو چه دبشر مقصود اصلاح اوجوړخت وو نوپدې وجه دا آیاتونه نازل شول

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ ﴾ ((زعم)) قول باطل ته هم وائي ((غلطه دعوی)) او اعتقاد باطل ته هم وائي. یعنې دوئ دا دعوه کوی چه مونږه ایمان لرو په قرآن باندې او په هغه کتابونو باندې چه دقرآن نه مخکښې نازل شوی دی یعنې تورات. اکثرمنافقین په یهودوکښې وونودوئ زبانی دا دعوه وه چه مونږه لکه څنګه چه توراة منو نو دغه شان قرآن

هم منو یعنې دوئ خو د اسلام مدعیان دی خو ددې با وجود ﴿ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ ﴾ اراده اوعزم لری چه فیصله شیطان (کعب بن اشرف) ته یوسی نوغیر شرعی فیصله د شیطان حرکت

اوتعلیم دې . نو غیر شرعی فیصله کول شیطان طرفته فیصله وړل دی ﴿ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ ﴾ دا جمله حالیه ده یعنی حالانکه دوئ دپاره دا جائز نه وه د دوه وجوهو نه . اول دا چه دوئ ته حکم شوې ووچه دوئ دې په شیطان کفر اوکړی یعنی په اعتقاد اوعمل دواړو سره دې ترینه مخالفت وکړی نو هغه ته فیصله وړل ددې حکم خلاف کول دی

اودویمه وجه داده چه : ﴿ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ ﴾ چه شیطان خو داسې دشمن دې چه انسان دحق لارې نه لرې کوی اوګمراهی ته ئی رسوی، مفسرین وائی چه ددې نه واضحه معلومه شوه چه په غیر شرعی قانون باندې فیصله کول (په خپل اختیارسره) یا کفر دې یاګمراهي ده

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ

اوکله چه اوونیلې شي دوئ ته چه راشئ هغه کتاب ته چه نازل کړیدې الله تعالی اوراشئ رسول ته نووینې ته

ٱلْمُنَـٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ۝٦١ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَـٰبَتْهُم

منافقینولره اعراض(څنګ) کوی ستانه په اعراض کولوسره پس څنګه حال به وی کله چه اورسیږی دوئ ته

مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ

مصیبت په وجه دهغه عملونو چه مخکښې لیږلی دی لاسونو ددوئ بیاراشی دوئ تاته قسمونه خوری په الله

اِنْ اَرَدْنَاۤ اِلَّاۤ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ۝

چه مونږ اراده نه وه کړې مګر د احسان (صلح) او دجوړخت

﴿ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ ﴾ يعنى كله چه دوئ ته دعوت داتباع دقرآن اوسنت وركړې شي نومنافقين ترينه اعراض كوى ﴿ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ ﴾ دابيان دقباحت دحال دمنافقينو دې اود ﴿ مُّصِيْبَةٌ ﴾ نه مراد واقعه دقتل دحضرت عمر رضي الله عنه ده يا ترينه مراد ظهور دنفاق ددوئ دې ﴿ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ﴾ يعنى دوئ د دروغو عذرونه او د دروغو قسمونه كوى چه مونږ د اصلاح اودجوړښت دپاره راغلي يو او دشرعي فيصلې نه انكارنه كوو

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ

داهغه كسان دي چه پوهه دې الله په هغه څه (نفاق) چه په زړونو ددوئ كښې دى، نوپس ته اعراض اوكړه ددوئ نه

وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًاۢ بَلِيْغًا ۝

اووعظ كوه دوئ ته اووايه دوئ ته په باره د نفسونو ددوئ كښې خبره اثرناكه

﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ ﴾ دا ددوئ دعذر او دتاويل رد دې چه الله تعالى عالم دې چه ددوئ په زړونوكښې نفاق ، اسلام دشمنى او غصه ده نو ﴿ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ نو ددوئ داعذرونه مه قبلوه يا دا چه ددوئ دباطن راز مه ښكاره كوه ځكه دا كله دشر دزياتوالى سبب ګرځى او په ضد اونفاق باندې زيات مضبوط شى ﴿ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ﴾ يعنى او وايه دوئ ته قول بليغ. نهايت مؤثر په حالت ديواځې والى كښې نو «**في انفسهم**» په معنى دخلو اود يواز والى دې يا معنى دا ده چه په باره دنفسونو ددوئ كښې چه په هغې كښې ئى نفاق پټ ساتلې دې يا «**في انفسهم**» د «**بليغا**» سره متعلق دې خودا په نزد دكوفيانوجائزدې يعنى تقديم دمعمول دصفت مشبه ((**اى قولابليغا مؤثرافى قلوبهم**)) .

وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ

اوندې لېږلې مونږ هيڅ رسول مګر دپاره ددې چه تابعداري اوكړې شي دهغه په حكم دالله سره. اوكه داخلق

إِذ ظَّلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ

كله چه ظلم اوكړو دوئ پخپلو ځانونو تاته راغلي وي اوبخښنه يې غوښتې وي دالله نه اوبخښنه غوښتې وي

لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾

دوئ لره رسول نوخامخا به ئې موندلې وې الله لره توبه قبلونكې اورحم كونكې

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ﴾ دا ترغيب دې په اطاعت درسول باندې يعنې درسول دبعثت مقصد صرف اطاعت وى ﴿إِلَّا لِيُطَاعَ﴾ دا استثناء مفرغه ده ((اى وما ارسلنامن رسول لشئ من الاشيآء الاليطاع)) ﴿بِإِذْنِ ٱللَّهِ﴾ ((اذن)) په معنى د ارادې اويا توفيق سره دې يعنې اطاعت صرف هغه څوک كولې شى چه الله تعالى توفيق وركړې وى اودالله تعالى د ارادې او دتوفيق نه بغير څوک اطاعت نشى كولې.

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ﴾ منافقينو چه كومه طريقه دمعذرت پيش كړې وه چه ددروغو قسمونه وؤ نو هغه موجب دنجاة نده بلكه موجب دهلاک ده اوكوم معذرت چې موجب دنجاة دې نو هغه پدې آيت كښې ذكر كيږى اوهغه داچه دوئ دخپل قصور اقرار يې كړې وې اونبى كريم صلى الله عليه وسلم ته حاضر شوى وې اوپخپله ئى هم دالله تعالى نه معافى غوښتلې وې اونبى كريم صلى الله عليه وسلم هم ددوئ دپاره معافى غوښتلې وې نو الله تعالى به ضروربالضرور دوئ ته معافى كړې وه، نوپدې آيت كښې دتوبې دقبليدلو او د دوئ معاف كيدلو دپاره داشرط ذكرشوې دې چه دوئ دنبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شى اونبى دې ددوئ دپاره مغفرت اوغواړى، ددې وجه داده چه دوئ دنبى كريم صلى الله عليه وسلم فيصله اونه منله اوبې اعتمادى ئى ظاهره كړله په نبى صلى الله عليه وسلم باندې نودا سبب د ايذاء درسول الله صلى الله عليه وسلم وؤ نوددې جرم دوجه نه توبه بغير ددغه شرط نه نشى كيدې اودبل چا د جرم دپاره دغه شرط نشته دې. البته اخلاص ورلره شرط دې

فائده دجمهور علماؤ قول دادې چه درسول الله روضې مبارك كې ته حاضرى كول او زيارت ته تلل سعادت عظمى اودلوئ خير او بركت او اجر اوثواب ذريعه ده. اوهمدارنګې استشفاع ((طلب دشفاعت)) د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه په زمانه دحياة برزخى كښې

جائز دي او دینه ناجائز ویل دبعضي حضراتو تفرد دي اوشرک اوبدعت ورنه ویل افراط او غلو ده. اوددي آیت په ضمن کښې امام قرطبی، ابن کثیر په حواله دیوجماعت دمحدثینو او نورو محققنواومفسرینو واقعه د اعرابی ذکر کړې ده اورد او تنقید ئې پرې ندې کړی نودینه معلومیږی جواز داستشفاع من النبی صلی الله علیه وسلم په نیز د دوئ. نوکه بالفرض دا حضرات دشرک اودبدعت مرتکب وې نونعوذ باالله بیا ده دوئ په قول باندې اعتماد پاتې نه شواودوئې نه اخذ دتفسیر په هیڅ ځائ کښې ندې پکار برابره خبر ه ده که دچا رائ سره موافق وی اوکه نه وی. البته تحقیق کول اوترجیح ورکول داهل علم فریضه ده او دعلمی ذوق مقتضی ده او د ادب دائرې نه وتل سبب دخسران اود آخری خاتمې خرابیدو ذریعه ده. الله تعالی دې زمونږه حفاظت اوکړی

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا

پس ندی مؤمنان اوستاپه رب قسم چه نشی مؤمنان کېدې ترڅوچه تا حاکم اونه منی په هغه معامله کښې

شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ

چه پېدا شوې وې په مینځ ددوئ کښې اوبیا نه مومی پخپلو زړونو کښې خفګان دهغه فېصلې نه چه تاکړې وی

وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ۝ وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ

اوپه خوشئ سره اومنې ستافېصله په همېشه منلوسره اوکچرې فرض کړې وې مونږدوئ باندې په اطاعت درسول کښې

اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ

داچه قتلوئ خانونه خپل یا اوځئ دکلوکورونو خپلونه. نه به ووکړې داکار مګرلږ کسانو ددوئ نه

وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ

اوکچرې دوئ کړې وې هغه کار چه وعظ کولې شي دوئ ته په هغې سره نوخامخابه وو دېرغوره دوئ لره

وَ اَشَدَّ تَثْبِيْتًا ۝ وَّ اِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝

اوډېرزیات کلکونکي په دین اودغه وخت خامخا به ورکړې وو مونږ دوئ ته دطرف خپل نه اجرلوئې

وَلَهَدَيْنَٰهُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ۝

اوخامخا به پاخه کړي وي مونږ دوئ په لاره نیغه

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ ﴾ هرکله چه منافقینو دایمان دعوه کوله نوپدې آیت کښې دایمان درې شرائط بیان شوی دی چه که دا درې شرائط په چاکښې نه وی نومسلمان نشی کیدې. اول دا چه ﴿حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ﴾ چه تالره حکم اوفیصله کونکې اومنی.

دویم دا چه ﴿ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا﴾ چه په زړه کښې به ئی شک اوتنګی نه وی په باره دفیصلې درسول الله صلی الله علیه وسلم کښې بلکه یقین ئی وی چه فیصله د رسول الله صلی الله علیه وسلم بالکل حقه ده، اوبعضې وائی چه د ((حرجًا)) نه مرادخفګان دې یعنی که فیصله ددوئ خلاف اوشی نودوئ به ناراض نه وی، اودریم شرط دادې چه ﴿ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ چه دیقین راتلونه وروستو د ضداوعناد دوجه نه د حکم خلاف هم اونه کړی. نوکه دچا په زړه کښې تصدیق اویقین په حقیت دحکم درسول الله باندې وی اوضداوعناد دوجه نه ئی نه منی نودغه کفر جحودی دې، په ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ ﴾ کښې تاکیدات دی. حرف د ((لا)) ذکر کول قسم.تکرار، اواضافت درب ضمیر ته په طریقه دخطاب سره پدې کښې اشاره ده چه الله تعالی پدې حکم کښې دخپل صفت دربوبیت اظهار کوی اودخپل نبی دشان حفاظت کوی.
اولفظ د ((لا)) په ((فلا وربك)) کښې بعض وائی چه زائد دې دتاکید دنفی دپاره دې یا دتاکید دقسم دپاره دې اوبعضې وائی چه دپاره دنفی د زعم دمنافقینودې ((ای لاالامر کمازعم المنافقون من ادعاء الایمان والتحاکم الی الطاغوت)) اوحضرت شیخ رحمه الله فرمائې چه د ((لا)) مدخول مقدر دې او په کلام کښې تکراردې دتاکیددپاره نوتقدیر دعبارت دارنګې دې ((فلایؤمنون وربک لایؤمنون)) یعنی دوئ مؤمنان ندې اوستا په رب مې دې قسم وی چه دوئ مومنان ندې ترڅوپورې چه تالره حَکَم او فَیصَلْ اونه منی ﴿فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ﴾ ((شجر)) په معنی د ((اختلف)) او ((اختلط)) سره دې نو دا ماده په اختلاط اواختلاف دلالت کوی نو ونې ته شجر ځکه وائې چه د دې څانګې د یوبل نه مختلفې وی او په یوبل کښې ننوتې وی. دغه رنګې کجاوه ((هَودج))، لرګې . لختې چه کجاوه ترینه جوړه شوی وی نوهغې ته ((شِجار)) وائې ځکه

چه ،هغې لختې هم په يوبل کښې داخلې شوی وی ،قرطبی، . مفسرينودې آيت نه دليل گرخولې دې په عصمت د نبی صلی الله عليه وسلم باندې د هرگناه نه څکه چه الله تعالی په مونږ باندې د هغه دهر حکم اتباع او انقياد باطنی اوظاهری لازم کړې دې. نومعلومه شوه چه د ده په اعمالواو اقولو کښې هيڅ قسم شائبه د گناه نشته. ﴿وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ﴾ دا زجردې چه اطاعت د رسول خو آسان کار دې اوکه مونږه پدوئ مشکل کار فرض کړې وې نو

﴿مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ﴾ ((قليل)) په رفع سره بدل دې د ضمير د ((فعلوه)) نه اودا راجح دې په نزد د نحويانو باندې او نصب هم جائز دې بنا بر استثناء.. ددې آيت **په شان نزول** کښې روايت دې چه کله ((بشر)) منافق په ظاهر کښې کلمه گو مسلمان وو او د نبی صلی الله عليه وسلم د فيصلې نه ئی اعراض اوکړواو واقعه د قتل د هغه راغله ((کما مر تفصيله)) نو يهوديانوطعن اوکړلو په مسلمانانوباندې چه تاسو مسلمانان د خپل نبی فيصله نه منئ اومونږه يهوديانوته چه کله نبی موسی عليه السلام د يوبل دقتلولو حکم اوکړلو نو مونږه ددغه سخت حکم تعميل وکړو حتی چه مونږ کښې اويا زره کسان قتل شول. نوپدې آيت کښې ددې طعن جواب اوشو. اوضمير د ((عليهم)) اود ((منهم)) راجع دې عامو خلقوته چه شامل دې مومنانو. منافقانو کافرانو ټولوته نود ((قليل)) مصداق صرف مخلصين دی څکه چه مخلصين اگرچه کثير وی فی نفسه ليکن قليل دی په نسبت سره منافقينواوکافرانوته. نوددې **جواب** حاصل دادې چه اطاعت نه کول او انقياد نه کول دا د منافقينوکاردې اومخلصين انقياد اواطاعت کوی اوکله چه دا آيت نازل شو نوصحابه کراموا وئيل ((ابوبکر. عمار بن ياسر، ابن مسعود. ثابت بن قيس. مقداد وغيره رضی الله تعالی عنهم نومونه په رواياتوکښې راغلی دی، که چرې مونږ ته الله تعالی حکم اوکړی چه د خپل ځان د قتلولو يا د وتلو د خپل ملک او د کورونو نه نومونږه به خامخا دغه شان کړی وو ليکن ((الحمدلله الذی عافانا)) نونبې صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ((ان من امتي رجالا الايمان اثبت في قلوبهم من الجبال الرواسي)) ترجمه زما په أمت کښې داسې خلق دی چه ايمان د هغوئ په زړونو کښې زيات مضبوط اوکلک دې د محکمو غرونونه. په بعضې رواياتوکښې دی چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل که چرې داحکم نازل شوې وې نو په خدائ مې دې قسم وی چه د ټولونه به اول ما پدې حکم خپل ځان اوخپل اهل بيت قربان کړی وو. نونبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ((صدقت يا

((بابكر)) چه نه رشتيا وائي اي ابوبكر ' اوبعضي وائي چه ضمير د ((عليهم)) او ((منهم)) منافقينو ته راجع دي. يعنى كه چري دوئ ته داحكم شوي وي نوپدې كښې به لږ كسانوصرف د ريا او د سمعة دپاره كړي وو دا توجيه ضعيفه ده. اوبعضي وائي چه پدې آيت كښې بيان د كمال د لطف د الله تعالى دي پدې امت باندي نوضميرمومنانوته راجع دي پدي شان كه الله تعالى پدې امت باندي دا فرض كړي وي چه تاسوخپل ځان قتل كړئ نوډيرولږ وكسانوبه ځان قتل كړي وي اودكثيردقتل موقعه به نوي راغلي په شان دبنى اسرائيلو بلكه الله تعالى به په خپل لطف اوكرم سره دلږو كسانوقتل دقبول دتوبې دپاره كافى كړي وې او د ډيرو قتل ته به ئې نه وې پرېښي خودلې. ځكه چه د الله لطف اوكرم پدې أمت باندي زيات دي اوپدې أمت كښې مخلصين زيات دى او په بنى اسرائيلوكښې كم وو ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا﴾ پدې كښې ترغيب دي اطاعت درسول ته چه د ده اطاعت كښې د دنيا او آخرت خير دي ﴿وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا﴾ يعني اطاعت سبب د پوخ والى اوكلك والى دي په ايمان باندي او اطاعت سبب د خير هم دي او د بقاء دخيرهم دي اودا دواړه څيزونه مطلوب دانسان دى ﴿أَجْرًا عَظِيمًا﴾ دآخرت خير ﴿وَلَهَدَيْنَٰهُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا﴾ مراد ددينه ثبات اوكلك والي دي په صراط مستقيم باندي

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ

اوچاچه [1] تابعدار اوكړه دالله او درسول نوپس دغه خلق به ملګرى وى دهغه كسانو چه انعام كړېدې الله

عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُو۟لَٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾

په هغوئ باندې چه پيغمبران دى اوډېر رېښتني دى اوشهيدان دى اوصالحان دى. اوښه دي دوى ملګري

ذَٰلِكَ ٱلْفَضْلُ مِنَ ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمًا ﴿٧٠﴾

دا فضل دي دالله دطرفه، اوبوره دي الله پوهه په هرڅيز باندي

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ﴾ دا بشارت دي په اطاعت باندي اوتفصيل د اجر عظيم دې، ددې آيت **په شان نزول** كښې ابن كثير وغيره متعدد روايات د حضرت عائشه

1 بشارت

رضی الله عنها نه نقل کړی دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي چه یو صحابي د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړلو چه یارسول الله زما په زړه کښې ستا محبت د خپل ځان نه هم زیات دې او د خپلې بی بی او د اولاد نه هم زیات دې. او په بعضو اوقاتوکښې «ستاسو د عشق اومحبت په وجه» زه بې آرامه شم نوچه کله ستاسو زیارت اوملاقات اوکړم نو آرام راته حاصل شی. لیکن ماته فکر ددې خبرې د ې چه تاسو به د دنیا نه انتقال کوئ اوما نه به هم مرگ راځی خوتاسو به په اعلی علیین جنت کښې یئ اوماته خو اول دا معلومه نده چه آیا جنت به راته ملاؤشی اوکه نه. نوکه ملاؤ شی نوبیا به زما درجه اوستا درجه کښې ډیر فرق وی او زما درجه به ستا د درجې نه ډیره ادنی وی. نوملاقات به نشی کیدې نوماته به څنگه صبر او آرام حاصل شی، نونبی کریم صلی الله علیه وسلم پخپله جواب ورنکړو تر دې چه دا آیت نازل شو اونبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه صحابی ته بشارت ورکړلو چه د مراتبو باوجود به دملاقات موقعه ملاویږی نوهغه ډیر خوشحاله شو. یو شاعر څه ښه ویلی دی

چه دلبر په کښې لیدې شی دا محشر اختر زما دې

او د معیت نه مراد مساوات ندې بلکه ملگر تیا اویواځای کیدل اوملاقات ترینه مراد دې اودا په عالم برزخ کښې هم دې لکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وخت د وفات کښې اویل ((مع الذین انعم الله علیهم)) او په بل روایت کښې دی ((اللهم الرفیق الاعلی)) او په احادیثوکښې د جدید مړی د روح ملاقات د پخوانی مړی د روح سره اوتپوسونه د حال د جوندو ترینه ثابت دی. اودارنگې مرافقت اوملاقات په جنت کښې هم ترینه مراد دې او په جنت کښې د یوبل د ملاقات او زیارت متعدد صورتونه کیدې شی. یوداچه هرڅوک به په خپل خپل مقام کښې وی او د یوبل به دیدار اوملاقات کوی لکه په مؤطا اما م مالک کښې په روایت د ابو سعید خدری رضی الله عنه منقول دی چه جنتیان به دخپل جنت دریچونه اوچت طبقاتو واله داسې وینی لکه په دنیاکښې چه تاسوستوری وینئ. اوبل صورت داکیدې شی چه اعلی طبقاتو واله به لاندې راکوز شی. اودریم صورت دادې چه ادنی درجاتو والا د اعلی درجاتو والا د ملاقات دپا ره به ځی اعلی طبقاتو ته، ددې ماقبل تفصیل نه معلومه شوه چه د معیت معنی یوځای کیدل .اوملاقات اوملگرتیاده لکه چه د ﴿وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا﴾ نه معلومیږی. ددې نه مراد مساوات ندې او نه شرکت په وصف د نبوت کښې مراد دې. نو د

قادیانی ملعون استدلال پدې آیت سره باطل شو . ملعون داسې وائې چه ددې آیت مطلب دادې چه څوک اطاعت د الله او د رسول کوی نو هغه په صفت د نبوة کښې د د انبیاءُ سره شریک شو او په صفت د صدیقیت کښې د صدیقینوسره شریک شو او په صفت د شهادت کښې د شهداؤ سره شریک شو او په صفت د صالیحیت کښې د صالحینوسره شریک شو نوڅوک چه په وصف د نبوة کښې شریک شی نوهغه نبی اوګرځی لکه څرنګه چه صدیق او شهید او صالح ګرځی **جواب** د ماقبل تفصیل نه معلومه شوه چه د معیت نه مراد اشتراک ندې په وصف د نبوة کښې بلکه ملګرتیا اوملاقات ترینه مراد دې او په اطاعت د الله رسول سره معیت د انبیاؤ ملاویږی اونبوة نه ملاویږی ځکه چه نبوة وهبی امر دې کسبی ندې چه په کسب سره حاصل شی. البته په اطاعت سره صدیقیت اومعیت د صدیقینو سره اودارنګې شهادت اوصالحیت ملاویدې شی ځکه دا کسبی اموردی اوددې وجه نه په سورة حدید آیت نمبر ۱۹ کښې داسې ذکر دی ﴿وَالَّذِينَ ءَامَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمْ﴾ او ((هم النبیون)) ئې ندی ویلی ځکه نبوة په کسب سره نه حاصلیږی اودلته ئې ((مع النبیین)) ویلی دی ځکه په اطاعت سره معیت د انبیاؤ حاصیلیږی نه نبوة .

﴿مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ﴾ پدې کښې دوه قوله دی :یو دا چه صفات د یو موصوف دپاره دی یعنی انبیاء علیهم السلام ځکه هرنبی لره چه څنګه وصف د نبوة ثابت دې نو دارنګې هر نبی صدیق هم دې، دحضرت ابراهیم په شان کښې واردی ﴿إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا﴾ دارنګې هر نبی شهید دې لکه په سورة نحل آیت نمبر ۸۹ کښی دی چه ﴿وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِى كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ﴾ دارنګې د عیسی علیه السلام په شان کښې راغلی دی ﴿وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ سورة آل عمران . آیت نمبر ۴۶

نوبناپدې قول باندې دلته د ((منعم علیهم)) نه صرف انبیاء مراد دی. **دویم قول** دادې چه دا جدا جدا ذواتو دپاره دی نودا څلورجماعتونه دی، نودنبیینوڅوتعریف واضح دې. ددې نورو په تفسیر کښې متعدد اقوال دی (۱) په ((صدیقین)) کښې درجې د ابوبکر رضی الله تعالی عنه ته اشاره ده او په ((شهداؤ)) سره حضرت عمر ، حضرت عثمان ، حضرت علی رضی الله عنهم

نه اشاره ده او په «الصالحين» كښې باقي ټولو صحابو ته اشاره ده نو بنا پدې قول باندې دمنعم عليهم نه مراد انبياء اوصحابه دي

۲. دا مراتب په اعتبار دقرب الهي اومعرفت الهي سره دي نو اوله درجه د انبياؤ ده نو د دوئ مثال داسې دې لکه چه څوک دقريب نه يوشي وينې ﴿ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴾ او «صديقين» په معرفت كښې انبياؤ ته قريب وي. ددوئ مثال داسې دې لکه چه څوک دلرې نه يوشې وينې. دحضرت على رضي الله عنه نه چا تپوس اوکړو چه آيا تا الله تعالى ليدلې دې؟ نو دوئ اوفرمائيل چه زه خو دداسې ذات عبادت نه کوم چه مانوى ليدلې بيائې اوفرمائيل چه الله تعالى خو دخلقو سترګو ندې ليدلې ليکن د دوئ زړونو د ايمانى حقيقت په ذريعه سره ليدلې دې . ددې ليدلونه مراد علمي معرفت والا ليدل دي او «شهداء» چه مقصود ددلائلو په ذريعه سره پيژنی اومشاهده ورنه نه وی حاصله ددوئ مثال داسې دې لکه چه څوک په آئينه کښې يوشې وينې دقريب نه لکه حارثه رضي الله عنه فرمائې چه ماته داسې محسوسيږى چه زه دخپل رب عرش وينم. په ((ان تعبدوالله كانك تراه)) كښې دېته اشاره ده او «صالحين» هغه دي چه مقصود دتقليد اواتباع په ذريعه سره پيژنی او ددوئ مثال داسې دې لکه چه څوک دلرې نه يوشې په آينه کښې وينې. ((فان لم تكن تراه فانه يراک)) كښې دېته اشاره ده «روح ، معارف»

(۳) حضرت شاه عبدالعزيز "رح" وغيره حضراتو د صديق تعريف داسې کړې دې چه دا هغه څوک دې چه کمالات دنبوة اوصفات دنبوة په کښې په طور دَ ظليت سره موجود وی اودېو وينسه برابر مخالف نه وی لکه حضرت ابوبکر صديق اوحضرت عائشه اوحضرت ابوذر رضى الله تعالى عنهم او «شهيد» هغه دې چه داجراء دحق په باره کښې دهيڅ چا لحاظ نه کوی اوبر څوچه اجراء دحق نه وی شوې نوداسې پريشان او بی اطمينان وی لکه بې هوش. لکه چه حضرت عمر رضى الله تعالى عنه. چه په بعضى اوقاتو کښې به ئې د نبى کريم صلى الله عليه وسلم سره ظاهرى طور باندې مقابله کوله اونبى کريم صلى الله عليه وسلم به ورته تبسم کولو خوشحاله به ووچه زما په اُمت کښې داسې کسان هم شته چه دحق په باره کښې دهيڅ چا لحاظ اوخيال نه ساتی، او «صالحين» هغه دی چه فطرى طورباندې دګناه نه متنفر وی ظاهراً اوباطنا لکه حضرت عثمان غنى رضى الله عنه په جاهليت کښې هم زنا نده کړی ((كماقال عثمان وماذنيت في الجاهلية ولا في الاسلام)) نوبناپدې تقدير «صديق ، شهيد ، صالحين» په صحابو پورې خاص نه دی ليکن دوئ منبع او مدار دَ صديقيت .شهادت .صالحيت دې په

هر صحابی کښې دغه مذکور تمام صفات موجود وو لیکن په چا باندې به چه د کوم صفت غلبه وه نو په هغه نوم سره به مسمی وو لکه یو عالم مؤرخ. محدث. فقیه. او متکلم وی لیکن چه د کوم وصف او صفت غلبه په هغه وی نو په هغه لقب سره مسمی کیږی او یادیږی

﴿ ذَٰلِكَ ٱلْفَضْلُ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ داجواب **دیوسوال** دې چه عام خلق اګر که اطاعت کوونکی وی لیکن دوئ په عمل کښې د انبیاؤ او دصحابونه کم دی نو دوئ ته به څنګه د هغوئ رفاقت حاصل شی، نو **جواب** دادې چه دا دعمل په وجه نده بلکه دا د الله تعالی فضل او مهربانی ده په ((**ذالک**)) سره اشاره ده معیت او رفاقت ته چه په ماقبل کښې ذکرشو

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ خُذُوا۟ حِذْرَكُمْ فَٱنفِرُوا۟ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُوا۟ جَمِيعًا ۝٧١

اې[1] ایمان والو راواخلئ وسله خپله نو اوځئ جهادله ډلې ډلې یا اوځئ ټول په جمع سره یوځائې

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ

او بیشکه بعضې ستاسو نه خامخا هغه دی چه روستو کیږي دجهادنه، نو که اورسیږی تاسو ته څه مصیبت. وائی

قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَىَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ۝٧٢

دې چه په تحقیق سره انعام کړې وو الله په ما باندې کله چه نه اوم څه د دوئ سره حاضر جنګ ته

وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ

او که اورسیږی تاسو ته فضل د الله دطرفنه نو خامخا وائي دې چه ګویا کښې نه وې په مینځ ستاسو او دده کښې

مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ۝٧٣

هیڅ دوستي، هائې ارمان چه څه وې د دوئ سره نو کامیاب شوې به وې په کامیابئ لوئې سره

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ خُذُوا۟ حِذْرَكُمْ ﴾ دا **دویم حکم** دې دا حکامو سلطانیو نه. ددې حاصل دادې چه پورته شئ او مسلح شئ او دکفارو سره جهاد اوکړئ ((**حذر**)) بکسر الحاء وسکون الذال او په فتحتینو سره ((**حَذَر**)) په معنی د سامان بچاؤ یعني اسلحې سره راځی او په معنی د

[1] دویم حکم دا حکام سطانیو نه . را پورته شئ مسلح شئ جهاد اوکړئ

تیفظ او د بیداری او احتیاط سره هم راځی اودلته دواړه معنی صحیح دی یعنی مسلح شئ یا خپل حفاظت کوئ او بیدارشئ، اوددینه مراد استعداد للجهاد دې یعنی دجهاد دپاره تیاري اوکړئ. نو په لفظ د ((خذوا)) کښې جمع بین الحقیقة والمجاز رانغله. دلته دوه امره دی اول امر دتیاری دجهاد دې. اسلحه اودخپل حفاظت سامان اخستل. او دویم امر دتللو دې جهاد ته. نو معلومه شوه چه اسباب اختیارول دتوکل منافی ندی ځکه چه د اسبابو اختیارولو حکم شوي دې. البته په زړه کښې په اسبابو باندې اعتماد کول د توکل منافی دی. نوددې وجه نه بعضو علماؤ د توکل تعریف داسې کړې دې ((نزع الاسباب عن القلب لاعن القالب)) یعنی توکل دینه وائی چه اسباب د قلب نه باهر ته وباسی یعنې یقین اواعتماد پرې ونکړې شی او د ظاهر نه یعنې د جسد نه لرې نه کړې شی

﴿ فَٱنفِرُواْ ﴾ دا دویم امر دې دا د ((نفور)) (واوی) یاد ((نفیر)) (یایې) نه ماخوذ دې نفر اونفرت دینه وائی چه طبیعت یوشی نه منی. او ((فزع)) ته هم وائی او استعمال د ((نفر. انفروا)) د دشمن دمقابلې دپاره وتلو او دعلم دطلب دپاره وتلو کښې کیږی نو په دې لفظ کښې اشاره ده چه د جهاد لپاره او دعلم د طلب لپاره داسې وتل پکار دې چه د اهل او عیال او کور کلی محبت په زړه پاتې نه شی او دهغوئ محبت مانع د سفر لپاره نشی ﴿ ثُبَاتٍ ﴾ دامنصوب دې اوحال دې دضمیر د ((انفروا)) نه، ((ثبات)) جمع د ((ثبة)) ده ډلې ډلې ته وائي، دا په هغه وخت کښې چه نفیر عام نه وی ﴿ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعًا ﴾ دا په هغه وخت کښې چه نفیر عام وی اول سریه ده اودویم غزوه ده اودا دواړه صورتونه دمختلفواحولو په اعتبار سره دی. نودلته ((او)) د تنویع دپاره دې

﴿ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ ﴾ دا زجر دې منافقینوته چه په دوئ کښې دا دوه خصلتونه دی اول دا چه دجهاد دپاره نه ځی اودویم داچه دجهاد نه پاتې کیدل دَ الله تعالی انعام گنړی . او دا فعل متعدی هم راځی اولازمی هم راځی په اول تقدیر سره ئې معنې دا ده چه نورخلق د جهاد نه روستو کوی اومنع کوی او په دویم تقدیر سره ئې معنی دا ده چه په پخپله د جهاد نه روستو کیږی ﴿ فَإِنْ أَصَٰبَتْكُم ﴾ دا د منافقینو د حال بیان دې چه پخپله د جهاد دپاره نه ځی اوچه کله تاسو لاړشئ اوتاسوته مصیبت ((یعنی هزیمت، قتل)) اورسی نو دوئ خوشحالیږی اوکه تاسونه په جهاد کښې فتح اوغنیمت ملاؤ شی نو دوئ په پاتې کیدلوخفه وی او ارمان

کوی کاش مونږ جهاد ته تلي وې، نو مال غنيمت به راته ملاؤ شوې وو

مقوله د ((لَيَقُولَنَّ)) دپاره ((يٰلَيۡتَنِي)) دې، او ﴿كَأَن لَّمۡ تَكُنۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُۥ مَوَدَّةٞ﴾ جمله معترضه ده اودا ددې دپاره ده چه اشاره اوشی چه دوئ تمنی اوارمان د معية د مومنانوسره د نصرت او د غلبې حاصلو دپاره ندې بلکه د حرص د دنيا د وجه نه دې او د مؤمنانو سره د دوئ هيڅ تعلق نشته دې. حضرت شيخ د خپل شيخ توجيه دا سې بيانوی ((يٰلَيۡتَنِي كُنتُ مَعَهُمۡ)) د مومنانو د خوشامد دپاره وائی ، يعنی چه کله مومنانو ته فتح اوغلبه حاصله شی نو بيا دوئ د مؤمنانو د خوشامد دپاره ((**ياليتنی ۔ الايه**)) وائی ، او ((**كان لم تكن بينكم وبينه**)) دا د خوشامد تاکيد دې چه ځما خو د مومنانوسره تعلق نه وو او د دې باوجود د دوئ دمعيت تمنی اوارمان کوم، نوکه تعلق مې مخکښې نه ورسره وې نو بيا به ما زيانه تمنی کړې وې د دوئ د معية او د ملګرتيا.

فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ
نوجنګ دې کوي په لار دالله کښې هغه کسان چه خرڅوی (قربانوی) ژونددنيا په آخرت باندې. اوچاچه جنګ اوکړو
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ۝
په لار دالله کښې نوقتل کړې شو ياغالب شو نوزر ده چه وربه کړو مونږ هغه ته اجرلونې

﴿فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ دا ترغيب الی الجهاد دې يعنی فوز عظيم دا ندې چه د جهاد نه پاتې شی اويا جهاد ته د مال غنيمت دپاره لاړشی. بلکه فوز عظيم دا دې چه په اخلاص سره د جهاد دپاره لاړشی او د اعلاء د کلمة الله د پاره لاړشي اوبيا يا غالب شي اويامغلوب شی نو نو بهرحال به ورته فوز عظيم حاصل شی.

﴿ٱلَّذِينَ يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ﴾ دا فاعل دې د ((فليقاتل)) د پاره او ((يشرون)) په معنی د ((يبيعون)) سره دې يعنې خرڅوی ا وقربانوی به دنيا په آخرت باندې نو دينه مخلصين مومنان مراد دی. يا ((يشرون)) په معنی د اخستلو سره دې او د دينه مراد بيا منافقين دی. يعنی منافقان چه دنيا د آخرت په مقابله کښې اخلی نودوئ دې نفاق پريږدی او په اخلاص سره دې قتال اوکړی. د حضرت تهانوی رحمه الله د کلام نه دا سې معلوميږی چه فاعل د ((فليقاتل)) ضمير دې چه راجع دې هغه چاته چه طلب ګار د فوز عظيم دې ((اوالذين يشرون الحياة الدنيا))

ورلره مفعول دې او د دېنه مراد کفار دی چه څوک د فوز عظیم طلب کوی نو هغه دې ...
اوکړی د کافرو سره ﴿وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ يعنی په جهاد کښې فوز عظیم یقینی دی
سه هرحال کښې دې. ((وفی الحديث : انتدب الله لمن خرج فی سبیله لایخرجه الا ایمان بی وتصدیق
برسلی ان ارجعه بما نال من اجر او غنيمة اوادخله الجنة)) (متفق عليه)

ترجمه الله تعالی ذمه واری اخستې ده هغه چاته یا بلنه ئی ورکړې ده هغه چاته چه
اوځي د کورنه په لاره د الله کښې اونه اوباسی دلره مگر ایمان په ماباندې اوتصدیق زما په
رسولانوباندې چه یا به زه واپس کړم ده لره کورته د هغه څه سره چه حاصل شوې وی د اجر
اوغیمت یا به ده لره جنت ته داخل کړم. او په بل روایت کښې دی ((عن ابی امامة قال : قال
رسول صلی الله علیه وسلم : ثلاثة کلهم ضامن علی الله، رجل خرج غازیًا فی سبیل الله فهوضامن علی
الله حتی یتوفاه فیدخله الجنة اویرده بمانال من اجر وغنیمة ورجل راح الی المسجد فهوضامن علی الله
ورجل دخل بیته بسلام فهوضامن علی الله)) (مشکواة)

ترجمه یعنې درې کسانوته الله تعالی ذمه وار شوې دې یوهغه کس چه د الله په لاره
کښې جهاد وغزا د پاره لاړشی نوالله تعالی ذمه اخستې ده چه که وفات شی نوجنت ته به ئی
داخل کړی اوکه وفات نه شونوکورته به ئی د اجر اوغنیمة سره واپس کړم. او دویم هغه کس دې
چه مسجدته لاړشی نوالله تعالی دده ضامن دې د خیر اوبرکت ورکولو او دریم هغه کس دې چه
کله کورته داخلیږی نو په سلام سره نوالله تعالی د ده ضامن دې د خیر او د برکت ورکولو.

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ

اوخه ... عذر دې ستاسو چه جنگ نه کوئ په لار دالله کښې اودپاره دخلاصولودکمزورو دناریناؤ نه اوزنانه

وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل

او واړه بچي هغه چه وای اے ربه زمونږ اوباسې مونږ ددې کلي نه چه ظالمان دی اهل ددې. اومقرر کړه

۱ دریم حکم سلطانی یعنی پورته شئ مسلح شئ او ضعیف مسلمانان چه د کفارو په پنجه کښې دی
آزاد کړئ هغوئ بخیله د ونلو طاقت نه لرئ دعاگانې غواړی چه اې الله مونږ نه دظالمانو نه نجات راکړې

لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿۷۵﴾

دپاره زمونږ د طرفه خپل نه دوست بچ کوونکی او مقرر کړه زمونږ دپاره د طرفه خپل نه امداد کوونکی

﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ دا دریم حکم دې د احکام سلطانیونه یعنې پورته شئ اومسلح شئ او کوم کسان چه د کافرو په قید او په پنجه کښې دی نو هغوئ آزاد کړئ خکه هغوئ د وتلو طاقت نه لری او کمزوری دی او دا دعاکوی چه یا الله مونږه ددې کلی نه چه اهل ئی ظالمان دې را اوباسې ﴿وَالْمُسْتَضْعَفِينَ﴾ پدې کښې مضاف مقدر دې ((ای فی خلاص المستضعفین)) نو دلته د جهاد دوه مقصده بیان شو یو ((فی سبیل الله)) . یعنی د الله تعالی دین غالب کیدل مقصد د جهاد دې اوبل د ضعیفانو خلاصول او آزادول د کفارو د لاسونو نه .
او مستضعفین په درې قسمه دی، اول ﴿مِنَ الرِّجَالِ﴾ بوډاګان، معذورین، دویم ﴿وَالنِّسَاءِ﴾ او دریم ﴿وَالْوِلْدَانِ﴾ یعنې ماشومان بچی، ﴿الظَّالِمِ أَهْلُهَا﴾ ظالم د قریة دپاره وصف بحال متعلقه دې یعنې کلې (مکه) ندې ظالم، بلکه اهل ئی ((مشرکان)) ظالمان دی ﴿وَلِيًّا﴾ داسې دوست چه د ظلم د ظالم نه مونږه بچ کړی ﴿نَصِيرًا﴾ مدد را سره اوکړی په تللو کښې

الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ

مومنان [1] جنګ کوی په لار د الله کښې . او کافران جنګ کوی په لار د شیطان کښې

فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿۷۶﴾

نو جنګ کوئ د ملګرو د شیطان سره، بیشکه مکر د شیطان کمزوری دې په مقابله د مکر د الله کښې

﴿الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ﴾ دا ترغیب دې قتال ته یعنې د مومنانو قتال د الله په لاره کښې دې او د الله تعالی د راضی کولو دپاره وی او د مشرکینو جنګ په لاره د شیطان کښې دې او د شیطان د راضی کولو دپاره دې، نو کله چه کفار په لاره د شیطان کښې جنګ کوی نو مومنانو ناسو خامخا د رحمن په لاره کښې جهاد وکړئ او د شیطان د ملګرو سره وجنګیږئ

﴿إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ﴾ د شیطان مکر یعنې د کفارو هغه خفیه تدبیرونه او هغه منصوبې چه د حق ختمولو دپاره کوی نو هغه اګر که ډیر قوی او مضبوط تدبیرونه او منصوبې دی لیکن د الله

[1] ترغیب الی الجهاد

تعالی د تدبیر او د نصرت په مقابله کښې کمزوري دی، او په بل آیت کښې چه ئی د ښخومکرته عظیم ویلی دی نوهغه په مقابله د نارینوکښې دې نه په مقابله د شیطان کښې

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

آیا نه ګورې ته هغه کسانو ته چه اوونیلې شو هغوئ ته بندکړئ لاسونه خپل اوقائم کړئ مونځ او ورکوئ زکوة.

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ

پس هرکله چه فرض کړې شو په هغوئ باندې جنګ نوډغه وخت یوډله ددوئ نه. یریدل دخلقونه پشان دیرې دالله

اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ

بلکه ډیر زیاته یره. اوونیل دوئ چه اې ربه زمونږ ولې فرض کړوتاپه مونږ باندې جنګ، ولې نه روستو کولو تامونږلره

اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۗ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۗ

د یوښتې نزدې پورې. وایه چه مزې ددنیالږې دی، اوآخرت ډیرغوره دې هغه چالره چه یریږی دالله نه

وَ لَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾

اوظلم به نشي کیدې په تاسو په قدرد تار په هډوکي دکهجوري کښې

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ ﴾ دا زجردې په ترک د جهاد باندې، د آیت مطلب دادې چه کله دجهد د دپاره شرائط او وسائل پوره نه وی نو د مونځ، زکوة اود نورو اعمالو پابندی پکارده خکه دا جهاد دنفس سره دې چه پدې سره روحانی قوة زیات شی نو د کفاروسره به مقابله آسانه شی. نو دا مشق اوتیارې دې دجهاد دپاره نوهر کله چه شرائط پوره شی او قتال فرض شی نو بیا دمنفقینو په شان په جهاد کښې سستی مه کوئ اومرګ دخوف دوجه نه جهاد مه پریږدئ خکه دمرګ نه خلاصې نشته دې، هر ځائ کښې چه تاسو یئ نومرګ به رازی. پدې آیت کښې د مفسرینو دوه قوله دی **اول** دادې چه دا په حق دمنافقینوکښې نازل شوې دې. لکه چه د دې قول نه معلومیږی ((یخشون الناس کخشیة الله)) ((لم کتبت علینا القتال)) ، ((لولا اخرتنا الی اجل قریب)). قرطبی وائی چه دصحابونه معاذالله داسې قول نشی صادرکیدې خکه چه دوئ عالمان

۱ زجرمنفقینو ته

وو په دې چه آجال اونیتې محدودې دی او ارزاق مقسوم دی بلکه دوئ د الله تعالی د اوامرو امتثال کونکی وؤ ، سامعین،طائعین وؤ ، وصول دار آخرت ته دوئ ته غوره وؤ د قیام نه په دار دنیا کښې -آه

دویم قول : دادې چه دا په باره دمؤمنانو کښې نازل شوې دې دهجرت نه مخکښې په مکه مکرمه کښې کافرانومسلمانانوته ډیر تکلیفونه اورسول اوظلمونه ئې ورسره اوکړل نو مؤمنان راغلل دنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشول او اجازت ئې طلب کړو دقتال دکفاروسره نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته اجازت ور نه کړو او وې فرمائیل چه ماته لا د قتال حکم ندې شوې بلکه دصبر اود عفوِ حکم شوې دې نوتاسو هم ((کفّوا ایدیکم)) صبر اوعفوه کوئ او مونځ اوزکوة اداکوئ، دا ددې دپاره چه په دې سره نفسونه د طاعت سره عادت شی. نو بیا جهاد کول به آسان شی نو دا خبره مسلمانانو قبوله کړه. دابن کثیر اوقرطبی په روایت کښې دی چه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اوده ملګری دهجرت نه مخکښې مکې ته راغلل اوعرض ئې اوکړلو چه یانبی دالله ، چه مونږه په حالت دکفرکښې په عزت سره وو نو کله چه مونږ اسلام راوړلو نوذلیل شو نو تاسو د جهاد اجازت راکړئ. نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ماته دعفوِ او دصبر حکم شوې دې، نوتا سوهم صبر کوئ اوقتال مه کوئ ددغه قوم سره، نو بیا چه هر کله دهجرت نه پس مسلمانانوته دجهاد حکم اوشو نو بیا دوئ لره پدې باندې خوشحاله کیدل پکاروو چه ددوئ درخواست قبول شو. لیکن کمزوری مسلمانان ویریدل اوتمنی ئې کوله چه دخه مودې پورې دجهاد حکم نه وې راغلې اومونږ جوندی پاتې وې نو دا به ښه وې، نودا تمنی دمهلت په حقیقت کښې څه داعتراض د وجه نه. نه وؤ بلکه یولطیف شکایت ووچه دهغې وجه داوه چه دا عادت دې چه په کوم وخت کښې انسان ته تکلیف اورسی نوجذبه اوجوش ئې زیات شی نو انتقام اغستل آسان وی لیکن د آرام اودراحت په وخت کښې جنګ اوانتقام ته آماده نه وی نودابشری تقاضا ده. نو مسلمانانو چه کله هجرت اوکړو نودکفارو دایذا اوتکلیف نه ورته لږ آرام ملاوشو نوهغه جوش ئې کم شوکوم چه مخکښې وونوځکه ئې اوئیل ﴿لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ﴾ . او دا هم کیدې شی چه داخبره د وسوسې په درجه کښې وی نو په وسوسه غیر اختیاری باندې څه مواخذه هم نه وی او د ((قالوا)) نه مراد په زړه کښې وئیل مراد وی، حاصل دادې چه داکلام یا دمنافقانو قول دې او یا دکمزورو مسلمانوقول دې خو په طور دانکار ندې بلکه دخپل ضعف اودکمزورئ

شکایت کول دی الله نه یا په طور د وسوسې سره دې

﴿ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ ﴾ ددینه مراد منافقین دی او دوئ په ظاهر کښې مومنان وو یا ترینه ضعیف مسلمانان مراد دی ﴿ كَخَشْيَةِ اللَّهِ ﴾ یعني داسې یره چه دالله نه پکار ده ﴿ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ﴾ ((ای بل اشد خشیة)) ځکه چه خوف دالله تعالی نه عقلی وی او د دشمن نه طبعی وی او امرطبعی دعقلی نه زیات شدید وی یاددې وجه نه چه دالله نه خوف وی نو د رحمت امید هم وی او د دشمن نه صرف خوف وی اود رحمت امیدنه وی نو دا ځکه زیات شو ﴿ مَتَٰعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ ﴾ دنیا او مافیها ټول په مقابله د اعمالود آخرت کښې چه دهغې نه یوحکم دجهاد دې دیرلږ ده

أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِنْ تُصِبْهُمْ

هرځای چه یئ تاسو رالاندې کوی به تاسولره مرگ اگر چه یئ تاسویه قلعه گانومضبوطو کښې. اوکچرې اورسیږی دوئ ته

حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ ۚ

خوشحالی نووائی دوئ دا دطرفه دالله نه ده، اوکچرې اورسیږی دوئ ته تکلیف نو وائی دوئ دا ستا دطرفه دی.

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ۝

ته اووایه داټول دطرفه دالله نه دی. نوپس څه شوی دی دې قوم لره چه قریب نه دې چه پوهه شی په څه خبرې

مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ

هغه چه اورسیده تاته (اې مخاطبه) څه خوشحالي نودا دفضل دالله نه ده اوهغه چه اورسیدو تاته څه تکلیف

فَمِنْ نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ

نو دادوجې دغلطۍ دنفس ستانه دې، او اې محمده (ص) لیږلې ئې مونږ ته خلقو ته رسول (رحمة اللعالمین)

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ۝

اوپوره دې الله حاضر ناظر.

﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ ﴾ دا زجردې په ترک دجهاد باندې یعنی که تاسوجهاد دمرگ دخوف دوجه نه ترک کوئ نودا غلطه ده ځکه موت دخپل وقت مقرر نه مخکښې نه راځی

او کله چه وقت موعود راشي نو په هر ځای کښې چه تاسويئ نوموت به واقع کيږی. ابن کثير په روايت دجرير دحضرت مجاهد رحمه الله نه نه **يوه عجيبه واقعه** نقل کړېده چه په مخکنو امتونو کښې ديوې ښځې وضع حمل اوشو ((بچه ئی پيدا شو)) دبچی د پيدا ئينت نه لږ ساعت روستو ئی خپل نوکر اوليږه چه اور راوړی نوهغه نوکرچه کله د دروازې نه بهر شو نو ناڅاپه يو سړې ورته ظاهر شو اوتپوس ئې اوکړو چه ددې زنانه څه بچه پيدا شوې دې نوده ورته اوئيل چه جينئ پيداشوې ده. نوهغه سړی ورته ددې په حق کښې درې خبرې اوکړلې يودا چه دسلوسړوسره به زناکوی. دويم داچه دا به نکاح دخپل نوکر سره کوی. دريم داچه مرګ به ئې دجولاګی ((عنکبوت)) نه واقع کيږی. نوده چه کله داخبره واريده نوفورا واپس شواوهغه جينئ ئی په خيټه کښې په چاقو اووهله اودا ګمان ئې اوکړلو چه داهلاکه شوه او په خپله اوتښتيدلو نودجينئ مور پدې باندې فوراً پته اولګوله اوآخر داجينئ روغه شوه اوبالغه شوه اوبې مثاله ښائسته وه اودغه نوکر چه اوتختيدلو نو دسمندرلارئې اختياره کړه اولاړو اوډير مال اودولت ئی اوګټلو نوواپس راغې ښارته، يوه بوډئ ورسره ملاؤ شوه اوهغې ته ئی وه وئيل چه زه د يوداسې جينئ سره واده کول غواړم چه دهغې مثال په حسن اوجمال کښې نه وی نوهغې ورته وه وئيل چه د فلانکئ جينئ نه زياته خائسته څوك نشته ده، هغې سره واده وکړه. نو کوشش ئی شروع کړو، حتی چه دغې جينئ سره ئی نکاح اوشوه

نو بيا هغه جينئ د ده نه دريافت اوکړوچه ته څوك يې؟نو ده خپل تعارف اوکړلو چه زه دښار باشنده ووم اود چا سره نوکر ووم نو دهغوئ جينئ ماقتل کړه اوبيا زه اوتختيدلم نوهغې جينئ. ورته دخپل بدن نشانات ظاهر کړل چه هغه جينئ خو زه ووم. نوسړی ورته اوئيل چه ستا متعلق ماته د درې خبرو وينا شويده اول دسلو کسانو سره زنا کول. نوښځې اقرار اوکړلو او وې ويل چه تعداد راته ياد ندې، دويم دنوکر سره نکاح کول. نو داخومعلومه شوه. دريم چه مرګ به ئی ديو عنکبوت (جولاګی) نه وی، نودعنکبوت نه دحفاظت لپاره دې سړی يوعالی شان عمارت تيارکړو. صاف اوستره چه دعنکبوت هيڅ نشان اونوم هلته نه وو. اوپه دغه محل کښې دواړوسکونت کولو، يوه ورځ دا دواړه په دغه خپل محل کښې ملاست وو چه ناساپه عنکبوت ظاهر شو په ديوال باندې نو ښځې اوئيل چه ته ما ددې څيز نه يروی، نوفورا راپورته شوه اوهغه ئې ښکته را ارتاو کړو اومړئې کړه او په خپلوخپوئی اوچقولو نوعنکبوت خو مړشو ليکن زهرئ ددې په خپو او په نوکونوباندې اولګيدل اوددې نه دابنځه مړه شوه

نوخلاصه داده چه اسباب دحفاظت اگرکه ډیر مضبوط اوعمده وی نوبیاهم دمرگ نه خلاصي نشته دي. البته اسباب اختیارول دتوکل خلاف ندی بلکه حکم ئې شوې دې **نوهر کله چه دموت نه خلاصي نشته دې نو آخرت ته تش لاس تلل دا دعقل تقاضا نده**

﴿وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ﴾ دا د منافقینو دبل خصلت قبیحه ذکر دې . او د ((**حسنة**)) نه مراد عام دې فتح، غنیمت، خوشحالی، فراخی وغیره، اود ((**سيئة**)) نه مراد هم عام دې. شکست اوقتل اوپریشانی. قحط سالی وغیره یعنی منافقیونوته چه کله څه حسنه اورسیږی نو دوئ وائی

﴿هَٰذِهِ مِنْ عِندِ اللَّهِ﴾ یعنی دا د الله دطرفه دې. نسبت دالله طرف ته پطوردشکریه سره د دوئ ندې مراد بلکه ددوئ مقصود نفی د اثر د اتباع درسول ده یعنی مونږته که څه خیر ملاو شوېدې نو دا د اتباع درسول د وجه نه ندې ملاوشوې بلکه دا اتفاقا په ایجاد دالله سره دې او اتباع رسول لره پدې کښې څه دخل نشته دې اوکه دوئ ته څه تکلیف اورسی نو وائی ﴿هَٰذِهِ مِنْ عِندِكَ﴾ دا ستاسوء دتدبیر دوجه نه دې یا معاذ الله تاسو سپیره یئ لکه په بل ځائې کښې راخی ﴿وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُ﴾

﴿قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ﴾ دا رد دې اجمالا دقول دمنافقینو یعنی هر څه دطرف دالله نه دی په اعتبار دتخلیق او ایجاد سره او په اعتبار دقضا او قدر سره لیکن ډیر دتعجب خبره داده چه دا منافقان دومره جاهلان دی چه قریبه نه ده چه په څه خبره باندې پوه شی. پدې آیت کښې مبالغه ده په تجهیل دمنافقینو کښ (۱) استفهام دتعجب (۲) نفی دقرب (۳) ((حدیثا)) نکره ذکرکول ﴿فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ﴾ ((ما)) استفهامیه دې او مبتداء ده ((**لهؤلاء**)) جاراومجرور په اعتبار دمتعلق مقدرسره خبردې. نوتقدیر دا شو ((ای شئ حصل لهولاء)) د لام جاره جدا لیکل دا کتابت شاذه دې لیکن چونکه په مصحف عثمانی کښې دغه شان مکتوب دی. نوځکه جدا لیکلی شی ((**القوم**)) بدل دې د ((**هؤلاء**)) نه ﴿لَا يَكَادُونَ﴾ دا جمله حال دې ((ای حال کونهم بمعزل من ان یفقهوا)) یاجمله مستانفه جواب دې دهغه سوال مقدر نه چه ناشی دې د استفهام نه.

﴿يَفْقَهُونَ حَدِيثًا﴾ داخبر د ((**لایکادون**)) دې اوفقه (عمیق) جور علم ته وائی اوددې قسم علم دحاصلولو حکم شوې دې پدې قول دالله تعالی سره ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ﴾

﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ او د ((حديثا)) نه مراد خبره ددين ده. قرآن اوحديث اومسائل مستنبطه دقرآن اوحديث ورنه مراد دی. ﴿مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ﴾ دا تفصيل دي د رد دقول دمنافقينو اوتعليم د ادب دي اوخطاب دي نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته اومراد ترينه امت دي. يا خطاب عام دي هر مخاطب ته يعنی هر مسلمان لره داعقيده ساتل پکاردی چه خوشحالی اوفتح خالص دالله تعالی په فضل سره رازی. اوکه دنيک عمل په وجه رازی نوهغه هم دالله تعالی فضل دي اوتکليف اوپريشانی اوغم اوقحط سالی د انسان دبدو عملونو په وجه سره رازی

﴿فَمِن نَّفْسِكَ﴾ يعنی دگناه دنفس ستانه دي. داخطاب نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته دي او مراد ترينه امت دي يا مطلق مخاطب دي

﴿وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا﴾ ته رسول ئي اورسول رحمت وی نورسول الله صلی الله عليه وسلم رحمة للعالمين دي نو د رحمة للعالمين په حق کښې داسی عقيده ساتل لکه چه دمنافقينو عقيده ده انتهائي جهالت اوحماقت دي ﴿وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا﴾ يعنی الله تعالی گواه دي ستا په رسالت اوصداقت اوپدي چه ته رحمة للعالمين ئي

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ۖ وَمَنْ تَوَلَّىٰ فَمَا أَرْسَلْنَاكَ

چاچه اومنلوحکم درسول نويه تحقيق سره ده اومنلو حکم دالله ، اوڅوک چه اعراض اوکړی نونه ئي ليږلي مونږ ته

عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾

په دوی نگهبان (ساتنه کونکي)

﴿مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ﴾ دا ترغيب دي اتباع درسول الله صلی الله عليه وسلم ته . روستو د اثبات درسالت نه ﴿وَمَن تَوَلَّىٰ﴾ دا شرط دي اوجزاء ئی محذوفه ده چه ((فلايسئل عنک)) ستانه به دهغي تپوس نه کيږی ﴿فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا﴾ دا دمحذوفه جزا دپاره علت دي د ((حفيظ)) معنی ده حفاظت کونکي دعملونو ددوئ اوحساب کونکي. او دا تسلی ده سول الله صلی الله عليه وسلم ته

وَ يَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ

اووائی (١) دامنافقان چه کار زمونږ ستاخبره منل دی، پس هرکله چه دوئ اوځی ستاخوانه نودشپې مشورې کوی

طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ۚ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ

بوډله ددوئ نه غیردهغې نه چه ونیلې وي دوئ، اوالله لیکی هغه چه دوئ څه مشوره کوی، نواعراض اوکړه،

عَنْهُمْ وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٨١﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ

ددوئ نه اوخان اوسپاره په الله باندې اوکافی دې الله کارساز آیا دوئ سوچ نه کوي په قرآن کنبې.

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿٨٢﴾

اوکه وي دا قرآن دطرف دغیرالله نه نو خامخا موندلې به وو دوئ په دې کنبې اختلاف (غلطی) ډېر

﴿ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ﴾ «**ای امرناطاعة**» داشکوه ده د منافقینونه یعنی دوئ کله چه ستا خوا کنبې وی نودوئ وائی چه زمونږ کار اوشان دادې چه مونږ به اطاعت کوو، ﴿ فَاِذَا بَرَزُوْا ﴾ کله چه ستا دمجلس نه اوځی نو ﴿ بَيَّتَ ﴾ دشپې دروغ جوړوی یاجر ګې کوی ﴿ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ ﴾ یو ډله د منافقانونه چه هغه مشران د دوئ دی ﴿ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ﴾ «تقول» یا صیغه د واحد مخاطب ده یعنی خلاف دهغې چه ته یی وائی یعنی خلاف دتوحید اوسنت نه، یاصیغه د واحد مونث غائب ده اوضمیر ئې راجع دې «**طائفة**» ته یعنی غیر دهغې نه چه ونیل دې طائفې ستا په مجلس کنبې چه «امرناطاعة»

﴿ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ ﴾ دا تخویف دې او مراد ترینه لیکل دی په عمل نامو کنبې، ﴿ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ داعراض نه مراد دادې چه ددوئ په بې هوده اعتراضاتو او په غلط چال باندې مه غمزن کیږه او ددوئ خبرونه التفات مه کوه اوهرڅه الله ته اوسپاره هغه به دې حفاظت کوی

﴿ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ﴾ دا زجردې منافقینوته د «فا» او د همزه په درمیان کنبې مناسب

١ شکوي

فعل محذوف دې ((ای اَیشکون فلایتدبرون)) یا ((اَیعرضون فلایتدبرون)) پدې آیت کښې اشاره ده دې خبر ېته چه تدبر کول په قرآن کښې ضروری دې اوصرف لفظی قرآن لوستلوسره دقرآن حق نه اداکیږی، البته دتدبر مختلف درجات دې دعامو خلقوتدبر دمجتهد تدبر په شان نه وی نو هر څوک مجتهد نشی جوړیدې، البته په تدبر اوپه غور اوفکر سره دقرآن پاک انوار اوبرکات حاصلې دې شی اودالله تعالی عظمت اومحبت اومینه اوفکر آخرت پیداکیدې شی امام قرطبی وائی چه ددې آیت نه معلوم شو حجیت دقیاس چه که یوه مسئله په قرآن اوحدیث کښې صراحةً نه وی نو دهغې دمعلومولو دپاره په قرآن اوسنت کښې غوراوفکر کولې شی او دې عمل ته اصطلاح کښې ((قیاس)) وائی.

﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ﴾ یعنی که قرآن دالله تعالی کلام نه وې نوپدې کښې به اختلاف کثیر وې نوهر کله چه پدې کښې اختلاف نشته لکه په تدبر سره معلومیږی نومعلومه شوه چه دا دالله تعالی کلام دې اود اختلاف کثیرنه مراد مخالفت دې د نفس الامر نه یعنی کذب . اودارنګې تناقض په خپل مابین کښې او مخالفت دفصاحت اوبلاغت نه مراد دې، او دمطلق اختلاف نفی ندې مراد لکه اختلاف دقراءت وغیره، پدې آیت کښې داختلاف کثیر نفی اوشوه حالانکه په قرآن کښې اختلاف قلیل هم نشته دې، ددې وجه داده چه دغتوهرڅه غټ اولوئ وی نوکه اختلاف په کښې وې نولوئ به وو اوبعض وائی چه کثرت په جانب دنفی کښې مراد دې یعنی نفی دکثرت نده بلکه کثرت اومبالغه فی النفی ده یعنې دا کلام دالله دې نوهیڅ اختلاف په کښې نشته دې.

وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ					
اوکله (1) چه راشی دوئ ته خبر دامن یا د یرې نو دوئ مشهورکړی هغه، او کچرې دوئ حواله کولې دارائې درسول ته					
وَإِلَىٰ	أُولِي	الْأَمْرِ	مِنْهُمْ	لَعَلِمَهُ	الَّذِينَ
اوخاوندانودرائې ته (پوهه خلق) ددوئ نه نو خامخا به معلوم کړې وې دې لره هغه کسانوچه هغوئ					

1- زجر منافقینوته.

يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ

تحقیق کوی ددې امر له دوی نه. اوکچېري نه وي فضل دالله په تاسواورحمت دهغه نوخامخا به تاسوتابعداري کړې وې

الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾

د شیطان مگر لږو کسانو

﴿ وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ ٱلْأَمْنِ أَوِ ٱلْخَوْفِ أَذَاعُوا۟ بِهِۦ ﴾ دا زجردې منافقینوته او د «امر» نه مراد خبردې یعني کله چه دوی ته خبر راشي د امن او دفتح د اسلامي لښکر یا د خوف نو دوی بلاتحقیق نشر او اشاعت کوي حلانکه دغه شان نه ده پکار خکه چه کله خبر غلط وي او کله او دهغې پټ ساتل د اسلام اومسلمانانو دپاره مفیدوي. دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دجهاد دپاره لښکر اولیږلو نو چه کله به دهغوی دغلب کیدلو یا مغلوب کیدلو خبر راغې نومنافقینوبه دغه خبر په غلطې طریقې سره نشر کولو. حلانکه کله دغلبې د خبر نشر او اشاعت مفیدنه وي او کله د مغلوبیت د خبر په پټ ساتلو کښې مصلحت وي. نوددې وجه نه دداسې خبر داولولامر یعني ذی رائې ناظم نشراو اشاعت نه دریافت پکار دې چه اجتماعي مصلحت اودمسلمانومصلحت په څه کښې دې

﴿وَلَوْ رَدُّوهُ﴾ ضمیر راجع دې امرته اود رد نه مراد دریافت دې. یعنی که چرې دوی ددې خبر دریافت دنبی کریم صلی الله علیه وسلم او د ذی رائ صحابوشورئ والا نه کړې وی

﴿لَعَلِمَهُ﴾ ضمیر راجع دې امر ته یعنی معلوم کړې به وې دې امرله چه قابل د افشاء اونشر دې اوکه ندې ﴿ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ﴾ دا فاعل دې د «تعلم» دپاره او «ه» ضمیر ورله مفعول دې. د دې دوه مطلبه کیدې شي اول دا چه د «الذین یستنبطونه منهم» نه. مراد ددینه هرهغه قسم خلق دی چه ددې قسم خبر معلومولو تلاش کوی او ددې شوق ساتي خواه منافقین وی بغیرمنافقین او «منهم» کښې ضمیر راجع دې نبی ﷺ او ذی رائ صحابه کراموته. او دا جار اومجرور د علم پورې متعلق دې او مطلب نی دادې چه که چرې دې خلقو دا خبر نوې مشهور کړې اوچه نه چه ددې دمعلومولو شوق دې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اودصحابه کرامو د د رائ نه نی دریافت کړې وې نو دهغوی نه به نی معلوم کړې وې چه داخبر قابل افشاء دې او که ندې. او دویم احتمال دادې چه «منهم» کښې من بیانیه دې او «هم»

ضمیر راجع دي اولوالامر ته او د ﴿ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ﴾ نه مراد اولو الامر دی. نومعنی نی داده چه خامخابه معلوم کړې وې دې امر لره هغه کسانو چه دوی تحقیق کوی چه هغه اولوالامر دی. مفسرین وائی چه **شان نزول** ددې اګرکه خاص واقعه ده لیکن حکم ئې عام دې. بې تحقیقه خبره بیانول جائزنه دی خکه په حدیث کښې دی چه ((كفى بالمرء كذبا ان يحدث بكل ماسمع)) یعنی دسړی د دروغژن کیدو دپاره داخبره کافی ده چه کومه خبره واوری نو بغیر دتحقیق نه هغه بیانوی او په بل روایت کښې دی چه ((من حدث حديثا فهويرى انه كذب فهواحدالكاذبين)) چا چه داسې خبره بیان کړه اوداګمان ئې وی چه دابه دروغ وی نودا سړې هم یودروغژن دې په هغه دوو دروغژنو کښې. دارنګې چه یوه جدیده مسئله مخې ته راشی نو دهغې دحل دپاره هم محقیقنو علماؤ ته رجوع ضروری ده

﴿وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَٱتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَٰنَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ پدې کښې الله تعالی خپل احسان بیانوی او ترغیب ورکوی حکم منلوته چه په حکم منلوسره دالله تعالی فضل اورحمت ملاویږی اودشیطان نه بچا و حاصلیږی ((**الا قليلا**)) دا استثناء ده دظاهرنه دامعلومیږی چه لږ کسان محتاج ندی دالله فضل اورحمت ته دشیطان نه په بچ کیدلوکښې حالانکه بغیر دفضل دالله نه انبیاء هم نشی بچ کیدې، نو ددې دحل دپاره مختلف توجیهات علماؤ ذکرکړی دی بعضې وائی چه دا استثنا ء ده د ((**اذاعوا به**)) نه اوبعض وائی چه دا استثناء ده د ((**علمه الذين**)) نه وغیر ذلك. لیکن راجحه خبره داده چه دا استثناء ده د ((**لاتبعتم الشيطان**)) نه. لیکن مراد دفضل اورحمت نه خاص فضل اورحمت دې چه هغه نزول دقرآ ن او ارسال درسول دې. نومطلب دادې که چرې دا خاص فضل اورحمت نه وې نواکثربه دشیطان تابع شوی وو. مګرقلیل چه په هغوئ خاص فضل اورحمت اګرکه نشته لیکن عام فضل اورحمت شته دې. چه اصحاب دفطرت سلیمه دی لکه زیدبن عمروبن طفیل. ورقه بن نوفل وغیرهما چه اصحاب دفطرت سلیمه وو په جاهلیت کښې نو د ((**الا قليلا**)) مصداق دغه قسم خلق دی. حاصل دادې چه دفضل اورحمت نه مراد خاص فضل اورحمت دې او په انتفا دخاص سره انتفا دعام نه راځی نومطلق فضل او رحمت نه بغیر هیڅ څوک نشی بچ کیدلې اوبغیر دفضل خاص نه او درحمت خاص نه بعضې خلق چه اصحاب دفطرت سلیمه وی نوبچ کیدې شی

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

پس [1] جنگ کوه نه په لاره دالله کښي، ذمه داري نشته په تا مگر د خپل ځان، او تيزي ورکوه مومنانو ته په قتال

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ۝

قريبه ده چه الله به بند کړي جنگ د کافرانو . او الله ډير سخت دي د جهته د جنگ. او ډير سخت دي له جهته د سزا ورکولو.

﴿فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ دا ترغيب دي قتال ته ﴿لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفۡسَكَ﴾ يعني که څوک جهاد ته نه ځي نو په تا باندې دهغوئ ذمه داري نشته بلکه ته خپل عمل او د طاقت مکلف ئي په «الا نفسک» کښې تقدير دي ((اى الا فعل نفسک ياوسع نفسک)) ځکه نفس مکلف به نه وي بلکه فعل او عمل وي ﴿وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ تحريض تيزولو او ترغيب ته وائي يعنى ستا په ذمه ترغيب ورکول دي او جهاد ته تلل دهر چا خپله ذمه داري ده ، ستا ذمه نده نو که څوک دجهاد نه پاتې شي نوستا نه به ئې تپوس نه کيږي ﴿عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ﴾ داوعده ده چه دجهاد په ذريعه سره به کافران او کفر مغلوب کيږي نو دوئ چه مغلوب شي او وه ويريږي نو جنگ به بند کړي وجه ئې داده چه دا جنگ په ظاهر کښې خو دمسلمانانو سره دي ليکن چونکه مومن دالله دطرفه نمائنده دي نو ددې وجه نه په حقيقت کښې دا جنګ دالله سره دي ﴿وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا﴾ او د الله تعالى جنگ ډير سخت دي او د الله تعالى سزا ورکول ډير سخت دی .

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ

چا چه سفارش اوکړو سفارش نيک نو وى به هغه لره برخه دثواب دهغې په وجه، اوچاچه سفارش اوکړو

شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ۝ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ

سفارش بد نو وى به هغه لره پېټې دګناه دهغې په وجه، اودي الله په هرڅيزباندې طاقت والا اوکله چه تاسو ته

بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ؕ

دعاسلام اوکړېشي څه دعاسلام نوتاسو دهغې جواب ورکوئ په زيات غوره سره دهغې نه، ياجواب ورکړئ په هغې سره.

[1] : ترغيب جهاد ته

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ

بېشکه الله دي په هرڅيز باندې حساب کوونکې الله ج نشته (۱) دې حقدار دبندګۍ بل خوک په غير دده نه

لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۗ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا ﴿٨٧﴾

خامخا به راجمع کړي تاسو ورځ دقيامت ته نشته دې هيڅ شک په دغې کښې. او څوک دې ډېر رښتني دالله نه په خبره کښې

﴿ مَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً ﴾ دامتعلق دې د ((**حرض المومنين**)) سره چه تحريض المومنين شفاعت حسنه دې اوموجب دثواب دې دارنګې په ماقبل کښې ذکر شو ((**لا تکلف الا نفسک**)) چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم دبل چا په عمل باندې ماخوذ ندې نوتوهم پيداشو چه دبل چا د نيک عمل په وجه سره به ثواب هم نه ملاوېږی نوپدې آيت کښې دتوهم دفعه اوشوه چه دشفاعت په وجه به ثواب ملاوېږی، دلته کښې **شفاعت دوه قسمه** ذکر شوې دې يوحسنه اوبل سيئه دې. ((شفاعت)) دشفع نه ماخوذ دې شفع وتر (جفت طاق) تکۍ ناتکۍ دا داوړه متاقبلين دی. دشفع معنی ضم اويوځائې کول دی او شرعی معنی ئی داده چه کمزوری حقدارسره خپل قوت ضم کړې شی اويا د بې کس سره ملګرې شی اوهغه قوی کړی، نوشفاعت حسنه هغه دې چه د کوم کار دپاره شفاعت کولې شی هغه جائز وی اوطريقه ئې جائز اومشروع وې نو په رشوت سره دچا سفارش، شفاعت حسنه ندې او دارنګې دغير مشروع کار دپاره سفارش شفاعت حسنه نه دې، نو شفاعت حسنه دا دې چه مطلوبه کار هم صحيح او جائز وی او طريقه ئی هم جائزه وی، او شفاعت سيئه دادې چه مطلوبه کار ناجائز وی يا ئی طريقه د حصول ناجائزه وی. اودارنګې په شفاعت کښې داضروری ده چه چاته سفارش پيش کوی نوهغه دې نه مجبور کوی اګر که سفارش کوونکې حاکم اعلی وی، په متعددوسندونوسره دا حديث په صحيحينواو په صحاح سته ؤکښې مروی دې چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم دحضرت عائشه رضی الله عنها آزاد کرده وينځې بريره رضی الله عنها ته سفارش اوکړلوچه دخپل خاوند مغيث سره دنکاح تعلق اولره نوهغې اويل يارسول الله ! که ستاسوحکم وی نوبسروچشم قبول اومنظوردې اوکه صرف سفارش وې نو زه مغيث سره تعلق دنکاح قائم ساتل نه غواړم، نونبې کريم صلی الله عليه وسلم حضرت بريرة رضی الله عنها مجبوره هم نه کړله اوناراض ترينه هم نه شو.

۱ جهاد ددې مسئلې دپاره کيږي

او دارنګې په سفارش باندې معاوضه اخستل ناجائز اوحرام دی او رشوت دې

د شفاعت حسنه دپاره ډیرصورتونه کیدې شی دچا دجائز مقصد دحصول دپاره سفارش کول. د مصیبت زده یا د قیدی خلاصولو د پاره سفارش کول دمدیون دقرض د ادا کولو دپاره مجاهد جهاد ته روان وی اواسلحه اوسفر خرچ ورسره نوی نو دهغه سفارش کول دپاره داسلحې اودخرچه انتظام کولو یانورقسم دینې امورو کښې دوسائلو یانور مالی وغیره تعاون کول او دهغې سفارش کول دا ټول په شفاعت حسنه کښې داخل دی. اودارنګه د یومسلمان د یوجائز حاجت پوره کیدلولپاره د الله تعالی عنه سوال کول یا دعای مغفرت د چا لپاره غوښتل دا ټول په شفاعت حسنه کښې داخل دی .

دحدیث پک مفهوم دې چه څوک دبل مسلمان دپاره دحاجت اودمغفرت دعاکوی پښې شاه نو دا ډیره قریبه ده اجابت ته اوفرشتې دعاکونکی ته وائی چه ((ولک بمثل)) یعنې الله تعالی دې دغه شان ستا مغفرت اوکړی او ستاحاجت دې پوره کړی

﴿يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا﴾ یعنی په شفاعت حسنه سره سفارش کونکی ته پوره اجر ملاویږی او په شفاعت سینه سره سفارش کونکی ته دګناه حصه ملاویږی علماء کرام وائی چه ووړ ورکوونکی هم برابر په ګناه او ثواب کښې شریک دې دهغه چاسره چه چاته نی ووټ ورکړیدې. د ،،نصيب،، اطلاق په عرف کښې غالبًا دنیکۍ په حصه باندې کیږی او د ،،كفل،، اطلا ق په عرف کښې دګناه په حصه باندې کیږی اوکله نی اطلاق په مطلق حصه باندې اوشی لکه پدې آیت کښې ﴿يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ﴾ ((سورة حدید-۲۸)) او په لغت کښې ددواړومعنی مطلق حصه ده ﴿مُّقِيتًا﴾ دا په دریومعانیو کښې مستعمل دې (۱) مقتدر یعنی قدرت والا (۲) قوت یعنې روزی ورکوونکې اوروزې تقسیموونکې (۳) نګران اوحفاظت کوونکې او دا درې واړه معنې دلته صحیح کیدې شی

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ﴾ بعضې مفسرین وائی چه دا متعلق دې دمسئله دقتال سره یعنې چه کله تاسوجهادته لاړشئ اوڅوک تاسوته سلام اوکړی نوهغه مه قتلوئ لکه بعضې سفرونو کښې بعضې صحابو داسې کړې وو. بلکه هغه مسلمان دې او هغه ته جواب د سلام ورکړئ اومعامله دمسالمې ورسره اوکړئ

حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائی اگر تمھارے پاس کوئی واعظ جھاد پر آمادہ کرنے کیلئے آئے

اور سلام دے تو اس کا جواب اس کے کلمے سے زیادہ دو، ورنہ اس کے کہنے کے مطابق تو ضرور دو یعنی اس کے حکم کی تعمیل کرو.

اوبعض مفسرین وائی چه دا دشفاعت حسنه دیو اهم فرد ذکردي، څکه سلام دیو مؤمن دبل مومن باندې شفاعت حسنه دې دهغه دپاره. دتحیه معنی ده ((حیاک الله)) ویل. د عربو عادت د اسلام نه مخکښې دا وو چه کله به ئې چه د یوبل سره ملاقات وشو نو یوبل ته به ئې ((حیاك الله)) ویل. په اسلام کښې دغه طریقه بدل شوه په ((**السلام علیکم**)) سره. ددې معنی داده چه ستا جان اومال اولاد ته دې سلامتیا وی دهر آفت نه. ابن عربی وائی چه سلام اسم دې داسماؤ دالله تعالی نه ((کمافی الحدیث انی کرهت اذکرالله بغیر طهور)) نومعنی ئې داده چه ((الله تعالی رقیب علیکم)) یعنی الله تعالی ستاسو محافظ دې. ((**السلام علیکم**)) د ((حیاک الله)) نه ډیر افضل دې څکه ددې معنی دا ده چه تا دې الله جوندې لری او په ((**السلام علیکم**)) کښې دالله ذکر هم دې اودمؤمن دپاره دعا هم ده اودمحبت اظهارهم دې اوپدې کښې بهترینه دعا ده څکه پدې کښې دصرف حیاة دعا نده بلکه دحیاة طیبه دعا ده یعنی عافیت والاحیاة. ایمان اوعمل صالحه والا حیاة د آفاتو او بلیاتو نه محفوظ حیاة. اوبل پدې معاهده کول دی دمسلمان رور سره چه تاته به زما دطرفنه سلامتیا وی اوهیڅ قسم ضررقولی اوفعلی به تاته نه رسوم لکه ارشاد د رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)) اوددې وجهې نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دسلام عام کولو ډیرترغیب اوتاکیدفرمایلې دې په ډیرواحادیثوکښې او په یوروایت د ابو داؤد او ترمذی کښې دی ((عن ابي هريرة رضى الله عنه والذي نفسي بيدي لاتدخلوالجنة حتى تومنواولا تومنواحتى تحابوا افلا ادلكم على امر اذا فعلتموه تحاببتم افشوالسلا م بينكم)).

ترجمه ((نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی قسم دې دغه ذات دې چه زما نفس دهغه په قبضه قدرت کښې دې تاسو جنت ته ترهغه وخته پورې ـــ ـــ حیدې ترڅوچه مؤمنان نشئ اوتاسوکامل مومن نشئ جوړیدلی ترڅوپورې چه دیوبل سره محبت اونه لرئ. آیاتاسوخبر نه کړم په یو داسې عمل چه کله تاسو هغه کوئ نوستاسوبه یوبل سره محبت قائم شی اوهغه دادې چه سلام عام کړئ په خپل مینځ کښې)).

دجمهورومفسرینو په نزد ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم ﴾ نه مراد سلام دې لکه په سورة نورکښې اطلاق دتحیه په سلام باندې شوې دې

﴿فَسَلِّمُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً﴾ «سورة النور» ﴿تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ﴾ «سورة الاحزاب». او د امام مالک رحمه الله نه منقول دی چه دینه مراد تشمیت العاطش دې یعنې څوک چه پرنجې اوکړی نوهغه به «الحمدلله» وائی نوتا سو ورلره جواب په «یرحمک الله» سره ورکړئ اوبعضې ملګرو د امام ابوحنیفه رحمه الله ویلی دی چه ددینه مراد هدیه ده یعنی دهدیې بدله په مساوی یا په افضل سره ورکړئ (قرطبی) دحدیث پاک مفهوم دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هدیه قبلوله او د هغې بدله به ئې هم ورکوله، لیکن اول قول زیات صحیح اومشهور دې او مطلب ئې دادې چه څوک تاسوته سلام وائی نوتاسو ورلره جواب ورکړئ په احسن سره دهغې نه یا کم ازکم هغه الفاظ اووائی چه تاسوته ویلی شوی وو. د احسن تفسیر دادې چه د «السلام علیکم» په بدله کښې «وعلیکم السلا م ورحمة الله وبر کاته» وه وئیل شی، دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دې چه: «ان السلا م قد انتهی الی البرکة»، (بغوی) یعنې دسلام جواب په «برکاته» باندې ختم شوې دې، ددې نه زیاتې کلمې لکه «ومغفرته» وغیره منقول اومسنون ندی، ابن کثیر په روایت دجریر سره دسلمان فارسی رضی الله عنه روایت نقل کړې دې چه یوکس راغې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته او ده اوئیل «السلام علیک یارسول الله» نونبی کریم صلی الله علیه وسلم په جواب کښې اوئیل «وعلیکم السلام ورحمة الله» نو بیا بل کس راغې اوهغه اوئیل «السلام علیک یا رسول الله ورحمة الله» نونبی کریم صلی الله علیه وسلم په جواب کښې اوفرمائیل «وعلیک السلام ورحمة الله وبر کاته» نوبیابل کس راغې او وې وئیل «السلام علیک ورحمة الله وبرکاته» نونبی کریم صلی الله علیه وسلم په جواب کښې اوفرمایل «وعلیک» نو دې کس بطور شکایت اویل چه زمامورا وپلا دې په تاباندې قربان شی فلانې، فلانې کس راغې نو تاسو هغوئ ته په جواب کښې زیات کلمات اویل او ما ته مو کم کلمات اوئیل؟ نونبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل «انک لم تدع لنا شیئا» یعنی تا زمونږ دپاره څه کلمه پرې نه خودله، په بل روایت کښې دی چه یوکس نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راغې اووې وئیل «السلام علیک یا رسول الله» نونبی کریم صلی الله علیه وسلم ور ته جواب ورکړه او وې فرمائیل: «عشر» یعنې لس نیکئ، اوبل راغې وې وئیل «السلام علیکم ورحمة الله» نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته جواب ورکړه او اوفرمائیل «عشرون» یعنې شل نیکئ اوبل کس راغې اووې وئیل «السلام علیکم ورحمة الله

وبرکاته)) نونبی کریم صلی الله علیه وسلم جواب ورکړلواو وې فرمائیل ((ثلاثون)) یعني دیرش نیکۍ (ابن کثیر-ابوداود).

ابتدا کول په سلام سره سنت دی، د ابوداود په یوروایت کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل دې چه دالله تعالی په نزد باندې په ټولوکښې هغه کس زیات محبوب دې چه په سلام باندې ابتدا کوی ځکه په سلام باندې ابتداءکوونکی ته په هره فقره باندې لس نیکۍ ملاویږی اودغه رنګې دجواب ورکوونکی سره د هرې فقرې د ثواب سره برابر ثواب ورته هم ملاویږی او د جواب ورکوونکی په اجرکښې هم څه کمې نه راځی، سلام کول سنت دی اوجواب ورکول واجب دی بغیر دعذر شرعی نه جواب نه ورکول ترک د واجب دی او دا ګناه ده او د اعذارو شرعیو تفصیل اودارنګې دسلام تفصیلی مسائل په احادیثوکښې او په فقه کښې په تفصیل سره ذکردی، من شاء فلیطالعه.

﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا﴾ یعنی الله تعالی دټولو اعمالو حساب کوی او بعضې د هغې نه جواب د سلام دې دا دلالت کوی په وجوب د سلام باند

﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ په دې آیت کښې بیان د ما هو المقصود دې، یعنې جهاد صرف د دې کلمې دپاره کیږی. لفظ د ((الله)) مبتداده او ((لا اله الا هو)) ورله خبر دې او ((ليجمعنكم)) خبر بعد خبر دې، یا جمله مستانفه ده، تخویف اُخروی دې.

فَمَا	لَكُمْ	فِي	الْمُنَافِقِينَ	فِئَتَيْنِ	وَاللَّهُ	أَرْكَسَهُمْ

پس څه شوی دی (۱) تاسولره اې مومنانوچه په باره دمنافقینو کښې دوه ډلې یئ اوالله نسکور کړی دی دوئ

بِمَا	كَسَبُوا ۚ	أَتُرِيدُونَ	أَنْ	تَهْدُوا	مَنْ	أَضَلَّ	اللَّهُ ۖ	وَمَنْ

په سبب دعملونو ددوئ، آیاتاسو اراده لرئ چه هدایت ورکړئ هغه چاته چه ګمراه کړی دی الله، اوڅوک

يُضْلِلِ	اللَّهُ	فَلَنْ	تَجِدَ	لَهُ	سَبِيلًا ⑧	وَدُّوا	لَوْ	تَكْفُرُونَ	كَمَا كَفَرُوا

چه الله یی ګمراه کړی نوهرګزبه نه مومې ته هغه لره لار. غواړی دوئ چه کافران شئ تاسو لکه چه دوئ کافران دی

۱ - څلورم حکم سلطانی: یعنی هغه منافقین چه دمدینې نه بهر نوروښارونوته تلی دی هغه قتلوئ اودهغوئ په قتلولو کښې اختلاف مه کوئ.

فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ط

نو پس تاسو به ول برابر شئ. نو پس تاسو مه نيسئ ددوئ نه دوستان تر دې چه دوئ هجرت اوکړي په لار دالله کښې.

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ص

نو که دوئ مخ اوګرزو نو بيا نيسئ دوئ لره په قيد کولو سره او قتلوئ دوئ لره کوم ځائې نې چه مومئ تاسو دوئ لره.

وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾

او مه نيسئ ددوئ نه دوست او نه مددګار

﴿فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ﴾ ((ما)) استفهاميه دې او استفهام د توبيخ دپاره دې ((في المنافقين)) متعلق دې د مقدر سره ((اى افترقتم فى المنافقين)) پدې آيت کښې **خلورم حکم سلطاني ذکردې** .خلا صه ئې داده چه کله چه جهاد ته لاړشئ او دمدينې نه باهر تاسوته منافقين ملاؤشي نوهغه قتلوئ او ددوئ په باره کښې اختلا ف مه کوئ مګرهغه چه هغوئ سره ستاسو معاهده شوې وی اوغير جانبداره وی هغه مه قتلوئ اوکوم منافقين چه په مدينه کښې وی دهغوئ دقتل اجازت نشته، دا ددې آيت خلاصه ده او ددې په **شان نز ول** کښې قرطبي وغيره دوه روايتونه ذکرکړی دی اول روايت دصحيحينو او دترمذی وغيره دې د زيدبن ثابت رضی الله عنه نه چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم کله جنګ احدته لاړ نوځه کسان د لارې نه واپس شو نو صحابه کرام ددوئ په باره کښې دوه جماعتونه شول. بعضو اوئيل چه ((نقتلهم)) اوبعضو اوئيل چه ((لا نقتلهم)) ، ((دا د دوئ اجتهاد وؤ چه بعضوظاهر حال ته اوکتل چه کلمه ئې ويله نو هغوئ وه ويل چه دا مسلمانان دی اوبعضو باطن ته نظر وکړو نو وې ويل چه دوئ کافران دی، او د دويم جماعت اجتهاد صحيح وؤ)) د بخاری شريف په روايت کښې دی ((انها طيبة تنفي الخبث کماتنفي النار خبث الفضة)) دويم روايت دابن عباس رضي الله عنه نه دې چه دا نازل دې په حق د هغه قوم کښې چه په مکه کښې وو او ايمان ئې راوړې وو او هجرت ئې نه وو کړې او دائې وئيل که محمد صلی الله عليه وسلم غالب شو نو مونږ به ئې اوپيژنو چه دا حق نبی دې اوکه زمونږقوم اهل مکه غالب شو نو دا مونږته زياته محبوبه خبره ده، نومسلمانان ددوئ په حق کښې دوه ډلې شو. نودا آيت نازل شو. او په يوبل روايت کښې دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه داسې راغلی دی چه يوقوم مدينې ته راغې اواسلام ئې ظاهر کړلونو دوئ ته بيماری اولګيدله نودوئ واپس لاړل

نو په لاره کښې دوئ سره صحابه کرام ملا ؤ شو نوهغوئ ترینه د واپس کیدلو تپوس اوکړنو نودوئ اوونیل چه په مونږ باندې آب او هوا موافق رانغله نو مکې ته لاړل او بیا مدینې ته واپس رانغلل اوبیا دوئ مرتد شول او د تجارت بهانه ئې اوکړه اومکې ته بیا واپس لاړل نو دصحابه کرامو ددوئ په حق کښې دوه رائې شوې نوبعضواوئیل چه منافقان دی قتلول ئې پکار دی اوبعضو اوئیل چه دوئ منافقان ندی نو ددوئ په حق کښې دا آیت نازل شو. قرطبی وائی چه اول روایت اصح دې سنداً اودویم روایت زیات موافق دې د الفاظو دقرآن سره

﴿حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا﴾ داځکه چه کوم خلق په مدینه کښې وونوهغوئ دپاره هجرت نه وونوتاویل ترې کیدې شی چه مراد هجرت نه کفراونفاق پرې خودل دی اوتوبه کول دی . اوهمدارنګه د هجرت اطلاق په خروج للجهادهم کیږی نو دا معنی هم اراده کیدې شی. اوداسې توجیه هم کیدې شی چه اصل سبب نزول هغه دې چه په دویم روایت کښې ذکرشوې دې اودصحیحینواوترمذی روایت مقصد دادې چه دغه منافقین هم ددې ایت مصداق کیدې شی خکه چه مفسرینو داقانون ذکرکړې دې چه اسباب دنزول دیوایت چه کله متعددواقعا ت ذکرشی اومختلف وی نودغه ځائ کښې اصل شان نزول یوه واقعه وی اونوروواقعاتو ته .((نُزلت في كذا وكذا)) . ویلې شی نودهغې مراد داوی چه دا نور هم مصداق کیدې شی او د آیت حکم ورته شامل دې. دلته ددریو فرقو ذکردې اوله فرقه چه پدې آیت کښې مذکورده دا هغه ده چه دمدینې نه باهر نوروځائینوته تلی وو نو ددوئ په باره کښې داحکم دې چه دوئ دَ نفاق او ددوئ دقتل په باره کښې اختلا ف مه کوئ ﴿وَٱللَّهُ أَرۡكَسَهُم﴾ ((ركس)) په اصل کښې ردکول او پړمخې کولوته وائی اودلته ترینه مراد دادې چه الله تعالی دوئ لره علانیه کفر طرف ته واپس کړی دی یادا چه دوئ به الله تعالی پړمخې جهنم ته غورځوی ﴿بِمَا كَسَبُوٓاْ﴾ دینه مراد منافقت والا عملونه دی ﴿وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ﴾ دا دمنافقینو دلوئ خباثت ذکردې چه دوئ خپل ځان مسلمان ښکاره کوی او په زړونو کښې ئې کفردې او دا غواړی چه تاسوهم کافرشئ ﴿لَوۡ تَكۡفُرُونَ﴾ کښې لو مصدریه دې ﴿حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ هجرت په ابتدا داسلام کښې فرض وو او د اسلا م دپاره علامه اوشرط وو په شان د اقرار لسانی دشهادتینو او د فتح مکې نه روستوحکم اوشو چه ((لا هجرة بعدالفتح)) یعنی فتح دمکې نه روستوهجرت فرض ندې. یعنی هغه هجرت چه مکې نه مدینې ته وو او شرط وو دپاره د اجراء داحکامو شرعیو. نو دا حکم چه پدې آیت کښې

دي نودا په ابتداء داسلا م کښې وو چه هجرت شرط وو دپاره د ایمان نواوس حکم ئې منسوخ دي. البته هجرت دداسې دارالکفر نه چه په هغې کښې مسلمان په ادا دفرائضو باندې قادرنه وی نو بيا اوس هم هجرت کول فرض دی خو شرط دايمان نه ندې لکه چه څنګه مخکښې وو، او دهجرت اطلاق په خروج للجهاد باندې هم کيږی نودلته دا معنی هم مراد کيدې شی او په منافقينو دمدينې منطبق کيدې شی اودهجرت بله معنی داده چه ترک دکفر اوشرک او نفاق اومعاصيؤ اوکړی لکه په حديث کښې راغلی دی ((المهاجر من هاجر ما نهى الله عنه ورسوله)) نودلته دامعنی هم مراد کيدې شی. ﴿فَإِن تَوَلَّوۡاْ﴾ يعنې که دوئ مخ واړوی دهجرت اود ايمان نه ﴿فَخُذُوهُمۡ﴾ ددې نه قيد کول مراد دی، ﴿وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ﴾ هرځائ نه مراد دادې چه په حل کښې وی اوکه په حرم کښې وی، ﴿وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرًا﴾ ددې نه معلومه شوه چه دکفارو نه طلب د مدد حرام دې (معارف)

إِلَّا	ٱلَّذِينَ	يَصِلُونَ	إِلَىٰ	قَوۡمِۭ	بَيۡنَكُمۡ	وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ

مګرهغه کسان چه يوځائې کيږی (تعلق لري)دهغه قوم سره چه په مينځ ستاسو کښې اودهغوئ کښې وعده وی

أَوۡ	جَآءُوكُمۡ	حَصِرَتۡ	صُدُورُهُمۡ	أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ

ياراشی دوئ تاسوته په داسې حال کښې چه بندوی سينې ددوئ ددېنه چه دوئ جنګ اوکړی تاسوسره

أَوۡ	يُقَٰتِلُواْ	قَوۡمَهُمۡۚ	وَلَوۡ	شَآءَ	ٱللَّهُ	لَسَلَّطَهُمۡ

ياجنګ اوکړی دقوم خپل سره ، اوکه اراده وې دالله نوخامخابه په ئی دوئ مسلط کړې وې

عَلَيۡكُمۡ	فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ	فَإِنِ	ٱعۡتَزَلُوكُمۡ	فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ	وَأَلۡقَوۡاْ

په تاسونوخامخابه جنګ کړې وې دوئ تاسوسره، نوپس که څنګ اوکړی دوئ ستاسونه اوجنګ نه کوی تاسوسره اوپيش کړی

إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ۝

تاسوته صلح ، نونه ده ګرزولې الله تاسولره په دوئ باندې لار (دجنګ کولو).

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ﴾ دا استثناء ده دقتل او د اخذ نه، دا د دويمې فرقې بيان دې چه هغه معاهد . يامعاهدالمعاهد ياغير جانبدارخلق دی يعنی دکوموخلقوسره چه ستاسو معاهده وی

دجنګ د نه کولو یا ددغه شان خلقوسره څوک معاهده اوکړی اودوئ سره یوځائ شی نودیته معاهدالمعاهد وائی، او دارنګې هغه خلق چه غیر جانبدار وی اونه تاسوسره جنګ کوی اونه خپل قوم سره جنګ کوی نو دا قسم خلق مه قید کوئ او مه ئی قتلوئ.

﴿أَوْ جَآءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ﴾ ((حَصِرَتْ)) جمله حالیه ده په تقدیر د ((قد)) سره او په نزد دبعضې نحویانو تقدیر د ((قد)) ضروری ندې ((أَنْ يُقَاتِلُوا)) ذلته کښې ((من)) مقدر دې ((ای من ان یقاتلوکم)) او ((حصر)) انقباض، بندش اونفرت ته وائی، ددې نه غیرجانبداره خلق مراد دی چه تاسوسره جنګ ته هم نوی تیار اوخپل قوم سره هم جنګ ته نوی تیار، پدې کښې یوبل قول قرطبی ذکر کړې دې ((قالوا نسلم ولا نقاتل)) یعنی مراد هغه خلق دی چه اسلام راوړی اوشرط اولګوی چه مونږ به ستاسو په قتال کښې شرکت نه کوو یعنی د خپل قوم سره به د قومیت د وجه نه قتال نه کوؤ، نودوئ ته په اول د اسلام کښې اجازت وو اوبیا چه کله اسلام قوی شو نو دا حکم منسوخ شو ﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ﴾ دا بیان د احسان دې په مومنانوباندې چه الله تعالی دکفارو په زړونوکښې ددوئ رعب اچولې دې او دکفارو رعب ئې ددوئ په زړونوکښې ندې اچولې نو دا دالله تعالی احسان دې، نو د ﴿لَسَلَّطَهُمْ﴾ نه مراد دادې چه دوئ به ئی زړه ور کړې وې

﴿فَإِنِ ٱعْتَزَلُوكُمْ﴾ دا تفصیل دې د ((الا الذین)) اوپدې کښې دوه شرطه دی اول اعتزال کول دوه کول اوځنګ کول ستاسو دقتال نه یعنی دخپلو ملګرو ملګرتیا پریږدی په وخت دقتال دهغوئ کښې لتاسوسره اودویم داچه ﴿وَأَلْقَوْاْ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ﴾ د ((سلم)) معنی ده انقیاد او صلح، او په لفظ د ((القوا)) کښې اشاره ده اظهارته ددوئ دطرفه په شان دمحسوس یعنی دوئ طلب او درخواست دصلح وکړی ﴿فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا﴾ ((ای علی اخذهم وقتلهم)) ﴿سَبِيلًا﴾ مراد دسبیل نه اجازت دې یعنی په دغه صورت کښې د دوئ د قید کولو او قتل کولو اجازنشته دې او دا معنې ده ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ﴾ ده.

سَتَجِدُونَ	اٰخَرِيْنَ	يُرِيْدُوْنَ	اَنْ	يَّأْمَنُوْكُمْ	وَيَأْمَنُوْا
زرده چه اوبه مومئ تاسو	نورخلق(منافقین)	اراده به لری دوئ	چه	په امن کښې وی دوئ ستاسونه	اوپه امن کښې وی دوئ

قَوْمَهُمْ ۭ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ

دقوم خپل نه هرکله چه دوئ اوبللې شي فتنې ته نو نسکور پريوزي په هغې کښې، نوکه دوئ ستاسودضرره

يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ

په ډډه نشي اوپيش نه کړي تاسونه پيغام دصلح اوبندنه کړي لاسونه خپل دجنګ ستاسونه نو نيسئ دوئ لره په قيدکولو سره

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ۭ وَاُولٰۗىِٕكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ

اوقتلوئ دوئ لره چه په کوم ځائې کښې ئې بيامومئ، اودغه کسان ګرزولي دي مونږ تاسولره په هغوئ باندې

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝٩١

حجت ښکاره

﴿ سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ ﴾ د وجدان نه مراد اطلاع اوخبريدل دی اودا ددريم فريق بيان دې ((دفع الوقتي)) چه صحابوته خپل ايمان ښکاره کوو، دپاره دحفاظت دخپل ځان او دمال او اولاد او دکافرانو سره ئې پټ رازونه ساتل او شرک ئې کولواودمسلمانانو سره جنګ ته تياروو

﴿ يُرِيْدُوْنَ ﴾ يعنی نيت ئې صرف دخپل ځان بچ کول وی ﴿ كُلَّ مَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ ﴾ د ((رد)) نه مراد دعوت اوبلنه اومتوجه کول دی اود ((فتنه)) نه مراد شرک کول ياقتال کول دی مؤمنانو سره يعنی کله چه دوئ اوبللې شي شرک ته نوشرک اوکفرکوی اوچه کله اوبللې شی جنګ کولو ته د مؤمنانوسره نوجنګ ته هم تياروی ((ارکسوافيها)) نه مراد اوړيدل دی شرک ته يا اوړيدل دی دعهد نه ﴿ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ ﴾ ددې فرقې سره دقتال دپاره درې شرطونه بيانيږی اول داچه دوئ ستاسوسره دجنګ نه ډډه ښنګ نه کوی اودويم داچه ﴿ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ﴾ داعطف دې په ((يعتزلو)) باندې نو د ((لم)) دلاندې دې ((ای لم يلقوا)) چه طلب دصلح اونه کړی، دريم داچه ﴿ وَيَكُفُّوْٓا ﴾ دا هم د نفی ماتحت دې يعنی ستاسره دجنګ نه منع نه شی.

﴿ فَخُذُوْهُمْ ﴾ نو قيد کوئ ئی ﴿ وَاقْتُلُوْهُمْ ﴾ او قتلوئ ئی ﴿ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ﴾ هر چرته چه ستاسولاس ورباندې بر شی ﴿ وَاُولٰۗىِٕكُمْ ﴾ په اسم شاره ذکرکولوسره اشاره ده ديته چه دا قسم خلق ممتازدی دنورونه په علاماتودهغوئ سره ﴿ عَلَيْهِمْ ﴾ ((ای علی اخذهم وقتلهم)) ﴿ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴾ حجت ظاهر په استحقاق دقيداوقتل دهغه خلقو

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا

اونه [۱] دي جائز هيڅ يو مسلمان دپاره دا چه قتل کړی مومن لره مگر په غلطئ سره، اوڅوک چه قتل کړي مومن لره

خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ

په غلطئ سره پس [۲] لازم دي په ده باندې آزادول دمرئی مومن اوديت سپارلې شوې وارثانو دمقتول ته مگر

اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ؕ فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

داکه هغوئ ئې معاف کړي، نوکه [۳] وی مقتول دداسې قوم نه چه دښمنان ستاسو وی اودې يعنی مقتول پخپله مومن وی

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ ۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

نوپه قاتل باندې آزادول دمرئ مومن دی او [۴] کچرې وی مقتول دداسې قوم نه چه په مينځ ستاسواودهغوئ کښې

مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ

پخه وعده وی نو لازم دې ديت سپارلې شوې وارثانو دهغه ته او آزادول دمرئ مومن دی، نوپس څوک

لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ؗ تَوْبَةً

چه نه مومی مرئی مومن نوپه هغه باندې روژې دی دوه مياشتې پرله پسې، دامقرر دی په طريقه دتوبې سره

مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

دطرفه دالله نه، اودې الله پوهه حکمتونو والا.

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا﴾ **داپنځم حکم دې** داحکامو سلطانيونه، ددې حاصل دادې چه بيشکه کافران اومنافقان چه باهر دمدينې نه دی نوهغوئ قتلوئ ليکن دا خيال کوئ

۱ - پنځم حکم منافقان کافران بېشکه په لاره کښې قتلوئ ليکن خيال ساتئ چه چرته ستاسودلاسونونه مسلمان قتل نشي عمداً، اوکه خطاءً قتل شی نودهغې حکم واورئ.

۲ - دقتل خطاء اول صورت اودهغې حکم.

۳ - دويم صورت اودهغې حکم.

۴ - دريم صورت (دذمی يا کافر معاهده) اودهغې حکم.

چه چرته یومسلمان عمداً قتل نه کړئ البته که خطاءً قتل درنه صادر شونو دهغې حکم واوری «ماکان» دلته ذکر دنفی دې اومرادترینه نهی ده، نهی ئې په صورة دنفی کښې راؤړله دمبالغه فی الحکم دپاره یعنې په اسلام کښې ددې خبرې هیڅ وجود او تصورنشته چه یومؤمن بل مؤمن لره عمداً قتل کړی. البته که چرې خطاءً قتل ترینه صادر شی نوحکم ئې دلته ذکرکیږی او مراد ددې آیت نه «**وماکا ن لمؤمن ان یقتل مؤمنا**» دادې چه دمؤمن قتل بغیر دشرعی اجازت نه جائز ندې او که شرعی اجازت وی لکه قتل قصاصًا نو دا قتل ابتداءً ندې او دارنګه قتل حداً هم قتل ابتداءً بغیر د شرعی اجازت نه ندې ﴿إِلَّا خَطَـًٔا﴾ دا استثناء منقطع ده یعنی که قتل خطا اوشو نوحکم ئې دا مذکوردې نو: ﴿إِلَّا خَطَـًٔا﴾ مطلب دا ندې چه قتل خطا جائز او مشروع دې ځکه خطاء غیر اختیاری څیز وی اوپه غیراختیاری سره انسان مکلف نه وی، نه دفعل اونه دترک نوهغې ته مشروع اویاغیرمشروع نشی ویلې زمخشری وائی چه«**وماکان لمؤمن ان یقتل مؤمنا**» دا اخباردې او «**الا خطاء**» استثناء مفرغه ده معنی دا شوه چه لائق ندی دشان دمؤمن سره چه قتل کړی یومؤمن لره په هیڅ علت او وجهِ سره مګر په علت او په وجه دخطاء سره یا په هیڅ حال کښې داحولونه مګر په حال دخطاء کښې.

قتل خطا په دوه قسمه دې : یوخطاء فی الظن دې چه په یومسلمان باندې دا ګمان وکړی چه دا کافرحربی دې اویا ښکار دې او یا سبُع دې اوقتل ئې کړی. او**دویم خطاء فی الفعل** دې چه دښکار په نیت یا دنشان په نیت غشې روان کړی اوهغه غشې په دغه ښکار یا نشان باندې ونه لګی او لاړشی او په یومسلمان باندې اولګی اوهغه مړشی ﴿فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ﴾ **دقتل خطاحکم** دادې چه پدې کښې قصاص نشته دې بلکه پدې کښې کفاره او دیت په عاقله باندې شته دې چه هغه کفاره غلام آزادول دی داسې غلام یا وینزه چه هغه مؤمن وی ځکه غلامی اورقّیة موت حکمی دې نوچه کله مؤمن غلام یا وینزه آزادکړی نو دا احیاء حکمی شوه نوګویا که چه یومؤمن ئی مړکړو اوبل ئې ژوندې کړو او دیت سل اوښان دی یائی قیمت یا زراشرفئ دی یالس زره دراهم دی، یعنی دسپینو زرو دراهم مراد دی.

﴿وَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦٓ﴾ دیت عوض د وینې دمقتول دې او دا حق د وارثانو دې نو دا به وارثانو ته په قدر د حصو د میراث سره ورکولې شی «**مسلمة**» معنی ده اداء کړې شوې، ورکړې شوې «**اهله**» نه مراد وارثان دی، ﴿إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُواْ﴾ مګر که ورثه مقتول معاف

کړی تو ل دیت یابعضې دیت نو په دغه مقدارسره به معاف شی ځکه دا ددوئ حق دې نودوئ
دمعافئ اختیارلری ﴿ فَإِن كَانَ ﴾ ضمیر دَ کان راجع دې مقتول ته په قتل خطاء سره ﴿ مِن قَوْمٍ
عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ عَدوّ په معنی داعداء سره دې نو دآیت معنی داده که مقتول پخپله
مؤمن وو خو په دارحرب کښې اوسیدلو اوهجرت ئې نه ووکړې نوددې قسم قتل حکم دادې چه
پدې کښې دیت نشته دې اوکفاره یعنی تحریر رقبة مؤمنة شته دې، عصمت د دم په دوو
وجوهو سره رازی ایمان او دارالاسلام، پدې کښې یوقسم عصمت چه ایمان دې هغه شته دې
نوددې وجه نه کفاره شته دې اوبل قسم یعنې دارالاسلام نشته دې نوددې وجه نه دیت نشته دې
برابره خبره ده چه ورثه د ده چه په دار حرب کښې مسلمانان وی اویا کافروی، حکم ددیت په
شان دحکم دتوارث دې نوځنګه چه اختلا ف ددین اود دارمانع دمیراث دې نودغه شان حکم د
دیت دې ﴿ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ دلته دوه قوله دی : **اول** داچه ددینه مراد هغه مؤمن دې چه په کافرانو
معاهدینو کښې اوسیږی او دَمسلمان دلاسه خطاء قتل شی، دا قول دحسن او ابراهیم نخعی
دې، اوشاه ولی الله رحمه الله دیته راجح ویلی دی، علامه روح المعانی وائی چه دَ دې قول په
بناء باندې ((الی اهله)) نه مراد هغه وارثان دی چه مسلمانان وی ځکه کافر دمسلمان نه وارث
نشی جوړیدلې لیکن علا مه قرطبی وائی چه د ده دیت کافرانو وارثانو ته د معاهدې دوجه نه
ورکولې شی . **دویم قول** دادې چه ددې نه مراد مؤمن ندې بلکه کافرمعاهد ذمی مراد دې یعنې
ضمیر د ((**وان کان**)) ذمی معاهد ته راجع دې ځکه دلته قید د ((وهومؤمن)) نشته دې نوکافر ذمی
معاهدته دعهد دوجه نه دیت ورکولې شی، البته دذمی په دیت کښې اختلا ف دې چه آیا پوره
دیت دې اوکه نیم دیت دمؤمن دې نو دمدارک وغیره حضراتو مفسرینورایه داده چه دیت د
ذمی په شان ددیت دمسلما ن دې ځکه الله تعالی په دواړو کښې یعنی په قتل دمؤمن اود ذمی
کښې کفاره او دیت ذکرکړی دی نولکه څرنګه چه په دواړو کښې کفاره یوشان ته ده نو واجبه ده
چه دیت دې هم یوشان وی، او د ترمذی په روایت کښې دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د
((عَامِرِيَيْنِ)) دیت ورکړې وو په شان د دیت دمسلمینو او په یو بل روایت کښې دی چه ((دمائهم
کدمائنا)) امام احمد ، امام شافعی. امام مالک رحمهم الله وائی چه دیت دمعاهد یهودی په
نصف ددیت دمسلم دې .

﴿فَمَن لَّمْ يَجِدْ﴾ مفعول د ((لم يجد)) دپاره مقدر دې ((اى فمن لم يجدالرقبة)) يعنې چاته چه د آزادولو دپاره غلام ملاؤ نه شو نو بيادې پرله پسې (پې درپې) روژې اونيسى، **فقهاؤ تصريح** كړې ده چه دزنانه دحيض اويا دنفاس په وجه تتابع ته نقصان نه رسيږى.

﴿تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ﴾ داخبر د ((كان)) دپاره دې ((اى فكان توبة))، يامفعول له دفعل مقدره دې ((اى شرع ذلک توبةً اى لا جل التوبة))

فائده اقسام دقتل اواحكام ئې په نزد د احنافو دا مذكور دى (۱) **قتل عمد** ((وهوالقتل بالمحددالمقطع كالسيف والسكين وغيرهما وحكمه الاثم والقصاص اوالدية)) (۲) **شبه العمد** ((وهوالقتل بماسوى ذلک ممالا يقتل به غالبا كالعصى وحكمه الاثم والدية على عاقلته)) (۳) **قتل خطاء** ((وهوعلى قسمين خطاء فى الفعل وخطاء فى الا عتقاد كمامر)) (۴) **جارمجرى الخطاء** ((كَانْ يُنقلب على اخر فى النوم فيقتله وفيهماالاثم لا جل ترک الاحتياط والكفارة والدية على عاقلته)) (۵) **قتل بسبب** ((كحفرالبير فى ملک الغير بغيراذنه فيقع فيه شخص فيموت وحكمه الدية على على العاقلة دون الكفارة)) په قتل عمد اوشبه عمد كښې ديت مغلظه دې او په نورو كښې ديت مخففه دې هركله چه ديت د اوښانو وى نو بيا په كښې مغلظه اومخففه راتلې شى اوكله چه ددراهمو او دنانيرو وى نوبيا په كښې تقسيم نشته نو ديت مخففه بالاتفاق د اوښانو دادې چه پنځه قسمه به وركولې شى په درې كلونو كښې هغه دادې (۱) شل ابن مخاض (۲) شل بنت مخاض (۳) شل بنت لبون (۴) شل حقې (۵) شل جذعې

اوديت مغلظه په نزد امام شافعى اوامام محمد دادې: چه درې قسمونه به وركړې شى (۱) - ۳۰ حقه (۲) - ۳۰ جذعه (۳) - ۴۰ مُسِنّة حوامل، او په نزد امام ابوحنيفه رحمه الله دا څلور قسمونه دى (۱) - ۲۵ بنت مخاض (۲) - ۲۵ بنت لبون (۳) - ۲۵ حقه (۴) - ۲۵ جذعه اوديت ددنانيرو زر ديناره دې اود دراهمو په نيزد د احنافو لس زره درهمه دې او په نزد دامام شافعى رحمه الله باندې دولس زره درهمه دې.

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ
اوڅوک چه قتل كړى مومن لره په قصدسره نو سزاده دهغه جهنم دې هميشه به وى په هغې كښې اوالله غضب كړې دې
وَ لَعَنَهٗ وَ اَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ۝
په هغه باندې اولعنت يې كړېدې په هغه اوتيار كړې دې هغه لره عذاب لوئې

﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا ﴾ دا وعيدې په ارتكاب دقتل عمد باندې. پدې كښې څلور امور مذكور دى **اول** داچه جزاء يې جهنم دې هميشه به پكښې وى. **دويم** داچه دالله غضب دې پده باندې، **دريم** داچه دالله تعالى لعنت دې پده باندې يعنى درحمت خاصه نه به لرې او محرومه وى، **اوڅلورم** داچه ده لره ئې عذاب عظيم تيار كړې دې نو ددې نه دامعلومه شوه چه قتل دمؤمن عمداً په ګناهونو كښې ډيره لويه ګناه ده. روح المعانى په روايت دبيهقى او ابن عدى سره دحضرت ابن عمر رضى الله عنه نه نقل كوى. ((قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من اعان على دم امرئ مسلم بشرط كلمةٍ كُتِبَ بين عينيه يوم القيامة آئس من رحمة الله)).

ترجمه چاچه تعاون اوكړلو دبل سره په تويولو دوينې دمسلمان باندې اګركه په نيمه كلمه سره وى نو دقيامت په ورز به دده د دواړوسترګو په منځ كښې ليكلى وى چه ته دالله تعالى درحمت نه نا اُميده شه، او په يوبل روايت كښې دبر اء بن عازب رضى الله عنه نه روايت دې چه: ((قال النبي ﷺ لزوال الدنيا اهون عندالله من قتل مؤمن ولوان اهل السموات واهل الارض اشتركوا في دم مؤمن لا دخلهم الله تعالى النار))

ترجمه خامخا زوال او ورانيدل د دنيا اوهر هغه څه چه پدې كښې دى (لكه مساجد مدارس وغيره) دا دالله تعالى په نزد معمولى دى د قتل دمؤمن نه (دمؤمن قتل زيات جرم دې د دنيا اوما فيها خرابولونه) اوكه چرته ټول دآسمانونووالا مخلوقات او د ځمكې والا مخلوقات ديومؤمن په قتل كښې شريک شى (په ناحقه) نو دوئ به ټول الله تعالى اورته داخل كړى، او په بل روايت كښې دې چه كه چرې ثقلين (جن اوانس) ديومؤمن په قتل باندې راجمعه شى نوالله تعالى به دوئ ټول جهنم ته نسكور واچوى، الله تعالى جنت حرام كړې دې په قاتل او آمر باندې نو ددې قسمه احاديثو او رواياتونه استدلال كړې دې خوارجو او معتزلو چه قاتل د مؤمن په ناحقه به په جهنم كښې هميشه وى او دغه سې قول ابن عباس رضى الله عنه نه مروى دې چه دقاتل به توبه نه قبليږى اودې به هميشه هميشه په جهنم كښې وى او دجمهورو سلفو او د اهل سنت والجماعت مذهب دادې چه دقاتل توبه قبليږى او استدلال ددوئ د آياتونو دعموماتونه دې لكه ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ﴾ څكه قتل عمداً او دارنګه هره ګناه كبيره غير دې دشرک نه نو مغفرت ئې ممكن دې شرعًا، دارنګې داقول دالله تعالى ﴿ وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ ﴾ [حم شورى: ۲۵] او دارنګې دوئ استدلا ل كوى په هغه احاديثو سره

چه منجمله د هغې نه روایت دصحیحنودي. او مفهوم ئې دادې چه یوکس دمخکښې اُمتونونه (دبنی اسرائیلونه) سل قتلونه کړې وواو بیائې هم مغفرت شوې وو په توبې سره اوهرکله چه شرائع من قبلنا په قرآن اوحدیث کښې نقل شی په غیر د رد نه نو په هغې باندې حجت کیدې شی نوهرکله چه دبنی اسرائیلو قاتل ته په توبې سره معافی کیدې شی نو دې اُمت ته په طریق اولی کیدې شی که دالله تعالی خوښه شی. په صحیحینوکښې دعباده بن صامت رضی الله عنه حدیث دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ ته اوفرمائیل ((تبایعونی علی ان لا تشرکوا — الخ)) یعنی تاسو ما سره پدې باندې بیعت اوکړئ چه شرک به نه کوئ او زنا به نه کوئ اوسرقه به نه کوئ اوقتل دنفس په ناحقه به نه کوئ نو چاچه وفا اوکړه پدې باندې نو اجر ئې په الله باندې دې اوکه دچانه پدې کښې څه گناه اوشې اوسزا ورته ورکړې شی نو هغه ورله کفاره ده. او دچا نه چه په دغه امورو کښې څه گناه وشوه او الله تعالی په هغه پرده واچوله نو أمر ئې الله تعالی ته حواله دې که وغواړی نوعفوه به ورته وکړی اوکه وغواړی نو عذاب به ورله ورکړی. نوپدې حدیث کښې ((ان شاء عفیٰ عنه)) راغلی دې روستودسرقې اوقتل بغیر حقٍ اود زنانه نومعلومه شوه چه دقاتل په قتل عمد سره معافی ممکنه ده اود آیت نه جواب په ډیرو وجوهو سره دې بعضې حضرات وائی چه دا محمول دې په مستحل باندې که څوک قتل دمؤمن حلال اوګنړی نودې به همیشه په جهنم کښې وی ځکه چه حلال ګنړل قتل دمؤمن لره داکفر دې نودکفر په وجه به همیشه وی په جهنم کښې، اوبعضې وائی چه ددې مطلب دادې چه که چرې الله تعالی پوره جزاورکوی نوهمیشه دپاره ئې جهنم سزاده. لیکن په سبب د توبې او په فضل خپل سره دا سزانه ورکوی یعنی پدې آیت کښې صرف استحقاق دجزاذکر دې اوجزا ورکول داموقوف دی په مشیت پورې، اوبعضې وائی چه خلود نه مراد مکث طویل دې په جهنم کښې یعنی ډیره زمانه به په جهنم کښ وی ، ځکه چه په نیزد د اهل سنت والجماعت باندې خلود مکث طویل ته وائی ، قاضی بیضاوی په تفسیر د سورة بقره کښې د خلود معنی داسې لیکی ((الخلد والخلود فی الاصل الثبات المدید ، دام او لم یدُم)) اوهرچه دې قول دابن عباس رضی الله عنه چه د قاتل توبه نه قبلیږی، دې به همیشه په جهنم کښې وی نو دا په تغلیظ اوزجر باندې محمول دې، صاحب د روح المعانی وغیره نقل کړی دی چه ابن عباس رضی الله عنه به ویل چه د قاتل توبه قبلیږی نو یوکس ورته راغې اوتپوس ئې اوکړلو چه آیا دقاتل دپاره توبه شته؟ ((قال الا النار)) نو ده اوئیل چه قاتل دپاره هیڅ نشته سوی د اورنه نومجلس

والوخلقوورته اوئیل چه اې ابن عباس تاخو مونږته داسې فتوی راکوله چه دقاتل توبه شته دې او دې سائل ته دې اوئیل چه نشته دې. نوابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل چه د اسائل په غصه کښې ووا و دده اراده وه دقتل «نوماورته ځکه دغه شان فتوی ورکړله چه منع شی دقتل نه» نوهرکله چه دغه مجلس والاؤ تحقیق اوکړلو نو صورت حال هم دغسې وو. سفیان رحمه الله وائی چه سلف اهل علم داسې ووچه چا ترینه دقاتل په باره کښې تپوس اوکړلو نودوئ به ورته ویل چه د قاتل توبه نه قبلیږی او بیا به چه څوک پدې ګناه کښې مبتلا شو نو هغه ته به ئې دتوبې حکم کولو

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰۤى
اې ! ايمان والو! کله چه تاسو سفرکوئ په لار دالله کښې نو تحقيق کوئ اومه وايئ هغه چاته چه پېش کړی
اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ؕ
تاسوته سلام چه نه ئې ته مومن، غواړئ تاسو سامان دژونددنيا پس الله سره غنيمتونه ډېر دی.
كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا
دغسې وئ تاسو مخکښې نواحسان اوکړو الله په تاسوباندې، پس تحقيق کوئ، بېشکه الله په هغه عملونو
تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝
چه تاسوئې کوئ خبردار دې.

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ دا شپږم حکم دې په احکامو سلطا نيو کښې خلاصه ئې داده چه هر کله تاسودجهاد دپاره په سفرلا رشئ اوڅوک تاسوته دخپل اسلام والی اظهار اوکړی نو په هغه بدګمانی مه کوئ اوبلا تحقيقه ئې مه قتلوئ د دنيا دلا لچ دپاره

په روايت دترمذی وغيره کښې دی چه صحابه کرام جهاد دپاره تلی وو نو پدوئ باندې دبنی سُلیم قبيلې يو سړې تير شو او ده سره بيزې وې اوسلام ئې اوکړلو صحابوته نوصحابو

[1] شپږم حکم . يعني چه جهادته ځئ او په لار کښې تاسو سره داسې څوک ملاوشي چه داسلام دعوي کوي نو بې تحقيقه هغه مه قتلوئ دمال دغنيمت دپاره .

اوئیل چه ده دخپل ځان اودمال دحفاظت دوجه نه سلام اوکړلواو خپل اسلام ظاهروی نوده لره ئی قتل کړلو او دهغه بیزې ئی راوستلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته . نودا آیت نازل شو او حکم اوشوچه تاسو بلا تحقیقه څوک مه قتلوئ اوکه څوک سلام اوائې نودا ورته مه وائې چه نه مسلمان نه یئ د ((السلام)) نه مراد ((السلام علیکم)) دې یا ترینه مراد انقیاد اواستسلام دې لکه په بعضې روایاتو دشان نزول کښې دی چه هغه سړی کلمه دشهادت اوئیله (**اشهد ان لا اله الا الله**) او نه یوبل روایت کښې دی چه هغه اوئیل چه زه تسلیم یم.

﴿ تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ یعنی د دنیا او دمال دلالچ په وجه داسې کارمه کوئ. د ((عرض)) نه مراد مال دغنیمت دې او په لفظ دعرض سره تعبیراوشو اشاره ده دې خبرې ته چه د دنیاټول څیزونه عرضی دی، دوام اوبقانه لری ﴿ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ﴾ دا دالله تعالی وعده ده مجاهدینوسره چه دوئ ته به حلا ل او غیر مشکوک مال اوغنیمتونه ورکړی. ﴿ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ ﴾ دغه سې خوتاسوهم وئ چه دخوف دوجه نه به مو ایمان پټ ساتلو په شان ددغه مقتول سړی، نوالله تعالی ا حسان اوکړلو په تاسوباندې چه عزت اوقوت ئې درکړلو حتی چه تاسو خپل ایمان ښکاره کړلو. یا داچه په ابتداء داسلام کښې تاسونه هم صرف کلمه اسلام قبوله شوې وه اوروستوالله تعالی احسان اوکړلواوتاسوئې په اسلام باندې محکم اوثابت کړئ ﴿ فَتَبَيَّنُوْٓا ﴾ دا تاکید دحکم دې.

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ
برابرندی(۱)ناست کسان(دجهادنه) دمومنانونه چه دهغوئ څه عذرنه وی اوهغه مسلمانان چه جهاد کونکی وی
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ
په لار دالله کښې په مالونوخپلوسره اوځانونو خپلو سره، غوره والې ورکړې دې الله جهادکونکو ته
بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ
په مالونوخپلو سره اوځانونو خپلو سره په ناستو کسانو باندې په درجه کښې، او دهریوسره وعده کړېده الله

۱ - ترغیب الی الجهاد او بشارت مجاهدینوته

الْحُسْنٰى ۚ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ

د ښه نسته جنت، اوغوره والي ورکړېدي الله جهاد کونکولره په ناستوکسانو په ثواب لوئي سره ډېري درجي

مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾

د طرفه دالله نه اوبخښنه کول او خاص رحم، او دي الله بخښونکي او رحم کونکي

﴿لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ﴾ دا ترغيب الى الجهاد دې او دمجاهدينو دپاره بشارت اخروى دې مراد دقاعدينو نه هغه خلق دى چه جهاد ته نوى تللى اوحضرت ابن عباس رضى الله عنه فرمائى مطلب دادې چه څوک جنګ بدر ته ندى تللى اوڅوک چه تللى دى نو دوئ په مرتبه کښي برابر ندى ځکه دبدريينوصحابؤ مرتبه ډيره لويه ده.

﴿غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ﴾ ((غيرُ)) په رفع سره دې اوبدل دې د ((قاعدون)) نه او يا صفت دې چونکه د ((القاعدون)) نه مراد جنس دې نو دا په حکم دنکره کښي دې نو غيرُ په اضافت سره معرفه نه ګرځى، صفت دقاعدون دپاره صحيح دې او په يوقرء ت کښي ((غير)) په جر سره صفت دې د ((المؤمنين)) دپاره، يا ترينه بدل دې اومراد دَ ((ضرر)) نه هغه عذرونه دى چه د هغې په وجه جهاد ته نشى تللې لکه ړوند دې اوګوډ دې يا ورسره مال نه وى وغيره، په روايت دبخارى کښي دى هرکله چه دا آيت نازل شو

﴿لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ﴾ نورسول الله اوفرمائيل چه کاتب راته راوبلئ يعنى زيدبن ثابت رضى الله عنه چه دا آيت اوليکى نوهغه راغې او دوات او لوح کَتِف ورسره وو نونبى کريم صلى الله عليه وسلم ورته دليکلوحکم اوکړلو او عبدالله بن مکتوم دغه ځائې کښې روستو ناست وو او راغې اوشکايت ئې اوکړلودخپل ضرارت ((ړوندوالى)) نوده اويل چه يارسول الله که چرې ماطاقت لرلې دجهاد نوزه به تلې وې جهادلره نوپدغه ځائې کښې ورسره دا نازل شو ((غيراولي الضرر)) نودينه دامعلوميږى چه څوک دجهاد شوق لرى او دجهاد نه پاتې شو دعذر دوجه نه نودې مجاهدينوسره برابر شريک دې په ثواب اواجرکښې، لکه په يوحديث دبخارى کښې دى چه دغزوه تبوک نه په واپسئ کښې نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه په مدينې کښې داسې خلق دى چه تاسو په کوم ځائې کښې تيريدل کړى دى يا په کومو بيابانونو يا وادى موقطع کړى وى نوهغه خلق د تاسو سره په اجر کښې شريک دى.

صحابه کرامو سوال وکړو چه هغوئ په مدینه کښې دی او بیا هم زمونږ سره په اجر کښې شریک دی. نونبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هو ! دوئ په مدینې کښې دی خو عذر بند کړی وو.

﴿ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ ﴾ داد ((لایستوي)) بیان دي ﴿ دَرَجَةً ﴾ منصوب بنزع الحافض دي ((ای فی الدرجة)) یا ((درجة)) په معنی دفضیلةً سره دي نو دا مفعول مطلق دي د فَضَّلَ دپاره ﴿وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ﴾ ((کلاً)) مفعول اول دي د ((وَعَدَ)) دپاره او ((الحسنی)) ورلره مفعول ثاني دي اومراد د ((کلاً)) نه ((کلا من المجاهدین والقاعدین)) دی یعني دجنت وعده هرمؤمن سره ده اګر که جهاد لره لاړ نشی لیکن درجه ئې کمه اوناقصه ده او دمجاهدینو درجه ډیره لویه اوکامله ده ددې وجه نه دوباره ذکرشو چه ﴿وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ ﴾ او د ﴿أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ ذکر هم وشو. او د ﴿ دَرَجَاتٍ ﴾ ذکر په صیغه دجمع سره وشواوبیا ورسره ﴿وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ﴾ ذکرشو دپاره ددې چه اشاره شی کمال درجې دمجاهدینوته. دمجاهدینو د بشارة دپاره اول ئې ((دَرَجَةً)) ذکرکړې وو او ثانیا ئې ((دَرَجَاتٍ)) ذکرکړلو نوبعضې مفسرین وائې چه دا دویم د اول دپاره تفسیر دې ځکه اول وار ((دَرَجَةً)) نکره مبهمه وه نو دویم ځل ئې دهغې تفسیر اوتفصیل اوشو او په دواړو ځایونوکښې مفضل اومفضل علیه یوشې دی خو اول ابهام اودویم تفصیل دې او دا ډیر ألطف وی، اوبعضې وائې چه په اول ځائې کښې دنیوی فضیلت ذکردې یعنی فتح، غنیمت ، ذکرجمیل او په دویم ځائې کښې دأخروی فضیلت ذکردې او دا ډیر زیات دې نوځکه صیغه دجمع ذکرشوه، اوبعضې وائې چه په اول کښې تفضیل په هغه چامراد دي چه دجهاد نه پاتې شوې وی دعذر د وجه نه او په دویم ځائې کښې تفضیل په هغه چا مراد دي چه بلا عذره دجهاد نه پاتې شوې وی او په داسې قسم خلقو باندې دمجاهدینو فضیلت زیات دې په نسبت سره اول قسم ته ،نوځکه دلته صیغه دجمع ذکرشوه. اوبعض وائې چه ددویم نه مراد هغه خلق دی چه جهاد مع النفس کوی، ددوئ فضل اواجر زیات دې په دلیل د دې حدیث سره ((رجعنامن الجهادالاصغرالی الجهاد الاکبر)) صاحب د روح المعانی وائی دا توجیه ضعیفه ده. والحدیث لا اصل له کما قال المحدثون.

او ((درجات، مغفرةً ، رحمةً)) منصوب دی بدل د ((اجراً)) نه یا و رلره فعل ناصب مقدردې

((ای اعطاهم درجة ومغفرة ورحمة)) او په حديث پاک کښې دی چه په جنت کښې سل درجات دی اود هرې درجې نه بلې درجې پورې دومره فاصله ده څومره چه د زمکې نه تر آسمان پورې ده

إِنَّ	الَّذِينَ	تَوَفّٰهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	ظَالِمِيٓ

بیشکه هغه کسان (1) چه فرښتې دهغوئ روح قبض کوی پداسې حال کښې چه دوئ ظلم کونکی وی

أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ

پخپل خانونو (په ترک دهجرت) وائی ورته دوئ په څه کښې وئ تاسو (2) دوئ وائی چه وو مونږ کمزوری په زمکه کښې

قَالُوٓا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولٰٓئِكَ

وائي به ورته ملائک آیا نه وه زمکه دالله فراخه چه هجرت کړې وې تاسو په هغې کښې، نودغه کسان

مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿۹۷﴾

ځائي ددوئ جهنم دې، او ډېر بدځائي دګرځېدلو دې داجهنم.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنْفُسِهِمْ ﴾ دا اووم حکم سلطاني دې : پدې کښې محصور مسلمانانوته حکم دې اودارنګې داسې مسلمانانوته چه په دارحرب کښې وی نوهغوئ ته حکم دې چه تاسوهجرت اوکړئ ځکه په تاسوباندې هجرت کول فرض دی او د ستاسو دنصرت دپاره اګرکه مجاهدین درلیګلې شی لیکن که تاسو سره له قدرت نه هجرت نکوئ نو

دا ستاسو ظلم دې د ﴿ ظَالِمِيٓ أَنْفُسِهِمْ ﴾ نه مراد ترک دهجرت دې سره دقدرت نه. اوقیام په دارحرب کښې، اوملګرتیا دکفارو سره په جنګ کښې، اوتکثیر دسواد دهغوئ سره داظهار د د ایمان نه، اومراد دملائکونه ملک الموت دې اود هغه اعوان دی او ((توفی)) صیغه یا دفعل ماضی ده او یا صیغه دفعل مضارع ده په اصل کښې ((تتوفی)) وو یوه (تا) تخفیفا حذف

1- اووم حکم کوم خلق چه کافرانو سره قيد دی نو که دوئ دهجرت قدرت لري او هجرت نه کوي نو داظلم دې يعني دوئ دې هجرت اوکړي هجرت په دوئ فرض دې.

2- ددې جواب مقدر دې ((اي كنا في الاسلام)) قالوا كنا جواب دسوال مقدر دې چه ((فماذاعملكم)) يا ((لم تعلموا)) قالوا.

شویده اومراد د((توفی))نه قبض د ارواحودي، یعنی حالت دنزع اوزنکدن مراددي نو په داسې خلقوباندي چه هجرت فرض وی او سره دقدرت نه هجرت نه کوی نوفرشتې به ورته په حالت دقبض دروح کنبې وائي ﴿فِيمَ كُنتُمْ﴾ چه په کوم دین کنبې وئ تاسو؟ دا سوال د توبیخ دپاره دي اوددې سوال دپاره جواب مقدردې چه ((قالواکنافی الاسلام)) یعنې مونږخو مسلمانان وو

﴿قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ﴾ دا جواب دي دسوال مقدره دفرشتونه اوهغه سوال مقدر دادې چه ((فماذاعملکم؟)) چه تاسوڅه عملونه کړیدی نوهغه اوښایئ؟ نو دوئ به جواب ورکوی اوعذربه بیانوی چه ((کنامستضعفین)) یعنی مونږکمزوری اومغلوب وو په مونځ اوحج وغیره دشعائر داسلام باندې قادرنه وو، نوفرشتې به ورته وائې چه بیا تاسو هجرت ولې نه کولو ﴿أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً﴾ دالله تعالی زمکه خوتنګه نه وه ((ملک خداتنگ نیست پائ گدا لنگ نیست)) قرطبی وائې ((یفیدهذالسوال انهم ماتوامسلمین ظالمین)) یعنی دا موت د دوئ به حالت د کفر نه دي. ورنه دوئ ته به ئی په ترک د هجرت توبیخ نه ورکولو بلکه په کفراوشرک سره به ئې توبیخ ورکوولکه چه څرنګه مشرکینوته توبیخ په کفراوشرک سره ورکولې کیږی لکه ﴿حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ﴾ سورة اعراف، آیة: (۳۷)

﴿فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ﴾ دا تخویف دي په ترک دهجرت باندې اودلته تابید او ددوام ذکر نشته دي ځکه چه دوئ کافران نه وو او دلیل ئې دادې چه د مؤمن مسلمان دپاره سزاجهنم دې که الله ورته معافی اونه کړي.

إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ

مګر کمزوري (۱) دسړونه(بوډګان)اوزنانه اوبچي طاقت نه لری دحیلې دوتلو او نه پیژنی

سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾

لار(دهجرت کولو) نودغه کسان قریبه ده چه الله معافی اوکړی دوئ ته، اودې الله معافی کونکي بخښونکي

۱- یعنی معذورین مستثنی دی.

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ

اوڅوک چه هجرت اوکړو په لاردالله کښې اوبه مومي په زمکه کښې ځایونه داوسیدلو«دهجرت» دپراوفراخي درزق

وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ

اوڅوک چه اوتلو دخپل کور نه هجرت کونکي طرف دالله اورسول دهغه ته بیالاندې کړو ده لره مرګ

فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

نو په تحقیق سره ثابت شو اجر دده الله سره ، او دې الله بخنه کونکې، رحم کوونکي

﴿ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ ﴾ دا استثناء منقطعه ده په معنی د «لکن» سره او «المستضعفین» ورلره اسم دې ﴿ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ ﴾ ورلره خبردې «عسی» په کلام الهی کښې دوعدې دپاره راځی ﴿ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ ﴾ دا بیان دې د مستضعفینو چه دا درې قسمه خلق دی بوډاګان. زنانه او واړه بچیان ﴿ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴾ دا بیان دضعف اودکمزورئ دې یعنی دوئ له د هجرت کولوځه تدبیر نه ورځی، لار د هجرت او ځائ د هجرت ورته نوی معلوم ﴿ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ﴾ دمعذورینو دپاره ترک دهجرت ګناه ندې ددې با وجود دلته ذکر د عفو اوشو اشاره ده دې خبرې ته چه تر ک دهجرت اګرچه دمعذورینو دپاره ګناه ندې خو پکارده چه دوئ ئی ګناه اوګڼړی اوبې خوفه نه شی . ﴿ وَمَنْ يُّهَاجِرْ ﴾ دا بیان دبشارت اُخروی اودنیوی دواړه دې دمهاجرینو دپاره ﴿ مُرٰغَمًا ﴾ ځائ دهجرت اودا ماخوذ دې د «راغمت قومی» رغم پوزه ککړ کیدلوته وائې یعنې ذلت، څوک چه د خپل قوم نه هجرت وکړی نو په هغوئ باندې د ذلت داغ لګی او د ﴿ وَسَعَةً ﴾ نه مراد د رزق فراخی ده ﴿ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ ﴾ د هر دینی مقصد دپاره چه څوک لاړشی لکه : جهاد ، طلب دعلم، حج، طلب د رزق حلال. دا ټول په هجرت الی الله والرسول کښې داخل دی او د ﴿ عَلَى اللّٰهِ ﴾ نه مراد وجوب تفضلی دې یعنی په

۱. ترغیب هجرت ته

سبب د وعدې دالله پاک سره اوپدې تعبیرکښې اشاره ده عظمت د دې اجر ته .

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا

اوکله[1] چه تاسوسفرکوئ په زمکه کښې نوپس نشته دې په تاسو گناه چه قصراوکړئ

مِنَ الصَّلٰوةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ

په مونځ کښې(قصردرکعاتو یاقصر دکیفیت) ، که یریږئ ([2])تاسوددېنه چه تکلیف کښې به واچوی تاسولره

الَّذِينَ كَفَرُوا إِنَّ الْكٰفِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ⑩

کافران ، بېشکه کافران دی ستاسو دپاره دښمنان ښکاره

﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ ﴾ **دا اتم حکم سلطانی دې** اوخلاصه ئې داده چه کله تاسو په سفر دجهادباندې ځئ نو د صلوة خوف طریقه ازده کړئ. ځکه چه دمونځ فرضیت نه ساقطیږی.

قصر په خوقسمه دې یوقصر د رکعتونودې لکه صلوة مسافر بل قصر دکیفیت دې چه بعضې مونځ امام سره اداکړی اوبعضې ځان له اوکړی لکه په صلوة خوف کښې، اوبل قصر دقراءت دې چه مونځ په مختصرقراءت سره اداکړی، نودلته کښې درې واړه معنی اراده کول صحیح دی نوکه قصرنه قصر دکیفیت مرادشی نوروستنې آیت ددې آیت دپاره تشریح او تفسیر دې، لیکن دجمهورو علماؤ قول دادې چه دلته مراد قصر د رکعاتو دې یعنی دڅلورو رکعاتو په ځائې دوه رکعته اداکول، اودا قصر د فجر اومغرب په مونځ کښې نشته دې پدلیل دعمل درسول الله صلی الله علیه وسلم او د اصحاب کرامو سره، اوپدې آیت کښې هم ورته اشاره ده ﴿مِنَ الصَّلٰوةِ﴾ دلته ((من)) تبعیضیه دې یعنې قصر په بعضې مونځونو کښې دې کوم چه څلور رکعته وی، اوقصر په سفرکښې په نزد دجمهورو باندې واجب دې او په نزد د امام شافعی رحمه الله باندې رخصت دې، اولفظ د ﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ دلالت نه کوی پدې چه

۱ . اتم حکم یعني چې جهاد له زئ نو دصلوة الخوف طریقه زده کړئ ځکه چه دمونځ فرضیت په هیڅ وجه سره نه ختمیږي .

۲ . ((ان خفتم)) قید اتفاقی دې دقصر حکم خوف پورې خاص نه دې .

قصر واجب ندي. لکه په باره دسعی بین الصفاوالمروه کښې هم لفظ د ((**لاجناح**)) ذکر دي اوهغه دلا لت نه کوی پدې چه سعی واجبه نده، صاحب دروح المعانی وائې چه خلق چونکه پوره مونځ سره عادت دی نودقصر په وخت کښې دا وهم رازی چه دا به ګناه وی نو ددې توهم دختمولودپاره ((**فليس عليكم جناح**)) ذکر شویدې.

﴿إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوٓا﴾ دفتنې نه مراد د دشمنانوحمله ده . دلته یو **سوال** واردیږی چه دا جمله پدې باندې دلالت کوی چه دقصردپاره خوف شرط دې اوحالانکه جمهورعلماء

ددې قائل ندی **جواب** دادې چه ﴿إِنْ خِفْتُمْ﴾ شرط نحوی دې اوشرط شرعی ندې چه په انتفاء سره ئی حکم منتفی ګیږی، اودشرط نحوی په انتفا ء سره حکم منتفی کیدل ضروری

ندی لکه پدې قول دالله تعالی کښې ﴿وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ﴾ دلته ((**وان كنتم علي سفر**)) شرط نحوی دې اوسره ددې نه چه بغیر دسفرنه هم رهن جائز دې.

د ویم جواب دادې چه د ابوداؤد او دمسلم روایت دې چه یعلی بن امیه دحضرت عمر ﷜ نه تپوس اوکړلو چه پدې آیت کښې خو دقصر دپاره خوف شرط کړې شوېدې اواوس خو خلق په امن کښې دې نوحضرت عمر ﷜ ورته اوئیل چه ما هم تعجب کړې وو دهغې نه چه تا ترینه تعجب اوکړلو نو ماتپوس اوکړلو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نوحضور اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ((صدقةٌ تصدَّق الله بها فاقبلوا صدقته)) یعنې اول قصر مشروط وو په خوف سره خوالله تعالی صدقه اوکړله اودوه رکعتونه ئې بالکل ساقط کړل نو بیخی پاتې ندی او ددې حدیث نه معلوم شو وجوب دقصردپاره دمسافر

﴿إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا﴾ دا جمله علت دې دقصر دپاره یاد ((**ان يفتنكم**)) دپاره او ((**عدوا**)) اسم جنس دې قلیل اوکثیر دواړوته شامل دې نواسم د ((كَانَ)) اوخبرئې مطابق دی

وَإِذَا	كُنتَ	فِيهِمْ	فَأَقَمْتَ	لَهُمُ

اوپه هغه وخت چه ته موجودیې پدوئ کښې په وخت دخوف کښې، پس اراده اوکړې چه قائم کړې ددوئ دپاره

الصَّلَوٰةَ	فَلْتَقُمْ	طَآئِفَةٌ	مِّنْهُم	مَّعَكَ	وَلْيَأْخُذُوٓا	أَسْلِحَتَهُمْ	ع

مونځ ،ولښکردوه طائفې کړه، نواودریږی دې یوډله ددوئ نه په تاپسې او اودې نیسی ځان سره وسله خپله.

فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَآئِكُمْ ۖ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا

نوكله چه دوئ سجده اوکړي نوشی دې دوئ ستاسونه شاته، اورادې شی بله ډله چه هغوئ مونځ نه وی کړی

فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

نومونځ دې اوکړی په تاپسې او اودې نيسی دځان سره سامان دبچاؤخپل اووسله خپله، غواړی کافران داخبره

لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ

چه تاسوغافل شئ دخپلې وسلې نه اودسامان دبچاؤخپل نه نو دوئ حمله اوکړی په تاسو حمله په يووار. اونشته دې ګناه

عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا

په تاسو کچرې وی تاسوته تکليف دباران نه، يا يئ تاسو مريضان چه کيږدئ وسله خپله، اواونيسئ ځان سره

حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾

سامان دبچاؤ خپل، ببشکه الله تيار کړي دي کافرانو لره عذاب شرمونکي

﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ﴾ دا دصلوة الخوف بيان دي او بنا په قول دبعضي مفسرينو دا د ماقبل آيت تفسير اوتفصيل دي، صلوة خوف په نزدبعض آئمؤ لکه امام ابويوسف اوحسن بن زياد خاص وو په نبی کريم صلى الله عليه وسلم پورې په دليل دظاهر د دې قول سره «**واذاکنت فيهم**» او په نزد داما م مزنی شافعی رح باندې منسوخ دې اوجمهورعلماء وائي چه صلوة خوف منسوخ هم ندې اوخاص هم ندې په نبی کريم صلى الله عليه وسلم پورې ځکه صحابو کرامو پس له وفات د نبی کريم صلى الله عليه وسلم نه صلوة خوف اداکړې دي او په ابو داؤد وغيره کښ دی چه صحابو په طبرستان کښې صلوة خوف اداکړې دې، اوعبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه په فتح دکابل کښې صلوة خوف اداکړې وو او داسې نور ډير واقعات هم موجود دی او تخصيص دخطاب په نبی کريم صلى الله عليه وسلم پورې دا مستلزم نه دې تخصيص دحکم لره لکه پدې قول دالله تعالى کښې ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ﴾ . **دصلوة خوف دپاره متعددې طريقې**: امام نووی و ائي چه دصلوة خوف دپاره اتلس طرق مروی دی، ابن عربی رحمه الله شارح دترمذی وائي چه دصلوة الخوف ډير طرق مروی دی

ليکن اصح په کښې شپاړلس (١٦) دی او امام ابوداود رحمه الله دصلوة خوف دپاره متعدد ابواب قائم کړی دی اوپوولس طرق ئې ذکرکړی دی بعضې علماء دهغه ټولو طريقو دجوازقائل دی چه په احاديثو کښې مروی دی اوبعضې محدثين او علماء په هغې کښې دبعضو طريقو قائل ندی. پدغه ټولو طريقو کښې په نزد داحنافو (اصحاب متون) يوه طريقه افضله ده او په نزد دشوافعو (اوداړنګې اصحاب الفتاوی داحنافو) بله طريقه افضله ده د احنافو په نزد افضله طريقه داده چه لښکر دوه حصې شی يوه حصه امام سره شی اومونځ شروع کړی اوبله طائفه دې د دشمن مقابلې ته اودريږی چه اوله طائفه يورکعت اداکړی دَ امام سره نو ددشمن مقابلې ته دې لاړه شی اودا معنی د دې قول دالله تعالی ده ﴿فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَآئِكُمْ﴾ دسجدې نه مراد د اول رکعت دويمه سجده ده چه پدې سره رکعت مکمل شی اوبله طائفه دې راشی او د امام سره دې دمونځ نيت اوکړی اويورکعت دې اداکړی ﴿وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ﴾ ((أی : فليصلوا رکعة واحدةً)) نو بيادې دوئ ددشمن مقابلې ته لاړشی اوطائفه اولی دې راشی اوخپل يو پاتې شوې رکعت دې اداء کړی بغير د قراءت نه، او بيا دې دويمه طائفه خپل يورکعت اداکړی په قراءت سره.

او دشوافعو او د احنافو داصحاب الفتاوی په نزد چه کومه طريقه افضله ده هغه داده چه اوله طائفه دې يورکعت امام سره اوکړی اوپدغه ځائې کښې دې دويم رکعت ځان لره اداکړی نو دوئې به فارغ شی نو ددشمن مقابلې ته به لاړشی نود ((اذاسجدوا)) معنی داده چه ((فاذاصلوا)) او دويمه طائفه دې راشی نواما م سره دی يورکعت اوکړی اوبل رکعت به ځان له اوکړی اوامام به ورته انتظاراوکړی اوسلام به يوځائې اوګرځوی اودامعنی ده ددې قول ده ((فليصلوا معک))

﴿ وليأخذوا حذرهم ﴾ دحذرنه مراد تيقظ اوبيداری ده، يا ترينه مراد سامان دبچاؤ او دحفاظت دې لکه ډال وغيره شو، يعنی دشمن نه خپل بچاؤ کوئ او د دشمن دمقابلې دپاره اسلحه هم واخلئ ﴿وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ داعلت دې دپاره د اخذ د حذر او د اسلحې ﴿فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً﴾ دينه مراد داسې حمله کول دی چه بيا دويمې حملې ته ضرورت پاتې نشی، نومعلومه شوه چه ماقبل امر دوجوب دپاره دې ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾ يعنی دعذر په

وخت كښې اسلحه كېښودل جائزدى نودا دليل دې پدې خبرې چه عذرنه وى نو اسلحه نيول واجب دى ﴿وَخُذُوا۟ حِذْرَكُمْ﴾ دا تاكيد دماقبل دې ﴿إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ﴾ داتاكيددې كفاروته اومرادد ((عَذَابٌ مُّهِينٌ)) نه د آخرت عذاب دې، يا ترينه په دنياء كښې دكفارومغلوبيت مراد دې يعنى هركله چه تاسو دخپلواعمالو لكه مونځ وغيره شو اهتمام كوئ اودخپل حفاظت اهتمام كوئ نو دشمنان به مغلوب وى .

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا
پس كله چه تاسو فارغ شئ دمونځ نه نو يادوئ الله په ولاړه اوپه ناسته اوپه اړخونو خپلو، پس هركله
ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ۝
چه تاسو بې خوفه يئ نوپابندي كوئ د مانځه. بېشكه مونځ په مومنانو باندې فرض دې په وخت وخت

﴿فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ قضاء په معنى د اداء او د فراغ سرې ده يعنى كله چه تاسو دمونځ نه فارغ شئ نو بيا دالله تعالى ذكركوئ په ژبه او په زړه سره او په جوارحو او اعمالو او په اطاعت كولوسره يعنى دمونځ نه فراغت راتلې شى ليكن ذكر اوطاعت همشه لازم دې . **قيام، قعود، جنوبكم** دا كنايه ده د دوام نه او دمونځ مقصد هم دالله تعالى ذكردې لكه چه فرمائى ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِىٓ﴾ نوذكرعام دې په ژبه وى اوكه په زړه كښې وى اوكه اعضاء او جوارحو سره وى يعنې استعمال داعضاء اوجوارحو په اطاعت اومرضياتو دالله كښې دا ذكردې.

﴿فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ د اطمنان نه مراد دادې چه سفر اوخوف نه وى يعنى كله چه سفرنه وى نو بيا پوره مونځ كوئ قصر مه كوئ اوياكله چه خوف نه وى نو بيا پوره مونځ كوئ څكه قصر او صلوة خوف دعذر دوجه نه جائز كړې شوى دى ﴿كِتَٰبًا﴾ يعنى ((مكتوبًا))، ((مفروضًا)) ﴿مَّوْقُوتًا﴾ ((محدد الاوقات)) يعنى دخپل وخت نه ئى بل وخت ته ويستل جائز ندى يا ((موقوتا)) په معنى د ((مقدر)) سره دې يعنى ركعتونه اوطر يقې د ادا كولو په خاص انداز سره مقرر دى نو قصر اوصلوة خوف دعذردوجه نه جائز دى اوبلا عذرجائزنه دى

وَلَا	تَهِنُوْا	فِي	ابْتِغَآءِ	الْقَوْمِ ۭ	اِنْ	تَكُوْنُوْا	تَاْ	لَمُوْنَ

اوسستی [١] مه کوئ په طلب دقوم کافرانو کښې، کچرې يئ تاسو دردمند کيږئ (نوصبر کوئ)

فَاِنَّهُمْ	يَاْ	لَمُوْنَ	كَمَا	تَاْ	لَمُوْنَ ۚ	وَتَرْجُوْنَ	مِنَ	اللّٰهِ مَا

خکه چه هغوئ (کفار) هم دردمند کيږی لکه چه تاسو درمند کيږئ، اوتاسو اميدلرئ دالله نه هغه چه دوئ

لَا يَرْجُوْنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٠٤﴾

اميد نه لري دهغې، اوالله په هرڅه پوهيدونکي اوحکمتونو والادې

﴿وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ﴾ ترغيب الى القتال دې اودقوم نه مراد کفار اومشرکين دی يعنی دمشرکينوسره په جهاد کښې سستی مه کوئ اوبيشکه تاسوته به تکليف رسيږی خو هغه برداشت کوئ څکه کفار د باطل دپاره تکليف برداشت کوی نو تاسو او هغوئ په تکليف برداشت کولو کښې برابر يئ مگر د دغه تکليفو نو نه بدله کښې چه تاسوکوم اميد د رحمت اوبخشش اونعاماتو لرئ، مشرکين هغه نه لری لهذا د هغوئ تکليف محض تکليف دې اوستاسو په تکليف باندې تاسوته دائمی نعمتونه ملاوېږی نوددې وجه نه دالله په لاره کښې هرتکليف اوخوشحالی په خنده پيشانئ سره برداشت کوئ .

اِنَّآ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	لِتَحْكُمَ	بَيْنَ	النَّاسِ

بېشکه [٢] مونږ نازل کړيدې تاته کتاب په رښتيا سره، ددې دپاره چه ته فيصله اوکړې په مينځ دخلقو کښې

بِمَآ	اَرٰىكَ	اللّٰهُ ۭ	وَلَا	تَكُنْ	لِّلْخَآىِٕنِيْنَ	خَصِيْمًا ﴿١٠٥﴾	وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۭ

په هغه طريقه سره چه خودلي ده تاته الله ، اومه کيږه ته د خيانت گرونه طرفدار اوبخښنه غواړه دالله نه

---

١ - ترغيب على القتال .

٢ نهم حکم سلطانی يعنی دقواعدو شرعيو مطابق فيصلې کوه. نه په ظن اوتخمين سره. لپاره د دې چه دهوکه نشي- د ((طعمه)) په قصه کښې تاته دهوکه درکړې شوه. نو الله تعالی تاته قواعد شرعيه اوخودل. دا د الله تعالی لويه مهربانی ده

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ

بې شکه الله پاک بخنه کونکې، رحم کونکې دې اوته جګړه مه کوه دهغه کسانو د طرفه چه په خيانت کښې اچوی دوی

أَنْفُسَهُمْ ۭ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا أَثِيْمًا ۝ يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ

خپل خانونه بېشکه الله محبت نه کوی دهغه چاسره چه وی ډېرخيانتګرګناهګار شرميږي دخلقونه

وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ۭ

اونه شرميږي دالله نه اوالله ددوئ سره دې کله چه دوئ دشپې جرګه کوی دهغه څه چه ندي خوښې دالله هغه وينا

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۝

اودې الله ددوئ په عملونو احاطه کونکې

﴿ إِنَّآ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ﴾ «باء» د تلبس دپاره ده ((ای متلبسا ومشتملابالحق)) یا په معنی دلام سره دې او مضاف مقدردې ((ای لاظهارالحق والباطل)).

دا نهم حکم دې د احکاموسلطانيونه: اوخلاصه ئې داده چه الله تعالى تاته دوحی په ذريعه سره داحکاموشرعيوتعليم درکړيدې نوفيصله دقواعد و شرعيو په مطابق کوه اوپه خپل ګمان او تخمين سره ئی مه کوه چه خطائې واقع نه شی، دا آيت ديوې واقعې سره متعلق دې چه دهغې تفصيل دادې طعمه بن ابی رق (منافق) ديو صحابې حضرت (رفاعه بن زيد (رض)) دکور نه غلا اوکړه او په مال مسروقه کښې څه اسلحه وه او د اوړو يوه تيلئ وه اتفاقًا د اوړو تيلئ سورئ وه چه دهغې نه اوړه بهيدل او دغل کور پورې دغه نشان اوشو نو چه کله غل ته پته اولګيدله نو د بدنامئ نه دبچ کيدلو دپاره ئی دغه مال مسروقه د زيدبن ياسمين په نوم يهودې سره په طور د امانت کيخودله نو د شپې داواقعه اوشوه نوصبا حضرت رفاعه خپل وراره حضرت قتاده بن نعمان د تحقيق حال دپاره اوليګلو نو تفشيش نه روستو دا معلومه شوه چه دا کار دبنوابيرق خاندان (طعمه) کړې دې نو دا منافق چه کله خبر شو نو ده د غلا الزام په زيدبن ياسمين باندې اولګولو چه مال مسروقه دهغه کورنه برآمد شوې دې اودوئ قسمونه اوکړل اودخپل ايما ن او اخلاص ئی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ظاهر کړلو اونبی کريم صلى الله عليه وسلم ته ئی يقين او اطمنان ورکړلو چه «طعمه» چه اصل غل وو

نوډې برئ اوبې ګناه دې. نونبې کریم صلی الله علیه وسلم دمنافقانو دغه قسمونه اوشهادتونه صحیح اوګڼړل او دا خیال ئې اوکړلوچه طعمه بې ګناه دې اویهودی غل دې اویهودي ته ئې دغلا دسزا ورکولو اراده اوکړه لکه معالم وغیره وائي چه ((فهمّ النبي صلی الله علیه وسلم ان یقطع ید زید الیهودی)) یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د زید بن یاسمین د لاس پرې کولو اراده وکړه نو پدې باره کښې دا آیتونه نازل شو ﴿بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ﴾ ((ای علمک الله)) یعنی تاته ئې خودلی ده په ذریعه دوحی خفی سره چه هغه حدیث دې او دا دلیل دې په حجیت دحدیث باندې ﴿وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا﴾ ((خائن)) د ((خصیما)) سره متعلق دې او د خائنو نه غلاکوونکی اودهغه دفاع کوونکې مراد دې ﴿وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ﴾ دلته دا **سوال** کیدې شی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د استغفار حکم اوشو نو آیا دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه څه ګناه شوې وه؟ **جواب** د استغفار ډیر وجوهات کیدې شی اوپدې آیت کښې مفسرینومختلف وجوهات بیان کړې دی. تفسیر خازن وغیره وائي چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د منافقانو د چالاکی په وجه ګمان وکړو چه زید یهودی غل دې او دهغه د لاس د پریکولو اراده ئې وکړه. نو که چرې دا سزا نافذه شوې وې نودا به خلاف واقع وه نوپدې کښې اګرکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم معذور وو لیکن بیاهم د لغزش په وجه دااستغفارحکم اوشو ((لوروقع ذالک الامر لکان خطاءً فی نفس الامر فامره باالاستغفار منه وان کان معذورا)). ((خازن)). بعضو مفسرینو ویلی دی چه د استغفارحکم په طریقه د تعبد سره دې، دګناه دوجه نه ندې. اوبعضې وائي چه د انبیاؤ استغفار د((حسنات الابرارسیات المقربین)) په قانون دې یعنی کوم کار چه عامونیکانو دپاره حسنه وی نو دنبی کریم صلی الله علیه وسلم شان چونکه ډیر ارفع دې نوهغه به حسن کارنه کوی بلکه احسن به کوی نوحسن کارکول ګویاکښې دده په شان کښې سیئه دې، نوپدې وجه د استغفارحکم ورته اوشو، نو په حکم دااستغفارکښې لوئ شان ددوئ ته اشاره ده ﴿وَلَا تُجَٰدِلْ﴾ یعنی د خیانت ګرو طرف داری او دهغوئ د طرفنه بحث اووکالت مه کوه ﴿يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ﴾ دوئ دمخلوق په مخکښې د رسوا کیدولو نه شرمیږی نو اصل خبره خو داده چه دوئ د الله نه اوشرمیږی اوګناهونه اونفاق پریږی

فائده ((۱)) د ((**ولاتجادل عن الذین**)) نه او د ((**ولاتکن للخائنین**)) نه دا نه لازمیږی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دهغوئ دطرفنه مجادله کړې وه یا ددوئ دپاره ئې دفاع کړې وه لکه په

روستو آیت کښې دی ((لهمت طائفة منهم ان يضلوك)) نه دا صراحتًا معلومیږی چه الله تعالی نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خپل فضل اوکرم سره محفوظ ساتلي دي او پدې آیتونو کښې چه منع دمجادله نه شویده یا د خائنینُ دپاره منع دمدافعت نه شوي ده ددې نه دا نه معلومیږی چه دا فعل په ماضی کښې شوي دي بلکه ددې فائده داصل حقیقة الحال نه خبرول دی چه د ((طعمه)) اوقوم د هغه دا خواهش دې اودائې منصوبه ده چه ته ددوئ طرف داری اوکړی اودفاع ئې اوکړې

فائده (۲) دویم مفسرین کرام فرمائې چه ددې آیت نه یوه داخبره معلومه شوه : (۱) چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اجتهاد کړې دې په هغه واقعه کښې چه هلته نص موجودنه وو، (۲) بله داکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به په اجتها دکښې غلط شونو په غلطئ باندې برقرارنشوپریخودلې نو اجتهاد دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په شان د نص قطعی دې (۳) دریم دا چه اجتهادهغه چا معتبردې چه دقرآن اودحدیث د اُصولونه ماخوذ وی اوصرف رائې معتبره نده

﴿وَهُوَ مَعَهُمْ﴾ یعنی دالله تعالی نه شرم اوحیاء کول ضروری دی چه الله تعالی دهرچاسره دې اومراد دمعیت نه دا ندې چه الله تعالی متمکن دې په مکان کښې یامحاط دزمانې دې بلکه دا معیت بلاکیف دې یامعیت په اعتبار دعلم اوقدرت سره دې ﴿إِذْ يُبَيِّتُوْنَ﴾ ((تبیت)) شپې تیرولوته وائې، او دشپې یوکارکول او یا مشوره کولوته هم وائې، دلته ترینه مراد دادې چه دطعمه ملګرو دهغه دبچ کولو لپاره دشپې په یوکورکښې مشوره کړې وه. ﴿مِنَ الْقَوْلِ﴾ دا بیان د ((ما)) دې، او د دې نه مراد دغه مشوره ده.

هَاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَمَنْ يُّجَادِلُ

خبردارتاسوائې خلقو(قوم دطعمه) جګړه کوئ تاسو ددوئ دطرفنه په ژونددنیوی کښې، نوپس څوک به جګړه اوکړی

اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۱۰۹﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا

الله سره ددوئ دطرفه په ورځ دقیامت کښې یا به څوک شی په دوئ باندې ذمه وار اوچاچه عمل اوکړو بد

اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۱۰﴾

یا ئې ظلم اوکړوپه خان خپل، بیابخښنه اوغواړي دالله نه اوبه مومی الله لره بخښونکي رحم کونکي

﴿ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ دا خطاب دې د طعمه ملګرو او قوم ته که تاسو په دنياء کښې طعمه لره بې نفرض بچ کړئ نو په آخرت کښې به ئې څوک بچ کړي، هلته خو دروغ نه چليږي نوهلته به ئې وكالت څوک اوکړي ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ﴾ د ((سوء)) نه مراد ګناه دې اود ((ظلم)) نه مراد شرک دې يا د ((سوء)) نه مراد ګناه صغيره دې او د ((ظلم)) نه مراد کبيره ګناه دې ياد ((سوء)) نه مراد سرقه کول اود ((ظلم)) نه مراد په بل چاباندې تهمت لګول دی

﴿ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ﴾ ددې نه مراد دقوانينوشرعيومطابق معافي غوښتل دی چه حقوق العباد هم اداکړي يا ورته هغوئ معافي اوکړي، په قرطبي کښې دې : ((عن سفيان عن ابي اسحاق عن الاسود وعلقمه قالا قال عبدالله بن مسعود من قرء هاتين الايتين من سورة النساء ثم استغفر غفرله)) څوک چه دا دواړه آياتونه اولولي اومغفرت اوغواړي نومغفرت به ئې کيږي ، يوايت دادې ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ او بل آيت دادې ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴾ [سورة النساء ، آية ۶۴] روايت دې دحضرت على رضى الله عنه نه چه ما به يو حديث واوريدلو دنبى كريم صلى الله عليه وسلم نه نوالله تعالى به ماته په هغې سره نفع راكوله خومره به چه دالله تعالى خوښه وه اوچه مابه دبل چانه حديث واوريدلونومابه هغه ته قسم وركولو (دتحقيق اويقين دحاصلودپاره) او ماته حديث بيان كړلو ابوبكر رضي الله عنه اوهغه صديق دې (نو قسم وركولوته ضرورت نه وو) دې وائي چه كوم بنده يوګناه اوكړي اوبيا اودس اوكړي او دوه ركعته مونځ اوكړې اومغفرت اوغواړي دالله تعالى نه نوخامخابه ورته الله تعالى معافي كوي او بيائې دا آيت تلاوت كړو ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾

وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۱۱۱﴾

اوڅوک چه اوکړي ګناه، نوبېشکه کوي دا ګناه، ضرر ورکوي خپل ځان ته، اودې الله پوهه حکمتونو والا

وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا فَقَدِ ٱحْتَمَلَ

اوڅوک چه اوکړې ورو کې ګناه يالوئې ګناه، بيابدنامه کړي په هغې پاک سړې، نو په تحقيق سره ده بارکړوخپل سرباندې

بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾

غټ دروغ او ګناه ښکاره.

﴿ وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا ﴾ يعني دګناه نه توبه ا واستغفارځکه ضروري دي چه دګناه وبال اونقصان ګناه کوونکي ته رسي نوپکارده چه توبه دې اوکړي.

﴿ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْمًا ﴾ يعني څوک چه کبيره ياصغيره ګناه اوکړي اوتوبه اونه کړي بلکه دګناه تهمت په يو برى انسان باندې اولګوي لکه طعمه اودده ملګري نوبيادا زيات ضرر او نقصان دي، نو دغه شان کس په خپل سر باندې ډير دروند بوج واچوؤ.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ

اوکچرې نه وې فضل دالله په تاباندې اورحمت دهغه، نودوئ به ته خطاکړې وې ځکه چه پوخ قصد کړې وو يوډلې

مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ

ددوئ نه چه خطاکړي تا په فيصله کښې، اونشي خطاکولې دوئ مګر خپل نفسونه اوضرر نشي رسولې دوئ تاته

مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ

هيڅ ضرر. اونازل کړيدې الله په تاباندې کتاب اوسنت اوتاته نې خودلى دى هغه خبرې[1] چه تاته نې علم نه وؤ

وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾

او دې فضل د الله په تا باندې لوئې

﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ ﴾ جواب د ((لولا)) مقدردې((اى لاضلوک)) يعني په تا باندې د الله تعالى خصوصي فضل اورحمت نه وې نودوئ به د خپلې ډيرې چالاکئ په وجه خطاکړې وې په فيصله کښې ليکن دالله تعالى فضل اورحمت موجودوونوځکه ته خطاء نشوې او په آينده کښې به هم نه خطاء کيږې، دالله دفضل نه مراد وحى ده او د رحمت نه مراد عصمت دې يا د فضل نه مراد عامه وحى ده او د رحمت نه مراد خاص آياتونه دوحى دى، دينه وحى جلى اوخفى هم

۱ - يعني د دې معاملې پوره حقيقت تاته معلوم نه وو، الله تعالى ترينه خبرکړې

مراد کيدې شي

﴿وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ﴾ ځوک چه بل ځوک ګمراه کوی نوپه خپله به ګمراه ګيږی

﴿وَمَا يَضُرُّونَكَ﴾ او آينده تا نشی خطاکولې، يا پدې فيصله کولوکښې دوئ تا ته هيڅ.

ضررنشی رسولې ﴿وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ﴾ دکتاب نه مراد قرآن دې چه وحی جلی ده او دحکمت نه مراد سنت د رسول الله صلی الله عليه وسلم دې چه وحی خفی ده

﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ﴾ مراد ددينه اموردډين دی چه هغه اسرار اوحکمتونه دقرآن او سنت دی، نو پدې وجه دوئ تا نشی خطاء کولې، يا ترينه اخبار اوحالات دانبياؤ سابقينو مراد دی او د هغوئ اقوام، يا ترينه مراد دهغه تيرې شوې واقعې داصل حقيقت علم دې چه تاته داصل واقعې علم نه وو اوالله تعالی ترينه خبرکړې.

فائده بريليان پدې آيت سره استدلال کوی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته د ((مَا كَانَ)) او د ((مَا يَكُوْنُ)) علم حاصل وو، او طريقه داستدلال ددوئ بعضې عالمان (بلکه جاهلان) داسې ذکر کوی چه ((عَلَّمَ)) باب تفعيل دې او فاعل ئې الله تعالی دې چه مفيض دې په افاضه تامه سره او مفعول اول ئې ((ک)) نبی کريم صلی الله عليه وسلم دې چه هغه مستفيض دې په استفاضه تامه سره اومفعول ثانی ورلره ((ما)) دې چه هغه دعموم دپاره دې نومعلومه شوه چه مخکې ددې آيت نه کوم څيز چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته معلوم نه وو نو دهغه ټولو علم الله ورکړې دې. **جواب** (۱) دا قانون چه فاعل د ((عَلَّمَ)) الله وی اومفعول ئې رسول الله وی، نوهلته به علم کلی وی دا خود ساخته قانون دې په هيڅ کتاب کښې ددې ذکرنشته دې اولفظ د ((ما)) اګر که په اصل کښې دعموم دپاره دې ليکن استعمال ئې په خصوص کښې شائع دې لکه په نورالانوارکښې دی، يعنی انهما (من، ما) فی اصل الوضع للعموم ويستعملان فی الخصوص بعارض القرآئن او په قرآن کريم کښې ئې استعمال دخصوص دپاره ډيرشوې دې لکه ﴿وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ ((سورة مائده: ۲۰)) ﴿كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا۟ تَعْلَمُونَ﴾ ((سورة بقرة - ۲۳۹)) ﴿وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنتُمْ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْ﴾ ((سورة انعام: ۹۱))

جواب (۲) مفسرينو پدې آيت کښې ((ما)) په خصوص محمول کړې دې چا ترينه احکام شرائع مرادکړی دی، اوچا ترينه امور د دين، اوچا ترينه کتاب اوحکمت مرادکړې دې اوچا

ترينه اخبارالاولين مراد کړي دی (**قرطبی، خازن، معالم وغیره**) امام رازی فرمائي : ((مایتعلق بامورالدین)) اوکومومفسرینوچه ترینه علم غیب مراد کړي دي نوهغوئ علم کلی ندی ویلی او دا قول ئي په ((**قیل**)) سره ذکرکړي دي چه ضعف ته اشاره ده. **جواب** (٣) دا سورة دهجرت په څلورم کال سنه ۴ هـ کښې نازل شوې دې نو ددې نه روستو ډیر سورتونه ((تقریبا ٢۴)) سورتونه نازل شوی دی نو بنا ستا سو په قول باندې دهغې نزول ته څه ضرورت نه وو ځکه چه د تمامو امورو علم حاصل شوې وو نوبیاخوتحصیل دحاصل دې اودارنګې ددینه روستوسورة نوراو توبه، منافقون نازل شوی دی او په سورة نور کښې دواقعه افک ذکر دې چه دهغې د وجه نه رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیرسخت پریشان وؤ، په سورة توبه کښې دی، چه ((لاتعلمهم نحن نعلمهم)) دغه ټول واقعات پدې خبره ګواه دی چه ((وعلمک مالم تکن تعلم)) نه تمام مغیبات مراد نه دی

لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ

نشته [1] دې هیڅ خیر په ډیرو کښې دپټوجرګودوئ نه مګر خیرپه جرګه اومشوره دهغه چا کښې دې چه حکم کوي

بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍۢ بَيْنَ النَّاسِؕ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ

دصدقې یا دنېک کار یادصلح په مینځ دخلقو کښې، اوڅوک [2] چه وکړی داکار دپاره دطلب درضا

اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ

دالله نوزر ده چه ورېه کړو مونږ دوه ته اجر لوئې . اوڅوک [3] چه خلاف اوکړي درسول نه روستودهغې نه چه ښکاره شوې وی

لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا

هغه ته هدایت. اوروان شی پخلاف دلارې د ټولومومنانونه، واېه ړوومونږ ده لره هغه طرفته

تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝

چه دې ورته واوړیدو (اختیاریی کړه) اوداخل به کړو دې جهنم ته، اوډېربدځائې دورتلودې داجهنم

١ دا دنهه حکم سره متعلق دي

٢ بشارت

٣ تخویف

﴿لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ﴾ منافقینو مشورې کولې چه طعمه دغلا د الزام نه بچ کړی او په دروغه سره په بل چاباندې الزام اولګوی نوالله تعالی اوفرمائیل چه پدغه شان جرګو او مشورو کښې هیڅ خیرنشته دې بلکه خیر په دې کښې دې چه

﴿إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ﴾ ((ای فی نجوی من امربصدقة)) پدې سره جسمانی خیر او فائده رسیږی

﴿أَوْ مَعْرُوفٍ﴾ دیو نیک کار لکه دعوت اوتبلیغ د دین لپاره مشوره کول پدې سره روحانی خیررسیږی ﴿أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ﴾ اول دواړه (یعنې صدقه، معروف) ایصال دنفع دی یو روحانی دې اوبل جسمانی دې اودا دریم دپاره درفع دشر دې نوددې امورو دپاره مشوره کول خیردې اوموجب د اجرعظیم دې، لیکن شرط ورلره دادې چه ﴿ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ﴾ یعنې چه دالله تعالی رضاوی.

﴿وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ﴾ دا تخویف دې په مخالفت دسنت رسول اواجماع باندې، په ماقبل آیتونوکښې طعمه او دهغه خاندان ته زجر نه وو دلته تعمیم دې، ((شقاق)) مخالفت ته وائي دا ماخوذ دې د ((شق)) نه او په مخالفت کښې هم یوسړې یوشق (طرف) ته پاتې شی، اوبل کس بل طرف ته پاتې شی   یعنی څوک چه مخالفت اوکړی دقول اوفعل درسول نه او د اعتقادرسول نه

﴿مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ﴾ دا قید دمزید قباحت دپاره دې څکه چه سرة دعلم نه مخالفت درسول ډیرقبیح دې.

﴿وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ لام د استغراق دپاره دې نو پدې کښې داجماع امت ذکردې، حضرت امام شافعی رحمه الله دې سره استدلال کړې دې په حجیت د اجماع باندې، روح المعانی نقل کړی دی د امام مزنی رحمه الله نه، دې وائي چه زه دامام شافعی رحمه الله سره ناست ووم نو یوشیخ راغې چه داُون (وړئ) لباس ئي اچولې وو او عصاء ئی په لاس کښې وه اوامام شافعی رحمه الله ستنې ته تکیه لګولې وه او ناست وؤ نو دې ئی ولیدو نو راپاسیدلو اوکیناستلو نو دې شیخ اوئیل چه ددین دالله تعالی دحقیت دلیل څه دې، نوامام شافعی اوئیل کتا ب الله، نوشیخ اوئیل چه بیا څه؟ نوامام شافعی اوئیل چه سنت رسول الله، نو هغه اوئیل چه بیا څه دې ؟ نو امام شافعی اوفرمائیل چه اجماع دامت، نوده اوئیل چه اجماع دڅه نه ثابته ده آیا په کتاب الله کښې ده؟ نو امام شافعی رحمه الله چپ شو او فکرمندشو نو دغه شیخ ورته اوئیل چه تاته درې

ورخي مهلت دي که تا د حجیت داجماع دپاره آیت پیش کړلونو فبها والا فاعتزل الناس، نوامام شافعي رحمه الله درې ورځې اوشپې سوچ اوفکر اوکړلونوهرکله چه درې ورځې پس دغه شیخ راغې نوامام شافعي رحمه الله دغه آیت تلاوت کړلو او وې وئيل چه الله تعالی په سبب دمخالفت دسبیل المؤمنین وعید د دخول دجهنم بیان شوې دې، نومعلومه شوه چه مخالفت داجماع دمؤمنینو نه حرام دې او اتباع ئي فرض ده نودغه شيخ اوئيل (صدقت).

او روایت دې چه پدغه درې روځواوشپوکښې امام شافعي درې وارې د ورځې قرآن ختمولواودرې وارې د شپې، او په یو بل روایت کښې دی چه درې سوه خله واره ئي قرآن ختم کړلو مزیدتفصیل روح المعاني کښې دې)

﴿ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ ﴾ حواله به کړومونږ ده لره او اوبه سپارو ده لره هغه کارته چه ده کوم اختيارکړې دې او دغه بد اعمال به ورته آسان کړو استدراجًا. ﴿وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ ﴾ او بيا به ئي جهنم ته ددغه اعمالو په وجه داخل کړو.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ

بیشکه [1] الله نه بخښي دا چه شرک اوکړې شي دهغه سره، اوبخنه کوي ماسوی دشرک نه هغه چاته چه ئي خوښه شي

وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ إِن يَدْعُونَ

او څوک [2] چه شریک اوګرزوي دالله سره نوپه تحقیق سره ګمراه شو په ګمراهئ لویه سره نه بلي دوئ

مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾

سوا دهغه نه . مګر ښځې او نه بلي دوئ مګر شیطان سرکش لره

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ ﴾ داحکاموسلطانیونه روستومسئله دتوحيد ذکر کیږي يعنی شرک یو داسې جرم دې چه قابل دمعافي ندې اوڅوک چه مشرک مړشي نوالله تعالی به ورته مغفرت نه کوي. او دشرک نه علاوه نورګناهونه قابل دمعافئ دی خو په مشیت د الله تعالی

۱ . د احکامو نه بعد دَ توحيدبيان تفصيلاً.

۲ . شرک اعتقادي اوشرک فعلي دواړه مراد دی.

بندې موقوف دی نو که الله تعالی اوغواړی نو مغفرت به ئی اوکړی ﴿وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ﴾ پدې کښې شرک فعلی او اعتقادی دواړه داخل دی

﴿إِن يَدْعُونَ﴾ دینه مراد مطلق عبادت دې یاطلب الحاجات مراد دې ﴿إِلَّآ إِنَٰثًا﴾ پدې آیت کښې مشرکینوته په شرك باندې پیغور دې چه ستاسو هغه خودساخته معبودان او خدایان خوښخې دی نو تاسو دښځو عبادت کوئ ، حالانکه تاسو په خپله معاشره کښې دښځومقام اوحیثیت بالکل ورك کړې دې او په ډیر سپك نظرسره ورته ګورئ په ﴿إِلَّآ إِنَٰثًا﴾ کښ ډیر توجیهات دی، **یو** دا چه د بُتانو په نومونو کښ د تانیث علامه وه لکه لات، منات، عزی، **دویمه** داچه د دینه مراد فرشتی دی، دوئ ویل ((الملائکة بنات الله)) او دهغوئ عبادت ئی هم کولو. **دریمه** دا چه دوئ خپل بتان د ښځو په شان ښائسته کول ، د سرو زرو او سپینو زرو کالو سره. **څلورمه** وجه دا چه د دوئ عقیده وه چه یوه جنّیه (پیری) د هربُت سره ده او کله کله به دوئ ته ښکاره کیدله هم، **پنځمه** دا چه مراد د ((اناثا)) نه ((اصنامًا لا ارواح لها)) دی، یعنی جمادات دی. هرکله چه جمادات یعنی منفعل دی یعنی اثر قبلوونکی وی، فاعل یعنی اثر کوونکی ندی نوځکه پری اطلاق د ((اناثا)) وشو، ځکه اناث هم منفعل وی اوفاعل نه وی

﴿وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا﴾ د دې ((یدعون)) نه مراد اطاعت دې یعنی دوئ چه د (اناثو) بتانو عبادت کوی نو دوئ په دې کښ صرف د شیطان تابعداری کوی ، یا ترینه مراد بلنه او طلبَ الحَاجات دې. یعنی دوئ په ظاهر کښ د بُتانو بلنه کوی، او په حقیقت کښې صرف دشیطان بلنه کوی. د شیطان د بلنې مطلب دادې چه شیطان سبب دې د دې بلنې دپاره. یا دا چه شیطان به ددوئ په بتانو کښې داخیلدلو او دوئ به ورسره کله کله خبرې هم کولې او آوازونه به ئی ورته کول چه مایوس نه شی، نو دا سوال واردنه شو چه دشیطان بلنه اوعبادت خوڅوك نه کوی. حضرت استاد به فرمائیل چه شیطان چه په چا باندې خپل عبادت کول غواړی نوخپل نوم نه ظاهروی ځکه دهیچ چا مزاج داخبره نه منی چه شیطان ته دې عبادت اوسجده اوکړ ی یا دهغه په نامه باندې مالی عبادت اوکړی یا ترینه حاجت اوغواړی، ځکه چه دا هر چاته معلوم ده چه دې ملعون دې. بلکه شیطان د یو ولی او د بزرګ نوم رامخکې کړی چه دده نذر اوشکرانه ادا کړئ او ده ته سجده اوکړئ نو دې به خوشحاله شی نوچه کله دې خوشحاله شو نوالله به درنه خوشحاله شی نوعوام کالانعام پدې باندې دهوکه شی اوکه څوك پرې رد کوی

نوشیطان ورته وائی چه گوره دا فلانې عالم اولیاء نه منی، بزرگان نه منی وغیر ذلك ، او د دې دواړو حصرونو ((**الا اناثا**)) **او** ((**الاشیطانا**)) په مینځ کښې څه منافات نشته دې ځکه د اول ((یدعون)) نه مراد بلنه ده اود دویم ((یدعون)) نه مراد اطاعت دې اوکه په دواړو کښې حصرمراد شی نو په اول کښې حصر په اعتبار د ظاهرسره دې او په دویم کښې په حسب د حقیقت سره مراد دې

لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ	وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ	نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۙ﴿۱۱۸﴾	وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ	
لعنت کړېدې په هغه الله.	اوده ونیلی دی خامخابه څه اخلم ستابندګانونه	حصه مقرره	اوخامخابه ګمراه کوم دوی لره	
وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ	وَلَاٰمُرَنَّهُمْ	فَلَيُبَتِّكُنَّ	اٰذَانَ	الْاَنْعَامِ
اوخامخابه امیدونه ورکوم دوی ته	اوخامخا به څه امرکوم دوی ته،	نوځېرې به کړی	غوږونه	دځاروو
وَلَاٰمُرَنَّهُمْ	فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ	وَمَنْ يَّتَّخِذِ	الشَّيْطٰنَ	وَلِيًّا
اوخامخابه څه امرکوم دوی ته	چه بدل کړی دوی صورتونه جوړکړی دالله ،	اوڅوک چه اونیسی	شیطان	دوست
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾	يَعِدُهُمْ	وَ يُمَنِّيْهِمْ ؕ	
ماسوا دالله	نه نویه تحقیق سره تاوان یی اوکړو تاوان ښکاره .	وعده کوی شیطان ددوی سره	او امیدونه ورکوی[1]	
وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ	اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾	اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؗ	وَلَا يَجِدُوْنَ	
دوی ته.اووعده نه کوی ددوی سره شیطان	مګر دهوکې والا	دغه خلق ځائې ددوی جهنم دې.	اونه به مومی	
عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾	وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	سَنُدْخِلُهُمْ	
دهغې نه خلاصې	اوهغه کسان[2] چه ایمان یی راوړې وی	اوعملونه کوی نېک	زر ده چه داخل به کړومونږ دوی	
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ			
جنتونوته چه بهیږی به لاندې دهغې نه ولې	همېشه به وی په هغې کښې همېشه،			

۱ ـ تخویف

۲ ـ بشارت

وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّاؕ وَ مَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا

وعده کړې ده الله تعالیٰ وعده حقه او رېښتنې او څوک دې زيات رښتني د الله نه په خبره کښې

﴿وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ﴾ شیطان چه کله ملعون شونو الله رب العزة ته ئې مخامخ داسې اوئیل چه زه به ستا په بندیګانو کښې خان له حصه نیسم چه هغه مشرکان او فاسقان او د شیطان تابعداري کوونکي دي او دهغې تفصیل دادې چه ﴿وَلَاُضِلَّنَّهُمْ﴾ مراد اړول دي د حق لارې نه په وسوسره ﴿وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ﴾ دامیدور کولو نه مراد طول عمر دې. یا د جاه او د مال امیدونه دي. یا دا چه غیر طاعت ورته طاعت ښکاره کړي او امید د ثواب ورته ورکوي لکه بدعات رسومات وغیره.

﴿وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ﴾ «بتک» قطع او څیرولو ته وائي پدې کښې شرک فعلی د مشرکینو ته اشاره ده چه کله به مشرکینو نذر لغیر الله کولو نو کوم حیوان به ئې چه د خپلو بتانو په نوم باندې نذر کولو نو غوږ ئې به ترینه پرې کړلو (څیرې کړلو) او دارنګې چه کله به ئې تحریم لغیر الله کولو لکه بحیره او سائبه او حام چه پدې باندې به رکوب او یا بل څه نفع حرام وه نو غوږ به ئې ترینه پرې کړلو او دا علامه به د تحریم وه.

﴿وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ﴾ خلق په معنی د مخلوق سره دې یعنې جوړ کړې شوی شکل او صورت کښې تغیر کول او دا حرام دي، البته کوم چه په اجازت شرعي سره وي لکه ختنه او قطع الاظفار دا په تغیر لخلق الله کښې ندې داخل نو ددې مصداق په باره کښې مفسرین ډیر امور وائي (۱) سړو او د ښځو یو بل سره مشابهت کول لکه سړي ځان د ښځو سره مشابه کړي، لباس د ښځو زیورات واچوي (۲) ګیره خریيل (۳) کمول د موتې نه (۴) او غلامان خصي کول (۵) او دارنګې ښځې د سړو سره مشابهت اختیارول لکه د سرویخته کټ کول یا لباس د نارینو اچول، خالونه لګول (۶) او دارنګې نور د کفارو فیشن کول دا ټول پدې کښې داخل دي، او حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه د خلق الله نه مراد دین الله دې، دین ته خلق الله په دې وجه ویل شوي دي چه دین فطرة دې یعنی اصل پیدایش، توحید او اسلام فطرت دې نو کفر او نوره بې دیني بدلول د فطرة دي، دا دواړه معاني یو بل ته قریب دي.

﴿وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا﴾ دا تخذیر دې چه د شیطان دوستي سبب د خسران دې او سبب د خسران دادې چه ﴿يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ﴾ یعنی دَ دهوکې وعدې ورسره کوي ﴿اُولٰٓئِكَ

﴿ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ﴾ دا تخویف دي ((محیص)) خائي د تختیدلو او دخلاصی ته وائی ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ دا بشارت دي ﴿ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ﴾ یعنی دهوکه په کښې نشته دي، دا دواړه مفعول مطلق د فعل مقدر دی ((ای وعد الله وعدًا حقه حقًا)) ﴿ قِيْلًا ﴾ منصوب بنابر تمیز دي قَول، قِيل، قَالَ دري واړه مصدرونه رازی.

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ۗ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا
ندي دارومدارستاسوپه امیدونواونه په امیدونو داهل کتابو(بلکه قانون دادي)چاچه عمل اوکړو بد
يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾
نو دهغې سزابه ورته ورکولې شي، اونه به مومی دخپل ځان دپاره ماسوئ دالله نه دوست بچ کونکې اونه مددګار

﴿ لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ ﴾ دا زجر دي اومقصدد دي آیت دادي چه دین حق دچا دخواهشاتو تابع ندي لکه مشرکان چه د خپل ځان نه تحریمات او نذرلغیرالله ئی کولو، دا د دوئ خواهشات وو،دغه شان تمام انواع د شرك، او دارنګې بدعات داټول خواهشات دی اودین ندي، او لکه څرنګه چه دین حق د چا د خواهشاتو تابع ندي نو دغه شان جزاء ئی د چا دخواهشاتو تابع نده چه بدعات به کوی او اجر به هم ورته ملاویږی، داسې نده، بلکه څوک چه بدعمل اوکړی نو دبدو سزا به ورته ملاویږی نه چه ثواب، د ((لیس)) لپاره اسم ضمیردې چه راجع دې ((وَعد)) ته چه مذکور دي صراحةً یا راجع دي موعود ته چه جنت د ي اومذکوردي ضمنا په ((وعد الله)) کښې یا راجع دي ایمان ته چه مذکوردي په ((والذین آمنوا)) کښې، په روایت دابن عباس رضی الله عنه کښې دی چه یهودو او نصاری اوئیل ((**لن یدخل الجنة الامن کان منا**)) اوقریشوبه وییل ((**لانبعث**)) نودا آیت نازل شو ، نوخطاب مؤمنانو ته دي چه جنت او وعده د جنت په امانی سره نده ،نه د مؤمنانو په امانیو سره اونه د اهل کتابو په امانیو سره، بلکه په عمل سره ده اوقتاده اوسُدی رحمهما الله وائي چه مؤمنانو اواهل کتابو به په یوبل باندې خپل فخرکولو، اهل کتابو به ویل چه ((کتابناقبل کتابکم ونبینا قبل نبیکم)) یعنې چه زمونږ کتاب ستاسو د کتاب نه وړاندې دې او زمونږ نبی ستاسو د نبی نه وړاندې دي نو مونږ زیات غوره یو، او مؤمنانو به وئیل چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم، خاتم النبیین دي او زمونږ کتاب حاکم دي په ټولو کتابونو ، نو دا آیت نازل شو (**قرطبی**).

او حاصل دا دي چه د پيغمبر يا د كتاب د غوره والي په وجه تفاخر نه دي پكار بلكه د عمل په وجه غوره والي راځي. نو كه د چا نبي او كتاب ډير غوره وي خو چه عمل ئې خراب وي نو سزا به ورته وركولې شي نو د ،،**ليس بأمانيكم**،، خطاب مؤمنانو ته دي .او د مجاهد او ابن زيد نه روايت دي چه خطاب اهل شرك ته دي. هغوي وئيل ((لانبعث ولا نعذّب)) نو الله تعالى ورته اوفرمائيل چه ((ليس بامانيكم)) يعنې وعده يا جنت موعود يا ايمان نه دې ستاسو په خواهشاتو ((اخرج ابن ابي شيبة عن الحسن موقوفاً واخرج البخاري في تاريخه عن انس مرفوعا ليس الايمان بآلتمني — الخ)) .،،**روح المعاني**،،

﴿ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ ﴾ يعني په اماني او خواهشاتو سره د جنت وعده نده بلكه قانون دا دي چه د بد عمل سزا به ملاويږي او په عمل صالح سره به سړي جنت ته داخليږي.

په روايت د ترمذي كښې دي چه حضرت ابوبكررضي الله عنه وائي چه زه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ووم چه دا آيت نازل شو نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اې ابابكر ! آيا تاته هغه آيت ونه لولم چه اوس نازل شو ، نو ما ووئيل خامخا ئې وولولئ نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوستلو ، نو ابوبكر رضي الله عنه فرمائي ((وجدت انقصاماً في ظهري حتي تمطأت لها)) يعني په ابو بكر رضي الله عنه باندې داسې اثر وشو لكه چه ملا ئې ماته شوې وي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ((مالك)) يعنې تاله څه وشو؟ نو ابوبكر رضي الله عنه عرض اوكړو چه يا رسول الله په مونږ كښې څوك داسې دي چه گناه به ئې نه وي كړې او چه هرچاته په گناه باندې سزا وركولې شي نو څوك به بچ شي؟ نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اې ابوبكر! خبردار ته او ستا مؤمنان ملگرى .تاسو ته په دنيا كښې د تكاليفو او مصيبتونو په ذريعه بدله دركولې شي حتى چه تاسو ملاقات اوكړئ د الله تعالى سره اونه به وي په تاسو هيڅ گناه .يعنى تكليفونه او مصيبتونه كفاره د گناهونو ده دپاره د مومنانو. او په بل روايت كښې دى چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل آيا ته بيماريږې ؟ تاته غم او مصيبت نه رسي ؟ صديق اكبر رضي الله عنه عرض اوكړو چه بيشكه دا ټول راته رسيږي نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه دغه سزا ده ستاسو د گناهونو .

او د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه كله بنده ته تبه اولگي يا ده ته څه تكليف اورسي نو دا د گناهونو كفاره وي تردې چه يو سړې په خپل جيب كښې څه څيز تلاش كړي او ملاؤ ورته نشي بلكه د بل جيب نه ورته ملاؤ شي نو په دې لږ شان تكليف باندې هم گناه

معاف كيږي

وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

اوځوک چه عمل اوکړی دنېک عملونو نارينه وی او که زنانه، اودې وی مومن، نودغه کسان به داخليږی جنت ته

وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ

اوظلم به نشی کېدې په دوئ باندې په قدر د داغ د اړوکی دکهجورې اوځوک زيات ښائسته دين والا دې دهغه چانه

اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ

چه تابع کړې ئې وي خپل مخ دالله دحکم اودې نېک عمل والا وي اوتابعدار وی دملت دابراهيم

حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ

چه کلک وو په توحيداوحق باندې، اونيولې دې الله ابراهيم لره خاص دوست اوخاص دالله په اختيارکښې دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾

هرهغه څه چه په آسمانونو کښې دی اوهرهغه څه چه په زمکه کښې دی، اودې الله په هر څيزباندې احاطه کونکې

﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ ((من)) زائده دې يا د تبعيض دباره دې ځکه چه اعمال صالحه کوم چه فرض نه دی نو دټولو کول ضروری ندی او کوم چه فرائض دی نو هغه هم بعضې فرائض په بعضې خلقو فرض نه دی لکه زکوة او حج وغيره ﴿ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ ﴾ يعنی دخول جنت ته دايمان په وجه دې، نه په تمنی سره ليکن دايمان صرف دعوه کول کافی نه دی بلکه دايمانی صفات ضروری دی چه هغه مکمل اطاعت او اخلاص دې

او تابعداری دملت ابراهيمی ده، يعنی د صحيح طريقې تابعداری ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ ﴾ استفهام انکاری په معنی دنفی سره دې ((ای لا احد احسن))

((دِينًا)) تميز دې دفاعل نه نو دا په معنې کښې فاعل دې اود ﴿ مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ ﴾ نه ... د اطاعت اوانقياد دې اودا په ټول بدن سره کيږی خو ذکر د ((وجه)) يعنې مخ اوشو ځکه دا په ټولو اعضاؤ کښې افضل اوغوره دې نوذکر دجزء اومراد ترينه کل دې او ﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾

پدې کښې د اخلاص ذکر دې ﴿ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ ﴾ پدې کښې د ملت ابراهيمي يعنې صحيح طريقې تابعدارئ ذکر دې ﴿ حَنِيفًا ﴾ حال دې د ((ابراهيم)) نه، دحنيف ترجمه ده مستقيم او کلک په حق. او پريخودونکې د هرباطل.

﴿ وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ﴾ ابراهيم عليه السلام دالله تعالى خاص دوست دې اوڅوک چه دده په لاره باندې روان شي نو هغه به هم محبوب شي دالله. نودا ترغيب دې داتباع دملت ابراهيمي نه چه خپل خواهشات اوخودساخته عقائداوشرکيات پريږدئ اودملت ابراهيمي اتباع اوکړئ چه هغه نه الله تعالى مقام دخُلّت ورکړې وو او ((خليل)) دخُلّت نه ماخوذ دې اوداهغه دوستئ ته وائې چه پکې هيڅ قسم کمې او نقصان او خلل نه وی، او فعيل يا بمعنى الفاعل سره دې يعنې محبت کوونکې دالله تعالى سره او يا بمعنى المفعول سره دې يعنې محبوب دالله تعالى. ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ﴾ دا تخويف دې يعنې که اطاعت اونکړئ نو الله تعالى په هر څه باندې قادردې او په هرڅه باندې عالم دې نوستاسو داعمالوپوره پوره بدله به درکوی

دې ځائې پورې دسورة دواړه حصې سره دمتعلقاتو نه ختمې شوې اوس ددينه روستو دسورة ددواړوحصو په بعضو مسائلوباندې (داولې حصې په دويم حکم اوڅوارلسم حکم باندې اود دويمې حصې په نهم حکم باندې) تنويرذکرکيږي يعنې مزيدوضاحت ئې کيږي

وَيَسْتَفْتُونَكَ	فِي	النِّسَاءِ	قُلِ	اللَّهُ	يُفْتِيكُمْ
او دوئ ستانه [1] فتوى طلب کوی په باره دښځوکښې، ته ورته اووايه چه الله فتوى درکوی تاسوته					

فِيهِنَّ	وَمَا	يُتْلَىٰ	عَلَيْكُمْ	فِي	الْكِتَابِ	فِي	يَتَامَى	النِّسَاءِ
په باره ددوی کښې. اوهغه آيت [2] چه لوستلې شي په تاسوچه نازل کړېدې په کتاب کښې په حق دیتیمانوجنیکو کښې								

[1] دسورة په آخر کښې د دواړو حصو په درې احکاماتو تنوير. داولې حصې په دريم حکم او څوارلسم حکم اود دويمې حصې په نهم حکم تنوير اودا ددويم حکم تنوير دې يعنې د دويم حکم مقصد دا ندی چه دښځو زنانو سره نکاح مکوئ بلکه مقصد دادې چه انصاف ورسره کوئ

[2] داعطف دې په اسم جلاله باندې اودمعطوف عليه بيان دی

الّٰتِیْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ

هغه زنانه چه نه ورکوئ تاسوهغوئ ته هغه (مهر) چه فرض کړې شوېدي دهغوئ دپاره اوغواړئ دا چه

تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ وَ اَنْ تَقُوْمُوْا

نکاح اوکړئ دهغوئ سره. اوفتوی درکوی تاسوته په باره دکمزورو وړو کښې. اوداحکم درکوی چه تاسوکلك شئ

لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿١٢٧﴾

دپاره د يتيمانو په انصاف سره اوهغه چه کوئ تاسو څه نيك کار نو بيشکه الله ﷻ دي په هغې باندې پوهه

﴿ وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِى النِّسَآءِ ﴾ **دا تنوير ((مزيد وضاحت)) دې په دويم حكم باندې** د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه دا آيت دهغه چا پهباره کښې نازل شوې دې چه دهغه په پرورش اوتربيت کښې به يتيمه جينۍ وه اومالداره اوحسن داره به وه نوده به دهغې په نکاح کښې رغبت کولو ليکن مهر به ئې ورته نه ورکووځومره چه بل چا به ورته ورکولو. نو آيت نمبر (۲) نازل شو. نو دوئې منع کړې شوددينه چه دوئ نکاح اوکړي ديتيمانوجينکوسره مګر دا چه دوئ سره انصاف کوئ اوپوره پوره مهر ورکوی او ددوئ دحقوقوخيال اوساتی اوامر ورته اوشوچه دنوروښځو سره نکاح کوئ سوی ديتيمانو جينکونه. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي چه بيا خلقو فتوی طلب کړله درسول الله صلی الله عليه وسلم نه پدې باره کښې نو بيا دا آيت نازل شو((**بخارى**)) . په بعض رواياتوکښې دی چه اولياء ديتيمانوجينکومنع شو دنکاح ددوئ نه ليکن د تجربې نه دا معلومه شوه چه په بعضو ځايونو کښې د يتيمانو جينکو په حق کښې هم دا بهتره وه چه د خپل ((ولی)) په نکاح کښې راشي. نو ددې وجه نه مسلمانانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د داسې نکاح اجازت اوغوښتلو. نو دا آيت نازل شو

حاصل دا دې چه د ماقبل آيت -۲ نه دا په ظاهر کښې معلوميده چه ولی لپاره ديتيمانو جينکوسره نکاح جائز نه دې. نو پدې آيت کښې دا دفعه دتوهم اوشوه. چه مقصود د هغې حکم دا نه دی چه نکاح ورسره ناجائز دې بلکه مقصود دادې چه د يتيمانو جينکو سره انصاف کوئ او د هغوی حق مهر پوره پوره ورکوئ او دارنګه دهغوئ ميراث پوره پوره ورکوئ. لکه د جاهليت دا قانون وو چه څوك اهل د جنګ کولو نه وو لکه زنانه. واړه بچی نو هغوئ له به ئی

ـه ميراث کښې حصه نه ورکوله.نوکله چه آيت د ميراث نازل شو نوپه دوئ دا خبره گرانه شوه
حه نابالغ بچې اوښځه هم ميراث اغستې شي؟ نو دوئ پدې انتظار کښې وُ چه دا حکم به د څه
وېي مصلحت لپاره وی اومنسوخ به شي، نوچه څه وخت تير شو او نسخ رانغله نودوئ
ـخپله تپوس اوکړو نودا آيت نازل شو ﴿ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ مراد د
((مبتلی)) نه د دې سورة آيت نمبر ٢ دې، او ((ومايتلى عليكم)) مبتداء ده او خبرئې محذوف دې
چه هغه ((يفتيکم)) دې، نوتقدير دارنګې دې ((ومايتلى عليكم يفتيكم)) او داجمله عطف ده په
((الله يفتيكم)) باندې ﴿ لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ ﴾ د دينه مراد مهر او حصه د ميراث ده، چه
د جاهليت په دور کښې به ئې ښځو ته نه ورکوله.

﴿ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ ﴾ درغبت په صله کښې چه کله ((عن)) راشي نو په معنې د اعراض
سره وې اوکه ((ف)) يا ((الى)) راشي نو په معنى د رغبت اوميلان سره وی د ام المؤمنين حضرت
عائشه رضى الله عنها نه روايت دې چه دلته مراد اعراض کول دی دنکاح نه کله چه هغه يتيمه
قليلة المال والجمال وی، يعنى لکه پدغه صورت کښې چه يتيمه کم مال اوجمال والا وی
نوتاسو ورسره نکاح نه کوئ نو دغه شان چه کله کثيرة المال والجمال والا وی نو بيا هم
ورسره نکاح مکوئ مګردا چه پوره حق مهر ورکړئ، نوپدې تقدير سره لفظ د ((عن)) مقدردې
((ای ترغبون عَنْ ان تنكحوهن)) اودسعيدبن جبيراومجاهد نه روايت دې چه رغبت په معنى
دميلان سره دې نو((في)) مقدردې يعنې تاسومينه کوئ دهغوئ په نکاح کښې په سبب د
ډيروالی دمال اودحسن ﴿ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْوِلْدَانِ ﴾ داعطف دې په مجرورد((فيهن))
يعنى په ((هنّ)) باندې په ((فيهن)) کښې نومعنى داشوه چه ((الله يفتيكم في المستضعفين)) د
((مستضعفين)) نه مراد واړه بچی دې چه په جاهليت کښې به دوئ ته اودارنګه زنانو ته به ميراث
نشو ورکيدې، نو الله تعالى ددوئ په باره کښې تاسوته فتوى درکوی چه دوئ دميراث نه مه
محرومه کوئ ﴿ وَأَن تَقُومُوا لِلْيَتَامَىٰ ﴾ ((ان)) تفسيريه دې نودا تفسيرد ((يفتيكم)) دې، يا دلته
فعل د ((يأمركم)) مقدر دې ((ای الله يفتيكم ويأمركم ان تقوموا)) دقيام نه مراد اهتمام اوکوشش
کول دی ﴿ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ ﴾ دا ترغيب دې د اتباع د احکامو ته.

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ

او کچرې يوه ښځه ويريږي (معلوم کړي) دَ خاوند دَ بدخوئی نه يا مخ ګرځول (قصداً) نو نشته دې ګناه

عَلَيْهِمَآ أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ

په دغه دواړو باندې چه روغه وکړي په مينځ خپل کښې روغه کول. او روغه کول غوره کار دې

وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ ۚ وَإِن تُحْسِنُوا

او حاضر کړې شويدې يعنی ايخودلې شوې دې. په نفسونو کښې حرص. او که تاسو ښه روية سره د دوئی سره

وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾

او ځان بچ کوئ د اختلاف نه. پس بيشکه الله ستاسو په عملونو خبردار دې

﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا﴾ دا **دحصه اولی په خوارلسم حکم باندې** تنويردې. په څوارلسم حکم آيت نمبر ۳۵ کښې ويلې شوی وو چه ((**وان خفتم شقاق بينهما فابعثواحکمامن اهله ـ الخ**. چه که دښځې او دخاوند په مينځ کښې اختلا ف اونزاع راشی نوحکمين دې صلح اوکړی. دلته د صلحې طريقه بيانيږی اوهغه داچه هريو دې په خپلو حقوقو کښې کمې اوکړی اوپوره حق دې نه غواړی نوصلحه به راشی ځکه دانسان په مزاج کښې بخل پروت دې اوچه بل څوک ترينه دپوره حق اغستلومطالبه نه کوی بلکه څه بعضې حق ورته معاف کړی نوصلحه راتلې شی نو په صورت دنزاع دښځې اودخاوند کښې ښځه يا خاونددې څه حق معاف کړې يادې زيادت په نفقه اومهر وغيره کښې وکړی يا دې ښځه په خپلو حقوقو کښې کمې وکړی نو اصلاح به راشی، او دا صلحه زيات خيردې ليکن کچرې داصلاح راتلو څه صورت نه وی نو بيا تفريق هم جائزدې، نودا دويم شق په ماقبل کښې نه وو مذکور او دلته ذکرشو. حاصل دادې چه د زوجينو اجتماع اويا افتراق دواړه په شرعی طريقه پکاردی چه په دنيا او آخرت دواړو کښې به دخيراودخوشحالئ ذريعه شی ﴿نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا﴾ ((نشوز)) ارتفاع او اوچت والی نه واني يعنی چه خاوند ځان اوچت ګڼړی د ادا کولو دحقوقو دښځې نه، صحبت .محبت ورسره

١ دا په څوارلسم حکم رعيت باندې تنوير دې يعنی دَ هغه حکم مقصد دا دې حتی الامکان درګذر کوئ او مخکښې بی بی دې کالمعلقه نه پريدی. او پوره پوره حق وصول کول ضروری ندی. په صلح سره دې بعض حق معاف کړی

نه کوئ ((اعراض)) مخ اړولو ته وائي او دا عام دي د نشوز نه يا نشوز ظاهري مخالفت. او اعراض باطني مخالفت ته وائي، او يا نشوز طبعي نفرت او اعراض اختياري نفرت دي ﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ يعني صلحه ډيره غوره ده اګر که واجبه نده او ودي وجه نه په ماقبل کښې صرف د صلحې ذکر وو ﴿وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ﴾ دا حضار نه مراد دادي چه ((شح)) دانسان په مزاج او طبيعت کښې پروت دي نه جدا کيږي ترينه. د شح تفسير بعضو داسې کړې دي چه حريص وی په منع د خير. او بعضو ويلي دی چه شح حرص او بخل د مجموعې نوم دي ﴿وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا﴾ دا خطاب يا فقط خاوندانو ته دي او يا ښځو او خاوندانو دواړو ته دي يعني د يو بل سره احسان کول او د يو بل د رضا کولو نه خان ساتل بيدې الله تعالى راضي کيږي او اجر ورکوي.

وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ

او هرګز طاقت نه لرئ تاسو چه انصاف وکړئ په مينځ د زنانو (په مينه کښې) اګر چه حرص کوئ تاسو.

فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ

پس تاسو مه اوړئ (د يوې خزې نه بلې خزې ته) په ډيرو اوړيدلو سره چه پريږدې هغه يوه په شان د زړندې.

وَإِن تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾

او که اصلاح کوئ تاسو او خان ساتئ د ظلم نه په ښخو. پس بيشکه الله دي. بخنه کونکي رحم کونکي

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ ۚ

او که جيرې جدا شول دواړه (ښځه او خاوند) نو کفايت (ګذاره) به ورکړي الله تعالى هريوه لره د خپل فضل نه.

وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

او دي الله فراخ فضل والا. حکمتونو والا. او خاص د الله په اختيار کښې دي هر هغه څه چه په آسمانونو کښې دی

وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ

او په زمکه کښې دی. او په تحقيق سره مونږ مضبوط حکم کړې دي هغه کسانو ته چه ورکړې شوې دي ورته کتاب

مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا

مخکښې ستاسو نه او تاسو ته هم. چه يره کوئ د الله نه. او که تاسو کفر وکړو.

فَإِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ط

نو بېشكه صرف د الله تعالى په اختيار كښې دي هر هغه څه چه په آسمانو كښې دي اوهر هغه څه چه په زمكه كښې دي.

وَ كَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿۱۳۱﴾ وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

او دي الله بې حاجته ستايلې شوې. اوخاص د الله په اختيار كښې دي هرهغه څه چه په آسمانونو كښې دي

وَمَا فِي الْأَرْضِ ط وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾ إِنْ يَّشَأْ

اوهرهغه څه چه په زمكه كښې دي. اوپوره دي الله تعالى كارساز (كارونه جوړونكې) كه اوغواړي الله

يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَ يَأْتِ بِاٰخَرِيْنَ ط وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾

نوفنا به كړي تاسو اې خلقو ! او را به ولي نور خلق . او دې الله پدې باندې قدرت والا

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا

څوك چه طلب كوي په خپل عمل سره بدله دَ دنيا (نو دا غلطه ده) ځكه چه دَ الله سره بدله دَ دنيا

وَ الْاٰخِرَةِ ط وَ كَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳۴﴾

او دَ آخرت دواړو ده (نو دا دواړه دې طلب كړي) او دې الله اوريدونكې او ليدونكې د هرڅه

﴿ وَلَن تَسْتَطِيعُوٓا۟ أَن تَعْدِلُوا۟ ﴾ د ((عدل)) نه مراد دلته برابروالې دې په قلبي محبت كښې اومقصود دآيت نه دادې چه قلبي محبت كه ديوې ښځې سره زيات وي اوبلې ښځې سره كم وي نوپدې باندې څه مواخذه نشته ځكه چه قلبي محبت دانسان په طاقت كښې ندې، البته په ظاهري امورو كښې عدل كول لازم دي لكه : قسم، نفقه، رعايت ، خوش طبعي وغيرذالک، په حديث كښې دي چه د رسول الله ﷺ محبت دحضرت عائشه رضى الله عنها سره ډير زيات وو په نسبت دنورو ازاجو مطهراتو ليكن په حقوقوكښې به ئې ډير زيات عدل اومساوات كولو او بيا به ئې دعاكوله چه ((اللهم هذا قسمي فيما املک فلاتلمنى فيماتملک ولا املک)) (ترمذي، ابوداود) يا الله دا زما تقسيم دې په هغه كاركښې چه زه ئې طاقت لرم اوما مه ملامته كوه په هغې (قلبي محبت) كښې چه ته اختيار لرې او زه اختيارنه لرم ﴿وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ ((لو)) وصليه دې اوحرص په معنى دجهد او كوشش سره دې، اوپدې كښې اشاره ده دې خبرې ته چه مساوات په قلبي

محبت کښې اګر چه د انسان په وسع کښې ندې خو بیا هم ددې کوشش کول محمود دی.

فائده ددې آیت نه دا مطلب اخستل چه تعدد دازواجو یعنی له یوې نه زیاتې ښځې کول جائزندی ځکه چه دلته وائي چه ((**ولن تستطیعوا ان تعدلوا**)) اومخکښې آیت نمبر ۳ کښې ذکر دی چه ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً﴾ یعنې که عدل نشې کولې نو د یوې ښځې نه زیاتې مه کوئ نو د دواړو آیاتونودجمع کولونه معلومه شوه چه دیوې نه دزیاتو ښځو سره نکاح کول جائزندي، دا مطلب اغستل د دې آیت، تحریف دې اوخلا ف دې دکتاب الله اوسنت اواجماع نه او د آیت صحیح معنی هغه ده چه ذکرشوه ﴿فَلَا تَمِيلُوا﴾ یعنې تاسو په هغه حقوقوکښې چه ستاسو دطاقت ماتحت وی قصداً میلان مه کوئ دیوې ښځې نه بلې ښځې ته چه ستاسو ورسره قلبی محبت زیات وی ﴿كُلَّ الْمَيْلِ﴾ دا منصوب دې، مفعو ل مطلق د ((**لا تمیلوا**)) دې اولفظ د ((کل)) چه مضاف شی مصدرته نو د کمال فائده کوی.

﴿فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ﴾ ((**ها**)) ضمیرهغه ښځې ته راجع دې چه دهغې نه خاوندمیلان کړې دې بلې ته اودا په اصل کښې ((فتذروها)) وو نون حذف شوې دې ځکه دا مجزوم دې اوعطف دې په ((تمیلو)) باندې ((ای ولا تمیلوا ولا تذروا)) او ((**فا**)) د تفسیر دپاره ده نو دا تفسیرد ((**فلا تمیلوا**)) شو یا نون حذف شوې دې د وجه دنصب نه په تقدیر د ((ان)) سره په جواب دنهی کښې او ((**معلقه**)) هغه ښځه ده چه نه یې خاوند وی چه دهغې حقوق اداکوی اونه بې خاونده (آزاده) وی چه بل ځائ نکاح اوکړی ﴿وَإِن تُصْلِحُوا﴾ ددینه عفوه کول اواحسان کول مراد دی په نفقه وغیره حقوقو کښې ﴿وَتَتَّقُوا﴾ دینه مراد ځان دظلم نه بچ کول دې ﴿وَإِن يَتَفَرَّقَا﴾ دا هغه زیادت دې چه مخکښې په حکم نمبر ۱۴ کښې نه وو مذکور، یعنی صلحه د زوجینو په مینځ کښې ډیره بهتره ده لیکن که دصلح صورت نه وی نو تفریق په طلا ق یا په خلع سره جائزدې اګرکه طلاق مبغوض اونا خوښه څیز دې ((ابغض الحلالات الی الله الطلاق)) (ابوداود).

﴿يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ﴾ د الله تعالی خزانې لامحدودې دی، فضل ئې واسع دې نوالله تعالی به دې سړی ته بله ښځه ورکړی اودې ښځې ته به بل خاوند ورکړی.

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ﴾ دا تخویف اخروی دې او بیان د توحید دې

﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ یعنی مخکښنو خلقوته هم دتوحید سبق

ورکړي شوي وو چه شرک مه کوئ او ستاسو دشرک په وجه ماته هیڅ نقصان نه رسي، زه خو د هرڅه مالک یم. غني یم، خو په شرک باندي ناراضه کیږم اوچه ناراض او په غصه شم نو ﴿يُذْهِبْكُمْ﴾ تاسو به ختم کړم ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَٰوَٰتِ﴾ دا دري واره ذکرشو دمزید تاکید دپاره. اوبعضې حضرات وائي چه اول وار بیان د وسعت مقصود دي چه الله تعالى سره دڅه شي کمي نشته دي. او دویم وار دبي نیازئ اوبي پرواهئ بیان مقصود دي یعني که چري انکار اوکفراوکړئ نوهغه ذات څه پرواه نه لري هغه ته څه نقصان اوضررنه رسي، اودریم وار د رحمت بیان او اظهارمقصود دي یعني که تقوی اواطاعت اختیارکړئ نوستاسوبه تمام کارونه الله تعالى جوړکړي . والله تعالى اعلم

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا﴾ دا ترغیب دي آخرت ته چه دالله تعالى نه د دنیا حاجتونه او د آخرت حاجتونه دواړه غواړئ، یواځي دنیا مه غواړئ ((من كان)) شرط دي اوجزاء ئي مقدره ده ((اى فظنه باطل)) یا ((لیس کماظن)) د ((ثواب الدنیا)) نه مراد دادي چه څوك دنیک عمل بدله په دنیا کښي غواړي او صرف ددنیاوی مقاصدو دپاره نیک عمل کوی نویدي سره نیک عمل ضائع کیږي

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُونُوا قَوَّٰمِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ

اي ایمان والو ! [1] شئ کلک په انصاف، گواهي کونکي (حق ظاهرونکي) دپاره دالله اگرکه ضرر وی

عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَٰلِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا

په تاسو یا په مورپلار باندي یا خپلوانوستاسوباندي، کچري وی هغه څوک چه گواهي پرې کولي شی مالدار یاغریب

فَاللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُوا ۚ

نو الله زیات مهربان دي په هغوئ دواړو، نوتابعداری مکوئ دخواهشاتو چه انصاف اونکړئ.

[1] په نهم حکم سلطاني باندي تنویر. یعنی دنهم حکم مقصد دادي چه په شهادت اوفیصله کښي انصاف کوئ دچارعایت مکوئ دغریب غربت یا دقرابت وغیره دوجي نه په شهادت کښي کمی بیشي مکوئ

وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

اوکه تاسو به تاؤکړئ یا اعراض اوکړئ دحق دبیان نه نو بېشکه الله ستاسو په عملونو خبردار دې

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ﴾ **دا تنویر دحصه ثانیه دې په نهم حکم داحکامو سلطانیو کښې** چه ددغې حکم مقصدد دادې چه په شهادت اوفیصلوکښې پوره پوره انصاف کوئ دغریب دغربت او یا د امیر د امارت ، یا د قرابت دوجه نه په شهادت کښې کمې اوزیاتی مه کوئ. **قوّام**)) دمبالغې صیغه ده دقیام نه یعنی کلک اودریږئ ((**قوّامین**)) خبرد ((**کونوا**)) دې .

او ((**بالقسط**)) جارمجرور په ((**قوامین**)) پورې متعلق دې ﴿شُهَدَآءَ لِلَّهِ﴾ دا خبر ثانی د ((**کونوا**)) دې او د ((**لله**)) معنی داده چه دَ الله درضا دپاره چه په هغې کښې هیڅ دنیوی غرض نوی او ((**قسط**)) انصاف په معاملاتوکښې هم وی او په اعمالو او په عقائدوکښې هم وی، اوشهادت گواهی په معاملا تو کښې اومدعی گانو کښې راځی، او بیان دحق ته هم ویلې شی. دلته دقسط او دشهادت نه عامه معنی مراد ده

﴿وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ﴾ ((لو)) وصلیه دې ((ای لو کانت الشهادة علی انفسکم)) شهادت په خپل نفس باندې اقرار دې یا ئې معنی داده چه اگر که د شهادت په وجه تاسو ته ضرر وی ﴿أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ﴾ یعنی شهادة کښې دوالدینو او یا دقرابت والو لحاظ ندې جائز چه دهغوئ د وجه نه حق دشهادة اداء نه کړی ﴿إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا﴾ ضمیر د ((یکن)) راجع دې مَشهُوْدعَلَیْه ته او ((**غنیا او فقیراً**)) داخبر د ((**یکن**)) دې دا جمله شرط دې اوجزاء ئې مقدره ده ((ای فلاتمنعوا الشهادة)) یا ((ولا تکتموالشهادة)) که چرې مشهود علیه یعنی په چاچه گواهی کیدې شی هغه غنی اوشتمن وو تاسو ترینه طمعه کوئ یا ترینه یره کوئ اویا فقیروی تاسوپرې ترس کوئ نوبیا هم دګواهی کولونه منع مه کوئ ځکه ﴿فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا﴾ یعنې الله تعالی زیات قریب اوتعلق والا دې د هغوئ سره ستاسونه نوهغه چه کوم قانون مقررکړې دې دهغوئ دپاره نو په هغه کښې دهغوئ د دواړو مصلحت اوخیردې نوتاسو ته اجازت نشته دې چه د هغه مصلحت خلاف وکړئ او دځان نه دهغوئ رعایت وکړئ، بلکه دالله تعالی په مقررکړی قانون کښې دفقیراو د غنی دواړو دپاره خیر او مصلحت دې .

﴿فَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلْهَوَىٰٓ﴾ یعنې اتباع د خواهشاتو د نفس مه کوئ ﴿أَن تَعْدِلُوا۟﴾ . ((تعدلوا)) یا دعدول نه مشتق دې یعنې د حق نه اوړیدل او ظلم کول، مَعنی داده چه تابعداری مه کوئ د

خواهشاتو چه ظلم وکړئ ، یا د ((عدل)) نه مشتق دي په معنی دانصاف کولوسره نو بیا دلته ((لا)) مقدر دي یا ((کراهة)) مقدردي یعنی دخواهشاتو اتباع مه کوئ چه عدل اونه کړئ یاعدل بد اونه گنړئ ﴿وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟﴾ ((تلوٗ)) لَیّ اللسان ژبه اړول دادی چه حق دشهادت مکمل ادا نه کړی او داسې الفاظ اوائي چه مخاطب په هغې باندې پوهه نشی، او اعراض دادې چه شهادت بالکل ادانه کړی نودا دواړه کارونه جائزنه دي نود((تلو اوتعرضوا)) خطاب گواهانوته دې او دسدی رحمه الله او د ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دی چه دا خطاب حکاموته دې یعنی چه روستو دشهادت نه حاکم دحق فیصلې نه اعراض اوکړی نوالله تعالی به ورته سزاورکوی اوالله تعالی ستاسو په کارونو خبردار دې .

وَرَسُوْلِهٖ	بِاللّٰهِ	اٰمِنُوْا	اٰمَنُوْٓا	الَّذِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا

اې هغه [1]کسانوچه ایمان موبه ژبه راوړې دې ایمان راوړئ په زړونوسره په الله باندې اوپه رسول دهغه باندې

وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ

اوبه هغه کتاب چه نازل کړې ئې دې پخپل رسول باندې اوهغه کتاب باندې چه نازل کړې ئې دې ددېنه مخکښې،

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

اوچاچه کفراوکړوبه الله باندې اوبه ملائکودهغه اوبه کتابونودهغه اوبه رسولانودهغه اوبه ورځ دآخرت .

فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿١٣٦﴾

نوبه تحقیق سره گمراه شوبه گمراهۍ لرې سره .

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ءَامِنُوا۟﴾ دا زجراو تخویف دي بعضې مفسرین وائي چه دا خطاب مسلمانانو ته دې، ((آمنوا)) نه مراد دوام اواستقامت دې چه ایمان باندې کلک شئ اوبعض وائي چه دا خطاب منافقانوته دې اود ((آمنوا)) مراد ایمان بالقلب او بالاخلاص دې نومعنی ئې داده چه ((یاایهاالذین امنوا باللسان امنوابالقلب)) اوبعضې وائي چه دا خطاب اهل کتابوسره دې نومعنې ئې داده ((یا ایهاالذین آمنوا بالکتب السابقة)) ﴿ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ ای بمحمد صلی الله علیه

١ زجرونه منافقینوته

وسره ﴿وَالْكِتٰبِ الَّذِي﴾ ای القرآن ﴿وَمَن يَكْفُرْ﴾ دا تخویف دي

إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ اٰمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ
بېشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړې وو اوبیائې کفراوکړو، بیائې ایمان راوړو، بیا ئې کفراوکړو بیا
ازْدَادُوا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴿۱۳۷﴾
زیات شویه کفرباندې (مره شویه کفر) نوندې الله چه بخښنه اوکړې دوئ ته اونه به روان کړی دوئ لره په حقه لاره باندې

﴿إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ءَامَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا﴾ دا زجردې منافقینوته[1] او د دې نه مراد منافقان دی. ایمان راوړل او بیا کفرکول اوبیا ایمان راوړل اوبیاکفر دا عبارة دې دتذبذب نه چه کله ایمان ظاهروی اوکله کفر ﴿ثُمَّ ازْدَادُوا﴾ د دې نه مراد دوام اواثبات دې په نفاق باندې ترمرګ پورې، اوبعضې مفسرین وائې چه دینه مراد یهودیان دی چه اول ئې ایمان راوړلو په موسی علیه السلام باندې او بیائې کفر اوکړلو په سبب دعبادة دعجل سره او بیائې ایمان راوړلو اوبیائې کفراوکړلو په عیسی علیه السلام باندې او بیائې زیات کفراوکړلوچه انکارئې وکړو دنبوة دمحمد صلی الله علیه وسلم نه اول قول صحیح اوقوی دې .

﴿لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ﴾ ددې دامطلب ندې چه توبه ئې نه قبلیږی بلکه مراد دادې چه دوئ ته دتوبې توفیق نه ملا ویږی. یا دا مطلب دې چه په کفراونفاق باندې دائم وی تردې پورې چه مرګ راشی نوخاتمه به ئې په کفراونفاق باندې اوشی نومغفرت ئې نشی کیدې ﴿وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا﴾ د دې نه دجنت لار مراد ده. مغفرت اودجنت لارصرف دمؤمنانودپاره ده

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿۱۳۸﴾ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَاءَ
خبروركړه منافقانوته چه بېشکه دوئ دپاره عذاب دې دردناک داهغه خلق دی چه نیسی کافرانولره دوستان
مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعًا ﴿۱۳۹﴾
سوادمومنانونه. آیاطلب کوی دوئ هغوئ سره عزت نو بېشکه اختیار دعزت خوخاص الله لره دې ټول

[1] زجر منافقینوته

﴿ بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ دا تخويف دې منافقينوته په طريقه داستهزاء اوتحقيرسره ﴿ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ دمنافقينو ددوو صفتونو ذکردې يودا چه کافرانوسره دوستي کوي. دويم دا چه دهغوئ ددوستئ په وجه عزت حاصلول غواړي ﴿ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴾ يعنى اختيار دهر قسم عزت ورکولوالله سره دې نو په دوستئ دکافرانو سره عزت نه حاصليږي ځکه چه هغوئ خو د الله تعالى دشمنان دي

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا

اوبه تحقيق سره نازل کړېدې الله په تاسوباندې کتاب پدې کښې دا چه کله واورئ تاسو آياتونه دالله چه کفرکيږي په هغې باندې

وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۖ اِنَّكُمْ

اوخنداکيږي په هغې پورې، نومه کينئ تاسودهغوئ سره تردې چه مشغول شي هغوئ په نورو خبروکښې، بېشکه تاسو به

اِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ۙ

پدغه وخت کښې ددوئ پشان يئ، بېشکه الله جمع کونکې دې منافقانواوکافرانولره په جهنم کښې ټول يوځاى

﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ ﴾ مؤمنانو ته وائي چه تاسو دمنافقانو په شان دکفاروسره دوستانه مه ساتئ اومونږ تاسو ته ددې سورة نساء نه (چه مدنى دې) مخکښې په سورة انعام آيت نمبر ٦٨ کښې (چه مکى دې) داحکم راليږلى ووچه تاسو په داسې مجلس کښې مه کينئ اومه شامليږئ چه پدغه مجلس کښې دالله په آياتونوباندې کفرکيږي اواستهزاء وربورې کيږي دشرک اودبدعت مجالس اودفسق اودفجورمجالس پدې ټولوکې شامليدل ګناه دى او ډير بد اثر لري. دهرمجلس خان لره يو اثروى نوسړې چه په کوم مجلس کښې شامليږي نو دهغه مجلس اثر پرې ضرورکيږي، البته که چرې دغه شان مجلس ته دوعظ اودنصيحت دپاره لاړشي نو اميددې چه دغلط اثرنه به محفوظ وى نووعظ اونصيحت نه بعد بياکيناستل جائزنه دى لکه په سورة انعام کښې دى ﴿ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ ﴿ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ﴾ د آياتونو دکفراوداستهزاء نه علاوه په بل څه کارکښې مشغول شئ ﴿ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ مماثلت په نفس معصيت کښې مراد دې دهغوئ معصيت کفر دې او دهغوئ سره شرکت کول معصيت فسق دې ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ دا تخويف اخروى دې.

اَلَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ
داهغه کسان دی چه انتظار کوی ستاسو په باره کښې، نو پس کچرې تاسوته فتح ملاؤشي دطرفه دالله نه
قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ قَالُوْٓا اَلَمْ
وائی دوئ چه آیانه وومونږ ستاملګری. اوکه شی کافرانولره څه حصه (دفتح نه) نووائی دوئ کافرانوته آیا
نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ فَاللّٰهُ
غالب شوی نه وو مونږ په تاسو(که دمومنانوملګری وو)اوآیانه یئ بچ کړی مونږتاسو دمومنانونه. پس الله به
يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ۝
فیصله اوکړی په مینځ ستاسو کښې په ورځ د قیامت. اوهرګزنه ورکوی الله کافرانولره په مومنانو باندې لار(غلبه)

﴿اَلَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ﴾ دا دمنافقینو دنورو صفاتوذکردې چه دوئ انتظارکوی چه دچاغلبه او زور وی نودوئ دهغوسره ملګرتیاکوی دلالچ اودحرص دوجه نه که دمؤمنانوفتح اوغلبه شی نودوئي نه وائي ﴿اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ﴾ استفهام دتقریر دپاره دې یعنی مونږ خو تاسو سره وو نومونږ له په غنیمت کښې حصه راکړئ﴿وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ﴾که دکافروغلبه شی نودوئي خپل احسان زباتوی او وائي چه ﴿اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ﴾ که مونږه دمؤمنانوسره یوځائي شوې وې نودوئ به غالب شوې وې په تاسو اودلته دا لفظ مقدردې چه ((لكن ابقيناعليكم)) لیکن مونږه په تاسو رحم اوکړلو ﴿وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ اوتاسو مو بچ کړئ دمؤمنانونه نوددې وجینه اوس مونږته حصه راکړئ

فائده دمؤمنانوغلبه چه په کافرانوراشي دایمان او اعمال صالحه په طاقت سره نودغه فتحه اونصرت الهي وی نوددې وجه نه ددې تعبیر په ((فتح)) سره اشو او ((من الله)) ذکرشو دپاره دتعظیم شان اودکفاروغلبه چه کله په مسلمانانو راشي نوهغه دمادی اسبابو د وجه نه وی نو دیته فتحه نه ویلې کیږی بلکه دا د دنیایوه حصه اوبرخه ده چه الله تعالی ئې په دنیاء کښې هرچاته ورکوی اوددې تعبیر په ((نصيب)) سره اوشو اوفتحه ورته نده ویلې او د آیت په آخر کښې ئې اوفرمائیل چه الله تعالی کافرانولره په مؤمنانوباندې لار دفتحې نه ورکوی ﴿عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

سَبِيلًا ﴾ دمؤمن نه کامل مؤمن مراد دي او د ((سبيلا)) نه مراد غلبه اوفتحه دنيوى ده كما قال تعالى ((وانتم الا علون ان كنتم مؤمنين)) دمؤمنانو سره دالله تعالى دغلبې وعده ده خو په شرط دايمان كامل سره اودالله تعالى په وعده كښې خلاف نه وى ((ومن اصدق من الله حديثا)) نوکه كافران په مؤمنانوباندې غالب شي نودا د ايمان ضعف اوياځه امتحان مقصودوى كما قال المظهرى ((واماغلبة الكفارلى زماننا فلضعف ايماننا وكثرة عصياننا)) او يا دسبيل نه مراد غلبه دحجت اودليل ده يامراد غلبه په آخرت كښې ده لكه ماقبل د آيت نه مَعلوميږى ﴿ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ اوعلماء كرامو دې آيت نه استدلال كړي دې چه ګواهي دكافر په مؤمن باندې نه قبليږي او ولايت دكافر په مؤمن باندې ندې صحيح .

إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ يُخٰدِعُونَ اللّٰهَ وَهُوَ خٰدِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوا كُسَالٰى يُرَآءُونَ
بیشکه منافقان دهوکه کوی دالله سره اوالله دهوکه ورکوی دوئ لره ، اوکله چه اودریږی مانځه ته اودریږی ناراسته. خودنه کوی
النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللّٰهَ إِلَّا قَلِيلًا ۝ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ
خلقو ته اونه يادوى الله مګر لږ. زوړند (اومتردد) دى په مينځ ددې (ايمان كفر) كښې، نه دى دمسلمانانو طرفته
وَلَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ۝ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا
اونه دي دكافرانوطرفته، اوخوک چه بې لارې کړی هغه لره الله نوهرګزبه اونه مومې ته هغه لره لار اې ايمان والو
لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلّٰهِ
مه نيسئ تاسوكافرانولره دوستان ماسوى دمومنانو نه، آيا تاسو دا غواړئ چه ثابت کړئ دپاره دالله
عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِينًا ۝ إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ۝
په خپل خان الزام ښکاره بیشکه منافقان به په طبقه لاندې کښې وی داور، اوهرګز به نه مومې ته هغوئ لره مددګار
إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللّٰهِ وَأَخْلَصُوا
مګر هغه کسان چه توبه ني اوکړه دنفاق نه اونیک عمل نې اوکړو اوکلک نې اونیولو دین دالله اوخالص نې اوګرزولو
دِينَهُمْ لِلّٰهِ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ۝
دین خپل دپاره دالله دغه خلق دمومنانودډلې نه دی، او زردۀ چه وربه کړی الله مومنانو ته اجر لوئې

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَ اٰمَنْتُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

څه کوی الله په عذاب ستاسو کچرې تاسوشکر کوئ اوايمان راوړئ. اودې الله قدردان پوهه په هرڅه

﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ﴾ دا زجر دې منافقانو ته او دهغوئ دصفاتوقبيحوذکردې چه دهوکه ده دمؤمنانوسره. او په مونځ کښې سستې اونارستي کول دی. اودينه دطبعي سستی اونراستی نده مراد ځکه هغه په مؤمن کښې هم راتلې شی بلکه مراد دا دې چه مونځ فرض نه ګنړی او کار ثواب ئی هم نه ګنړی نوځکه سستی کوی اوکله چه مونځ کوی نو د ريا دپاره ئی کوی اودالله تعالی ذکر نه کوی مګر لږ شان، اودلږ نه مراد دادې چه اخلا ص به په کښې نه وی اګرکه تسبيح ورسره ډیری وی، دلته قلت په اعتبار دکيفيت سره مراد دې، قرطبي وائي چه قلت د ذکرنه مراد په مونځ کښې قلت دې يعنی په مونځ کښې تسبيح اوذکرنه کوی صرف ((الله اکبر)) په زوره سره وائی ﴿مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾ دا حال دې دضمير د ﴿يُرَآءُونَ﴾ نه يا د ﴿يَذْكُرُونَ﴾ نه د ((ذب)) معنی ده شړل او ويشتل، نو دمذبذب معنی دا ده چه هرطرفته شړلې شی نومنافق د مؤمنانو د طرفه هم شړلې شی او دکافرانو د طرفه هم شړلې شی،نو دوئ پريشان حال وی ﴿لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ﴾ ئی تفسير دې يعنی دوئ نه د مؤمنانو سره دی، نه د کافرانوسره ، يا متعلق د ((الی)) مقدر دې چه **ينسبون** يا **منسوبين** دې ((ای لامنسوبين الی المؤمنين ولا منسوبين الی الکافرين)) او د دې جملې مطلب دادې چه نور خلق مم د دوئ په نسبت کولو کښې حيران دی، چه ـ نی مؤمنانو ته منسوب کولې شی اونه کافرانوته، اوپه اوله جمله کښې د دوئ دلازمی صفت بيان وو ﴿فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا﴾ لار دهدايت يعنی هيڅ کله به په هدايت رانشی اوته به دهغه دهدايت دپاره لار ببيا اونه مومې. ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ دمنافقانو دصفت نه روستومؤمنانوته حکم دې چه دوئ سره او دکافرانوسره دوستانه مه کوئ د ((ٱلْكَٰفِرِينَ)) نه مراد منافقين دی يا مجاهر کافران مرا ددی ﴿أَن تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا﴾ ستاسو دوستانه کول دکفاروسره ښکاره حجت دې ستاسو په کفراواستحقاق دعذاب باندې د ((عليکم)) معنی ده ((علی تعذيبکم)) يا ((کفرکم ونفاقکم)) ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ د دوزخ طبقاتوته ((درکات)) ويلې شی او دجنت هغې ته درجات ويلې شی

دووزخ اووه (۷)، **طبقې دی** (۱) جهنم (۲) لظی (۳) حطمه (۴)سعير (۵) سقر (۶) جحيم (۷) هاويه. اومنافقان به دټولونه لاندې طبقه کښې وی او دټولونه سخت عذاب به ئی وی ځکه دوئ

دکفر سره نور قبائح زيات کړی وو. لکه استهزاء په اسلام پوري او خداع وغيره نوهرکله چه دمنافقانوکفر پټ وونو په جهنم کښې به ئې سزاه هم په پټ ځائي کښې و ی نو دا جزاء من جنس العمل ده ﴿وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا﴾ دکافرانواودمنافقانودپاره سفارش نشته ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ پدې کښې دمنافقانو د توبې شرطونه ذکرکيږی او هغوئ ته دايمان ترغيب دې د «تابوا» نه يوشرط معلوميږی چه صحيح ايمان راوړل او دکفراو نفاق نه براء ت کول ﴿وَأَصْلَحُوا﴾ دادويم شرط دې اعمال فاسده پريخودل اونيک اعمال اختيارول ﴿وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ﴾ دا دريم شرط دې چه ذکفاروسره دوستانه دعزت حاصلولو دپاره پريخودل او دالله تعالی او دکتاب الله سره تعلق قائمول ﴿وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ﴾ داځلورم شرط دې يعنی ريا پريخودل او په اخلاص سره نيک عمل کول ﴿مَعَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ((مع)) په معنی د ((من)) سره دې يعنی دمؤمنانو د ډلې نه دی ﴿وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ﴾ دا بشارة دې.

﴿مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ﴾ ((ما)) په معنی د ((ای شی)) سره دې او استفهام انکاری په معنی دنفی سره دې او دا خطاب دې منافقانوته چه الله تعالی څه کوی؟ چه تاسوته عذاب درکوی. بنده چه چاته عذاب ورکوی نومقصود ترينه نفع حاصلول وی يا بدله اخستل اوغصه سړول وی يا دفع دضرر وی اوالله تعالی ديته هيڅ حاجت نه لری نوهغه چه تاسوته عذاب درکوی نوهغه ستاسو دکفراودباطنی ګندګئ دوجه نه درکوی نوکه تاسو شکراوکړئ اوايمان راوړئ نوعذا ب به نه درکوی ﴿إِن شَكَرْتُمْ وَءَامَنتُمْ﴾ ((شکر)) مقدم ذکرشوې دې په ايمان باندې اوسره ددې نه چه حق ئې تاخيروو ځکه چه شکرسبب دايمان دې اوکفران يعنی ناشکری سبب دکفردې اوسبب مقدم وی په مسبب باندې

﴿وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا﴾ د ((شاکر)) معنې حضرت شيخ الهند رحمه الله په قدردان سره کوی يعنی الله تعالی دلږ عمل هم قدرکوی او ثواب پرې ورکوی «**شاکر، شکور**» داسماؤ دالله تعالی نه دی علماء معنی داکوی چه ((هوالذی يجزی بيسير الطاعات کثير الدرجات ويعطی بالعمل فی ايام معدودة نعمافی الاخرة غيرمحدوده)) «**روح**» يعنی شاکر اوشکورهغه ذات دې چه په لږ طاعت سره ډيرې درجې ورکوی اود دنيا په لږه موده کښې عمل کولوسره ډيرنعمتونه په بی انتهاء زمانه دآخرت کښې ورکوی «**الهم اجعلناشاکرين لنعمک مثنين بهاقابيلهاواتمهاعليناواعناعلی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک**».

پنځمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ
نه خوښوي الله په زوره وئيل (ظاهرول) دبدې خبرې (شرک) مګر هغه څوک چې ظلم کړې شوې وی په هغه باندې. اودې الله
سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ
اوريدونکې پوهه که ښکاره کوئ تاسوخه نېکي يائې پټه کوئ يا معافي کوئ دبدئ نه نوبېشکه الله دې
كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾
معافي کونکې قدرت لرونکې

﴿لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ﴾ دا متعلق دې د ﴿لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ﴾ سره اود ((**السوء من القول**)) بدء وينا نه مراد کلمه دکفرده ((**الامن ظلم**)) نه مراد ((من اُکره)) دې يعنی که څوک مکره کړې شی نودخپل ځان دبچ کولودپاره صرف کلمه دکفر که په ژبه اوائي نواجازت دې. اويا دا متعلق دې دمنافقانو دصفاتوسره چه دوئ کلمه دکفر وائي په خوشحالئ سره او بيا وائي چه مونږه دکافرانو ديرې دوجه نه ويلې وه نوځکه الله تعالی اوفرمائيل چه بغيردحالت داکراه نه کلمه دکفر ويل جائز ندی او په حالت داکراه کښې صرف په ژبه ويل چه زړه مطمئن وی په ايمان باندې جائزدی، اوبعضې مفسرين وائی چه ((**بالسوء من القول**)) نه مراد دعا دشر ده (خيرې) يعنی چاته خيرې کول الله تعالی نه خوښوی مګرکه مظلوم ظالم ته خيرې کوی نو دا جائزدی. اوبعض وائې چه په چاظلم اوشی اوهغه دظالم غيبت کوی يا په شرعی عدالت کښې په هغه شکايت کوی اودهغه دظلم اودبدکردار بيان قاضی او حاکم ته کوی نو دا جائزدی. دظالم او دارنګې دهر فاسق اوګمراه نقائص خلقوته بيانول ددې دپاره چه خلق ترينه ځان اوساتی نو دا جائز دی ((اذکرالفاسق بمافيه يحذره الناس)) (**بخاري**).

﴿وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا﴾ پدې کښې اشاره ده چه دظالم غيبت په قدردظلم دهغه جائز دې زيادت اومبالغه کول جائزنه دی ﴿اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ﴾ يعنی که تاسو دخيرخبره په ښکاره وائې اويا په زړه کښې اراده کوئ اويا د بدوکارونو نه منع کوئ نو دانېه کاردې. ياتاسوسره

[1] دامتعلق دې د (ولا تتخذوالکافرين اولياء) سره او دسوء نه مراد کلمه دشرک ده او د (الا من ظلم) نه مراد (من اکره) دې

چابد اوکړل او تاسو ورته معافي کوئ نو دا بنه کار دي او داسي کول پکار دي ځکه چه الله تعالى سره د قدرت نه معافي کوي نو انسان خو عاجز دي نو د ده د پاره خو معافي کول خامخا پکار دي

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللّٰهِ

بېشکه [1] هغه کسان چه کفر کوي په الله او رسولانو د هغه او اراده لري چه جدا والي اوکړي په مینځ د الله

وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيدُونَ

او د رسولانو د هغه کښي په ایمان کښي ،او وائي دوئ ایمان لرو مونږ په بعضو باندي او کفر کوو په بعضو باندي. او غواړي

أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيلًا ۝ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا

چه جوړه کړي په مینځ د دي کښي بله لار دغه [2] کسان دوئ کافران دی په تحقیق سره . او تیار کړېدي مونږ

لِلْكٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ۝ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ

د پاره د کافرانو عذاب شرموونکي او هغه [3] کسان چه ایمان ئي راوړي دي په الله او په رسولانو د هغه

وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ

او فرق ئي نه وي کړي په مینځ د هیڅ چا کښي د دوئ نه. دغه کسان زر دي چه چه ورېه کړي الله دوئ ته اجرونه د دوئ

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝

او دي الله بخښونکي رحم کونکي.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ ﴾ دا زجر او تخویف دي اهل کتابو ته ﴿ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا ﴾ دا عطف تفسیر دي د ((یکفرون)) لپاره، او فرق په مابین د الله تعالى او رسولانو کښي دا دي چه وائي د الله تعالى حکم منم او د رسول حکم نه منم لکه منکرین حدیث

﴿ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ﴾ لکه یهودیان وائي چه مونږه په ابراهیم

۱ . زجر اهل کتابو ته.

۲ زجر. تخویف

۳ بشارت

اواسحاق اوموسی علیهم السلام باندې ایمان لرو خو په اسماعیل اوعیسی علیهما السلام اومحمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان نه لرو اودارنګې نصاری عیسی علیه السلام منی

اومحمد صلی الله علیه وسلم نه منی ﴿وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴾ ذلك اشاره ده تصدیق الکل او تکذیب الکل ته په تاویل د مذکور سره. نو که څوك د کفر اوایمان نه مخلوط

دین جوړوی نو دا کفر دې ﴿أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ داخبر دپاره د ((ان)) دې او ((حَقًّا)) په معنی دیقین سره دې یعنی ددوئ کفر یقینی اوقطعی دې اودا دتاکید دپاوه ذکرشوې دې

﴿وَأَعۡتَدۡنَا﴾ داتخویف دې ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ دا بشارة دې ﴿سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ﴾ ((سوف)) د وعدې او د تاکید دپاره دې بُعد په کښې مقصودندې.

يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ فَقَدۡ
تپوس کوی ستانه اهل کتاب چه ته نازل کړې په دوئ باندې کتاب دآسمان نه. پس په تحقیق سره
سَأَلُواْ مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةً
تپوس کړې وودوئ دموسی نه دلوئې څیزددېنه نو دوئ وئیلی وو چه اوخایه مونږ ته الله په ښکاره
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِ مَا
نواونیولو دوئ لره تندر په وجه دظلم ددوئ، بیااونیولو دوئ څخی لره په خدائې سره روستودهغې نه
جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَعَفَوۡنَا عَن ذَٰلِكَۚ وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنًا
چه راغلل دوئ ته ښکاره دلائل پس عفوه کړې وه مونږ دوئ ته ددې جرم، او ورکړې وو مونږ موسی ته دلیل
مُّبِينًا ۝ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ وَقُلۡنَا لَهُمُ
ښکاره او اوچت کړې وو مونږ ددوئ دپاسه طورغردپاره دوعدې اخستلو ددوئ نه اووئیل مونږ دوئ ته
ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدًا وَقُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ
چه داخل شئ دروازې ته سجده کونکی. او اووئیل مونږ دوئ ته چه تجاوزمکوئ دحدنه په ورځ دخالی

وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۱۵۴﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ

او اخیستی وو مونږ د دوئ نه وعده کلکه . «نولعنت اوکړو مونږ پدوئ» په (۱) سبب د ماتولو د دوئ د وعدې خپلې لره

وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ

او په سبب د کفر د دوئ په آیاتونو د الله باندې او په سبب د قتلولو د دوئ نبیانو لره په ناحقه سره او په سبب د دې وینا د دوئ

قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾

چه زړونه زمونږ په پردو کښې دي. بلکه مهرلګولی دی الله په هغې په سبب د کفر د دوئ نو ایمان نه راوړی دوئ مګر لږ

﴿ يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ ﴾ دا زجر دې یهودیانوته او دهغوئ د ضد او تعصب بیان دې چه دوئ ستانه معاندانه سوالات کوی **ددې سوال حاصل** دادې چه دوئ وئیل نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته چه که ته برحق نبی ئې نو په تاباندې قرآن دفعةً ولې ندې نازل شوې؟ لکه په موسی علیه السلام باندې چه توراة نازل شوې وو او که چرې په تاباندې کتاب دفعةً نازل شی نو مونږ به ستا رسالت تسلیم کړو، حضرت تهانوی رحمه الله په روایت د ابن جریر رحمه الله سره لیکلی دی چه یهودیان بارګاه رسالت ته حاضر شول او وې وئیل چه الله تعالی دې زمونږ د هریو په نوم یونوشته «خط» اولیکی چه په هغې کښې داسې مضمون وی چه محمد «صلی الله علیه وسلم» زما نبی دې او تا سو پرې ایمان راوړئ نو مونږ به ستا سو رسالت تسلیم کړو ددې سوال جواب په مخکښې راتلونکی رکوع کښې ذکر کیږی «**انا اوحينا اليك**» او دلته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته تسلی ذکر کیږی چه ته خفه کیږه مه دیهودیانو فطرت داسې دې چه دوئ معاندانه سوالات کوی. ستا نه ئې خو داسې سوال وکړو چه په تا دې کتاب جملةً واحدةً نازل شی. یا مونږ ته دې د الله تعالی د طرفه خط راشی لیکن د موسی علیه السلام نه ئې د دینه د غټې خبرې سوال کړې وو . هغه دا چه مونږ ته الله تعالی عیاناً «په ښکاره» وخایه. او د دې ګستاخئ او بی ادبه سوال په وجه په دوئ صاعقه «تندر» ولګیدو او مړه شول. او کتاب جملةً نازلیدل خو په دنیا کښې واقع شوی دی او رؤیت د الله تعالی په دنیا کښې ندې واقع شوې، نو سوال د رؤیت د الله. غټه خبره ده په نسبت

---

۱ - زجر دې . دا داسبابو ذکر دې او حکم ئې په طور د سزا روستو راغلی چه (حرمنا عليهم طيبات – الخ) دې یا جار مجرور د (لعنا) سره متعلق دې

سره نزول دَ کتاب ته جملة واحدةً

﴿ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ﴾ دا د دوئ دبل قباحت ذکردي چه دوئ معبودګرځولي ووعجل لره
دلته دا شبه کيدي شي چه عبادت دعجل مقدم وؤ د سوال د رؤيت نه لکه په سورتِ بقره
کښې چه ذکر شوی دی. او دلته عبادت د عجل په ((ثم)) سره ذکر شوي دي نو دا دلالت کوی په
دي باندي چه عبادت د عجل روستي وؤ،

جواب دادي چه دلته **ثم** دترتيب زمانی دپاره ندي بلکه دتراخی دذکردپاره دي يا ((ثم))
استبعاديه دي خکه چه عجل معبودګرځول زيات مستبعددی دسوال درؤيت نه خکه رؤيت دالله
تعالی په دنياء کښې اګرکه واقع خو ندي ليکن ممکن دي او په آخرت کښې واقع دي اودعجل
معبودګرځول ندی جائز په هيڅ حال کښې په نيزد عقل سليم اونه شرعًا ، نه په دنيا کښې او نه په
آخرت کښې ﴿وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا﴾ مراد ترينه توراة دي يامعجزات دموسی علیه السلام دی اويا
دموسی علیه السلام رعب اوجلال دي چه په فرعون باندي ئی رعب وو، نوهغه نشو قتلولي اودارنګي
په بنی اسرائيلو باندي ئی رعب وو چه هغوئ ئی دا حکم ومنلو چه ((**فاقتلواانفسکم**)) نو داسې
جلالی شان والا پيغيمبر نه داسې معاندانه سوالات کول دلويومعاندينو او بی شرمه خلقو کار
دي ﴿وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ﴾ دا د دوئ دنوروقباحتونو ذکردي، طورغر پدوئ باندي اوچت کړي
شوي وو دپاره د وعدي اوميثاق په عمل په توراة باندي اودا اکراه اوجبر دي په قبول
داحکاموفرعيواو دا جائزدي

﴿وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ﴾ دسجدي نه مراد انحناء او عاجزی ده ياترينه مرادحقيقی سجده
ده او دا حال مقدره دي اويهودو ددي حکم خلاف کړي وو پدي کښې هغي ته اشاره ده لکه په
سورة بقره کښې تيرشوی دی ﴿وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا﴾ ددي مخکينواحکامودعمل دپاره پخه
وعده مراد ده يانوری وعدي مراد دی لکه په سورة بقره کښې تيرشوی دی ﴿فَبِمَا نَقْضِهِم﴾ با
سببيه ده او ((ما)) زائد دي او جارمجرورمتعلق دي د ((لعنا)) مقدرسره نو ((نقضهم)) سره
دمعطوفاتو نه سبب دي دلعنت کيدو دپاره پدوئ باندي، حضرت شيخ فرمائي (کماهوالمروی عن
الزجاج) چه دلته بيان داسبابو دي د آيت نمبر ۱۵۹ پوري، او په ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ﴾ کښې
د دغه اسبابو ذکر دي بالاجمال اوحکم مقصوده مرتب په دغه اسبابوباندي دادي چه ﴿حَرَّمْنَا

عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ ﴾ ﴿وَبِكُفْرِهِمْ﴾ دادويم سبب دي ﴿وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ﴾ دريم سبب دي ﴿وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ﴾ دا خلورم سبب دي ((غلف)) په سکو ن دلا م سره جمع د ((غلف)) ده هغه څيزونه چه په پرده کښې وی نو دوئ اوئيل چه زمونږه زړونه په پردوکښې دی ستاسو خبرته ورته نه رسيږی لکه ((وقالوا قلوبنافي اكنة مماتدعوننا اليه)) حم سجده ، آيت ۵ يا ((غلف)) په سکون دلا م سره په اصل کښې غلف وو په ضمه دلام سره نوضمه په سکون سره بدل شوه تخفيفا او ((غلُف)) په معنی د ((اوعية العلم)) سره دې يعنې زمونږ زړونه دعلم لوخې دی او دعلم نه ډک دی ستاسوعلم اونصيحت ته ئی ضرورت نشته دې نوالله تعالی اوفرمائيل چه داسې نده ﴿بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا﴾ ددوئ زړونه دکفرنه ډک دی نو دکفراو دلعنت مهرپرې لګيدلې دې .

وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا

اويه سبب دکفر ددوئ سره اوجوړولو دوئ سره په مريم باندې بدنامه لويه . اويه سبب دوېنادوئ (فخرا) چه بېشکه مونږ

قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ

قتل کړېدې مسيح چه عيسې خوئې دمريم دې اودالله رسول دې، اونه دې قتل کړې دوئ هغه لره اونه ئې دې په سولئ کړې.

وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا

ليکن يوشان(هم شکل)کړې شوې وو يوکس دعيسٰی سره دوئ ته، اوبېشکه هغه کسان چه مختلف شوی دی

فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ۭ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ

په باره د(قتل)دعيسٰی کښې خامخا په شک کښې دی دحال دده، نشته دې دوئ لره په هغه څه علم يقينی

اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ

مګر تابعداری د ګمان ، اونه دې قتل کړې دوئ هغه په رښتياسره . بلکه پورته خيژولې دې هغه نر

اللّٰهُ اِلَيْهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ وَ اِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ

الله خپل خان ته اودې الله زورآورحکمتونووالا اونشته دې هيڅوک داهل کتابونه مګرخامخابه ايمان راوړی

بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۝

په عیسي مخکښې دمرګ دهغه نه. اوپه ورځ دقیامت به شي هغه په دوئ ګواهي ورکونکې

﴿ وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ ﴾ دکفر نه مراد کفر دې په نبوة دعیسی علیه السلام باندې یا انکار په پیداکیدو دعیسی علیه السلام باندې بغیرد نارینه نه، او په مریم بی بی علیها السلام باندې دبدکارئ تهمت، اوحال دادې چه دوئ ته دهغې په عفت باندې ښکاره دلیلونه موجودوو

﴿ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ ﴾ یعنی صرف دا وینا او دعوه ددوئ چه مونږه عیسی علیه السلام قتل کړې دې نو دا سبب دلعنت دې ﴿ وَمَا قَتَلُوهُ ﴾ دا ددوئ ددعوه تردید دې چه نه دوئ عیسی علیه السلام قتل کړې دې اونه ئې په سولئ کړې دې ﴿ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ﴾ ((شُبِّهَ)) صیغه دماضی مجهول ده دشِبهه نه ماخوذدې یعنې مماثلت په شکل کښې، یا په معنی داشتباه سره دې یعنی معامله اواصل خبره ګډوډه کول . نو دلته **دوه توجیه دی** **اوله توجیه** داده چه دوئ عیسی علیه السلام ندي قتل کړې بلکه دوئ قتل کړې دې هغه ځوک چه جوړ کړې شوې وؤ په شکل دعیسی علیه السلام باندې لکه دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه یهودیان کله هغه مکان ته داخل شول کوم مکان کښې چه حضرت عیسی علیه السلام وونو پدوئ کښې یوکس چه نوم ئې طیطانوس وؤ چه ډیر شریروو او عیسی علیه السلام ته به ئی اذیت رسولو هغه هم داخل شو دعیسی دقتل کولو دپاره یاګرفتارولو دپاره. نودغه سړې دعیسی علیه السلام په شکل شواوعیسی علیه السلام اسمان ته الله تعالی اوچت کړلو نویهودیانو ده لره قتل کړو نو بیا په شک کښې شول که داعیسی علیه السلام وی نوځمونږ ملګرې څه شو او که دا طیطانوس وی نوبیاعیسی علیه السلام څه شوه اوهم دارنګې د ده ظاهری حُلیه دعیسی علیه السلام پشان وه او لاندې بدن ئې دطیطانوس وو. اوابن جریر.دابن وهب رحمهما الله نه داسې روایت کړې دې چه دا مقتول دعیسی علیه السلام دحوارینو نه وو عیسی علیه السلام اوویشت (۲۷) حوارینوسره یومکان ته داخل شوې وو نویهودیانوپرې احاطه اوکړه نوچه دوئ داخل شو نوعیسی علیه السلام خپلوملګروته اویل چه ځوک جنت غواړی؟ نویوسړی آوازاوکړو چه څه جنت غواړم نوالله تعالی دده شکل دعیسی علیه السلام په شکل جوړکړو اوعیسی علیه السلام ورلره خپل قمیص اوعمامه ورکړه نویهودیانوګمان اوکړلو چه داعیسی دې نودې ئې قتل کړلو (کذاف القرطبی)

اودویمه توجیه داده چه دوئ ته معامله مشتبه اوګډه وډه کړې شوې ده پدې شان چه کله

یهودیان دحضرت عیسی علیه السلام دگرفتارولو دپاره مکان ته داخل شول نوعیسی علیه السلام ئي اونه مونده لونو یو غریب سړی ئي ونیولو اوقتل ئی کړلو او دفن ئی کړلو او چاته ئي ښکاره نه کړو نوعوامو ته ئی اوئیل چه مونږه عیسی قتل کړو اودفن مو هم کړو اودا دویمه توجیه حضرت شاه انورشاه کشمیری صاحب رحمه الله دابن حزم دکتاب الملل والنحل (ص : ۱۷۷) نه نقل کړې ده اودې نه ئي ترجیح ورکړی ده.

﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ ﴾ یعنی کوموخلقوچه دحضرت عیسی علیه السلام په باره کښې اختلاف کړې دې چه هغه یهودیان اونصاری دی نود ((الذین)) نه مراد دواړه فرقې دی. نویدې کښې هیڅ چاسره صحیح علم نشته بلکه تردد اوجهل دې، دشک نه مراد تردد دې یا ترینه مراد جهل دې. یهودیانو دا اختلاف په باره دعیسی کښې داسې کړې وو چه آیا که مونږه عیسی قتل کړې دې نو زمونږه ملګرې څه شو او که مونږه خپل ملګرې قتل کړې دې نوعیسی څه شو او دا رنګې مخ دعیسی علیه السلام اوباقی بدن ئي ددوئ دملګری وو، اونصارو اختلاف داسې کړې دې چه عیسی علیه السلام قتل شو او زمونږه دپاره کفاره دسیئات شو او بعضو وئیل چه جسم ئی قتل شو او روح ئي الله تعالی خواته لاړ، اوبعضو وئیل چه قتل شولیکن درې ورځونه روستو بیاجوندې شو او آسمان ته لاړ.

﴿ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴾ ((یقینا)) تاکیدد نفی دې ﴿ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ ﴾ بلکه یقینی اوقطعی خبره داده چه الله تعالی حپل ځان ته او آسمان ته اوچت کړې دې،دلته رفع جسمانی مراد ده ځکه چه د ((رفعه)) ضمیرهم هغه چاته راجع دې چه ((قتلوه اوصلبوه)) ضمیر ورته راجع دې اوهغه جسم ته راجع دې ځکه قتل اوصلب په جسم باندې کیږی نه په روح باندې.

﴿ وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ ﴾ پدې کښې دوه توجیه دی **اول** دا چه د به ضمیر راجع دې عیسی علیه السلام ته ((وقال الشیخ الضمیر راجع الی حقیة ماقاله محمد صلی الله علیه وسلم)) اود ((موته)) ضمیر راجع دې اهل کتابو ته یعنی هر اهل کتاب یهودی اونصرانی چه مرکیږی نو په حالت دنزع کښې چه دعالم غیب مشاهده اوکړی نوایمان په عیسی علیه السلام باندې راوړی خودا ایمان به دوئ ته نفع نه ورکوی او په ورځ دقیامة به عیسی علیه السلام ددوئ په انکار ګواهی وکړی. ـ دا چه دوئ به ایمان راوړی په حقیت دهغه څه چه نبی صلی الله علیه وسلم نازل دی په حق دعیسی علیه السلام کښې او په ورځ دقیامت به نبی صلی الله علیه وسلم پدوئ

ګواهي وکړي. **دویمه توجیه** داده چه دا دواړه ضمیرونه عیسی علیه السلام ته راجع ی اومطلب داديې چه قیامت ته قریب چه کله عیسی علیه السلام د آسمان نه راکوز شي نو دموت نه قبل که یهودی وی اوکه نصرانی وی نو په ده به ایمان راوړي او دا توجیه غوره ده

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ
نو پس[۱] په سبب د ظلم کولو د یهودیانو سره حرام[۲] کړل مونږ پدوی باندې مزیدار (پاک) خیزونه چه حلال شوی وو دوی لره
وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ﴿۱۶۰﴾ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَوٰا وَقَدْ
اوپه سبب د منع کولو ددوی دلارې د الله نه ډیرو خلقو لره اوپه سبب داخستلو ددوی سود لره اوپه تحقیق سره
نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَٰلَ النَّاسِ بِالْبَٰطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا
دوی منع کړي شوی وو دهغې نه. اوپه سبب دخوړلو ددوی مالونو دخلقو لره په ناحقه سره. اوتیار کړي دي مونږ
لِلْكَٰفِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿۱۶۱﴾
کافرانو لره ددوی نه عذاب دردناک

﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا ﴾ دا دهغه اسبابو اجمالاً اعاده ده چه مخکښي ذکرشو نو (باء) سببیه ده او د ظلم نه مراد مخکښني مذکوره جرائم دی او(حرمنا) بیان دحکم مقصودی دې، اکثر مفسرین وائي چه دتحریم طیبات نه مراد هغه اموردی چه مذکوردی په سورة انعام آیت نمبر ۱۴۶کښې ﴿ وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ﴾ لیکن پدې اشکال دې چه دا امور خو مخکښې په سورة انعام کښې حرام شوی وو اویهودیانو مخالفت دعیسی او په حضرت مریم علیه السلام تهمت روستو لګولې وو نوسزا دجرم، دَجرم کولونه مخکښې څنګه شوه ؟

جواب حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائي چه مراد دتحریم دطیبات نه دغه امور ندی چه مذکور دی په سورة انعام کښې بلکه مراد ترینه په یهودو ذلت راوستل اونصرت بندول اوحکومت اغستل وغیره دی نو دا آیت په شان د ﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ﴾

---

۱. دا دتمامو اسبابو مذکورو اعاده ده

۲. دا دتمامو اسبابو مذکورو حکم دې په طور د سزا

((وضربت عليهم الذلة والمسكنة ــ الايه)) دې حضرت عثمانی رحمه الله ددې ايت په تشريح کښې فرمائي چه ديهوديانو ټولو مخکنو او روستنو شرارتونو ئي ذکراوفرمائيلونواوس فرمائي چه مونږ په دوئ باندې سخت شريعت کيخودو چه سرکشی ئی ماته شی ـ الخ اوصاحب د روح المعانی يوجواب داهم ورکړې دې چه دتحريم دطيبات دپاره اسباب هغه عبادة العجل وغيره دی او انکاردعيسی عليه السلام اوتهمت په بی بی مريم عليها السلام اسباب د دوام او د استمرار دتحريم دپاره دی ((وقيل فی جوابه ان المراداستمرارالتحريم)) (روح المعانی)

﴿وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ دينه مراد منع کول دخلقودی دتوحيدنه او دايمان بالرسل نه او اتباع دقرآن نه ﴿وَأَخْذِهِمُ الرِّبَوٰا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ﴾ سود په دوئ باندې حرام وو په توراة اوانجيل کښې داحکم موجوددې ﴿أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ﴾ د دينه مراد ټولوحرامې طريقې دمال ګټلودی لکه رشوت. دهوکه اونذرلغيرالله ﴿لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ﴾ څوک چه پدوئ کښې په کفرباندې مصر شی نو دهغوئ دپاره عذاب اليم دې اوڅوک چه ايمان راوړی لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه نوهغوئ دپاره ډبل اجر دې ((يوتؤن اجرهم مرتين)).

لَٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ

لېکن (۱) پاخه په علم کښې ددوئ نه اومومنان، ايمان لری په هغه کتاب چه نازل کړې شوېدې تاته

وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ

اوچه نازل کړې شوېدې مخکښې ستانه (اوشاباش دې) په قائمونکودمونځ اوورکونکی دزکوة اوايمان لرونکی

بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿۱۶۲﴾

په الله او په ورځ د آخرت. دغه کسان خامخا ورکوؤ به مونږ دوئ ته اجر لوئی

﴿لَٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ﴾ دا بشارة دې مؤمنانو د اهل کتابوته لکه عبدالله بن سلام او دهغه ملګری شو . ((لکن)) حرف استدراک دې چه مخفف دې نوعمل نه کوی ((الراسخون)) مرفوع دې مبتداء ده سره دمعطوفاتونه . او ﴿يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ﴾ ورله خبردې يا ((يؤمنون))

(۱) بشارت مومنانود اهل کتابو ته

جمله حالیه ده او خبر دمبتدا ﴿أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ﴾ دي.

﴿وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ﴾ دا منصوب دي په نزد دسیبویه او دعامو بصریانو باندي بنا برمدح ((ای امدح المقیمن الصلوة)) نو پدي کښي اشاره ده زیات اهمیت دصلوة ته. اوامام کسائي وائي چه دا مجرور دي عطف دي په ،،**ماانزل الیک**،، باندي یا په کاف باندي په ،،**من قبلک**،، کښي اومرادترینه ملا ئک دی، یاعبارة په حذف دمضاف سره دي ((ای بدین المقیمن الصلوة)) امام کسائي په امام سیبویه باندي اعتراض کوی چه منصوب برمدح په آخر دکلام کښي رازی نه په وسط کښي نوسیبویه وائي چه پدي خبره باندي هیڅ دلیل نشته دي چه منصوب بر مدح فقط په آخر کښ رازی. حاصل دادي چه ،،**المقیمن**،، منصوب دي یامجروردي او ،،**المقیمون الصلوة**،، قراءت شاذه دي او ،،**المقین الصلوة**،، قراءت متواتره دي اولحن ندي اوحضرت عثمان رضی الله عنه ته چه منصوب کړې شوي دي ((ارى شيئامن لحن ـــ الخ)) دا نسبت صحيح ندي اودا روایت ثابت ندي دحضرت عثمان رضی الله عنه نه ځکه چه په روایت کښي ضعف اواضطراب دي اونقطاع ده. روح.

فائده شیعه د،،**المقین الصلوة**،، په اعراب باندي اعتراض کوی چه دا دعربیت په قانون سره لحن دي چه عثمان رضی الله عنه کړې دي اوداسي په نوروآیاتونو اعتراض کوی. نو جواب دماقبل نه معلوم شو چه دا قراءت متواتره دي اودیته لحن ویل دا حماقت دي

حضرت استاد شیخ القران مولا نا غلام الله خان رحمه الله خپله واقعه بیانوله چه په ما باندي دحکومت دطرف نه شکایت وونوخه ډپټی کمشنرخپل دفترته طلب کړم نوچه کله حاضرشوم نوماته معلومه شوه چه شیعه دي نوما په هغه باندي سلام اونه وئیلواوکیناستم نو هغه پوهه شو او را پاسیده او په ډیر احترام سره ئي ګفتګو شروع کړه، وې وئیل حضرت چه تا خو تفسیر جواهر القرآن خولیکلي دي لیکن د،،**والمقیمین الصلوة**،، په اعراب دي لیکل ندی کړی نو دا وه وایه چه دا ولې منصوب دي؟ نو ما جواب ورکړو چه دا منصوب بنابرمدح دي نو هغه اعتراض وکړو چه منصوب بنا بر مدح خو په آخر دکلام کښې راځی. نو ماجواب ورکړلو چه دا دبعضې اهل عربوقول دي اویدې هیڅ دلیل نشته دي چه دمنصوب بر مدح به فقط په آخر دکلام کښې وی . هغه چپ شو. خو دا جواب مادخپل ځان نه توکلاً کړې وو او څه ماخذ او حواله راته معلومه نه وه نو چه واپس راغلم، نو د روټئ خوراك وغیره ضروریاتو نه قبل م تفسیر روح المعانی راواخست نو په هغې کښ هم دغه خبره وه چه ما کړېوه، خوشحال شوم اوشکر م وکړوچه غلطه توجیه م نده کړې، دا قصه به حضرت طلباؤ ته د عبرت لپاره کوله چه یو انګریزی

خوان اوعصری تعلیم شیدائی په قرآن کښې دنقص پیداکولو دپاره مذموم کوشش کوی او دومره ډیره مطالعه کوی اومعلومات حاصلوی،نومونږ تاسوله څه څه پکار دی (**والله الموفق**)

﴿وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ﴾ دا عطف دې په ((**يؤمنون**)) باندې نو دا هم خبر د ((لكن)) دې

﴿وَالْمُؤْتُوْنَ﴾ داهم عطف دې په ((يؤمنون)) باندې، او دا ئې مؤخر ذکر کړوخکه چه دا په منزله د شرط دې دپاره دَ ما قبل او شرط کله مؤخر وی ((**سَنُؤْتِيْهِمْ**)) سینِ دَ استقبالِ قرینهٔ دې او کله کله ترینه تاکید مراد وی . دلته د تاکید لپاره دې.

اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ

بېشکه [1] مونږ وحي کړېده تاته پشان دهغې چه وحی کړېوه مونږ نوح ته،اونوروپیغمبرانوته روستودهغه نه.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ

اووحي کړې وه مونږابراهیم ته، اواسماعیل ته اواسحاق اویعقوب ته او اولاد دهغوئ ته

وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۟

اوعیسی او ایوب . اویونس اوهارون اوسلیمان ته، او ورکړې وو مونږ داؤد ته زبور

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ

اووحی کړېوه مونږ ډېرورسولانوته چه دهغوئ احوال مونږبیان کړی دی تاته مخکښې ددېنه،

وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ؕ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۟

اوداسې ډېرورسولانوته چه دهغوئ حالات مونږندي بیان کړي تاته، اوخبرې کړی دی الله دموسی سره خبرې کول

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ

لیږلی دی مونږ رسولان زېرې ورکونکی او یرونکی د دې دپاره چه پاتې نشی دخلقودپاره په الله

[1] دا جواب دهغه سوال دی چه دَ رکوع په اول کښې ذکر شو.

حُجَّةٌ	بَعْدَ الرُّسُلِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	عَزِيْزًا	حَكِيْمًا ﴿۱۶۵﴾	لٰكِنِ اللّٰهُ	يَشْهَدُ	بِمَآ
څه الزام، بهانه،	پس دلیرلو درسولانو نه.	اودي الله	زورآور	اوحکمتونو والا	لیکن الله	ګواهي کوي	په هغه

اَنْزَلَ	اِلَيْكَ	اَنْزَلَهٗ	بِعِلْمِهٖ ۚ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ	يَشْهَدُوْنَ ؕ	وَكَفٰى
کتاب	سره چه نازل کړې ئې	دي تاته نازل کړې ئې	دي پخپل علم سره،	اوملائک هم	ګواهي کوي.	اوپوره دي

بِاللّٰهِ	شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾
الله	ګواهي کونکي

﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ﴾ دا جواب دې دسوال مذکور داهل کتابونه اوحاصل ددې دادې چه دارومدار درسالت په وحې دې اوپدې خبرې باندې ندې چه کتاب به جملةً نازل وی. اووحی راتلل تاته یقینا دی نوته هم یقینی نبی ئې لکه نوح اودهغه روستونورو انبیاؤ نه وحی راغلې وه نوهغوئ انبیاء وو. دلته تشبیه ورکړې شوه د **ایحاء** «وحی کیدلو» د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ایحاء د نوح علیه السلام سره او د نبیینو بعده سره حالانکه وحی د حضرت آدم علیه السلام نه شروع شوې ده اوهغه اول الانبیاء دې، خکه چه دنوح علیه السلام نه مخکې وحی دتشریعاتو به لږه وه او وحی د تکوینیاتو به ډیره وه او نوح علیه السلام اول نبی تشریعی دې ،او دغه وجه ده چه حدیث دشفاعت کبری کښې ئې ورته ((اوّل نبی بعثه الله)) ویلی دی (کمافی البخاری وغیره) اودارنګې نوح علیه السلام اول هغه نبی وو چه دقوم سره ئې مقابله راغلې وه اودوئ د انکار په وجه سره هلاک شوی وو نو پدې کښې موجوده کفاروته تنبیه مقصود ده اوهم دارنګې نوح علیه السلام اول هغه نبی دې چه دشرک نې ردکړې دې اودینه مخکښې دشرک وجودنه وو اګرکه ګناه قتل وغیره وولیکن شرک دنوح علیه السلام په زمانه کښې شروع شوې دې یا د نوح علیه السلام نه لږ مخکښې شروع شوې دې. دشرک ابتداء دحدیث دبخاری شریف وغیره نه معلومیږی چه هغه بتان چه قوم د نوح علیه السلام ئې عبادت کولو هغه په اصل کښې نومونه د صالحینو وو چه کله وفات شول نو هغوئ معتقدینو (مریدانو) دهغوئ تصویرونه جوړکړل (دابه جائزوو په دغه زمانه کښې) دتسلی دپاره نوکله چه دوئ مړه شو نو وروسته نورو خلقو ئې عبادة شروع کړو ((وقالوا لا تذرن ودا ولا سواعا ـــ الایه)) ﴿وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا﴾

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ يعنى دامذكورانبياء خوتاسوهم منئ اوحالانكه دوئ ته جملة كتاب نه وو راغلي ﴿ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴾ دحضرت داود عليه السلام فضيلت دزبوراو درسالة او دنبوت په وجه وو، دحكومت په وجه نه وؤ نو ځكه ئي ددې ذكراوكړو، روح المعانى وغيره ليكي چه په زبوركښې يوسل پنځوس سورتونه وو او په هغې كښې حلال اوحرام اونوراحكام نه وو صرف وعظونه اوحِكَم اوفضيلتونه وواوهغه هم متفرق نازل وو .

﴿ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ ﴾ دا منصوب دې په فعل مقدره سره ((اى ارسلنا رسلا)) يعني ډير رسولان داسې دى چه دهغوئ حالات اونومونه الله تعالى خپل نبى ته بيان كړى دى او ډيرو رسولانو تفصيلى حالات اونومونه الله تعالى خپل نبى ته ندى بيان كړى، نومعلومه شوه چه نبى صلى الله عليه وسلم لره علم كلى ندې وركړې شوې، البته په شمار دپيغمبرانوكښې يو روايت دې چه سره دضعف نه اهل علمو قبول كړې دې چه يولاک څلويريشت زره انبياء دى او درسولانو تعداد درې سوه او ديارلس دې .

﴿ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴾ پدې كښې اشاره ده چه وحې دموسى عليه السلام علاوه دتوراة نه نجمًانجمًا وه، نوباب تفعيل د اطوارو دپاره دې ﴿ رُّسُلًا ﴾ ((اى ارسلنا رسلا)) .

﴿ مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ پدې كښې حكمت د ارسال الرسل دې چه خلقوته حق بيان كړى اوتخويف اوبشارت هم بيان كړى

﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ﴾ معتزله وائي چه ارسال درسل په الله تعالى باندې واجب دى ، د دې آيت نه استدلال كوى چه د دينه معلوميږى چه كه الله تعالى ارسال الرُسل نوې كړې نو خلقو به په الله تعالى باندې حجت اودليل قائم كولې شو ، نومعلومه شوه چه ارسال الرسل واجب دې اواهل سنت والجماعت وائي چه ارسال الرسل واجب ندى بلكه دا دالله تعالى تفضل اواحسان دې ، اوپدې آيت كښې دحجةٌ نه مراد عذر اوبهانه ده يعنى كه الله تعالى دنياء ته رسولان نه وې راليږلي نوخلقوبه عذر او بهانه كوله چه مونږ ته هيڅ پته نه وه اوهركله چه الله تعالى رسولان را وليږل نودغه عذراوبهانه ختمه شوه. تائيدسورة قصص آيت نمبر ۴۷ .

﴿ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ ﴾ دامتعلق دې دسوال ديهودو سره او ((لكن)) داستدراک دپاره دې اومستدرک عنه محذوف دې يعنى ((انهم لا يشهدون لكن الله يشهد)) په يوروايت كښې راغلو

دی هرکله چه نازل شو دا آیت ((**انا اوحینا الیک**)) نوکفار و ووئیل : ((**ما نشهدلک**)) مونږ د دې شهادت نه کوؤ. نو نازل شو دا آیت یعنی که تاسو شهادت نه کوئ د رسالت د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیکن الله تعالی یې کوی او ملائك ئې کوی.

﴿**أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ**﴾ دا جمله تفسیرده دماقبل یعنی د((**ماانزل الیک**)) دپاره او ((با)) په ((بِعِلْمِهِ)) کښې دتلبس دپاره ده یعنی دا قرآن نازل دې اومتلبس دې دعلم دالله سره نو لکه چه څنګه چه علم دالله تعالی ډیر زیات اولا محدود دې نو دغه سې دقرآن پاک اسراراوکمالا ت اوعلوم هم لامحدود دی څکه چه هرکلام دمتکلم دعلمی شان مطابق وی

فائده الله تعالی شاهد دې او((**ماانزل الیک**)) مشهود دې اومشهودعلیه محذوف دې چه هغه حقانیت درسول الله دې لیکن حضرت استاذ فرمائې چه داسې هم کیدې شی چه ((**بماانزل الیک**)) مشهودبه شی و((**انزله بعله**)) مشهود علیه شی او مط لب داشی چه دا کتاب دخپل حقانیت ·لوکامل والی دپاره پخپله شاهداو دلیل دې بل شاهداودلیل ته ئې ضرورت نشته لکه شاعر د فارسئ وائي :

آفتاب آمد دلیل آفتاب　　　گر دلیلی بایدت زورومتاب

﴿**وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا**﴾ ((با)) زائده ده اولفظ د ((الله)) مجرور لفظا دې مرفوع محلا دې بنا بر فاعلیت څکه چه فاعل د ((کفی)) باندې ((با)) زائده داخلیږی او ((شهیدا)) تمیز دې دفاعل نه اومطلب دادې چه الله تعالی دکومې خبرې شهادت اوکړی نو دا شهادت پوره او کافی دې. بیا دبل چا شهادت او اقرار ته ضرورت نشته دې

إِنَّ	ٱلَّذِينَ	كَفَرُوا۟	وَصَدُّوا۟	عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ	قَدْ	ضَلُّوا۟
بیشکه هغه کسان چه		کفرئې کړېدې	اومنع کوی خلق	دلارې دالله		نه په تحقیق سره ګمراه شوی دی دوی

ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا	إِنَّ	ٱلَّذِينَ	كَفَرُوا۟	وَظَلَمُوا۟	لَمْ	يَكُنِ	ٱللَّهُ	لِيَغْفِرَ
په ګمراهی لرې سره	بیشکه هغه کسان چه		کفر[1] ئې کړېدې	اوظلم ئې کړېدې.		ندې	الله	چه بخښنه اوکړی

---

1 · تخویف اهل کتابونه

لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ

دوئ ته اونهٔ به اوښائي ورته لار . مګر لار دجهنم همېشه به وي په دی کښې همېشه، اودې دا کار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا ﴿١٦٩﴾

په الله باندې آسان.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ دا زجراوتخويف دې منکرينوته، يهوديانو د رسول پاك صلى الله عليه وسلم دصفاتوکتمان هم کولواوتحريف ئې هم کولو او دنورو خلقودګمراه کولو دپاره ئې په رسالت باندې اعتراضونه هم کول. او دا صرف دضد او عناد دوجه نه. نوالله تعالى فرمائې چه دوئ ګمراه دی په ضلال بعيد سره ځکه دوئ پخپله هم ګمراه دی اونورخلق هم ګمراه کوی

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَظَلَمُوا۟ ﴾ دا تخويف دې اود ((**ظلموا**))نه مراد دادې چه نورخلق کفراومعصيت ته رابلی ﴿وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ ﴾ يعنى الله تعالى ورته توفيق دصحيح لارې نه ورکوی لکه ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ﴾ او ((**الا طريق جهنم**)) استثناء ده که ((طريقًا)) نه مراد طريقه عامه شی او يا منقطعه ده که د ((طريقًا)) نه مراد طريقه صحيحه شی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُوا۟ خَيْرًا

اې [1] خلقويه تحقيق سره راغلې دې تاسوته رسول په حقه سره دطرفه درب ستاسونه. نوايمان راوړئ دابه غوره وی

لَّكُمْ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمٰوٰتِ

تاسولره. اوکچرې تاسوکفرکوئ پس په تحقيق سره خاص الله لره دې اختيار دهرهغه څه چه په آسمانونو کښې دی

وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾

او زمکه کښې دی، او دې الله پوهه حکمتونووالا

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ﴾ دا خطاب عام دې اوترغيب دې ايمان ته په رسول صلى الله عليه وسلم باندې چه ايمان راوړل ستاسو لپاره خير اوبهتردی او په کفرکولوکښې ستاسوخپل ضرردې

1 ترغيب بوحيد ته

((خَيْرًا)) منصوب دي په فعل مقدره سره ((اى يكن خيرًا لكم)) ﴿وَإِن تَكْفُرُوا﴾ شرط دي او جزاء

ني مقدره ده چه ((لا تضروه)) دي. او ﴿فَإِنَّ لِلَّهِ﴾ ((فان الله)) دمحذوفي جزاء قائم مقام دي

يَأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ ۭ إِنَّمَا

اي اهل كتابو[1]، تجاوز دحدنه مه كوئ پخپل دين كښي. اومه وائي په الله باندي مګرحق وايئ. نده مګرداده

الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ أَلْقٰهَآ إِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ

چه مسيح عيسي خوئ دمريم رسول دالله دي اوكلمه دهغه ده. چه اچولي ني ده طرف دمريم ته اوروح دي

مِّنْهُ ۡ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ۭ إِنْتَهُوْا

دطرفه دالله نه. پس ايمان راوړئ په الله اوپه رسولانو دهغه. اومه وايئ چه خدايان دري دي. منع شئ

خَيْرًا لَّكُمْ ۭ إِنَّمَا اللّٰهُ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۭ سُبْحٰنَهٗٓ أَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ

ددي نه دابه خيروي ستاسو دپاره. بيشكه صرف الله معبود دي يوازي. پاک دي ددېنه چه وي ده لره

وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۭ

زوئ. خاص دهغه په اختيار كښي دي هرهغه څه چه په آسمانونو كښي دي اوهغه څه چه په زمكه كښي دي.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۷۱﴾

اويوره دي الله ذمه وار د ټولوكارونو

﴿يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ﴾ دعمومي دعوت نه روستوخصوصي دعوت دي اهل كتابوته. شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي چه د اهل كتابونه مراد نصارى دي چه دوى په خپل دين كښي غلو كړى وو او عيسى عليه السلام ته يې اله ويلي وو لېكن صاحب دمدارك وايي چه مراد ددينه يهود او نصارى دواړه دي او غلو د حد شرعي نه تجاوز كولو ته وايي نو نصارو افراط كړى وو د حد شرعي نه چه عيسى عليه السلام ته يې [illegible] تفريط كمي كړي وو چه د عيسى عليه السلام

[1] [illegible]

رسالت نه ئی انکار اوکړو او د دروغو ډیربد الزامات یې پرې اولګول

فائده داولیاؤالله اوبزرګان دین په باره کښې هم داسې حکم دې چه دهغوئ په حق کښې نه افراط وکړې شی او نه تفریط، او دا رنګه په هر عمل کښې نه افراط پکار دې او نه تفریط نه دې غیر سنت ته سنت ویلې شی او نه دې سنت ته بدعت ویلې شی، او د حضور صلی الله علیه وسلم په شان کښې حضرت عمر رضی الله عنه په خپل آخری اهم بیان کښې دا سې فرمایلی دی الا ثمّ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : لاتطرونی کما اطرئ عیسی بن مریم وقولوا عبدالله ورسوله)) ((بخاری ۲/ ۱۰۰۹)) یعنی ځما په مدحه کښې داسې افراط اوتفریط مه کوئ لکه څنګه چه عیسایانو دعیسی علیه السلام په باره کښې چه کوم افراط کړې وو

﴿إِنَّمَا ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ﴾ دا بیان دحق دې په ((الا الحق)) کښې یعنی حقه خبره داده چه عیسی بن مریم ((ابن الله)) ندې بلکه ابن مریم دې نو دا رد دې په عیسایانو باندې ﴿رَسُولُ ٱللَّهِ﴾ دا رد دې په یهودیانوباندې ﴿وَكَلِمَتُهُۥ﴾ حضرت عیسی علیه السلام ته د ((کلمةالله)) وئیلو ډیر توجیهات دی : (۱) حضرت عیسی علیه السلام په کلمه د ((کن)) سره پیداشوې دې بغیر د ماده معتاده نه (یعنې بغیر دتوسط داب نه) (۲)امام غزالی رحمه الله وئیلی دی چه دهرمولود دپاره یوسبب قریب وی اوبل سبب بعیدوی سبب قریب منی ده اوسبب بعید کلمه د ((کن)) ده اوهرکله چه په حق دعیسی علیه السلام کښې سبب قریب نه وو نواضافت ئې اوشو سبب بعید ته چه هغه کلمه د ((کن)) ده نوپدې کښې اشار ه ده انتفاء دسبب قریب ته اوددې وضاحت دا قول دې ﴿أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ﴾ چه رسَولې وه داکلمه مریم ته، نودا کلمه په منزله دهغه منی ده چه اچولې کیږی په رحم کښې (۳) ((کلمة الله)) ئې ورته ځکه وئیلی دی چه پدې سره هدایت حاصلیږی لکه څرنګه چه هدایت حاصلیږی په کلا م دالله تعالی سره (۴) دکلمة الله معنی هغه بشارة دې چه الله تعالی مریم ته ورکړې وو ((ان الله یبشر ک بکلمة منه)).

﴿وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ عیسی علیه السلام ته د روح الله وئیلوهم متعدد توجیهات دی . (۱) روح په معنی دنفخ سره دې یعنې پوکې کول اوعیسی علیه السلام پیداشوې وو په پوکی کولو دجبریل علیه السلام سره په ګریبان دحضرت مریم کښې اود ((منه)) معنی من جانب الله ده، او اضافت یې الله ته دتعظیم اوتشریف دپاره دې نه دتبعیض او یا دجزئیت دپاره لکه دا زعم دعیسایانو دې لکه روایت دې چه یونصرانی حاذق دهارون رشید مناظره اوکړه دعلی بن حسین الواقدی المروزی سره، او وې ویل چه ستا په کتاب کښې داسې آیت دې چه دلالت کوی په دې چه عیسی علیه السلام د الله تعالی جزء دې او دا آیت ئې تلاوت کړو نو واقدی ورته دا آیت تلا وت کړو ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي

﴿ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ﴾ دلته هم ((مِنْ)) دې نو تمام اشياء دې جزء شي دالله نه ؟ نو نصراني طبيب لاجواب شو او ايمان ئې راوړو نوهارون رشيد ډير خوشحاله شو او واقدی ته ئې ډيرانعام ورکړو (۲) دعيسى عليه السلام سره دخلقو حيات رازي ظاهري حياة ځکه احياء الموتى دعيسى معجزه وه اودارنګې معنوى حياة هم ځکه چه دې سبب دهدايت دخلقودې (۳) روح په معنى درحمت سره دې لکه ﴿وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ﴾ ((بنا په يو توجيه)) نو عيسى عليه السلام رحمت دې (۴) روح په معنى دنهايت طهارت اونظافت سره راځي اوعيسى عليه السلام بغير دنطفې نه پيدادې نوځکه ئې توصيف په روح سره شوې دې (۵) روح په معنى د (سِرّ) سره رازي يعني عيسى يو راز او حجت دې د اسرارو دالله تعالى نه (۶) چا وئيلي دی چه عبارة په حذف دمضاف سره دې ((ای ذوروح منه)) (روح المعانی)

﴿وَلَا تَقُولُوا۟ ثَلَٰثَةٌ﴾ د نزول دقرآن په وخت کښې دنصاراو درې لوئې لوئې فرقې وې يوه فرقه چه هغې ته حلوليه ويلې شی هغې ويل چه عيسى عين الله دې اوالله تعالى دنياته په شکل دعيسى کښې راغلې دې، دويمه فرقه پدې قائله وه چه عيسى ابن الله دې د دوئ دواړو رد اوشو چه عيسى ابن مريم دې نه ابن الله ، دريمه فرقه دتثليث قائله وه يعني خدايان درې دی (۱) اب (۲) ابن (۳) مريم اوبعضو داسې ويل چه (۱)اب (۲) ابن (۳) روح القدس، اومشهورقول دادې چه دنصاراو عقيده داسې وه چه معاذالله، الله تعالى يو جوهردې او اقانيم ثلاثة ته تقسيم شوې دې : اب، ابن، روح القدس، اول ذات دې دويم صفت (علم) دې اودريم حياة دې، دا ټول خرافات او بې دليله خبرې دی ﴿ٱنتَهُوا۟﴾ منع شئ د قول دتثليث نه اودا رد دې په قائلينو د تثليث باندې ﴿خَيْرًا﴾ مفعول به دفعل محذوف دې ((ای واقصدواخيرالکم کماهو المشهور عند النحاة)) او راجحه خبره داده چه داخبرد ((کان)) محذوفه دپاره دې ((اي يکن خيرلکم)).

﴿إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ﴾ دا صريح رد دې په تثليث باندې ﴿سُبْحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٌ﴾ دا صريح رد دې په قائلينو د ابنيت باندې ﴿لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ﴾ پدې کښې نفی دتصرف ده دعيسى عليه السلام اودمريم بی بی نه .

لَن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ۚ وَمَن
هرګز[۱] شرم نه کوی مسيح ددېنه چه شي بندګي کونکي دالله اونه ملائک مقرب، اوڅوک

۱ - يعنی عسي عليه السلام نه معبودا او خدائي نه وئيل دهغه توهين نه دې

يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ۝ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

چه شرم کوی دبندگئ دالله نه اوتکبراوکړی نوزرده چه جمع به کړی الله خپل خان ته تول پس هغه کسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ

چه ایمان ني راوړي وي اوعملونه کوي نیک نوپوره به ورکړی الله دوئ ته اجرونه ددوئ اوزیات به ورکړی دوئ ته

مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ

دفضل خپل نه. اوهغه څوک چه شرم اوکړی دبندگئ دالله نه اوتکبراوکړی نوعذاب به ورکړی الله هغوئ ته

عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝

عذاب دردناک ، او نه به مومی دوئ خپل ځان لره سوا د الله نه څوک دوست اونه مددګار

﴿ لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ ﴾ د (استنکاف) معنی ده بدګنړل اوعارګنړل، عیسیانوحضرت عیسی علیه السلام ته اله وئیل اودائي ګمان ووچه عیسی ته بنده وئیل توهین دې اومشرکین عربو به ملا نکوته بنات الله وئیل او دهغوئي به ئی عبادت کولو او هغوئ ته به ئی د عبادو نسبت کول د هغوئي توهین ګنړلو نوالله تعالی پدوئ باندې رد اوکړو چه عبدیت دمخلوق دپاره صفت کمال دې عیسی علیه السلام اوملائک مقربین دعبدیت نه انکارنه کوی اودا دخپل ځان توهین اوعارنه ګنړی اوڅوک چه عبدیت عارنه ګنړی نوهغه ته به الله تعالی پوره پوره اجر ورکوی اوڅوک چه دالله تعالی عبدیت اوبندګی عاراوګنړی نوهغه لره به عذاب الیم ورکوی .

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ

اې خلقو په تحقیق سره راغلیدې دې تاسوته یقیني دلیل دطرفه درب ستاسو نه، اونازل کړیدې مونږ تاسوته

نُوْرًا مُّبِيْنًا ۝ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ

نوربنکاره نوهغه کسان چه چه ایمان ئي راوړې دې په الله اوکلک ئي نیولې وی دا قران نوزرده چه داخل به کړی دوئ لره

فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ وَّيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝

په خاص رحمت خپل کښي او زیات ثواب کښي، او روان به کړي الله دوئ لره خپل خان طرفته په نیغه لار .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ ﴾ دا ترغيب دي اتباع دقرآن ته چه قرآن مضبوط اونيسئ خكه چه دا دليل قطعى دي اونور دي دا به تاسوته دصراط مستقيم هدايت كوى . ((برهان)) په لغت كښي غلبې ته وائي او په عرف كښي هغه دليل قطعى ته ويلي شى چه مفيد ديقين وى او دا سبب دغلبى دي په مقابل باندي اومراد ترينه ياقرآن دي (ابن كثير) اويارسول دي. يا معجزات دى، يا دين حق دي، او دنورنه مراد قرآن دي نوكه دبرهان نه مراد هم قرآن شي نو دا عطف دمغايرت لفظى د وجه نه دي لپاره دبيان دصفاتومتعددو ﴿ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ ﴾ ضمير راجع دي الله تعالى ته يا ((برهان)) ته يا ((نور)) ته ﴿ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ ﴾ مراد درحمت نه ثواب يا جنت دي اود ((فضل)) نه مراد زيادت دي په ثواب كښي، يا ((رحمت)) نه مراد ايمان اود ((فضل)) نه مراد كمال دي په دين كښي ﴿ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴾ دا په دنياكښي مراد دي اويا په آخرت كښي دجنت لاري ته هدايت مراد دي د ((اليه)) نه مراد ((الى دينه)) يا ((الى جنته)) دي

يَسۡتَفۡتُونَكَ ط	قُلِ	ٱللَّهُ	يُفۡتِيكُمۡ	فِي	ٱلۡكَلَٰلَةِ ط				
دوى فتوى[1] طلب كوى ستانه، ته ورته اووايه چه الله حكم دركوى تاسوته په باره د كلاله (ميرات) كښي،									
إِنِ	ٱمۡرُؤٌاْ	هَلَكَ	لَيۡسَ	لَهُۥ	وَلَدٞ	وَلَهُۥٓ	أُخۡتٞ	فَلَهَا	نِصۡفُ مَا
كه يوسړي مړشو نه ووهغه لره اولاد (اصول فروع ئي نه وو)اوهغه لره يوخور وه پس ددي د پاره نيمه دهغه مال ده									
تَرَكَ ج	وَهُوَ	يَرِثُهَآ	إِن	لَّمۡ	يَكُن	لَّهَا	وَلَدٞ ط	فَإِن	كَانَتَا
چه ده پريخودي دي. او دا رور وارث دټول مال دخور دي كه نه وو هغي لره هيڅ اولاد، نوكه وى دادواړه									
ٱثۡنَتَيۡنِ	فَلَهُمَا	ٱلثُّلُثَانِ	مِمَّا	تَرَكَ ط	وَإِن	كَانُوٓاْ	إِخۡوَةٗ		
دوه خويندي، نودي دواړو لره دوه دريمي دى دهغه مال نه چه پريخودلي دي رور، اوكه وو دوئ رونړه خوېندي									
رِّجَالٗا	وَنِسَآءٗ	فَلِلذَّكَرِ	مِثۡلُ	حَظِّ	ٱلۡأُنثَيَيۡنِ ط	يُبَيِّنُ	ٱللَّهُ	لَكُمۡ	أَن
نارينه او زنانه نود نارينه دپاره پشان دبرخي ددوه زناناؤ ده، واضحه بيانوى الله تاسوته. دپاره ددي									

۱ - په آخر كښي دميراث په احكامو كښي دبعض صوروتونو بيان ، دسورت په آخر كښي احكام ذكر شو دپاره ددي چه معلوم شى چه پدي سورت كښي اصل مقصد داحكامو بيان دي

تَضِلُّوا ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٧٦﴾

چه گمراه نشئ او الله په هر څیز پوهه دي.

﴿يَسْتَفْتُونَكَ﴾ په احکامو دمیراث کښې داخیافی خور او ورورحکم بیان شوي دي او داعیانی اوعلا تی خور او ورورحکم نه وو بیان شوي نو د سورة په آخر کښې د دې بیان دې او اشاره ده دیته چه مقصود ددې سورة نه بیان د احکامو (امورانتظامیه) دې نو ددې وجه نه د دې سورة په اول اوآخر کښې احکامات ذکرشو، د ((کلا له)) معنی مخکښې ذکرشوې ده ﴿وَلَهُ أُخْتٌ﴾ دلته اخت اعیانی اوعلا تی مراد ده، دارنګې داخ نه هم اعیانی یاعلا تی اخ مراد دې، پدې آیت کښې څلورصورتونه ذکرشوی دی:

(١) دا چه څوک مړشي اویوه اعیانی خور یا علا تی خور ئې پاتی شي نودې لره نصف میراث دې اومابقی دعصبو دپاره دې.

(٢) دا چه خورئې مړه شي او اولاد ئې نه وي او ورورئې پاتې شي نو ده لره ټول مال دې ځکه چه دې عصبه دې.

(٣) دا چه څوک مړشي او دوه خویندې ئې (اعیانی یاعلا تی) پاتی شي نو دوئ لره ثلثين دی.

(۴) صورة دادې چه خویندې او رونړه دواړه ئې پاتې شي نو پدې صورت کښې خویندې هم عصبه دی اود ((لذکرمثل حظ الا نثيين)) په قانون به ترکه تقسیمږی.

﴿يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا﴾ ((يبين الله)) فعل اوفاعل دې او ((ان تضلوا)) يى مفعول له دې په حذف دمضاف سره ((ای کراهة ان تضلوا)) یا په کښې ((لام)) او ((لا)) مقدردې ((ای لان لاتضلوا)) او چا ویلی دی ((**ان تضلوا**)) مفعول به د ((**يبين**)) دپاره دې په تاویل دمصدرسره ((ای يبين الله لكم ضلا لكم)) اومقابل ئې محذوف ((ای من هداكم)).

﴿وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ نو په احکامواو په مصالحوهم عالم دې.

امام سیوطی رحمه الله ویلی دې چه ددې سورة خاتمه په احکامو دمیراث باندې اوشوه او احکام دمیراث په ټولو احکامو کښې آخر نازل شوی دی او احکام دمیراث تعلق ساتی دمرګ سره او د انسان آخری حالت موت دې

اللهم ارزقنا الموت على الايمان واجعل اخركلامنا لا اله الا الله محمدرسول الله

تمت سورة النساء ولله الحمد اولاً واخراً

١٣ - رجب سنه ١٤٢٧ هـ - ٩ اګست، سنه ٢٠٠٦ ع.

ركوع	سورة المائدة مدنية	اَیتونه
۱۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۱۲۰
	خاص په نوم دَ الله سره چه بې حده مهربانه اوډير رحم کونکې دې شروع کوم	

رقمهما حسب التلاوة (۵) وحسب النزول (۱۱۲)

دې سورت ته سورهٔ مائده ځکه وائی چه په دې کښې د مائدې ذکر دې ،

ربط په دريو طريقو سره دې اول . **ربطِ اسمی** : لکه مخکنو سورتونو کښې ذکر شو . دويم د مضامينو دبقرې نه په سورهٔ آلِ عمران کښې مضمون د نفی د شرکِ اعتقادی اعاده شوې وه او په سورهٔ نساء کښې ترينه مضمون د امورِ انتظاميه اعاده شوې وه او دلته د مضامينو د سورتِ بقرې اعاده، دمضمون دنفی دشرکِ فعلی ده په تفصيل سره،(۳) دريم دسورتِ نساء په آخرکښې ئې فرمائيلی وؤ، ﴿يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا﴾ نودلته د دواړوقسمونوشرک ردکيږی چه ده ګمراهئ نه بچ شئ .

دسورت دمضامينو خلاصه

ددې سورت دوه حصې دی : دابتداءدسورت نه تر﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ آيت نمبر (۴۰ ع ۲) پورې اوله حصه ده،اودآيت نمبر(۲۷) نه ترآخرپورې دويمه حصه ده،په اوله حصه کښې دوه مضمونه دی اول نفی دشرکِ فعلی اودويم نفی دشرکِ اعتقادی،اوپه دويمه حصه کښې بيادغه دواړومضامينواعاده ده،برعکس،يعنی اول نفی ده شرک اعتقادی اوبيا نفی د شرکِ فعلی ده،

داولې حصې تفصيل : ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ﴾

تمهيد دې ټول سورت ته،بيانفی دشرکِ فعلی ده اوپديکښې دځلورومسائلوبيان دې،(۱) تحريمات العباد .(۲) تحريمات الله، (۳) نذرلغيرالله،(۴) نذر لله. تر آيت نمبر(۵). پورې اوپه دې کښې ددې خبرې تنبيه هم ده چه کوم جديدالاسلام خلق دامسائل منی،اوبل څوک ورسره جهيړ.چهاړکوی نوپه تاسوباندې دهغوئ سره تعاون ضروری دې،اوستاسودپخوانئ دښمنئ په وجه دهغوئ سره تعاون نه کول او خاموش کښيناستل تعاون علی الظلم دې،بياد امر مصلح ذکردې،آيت نمبر(۲)،بيادايفاء العهد تاکيددې، تر آيت نمبر(۱۱) پورې بيادنقضِ

عهد دوه نمونې بيانيږي،تر آيت (۱۴) پورې ﴿ يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ ﴾ آيت نمبر(۱۵)،نه دويم
مضون نفی دشرک اعتقادی بيانيږي،ترآيت نمبر(۱۹) پورې،ددې نه بعد تنبيه ده په دې چه
خاموشه مه کينئ بلکه دکفاروسره جهادکوئ،اومحاربينوقطاع الطريق وغيره مفسدانوته
سزا ورکوئ اوحدودجاري کوئ،اوکه خاموش کينئ نوذلت به برداشت کړئ. ددې دوه نمونې
ترآيت (۳۲) پورې، بياد محاربينواوسارقينوسزاګانې ذکرکيږي تر آيت (۴۰) پورې . بيانبی
صلی الله عليه وسلم ته دمنافقينواويهوديانوپه غلطه رويه اوکردار.دغم نه کولوحکم او
تسلی ده.ترآيت نمبر(۵۰)پورې بيامسلمانانوته حکم دې،چه هرکله تاسوته ديهودواو منافقينو رويه
معلومه شوه نود دوئ سره تعلق اودوستی مه کوئ،ګنی د دوئ ددوستئ په وجه به
تاسومرتدشئ،اوددې تاکيدذکر کيږي،اويهودوته زجرونه ذکرکيږي،تر آيت نمبر(۶۲) پورې

ددويمې حصې تفصيل : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ﴾ نه دويمه حصه
شروع کيږي.په دې کښې اول نفی دشرک اعتقادی ده،اوتخويف دې اهلِ کتابوته تر آيت
نمبر(۸۶) پورې.اوبيانفی دشرک فعلی ده،اودځلورو مسائلوبيان دې تفصيلاً اود دې
متعلقات دی ترآخرسورت پورې اود سورت په آخر کښې ﴿ لِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا فِيهِنَّ ﴾
دټول سورت خلاصه ده.

يَـٰٓأَيُّهَا	ٱلَّذِينَ	ءَامَنُوٓاْ	أَوۡفُواْ	بِٱلۡعُقُودِ ۚ	
اې (۱)		ايمان والو	پوره کړئ	لوظونه (کوم چې تاسودالله سره کړي دی په منلو د احکامو دهغه کښې)	
أُحِلَّتۡ	لَكُم	بَهِيمَةُ	ٱلۡأَنۡعَـٰمِ	إِلَّا مَا	يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ
چې حلال (۲) کړې شوی دی	ستاسودپاره	څاروی	دانعامودقسم نه،	مګر هغه چې	لوستلې کيږي په تاسو
غَيۡرَ مُحِلِّي	ٱلصَّيۡدِ	وَأَنتُمۡ حُرُمٌ ۗ	إِنَّ ٱللَّهَ	يَحۡكُمُ مَا يُرِيدُ ①	
مه (۳) کيږئ حلال ګڼرونکی	دښکار	پداسې حال کښې چې تاسو محرمان يئ،	بېشکه الله	فيصله (۴) کوی هغه چې اوغواړی	

۱ . تمهيد مضامينو دسورت ته

۲ . دسورة په اوله حصه کښې اول مضمون نفی دشريک فعلی اوله مسئله تحريمات غير الله ختمولو حکم

۳ . دويمه مسئله تحريمات الله باقی ساتلو حکم

۴ علت

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَوْفُوا۟ بِٱلْعُقُودِ﴾ تمهید دې ټول سورت ته.(عقود) د (عقدة) جمع ده.په اصل کښې مضبوط.کلک غوټه کولوته وائی.اوداپه اجساموکښې رازی اوبیا استعمالیږی په معانیؤکښې،اوعقود.اوعهود.په منځ کښې فرق بعض مفسرین داسې کوی چه په عقدکښې معنی داستیثاق اوکلک والی ده.یعنی کلکه وعده.اوعهدعام دې،اوبعض وائی چه عقدهغه وعده ده چه په مابین دطرفینوکښې وی،اوعهدعام دې چه مابین دطرفینوکښې وی یانه.اوبعض وائی چه عقودخاص دی په ایمان والوپورې اوعهودعام دی هرچاته چه آسمانی کتاب ئې منلې وی مؤمن وی یااهلِ کتاب کافروی.

په دې آیت کښې دعقودنه څه مراد دی؟ په دې کښې دمفسرینومختلف اقوال دی.بعض وائی چه داسلام نه قبل وعدې مراد دی،بعض وائی چه بیع شراء نکاح عقودترمراد دی.بعض وائی چه پخپل مابین کښې وعدې ترمراددی،بعض وائی چه داخطاب دمؤمنینو اهلِ کتابو سره دې اودعقودنه هغه میثاق مراد دې،چه په تورات انجیل کښې د دوئ نه اخستلې شوې وو په باره دتصدیق درسول الله صلی الله علیه وسلم کښې، لیکن بناء پدې تمام توجهاتو باندې ددې جملې دمابعد سره ربط اومناسبت نه معلومیږی نوددې وجه نه حضرت الشیخ فرمائی چه مراد تمام هغه وعدې دی چه الله تعالی دبندګانونه دایمان په وجه اغستی دی په باره دمنلودااحکامو کښې عمومًا اوپه باره دتحلیل اوتحریم کښې خصوصًا او دا روایت دې دابن عباس رضی الله عنه نه کمافی الروح. لکه د روستوآیت نمبر(۷)﴿وَمِيثَـٰقَهُ ٱلَّذِى وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ نه معلومیږی، حضرت شاه ولی الله رحمه الله ددې آیت ترجمه داسې کوی ((ای مؤمنان ! وفا کنید به عهد هائ که بسته ید با خدا تعالی، یعنی در التزام احکام اوتعالی)) اوهرکله چه داسورت نازل شویدې په زمانه دفتح مکه کښې (کماهوالمصرح فی بعض الروایات الموقوفه) اوپه دغه وخت کښې دمشرکانو رسومات دتحلیل اوتحریم په باره کښې رائج وؤ.نو ددې وجهِ نه په دې سورت کښې مؤمنانوته حکم اوشوچه تاسوپه وخت دایمان راوړلو کښې او په وخت دبیعت کښې دنبی صلی الله علیه وسلم سره داپخه وعده کړیده،چه مونږبه دالله تعالی په احکاماتو اودنبی صلی الله علیه وسلم په سنت عمل کوؤنواوس دغه وعده پوره کړئ اوشرکیه رسومات اوبدعات ترک کړئ،اوهم دغه وعده هریومسلمان دالله تعالی سره کړیده په کلمه کښې،(لااِله الاالله محمد رسول الله) وئیل په حقیقت کښې دالله تعالی سره وعده

كول دی.په التزام داحکامودالله تعالی اوپه سنت درسول الله صلی الله علیه وسلم کښې نو ددې وعدې پوره کول ضروری دی، او د (اوفوابالعقود) لاندې داخل دی.

﴿أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ﴾ دا ددې سورت داولې حصې اول مضمون دې.یعنی نفی دشرک فعلی ده.دلته (۴) څلورمسائل ذکرکیږی.(۱) تحریمات العباد یا تحریمات الشیطن.یا.تحریمات غیرالله.ددې حکم دادې چه داباطل دی داختم کړئ.په دې آیت کښې ددې مسئلې ذکردې.(۲) تحریمات الهیه صحیح دی هغه قائم اوساتئ.ددې مسئلې ذکرپه ﴿غَيْرَ مُحِلِّى ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ کښې دې.(۳) نذرلله صحیح دې قائم ئې اولرئ. ددې ذکرپه ﴿لَا تُحِلُّوا۟ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَلَا ٱلْهَدْىَ وَلَا ٱلْقَلَٰٓئِدَ﴾ کښې کیږی.(۴) نذرلغیرالله.حرام باطل دې.لهذاختم ئې کړئ.ددې ذکرپه ﴿وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ کښې کیږی.حضرت الاستاذ رحمه الله به ددې تشریح داسې کوله.چه چونکه الله تعالی دتمامو مخلوقاتو خالق مالک اورب دې.نوهغه بعض اشیاء حلال کړیدی اوبعضی ئې حرام کړیدی اودخپل کوریعنی حرم د احترام دپاره ئې (هدایا) مقررکړیدی اودغه شان ئې په خپل نوم باندې نذرمقرر کړیدې، نو شیطان لعین ددې په مقابله کښې تحریمات اوکړل اودخپل ځان دپاره ئې نذرونه اوهدایامقرر کړل.لیکن داخبره خوهرچاته معلومه ده چه شیطان لعین دې نودهغه په وینا سره ښوک څه څیزنه حراموی اونه دهغه په نوم نذر(هدایا) ورکوی،نوددې وجه نه شیطان خپل نوم پټ کړو.اوداولیاءالله نومونه ئې رامخې ته کړل،چه دا اشیاء دهغوئ نذرونه اوهدایا دی.اوفلانې کاردهغوئ تحریمات دی،نوشیطان کارخپل چلوی،اونوم داولیاؤ استعمالوی،نوقرآن پاک ددې رداوکړوچه تحریمات العباد باطل دی ختم ئې کړئ.اونذر لغیرالله باطل اوحرام دې ختم ئې کړئ.اوتحریمات الله صحیح دی ددې تحریم قائم اولرئ، او نذرلله اوهدایا ،صحیح دی قائم ئې اوساتئ،نود(اُحلت لکم) مقصود دادې چه تاسودخپلو معبودانودتعظیم دپاره،بلکه په حقیقت کښې دشیطانانو دپاره، په خپل ظن اوتخمین سره کوم اشیاء حرام کړیدی لکه ﴿وَحَرَّمُوا۟ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ﴾ ددې حرمت ختم کړئ.قرطبی وائی.(کانت للعرب سنن فی الانعام من البحیرة والسائبة والوصیلة والحام یاتی بیانهافنزلت هذه الایة رافعة لتلک الاوهام الخیالیة والآراء الفاسدة الباطلة الخ) حاصل داچه په دې آیت کښې دتحریمات غیرالله دختمولوحکم دې.لکه دامسئله روستوپه (۱) آیت نمبر (۸۷) ﴿يَٰٓأَيُّهَا

﴿الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَٰتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ﴾ (۲) اوپه آیت نمبر(۱۰۳) ﴿مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ﴾ کښې ذکرکیږي. (۳) اودارنګ په سورتِ بقره آیت نمبر(۱۲۸) ﴿كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَٰلًا طَيِّبًا﴾ (۴)اوپه سورة انعام کښ ﴿وَقَالُوا هَٰذِهِۦٓ أَنْعَٰمٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا﴾ آیت نمبر(۱۲۸) تر آیت نمبر(۱۴۵) کښې ذکرکیږي، د ((**بهیمة الانعام**)) معنی ده چارپائې څاروی، امام راغب ددې معنی کوی چه ((کل ذات اربع فی البروالبحر،وقیل مالانطق له،خص فی التعارف بماعداالسباع والطیر)) دغه شان صاحب دقاموس وائی چه بهیمة څلورو خپووالاته وائی، یاهر ژوندې چه تمیزاوعقل نه لری.بهیمه دبهم نه مشتق دې په معنی دابهام سره،اوکوم څیزچه عقل نه لری نوهغه ته اشیاءِ مبهم وی او علم ئې نلری ، امام شعرانی رحمہ اللہ وائی چه خبره داسې نه ده چه کومه مشهوره ده بلکه حقیقت دادې چه دعقل اوادراک نه هیڅ شئ خواه حیوان وی یاشجروی یاحجروی خالی نه دې.البته فرق دمراتبوضرورشته دې،بلکه بهیمه ته بهیمه ددې وجه نه وائی چه نورخلق د دوئ په خبروباندې نه پوهیږی نود دوئ کلام په خلقوباندې مُبهم وی،اوددې وجه نه بعض حضرات ددې داسې ترجمه کوی،(بې ژبې چارپایان).

او (انعام) جمع د (نعم) ده،(فالتوځناور) ددې (۸) اته قسمه دی چه په سورتِ انعام کښې مذکور دی.اوپه اضافت د(بهیمه) کښې (انعام) ته درې اقواله دی (۱) یوداچه دا اضافت بیانی دې یعنی بهیمه چه دې بعینه انعام دې،(۲) دویم داچه اضافت دعام دې خاص ته دپاره دتعین دمصداق دعام، (۳) دریم داچه دا اضافت دمشبه دې مشبه بِه ته،یعنی هغه بهیمه چه مشابه وی دانعام سره او وجه دشبه اجترار،(شخوندکول) اوعدم دانیابو،(یعنی سُبعیت پکښې نه وی) یعنې ماتونکې نه وی، لکه هوسئ،حماروحشی،بقرِوحشی،وغیره.

﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ دا استثناء متصله ده اې،(الابهیمةً یتلی علیکم تحریمه)،چه میته،منخنقه اومنذوره لغیرالله ده، ﴿غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ **دادویمه مسئله ده**.عام مفسرین وائی چه غیرمحلی الصیدحال دې د((لکم)) ضمیرنه،نوترجمه داشوه حال داچه تاسونه یئ حلال ګڼونکی دښکارپه حالت داحرام کښې، حضرت شیخ رحمہ اللہ فرمائی چه بِنا په دې تقدیرباندې به دامسئله تبعی شی ځکه حال قیداوتابع وی نو بهتره داده چه داخبر د ((کان)) محذوفه شی اې

، کونواغیرمحلی الصیدحالة الاحرام، (کانَ) سره داسم نه حذف کول، او خبر ورله باقی ساتل جائزدی. لکه په الفیه دابن مالک کښې دی شعر

يحذفونها و يبقون الخبر بعد اِن ولو كثيراواشتهر

يعنى حذف كوی دوئ (عرب) كان لره اوباقى پريږدی خبر پس د .(انْ) او (لوْ) نه زيات. اومشهور. نومعلومه چه د (اِن) او(لَوْ) نه بعدحذف د (كَانَ) شائع او كثيردي اوددي دواړونه علاوه بل ځائ كښې حذف اګركه شائع نه دې خوجائزدې. ((اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ)) داعلت اجمالى دې دماقبل دواړومسئلودپاره.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ

اې ايمان (۱) والو! بې عزتی مه كوئ دنخودالله (دَ دين الله) اونه دمياشتې دعزت اونه دهدې(قربانۍ)

وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا

اونه داميل والاخاروو اونه د قصدكونكو دبيت الحرام، طلب كوى دوئ فضل د خپل رب اورضامندی. اوكله

حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ

چې تاسوداحرام نه اوځئ نوښكار كوئ (يعني اجازت دې)اوباعث دې نه شي په تاسودښمني ديوقوم په سبب ددې

صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ

چې تاسوني منع كړې وئ دمسجدحرام نه پدې خبره چې تاسوحدنه تېرشئ، اومدد كوئ ديوبل سره په نېكئ

وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اوتقوی كښې. او مددمه كوئ ديوبل سره په ګناه او دظلم په كارونو كښې. اووېره كوئ دالله نه. بېشكه الله

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۞

سخت عذاب والا دې

۱ دريمه مسئله نذرنياز دالله قائم ساتلوحكم

﴿ يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَٰئِرَ اللَّهِ ﴾ داد دریمې مسئلې بیان دې.((تحلوا)) داحلال نه مأخوذ دې. ((احلال)) مقابل اوضدد احترام دې.یعنی بې حرمتي.او((شعائر))جمع د((شعیرة)) ده او((شعیره)) هرهغه څیزته وئیلې شی چه په هغې سره بل څیزمعلومیږی.اوخاصه علامه اونخښه وی اود هریو دین خاص خاص علاموته شعائراوشعاروئیلې شی لکه زنار ،مندر. دهندوانو دپاره،اوصلیب،ګرجه دنصاراؤدپاره. او ددینِ اسلام خاص علاموته شعائرالله وئیلې شی.اودا اضافت دتعظیم دپاره دې.په اصل کښې شعائردین الله دې.لکه مسجد اذان. مناسک دحج لکه تلبیه،صفامروه وغیره،صاحب دروح المعانی دعطاءؒ نه نقل کړیدی چه دشعائرالله نه مرادتمام شرائع اود دین حدوداوامرفرائض. واجبات.اونواهی مراد دی اودا راجح تفسیردې. نو د نواهی احترام،احترازدې دمنهیاتونه او بې احترامی ئې اتیان دې منهیاتوته اوداوامرواحترام اتیان دې ماموراتوته اوبې احترامی ترک دماموراتودې

﴿وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ ﴾ اوبې حرمتی مه کوئ دعزت والا میاشتې، مرادترینه رجب دې یا ټول اشهرحرم دی اوبې حرمتی ئې ((نسئ)) دې لکه په سورتِ توبه کښې رازی یاقتال کول دی په دې کښې، ﴿وَلَا الْهَدْيَ ﴾ اوبې حرمتی مه کوئ دهدی ((دَ قربانئ د څاروی)) چه غصب ئې کړئ یاخپل محل ته درسیدلونه ئې منع کړئ، ﴿وَلَا الْقَلَٰئِدَ ﴾ ((قلائید)) د ((قلادة)) جمع ده ((قلاده)) هغه څیزدې چه دهدی په غاړه اویزان کړې شی لکه نعل یابل څه څیزچه هغه علامه وی ددې چه داهدیه ده.دلته ترینه مراد ،ذوات القلائد دی یعنی هغه هدایا ((څاروی)) چه دهغوئ په غاړه کښې قلاده وی نو دا ذکرالخاص بعدالعام دې،دپاره دتشریف اواهتمام شان.یاترینه مراد ،خودِقلاده.یعنی دقلادې بې احترامی مه کوئ نومنع دبې احترامئ دهدې نه په طریقِ اولی سره معلومه شوه لکه ﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ ﴾ منع اوشوه دظاهرولودزینت ،کالی، نه.نومنع دظاهرولو دمحل د زینت نه په طریقِ اولی سره معلومه شوه ،وَلَآ ءَآمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ ، اوبې حرمتی مه کوئ دقصد کوونکو دبیتِ الحرام په حج یاعمرې سره، او د هغوئ بې حرمتی داده چه دحج او عمرې نه منع کړې شی اوحرم ته دداخلیدواجازت ورته ورنکړې شی. په (آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ) کښې دوه قوله دی.(۱) یوداچه ددې نه مشرکین مراد دی،چه هغوئ په حدیبیه کښې مسلمانان منع کړی وؤدعمرې نه.نوالله تعالی مؤمنانوته وائی چه که دوئ عمرې له

رازی اوداالله تعالی رضا طلب کوی په خپل زعم کښې نوتاسوئې مه منع کوئ،نود﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ﴾ نه مراد دغه مشرکین دی،نوددې تقدیرپه بِناداآیت منسوخ دې،په ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾ سره.

(۲) دویم قول دادې چه ددې نه مرادصرف مؤمنان دی په قرینه د ﴿يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا﴾ سره. نوبیا آیت منسوخ نه دې.

﴿وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا﴾ دا امرداباحت دپاره دې، ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ﴾ د ((اجرام)) معنی امادہ کول په کسب دجرم باندې ((لايجرمنّ)) دوه مفعوله غواړی مفعول اول ورله (كُم) دې،اومفعول ثانی ورله (انْ تَعْتَدُو) دې، په تاویل دمفردسره،او﴿شَنَآنُ قَوْمٍ﴾ ورله فاعل دې،شَنَان،سخت بغض عداوت ته وائی،او ﴿أَن صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ علت دې د(شَنَانُ) دپاره اومنصوب بنزع الخافض دې،اي (لاجل ان صدوكم عن المسجدالحرام) نوپه دې کښې هم دوه توجیه دی اوله توجیه داده چه ددې نه مرادمشرکین دی اودویمه توجبه داده چه ددې نه مرادهغه مؤمنان دی چه جدیدالاسلام وو.

په واقعه دحدیبیه کښې هرچه مشرکانومؤمنانولره منع کړل دعمرې نه اودداخلیدلونه بیت الله ته نود دوئ په زړونوکښې مشرکانوته ډیره غصه اوبغض پیداشو،اوبیاهرکله چه په اتم کال دهجرت فتح دمکې اوشوه،اوډیرومشرکانوایمان راوړو،نوهغوئ حج اوعمرې ته راتلل نو شایدچه دمؤمنانوپه زړونوکښې داخیال راغلې وي چه دوئ مونږ دعمرې نه منع کړی وُوپه حدیبیه کښې نوپکارده چه اوس مونږدوئ لره منع کړودعمرې نه،نوحکم راغې چه دهغه پخوانی عداوت اوبغض په وجه دوئ مه منع کوئ دبیت الله نه ځکه چه دوئ دایمان په وجه ستاسو رونړه ګرځیدلی دی نود دوئ سره عداوت اوبغض مه ساتئ.

﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ﴾ داترقی ده یعنی د دوئ سره خوبغض اوعداوت مه ساتئ بلکه تعاون ورسره کوئ اوکه څوک دوئ ته ضررتکلیف رسوی نوتاسوخاموش مه کیښنئ بلکه د دوئ دفاع کوئ.او ستاسوخاموش کیښناستل تعاون على الاثم والعدوان دې،

(بر) او (تقوى) بعض حضرات ورته مترادف وائی اوبعض وائی چه (بِر) فعل الخیرات دې.او ((تقوی)) ترک المنکرات دې،اودارنګه اِثم اوعدوان،بعضې ورته مترادف وائی او

بعض وائي چه اثم مطلقِ گناه ته وائي خواه كه دحقوق سره متعلق وى يا دعباداتو او عقائدو سره متعلق وى لكه شرك بدعت وغيره،اوعدوان ظلم ته وائي اودادحقوق سره متعلق وى.(وَاتَّقُوا اللّٰهَ) په تقوى سره ترك المنكرات،فعل الحسنات اسانيرى.(اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ) داتخويف دي

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ

حرام كړي[1] شويده په تاسوباندې مرداره اووينه اوغوښه دخنزيراوهغه چې آوازاوچت كړېشي دپاره دتعظيم اود منختې

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ

دغيرالله په هغې. اوهغه چې په مرئ خفه كولوسره مړه وى اوهغه چې په وهلودلرګي ياګټې سره مړه وى

وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ

اورارغختې اوپه ښكرو وهلې شوې. اومابقې دهغه ښاروى چې خوړلې وي درنده مگر هغه چې حلال نې كړئ تاسو.

وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَ اَنْ تَسْتَقْسِمُوْا

اوهغه چې ذبح كړې شوي وى په نښانونو اودرګاهونو د معبودان باطلو، اوهغه چې تاسو ئې تقسيموئ ياقسمت معلومئ

بِالْاَزْلَامِ ؕ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ

په غشوسره. دا ټول گناه اوحرام دى. نن ورځ[2] نا اميده شول كافران دمغلوب كېدلو ددن ستاسونه

فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ

پس مه ويريږئ ددوئ نه اوويريږئ خمانه، نن ورځ پوره كړو ماتاسولره دين ستاسو اوپوره كړو ماپه تاسو باندې

نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ

نعمت خپل اوخوښ مې كړو تاسولره اسلام دين، نوځوك چې مجبوره كړېشو په سخته لوږه كښې

---

۱ - خلورمه مسئله نذر لغير الله.

۲ - يعنى داخلور مسئلې داكمال دين نه دي.

غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ③

ليكن نه وؤ مائل كيدونكي گناه ته، نو پس بيشكه الله بخښونكي رحم كونكي دي

﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ ﴾ **داخلورمه مسئله ده.** په دې كښې دنذر لغيرالله اود نورو محرماتو ذكردې.ددې حكم دادې چه داحرام دى.ددې حرمت باقي اولرئ اودامه خورئ.ميتته (مرداره) هغه حيوان چه حلال نه وى لكه سپي گيدړوغيره.ياپه شرعي طريقه سره نه وى ذبح كړې شوې نوددې خوراک اودارنگه په هغې سره نفع اغستل جائزنه دى.نوددې وجه نه(**حرمت عليكم الميتته**) ذكرشو.اكل الميتته ذكرنشو.البته څرمن ئې بعددباغت نه خرڅول جائزدى اوپه هغې سره نفع اغستل جائز دى.اود (دم) نه مراد.دمِ مسفوح بهيدونكې وينه ده.(**وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ**) خنزير بجميع اجزائه حرام،نجس العين دې.اوپه ده سره انتفاع حلاله نه ده.نودغوښې تخصيص صرف ددې وجه نه شويدې چه دحيوان مقصودى حصه غوښه وى نوچه داحرام شى نوباقي اجزاء ئې په طريقِ اولى سره حرام شى.﴿وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ﴾ ((أُهِلَّ)) د ((إهلال)) نه مشتق دې.رفع الصوت ته وائى ((استهل الصبى)) بچې چه پيداشى اوپه زوره آوازاوكړى.ياوژاړى نوونيلې ((استهل الصبى)) حاجى ياعمره كوونكې چه په زوره تلبيه اووائى نوونيلې كيږى ((اهل الحاج،اهل المعتمر)) دمشركانوعادت داؤوچه دخپلوبتانوپه نامه به ئې نذر،منخته كوله.نوپه زوره به ئې آوازاوكړو چه داځيزدفلانى بت په نوم دې،نودلته مرادد (مااهل) نه نذرلغيرالله دې برابره خبره ده چه رفع الصوت وى يانه وى،نو (أُهِلَّ) ذكركول د هغوئ دعادت موافق دى.په (**مااهل لغيرالله**) كښې درې احتماله دى (۱)اول داچه دينه مراد هغه حيوان دې چه په هغې باندې په وخت دذبح كښې نوم دغيرالله يادكړې شى،ليكن داتوجيه ضعيفه ده ځكه چه بِناپه دې باندې،د (وماذبح على النصب) ذكرمستدرک كيږى،مگرداچه په تخصيص بعدالتعميم باندې محمول شى،البته كومومفسرينوچه داتوجيه ليكلې ده،نود هغوئ مقصودتخصيص اوحصرنه دې،يعنى دائې مقصودنه دې چه صرف هغه نذرلغيرالله حرام دې چه په وخت دذبح كښې په هغې باندې دغيرالله نوم يادكړې شى،نذرلغيرالله مطلقًا حرام دې.بلكه هغوئ د (**وماأهل لغيرالله**) يوصورت ذكركړيدې حصرئې مرادنه دې،

(۲) دويم داچه مرادترينه هرهغه حيوان دې چه دغيرالله دپاره نذركړې شى نودغه حيواز حرام دې اگركه په وخت دذبح كښې په هغه باندې بسم الله اوونيلې شى ځكه چه داپه وجه

د نذر کولو لغیرالله سره حرام شویدي اوحرمت په کښې سرایت کړیدي نو په بسم الله وئیلو سره نه حلالیږی لکه سپي، ګیدړ وغیره. حضرت مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله فرمائی چه دا قسم حیوان په ظاهر کښې (ذُکِرَاسمُ اللهِ عَلَیْهِ) دي نو پکار ده چه حلال شی. لیکن په باطن اوحقیقت کښې (لَمْ یُذکراسم الله علیه وانه لفسق) کښې داخل دي. اواعتبار باطن اوحقیقت اونیت لره وی نو ددي وجه نه دا حرام دي. او دا رائ د جمهور وفقهاؤ او محققینو ده.

(۳) دریم احتمال دادي چه د (ما اهل به لغیرالله) نه مرادعام دي چه حیوان وی اوکه غیرحیوان. نقد. یاغله. وغیره وی لکه په سورة انعام کښې دی. ﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا﴾ او دا قول زیات راجح دي لیکن ددي درې واړو احتمالاتو په بناباندي (به) په معنی د (علیه) سره دي او د (لغیرالله) معنی داده چه (لتعظیم غیرالله) نو کوم خیز چه د اکرام الضیف د پاره مقررشی یاذبح کړې شی نو هغه په دې کښې نه دي داخل، اوحضرت شیخ رحمه الله دخپل شیخ مولاناحسین علی رحمه الله نه نقل کوی چه د (ما أهل) نه مراد هغه کلام دي چه په هغي سره دغیرالله د پاره نذر اوکړې شی، اومعنی ئي داده چه داسي کلام هم حرام دي چه په هغي سره منځته اونذر دغیرالله دپاره اوکړې شی، او بناپه دي توجیه باندي (به) پخپله معنی سره دي، په معنی د (علیه) سره ګرځولو ته ئي ضرورت نشته دي

فایده نذر دغیرالله د پاره کول کفردي، او دالله تعالی سره په عبادتِ مالی کښې شریک ګرځول دی. لکه بحرالرائق وغیره فقهاؤ لیکلی دی، (منها : ان النذرعبادة والعبادة لغیرالله کفر) دارنګه وائی (منها: انه ظن ان المیت یتصرف فی الاموردون الله تعالی وذالک کفر، ومنها : ان الاولیاء الکرام یتصرفون فی الامورمن النفع والضرر وذالک کفر)، (مقدمه جواهرالقرآن ص : ۵۱) اودارنګه کوم خیز (حیوان وغیره) چه نذرکړې شوې وی دغیرالله د پاره، نو هغه حرام دي قطعًا. لکه خنزیروغیره چه حرام دي قطعًا (قال فی الدرالمختار: قبیل باب الاعتکاف : اعلم ان النذرالذی یقع الاموات من العوام ومایوخذمن الزیت والشمع ونحوهما ماینقل الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطلٌ وحرامٌ ، قدابتلی الناس بذالک ولاسیمافی هذه الاعصار) والتفصیل فی مقدمة جواهرالقرآن) حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه بعض علماؤ (تفسیرات احمدیه) لیکلی دی چه چه نذرللاموات حلال دي، ددې په مطلب پوهیدلو کښې ډیرخلق دهوکه شویدی. ددغه کلام مطلب دادي چه نذرلایصال الثواب الی الاموات، یعنی نذرلله وی او ایصال ثواب امواتو ته

مقصودوی، دانه چه نذرللاموات وی، اوددې په ذیل کښې حضرت الشیخ فرمائی:

((باقی رہا عوام کا فعل، تو اسکے بارے میں جب تک کھلے دلائل اور واضح قرائن سے معلوم نہ ہو جائے کہ ان کی نیت تقرب الی غیر اللہ کی ہے اس وقت حرام ہونے کا حکم نہیں لگایا جاسکتا))

دادحضرت الشیخ نهایت اعتدال دې،د حرمت فتوی لګول،یادشرک فتوی لګولوکښې نهایت احتیاط ضروری دې،دعوامونه لفظی غلطی ډیره راځی لهذادهغوئ دنیت اوعقیدې معلومولونه بعدفتوی لګول مناسب دی، ﴿وَالْمُنْخَنِقَةُ﴾ داپنځه قسمونونه دې چه دلته مذکور دی داتخصیص بعدالتعمیم دې په لفظ دمیتته کښې ځکه چه میته هغه حیوان دې چه حلال نه وی لکه سپې وغیره،یاحلال وی خوپه شرعی طریقه سره نه وی ذبح کړې شوې اوداپنځه هغه ځاروی دی چه شرعاًحلال دی لیکن حرمت په کښې ددې وجه نه دې چه په شرعی طریقه سره نه وی ذبح شوې.(**منخنقه**) هغه حیوان دې چه دمرئ خپه کولوسره مړشی برابره خبره ده که څوک ئې پهانسی کړی یاپخپله داسې اوشی لکه چه دځاروی په مرئ کښې رسئ سخته شی یائې په مرئ کښې دننه څه اونخلی اومړشی بغیرذبح نه او(**موقوذه**) هغه حیوان دې چه په لرګی لوړ یاګټې باندې اووهلې شی اومړشی بغیرذبح نه اوداخل دې په کښې هغه ښکارچه دغشی په پلنوسره اولګی اومړشی اوکوم ښکارچه دغشی په تیره طرف اولګی نوهغه حلال دې.**کمافی الحدیث**.اودارنګه داخل دې په دې کښې هغه چه ویشتلې شوې وی په بندقه سره یعنی دټوپک په ګولئ سره ځکه هغه قتل کوی د دروندوالی اواحراق په وجه،نه دتیره والی په وجه.او(**متردیة**) هغه ده چه دبره ځائ نه (لکه کمر،غر) نه ښکته اوغورزیږی یاپه کوهی کښې اوغورزیږی مړشی.او(**نطیحة**) هغه حیوان دې چه بل ځاروی په ښکروهلې وی اومړشوې وی

﴿وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ﴾ لکه سپې،شرمخ،ګیدړوغیره او ددې مطلب دادې چه سبع چه دحلال ځاروی نه څه حصه اوخوری نومابقی چه ژوندې نه وی پاتې شوې اونه وی ذبح شوې په شرعی طریقه سره نودغه مابقی حرام دې.اوکوم چه سبع خوړلې وی نودهغې سره حل،حرمت نه متعلق کیږی ځکه هغه ختم شویدې. ﴿إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ﴾ ((ذکاة)) (بالذال) ((اتمام فعل خاص)) ته وائی د (ذکا) معنی (تمام ایقادالنار)) ذکاوة فی الفهم دادې چه تام الفهم سریع القبول وی اوپه کلام دعربو کښې اوپه عرف دشرع کښې ذبح ته وائی په حدیث کښې دی (ذکوة الجنین ذکوة امه)، نو د (ذکیتم) معنی داشوه چه تاسوئې ذبح کړئ په ذبح کامله سره.کامله ذبح داده چه هغه حیوان

کوم نه چه دغه مذکورعوارض پيش شوی وی اومړنه وی بلکه حياة په کښې باقی وی اوذبح سی.اوعلامه دحياة،اضطراب.لکئ خوزول،سترګې غړه ول وغيره ذالک دی،اودا استثناء د ‹والمنخنقه› اود مابعد سره متعلقه ده،اوچاچه داسې وئيلي دی چه دا استثناء دټول ماقبل سره متعلقه ده،اوددې نه دا ثابتوی چه هغه حيوان چه نذرشی دغيرالله دپاره اوذبح شی په نوم دالله تعالی سره نودغه حلال دې، نوداقول صحيح نه دې ځکه کوم حيوان چه نذرشی دغيرالله دپاره نوهغه حرام شوپه سبب دنذرلغيرالله سره،اوحرمت په کښې سرايت اوکړو،نودهغه حلال والي هله رازی چه علت دحرمت ‹يعنی نذرکول دغيرالله په نوم› ئې ختم شی،يعنی په کومه وجه سره چه داحيوان حرام شوې ؤهغه وجه ختمه شی اودهغې صورت دادې چه دغه څيزواپس کړې شی يعنی ناذر‹نذرکونکې› ئې واپس کړی اوبيائې پطورصدقه مبتدئيه سره دالله تعالی په نوم ورکړی نوحِل به راشی.ليکن چه علت دحرمت نه وی ختم شوې نوهغه څيزحرام وی اوحرام په بسم الله وئيلوسره نه حلاليږی،لکه سپې،ګيدړپه بسم الله وئيلوسره نه حلاليږی،دقرآن پاک دنوروآيتونونه اودډيرومفسرينودتصريحاتونه هم دامعلوميږی چه دااستثناء د ‹والمنخنقه› او مابعدنه ده،مسئله دنذرلغيرالله په قرآن پاک کښې په سورة ‹۱› بقره،‹۲› مائده ‹۳› انعام ‹۴› اعراف ‹۵› نحل ‹۲› حج کښې ذکرشوې ده،دسورت مائده ددې آيت په شان آيت نمبر ‹۱۷۳› په بقره کښې هم دې اودسورتِ نحل آيت ‹۱۱۵› هم دې نوپه دغه دواړوآيتونوکښې دااستثناء نشته دې ځکه چه هلته دمنخنقه وغيره ذکرنه دې شوې،نوپه کوم ځائ کښې چه ‹والمنخنقه› وغيره ذکرشويدې نوهتله دااستثناء شته دې لکه دادمائده آيت،اوپه کوم ځائ کښې چه صرف ‹وما أهل به لغيرالله› ذکردې اومنخنقه وغيره نه دی مذکورنوهلته دااستثناء نشته نومعلومه شوه چه دا استثناء د‹ومااُهِل به لِغيرالله› سره نه ده متعلق،تفسيرکبيرکښې وائی.‹۳۱۲۰› انه استثناء من جميع ماتقدم من قوله والمنخنقه الی قوله وماأكل السبع وهوقول علی وابن عباس والحسن وقتاده) اوصاحب دمدارک ‹۱۲۰۹› وائی (والاستثناء يرجع الی المنخنقه ومابعدها،) صاحب دالبحرالمحيط وائی (قال علی وابن عباس والحسن وقتاده وابراهيم وطاؤس وعبيل بن عميروالضحاک وابن زيدوالجمهورهوراجع الی المذکورات ای من قوله والمنخنقه (۳۷\٤۲۱) (جواهر)

﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ﴾ ‹علی› ياپخپله معنی سره دې ياپه معنی د‹لام› سره دې ‹اي مَاذُبِحَ لِلنصبِ› ‹نُصُب› جمع د ‹نصاب› ده،لکه ‹حُمُر›جمع د ‹حمار› ده،بعض وائی چه ددې نه مراداصنام

يعنى بتان دى،اوبعض وائى چه داهغه كانړى وؤچه دخانه كعبې نه چاپيره وؤ،دادرې سوه شپيته (٣٦٠) كانړى وؤ،موافق دعدد داصنام سره. نوګوياكښې دادهغوئ دربارونه وؤ. مشركانوبه دلته ذبح كوله اوداعلامه وه دنذرلغيرالله،نوداذكرالخاص بعدالعام دې ځكه (ما أُهِلَّ) مذبوح غيرمذبوح دواړوته شامل دې اوداپه مذبوح پورې خاص دې اوهم داشان داقسم خاص دې په نُصُب پورې او(ما أُهِلّ لغيرالله به) تمام غيرالله ته شامل دې،كه نُصُب وى يا اصنام يعنى بتان وى اوكه قبرونه وى، اوفرق په مابين داصنامُ (بتانو)،اوانصابُ كښې دادې چه اصنام هغه دى چه شكل ئې ورله دانسان يادبل څه حيوان جوړكړې وى،اوانصاب هغه دى چه شكل ئې ورله نه وى جوړكړې.او هلته نذرانې شكرانې اچولې كيږى اوذبحې كيږى،دپاره دتعظيم دغيرالله،اودخوشنودې دغيرالله نوپه دې قسم ذبيحه كښې مقصودتعظيم اورضاجوئ دغيرالله وى نوداحرامه ده،اګركه په وخت دذبح پرې بسم الله اووئيلې شى،ددې مثال په موجوده دوركښې دادې لكه چه جاهلان مسلمانان كوى، د اولياؤ دخوشنودې دپاره په عرسونوكښې دهغوئ دربارته ګډ،بيزه،وغيره اشياء اوړى اوهلته ئې ذبح كوى،

﴿وَأَن تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ﴾ (استقسام) قسمت معلومول،اوبرخه معلومول دى،او(ازلام) جمع د (زَلَم) ده هغه غشى ته وئيلې شى چه دهغې وزراوتيره څوكه نه وى،دمشركينودوه قسمه عادتونه وؤ،يوداچه دوئ به خپل قسمت معلومولو،فال به ئې اچوو،اودهغې طريقه داوه چه دهُبل بت په څنګ كښې د كعبې په مينځ كښې (٧) اووه غشى پراته وؤ،اوپه هغې به مختلف ليكل وؤ،چاچه به خپل قسمت معلومولولكه سفريافلانې كاراوكړمه اوكه نه،نودهُبل مجاور (منجور) ته به لاړواوهغه ته به ئې سل روپئ اويوه اوښه په نذرانه كښې پيش كړه نومجاوربه ورله دغشونه يوغشې راؤښكلونوكه په هغه به (افعل) ليكلې شوى وؤ،نودوئ به وئيل (امرنى ربى) چه فال مې ښه راؤوتلونوهغه كاربه ئې كولو،اوكه (لاتفعل) به ئې پرليكلى وؤ، نودوئ به وئيل (نهانى ربى) فال مې ښه نه دې راوتلې نوهغه كاربه ئې نه كولو،اوكه په غشى به (همل) ليكلى وؤ،نودوباره به ئې مجاورته شكرانه وركوله اوهغه به بيا په دغه ترتيب سره كاركولو، نوشريعت داطريقه رد كړه اوددې په مقابله كښې دشرعى استخارې حكم راغې.

اودويم عادت دمشركانوداوؤ،چه څوكسانوبه يوحيوان لكه اوښه په شريكه واغسته اوذبح به ئې كړه نوتقسيم دغوښوبه ئې چه كؤو،نودبت مجاورته به لاړل نوهغه به ديوتن په نوم يوغشې تركش نه راؤښكلواوپه هغې به ئې (لک النصف) ليكلى وؤ،نوده ته به دټول حيوان

نيمه ملاؤشوه دغه شان په بل غشی به ئې (لک الربع) ليکلی وؤ.نوچه دچاپه نوم به هغه راؤوتونوهغه به څلورمه حصه واغستله.اودغه شان په بل غشی به ئې ليکلی وؤ.(لاشئ لک) يابه خالی وؤ.نوهغه به محرم شو.چا داسې ويلی دی چه په غشوبه ئې نشانات اولګيږې لګيدلي وې هغه به علامه دنصف ربع وغيره وه اودهغې مطابق ئې تقسيم کولو

﴿ذَٰلِكُمْ﴾ دا اشاره ده ماقبل تمام محرماتو ته په تاويل دمذکورسره ﴿فِسْقٌ﴾ يعنی حرام دی ﴿الْيَوْمَ﴾ ددې نه مراد حاضره زمانه ده اومايتصل به يازمانه دنزول دآيت ده (روح)

﴿الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن دِينِكُمْ﴾ ای (مغلوبية دينكم، يا ابطال دينكم) ﴿فَلَا تَخْشَوْهُمْ﴾ يعنی دکفارونه داويره مه کوئ،چه دوئ به په تاسوداسې غالب شی چه ستاسودين به ختم کړی يابه تاسوختم کړی، ﴿وَاخْشَوْنِ﴾ بلکه ځمانه يريږئ،که ځما د امر مخالفت مواوکړو نو رسوابه شئ اوزه به سزادرکړم.

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ حضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه په بيان دڅلورومسائلوسره چه (۱) تحريماتِ الله (۲) تحريمات العباد (۳) نذرلله (۴) نذرلغيرالله دې، ددين اسلام تمام فرائض اودحلالوحراموتکميل اوشو.د (اليوم) نه مرادهغه ورځ ده چه داآيت په کښې نازل شوچه هغه ورځ دجُمعې وه اوعرفه وه.دماسپخين اومازيدګردمونځ نه روستوپه حجة الوداع (۱۰هـ) کښې.دسعيدبن جريررضی الله عنه نه روايت دې چه ددې نه روستونبی صلی الله عليه وسلم صرف (۸۱) ورځې حيات وؤ.پياوفات شو.صاحب دروح المعانی داسې عبارت ليکی (ولم يلبث بعدُ سوی احدوثمانين يوماومضی (روحی فداه) الی الرفيق الاعلی صلی الله عليه وسلم) او صحابه کرامو هم ددې آيت نه فهم کړو قرب وفاتِ دنبی کريم صلی الله عليه وسلم لکه ددې آيت په نزول باندې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ژړيدل او په يو روايت کښې د ابوبکر صديق رضی الله تعالی عنه ژړيدل مروی دی ، د (اِکمال) معنی دانه ده چه ددې نه روستووحی بنده شوه بلکه مراد دادې چه احکام،حلال، حرام،فرائض بيان شو،ددې نه روستونوراحکامات نه دی نازل شوی،داقول دابن عباس رضی الله عنه دې اوقرطبی وائی چه جمهوروائی چه مراد ددې دا دې چه معظم اوغټ غټ احکام فرائض حلال حرام مکمل شوددې نه روستونوراحکامات هم نازل شويدی خوهغه کم وؤ.لکه آيت دربوا اوآيت

دکلاله. بهرحال د ((اکملت)) معنی دانه ده چه ددې نه روستووحی بنده شویده.

قرطبی دلته سوال او جواب کړې دې: سوال: داچه ((اکملتُ)) دلالت کوی په دې چه دین تردې وخته پورې کامل نه وؤ، بلکه ناقص وؤاونقصان خوعیب دې، نوآیانبی صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرام تردې وخته پورې په ناقص دین باندې عمل کولواوناقص دین طرف ته ئې دعوت ورکولو؟

اوکوم صحابه رضی الله عنهم چه په بدر، احد، وغیرهماکښې شهیدان شویدی او دارنګه اصحاب د بیعة الرضوان اونورصحابه رضی الله عنهم چه ځان مال، هرڅه ئې قربان کړی وؤاومړه وؤ، نوآیادوئ په ناقص دین باندې مړه دی؟

جواب دادې چه هرنقصان خوعیب نه وی، قال تعالی: ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ﴾ نقصان العمرخوعیب نه دې، نودارنګه دین دنبی صلی الله علیه وسلم هروخت کامل دې په کمال سره ترخاص وخت پورې لیکن انتظاراواحتمال د نسخ اودزیات په کښې موجووؤ، اوپه دې ورځ کمالِ مطلقه راغې چه احتمال دنسخ دبعض احکامواودزیات پکښې ختم شو، نود ((**اکملت لکم دینکم**)) دامعنی نه ده چه دین تراوسه پورې ناقص وؤاونن ئې نقصان ختم شو، بلکه معنی ئې داده چه چه احتمال دنسخ اودزیادت په کښې ختم شو، په روایت دبخاری اونوروکتابونوکښې راغلی دی چه څه علماء دیهودوحضرت عمررضی الله عنه ته حاضر شول اووې وئیل چه ستاسوپه کتاب کښې یوداسې آیت دې که چرته هغه په مونږ یهودیانوباندې نازل شوې وې نومونږبه دغه ورځ خپل ((عید)) جشن ګرځولې وه، نوحضرت عمررضی الله عنه تپوس اوکړوچه هغه کوم آیت دې نوهغوئ اووئیل چه هغه دادې ((**الیوم اکملت لکم - الایه**)) چه په دې کښې رب العالیمن تاسوته خوشخبری، مبارک باد درکړیدې، نوحضرت عمررضی الله عنه اوفرمائیل چه ماته دپرښه معلوم دې چه داآیت په کوم ځائ کښې اوپه کومه ورځ نازل شویدې چه هغه ورځ دعرفې وه اودجُمعې وه، دحضرت عمررضی الله عنه دجواب مقصد دا ؤوچه اسلامی جشن، اوعیددادې چه داهمو عباداتو د اداء کولو دپاره جمع کیدل په طریقه دسنت سره اودسلفو صالحینوسره اوشی، ددې نه علاوه نورعیدونه چه خلقوایجادکړیدی اورائج کړیدی نوددې څه اصل په سلفوکښې نشته دې، دعیسایانوایجاداودهغوئ اتباع ده، ﴿وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي﴾ اکمالِ دین سبب دې او اتمام نعمت ئې مسبب دې، اوابن قیم رحمه الله وائی چه اکمال په ذواتوکښې استعمالیږی اواتمام په

اوصافوکښې استعمالیږی نوپه دې کښې اشاره ده چه دین په اعتبارداصولواواوصافو دواړوسره مکمل دې نوددې وجه نه په دین کښې دیوعبادت ایجادلکه (بدعت) حرام دې.نودا رنګه دخپل طرف دعباداتوپه کیفیاتوکښې زیادت، او ایجاد کول بدعت دې امام راغب رحمه الله وائی چه اکمال دې ته وائی چه دکوم څیزچه غرض اومقصودوی هغه پوره شی اواتمام دیته وائی چه دبل کوم څه څیزضرورت پاتې نشی.

﴿وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ دلته الله تعالی درې بشارتونه،خوشخبرئ ذکرکړیدی (۱) اول اکمال دین (۲)دویم اتمام نعمت (۳) دریم داچه ((رضیتُ لکم الاسلامَ دینا)) اودا عطف دې په ماقبل نو د ((الیوم)) ماتحت دې اې (الیوم رضیت لکم الاسلامَ دینا ــ ای اعلمتکم برضائی بهِ) یعنی نن ورځ مې تاسو خبرکړئ په دې چه ماتاسودپاره اسلام دین خوښ کړیدې ځکه چه اسلام چه الله تعالی زمونږدپاره دین مقررکړیدې نودا ازلی فیصله ده،خونن ئې خبرراکړوچه اسلام مې تاسود پاره دین،پسند کړیدې ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ﴾ دامتعلق دې دَ محرماتوسره اوپه درمیان کښې جمله معترضه وه چه په هغې کښې ددې خبرې بیان وؤ،چه تحریمات غیرالله ختمول.اودتحریمات الله تحریم باقی ساتل اونذرلغیرالله ختمول اونذرلله باقی ساتل،په دې سره اکمال ددین راځی،اواتمام نعمت راځی،نوپه دې جمله کښې فرمائی چه که څوک مجبوره شوخوراک دمحرماتوته نوپه دومره مقدراسره خوړل چه دهلاکت نه بچ شی دا جائزدی.اوپه دې حالت داضطرارکښې ددغه ذکرشوؤ اشیاؤ حرمت په حق دمضطرکښې ختم شویدې عندالاحناف اوپه نیزدشوافعوحرمت ئې باقی دې رخصت ورکړې شویدې مضطرته لکه دامعلومیږی د ﴿فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ نه ځکه مغفرت په ارتکاب دمعصیت سره کیږی،اواحناف وائی چه ددغه محرماتوحرمت په حق دمضطرکښې ختم شویدې اود ((غفور، رحیم)) ذکرکول ددې دپاره دی چه مضطرته خوصرف دومره مقدارحلال دې چه دې پرِدهلاکت نه بچ شی،اوکیدې شی چه ددنه په دې خوړلوکښې کمې بیشې راغلې وی ځکه چه دډیرې لوګې په حالت کښې داسې کیدې شی چه ددنه لګ شان تجاوزشوې وی دحد داجازت نه نوځکه (غفور رحیم) ذکرشو،

(مخمصه) دخمص نه ماخوذدې (شدة الجوع) اوبالکل خالی کیدل دخیټې دطعام نه،دیته وئیلې شی.او (اخمص القدم) دښپې په درمیان کښې هغه خالی،(اوچته) حصې ته وائی چه په

وخت دتلو کښې هغه حصه په زمکه نه لګی،

نو (مخمصه) هغه لوګه ده که چرته دغه محرمات يابل کوم څيزاونه خوری نوخطره دهلاکت وی. داسې آيت په سورة بقره (١٧٣) اوانعام (١٤٥) سورة نحل (١١٥) کښې هم دې خوهلته د (مخمصة) ذکرنشته،ځکه په دغه سورتونوکښې اضطرارعام دې شامل دې اکراه اومخمصې (لوګه) ته ځکه ددغه سورتونونزول مخکښې دغلبې داسلام نه دې اوپه دغه وخت کښې اکراه راتلې شوه اوداسورت دغلبې داسلام نه بعدنازل شويدې نوداکراه خطره نه وه صرف دمخمصې خطره وه.

يَسْـَٔلُوْنَكَ	مَاذَآ	أُحِلَّ	لَهُمْ ؕ	قُلْ	أُحِلَّ لَكُمُ

دوئ تپوس کوی ستانه چې څه څيزونه حلال کړې شوی دی دوئ لره، ته ورته اووايه چې حلال کړې شوی دی تاسو لره

الطَّيِّبٰتُ ۙ	وَ	مَا	عَلَّمْتُمْ	مِّنَ	الْجَوَارِحِ

پاک څيزونه. اوښکار دهغه سپی چې تعليم ورکړې وی ورته تاسو، دښکار کوونکوڅيزونونه (يعني سپي)

مُكَلِّبِيْنَ	تُعَلِّمُوْنَهُنَّ	مِمَّا	عَلَّمَكُمُ	اللّٰهُ ز

چې ليږونکي يئ او زغلوونکی يئ تاسوپه ښکار پسې، تعليم ورکوئ تاسوهغوئ ته دهغه څه نه چې خودنه کړېده تاسوته الله،

فَكُلُوْا	مِمَّآ	اَمْسَكْنَ	عَلَيْكُمْ	وَاذْكُرُوا	اسْمَ	اللّٰهِ	عَلَيْهِ ص

نوخورئ دهغه څه نه چې ساتلی وی سپوتاسو لره، اويادوئ نوم دالله ﷻ په هغې باندې (په سپی، په وخت دليږلو کښې)،

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝

اويره کوئ دالله نه، بېشکه الله زرحساب کوونکې دې.

﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ﴾ په دې کښې درې اقوال دی،**اول**: امام زهری وائی چه صحابه کرامورضی الله عنهم به اکثردنبی صلی الله عليه وسلم نه تپوسونه کول چه کوم څيزحلال دې اوکوم حرام دې نوداآيت نازل شو.

(٢) دويم قول دادې چه عدی بن حاتم اوزيدبن مهلهل دنبی صلی الله عليه وسلم نه تپوس اوکړوچه مونږخپل سپې اوباز، دښکار دپاره اوليګونوهغه کله ښکاراونيسی اوژوندې ئې راولی اوکله ئې مړکړې راوړی، نوپه دې کښې زمونږدپاره کوم يوحلال دې،نوپه دې باره

کښې دا آيت نازل شو چه د اصل سوال د جواب نه په زائد باندې مشتمل دې.
(۳) دريم قول دا دې چه دا د ابتداء د سورت سره يعنی (أحلت لكم بهيمة الانعام) سره متعلق دې
دا آخری قول زيات مناسب دې.
(احِل لهم) د متکلم (لنا) په ځائ ضمير د غائب (لهم) راغلې دې، شيخ رضی رحمه الله وائی
چه په کوم ځائ کښې د دووضميرونو استعمال جائزوی نوهلته د متکلم په ځائ غائب
استعماليدې شی ﴿ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ پاک څيزونه هغه دی چه طبيعت سليمه ترينه نفرت نه کوی. او
حرمت ئې په کتاب الله اوسنت اوقياس کښې نه وی راغلې، نو(طيبات) حلال دی، اوخبائث
حرام دی لکه په بل آيت کښې دی ﴿وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾ اعراف ع ۱۹ (۱۵۷)
د ا د اصل سوال نه زيات امر دې مشرکانو به طيبات (پاک څيزونه) دخپلو معبودانو د تعظيم
اوتقرب دپاره محض دخپل وهم او ګمان مطابق حرامول نو الله تعالی اوفرمائيل چه پاکيزه
څيزونه ستاسو دپاره حلال دی، هغه حرام مه ګڼړئ ﴿وَمَا عَلَّمۡتُم﴾ دا په ((الطيبات)) باندې
عطف دې اود دويم قول مطابق د اصل سوال جواب دې اوعبارت په حذف د مضاف سره دې اې
(صيد ما علمتم) ښکاری سپې، باز، چه ښکارژوندې مالک ته راؤرسوی نودهغې ذبح شرعی
ضروری ده بغيرد ذبح کولونه نه حلاليږی، اوکه مړئې کړی، نو دهغې دحلالوالی دپاره شرطونه
دی، اول دا چه سپې به معلم (تعليم يافته) وی دا شرط په ((عَلَّمۡتُمۡ)) او ((تعلمونهن)) کښې صراحةً
مذکوردې، اودمعلم والی دپاره درې علامې دی **اول** دا چه خودبخودبه په ښکارپسې نه
زغلی ترڅو چه مالک ورته اشاره اونه کړی، **دويم** دا چه مالک ئې ليږی نود ليږلو نه پس ئې که
چرته واپس راؤبلی نو واپس راځی دادواړه علامتونه د ((مکلبين)) نه معلوميږی، **دريمه** علامه
دا ده چه کله ښکارا ونسی نو په خپله ئې نه خوری بلکه مالک ته ئې راورسوی، دا علامه صراحةً
ذکرده په ﴿فَكُلُواْ مِمَّآ أَمۡسَكۡنَ عَلَيۡكُمۡ﴾ کښې.
دويم شرط دا دې چه مالک دغه سپې په ښکارپسې ليګلې وی دا شرط صراحةً ذکردې په
(مکلبين) کښې (مکلبين) د تکليب نه ماخوذ دې او (تکليب) ليګل اوتيزی ورکول په ښکارباندې.
نوکه د مالک دليږلونه بغيرښکاری سپې کوم څيزاونيسی اومړ ئې راوړی. نو هغه حلال نه
دې. نو (مکلبين) حال دې د ضمير د (عَلَّمۡتُمۡ) نه، په معنی د (مُضۡرِيۡنَ، مُسَلِّطِيۡنَ) سره يعنی چه تاسو
ئې په ښکارپسې زغلوئ اوليږئ.

دریم شرط دادې چه دښکاری سپی لیږلو په وخت کښې دئې بسم الله وئیلې وی،داشرط صراحةً مذکوردې په ﴿وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ﴾ کښې.

څلورم شرط دادې چه ښکاری سپې دې هغه حیوان زخمی کړې وی نو که چرته زخم پکښې نه وی راغلې نوبیاحلال نه دې،داشرط دجوارح نه معلومیږی،جوارح دجرح نه ماخوذدې،په معنی د کسب سره لکه ﴿وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ﴾ (انعام: ۶۰) اومراددجوارحونه کسب کونکې دښکاردې لکه سپې، باز،شاهین،وغیره لیکن هرکله چه جرح زخم ته هم وئیلې شی نوامام ابوحنیفه زخم هم شرط کړیدې.

داشرطونه ددمے اضطراری دپاره دی اوکه ښکارمالک ته ژوندې رارسیدلې وؤ،نو بیا بغیرذبح نه نه حلالیږی،

فائده سپې پلیت دې اوجوته ئې پلیته ده سپی زخمی کړې اوقتل کړې ښکارحلال دې نو علماء وائی چه دلته دجوتې اوزخمی کړې شوی څیزدخوړلوحکم راغلې دې نومعلومیږی چه داپاک دې نودپاکوالی سبب ئې علم اوذکردې،نوکه چرته اشرف المخلوقات په دې دواړوسره متصف شی نوبیابه څومره لویه درجه ورته حاصله شی،او ﴿تُعَلِّمُونَهُنَّ﴾ جمله حالیه ده.اوذکرئې روستود ﴿وَمَا عَلَّمْتُم﴾ نه دپاره دتاکیددې اود ﴿مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللهُ﴾ نه مراددادې چه هغه تعلیم معتبردې چه په قرآن اوحدیث کښې ذکرشویدې لکه چه مخکښې تیرشو ﴿وَاتَّقُوا اللهَ﴾ په دې کښې اشاره ده چه رعایت ددغه مذکوره شرطونوضروری دې نوکه دغه شرطونه نه وی نوهغه حلال مه ګڼړئ

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
نن ورځ حلال کړې شوی دی تاسولره پاک څیزونه، اوطعام(ذبیحه)دهغه کسانو چې ورکړې شویدې ورته کتاب
حِلٌّ لَّكُمْ ۠ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ
حلاله ده تاسولره، اوطعام(ذبیحه)ستاسوحلاله ده هغوئ لره، او حلالې دي تاسولره پاک لمنې مومانې ښځې
وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ
... لمنې ... دهغه کسانونه چې ورکړې شویدې ورته کتاب مخکښې ستاسونه، چې کله ورکوئ تاسوهغوئ ته

اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ
مهرونه دهغوئ په قبد دنکاح کښې راوستونکي به يئ . نه يئ ښکاره بدکاري کونکی اونه به يئ پټې اشنائی نيونکی
وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ۡ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝
اوڅوک چې منکر شی دايمان نه نو په تحقيق سره بربادشو عمل دده، اودې به په آخرت کښې دتاوان والونه وی

﴿ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ﴾ داهم دابتداء سره متعلق دې اوطيباتونه مراد ماسوئ دذبائحونه پاک خوراکونه دی، ﴿وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ﴾ مراددطعام داهلِ کتابونه ذبيحه دهغوئ ده اودخوراک هغه اشياءچه حلال دی،لکه روټئ،دال چاول وغيره، داخو دټولوکافرانووالاحلال دی برابره خبره ده که اهلِ کتاب وی يانه، اوهغه څيزونه چه شرعاحرام دی لکه خمر،خنزيروغيره نوداداهلِ کتابووغيره ټولوحرام دی، نوپه طعام کښې تعميم نشته دې اوداهلِ کتابونه مراد صرف يهود،نصاری دی ځکه چه په کتاب او سنت کښې اهلِ کتاب فقط يهودونصاری ته وئيلې شی نوروکفاروته نشی وئيلې، اودا رنګه مراددااهلِ کتابونه دادی چه اصلی اهلِ کتاب وی نوکه چرته معاذالله مسلمان،نصرانی يهودی شوهغه مرتددې،نودهغه ذبيحه نه ده حلاله،اوهم دارنګه داضروری ده چه کوم اهلِ کتاب (عيسايان) چه ذبيحه ئې حلاله ده هغه دې دهری شوې نه وی لکه په موجوده دورکښې ډيرپه نوم عيسايان دی خوهغه دهريه دی عقيدةً نودهغوئ ذبيحه حلاله نه ده،اوهم دارنګه داهلِ کتابوذبيحه هله حلاله ده چه دخپل دين په طريقه ئې ذبحه کړې وی،يعنی نوم دالله تعالی پرِذکرکړی په وخت دذبح کښې،خلاصه داده چه مراد دطعام نه ذبيحه ده،اوداهلِ کتاب نه مراد صرف يهوداونصاری دی،اود دوئ ذبيحه چه حلاليږی نوشرط ئې دادې چه اصل اهلِ کتاب دې وی،مسلمان مرتد دې نه وی،عقيده ددهريت دې نه لری اوذبح دې په طريقه دخپل دين سره کوی نوکه په وخت دذبح کښې په ذبيحه باندې نوم دعيسی علیه السلام يادبل چايادکړی.ياپرِبالکل نوم دالله تعالی يادنه کړی نودغه ذبيحه حرامه ده. ﴿وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ﴾ ددې جملې نه مقصودتاکيددحِل دې يعنی لکه څنګه چه ستاسوطعام.ذبيحه ده دهغوئ دپاره حلاله ده نودغه شان دهغوئ ذبيحه ستاسودپاره حلاله ده،اوحضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه مراد د(طعامُکم حِلُ لهم) نه دادې چه کوم اشياء په هغوئ په حرام وؤ،لکه ((وعلی الذين هادوا حرمنا

علیهم کل ذی ظفر)) نو دغه اشیاؤ حرمت ختم شو ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ﴾ مراد ددې نه پاک دامنې ښځې دی حُره وی او که وینځه وی، اوقید د (محصنت) دپاره دترغیب دې یعنی دنکاح دپاره پاک دامنه ښځه مناسب ده، نه بدکاره، فاسقه. ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ﴾

دلته دوه قوله دی اول داچه (محصنت) په معنی دپاک دامنوسره دې حُره وی او که وینځه وی. اوقید د (محصنت) دترغیب دپاره دې، شرط دصحت دنکاح دپاره نه دې. مطلب دادې چه که تاسو د کتابیانو سره نکاح کوئ نو دا خیال ساتئ چه هغه دې پاک دامنې وی. فاسقانې. بې حیا. بدکارې دې نه وی، او دا اول دامام ابو حنیفه رحمه الله دې، او دویم دادې چه مراد د (محصنت) نه. حُری (آزادې ښځې) وی نو نکاح دونیځې کتابیئې سره جائز نه ده. او دا مذهب د شافعی او دجمهورو دې. د اهل علمو په نیز نکاح د کتابیاتو سره جائز دې اگر که اهلِ کتاب مشرکان دی او دا آیت مخصص دې دآیت دبقرې دپاره چه ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ او دبعض صحابه کرامو رضی الله عنهم نه لکه عبدالله بن عمر رضی الله عنه چه منع مروی ده، دنکاح د کتابیاتو نه نو دا محمول دې په خلاف الاولی باندې نه په حرمت باندې. ﴿مُحْصِنِيْنَ﴾ احصان په معنی دنکاح سره دې یعنی په قید دنکاح کښې راولې، په دې کښې اشاره ده نفی دمتع ته ﴿غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ﴾ سفاح ښکاره زناکولو ته وائی ﴿وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ﴾ (اخدان) جمع د (خدن) ده مذکر مؤنث دواړو باندې ئې اطلاق کیږی یعنی پټه دوستانه دعاشقئ په طور باندې، او په دې کښې اشاره ده. اشتراط دشهادت ته په نکاح کښې، نو که ښځې او سړی دواړو یو بل سره عقد نکاح او کړو بغیر دگواهانو نه نو دغه نکاح نه دې (اگر که په مخلوط کالج کښې وی (کمازعمه المودودی) بلکه دا محض یارانه ده، په جاهلیت کښې به بعضو خلقو ښکاره زناکوله او بعضو ښځو به دمخصوص کسانو سره زناکوله، او دا به ئې خپل شرافت گڼړلو، نو الله تعالی ورته اوفرمائیل چه دا دواړه حرام او بې حیائی ده، شرافت نه دې. ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ﴾ په معنی د (من) سره ده. (ای من ینکرمن الایمان)) او دا جواب دسوالِ مقدر دې هغه داچه هر کله نکاح د کتابیاتو سره جائز شو او د اهلِ کتابو ذبیحه خوړل جائز شو نو د دوئ دین به هم صحیح وی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ
اې ايمان (۱) والو کله چې پورته کيږئ تاسو مانځه ته نو اووينځئ مخونه خپل اولاسونه خپل دځنګلوپورې
وَٱمْسَحُواْ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ۚ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا
اومسح کوئ په سرونو خپلو او اووينځئ خپې خپلې ترګيټو(پرکو شنګرو) پورې. اوکه تاسويئحالت دجنابت کښې يئ
فَٱطَّهَّرُواْ ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم
نوځان ښهٔ پاک کړئ (غسل اوکړئ)، اوکه تاسوبيماران(ناجوړه يئ) يا په سفرباندې يئ ياراشي يوکس تاسونه
مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُواْ
داودس ماتي نه ياتاسويوځائې شوي يئ دزنانوسره اونه مومئ اوبه نو تيم کوئ په خاوره پاکه. نومسح اوکړئ
بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ
په مخونوخپلو او په لاسونوخپلو دهغې نه ، نه غواړي الله چې مقرر کړي په تاسو څه تنګسيا. ليکن غواړي
لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝٦
چې پاک کړي تاسو ، اوددې دپاره چې پوره کړي نعمت خپل په تاسوباندې ددې دپاره چې تاسوشکر اوکړئ

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ﴾ دا د امر مصلح ذکر دې يعنی په اَودس ياتيمم سره دمونځ دادا کولو اهتمام کوئ نووفاپه وعدوبه آسانه شی او (شنئان) يعنی بغض عداوت به ختم شی. په ظاهره ددې آيت نه معلوميږی چه دهرمونځ دپاره اودس کول ضروری دی حالانکه داد هيچامذهب نه دې،

جواب په څووجوهاتوسره دې **اول** داچه دلته لفظ د (وانتم محدثون) مقدردې. ځکه چه نبی صلی الله عليه وسلم په غزوة خندق کښې څلورمونځونه په يواودس سره کړيدی اوپه فتح مکه کښې ئې پنځه مونځونه په يو اودس سره کړيدی، (کمافی الترمذی وغيره)،

دويم داچه (اذا قمتم) نه مراددخوب نه راپاسيدل دی، (کمافی مؤطا) ځکه دلته نورټول نواقض

---

۱ دامر مصلح ذکر

الوضوء صراحةً مذکوردی اودخوب نه راپاسیدل نه دی مذکور.
دریم داچه داحکم استحبابی دې، څلورم داچه دامنسوخ دې.

﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾ فرائض الوضوء په نزد داحنافو څلوردی چه دلته مذکوردی او په نیز د شوافعو شپږ دی څلور دا مذکور دی، او (۵) نیت او (۶) ترتیب، او په نیز د مالکیو باندې اووه (۷) دی. څلور دا مذکور دی او(۵) نیت (۶) موالات (۷) دلك هم دې، او په نیز د حنابلوؤ (۵) نیت (۶) ترتیب (۷) موالات دی.

(**فائده**) تخصیص ددې اعضاؤدپاره حضرت شاه ولی الله رحمه الله وجه داوائی چه قیاس خودا تقاضاکوی چه کله خروج دنجاست اوشی نوټول بدن دې صفاکړې شی ځکه چه بدن شئ واحد دې،نوخروج دنجاست دیوځائ نه داسې دې لکه چه دټول بدن نه خروج دنجاست شوې وی لیکن دټول بدن وینځل خوحرج دې نو اکتفاء اوشوه په اعضاؤاربعوباندې وجه داده چه په انسان کښې دوه قوته دی یوقوةِ عملی اوبل قوة نظری (علمی)،دقوةِ عملی مظهرلاسونه خپې دی اودقوةِ علمی مرکز،چهره اوسر دې ،(گویا دا دعلماؤ کالونی ده) نو د اعضاءِ اربعۀ په پاکوالی سره ټول بدن پاک شو.

﴿إِلَى الْمَرَافِقِ﴾ (الی) په معنی د (مع) سره دې یاغایه داسقاط دماوراء دپاره ده، ﴿وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ﴾ په نزد داحنافو فرض په مسح دسرکښې ربع دسرده،اوپه نزد دشوافعو (ادنیٰ مایُطلقُ علیه الراس) اگرکه یو ویخته وی اوپه بل روایت کښې کم ازکم درې ویخته دی،اوپه نزد دامام مالک استیعاب فرض دې اوپه نزد دامام احمدرحمه الله هم استعیاب دې اوپه یوروایت کښې مسح دبعضې سر فرض ده، ﴿وَأَرْجُلَكُمْ﴾ دلته دوه قراته دی،نصب، جر، قراءة دجر محمول دې په حالت دتخفف،یاجردجواردې،نور تفصیل په سورةِ نساء کښې تیرشویدې. ﴿إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ (کعبین) په باب دوضوء کښې هغه دوه گیټئ (پړکی) چه دپنډئ دلاندې دی.اوپه باب الحج کښې هغه هډوکې دې چه دخپې په منځ کښې دپاسه وی، ﴿فَاطَّهَّرُوا﴾ په تشدیدسره دې،تفصیل دمبالغې دپاره دې اودادلالت کوې په فرضیت د مضمضه اواستنشاق په غسل کښې، ﴿وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ﴾ مراددې نه هغه مرض دې چه دهغې په وجه سړې نه وی قادرپه اودس کولو ،یادمرض دزیاتیدو اوهلاکت خطره وی ﴿أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ﴾ ددې سره قیدد (لم تجدواماءً) مراد دې. ﴿مِّنَ الْغَائِطِ﴾ (غائط) په لغت کښې ښکته زمکې (کندې)

نه وئيلي شى. او انسان عادةً قضاء حاجت په دغه شان ځائ کښې کوى نودلته ذکردمحل دې اومرادترينه حال دې. يعنى قضاء حاجت، اودس ماتې کول. لوئ اودس ماتې ياورکوتې. ﴿أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ﴾ په نزد دامام شافعى رحمه الله ددې نه مسه کول مراد دى نوښځه مسه کول د دوئ په په نزد ناقض الوضوء دې. البته په تفصيل کښې يې د دوئ مختلف اقوال دى. مس بشهوةٍ مراد دې. يا مطلقا. بدون الحائل مراددې يامطلقا. مس دغيرمحرمه مراد دې يامطلقا. او دا تفسيرمروى دې دحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه. اوپه نزد داحنافوددې نه مرادجماع ده. اودامروى درئيس المفسرين ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضى الله عنه نه. اوصيغه دمفاعلى چه دمبالغې دپاره ده، په دې دلالت کوى ﴿فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءً﴾ د (تجدوا) . لفظ په دې دلالت کوى چه طلب داوبودې ئې کړې وى. اوعدم وجدان عام دې چه اوبه نه وى موجودې ياپه قيمت ملاويږى اوسرى سره قيمت نه وى. يادبيمارئ اوجسمانى عجزد وجه نه قادرنه وى په استعمال باندې. ﴿فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا﴾ (صعيد) وجه الارض ته وئيلې کيږى. او شوافع ئې ترجمه کوى په (تَرابًا مُنۢبِتًا) سره، نوزمونږپه نزدپه داسې ګټه باندې تيمم جائزدې چه ګرد اوغبارپرِ نه وى. اودشوافعوپه نزددغباروجودضرورى دې(مِنۡهُ) ضميرراجع دې (صعيدًا) ته ﴿مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ﴾ يعنى داحکامودمشروعيت نه مقصود دانه دې چه په تاسوتنګى اوتکليف راشى، نو معلومه شوه چه په شريعت کښې حرج نشته دې. امام رازى رحمه الله وائى چه ددې نه معلومه شوه چه کوم اشياء(مضار) تکليف دِه وى هغه مشروع نه دى. ﴿لِيُطَهِّرَكُمۡ﴾ ددې نه معلومه شوه چه تيمم طهارتِ کامله دې، پشان داودس اودغسل. ﴿وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ﴾ تيمم دمخکښنوامتونودپاره مشروع نه وو. نودادې امت خصوصيت دې لکه په حديث کښې دى(جعلتْ لى الارض مسجدًا وطهوراً) اوکما قال صلى الله عليه وسلم، نو په دې جمله کښې ورته اشاره ده اوپه (تَشۡكُرُونَ) کښې ترغيب دې عمل ته په دې احکاموباندې

وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ ٧
اوياد کړئ[1] نعمت دالله په تاسو باندې (اوبوره کړئ) وعده دهغه، هغه وعده چې پخه کړې ئې ده تاسوسره هغه.

[1]- د سورة د ابتداء اعاده

إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ

کله چې اووئیل تاسو آوریدلي دی مونږ. اوتابعداري کړېده مونږ. او ویریږئ دالله نه بېشکه الله عالم دي

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

په هغه خبرو چې په سینو کښې دی

﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ﴾ داهم متعلق دې دابتداء دسورت سره اوپه دې کښې ترغیب دې ایفاء دعقودو ته. مراد دنعمت نه ظاهری دنیوی نعمتونه هم دی اوباطنی روحانی نعمتونه هم دی .صحت.عقل. دین اسلام هدایت اودارنگه اخروی نعمتونه.﴿وَمِيثَاقَهُ﴾ ددې نه یامیثاق ازلی مراد دې ((الست بربکم قالوا بلی)) یا هغه میثاق دې چه صحابه کرامو په وخت دبیعت کښې کړې وؤ. په سمع طاعت سره په حالت د خوشحالئ اوتکلیف اوتنگسیااوفراخئ کښې هرحالت کښې

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلّٰهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ

اې ایمان والو شئ کلك ولاړ په حق دالله گواهي کونکي په انصاف سره. اوباعث دې نشي په تاسو بغض عداوت

قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ

دیوقوم په دې خبره چې تاسوانصاف اونکړئ. انصاف کوئ دا ډېر نزدې دې تقوی ته اوویریږئ دالله نه

إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا

بېشکه الله خبردار دې په هغه عملونو چې تاسو یې کوئ وعده کړېده الله دهغه کسانو سره چې ایمان نې راوړې دې

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۙ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ۝ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

اوعملونه کوی نیک . چې دوئ لره مغفرت دې اواجر لوئې دې اوهغه کسان چې کفرئې کړېدې

وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ۝ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ

اوسست د دروغونې کړېدې آیاتونوزمونږ ته دغه کسان دوزخ والا دي انې ایمان والو یادکړئ نعمت دالله

عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ

په تاسوباندې كله چې قصداوكړويوقوم ددې خبرې چې اوږده كړي تاسوته لاسونه خپل نومنع كړل الله لاسونه دهغوی ستاسونه

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ⑪

اوويريږئ دالله نه اوخاص په الله دې توكل اوكړي مومنان

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ داد «لايجرمنكم شنئان قوم» دمضمون اعاده ده.چه په حق باندې كلك اودريږئ.دحقې خبرې بيان په كلكه سره كوئ اوشهادت په عدل او انصاف سره كوئ.دخپلولئ يادښمنئ په وجه په شهادت كښې ردوبدل مه كوئ.عدل كوئ په حقوق الله اوحقوق العبد دكښې.اوداعدل ډيرقريب دې تقوى ته يعنى دعدل په وجه سره انسان موصوف كرځى په تقوى سره.اوتقوى فرض ده ځكه چه ﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ﴾

﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ﴾ دابشارت دې هغه كسانوته چه په خپلووعدووفاكوى.

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾داتخويف دې هغه كسانوته چه وعدې نه پوره كوى ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ دادحكم سابق دوباره اعاده ده.يعنى امرپه انصاف سره كوئ اودوعدوايفاء كوئ.اودشعائرالله بې حرمتى مه كوئ.اوكه تاسوته په دې كښې څه خطره وى نوپرواه مه كوئ الله تعالى به دانصاف كولوپه وجه اود وعدوپوره كولوپه وجه ستاسوحفاظت كوى د دښمن نه.لكه نمونه ئې داد ﴿إِذْ هَمَّ قَوْمٌ﴾ داډيرو واقعاتوته شامل دې.لكه په غزوة عسفان كښې چه مشركينوااراده كړې وه چه مؤمنان كله په مونځ مشغول شى نومونږبه پرې حمله كوؤ. نوالله تعالى حفاظت اوكړواودصلوة الخوف حكم ئې نازل كړو.اودغه شان واقعه داعرابى وه چه په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ئې توره راويستې وه.اوالله تعالى درسول الله صلى الله عليه وسلم حفاظت اوكړو.اوهغه اعرابى ايمان راوړو،دغه شان چه بنى نضيرود صلح په بهانه دنبى صلى الله عليه وسلم دقتل منصوبه جوړه كړې وه.ليكن الله تعالى ترينه خپل نبى صلى الله عليه وسلم محفوظ اوساتلو.په صلح دحديبيه كښې هم دكفاروډله دخفيه حملې په نيت راغلې وه.او صحابه كرامورضى الله عنهم كرفتاره كړه.داټول واقعات ددې په عموم كښې داخل دى.﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ﴾ يعنى حفاظت ته دتقوى اوتوكل په ذريعه حاصليږى،نوتقوى اوتوكل په ځان كښې پيدا كړئ.

وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ

اوپه تحقيق سره[1] اخيستې وه الله پخه وعده دبني اسرائيلو نه اوليږلي او مقرر کړي وو مونږ ددوئ نه

اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ۗ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ ۗ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ

دولس سرداران، اووئيلي وو الله چې يقيناً زه ستاسو ملګرې يم، کچرې تاسو پابندي کوئ دمانځه او ورکوئ زکوة

وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

او ايمان مواولرلو په رسولانو ځما او امداد موکولو دهغوئ او قرض مو ورکولو الله ته قرض ښائسته

لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

خامخا لرې به کړم ستاسو نه ګناهونه ستاسو او خامخا به تاسو داخل کړم جنتونو ته چې بهيږي به لاندې دهغې نه

الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۲﴾

ولې، نو چاچې کفر اوکړو روستو ددې نه ستاسو نه، نو په تحقيق سره غلطه ئې کړه سمه لار

﴿وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ داهم دابتداء دسورت سره متعلق دې، اودنقض عهد والؤدوه نمونې په طريقه دتخويف سره ذکر کيږي، دا اوله نمونه ده، (نقيب) دحالاتو تفتيش کوونکې. (نمبردار، سردار) ته وئيلې شي، بنی اسرائيل دولس خاندانونه وؤ، نو دهريو خاندان داصلاح او نظم اوضبط دپاره يو نقيب نمبردار مقرر شوې وؤ، ﴿وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ﴾ مراد دَ معيت په نصرت او معونت سره دې، ﴿لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ﴾ لام مؤطئه للقسم دې. او، (ان) شرطيه دې، دکلام په اول کښې چه قسم او شرط دواړه جمع شي نو روستو جواب بيا د معنی په لحاظ سره د دواړو دپاره وی اوپه لفظ کښې داول دپاره وی، دلته قسم اول دې نو په جواب باندې ځکه لام. او نون تاکيديه داخل شويدې،

په دې آيت کښې دهغه وعدو ذکر دې چه بنی اسرائيلو دالله تعالی سره کړې وې، (۱) اول اقامة الصلوة. (۲) دويمه وعده ورکول دزکوة (۳) دريمه وعده ايمان بالرسل عليهم السلام (۴)

1 دانقض عهد دوو نمونو نه اوله نمونهٔ يعني لکه څرنګه چې يهودو ته د نقض عهد په وجه پنځه سزاګانې ورکړې شوې وې نو دارنګه که تاسو وعده ماته کړه نو سزا به درکړې شي

خلورمه وعده نصرت اوامداددرسولانویعنی ټول رسولان بلاتفرقه منل اودهغویٔ تصدیق کول،د هغویٔ مددکول اومدافعت کول دهغویٔ نه اوددین دَ هغویٔ نه په ذریعه د دعوت اوجهادسره. او(۵) پنځمه وعده انفاق فی سبیل الله.یعنی دزکوة نه علاوه په نورو مصارفو دخیرکښې مال صرف کول لکه بنادمساجدو اومدارسو او داقسم فرض کفائی دې اوزکوة فرض عین دې. ایمان بالرسل رتبةً مقدم وؤ په اقامة دصلوة او ایتاء دزکوة لیکن په میثاق کښې اقامة الصلوة او زکوة مقدم ذکرشوځکه چه اقامة دصلوة او ایتاء دزکوة فی الحال وؤ. او ایمان بالرسل

اونصرت دهغویٔ روستودراتللودهغویٔ نه دی. ﴿فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ﴾ ((ای بعد المیثاق)) کفربعدالمیثاق اوقبل المیثاق، دواړه قبیح دي لیکن بعد المیثاق ډیرقبیح دې ځکه قبل المیثاق انسان عذرکولې شی چاماته علم نه وؤ. اوپس دمیثاق نه دغه عذرهم نشی کولې

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ۖ

پس په سبب دماتولودوئ دوعدې خپلې لره. مونږ لعنت[1] اوکړو پدوئ اواوګرزول[2] مونږ زړونه ددوئ سخت

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ ۙ وَنَسُوا حَظًّا

تحریف(ردوبدل)[3] کوی په کلمو کښې(یعني تورات کښې) په ارولو سره دځیل ځائ نه. اوهیره کړه[4] دوئ یوحصه

مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا

دهغې نه چې نصیحت کړې شوې وؤ دوئ ته په هغې سره. اوهمیشه به خبریږې ته ددوئ په خه خیانت[5] باندې مګر لږ حصه

مِّنْهُمْ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾

ددوئ نه. نومعافی کوه ددوئ نه اومخ اړوه دملامت کولوددوئ نه. بیشکه الله محبت کوی احسان کوونکو سره

1 - دنقض عهد اوله سزا
2 - دویمه سزا
3 - دا دریمه سزاده او جمله حال دې دضمیر دلعنّا نه یعني دالله ﷻ مراد نې بدلولو او ذلیل هم شو او دس ...
هم محروم شو
4 خلورمه سزا
5 پنځمه سزا

﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ ﴾ په دې کښې نقض العهد. (لوظ ماتول) باندې د سزګانو ذکردې. (فبما) کښې (باء) سببيه ده. او (ما) زائده دې يعنې په سبب د ماتولو د عدوسره په دوئ باندې د اسزاګانې واقع شوې. ﴿لَعَنَّٰهُمْ﴾ اوله سزا ده. يعنې الله تعالى دخپل رحمت خاصه نه لرې کړل. او مسخ اونورعذابونه ئې ورله ورکړل. ﴿وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً﴾ دادويمه سزاده چه زړونه ئې سخت شول. وعظ. تخويف بشارت پرې اثرنه کوی اوحسنه ته سيئه وائی اوسيئه ته حسنه وائی. انکار کوی دقبول دحق نه. قسوة قلبی دبدبختئ علامه ده. ﴿ يُحَرِّفُونَ ﴾ دادريمه سزاده. اواثر دقسوت قلبی دې چه دوئ تحريف کوی په تورات کښې. (الكلم) نه مراداحکامات اوکلمات دتورات دی. ﴿عَن مَّوَاضِعِهِۦ ﴾ (اى بصرفه عن مواضعه) په اړولوسره دخپل معنی اصلی نه يعنی تحريف معنوی اوغلط تاويلونه کوی. ﴿وَنَسُوا۟ حَظًّا ﴾داخلورمه سزاده. يعنی ذليل هم شواوبې دينه هم شو. د(حظا) نه مراد د تورات انجيل هغه حصه ده چه په هغې کښې دتوحيداودرسالت دخاتم النبيين ذکردې، هغه ئې داسې پريخوده. لکه چه نسياًمنسياًوی. يامراد دادې چه دتحريف په وجه ئې قوت حافظه خرابه شوه نوکتاب الله ترينه هيرشو. دابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چه انسان بعض علم دګناه دوجه نه هيرکړی اوداآيت ئې تلاوت کړو. ﴿وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ ﴾ داپنځمه سزاده. او (خائنة) مصدردې په وزن داسم فاعل سره (اي خيانة) يااسم فاعل دې اوموصوف ورله مقدردې اى فرقة خائنة، مراد دخيانت نه هغه دهوکې دی چه دوئ دنبی صلی الله عليه وسلم اومسلمانانوسره کولې. ﴿إِلَّا قَلِيلًا ﴾ دااستثناء ده. د ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ ﴾ نه ياد ﴿لَعَنَّٰهُمْ﴾ اومابعدنه. مراد د قليلاً نه عبدالله بن سلام رضی الله عنه اودهغه اتباع دی. ﴿ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ﴾ (عنهم) ضمير راجع دې. قليل (مؤمنانو) ته. ياراجع دې ناقضين دعهدته اومراد د (عفو) او (صفح) نه دادې چه بغيردحاجت شرعی نه د دوئ دخيانتونواظهار، محض د دوئ درسوائې دپاره مه کوه. نوداآيت منسوخ نه دې. ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ احسان ښه خوئ دې چه دچاعيب اوخيانت بغيرد شرعی ضرورت نه نه ښکاره کوی.

وَمِنَ	الَّذِيْنَ	قَالُوْا	اِنَّا	نَصٰرٰٓى	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَهُمْ فَنَسُوْا
او دهغه کسانو نه (۱) چې دوئ وائي بېشکه مونږ نصارٰی یوو اخستې مونږ پخه وعده دهغوئ نه نو هېره کړه دوئ						
حَظًّا	مِّمَّا	ذُكِّرُوْا	بِهٖ	فَاَغْرَيْنَا	بَيْنَهُمُ	الْعَدَاوَةَ
یوحصه دهغې نه چې نصیحت کړې شوې وو دوئ ته په هغې سره. پس واچوله مونږ په مینځ د دوئ کښې دښمنی						

وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۗ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۝

اوبغض د ورځې دقیامت پورې . اوزر دې چې خبربه کړي دوئ لره الله په هغه کار چې دوئ ئې کوی

﴿وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى﴾ دادنقضِ عهد ،(لوظ ماتولو) دویمه نمونه ده.یعنی لکه څنګه چه نصاراؤته.نقضِ عهدپه وجه داسزاملاؤشوه.چه خپل کتاب ا ...ں دفهم نه محرومه شول.اوخپل منځ کښې ئې دښمنی اوبغض پیداشو.نوتاسوپه خپلووعدوباندې وفاکوئ ورنه تاسوته به هم دغه شان سزا درکړې شی.﴿وَمِنَ الَّذِيْنَ﴾ جارمجرار متعلق دې د (اخذنا) سره.(ای اخذنامن الذین) اوتقدیم ئې داهتمام شان د وجه نه دې.او﴿قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى﴾ ئې اووئیل ((ومن النصاری)) ئې اونه وئیل په دې کښې اشاره ده دې ته چه دوئ په حقیقت کښې په نصرانیت نه وو.بلکه صرف دعوی وه.ځکه چه انجیل کښې بشارت دبعثت د سیدالکونین صلی الله علیه وسلم موجودوؤ.اودوئ په نبی صلی الله علیه وسلم باندې ایمان نه راؤړلو.یاپه دې کښې اشاره ده دې ته چه دوئ ځان ته لقب دنصاری،یعنی انصارُدین الله کینښودو.لیکن په عمل کښې انصار الشیطان دی نوقول ئې دعمل نه مخالف دې.

﴿حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ﴾ د دینه مراد ایمان بالله او ایمان په محمد صلی الله علیه وسلم دې. یعنی توحید او رسالت

﴿فَنَسُوْا﴾ مطلب دادې چه توحید او رسالت ئې داسې پریخودلوچه نسیاً منسیاً اوګرځیدلو . یعنې دخپل کتاب د اهمې حصې (توحید اورسالت) د فهم نه محرومه شو . نو

(۱) دوعدې ماتونکو دویمه نمونه یعني نصرانیانو وعده ماته کړه نوبغض عداوات تفریق ئې په مینځ کښې راغلو نوکه تاسو دالله ﷻ په وعدوعمل اونه کړو نوتاسوته به هم داسې سزا درکړې شي

دا يوه سزا ده. اودويمه سزا داده ﴿فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ﴾ (اغرينا) د (غراء) نه مشتق دي (غراء) ما يلحق الشيء بالشيء كالصمغ وشبهه ، غراء هغه ته وائی چه په هغې سره يو شئ دبل سره چسپان (اينخلولی) کيږی لکه جوله ، سريش . يعنې بغض عداوت پدوئ پورې ؤنختلو. او په دوئ کښې مختلفې فرقې پيدا شوې ، يعقوبيه ، نسطوريه ، ملکانيه . او بيا په کښې نورې ډلې پيدا شوې . ﴿إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ د عيسى عليه السلام د نزول وخت مراد دې چه هغه زمانه د قرب قيامت ده ﴿وَسَوْفَ﴾ دا تخويف اخروی دې . يعنې د نقض العهد په وجه دوئ ته په دنيا کښې هم سزا ورکړې شوه اوپه آخرت کښې هم.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ

اې اهل کتابو![1] په تحقيق سره راغلې دې تاسوته رسول زمونږ،بيانوي تاسو ته ډېرې مسئلې دهغې نه چې تاسوبه پټولې

مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ۚ قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ

دکتاب دالله نه اومخ اړوی د ډېرو نه ، په تحقيق سره راغلې دې تاسوته دطرفه دالله رڼا اوکتاب[2]

مُبِينٌ ۝ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ

واضح بيان والا هدايت ورکوی پدې سره الله هغه چاته چې تابعداری کوی[3] درضادالله لارودسلامتيانه

وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۝

اوراوباسي دوئ لره دتيرونه رڼا ته په حکم دهغه سره اورسوی دوئ لره لارې نيغې ته

﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ﴾ دادسورت داولې حصې د دويم مضمون نفی دشرک اعتقادی بيان دې.اول بطورتمهيداهلِ کتابوته ترغيب دې د ايمان په رسالت دحضرت

---

1 دحصه اول دويم مضمون يعني نفي دشرک اعتقادي.

2 . کتاب عطف تفسير د نور دې مراد دنور نه قران دې.

3 . هدايت هغه چاته ملاويږي چې انابت والا وي ضد تعصب نه کوي لکه (يهدي اليه من اناب). (يهدی اليه من ينيب)

محمدصلی اللہ علیه وسلم باندې،اوبیادشرکِ اعتقادی رد دې،دلته داهلِ کتابونه یهود ، نصارادواړه مراددی،په دې آیت کښې دحضورصلی اللہ علیه وسلم اوصاف بیان شویدی،اول داچه ﴿يُبَيِّنُ لَكُمْ﴾ یعنی دتورات انجیل ډیرحکمونه چه تاسوپټ کړی وو،هغه ښکاره بیانوی،اوډیرونه عفو درگزرکوی،یعنی چه کوموخبروته ضرورت دې اوتاسوپټې کړیدی نوهغه بیانوی، ﴿وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ﴾ اونورې ډیرې خبرې چه تاسوپټې کړیدی اوخیانت موکړیدې لیکن هغې ته په دین کښې ضرورت نشته دې نودهغې اظهارصرف تاسودرسوائی اواظهارِخیانت دپاره نه کوی،اگرچه نبی صلی اللہ علیه وسلم ته ستاسودخیانت علم شته دې

«**فائده**» دعلماءحق دپاره هم په دې طریقه تلل پکاردی چه صرف دچارسواکولواومغلوب کولودپاره دچاقبائح نه بیانوی بلکه مقصود دې ئې صرف اظهارِحق وی،اوبلاتحقیقه د تعصب اوضدپه وجه دې په علماؤباندې دمشرک فتوی یادحق پټوونکی فتوی نه لگوی، (والی اللہ المشتکی).

﴿قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ﴾ داترغیب دې اتباع دقرآن ته پس دترغیب نه اتباع درسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم ته.دلته دقرآن دوه صفتونه ذکرشویدی،اول «نور» یعنی قرآن نوردې په دې سره حق واضحه کیږی اوظلمات دکفراوجهل پرې زائله کیږی،په سورتِ نساءآیت نمبر«۱۵۷» کښې دی ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا﴾ اوپه سورتِ تغابن کښې دی «۸» ﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالنُّورِ الَّذِي أَنزَلْنَا﴾ . اودویم صفت ئې ﴿وَكِتَابٌ مُّبِينٌ﴾ داعطفِ تفسیردې دنوردپاره،مقصود دکتاب دوه صفتونه بیانول دی،اول داچه «نور» دې دویم داچه «**مبین**» دې یوبل قول دادې چه د«نور» نه مراداسلام دې،اوبل قول دادې چه دنورنه مراد رسول پاک صلی اللہ علیه وسلم دې،لیکن ددې نه داثابتول چه ذات د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم نوردې اوبشرنه دې نودازیع اوجهالت دې،اوتعصب دې،کوموفسرینوچه دنورتفسیرپه ذات درسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم سره کړیدې هغوئ هم داتصریح کړیده چه دا«نور» وصف دې.لکه بشیر.نذیروصف دې.نوددې نه نفی دبشریت محضِ تعصب اوجهالت دې.صاحب دمدارک وائی.(اوالنورمحمدصلی اللہ علیه وسلم لانه یهتدٰی به کمایهتدٰی بالنورفی الظلام کماسمٰی سراجاً) سراج دنبی صلی اللہ علیه وسلم په اسماؤکښې دې لیکن وصف دې،ذات ئې سراج نه دې دغه شان نورروصف دی،ذات نه دی .

(فائده) داهل بدعت نه چه دا تپوس وشی چه تاسو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته نور وایئ. نو آیا د دې مطلب دادې چه دهغه بدن مبارک، دلحم، عظم، دم نه مرکب نه وو، صرف عرض وو. یابل څه مطلب دې نودوئ ته بیاهم څه علم نه وی، لاجواب وی، ﴿ يَهْدِي بِهِ اللّٰهُ ﴾ ضمیرد مفرد(به) قرینه ده په دې باندې چه دنور اوکتاب مبین نه مراد یوشیزدې، که جدا جدا ترینه مرادوې نو (بهما) وئیل پکارؤو، په دې کښې دقرآن منافع بیانیږی.

﴿ سُبُلَ السَّلٰمِ ﴾ سلام یا په معنی مصدری سره دې یعنې لارې دسلامتیادعذاب نه. اومراد د سُبُل نه اعمال اواحکام دی، یاسلام اسم دې داسماؤدالله تعالی نه اوداواضع داسم ظاهرده چه په ځائې دضمیر. ﴿وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمٰتِ﴾ مراد دجهل اودکفرظلمات دی. ﴿بِإِذْنِهِ﴾ (ای توفیقه). ﴿وَيَهْدِيهِمْ﴾ دلالت موصله مراد دې.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قُلْ فَمَن

خامخاپه تحقیق (١) سره کافر دې هغه خلق چې وائی بېشکه الله خو مسیح خوئې دمریم دې، ته ورته اووایه نوڅوک

يَمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَن

اختیارلری دالله نه دڅه څیز دانتقام، که اوغواړی چې هلاک کړی خوئې دمریم اومور دهغه اوهغه څوک

فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ۗ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا

چې په زمکه کښې دي ټول ، اوخاص الله لره بادشاهی ده د آسمانونو او د زمکې اودهغه څه

بَيْنَهُمَا ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

چې ددوئ دواړو په مینځ کښې دی، پیداکوی هغه څه چې اوغواړي، اوالله په هرڅیز باندې قادر دې

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا ﴾ داد(قدجاءكم رسولنا) سره متعلق دې او اول حکم دې یعنی تاسوته زمارسول صلی الله علیه وسلم راغلې دې چه صاف صاف حکم کوی، فتویٰ ورکوی چه یقینًا بلاشبه هغه خلق کلک کافردی چه داوائی چه

١ داد (قد جاء كم رسولنا) سره متعلق دې یعنې رسول دا وائی چې یقینًا کافر دې هغه خلق چې وائی چې الله ﷻ نه په شکل دعیسی ﷺ کښې راغلبدې یا ئې عیسی ﷺ ته د خدائی اختیارات ورکړی دی

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ﴾ ددې دوه مطلبه کیدې شي یو داچه د الله نه مراد متصرف فی الامور، حیوة ورکوونکې. موت ورکوونکې. دعالم تدبیرکوونکې نو دالله تعالی نه مراد وصف مشهوردې، لکه صاحب دروح المعانی دراغب نه نقل کړیدی چه جمع شوه یو طائفه دعلماؤدبنی اسرائیلو نه او وې وئیل چه (اتعلمون انّ احدا یحیی الموتی الاالله، فقالوا: اتعلمون احدا یبرئ الاکمه والابرص الاالله، قالوا لا: نوځکه دوئ اووئیل (ان الله هوالمسیح ابن مریم) دویم مطلب داچه الله تعالی حلول کړیدې په عیسی علیه السلام کښې، دې فرقې ته حلولیه، یعقوبیه وئیلې شي.

﴿قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ﴾ داد دغه مذکورقول د (ان الله هوالمسیح ابن مریم) رد دې په څلوروجوهٔ سره. دا اوله وجه ده. حاصل ئې دادې کچرته الله تعالی وغواړی چه عیسی علیه السلام بلکه تمام جهان په یوان کښې هلاک کړی نوڅوک ئې منع کولې شي، داخبره خوعیسایان هم مني. نوهرکله چه عیسی علیه السلام سره دتمام جهان نه خپل ځان نشی بچ کولې دهلاکت نه نوهغه څرنګه اله جوړیدې شي.

(**فائده**) بعضې اهلِ علمو دا آیت دلیل ګرځولې دې په حیوة دعیسی علیه السلام باندې، ځکه حه د ﴿إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ﴾ نه معلومه شوه چه عیسی علیه السلام نه دې مړ. ځکه چه دمړ دمړ کولو اراده هیڅ معنی نه لری نوپه دې باندې قادیانانو اعتراض کړیدې چه بیاپکارده چه دمورد عیسی علیه السلام دې هم نه وی هلاکه (مړه) شوې ځکه چه (**وامه**) عطف دې په (**المسیح**) نو اهلِ سنتوجواب کړیدې چه وامه په حذف دمعطوف سره دې (ای وقداهلک امه) یعنی که الله تعالی اراده اوکړی دهلاک دعیسی علیه السلام، اونمونه ئې موجوده وه چه مورئې هلاکه شوې مړه شوې ده. لیکن حضرت شاه انورشاهِ صاحب رحمه الله فرمائی چه (**وامه**) کښې واوپه معنی دمع سره دې یعنی که الله تعالی اراده اوکړی دهلاک دعیسی علیه السلام اودمورددهٔ سره دتمام جهان نه نوڅوک به ئې منع کړی. نودلته مقصود داثبات دعجزدعیسی علیه السلام اودتمام مخلوق دې، اوقانون دادې چه په مفعول معه کښې تعلق دفعل دمجموعی سره وی او دا جزاؤسره نه وی، اوظاهره ده چه مجموعه خونده هلاکه. لیکن تعلق دفعل دجزءسره مقصود نه دې نودادلیل نه دې په حیاة دعیسی علیه السلام باندې. ﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ دا دویمه وجه ده چه متصرف اوچلوونکې دنظام دزمکې او آسمان او د مابینهما صرف الله تعالی دې نه عیسی علیه السلام، اونه مورددهٔ. نو عیسی علیه السلام څرنګه اله کیدې شي.

﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾ دادریمه وجه ده اودلته دحصرمعنی ده په قرینه داول دکلام نه یعنی

خالق صرف الله تعالى دي نه عيسىٰ عليه السلام ،نوهغه اله نه دي،

﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ داخلورمه وجه ده اودلته هم دحصرمعنى ده يعنى قدرت كامله په هرخيزباندي صرف دالله تعالى دي نه دعيسىٰ عليه السلام ،اونه دموردده،نوهغه اله نشي كيدي

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ

اووائى (١) يهوديان اونصارى مونږ خامن (نازولي) دالله يو اودوستان دهغه يو، ته ورته اووايه نوولې

يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ

عذاب دركوي تاسوته په ګناهونو ستاسو، بلكه تاسو بنيادم يئ دجنس دهغه چانه چي پيداكړيدي الله

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ

بخښنه كوى هغه چاته چي ئې خوښه شي اوعذاب وركوى هغه چاته چي ئې خوښه شي، اوخاص الله لره

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾

بادشاهى ده دآسمانونو اودزمكي اودهغه څه چي په مينځ ددواړو كښې دى، اوخاص هغه ته ورګرځېدل دى

﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى﴾ داشكوه ده چه احباراورهبان پخپله هم ارتكاب دشرك كوى اونورخلق هم په شرك كښې مبتلاكوى په عواموباندې دخپل تقدس اوبزرګئ منلو دپاره دوه كارونه كوى يوداچه عيسىٰ عليه السلام اوعزير عليه السلام ته ابن الله وائى اودويم داچه خپل ځان ته ابناءالله احباءالله وائى،لكه په موجوده دوركښې بعضِ خلق داولياءالله په باره كښې دومره افراط اوكړى چه حد دالوهية ته ئې اورسوى اومقصودئې خپله بزرګى اوتقدس قائمول وى.نو بيادهغوئ سره دمحبت دعوىٰ،اودمريدئ دعوه اوكړى،دغه شان يهوديانواونصاراؤ

وئيل چه ﴿نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ﴾ په دې كښې متعددتوجيهات دى،(١) كلام په تشبيه باندې مبنى دې يعنى الله تعالى په مونږباندې دپلارپشان شفقت كوونكې دې اومونږ يې خواص او مقربين يو.پشان دخامنو،(**واحباءهُ**) عطفِ تفسيري دې،يعنى الله تعالى زمونږپه ګناه كولودومره نه ناراض كيږى څومره چه دنوروخلقوپه ګناه كولوناراض كيږى.(٢) دتورات

---

١ شكوي

انجیل په اصطلاح کښې ابن.تابعدار اومقرب اودوست ته وئيلې کيدلو.(۳) په دې کښې حذف دمضاف دې (ای نحن ابناء، انبیاءالله) (وهوخلاف الظاهر،روح) ، (۴) علامه سمعانی رحمه الله وائی چه يهودوپه تورات کښې ليدلی ؤو.(يا ابنآء احباری) (اې څامنودعلماؤزما) نودوئ تحريف اوکړو (يا ابناء ابکاری) سره.(اې څامنودجينکوزما) نوځکه ئې ځان ته ابناءالله اووئيل

﴿قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم﴾ دارد دې ددغه مذکورې عقيدې چه پلارخوخپلوڅامنوته عذاب نه ورکوی اودوست ته څوک عذاب نه ورکوی اوتاسوته خوالله تعالی عذاب په دنيا کښې هم درکړيدې په مسخ سره،قرده،خنازير،اوپه آخرت کښې به هم درکوی.لکه دوئ وئيل ﴿لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَةً﴾ اوپلارخپل اولادته تاديب ورکوی ليکن تعذيب نه ورکوی اوآخرت محل دتاديب نه دې اوپه دنيا کښې چه کوم عذابونه په دوئ واقع شوی ؤونوهغه هم دقبيلی د تاديب نه نه ؤولکه داظاهره ده،

اوپه مؤمنانوباندې په دنيا کښې چه کوم تکاليف مصيبتونه راځی نوهغه ذقبيلی دعذاب نه نه دی بلکه ابتلاء وی،چه په هغې سره عفوه دګناه راځی اورفع ددرجاتو کيږی.لکه په صحابؤرضی الله عنهم باندې په احداونوروموقعوکښې،اوپه حضرت حسين رضی الله عنه باندې اودارنګه په نوروصحابه کراموضی الله عنهم چه څومره مصائب راغلی دی نوداعذابونه نه دی بلکه ابتلاءګانې دی چه په هغې باندې دصبرپه وجه دهغوئ د درجاتورفع شويده ﴿بَلْ أَنتُم بَشَرٌ﴾ دادويمه وجه درده، يعنی تاسوبشر،مخلوق يئ،اوالله تعالی ذات واجب الوجوددې،نوستاسودالله تعالی سره مماثلت نشته دې او ولدوالدسره مماثل وی ﴿مِّمَّنْ خَلَقَ﴾ داصفت دبشرٌ دې،په اعتباردمتعلق مقدرسره (ای بشرکائن من جنس من خلقة الله تعالی من غيرمزية لکم عليهم) ﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ﴾ دادويمه وجه د درده،﴿وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ﴾ داتخويف دې. او څلورمه وجه درد ده،

يَٰٓأَهۡلَ	ٱلۡكِتَٰبِ	قَدۡ	جَآءَكُمۡ	رَسُولُنَا	يُبَيِّنُ	لَكُمۡ	عَلَىٰ	فَتۡرَةٖ

اې اهل کتابو! [۱] په تحقيق سره راغلېدې تاسوته رسول زمونږ واضح بيان کوی تاسوته په وخت د بنديدلو

۱ اعاده بعد عهد

مِّنَ الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْۢ بَشِيْرٍ وَّ لَا نَذِيْرٍ

درسولانو کښې چې بيا دا اونه وائی چې نه وو راغلې مونږ ته څوک زيرې راکوونکی، اونه ويرونکې

فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ

نوبس په تحقيق سره راغلې دې تاسوته زيرې درکونکې او يرونکې، اوالله په هرڅيز قدرت لرونکې دې

﴿ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ ﴾ داد بعدعهد دوجه نه ده ﴿قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا ﴾ اعاده ده.﴿يُبَيِّنُ لَكُمْ ﴾ مفعول به ئې مقدر دې (ای الشرائع والاحكام) يا (كثيرًا مماتخفون)

﴿عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ ﴾ (فترت) په اصل کښې د (فتور) نه ماخوذ دې.سست والې او انقطاع ته وائی. په عرف کښې زمانه دفترت دې ته وائی چه يونبی د دنيانه لاړشی اوعمل کوونکی په شرائعود هغه باندې څوک باقی نه وی اواثارئې منقطع شی اوبل نبی لانه وی راغلې.نوپه داسې وخت کښې شديد احتياج وی معلم اورهبرته،نوالله تعالی رحمة للعالمين دداسې سخت احتياج په وخت کښې مبعوث کړونودا داسې لوئې احسان اوانعام دې چه ددې نظيرنشته دې نوددې انعام قدراوشکريه اداکول ډيرضروری خبره ده،اوشکريه اوقدرکول ئې دادی چه په ده ايمان راوړئ اونصرت مددئې اوکړئ، دعيسی عليه السلام اودحضرت محمدصلی الله عليه وسلم په درميان کښې په زمانه دفترت کښې روايات مختلف دی په روايت دبخاری کښې (۶۰۰) شپږسوه کاله دی او په بل روايت کښې (کماقال السيوطی) (۵۲۰) پنځه سوه شپيته کاله دی اوپه بل روايت کښې (۵۴۰) پنځه سوه څلويښت کاله دی،اوپه يوروايت دبخاری کښې دی چه (ليس بينی وبينه نبی) چه د عيسی عليه السلام اودنبی عليه السلام په مينځ کښې نبی نه دې تيرشوې ﴿اَنْ تَقُوْلُوْا ﴾ دامفعول له دې.د (جاءكم) دپاره په اصل کښې (لئلاتقولوا) يا(كراهة ان تقولوا) دې. ﴿فَقَدْ جَآءَكُمْ ﴾ داعلت دې د محذوف دپاره چه (فلاتعتذرو).

﴿بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ﴾ يعنی دلوئې هادی حاجت ؤوچه هغه دبشارت اوانذارپه ذريعه غافلان بيدارکړی جاهلان خبردارکړی نوهغه بشيرنذيرراغې اواتمام حجت اوشواوعذر پاتې نشو.نو که بياهم څوک نه منی نوقادرذات به ورله سزاورکوی.

وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ

وكله چې اووئيل موسى قوم خپل ته اې خما قومه ياد كړئ نعمت دالله په تاسوباندې كله

جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّ اٰتٰىكُمْ مَّا

چې پيدا ئې كړه په تاسو كښې پيغمبران اوجوړ يې كړئ تاسو بادشاهان . او دركړې ئې دى تاسوته هغه نعمتونه

لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ

چې نه ئې دى وركړى هيچاته د خلقونه اې قومه خما داخل شئ زمكې پاكې ته هغه چې مقرر كړې ده الله

لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝۲۱

تاسو دپاره اومه واپس كيږئ په شاګانو خپلو(مه تختئ)ګنې شئ به تاوان والا

﴿ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ ﴾ حضرت الشيخ رحمه الله فر مائى يعنى دمسئلې بيانولونه بعدخاموش مه كيښنئ بلكه جهادكوئ اوحدودجارى كوئ اودترك جهادپه وجه به ذلت راځى لكه په بنى اسرائيلوباندې چه دجهادنه كولوپه وجه ذلت راغې.بعض حضرات داد﴿اوفوابالعقود﴾ سره متعلق وائى چه بنى اسرائيلوعده داطاعت دخپل نبى پوره نكړه نوذليل شو .

دلته چه كومه واقعه ذكرده.دهغې مختصربيان دادې چه هركله فرعون سره دلښكرنه غرق شواوبنى اسرائيل دغلامئ نه خلاص شو.نوالله تعالى دمزيدانعام وركولودپاره ورته حكم اوكړوچه خپل اصلى آبائى وطن شام چه په هغې باندې عمالقه قابض ؤو.جهاداوكړئ او دجهادپه ذريعه هغه حاصل كړئ.اودابشارت ئې ورته وركړوچه الله تعالى به تاسوته فتح دركوى.ليكن دوئ دجهادكولونه اعراض اوكړونوالله تعالى ورله سزاوركړه چه دڅلويښت كلونوپورې ئې په ميدان تيه كښې (صحرائې سينا) كښې قيدكړل.اوقيد داسې نه ؤوچه په لاسونوخپوكښې ئې ورله زنځيرونه اچولى ؤو.بلكه په كهلاؤميدان كښې ؤو.خومصرته په راتلوقادرنه ؤو.دصبانه دماښام پورې به ئې سفراوكړو مصرته دراتلودپاره ليكن ماښام به

[1] دمسئلې بيانولو نه بعد په ترك جهاد باندې دذلت اوله نمونه .

بیاهم په هغه ځائې کښې ؤوچه دکوم ځائې نه به ئې سفرشروع کړې ؤو،په دې دوران دځلوېښت کالو کښې حضرت موسی علیه السلام اوهارون علیه السلام وفات شو،اوبنی اسرائیل دغه شان په میدان تیه کښې حیران پریشان ګرځیدل بیاالله تعالی بل نبی پیداکړو،اودهغه په قیادت کښې نوی نسل جهاداوکړو،اوملکِ شام ئې فتح کړو،په موضع القرآن کښې شاه عبدالقادررحمه الله وائی چه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل آبائی وطن ملک عراق پرېښودلواودالله تعالی په لاره کښې ملک شام ته لاړو،هلته ئې دډیرې زمانې پورې اولادنه ؤو،بیاورته الله تعالی بشارت ورکړوچه ستا اولادبه زه په زمکه کښې خورکړم ملکِ شام به ورته ورکړم اوسلطنت اونبوت،اودین اوکتاب به په دوئ کښې اولرم،بیادموسی علیه السلام په زمانه کښې وعده پوره شوه،بنی اسرائیل دفرعون دغلامئ نه آزادشو،اودوئ ته ئې اوفرمائیل:چه جهاداوکړئ دعمالقؤسره ملک شام فتح کړئ نودابه همیشه ستاسووی الخ،حضرت موسی علیه السلام خپل قوم ته دجهادحکم نه قبل دترغیب ورکولودپاره دهغه انعاماتوتذکره کوی کوم چه الله تعالی په بنی اسرائیلوباندې کړی ؤو،

اول انعام دادې ﴿إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَآءَ﴾ داروحانی دینی انعام دې په یوقوم کښې نبی پیداکیدل دهغه قوم دپاره لوئې اعزازدې،اوهم دارنګه په یوخاندان کښې عالم اومتقی وارث الانبیاءپیداکیدل دخاندان دپاره اعزازاودینی انعام دې،په بنی اسرائیلوکښې انبیاءپه دومره کثرت سره راغلیدی چه په بل قوم کښې دومره نه دی راغلی،صاحب جلالین په یوځائې دځلور زرونه زیات لیکلی دی،امام حدیث ابن ابی حاتم په روایت داعمش سره نقل کړیدی چه صرف دموسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام په درمیانه دورکښې (۱۰۰۰) زرانبیاء دبنی اسرائیلو تیر شویدی اودویم انعام دادې چه ﴿وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا﴾ تاسوئې بادشاهان ګرځولی یئ،ظاهره ده چه هرسړې اوهرفرد دقوم خوبادشاه نه وی،بادشاه یوکس وی نوددې جملې دوه مطلبه بیان شویدی،یوداچه تاسوئې مالکان ګرځولی یئی یعنی دغلامئ نه ئې خلاص کړئ دخپل مکان جائیداد،نوکرانو،خاوندان ئې ګرځولی یئی،دویمه داچه کله بادشاه دیوقوم نه وی نو بادشاهی اوحکومت ټول قوم ته (یاپارټئ ته) منسوب کیږی،لکه وئیلې شی خلافت عباسیه، حکومت دبنوامیه،حکومتِ عزنوی،حکومتِ مغلیه،نوددې محاورې په بِناباندې ټولوبنی اسرائیلوته ملوکیت منسوب شو،اوپه دې کښې اشاره ده دې ته چه حکومتِ اسلامیه درحقیقت عوامی حکومت وی،

اودریم انعام دادي ﴿وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ﴾ ددې نه مرادهغه معجزات دی چه دوئ ته ښکاره شوی ؤولکه دګټې نه اوبوراوتل ﴿فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ **من، سلوی، غمام،** وغیره اودارنګه ددوئ معنوی شرافت عزت.چه دتوحیداود دین دعلمبرداریٔ په وجه دوئ ته حاصل شوي ؤو.د (عالمین) نه مراد ددغې زمانې قومونه.نسلونه مراد دی چه په شرک وهم پرستئ کښې مبتلاؤو.دامتِ محمدی صلی الله علیه وسلم سره تقابل مقصودنه دې.

﴿يَٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ﴾ ددې نه قبل آیت کښې تمهیداوترغیب ؤو.اوپه دې آیت کښې داصلِ حکم بیان دې یعنی حکم دجهاد.

(**ارض مقدسه**) پاکیزه اومبارکې زمکې په باره کښې دحضرت قتاده قول زیات راجح دې. هغه دادې چه ددې نه مرادزمکه دشام ده چه په هغې کښې بیت المقدس اودمشق فلسطین اوبعض حصه دأردن داخله ده.اودې ته ارضِ مقدسه ځکه وئیلې شویده چه دامسکن.مدفن دانبیاؤ دې.اودینی دنیوی برکتونه په کښې ډیردی،ملکِ شام اصل وطن ؤودیعقوب عليه السلام اوداولاد دده (بنی اسرائیلو)، په زمانه دیوسف عليه السلام کښې دوئ مصرته منتقل شو. دیوسف عليه السلام دوفات نه بعد دبنی اسرائیلود بدو اعمالوپه وجه فرعون په دوئ مسلط شواوډیره زمانه دوئ دفرعون په غلامئ کښې په سخت عذاب کښې تیره کړه اوپه ملکِ شام باندې عمالقه قوم مسلط شوي ؤو.نوبیاچه الله تعالی فرعون هلاک کړواوبنی اسرائیل دغلامئ نه آزادشونودوئ ته حکم اوشوچه ارض مقدس یعنی ملکِ شام دجهادپه ذریعه آزادکړئ.﴿الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ﴾ (کتب) په معنی دتقدیرسره دې،یعنی مقدره کړیده الله تعالی ستاسودپاره یاپه معنی دوعدې سره دې یعنی الله تعالی ستاسوسره وعده کړیده چه دازمکه به تاسوته درکوی،

اوکه څوک دا **سوال** اوکړی چه بیائې ورنه ولې ورنکړه اوپه میدان تیه کښې ئې څلویښت کاله ئې قیدکړل •

نو**جواب** دادې چه وعده ئې ورسره کړې وه په جهادسره اودوئ جهاداونکړو.یادمطلق بنی اسرائیلوسره ئې وعده شوې وه،دمخصوص افرادوسره نه وه.اود دوئ نه روستوبنی اسرائیلوته ئې ورکړه. یا (**کتب الله**) نه مراد دادې چه فرض کړې دې الله تعالی په تاسوجهاد، نو (**کتب**) په معنی د (**فرض**) سره دې.دابن عباس رضی الله عنه وغیره نه روایت دې چه په ملک شام اوبیت المقدس باندې په دغه وخت کښې دعمالقؤقبضه وه چه ډیرطاقتورقوم ؤو.نوالله

تعالی بنی اسرائیلو ته په واسطه دموسی علیه السلام د دوئ سره دجهادحکم اوکړو او دا خوشخبری ئي ورته هم ورکړه چه دشام زمکه ستاسودپاره لیکلي شویده اوفتح یقیني ده.نوموسی علیه السلام دحکم دتعمیل دپاره بنی اسرائیل دځان سره کړل اوملک شام طرفته روان شو.اوبیت المقدس ته نللو.کله چه نهراردن نه پوري شول اوښارد (اریحا) چه دیرقدیم ښارؤو.ته اورسیدل نوهلته ئي قیام اوکړو.اودبنی اسرائیلو دانتظام دپاره ئي (۱۲) دولس نقیبان مقررکړل.لکه مخکښي آیت کښي ذکرشو.اوداسرداران،نقیبان ئي مخکښي اولیږل.چه دهغه قوم معلومات حاصل کړی کوم چه په بیت المقدس باندي قابض ؤو.دوئ چه لاړل نوبیت المقدس ته داخل شوی نه ؤوچه بهر ددوئ سره یوسړي ملاؤشو،اوهغه یواځي دوئ ټول گرفتارکړل اودبادشاه مخي له ئي بوتلل. چه داخلق مونږسره دجنگ په غرض جاسوسان راغلی دی.نوبادشاه مشوره اوکړه چه دوئ ته سزاورکړوبیافیصله دا اوشوه چه دوئ آزادکړئ چه واپس لاړشي اودبنی اسرائیلو اودموسی علیه السلام په مخکښي زمونږدقوت اوطاقت ذکراوکړی چه مرعوب شي اوزمونږسره دجنگ کولو اراده ترک کړی،چنانچه هغوئ دوئ لره آزادکړل واپس راغلل اوموسی علیه السلام ته ئي حال بیان کړو،هغه ورته اووئیل چه دچادقوت اوطاقت نه مه متاثرکیږئ زمونږدپاره فتح یقیني ده.الله تعالی زمونږسره وعده کړیده،اوددغه قوم عمالقؤ حالات دبني اسرائیلو په مخکښي مه بیانوئ یعني دهغوئ دظاهری قوت اوطاقت تذکره بنی اسرائیلوته مه کوئ بلکه کمزوری ئي بیان کړئ،نوپه دوئ کښ دؤو کسانو په خبره عمل اوکړواوباقي لس کسانوعمل اونکړواوبنی اسرائیلو ته ئي دهغوئ دظاهری قوت اوطاقت تذکره اوکړه نوپه بنی اسرائیلوخوف راغي اوجهادته دتلونه ئي منع اوکړه.

فائده ابن کثیروائی چه بعضوئیلی دی هغه کس چه دادولس کسان ئي نیولی ؤو.دهغه نوم عوج بن عنق ؤو.اوهغه ولدالزناؤو.دبنتِ آدم علیه السلام اوپه طوفان نوح علیه السلام کښي بچ شوي ؤو.څکه چه دهغه طول (۳۳۳۳) دري زره دري سوه دري دیرش گزه ؤو.نوپه طوفان کښي اوبه دهغه گیټو پورې کو، ته رسیدلي وي اوپه بل روایت کښي دی چه قتل کړي ؤوده لره موسی علیه السلام. (۱۰) لس گزه موسی علیه السلام ؤو.(۱۰) لس گزه ئي همساوه.(۱۰) لس گزه ئي ټوپ اوکړونو دعوج پړکي ته اورسیدلوهغه ئي په توره اووهلو او مړ شواوپُل ترینه جوړشوچه دریوکال پوري پرخلق تیریدل.ابن کثیروائی داکذب افتراء ده.(یستحی من ذکره) البته عمالقه قوم بقایه دعادؤو.نو کیدي شي چه یوکس طاقتوردولس کسان نیولی وی.په یوروایت کښي

ابن کثیرو ئیلی دی چه هغه په خپل باغ کښې دبیت المقدس نه بهرؤونوچه دادولس کسان ئې اولیدل نو وې نیول او په لستونړی کښې ئې واچول او بادشاه ته ئې پیش کړل. والله اعلم.

﴿وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ﴾ او مه واپس کیږئ دجهاد نه دبزدلئ دوجه نه په خپلو شاګانو.

﴿فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾ جهاد چه فرض شی نو ترک ئې سبب دخسران دې بلکه دهرفرض ترک سبب دخسران دې

قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا

اوونیل دوئ ای موسی بیشکه پدې کښې قوم زورآور دی . او بیشکه مونږ چرې نه داخلیږو هغې ته تردې

حَتَّىٰ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ

چې اوخي دوئ دهغې نه. نوکه اووتل دوئ دهغې نه نو بیشکه مونږ به ورته داخل شو اوونیل دوو سړو

مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ

دهغه کسانونه چې دالله نه ئې یره کوله انعام کړې وو الله په هغوئ دواړوباندې رانوځئ پدوې باندې

الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللَّهِ

دطرفه د دروازې نه. نوکله چې تاسو ننوځئ په دروازه نو بیشکه تاسوبه غالب یئ . او خاص په الله باندې

فَتَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا أَبَدًا

توکل کوئ که تاسو مومنان یئ اوئیل دوئ ای موسی مونږ چرې نه داخلیږو دې زمکې ته هیڅ کله ترخوپورې

مَّا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴿٢٤﴾

چې دوئ په هغې کښې وی. پس لاړشه ته اورب ستا ، نوجنګ اوکړئ دواړه دهغوئ سره بیشکه مونږبه دلته ناست یو

﴿قَالُوا يَا مُوسَىٰ﴾ دابیان دخباثت دیهودو دې چه حضرت موسی علیه السلام ورته دومره تسلی او اطمینان ورکړواودوئ بیاهم سرکشی اوکړه اوجهادته دتلونه ئې انکاراوکړو ﴿جَبَّارِينَ﴾ جبارین هغه ته وائی چه دخلقونه خپل کارپه زورسره اخلی. هرکله چه په هغه دولسو کسانوکښې لسو کسانودموسی علیه السلام په خبره عمل اونکړو، اودعمالقۀ ظاهری قوت

اوطاقت تذکره بې دبنی اسرائیلوپه مخکښې اوکړه نودوئ بزدل او بې همته شواودجهاد نه نې انکاراوکړو.اوپه موسی علیه السلام ئې طعن اوکړوچه ته مونږدقتلولودپاره بیائې.﴿وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا﴾ دامسبب دې او﴿إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ﴾ ورله سبب دې،نودوئ عذراوکړودقتال نه انکارئې نه دې کړې ﴿قَالَ رَجُلَانِ﴾ :دا یوشع بن نون اوقالب بن یوقنادی، (رجلان) موصوف دې ﴿أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا﴾ داصفت ثانی دې د (رجلان) دپاره.اود انعام نه مراد دادې چه الله تعالی دوئ ته یقین اوتوفیق دصبرورکړې ؤو . ﴿ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ﴾ یعنی ددوئ سره قتال ګران نه دې تاسوصرف دروازې دښارته داخل شئ نوچه دوئ تاسواووینی نورعب به پرې راشی نودوئ به مغلوب شی اوتاسوبه غالب شئ، اوسبب دغلبې توکل دې.نوتاسوصرف په الله تعالی توکل اوکړئ.که چرته تاسومؤمنان یئ.

﴿فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا﴾ په دې کلام کښې دوه احتماله دی،یوداچه په دې کښې تاویل نه وی اوداقول په طوردتوهین سره وی یاپشان دقول دمشبهؤوی نوداکفردې.اودوئ په سبب ددې قول سره کافران شوی دی،دویم احتمال دادې چه په دې کښې تاویل اوشی او مقصود داوی چه تاسوجهادته لاړشئ اوستاسورب به ستاسومددکوی ستاسوسره به وی. (ولیعنک ربک). یا (ربک معک)،یادرب نه مشر رورمراددې،نوبیاداقول کفرنه دې،البته د مخالفت دامردوجه نه دوئ فاسقان شو،امام بخاری رحمه الله اونورومحدثینوپه قصه دجنګ بدرکښې:دحضرت مقدادرضی الله عنه قول ذکرکړې دې چه هرکله نبی علیه السلام دوئ ته دجهادترغیب ورکړونومقدادرضی الله عنه اووئیل (ترجمانی کوونکې دټولوصحابؤ) یارسول الله صلی الله علیه وسلم مونږتاته هغه خبره نه وایوکومه چه بنی اسرائیلوموسی علیه السلام ته کړې وه،(**فاذهب انت وربک فقاتلاانا ههنا قاعدون**) لیکن مونږوایو چه ته لاړشه هرخواته چه ستاخوښه وی اومونږستاسوسره یو،(نقاتل عن یمینک ویسارک) وفی روایة عن امامک وخلفک ویمینک اویسارک) نونبی صلی الله علیه وسلم ډیرخوشحاله شو،اوپه صحابؤکښې د جهادجوش پیداشو،حضرت عبدالله بن مسعودرضی الله عنه فرمائی چه مادحضرت مقدادرضی الله عنه داسې کارنامه لیدلې ده که چرته دغه سعادت ماته ملاؤشوې وې نودابه ماته دهرڅه نه زیات محبوب اوپسندوه،

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ إِلَّا نَفۡسِي وَأَخِيۖ فَٱفۡرُقۡ بَيۡنَنَا
اوونيل موسي يا ربه ! بېشکه څه واک اختيار نه لرم مګر دَ ځان خپل او د رور خپل، پس فيصله اوکړه په مېنځ زمونږ
وَبَيۡنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ۞ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡۛ
او په مېنځ دقوم نافرمان کښې ، اوفرمائيل الله چې بېشکه دا زمکه حرامه کړې شوېده په دوئ باندې
أَرۡبَعِينَ سَنَةٗۛ يَتِيهُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ۞
څلوېښت کاله ، حيران سرګردان به ګرځي په زمکه کښې ، پس مه خفه کېږه په قوم نافرمان باندې

﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ ﴾ موسى عليه السلام ډېر تنګ اوپريشان شونو وې وئيل چه يا الله زه خو مالک نه يم. مګر دخپل ځان او دخپل رور، يعنى ځما وس طاقت په خپل ځان او رورباندې دې په بل چانشته دې. دخپل ځان ملکيت نه مراد ظاهرى تصرف دې او د رور د ملکيت نه مراد دهغه اطاعت دې.

اوکه څوک **سوال** اوکړي چه اطاعت خوهغه دوه کسانو (يوشع او کالب) هم کولونو بيا دا حصرڅه رنګه صحيح دې، نو **جواب** ئې دادې چه موسى عليه السلام او هارون عليه السلام نبيان وُو، نو معصوم وُو د معصيت او نافرمانئ نه، او کالب بن يوقنا نبى نه وُو او يوشع عليه السلام هم په دغه وخت کښې نبى نه وُو. نو دهغوئ معصوميت يقينى نه وُو نو ځکه ئې حصراوکړو. او بعض وائى چه د ((اخى)) نه مراد (من يواخيني من الاتباع) دې، نو ټولو ته شامل دې. ﴿ فَٱفۡرُقۡ ﴾ فرق په معنى دفيصلې دې يعنى مناسب دحال فيصله اوکړه، نو دا سوال واردنشوچه موسى عليه السلام دجدائې سوال کړې وُو او الله تعالى اوفرمائيل ﴿ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ ﴾ نو سوال خو قبول نشو. نو جواب ئې دادې چه (فافرق) په معنى د (فاحکم) دې لکه دا مروى ده دابن عباس رضى الله عنه نه او بعض وائى چه مراد جدائى ده په آخرت کښې. او بعض وائى چه مراد جدائى دجماعت ده. نو هرکله چه موسى عليه السلام سوال اوکړو چه يا الله. ته هغه فيصله اوکړه چه مناسب وى دحال زمونږ سره نو الله تعالى هغه فيصله اوکړه چه دا زمکه مقدسه به په دوئ باندې (٤٠) څلويښت کاله حرامه او ممنوعه وى. د (محرمة) نه مرادلغوى تحريم دې يعنى منع دخول نه ﴿ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗ ﴾ دا متعلق دې د (محرمة) سره يا د (يتيهون) سره. يعنى څلويښت کاله دوئ منع کړې شوى وو د داخليدلو نه

یا څلویښت کاله دوئ حیران سرګردانه ګرځیدل په میدانِ تیه کښې، دافیصله د دوئ دحال سره مناسب وه ځکه چه دوئ وئیلی ؤو ﴿اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ﴾ نوالله تعالی دغه ځائې کښې قید (نظربند) کړل. چه نه مخکښې ملکِ شام ته تللې شواونه واپس مصرته راتلې شو، اوداخرقِ عادت ؤو. ځکه میدانِ تیه محدودمیدان ؤو. اوبنی اسرائیل ټول عقلاء اواصحابِ دحواسوسلیموو اوپه کثیرتعداد کښې وو، اودومره ډیرخلق په دومره ډیرمُدة کښې په یو داسې محدودمیدان کښې چه عَلامات سفلی غرونه کندې وغیره اوعلامات علوی، شمس قمرستوری. چه په دې سره جهات معلومول ډیرآسان دی، داخلاف عقل اوخرق عادت دې. اوابن کثیروائی چه هرکله موسی علیه السلام دوئ ته بد دعا اوکړه کله چه دوئ جهادته دتللونه انکاراوکړو. نوالله تعالی حکم اوکړوچه دازمکه په دوئ باندې حرامه ده څلویښت کاله نودوئ په میدانِ تیه کښې پاتې شو. همیشه به دوئ تلل خوبهردوتلولاربه ئې نه موندله، اوپه دې کښې امورعجیبه اوخوارق کثیره ؤو (تظلیل بالغمام) (دوریزې سورې) (من)، (سلوٰی) نازلیدل. اودګټې نه اوبه راوتل دولس چینې وغیره معجزات اووفات دموسی علیه السلام اودهارون علیه السلام هم په میدانِ تیه کښې شویدې، اوڅه زمانه بعدبیا حضرت یوشع علیه السلام نبی شواودبنی اسرائیلونوې نسل راپیداشو، هغوئ جهاداوکړو، شام ئې فتح کړو.

سوال واردیږی چه بنی اسرائیلوته خودنافرمانئ په وجه سزاملاؤشوه نوموسی علیه السلام او هارون علیه السلام ولې قید کړې شو؟ **جواب** ئې دادې چه دموسی علیه السلام اودهارون علیه السلام په میدانِ تیه کښې اوسیدل په طورد سزاسره نه وو بلکه په طوردنګرانئ اوفریضه تبلیغ تعلیم کولوقوم ته ؤو. لکه په جیل کښې قیدیان قیدوی، اودجیل افسردهغوئ نګرانی کوی نوهغه خپله فریضه (ډیوټی) پوره کوی داسې نه چه هغه هم قیدوی،

په میدان تیه کښې دبنی اسرائیلودپاره داوبو، خوراک، من سلوٰی، اودنُوَرْ دګرمئ نه د بچ کیدلودپاره غمام. ذکرپه قرآن کښې شته دې لیکن دلباس ذکرپه قرآن اوصحیح حدیث کښې نشته دې. بعض مفسرین وائی چه نقل دې دبعض اهلِ کتابونه چه بنی اسرائیل چه مصر نه تلل نوځان سره ئې ډیرې کپړې وړې وې اوبعض مفسرین وائی چه ددوئ کپړې به نه خیرنې کیدلې اونه به زړې کیدلې. اوبچی به چه غټیدل نوکپړې به ورسره اوګدې کیدلې. بچې به چه پیداکیدلونوکپړې به ورسره وې، لیکن ددې څه صحیح سندنشته دې صاحب دروح المعانی لیکی (وذکرغیرواحدمن القصاص انهم کانوا اذا وُلِدَ لهم مولودکان علیه ثوب کالظفر یطول بطوله

ولايبلى ، الى غيرذالک مما ذکروه، والعادة تبعد کثيرامنه فلايقبل الاماصح عن الله ورسوله صلى الله عيه وسلم) ﴿يَتِيهُونَ﴾ دتيه نه ماخوذدي.حيرانتيااوپريشانئ ته وئيلي شي.په ترک جهادسره ددوئ ژوند پريشانه ؤو.نودوي وجه نه دغه مقام ته ميدانِ تيه وئيلي شي.

﴿فَلَا تَأْسَ﴾ حضرت موسى عليه السلام چه دافيصله واوريده نوطبعاً غمژن شوځکه چه دده گمان داؤوچه دوئ ته به معمولي غوندې تنبيه وركړې شي،نوالله تعالى ورته تسلي وركړه او وې فرمائيل چه سركشوته داسې فيصله مناسب ده.

وَاتْلُ	عَلَيْهِمْ	نَبَأَ	ابْنَيْ	آدَمَ	بِالْحَقِّ	إِذْ	قَرَّبَا	قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ

اوبيان[1] كړه دوئ ته خبره ددوؤ خامنود آدم په ربنتيا ، كله چې قرباني اوكړه دواړو جداجدا نوقبوله كړې شوه

مِنْ	أَحَدِهِمَا	وَلَمْ	يُتَقَبَّلْ	مِنَ	الْآخَرِ	قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ

ديوكس ددې دواړو نه (هابيل نه)، اوقبوله نشوه دبل نه (قابيل نه)، اوونيل (قابيل) خه به خامخاقتلوم تاله

قَالَ	إِنَّمَا	يَتَقَبَّلُ	اللَّهُ	مِنَ	الْمُتَّقِينَ ۝	لَئِنْ	بَسَطْتَ إِلَيَّ

اوونيل (هابيل)چې خبره داده بله نده چې الله قبلوى عملونه د اخلاص كوؤنكو نه كه ته راؤكده كړې ماته

يَدَكَ	لِتَقْتُلَنِي	مَا	أَنَا	بِبَاسِطٍ	يَدِيَ إِلَيْكَ	لِأَقْتُلَكَ

لاسونه خپل ددې دپاره چې مااوژنې نو نه يم خه اوكدوؤنكې دلاس خپل تاته ددې دپاره چې قتل كړم تا

إِنِّي	أَخَافُ	اللَّهَ	رَبَّ	الْعَالَمِينَ ۝	إِنِّي أُرِيدُ

بيشكه خه يريږم دالله نه چې پالوؤنكې دخلقو دې، بيشكه خهٔ اراده لرم (چې خان بچ كړم دگناه نه)

أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ۝

نوته به اخته شې په گناه (دقتل) خما اوپه (زور)گناه ستا نوشې به ته د اور والو نه، اودا (اور) سزا دظالمانوده

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ﴾ داد دبنمن په مقابله كبنې دخاموش كيبنناستلو.اودغه

۱- دويمه نمونه

دحملې د دفاع نه کولو نتیجه،اونقصان دپاره دویمه نمونه ده،

مراد د ((ابنی آدم)) نه صلبی اولاد دي چه دیونوم قابیل ووهغه مشروواودبل نوم هابیل ؤوچه کشرؤو،اوبعضوونیلی دی چه دادواړه په بنی اسرائیلوکښې ؤواود ((ابنی آدم)) نه صلبی نه دی مرادلیکن مفسرینودي قول ته ضعیف وئیلې دي،﴿بِالْحَقِّ﴾ معنی د (بالصدق) یعنی داسې نبا اوقصه چه پکښې کمې زیاتي،تغیرتبدیل دحقیقت نه.نه وی،اوپه دې کښې اشاره ده دیته چه په روایاتواوقصوکښې چه تغیرتبدیل راشی نوپه ځاې دمصلحت ترینه مفسده جوړیږی،نو ددې وجه نه اکثرپه قرآن کښې دقصې ذکرکولوسره (بالحق) ذکرکوی،سورة کهف کښې دی ﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ﴾ سورة مریم کښې دی ﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾

﴿إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا﴾ قربان اوقربانی،هغه څیزته وئیلې شی چه دهغې په ذریعې سره تقرب الی الله حاصلیږی ذبیحه وی اوکه غیرذبیحه وی،

ددې قربانۍ دپیش کولوسبب څه ؤو؟ په دې کښې مشهورقول دمفسرینوچه ابن کثیر وغیره دابن عباس رضی الله عنه اوعبدالله بن مسعودرضی الله عنه نه نقل کړیدې په متعددوسندونوسره اوپه بعضوکښې ئې تصریح کړیده اسنادجیدسره،هغه داده چه هرکله حضرت آدم علیه السلام اوحواء دنیا ته راغلل اودتوالد ،تناسل سلسله شروع شوه نودهرحمل نه به په یوځل دوه بچی پیدا کیدل یو هلک یوه جینۍ نودادواړه به خپل منځ کښې خور اوروروواود دوئ نکاح به دیوبل سره حرامه وه،اوچه بل ځل دبل حمل نه به هلک جینۍ پیدا شونوهغوئ به په یوبل حرام ؤو.لیکن په شریعت دآدم علیه السلام کښې به دضرورت دوجه نه داخصوصی حکم ؤوچه داول حمل هلک اود دویم حمل جینۍ اودارنګه ددویم حمل هلک اوداول حمل جینۍ دابه محرم نه ؤواونکاح به ئې جائزوه،نوقابیل چه پیدا شونودهغه سره دهغه خورچه نوم ئې اقلیماؤوپیدا شوه اوهغه ښائیسته وه بیاچه هابیل پیدا شونودهغه سره دهغه خورچه پیدا شوه نوهغه بیکاره بدشکله وه نوهرکله چه دنکاح وخت راغې نوقابیل اووئیل چه زه خپله خورپخپله نکاح کوم ځکه چه دا ښائیسته ده،اودهابیل خورنه کوم دابدشکله ده،اوهابیل اووئیل چه تاسره پیدا شوې خورسره به زه نکاح کوم اوځماسره پیدا شوې خورسره به ته نکاح کوې.نوددوئ دجګړې ختمولودپاره آدم علیه السلام داسې فیصله اوکړه چه تاسودواړه خپله خپله

قربانی پیش کړئ نو دچاقربانی چه قبوله شوه نو هغه به په حقه وی،نو هابیل چه قربانی پیش کړه نو په خپل مال کښې ئې بهترین ګډ صدقه کړواو قابیل زمیندار وو،نو ردی او کمزورې غنم بیزه،یی په صدقه کښې پیش کړل نو دهابیل صدقه قبوله شوه، او په دغه وخت کښې دقبولیت علامه داوه چه دغیب نه به اور راغې او صدقه به ئې اوسیزله،دابن کثیر رحمه الله وغیره په روایت دابن عباس رضي الله عنه کښې دی چه دغه ګډ الله تعالی په جنت کښې محفوظ کړواودحضرت اسماعیل علیه السلام په فدیه کښې بیا راغې،نوهرکله چه د هابیل صدقه قبوله شوه نوقابیل ناکام اورسوا شونوضدحسداوغصه ئې زیاته شوه اودروریه قتل آماده شو،ابن کثیریوبل اثردابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیدې چه هغه په دې دلالت کوی چه دقربانئ کولو سبب دغه نه ؤوچه مخکښې ئې تفصیل ذکرشو،بلکه په دغه دورکښې مسکین نه ؤوچه صدقه به ورته ورکولې شوه بلکه صدقه به په دې طریقه کیدله چه چابه خپله صدقه بهر کینښودله اودغیب نه به اور راغې اوهغه به ئې اوسیزله نودغه به قبوله وه،نوقابیل اوهابیل دواړوصدقې اوکړې بغیردخه سبب نه نودهابیل صدقه قبوله شوه اودقابیل قبوله نشوه.ابن کثیروائی (وهوظاهرالقرآن) یعنی دصدقې دپاره بل څه سبب نه وو.

﴿قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ﴾ داقول دحسدپه وجه دې اهلِ علموویلی دی چه حسدواله ګناه اول په آسمان کښې ابلیس کړیده،دآدم علیه السلام سره اوپه زمکه کښې اول حسدقابیل کړیدې دخپل رور سره،بیادحسدواله بیماری ډیره پیداشوه په بنی اسرائیلوکښې اودې امت ته آهسته آهسته منتقله شوه،حسداوکبر،دانسان دپاره داسې مهلِک روحانی بیماری ده چه ډیرې نورې روحانی بیمارئ ترینه پیداکیږی،ظلم،حق تلفی قطع رحمی،قتل،بلکه په بعضِ اوقاتوکښې کفرته سرې اورسوی اوحفاظت ترینه صرف دالله تعالی په فضل سره کیدې شی،(اللهم احفظنا) دحضرت تهانوی رحمه الله په یوملفوظ کښې دی چه حسدپه نفس کښې غیراختیاری طورسره پیدا کیږی،اوانسان په دې کښې کله معذوروی،کله ماجوروی،اوکله مازوروی،غیراختیاری طور سره چه حسدپیداشی نوانسان په کښې معذوردې،نوکه دحسددمقتضی مطابق ئې عمل اونکړوبلکه خلاف ئې اوکړونوماجورشو،اوکه دحسد دمقتضی مطابق ئې عمل اوکړونو مازور(ګناهګار) شو (اوکماقال) ﴿قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ هابیل قابیل ته اووئیل چه داستاقربانی چه نه ده قبوله شوې نوپه دې کښې څماڅه نقصان دې داخوستادخپل ذات دنقصان دوجه نه قبوله نشوه،هغه داچه الله تعالی متقینویعنی مخلصینونه عمل قبلوی اوپه

ناکښې اخلاص نه ؤو .نوآيانه دخپل جرم په وجه ماقتلوې.انصاف خودادې چه که ماڅه جرم کړې وې نوماته دهغې سزا راکول مناسب ؤو .ليکن چه جرم ستاخپل دې اوسزائې ماته راکوې نوداعجيبه خبره ده.اوپه دې جمله کښې اشاره ده علاج دحسدته.هغه داچه حاسدچه کله اووينی چه زه دهغه نعمت نه محرومه يم چه فلانی سره دې نوپکارده چه خپل محرومئ سبب خپل ګناه اوعمل کمزوری اوګنړی،نوتوبه دې اوکړی.

﴿ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ ﴾ لاس اوګدول کنايه ده داظهارارادې دقتل نه.يعنی که ته څماد قتل عملی کاروائی هم شروع کړې نوزه تانه قتلوم.اګرکه په دې صورت کښې ستاقتلول جائز دی ليکن احتياط ترک قتل دې لکه په حديث دابوداؤدکښې دی دسعدرضی الله عنه چه په وخت دفتنه کښې که څوک څماکورته داخل شی څمادقتل دپاره.(نوڅه به کوم) نورسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل (کن کخيرابن آدم) دخپل ځان اوعيال اومال دحفاظت اومدافعت دپاره دظالم قتلول جائزدی په حديث کښې په دې تصريح راغلې ده البته دفتنې په دورکښې ترک اولی دې لکه په حديث د(کن کخيرابن آدم) کښې.اوعمل دعثمان رضی الله عنه ددې باب نه دې.اوکه دينی مصلحت ؤو. نوقتل دظالم واجب دې په دليل دحديث دمسلم وغيره سره اوپه دليل ددې آيت سره ﴿فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي﴾ اوعمل دعلی رضی الله عنه ددې قبيلې نه دې. ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ﴾ دا تعليل دې د ﴿مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ﴾ دخوف دالله تعالی وجه نه انسان احتياط کوی.اواشاره ده ديته څوک چه قتل کوی نوهغه دالله تعالی نه خوف نه لری.﴿إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ﴾ دادويم تعليل دې د ﴿مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ﴾ دپاره. **سوال** واردېږی چه اراده کول دچادګناهګارکولو جائزنه ده نوهابيل څه رنګه وائی، (**انی أُريد ان تبوء باثمی**).

جواب ئې دادې چه اراده په خپلې حقيقی معنی سره نه ده بلکه داکنايه ده.دانقياداواستسلام نه يعنی که ته ماقتلوې نوزه ديته تياريم چه قتل شم اوديته نه يم تيارچه تاقتل کړم.ليکن که ته ماقتل کړې نوخمادقتل ګناه اونورګناهونوبه تاباندې بوج شی اوجهنمی به شې.بعض مفسرين وائی چه مفعول به د (اُريد) محذوف دې.(ای اريدان الاعصی الله،يا،ان لااقتلک وان ظلمتنی فتبوء باثمی الخ).

فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝ فَبَعَثَ ٱللَّهُ

نو خانسته کړو هغه ته نفس دهغه قتلول درور خپل نوقتل يی کړو هغه نو شو د تاوان والو نه نوراوليږو الله

غُرَابًا يَّبۡحَثُ فِى الۡاَرۡضِ لِيُرِيَهٗ كَيۡفَ يُوَارِىۡ سَوۡءَةَ اَخِيۡهِ ؕ

یو کارغه کښتل ئې کول په زمکه کښې ددې دپاره چې اوښائ ده ته چې څرنګه پټ کړی جثه (لاش) د رور خپل

قَالَ يٰوَيۡلَتٰۤى اَعَجَزۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ مِثۡلَ هٰذَا الۡغُرَابِ فَاُوَارِىَ سَوۡءَةَ

اووئیل ده هائې ارمان دې؛ آیا خه عاجزشوم ددېنه چې شم دې په شان د کارغه چې پټ کړم جثه (لاش)

اَخِىۡ‌ ۚ فَاَصۡبَحَ مِنَ النّٰدِمِيۡنَ ۛ ۚ‏

د رور خپل ، نوشو دې د حېرانو (پښیمانو) نه

﴿فَطَوَّعَتۡ لَهٗ نَفۡسُهٗ﴾ (طَوَّعَتۡ) په معنی د (زَيَّنَتۡ، سَهَّلَتۡ) سره دې.یعنی نفس اماره ورته دا خبره ښائیسته اوآسانه کړه چه خپل رورقتل کړی اګرکه داقبیح اوګران کارؤو.نفس اماره داسې کوی چه دګناه ګران کارسړی ته آسان کړی اوقبیح ورته ښائیسته کړی.

﴿فَقَتَلَهٗ﴾ خپل رورئې قتل کړو.دابن مسعودرضی الله عنه اوبعض نوروصحابؤنه مروی ده چه قابیل هرکله چه اووئیل چه زه به تاقتلوم نوهابیل ترینه بیرته شواولاړوغرونوته اوخپلې بیزې وغیره ئې څرولې.نوچه اوده شونوقابیل راغې یوغټ کانړې ئې ورله په سرباندې راګوزارکړو اوشهیدئې کړو.ابن کثیراونوروفسرینووئیلی دی چه حضرت آدم عليه السلام په دغه وخت کښې حاضرنه وو. تللې وومکې ته.مکې ته دتللوپه وخت کښې ئې آسمان ته اووئیل (احفظی ولدی بالامانة) څماداولاد حفاظت کوه په امانت سره.نوآسمان ترینه انکاراوکړودغه سې غرونوته ئې اووئیل نوهغوئ انکاراوکړواوزمکې ته ئې هم دغه شان اووئیل نوزمکې هم انکاراوکړو.نو قابیل ته ئې اووئیل نوداووئیل چه (نعم) لاړشه اوواپس به راشی اوخپل اهل به داسې اوموميې چه ته به خوشحاله ئې.نوآدم عليه السلام لاړو.اودوئ دواړوچه قربانی ورکړه نودهابیل قربانی قبوله شوه اودقابیل قبوله نشوه.نودحسدشروع کړواوورورئې قتل کړو.

﴿فَاَصۡبَحَ مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ﴾ یعنی په دنیااوآخرت دواړوکښې نقصان مندشوپه دنیاکښې خسران دادې چه مورپلارترینه خفه شواوبې روره پاتې شو.صاحب دروح المعانی په روایت دنعیم بن حمادسره دعبدالرحمان بن فضاله نه نقل کړیدی چه دقابیل عقل اوخیره مسخ شو بدحواس شواوپه دې بدحواسئ اوپریشانئ کښې مرشو.اوپه بل روایت کښې دی چه

(اسودلونه كان ابيض) بعض مفسرين وائى چه قابيل په حالت دكفركښې مړدې (لقوله تعالى فتكون من اصحاب النار) ليكن راجح قول دادې چه كفرقريب زمانى دنوح عليه السلام نه شروع شويدې اوقابيل گناهگارؤو،ليكن كافرنه ؤو،او(اصحاب النار) عاصى ته هم وئيلې شى.اواخروى خسران دادې چه الله تعالى ترينه ناراض شواومستحق دنارشو،په حديث دصحيحينووغيره كښې دى چه په دنياكښې څومره دناحقې قتل كيږى نودقابيل په هرناحق قتل كښې پوره حصه دگناه ده ځكه داول بنياددقتل بغيرحقٍ ده ايښودلې دې

﴿فَبَعَثَ اللَّهُ غُرَابًا﴾ هركله چه خپل رورئې قتل كړونوبياد دفن كولوڅه طريقه ورته نه وه معلومه ځكه چه ددې نه مخكښې په انسانانوكښې څوک نه ؤومړشوې.نوڅه زمانه ئې اوگرځولو.نوبياالله تعالى غراب راوليږلواودبل مړغراب دپاره ئې زمكه اوكنستله اوهغه ئې په كښې دفن كړو.نوقابيل طريقه ازده كړه نودغه شان كارئې دخپل رورسره اوكړو.

﴿يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ﴾ (اى يحفر) بحث تفتيش ته وائى مطلقاياتفتيش په خاوروكښې.ابن جريراوعبدبن حميددعطيه نه روايت نقل كړيدې چه الله تعالى دوه غرابه راؤليږل نويوبل لره قتل كړو،اوبعضووئيلى دى چه احدالغرابين مخكښې نه مړؤو،نوبل ورته زمكه اوكنستله او خخ ئې كړويه كښې اوبعضووئيلى دى چه دا دواړه فرښتې وې په شكل دغرابينوكښې (روح) اوپه غراب سره تشاؤم (بدفالى) كيږى نودامناسب ؤوددې قصې سره (روح).

﴿لِيُرِيَهُ﴾ لام متعلق دې د (بعث الله) سره،ياد (يَبْحَثُ) سره.(سَوْءَةَ) جسد دميت ته وائى.او بعضووئيلى دى چه هغه جسدته وائى چه متغيرشوې وى.اودژوندې دبدن هغه حصه چه دهغې ښكاره كول عيب وى،يعنى عورت. هغې ته سوءت وئيلې شى.

﴿قَالَ يَٰوَيْلَتَىٰٓ﴾ داپه اصل كښې (وَيْلَتِىْ) دې ياء دمتكلم په حالت دنداءكښې كله په الف سره بدليږى. (ويل) په اصل كښې دهلاكت په معنى سره دې،اواستعمال ئې دافسوس دپاره كيږى. او استفهام په (أَعَجَزْتُ) كښې تعجبي دې.تعجب كوى دخپل عدم تدبيرنه.

﴿فَأَصْبَحَ مِنَ النَّٰدِمِينَ﴾ مدارک وائى چه (نادمين) په معنى د (متحيرين) سره دې.اونور مفسرين وائى چه داپه معنى ښيمانئ سره دې ليكن ندامت په گناه.اوپه خلاف كولودحكم دالله تعالى نه.نوبه وى لكه په حديث كښې دى (الندامة توبة) اودقابيل ندامت په دې خبره ؤو.چه څه تدبيرورته نه ؤومعلوم د دفن كولو.ندامت ئې په گناه نه ؤو.صاحب دروح المعانى

وائی چه ندامت دده په خپل امر کښې دَ حیرانتیا د وجهې نه وو.اودوي نه چه (۴۰) ځلوینښت ورځې یایوکال یازیات ددې نه ئې په اوګه باندې ګرځولو،چه دآدم علیه السلام دراتلونه مخکښې ئې زه چرته پټ کړم.

مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ

په وجه ددې واقعې. فرض کړو مونږ په بني اسرائیلو چې بیشکه چاچې قتل کړو یو سړي بغیر دبدل دبل سړی نه

اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ۭ وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا

یابغیر دفساد نه په زمکه کښې، نو ګویا که قتل ئې کړل خلق ټول، او چاچې بچ کړویوتن نو ګویاچې بچ ئې کړل

النَّاسَ جَمِيْعًا ۭ وَلَقَدْ جَاۗءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ۡ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ

خلق ټول. اوپه تحقیق سره راغلی وو دوئ ته رسولان زمونږ په ښکاره حکمونو سره. بیا بیشکه ډیر ددوئ نه

بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ۝

روستو ددې نه په زمکه کښې زیاتي کونکي دي

﴿مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ كَتَبْنَا﴾ حضرت الشیخ رحمه الله فرمائی (نقلاعن شیخه) چه ددې وجه نه چه په خاموش کیناستلو کښې ذلت دې،نو مونږ فرض کړو قتال او جهادنو مفعول به د (کتبنا) دپاره. (الجهاد).یا (القتال) دې.او عام مفسرین وائی چه مفعول به د (کتبنا) دپاره (القصاص) دې او (ذلک) اشاره ده واقعې مذکورې ته یعنی ددغې واقعې نه چه کوم مفاسد معلوم شو.نو ددې وجه نه مونږ قصاص فرض کړو.یعنی د دفعې د مفاسدو دپاره،اوشاه ولی الله رحمه الله وائی چه (من اجلِ ذلک) په معنی د (علی قیاس ذلک) سره دې یعنی قابیل چه کله قتل اوکړو.نو په حکم د (من سنَّ سنَّة سنية فعليه وزرها) سره دهرناحقه قتل په ګناه کښې دې حصه داردې،نو علی هذا القیاس په هره زمانه کښې چه چاناحقه قتل اوکړو ﴿فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا﴾ دا تشبیه په نفس معصیت کښې ده اګر که یوشدیداوبل اشددې.یامراد د (الناس جميعا) نه هغه ناس دی چه ددغه یو نفس قتل ذریعه او سبب اوګرځیدو دَ هغوئ د قتل.یعنی چاچه یونفس قتل کړواوداذریعه شوه دډیروخلقودقتل دپاره نو ددغه ټولودقتل ګناه ددغه یونفس دقاتل

يه ذمه دي

﴿وَمَنْ أَحْيَاهَا﴾ (داِحياء) نه مرادبچ كول دي دقتل نه اوتخصيص دبنى اسرائيلوپه دې وجه شويدې چه اول آسمانى كتاب تورات په دوئ نازل شوې ؤو. اوپه هغې كښې داحكم په كتابى شكل كښې موجودؤو. اود دوئ نه قبل په كتابى شكل كښې نه ؤواګركه حكم ؤو.

﴿وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ﴾ يعنى دومره ضديان اوحاسدان دى چه دټولورسولانونه چه دوئ ته راليږلى شوى ؤوئې خلاف كړې دې دوئ اسراف كوونكى دى.

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ
بېشكه سزا[١] دهغه كسانوچې جنګ كوى دالله سره اوددرسول دهغه سره اوكوشش كوى په زمكه (ملک) كښې
فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ
دفساد. داده چې قتل كړې شى دوئ ياپه سولئ كړېشي ياپرې كړېشى لاسونه ددوئ اوپښې ددوئ ادل بدل
أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ
يادې اوشړلې شى دزمكې نه. دا سزاګانې ددوئ دپاره رسوائى ده په دنيا كښې اودوئ دپاره په آخرت كښې
عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ عَلَيْهِمْ ۖ
عذاب لوئې دې مګر هغه كسان چې توبه ئې اوويستله مخكښې ددېنه چې وس برشي ستاسو په هغوئ باندې
فَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾
نو پوهه شئ چې بېشكه الله بخښونكې رحم كونكې دې.

﴿إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ﴾ يعنى دمسئلې بيانولونه بعدخاموش مه كېنئ بلكه جهادكوئ اوحدودجارى كړئ.

بعض مفسرين وائى چه داآيت په باره دعرنيينو كښې نازل شويدې چه هغوئ يوجماعت وو ايمان ئې راوړې وو اوبيامرتدشو. او اوښان ئې اوتښتول او راعى ئې قتل كړولكه دا

[١] يعنى خاموش مه كېنئ بلكه محاربينو او مفسدينو ته سزا وركړئ.

معروف حديث دي.اوبعض وائی چه دا په باره دكفارو كښي نازل شوي دي لكه دامام بخاری رحمه الله د صنيع نه هم داسي معلوميږی. اوابن كثيروائی چه داآيت عام دي مشركانو وغيره ټولوته اود (يحاربون الله ورسوله) نه مرادمخالفت دي دالله تعالى اورسول صلى الله عليه وسلم نه.برابره خبره ده كه په طريقه دكفراوارتدادوی يانه وی، (يحاربون الله) كښي مضاف مقدردي. (ای يحاربون اولياءالله) ځكه چه محاربه دالله تعالى سره خو نشی كيدي.اودرسول الله صلى الله عليه وسلم سره محاربه پس دوفات نه هم ممكنه نه ده.اوداجمله چه ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا﴾ داعطف تفسيردماقبل دي اوددي نه قطاع الطريق (ډاكوان) مراد دی.

﴿أَن يُقَتَّلُوٓا﴾ دلته څلور سزاګاني مذكوري دی اوهر سزا جدا جدا موقعي دپاره ده. نو «او» د تخيير دپاره ندي اګر كه بعضِ سلفو ديته ذهاب كړيدي، ليكن دا قول مرجوح دي بلكه (او) دَ تنويع دَپاره دي ، نو دَ هري موقعي دپاره جدا جدا سزا ده نو ﴿أَن يُقَتَّلُوٓا﴾ والا سزا په هغه صورت كښي ده چه صرف قتل ئي كړي وی اومال ئي نه وی اغستي.اود (يقتلوا) په تشديدسره ددي نه معلوميږی چه داقتل دقصاص نه زيات دي ځكه چه قصاص دولی په معافئ سره معاف كيدي شی اودانشی معاف كيدي.ځكه چه په ډاكي سره پوره معاشره خرابيږی نوضررئي ټولي معاشري ته عائددي نوديوفرد ياخاندان په معافئ سره داسزانشی ختميدي. ﴿أَوْ يُصَلَّبُوٓا﴾ داسزا(قتل اوپهانسی) په هغه صورت كښي وی چه قتل ئي كړي وی او مال ئي هم اغستي وی.په دي صورت كښي اكتفاء صرف په قتل باندي هم جائزده.لكه دا ظاهرالرواية دي داحنافو.اوپه نزد دامام ابويوسف رحمه الله دواړه لازمی دی اودا موافق دي ددي نص سره اوعبرت هم په دي سره كامل حاصليږی. ﴿أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ﴾ يعنی ښي لاس اوچپه ښپه،داسزاپه هغه صورت كښي ده چه صرف مال ئي اغستي وی.﴿أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ﴾ داسزاپه هغه صورت كښي ده چه نه ئي قتل كړي وی اونه دمال اغستونوبت راغلي وی صرف تخويف (ويرول) ئي كړي وی.

د (ينفوا) نه په نيزدبعضو جلاوطنی مراد ده.اوپه نزد داحنافوترينه مراد دادي چه په جيل كښي دي بند كړي شی ځكه چه دجلاوطنئ په صورت كښي كه يومجرم بل اسلامی ملك ته لاړشی نو هلته به فتنه فسادكوی اوكه دارالحرب ته لاړشی نودكفردتقويت سبب شی.اوددي

څلورو صورتونونه علاوه پنځم صورت دادې چه ډاکو محض زخم کړې وی،نه ئې قتل کړې وی او نه ئې مال اغستې وی نو ددې حکم پشان دعام زخمونودې،

﴿ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ﴾ يعنی دامخکښې مذکورسزاګانې دډاکوانودپاره دنيوی رسوائی ده ليکن داکافی نه ده بلکه په آخرت کښې ددوئ دپاره عذاب عظيم دې.

احنافوپه دې آيت سره يعنی په ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ سره استدلال کړيدې چه حدود. کفارات نه دی يعنی حدجاری کيدل په چاباندې.دهغه دګناه،معصيت دپاره کفاره نه ده.اودا. قول دمالکيؤهم دې.اوشوافع وائی چه حدودکفارات دی اوداآيت په حق دکفاروکښې دې. ليکن راجح قول لکه مخکښې ذکرشودادې چه دا آيت عام دې. (الاالذين تابوا) محاربين چه کافر وی نودکفرنه توبه مراد ده اوکه مسلمان وی نوپه توبې سره حقوق الله معاف کيږی اوحقوق العبادورکول يادهغوئ معافی کول جزء دتوبې دې (الاالذين تابوا) ډاکوچه توبه اوکړی نودهغه نه حدشرعی ساقطيږی نوحکومت ورته سزانشی ورکولې لکه خپې لاس قطع کول.پهانسی ورکول.قيدکول.البته حقوق العبادئې په ذمه پاتې دی،نوکوم مال ئې چه دچانه اغستې وی نوهغه واپس کول ضروری دی اودارنګه که څوک ئې قتل کړې وی نوکه اولياء دمقتول ترينه قصاص اخلی يائې معاف کوی نوهغوئ لره اختياردې،اوحدشرعی دحقوق الله نه دې نوپه توبې سره معاف کيدې شی اوحقوق العبادنه معاف کيږی او﴿مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا﴾ نه معلومه شوه چه که سارق،قطاع الطريق،دګرفتارئ نه بعد،توبه اوکړی نوشرعی سزاترينه نه ساقط کيږی اوفقهاء وائی چه صرف زبانی توبه نه کافی کيږی،بلکه داصلاح علامات ظاهريدل هم ضروری دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ

اې ايمان والو يره کوئ دالله نه اوطلب کوئ هغه ته نزديکت، اوجهاد کوئ په لار دالله کښې. ددې دپاره

تُفْلِحُونَ ۞ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ

چې تاسو کامياب شئ. بېشکه هغه کسان چې کفرئې کړېدې کچرې شي دوئ لره هرهغه څه چې په زمکه کښې دی

جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

ټول اوپشان دهغې ورسره نورشی ددې دپاره چې په فديه کښې ئې ورکړی دعذاب د ورځې دقيامت نه.

مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ يُرِيدُونَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ
قبول به نه کړېشي ددوئ نه. او دوئ لره عذاب دردناک دي غواړي به دوئ چې اوخي داور نه اونه به وي دوئ
بِخَارِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ ۝
وتونکی دهغې (اور) نه. اود دوئ دپاره عذاب دي همېشه

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ ﴾ مخکښې آیتونوکښې دفسادمذمت اودهغې نه منع ذکرشوه دلته دټولومعاصیونه منع اودطاعاتودکولوحکم دي اوپه طاعت کښې دجهاد خصوصاذکردې ددې دپاره چه څوک داګمان اونکړی چه داهم فساد دي. (**اتقوالله**) دتمام منهیاتونه منع ده ﴿ وَٱبْتَغُوٓا إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ دطاعاتوحکم دي ﴿ وَجَٰهِدُوا ﴾ په طاعاتوکښې دجهادذکردې.اود دواړوغایه اونتیجه فلاح ده. نوپه ﴿ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ کښې دهغې ذکردې.لفظ دوسیله په دریؤمعانیؤکښې مستعمل دي،(۱) یوه معنی ئې اعلی منزله دپه جنت کښې. په حدیث کښې راغلی دی،(**انهامنزلة فی الجنة جعلها الله تعالیٰ لعبدمن عباده وارجوا ان اکون اناافاسئلوالی الوسیلة**).یعنی وسیله یومنزله ده په جنت کښې چه الله تعالیٰ دیوبنده دپاره دخپلوبندګانونه مقررکړیده اوامید دي چه هغه زه یم نوځمادپاره د وسیلې سوال کوئ.دامعنی دلته نه ده مرادلکه داظاهره ده.

(۲) دویم په معنی دحاجت سره راځی لکه په قول دشاعرکښې

ان الرجال لهم الیک وسیلة[1] ان یاخذوک تکحل وتخضب

دابن عباس رضی الله عنه نه منقوله ده چه وسیله په معنی دحاجت سره دي نود (**وابتغواالیه الوسیلة**) معنی داده چه(اطلبوامنه الحاجات) نو(**الیه**) په معنی د(**منه**) سره دي یاپه معنی د (متوجهین الیه) سره دي.

(۳) دریمه معنی ئې قرب دي،اوابن کثیردوسیلې معنی داهم لیکلې ده. (مایتوصل به الی تحصیل المقصود) یعنی هغه څیزچه په هغې سره مقصودته رسیدل کیږی.وسیله دوسل نه

۱- ای حاجة

ماخوذ دي.په سين (وسل) اوصاد (وصل) دواړه په يوه معنى سره دى يعنى يوځائې كول (لګول) فرق صرف دومره دي چه وسل په سين سره هغه يوځائې كيدل دى چه په محبت سره وى او وصل عام دي.داقول دامام راغب رحمه الله دي اوبعض وائى چه وسل معنوى اتصال ته وائى اووصل په صادسره عام دي چه معنوى وى ياجسمانى وى.اودبعضونه دوسيله معنى محبت مروى ده.جمهورومفسرينولكه ابن عباس رضى الله عنه وغيره اكثرصحابه تابعين شو.د(وابتغوا اليه الوسيلة) معنى داكړيده (الزلفى،التقرب بفعل الطاعات وترک السئيات) ابن كثير. ابن جرير. مدارک وغيره اكثرو مفسرينو دا معنى ليكلې ده.

علامه آلوسى رحمه الله وائى چه بعض خلقودا آيت دليل ګرځولې دې په دې چه استعانت او استغاثه دبزرګان دين اودانبياؤنه جائزدي،علامه دې ته (بيدعن الحق بمراحل) وئيلى دى اوليكى چه دمړى نه يادغائب نه دعااومددغوښتلودناجائزوالى كښې دهيڅ عالم شک نشته دې.اودا داسې بدعت دې چه ددې ارتكاب په سلفوكښې هيڅ چانه دې كړې.(ولم يروعن احدمن الصحابة وهم احرص الخلق على كل خير، انه طلب من ميت شيئا) يعنى دصحابۇرضى الله عنهم نه.دنيكئ اوثواب په كار كښې څوک زيات حريص نه ؤو.ليكن دهيڅ صحابى نه دانه ده منقوله چه هغوئ دقبرونونه مدد غوښتلې وى،ابن عمررضى الله عنه په اتباع سنت كښې ضرب المثل ؤوهغه به چه كله دحضورپاک صلى الله عليه وسلم روضه ته داخل شو.نوصرف دومره به ئې وئيل چه (السلام عليک يارسول الله صلى الله عليه وسلم السلام عليک ياابابكر،السلام عليک يا ابى) ددې نه به ئې زيات څه نه وئيل،اونه به ئې دنبى صلى الله عليه وسلم نه څه غوښتل اونه به ئې دهغه د دواړوضجيعينومكرمينونه څه غوښتل حالانكه په آسمانونواوزمكه كښې ددوئ نه زيات غوره يادادوئ سره هيڅ څوک برابرنشته دې.اوصحابه كرام رضى الله عنهم به چه روضې مباركې سره دعاكوله نوقبلې ته به ئې مخ ګرځولو.روضه مباركه ته به ئې مخ نه ګرځولو.اوسره ددې نه چه دامقام (روضه مباركه) دعرش نه هم ډيرافضل دې.

اوايمۇاختلاف كړيدې،چه دسلام نه بعد ددعاكولوپه وخت كښې به مخ كوم طرفته ګرځوى نودامام ابوحنيفه رحمه الله فيصله داده چه په دې موقعه كښې به هم قبرشريف ته نه مخ كوى بلكه قبلې ته به مخ كوى.(روح)

(فائده) دتوسل دمسئلې تفصيل چه څومره شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله

ذکرکړيدي. نوغالبًا ددې نه مخکښې بل چانه دې ذکرکړې، اودهغې خلاصه داده چه:

يوهغه توسل دې چه ناجائزاوحرام بالاتفاق دې چه هغه درحقيقت توسل نه دې بلکه تعبددي.اوداتوسل شرکی دې يعنی عبادت دوسيلې لکه مشرکانوچه وئيل ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ﴾

اودويم هغه توسل دې چه جائزدې بالاتفاق.اوهغه توسل دې په خپلواعمالوصالحؤسره لکه په حديث الغارکښې دهغې ذکردې،اودارنګه توسل په اسماؤ اوصفاتو دالله تعالی سره.لکه په اورادو ماثورؤکښې دی.(اللهم انی اسئلک بانک انت الله الواحد الاحد الصمد الذی لم يلدولم يولد،الخ) ﴿وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا﴾ په يوروايت کښې دی (اللهم انی اسئلک باسمك الطاهرالمطهر) وغيره کثرت سره راغلی دی.

اودريم قسم توسل دادې چه داسې اووئيلې شی چه اې الله،په برکت دفلانې ياپه حرمت. طفيل دنبی صلی الله عليه وسلم ياپه وسيله دنبی صلی الله عليه وسلم.يادفلانی بزرګ څماحاجت پوره کړې،نودا قسم توسل په نيزدجمهوروجائزدې،اودحافظ ابن تيميه په نزدحرام اوناجائزدې.البته بالتاويل (په تاويل کولوسره) دده په نزدهم جائزدې.لکه ده په خپلوتصنيفاتوکښې لکه (اقتضاء الصراط المستقيم) وغيره کښې ددې تصريح کړيده.اوپه القاعدة الجليله ص۳۸ کښې وائی: (أسألك بنبيك محمد أی: أسئلك بايمانی به وبمحبته) او بل ځای کښې ليکی (فالتوسل الی الله بالنبيين هوالتوسل بالايمان هم وبطاعتهم کالصلوة والسلام عليهم و محبتهم وموالاتهم اوبدعائهم وشفاعتهم وامانفس ذواتهم فليس فيهامايقتضی حصول مطلوب العبدوان کان لهم عندالله تعالی الجاه العظيم- آه) **فتاوی ابن تيميه** (**جلد۲۷ص۱۳۳**) **طبع جديد**،داتصريح ده چه دعاپه وسيله دمحبت.اودوستئ دانبياؤسره صحيح ده،نودادراجع دې توسل بصالح الاعمال ته.نونزاع دجمهوروسره په حقيقت کښې نزاع لفظی ده،ځکه جمهورچه د(توسل بالذوات) قائل دی نودهغوئ مراد،دتوسل بالرسول والنبی نه دانه دې،چه (معاذالله) انبياء.رسولان.دوصف دنبوت،رسالت نه منفک،اوجداکړې شی،او توسل دې په هغوئ سره اوکړې شی.يا(معاذالله) په هغوئ ايمان راوړل اودهغوئ سره محبت، عقيدت،لرلونه بغيردې په هغوئ سره توسل اوکړې شی،داسې خيال دهيڅ دعاکوونکی په وسيله دهغوئ سره په ذهن کښې نه راځی چه رسول،نبی دې دوصفِ نبوت،رسالت نه جداکړې شی،يادې شرط دايمان په

هغوئ ورسره نه وی. نفس ذوات د دوئ بغيردوصف درسالت نه او بغيردايمان نه په دوئ.اوبغيردمحبت نه د دوئ سره دې مرادشی.اودغه شان توسل په نورو صلحاؤسره په دې تفصيل سره دې،چه دهغوئ نفس ذوات بغيردكمالاتواوخوبيانودهغوئ نه،مرادنه دی.بلکه دهغوئ كمالات.اودنيک اعمالودوجه نه چه هغوئ مورِد درحمتِ الهی دی اودالله تعالی خصوصی رحمتونه په هغوئ نازليږی،اودهغوئ سره محبت،دا امورټول ملحوظ دی. ذكر دذات په دې وجه دې چه هغه موصوف دې اوكمالات اوصاف تابع دی.خلاصه داچه توسل بالذوات راجع دې توسل بصالح الاعمال اوتوسل بصفات الله ته.نوچه دتوسل بالاعمال قول ځوک كوی نودتوسل بالذوات اقرارهم پکاردې.حافظ ابن تيميه رحمه الله وائی چه په توسل بالذوات كښې توهم پيداكيږی چه معاذالله چه ددې ذات. رتبه اوشان دالله تعالی نه هم ارفع اوچته ده.يائې په الله تعالی باندې څه زور.اوجبردې.لكه ده وئيلی دی (لان فيها ايهام ان المتجوه به والمستغاث به اعلى من المتجوه عليه والمستغاث عليه) يعنی ددې الفاظونه.داوهم پيداكيږی چه دچا په جاه اووسيله سره چه سوال كولې شی.دهغه درجه دهغه چانه اعلی ده چه دهغه په دربار كښې سوال.التجاه كولې شی،نورعلماء ددې جواب كوی چه داسې توهم ديومؤمن په ذهن كښې راتلل محال دی،اوكه بالفرض دچاپه ذهن كښې رازی نوبيا داسې توسل حرام اوشرک دې.حضرت تهانوی رحمه الله دتوسل معنی كوی،چه د دعابالتوسل حاصل دادې «اې الله،فلانې بنده ستادرحمت مورد دې اوزه دهغه سره محبت اوعقيدت لرم نوپه ماباندې هم رحمت اوكړه او مطلب مې پوره كړه» (نشرالطيب) په بل ځائې كښې وائی چه «دتوسل حقيقت دادې چه اې الله فلانې سړې ځماپه نيزستامقبول دې اودمقبولينوسره په محبت باندې ستادمحبت وعده ده، (المرءمع من احب) نوزه ستانه رحمت غواړم ـ الخ» او صاحب دروح المعانی وائی. (وبعد هذاكله انا لاارى بأسًا فى التوسل الى الله تعالى بجاه النبى صلى الله عليه وسلم عندالله حيًّاميتًاويراد من الجاه معنى يرجع الى صفة من صفاته مثل ان يرادبه المحبة التامة المستدعية عدم رده وقبول الى شفاعته فيكون معنى قول القائل الهى أتوسل بجاه نبيک صلى الله عليه وسلم ان تقضى لى حاجتى، الهى اجعل محبتک له وسيلةً فى قضاء حاجتى ولافرق بين هذا وبين قولک الهى أتوسل برحمتک ان تفعل كذا اذمعناه ايضااجعل رحمتک وسيلة فى كذا الخ) نوداتصريح ده په دې چه دتوسل بالنبی معنی سوال دې دالله تعالی نه په واسطه درحمت دالله تعالی سره.ددې نه روستوبياصاحب د روح المعانی ليكی (ان التوسل بجاه غيرالنبى صلى الله عليه وسلم لاباس به

ایضاان کان المتوسل بجاهه علم ان له جاهاعندالله تعالی کالمقطوع بصلاحه وولایته» یعنی دنبی صلی الله علیه وسلم نه علاوه دبل چاپه جاه اوبرکت سره توسل جائزدي.که چرته توسل کوونکی ته داعلم وی چه په چاسره چه توسل کوی دهغه صلاح یقینی دي لکه چه دچاولایت اوتقویٰ په تواترسره ثابت وی.

«فائده» جمهوروعلماؤداقیدنه دي ضروری کړي چه صلاح دي ئي په تواترسره ثابته وی.

جوازدتوسل په نبی صلی الله علیه وسلم اونوروانبیاؤسره اودارنګه په صلحاؤ نیکانو سره دعلماؤد مذاهبواربعؤاودارنګه داکثرواهلِ حدیث په نیزاجماعی مسئله ده.«اوابن تیمیه رحمه الله اګر که ترینه منکردي لیکن بالتاویل هغه هم قائل دي» کمامرّ. حافظ ابن الهمام چه فقهاء احناف هغه ته جامع بین الروایة والدرایة وائی،په خپل مشهورتصنیف کښي،په آدابُ زیارة دروضة مبارکه کښي لیکی،چه روضه مبارکه ته دحاضرئي نه بعدبه صلوة وسلام پیش کړی «ثم یسئل النبی صلی الله علیه وسلم الشفاعة فیقول یارسول الله اسئلک الشفاعة واتوسل بک الی الله فی ان اموت مسلماعلی ملتک وسنتک،الخ فتح القدیر«جلد۲ص۳۳۸» اودي ته قریب عبارت دفتاوی عالمګیری دي چه تقریبا «۵۰۰» پنځوسوؤ علماؤ احنافودهندوستان مرتبه کړي ده.«عالمگیری جلد۱ ، ص۲۸۲ طبع مصر» دغه شان علامه بحرالعلوم په رسائل الارکان «ص۲۸۱» کښي لیکی.«واتوسل بک الی الله،الخ» دغه شان،نورالایضاح «ص۱۹۱» طحطاوی «ص۴۰۲» او مجمع الانهرفی شرح ملتقی الابحر «جلد۱ص۳۱۳» اوشامی «ص۳۵۰جلد۵» په دي ټولو کتابونو کښي داستفشاع اودتوسل ذکردي،علامه آلوسی دتوسل دمسئلي دتفصیل نه بعدلیکی، «هذا الذی ذکرته، انما هو لدفع الحرج عن الناس والفرار من دعوی تضلیلهم کمایزعمه البعض فی التوسل بجاه عریض الجاه صلی الله علیه وسلم لاللعیل الی ان الدعاء کذالک افضل من استعمال الادعیة الماثورة التی جاء بهاالکتاب وصدعت بها السنة، الخ» مسندالهند،حضرت شاه ولی الله رحمه الله په خپل معروف تصنیف حجة الله البالغة «جلد۲ص۷» طبع مصر.کښي لیکی «ومن ادب الدعاء تقدیم الثناء علی الله والتوسل بنبی الله صلی الله علیه وسلم لیستجاب» او شاه محمداسحاق رحمه الله په مائة مسائل «ص۳۵» کښي لیکی.«دعابااین طورکه الهی بحرمت نبی وولی حاجت مرا رواکن جائزاست چنانچه ازشرح فقه اکبرملاعلی قاری رحمه الله مفهوم میشود» شاه اسماعیل شهیدرحمه الله په تقویة الایمان «ص۹۵» لیکی:

ہاں اگر یوں کہے یااللہ کچھ دے شیخ عبدالقادر کے واسطے تو بجا ہے.

اودعلماء دیوبند متفقه فتوی په باره دتوسل کښې په المهند علی المفند (ص١٣،١٢) کښې داسې ده (عندناوعندمشائخنایجوزالتوسل فی الدعوات بالانبیاء والصالحین من الانبیاء والشهداء والصدیقین فی حیوتهم وبعدوفاتهم بان یقول فی دعائه اللهم انی اتوسل الیک بفلان ان تجیب دعوتی وتقضی حاجتی الی غیرذالک کماصرح به شیخنا مولانا الشاه محمد اسحاق الدهلوی ثم المهاجرالمکی ثم بیّنه فی فتاواه شیخنا مولانا رشیداحمد الگنگوهی رحمه الله وهی فی هذا الزمان شائعة مستفیضة بایدی الناس الخ) تاریخ الخطیب (جلد ١ ص١٢٣) او شامی (جلد ١ ص٣٩) کښې دی چه ابوبکربن خطیب. علی بن میمون نه روایت کوی چه ماد امام شافعی رحمه الله نه واؤریدل. چه زه دامام ابوحنیفه په وسیله سره برکت حاصلوم اوهره ورځ زه دهغه قبرته دزیارت دپاره حاضری کوم. اودهغې په قریب کښې دالله تعالی نه حاجت غوارم، ددې نه بعد ځمامراددیرزرپوره کیږی. امام نووی شافعی رحمه الله په باره دادابودزیارت دروضه مبارکه کښې لیکی، (فیتوسل به فی حق نفسه ویتشفع به الی ربه الخ کتاب الاذکارللنووی طبع مصر(ص١٨٤) دغه شان عبارت، (ویتوسل به فی حق نفسه ویتشفع به الی ربه سبحانه – الخ په، الایضاح فی مناسک الحج للنووی (ص٤٩٨) طبع مصر)، کښې دې، قاضې عیاض مالکی رحمه الله دامام مالک رحمه الله نه په باره دآدابودروضه مبارکه کښې نقل کوی، (بل استقبله واستشفع به ای اطلب شفاعته ووسیلة شرح شفا(جلد٢ص٧١) یعنی دحضورصلی الله علیه وسلم په روضه چه حاضری اوکړې (اللهم ارزقناها مراراً) نودخپلوحاجتونواومرادونودپوره کیدلودپاره د نبی صلی الله علیه وسلم شفاعت اووسیله طلب کړه، علامه خفاجی په شرح دشفاء (جلد ٣ ص٣٩٨) دقاضی عیاض مالکی نه نقل کړیدی چه امام مالک خلیفه منصورته اووئیل، (لم تصرف وجهک عن النبی صلی الله علیه وسلم وهو وسیلتک ووسیلة ابیک آدم الی الله الخ) امام احمدبن حنبل رحمه الله چه دمروزی رحمه الله دپاره ئې احکام حج (منسک) لیکلې ؤ په هغې کښې ئې لیکلی دی، (ان یتوسل بالنبی صلی الله علیه وسلم فی دعائه، وجزم به فی المستوعب وغیره وفی شواهدالحق لیوسف النبهانی (ص١٦٦) انه توسل الامام احمدبن حنبل بالامام الشافعی رحمه الله حتی تعجب ابنه عبدالله بن احمدبن حنبل من ذالک فقال الامام احمدله ان الشافعی رحمه الله کالشمس للناس) دغیرمقلیدینویولوئې پیشواعلامه شوکانی په خپل معروف تصنیف نیل الاوطارکښې

جلد۴ص۷) کښې وائی. (ویستفادمن قصة العباس رضی الله عنه استحباب الاستشفاع باهل الخیروالصلاح واهل بیت النبوة) اوپه جوازدتوسل ئې مستقله رساله (دُرِّنضید) لیکلې ده.دغه شان دغیرمقلدینوشیخ الکل مولاناسیدنذیرحسین دهلوی په خپل کتاب معیارالحق (ص۴۱۹) کښې لیکی (بجاه سیدالثقلین) .

• دجوازدتوسل بعضِ دلائل

(۱) استدلال من القرآن : دسورتِ بقره آیت ﴿وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ په تفسیردسورتِ بقره کښې ددې بیان تیرشویدې،اوداهم تیرشویدی.چه دې ته استدلال من القرآن وئیل صحیح دی،(۲) جدیث دضریرالبصر،(عن عثمان بن حنیف ان رجلاضریرالبصراتی النبی صلی الله علیه وسلم قال اُدع الله لی ان یعافینی، (الی قوله) اللهم انی اسئلک واتوجه الیک بمحمد نبی الرحمة – الخ

(**ترجمه**) په سننِ ابن ماجه باب صلوة الحاجة کښې دعثمان بن حنیف رضی الله عنه نه روایت دې چه نابینا(روند) سړې دنبی صلی الله علیه وسلم په حضورکښې حاضرشواوعرض ئې اوکړوچه دعااوکړه چه الله تعالی ماته عافیت راکړی نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل که چرته ته غواړې (نوزه به درته دعااوکړم) اوکه غواړې چه صبراوکړې نوصبربه ستادپاره ډیربهتروی،نوهغه اووئیل چه حضورصلی الله علیه وسلم دعااوکړئ،نوحضورصلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه په خکلی طریقې سره اودس اوکړه اودادعااووایه.یاالله زه ستانه سوال کوم اوستاطرف ته توجه کوم په وسیله دمحمدصلی الله علیه وسلم نبی رحمة سره.اې محمدصلی الله علیه وسلم ! زه ستاپه وسیلې سره خپل حاجت خپل رب طرف ته پیش کوم.اوتوجه کوم،چه هغه ځماحاجت پوره کړی.اې الله ! ته دهغه (محمدصلی الله علیه وسلم) شفاعت ځماپه حق کښې قبول کړه،په دې حدیث کښې توسل صراحة ثابت شو.اوداسې منقوله نه ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دده دپاره بیادعااوکړه،حتی چه دا توسل بدعاء النبی صلی الله علیه وسلم شی نه په ذات دنبی صلی الله علیه وسلم سره،لکه داسې تاویل بعض خلق کوی. بلکه داسې مذکوردې چه داسې دعااوکړه اللهم الخ،نوددې نه توسل په ذات دنبی صلی الله علیه وسلم سره ثابت شو،دې حدیث ته امام ترمذی حسنٌ صحیح وئیلی دی.اوداحدیث په مسنداحمدرحمه الله کښې (جلد۴ص۱۳۸) اوابن ماجه (ص۱۰۰)

اومستدرک (جلد۱۳۱۳) ترغيب ترهيب (جلد ۱ ص۲۴۱) اونسائی.ابن خزيمه کتابونوکښې موجود دي.په دې استدلال باندې دوه شبهې دی اوله داچه داحديث ضعيف دې.وجه داده چه په دې کښې يوراوی ابوجعفردې اوامام ترمذی په ترمذی کښې ددې حديث په بيان کښې وئيلی دی (وهوغيرالخطمی) يعنی دا ابوجعفرخطمی نه دې،ابوجعفرخطمی ثقه راوی دې ليکن ترمذی وائی چه داخطمی نه دې،اوچه خطمی نشونويا به ابوجعفرالرازی وی يابه ابوجعفرالمدائنی وی،اودا دواړه ضعيف دی،

جواب دادې چه داراوی ابوجعفرالخطمی دې،په دليل ددې سره چه امام ترمذی دې حديث ته صحيح وئيلی دی نوکه داراوی ابوجعفرخطمی نه وې اوضعيف راوی وې نوبيابه ورته امام ترمذی حسن صحيح نه وئيل،اومحدث ابن السنی،متوفی (ص۳۶۴ هـ) په خپل کتاب (عمل اليوم والليلة (ص۲۰۲) په سندکښې داسې نقل کړيدی،(المدنی وهوالخطمی)،اودغه شان امام حاکم.علامه ذهبی،هم الخطمی نقل کړيدی،طبرانی په معجم صغير(ص۱۰۴) کښې الخطمی نقل کړيدی،اودترمذی په مصری مطبوعه نسخوکښې هم (وهوالخطمی) دې. نو معلوميږی چه په هندوستانی نسخوکښې چه (غيرالخطمی) دې داکتابتی غلطی ده.

دويمه شبهه داده چه په حديث کښې توسل په دعادنبی صلی الله عليه وسلم سره دې.(بنبيک محمد) الخ نه مراد (بدعاء نبيک محمدٍ – الخ) دې په حذف دمضاف سره،ددې په جواب کښې حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه ددې حديث نه توسل په ذات دنبی صلی الله عليه وسلم سره صراحةً معلوم شو.او داسې منقوله نه ده چه بيانبی صلی الله عليه وسلم دده دپاره دعااوکړه حتی چه حذف دمضاف اومنلې شی بلکه دنبی صلی الله عليه وسلم دغه صحابی ته دهغه دعادويلوامرکړيدې چه په هغې کښې توسل بالنبی صلی الله عليه وسلم دې اوکه څوک **سوال** اوکړی چه داتوسل بالنبی صلی الله عليه وسلم دهغه په حيات کښې ؤونودې نه توسل بعدالممات نه ثابتيږی.

جواب دادې چه عثمان بن حنيف رضی الله عنه چه راوی دحديث دې (وهواعلم بمر.د ماړواه) دنبی صلی الله عليه وسلم دوفات نه بعديوسړی ته دادعاښودلې وه لکه روايت کړې دې طبرانی په معجم صغير کښې (ان رجلاکان يختلف الی عثمان) يعنی يوسړې ؤوچه عثمان رضی الله عنه ته به ديوضروری کارپه باره کښې بيابيا تللو ليکن هغوئ رضی الله عنه به ورته توجه نه کوله نودغه سړې دعثمان بن حنيف رضی الله عنه سره ملاؤشواوخپل شکايت ورته

اوكړونو دوئ ورته حكم اوكړو چه اودس اوكه او مونځ اوكه او بيا دا دعا مذكوره وايه نو هغه چه
داسې اوكړل نو عثمان رضى الله عنه د هغه تعظيم او تكريم اوكړو او كارئې پوره شو نو معلومه
شوه چه د راوى د حديث د عثمان بن حنيف په نزد هم توسل بعد الممات جائز وو.

دريمه شبهه په جواز د توسل داده چه فقهاؤ عموما او احنافو خصوصا داسې وئيلى دى (يكره
ان يقول الرجل اسئلك بحق فلان) نو ددې نه معلومه شوه چه د چاپه وسيلې سره سوال مكروه دې
جواب دادې چه حضرت گنگوهى رحمه الله او فقهاؤ ليكلى دى چه بحق فلان وئيل درست دى
او معنى ئې داده چه اې الله تا چه په خپل احسان سره وعده كړې ده، د هغې په ذريعه سوال كوم.
په شرح د فقه اكبر كښې وائى، (فالمراد بالحق الحق الذى وعده بمقتضى الرحمة) مگر معتزله او شيعه
وائى چه په الله تعالى باندې، حق په معنى د وجوب او لزوم سره دې نو ددې وجه نه فقهاؤ لفظ
د حق وئيلو ته مكروه وائى چه د هغوئ سره مشابهت رانه شى، او دا مطلب نه دې چه دعا د چاپه
وسيله سره جائز نه ده.

حافظ ابن تيميه رحمه الله وائى چه ((توسل د چاپه ذات سره)) دا لفظ مجمل دې نو په
عرف د صحابؤ كښې ددې معنى داوه چه د چا د ذات نه دعا او شفاعت طلب كړې شى. دا معنى ئې
نه ده چه د چا نوم واغستې شى او د هغه په وسيله، حرمت، طفيل سره سوال اوكړې شى او ددې
تائيد ددې نه معلوميږى چه صحابه كرامؤ بعد د وفات د نبى صلى الله عليه وسلم نه توسل
اوكړو په عباس رضى الله عنه سره لكه په حديث د بخارى كښې دى : اللهم اناكنا نتوسل اليك
بنبينا صلى الله عليه وسلم فتسقينا وانا نتوسل اليك بعم نبينا فاسقنا فيسقون (بخارى، جلد ١ ص ١٣٧)
نو بيا به حضرت عباس رضى الله عنه دعا كوله او صحابؤ به آمين وئيل : ان العباس يدعو، وهم
يؤمنون لدعائه حتى سقوا) (روح) د غه شان په فتح البارى شرح البخارى كښې دى: ان عمر
استسقى بالمصلى فقال للعباس رضى الله عنه قم فاستسق ، نو معلومه شوه چه په عرف د صحابؤ رضى
الله عنهم كښې توسل په ذات د نبى صلى الله عليه وسلم يا په ذات د بل چا سره، داؤ چه د هغه نه
به ئې دعا طلب كوله. او كه چرته دا قسم توسل چه د چا نوم واغستې شى او د هغه په وسيله
او بركت سره دعا وكړې شى، جائز وې نو صحابه كرامو به توسل د نبى صلى الله عليه وسلم په
ذات او نوم سره كړې وې، ځكه چه دوئ زمونږ نه زيات پوهه ؤو، او په حقوقو د الله تعالى
او د رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې زيات خبردار وو.

جمهور علماء د دې استدلال نه جواب كوى چه په حديث د عباس رضى الله تعالى عنه

کښې بیشکه توسل په دعا دعباس رضی الله عنه سره ذکردې.لیکن داچه توسل دچاپه برکت اوحرمت وغیره سره جائزنه دې.نوددې نه داحدیث ساکت دې،اوحدیث دضریرالبصر(چه مخکښې تیرشو) هغه په جوازباندې ناطق دې.اوناطق حجت وی په ساکت باندې.

حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دحدیث دتوسل بالعباس رضی الله عنه نه توسل فعلی ثابتیږی.لکه حضرت عمررضی الله عنه.حضرت عباس رضی الله عنه ته وئیل چه : قم یاعباس رضی الله عنه فاستسق فکان یستسقی لهم .اوتوسل قولی یعنی توسل په اسماؤدصالحؤسره ترینه نه ثابتیږی.لیکن دحدیث دترمذی نه توسل قولی هم ثابتیږی.حضرت شاه صاحب په حدیث د(انانتوسل الیک بعم نبینا) کښې داسې لیکی قلت وهذا توسل فعلی لانه کان یقول له بعد ذلك قم یا عباس ! فاستسق فکان یستسقی هم فلم یثبت منه التوسل القولی ای الاستسقاءباسماء الصالحین فقط بدون شرکتهم، اقول : وعندالترمذی ان النبی صلی الله علیه وسلم عَلَّمَ اعرابیا هده لکلمات وکان اعمی،اللهم انی اتوجه الیک بنبیک محمد نبی الرحمة،الی قوله فشفعه فِيَّ فثبت منه التوسل القولی ایضا وحینئذِ انکارالحافظ ابن تیمیه تطاولُ،فیض الباری (جلد٤ص٦٨)،

بعض علماؤ د توسل بذات النبی صلی الله علیه وسلم دپاره استدلال په روایت دبخاری شریف سره کړیدې هغه دادې چه عبدالله بن دیناروائی : سمعت ابن عمریتمثل بشعر ابی طالب. یعنی عبدالله بن دینار وائی چه ماواؤریدل دعبدالله بن عمررضی الله عنه نه چه دابوطالب دا شعر به ئې وئیلو

وابیضّ یستسقی الغمام بوجهه ثمال الیتمی عصمة للارامل

(ابیض) منصوب دې عطف دې،په سیداًباندې چه ماقبل شعرکښې دې هغه دادې

و ما ترک قوم لا ابالک سیدا یحوط الذماربین بکربن وائل

(سیدا) منصوب دې مفعول دې دترکِ مصدردپاره او ماترک –الخ استفهام دتعجب دپاره دې.یعنی تعجب دې چه څنګه پریښودله، داسې سردار لره چه دقبیله بکربن وائل په مینځ کښې دذمه وارئ حفاظت کوی، (وابیض الخ) اوتعجب دې چه څنګه دې پریښودلو قوم داسې سپین چمکدارمخ والاسړې چه دهغه دمخ په برکت سره باران طلب کولې شی چه دیتیمانوغم خوار.اویچ کوونکې دکونډوښځودې،اوکه (ابیض) مرفوع شی نوبیاخبردمبتداء محذوف دی

(ای هوابیض) د (بوجهه) نه توسل په ذات دنبی صلی الله علیه وسلم سره ثابت شو . او داشعر اګر که جوړکړې ابوطالب دې اوهغه مشرک ؤو،لیکن دا استدلال په قول دیو مشرک سره نه دې.(کمایدعیه البعض) ځکه استدلال په دې سره دې چه صحابؤ،لکه عبدالله بن عمررضی الله عنه اوحضرت علی رضی الله عنه وغیره به داشعروئیلو،لکه دبخاری په دې روایت کښې تصریح ده . سمعت ابن عمررضی الله عنه یتمثل بشعرابی طالب ، اوفتح الباری اوقسطلانی ددې حدیث په شرح کښې لیکلی دی چه یواعرابی دحضورصلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړوچه مونږپه قحط سالئ کښې مبتلایو. نونبی صلی الله علیه وسلم په منبر باندې تشریف فرما شو، او دعاء ئې وکړه او باران شروع شو، نو نبی اکریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : لوکان ابوطالب حیًّا لقرّتْ عیناه، من ینشدناقوله؟فقام علیّ فقال یارسول الله صلی الله علیه وسلم کانک اردت قوله :

وابیضّ یستسقی الغُمام بوجهه　　ثمال الیتامی عصمة للارامل

نوداشعرصحابؤ وئیلې دې اونبی صلی الله علیه وسلم ددې په وئیلوخوشحاله شویدې، نو دا استدلال په قول دمشرک سره نه دې،اودبخاری شریف دویم روایت چه په هغې کښې داسې دی : ربما ذکرتُ قول الشاعر – الخ ، ابن عمررضی الله عنه وائی چه په وخت د دعاءاستسقاء کښې مې داقول دشاعر رایاد شو،نوداداول روایت سره څه منافات نه لری دابن عمررضی الله عنه دې داشعررایادشوې هم ئې اووئیلې دې ئې هم وی،

ددې نه علاوه نور دلائل په جوازدتوسل هم موجود دی اوپه ماذکرناکښې اکتفاء ده،اواکثر محقیقن محدثین اواواصحاب دمذاهبؤاربعؤددې قائل دی اوهغوئ ته داسې نسبت کول، جاهلان،متجاهلان،په عواموتلبیس حق کوونکی،بناسپتی دیوبندی.وغیره قبیح الفاظ دهغوئ په باره کښې ډیرقبیح حرکت دې،(والله الهادی الی سواء السبیل)،

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ داتخویف اخروی دې هغه چا ته چه په هغوئ کښې دغه مخکښنی اوصاف.نه وی موجود،تقوی،فعل الطاعات،ترک السئیات،(لو) په فرضیات کښې مستعملیږی،یعنی که بالفرض داسې اوشی چه دمشرک سره دقیامت په ورځ دټولې دنیاټول دولتونه شی،اوددې مثل ورسره شی اودې هغه په فدیه اوجرمانه کښې ورکول غواړی نودابه نشی قبلولې،په حدیث دبخاری کښې دی چه دقیامت په ورځ به الله تعالی دادنی جهنمی نه تپوس اوکړی که تاله ټوله زمکه دسروزروډکه درکړې شی نوآیاته به ئې دعذاب نه دبچ

کيد و دپاره فديه کښې ورکړي، هغه به اووائی چه (هو! يا ربه!) نو الله تعالى به ورته اوفرمائی چه ماستانه په دنيا کښې ددې نه دآسان څيزمطالبه کړې وه چه ايمان راوړه شرک مه کوه مګرتاددې نه منع کړې وه.

(فائده) ددې حديث نه دامعلومه شوه چه دايمان دولت ددنيادتمامودولتونونه ډيرغوره دې، (اللهم ارزقنا ايمانا کاملا ويقينا صادقا).

﴿يُرِيدُونَ﴾ اراده په معنى دتمنى اوحسرت سره دې، اودا خوښکاره خبره ده چه په عذاب اليم دائمى کښې به د دوزخيانوخومره ترپ اوارمان وى دجهنم نه دخلاصيدلو، ليکن الله تعالى فرمائى ﴿وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا﴾ نه به شى وتلې، نومعلومه شوه چه مؤمن به څه ناڅه وخت کښې دجهنم نه وتلې شى اوهميشه به پکښې نه وى ﴿مُّقِيمٌ﴾ په معنى د دائم ثابت سره دې.

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا

اوغلا کونکې سړې اوغلاکونکې ښځه نو پريکړئ لاسونه ددوئ داسزادهغه څه ده چه کړی دی دوئ عبرتناکه سزا

مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ

دطرفه دالله نه. اوالله زورآور اوحکمتونو والا دې . نوچاچې توبه اوکړه روستو دظلم خپل نه

وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللّٰهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٩﴾

او نيک نى کړو عمل خپل نو بيشکه الله قبلوى توبه دده ، بيشکه الله بخښنه کونکې رحم کونکې دې

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ لَهُۥ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ

آيا نه پوهيږې ته چې بيشکه الله لره ده بادشاهى دآسمانونو اودزمکې ، عذاب ورکوى هغه چاته چې اوغواړى

وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٠﴾

او بخښنه کوى هغه چاته چه اوغواړى، اوالله په هرڅه قدرت لرونکې دې

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ﴾ داهم دماقبل سره متعلق دې چه دمسئلې دبيانولونه بعد خاموش مه کښينئ بلکه جهادکوئ اوحدودجارى کوئ. نودلته دحدسرقه ذکردې، سرقه په لغت کښې مطلق غلاته وائى اوپه اصطلاح کښې (اخذمال محرزخفية) دلته دمذکر(والسارق) اودمؤنث

(والسارقة) دواړوذکردي.نوپه دې کښې اشاره ده چه په حدِسرقه کښې مذکراومؤنث یوشان دی اود دواړوپه سزاکښې څه فرق نشته دې اودمؤنث دضعف دوجه نه په سزاکښې څه تخفیف نشته دې.

اوتقدیم دمذکراوشوپه مؤنث باندې اوپه سورةِ نورکښې دحدِزناپه باره کښې تقدیم دمؤنث شویدې ﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُوا ﴾ څکه زنادښځودپاره زیات قبیح او شرم اوعاردې څکه چه زنانه مستوره وی نوتقدیم د اقبح شویدې دپاره دتنفیر، اوسرقه دنارینه نه زیاته قبیحه ده څکه چه دوئ قدرت دکسب لری اوکسب نه کوی بلکه غلاکوی نودلته هم تقدیم دا قبح شوې دې. یاتقدیم دمذکرداصالت دوجه نه شویدې څکه مذکراصل دې حتّی چه په اکثرواحکاماتو کښې اکتفاء شوّیده په خطاب دمذکرینوسره اودمؤنث ذکربالاستقلال چه کیږی نودابه دځه نکتې دپاره وی (کماذکرناهما) اوهم دارنګه سرقه دنارینه نه کثیرالوقوع ده نوځکه ئې تقدیم اوشو اودسارق اوسارقه نه مرادهرسارق اوسارقه نه دی بلکه هغه مراد دی چه بالغ وی عاقل وی نوپه نابالغ اومجنون باندې حدِسرقه نشته دې،اومالِ مسروقه به دچامملوک وی نوپه سرقه دکفن سره هم حدنشته دې عندالاحناف،اومال به محفوظ وی اومشترک به نه وی اود (۱۰) لس شرعی درهمویادیودینارنه به کم نه وی عندالاحناف،اوپه نزددنوروائموبه دربع دینارنه به کم نه وی اودنوروجزئیاتوتفصیل فقهاؤکړیدې اود﴿ فَٱقْطَعُوٓا ﴾ نه مرادمعنی حقیقی دقطع ده. یعنی داسې پریکول چه لاس دباقی بدن نه جداشی اومعنی مجازی دقطع زخمی کول دی لکه په سورت یوسف کښې ﴿ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ﴾ دامعنی مجازی مراد ده.اودلته معنی حقیقی مراده ده اوپه سلفوکښې هیچادلته معنی مجازی نه ده کړې او﴿ أَيْدِيَهُمَا ﴾ نه ښی لاسونه مراد دی په وجه دحدیث سره اودعمل دخلفاء راشدینوسره، اوپه قرات دحضرت عبدالله بن مسعودرضی الله عنه کښې (ایمانهما) دې، (ایدی) جمع ده لیکن مرادترینه تثنیه ده،یعنی یمین دسارق اویمین دسارقه،اونحویان وائی چه چونکه اضافت دځیزخپل نفس ته لکه اضافت دتثنیه،تثنیه ته ثقیل اوشنیع دې نوددې وجه نه په وخت داضافت کښې به دتثنیه په ځائې جمع ذکرکیږی لکه ﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ ای قلباکما،﴿ جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا ﴾ جزاء پوره اومناسب بدلې ته وئیلې شی نوپه دې کښې اشاره ده چه قطع دید،مناسبه سزاده څکه چه سرقه په ید سره کیږی.

اوکه څوک **سوال** اوکړی چه بیاخوزناپه ذکرسره کیږی نوپه حدِزناکښې دې قطع دذکر اوشی هغه مناسبه سزاده،

جواب ئې دادې چه دلاس دقطع کولوپه وجه انسان دمنفعت نه بالکلیه نه محروم کیږی او ددې وجه نه فقهاء وائی چه که دسارق دښی لاس پریکولونه بعدئې غلااوکړه نوچپ لاس به ئې نشی پریکولې ددې دپاره چه دمنفعت نه بالکلیه محروم نشی بلکه چپه خپه به ئې پریکولې شي اوکه بیائې هم غلااوکړه نوبیاقطع نشته دې بلکه قیدکول دی.اوپه خلافِ دقطع دذکرنه ځکه چه په دې سره قوتِ رجلی (مردانه) بالکل ختم شی نوهغه مناسبه سزانه ده،

اوکه څوک داسې **سوال** اوکړی چه دیت دلاس (۵۰۰) پنځه سوه دیناره یا(۵۰۰۰) پنځه زره درهمه دی.(نصف دیت) نوپه سرقه دیودینار(عندالاحناف) یاربع دینار(عندالجمهور) یا لس درهموسره لاس قطع کول څنګه مناسبه سزاده،(کمافی روح المعانی،اعترض الملحدالمعری علی وجوب قطع الیدبسرقة القلیل فقال)

شعر: **یدء بخمس مئین عسجدودیت ما بالها قطعت فی ربع دینار**

یوعالم داسې جواب اوکړو: (اذاکانت الید امینة کانت ثمینةً واذاخانت هانت)، یعنی لاس چه امانت داروونه قیمتی وواوچه خیانت ئې اوکړونو بې قیمته شو(عثمانی) اوعلامه علم الدین سخاوی ئې جواب په دې شعرسره ورکړو

شعر: **عِزُّالامانة اغلاها، و ارخصها ذلُّ الخیانة فافهم حکمة الباری**

روح المعانی په حواله دابن عربی سره لیکلی دی چه سزادسارق په مخکنوشریعتونو کښې استرقاق یعنی غلام ګرځول وو،چه سارق به دچانه سرقه اوکړه نوسزائې داوه چه دې به دهغه غلام وی.اوداسې هم وئیلې شویدی چه داحکم دزمانې دموسی ﷺ پورې ووبیا منسوخ شو.نوبِناپه اول داحکم ناسخ دماقبل دې اوبِناپه ثانی داحکم مؤکِدِ دنسخ دې،

﴿وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ په ذکرد(**عزیز**) (زوره ور) کښې اشاره ده چه الله تعالی حاکم مطلق دې. د یوجرم چه کومه سزامقررکړی نوهیچالره په هغې حق داعتراض نشته دې اوپه (**حکیم**) کښې اشاره ده چه دالله تعالی هرحکم دحکمتونونه ډک وی نودسرقه چه کومه سزائې مقررکړیده نوهغه عین د حکمت مطابق ده.

امام رازی رحمه الله دلته په حواله داصمعی رحمه الله حکایت نقل کړیدې،اصمعی رحمه الله وائی چه مادا آیت دیوبَدَوی عربی په مخکښې تلاوت کړواوپه غلطئ سره مې دلته (**والله**

غفور رحيم» اووئيل نو اعرابی اووئيل چه دا يعنی «والله غفوررحيم» دچاکلام دي نوماا ووئيل چه دادالله تعالی کلام دي نوهغه اووئيل چه داسې کلام دالله تعالی نشی کيدې نوزه يخپله غلطئ پوهه شوم نو «عزيزحكيم» مې اولستلو.نوهغه اووئيل چه دادالله تعالی کلام دي ځکه چه دسزاسره مناسب صفت «عزيزحكيم» دي.﴿ فَمَن تَابَ ﴾ په دې آيت کښې ترغيب دې توبې ته دجرم نه،اومرادصحيح شرعئ توبه ده چه مال مسروقه مالک ته واپس کړی ياترينه معافی حاصله کړی.﴿ وَأَصْلَحَ ﴾ يعنی په آئنده کښې دغه سې حرکت نه کوی نود«تاب» تعلق دماضی سره دې اود«اصلح» تعلق دمستقبل سره دې ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ﴾ په توبه ګناه معاف شی،اوحدنه ساقطيږی،اودا قول دامام ابوحنيفه رحمه الله امام مالک اويوروايت دامام شافعی رحمه الله نه دې ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ ﴾ ددې تعلق «لقدكفرالذين قالوا ان الله هوالمسيح ابن مريم» سره دې.او«الم تعلم» تعبيرسره ياد دهانی ده اصلِ مضمون ته يعنی مضمون دنفی دشرک فی التصرف ته ﴿ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ په دې کښې دحصرمعنی ده (ای لاعيسی ولاغيره)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟

اې رسوله ' ندې غمژن کوی تاله هغه کسان چې تادی کوی په کارونو دکفر کښې دهغه کسانو نه چې وائی

ءَامَنَّا بِأَفْوَٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ ۛ سَمَّٰعُونَ

پخپلوخلو،ايمان راوړې دې مونږ او ايمان نه وی راوړې زړونو ددوئ، او ديهوديانونه. غوږ اږدې دپاره

لِلْكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ

ددروغوجوړولو په تابانديې، غوږ ايږدی (جاسوسی کوی) دپاره دقوم نورچې نه وی راغلی تاته، تحريف اوتغيرکوی په کلماتودتورات کښې

مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ۖ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ

روستو د ثبات دهغې نه پخپل ځايونو کښې، وائی دوئ که درکړې شی تاسوته داحکم نوقبول نې کړئ

وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَٱحْذَرُوا۟ ۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتْنَتَهُۥ فَلَن تَمْلِكَ

اوکه درنکړې شی دا حکم نوځان بچ اوساتئ، اوڅوک چې اوغواړی الله ګمراهی د هغه نوهيچرې اختيار نه لرې ته

لَهٗ مِنَ اللهِ شَيْـًٔا ۭ اُولٰٓىِٕكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ۭ

دهغه دپاره په نیزد دالله هیڅ څیز(هدایت)، داهغه کسان دي چې نده اراده کړې الله چې پاک کړې زړونه ددوی

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ

دوئ دپاره په دنیا کښې رسوائی ده او دوئ دپاره آخرت کښې عذاب لوئې دې. بنه آوریدونکی دی دوئ دروغو لره

اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ۭ فَاِنْ جَاۗءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ

دېرخوړونکی دی دوئ حرامو لره، پس که راشي دوئ تاته نو فیصله اوکړه په مینځ ددوئ کښې یا مخ واړوه ددوئ نه، اوکه ته مخ واړوې

عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ۭ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ۭ

ددوئ نه نو هرگز ضرر نشی رسولې تاته هیڅ څه، او که فیصله کوله تا نو فیصله اوکړه په مینځ ددوئ کښې په انصاف سره.

اِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝

بېشکه الله محبت کوی د انصاف کونکو سره.

﴿يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ﴾ په اوله حصه دسورت کښې دنفی دشرک فعلی اونفی دشرک اعتقادی تفصیلی بیان نه بعد، الله تعالی تسلی ورکوی رسول پاک صلی الله علیه وسلم ته، یعنی هرکله چه تادشرک فعلی اوشرک اعتقادی تفصیلارداوکړونواوس چه څوک په شرک فعلی اواعتقادی کښې مبتلادی اوډیرپه رغبت اومینه سره دشرک کارونه کوی نوهغوئ دې تاپه غم کښې وانه چوی اوتادې پریشان نه کړی دوئ تاته هیڅ ضرراونقصان نشی رسولې،

﴿لَا يَحْزُنْكَ﴾ نه مراد دادې چه ته مه پریشانه کیږه، دوئ ته تاته ضررنقصان نشی رسولې، نومقصودتسلی ورکول دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته، اومنع مقصودنه ده څکه حزن طبعی غیراختیاری امردې اونهی داختیاری څیزنه کیږی، بل داچه په کفراومعصیت باندې خفگان کول ضروری دی، نوددې وجه نه داظاهری مطلب مرادنه دې بلکه تسلی مراد ده

﴿مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا﴾ دابیان د(**الذين يسارعون فى الكفر**) دې، چه دادوه فرقې دی اوله فرقه هغه ده چه په ژبه دایمان اقرارکوی اودشرک فعلی اواعتقادی نه دبیزاری اظهارکوی لیکن په زړه کښې ئې ایمان نشته دې بلکه دکفراوشرک پلیتی پکښې پرته ده، اودویمه فرقه هغه ده

چه دواړه قسمه شرک علانیه کوی چه یهودیان دی چه عزیر علیه السلام ته اِله وائی، اوهغه متصرف فی الامورګنړی، اودهغه په نوم نذر و نیازورکوی.

﴿سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ﴾ داصفت دیهودیانودې. «سمّٰعون» خبردمبتداء محذوف دې (ای هم سمّٰعون) اودکذب نه مرادهغه شرکیه اعمال اوعقائید دی چه احباروا ورهبانوبه بیانول کشرانو(مریدانو، شاګردانو) به قبول، بلاتحقیقه اوداتقلید مذموم ؤوچه په مقابله دحکم دالله تعالی کښې ؤو. اوتقلید دائمومجتهدینو داسې نه دې، (والله الهادی) (سَمّٰعُوْنَ) کښې سمع په معنی دقبلولوسره دې لکه (سمع الله لمن حمده). مطلب دادې چه دوئ شرکی عقائد، شرکی اعمال دیرزیات قبلوی اوحق نه قبلوی، ﴿سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ﴾ دادویم صفت ددوئ دې یعنی دوئ جاسوسان دی. (لقومٍ) موصوف دې (اخرین) ئې صفت اول دې، ﴿لَمْ يَأْتُوْكَ﴾ ئې صفت ثانی دې ﴿يُحَرِّفُوْنَ﴾ ئې صفت ثالث دې ﴿يَقُوْلُوْنَ﴾ ئې صفت رابع دې.

ددې آیت په شانِ نزول کښې دوه واقعې مذکورې دی، (۱) یودقتل او (۲) دویمه دزِنا.

داولې واقعې تفصیل دادې چه بنی قریظه اوبنی نضیرچه دیهودودوه قبیلې وې اود مدینې منورې نه ګیرچاپیره آبادې وې. بنوقریظه مغلوب اوکمزوری ؤواوبنونضیرغالب او زوره ورؤو. نوددې وجه نه بنوقریظه په دې مجبورشوی ؤوچه دوئ دبنونضیروسره داسې معاهدې کړې وه چه که چرته بنی نضیرودبنوقریظؤنه څوک قتل کړونوقصاص به نه وی بلکه صرف دیت به وی چه (۷۰)وسق (ستې)کجوری دی اوکه چرته معامله برعکس اوشوه، یعنی بنو قریظؤدبنی نضیرونه قتل اوکړونوقاتل به هم قتلولې شی (قصاص) اودیت به هم وی اودوچند دیت به وی، اودارنګه دمؤنث به بدل کښې به مذکرقتلولې شی اودیوپه بدله کښې به دوه قتولې شی. اودغلام به بدله کښې به حُرقتلولې شی، اودارنګه په قصاص بالاطراف کښې به دیوعضولکه یولاس په بدله کښې به دوه لاسونه پرې کولې شی. اوهرکله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینې ته تشریف راؤړو، نوداسلام عدل اوانصاف ټولوخلقواولیدو، اوپه دې وخت کښې داسې واقعې پیښه شوه چه بنی قریظؤدبنی نضیرونه قتل اوکړونوبنو نضیرو دبنو قریظؤنه دخپلې معاهدې مطابق د ذوچنددیت اوقصاص مطالبه اوکړه نوبنوقریظؤنه انکاراوکړواو وې وئیل چه مونږاوتاسودیوخاندان، یوملک، اویومذهب خلق یونومونږدا غیر منصفانه معامله نه برداشت کوؤ، نوبنونضیروچه داواوریدل نودېرپه غصه کښې راغلل او

اشتعال پکښې پیدا شواوقریبه وه چه جنګ شروع شی.لیکن بیاهم دبعض مشرانوپه وینااومشورې سره داسې مقرره شوه چه دامعامله دنبی صلی الله علیه وسلم حضورته یوسی اوهغوئ صلی الله علیه وسلم به فیصله اوکړی.فریقین په دې متفق شو.بنوقریظه خوپه دې راضی ؤوچه فیصله دحضورصلی الله علیه وسلم دربارته لاړه شی او دوئ دظلم دبنونضیرونه خلاص شی.لیکن بنونضیروخپل مخکنی قانون پریښودلوته تیار نه ؤو.اونبی صلی الله علیه وسلم ته فیصلې اوړلوباندې متفق شوی هم ؤو.نوددې وجه نه دوئ داسې سازش اوکړوچه نبی صلی الله علیه وسلم ته دمقدمې پیش کولونه مخکې ئې څه کسان دنبی صلی الله علیه وسلم حضور ته اولیږل.اودغه کسان په ظاهرکښې کلمه ګومسلمانان ؤواوپه حقیقت کښې کافران او منافقین ؤو.اومقصودددې نه داؤوچه دنبی صلی الله علیه وسلم نظریه معلومه کړی.اودوئ ته ئې ددې خبرې تاکیداوکړوچه که نبی صلی الله علیه وسلم زمونږدقانون مطابق فیصله کوی نوقبوله ئې کړئ اوکه زمونږدقانون مطابق فیصله نه کوی نودمنلووعده ورسره مه کوئ.

اود دویمې واقعې تفصیل دادې چه دخیبرپه یهودیانوکښې واقعه دزناپیښه شوې وه.اودتورات دحکم مطابق هغوئ رجم کول ؤومګردادواړه (زانی مزنیه) دیولوئې خاندان خلق ؤو.نودیهودیانواراده وه چه دوئ ته آسانه سزاورکړې شی.رجم سخته سزاوه.نودوئ داخیال اوکړوچه دنبی صلی الله علیه وسلم په ملت کښې آسانی اوتخفیف دې.نوددې معلوماتودپاره بنونضیرود خپل قوم څه کسان دحضورصلی الله علیه وسلم خدمت ته اولیږل.چه تاسودنبی صلی الله علیه وسلم نه حکم دزنامعلوم کړئ.که دده په ملت کښې آسانه سزاوی نوقبوله ئې کړئ اوکه سخته سزاوی نومه ئې قبلوئ. نودغه کسان (وفد) چه په هغوئ کښې کعب بن اشرف (دیهودیانوسردار) هم ؤو.دنبی صلی الله علیه وسلم په حضورکښې حاضرشو.اوسوال ئې اوکړوچه که محصن اومحصنه زنااوکړی نود دوئ څه سزا ده.نونبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چه آیاتاسوبه زمافیصله اومنئ.دوئ اقراراوکړو.په دغه وخت کښې جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَامُ تشریف راؤړواوداحکم نازل شوچه د دوئ سزاقتل دې په رجم کولو سره.نودوئ چه دافیصله واؤریدله نودمنلونه ئې انکاراوکړو.نوجبرائیل عَلَیْہِ السَّلَامُ نبی صلی الله علیه وسلم ته داسې مشوره ورکړه چه زمادفیصلې منلواونه منلودپاره ابن صوریاحَکَم جوړکړئ. نو نبی صلی الله علیه وسلم دوئ ته اووئیل چه ابن صوریاپه تاسوکښې څنګه سړې دې نودوئ

وونيل چه به يهوديانو كښې په مخ دزمكه دهغه په شان عالم نشته دې نونبي صلى الله عليه
وسلم اوفرمائيل چه هغه راؤغواړئ.نوچه هغه راغې نونبي صلى الله عليه وسلم هغه ته قسم
وركړوپوښتنې ئې ترينه اوكړوچه په دې باره كښې دتورات حكم څه دې؟ هغه اووئيل چه كه
حرنه تاسوماته قسم نه وې.راكړې اوماته داخطره نه وې چه كه چرته زه غلطه خبره اوكړم
نوسورات به ماا وسيزوى نومابه هرګزحقيقت نه وې ظاهركړې.حقيقت دادې چه دتورات حكم
رجم دې سه شان داسلام.نونبي صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل چه بياولې تاسودهغې
خلاف كوئ نوده وونيل چه وجه داده چه په مونږكښې يو شهزاده په دې جرم كښې مبتلاشوې
ؤنومونږدهغه رعايت اوكړواوهغه مورجم نكړونوبيياديو غريب سړى نه داجرم اوشونوهغه
مورجم كول اوغوښتل نودهغه خاندان احتجاج اوكړو.چه كه رجم شرعي سزاوى نوشهزاده ته
دې هم وركړې شى ګنى په مونږدې داسزاهم جارى نه شى نو يهوديانواصل حكم دتورات
پرېښودو.اوآسانه سزائې تجويزكړه چه مخ تورول اوپه خر(حمار) باندې شاه په شاه ډزانې
اومزنيه سورول دى په دې باره كښې داآياتونه نازل شويدى. ﴿لَمْ يَأْتُوكَ﴾ يعنى دغه قوم
دتكبردوجه نه تاته نه دى راغلى ﴿يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ﴾ تحريف كوى په احكاماتودتورات كښې.
﴿مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ﴾ يعنى روستووددې نه چه هغه كلم په خپل اصلى مواضعوباندې قائم
اوثابت ؤو. ﴿يَقُولُونَ﴾ داصفت دقوم دې يعنى خيبروالايهوديانو نوركسان بنى نضير راليږلى
ؤواوهغوئ ته ئې وصيت اوتاكيدكړې ؤوچه ﴿إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا﴾ په (هذا) كښې اشاره ده محرف
حكم ته يعنى كه نبى صلى الله عليه وسلم تاسو ته دا آسانه سزا بيان كړه نو قبوله ئې كړئ
اوكه سخته سزا وى نو مه ئې قبلوئ ﴿وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُۥ﴾ فتنه په معنى دګمراه كولواو
رسواكولوياعذاب وركولوسره دې.دالله تعالى عادت تكوينى دادې چه بنده ديوفعل عزم
كوى نوالله تعالى دهغې تخليق كوى.نودوئ دخپل اصلاح عزم نه كوى بلكه په كفراو ګمراهئ
باندې مصروى نوالله تعالى ددوئ دګمراه كولواراده كړې ده نوداقانون اوعادت الهى هيڅ
خوك نشى ماتولې.نواراده دالله تعالى د دوئ دګمراهئ، مرتبه ده د دوئ دګمراهئ په عزم
باندې ﴿فَلَن تَمْلِكَ﴾ (اى لن تستطيع،لن تقدر)

﴿لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ﴾ پاكوالې دكفراومنافقت نه په مشيت دالله تعالى سره دې اوددې
نه رديه معتزلؤمعلوم شو چه هغوئ قائل دى په دې چه افعال دعبادو مخلوق دعبادودى.

﴿سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ﴾ دادتاکیددپاره دوباره ذکرشو،دسمع نه مراداوریدل اوقبلول دواړه دی اوداصفت په یهودوعواموا وخواصودواړوکنبې دې ﴿أَكّٰلُونَ لِلسُّحْتِ﴾ داصفت دیهودو دخواصو اواکابرودې چه رشوت،نذرانې،شکرانې به ئې اغستلې.اوددې دحصول دپاره ئې غلط احکامات،مسائل بیانول اوحقه خبره به ئې بالکل مسخ کوله. (اکال) صیغه د مبالغې ده.په کثرت اواصراربانديې دلالت کوی.او(سُحت) هرهغه څیزدې چه حلال نه وی د هغې کسب. قرطبی دهغې دیراقسام لیکلی دی اودارنګه روح المعانی په روایت دبهیقی دابن مسعودرضی الله عنه نه ذکرکړیدې چه (١) رشوة الامام،(٢) ثمن الکلب،(٣) عسب الفحل،(۴) مهرالبغی. (۵) کسب الحجام،(٦) حلوان الکاهن،اودلته ترینه مرادرشوت دې.حضرت الشیخ رحمه الله فرمائی چه ددې نه مرادنذرانې،یعنی نذرلغیرالله دې،لکه صاحب دشامی دنذرلغیرالله په باره کښې لیکی،(و لانه حرام بل سحت) (ص١٢٨جلد٢) مطبوعه مجتبائی قبیل باب الاعتکاف) ﴿فَإِن جَآءُوكَ﴾ یعنی که دامسارعین فی الکفرتاته راشی نوستااختیاردې چه که ته فیصله کوې د دوئ په مینځ کښې یاترینه اعراض کوې یعنی فیصله نه کوې

ددې آیت په باره کښې دمفسرینودوه اقوال دی اول داچه داآیت منسوخ دې په روستو آیت سره چه (وان احکم بینهم بماانزل الله) سره،اوذمی چه اسلامی حاکم ته فیصله یوسی نوپه حاکم باندې فیصله کول واجب دی تخیرنشته دې،

اودویم قول دادې چه دامنسوخ نه دې ځکه چه کافرپه دوه قسمه دې،یوذمی دې،نود حاکم دپاره ضروری ده چه داهلِ ذمؤفیصله به کوی،اوبل هغه دې چه ذمی نه وی بلکه معاهد وی.لکه یهود دمدینې.هغوئ ذمیان نه ؤوبلکه معاهدین ؤ.دنبی صلی الله علیه وسلم سره ئې معاهده کړې وه چه مونږبه تاته نقصان نه رسوؤ،اوستاخلاف به ستاد دښمن مددنه کوؤ.نوکوم کافر چه ذمی نه وی نودهغه په باره کښې حاکم ته اختیاردې چه دهغوئ فیصله کوی اوکه نه ئې کوی.نوداآیت ددې قسم کافرانوپه باره کښې دې لکه قرطبی وائی. (هذا تخيير من الله تعالى ولايجب علينا الحكم بين الكفاراذالم يكونواهل ذمة بل يجوزالحكم ان اردنا) .امام رازی لیکی.(هذا التخيير بالمعاهدين الذين لاذمة لهم) (كبير)،اوروستوتنې آیت په باره داهلِ ذمؤکښې دې. امام جصاص په احکام القرآن کښې د دواړوآیتونویه مینځ کښې

دغه شان تطبیق کړې دې.

﴿وَإِن تُعۡرِضۡ﴾ مخکښې دوه شقونه ذکرشو. یعنی فیصله کول. اعراض کول. نو اوس په هریو باندې تفریع ده. په دویم شق باندې تفریع اولاً ګیږی. چه په صورت د اعراض کښې احتمال ؤو. چه دوئ مزید عداوت شروع کړی اوضررا ورسوی نو ددې توهم ازاله اوشوه چه تاته هیڅ ضررنشی رسولې. او ددې توهم د ازالې د تعجیل د پاره په شقِ ثانی کښې تفریع مقدمه شوه.

﴿وَإِنۡ حَكَمۡتَ﴾ دا تفریع په اول شق ده یعنی که ته فیصله کوې نو د شرعی قانون مطابق ئې کوه او دهغوئ د قانون مطابق ئې مه کوه ددې مضمون بیان په څلورو عنوانا تو سره دلته شویدې عنوان. (۱) اول دادې (فان جاءوک فاحکم بینهم اواعرض) (۲) دویم عنوان دادې (وان حکمت فاحکم بینهم بالقسط) (۳) دریم عنوان (وانزلنا الیک الکتاب بالحق مصدقالمابن یدیه من الکتاب ومهیمناعلیه فاحکم بینهم بماانزال الله ولاتتبع اهواهم عماجاءک من الحق، **ایت نمبر ۴۸**) (۴) څلورم عنوان (وان احکم بینهم بماانزل الله الخ آیت نمبر ۴۹)، مقصود ددې مضمون تاکیددې چه فیصله ضرور بالضرور په شرعی قانون سره کوه، ځکه چه صرف دا انصاف دې او دا د الله تعالی د طرف نه منزل دې او د شرعی قانون برخلاف فیصله کول د خواهشاتو اتباع ده. د حق او انصاف اتباع نه ده.

وَكَيۡفَ	يُحَكِّمُونَكَ	وَعِندَهُمُ	ٱلتَّوۡرَىٰةُ	فِيهَا	حُكۡمُ	ٱللَّهِ
اوڅرنګ به دوئ تالره حَکَم اومنصف اوګرځوی حالانکه دوئ سره تورات دې په هغې کښې فیصله دالله ده						
ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝						
بیا مخ اړوی دوئ روستو ددېنه ، او ندی دوئ مومنان						

﴿وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ﴾ دا هم زجر دې یهودیانو ته چه دوئ تالره حکم نه منی او کوم کسان چه دحُکم دقتل یا د حکم د زنا په باره کښې معلومات کوی نو مقصود ئې امتحان دې عمل کول ئې مقصود نه دی ځکه که چرته دوئ دالله تعالی په حکم باندې عمل کولې نو دالله تعالی حکم په باره دقصاص او درجم کښې په تورات کښې موجود دې ﴿فِيهَا حُكۡمُ ٱللَّهِ﴾ ددې نه مراد رجم دې نو معلومه شوه چه رجم حکم دالله تعالی دې او دا هم معلومه شوه چه حکم درجم په قرآن پاک کښې په دې آیت کښې مذکور دې ﴿ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ﴾ (ثم) د استعباد او د تعجب د پاره دې.

﴿وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ﴾ يعنى ددوئ نه په تاباندې اونه ستاپه كتاب ايمان شته اونه
ئې په تورات ايمان شته.نودوئ بالكل مؤمنان نه دى

اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا
بېشكه مونږ نازل كړېدې تورات پدې كښې هدايت وؤ دعقيدې اورنړا وه دعمل. فيصلې كولې په هغې سره
النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ
پيغمبرانوهغه كسان چې تابع وؤ حكم دالله. هغه كسانو لره چې يهوديان وو اوفيصلې كولې په هغې سره، خدائى خلقو اوعلما،
بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ
په سبب ددې چې دوئ نگهبانان نگران مقرر كړې شوى وو په كتاب دالله باندې، او وو دوئ په هغې باندې
شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِىْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ
خبردار. پس مه يريږئ دخلقونه اويره كوئ خمانه اومه اخلئ په آياتونو خما پيسې بدله لږې ددنيا
وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَكَتَبْنَا
اوچاچې فيصله اونكړه په هغې حكم چې نازل كړېدې الله نو دغه كسان دوئ كافران دى. او لازم كړې وو مونږ
عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ
پدوئ باندې پدې تورات كښې چې بېشكه نفس (تن) به قصاص كيږي په بدله د نفس كښې اوستركه به
بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ
په بدله دستركه كښې اوپوزه په بدله دپوزه كښې اوغوږ په بدله دغوږ كښې اوغاښ په بدله دغاښ كښې
وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ
اوزخمونه بدله ددوئ برابر ده. پس چاچې معافي اوكړه پدې قصاص سره نو دا كفاره ده دگناهونو دده .
وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۵﴾
او چاچې فيصله اونكړه په هغه حكم چې نازل كړېدې الله نودغه كسان هم دوئ ظالمان دى

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ﴾ په دې کښې زجردې یهودیانوته اوترغیب دې اتباع دتورات ته

﴿فِيهَا هُدٗى وَنُورٞ﴾ د(هدیٰ) او(نورٌ) فرق دادې چه نوربیان دعقیدې دې اوهدی بیان داحکامو اوشرائعودې اویا بالعکس د دې، او یاهدیً بیان دعقائدواواحکاماتودې اونور دفع دشبهاتوده

﴿يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ﴾ دادتورات داهمیت اوشرافت اظهاردې.چه داهغه کتاب الهی دې چه دمخکنو،صدو،پیرونه معیاردحق اودعدل راغلیدې اوانبیاء دبنی اسرائیلو اوحقانی علماؤ.اوربانی پیرانوددې مطابق فیصلې کړیدی.﴿ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ﴾ داصفت کاشفه د (نبیون) دې ذکرشوېدې دپاره دمدح اوتعریض دې په یهودوچه دوئ تابعداری نه کوئ،

﴿بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ﴾ باء سببیه ده اوداسبب دې (یحکم بهاالخ) (استحفاظ) دې ته وائی چه دچانه داطلب اوسوال اوکړې شی چه ته دفلانې څیزحفاظت کوه،(من کتاب الله) کښې (من) بیانیه دې یعنی ددوئ نه ددې خبرې طلب کړې شوې ؤوچه دکتاب الله حفاظت کوی.او دوئ نګرانان نګهبانان مقررکړې شوی ؤوپه کتاب الله،

﴿وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَ﴾ دادویم سبب دې اوشهادت په معنی دعلم سره دې،

(فائده) دتورات انجیل حفاظت الله تعالی اجبارو رُهبانوته حواله کړې ؤواودقرآن د حفاظت ذمه الله تعالی پخپله اغستې ده.﴿فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ﴾ کتمانِ حق د دوو وجهو نه کیږی (۱) یره (۲) اوطمعه په ﴿فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ﴾ کښې داول رد دې اوپه ﴿وَلَا تَشۡتَرُواْ﴾ کښې د دویمې طریقې منع ده.

﴿وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ چاچه په قرآن فیصله اونکړه نوهغوئ کافردی په دې سره خوارج استدلال کوی چه مرتکب دکبیره کافردې ځکه چه په قرآن فیصله نه کول ګناه کبیره دی.اهلِ سنت والجماعت وائی چه کفرپه انکارکولوسره راځی.اوددې آیت متعددتوجهیات کوی.

(۱) داحکم خاص دې په یهودوپورې نولفظ د(من) په معنی دالذی سره دې (ای والیهود الذین لم یحکموا بماانزل الله)، اودآیت مطلب دادې چه څوک چه شرعی حکم اوسزاپته کړی اوخود ساخته سزانه حکم شرعی وائی لکه یهودوچه داسې اوکړل،نوداسې خلقوپه کفرکښې هیڅ

شک نشته دې داتوجيه مروی ده،دعکرمه،ضحاک،اوابن عباس رضی الله عنه،اوحذيفه رضی الله عنه،موقوفًامرفوعًا(ابن جرير). (۲) دويم داچه ددې آيت تعلق داعتقادسره دې نه دعمل سره،د حکم نه مرادحکمِ قلبی اعتقادی دې نود(لم يحکم) معنی داده چه (لم يعتقد) دې،دحضرت عکرمه رضی الله عنه نه مروی ده (من لم يحکم بماانزالله جاحدًا له فقدکفر). (۳)دکفرنه مرادکفرحقيقی نه دې بلکه (کفردون کفرٍ) اوپه قرآن اوسنت کښې دااستعمال ډيرشائع کثيردې. ﴿ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ ﴾ ضميرد(عليهم) راجع دې يهوديانوته اوداقرينه ده په دې،چه ماقبل حکم، هم ديهودودپاره دې. په شانِ نزول کښې چه اوله واقعه مخکښې ذکرشوه نوپه دې آيت کښې دهغې دحکم تفصيل دې چه يهودوبنی نضيرودهغې کتمان کړې ؤو،اوقرآن دهغې اظهاراوکړوچه په تورات کښې دقتل حکم قصاص دې،(خون کابدله خون) اوفرق نشته دې دشريف غيرشريف،مطلق نفس په بدله دمطلق نفس کښې دې هرڅوک چه وی،دهرخاندان نه چه وی،نارينه وی يازنانه وی،حُروی ياغلام،البته په قصاص فی الاطراف کښې دحُر،عبد، فرق نشته دې،نود﴿ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ ﴾ معنی داده چه (عين الحربعين الحر،وعين العبد بعين العبد) دغه شان ﴿ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ ﴾ الخ، کښې هم دغه معنی ده په قرينه دآيت دسورتِ بقره سره هلته (الحربالحر) دې نوداآيتِ دهغې تفصيل دې چه هلته مرادقصاص بالاطراف دې،اودا رنګه دلته چه (ان النفس بالنفس) دې اوپه سورتِ بقره کښې (کتب عليکم القصاص فی القتلی) دې نو د دواړومطلب يودې چه قصاص فی النفس دې نوپه قصاص فی النفس کښې دحراودعبد، مذکر،مؤنث،فرق نشته دې اوپه قصاص فی الاطراف کښې ئې فرق شته دې، (وفی الهداية ولاقصاص بين الرجل والمراة فيمادون النفس،ولابين الحروالعبد،الخ ص۵۶۹جلد۴)،

﴿ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ﴾ ماقبل کښې دڅلوروحواسوذکرراغې،(۱) باصره، (العين بالعين)،(۲) شامه،(والانف بالانف)،(۳) سامعة، (الاذن بالاذن)،(۴) ذائقه ته اشاره ده په (والسن بالسن) کښې،اوپه (والجروح) کښې دباقی زخمونوذکردې،نوداتعميم بعدالتخصص دې،چه په دې کښې هم قصاص دې،(قصاص) (ای ذو قصاص،ای يقتص فيها)،په دې کښې به هم قصاص اغستې شی ليکن په شرط ددې سره چه په هغې کښې مساواة ممکن وی اوکه ممکن نه ؤونوبيا په کښې (حکومة عدلٍ) دې،يعنی يوعادل دې فيصله اوکړی چه ددې زخم دومره ديت دې

هغه به ورکولې شي. ﴿فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ﴾ ضمیرد (بِهٖ) قصاص ته راجع دې اودا ترغیب دې معافی کولو ته یعنی چا چه معافی اوکړه اوقصاص ئې معاف کړوجانی ته، (جنایت کوونکی ته) نو الله تعالی به هم دده جرم معاف کړی، (ولی روایة رواه الدیلمی عن ابن عمرفیحط عنه من خطایاه بقدرماعفی عنه من جسده ان کان نصف الدیة فنصف خطایاه وان کان الدیة کلهافخطایاه کلها مختصرًا)، اوبعض مفسرین داسې مطلب بیانوی چه د (فمن) نه مراد جانی، مجرم دې اود (تصدق به) نه مراد دادې چه مجرم خپل ځان قصاص ته په خوشحالئ سره حواله کړی نوپه دې سره به الله تعالی دده جرم معاف کړی اوپه آخرت کښې به ورته سزانه ورکوی، ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ﴾ (ای فی القصاص وغیره)، ﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ قصاص عدل دې نوچه څوک عدل ترک کړی نوګمراه شی اود هغه چاپه شان شی چه په (ظلمة) کښې روان وی، نوکه ترک عدل ئې عقیده اودین ګرځولې وی نودا اعلی قسم ظالم دې یعنی کافر، اوکه ترک دعدل ئې عقیده اودین نه وی نودا عاصی دې، نولفظ دظالم دواړوته شامل دې

وَقَفَّيْنَا	عَلَىٰٓ	ءَاثَٰرِهِم	بِعِيسَى	ٱبْنِ	مَرْيَمَ	مُصَدِّقًا	لِّمَا

او رالیږلې وومونږ په نقش قدم ددوئ باندې عیسیٰ خوئې دمریم تصدیق کوونکئ وو دهغه کتاب

بَيْنَ يَدَيْهِ	مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ	وَءَاتَيْنَٰهُ	ٱلْإِنجِيلَ	فِيهِ	هُدًى	وَنُورٌ	

چې مخکښې دده نه وو چې تورات دې. او ورکړې وو مونږ ده ته انجیل په دې کښې هدایت ووږ عقیدې او رڼا د عمل

وَمُصَدِّقًا	لِّمَا بَيْنَ	يَدَيْهِ	مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ	وَهُدًى	وَمَوْعِظَةً	لِّلْمُتَّقِينَ ۝	

او تصدیق کوونکې وو دهغه کتاب چې مخکښې دده نه وو چې تورات دې اوهدایت اووعظ وو دپاره د متقیانو

﴿وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم﴾ په دې کښې دبنی اسرائیلو دویم کتاب انجیل ذکردې چه نازل ووپه حضرت عیسی علیه السلام باندې، ﴿مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ (ای قبله) عیسی علیه السلام دنزول دانجیل نه مخکښې دتورات تابع وو، دهغې بیان ئې کولو، ﴿وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ﴾ بیا انجیل نازل شواوبعض احکام دتورات منسوخ شو، ﴿فِيهِ هُدًى﴾ په انجیل کښې احکامات وو، ﴿وَنُورٌ﴾ دعقائدوبیان وو، یاد (نور) نه مراد بیان داحکاماتودې اود (هدی) نه مراددعقائدو دې، ﴿وَمُصَدِّقًا﴾ یعنی انجیل تصدیق کوونکې ووډتورات دپاره، توعیسی علیه السلام هم تصدیق دتورات کړیدې، او

انجيل هم تصديق دتورات كړيدي چه احكام دتورات حق اومن جانب الله دي.اوبعض ددغه احكاماتونه حكم دقصاص هم دي اوحكم درجم دزاني محصن هم دي.او تصديق كول منافي نه دي دنسخ دبعض احكاماتو سره.﴿وَمَوْعِظَةً﴾ زجراومنع كول دناحق نه

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ

اوونيل مونږ چې فيصله دې كوي انجيل والا په هغه حكم چې نازل كړيدي الله په انجيل كښې

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴۷﴾

او چاچې فيصله اونكړه په هغه حكم چې نازل كړيدي الله نودغه كسان هم دوئ نافرمان دي

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ

اونازل كړيدې مونږ تاته كتاب (قرآن) په حقه سره تصديق كوونكې دې دهغې چې مخكښې دده نه دي كتابونه

وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

اونګراني كونكې دهغې. نو فيصله كوه په مينځ ددوئ كښې په هغې سره چې نازل كړيدې الله

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ

اوتابعداري مكوه دخواهشاتو ددوئ مخ اړونكې دهغې نه چې راغلېدې تاته حق. دهرچادپاره مقرر كړيدې مونږ ستاسو نه

شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ

شريعت اولويه لار. اوكه الله غوښتلې نوخامخابه ئې ګرزولې وئ تاسو يوامت ليكن الله غواړي چه آزمېښت اوكړي په تاسو

فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ

په هغه څه كښې چې دركړي دي تاسوته. نومخكښې كيږئ ديوبل نه په نېك كارونو كښې. خاص الله ته

مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۸﴾

ورګرځېدل ستاسو دې ټولو. نوخبربه دركړي تاسوته په هغه څه باندې چې تاسو په هغې كښې اختلاف كوئ

﴿وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ﴾ دلته (قلنا) مقدردې.يعنى اتباع دعيسى عليه السلام دي په احكامو

د انجيل حکم اوکړی، اوچه کوم احکامات دتورات منسوخ شويدی دهغې نه دې منع شی

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ﴾ داجمله درې ځله ذکرشوه اول.وار.

﴿هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ﴾ دې،اوکافرون،کافرِحقيقی اوکفرِدون کفردواړوته شامل دې اودويم ځل

﴿هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ دې داهم شامل دې کافراوفاسق ته،اودريم وار. ﴿هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ﴾ دې

اوداهم دواړوته شامل دې.اوددې نه معلومه شوه چه پرينبودل دحکمِ الهی سبب دکفراوظلم

اودفسق دې،اوپه دې خاص ترتيب سره چه اول د(هم الكافرون)اوبياد (هم الظالمون) اوبياد (هم

الفسقون) ذکردې. ددې دپاره بعض حضرات دانکته وائی چه په اول کښې

دايمانيانوذکرؤواومقابل دايمان کفر دې،نوددې وجه نه اول وارد (كافرون) ذکراوشو.اوپه

دويم وارکښې دقصاص ذکردې او قصاص قانون دعدل دې اومقابل دعدل ظلم دې.نودلته

ذکرد (الظالمون) مناسب شواوپه دريم ځائې کښې صفت دتقوی ذکردې، ﴿وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ﴾

اودتقوی مقابل فسق دې،نودلته د (الفاسقون) ذکرمناسب شو،اوبعضِ حضرات داسې نکته

وائی چه کفر وصفِ مشترک ؤو،په مابين ديهوديانواونصاراؤکښې نوهغه اول

ذکرشو.اوصفت دظلم په يهودوکښې غالب ؤو، حتی چه دوئ په خپلومخالفينوباندې هرقسم

ظلم جائزګڼړی،نودهغوئ سره (الظالمون) مناسب ؤو،اوپه نصاراؤکښې عقيده دجواز،دظلم نه

وه البته وصف دفسق،شراب نوشی،زنا،وغيره غالب ؤو،نودهغوئ سره ذکرد (الفاسقون)

مناسب ؤو ﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ﴾ دتورات انجيل دذکرنه بعدقرآن کريم ذکردې چه داموږپه

حقه سره نازل کړې دې چه کذب اوشک په کښې نشته دې اوتصديق کوی دمخکنوکتابونو.

﴿مِنَ ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه مرادجنس دې.

﴿وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ﴾ قرآن نګران،نګهبان دې،دمخکنوکتابونواوپه هغې کښې چه چا تحريف

کړی دې نوقرآن دمحرف حکم تصديق نکوی بلکه دغلطئ اودخباثت اظهارکوی.

﴿فَٱحْكُم بَيْنَهُم﴾ هرکله چه قرآن داسې صفاتووالاکتاب دې نوپه دې سره حکم او

فيصله کوه په مابين داهلِ کتابوکښې کله چه دوئ مرافعه اوکړی تاته،اود دوئ دخواهشاتو

اتباع مه کوه.اود دوئ دمحرف حکم موافق فيصله مه کوه ﴿عَمَّا جَآءَكَ﴾ داحال دې ای معرضً

عادلاً ﴿عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ﴾ بيان د(ماجاءک) دې اوخطاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اوشو.اوحال داچه دنبی صلى الله عليه وسلم نه داخبره متصوره نه ده چه اتباع دخو اهشاتو داهلِ کتابو به اوکړی یابه اعراض د(**ماانزل الله**) نه اوکړی،نوپه دې کښې اشاره ده کمالِ اجتناب ته داتباع دخواهشاتو دهغوئ نه،چه معصوم ته داسې حکم دې نوغیرمعصوم ته په طريقِ اولى سره دې،لکه، (**ولاتدع من دون الله مالاينفعک ولايضرک**) وغيره من الايات، ﴿لِكُلٍّ﴾ تنوين عوض دې دمضاف اليه نه په اصل کښې (لکلِ امةٍ) ذې او﴿مِنكُمْ﴾ خطاب، حاضرينو ته دې.چه مؤمنان اويهود ،نصارى دې يا ټولوخلقوته دې،موجودخلق اوتيرشوى خلق.

﴿شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ (**شرعة**) په کسره دشين سره اوفتح سره هم راغلې دې،په اصل کښې هغه لارې ته وائی چه په هغې باندې تللوسره سړې اوبوته اورسى.اوشارع لوئې لارې اوسړک ته وائى (قرطبى) اومرادپه دې سره دين دې چه په دې باندې تللوسره حياتِ ابدى ته سړې رسى لکه چه اوبه سبب دحياة دنيوى دې،اودلته د دواړونه مراد،يوشيزدې يعنى دين،خو(**شرعة**) ورته په اعتباردظهورسره وائى،ياورته په دې اعتبارسره وائى چه الله تعالى مشروع کړې دې.او (**منهاج**) ورته دتللوپه اعتبارسره وائى،اودابن عباس رضى الله عنه نه روايت دې چه (**شرعة**) نه مرادسبيل دې يعنى دنبى تعليمات اوکتاب،او(**منهاج**) نه مراددنبى تعامل اوسنت مراد دې او بعضو وئيلى دى چه د(**شرعة**)نه مطلقِ شريعت مراد دې اود(**منهاج**) نه کمالات دشريعت مراد دى او بعضووئيلى دى چه د(**شرعة**) نه فروع مراد دى اود(**منهاج**) نه اصول اواعتقاديات مراد دى.

اوددې آيت په تشريح کښې دمفسرينودوه قوله دى **اول** داچه داجمله مستانفه ده.اوپه دې کښې اهلِ کتابوته ترغيب ورکولې شى داتباع درسول الله صلى الله عليه وسلم په دې شان چه امة هغه خلقوته وئيلې شى چه ديونبى په زمانه کښې وى نوپه دغه خلقوباندې ددغه وخت دنبى اتباع ضرورى وى، اوبياچه روستو بل نبى راشى نودابل امت وى اوپه دوئ باندې ددغه بل نبى اتباع ضرورى وى.وهکذا ،نودحضرت موسى عليه السلام په زمانه کښې دهغه اتباع ضرورى وه اود حضرت عيسى عليه السلام په زمانه کښې دحضرت موسى عليه السلام دشريعت احکامات منسوخ شواود حضرت عيسى عليه السلام اتباع ضروى شوه اوپه انجيل عمل کول ضرورى شو، او دحضورصلى الله عليه وسلم په بعثت سره تورات انجيل منسوخ شواودحضورصلى الله عليه

وسلم او دقرآن اتباع ضروری شوه نو دحضرت مجاهد رحمه الله نه داسې روایت دې. (لکل امة جعلنا القرآن شرعة ومنهاجاً).

اودویم قول دادې چه داجواب دسوال دې هغه دادې چه که اهلِ کتاب اووائی چه زمونږ په تورات انجیل کښې خودقرآن نه خلاف احکام موجود دی لکه طریقې دمونځ، روژې وغیره نودې څنګه مصدق اومهمین دې نوپه دې آیت کښې جواب اوشوچه دغه اختلاف دفروعو دې. نوپه اصولو کښې اختلاف نشی راتلې، اوپه فرعو کښې راتلې شی دهرامت دپاره جداجدا فروع وی دیوامت احکام فرعیه په بل شریعت کښې منسوخ کیدې شی، لکه په حدیث کښې دی. (الانبیاء اِخوة لعلاتٍ، امهاتهم شتی ودینهم واحد)، یعنی انبیاء علاتی رونړه دی میندې (فروع) ئې جداجدادی اصول ئې یودی، لیکن داتکذیب نه دې، یعنی روستنې کتاب اوشرع دانه وائی چه دغه مخکنی حکم غلط ؤو، بلکه داسې وائی چه هغه حکم صحیح ؤو، خودخپل وخت دپاره ؤو. اودموجوده وخت دپاره حکم بدل شو.

﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ﴾ یعنی که چرته دالله تعالی اراده وې نوتاسوبه ئې په ټولوزمانو کښې په یوملت ګرځولې وې اونسخ اوتبدیل به نه وې لیکن دالله تعالی دغسې اراده نه وه او حکمت په کښې دادې چه په تاسوامتحان اوکړی، انسان چه دیوحکم سره عادت شوې وی نو هغه پریښودل اوبل اختیارول داکمال امتحان دې، خپله مرضی، پسند، عادت دالله تعالی دحکم دوجه نه پریښودل، دکمالِ اطاعت کمال ایمان علامه ده، یادامطلب دې چه روستودنزول دقرآن نه بیاهم خلق مختلف شویدی چاایمان راوړې دې اوچاکفرکړې دې نوداهم په اراده او مشیت دالله تعالی سره دې اوپه دې کښې حکمتِ الهی ابتلاءاوامتحان دې.

﴿فَٱسْتَبِقُوا ٱلْخَيْرَٰتِ﴾ یعنی داختلاف دشرائعودوجه نه، تعصب مه کوئ بلکه دفائدې کارونوطرفته چه صحیح عقائد، اعمال احکام دی، سبقیت اوکړئ. (استباق) دبل چاپه مقابله کښې منډې وهلوته وائی یعنی دیوبل سره دنیکې په کارونوکښې سیالی کوئ، اوتعصب، ضد مه کوی. اوددې خبرې استحضاراوکړئ چه دقیامت په ورځ دټولوحاضری دالله تعالی په حضورکښې ده. نوچاچه باوجوددحق واضح کیدلونه صرف دضداوتعصب دوجه نه اختلاف کړیدې، نوالله تعالی دهغه ضداوتعصب ښکاره کړې اودهغې مطابق به ورته بدله ورکوی

﴿إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم﴾ دداسې اخبارنه مقصودجزاء وسزاورکول وی.

وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ

وحکم کبه بشی تاته ځې فیصله کوه په مینځ ددوی کښې په هغه کتاب سره چې نازل کړیدې الله او تابعداری مکوه دخواهشاتو ددوی

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا

او ځان ساته ددوی نه (هسې نه) چې واړوی تا لره دبعضې هغه نه چې نازل کړیدې الله تاته. نو که مخ اوګرځولو دوی

فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

نو پوهه شه چې بېشکه دالله اراده ده چې اورسوی دوی ته عذاب په سبب د بعضې ګناهونو ددوی سره. او بېشکه ډېر دخلقو نه

لَفٰسِقُوْنَ ۝ اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ۭ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا

خامخا نافرمانه دی آیا نو فیصلې دجاهلیت غواړی دوی. اوڅوک زیات ښائسته دې دالله نه په فیصله کولو کښې

لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۝

هغه قوم دپاره چې یقین کوی

﴿ وَاَنِ احْكُمْ ﴾ دلته **(وامرك)** مقدردې،یعنی تاته داامرکوم.اوکشاف وغیره وائی چه دا عطف دې په (الکتاب) باندې په **(وانزلنااليک الکتاب)** کښې،(ای وانزلنااليک ان احکم- الخ) او دا تاکید دې دماقبل حکم دپاره،چه اهلِ کتاب که چرته ستاحضورته راشی نوته د دوئ په مابین کښې فیصله دقرآن په حکم باندې اوکړه اود دوئ دخواهشاتو اومحرف احکاماتواتباع مه کوه اوپه آئنده کښې هم ددې پشان احتیاط کوه چه چرته دا مکاران.چالاکان تالره د**(ماانزل الله)** نه وانهړوی.د**(ماانزل الله)** اړول.دنبی صلی الله علیه وسلم په حق کښې احتمال نه ؤو.نوبیاددې حکم کولو فائده داده چه داقصد کول،هم موجب داجراوثواب دې په حق دنبی صلی الله علیه وسلم کښې اوامتیانوته تنبیه ده،چه دیهودواونصاراؤدتلبیس نه ځان بچ اوساتی﴿ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ﴾ یعنی دبعضونه اوړیدل ګناه دې نوډیرونه اوړیدل خوډیرګناه دې. ﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا﴾ که چرته دوئ باوجود دوضوح دحق نه اعراض اوکړی ستادفیصلې منلونه. نو بیا پوهه شه چه دالله تعالی دا اراده ده چه دوئ ته په دنیاکښې سزادقتل.اودغلامئ ورکړی. لکه چه دیهودیانوسره داسې کاراوشو.اوداسزادبعضِ ذنوبُ (جرمونو) ده.اوپوره سزادکفربه ورته په آخرت کښې ورکولې شی.اوپه دوئ کښې ډیرفاسقان دی نوددوئ دفسق په

وجه ورته سزا په دنيا آخرت کښې ورکولې شي،نو دوئ ته په سزا ملاويدلو باندې مه خفه کيږه .

﴿ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ﴾ اوپه دې آيت کښې تصريح ده،چه اعراض دتحکيم دقرآن نه سبب دعذاب دې،مدخول دهمزه چه معطوف عليه دې مقدردې (اى،ايتولون عن حکم الله فيبغون حکم الجاهلية) يعنى دا اهلِ کتاب ستادفيصلې نه چه د دوئ دکتاب سره موافق ده.اعراض کوى. اودآسمانى شرائعوخلاف،اختراعى دجاهليت فيصله ستانه غواړى.داځومره قبيح ځومره جرم دې.اوجهل اودتعجب خبره ده،اودالله تعالى دفيصلې سره برابره،يادذې نه غوره فيصله دهيچانشى کيدې ليکن دادهغه چاپه نيزچه يقين اوايمان لرى.(لِقَوْمٍ) په معنى د(عندقوم) دې

(فائده) داسلامى فيصلې نه خلاف فيصله حق ګڼړل کفردې،اوداسلامى قانون نه خلاف قانون باندې فيصله کول،چه حق ئې نه ګڼړى ګناهِ کبيره اوفسق اوظلم دې.برابره خبره ده چه صرف يهوديت،نصرانيت وى.اوکه مخلوط وى داسلام اويهوديت،نصرانيت نه.(لکه پاکستانى قانون).اودې ته،د(عدالت) نوم وئيل خطرناک لفظ دې.داخوضلالت (کفرى قانون) ته عدالت وئيل دى .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن

اې ايمان والو[1] مه نيسئ يهوديان اوعيسايان دوستان، ځينې ددوئ نه دوستان دبعضودى. اوچاچې

يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

دوستى اوکړه ددوئ سره ستاسونه نو بېشکه هغه به ددوئ نه وى. بېشکه الله هدايت نه کوى قوم ظالمانو ته

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ ديهودواونصاراؤدخباثتونواوبداعمالوذکرکولونه روستو . مسلمانانو ته دترکِ موالات حکم دې،چه د دوئ سره دوستى تعاون مه کوئ،بلکه ديوبل سره دوستى محبت کوئ،دوئ ستاسوپه مقابله کښې ديوبل سره تعاون،محبت کوى،نوتاسود دوئ نه دخيرتوقع اواميد مه لرئ .

﴿ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ﴾يهودى ديهودى دوست وى،نصرانى دنصرانى دوست وى.نوپکارده چه مسلمان دې دمسلمان دوست وى، يادامطلب دې چه يهودنصارى اګرکه په خپل مينځ

1. ديهودونصاري سره ترک موالات اوکړئ اوديوبل سره محبت کوئ

کنبې مخالف او دښمنان دی لیکن ستاسو په مقابله کښې بیا دیو بل دوستان دی نو ددې وجه نه د دوئ نه د خیر طمع توقع مه لرئ، نو په دې کښې بیان د علت دې، د نهی د پاره،

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ﴾ دا زجر او وعید دې په موالات د دوئ، یعنی څوک چه د دوئ سره دوستی اوکړی په څه طریقه سره نو دې به په دغه اعتبار سره د هغوئ نه وی، نو که عقیدةً دوستی او محبت ؤو، نو هغه به حقیقةً یهودی نصرانی وی لکه منافقین . او که په عقیده کښې نه وی بلکه په رسم رواج، لباس وغیره کښې وی نو په دغه اعتبار سره یهودی دې نصرانی دې، لکه په حدیث کښې دی، (من تشبه بقومٍ فهومنهم)، مراد تشبه ده، په امورود دین د هغوئ کښې لکه د هغوئ په عید کښې شرکت کول، د هغوئ پشان لباس، د صلیب شکل استعمالول.

﴿لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ د ظالمینو نه مراد هغه دی چه ظلم کوی په خپل ځان په سبب د دوستئ د دوئ (ظلموا انفسهم بموالات الکفار، (شربینی)، د (لایهدی) معنی داده چه داسې خلقوته د دین پوهه نه نصیب کیږی.

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ
پس وینې (١) به ته هغه کسان چې په زړه کښې ئې مرض دې تیزی به کوی دوئ په دوستانه دَ دوئ کښې، وائی دوئ
نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ
چې یریږو مونږ چې اوبه رسی مونږ ته څه حادثه، نونږدې ده چې الله به راولی فتح یا بل څیز (٢) دخپل طرفه
فَيُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّوا۟ فِيٓ أَنفُسِهِمْ نَٰدِمِينَ ۝ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ
نوشی به دوئ په هغه څه چې پټ ساتلې وی په زړونو خپلو کښې پښیمانه، او اوبه وائې مومنان آیا دا هغه کسان دی
أَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ
چې قسمونه ئې کړی وؤ په الله باندې کلک قسمونه د دوئ، چې بېشکه دوئ خامخا ستاسو ملګری دی

١ - شکوه . د منافقانو نه
٢ - شرمندګی په ظهور د نفاق سره

حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خٰسِرِيْنَ ۝

برباد دي عملونه د دوئ نو شول دوئ تاوانیان

﴿ فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ﴾ دا زجرا وشکوه ده د منافقینو نه. د مرض نه مراد نفاق او محبت د کفارو دې، منافقینو د کفارو، یهودو سره دوستی کوله او عذرئې داکولو چه دا دوستی مونږ خکه کوؤ، چه که په مونږ څه حادثه راشی نو دوئ زمونږ تعاون کوی. (لکه موجوده دوربې ایمان حاکمان چه دامریکه سره دوستانه تعلقات لری)، روایت دې چه دحضرت عباده بن صامت رضی الله عنه اورئیس المنافقین عبدالله بن ابی ابن سلول په مابین کښې گفتگو اوشوه نو حضرت عباده بن صامت اووئیل چه په یهودو کښې ځما دوستان دی چه عددئې ډیردې او قوت ئې سخت دې لیکن زه براءت کوم الله اورسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهغوئ د دوستئ نه او عبدالله بن ابی ابن سلول اووئیل چه زه خو براءت نه کوم دهغوئ د دوستئ نه. ماته خطره ده د حوادثو. اومالره ځوک دوست معاون پکار دې، نو دا آیت نازل شو.

﴿ يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ ﴾ (ای فی موالاتهم)، مسارعه ئې ورته ځکه وئیلې ده چه دوئ بې فکرئ سره د دوئ دوستی کوی او سوچ فکر نه کوی په ضرر دې کښې ﴿ يَقُوْلُوْنَ ﴾ دا د منافقینو عذر بیانول دی، ﴿ دَآئِرَةٌ ﴾ هغه مصیبت چه احاطه کوی او په گردش د زمانې کښې پیدا کیږی لکه قحط او غلبه د کافرانو او کمزوری د مؤمنانو، نو که داسې حوادث راشی نو مونږ به د یهودیانو نه قرض اخلو. اسلحه به ترینه اخلو. (لکه د موجوده دور حاکمان بعینه داسې وائی) منافقانو به دا بهانه عذر ظاهراً کوؤ او د زړه ئې عقیده ئې داوه چه مؤمنان به مغلوب کیږی او کفار به غالب کیږی نو مونږ به ورته محتاج یو نو ځکه ورسره دوستی پکار ده، ﴿ فَعَسَى اللّٰهُ ﴾ (عسی) په کلام الهی کښې د وعدې د پاره مستعملیږی، یعنې دا الله تعالی د طرفه وعده ده چه مؤمنانو ته به فتح ورکوی په مقابله د کفارو کښې.

﴿ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ ﴾ یا یو بل امر د خپل طرفه یعنی داسې امر چه د مسلمانو د کوشش او محنت نتیجه نه وی، مراد ددې نه فراخی د رزق، او ظهور د نفاق د منافقینو په ذریعه د وحی سره.

﴿ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ أَسَرُّوْا ﴾ یعنی دوئ به پیښمانه شی په هغه کار چه دوئ پټ ساتلې ؤ په خپلو زړونو کښې، چه یو هغه چه دَد دوئ دَ توقع خلاف کار اوشو او په خلاف توقع باندې ندامت رازی، بل ظهور د نفاق د دوئ اوشو، او بل د کفارو سره په دوستئ کولو څه فائده حاصله

نشوه او دمؤمنانو سره دښمني راغله، ﴿ وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ داقول دمؤمنانوپه طريقه دتعجب سره دي، روستو ښکاره کيدلو دحال دمنافقانونه، ﴿ فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ ﴾ دادندامت نه ترقي ده، په ندامت کښې خوفوات دمطلوب وي اوخسران په نقصان ددنيااوآخرت د دواړوسره دي، چه سره دشرم نه په دنيا کښې عملونه ئې هم برباد شول،

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ
اې ايمان[١] والو! څوک چې مرتدشوتاسونه ددين خپل نه، نوزردې چې رابه ولي الله داسې قوم
يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ
چې محبت به کوي الله دهغوئ سره اوهغوئ به هم محبت کوي الله سره نرمې کوونکي به وي په مومنانوباندې
أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ
سختي کوونکي به وي په کافرانو، جهاد به کوي په لار دالله کښې اونه يريږي دملامتيا دملامت گر نه، دافضل
اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ⊙
دالله دې ورکوي ئې هغه چاته چې اوغواړي، اوالله فراخ فضل والادې پوهه دې په هرڅه.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ دازجردې په موالات داهلِ کتابوباندې، يعنی څوک چه مرتدشی په سبب دموالاتوداهلِ کتابو، نودې دين اسلام ته څه نقصان نشی رسولې، بلکه الله تعالى به ددين دحفاظت اوخدمت دپاره نورخلق پيدا کړي، د﴿ مَن يَرْتَدَّ ﴾ جزاء مقدره ده چه فَلَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ او﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ ﴾ ددغه محذوفِ جزاء علت دې، اومراد د﴿ بِقَوْمٍ ﴾ نه صحابه کرام دی لکه چه حضرت ابوبکررضی الله عنه اونوروصحابؤدمرتدينوسره قتال کړې ؤو، اومضارع په معنی دماضی سره ده، حکايت دحال ماضيه دې، اوپه يوروايت کښې دی چه ددې نه مراداهلِ يمن دی، ليکن مقصودترينه حصرنه دې، مزيدتفصيل شربينی، آلوسی، اونورومفسرينولکيلې دې، ﴿ يُحِبُّهُمْ ﴾ محبت دالله تعالى کمايليق بشانه دې دمخلوقاتودمحبت پشان دکيفياتونه نه

١ - يعنی چا چه د يهودو نصارئ وسره دوستی اوکړه او دَ دوئ سره يې جهاد اونکړو نو هغه مرتد دې.

دي. **ليس كمثله شئ** ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ نرمي كوونكي په مؤمنانو (**على**) په صله د (**اذلة**) كښې ځكه راغليدې چه دامتضمن دې معنى د(**عطف**) او(**حنو**) لره عاطفين على المؤمنين.قاموس وغيره وائي چه (**اذلة**) لفظ د ذليل (عاجزكونكې) او(ذلول) سهل الانقياد(جوتي غوايه) دواړونه ماخوذكيدې شي.اوكشاف وائي چه داجمع دذليل ده اوذلول نه ده،ځكه چه دذلول جمع (ذُلل) راځي، (**اذلة**) نه راځي.

﴿أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ (**اعزة**) جمع دعزيزده په معنى دسخت،مستقل،په مقابله دكافرانو كښې.دلته دمؤمنانوچه كوم صفات ذكرشوچه داپه صحابؤرضى الله عنهم كښې په اعلى درجه كښې ؤو،په هغې كښې اول داذكرشو ﴿وَيُحِبُّونَهُ﴾ دالله تعالى سره محبت علامه اطاعت اومنل داحكامودهغه دي،اودويم داچه ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ مؤمن به دبل مؤمن په حق كښې نرم وي لكه په سورة فتح كښې دي،(**رحماء بينهم**) يعنى مسلمان به دمسلمان دپاره نرم وي كه چرته په څه معامله كښې اختلاف راشي نوبيابه هم نرمي كوي يابه جهګړه ترک كړي،په حديث كښې دي چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائى انازعيم ببيت في ربض الجنة لمن ترک المِراء وهومحق زه دهغه چادپاره ضامن يم دكور په مينځ دجنت كښې چه جهګړه ترک كړي اوحالانكه دې په حقه وي اودريم داچه ﴿أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ دكفاروپه مقابله كښې سخت،كلک،مستقل په سورة فتح كښې دي (**اشداء على الكفار**) مؤمن به سختى په مقابله دكفاروكښې كوي،اوڅلورم صفت داچه ﴿يُجَاهِدُونَ﴾ صرف سخت اوكلک به نه وي بلكه ددين داشاعت دپاره به جهادهم كوي،اوپنځم صفت داچه ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ (**لائم**) نكره ده يعنى ددين په باره كښې دهيچادملامت كولونه خوف نه كوي،دانسان دپاره دوه څيزونه لوئې ركاوټ كيدې شي يودمقابل زوراوقوت،اوبل دخپلوانو اوتعلق دارانو ملامت،اوداودويم،داول په نسبت سره زيات مؤثروي نوددې وجه نه دلته نكره (**لائم**) ذكرشوه،چه مؤمن به دحق په ميدان كښې دهيچادملامتياپروانه كوي نه دمشرنه دكشر،نه د دوست،نه دحكومت،نه داستاذ وغيره، ليكن ددې دامطلب نه دې چه څوک به خامخاپه استاذانواومشرانواعتمادنه كوي اودهغوئ ګستاخي به كوي،اوخپل كم فهم اورائې به ورته دوحى قطعى په شان ښكاريږي.لكه داعادت دبعض سفيهانودې په دې دوركښې (والله الهادى الى سواء السبيل)،﴿ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ﴾ دا اشاره

ده، مخکښنو صفاتو ته، یعني ایمان اود ایمان صفات.

إِنَّمَا	وَلِيُّكُمُ	اللّٰهُ	وَرَسُولُهُ	وَالَّذِينَ	اٰمَنُوا	الَّذِينَ

نده مګرداده چې ستاسودوست الله دي اودهغه رسول دي اوهغه کسان چې ایمان ني راوړي دي هغه مومنان

يُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُونَ ۝ وَ مَنْ يَتَوَلَّ اللّٰهَ

چې پاپندي کوی دمانځه او ورکوی زکوة اودوئ رکوع کوونکی وی. اوڅوک چې دوستی کوی دالله سره

وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُونَ ۝

او رسول د هغه سره او دهغه کسانو سره چې ایمان والادی نوبیشکه ډله دالله هم دوئ غالب دی.

﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ ﴾ یعني دیهودیانو، نصاراؤسره دوستی مه کوئ، د دوستئ لائق دالله تعالی ذات دي. دهغه سره خپله دوستی کوئ اوپه مخلوق کښې مؤمنان دی اودمؤمنانو صفات. علامات دادی چه مونځ به کوی، زکوة به ورکوی، عاجزی به کوی ﴿ وَهُمْ رٰكِعُونَ ﴾ نه مرادعاجزی انکساری ده، بعضوئیلی دی چه درکوع نه اصطلاحی رکوع مراد ده، او (وهم راکعون) جمله، حال دي دضمیرد ﴿ وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ ﴾ نه، او وائی چه داآیت په حق دحضرت علی رضی الله عنه کښې نازل دي، دوئ مونځ کولواوچه رکوع ته لاړونویوسائل راغې سوال ئې ترینه اوکړواو دوئ په حالت درکوع کښې، دخپلې ګوتې نه ګتمه اوښکله اوسائل ته ئې ورکړه. دفقیردحاجت پوره کولودپاره ئې دومره انتظارهم اونکړوچه دمونځ نه فارغ شی. دامسابقت فی الخیر. الله تعالی پسنداوخوښ شونوداآیت نازل شو. لیکن ددې روایت په سندباندې هم دعلماء محدثینوکلام دي اوابن کثیروئیلی دی چه هیچادعلماؤنه دانه دی وئیلی چه زکوة ورکول په حالت درکوع کښې افضل دي، نوصحیح خبره داده چه درکوع نه مرادلغوی معنی ده، نه اصطلاحی، مزیدتفصیل په روح المعانی کښې دي.

﴿ وَمَن يَتَوَلَّ اللّٰهَ ﴾ داترغیب دي موالات دمؤمنانوته، چه په دې سره سرې دالله تعالی دحزب اوډلې نه ګرځي. اوبیشکه چه دالله حزب هردور اوهرمیدان کښې غالب وی.

يٰأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا

اې ایمان والو مه نیسئ هغه کسان چې ګنړی دین ستاسو توقې اولوبې دهغې کسانو نه چې ورکړې شوېدې

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۞ وَاِذَا نَادَيْتُمْ
ورته كتاب مخكښې ستاسو نه اونور كافرانولره دوستان، او ويرېږئ الله نه كه يئ تاسو مومنان اوكله چې تاسو ابلئ خلق
اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ۞
مانځه ته (اذان) اونيسي دوئ هغې لره مسخرې اولوبې، دا پدې وجه چې دوئ داسې قوم دې چې عقل نه لري

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ مخكښې داهلِ كتابو، (يهودونصاراؤ) دموالاتونه منع اوشوه، اودلته دمنافقينواوكافرانودموالاتونه منع ذكركيږي، نود﴿ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ نه مراد منافقين داهلِ كتابودي، اود﴿ وَٱلْكُفَّارَ ﴾ نه مرادباقي كفاردي،

﴿ هُزُوًا وَلَعِبًا ﴾ (هزء) په اصل كښې خفت او سپكوالى ته وائي، يعنى ستاسودين سپكوالې كوى اومسخرې خنداورپورې كوى اود (لعب) معنى داده چه بې فائده مشغله ئې گنړى پشان دلوبو، لكه په لوبو كښې څه ثواب اوفائده نه وى، نودوئ دينِ اسلام دهغې پشان گنړى،

﴿ وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ نداء (آوازكول) الى الصلوة نه مراددعوت الى الصلوة دې په كلماتوداذان سره، اوددې نه معلوم شوثبوت داذان په كتاب الله سره، ﴿ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ﴾ ضمير صلوة ته راجع دې يامناداة ته راجع دې (كماهوالظاهر)، بهيقى دابن عباس رضى الله عنه نه نقل كړيدى چه اذان به اوشونومسلمانان به دمونځ دپاره پورته شو، نويهوديانوبل وئيل، (قدقاموا لاقاموا) (يعنى دوئ مونځ ته پورته شو، پورته دې نشى) بددعائې كوله، اوكله به چه مؤمنان په مونځ كښې، ركوع، سجدې ته لاړل، نودوئ ورپورې خنداكوله، اومسخرې به ئې ورپورې كولې، او ابن جريروغيره دسدى رحمه الله نه نقل كړيدى چه يونصرانى په مدينه كښې ؤوچه كله به ئې په اذان كښې واوريدل، (اشهدان محمدارسول الله) نووئيل به ئې، (حرق الكاذب، وفى رواية، احرق الله الكاذب) (دروغژن دې الله تعالى اوسيزوى) نودده خادم يوشپه اور، دده كورته داخل كړواودې اوده ؤو، نودهغې نه يوبڅرې (سكروټه) ارتاؤشو، اودده كورئې اوسوزولو. اودې سره داهلِ وعيال نه پكښې ستى شو، كاذب پخپله ؤونودده بددعادده په حق كښې قبوله شوه، اودارنگه چه كله به اذان كيدلو، نوكفارواواهلِ كتابوبه وئيل (صاح كصياح العير) (داوښانو، اوحيواناتوپشان چغې وهى)،

بعض حضرات وائي چه څوک اذان واوري اوجماعت ته حاضري نه کوي نودهم اذان لعب اوګرځولو .صاحب دجلالين د ﴿وَلَا تَتَّخِذُوٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا﴾ (بقره) ترجمه کوي(بترک العمل بها) .

﴿قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ﴾ يعنی دا اتخاذ اواستهزاء د اذان په سبب ددې سره ده چه دوئ نه پوهيږي،اوجهل سبب داستهزاء بالدين دې،(الناس اعداء لماجهلوا) اذان داسلام دخصوصي امتيازاتو نه دې اودشعائرالله نه دې،په نورومذاهبوکښې دعبادت دپاره روزانه دعوت نشته،اوپه اسلام کښې روزانه پنځه وارې دې،بياپه نورومذاهبوکښې چه په هفته کښې يو وارې دعوت دعبادت ورکولې کيږي،نوهغه الفاظ قومی نغمه ياترانه وی يادګهنټي ټالئ، ټنګ ټنګ وی،اواذان صرف دعوت نه دې بلکه پخپله يومستقل عبادت دې،کلمات داذان مشتمل دی په کبرياء دالله تعالی،څلوروارې،(الله اکبر) څلوراطرافتوته دعوت ورکول دی دالله تعالی دکبرياء،اودڅلوروعناصرو اودهغوئ نه دتولوجوړشوؤ څيزونو،خواه که ماکولات، مشروبات،ملبوسات،اسلحه،وغيره (لاتعدولاتحصى) اشياء دی ددې تولودکبرياء نفی ده،بيا شهادت دتوحيد دې،اوبياشهادت درسالت دسيدالکونين صلی الله عليه وسلم (فداه روحی) دې اودشهادت دپاره دوه کسان پکاردی نودوه کرته شهادت اداء کيږي،بيادعوت الی الصلوة دې چه داتوحيد عملی دې اوپه دې سره دانسان دتمامواعمالواصلاح کيږي،(فان صلحت صلح سائرعمله) (الحديث) بياترغيب الی الصلوة دې په ذکردوصف دفلاح سره،بيادوه وارې ذکردکبرياء دالله تعالی دې دپاره دترک دشرک اودهغه مشاغلوچه غفلت راولی دتوحيدنه،بياپه آخرکښې ذکر دنتيجې اوخلاصه ده چه (لااله الاالله) نوڅوک چه په دې مقصدنه پوهيږي،نوهغوئ استهزاء کوي،

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ
ورته اووايه چې انې اهل کتابو! آيا څه عيب وينئ په مونږ کښې سواددې نه چې مونږ ايمان لرو په الله اوپه هغه کتاب
اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ۝
چې نازل کړې شوې دې مونږ ته اوپه هغه کتاب چې نازل کړې شوې دې مخکې ددې نه اوبېشکه زيات ستاسو نه نافرمان دی.

﴿قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ﴾ يعنی اهلِ کتاب چه ستاسوپه دين پورې مسخرې کوی نو تاسوترينه تپوس خواوکړئ چه زمونږپه دين کښې کومه خبره تاسوته ناخوښه اوعيب ده؟

آیا .داخبره ناخوښه اوعیب ده چه مونږایمان راوړي دي په الله تعالی باندې اوپه هغه کتاب باندې چه مونږته نازل شویدي اوپه هغه کتابونو چه مخکښې نازل شویدی.نوداخو عیب اونفرت خبره نه ده لیکن اصل خبره داده چه ﴿وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ﴾ حضرت الشیخ فرمائی چه دلته (واعلموا) مقدردي (ای واعلموا ان اکثرکم) اوعام مفسرین وائی چه داعطف دې په ﴿اَنْ اٰمَنَّا﴾ باندې یعنی نفرت ستاسو زمونږنه په دې وجه دې چه مونږایمان راوړي دي،اوستاسونه مخالف یو په عدم قبول دایمان کښې،(**فاسقون**) تعبیردې دعدم قبول دایمان نه اومرادفسق نه اعتقادی فسق کفرشرک دې،اوبعض حضرات وائی چه واؤزائددې اولام مقدردې،یعنی (لان اکثرکم فاسقون) کشاف وغیره وائی چه واؤپه معنی د (مع) سره دې،

قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ
ته ورته اووایه آیا خبردرکړم تاسوته په ډیربدسره ددېنه په اعتبار دبدلې سره په نیزدالله ، داهغه څوک دې
لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ
چې لعنت کړیدې الله په هغه باندې اوغصه ئې کړیده او ګرځولې ئې دی دهغوئ نه شادوګان اوخنزران
وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّ اَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ۝
اوبندګې ئې کړې وی دطاغوت، دغه کسان ډیربد دی په اعتبار دمرتبې سره اوډیر ګمراه دی دبرابرې لارې نه

﴿قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ﴾ داجواب دې دقول داهلِ کتابونه چه دوئ وئیل،(لانعلم دینا شرامن دینکم) ستاسو دین نه زیات بد ،دین مونږته بل نه دې معلوم،نوځکه مونږتاسونه نفرت کوؤاو عیب لګوؤ،جواب راغې چه زیات شروالادین هغه خلق دی چه لعنت اوغضب پرې شویدې او مسخ شویدی،اوپه دې کښې بیان ددې خبرې دې چه لائق دمسخرې اواستهزاء ستاسودین دې (**ذالک**) اشاره ده دین اسلام ته،نو **سوال** واردیږی،چه (شر) صیغه اسم تفضیل ده،مفضل علیه غواړی نومعنی ئې داده چه زیات بد،زیات شر،ستاسوهغه محرف دین دې،نومعلومه شوه چه نفسِ بدوالې په دین اسلام کښې هم شته دې نو **جواب** دادې چه داکلام ذکرشویدې په مقتضی دقول د دوئ اوداعتقاد د دوئ ځکه دوئ وئیلې ؤ،ستاسودین شردې (لانعلم دیناشرامن دینکم) نو دوئ ته اووئیلې شوچه که بالفرض،ستاسودقول

اواعتقادموافق زمونږدين شروی نوپه چاچه لعنت اوغضب شويدي اومسخ شويدی هغه زيات شردي،دهغه چانه چه غضب اولعنت پرې نه دې شوي،﴿ مَثُوبَةً ﴾ منصوب بنابرتميزدي،يعنی ډيربد،دثواب اوبدلې په لحاظ سره،(مثوبة) ثواب،جزاء دخيركښې استعماليږی اودلته دشرسره ذكرشويدې په طريقه د(تهكم) سره،لكه (فبشرهم بعذاب)،

﴿مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ﴾ دابدل دې د(من ذالك) نه،(ذالك) اشاره ده دين ته،او(من) ذات دې،نودابدل نشی كيدې مگرپه تقديرسره په اول كښې،(ای بشرمن اهلِ ذالک من لعنه الله – الخ)،ياپه دويم كښې،(ای دين من لعنه الله) يعنی هغه دين چه سبب دلعنت اوغضب دې،نواضافت ددين (من) ته تسيبًا دې،اوددې نه مرادهغه كارونه دی چه دهغې په وجه په دوئ لعنت شوې ؤو،او مسخ شوی ؤولكه په سورتِ بقره،اعراف،وغيره كښې ذكرشويدی،

﴿وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ﴾ يعنی هغه دين چه سبب دمسخ ؤو،مسخ په شكل د(قرده) سره اصحاب السبت ؤو،اومسخ په شكل دخنزيرانوسره په اصحاب المائده كښې ؤو، ((هم كفار اهلِ مائدة عيسی عليه السلام)) اوچاوئيلی دی چه دواړه مسخين په اصحاب السبت كښې ؤو،د ځوانانونه (قرده) (شادوگان،بيزوگان) جوړشو،اودمشرانونه خنزيران جوړشو،روايت چه ددې آيت دنزول نه بعدبه مسلمانانويهوديانوته پيغور وركولو،چه (ياإخوة القردة والخنازير) نودوئ به سرونه ښكته كړل، (السراج المنيرالشربينی)۔

﴿وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ﴾ داعطف دې،په (لعنه الله) باندې،نومعنی داشوه چه (من عبدالطاغوت) اولفظ ددين مقدردې،اودطاغوت ډيرې معنې شويدی،شيطان،عبادة العجل،كُهان، احبار، خازن وائی چه (وجملة ان كل من اطاع احدافی معصية الله فقدعبده وهوالطاغوت) اوداتولې خبرې په يهودو كښې موجودې وې نومعلومه شوه چه د دوئ دين ډيربددين دې،﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾ اشاره ده دغه ممسوخين،مغضوبين،ملعونين،اودشيطان عبادت كوونكوته،

﴿شَرٌّ مَّكَانًا﴾ (مكاناً) تميزدفاعل نه دې نوپه معنی كښې فاعل دې،(ای شرمكانهم) ډيربد دې مكان ددوئ اومكان د دوئ په آخرت كښې جهنم دې،اونسبت د شر مكان ته اوشو،په دې كښې مبالغه ده چه هغه په (اولئک شر) يا ((هم شر)) كښې نشته دې،﴿وَأَضَلُّ﴾ يعنی (اولئک اضل) او(شر) او (اضل) اسم تفضيل په اعتباردزعم ديهوديانوسره دې يااسم تفضيل په معنی دَ

اصل فعل سره، یا اسم تفضیل دمبالغې دپاره دې معنی تفضیل ترینه نه ده مراد

وَإِذَا	جَآءُوكُمْ	قَالُوٓا	ءَامَنَّا	وَقَد	دَّخَلُوا

اوکله چې راشي دوئ تاسوته وائي دوئ چې مونږ ایمان راوړې دې اوحال دادې چې دوئ داخل شوي وو

بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ۝ وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ

په کفر سره اودوئ وتلي دي په کفر سره، اوالله ښه خبر دې په هغه څه چه دوئ يې پټوي. اووينې به ته ډېرولره دوئ نه

يُسَٰرِعُونَ	فِى	ٱلْإِثْمِ	وَٱلْعُدْوَٰنِ	وَأَكْلِهِمُ	ٱلسُّحْتَ ۚ	لَبِئْسَ

چې جلتی به کوی په ګناه کولو کښې اوپه ظلم کولو کښې اوپه خوړلو ددوئ کښې حرامو لره، خامخا ډېربددی

مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ

هغه عملونه چې دوئ ئې کوی. ولې نه منع کول دوئ لره پیرانو اوعلماء دوئیلودوئ نه ګناه «دروغولره» اودخوړلو

ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ۝

دحرامو نه، خامخا ډېربد دې هغه کار چې دوئ ئې کوی.

﴿وَإِذَا جَآءُوكُمْ﴾ دا داهلِ کتابو دنفاق اوخبث باطن بیان دې چه ستاحضورته راشي نو د ایمان اظهاراودایمان دعوی کوی ﴿وَقَد دَّخَلُوا﴾ داجمله دضمیرد «قالوا» نه حال دې.

﴿وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا﴾ داهم د «قالوا» دضمیرنه حال دې، یعنی ستاحضورته سره دنفاق نه راغلی دی اوچونکه داصلاح په نیت نه دی راغلی نواصلاح ئې نه ده شوې، پلیت راغلی دی اوپلیت تللی دی. ﴿وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ﴾ اشاره ده چه په زړونود دوئ کښې دومره ډیرشراوضلال دې چه ستاسوداحاطې دعلم نه بهردې. ﴿وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ﴾ په دې کښې اشاره ده چه د دوئ ضلال ښکاره دې هرچاته. او «کثیراً» ځکه ذکرشوچه قلیلوپه دوئ کښې ایمان راوړې وو. ﴿فِى ٱلْإِثْمِ﴾ ددې نه کلمات شریکه مراد دی لکه «عزیرابن الله» «وقالوااتخذالله ولداً» یامرادعام ګناه دې.

﴿وَٱلْعُدْوَٰنِ﴾ تجاوزدحدودالله نه، ظلم، قتل دانبیاؤاوداهلِ حق اوتحریف ﴿وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ﴾ رشوت خوړل، نذرلغیرالله دعوامونه اغستل،

﴿ لَوْلَا يَنْهٰهُمُ ﴾ دازجراوشکوی ده،داحبارواورهبانونه،په علماؤاوپیرانوباندې دعوامو اصلاح ضروری ده،نوهرکله چه په دوئ کښې باطنی امراض موجودؤو،چه (اثم) (عدوان) (اکل السحت) وؤاوله بیماری دقوةِ نطقیه نه پیدا کیږی،اودویمه بیماری دقوتِ غضبیه نه صادریږی ، اودریمه بیماری دقوة شهوانیه نه پیدا کیږی نوهرکله چه خواصودعوامودا صلاح څه غم فکر اونکړونودوئ هم مجرمان دی . شعر :

جوانان بیهوده گو غرلوش؟ گناه پیر باشد مانند خموش

﴿ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴾ دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه په قرآن مجید کښې داآیت دډیروسختوآیتونونه دې (عن ابن عباس رضی الله عنه هی اشدآيةٍ فی القرآن (کشاف)،عن الضحاک مافی القرآن آية اخوف عندی منها(کشاف)،کان العلماء یقولون مافی القرآن آية اشدتوبیخاللعلماء من هذهِ لاية ولااخوف علیهم منها(ابن جریر) په دې آیت کښې (یصنعون) ذکردې اوپه ماقبل آیت کښې (یعملون) ذکردې،عمل مطلقِ کارته وائی،اوصنع، صناعت،هغه کارته وائی چه. همیشه کولې شی اوتجربه په کښې اوشی،نود امربالمعروف اونهی عن المنکرفریضه احبارورهبانوبالکلیه ترک کړې وه اودائې جائزګنړله، نوددې وجه نه دلته (یصنعون) ذکرشوچه دافریضه دوئ مستقله ترک کړې وه.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ۭ غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا
او وائی یهودیان لاس دالله بندکړې شوېدې، (بلکه) بنددې کړې شی لاسونه ددوئ اولعنت کړې شوېدې په دوئ باندې
بِمَا قَالُوْا ۘ بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاۗءُ ۭ وَ لَيَزِيْدَنَّ
په سبب دهغې چې دوئ وائی، بلکه دواړه لاسونه دده فراخ دی، خرڅ کوی څرنګه چې اوغواړی، اوخامخا زیاتوی
كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۭ وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ
دډیرولره ددوئ نه هغه کتاب چې نازل کړې شوېدې تاته ستادرب طرف نه سرکشی اوکفر،اواچولې دې مونږ په مینځ ددوئ کښې
الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاۗءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۭ كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ
دښمنی او کینه دورخې دقیامت پورې، هروخت چې بل کړی دوئ اور دپاره دجنګ مړکړی هغې لره الله

وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿۶۴﴾

او کوشش کوی دوئ په زمکه کښې دفساد، او الله نه خوښوي فسادکوونکی

﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ﴾ داهم شکوی ده دیهودونه، دابن عباس رضی الله عنه، ضحاک، عکرمه نه روایت دې چه الله تعالی په یهودوباندې فراخی کړې وه، نوهرکله چه دوئ عصیان او نافرمانی اوکړه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه نوالله تعالی په دوئ هغه فراخی بنده کړه چه کومه ئې پرې کړې وه، نودیهودوقینقاع یومشر فخاص بن عازوراء، اوپه بل روایت کښې، نباش بن قیس اووئیل چه (یدالله مغلولة) د (مغلولة) لفظ معنیٰ داده چه لاس ئې دخټ سره تړلې شویدې، لیکن په محاوره کښې ترینه دامعنی نه مرادکیږی، بلکه په عامه محاوره کښې دادبخل دپاره استعمالیږی، نودلته مرادنسبت دبخل دې الله تعالی ته، اوشکایت کول دی دالله تعالی نه، لکه دامحاوره اواسلوبِ بیان دې، او (ید) ثابتول، او (غل) ثابتول مقصودنه دی، د، ید، یدین، یمین، اثبات، الله تعالی لره په قرآن اوحدیث کښې په کثرت سره راغلې دې، اوداهلِ سنت والجماعت سلفواوخلفواجماع ده په دې چه ددې نه مراداعضاء اوجوارح نه دی اوذات دالله تعالی دپاره، اجزاء، ابعاض نشته دې، (والیدفی کلام العرب تکون للجارحة، هذامحال علی الله (قرطبی) نود موجوده زمانې بعض غیرمقلدین چه د، ید، ساق، وغیره نه اجزاء اوابعاض مرادکوی، اوسلفو ته ددې عقیدې نسبت کوی نودا ډیره غلطه عقیده ده اوپه سلفو باندې افتراء ده، صاحب دروح المعانی وائی، سلفودامت وئیلی دی، چه دا (بَلْ يَدَاهُ) د متشابهاتو نه دې، اوددې دتاویل تفویض الله تعالی ته اسلم دې، اونبی صلی الله علیه وسلم یدین، یمین، الله تعالی لره ثابت کړیدی، (وکلتایدیه یمین) اومروی نه ده دهیچادصحابؤنه، چه تاویل ئې په نعمت، یاقدرت سره کړیدې، بلکه چه څنګه واردشویدې، نودغه شان ئې پریښې دې، اوسکوت ئې کړیدې، اوکه چرته کلام، (یعنی تاویل د ید په قدرت اونعمت سره) سپین نزوی، نوسکوت تفویض سره زردی، قرطبی اوروح المعانی وغیره وئیلی دی چه (یداه) په معنی دنعمت سره دې، اودحسن بصری رحمه الله نه مروی ده چه داپه معنی دقدرت سره دې (روح)، ددې نه معلومه شوه چه د، ید، وغیره تاویل نه کول افضل او احسن دی لکه روح المعانی ورته وائی چه داذهب دې لیکن تاویل کول بدعت نه دې اوتاویل کوونکوته مبتدعه وئیل یادتماماسلافوخلاف وئیل صحیح نه دی، صاحب دروح المعانی ورته (فضه)

وائي.البته د.يد.وغيره نه اعضاء،اجزاء اراده كول دتماموسلفونه خلاف ده،او بيادي ته دسلفومذهب وئيل،(غضب علی غضب) دي،اوپه كلام دسلفوكښې چه (اجراء علی الظاهر) راغلي دي،نودهغې معنى دانه ده چه ابعاض،اجزاء به ترينه مرادكولې شي،بلكه مرادئې دا دي چه دا(يد ، ساق وغيره) يوصفت دي چه لائق دي دَجلال دذات سره مونږته ئې علم نشته دي نوالله تعالی لره به ئې ثابتئو،اوتعين به ئې نه كوؤ،اوتفسيربه ئې قدرت وغيره نه كوؤ،اودا معنى دكلام دامام مالك رحمه الله ده (الاستواء معلوم،ای معلوم انه صفة لله،معلوم اثباته لله)،

﴿بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ﴾ دارد دي دقول ديهودوچه (يدالله مغلولة)،الله تعالی (معاذالله) بخيل شويدي.نوالله تعالى فرمائی چه دغه خبره غلطه ده بلكه الله تعالی ډيركريم،رزاق دي.(يداه مبسوطتان) هم په محاوره كښې دډيركرم فياضى ده اظهاردپاره استعماليږی،ډيرسخی ته وئيلې شی چه دي په دواړولاسونوورکوی،﴿غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ﴾ تړلي شويدی لاسونه د دوئ،ددې نه مرادبد دعاده.نواخبارپه معنى دانشاء سره دي،لكه (تبت يدا ابی لهب) يادا اخباراوپيشينګوئی ده.چه يهودبه په دنياكښې لاس تړلی قيدشی،لكه دغه شان اوشوه،اوپه آخرت كښې به په زنځيرونوتړلی شوی جهنم ته واچولې شی،﴿وَلَيَزِيدَنَّ﴾ ﴿مَّا أُنزِلَ﴾ فاعل دي،او ﴿كَثِيرًا﴾ مفعول اول دي،او ﴿طُغْيَانًا وَكُفْرًا﴾ مفعول ثانی دي،يعنی په دوئ كښې خوسركشی اوكفر د مخكې نه موجود ؤ،ليكن دقرآن دنزول نه بعدنورزيات شو،په وجه دبغض اوحسدسره.

﴿وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ﴾ يعنی د دوئ په مينځ كښې دښمنی موجوده ده،كه چرته تاسوپه خپل دين كلک اومحكم شئ نود دوئ په عداوت اودښمنئ كښې به نوره اضافه اوشی،نوپه خپل مابين كښې به نوربې اتفاقه شی اوكمزوری به شی،

﴿كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِّلْحَرْبِ﴾ اوربلول دجنګ دپاره كنايه داسبابودجنګ نه،دعربو عادت داؤو چه دچاخلاف به ئې اعلانِ جنګ كولونوپه اوچته غونډئ به ئې اوربل كړو،يعنی هركله چه دوئ مكراومنصوبه جوړه كړی ده دمسلمانانودجنګ دپاره نوالله تعالی د دوئ دباهمی بغض اوعداوت په وجه دوئ مرعوب اومغلوب كړی اود دوئ داختلاف دوجه نه دوئ متحدنشی مقابلې دمؤمنانونه. ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا﴾ نو دجنګ نوبت رانشی اودجنګ وس ئې اونه رسی نوبيا نورفسادكوی.دخلقوپه زړونوكښې شكوک شبهات اچوی دتوحيدنه. او دحضور صلى الله عليه وسلم درسالت نه خلق متنفركوی،

وَلَوْ	أَنَّ	أَهْلَ	الْكِتٰبِ	اٰمَنُوْا	وَاتَّقَوْا	لَكَفَّرْنَا	عَنْهُمْ	سَيِّاٰتِهِمْ

اوکچري اهل کتابو ایمان راوړو اوخان ني بچ کړو دگناهونو نه خامخا به لري کړو مونږ ددوئ نه گناهونه ددوئ

وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۞ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ

اوخامخا به داخل کړو مونږ دوئ لره جنتونو دنعمتونو ته. اوکچري دوئ عمل اوکړو په تورات اوپه انجيل اوپه هغه

اُنْزِلَ	اِلَيْهِمْ	مِّنْ	رَّبِّهِمْ	لَاَكَلُوْا	مِنْ	فَوْقِهِمْ

کتاب چي نازل کړي شوېدي دوئ ته دطرفه درب ددوئ نه خامخا خوراک به کړي وي دوئ دپورته ددوئ نه

وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ۞

اولاندې دپښو ددوئ نه، بعضي د دوئ نه ډله ده په نيغه لار، اوډېر ددوئ نه بد دي هغه عملونه چي دوئ ني کوي

﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا ﴾ داترغيب دي اهلِ کتابوته دايمان، د (امنوا) نه مراد، صحيح اومعتبرعندالشرع ايمان دي، ﴿وَاتَّقَوْا﴾ بچ کيدل دشرکياتو او گناه نه مراد دى.

﴿لَكَفَّرْنَا﴾ يعنى په ايمان اوتقوى سره به د دوئ گناهونه معاف شى. اودابه سبب شى د دخول جنت النعيم ته.

﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ ﴾ يعنى دارنگه ايمان اوتقوى چه حاصليږى په عمل کولوسره په آسمانى کتابونو. سبب دي دنزول اوحصول د دنيوى برکاتو. حاصل داچه دايمان اوتقوى په ذريعه سره. اخروى نعمتونه دجنت اونجات دعذاب دجهنم نه حاصليږى اودارنگه په دي سره دنيوى برکات اوخير ملاويږى، نودوئ له ايمان اوتقوى مناسب ؤو. ليکن دوئ په کفرباندي اصراراوکړو. اودالله جل جلاله په شان کښي ئي گستاخى اوکړه اودبخل نسبت ئي ورته اوکړونود دنيااودآخرت دخيرنه محروم شواوپه لعنت اوعذاب کښي مبتلاشو. (اقامواالتورة والانجيل) ددي نه مرادعمل کول دى په هغه خبروچه منسوخ نه دى اومحرف نه دى. لکه توحيد. تصديق رسالت دحضورصلى الله عليه وسلم.

﴿لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ﴾ د (اکل) نه مرادانتفاع (نفع اغستل) ده، او (فوق تحت) دوسعت رزق نه کنايه ده. ياد ﴿مِنْ فَوْقِهِمْ﴾ نه باران مراد دي، اود (تحت) نه دزمکي پيداوار غله. ميوه. مراد دى. او داآيت دليل دي په دي چه طاعت اوعمل صالح دخوشحالئ اودوسعتِ رزق داسبابونه دي

(مدارک)،صاحب دروح المعانی دمحبت اوعظمت نه ډکوالفاظو کښې،دبعضِ اکابرینونه نقل کړیدی چه د (فوقهم) نه مرادعلومِ فیضانیه،غیرکسبیه دی،چه هغې ته علم لدنی وئیلې شی. او هغه حاصلیږی په عمل اوتقوی سره،لکه په حدیث کښې دی (من عمِل بماعلِم ورثه الله عِلم مالم يعلم) اود ﴿وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ﴾ نه مرادعلومِ کسبیه دی،په دې کښې ترقی اوبرکت په تقوی سره راځی.اوپه ذکرد(ارجلهم) کښې اشاره ده حصول دثُبات دقدم اورسوخ دعلم ته،دتقوی په ذریعه سره په علم کښې برکت،اورسوخ فی العلم،اوثُبات فی العلم،اوترقی په فیوضاتوکښې راځی،دتقوی اهتمام ډیرضروری دې دعالم اوطالب علم دپاره،(الله تعالی دې په خپل فضل اورحمت سره زمونږاوزمونږداولاداودټولواهلِ علمواوملګرومتعلقینونصیب کړی،آمین).

﴿مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ﴾ اهلِ کتاب ټول،سرکش اومعاندین نه دی،بلکه په دوئ کښې بعضِ (ملغلري) انصاف پسنداعتدال پسندموجود دی لیکن اکثرفاسقان دی،

(فائده) حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه په قرآن کښې چه چرته دیهودو نصاراؤ داحبارو رهبانوحالات ذکرشی نوهغه دموجوده وخت په علماءِ سوء،پیران سیاه کاربانديې منطبق کیږی،اوچرته چه دمنافقینوحالات ذکرشی نوهغه دموجوده وخت په سرمایه دارانو،او برسرِاقتدار،طبقه باندې،چسپان کیږی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ
اې رسوله (١)اورسوه ټول هغه څه چې نازل کړې شوی دی تاته دطرفه درب ستانه، اوکه تا داسې اونکړه
فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ۝
نوندې رسولې تاهیڅ پیغام دالله، اوالله بچ کوی تا دخلقو نه، بېشکه الله هدایت نه کوی قوم کافرانو ته.
قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ
نه ورته اووایه انې اهل کتابو!(٢) نه يئ تاسو په هیڅ دین باندې ترڅو چې عمل اونکړئ په توراوپه انجیل

١ - دسورت دویمه حصه اعاده د نفی دشرک اعتقادی لف نشر غیر مرتب.

٢ - دا د بَلِّغ ماتحت اول حکم دې یعنې صفاصفا داوایه چې تاسوکافر يئ ستاسوهیڅ دین نشته ترڅو چې توحید اونه منئ

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ
اویه هغه کتاب چې نازل کړې شوېدې تاسوته دطرفه درب ستاسونه، اوخامخا زياتوی ډېرولره ددوی نه
مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝
هغه کتاب چې نازل کړې شوېدې تاته دطرفه درب ستانه سرکشي او کفر، پس مه غمژن کيږه په قوم دکافرانو باندې
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ
بېشکه هغه کسان[1] چې مومنان دی اوهغه کسان چې يهوديان دی اوصابئين دی، اونصاری دی چاچې ايمان راوړو په الله
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝
او په ورځ د آخرت اوعمل ئې کولو صالح نونه به وي هيڅ يره په دوئ باندې اونه به دوئ غمژن کيږي

﴿ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ وَاللّٰهُ ﴾ دادسورت دويمه حصه شروع شوه په دې حصه کښې، داولې حصې برعکس دشرکِ اعتقادی رد اول کيږی، اودشرکِ فعلی رد ثانياً کيږی.

﴿ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ﴾ ددې نه مراد تمام (ماانزل) دې خواه که وحی جلی ده يعنی قرآن اوکه وحی خفی ده يعنی حديث، خواه که دچادمزاج اورواج موافق وی يامخالف، نوداکلام په معنی دقضيه موجبه کليه کښې دې چه نقيض ئې ساليه جزئيه راځی چه هغه دادې، ﴿ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ ﴾ يعنی تبليغ د(کل ما انزل) دې اونکړو، نواګرکه دبعضِ دې اوکړو،

﴿ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ﴾ نوحق درسالت ادانشو، دبعضوترک داسې دې لکه ترک دکل، که څوک **سوال** اوکړی چه دلته خوشرط اوجزاء يوشئ شو، ځکه چه د(**ان لم تفعل**) معنی داده ((اِنْ لم تُبَلِّغ ای ان لم تبلّغ فلم تبلغ)). **جواب** دادې چه د شرط سره قيودات دی ځکه چه د بَلِّغ معنی داده (بلغ ماانزل اليک غيرمراقب لی تبليغه احداًولاخائفاً ان ينالک مکروه (کشاف،روح) يعنی دټول (**ماانزل**) تبليغ اوکړه دچالحاظ اوپرواه مه کوه چه خفه به شی يابه خوشحاله شی اودچانه يره مه کوه، نو د(**فان لم تفعل**) (شرط) معنی داده چه د(**جميع ماانزل**) تبليغ دې اونکړو، په دغه

---

[1] دشرک نه بچ کېدونکو دپاره بشارت.

طريقه مذكوره سره نواګر که دبعض دې اوکړو.«فمابلغت» نودغه تبليغ نه دې،نفى اوعدم دخاص شرعاً نفى اوعدم دعام شرعاًده،دلته حکم د«بلغ» راغلې دې اوددې نه روستودرې جملې ذکردى.(۱) ﴿وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ﴾ .(۲) ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ .(۳) ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ وجه داده چه په فريضه تبليغ کښې اودارنګه په هرعمل کښې چه قصوراخى نويادد‌ې (۱) وجه نه راخى چه سړى سره دخپل فرضى منصبى.اهميت.احساس اوشغف نه وى نوبعض حصه اداکړى اوبعض ترک کړى،نوپه اوله جمله کښې ددې فرض منصبى اهميت بيان شو،اواحساس ورکړې شو،چه دادومره اهم او ضرورى کاردې چه لږپريښودل ئې داسې جرم دې لکه دکل پريښودل،يادد‌ې (۲) وجه نه راخى چه دچا نه يريږى،نودخوف دجه نه پوره مسئله نشى بيانولې نوپه دريمه جمله کښې وعده دعصمت اوشوه، يادد‌ې (۳) وجه نه راخى چه څوک خبره نه منى،په حق نه پوهيږى لکه مثلا(شاګردان چه ناقابل نااهل وى،نوداستاذنه هم په درس کښې قصور راځى،نوپه دريمه جمله کښې ددې ذکردې چه هدايت ورکول يانه ورکول دالله تعالى کاردې،اوستافرض منصبى تبليغ دې،هغه جارى لره،په «وان لم تفعل» کښې خطاب نبى صلى الله عليه وسلم ته دې،اودکوم فعل صدورچه دنبى دشان نه مستبعداومحال عادةً وى نو ددغه فعل نسبت چه نبى صلى الله عليه وسلم ته په طريقه دفرضِ محال سره اوشى لکه «لئن اشركت» «ولئن اتبعت اهوائهم» وغيره ذالک،نوپه دې کښې يونکته اشاره وى عظمت دجرم ته،مثلاشرک دومره جرم عظيم دې چه که چرته بالفرض معصوم،محبوب نه صادرشونوقابلِ معافى نه دې، دويمه نکته تنبيه وى امت ته اوهغوئ ته اورول مقصودوى،نودلته په دې خطاب کښې اشاره شوه چه ترک دتبليغ په حق دنبى کښې سخت جرم دې،اوبل دې ته اشاره شوه چه دادامت فريضه اوذمه وارى ده،اوددې وجه نه بعض تفاسيرولیکلى دى چه ددې آيت نه دامستنبط کيږى چه علماء حق دى داخپله ذمه وارى ګنړى،اودتبليغ په وجه به دوئ عصمت اوحفاظت کيږى،قرطبى دابن عباس رضى الله عنه نه نقل کوى چه ددې آيت معنى داده چه اورسوه جميع هغه چه نازل کړې شويدى تاته دطرف درب ستانه،که تاپه دې کښې څه پټ کړل نوتارسالت اونه رسوؤ،اوداتاديب دې نبى صلى الله عليه وسلم ته اوتاديب دې حاملانودعلم ته دامت نه،چه دوئ به نه پټوى هيڅ څيزدامردشريعت نه، اوالله تعالى عالم ؤوپه امردنبى چه دې نه پټوى څه څيزدوحى نه،اوپه مسلم کښې،مسروق د حضرت عائشه رضي الله عنهانه روايت کوى که چااووئيل چه محمد صلى الله عليه وسلم څه پټ

کړی دی دوحی نه نودغه کس دروغ اووئیل.اوالله تعالی فرمائی. «**یاایهاالرسول بلغ**، الخ.اودارد دي په روافضو،الله تعالی دي دوئ رسوا کړی چه دوئ وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم بعضِ وحی پټه ساتلي ده.«تقیه» اوکله وائی چه بعضِ عملونه ئې حضرت علی رضی الله عنه ته خاص ښودلی دی «ددې ردپه بخاری کښې صراحةً موجود دې» اوکله وائی چه دقرآن لس پارې په باره دخلافت دحضرت علی رضی الله عنه کښې وې هغه ئې پټې کړیدی «**لعنة الله علی الکاذبین**» اوحضرت عائشه رضی الله عنهافرمائی.«لوکان محمد کاتمًا شیئًامن القرآن لکتم هذه الایة» که چرته نبی صلی الله علیه وسلم دقرآن څه حکم پټولې نودا آیت به ئې پټ کړې وې.

﴿**وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ**﴾ په دې کښې ددویمې خبرې بیان دې یعنی دحفاظت وعده. دترمذی په روایت کښې دی حضرت عائیشه رضی الله عنهافرمائی چه دنبی صلی الله علیه وسلم څوکیداره به کیدله، تردې پورې چه الله تعالی داآیت نازل کړو،نونبی صلی الله علیه وسلم دخیمې نه بهرسرمبارک راوښکلواو وې فرمائیل اې خلقوواپس لاړشئ،الله تعالی زماحفاظت اوکړو،اوپه حدیث کښې دی چه دا آیت «لیلیِ،فِراشی،دې،یعنی دشپې چه نبی صلی الله علیه وسلم په خپل فِراش ۈنودانازل شو،دبخاری شریف په یوروایت کښې دحضرت عائشه عنهانه مروی دی چه یوشپه نبی صلی الله علیه وسلم اووئیل. «لیت رجلاصالحایحرسنی» چه څوک وې اوزماڅوکیداری ئې کړې وې،نوموږآوازداسلحې واورېدل. نونبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه څوک ئې؟ نوسعدبن ابی وقاص رضی الله عنه اووئیل چه زه یم څوکیداریٔ له راغلې یم،نونبی صلی الله علیه وسلم آرام اوکړو.که څوک **سوال** اوکړی چه الله تعالی دحفاظت وعده اوکړه نوپه جنګ احدکښې اونوروواقعاتوکښې تکلیفونه زخمونه ولې اورسیدل،بعض مفسرینودا **جواب** کړې دې چه داآیت ددغه تکلیفونواوزخمونونه روستونازل شویدې،اوبعض وائی چه په دې آیت کښې وعده دحفاظت دقتل نه «یعصمک من القتل فلایصلون الی قتلک» حضرت تهانوی رحمه الله وائی چه په دې کښې وعده د محفوظیة ده په تبلیغ کښې یعنی داسې اُمور اوحوادث به تاته نه راځی چه تامنع کړی دتبلیغ نه،باقی تکلیفونه زخمونه، درفع د درجاتو،اودترقي دمراتبودپاره سبب دې اوضروری دی.﴿**إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ**﴾ داد دریمې خبرې بیان دې. ﴿**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ**﴾ دادبلغ ماتحت داخل دې اواول حکم دې چه اهلِ کتابوته صاف صاف اوایه چه تاسوکافریئ ، اوپه هیڅ صحیح لارباندې نه یئ روان ترڅوچه تاسوپه تورات انجیل کښې هغه حکمونه نه وی منلی

چه منسوخ اومحرف نه دی اوترڅوچه تاسوقرآن او حدیث نه وی منلی، ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ دابشارت دي، ﴿وَٱلصَّٰبِـُٔونَ ﴾ په رفع سره عطف دي په محل داسم د(ان) باندې.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا
په تحقیق سره اخیستې وه مونږ پخه وعده دبني اسرائیلونه اولیږلی وو مونږ دوئ ته رسولان، هرکله
جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا
چې به راغلو دوئ ته رسول په هغه حکمونوسره چې نه به خوښول نفسونوددوئ، نود یوډلې به نې تکذیب اوکړو
وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ۞ وَحَسِبُوٓا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا وَصَمُّوا
اویو ډله به نې قتل کړه اوګمان اوکړو دوئ چې نه به وی هیڅ عذاب پدې عمل نوړانده شول اوکاڼه شول دوئ
ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِّنْهُمْ
بیا مهربانی او کړه الله په دوئ باندې بیاړانده شول اوکاڼه شول ډېر ددوئ نه
وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ۞
اوالله لیدونکي دې هغه عملونو لره چې کوم دوئ کوی.

﴿ لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ ﴾ دازجراوتخویف اخروی دې ﴿وَحَسِبُوٓا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ ﴾ اشاره ده استمراردتکذیب اودقتل درسولانوته،او(تکون) تامه دې فقط فاعل غواړی اودفتنه نه مرادمبتلاکیدل دی په عذاب سره، ﴿ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ یعنی الله تعالی دتجدید ددین اود دوئ داصلاح دپاره نور رسولان راؤلیږل.

لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ
خامخا[1] په تحقیق سره کافردی هغه خلق چې داسې وائي چې بېشکه الله، هم دې مسیح خوئې دمریم دې. او وئیلی دی

[1] - داهم دبلغ ماتحت دې او دویم حکم دې.

الْمَسِيحُ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَ رَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ
مسيح اې بني اسرائيلو عبادت کوئ دالله چې رب خما دې اورب ستاسو دې، بېشکه چاچې شرک اوکړو
بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوٰىهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظّٰلِمِينَ
دالله سره پس په تحقيق سره حرام کړېدې الله په هغه جنت اوځائې دَ ده اور دې ، اونشته دې ظالمانو لره
مِنْ أَنْصَارٍ ۝ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا
هيڅ مددګار خامخاپه[1] تحقيق سره کافردی هغه خلق چې داسې وائی چه بېشکه الله دريم دې د دريو نه، حالانکه چې نشته دې
مِنْ إِلٰهٍ إِلَّآ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ وَ إِنْ لَّمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ
هيڅوک لائق دبندګئ مګريوذات (الله) دې، اوکه منع نشو دوئ دهغه خبرونه چې دوئ وائی نو خامخا به اورسی
كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ
کافرانوته ددوئ نه عذاب دردناک . آيا نوتوبه نه اوباسی دوئ (په زړونوسره) الله ته
وَ يَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝
اوبخښنه نه غواړی (په ژبوسره) دالله نه اوالله بخښوونکې رحم کوونکې دې

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ ﴾ دادويم حکم دې د بَلّغ ماتحت دې. يعنی داحکم اورسوه چه خامخايقيناپه تحقيق سره کافردی هغه خلق چه داوائی چه الله تعالی مسيح بن مريم دې.داد عيسايانويوه فرقه ده چه حلوليه ورته وئيلې شی ياد (إِنَّ اللَّهَ) نه مراد ((المتصرف فی الامور)) دې.

﴿وَقَالَ الْمَسِيحُ ﴾ يعنی عيسی عليه السلام دخپل اُلوهية دعوی نده کړې،(مدعی سست، ګواه چست) بلکه نفی ئې کړيده، ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا ﴾ دادريم حکم دې د بَلّغ ماتحت دې اوداد عيسايانوبله ډله ده، (نسطوريه)يا ،(ملکانيه).

---

[1] دا هم د بلغ ماتحت دې اودريم حکم دې.

مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَ اُمُّهٗ

نه دي مسيح ځوئي د مريم مګر رسول دي، په تحقيق سره تير شوي دي مخکښې دده نه ډېر رسولان . اومور دده

صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ

ولي وه، وۀ دواړه چې خوړلو به ئې خوراک ، اوګوره څه رنګ بيانوۀ مونږ دوئ ته دليلونه دتوحيد بيااوګوره

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا

څه رنګ اوړيدلې شي دوئ دتوحيدنه، ته ورته اووايه آيا بندګي (١) کوئ تا سو ماسوا دالله نه دهغه چاچې

لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا ؕ وَاللهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

اختيارنه لري تاسو لره دضرر اونه د نفعې، الله (خاص) هرڅه آوري اوپه هرڅه پوهه دي

﴿ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ﴾ عيسايانو حضرت عيسى عليه السلام ته اله وئيلو،او حضرت مريم ته ئې هم اِله ويلو،اودحضرت عيسى عليه السلام معجزات ئې دهغه دألوهية دليل ګرځولو اودمريم كرامات ئې دهغې دألوهية دليل ګرځولو،نوالله تعالى فرمائى چه حضرت عيسى عليه السلام رسول دې معجزات درسالت دليل دي اوكرامات دولايت علامه اودليل دي.

﴿قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ﴾ دده نه مخکښې هم رسولان تيرشوي دي دهغوئ هم معجزات وۀ نو كه دمعجزاتو په وجه تاسو حضرت.عيسى عليه السلام ته اِله وائى نو بيا هررسول ته اِله وايئ .صرف دريِ اِله ولې منئ، اوكه دكراماتو په وجه حضرت مريم ته اِله وايئى نو هرولى ته اِله وايئى.صرف مريم ته ولې اِله وايئ . ﴿ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ﴾ (**صديقة**) په معنى دوليه سره دي اومرتبه دصديقيت دنبوت نه غيرده،په دليل دعطف سره،(**مع النبيين والصديقين**) نومعلومه شوه چه حضرت مريم نبى نه وه. اوپه دې باندې دعلماؤ اتفاق دي چه په ښځو كښې څوک نبى نشته دي. ﴿ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ﴾ دادليل دي په نفى دالوهية دعيسى عليه السلام اودمريم چه دوئ دواړه طعام ته محتاج دى اومحتاج اِله نشى كيدې، ﴿ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ ﴾ داځلورم حكم دې دبلَغ ماتحت دي يعنى داحكم اورسوه چه عيسى عليه السلام اومريم اودارنګه تمام مخلوقات

١ داځلورم حكم دې دبلَغ ماتحت دي

مالک دنفع اوضررنه دي نوهغوئ معبود او اله هم نشي کيدي

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْٓا

نه ورته اووايه اي اهل کتاب ! (۱) تجاوز مه کوئ دحدنه پخپل دين کښي بغيردحق نه. اوتابعداری مه کوئ

اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا

دخواهشاتودهغه قوم چي ګمراه شوي دي مخکښي ستاسونه اوګمراه کړي يي وو ډيروخلقولره اوګمراه شوي وو

عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۷۷﴾

د برابري لاري نه .

﴿قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ﴾ داپنځم حکم دي دبَلّغ ماتحت داخل دي.يعني داحکم اورسوه اهلِ کتابوته چه افراط تفريط مه کوئ،عيسی عليه السلام دخپل مقام نه مه اوچتوئ چه اله ورته اووايئی،لکه عيسايان چه وائی،اومه ئي دخپلي مرتبي درسالت نه ښکته کوئ.لکه يهوديانوچه دعيسی عليه السلام دنبوت نه انکارکړيدي،﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ داپه محل دحال کښي دي، (ای اخذين غيرالحق).

﴿وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا﴾ يعنی په اصلِ انجيل وغيره کښي آسمانی کتابونوکښي دعقيدي دشرک هيڅ نوم نشان نه ؤو،روستوبياديونانی بت پرستانوپه تقليد کښي بعضِ عيسايانو(پولوس) دعقيدي دشرک ايجاداوکړواونوروعيسايانودهغه تقليد اوکړو،نوپه دي آيت کښي الله تعالی فرمائی چه دداسي قوم تقليدمه کوئ چه پخپله هم ګمراه ؤواونورخلق ئي هم ګمراه کړيدي،حالانکه ستاسوپه اصلِ ملت کښي دغه شرکي عقائدنه ؤو.

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ

لعنت کړي شوېدي په هغه کسانو چي کفرئي کړېدي دبنی اسرائيلونه په ژبه د داود اودعيسي خوئي

مَرْيَمَ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ

دمريم. داپه سبب ددي چي دوئ نافرمانی کوله اوحدنه ئي تجاوز کولو . وؤ دوئ يو بل ئي نه منع کول دبدکارنه

۱ . زجر اهل کتابو ته .

فَعَلُوْهُ ۭ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝

چې کوؤبه ئې، خامخا ډیربدې هغه کار چې دوئ به کوؤ .

﴿ لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ دا اهلِ کتابوته تخویف دنیوی بیانیږی، چه هغوئ افراط تفریط کولو ،د داؤد علیه السلام په ژبه چه ملعون شوی ؤو ،نوهغه اصحاب السبت دی چه دهفتې په ورځ ئې دمهیانو(کبانو) ښکارکولو ،اونه منع کیدل نوداؤد علیه السلام ورته بد دعااوکړه (اللهم العنهم واجعلهم اية) یاالله په دوئ لعنت اوکړه اودآئینده نسلونودپاره ئې عبرت اوګرځوه،نودوئ مسخ شواوشادوګان (بیزوګان) ترینه جوړشواوکوم خلق چه دعیسی علیه السلام په زبان ملعون شویدی نوهغه اصاب المائده دی،چه دوئ دنزول دمائده مطالبه کړې وه اومائده نازله شوه اودوئ ترینه خوراک اوکړولیکن بیائې هم ایمان نه راؤړو،نوعیسی علیه السلام ورته بد دعااوکړه (اللهم العنهم کمالعنت اصحاب السبت) نودوئ مسخ شواوخنزیران ترینه جوړ شو،چه تعدادئې (۵۰۰۰) پنځه زره ؤو،زنانه بچی په کښې نه ؤو،یامراد دلعنت نه په ژبه د داؤد علیه السلام او دعیسی علیه السلام دادې چه دَ دوئ په کتابونوکښې زبور،انجیل کښې په دغه خلقو لعنت موجودؤو،داقول دابن عباس رضی الله عنه نه مروی دې اواوله توجیه دحسن،مجاهداو قتاده نه مروی ده،﴿ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا ﴾ دابیان دسببِ لعنت دې چه عصیان اوتعدی ده یعنی کفرشدید ،

﴿ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ ﴾(یتناهون) دتناهی نه مشتق دې اودافعل متعدی دې په معنی دفعل لازمی سره چه انتهاء ده (ای کانوالاینتهون) دوئ دکفرنه نه منع کیدل یعنی د دوئ کفر شدیدهم ؤو ،اومدیدهم ؤو ،یافعل متعدی په خپله معنی سره دې یعنی دوئ یوبل نه منع کول نهی عن المنکرئې نه کولونوداسبب دلعنت شو ،اوددې تائیددهغه حدیث نه کیږی چه روایت ئې کړیدې ابوداؤد ،ترمذی اواصحاب المسانید دحضرت عبدالله بن مسعودرضی الله عنه نه (ان اول مادخل النقص علی بنی اسرائیل – آه) یعنی په بنی اسرائیلوباندې تنزل اول ددینه شروع شوچه یوکس به دبل سره ملاؤشواوپه ناجائزکارکولوباندې به ئې اولیدونومنع به ئې کړو،چه ګوره دالله تعالی نه ویریږه،داسې مه کوه،داتاله نه دی حلال،نوچه بیابه ورسره ملاؤشو اوهغه په خپل حال ؤو ،(په ګناه کښې به مبتلاؤو) نودنه منلوباوجودبه ورسره دخپل تعلقات دخوراک څکاک، کیناستل، پاسیدل،قائم لرل،هرکله چه عام طورسره داسې اوشوه نوالله تعالی دبعضوقلوب دنوروبعضوسره خلط کړل،یعنی دنافرمانوزړونه چه څنګه ؤو ،دهغوئ

دنحوست دوجه نه دفرمانبرداروزړونه هم دغه شان تورشو .بیانبی صلی الله علیه وسلم په تائيد کښې دا آيت د (**فاسقون**) پورې تلاوت کړو .اوبيائې اوفرمائيل .(كلاوالله لتامرن بالمعروف ولتنهون عن المنكرولتاخذن على يد الظالم ولتاطرُنّه) (اى لتردنه)،على الحق ولتقصرنه على الحق قصرا"وليضربن الله بقلوب بعضكم على بعض ليلعننكم كمالعنهم) نبی صلی الله علیه وسلم په ډيرتاكيدسره (كلاوالله) اوفرمائيل چه تاسوامربالمعروف نهى عن المنكركوئ،دظالم لاس نيسئ،دظلم نه ئې منع كوئ اوحق طرف ته ئې واپس كوئ گنې ستاسوزړونه به هم هغه شان خلط ملط (تور) شي لكه چه دهغوئ زړونه وو،اوپه تاسوبه لعنت اوشي لكه چه په هغوئ باندې شوې وو،داحديث چه ددې آيت په تفسيركښې وارد دې،ددې نه واضح طورسره معلومه شوه څوک چه دګناه په ماحول کښې وی اود دعوت الی الله عمل نه کوی نوزړه ئې دګناه دنحوست دوجه نه تورشی اودنیکئ توفیق ترینه سلب شی اودلعنت مستحق شی، (اللهم احفظنابفضلک) نود دعوت الی الله عمل دخپل ایمان اواعمالو حفاظت دې،بل چاته نفع رسيدل علاوه خبره ده .

تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ
وینې ته ډیرولره　ددوئ نه　چې دوستانه کوی دکافرانوسره ، خامخابد دې هغه عمل چې مخکې لیږلې دې
لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِى الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ۝
دوئ لره نفسونو ددوئ هغه داچې غضب کړهدې الله　پدوئ باندې اوپه عذاب کښې به دوئ همیشه وی
وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ
اوکچرې دوئ ایمان لرلې په الله　اوپه نبی باندې اوپه هغه کتاب چې نازل کړې شوېدې ده ته نه به ئې نیولې　دوئ لره
اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝
دوستان　لیکن ډېر　ددوئ نه　نافرمان دی

﴿ تَرٰى كَثِيْرًا ﴾ په اهلِ کتابوکښې ډیرخلق لکه کعب بن اشرف وغیره شو ، دوستی کوی دکفارودمکې سره،دنبی صلی الله علیه وسلم اودمؤمنانوخلاف متحده محاذجوړول غواړی. لیکن داسې منصوبې جوړول اوعملونه کول د دوئ دپاره مفیدنه دی بلکه ډیربد دی

﴿أَن سَخِطَ اللَّهُ﴾ دامخصوص بالذم د (بئس) دپاره دې په حذف دمضاف سره.(اى موجب ان سخط الله) يامخصوص بالذم محذوف دې اى فعلهم هذا ان سخط الله ورله علت دې.

﴿وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ﴾ په دې عطف دې نومعلومه شوه چه په موالات دكفارو سره دادوه كارونه كيږى،(١) سخط دالله تعالى،دسخط په معنى كښې زيات دې د(غضب) نه دسخط معنى دغصه سره دخفگان نه،او(٢) بل خلودفى النار ﴿وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ﴾ دايمان علامه ترك موالات دې دكفاروسره،اوموالات دكفاروسره علامه دكفر،موجب دسخط اودخلودفى النار دې،

(فائده) د(موالات) (مدارات) (مواساات)،فرق اوحكم مخكښې ذكرشويدې په سورت آل عمران كښې.

لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ۖ وَلَتَجِدَنَّ

خامخا به ته اومومې سخت دخلقونه په دښمنۍ كښې دمومنانوسره يهوديان اومشركان ، اوخامخا به اومومې ته

أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ

زيات نزدې ددوئ نه په دوستانه كښې دمومنانوسره هغه كسان چې وائى بېشكه مونږ نصارى يو، دا په سبب ددې چې

مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

بعضې ددوئ نه دحق طلب گار عالمان دى، او يره كوونكى دالله نه پيران، او په سبب ددې چې بېشكه دوئ تكبر نه كوى

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً﴾ مخكې منع دموالات دكفارونه ذكرشوه اووعيدپه موالات ذكرشواودنزول دقرآن په وخت كښې كفاراومخالفين داسلام درې فرقې وې،يهود، نصارى،مشركين،په دې آيت كښې دعداوت په اعتبارسره دهغوئ تجزيه اودرجه بندى ذكر كيږى،دانسان دپاره داخلى دښمن خونفسِ اماره بالسوء دې،اوخارجى دښمن دټولوانسانانو دپاره ابليس دې،ليكن دمسلمانانودپاره په انسانانوكښې سخت ترين دښمن يهود دى.

﴿لَتَجِدَنَّ﴾ دوه مفعوله غواړى ﴿أَشَدَّ النَّاسِ﴾ مفعول اول دې،او ﴿الْيَهُودَ﴾ مفعول ثانى دې يابرعكس . (عدواة) تميزدې د(اشدالناس) دپاره،يعنى په انسانانوكښې سخت ترين دښمن دمؤمنانودپاره يهود دى،اوپه دويم نمبركښې ﴿وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا﴾ مشركان دى:

ذوجماعتونوذكر صراحة اوشونود دريم جماعت «نصاراؤ» حال معلوم شوچه دوئ په دريمه درجه كښې دښمنان دى اودروستوجملې نه هم معلوميږي

﴿وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً﴾ دقرب معنى داده چه دوستان خونه دى ليكن دنوروپه نسبت سره غنيمت دي.«تهانوى» دلته هم ﴿أَقْرَبَهُمْ﴾ مفعول اول دي او ﴿الَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَـٰرَىٰ﴾ مفعول ثانى دي.﴿ذَٰلِكَ﴾ يعنى كيدل د دوئ اقرب مودة په دې وجه دى ﴿بِأَنَّ مِنْهُمْ﴾ په دې وجه دى چه په دوئ كښې عالمان اوپيران دى.حضرت تهانوى رحمه الله فرمائى چه داپه منزله دعلت فاعلى دې.لكه زرگر د زرو، نه زيورجوړوى.نودغه شان صحيح اهلِ حق علماء اوپيران دى.

﴿وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ نوداپه منزله دعلت مادى دې.تكبراوتعصب چه په چاكښې نه وى نوپه هغه كښې صلاحيت دقبول دحق وى اوپه تكبراوتعصب سره دغه صلاحيت سلب كيږى.اومتكبرسړي دعالم اودپيرپه جهداومحنت سره نه جوړيږى.

«**فائده**» دانگريزخلاف چه كله اهلِ حقُ «علماؤ د ديوبند» جدوجهدشروع كړو.نواهلِ بدعت، دبريليانومشرانوئې خلاف شروع كړواوفتوى ئې جارى كړه چه نصاراى دمؤمنانو دپاره دوستان دى لكه ددې آيت نه صراحة معلوميږى د دوئ سره جهادكول جائزنه دى.داخبره د دوئ په فتاؤكښې موجوده ده،چونكه دوئ دا آيت په استدلال پيش كولونوددې وجه نه حضرت تهانوى رحمه الله ددې آيت مكمل تحقيق په بيان القرآن كښې ليكلې دې.چه دليدلوقابل دې.بلكه ضرورى دې.چه دهغې حاصل دادې چه دشانِ نزول اودنورو دلائلو اوشواهدواو قرائنونه دامعلومه ده چه په دې آيت كښې دټولونصاراؤذكرنه دې بلكه مخصوص نصارى مراد دى.چنانچه حضرت تهانوى رحمه الله ليكى

پس بعض اھلِ تملق کا دنیوی غرض سے اس میں عموم مطلق کا دعوی کرنا محضِ ہوا پرستی ہے۔

دآيت نه كه چرته ټول نصاراى دهرې زمانې دهرځائې،مرادشى نوپه كلام الهى كښې به كذب راشى.ځكه چه داخو مشاهده ده چه دموجوده زمانې نصارىٰ خودمسلمانانو دوستان نه دى.اوقرآن ورته دوستان وائى، دارنگه په موجوده زمانه كښې په نصاراؤكښې داصفات نشته دې.«**قسيسين، رهبان، لايستكبرون**» اودا رنگه د«**واذاسمعو**» نه د«**مع القوم الصالحين**» پورې اوصاف په ټولونصاراؤ كښې چرته موجود دى؟ نودا آيت په حق دخاصونصاراؤكښې نازل دې

چه نصارای دحبشه دی،یعنی نجاشی چه ایمان ئې راوړې ؤو،اوبعض مفسرین وائی چه دا آیت په حق دعامونصاراؤکښې دې اګرکه کافران وی لیکن مطلب ئې دانه دې چه ټول نصاری دهرې زمانې دهرځائې،دمسلمانانودوستان دی، بلکه مطلب ئې دادې چه په نصاراؤکښې دقبول حق صلاحیت زیات دې په نسبت سره یهودیانوته،ځکه چه په یهودوکښې ضد ، حسد ډیرزیات دې اوپه نصاراؤکښې دهغوئ په نسبت سره کم دې،اوانابت په کښې زیات دې، نود ﴿أَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً﴾ نه مرادانابت کول دی حق طرف ته،یعنی یهوداونصاری اګرکه دواړه دښمنان دی لیکن فرق ئې دومره دې چه یهودډیر بدبخت بدترین دښمنان دی اودقبولِ حق استعدادپه کښې ډیرکم دې،اوحسد،ضدپه کښې ډیرزیات دې،اونصاری هم اګرکه دښمنان دی لیکن د یهودوپه نسبت په دوئ کښې ضد، تعصب اوحسدکم دې،اودقبولِ حق استعدادپه کښې زیات دې اوددې وجه نه چه کومو نصاراؤحاکمانوته دنبی صلی الله علیه وسلم دعوت نامې رسیدلی دی نوبیائې ایمان راوړې دې یائې کم ازکم د دعوت نامې احترام ساتلې دې لکه هرقل، بهرحال راجح قول دادې چه دا آیت په حق دخاصونصاراؤکښې دې،چنانچه مفسرین حضراتوددې آیت **شانِ نزول** مفصل ذکرکړیدې دهغې اختصاردادې چه دهجرت نه قبل په مکه کښې مسلمانان دکفارودادیت نه ډیرتنګ شواودنبی صلی الله علیه وسلم نه ئې دهجرت کولواجازت طلب کړو،نویو وفد د(١١) یولس کسانوچه په دې کښې حضرت عثمان رضی الله عنه اود دوئ زوجه محترمه حضرت رقیه رضي الله عنها دنبی صلی الله علیه وسلم لورهم وه دوئ حبشې ته هجرت اوکړو،ددې نه بعدبیادحضرت جعفربن ابی طالب رضی الله عنه په قیادت کښې یوه لویه قافله بعض نارینه بعض زنانه،چه دوه اتیاکسان (٨٢) ؤوهجرت ئې اوکړوحبشې ته، اودحبشې بادشاه اوخلقود دوئ ډیرښائیسته استقبال اوکړواودوئ په امن وعافیت سره هلته دیره شو،کفارودمکې ته په دې باندې ډیره غصه ورغله چه دامؤمنان په امن اوعافیت سره زندګی تیروی،نودوئ یو وفداولیږلوچه دحبشې بادشاه اودهغه حاکمانوته ئې دځان سره ډیرې تحفې یوړې،اوبادشاه ته ئې عرض اوکړوچه مونږدمکې شرفاؤ،ددې مهاجرینو پلارانواومشرانورالیږلی یوچه دوئ مکې ته واپس کړه،بادشاه اووئیل چه زه دوئ بلا تحقیقه نه شم واپس کولې،اودتحقیق دپاره ئې حضرت جعفررضی الله عنه او دده ملګری راؤغوښتل . نوحضرت جعفررضی الله عنه دبادشاه اودحاکمانوپه مخکښې دحضورصلی الله علیه وسلم مختصرجامع سیرت اود اسلام مختصرجامع خاکه پیش کړه. او د سورت مریم

تلاوت ئې اوکړو ،نوبادشاه اوټولې مجمع اوژړل،اودبادشاه اودحاکمانواودعواموپه زړونو کښې د اسلام اودحضورصلی الله علیه وسلم محبت اوعظمت پیداشو ، او د صحابؤ مهاجرینو قدرمنزلت نورهم زيات شو ،اوبياهرکله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدينې ته هجرت اوکړو.

نو مهاجرينودحبشې مدينې منورې ته دراتللوعزم اوکړواودحبشې بادشاه نجاشی «اصحمه» يولوئې وفد دنصاراؤچه اوياكسان (۷۰) ؤو،اوپه دې کښې د دوئ علماؤاوراهبان ؤو .مدينې ته راؤليږل،په دې کښې (۲۲) کسان دحبشې او(۸) کسان دشام نصارای ؤو،دا وفد په درويشانه لباس کښې دنبی صلی الله علیه وسلم حضورته حاضرشو ،اونبی صلی الله علیه وسلم دوئ ته سورتِ ياسين تلاوت کړونودوئ ټولوډيراوژړل،او وې وئيل چه داکلام ډير مشابه دې دهغه کلام سره چه په حضرت عیسی علیه السلام نازل شوې ؤو ، اودا ټول وفد مسلمانان شو ،نوپه دې آيت کښې د دوئ ذکردې،اودوئ چه حبشې ته واپس شونو بادشاه نجاشی هم داسلام راؤړلو اعلان اوکړو،اويوخط ئې دنبی صلی الله علیه وسلم په نوم اوليکلو اوخپل زوې ئې ديوبل وفدقائدجوړ کړواومدينې منورې ته ئې اوليږلو ؛ليکن د دوئ کشتې په درياب کښې غرقه شوه،دوئ مدينې ته راؤنه رسيدل،اودحبشې بادشاه اوعوام مسلمانان شو ،بياچه بادشاه کلاوفات شو نونبی صلی الله علیه وسلم ئې غائبانه جنازه اداکړه،

﴿قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا﴾ قسيس عالم دنصاراؤته وئيلې شی، دادمبالغې صيغه ده، ((قس تتبع بالليل)) دشپې دخه څيزتلاش کولوته وائی،دوئ ته ((قسيس)) وائی دوجه دډيرطلب دعلم نه،قطرب وئيلی دی چه دا لغتِ رومی بياعربی شويدې،او (رهبان) جمع د (راهب) ده،د (رهبة) نه ماخوذدې په معنی د (مخافة) سره،او (ترهب) (تعبدفى الصومعة) ته وائی،راهب په معنی دعابدفی الصومعة لمخافة الله سره دې،دوئ چه په خپل ځان باندې دخپل طرفه کوم مشقت اچولې ؤو ،لکه ترک ددنيوی اشغالو ،لذاتو ،عزلت،گوشه نشينی، حتی چه بعض به خپل ځان خصی کولوددې ممانعت په اسلام کښې راغلې دې،(لارهبانية فى الاسلام) دغه معنی ده.

شپږمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ

اوكله[۱] چې واوري دوئ هغه كتاب چې نازل كړې شوېدې رسول ته وينې به ته ستر كې ددوئ بهيږي به داوښكو نه

مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا

دوجې ددې نه چې دوئ اوپيژندلو حق لره ، وائى دوئ اې ربه زمونږ ا ايمان راوړې دې مونږ نو اوليكه مونږ

مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا

دشهادت كوونكو سره اوڅه عذر دې مونږ لره چې ايمان به راوړو په الله اوپه هغه څه چې راغلېدى مونږ ته

مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ۝ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ

دحق نه (حالانكه) مونږ طمع لروچې داخل به كړي مونږ رب زمونږ دقوم نېكانوسره . پس بدله وركړه دوئ ته الله

بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

په وينا ددوئ جنتونه چې بهيږي به لاندې دهغې نه نهرونه هميشه به وي دوئ په هغې كښې، اودا بدله دنېكى كونكو ده

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝

اوهغه كسان چې كفرئې كړېدې او نسبت د دروغو ئې كړېدې آيتونوزمونږ ته دغه كسان دوزخ والا دى

﴿وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ﴾ ددې نه مراد هغه وفددې چه مدينې ته راغلي ؤواونبى صلى الله عليه وسلم دوئ ته سورة ياسين تلاوت كړې ؤو ،اودوئ دا اعلان كړې ؤو .﴿رَبَّنَآ اٰمَنَّا﴾،

﴿فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ د(**شاهدين**) نه مراد امتِ محمدصلى الله عليه وسلم دې چه دقيامت په ورځ به په نوروخلقودانبياؤدپاره گواهى كوى،يا(**شاهدين**) په معنى دگواهى كوونكى په حقيت د نبى صلى الله عليه وسلم اودقرآن،اوپه ﴿تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ﴾ كښې مبالغه ده څكه چه سترگې خونه بهيږى. بلكه ډكې شى داوخكونه اواوخكې بهيږى اودلته نسبت دبهيدلو سترگو ته اوشو .چه بهيږى داوخكونه

۱ بشارت

﴿ وَمَا لَنَا ﴾ اوڅه باعث اوعذردې مونږلره چه ایمان به نه راوړو .داجواب دې د اعتراض وملامتیادخلقونه چه تاسوولې خپل مخکنی دین پریښودلواوبل دین موغوره کړونودوی اووئیل چه هیڅ عذرنشته دې مونږلره په ترک دایمان بالله.اودایمان بالقرآن کښې.

﴿ وَنَطْمَعُ ﴾ داجمله حالیه ده په تقدیر د (نحن) سره (ای والحال انه نحن نطمع) یاداعطف دې په (نؤمن) باندې حاصل دادې چه سبب اوباعث دایمان موجود دې چه طمع دجنت ده.او مانع دایمان نشته اوپه وخت دوجود دسبب اوانتفاء دمانع کښې وجوب راځی.

﴿ مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴾ د(صالحین) نه مرادامتِ محمدی دې او(مع) په معنی د(فی) سره دې یاپه عبارت کښې تقدیردې (ای یدخلنافی الجنة مع الصالحین).

﴿ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ ﴾ دابشارت دې،﴿ بماقالوا ﴾ صرف قول نه دې مراد،لکه کرامیه چه وائی چه ایمان صرف اقرارلِسانی دې،بلکه قول مع الاعتقادمراد دې،لکه دماقبل صفاتونه معلومه شوه،یاقول په معنی داعتقاداومذهب سره دې لکه چه وئیلې شی هذاقول ابی حنیفه.

﴿ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾ داتخویف اخروی دې،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ لَا تَعْتَدُوْا ؕ

اې ایمان والو[1] حرام مه ګڼړئ پاک هغه څیزونه چې حلال کړی دی الله تاسولره اوزیاتې مه کوئ [2] دحدنه

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝ وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا

بیشکه الله محبت نه کوی دحدنه تیریدونکو سره . اوخورئ [3] دهغې نه چې درکړې دې تاسوته الله حلال .

طَيِّبًا ۠ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْۤ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝

پاک او یره کوئ داالله نه هغه الله چې تاسوپه هغه باندې ایمان لرئ.

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا ﴾ داپه حصه ثانی دسورت کښې دویم مضمون دې،یعنی نفی

1 - اعاده دمضمون دنفي دشرک فعلي [ما احل الله] داضافت بیان دي
2 - دمعبو دانوباطله دوجي نه تحریمات مه کوئ.
3 په حالت د شرك كښې چې كوم تحريمات كړی وو هغه حلال اوګڼړئ او خورئ ئې

دشرك فعلي.اودلته هم څلورمسائل ذكركيږي،(۱) تحريمات غيرالله،ياتحريمات العباد يا تحريمات مشركين،(۲) نذرلغيرالله،(۳) تحريمات الله،(۴) نذرلله،داول قسم يعنى تحريمات غيرالله ياتحريمات مشركين ياتحريمات العبادحكم دادي چه ددې حرمة ختم كړئ.اوحلال ئې گنړئ.اوعملاً ئې حرمت ختم كړئ خورئ ئې،د دويم قسم حكم دادي چه نذرلغيرالله حرام دې بلكه دمرداري اوخنزيرنه زيات حرام دي هغه مه خورئ،د دريم قسم حكم دادي چه كوم اشياء الله تعالى حرام كړيدى نودهغې حرمت قائم اولرئ اوعملاً په وجه دحرمة سره دهغې خوړل ترك كړئ.اوعقيده دحرام پرې اولرئ،دڅلورم قسم حكم دادي چه داصحيح دي بلكه سبب دقيام دعالم دي داقائم اوجاري اولرئ.

﴿لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَٰتِ مَآ﴾ اضافت د(**طيبات**) (**ما**) ته اضافت بياني دې اوداداولې مسئلې ذكردې،كوم چه طيبات،يعنى كوم اشياء چه الله تعالى حلال كړيدى نوهغه حرام مه گنړئ،او دحرام گنړلودوجه نه ئې خوړل مه ترك كوئ څكه چه داالله تعالى دحدودونه تجاوزكول دى. اوالله تعالى محبت نه كوى دتجاوزكوونكوسره،(**لاتحرمواطيبات ما**) معنى داده چه حرام مه گنړئ هغه پاک حلال څيزونه چه الله تعالى حلال كړيدى،اودتحريم دحلالودرې درجې دى:

(۱) **اول** اعتقاد دحرمة دهغې اوترک اكل داعتقاد دحرمة دوجه نه،داقسم تحريم كول دحلالِ قطعى كفردې،اوشرک فعلى دې دلته داقسم مراد دې،روستو(**ماجعل الله من بحيرة ولاسائبة**) آيت نمبر ۱۰۲،ددې تفصيل دې.

(۲) **دويمه** داچه سړې په حلالوباندې عقيده دحرامونه لرى، خوپه خپل ځان باندې ئې په طريقه دقسم سره حرام كړى مثلاداوائى چه په ماباندې فلانې څيزخوړل حرام وى يادفلانې سړى سره دې خبرې كول په ماحرام وى نودايمين منعقده دې داسې قسم ختمول ضرورى دى اوكفاره وركول دى اوددې آيت په عموم كښې داهم داخليږى لكه په مابعدآيت كښې ئې تفصيل دې.

(۳) **دريمه** داچه قولاً عقيدةً ئې حرام نه كړى خوعملاً ئې ترک كړى اوثواب ئې گنړى په طور د رهبانيت سره،نوداقسم تحريم بدعت او رهبانيت دې، داقسم تحريم ختمول هم ضرورى دى اودآيت په عموم كښې داهم داخل دې اودرواياتودشانِ نزول نه معلوميږى.البته كه چاحلال څيزترک كړودجسمانى بيمارئ ياروحانى بيمارئ دوجه نه نودا ممنوع نه دې،اوپه دې آيت كښې نه دې داخل.

﴿ وَّكُلُوا ﴾ يعني كوم څيزونه چه تاسودخپل طرفه حرام كړيدي نودهغې حرمت عملاً هم ختم كړئ، اوخورئ ئې، او د(كلوا) نه مرادنفع اغستل دي برابره خبره ده چه په خوړولوسره وي يا په ركوب اولباس سره وي .

﴿ حَلٰلًا طَيِّبًا ﴾ دامفعول به د(كلوا) دي او﴿ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ﴾ ترينه حال دي اودا په اصل كښې صفت ؤو دحلالاً دپاره خومقدم شونوحال شوځكه صفت دنكرې چه مقدم شي نوحال ګرځي، اوددې نه معلومه شوه چه حرام هم رزق دې ځكه كه هغه رزق نه وې لكه معتزله وائي نودحلالاً ذكركول بعد د(مما رزقكم الله) نه بې فائدې ؤو، اوحلال خوهغه دې چه دليلِ شرعي دهغې دحرمت دپاره نه وي او(طيباً) نه مراد(۱) مستلذات دي.(روى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ياكل الدجاج والفالوذوكان يعجب الحلواء والعسل ،(مدارك) (وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم المؤمن حلويحب الحلاوة (رواه الديلمى عن علي والحديث ضعيف) (۲) ياد (طيبا) نه مرادهغه دي چه دشبهې نه هم پاك وي او(۳) دعبدالله بن مبارك نه نقل دي چه حلال هغه دي چه په طريقه شرعي سره حاصل شي او(طيبا) هغه دي چه په هغې كښې غذائيت وي او مضرنه وي صحت ته نوپه كوم څيزسره چه غذايت نه راځي اومضروي صحت ته لكه خاوره. كاڼې، سكاره، نودامكروه (تحريمي) دي، ددې نه دډيرهغه اشياؤحكم معلوميږي چه په دې موجوده زمانه كښې ئې ايجاداورواج راغلې دي .

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ

نه نيسي الله تاسولره په لغو قسمونو ستاسو سره ليكن نيسي تاسولره په هغې چې تاسومضبوط كړي وي

الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ

قسمونه (په قصدسره)پس كفاره ددې يعني دماتولودقسم خوراك وركول دي لس مسكينانوته د درميانه

مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ

هغه خوراك نه چې تاسو ئې خوروئ پخپل كورو الوياندې ياجامې دهغوئ يا آزادول دمرئ دي، پس څوك چې

لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ

اونه مومي (دغه مذكور) نوپه ده باندې روژې دي درې ورځې (پرله پسې)، داكفاره دقسمونو (ماتولو) ستاسو ده

إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ

كله چې تاسو قسمونه اوکړئ،اومات نې کړئ،اوحفاظت کوئ د قسمونو خپلو. دغسې بيانوي الله تاسونه

آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۞

آياتو نه خپل ددې دپاره چې شکر اوکړئ

﴿ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ ﴾ هرکله چه تحريم دحلال يمين ؤو،نوددې وجه نه ديمين ذکرکيږي.

﴿بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ ﴾ الله جل جلاله مواخذه نه کوي ستاسوپه لغوه قسمونوستاسوسره مؤاخذه دنيوى وجوب دکفارې دې اومؤاخذه اخروى اثم اوګناه دې نوپه يمين لغوه کښې دواړه نشته دې،دامام شافعى رحمه الله په نيزيمين لغوه هغه دې چه بلاقصده په بې پروائي سره قسم اوکړى لکه دبعضوخلقوعادت وى،چه په خبروکولوکښې والله.بالله وائى.اوپه نيزدامام ابوحنيفه رحمه الله اواحمدرحمه الله باندې،يمين لغوه هغه دې،چه په تيرشوى کاربانديې دخپل ظن او اعتقادموافق قسم اوکړى چه دا داسې دې،اوپه حقيقت کښې دغه شان نه وى،اويمين غموس په تيرشوى کاربانديې قصداً په ناحقه قسم ته وائى.اوداګناه کبيره ده.تلافى ئې صرف توبه ده، داحنافوپه نزدپه کښې کفاره نشته دې.اوپه نزد دشوافعوپه کښې شته.او اويمين منعقده هغه دې چه آئنده کاربانديې قسم اوکړى،نوپه دې کښې کفاره ده.اودامذکور دى په دې آيت کښې:

﴿وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ ﴾ (ما) په (بماعقدتم) کښې مصدريه دې (اى بتعقيدکم الايمان) عقد،تعقيد.په اصل کښې غوټه کولواوتړلوته وائى،مرادترينه توثيق اومحکم کول دى په نيت سره،معنى ئې داده چه الله تعالى ستاسومؤاخذه کوى په محکم کولوستاسو قسمونو لره په نيت سره، (اذاحنثتم) کله چه تاسوحانثان شئ،مقدردې يا (بنکث ماعقدتم) مضاف مقدردې،ځکه صرف په قسم کولوسره مؤاخذه کفاره نشته دې.يا(ما) موصوله دې اوعائد د موصول مقدردې (اى بماعقدتم الايمان عليه وحنثتم).

﴿ فَكَفَّارَتُهُ ﴾ داتفصيل دمؤاخذې دينوى دې،اوضميرراجع دې حنث ته چه فهميږى دسياق دکلام نه،ياراجع دې يمين ياعقدته،چه په ضمن ده (ايمان) او(عقدتم) کښې مذکور دې په حذف دمضاف سره (اى کفارة نقضه ونکثه) ځکه کفاره دحنث نه قبل نشته دې په نزد د

احنافو.اوپه نزد دشوافعوکفاره قبل الحنث جائزده اوبعدالحنث واجبه ده.دوئ په دي آيت سره استدلال کوی څکه دلته کفاره روستوديمين نه ذکرشويده بغيرذذکرحنث نه نومعلومه شوه چه که حنث نه وی راغلې نوهم کفاره ورکولې شی.اوپه روايت دبخاری اومسلم وغيرهماکښې راغلی دی.(من حلف علی يمين فرای غيرهاخيراًمنهاالليکفر عن يمينه ولیأت الذی هوخير) دلته دکفارې ذکر.قبل دحنث نه شويدې اودارنګه دوئ قياس کړيدې د قبل الحنث کفارې ورکولو.په تقديم دزکوة په حولان دحول باندې.اواحناف وائی چه دآيت مراداېجاب دکفارې عندالحنث دې،يعنی دآيت مطلب دادې چه کفاره واجبيږی.په وخت دحنث کښې.اوقبل الحنث خو وجوب نشته دې بالاتفاق،نومعلومه شوه چه مراد دآيت دادې چه (بماعقدتم الايمان وحنثتم، فكفارته اطعام)الخ.اوددې نظيرآيت دصوم دې چه (ومن كان مريضاً اوعلى سفرفعدة من ايام اخر) دلته بالاتفاق مراد دادې چه (فافطرفعدة) نودغه شان ددې آيت مراد دادې چه (وحنثتم فكفارته) اوجواب دحديث نه دادې چه په حديث کښې (وليأت الذى) الخ،په واؤسره ذکرذې نودا په ترتيب دلالت نه کوی،لکه په دې قول دالله تعالى،(فاسعوا الى ذكرالله وذروالبيع) تقديم د(سعى) په (ذروالبيع) باندې بالاتفاق نشته دې.اوقياس په تقديم دزکوة هم نه دې صحيح څکه سبب دوجوب دزکوة دپاره ملک دنصاب دې اوهغه راغلې دې اوسبب دکفارې دپاره حنث دې هغه نه دې موجود.(والتفصيل فى اصول الفقه).

﴿إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ﴾ دلته دکفارې دپاره درې صورتونه ذکرشويدی.نوپه دې کښې ترتيب واجب نه دې بلکه (او) دتخيردپاره دې يعنی دکفاره ورکوونکی خوښه ده چه په دې دريؤکارونوکښې هريوچه کوی،اول (طعام) دې لس مسکينانوته صبا اوماښام،(صبح وشام) اولس فطرانې هم کافی کيږی،يوه فطرانه دوه کلوغنم دی تقريباياددې قيمت.ليکن شرط دادې چه لسومسکينانوته ورکړې شی.يايومسکين ته لس ورځې روزانه يوه فطرانه ورکړې شی،اوکه لس واړه فطرانې ئې په يوځل يومسکين ته ورکړې نوداصرف ديومسکين دطعام قائمقام ګرځی د(۱۰) لسوقائمقام نه دې.

﴿مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ﴾ يعنی نه ډيراعلی طعام واجب دې نه ډيرادنی بلکه درميانه هغه طعام چه عامواوقاتوکښې ئې په خپله خوری اواهل اوعيال ته ئې ورکوی.

اودويم ﴿كِسْوَتُهُمْ﴾ يوه جوړه جامه مراد ده قميص پرتُک.اودريم ﴿تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ﴾ ددې نه مرادپه نزد داحنافو مطلق رقبه (غلام) ده،مؤمن وی اوکه کافروی،اوپه نزد دنوروائمورقبه

مؤمنه ده.﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ ﴾ يعنى څوک چه ددغه درې واړوكارونوطاقت نه لرى، نوبيادې درې روژې اونيسى.نوكه طاقت ئې ؤوددغه امورو نو روژې كافى نه دى حتى كه په درميان دروژو كښې ئې په اطعام وغيره قدرت راغې لكه دوه روژې ئې نيولى دى اوقدرت ئې راغې نود دريمې روژې په ځائې به اصلِ كفاره وركوى.اوتتابع.يعنى پې درپې ولې په روژه كښې شرط دې په نزد داحنافواودبعض نوروائيموباندې په دليل دقرات دابن مسعودرضى الله عنه او أبى بن كعب رضى الله عنه سره.﴿ ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ ﴾ دلته مضاف مقدردې (اى كفارة نقض ايمانكم) ځكه چه سبب دكفارې دپاره يمين نه دې بلكه يمين سبب د (بر) دې،اوسبب دكفارې ماتول دقسم دى.كفاره دكفرنه ماخوذدې كفرستر اومحوكولودګناه ته وائى،اويمين ګناه نه دې بلكه ګناه دقسم ماتول اودقسم خلاف كول دى،﴿ إِذَا حَلَفْتُمْ ﴾ (اى وحنثتم) ځكه صرف په حلف كولوسره كفاره نه واجبيږى،ترڅوچه حنث نه وى راغلې،

﴿ وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ ﴾ ددې مطلب دادې چه كله تاسوقسم اوكړئ نوبغيردشرعى يا طبعى ضرورت نه قسم مه ماتوئ.بله معنى ئې داده چه حفاظت كوئ دخپلوقسمونوچه روستودحنث نه جلدى كوئ په كفاره وركولوكښې (قرطبى)،بله معنى داده چه ځان بچ كوئ دقسم كولونه،(واحفظوا انفسكم ايمانكم)(خازن)،(لاتحنثوا اذالم يكن الحنث خيراً اولاتحلفوااصلاً) (مدارک).

يَٰٓأَيُّهَا	الَّذِينَ	آمَنُوٓا	إِنَّمَا	الْخَمْرُ	وَالْمَيْسِرُ	وَالْأَنصَابُ	وَالْأَزْلَامُ

اې ايمان والو[۱] بيشكه شراب اوجوارى اوبتان (يعنى عبادت ددوئ) او غشى (يعنى پدې سره قسمت معلومول

رِجْسٌ	مِّنْ	عَمَلِ	الشَّيْطَانِ	فَاجْتَنِبُوهُ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُونَ ۝

پليتې او ګندګې ده دادعمل دشيطان نه دى نوځان اوساتئ ددېنه ددې دپاره چې كامياب شئ

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

بيشكه (۲) اراده لرې شيطان چې واچوى په مينځ ستاسو كښې دښمنى اوكينه په ځكلو دشرابو سره اوكولو دجوارئ سره

---

۱ د دريمې مسئلې ذكر يعنى نذر لغير الله ګندګى ده ځان ترې نه اوساتئ

۲ داعلت دې دحرمت دخمر او ميسر دپاره اودانصاف او ازلام دحرمت دپاره علت شرک اعتقادى اوفعلى دې

وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ۝

اومنع کړی تاسو د ذکر دالله نه او دمانځه نه. نو آیا تاسو منع کېدونکی نه یئ

﴿يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِنَّمَا الْخَمْرُ﴾ داد دويمي مسئلي بيان دي يعني نذرلغيرالله حرام دي اوپليت دي. اوتحريم د «خمرو» په ډيرحکيمانه اندازسره بالتدريج راغلي دي ځکه چه په عربو کښي دشرابوڅکلوډيررواج ؤونوپه يوځل ئي پريښنول ډيرمشکل ؤو. اول واردسورة بقره آيت «وانهمااكبرمن نفعهما» نازل شو. په دي کښي د «اثم» ذکرصراحة ؤو. خومنع دشرابوڅکلونه صراحة نه وه نوددي وجه نه حضرت عمررضی الله عنه اووئيل چه «اللهم بين لنابياناشافيا» بيادسورة نساء آيت نازل شو. په هغي کښي هم دحرمت تصريح نه وه بلکه دنشي په حالت کښي دمونځ کولو ممانعت ؤونوحضرت عمررضی الله عنه بيااووئيل «اللهم بين لنابياناشافيا»

نوبيادا آيت نازل شو. اوحضرت عمررضی الله عنه چه داواؤريدل. ﴿فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾ نووي وئيل «انتهينا،انتهينا» او «ميسر» هرقسم جواری ده. «والانصاب» نه مرادعبادة الانصاب يعني نذردبتانوډپاره اودهغوئ په درګاهونودهغوئ په نوم ذبح کول. لکه دسورت په ابتداء کښي «وماذبح على النصب» دي، او تحقيق د «انصاب» او «ازلام» مخکښي تيرشويدي.

﴿رِجْسٌ﴾ هرهغه پليت څيزدي چه صحيح فطرتِ انساني ترينه نفرت کوی. اوبعضِ وائی چه «رجس» هغه څيزدي چه پليت والي ئي پټ وی هرڅوک پري نه پوهيږی. اوددي وجه نه منافقينوته رجس وئيلي شويدي لکه په سورتِ توبه آيت نمبر ۹۰ کښي. او «نجس» هغه څيز دي چه ظاهرأباطناًپليت وی اوپليتی ئي ظاهره وی هرچاته. اوددي وجه نه مشرکانوته نجس وئيلي شويدی «انماالمشركون نجس» ،توبه نمبر ۲۸».

﴿مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ﴾ يعني شيطان انسی جنی داکارونه کوی. اوخلقوته ئي ښائيسته کوی په وسوسوسره. حضرت الشيخ به فرمائيل. چه نذرلغيرالله داعمل دشيطان دي او د شيطان ګندګی «غائط» ده. ګندګی د هرچه پليت وی خوتفاوت په کښي شته دي لکه غائط دانسان. دسپي. دخنزير. اودهرڅه نه زيات پليت اوقبيح دشيطان غائط دی نونذرلغير الله هم هغه شان

پليت اوقبيح اوحرام دي. نوددي وجه نه اجتناب ترينه ضروری دي. اوضميرد ﴿فَاجْتَنِبُوهُ﴾ ولو ته راجع دي په تاويل دمذکورسره يا «رجس» ته راجع دي

﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَنُ ﴾ داعلت دې.دپاره داجتناب دخمراودمسيرنه.اوهرچه دې حرمت دانصابواوازلامونوحرمت دعلت ئې شرک فی التصرف اوشرك فعلی دې اودشرک قباحت اوحرمت خوواضح دې نوهغه ذکرنه شو.يعنى شيطان دشرابوڅکلواوجوارئ كولوپه ذريعه سره ستاسوپه مينځ کښې عداوت دښمنى پيداكول غواړى،دشرابوڅکلوپه وجه سره په بدن کښې مستى پيداشى اوعقل مغلوب اوكمزورې شى نوكنځل،وهل،قتلول شروع شى نوعداوت پيداشى اومحبت،اوتعلق ختم شى،اوپه جوارئ كښې كله مال بيللې شى حتى چه بعض خلق په جوارئ کښې كله خپل اهل او اولادګانړه کړى (قرطبى)،اوچه مال ترينه بل څوک واخلى نوغصه اودښمنى پيداشى نوهركله چه په شرابواوجوارئ كښې دانقصانات وو.نوځکه حرام کړې شو.اودادنيوى نقصانات دى اودارنګه په شرابواوجوارئ كښې دينى نقصانات دى هغه دادى چه په دې سره دالله تعالى دذكرنه اودمونځ نه سړې منع شيء،ځكه چه خمروسره سرور راځى اواستغراق په جسمانى لذاتوكښې راځى نودذکرالهى نه غفلت پيدا شى.اودارنګه په جوارئ كولوكښې دومره غفلت راځى چه جوارګرته كله خپل خوراك څكاك په يادنه وى نومونځ خودركنار﴿فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ كددې نه مقصودمنع ده په طريقه دمبالغې سره

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا
اوتابعدارى (١) كوئ دالله اوتابعدارى كوئ درسول اوبچ شئ دخلاف نه، پس كه تاسومخ اوګرځوونوپوهه شئ
أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ۝
چې بېشكه په رسول زمونږ باندې صرف رسول دى ښكاره

﴿ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ داتعميم دې چه په هركاركښې دالله تعالى اودرسول صلى الله عليه وسلم اطاعت كوئ،اګركه ديوڅيزمنفعت اومضرت ستاسوپه پوهه كښې نه راځى.

﴿وَاحْذَرُوا﴾ اودقانون الهى خلاف ورزى كولونه بچ اوسيږئ، ﴿ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ ﴾ داشرط دې اوجزائې مقدره ده،چه (انتهت الاعذاروانقطعت العلل) يعنى ستاسو عذرونه اوبهانې ختمې دى.اوتاسومستحق دعذاب يئى ځكه چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم تاسوته احكام په

١ - يعني نذر لغيرالله پريږدئ اودالله ﷻ اودرسول ﷺ اطاعت كوئ.

وضاحت سره رسولی دی. ﴿فَاعْلَمُوٓا﴾ دا مخذوف جزاء قائمقام او علت دی.

لَيْسَ عَلَى	الَّذِينَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	جُنَاحٌ	فِيْمَا	طَعِمُوْٓا
نشته دې په هغه کسانو چې ایمان ئې راوړې دې او عملونه کوی نیک څه ګناه په هغې کښې چې دوئ خوړلی دی							
إِذَا	مَا	اتَّقَوْا	وَّاٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	ثُمَّ	اتَّقَوْا
کله چې ځان بچ کوي دشرک نه او ایمان ئې راوړې دې او عملونه کوی نیک بیا ځان بچ ساتی دحرامو نه							
وَّاٰمَنُوْا	ثُمَّ	اتَّقَوْا	وَّاَحْسَنُوْا	وَاللّٰهُ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٣﴾	
او ایمان همیشه لری بیا ځان ساتي دشبهاتو نه او ښائسته عمل کوی، او الله محبت کوي دنېکی کونکو سره							

﴿لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ﴾ دا جواب دې دسوال دصحابؤنه لکه په صحیح اوقوی روایاتو دبخاری اوترمذی وغیرهما کښې دی چه هرکله حرمت دخمرو ،نازل شو .نوصحابؤسوال اوکړو چه یارسول الله؟ دهغه مسلمانانو به څه حال وی چه هغوئ دتحریم نه قبل شراب څکلی ؤو اووفات شویدی.لکه بعض صحابؤچه په جنګ احد کښې شراب څکلی ؤو.اوپه دغه حالت کښې شهیدان شوی ؤو.نوجواب راغې چه په دوئ باندې په دې کښې هیڅ ګناه نشته دې ځکه چه تحریم نه قبل شراب څکل اوابه څکل یو شان حکم لری.

«فائده ۱» دیرامورداسې ؤوچه مخکښې حرام نه ؤو.اوبیاروستوحرام شو.اوصحابؤ دحرمت نه قبل هغه کارونه کړی ؤو.لیکن دهغې متعلق تپوس اوسوال ئې نه دې کړې.صرف په دوؤ موقعوکښې دوئ سوال کړې دې یودتحریم دخمرپه موقعه کښې اوبل دتحویل دقبله په موقعه کښې چه بیان ئې په سورتِ بقره کښې «**وماکان الله لیضیع ایمانکم**» کښې شویدې.ددې وجه داده چه ددې دواړومسئلوپه باره کښې دصاف اوواضح حکم دنزول نه قبل څه قرائن او آثارداسې موجودؤو.چه داسې حکم اوفیصله به راځی.لکه دخمروپه باره کښې چه کله اشاره راغله حرمت ته نوحضرت عمررضی الله عنه اووئیل «**اللهم بین لنابیاناشافیا**» نوددې بعد دحرمت دخمرو. واضحه اوقطعی حکم راغې.اودتحویل قبله په وخت کښې نبی صلی الله علیه وسلم منتظرؤو.چه کله به حکم دتحویل قبله راځی.«**قدنری تقلب وجهک فی السماء**» کښې ذکرشویدی.نوداقرینه وه چه حکم دتحویلِ قبله راځی.اوددې وجه نه بعض صحابؤپه خبرِواحدباندې عمل اوکړو.په مقابله دنص قطعی کښې.په باره دتحویل قبله کښې ځکه چه

د اخبر واحد محتف بالقرائن ؤو. نو هر کله چه په دې دوارو حکمونو کښې قرينه او اشاره ده چه دا حکم ختميرې يعنې د شرابو حل به ختميرې او حرمت به راځي او دارنګه تحويل قبله به راځي نو ګويا کښې چه صحابؤنه د نزول د حکم نه مخکې يو قسم اطلاع راغله چه د الله تعالى مرضى دا ده چه حرمت او ممانعت د خمرو به راځي او قبله به بدليږي، نو د نزول د حکم قبل هر کله چه دوئ حمر حکلی ؤو. او بيتِ المقدس ته ئې مونځ کړې ؤو، نو د نزول د حکم نه د مخکنی حالت تپوس د لته مناسب ؤو. او محل د استبعاد نه ؤو. په خلاف د نورو احکاماتو نه.

(**فائده** ۲) د لته د ايمان (**امنوا**) ذکر دريځ واري شويدې، او دارنګه د تقوى (**اتقوا**) ذکر دريځ واري شويدې، د دې متعدد دې نکتې ذکر کړې شويدى، ظاهره نکته دا ده چه په دې کښې اشاره ده چه صحابه کرام رضي الله عنهم په مدارج د ايمان او د تقوى کښې. مخ په ترقئ دی حتى چه مرتبې د احسان ته (**ان تعبدالله کانک تراه**) رسيدلی دی، نو په دې کښې د صحابؤ د توهم ازاله او د وئ ته تسلی ده چه يو مباح خوړل په وخت د اباحت کښې قبل د حرمت نه په دې کښې څه مضائقه نشته دې، د هر مؤمن د پاره او خصوصاً د هغه خلقو د پاره چه متصف وی په خصلت د ايمان او عمل صالح سره او په مدارج د ايمان او تقوى کښې په ترقئ کښې وی حتى چه مرتبې د احسان ته رسيدلی وی. او بعضو وئيلی دی چه اول تقوى نه مراد بچ کيدل دی د کفر او شرک نه اود دويمې تقوى نه مراد بچ کيدل دی د کبائرونه اود دريمې تقوى نه مراد تقوى. او بچ کيدل دی د صغائرونه. او د اول ايمان نه مراد اصول ايمان دی اود دويم نه مراد زيادت د ايمان دې اود دريم نه مراد دوام على الايمان دې، د دې نه علاوه نورې نکتې دی خو اصل توجيه اولنئ توجيه ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ
اې ايمان والو[1] خامخا آزمېښت کوي الله په تاسو په څه ښکار سره د ښکارنه چې رسى هغې ته لاسونه ستاسو
وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ
او نېزې ستاسو د پاره ددې چې ښکاره کړي الله هغه څوک چې ويريږي د الله نه په غيبه، نو چاچې زياتې اوکړو

۱ . د دريمې مسئلې بيان.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ۝

پس ددهنه نوهغه لره عذاب دردناک دي

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ ﴾ داد دریمې مسئلې بیان دې یعنی تحریمات الله قائم اولړئ حلال ئې مه گنړئ،دلته دښکارنه په حالت داحرام کښې منع کړې شویده ښکاراگرکه حلال دې،لیکن الله تعالی دتحریم اوتحلیل مالک دې اوښکارئې په حالت داحرام کښې حرام کړیدې نوتعمیل دحکم ئې ضروری دې اوحرام گنړل ئې ضروری دی،اولام په ‹لیبلونکم› کښې موطئه للقسم دې،دالله تعالی احکامات ټول ابتلاء اوازمایش دې.لیکن کله چه حکم پوره کول گران وی اوترک ئې آسان وی نوابتلاء سخته وی نودلته ﴿ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ ﴾ ذکرشو چه ښکارکول آسان دی لیکن الله تعالی حرام کړیدی،اودا ابتلاء دښکارپه شان دابتلاء دبنی اسرائیلو اصحاب السبت ده چه په هغوئ باندې الله تعالی دهفتې په ورځ ښکار کول منع کړې ؤو.لیکن هغوئ په مکارئ اوحیلوسره دحکم مخالفت اوکړونوالله تعالی په هغوئ باندې رسواکُن عذاب نازل کړواودغه شان الله تعالی دامتِ محمدیه صلی الله علیه وسلم امتحان اوکړوچه په حالت داحرام کښې به ښکارنه کوی اودعمره حدیبیه ‹۶ھ› په موقعه کښې ښکار دومره ډیراوقریب ؤو.چه په لاسونوسره نیول اوپه نیزوسره ویشتل ئې بالکل آسان ؤو. لیکن اصحابوداثابته کړه عملی طورسره چه دالله تعالی په امتحان کښې د دوئ سره برابرپه نیاکښې هیڅ قوم نه دې کامیاب شوې،

﴿ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ ﴾ په دې کښې اشاره ده چه دا ابتلاء لگه اوآسانه ده په نسبت دنوروفتنو و امتحاناتو .﴿ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ ﴾ ددې نه مرادهغه دی چه قدرت نه لری په تختیدلو کښې واړه بچی یانورهغه خیزونه چه نشی تختیدلې ﴿ وَرِمَاحُكُمْ ﴾ ددې نه مرادهغه دی چه قدرت لری په تختیدلو .دکبروغیره دوجه نه،نوپه نیزوسره په قابوکښې راتلې شی، ﴿ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ ﴾ داعلت دې دمنع دپاره دښکارنه په حالت داحرام کښې،چه ددې ممانعت نه الله تعالی داظاهرول غواړی چه څوک الله تعالی غیب دان حاضروناظرگنړی،اود هغه نه په غیبه ویریږی،اومراد د ‹یعلم› نه اظهاراوتمیزدې،یعنی الله تعالی دابتلاء اوامتحان په ذریعه سره،ظاهروی اوخارجوی دعالم غیب نه عالم شهودته،هغه چه افعال دعبادو،دی، نوتعلق دعلم دالله تعالی په افعال

العبادپورې اولأتعلق غیبي ؤو. اودخروج اوظهورنه بعد تعلق شهودی شو اوپه دې سره قیام حجت او اتمام حجت. په عمل کوونکی باندې راځی. د عادت مطابق

﴿مَن يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ﴾ داخوف ایمانی دې (بالغیب) په محل دحال کښې. یعنی بغیرد لیدلو دده الله تعالی لره. نوکه بالفرض څوک الله تعالی اووینی او ویره ترینه کوی نوهغه کمال نه دې. حیوانات هم دمشاهدې نه متاثره کیږي، میخه، غواچه ډانګ اووینی نوویریږی. کمال ایمان بالغیب دې. یاد (بالغیب) نه مرادبالقلب دې اوپه دې کښې اخلاص ته اشاره ده ﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ﴾ ددې نه مرادښکارکول دی﴿عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾دنیاکښې عذاب. جزاء. دصید ده نومراد دنیوی عذاب دې. یااخروی عذاب دې که چرته ښکارپه حالت داحرام کښې حلال ګنړی، یا توبه اونکړی

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُ
اې ایمان والو ، مه قتلوئ ښکار (یعني مکوئ) اوحال داچې تاسویئ احرام کښې یئ، اوچاچې قتل کړو ښکار
مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ
په تاسوکښې په قصدسره نوبدله باندې بدله ده مثل دهغې چې ده قتل کړې وی دڅاروونه حکم به کوي په هغې(مثليت)
ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا
دوه تنه عادلان ستاسونه به وی دغه هدیه رسیدونکی کعبې ته یاکفاره دطعام دڅوفقیرانو یابرابر ددې روژې
لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ ۗ عَفَا اللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ
ددې دپاره چې اوڅکي سزا دخپل عمل، معافي کړېده الله دهغې نه چې مخکې څه تېرشوي دی، څوک
عَادَ فَيَنتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ ۝
چې دوباره اوکړی نو بدله به اخلي الله دهغه نه ، اوالله زورآور دې بدله اخېستونکي دې

﴿لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ﴾ دانهی دماقبل نه معلومه شویده نودلته ئې بیاذکردتاکید دپاره دې، اوامرادقتل نه عام دې چه په ذبح سره وی اوکه بغیردذبح نه وی اومحرم اهل ذبح نه دې نود هغه ذبیحه نه ده حلاله. اودصیدنه مرادعام دې عندالاحناف چه ماکول اللحم وی اوکه نه وی. او ددې حکم نه مستثنی دی پنځه څیزونه چه په حدیث کښې ذکر دی .کارغه. ټپوس. لړم.

مره. حمله كونكي سپي، اوحيه (مار) په روايت دمسلم كښې هم راغلې دې.

﴿وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ داجمله حاليه ده، اوداعام دې چه په حرم كښې وى اوكه دحرم نه بهروى خوچه په احرام كښې وى نوښكاركول ئې حرام دى، اوپه حكم ددې كښې هغه څوک دې چه په حدود دحرم كښې وى نوښكارپه حرم كښې حرام دې اګركه په احرام كښې نه وى.

﴿مُّتَعَمِّدًا﴾ چه احرام ئې يادوى اودقتل كولواراده اوكړى نودا (متعمداً) دې. اوهرچه دې ناسى اوخاطى نودجمهورپه نزدهغه هم په دې كښې داخل دې يعنى جزاء پرې واجبه ده. اوقيد د (متعمداً) ياذكرشويدې، د ﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللَّهُ﴾ دوجه نه ځكه په دې كښې اشاره ده عذاب د دنيااوآخرت ته، يعنى ګناه اوعذاب اخروى فقط په (متعمد) باندې دې، يادوجه د شانِ نزول نه دې ځكه چه روايت دې چه نزول دآيت په حق د (متعمد) كښېْ دې. ابواليسرعمداًحمله كړې وه په حماروحشى باندې، اوامامِ زهرى رحمه الله وئيلى دى چه دكتاب الله نه معلوميږى وجوب دجزاء په متعمدباندې، اودسنت نه معلوميږى وجوب دجزاء په خاطى اوناسى باندې.

﴿مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ (من النعم) بيان دې نوپه نزد دامام شافعى رحمه الله بيان دمثل دې يعنى مثل به د نَعَم نه وى نومثل صورى مراد دې اوپه نزد دامام ابوحنيفه رحمه الله دابيان د مَاقَتَل دې يعنى مقتول به دنعم نه وى اومراد دمثل نه مثل معنوى دې يعنى قيمت، لكه د

﴿يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ﴾ نه معلوميږى ځكه چه مثل صورى خوظاهروى نوحكم د دؤوعادلانوته ضرورت نِشتهٔ دې، ځكه چه هرڅوک دمثليت فيصله كولې شى، والتفصيل فى اصول الفقه

﴿بَالِغَ الْكَعْبَةِ﴾ داحال دې دضميرد (بِهِ)) نه په (يحكم به) كښې يادجزاءُ نه (اى فوجب عليه جزاءٌ حال كون ذالک الجزاء) ﴿هَدْيًا﴾ يادا صفت دمفعول مطلق دپاره دې (اى يهديه هدياًبالغ الكعبة) او مطلب دادې چه دكوم مثل (قيمت) چه فيصله اوكړى نوكه هغه قيمت زيات وى نو هدِي دې پرې واخلى حرم ته دې ئې اورسوى يادې ئې مساكينوته صدقه كړى اوكه دهغه قيمت كم وى هدى پرې نه كيږى نوطعام دې پرې واخلى اودحرم په مساكينودې ئې صدقه كړى ﴿أَوْ كَفَّارَةٌ﴾ داعطف دې په محل د (من النعم) باندې ياعطف دې په (جزاءُ) باندې

﴿طَعَامُ مَسَاكِينَ﴾ عطف بيان د (كفارة) دې ياخبردمبتداء محذوف دې (اى هى طعام مساكين)

﴿أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا﴾ داعطف دى په (طعام) باندى، دهر نصف صاع په بدله كښى به روژه

وی.دلته دري صورته ذکرشو(هدی، طعام مساکین، صيام) (او) دتخيير دپاره دي او اختيار د جاني (جنايت کوونکی) دپاره دي په نزد د امام ابوحنيفه رحمه الله باندي.نو حاصل دا شو چه چابنکار قتل کړو نو په ده باندي جزاء واجبه ده چه مماثل وی د مقتول سره چه هغه به هدی وی یا به طعام وی یا به صيام وی ﴿ لِّيَذُوقَ ﴾ دا متعلق دي د(جزاء) سره یا دفعل مقدر سره (ای جوزي او شرعا ذلک).اود (وَبَالَ) نه مراد سزا.او په اصل کښ (وبال) ثقل ته وائی.وابل.مطر کثير ته وائی.وبيل.هغه طعام ثقيل ته وائی چه زرنه هزميږی.اود(أَمْرِهِ) ضمير یا راجع دي (من) ته.اود امر نه مراد فعل دي يعنی مخالفت کول دحکم دالله تعالی.یا ضمير راجع دي الله تعالی ته او مضاف مقدر دي (ای ليذوق وبل مخالفة امر الله).

﴿عَفَا اللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ﴾ یعنی د آيت د نزول نه قبل.یا د اسلام نه قبل چه چا قتل د صيد کړي دي نو د هغي کفاره نشته دي.﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ ﴾ (من عاد) شرط دي (فينتقم الله) ورله جزاء ده په تقدير د مبتداء سره (ای فهو ينتقم الله) ځکه مضارع مثبت چه جزاء واقع شی نو دځول دفاء جزائيه پري نه کيږی.او مراد د عود نه دوباره جنايت کول دی او د انتقام نه مراد سزاء د آخرت ده. او د جمهورو په نزد باندي ترينه کفاره نه ساقطيږی.او د ابن عباس رضی الله عنه او شريح په نزد په تکرار د جنايت سره کفاره نشته دي صرف عذاب اخروی دي.دوئ استدلال کړيدي په ظاهر د آيت سره او جمهور وائی چه وعيد په عائد منافی نه دي د وجوب د جزاء سره.او د جزاء ذکر او نه شو ځکه چه مخکښي ذکر شويده او بعض وائی چه د (فينتقم الله منه) نه مراد وجوب د کفاري دي، او بعض وائی چه د عود نه مراد عود دي تحليل ته او د انتقام نه مراد اخروی سزاء ده.

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ

حلال کړي شوي دي ستاسو دپاره ښکار د درياب او طعام د هغي دپاره د دي چې نفع شي ستاسو دپاره

وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ

او د تولو مسافرينو دپاره، او حرام کړي شوېدي په تاسو ښکار د اوچې خوېورې چې احرام کښې يئ، او وېرېږئ د الله نه

الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝

هغه ذات چې تاسو به هغه ته جمع کېدئ شئ.

﴿أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ﴾ دا د محللاتو بیان دې، او د (صید) نه مراد یا معنی مصدری د ده یعنی اصطیاد (ښکار کول په دریاب کښې) او ضمیر په طعام کښې راجع دې صید ته په معنی د مصید سره او طعام په معنی د اکل سره دې معنی داده چه حلال دې تا سو د پاره ښکار کول په دریاب کښې او خوړل د دغه ښکار. یا (صید) په معنی د مصید سره دې او صید البحر هغه دې چه داوبو نه بغیر ژوندون نشی کولې برابره خبره ده چه په دریاب کښې وی او که په نهر یا حوض کښې وی. او په نزد د بعضِ ائیمو اضافت په صید البحر کښې د استغراق د پاره دې نو تمام مافی البحر حلال دی او بعض ائیمو ترینه کلب او خنزیر مستثنی کړیدی. او بعضو ترینه ضفدع (چندښه) مستثنی کړیده او په نزد د احنافو صرف سمک (مهي) حلال دې او اضافت د استغراق د پاره نه دې په قرینه د حدیث سره (احل لنا المیتتان، السمک والجراد) یا صید په معنی اصطیاد سره دې نه په معنی د مصید سره. لکه په (حرم علیکم صیدالبر) کښې مراد اصطیاد دې. نه مصید. او د (طعامه) نه مراد په دې تقدیر باندې هغه دې چه دریاب بهرته راغورځولې وی په چپې وهلو سره. او د صید نه مراد هغه دې چه چا په څه آله (جال وغیره) سره نیولې وی. یا ترینه مراد هغه مهي دې چه مالګه ورباندې واچوی نو دیروخت پاتې کیږی او یا ترینه مراد هغه دې چه تازه وی. او هر چه دې سمک طافیه یعنی هغه مهي چه په اوبو کښې دننه په خپله مرشی. او اوپرسیږی. نو داوبو په سر راشی، نو دا په نزد د احنافو مکروه تحریمی دې، په دلیل د حدیث د ابوداؤد سره (عن جابر بن عبدالله قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماالقی البحر اوجزر عنه فکلوه ومامات فیه وطفی فلاتاکلوا) اعتراض کړیدې امام بیهقی چه په دې حدیث کښې راوی یحیی بن سُلیم دې هغه ضعیف دې. علامه عینی جواب کړیدې چه یحیی بن سلیم د شیخینو راوی دې نو ثقه دې ابن جوزی اعتراض کړیدې چه په دې حدیث کښې یو راوی اسماعیلْ بن امیه دې. (عن ابی الزبیر) او هغه متروک دې، عینی جواب کړیدې چه متروک اسماعیل بن امیه ابو الصلت دې او دا هغه نه دې بلکه د اسماعیل بن امیه القرشی الاموی دې او داقوی دې، ابو داؤد وئیلی دی چه د ابو الزبیر نه دا حدیث، سفیان ثوری، ایوب، حماد، روایت موقوفاً علی جابر رضی الله عنه کړیدې، او اسناد د دې حدیث هم دارنګه شویدې، په وجه ضعیفه سره د ابن ابی ذئب نه هغه د ابو الزبیر نه هغه د جابر رضی الله عنه نه مرفوعاً عن النبی صلی الله علیه وسلم، امام ترمذی رحمه الله وائی چه امام بخاری رحمه الله وئیلی دی چه دا حدیث محفوظ نه دې، د ابن ابی ذئب روایت د ابو الزبیر نه معلوم نه دې، علامه عینی رحمه الله وائی چه قول د امام

بخاری رحمه الله مبنی دي په مذهب دده په حدیث معنعن کښې چه هغه ثبوت دسماع دي اودجمهوروپه نزدسماع شرط نه ده صرف معاصرت کافي دي، اودابن ابی ذئب معاصرت دابوالزبیرسره ثابت دي،حاصل دادي چه داحدیث په روایت داسماعیل بن امیه عن ابی الزبیرعن جابررضی الله عنه سره مرفوعاً عن النبی صلی الله علیه وسلم سره صحیح دي کمافی روایة ابی داؤد.اوپه روایت دسفیان ثوری،ایوب،حماد سره موقوفاًعلی جابررضی الله عنه صحیح دي اوپه روایت دابن ابی ذئب عن ابی الزبیرسره مرفوعاًضعیف دي په نزد دامام بخاری رحمه الله اوعلامه عینی ورته صحیح وائی.

﴿مَتَـٰعًا لَّكُمْ﴾ دامفعول له د (أحلّ) دي،یعنی صیدالبحرحلال کړې شویدي ستاسودنفع دپاره چه تاسوئې تازه تازه خورئ،اودمسافرینودنفع دپاره چه دهغوئ دپاره په سفرکښې ضرورت راځی لکه موسی علیه السلام چه دخضر علیه السلام ملاقات له تللو،نوزادِ راه، ئې مهې ؤو.

﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ ٱلْبَرِّ﴾ (صيد) په معنی دښکارکولوسره دي نوښکارکول اوښکارذبح کول دمحرم دپاره حرام دی اودارنګه خوړل دښکار،دمحرم دپاره حرام دی که چرته دده په امریااشارې سره ؤو،نوامریااشاره،تعاون،په حکم داصطیادکښې دی،اوکه چرته محرم امر. یااشاره نه وی کړې نوبیاحرام نه دی،ځکه (صيدالبر) په معنی داصطیادسره دي اودااصطیاد نه دي، دښکارحرمت په حالت داحرام کښې یو وارې په ﴿لَا تَقْتُلُوا۟ ٱلصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ کښې ذکرشو، اوبیاپه ﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ﴾ کښې ذکرشو،بیادلته دریم وارذکرشو،اوبیائې مزیدتاکید اوشوپه دې قول سره ﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ﴾. الی آخر الایة.

جَعَلَ اللَّهُ	الْكَعْبَةَ	الْبَيْتَ الْحَرَامَ		قِيَامًا
ګرزولې(١) ده الله	کعبه	چې کور عزت مند دي		سبب دبقا او د انتظام د امورو ددین او ددنیا
لِلنَّاسِ	وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ	وَالْهَدْيَ		وَالْقَلَائِدَ
دخلقو دپاره	اومیاشت محرمه	اوهدیه		او قلاند (امیلونووالاخاروي)

١ - خلورمه مسئله نذرونیاز دالله ﷻ دپاره صحیح دي.

ذٰلِكَ	لِتَعْلَمُوْٓا	اَنَّ اللّٰهَ	يَعْلَمُ	مَا
دابیان[1] د دي دپاره دي	چي تاسو پوهه شئ (یقین اوکړئ)	چي بېشکه الله	عالم دي	په هغه څه

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

چي په آسمانونو کښي او په هغه څه چي په زمکه کښي دي او بېشکه الله په هر څه باندي عالم دي

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَ اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

پوه شئ چي بېشکه الله[2] سخت عذاب ورکونکي دي او بېشکه الله بخښونکي او رحم کوونکي دي

﴿جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ﴾ داد دریمي مسئلي بیان دي چه نذرلله (هدی وغیره) (قیاما للناس) دي نو دا قائم اولرئ، (الکعبة) مفعول اول دي د (جعل) دپاره، او ((البیت الحرام)) ترینه بدل دي. دپاره دَ مدح، او ((قیاما)) مفعول ثانی دي، دَ جعَلَ دپاره، قیاماً په اصل کښي قواماً دي. په معنی د (مایقوم به امره) سره، یعني سبب او ذریعه دبقاء، دلته څلور امور ذکر شویدی.

(۱) الکعبة، (۲) الشهرالحرام، (۳) الهدی، (۴) القلائید، د ﴿وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ﴾ نه روستو، (قیاماًللناس) مقدردي، په سورة نساء کښي دمال دپاره دالفظ استعمال شویدي. (ولاتؤتوا السفهاء اموالکم التی جعل الله لکم قیاما) نومال ته چه ئې ((قیاما)) وئیلی دی نو هغه د دنیوی زندګئ او انفرادی زندګئ په اعتباسره، اودي څلورو امورو ته چه ئې قیاماًوئیلی دی نو دا داجتماعی او دینی اوسیاسی، قومي زندګئ په اعتبارسره، نولکه څه رنګه چه مال، په معاشره کښي دعزت دزندګئ کفیل دي، نودارنګه دمسلمانانو ددیني اواجتماعی اوسیاسی زندګئ، دپاره روح، د بیت الله سره تعلق، اوداشهرحرم سره اوهدایاؤسره تعلق دي. کعبه شریفه دخلقو دديني او دنیوی دواړوحیثیتونوسره دقیام اوانتظام باعثه ده، دیني حیثیت سره خو ظاهره ده، چه. افعال دحج وعمره، استقبال فی الصلوة احتیاج لری بیت الله ته. اولویه خبره داده چه ذالله تعالی په علم ازلی کښي دامقدره وه چه دمصلح اعظم هادی عالم، سید الکونین محمد صلی الله علیه وسلم دپیدایش اوسکونت سعادت دحرم دبختوري خاوري په نصیب

---

1. علت دنذرالله دپاره.
2. تخویف بشارت.

کښې دي. اوهر چه دي په دنيوی حيثيت سره نوځکه چه الله تعالی په ملک عرب کښې. دا خطه (حرماً امناً) ګرځولي دي، انسانانو اوتمام ساکنينودحرم ته پرندګان. چرندګان. اشجار. ټولو ته امن حاصل دي .د ﴿لِلنَّاسِ﴾ نه مرادناس،دعربودی، کماقال له الرازی. ياتمام ناس دی عموما اوخصوصا اهلِ عرب مراد دی. دجاهليت په زمانه کښې ظلم اوقتل غارت،عام عادت ؤوخوپه حرم کښې به چادځپل پلارقاتل ته هم تعرض نه کوؤ.اودارنګه په دې وادغيرذی ذرع، کښې دخوړلوځکلوعمده عمده څيزونه اوعمده عمده ميوې اوډيرقسمونه چه اوکتلې شی نودادقياماًللناس واضحه نشانه ده.محققين علماء وائی چه د ﴿قِيٰمًا لِّلنَّاسِ﴾ مطلب دادې چه دکعبې شريفې مبارک وجود، دکل عالم دقيام اوبقاء باعث دې،ترکوم وخته پورې چه بيت الله موجودوی اودده احترام کوونکی خلق موجودوی نوعالم به موجودوی.اودنيابه آباده وی اوکله چه الله تعالی داسې اراده اوفرمائی چه ددې عالم خاتمه اوشی نودامبارک محل. قصر شاهی به اول پورته کړی نو بيابه دنورعالم خاتمه اوشی لکه چه دزمکې دپيدا کولوپه وخت کښې دهرڅه نه مخکښې دا مبارک محل،قصرشاهی.جوړشوې ؤو .(ان اول بيتٍ وضع للناس للذی ببکة مبارکاً) امام بخاری رحمه الله ددې آيت په تفسير کښې حديث د ذوالسويقتين روايت کړې دې،چه يوتک توروحشی،ذوالسويقتين. لقب سره يادېږی، د کعبې دعمارت يوه يوه خښته به اوباسی نو دنيا به ختمه شی ليکن ترڅو پورې چه الله تعالی ددې جهان دنظام اوقوام اراده اولری نو هيڅوک زوراور،اوقوی قوم دکعبې دنړولوپه مقصدکښې نشی کامياب کيدلې.لکه واقعه داصحاب الفيل ددې واضح ثبوت دې اوقرب قيامت ته به چه دکفاروډيرحکومتونه اوفوجونه دخانه کعبې دنړولودپاره جمع شی په يوميدان کښې نوالله تعالی به دغه ټول په زمکه کښې خسف کړی،اودادالله تعالی دحفاظت اوداسلام دصداقت يوعظيم نشان دې چه دظاهری اسبابونه بغيرهيڅ چاپه دغه غلط اوشيطانی مقصدکښې کاميابی نه ده موندلې اونه به اوموموی. ﴿وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ﴾ دا اسم جنس دې چه اطلاق ئې په قليل اوکثيردواړوباندې کيږی. اوددې نه مرادڅلورمياشتې دی.ذوالقعده. ذوالحجه. محرم ،رجب، چه مشهوره په رجب مضر سره داهم قياماللناس دی په سبب دحرمت دقتال سره په دی کښې ﴿وَالْهَدْيَ﴾ هدی هغه څاروې دې چه حرم ته ليږلې شی ﴿وَالْقَلَـٰئِدَ﴾ (ای ذالقلائد) دهغه هدی ده چه حرم ته اوليږلې شی اوپه غاړه کښې ئې اميل

اویزان کړي وی دعلامې دپاره، اوداذکرالخاص بعدالعام دي، نوهدی ،او قلائد (نیازات الله)سبب دبقاء اودنظام زندګئ دخلقودي ځکه چه هدایا ،قلائدوته به غل ډاکوڅه تعرض نه کوژاود هدی په وجه به ئې محرم ته هم څه تعرض نه کوږ ،یادامطلب دي چه ترڅوپورې چه خلق صرف دالله تعالی په نوم نذرونه کوی نوالله تعالی به ئې دهرآفت اوبلانه په امن کښې لری. ﴿ذٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ﴾ داعلت تفصیلی دي ددې خلورمې مسئلې دپاره یعنی چونکه تمام (مافی السموات والارض) باندې الله تعالی عالم دې نولهذادهغه په نوم نذرورکول پکاردی اوددې نه معلومه شوه چه انبیاء اوتمام غیرالله، عالم الغیب نه دی نودهغوئ په نوم نذر ورکول مناسب نه دی،نوپه دې کښې د دؤومسئلونذرالله،نذرلغیرالله،علت بیان شو یوصراحة اوبل اشارة.
﴿اعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ﴾ داتخویف اخروی دې دنذرلغیرالله،اوتحریمات لغیرالله کوونکو دپاره
﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ دابشارت دې دنذرالله اوتحریمات الله باقی ساتونکو دپاره.

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ۝
نشته په ذمه درسول مګر رسول دی، اوالله عالم دې په هغه څه چې ښکاره کوئ تاسو اوپه هغه څه چې پټوئ تاسو
قُل لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ كَثۡرَةُ ٱلۡخَبِيثِۚ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
ته ورته اووایه نه دې برابر پلیت[1] اوپاک اګر که په تعجب کښې اچوي تا لره ډېروالي دپلیت، پس ویریږئ دالله نه
يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝
اې خاوندانو دعقل د دې دپاره چې کامیاب شئ

﴿مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ﴾ داحصراضافی دي چه درسول الله په ذمه رسول دی،نه هدایت ورکول،یامجبورکول په ایمان باندې،اورسول خپله ذمه واری پوره کړیده نوستاسو څه عذرنه دې پاتې. ﴿قُل لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ﴾ داتنفیردې دنذرلغیرالله نه اوترغیب دې نذرلله ته،چه خبیث نذرلغیرالله،اوطیب نذرلله،برابرنه دی،مراد دعدم مساوات نه دادې چه خبیث، مبغوض مردود دې،اوطیب،محبوب اومقبول دې نومراددعدم استواء په نزد دالله تعالی،او په

۱- خبیث بدرسمونه لکه نذر لغیرالله ، طیب ښائسته رسمونه لکه نذر دالله ﷻ دپاره.

احكام شرعيؤ كښې ده. اوخبيث اوطيب شامل دي ذواتو ته، كافر مؤمن، منافق، مخلص، فاسق صالح ته، اودارنګه عقائدا عمالو اموالو ته، شرك، توحيد، بدعت، سنت، حرام حلال، نذرلغيرالله نذرلله، علوم باطله علوم حقه، اخلاق سئيه اخلاق حسنه، كسب حرام كسب حلال، وغيره ته شامل دي

﴿وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ﴾ مدار دمحبوبيت اومقبوليت كثرت نه دي، نونذرلغير الله اګركه ډيرزيات اومزي داروي خومقبول اومحبوب عندالله نه دي، بدعت والاعمل اګركه ډيرزيات وي نو سبب درضاء الهى نه دي اوخطاب هرمعتبر، اومخاطب ته دي اوددي وجه نه په

﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ كښې صيغه دجمع ذكرشوه اوپه ﴿يَا أُولِي الْأَلْبَابِ﴾ كښې اشاره ده دې ته چه ددې فرق دپاره خالص عقل پكاردي، لُبْ هغه عقل ته وائي چه خالص وي، وهم نه وي غلط كړي. اودارنګه په دې كښې اشاره ده چه دعقل خاوندلره پكاردى چه ديوخيزپه ظاهرى حسن اوكثرت باندې دهوكه نشي، دهرخيزاودهرعمل حقيقت ته دې نظركوي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ
اې ايمان والو! تپوس مه كوئ دداسې خيزونوكه ښكاره شي تاسوته حقيقت اوجواب دهغې خفه به كړي تاسو
وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ
اوكه تپوس كوئ تاسوددغه خيزونو په وخت د نزول دقران كښې ښكاره به كړې شي تاسوته جواب اوحقيقت دهغې
عَفَا اللَّهُ عَنْهَا ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ۝ قَدْ سَأَلَهَا
معافى كړيده الله دهغې(تپوسونو)، اوالله بخښونكي اوصبركوونكي دي. په تحقيق سره تپوس كړي وو دداسې خيزونو
قَوْمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كَافِرِينَ ۝
يوقوم مخكښې ستاسونه بيا شول دوئ په وجه دهغې كافران

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ﴾ مضمون دنفى دشرك فعلي ذكرشو، په دې كښې څلورمسئلې بيان شوي، په دې آيت كښې ددې مضمون د دعوت دپاره طريقه ذكر كيږي، هغه داچه اولاً دې. كليات بيان شي، نوچه هغه په پوهه كښې راشي اوذهن نشين شي نوپه جزئياتوپوهيدل آسان وي اوكه اولاً جزئيات بيانول اودهغې بحث اوشي. نوكله ترينه فتنه

...پیدا کیږی.نو ددې وجه نه تأسوا ولاجزئیات مه بیانوئ. ګنی ﴿تَسُؤْكُمْ﴾ بلکه اولا کلیات ...نوئ.مثلا چه داسې اووئیلې شی چه دفلانی باباپه نوم نذر .شکرانه.حرام اوشرک دې.نوپه ...دې بندې عام خلق په آسانه سره نه پوهیږی.اوچه داسې بیان اوشی چه دالله تعالیٰ نه ...مسوا دبل چاعبادت.مالی.بدنی.قولی.کول شرک اوحرام دې.نوپه دې باندې عام خلق په ...انه پوهیږی نودیو ولی دنامې دنذرمسئله په آسانه سره ذهن ته راشی.حاصل داچه اول کلیه اوبیاجزئیه بیانول پکاردی.لفظ د(اشیاء) غیرمنصرف دې.په دې کښې ډیراقوال دی. مذهب دسیبویه اوخلیل اودجمهوروبصرینودادې چه داجمع د(شیٔ) ده اوداپه اصل کښې (شیئآء) په وزن د(فعلاء) دې.نودالف ممدوده دوجه نه چه قائم دې په مقام دسببینو.غیر منصرف دې.اوبیاهغه همزه چه لام کلمه ده.مقدمه کړې شوه.ځکه اجتماع دهمزتینو ((بینهما الف)) مستکره ده. نود(شیئآء) نه اشیآء جوړشو.نود فعلاء وزن نه لفعآء جوړشو.اومذهب دفراء دادې چه داجمع د(شیٔ) ده اواصل ئې (اشیئآء) وُو.په وزن دافعلآء سره.لکه انبیاء.دوه همزتین جمع شونویوترینه تخفیفاحذف شو.نوبناء په دې قول باندې هم عدم انصراف.دالف ممدوده دوجه نه دې.مذهب کسائی دادې چه اشیاءٌ په وزن دافعَالٌ دې.همزه لام کلمه ده.زائدنه ده اوعدم انصراف دوجه نه مشابهت نه دې.دهغه الفاظوسره چه په آخر کښې الف دتانیث و لکه ابن حاجب رحمه الله دلفظ دسراویل دپاره وئیلی دی (وقیل عربی حُمل علی موازنه).

ددې ایت په شانِ نزول کښې متعددروایات دی.دصحیحینوپه روایت کښې سوال دعبدالله بن حذافه رضی الله عنه مذکوردې چه ده سوال اوکړودنبی صلی الله علیه وسلم نه (من ابی) ،فقال حذافة)، په بل روایت دبخاری کښې دی چه بعضِ خلقوبه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه استهزاءًسوال کولوچابه وئیل:(من ابی) چابه وئیل.(این ناقتی) نودا آیت نازل شو .دارنګه په یوروایت دبخاری کښې داسوال مذکوردې (این انا،قال فی النار، وقال آخر،من ابی،قال حذافة وکان یدعی لغیره فنزلت هذه الایة) اوپه روایت دمسلم.ترمذی.اواحمدکښې دی. چه هرکله فرضیت دحج نازل شونواقرع بن حابس اووئیل چه آیا .هرکال حج کول زمونږپه ذمه فرض دې.نورسول الله صلی الله علیه وسلم سکوت اوکړو .نوده دویم ځل سوال اوکړونوبیانبی صلی الله علیه وسلم سکوت اوکړو .نوهغه دریم ځل سوال اوکړو .نونبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل.(عتاباً) چه که ماوئیلې وې نعم نوهرکال به حج فرض وې اوتاسوبه طاقت نه لرلو .اوبیائې اوفرمائیل (دعونی ماترکتکم) ستاسونه مخکښې بعض امتونه په دې هلاک شوی

ؤو ، چه په کثرت سره به ئې سوال دخپلو انبیاؤنه کولوچه د دوئ دسوال په وجه به یوڅیزفرض شونوبیابه دوئ خلاف ورزی دحکم نه کوله،الخ،مقصود دادې چه بې ضرورته سوالات مه کوئ.(کماقی زوایة البخاری نهی عن عقوق الامهات،ومنع وهات،وقیل وقال واضاعة المال،وکثرة السوال،اوکماقال).

﴿إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ که ظاهرکړې شی تاسوته جواب دهغې یعنی جواب ئې راشی نو دتپوس کوونکی دپاره به سبب دخفه کیدلووی،څکه دهغه دمرضی اومنشاخلاف به وی. دا جمله صفت مُقیده دې د(**لاتسئلوعن اشیاء**) دپاره،یعنی داسې سوال مه کوئ چه سبب د ناګوارئ،اوسبب دحرج ګرځی،نومعلومه شوه چه ضروری تپوس خوپکاردې لکه (**فاسئلوا اهل الذکر**) اوددې وجه نه ورسره بعضِ مفسرینوداقیدذکرکړې دې (بمالاتدعوا الیه حاجة)،

﴿وَإِن تَسْأَلُوا﴾ داهم صفت مقیده د(**عن اشیاء**) دپاره دې اوعطف دې په (**ان تبدلکم**) باندې.یعنی دداسې داشیاؤپه باره کښې سوال مه کوئ چه په وخت دنزول دوحی کښې دهغې جواب تاسوته ظاهرولې شی په وحی سره اوپه دې دواړوجملوکښ،(**ان تبدلکم تسؤکم**)،(**ان تسئلواعنها**) الخ،کښ علت دمنع ته اشاره ده،چه مجموعه دامرینوده،یو(**تسؤکم**) بل (**تبدلکم**) یعنی بې ضرورته تپوس مه کوئ څکه چه کله تاسودنزول دوحی په وخت کښې یو سوال اوکړئ نوجواب به ئې ضروردرکولې شی،اوپه هغې به تاسوخفه یئی،نوڅکه سوال مه کوئ او دا دواړه امرین واقعی دی ، فرضی ندی،(اذسألتم عن اشیاء فی زمنه صلی الله علیه وسلم ینزل القرآن بابدائهاومتی ابداهاساءتکم فلاتسالوا عنها) (شربینی) ،اوبعض مفسرین وائی چه (**وان تسالواعنها**)الخ،ترغیب دې سوال ته،یعنی دمعلوماتوحاصلو ،اودتپوس کولودپاره دابهترینه موقعه ده چه نزول دوحی کیږی،نو**سوال** واردیږی چه په اول دکلام کښې نهی راغله صراحة دسوال کولونه،اودلته ترغیب ذکرشوسوال کولوته نوداخوتناقض دې په کلام کښې،نو **جواب** دادې چه د(**عنها**) ضمیرهغه اشیاؤته نه دې راجع چه منع دسوال ترینه شویده،(ای مالا تدعوالیه حاجة،یامالاخیرلکم فیه) بلکه راجع دې هغه اشیاؤته چه (مست الحاجة الیه) لکه په دې قول دالله تعالی،(**ولقدخلقناالانسان من سللة من طین**) یعنی آدم،ثم **قال تعالی**،(**ثم جعلناه نطفة**) ضمیرد (**جعلنا**) راجع دې نسل دآدم ته،نودآیت مطلب دادې چه بې ضرورته تپوسونه مه کوئ اود ضرورت تپوسونه کوئ اودائې بهترینه موقعه ده ﴿عَفَا اللَّهُ عَنْهَا﴾ دنهی دنزول نه قبل چه

سوالونه نا سو کړیدی هغه معاف دی

﴿قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ﴾ «سالها» ضمیرمسئلةً ته راجع دي چه په ضمن د «لاتسئلوا» کښې دي.اوعبارت په حذف دمضاف سره دي (ای سئل مثلها) یاضمیراشیاؤته راجع دي.او کلمه د «عن» مقدره ده. مخکښنوقومونو چه سوالونه کړی ؤونوپه هغې کښې قوم ثمود دي چه سوال ئې کړي ؤو .دصالح عليه السلام نه دَ ناقه.اوقوم دعیسی عليه السلام سوال کړي ؤو د مائدې نو دکفر په وجه قوم ثمودتباه شو ،اوقوم دعیسی عليه السلام مسخ شو خنزیران. اويهودو چه دموسی عليه السلام نه په پاره دبقره کښې سوالونه اوکړل،نوبلافائده ئې خپل ځان په مشقت کښې واچولو. ﴿ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا﴾ (ای صاروابسبها).

مَا جَعَلَ اللَّهُ مِن بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ ۙ وَلَٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ
نه ده مقرر کړي الله هیڅ بحیره اونه سائبه اونه وصیله اونه حام لیکن هغه کسان چې کافران دی جوړوی
عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾
په الله باندې دروغ ، او اکثر د دوئ نه عقل نه لری.

﴿مَا جَعَلَ اللَّهُ مِن بَحِيرَةٍ﴾ دادتحریمات غیرالله اعاده اوتفصیل دي د «جعل» نه مرادحکم کول اوشرع جوړول دی،او «من» زائده دتاکیدنفی دپاره دي،یامفعول ثانی دجعل مقدردي (ای محرمة بتحريم الجاهلية) دبحیره وغیره راجح تفسیرهغه دي چه امام بخاری رحمه الله دسعیدبن المسیب نه نقل کړیدي،اګرکه په دې کښې مختلف اقوال دی. ﴿بَحِيرَةٍ﴾ هغه اوښه ده چه د هغې «پئی» به دبتانودپاره وقف ؤو،اوهیچاپه دخان دپاره نشوه لوشلې.او ﴿سَائِبَةٍ﴾ هغه څاروي چه دبتانوپه خاطربه ئې په هغه باراوړل حرام ګڼړل اوآزادبه ئې پرېښودلو.او ﴿وَصِيلَةٍ﴾ هغه ځوانه اوښه چه داول نه دوه وارې به ترینه مسلسل مؤنث بچی پیداشو .چه په درمیان کښې به ئې مذکرنه ؤو،نودغه شان اوښه به مشرکانودخپلومعبودانودرضاجوئی دپاره آزاده پرېښودله ﴿حَامٍ﴾ هغه مذکراوښ چه لس اوښانې به ترینه حاملې،(بلاربې) شوې نوهغه به ئې دبتانوپه نوم پرېښودو،اودباراوړلونه به منع کړې شو،اودهیڅ مرعی اوبونه به نشومنع کولې،په حدیث دبخاری کښې راغلی دی، نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ما عمرو بن لحی په اوردجهنم کښې اولیدوچه خپلې کولمې ئې په ځان پسې په اورکښې

رابنکلي. اودا اول سړي ؤوچه رسوم دبحيره سائبه ئې په عربوکښې رائج کړل اودين دابراهيم علیه‌السلام ئې بدل کړو اوبت پرستي ئې دشام نه عربوته راوړله.

فائده: دتحريمات غيرالله حکم دادې چه حلال دې اوګنړلې شي اودې خوړلې شي.ليکن په يو ځائې کښې چه تحريمات غيرالله دنذرلغيرالله سره خلط شوې ؤونونه به شي خوړلې

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا

اوکله چې اووئيلې شي دوئ ته راشئ هغې ته چې نازل کړيدې الله اوراشئ رسول ته وائ دوئ پوره ده مونږ لره

مَا . وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ

هغه لاره چې موندلې دی مونږ په هغې باندې پلارنيکه خپل، آيا دوئ اتباع کوي اګر که وؤ پلار نيکه ددوئ

لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ

نه پوهيدل په هيڅ ددين اونه ئې صحيح لارموندلې ده اې ايمان والو (١) لازم دې په تاسواصلاح اوفکر دخپلونفسونو

لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ۭ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ

ضرربه نه رسوي تاسوته هغه څوک چې ګمراه وی کله چې تاسو هدايت اوموندلو. خاص الله ته ورګرځيدل دي

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝

ستاسو دټولو نوخبربه درکړي تاسوته په هغه عملونو چې کوي ئې تاسو

﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا﴾ درمنثورپه روايت دابن ابی حاتم سره نقل کړيدی چه څوک به مسلمان شونوکفارو به ورته پيغوروکولوچه تادخپل پلارنيکه لارپريښوده.نودا آيت.نازل شو.اودمشرکانولوئې حجت داؤوچه مونږدپلارنيکه لارڅرنګه پريښودلې شو.نودوئ ته اووئيلې شوچه که چرته ستاسواسلاف.پلارنيکه.دبې عقلئ اوګمراهئ په وجه دهلاکت په کنده کښې غورځيدلی وی نوآياتاسوبه هم ځان هلاکت ته غورځوئ؟ په دې آيت کښې الله تعالی نهايت په وضاحت اومعقول اندازکښې داقتداء معياربيان کړيدې.(١) يوعلم.(٢) بل

١ يعني که تاسو امربالمعروف (يعني تحريمات الله. نذرالله (توحيد) اونهي عن المنکر (يعني شرک نذرلغيرالله. تحريمات غيرالله) جاري اوساتئ نوکفار تاسوته ضرر نشي رسولې

اهتداء.كه دادواړه په چاكښې نه وي نودهغه اقتداء نه ده پكار.اود ددغسې چااقتداءكول، خپل ځان هلاكت ته اچول دي.اوچه دادواړه په چاكښې موجودوي نودهغه اقتداء منزل مقصودته درسيدلوذريعه ده.انسان لره پكارده چه اول دخپلې زندګۍ مقصداودخپل سفر روح معين كړي اوبيادديې مقصد دحصول دپاره داسې څوك رهنمااوګوري چه هغه ته علم وي دلارې دمقصداوهغه په لارې روان هم وي،كه علم ورته نه وي نود ﴿لَا يَعْلَمُونَ﴾ اقتداء سبب دهلاكت دې اوكه علم ورته وي خودمنزلِ مقصودپه لاره نه وي روان نود ﴿وَلَا يَهْتَدُونَ﴾ اقتداء هم سبب دخسران دې.اوچه دواړه وي نودا اقتداء سبب دفلاح دې.حاصل داچه داقتداء معيار دوه څيزونه دي (۱) علم،او(۲) اهتداء اومحض پلارنيكه والې. ليډروالې. قوميت. حكومت. مالداري،معياد داقتداء نشي كيدې اودائمه مجتهدينوداقتداء حقيقت هم داهُوه امره دى چه هغوئ ((يعلمون)) دي په علم دكتاب اوسنت احاطه كوونكى دى او ((يهتدون)) هم دي دكتاب اوسنت په لارې روان دى څوك چه دا آيت دائمومجتهدينودتقليدپ ردكښې پيش كوى نودا غلط استدلال اومحض ضِداوتعصب دې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ﴾ داتسلى وركول دى مؤمنانوته چه هركله تاسوپه خپل دين (توحيد) باندې مضبوط شئ اودخپل دين دعوت وركوئ اوديوبل اصلاح كوئ نو كفاربه تاسوته هيڅ نقصان نشى رسولې.مسلمانانوته نقصان رسيدل د دوئ دغفلت په وجه اوپه خپل دين باندې دعمل اود دعوت پريښودلوپه وجه كيږي.(عَلَيْكُمْ) اسم فعل دې په معنى د(الزموا) سره يعنى لازمه اونيسئ اصلاح دخپلونفسونو.

﴿لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ﴾ دآيت دظاهرنه معلوميږي چه امربالمعروف نهى عن المنكر (دعوت اوتبليغ) نه ضرورت نشته بلكه هرسړې دې دخپل ځان فكركوى،حالانكه دادقرآن او حديث دبې شماره تصريحاتونه خلاف ده.دقرآن،حديث ډيرتصريحات دى چه امربالمعروف نهى عن المنكرداسلام اهمه فريضه اوددې امت امتيازى خصوصيت دې.مفسرينوددې آيت مختلف توجيهات ذكركړيدى. (۱) دا آيت د دعوت دترك اود دعوت دفرضيت دواړنه ساكت دې.د دعوت فرضيت دنورونصوصونه ثابت دې اوددې آيت مقصودتسلى وركول دى چه څوك مؤمن.مطيع مهتدى وي نواګركه دده آباء اواجداد،اقارب ګمراه وي خودچاګمراهى. مطيع مهتدى ته ضررنه رسوى،(۲) دا آيت ډيراوكداوصريح دې په وجوب دامربالمعروف او نهى

عن المنکرکنبي ۱ ـ ځکه چه عبدالله بن مبارک رحمه الله وائی،(هذه اوکدٓاية فی وجوب الامر بالمعروف والنهی عن المنکر،(کمارواه ابن کثیروالقرطبی والرازی رحمهم الله تعالی) ځکه چه د انفسکم نه مراد اهل جنس،اهل دین مراد دی،لکه (فاقتلوا انفسکم) بقره آیت نمبر۵۴.(ای علیکم اهل دینکم بان یعظ بعضکم بعضاویرغِبُ بعضکم بعضافی الخیرات وینفِّرُهُ عن القبائح والسئیات)،کبیر ۲ ـ او حضرت ابوبکررضی الله عنه فرمائی چه (لایضرکم من ضل اذا اهتدیتم) معنی داده چه تاسوامربالمعروف اونهی عن المنکر کوئ،نودګناهونودوجه نه چه کوم عذابونه راځی نود دعوت په وجه به تاسودعذاب نه محفوظ یئی،ځکه چه بغیردامربالمعروف اونهی عن المنکرنه اهتداء نشی راتلي،(روح) (لایضرکم ضلال من ضل اذا انتم دمتم العمل بطاعة الله وادیتم فیمن ضَلَّ من الناس ماالزمکم الله به فیه من فرض الامربالمعروف والنهی عن المنکر) ، (ابن جریر).ابوداؤد.ترمذی،ابن ماجه،وغیره په واسطه دقیس سره دابوبکررضی الله عنه نه روایت کړیدي (خطبناابوبکررضی الله عنه فقال انکم تقرءون هذه الایة،وتتأولونهاعلی غیرتاویلها:وانی سمعتُ رسول الله صلی الله علیه وسلم، یقول ان الناس اذا راوالظالم فلم یاخذوا علی یدیه اوشک ان یعمهم الله بعذاب من عنده)، یعنی ابوبکررضی الله عنه اوفرمائیل چه تاسودا آیت لولئ اوبې ځایه تاویل ئې کوئ،اونه پوهیږئ چه ددې مطلب څه دې،اوبیشکه ماپخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه خلق ظالم (دګناه کولووالا) اووینی او(سره دقدرت نه) منع ئې نه کړی نوقریبه ده چه الله تعالی ئې (دمجرمانو سره) په عام عذاب کنبې اونیسی. ۳ ـ دابن مسعودرضی الله عنه نه ددې آیت تپوس اوشونو هغوئ اوفرمائیل چه دقرآن کریم مختلف آیتونه دی یوقسم هغه دی،چه تاویل ئې تیرشویدې، دویم هغه دی چه تاویل په زمانه دنبی صلی الله علیه وسلم کنبې واقع شویدې، دریم قسم هغه دی چه تاویل ئې دنبی صلی الله علیه وسلم دزمانې لګ روستوواقع دې، څلورم هغه دی چه تاویل ئې په ورځ دحساب کنبې واقع کیږی نوهرکله چه دزړونو اوخواهشاتواختلاف راشی اودلې په تاسوکنبې ډیرې شی نوبیادخپل ځان ذمه واریئی اودعاموکار(دعوت) پریږدئ، (۴) روایت کړې دې ابوداؤداو ترمذی دابوثعلبة الخشنی نه، دې وائی چه ماتپوس اوکړودرسول الله صلی الله علیه وسلم نه ددې آیت نووې فرمائیل چه بلکه تاسوامربالمعروف اونهی عن المنکرکوئ تردې پورې چه ته اووینې بخل چه اطاعت ئې کیدې شی اوډخواهشاتواتباع کیدې شی اودنیالره ترجیح ورکولې شی (په دین) اوهرذی رائې ته خپله رائې ښه ښکاریږی،نوبیاخاص دخپل ځان فکرکوه

اوپریږده امرد عامو، ستاسوته مخکښې داسې زمانه راتلونکې ده چه صبرپه هغې کښې داسې دې لکه په موتی کښې شکروته نیول. دعمل کوونکی دپاره په هغې کښې په مثل داجرد پنځوسو (۵۰) کسانودې چه هریوستاسوپشان عمل کړې وی. چاتپوس اوکړوچه پنځوست زمونږنه (صحابه) یادهغوئ نه نو وې فرمائیل چه دهغوئ نه. اودابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه ددې آیت زمانه نه ده راغلې. دغسې روایت دابن عمررضی الله عنه نه هم راغلې دې ﴿لَا يَضُرُّكُم﴾ مرفوع دې جمله مستانفه ده علت دې دماقبل دپاره یامجزوم دې جواب امردې اوضمه په راء باندې دوجه داتباع دضاد نه ده. ﴿إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا﴾ ضال، مهتدی ټول به دالله حضورته پیش کیږی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ
اې ایمان والو: وصی جوړول په مینځ ستاسوکښې کله چې نژدې شی یوتن ستاسوته مرګ په وخت د وصیت کولو کښې
اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ
دوه تنه مناسب دي چې خاوندان دانصاف وي ستاسونه یا نور دوتنه سوا ستاسونه که تاسو سفر کړې وي
فِى الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ الْمَوْتِ ؕ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ
په زمکه کښې بیا اورسي تاسوته مصیبت دمرګ، ایساروئ به دې دواړو لره روستو دمانځه (دمازیګر) نه
فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ
نوقسمونه به کوي دواړه په الله که شک کوئ تاسو(وائ به دوئ) نه اخلومونږه پدې قسم سره عوض اګر چې وي
ذَا قُرْبٰى ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ ۙ اللّٰهِ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ⑩
خپلوان اونه پټوؤشهادت مونږ دالله، بیشکه دغه وخت به مونږ خامخا دګناهګارانونه یو
فَاِنْ عُثِرَ عَلٰٓى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ
نوپس که خبراوکړې شو پدې خبره چې بیشکه دې دواړوکړیدی ګناه(په دروغ قسم کولوسره)نو نوردوه کسان دي

يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ

قائم شي په مقام ددې دواړو(په باره دقسم كولو كښې) دطرفه دهغه كسانو(ورثه) چې حق ئې ضائع شويدې[1]

الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا

چې ډېرنږدې وي مړي ته نوقسم به کوي په الله ﷻ چې خامخا قسم زمونږ ربښتني دې د قسم ددغه دواړو نه

وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ ذٰلِكَ اَدْنٰىٓ

اوزياتي نه دې کړې مونږ، بېشكه مونږ به پدغه وخت كښې دظالمانو نه يو داطريقه ښه نږدې دۀ دېته

اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ

چې راتلل به کوی دوی په شهادت سره په طريقه دهغې (دوجې دوېرې دالله ﷻ نه)يابه وېرېږي چې واپس به شي قسمونه

بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

پس د قسمونود دوی نه او يرېږئ دالله نه او واورئ، اوالله توفيق نه ورکوي قوم نافرمانته

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ ﴾ مفسرين وائی چه دا درې آيتونه په قرآن کريم کښې ډېر مشكل دي قرطبی وائی (هذه الايات الثلث عنداهل المعانی من اشكل مافی القرآن إعراباً ومعنى وحكماً)، امام رازی وغيره وائی (اتفق المفسرون على انها فی غاية الصعوبة).دلته ددې آيتونوربط اومناسب دماقبل مضامينوسره دادې چه په ماقبل کښې رد دشرک فعلی اودشرک اعتقادی اوشونو دا آيتونه دشرک اعتقادی دنفی سره متعلق دی چه حلف اوقسم په نوم دالله تعالى سره پکاردې په غير الله سره نه دې پکار. ﴿ فَيُقْسِمَانِ بِاللّٰهِ ﴾ ځکه چه په حلف بغيرالله کښې دغيرعالم الغيب متصرف فی الامورتسليم کول راځی اوداصريح شرک دې.(من حلف بغيرالله فقداشرک) (مسند احمد) **ددې آيتونودفهم دپاره شانِ نزول ذکرکول ضروری دی** چه هغه ترمذی اونورو محدثينو ذکر کړې دې.حاصل ئې دادې چه بديل بن ورقاءسهمی چه مسلمان ؤو.دتجارت دپاره دتميم داري اودهغه درورعدی بن بداء سره ((چه دادواړه په دغه وخت

[1] ـ دوېمه ترجمه چه ثابت شويدې حق .يعنې قسم په دوئ دواړو باندې دې

کښې نصرانیان ؤو» ،ملک شام ته په سفرلاړل.په واپسئ کښې په بُدیل رضی الله عنه باندې مرضِ موت راغې،نودخپل سامان فهرست ئې اولیکلواوپه خپل سامان کښې ئې پټ کښېودلو.اودغه دواړوته ئې سامان حواله کړواو وصیت ئې ورته اوکړوچه داسامان زماوارثانوته حواله کړئ.بدیل چه مړشو. نودوئ دواړو دهغه سامان راوړواووارثانوته ئې ورله حواله کړو.مگر دسپینوزرو یو جام چه دسروزرو میخونه اونقشونه پرې وهلي شوي ؤو.هغه ئې ترینه پټ کړو.اوپه مکه کښې ئې خرڅ کړو. په یوروایت کښې دی چه تمیم وائی چه داجام مونږپه زر روپئ خرڅ کړې ؤو. اوروپئ مو تقسیم کړې وې.(نصف لی ونصف لک) وارثانوچه هرکله دسامان فهرست اوکتلو نو په هغې کښې دَیوجام ذکرؤو.اوپه سامان کښې موجودنه ؤو.نودوئ په دغودواړوباندې دخیانت دعوه اوکړه اوهغوئ انکاراوکړو.نود«البینة المدعی والیمین علی من انکر» په قانون، وارثانوسره چونکه گواهان نه ؤونوهغوئ ته ئې قسم د«الله تعالی په نوم ورکړو» بیاخه وخت روستومعلومه شوه چه هغه جام دوئ په مکه کښې په چاخرڅ کړې دې، نو وارثانو بیا دعوه اوکړه چه جام دوئ پټ کړې ؤواوبیائې خرڅ کړې دې.نوهغوئ دواړواووئیل چه جام مونږدبدیل نه په ژوندونې په بیع اغستې ؤو.لیکن مونږسره گواهان نه ؤو نوموږ ددې وجه نه مخکې دهغې ذکرنه ؤوکړې،نوپه دې صورت کښې دادواړه مدعیان شواو ورثؤانکار اوکړو نودفیصلې رخ بدل شواوهرکله چه مدعیانو سره گواهان نه ؤو.نودمنکرینو،یعنی دوارثانونه قسم دالله تعالی په نوم واغستې شو.اود دوئ په حق کښې فیصله اوشوه اوجام ورته واپس کړې شو.نودا آیت په دې باره کښې نازل شو﴿شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ﴾ دامبتداء ده اوخبر ورله (اثنانِ) دې په حذف دمضاف سره. (ای شهادة اثنین) اوشهادة په معنی دوصی گرځولو اووصی جوړولوسره دې یعنی وصی گرځول دهغه معاملاتوکښې چه ستاسوپه مابین کښې وی.د دؤوکسانووصی گرځول مناسب دی.د دؤو ذکردوجه دخصوص مورد نه دې اویوکس وصی گرځول یاد دؤونه زیات هم جائزدی.اوبالکل وصی نه گرځول هم جائزدی وصی هغه چاته وئیلې شی چه میت ورته وصیت کړې وی او وکیل ئې گرځولې وی چه زماپه مال کښې دمرگ نه روستوداسې قسم تصرف اوکړه.صاحب دقرطبی اوروح المعانی دشهادت دپاره ډیرې معنې لیکلی دی.(۱) په معنی دایصاء «وصیت کول» سره.لکه په دې آیت کښې.(۲) په معنی دحضوراحضارسره لکه «فمن شهدمنکم الشهر» (۳) په معنی دقضی اعلام «خبرورکول» سره.لکه «شهدالله انه لا اله الاهو».(۴) په معنی داقرار سره

لکه ،**والملائكة يشهدون**،،(۵) په معنى دحكم اوفيصلې سره لکه (**قضى القاضى بكذا**) (**وشهد شاهد من اهلها**)،،(۲) په معنى ديمين سره،لکه (**شهادتنا احق من شهادتهما**)،،(۷) گواهی کول

نوبعض مفسرين وائی چه شهادت په معنى دگواهئ سره دې اود ﴿ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ﴾ معنى داده

چه من المسلمين، او د ﴿أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ﴾ معنى داده چه من غير المسلمين،نو دا آيت منسوخ دې ځکه چه شهادت دغير مسلمينو په مسلم باندې جائزنه دې، اوبعضو وئيلى دى چه د(**من غيركم**) معنى داده چه من الاجانب ،اود (**منكم**) معنى داده چه **من الاقارب**،نوبيا منسوخ نه دې، او بهتره خبره داده چه دا آيت منسوخ نه دې اوشهادت په معنى دايصاء،وصى گرځول،سره دې اووصى مسلم اوغيرمسلم دواړه كيدې شى. اوبعض وائى چه داحكم په حالت دسفركښې دې اوپه حالت دسفركښې كه چرته مسلم،عادل،گواه نه وى نودغيرمسلم گواهى جائزده،اودا قول د ابو موسى اشعرى رضى الله عنه اوسعيدبن مسيب،سفيان ثورى رحمه الله او احمدبن حنبل دې

﴿إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ﴾ اذا ظرفيه دې اوداظرف دې، د ﴿شَهَٰدَةُ بَيْنِكُمْ﴾ دپاره،او (**حضر**) په معنى دقرب سره دې.یاد (**الموت**) نه مراداسباب الموت دې اوداتاويل ځکه پکاردې چه

مرگ حاضرشى نوبياخوخبره نشى كولې،﴿حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ﴾ دابدل دې د(**اذاحضراحدكم الموت**) نه.معنى ئې داده چه يعنى وخت دوصيت،اومراد دوصيت نه وصى مقرركول دى،

﴿أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ دوصى مقرركولودپاره سفرشرط نه دې،نودلته ذكردسفرياد وجه دخصوص دواقعې نه دې يادې وجه نه دې چه داسې ضرورت په سفركښې راځى،

﴿تَحْبِسُونَهُمَا﴾ ددې نه معلومه شوه چه دمدعى عليه قيدكول پكاردى

﴿مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ﴾ دمازيگرمونځ مراد دې يامطلق مونځ اوداتغليظ دقسم دې په وخت سره ځکه چه وخت دصلوة،وخت داجتماع دخلقووى نومنكرته د دروغووئيلونه شرم راځى،او تغليظ فى القسم جائزدې،په قول سره اوپه وخت سره اودارنگه په مكان سره لکه په مسجد كښې اوخصوصاد ممبرمحراب په قرب كښې قسم وركول،

﴿فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ﴾ يعنى اول به دمدعى نه گواه طلب كړې شى نوكه هغه سره گواهان نه وى نوبيابه مدعى عليه ته قسم وركولې شى،ليكن قسم به صرف په نوم دالله تعالى باندې وركولې شى.اگركه منكراهل ذمه كافروى،﴿إِنِ ٱرْتَبْتُمْ﴾ د شک په وجه سره دعوى كولې شى

نو په دې کښې اشاره ده چه قبل د دعوې نه چاته به قسم نشي ورکولې، دغه شان قسم معتبر هم نه دې. ﴿لَا نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا﴾ يعني دوئ (منکرين) به د الفاظو د قسم سره دا هم وائي چه «لانشتري» او دا تغليظ قولي دې په يمين کښې او اشتراء په معنی د حصول سره دې او دثمن نه مراد عوض دينوي دې او «به» ضمير راجع دې اسم د الله تعالی ته يا قسم ته راجع دې.

﴿وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ﴾ ضمير د «كان» راجع دې، محلوف له، «د چا د پاره چه قسم کولې شي» ته. يعني مونږ به خپل قسم سره نفع د دنيانه اخلو، اګرکه د دې سره د خپلوانو نفع يا رعايت کول ضم شي، او څوک چه د دؤ فائدو د حصول (لکه خپله ذاتي نفع او د خپلوانو، نفعې يا رعايت) د پاره د دروغو قسم نه کوي نو د يوې فائدې د پاره په طريق اولی سره د دروغو قسم نه کوي.

﴿شَهَادَةَ اللَّهِ﴾ يعني هغه شهادت چه الله تعالی ئې مونږته حکم راکړې دې او دا تغليظ قولي دې، او دا جائز دې واجب نه دې، بلکه مفوض دې، رائې د حاکم ته.

﴿عُثِرَ﴾ په معنی د اطلاع سره دې او نائب فاعل ئې ماده، د فعل ده، يعني حصلت العثرة، سره ﴿أَنَّهُمَا﴾ ضمير وصيينو ته راجع دې، ﴿اسْتَحَقَّا﴾ په معنی د حاصلولو سره دې يعني که چرته د اسې اطلاع حاصله شوه چه دې دواړو وصيينو ګناه حاصل کړې دې، خيانت ئې کړې دې په مالِ وصيت کښې او په دروغو سره ئې قسم کړې دې، لکه په شانِ نزول کښې د اسې ذکر دې، چه هغه جام هرکله په مکه کښې ملاؤ شو، نو ورثؤ د ميت چه د وصيينو نه تپوس او کړو نو دوئ دواړو دعوه د شراء اوکړه چه مونږ په بيع اغستې دې حالانکه اول ئې د مطلق لاعلمئ اظهار کړې ؤو، نو ګويا کښې دوئ اولاً، د نه اغستلو قول اوکړو او بيائې د اغستلو قول اوکړو، نو د دې نه معلومه شوه چه دوئ خيانت کړې دې.

﴿فَآخَرَانِ﴾ د اصفت د موصوف مقدر دې (ای رجلان اخران) ﴿يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا﴾ مراد د قيام نه په مقام د دوئ دا دې چه اوس به قسم دوئ ته ورکولې شي، ځکه چه دوئ منکرين دی او وصيين مدعيان دی او قسم منکر له وي، ﴿مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ﴾ دا بيان د آخران دې او د دې نه مراد ورثه د ميت دی، يعني د ورثؤ د ميت نه به دوه کسان قسم کوي ځکه چه دوئ منکرين دی د بيع نه او وصيين مدعيان د بيع دی نو چه د مدعی سره ګواهان موجود نه وي نو منکر له به قسم ورکولې شي، او د دې په ترکيب کښې د مفسرينو دوه اقواله دی يو دا چه «استحق» فعل دې او فاعل ئې محذوف دې چه اليمين دې او دا په نزد د هغه چا چه حذف د فاعل جائز وائي

نو تقدیر دا رنگه شو (استحق،الیمین،القسم،علیهم) چه ثابت شو قسم کول په دوئ باندې. نورئو ته **استحق علیهم** ځکه وائی چه قسم په دوئ ثابت شویدې اوبعض وائی چه دلته ماده د فعل فاعل دې،نو **استحق** په معنی د ثبت الحق سره دې او ورثوته **استحق علیهم** ځکه وئیلی دی چه هرکله وصیینو د دوئ مال واغستو،نو د ورثو په مقابله کښې دوئ په مال باندې استعلاء اوحق ثابت کړو،نو ځکه دوئ ته (استحق علیهم) اووئیل.(کذافی الکبیر).

﴿الْأَوْلَيَانِ﴾ داتثنیه د اولی ده په معنی د (الاقربان الی المیت) اوداېدل دې د (آخران) نه. یعنی نورداسې دوه کسان چه ډیرقریب وی میت ته نو هغه دې قسم اوکړی په نوم الله تعالی باندې ځکه قسم په غیرالله باندې جائزنه دې، ﴿لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ﴾ شهادت په معنی دیمین سره دې یعنی دوئ دې قسم بالله سره داسې هم اووائی چه زمونږقسم (احق) دې.احق په معنی دریشتینې اولائق دقبلولوسره دې. دلته تفضیلی معنی مقصودنه ده،اسم تفضیل په معنی داصل فعل سره دې یادمبالغې دپاره دې،اوداهم تغلیظ قولی دې په یمین کښې.﴿إِنَّا إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ﴾ دامزیدتاکیداوتغلیظ دې،په یمین کښې،

﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره ده ماقبل طریقې د فیصلې ته،﴿أَدْنَىٰ أَن يَأْتُوا﴾ ضمیرراجع دې وصیینوته چه په اثنان کښې ذکرؤو.یاراجع دې ټولوهغه خلقوته چه په یومعامله کښې شهادت ورکوی یاقسم کوی ﴿عَلَىٰ وَجْهِهَا﴾ یعنی په صحیح اواصلی طریقې سره.﴿أَوْ يَخَافُوا﴾ (او) تنویع دپاره دې نومقابل معطوف علیه ئې مقدردې، (ای لخوف الله او یخافوا) یعنی شهادت دوه نوع دې یو دمتقیانودې نوهغوئ په صحیح اواصلی طریقې سره شهادت کوی دوجه دخوف دالله تعالی نه.اوبل دعاموخلقوشهادت دې نوهغوئ به ددې نه یریږی،چه قسمونه به ئې دروغ ثابت شی نوواپس به کړې شی اودخلقوپه مخکښې به رسوا شی

﴿أَن تُرَدَّ أَيْمَانٌ﴾ ردمقابل دقبول دې نومرادقسمونه دوصیینودی چه خیانت ئې کړې دې. یاردپه معنی دواپس کیدلواوپیش کیدلوسره دې،نود ﴿أَن تُرَدَّ أَيْمَانٌ﴾ نه مرادقسمونه د ورثو دی اود ﴿بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ﴾ نه مرادقسمونه دوصیینودی ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ یعنی په قسمونو اومالونو کښې تقوی کوئ دخیانت نه خان ساتئ. ﴿وَاسْمَعُوا﴾ سماع قبول مراد ده.﴿وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

﴿المنوبينَ﴾ فسق سبب دي دحرمان دهدايت نه

يَوْمَ يَجْمَعُ اللهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ط

په كومه ورځ چې جمع به كړي الله رسولان. پس اوبه وائي ورته څه جواب دركړې شوې وو ناسونه له طرفه دامتانونه

قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا ط إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ۞ إِذْ قَالَ اللهُ يٰعِيسَى

نواوبه وائي نشته هيڅ علم مونږته، بيشكه ته ږېرښه پوهه ني په پټو څېزونو كله چې اوبه وائي الله اې عيسى

ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ م إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ قف

ځوئي دمريم يادكړه نعمت خما په تابانديې اوپه مورستاباندي. كله چې ماستامدداوكړو په روح پاك سره

تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ج وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

خبري دې كولې خلقو سره دموريه غيږ كښې اوپه پوخ عمر كښې. اوكله چې ماتاته علم دركړو دكتاب،قران اودسنت

وَالتَّوْرٰىةَ وَالْإِنجِيلَ ج وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ

اودتورات اوانجيل اوكله چې جوړولو به تاده ختونه پشان دشكل دمرغۍ په حكم خماسره نوپوكې به دې وركړو

فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي ج وَإِذْ تُخْرِجُ

په هغې كښې نوشوه به هغه مرغۍ په حكم خما سره اوروغوبه تا پيدائشي روند اوبرګي والا په حكم خما سره. اوكله چې راوبسنل به تا

الْمَوْتىٰ بِإِذْنِي ج وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَآءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم

مړي ژوندي كول په حكم خماسره اوكله چې بندكړل مابني اسرائيل ستانه،دوژلوستانه،كله چې راوړل تادوى ته

بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۞

ښكاره معجزات نو اووئيل كافرانو ددوئ نه ندي دا مګر جادو ښكاره دي

﴿يَوْمَ يَجْمَعُ اللهُ الرُّسُلَ﴾ داتخويف اخروي دي اونفي دشرك في التصرف اونفي د شرك في العلم ده.اوظرف دروستو (قالوا) سره متعلق دې،يعنى انبياء به اووائى په هغهٔ ورځ چه الله تعالى دَ دوئ امتيان جمع كړى اوتپوس ترينه اوكړى.

﴿مَاذَآ أُجِبْتُمْ﴾ دا اجابت عام دي اجابت قولي اوعملي دواړوته شامل دي.نو الله تعالى چه دانبياؤنه تپوس اوكړى چه امتيانودطرف نه تاسوته څه جواب (قولاًعملاً) دركړې شوي وو .نو انبياء به اووائي

﴿لَا عِلْمَ لَنَآ﴾ ددې سوال اوجواب مقصود .توبيخ دې كفاروته اونفى دعلم غيب ده. دانبياؤ نه. اوكه څوک **سوال** اوكړى چه انبياؤته خوعلم وو .چه چاخبره منلې ده اوچانه ده منلې.نوبيا څرنګه وائى.(**لاعلم لنا**) **جواب** كړې دې بعض مفسرينو چه په ظاهرى اقوالوسره كوم علم حاصليږى هغه په اصل كښې ظن دې اودزړه رازاوحقيقى ايمان چه دهغې تعلق دزړه سره دې.دهغې علم حقيقى الله تعالى ته دې.اوانبياؤته په ذريعه دوحى سره حاصليږى.اوپه هرامت كښې منافقان هم وى چه په ظاهركښې مؤمنان وى اوپه حقيقت كښې مؤمنان نه وى. نودانبياؤعلم په هغوئ باندې ظنى وى علم يقينى نه وى نومراد دادې چه داجابت كوونكوپه حال باندې زمونږعلم يقينى نشته دې بلكه صرف ظن وو .(**كبيربحرمحيط وغيره**) بعض مفسرينوداسې جواب كړې دې چه زمونږ علم په باطن باندې نشته دې صرف په ظاهرباندې زمونږ علم وو .داورايت دابن عباس رضى الله عنه دې، امام رازى رحمه الله دې جواب ته ترجيح وركړې ده،بعض مفسرين وائى چه داقول تواضعاًاوادباًدې،ددې مطلب دادې چه زمونږعلم چونكه صرف په ظاهرباندې دې،نوداستادعلم په مقابله كښې هيڅ حيثيت نه لرى.(**لاعلم لنا**) اودامطلب ئې نه دې چه انبياؤته دتماموخيزونوعلم حاصل وو .اودالله تعالى په حضوركښې ئې دادب دپاره دروغ اووئيل چه (لاعلم لنا) (معاذالله) اوبعض مفسرين وائى چه (**لاعلم لنا**) ئې دهيبت دقيامت دوجه نه وئيلي دي،صاحب،دروح المعانى اوكبيراوخازن په دې باندې ردكړې دې چه انبياء قيامت دفزع اوهيبت نه محفوظ دى (**لايحزنهم الفزع الاكبر**) (**وهم من فزع يومئذامنون**) اوبعض مفسرين وائى چه د(**لاعلم لنا**) نه مراد دادې چه **بعد وفاتنا**.لكه عيسى عليه السلام فرمائى (**فلماتوفيتنى كنت انت الرقيب عليهم**).﴿إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ﴾ (**انت**) ضميرفصل دې دحصردپاره يعنى صرف ته په تمامو مغيباتوعالم ئې،

﴿إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ﴾ داتخصيص بعدالتعميم دې يعنى دعام انبياؤ(عليهم الصلوة والتسليمات) نه بعد ،دحضرت عيسى عليه السلام ذكرپه خصوصيت سره كيږى،څكه دنبى صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې دانبياؤدالوهيت قائل عيسايان وو .عيسايان په علم اوعبادت

اورهبانیت کښې مشهورړو، لیکن حضرت عیسی علیه السلام ته ئې ابن الله، یاعین الله، یاثالث ثلاثة، وئیل اوعیسی علیه السلام په نوم ئې نذرونه ورکول حتی چه بعض عیسایانوبه دعیسی علیه السلام په نوم خپل خامن ذبح کول، نوددې وجهِ نه دعیسی علیه السلام ذکرپه خصوصیت سره اوشوچه دهغه نه دعلم الغیب نفی اود الوهیت نفی په داسې طریقه اوشی چه حضرت عیسی علیه السلام پخپله دخپل خان نه دعلم غیب اودالوهیت نفی کړیده نودانفی دشرک اعتقادی اودشرک فعلی ده اودادسورت دمضامینو خلاصه ده نوګویاکښې دسورت اختتام په اصل مقصودئې مضامینوسره دې، د﴿ إِذْ قَالَ اللَّهُ ﴾ نه د ﴿لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ﴾ آیت نمبر ۱۱۵ پورې تمهید دې سوال ته، یعنې الله تعالی په حضرت عیسی علیه السلام اودهغه په والده، حضرت مریم باندې خپل احسانات بیانوی بیا د «اذقال الله» آیت نمبر ۱۱۶ نه اصل سوال شروع کیږی

﴿إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ﴾ دا اول انعام اواحسان دې «اذ» ظرف متعلق دې د «نعمتی» سره نعمتی په معنی د (انعامی علیکما) سره دې (ای اذکرانعامی علیکماوقت تائیدی لك بروح القدس) اوانعام په اولادباندې، انعام وی په مورباندې، نوانعامات په عیسی علیه السلام انعامات دی په مریم او روح القدس اضافت دموصوف دې صفت ته (ای الروح المقدس) روح القدس نه مرادجبرائیل علیه السلام دې اوتائیدئې داؤچه هروخت به ورسره ګرځیدلو، یاترینه مرادهغه کلام دې چه په هغې سره احیاء د دین راځی یاهغه کلام، (اسم اعظم) چه په هغې سره مړې ژوندی کیږی، یاترینه مرادنفس دعیسی علیه السلام دې چه پاک ؤودګناهونونه،

﴿تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ﴾ داجمله مستانفه ده بیان د «ایدتك» دې یاجمله حالیه ده حال دې دکاف نه په «ایدتك» کښې، اود «مهد» نه مرادمعروفه معنی ده، زانګو، یاترینه مراد، حجرالام، دمور غیږه ده

﴿وَكَهْلًا﴾ په دې کښې تنبیه ده په دې خبره چه خبرې دعیسی علیه السلام په زمانه د طفولیت کښې داسې عبرت حکمت والاوې لکه کلام دزمانې دکهولت، اوبعض وائی چه په دې کښې اشاره ده، نزول دعیسی علیه السلام ته، اوداتوجیه مبنی ده په دې باندې چه دکهولت معنی داده چه بډاوالې ته نزدې شوې وی یاداده چه عمرئې د(۳۴) څلوردیرش کالو، نه زیات شوې وی د(۵۱) یا(۵۵) پورې، اوعیسی علیه السلام آسمان ته په عمرد(۳۳) کالوکښې ختلې دې، نو خبرې دخلقوسره په زمانه دکهولت کښې به هله وی چه دآسمانونونه راښکته شی، لیکن بعض وائی چه دکهولت زمانه د(۳۰) کالونه شروع کیږی نوبیاداتوجیه نشی کیدی،

﴿وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ﴾ دادبل انعام بیان دې یعنی دکتب سماویوعلم.او د کتاب نه مرادیاجنس کتاب آسمانی دې یاعلم ظاهری چه لیکلې شی اودحکمت نه مرادعلم باطنی چه علم الاسرار دې اولیکلې نشی.یادکتاب نه مرادقرآن دې اود حکمة نه مرادحدیث دې

﴿وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ﴾ دتورات علم ورته اول ورکړې شوې ؤ واومکلف ؤ.په عمل دتورات سره. اوبیاروستوورته انجیل ورکړې شو.علم دتورات اودانجیل مخکښې درفع الی السماء نه ؤ واوعلم دقرآن اوحدیث بعد دنزول نه دې.عیسی علیه السلام چه دآسمان نه راکوز شی نودقرآن اوحدیث علم به ورسره وی اوپه دې به فیصله کوی اواختلافی مسئلې دمجتهدینوبه ختمې شي.نوعلم دقرآن اوحدیث اگرکه ورته روستوورکولې شی لیکن د افضلیت دوجه نه اولاذکرشو.

﴿وَإِذْ تَخْلُقُ﴾ دا دبل انعام ذکردې، تخلق په معنی دتصوُرسره دې یعنی تابه صورت جوړوؤ .﴿كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ﴾ کاف په معنی دمثلُ یامماثلةً سره دې مفعول دتَخلَق دې اوضمیر د(فیها) اود(فتکون) دغه صورةً مماثلةً ته راجع دی، ﴿بِإِذْنِي﴾ مکرردذکرشوې دې.اشاره ده چه صورةً دطیر،(مرغئ) جوړول هم باذن الله سره ؤو،اودا اذن شرعی دې اوددغه صورة نه طیر (مرغئ) جوړیدل هم باذن الله ؤو،اودا اذن تکوینی دې،نوددې وجه نه (باذنی) مکرردذکرشو

﴿الْأَكْمَهَ﴾ هغه انسان چه پیدائیشی ړندوی اودعلاج قابل نه وی او(ابرص) هم دعلاج مرض دې﴿وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِإِذْنِي﴾ داخراج نه مراداحیاء ده اوداذن نه مراداذن تکوینی دې ﴿وَإِذْ كَفَفْتُ﴾ دادبل انعام ذکردې،ددې نه قبل انعامات دنفع ورکولوؤو ،اودا انعام د دفع دضرردې،﴿إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ﴾ یعنی په تاکښې څه نقصان نه ؤو ،اوخبره ستاهم بې دلیله نه وه اوددې باوجود ،دوئ ستادقتل دپاره راغلل اوتاته ئې ساحرجادوگراوویلو .

وَإِذْ	أَوْحَيْتُ	إِلَى	الْحَوَارِيِّيْنَ	أَنْ	اٰمِنُوْا	بِيْ	وَبِرَسُوْلِيْ

اوکله چې ماالهام اوکړوپه زړهٔ کښې واچوله حوارینوتهٔ ددې چې ایمان راوړئ په ما اوپهٔ رسول خما

قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	وَاشْهَدْ	بِاَنَّنَا	مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾	إِذْ	قَالَ	الْحَوَارِيُّوْنَ

اوونیل دوئ ایمان راوړې دې مونږ اوتهٔ گواه شه چې ببشکه مونږمنونکي یو. کله چې اوونیل حوارینو

يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً
ې عيسى خوئي دمريم آيا اوبه مني رب ستاداخبره چې رانازل کړې په مونږ باندې يو دسترخوان
مِّنَ السَّمَاءِ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۱۱۲﴾
دآسمان نه . اوونيل هغه ويريږئ دالله نه که يئ تاسو مومنان

﴿ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ ﴾ دادبل انعام ذکردې يعنى تائيد په مخلصانوملگرو دوستانو سره..**اوحيت** په معنى دالهمتُ،يادامرتُ سره دې، حوارى دحورنه ماخوذدې سپين والي ته وائى. حوارى هغه دوست اوملگرې چه مخلص رازداروى اوزړه ئې سپين يعنى خالى وى دمنافقت نه. ﴿ إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ ﴾ دادبل انعام ذکردې،يعنى نزول دمائده.اوذکرد درخواست د «**حواريين**» تمهيدأدې.

﴿ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ ﴾ «**يستطيع**» په معنى ديفعل سره دې،اواستفهام دشک دپاره نه دې خکه حواريين کامل مؤمنان ؤو.نودهغوئ شک نه ؤودالله تعالى په قدرت کښې.بلکه د استفهام مطلب دادې چه داسې سوال کول به دحکمت الهى خلاف خونه وى؟ دحکمت الهى دخلاف څيزسوال کول نامناسب اوتعدى فى السوال ده نودادليل دې په کمال اطاعت او ايمان دهغوئ

﴿ مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ د«**مائده**» اطلاق په دؤومعانيوباندې کيږى.**اول** هغه.خوان. دسترخوان چه په هغې باندې طعام وى.دا د (مَادَ، يَمِيْدُ) نه ماخوذدې.حرکت ته وائى. او دا رنگه اعطاء (ورکولو) ته وائى.نودافاعل بمعنى المفعول دې لکه (عيشة راضية) يعنى خوزولې شى لاسونه ديته.يافاعل په خپلې معنى سره دې، مائده يعنى ورکوونکى دطعام.لکه ونيلې شى (شجرة مثمره مطعمة) اوچاونيلى دى چه مائده ماخوذدې دمدنه په معنى دغوړولوسره او دسترخوان غوړولې شى په زمکه دپاره دخوراک.**دويم** په معنى دنفس طعام سره.صاحب دروح المعانى وائى چه مائده غيرده.دخوان نه.(لانه اسم لشئ مرتفع يهيأ ليؤکل عليه الطعام (ميز.ټيبل) ولاکل عليه بدعة،لکنه جائزان خلاعن قصدالتکبر(روح) مراد دمائده نه دلته طعام دې.

﴿ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴾ عيسى عليه السلام دوئ ته اوونيل چه د«اقتراح الايات» يعنى

دمعجزاتودفرمائیش نه منع شئ،فرمائیشی معجزې ایمان والانه غوارې اوتاسوخو کامل ایمان ولایئی،نوداسوال ستاسودشان سره مناسب نه دي،

قَالُوْا نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَىِٕنَّ قُلُوْبُنَا وَنَعْلَمَ اَنْ

اوونیل دوئ غواړومونږ چي خوراک اوکړو د هغې نه اوکلك شي زړونه خمونږاوبنهٔ پوهه شو چي بېشکه

قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

تارښتیاونیلي دي مونږتهٔ اوشوبهٔ مونږ په هغې باندې دګواه کوونکونهٔ (غائبینونه) اوونیل عیسي خوئې دمریم

اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآىِٕدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا

یاربه زمونږ نازل کړې په مونږباندې دسترخوان دآسمان نهٔ ددې دپاره چي شي مونږ دپاره اختر

لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١٤﴾

دړومنوزمونږ اوروستنوزمونږ دپاره اونخه(معجزه)ستادطرفنه، اوروزق راکړې مونږتهٔ اوتهٔ ئې غوره رزق ورکوونکي

قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ

اوفرمائیل الله بېشکه خه نازلوونکي دهغې یم په تاسو، نوچاچي کفراوکړو روستو ددېنه په تاسو کښې

فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١١٥﴾

نوبېشکه خهٔ بهٔ هغه ته عذاب ورکړم داسې عذاب چي نهٔ بهٔ وي ورکړې ماداسې عذاب هیچاته دخلقونهٔ

﴿ قَالُوْا نُرِيْدُ ﴾ حوارییناووئیل چه مونږفرمائیشی معجزې نه غواړوبلکه زمونږ مقصود دادې چه ﴿ نَّاْكُلَ مِنْهَا ﴾ دتبرک دپاره خوراک اوکړو،﴿ وَتَطْمَىِٕنَّ قُلُوْبُنَا ﴾ اوزمونږ زړونه مطمئن شي په سبب دزیادت دیقین سره چه مشاهده اواستدلال دواړه ضم شي نویقین قوی شي اواطمینان حاصل شي لکه حضرت ابراهیم علیه السلام چه اوفرمائیل (**ولکن لیطمئن قلبی**) نوچه مونږمشاهده دمعجزې اوکړونوستاپه صدق باندې به زمونږیقین زیات شي.

﴿ وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴾ چه کوم خلق حاضرنه دی نوهغوئ ته به ئې مونږشهادت ورکوو. نودهغوئ دهدایت دپاره به ذریعه شي،

﴿قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا﴾ نو حضرت عيسى عليه السلام ته چه معلومه شوه چه د دوئ داطلب دصحيح غرض دپاره دي نودعائې اوکړه چه ياالله مونږته مائده نازله کړه چه هغه زمونږداولينواواخرينودپاره عيداوخوشحالي شي ﴿لِأَوَّلِنَا﴾ .داولينونه مرادحاضرين دي ﴿وَآخِرِنَا﴾ داخرينونه مراد. روستو پيداکيدونکي خلق دي. اومائده دحاضرينودپاره خوشحالي ځکه ده چه د دوئ په سوال طلب سره مائده نازله شوه اودوئ ترينه تبرکاًخوراک اوکړو.اوروستودپاره خوشحالي ځکه ده چه دا انعام دې د دوئ په اسلافوباندې.

﴿وَآيَةً مِّنكَ﴾ يعني نزول دمائده به زمادرسالت داثبات دليل شي اوپه منکرينوبه حجت شي.روايت دې چه عيسى عليه السلام غسل اوکړواوزړې جامې ئې واچولې اودوه رکعته مونځ ئې اوکړواوډيره تضرع عاجزى ئې اوکړه چه سرئې ټيټ کړوسترګې ئې بندې کړې او وې ژړل.دعائې اوکړه چه ﴿رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً﴾ نومائده نازله شوه اوداورځ داتواروه اوددې وجه نه دوئ داورځ دعبادت دپاره مقررکړه.ليکن داخبره مخالفه ده.دمشهورحديث نه.چه دهغې مضمون داسې دې چه يهوديانودهفتې ورځ دخپل ځان دپاره مقررکړه اونصاراؤ.د اتوارورځ.اوالله تعالى مونږته هدايت اوکړودپاره دورځې دجُمعې،الخ،نوددې نه معلوميږى چه داتوارورځ عيدګرځول دنصاراؤ.خلاف دې دهدايت دالله تعالى نه.

﴿قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا﴾ الله تعالى اوفرمائيل چه زه مائده نازلوم ليکن که چاددې نه بعد هم کفراوکړونوهغه ته به داسې سخت عذاب ورکړم چه بل هيچاته مې نه وى ورکړې.ځکه قانون الهى دادې چه څوک معجزه طلب کرى نودمعجزې دظهورنه بعدچه څوک خبره نه منى نوپه سخت عذاب دنيوى سره هلاک کولې شى،لکه قوم دهود عليه السلام اوقوم دصالح عليه السلام وغيره.دحسن بصرى رحمه الله اومجاهدنه روايت دې چه هرکله دوئ داسخت وعيداؤريدو.نو مطالبه ئې پريښودله اومائده نازله نه شوه اوددې قول تائيدپه دې سره کولې شى چه خبردنزول دمائدې په نصاراؤکښې مشهورنه دې اونه دهغوئ په کتاب کښې شته دې ليکن ددې نه جواب کيدې شى چه داواقعه دوئ پټه کريده اوپه خپل کتاب کښې ئې نه ده ليکلې،ځکه چه په دې کښې د دوئ دمشرانودمسخ ذکردې اوجمهورعلماء وائى چ مائده نازله شويده،په دليل ددې سره چه الله تعالى ئې وعده کړې وه. ﴿إِنِّي مُنَزِّلُهَا﴾ اوالا

تعالى خپله وعده پوره کوی.اوپه روایت دترمذی وغیره کښې دی چه نازله شوې وه مائده دآسمان نه دوډئ.غوښه، اودوئ ته امرکړې شوې ؤوچه خیانت به نه کوئ.اودصبادپاره به ئې ذخيره نه کوئ.نودوئ خيانت اوکړواوذخيره ئې کړه اودصبادپاره ئې کيښنودل شروع کړل نو دوئ شکلونه دشادوګانو(بيزوګانو) خنزيرانوپه شان اوګرځيدل.دنزول دمائدې د تفصيل په باره کښې نور مختلف روايات هم راغلى دى،نوقول دجمهوروپه دې کښې اصح اوقوى دې.امام احمدپه مسنداحمدکښې اوامام حاکم په مستدرک کښې اونوراهلِ سيرورِوايت نقل کړې دې چه مشرکينودمکې،نبى صلى الله عليه وسلم ته اوونيل چه ته دخپل رب نه دعااوغواړه چه دصفا،نه سره زر جوړکړى نومونږبه په تاباندې ايمان راؤړونونبى صلى الله عليه وسلم دعااوغوښتله نوجبرائيل عليه السلام راغې. اوعرض ئې اوکړوچه ستارب په تاباندې سلام وائى اوداسې وائى چه که ته غواړې نودصفا نه به سره زرجوړکړم خوکه بياچاکفراوکړو.نوداسې سخت عذاب به ورته ورکړم چه په عالَم کښې مې هيچاته نه وى ورکړې اوکه ستاخوښه وى نودوئ له به ددغې په ځائې دتوبې او رحمت دروازه خلاصه کړم نونبى صلى الله عليه وسلم داخوښه کړه چه دتوبې دروازه خلاصه شى.

وَ اِذْ قَالَ اللّٰهُ یٰعِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ ءَ اَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِیْ وَ اُمِّیَ اِلٰهَیْنِ

اوکله چې [1] به اووائى الله اې عيسى ځوئې دمريم آياتاونيلى دى خلقوته چې اونيسئ ماااومورځما په خدائي سره دواړه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا یَكُوْنُ لِیْۤ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَیْسَ لِیْ ۗ بِحَقٍّ ؕ

سواد الله نه . اوبه [2] وائې هغه چې پاکې ده تالره [3] ندې جائز مالره چې اووايم څه هغه خبره چې نده مالره جائز

اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ وَ لَاۤ اَعْلَمُ

کچرې [4] ماونيلې وې داسې نويقينانه عالم ئې په هغې، ته پوهيږې په هغه څه چې ځما به زړه کښې دې اونه پوهيږم څه

١ . اصل مقصودى سوال.
٢ . جواب نمبر ١
٣ . جواب نمبر ٢
۴ . جواب نمبر ٣

مَا فِیْ نَفْسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ﴿۱۱۶﴾

په هغه څه چې ستا په نفس کښې دي، بیشکه ته ډیرښه پوهیږې په پټو خبرونو

﴿وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ یٰعِیْسٰی﴾ مخکښې رکوع کښې دانعاماتوذکروُوتمهیداً اواصل سوال دلته ذکرکیږی.نو(اذقال الله)الخ.اعاده بُعدعهد ده.اوداسوال به په محشرکښې کیږی او صیغه دماضی ذکرشویده نوپه دې کښې اشاره ده چه داخبره داسې یقینی ده لکه ماضی.او ددې سوال فائده الزام دې په نصاراوُباندې اود دوئ رسواکول دی.چه دوئ په عیسی علیه السلام باندې دروغ جوړکړی ؤو.اودارنګه په دې کښې نفی دعلم غیب ده دعیسی علیه السلام نه.نو الله تعالی به په محشرکښې دتمامومخلوقاتوپه حضورکښې عموماًاودنصاراوُپه حضورکښې خصوصاً دحضرت عیسی علیه السلام نه داتپوس اوکړی چه آیاتاخلقوته وئیلی ؤوچه ماماوزماموربمعبودجوړکړئ.نوحضرت عیسی علیه السلام به جواب ورکړی چه دلته ذکرکیږی.(قال ابوروق اذا سمع عیسی علیه السلام هذا الخطاب ارتعدت فرائصه ومفاصله وانفجرت من اصل کل شعرة من جسده عین دم ثم قال وهویرعدمجیباًلله سبحانک) الخ.

(فائده) حضرت الشیخ رحمه الله به فرمائیل چه لکه څرنګه په قیامت کښې الله تعالی دحضرت عیسی علیه السلام نه تپوس کوی دنصاراوُدملزم کولواورسواکولوډپاره نودغه شان به دحضرت علی رضی الله عنه نه تپوس کوی چه آیاتاخلقوته وئیل ؤو.چه ماته اله.مولی.مشکل کشا.وایئی؟ نوحضرت علی رضی الله عنه به هم هغه جواب ورکړی کوم چه عیسی علیه السلام ورکوی.

﴿قَالَ سُبْحٰنَكَ﴾ دادعیسی علیه السلام دطرفه جواب دې په پنځوطریقوسره (۱) اول داچه (سبحنك) زه تاته نسبت دپاکئ کوم دشریک نه په ذات اوصفاتوکښې په قول اوعقیده اوعمل سره.(۲) دویم داچه ﴿مَا یَكُوْنُ لِیْٓ اَنْ﴾ زمادپاره هرګزداخبره جائزه اومناسبه نه ده چه داسې دعوه اوکړم چه زماحق نه وی، معبود کیدل صرف دهغه چاحق دې چه خالق.مالک متصرف عالم الغیب وی.(۳) دریم داچه ﴿اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ﴾ که چرته ماوئیلې وې نوتاته به ئې علم وې لیکن تاته ئې علم نشته نومعلومه شوه چه مانه دی وئیلی نودادلیل برهانی دې.څکه صدورددیوقول دچانه مستلزم دې علم دالله تعالی لره په هغې باندې،نوصدورردقول ملزوم دې اوعلم دالله تعالی په هغې ورسره لازم دې اوانتفاء دلازم مستلزمه وی انتفاء دملزوم لره.

﴿تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي﴾ دادليل دماقبل دې (فى نفسى) متعلق دې دمقدرسره چه (اخفيه) دې ﴿مَا فِي نَفْسِكَ﴾ (اى مااخفيته عنى) يادنفس نه مرادذات دې،اودابيان دواقع دې اواظهارد خپل قصورعلمى دې.﴿إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ﴾ (انت) ضميرفصل دې،اوداكلام مشتمل دې په تاكيداوپه حصردعلم غيب په ذات دالله تعالى پورې

مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ[1]
[1] ندي ونيلي ما دوئ ته مګرهغه چې تاحکم کړېدې ماته د هغې چې عبادت کوئ صرف دالله چې رب زما اورب ستاسو دې
وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ
او ووم زه[2] پدوې باندې خبر څوپورې چې موجود وم پدوئ کښې، پس هرکله چې تاخه پورته کړم نووې ته خاص نه
الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝ إِن تُعَذِّبْهُمْ
خبردار په حالاتو ددوئ اوته په هر څيز باندې حاضر ناظرئې که چرې ته عذاب ورکوې دوئ ته
فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝
بيشکه دوئ ستا بندګان دي اوکه ته بخښنه کوې دوئ ته نوپس بيشکه ته صرف زورآور حکمتونوالائې

﴿مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي﴾ دا جواب دې په څلورمې طريقې سره (الاماامرتنى) استشناء متصله ده څکه چه، (ماقلت) په معنى دماامرتُ سره دې،ليکن دادب دوجه نه، اودمناسبت د(قلت للناس) دوجه نه تعبيرپه قلتُ سره شويدې،﴿أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ﴾ بيان د(ماامرتنى) دې،اوپه دې کښې معنى دحصر مرعى ده،يعنى صرف ديوالله تعالى عبادت کوئ،چه هغه زماهم رب دې اوستاسوهم دې.

(۵) پنځم داچه ﴿وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا﴾ ترڅوپورې چه زه په دوئ کښې موجودوم نوماد دوئ نګرانى کوله اودتوحيدتعليم مې ورته ورکولو،﴿فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي﴾ مراد ددې نه رفع الى السماء ده

1 - جواب نمبر ٤

2 - جواب نمبر ٥

یاترینه مرادموت دې بعد دنزول نه، ﴿ الرَّقِيبَ ﴾ نګرانی کوونکې. دعالم په احوالو اواعمالو، اوشهیدپه معنی دحاضرسره دې، دشهود، مشاهده نه ماخوذدې په معنی دعالم سره او دشهادت نه په معنی دعلم سره ماخوذدې، اوپه حدیث دبخاری کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه په قیامت کښې به څه خلق زمادامت نه راوستلې شی اوچپ طرف (جهنم) ته به روان کړې شی، نوزه به اووایم أصیحابی، أصیحابی، دوئ خوزماسره لګه ملګرتیاکړې وه، نواوبه وئیلې شی (انک لاتدری ما أحدثوابعدک) تاته پته نشته چه دوئ ستانه روستوڅه بدعات پیداکړی ؤو، ددې نه مرادفرق مبتدعه دی لکه خوارج روافض اونوراهل بدع او صحابه نه دی مراد (قال العینی ص۳۴۸، جلد : ۷ قال ابوعمروکل من احدث فی الدین فهومن المطرودین عن الحوض کالخوارج والروافض وسائراصحاب الاهواء، وکذالک الظلمة المسرفون فی الجوروطمس الحق والمعلنون بالکبائر) .فیض الباری جلد۴ص۳۱. نونبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زه به وایم لکه چه عبدِصالح وئیلی دی (**وکنت علیهم شهیدامادمت فیهم**) قادیانی لعین استدلال کړې دې په وفات دعیسی علیه السلام باندې چه نبی صلی الله علیه وسلم داخبره چه (**وکنت علیهم شهیدامادمت فیهم فلماتوفیتنی**) دوفات نه روستوذکرکوی او(**توفیتنی**) په معنی دموت سره دې.نوپه قول دعیسی علیه السلام کښ هم په معنی دموت سره دې په مقتضی دتشبیه سره (فاقول کمال قال العبدالصالح) نومعلومه شوه چه عیسی علیه السلام وفات دې، **جواب** ددې نه دادې چه دلته د(**توفیتنی**) نه معنی عامه مراد ده، چه شامله دموت ته، اورفع الی السماء ته نوتشبیه په اعتباردیوې معنې سره ده، اوکه مرادترینه موت شی نوهغه موت مراد دې چه بعد د(نزول من السماء الی الارض) نه دې.

﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ﴾ بعض مفسرین.لکه سدی وغیره وائی چه داکلام دعیسی علیه السلام په دنیاکښې دې، اومطلب ئې دادې چه که ته دوئ په کفرباندې باقی پاتې کړې اوبیا ورله په آخرت کښې عذاب ورکوې نوپه تاڅه اعتراض نشته، اوکه ته ورته هدایت اوکړې او په آخرت کښې ئې معفرت اوکړې نوته په دې هم قدرت لرې،لیکن جمهورمفسرین وائی چه داکلام دعیسی علیه السلام په آخرت کښې دې،لیکن نصاراؤکفراوشرک اودروغ ثابت شویدی عیاناًنو لهذا ددې آیت نه مقصود دهغوئ دپاره شفاعت کول نه دی ځکه چه دکافرانودپاره شفاعت کول جائزنه دې،بلکه داتفویض دامردې الله تعالی ته او اظهاردبراءت دې دهغوئ نه. چه یاالله

نه ورسره پوهه شه اوزه ترینه بری یم. اگرکه دمحبت دعوه کوی دعیسی علیه السلام سره لیکن کوم محبت چه دوئ کوی نودغه موجب دتقرب نه دي. اوحضرت عیسی علیه السلام په دغه شان محبت کولوباندي نه خوشحالیږی اوددغه شان محببنونه به اظهاردبراءت اوکړی. اوکه دجناب سید الکونین صلی الله علیه وسلم سره که څوک داسې محبت کوی لکه چه نصاراؤدعیسی علیه السلام سره کړې دي نوداهم موجب دتقرب اودنجات نه دي بلکه موجب دحرمان دي دشفاعت نه. لکه په یوروایت کښې دی. (فاقول،سحقاسحقا) داداهلِ بدعت په حق کښې دی (کماقال العینی رحمه الله. اوصحیح عشق اومحبت هغه دي چه په کښې اتباع دسنتِ رسول صلی الله علیه وسلم وی اوداد پیرلوئ سعادت دي (اللهم ارزقناه). اوچه څوک ارتکاب دبدعاتو کوی اوسنت ترک کوی اوبیاهم دمحبت دعوه کوی نوداغلطه دعوه ده. (ان تعذبهم) شرط دي. جزاء ئې مقدره ده چه (فلیس علیک اعتراض) داروستوعلت دي دمحذوف جزاء دپاره نوتقدیردعبارت دارنگه دي (ان تعذبهم فلیس علیک اعتراض لانهم عبادک وهم عبدواغیرک) یعنې که ته ورته عذاب ورکوې نو په تا هیڅ اعتراض نشته دي ځکه چه دوئ بندگان ستا وؤ او عبادت ئی دَ غیر کولو. اودارنگه داروستوقول چه ﴿وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ﴾ دي شرط دي جزاء مقدره ده چه (لایلحقک عجزفانک انت العزیزالحکیم) یعنی دوئ ته عذاب نه ورکول دعجزپه وجه به نه وی. ته عزیز ئې. بلکه دحکمت په وجه به وی ځکه ته حکیم ئې.

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ۭ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ

اوبه وائی الله داورځ ده نفع به ورکوی رښتیا ویونکو ته رښتیا ونیل دهغوئ، دولره جنتونه دي چې بهیږي

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

لاندې دهغې نه ولې همېشه به وي په هغې کښې همېشه. راضي دي الله ددوئ نه اودوئ راضي دی دالله نه. داکامیابی ده

الْعَظِيْمُ ﴿١١٩﴾ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ۭ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٢٠﴾

لویه خاص الله لره ده بادشاهي دآسمانونو او زمکې اودهغه څه چې په دې کښې دی. اودي په هرڅه قدرت لرونکي دي

﴿قَالَ اللّٰهُ﴾ دابشارت دي. ﴿هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ﴾ مرادصدق دي په دنیاکښې ځکه داحال دمکلف والی دي. آخرت حال دمکلفْ والی نه دي نوهلته صدق فائده نه ورکوی. ابلیس علیه اللعنة به په آخرت کښې رښتیااووائی لکه (وقال الشیطان لماقضی الامر) الخ (سورت

ابراهیم ع۲۲ .لیکن هغه په دنیاکښې کاذب ؤ.نوداَخرت صدق ورته نفع نه ورکوی. اوبه صدق کښې توحیداودعوت دتوحیداولاَداخل دی نوددې وجه نه د«الصادقین» نفسیریه المؤمنین، سره اوپه «النبیین» سره شویدې.اودنفع نه مراد ثواب دې چه بیان ئې شوئ دې په دې قول سره ﴿لَهُمْ جَنّٰتٌ﴾ اودتولونه لوئ نعمت رضاء الهی ده.نو﴿رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ﴾ الله تعالی راضی دې د دوئ نه په سبب دصدق سره اودوئ راضی دی دالله تعالی نه په سبب دثواب موندلوسره.اودالویه کامیابی ده.

﴿لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ﴾ دادسورت دمضامینوخلاصه ده.اوبیان دنفی دشرک فی التصرف دې صراحةً اودنفی د شرك فعلی دې ضمناً ،اورد دې په نصاراؤباندې.چه دآسمانونو . زمکو .او د «مافیهن» اختیاراوتصرف الله تعالی لره دې نه عیسی علیه السلام اونه موزدعیسی علیه السلام لره. نوهغوئ معبود ،الهه نشئ کیدې.نوثابت شو«لااله الاالله» اوبیانونکې ئې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دې،نوثابت شو.

لا اله الا الله محمد رسول الله

اللهم صل علیه وعلی اٰله وسلم- کما تحب وترضی-

«اللهم صل علیه وعلی اله وسلم،کماتحب وترضی»

سورة مائده ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً

۷ ذی قعده سنه ۱۴۲۷ هـ ، ۲۹ نومبر سنه ۲۰۰۶ ع

ركوع	سورة الانعام مكية	اٰيتونه
۲۰	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۱٦٥

خاص په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکي دي (شروع کوم)

رقمها حسب التسلسل ٦ وحسب النزول ٥٥

ربط

ربط اسمي دادې چه الله تعالى به په تاسو باندې مائده د رحمت نازلوی په شرط ددې چه تاسو په خپل انعامو کښې د غيرالله د تقرب دپاره حصه نه مقررکوئ او د غيرالله تحريمات نه کوئ، ماخذ آيت نمبر ۱۳۲۔

ربط معنوی مضمونی دادې چه دسورت مائده مضمون يعني نفی دشرک فعلی اونفی دشرک اعتقادی دلته معادکيږی، ليکن دهغې برعکس، يعنی اول مضمون دنفی دشرك اعتقادی دې اوثانيًا مضمون دنفی دشرک فعلی ذکرکيږی، د ابتداء نه دآيت نمبر ۱۱۷ پورې اول مضمون دې يعنی نفی دشرک اعتقادی، اودآيت نمبر ۱۱۸ نه دآخرپورې دويم مضمون دې يعنی نفی دشرک فعلی اوفرق په مابين ددواړوسورتونودمضامينو، دبيان کښې دادې.

نفی دشرک فی التصرف:-(۱) په سورت مائده کښې په حاملينودعقيدې دشرک باندې فتوې ډيرې وې. ﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ﴾او ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ﴾ليکن ددلائلو قلت وودلته فتوی نشته، اودلائلو کثرت دې.

(۲) په سورت مائده کښې نفی دتصرف اودعلم غيب دعيسى اودحضرت مريم عليهما السلام نه وه .اوخطاب نصاری ؤته وؤليکن دلته عام دې(۳) دنفی دشرک فی التصرف په سلسله کښې ددلائلوسره،دمشرکينودشبهاتواوددوئ په زړونوکښې دپيداشوی سوالاتو جوابونه هم ذکرکيږی دسوالاتوتعداداوه (۷) دې بعض صراحةً مذکوردی اوبعض په ضمن دجواب کښې ذکردی .او طريقه تبليغ يعنی داشاعت دتوحيداودتبليغ طريقه کارتعليم هم مذکوردې اوپه سورة مائده کښې دامورنه ؤومذکور(۴)دمشرکينودانکاروجوهات هم ذکرکيږی ددې تعدادهم اوه دې.

نفی دشرک فعلی-ده سورت مائده نه فرق دادې (۱)په سورت مائده کښې دتحريمات غيرالله دردپه ضمن کښې دبحيره سائبه وغيره ذکرؤو دلته دنورو شقو بيان دی (۲) په سورة

منده کښې دنذرلغیر الله دنفی په ضمن کښې دمَاذُبِح لغیرالله حکم صراحةً اودنوروحکم ضمنًا بیان شویدې اودلته د **ماذبح** نه علاوه دنوروحکم صراحةً مذکوردې(۳)دلته دمشرکینو دلیل اودهغې ردمذکوردې ﴿لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا﴾ اوپه مائده کښې نه ؤومذکور

(۴)په سورت مائده کښې دلائل په نفی دشرک فعلی باندې نه ؤو-اودلته دلیل نقلی اووحی دنفی دشرک فعلی دپاره مذکوردی- ﴿ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ﴾ ﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ﴾ (۵)دلته دنذرلِله ذکرنشته دې البته دتحریمات الله باقی شقوق مذکوردی،

خلاصه دمضامینودسورت:-ددې سورت دوه حصې دی اوله حصه دابتداء نه ده آیت نمبر۱۱۷پورې ده،دویمه حصه دآیت نمبر ۱۱۸ نه دآخرپورې ده په اوله حصه کښې دشرک اعتقادی نفی ده اوپه دویمه حصه کښې دشرک فعلی نفی ده اوپه آخری دری آیاتونوکښې دواړه مضمونه جمع شوی دی:

د اولې حصې تفصیل دادې چه دلته یودعوٰی دسورت ده چه ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾اوبله سلسله ددلائلوده دعوې د اثبات لپاره درې قسمه دلائل ذکرکیږی- عقلی ،نقلی،وحی، اوبله سلسله درددشُبهاتودمشرکینوده، بله سلسله دطریقه تبلیغ ده اوبله سلسله دوجوهو دانکار دمشرکینوده، دلائل عقلیه ۱۷دی_دلائل نقلیه دوه دی- وحی درې دی، رددشبهاتودمشرکینو اوه دی، طریقې تبلیغ اوه دی، وجوه دانکاردمشرکینوهم اوه دی-

دلائل عقلیه - ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ دعوی ده ﴿ٱلَّذِى﴾ آیت نمر۱ دلیل اول دې-﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم﴾ آیت نمبر۲دلیل ثانی دې-﴿وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾الخ آیت نمبر :۳ دلیل ثالث دې. ﴿قُل لِّمَن مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾آیت نمبر۱۲دلیل عقلی رابع دې ﴿وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِى ٱلَّيْلِ﴾آیت نمبر۱۳ دلیل خامس دې ﴿وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ﴾آیت نمبر۱۷ دلیل سادس دې ﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ﴾الخ آیت نمبر۳۷دلیل سابع دې ﴿قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ﴾آیت نمبر ۴۰-۴۱دلیل ثامن دې او ﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ﴾ آیت نمبر۴۲دلیل تاسع دې اوآیت ۴۷اعاده دلیل ثامن ده ﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ﴾آیت نمبر۵۹ دلیل عاشردې﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم﴾الخ آیت نمبر۶۰-۶۱-۶۲یولسم دلیل دې ﴿قُلْ مَن يُنَجِّيكُم﴾آیت نمبر ۶۳ ، دولسم دلیل دې ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ﴾آیت نمبر ۷۳ ،دیارلسم دلیل

﴿إِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى﴾ آیت نمبر ۹۵-۹۶ څوارلسم دلیل دې- ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ﴾ الخ آیت نمبر ۹۷ پنځلسم دلیل دې اوآیت نمبر ۹۸-شپاړسم دلیل دې اوآیت نمبر ۹۹ اولسـ دلیل عقلی دې.

دلائل نقلیه - ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ﴾ الخ آیت نمبر ۷۴ تر آیت نمبر ۹۰ پورې دلیل نقلی اول دې دابراهیم علیه السلام نه تفصیلاً اودباقی ۱۷ انبیاؤنه اجمالاً په طوردستخط ﴿وَالَّذِينَ ءَاتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ﴾ آیت نمبر ۱۱۴ دلیل نقلی دویم دې دمؤمنین سابقینونه-

دلائل وحی - ﴿وَأُوحِيَ إِلَيَّ هٰذَا الْقُرْءَانُ﴾ الخ آیت نمبر ۱۹ دلیل وحی اول دې ﴿وَهٰذَا كِتٰبٌ أَنزَلْنٰهُ﴾ آیت نمبر ۹۲ دلیل وحی دویم دې ﴿اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ﴾ آیت نمبر ۱۰۲ دلیل وحی دریم دې.

جوابات دشبهاتود مشرکینو : په آیت نمبر: $\frac{۱}{۷}$ $\frac{۲}{۸}$ $\frac{۳}{۹}$ $\frac{۴}{۳۷}$ $\frac{۵.۶.۷}{۵۰}$ کښې دی

طریقه تبلیغ-په آیت نمبر $\frac{۱-۲}{۱۴}$ $\frac{۳}{۱۵}$ $\frac{۴-۵}{۵۶}$ $\frac{۶}{۵۷}$ $\frac{۷}{۵۸}$ کښې ده.

وجوه دانکاردمشرکینو:-چه دااوه دی پنځه په اوله حصه کښې دی اودوه په دویمه حصه کښې ذکردی اوهره وجه په کذالک سره ذکرده-آیت نمبر $\frac{۱}{۵۳}$ $\frac{۲}{۵۵}$ $\frac{۳}{۱۰۵}$

﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا﴾ ﴿كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ﴾ $\frac{۴}{۱۰۸}$

$\frac{۵}{۱۱۲}$ $\frac{۶}{۱۲۳}$ $\frac{۷}{۱۲۹}$

ددې نه علاوه نورې شکوې،زجرونه،تخویفات، بشارات تسلی حضورصلی الله علیه وسلم ته ذکرکیږی اوپه **حصه ثانی** دسورت کښې،دنفی دشرک فعلی دپاره، ددرې مسئلو ذکر کیږی.(۱) تحریمات غیرالله(۲) تحریمات الله(۳) نذرلغیر الله-دتحریمات غیر الله اونذرلغیر الله .بعض هغه صورتونه ذکرکیږی چه په سورت مائده کښې نه وو ذکرشوی، دامضامین دآیت نمبر ۱۱۷ نه شروع کیږی دآیت نمبر ۱۵۳ پورې ،اوبیادلیل نقلی دې دواړو مضامینو یعنی دشرک اعتقادی اونفی دشرک فعلی دپاره ذکرکیږی اوبیادلیل وحی ذکرکیږی- اوبیاد

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي﴾ الخ آیت نمبر ۱۲۲ نه بعد . ددواړو مضامينو اجمالاً اعاده کيږي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

تمام صفتونه [1] «دخدائي توب» خاص الله تعالى لره دي هغه الله [2] چه پيدا کړي ئې دي آسمانونه او زمکه

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ① هُوَ الَّذِيْ

او پيدا کړې ئې دي تيرې [3] او رڼرا . بيا هم کافران د خپل رب سره خپل معبودان برابروي دي هغه [4] ذات دي

خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰۤى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ

چه تاسو ئې پيدا کړي يئ دختې نه بيا ئې مقرر کړيده نيته د مرګ، اويوه نيته مقرره ده په نيز د ده «يعنې قيامت»

ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ②

بيا هم تاسو شك کوئ

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ ددې ځائې نه دقرآن دويمه حصه شروع کيږي چه دسورت بني اسرائيل په آخرباندې ختميږي نوددې وجه نه داسورت په «الحمدلله» سره شروع شو . ددې حصې مرکزي مضمون ربوبيت دي . يعنې ده هرې هرې ذرې دکائناتولکه چه خالق صرف الله تعالى دي نودغه شان دهرڅه تربيت کونکي اوخپل حد کمال ته رسونکي صرف الله تعالى دي . «الحمد لله» دعوى ده ﴿اَلَّذِيْ﴾ موصول سره دصله ئې دليل عقلي آفاقي اول دي چه مشتمل دي په علوي «سموات» سفلي «ارض» جوي «ظلمة نور» باندې «سموات» جمع ذکرشوه او «ارض» مفرد . په دې کښې اشاره ده تفاوت ته په شرافت کښې . ځکه اشرف په صيغه دجمع سره ذکر کيږي . وجه

۱ - ددې نه د د قرآن دويمه حصه شروع کيږي چه د سورت بني اسرائيل په آخر باندې ختميږي نو د دې وجه نه دا سورت د «الحمد لله» نه شروع شو . د دې سورت اوله حصه . نفي د شرك في التصرف ده . دی ځائ نه تر آيت نمبر «۱۱۸» پورې ده

۲ - موصول سره د صلې نه دليل اول دي

۳ - «ظلمات» جمع او «نور» مفرد راوړل محاوره ده . يا د ظلمات يعنې : کفر لارې ډيرې دي او د نجات لار يوه ده . «ثم» د استبعاد لپاره دي

۴ دويم دليل عقلي

داشرفية د آسمان داده چه دامحل دملائكومقربينودې، اوقبلة الدعاء دې اومحل دعروج دارواحوطاهرودې اودقدرت درب العلمين لوئې دليل دې اومحل دعاصيانوندې، اوذزمکې ته اګرکه شرافت حاصل دې ليکن اسمان ته زيات حاصل دې،او«ظلمات» جمع او«نور» مفردذکرشويادې وجې نه چه محاوره دغه شان ده يادموافقت دسموات والارض دپاره. يادې وجې نه چه ظلمة خاص دې اونورعام دې چه حسي وي اوکه معنوي وي اومعنوي ظلمة ضلالت دې اومعنوي نورهدايت دې اوضلالت اودباطل لارې او طريقې ډيرې دي اودهدايت اودحق لاريوه ده نوځکه نورمفرد ذکرشو﴿ثُمَّ الَّذِينَ﴾ ثم داستبعاددپاره دې،يعنى هرکله چه علويات،سفليات،جويات، ټول الله تعالى دوحدانيت دلائل دي نوشرک کول مستبعددې په نيزدعقل سليم، ﴿بِرَبِّهِمْ﴾جارمجرور، دمابعدسره متعلق دی چه﴿يَعْدِلُونَ﴾دې اودامشتق دې دعدل نه په معنې دبرابرګڼړلوسره يعنى شريک ګرزول-يادعدول نه مشتق دې،په معنى داعراض مخ اړولوسره نوجارمجروردکفروا سره متعلق دې-اى﴿الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ﴾ يعنى هغه خلق چه په خپل رب ئې کفرکړيدې دوئ مخ اړوى دحق نه.

﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ﴾دادويم دليل عقلى انفسى دې اوپه دې کښې دحصرمعنى ده-اوپيداکول دطين نه په دې اعتبارسره دی چه طين اوله ماده اواصل ماده، دانسانانوده اوبعض وائى چه په عبارت کښې حذف دمضاف دې اى خلقَ آباءکم.﴿ثُمَّ قَضَىٰ أَجَلًا﴾ثم دتراخى ذکرى دپاره دې(پهريه بهى سنو) اودتراخى اوترتيب زمانې دپاره نه دې، ﴿قَضَىٰ﴾په معنى دمقررکولوسره دې اوداجل نه مرادنيته دمرګ ده، اود﴿وَأَجَلٌ مُّسَمًّى﴾ نه مرادورځ دقيامت ده چه تعين ئې صرف الله تعالى ته معلوم دې﴿ثُمَّ أَنتُمْ﴾ داهم داستبعاد دپاره دې ﴿تَمْتَرُونَ﴾ دمريَةٌ نه مشتق دې په معنى دشک سره يا د مِرآء نه مشتق دې په معنى دجګړې سره يعنى تاسوجګړه اواختلاف کوئ په توحيد کښې.

وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ ۖ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ
او صرف دې الله دې [1] (معبود برحق اومتصرف) په آسمانونو کښې او په زمکه کښ، پوهيږى په پټو حالاتو ستاسو

---

[1] - دريم دليل عقلى

وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ۝ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ

او په ښکاره حالاتو ستاسو او عالم دې په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ او نه راځي [1] دوئ ته څه نښه دليل

مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ۝

د نښانو [2] درب د دوئ نه. مگر دوئ د هغې نه اعراض (څنگ) کوونکي دي

فَقَدْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَسَوْفَ

پس په تحقيق سره دوئ نسبت د دروغو کړو حق ته، هر کله چه دوئ ته حق ورسيد. پس زر ده چه [3]

يَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ۝

را به شي دوئ ته حقيقت د هغه خبري (عذاب) [4] چه دوئ په هغې پورې ئې مسخري کولې

﴿وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِى ٱلْأَرْضِ﴾ دادريم دليل عقلي دې. «في السموات والارض» جارمجرور دلفظ د «الله» سره متعلق کيدل په ظاهر نه دې صحيح ځکه متعلق د جارمجرور فعل وي يا هغه شئې وي چه په معنی دفعل کښې وي، نو ددې وجې نه مفسرين وائی چه دلته دلفظ دالله نه مراد معنی مشتقی ده چه معبود برحق - يا متصرف دې مشرکينو تقسيم کړې وؤ- الله تعالی ته به ئ اله السماء وئيل او خپل معبود باطل ته به ئې اله الارض .وئيل نو الله تعالی فرمائی چه دا تقسيم نشته، دهرځه اله صرف الله تعالی دې کما قال الله ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ﴾ زخرف ۸۴ ﴿يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ﴾ په دې کښې دحصر معنی اود ﴿تَكْسِبُونَ﴾ نه مراد اعمال مکتسبه دی په جوارحو سره يا په قلب سره اوددی ذکر کول بعدد «سركم وجهركم» نه دوجې داهتمام نه دې ځکه چه اعمال مکتسبه مدار دجزاء او سزا دی

﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ﴾ دازجر دې اوشکوی ده، په دې کښې زجر او شکو ی په درې امورو

---

۱. زجر

۲. دلائل د توحيد مراد دی

۳. تخويف دنوی .

۴. عملی ظهور د وعده سزا .

باندې ده اول اعراض – دويم تكذيب دريم استهزاء ﴿فَقَدْ﴾ «فاء» د تعقيب ده يعنې روستو د اعراض نه ئې تكذيب او استهزاء وكړه. ﴿أَنبَٰٓؤُا مَا﴾ انباء نه مرادحقيقت اودوعدهٔ سزاعملي ظهوردې. يعنې په كوم عذاب اوتخويف پورې چه دوئ استهزاء اومسخرې كوی نودهغې عملی ظهوربه عنقريب اوشی اوحقيقت به ئې ښكاره شي

أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّٰهُمْ

آيا نه گوری دوئ چه څومره هلاك كړيدی مونږ مخكښې د دوئ نه ډلې (پيړئ). قوت وركړې وؤ مونږ هغوئ ته

فِي الْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ وَأَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا

په زمكه كښې دومره چه مې ندې دركړې تاسوته، اورا اليږلی وؤ(ورولی وؤ) مونږ بارانونه په دوئ پرله پسې (په قدرد ضرورت)

وَجَعَلْنَا الْأَنْهَٰرَ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ

اوگرځولی وو مونږنهرونه چه بهيدل به لاندې ددوئ نه پس هلاك كړل مونږدوئ لره په سبب د گناهونو د دوئ

وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ۞ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَٰبًا

او پيدا كړل مونږ روستو د دوئ نه قوم نور او كه نازل[1] كړې وې مونږ په تا باندې كتاب (ليكلې شوې)

فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۞

په كاغذونو كښې. پس مسه كړې وې دوئ هغه په خپلو لاسونو سره خامخا به وائی كافران ندې دا مگر جادو ښكاره دې

﴿أَلَمْ يَرَوْا﴾ داتخويف دنيوی دې، اورؤية نه مرادرؤية علمی دې يابصری دې او﴿كَمْ﴾ استفهاميه هم كيدې شی اوخبريه هم كيدې شی اوداقائم دې په مقام دمفعول ده (يرى) باندې او ﴿قَرْنٍ﴾ ديوې زمانې خلقوته وائی، اومدت دقرن بعض وائی (۱۲۰) كاله دې او بعضې وائی (۱۰۰) اوبعضې وائی (۸۰) يا (۷۰) يا (۶۰) يا (۳۰) يا (۲۰) كاله او بعضې وائی چه اوسطه زمانه دعمرونو دخلقو دهردورته قرن وائ(پيړئ) ﴿مَّكَّنَّٰهُمْ﴾ دې نه جسمانی اومالی قوت مراددې، يعنې هغوئ ته مونږدومره جسمانی اومالی قوت وركړې وؤ چه تاسوته م نه

1 - د اولې شبهې جواب

دي در کړي. ﴿وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ﴾ ددينه مراد باران دي او ﴿مِدْرَارًا﴾ په معنی د متتابعةٌ سره دي. پې درپې. خو دحاجت موافق ، یا دسماء نه سحاب، «وریځ» مراد ده اومدراراً په معنی دکثیرالدرور، کثیرالصب«ډیره ورونکی» سره دې «مدرارا» منصوب دې حال دې دالسماء نه ﴿وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمْ﴾ یعنی نهرونه ددوئ په اختیاراوتصرف کښې وو. یاددوئ دبنګلو. اوفصلونودلاندې بهیدل.یعنی بارانونه پرې هم وریدل اونهروونه ئې هم جاری وو. نودفصلونو، میوؤ پیداوارئې ډیرزیات وو. غرض داچه مادی قوت اووسائل ؤرسره ډیرزیات وؤلیکن ایمان ورسره نه وؤ، اودکفراوشرک مرتکب وؤنومونږ هلاک کړل-دذنوب نه مرادکفرشرک اونورقبائح دی ﴿وَأَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ﴾ یعنې د دوئ په هلاك کیدلوسره د دنیا په ودانئ کښې هیڅ فرق نه وؤ راغلي ﴿وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا﴾ دادمشرکینوپه شبهاتوکښې داولې شبهې جواب دې، شبهه «سوال» مقدردې، په سورة بنی اسرائیل کښې دی.﴿وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ﴾اوپه حدیث کښې دی چه دمکې بعض مشرکانواووئیل که محمدصلی الله علیه وسلم یوتیارلیکلې شوې کتاب دآسمان نه راوړی چه څلورفرشتې ورسره هم وی اوزمونږ په مخکې ګواهی اوکړی چه بیشکه داکتاب دالله تعالی دطرفه رالیږلې شوې دې نومونږ به ایمان راوړو-په بل روایت کښې دی چه عبدالله بن ابی اُمیه، دنبی صلی الله علیه وسلم نه معاندانه سوال اوکړو چه زه په تاباندې ترهغه وخته پورې ایمان نه راوړم ترڅوچه داواقعه ؤنه وینم چه ته اسمان ته ؤخیجې اویوخط راوړې چه په هغې کښې څمانوم وی،ماته داسې لیکلی شوی وی چه زه دې ستاتصدیق اوکړم اوبغیرددې نه په تاباندې ایمان نه راوړم، نوداآیت نازل شو، عبدالله بن ابی امیه بیامسلمان شو اوپه عزوهٔ طائف کښې شهیدشو، حاصل دجواب دادې چه که چرې الله تعالی ددوئ دغه مطالبه پوره کړی، اوداسمان نه کتاب نازل کړی اودوئ ئې اووینی اوپه لاسونوسره ئې مسح کړی چه دنظربندئ احتمال هم پاتې نه شی، نودوئ بیاهم نه منی اووائی به چه داجادو،سحر،دې څکه چه څوک چه سوال اوطلب دمعجزې دعنادپه وجه کوی نودهغه سوالات نه ختمیږی ﴿فِي قِرْطَاسٍ﴾بعض وائی چه دالفظ معرب دې د کراسة نه اوبعض وائی چه دالفظ عربی دې یامشترک دې، په معنی دکاغذسره مطلقًا یاهغه کاغذچه لیکل پکې شوی وی اوجارمجروریامتعلق د-دمقدرسره معنی ئی داده چه رانغختې شوې په کاغذکښې یامتعلق دې دکتابًا سره که

هغه په معنې دمكتوب سره شي، ﴿فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ﴾ لمس په معنى دمس باليد سره دې نو ذكر د (بأيديهم) دپاره دزيات تعين اوددفع دتوهم دمجازدې. اودلته ((**واوه**)) ذكرنشوبلكه ((**لمسوه**)) ذكرشو ځكه چه علم په ذريعه دلمس سره ډيرقوى وى ځكه چه مرئې-(ليدلې شوې) باندې سحر راځى اوپه ملموس باندې نه راځى. بل داچه لمس ړوندهم كولې شى په خلاف درؤيت نه چه ړوندئې نه شى كولې.

وَقَالُوا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ وَلَوْ أَنْزَلْنَا

او وائى دوئ چه ولې نشې نازلولې په ده (نبى صلى الله عليه وسلم) باندې فرشته. او كه نازل كړې وې مونږ

مَلَكًا لَّقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ⑧ وَ لَوْ جَعَلْنٰهُ

فرشته [1]. خامخا به فيصله شوې وې د كار د ددوئ بيا به دوئ ته مهلت نشى وركيدلې او كه جوړ كړې وې مونږ رسول

مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ

فرشته نو خامخا به مونږ ګرځولې وې په شكل د سړى اوخامخا به شك راوستې وې مونږ په دوئ باندې

مَّا يَلْبِسُوْنَ ⑨ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

هغه چه اوس كوم شك كوى دوئ او په تحقيق سره [2] مسخرې كړې وې په ډيرو رسولانو پورې مخكښې ستا نه،

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑩

پس راګير كړو هغه كسانو لره چه مسخرې ئى كولې په دې پورې، هغه عذاب چه دوئ ورپورې مسخرې كولې

﴿ وَقَالُوا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ﴾ دا دويمه شبهه ده، مشركينوويل چه فرشته دده سره ولى نه راځى چه مونږ ئې اووينواوخبرې ئې واؤرولكه په سورت فرقان كښې دى ﴿لَوْلَآ أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا﴾ نوجواب اوشوچه ﴿وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا﴾ كچرې فرشته راشى اومشركين ئى وه وينى اوخبرې ورله واؤرى اوبيا هم ايمان نه راوړى نوفوراً به هلاك كړېشى اومهلت به ورته

---

۱ - د دويمې شبهې جواب.
۲ - تسلى . تخويف دنيوى

نئي وركولي ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ مَلَكًا ﴾ دادريم سوال جواب دي چه دبشرپه ځاي ملك رسول ولي نه راځي. نوجواب راغي چه كه الله تعالى فرشته رسول راوليګی نوځامخابه په شكل بشری كښي راځي ځكه چه دصورتِ ملكی ليدل دعوامودپاره قابل دتحمل نه دی بلكه دخواصو دپاره هم مشكل دی- اوچه فرشته په شكل بشری كښي راشي نوبيابه په دوئ باندي اشتباه راځي-﴿ وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم ﴾ دوئ به په هغه شبه اواشتباه كښي واچؤ چه اوس پكښي دی-﴿ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ ﴾ داتسلی ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اوتنوين په «بِرُسُلٍ» كښي دتكثيريادتفخيم دپاره دي﴿ فَحَاقَ ﴾په معنی دنزل، احاط سره دي

﴿ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُم ﴾په هغه كافرانوباندي چه مسخری ئي كولي په انبياؤپوري-﴿ مَّا كَانُوا بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ دافاعل د(حاق) دي، مرادترينه عذاب دي، يعنی په استهزاء كونكو باندي هغه عذاب نازل شو چه دوئ به په هغي پوري مسخری كولي.

قُلْ سِيرُوا فِي ٱلْأَرْضِ ثُمَّ ٱنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ۝ قُل لِّمَن
ته وايه چه وګرځئ [1] په زمكه كښ بيا وګورئ چه څنګه وو آخر انجام د تكذيب كونكو وه وايه : چا لره دی [2] اختيار
مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُل لِّلَّهِ ۚ كَتَبَ
د هر هغه څه چه په آسمانونو كښ دی او په زمكه كښ دی ، وه وايه چه الله تعالى لره دي . لازم كړي ئی دي
عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ ٱلَّذِينَ
په خپل ځان باندي رحم كول، خامخا به جمع كړی تاسو په ورځ د قيامت كښ، نشته دي هيڅ شك په هغي كښ. هغه كسان
خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝ وَلَهُۥ
چه تاوان كښ ئی اچولی دی خپل نفسونه نو پس دوئ ايمان نه راوړی. او خاص [3] د الله تعالى په اختيار كښی دی

۱ ـ تخويف دنيوی.

۲ ـ خلورم دليل عقلی علی سبيل الاعتراض من الخصم

۳ ـ پنځم دليل عقلی .

مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝

هر هغه څه چه ارام کوي په شپه او ورځ کښې، او صرف دې دهر څه اوريدونکې او په هر څه عليم دې.

﴿قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ﴾ داتخويف دنيوى دې، يعنى منكرينو او مستهزئينوته اووايه چه په زمكه كښې دعبرت حاصلولو دپاره اوګرځئ اودهغه خلقوانجا م اوګورئې چه دانبياؤ تكذيب ئې كړې وو او استهزاء ئې كړى وه.

﴿قُل لِّمَن مَّا فِي السَّمَاوَاتِ﴾ داڅلورم دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم دې،مافى السموات،والارض، عام دى ذوى العقول اوغيرذوى العقول ټولوته شامل دى، يعنى ددوئ نه داتپوس اوكړه چه تمام كائنات داسمانونو، ملائكه وغيره اودزمكو- انبياء اولياء وغيره، دچاپه اختيار اوتصرف كښې دى- نودوئ به اعتراف اواقرار اوكړى چه داخودالله تعالى په اختيار كښې دى نو ردد شرک فى التصرف راغې، ليكن كه چرې دوئ دخوف دمغلوبيت دوجې نه سكوت اوكړى،نو﴿قُل لِّلَّهِ﴾ نوته اووايه چه دادالله دپاره دى، حضرت الشيخ رحمه الله فرمائى چه دلته همزه داستفهام تقريرى مقدردې ﴿كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ﴾كتب په معنى دمقرر كولو اولازم كولو سره دې په طريقه دتفضل اواحسان سره اودابشارت دې دمؤمنانو دپاره﴿لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾داتخويف اخروى دې دمنكرينو لپاره-﴿الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ﴾ ده خَسِرُوا نه مراد ضائع كول دى او د أَنفُسَهُمْ نه مراد، عقل،نظر، صلاحيت دى- يعنى كوموخلقوچه خپل عقل اوصلاحيت ضائع كړيدې اودلائلو دقرآن ته ئې توجه نده كړې نودغه خلق دايمان نه محروم دى،دايمان نه دمحرومتيا سبب، عقل اوصلاحيت غلط استعمالول دى﴿وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾داپنځم دليل عقلى دې،((سكن)) كه چرې دسكونت نه ماخوذوى نوڅه اشكال نشته دې ليكن كه چرې دسكون نه ماخوذشي،په معنى دارام سره نو**سوال** وارديږى چه ارام په شپه كښې وى اودورځې خوخلق دكاروباردپاره ګرځى راګرځى. **جواب** دادې چه عطف د ((والنهار)) د قبيلې د ((علفتهاتبنّاوماءً بارداً))،نه دې ((اى سقيتها ماءً بارداً)) نودلته مراددادې چه ((والتشرق النهار)) لكه ((وجعل النهارنشوراً))

قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

وه وايه[1]، آيا؛ سوا د الله تعالى نه ونيسم څه مددگار ، دوست ، چه پيدا كونكي دي د آسمانونو او د زمكي

وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ

او هغه خوراك وركوى ټول مخلوق ته، او هغه ته خوراك نشي وركولې، وه وايه[2] بيشكه حكم كړي شويدي ما ته

أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾

چه شم څه اول مسلمان (حكم منونكي) يعني د دې امت (او ويلى شوى دى ماته) چه هرگز مه كيږه د مشركانونه

قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

وه وايه؛[3] بيشكه څه خو يريږم ، كه نافرماني وكړم د حكم د رب خپل نه، د عذاب د ورځې لوئى نه

مَنْ يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُ ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿١٦﴾

هغه څوك چه لرې كړي شو د هغه نه عذاب په دې ورځ (قيامت) كښې نو پس يقيناً رحم وكړو الله تعالى په هغه، او دا كاميابى ښكاره ده

وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ

او كه چرې[4] اورسوى تاته الله تعالى څه تكليف پس نشته دې هيڅ څوك لرې كونكې د هغې سوا د الله تعالى نه

وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

او كه هغه ورسوى تا ته څه خير پس هغه په هرڅه باندې قدرت لرى

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١٨﴾

او دې زورآور (غالب) دې په خپلو بندگانو باندې، اوهغه حكمتونو والا ، خبردار دې

---

1 - اوله طريقه تبليغ.
2 - دويمه طريقه تبليغ.
3 - دريمه طريقه تبليغ.
4 - شپږم دليل عقلي

﴿قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا﴾ دااول طريقه دعوت ده،اواستفهام انكاری دي ﴿فَاطِرِ السَّمَٰوَٰتِ﴾الخ صفت دالله تعالی دي. يعني داسې نه شی كيدې چه دالله تعالی نه غيربل څوک خپل رب معبود . مددګار ونيسم ځكه پيداكوونكې صرف الله تعالى دي اوروزی وركونكې صرف الله تعالى دي،هغه خپل مخلوق ته طعام وركوی-دچانه عوض نه اخلی﴿قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ﴾دادويمه طريقه تبليغ ده،ماته ددې حكم كړې شوې دې چه زه په ((مَنْ أَسْلَمَ))، كښې دصف اول نه شم يايه دې امت كښې اول مسلم، ځكه چه نبي دامت نه اول مسلم وی-﴿وَلَا تَكُونَنَّ﴾دلته (قيل لي) مقدردې ﴿قُلْ إِنِّي أَخَافُ﴾دادريمه طريقه تبليغ ده،په دې درې واړوطريقو كښې نسبت دفعل خپل ځان ته شويدې اومرادترينه مخاطبين دی، (١) يعنی تاسو، دالله تعالی نه غيرولی اومددګارمه نيسئ(٢) اوتاسوتابعدارجوړشئ شرک مکوئ (٣) اوكه چرې عصيان يعنی شرک اوكفراوكړئ نوعذاب ديوم عظيم به په تاسونازل شی،نبی معصوم چه خوف لری دعذاب نه نوتاسو خامخا ؤلرئ-﴿مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ﴾نائب فاعل دیُصرف دپاره ضميردې چه راجع دې عذاب ته يعنی دعذاب ديوم عظيم نه بچ كيدل لويه كاميابی ده، اودايه ايمان سره حاصليږی

﴿وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ﴾ داشپږم دليل عقلی دې په توحيد باندې،چه ضرردفع كونكې، (مرض ،فقر،وغيره) اوخيروركونكې(صحت مال اولادوغيره نورحاجتونه پوره كونكې) صرف الله تعالى دي،تنوين په ((بِضُرٍّ)) كښې اودارنګه ((المس)) دلالت كوی په قلت باندې، يعنی تكليف اګركه قليل وی خودالله تعالی نه غيربل څوک ئې نشی دفع كولې، روايت كړيدې ترمذی اواحمد. دابن عباس رضی الله عنه نه چه دَ كسرٰی بادشاه نبی صلی الله عليه وسلم ته ،بغله،(قچره) هديه وركړې وه نونبی صلی الله عليه وسلم په هغې ركوب اوكړو په رسئ سره دوينښتونه- يعنی واګې،(ملونی)ئې دوينښتونه جوړه كړې شوې رسئ وه،بيائی ځه دخپل ځان نه روستو . پدغه قچره كينَولَمه،نوماته ئې اووئيل،ياغلام، مااووئيل ،لبيک يارسول الله، اوئ فرمائيل چه تاته يوڅوكلمات (خبرې) درخايم ((احفظ الله يحفظک)) الله تعالٰی يادلره دهغه دِ احكامو حفاظت كوه، هغه به تا يادوی، ستا حفاظت به كوی ((احفظ الله تجده تجاهك)) الله تعالی ياد لره، اوبه مومې هغه لره مخامخ اوكله چه ته سوال كوی نوصرف دالله تعالی نه سوال كوه، اوكله چه مددغواړی نوصرف ديوالله نه مددغواړه اوپه دې پوهه شه چه كه چرې أُمت(ټول مخلوق) راجمع شی تاته نفع رَسول غواړی نوتاته نفع نشی رسولې مګرهغه چه الله

تعالى تاله ليکلي وى اوکه ټول مخلوق راجمع شي چه تاته څه نقصان رسول غواړي نوتاته ضررنشي رسولې مګرهغه چه الله تعالی هغه ضررتاله مقررکړې وی. قلمونه «دتقديردليکلو» اوچت کړی شوی دی اوصحيفې «چه تقديرپرې ليکلې شويدې» وچې شوی دی. په بل روايت کښي دی «اعلم ان النصر مع الصبر والفرج مع الكرب وان مع العسريسرا» پوهه شه چه مدد دصبر سره دې اوراحت دمصيبت سره دې اودتنګئ سره اسانی ده ﴿وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ﴾ ددې شرط جزاء مقدره ده چه «فلا رآدّ لفضلِه» اودامذکوريعنی ﴿فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ دمحذوف جزاءدپاره علت دې.

﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ﴾ دادماقبل دليل حصه ده. «قاهر» معنی ده، داسې غالب چه هيڅ څوک ئې د خپلې ارادې نه نشي منع کولې، اوظلم نه کوی، قهرغلبه بلاظلم ته وائی ﴿فَوْقَ عِبَادِهِ﴾ فوقية په اعتباردسمت اوجهت سره نه دې مراد، بلکه دمرتبې. اوقدرت په اعتبارسره دې، يعنی ټول مخلوق دالله تعالی دحکم اوقدرت ماتحت دی، قرطبی وائی «الاستعلاء بالقهروالغلبة عليهم اي هم تحت تسخيره لافوقية مکان» بعض مفسرين وائی چه لفظ دفوق زايددې اوبعض وائی چه په معنی د «على» سره دې داتاويلات ځکه ضروری دی چه فوقية په معنی دجهت اوسمت سره نشي مرادکيدلې، ځکه هغه منزه دې دجهت اودمکان نه، ليکن تحقيق دادې چه مذهب دسلفواثبات دفوقية دې الله تعالی لره لکه تصريح کړې ده په دې باندې امام طحاوی-اوپه دې باند سلفو تقريبًا يوزردلائل وئيلی دی «روح» منجمله دهغې نه حديث الاوعال دې- چه روايت ئې کړيدې احمدبن حنبل دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه چه په هغې کښې يوجمله داده «والعرش فوق ذلک، والله تعالى فوق ذلک کله» بل دابوداؤد حديث دې چه مروی دې دجبيربن مطعم ﷺ نه، چه په هغې کښې يوجمله داده : «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للرجل الذى استشفع بالله تعالى عليه : ويحک اتدرى ماالله تعالى، ان الله تعالى فوق عرشه وعرشه فوق سمواته — الحديث».

فوقية په اعتباردفضيلة سره، فوقية په اعتباردقهرغلبې سره، فوقية په اعتباردذات سره فوقية مطلقه، داټول سلف ثابتوی الله تعالی لره، ليکن لکه څرنګه چه دالله تعالی ذات چاته معلوم نه دې اوذات ئې دچاسره مشابه مماثل نه دې نودغه شان صفات ئې هم دمخلوق سره مشابه مماثل نه دی، بلکه دَ صفاتو د الله تعالی دصفاتودمخلوق سره صرف اشتراک

لفظی دې نو صفت د ،،فوق،، چه الله تعالی لره ثابت دې نو دهغې معنی هغه نه ده چه زمونږ په عرف اومحاوره کښې ده، بلکه داهغه فوقیة دې چه (کمایلیق بجلال ذاته) ،اوفوقیة دجهت اومکان ځکه مرادنه دې چه جهت اومکان ،غیر دې دذات اودصفاتو دالله تعالی نه اوهرهغه شئ چه غیروی دذات اوصفاتو دالله تعالی نه نوهغه مخلوق وی اوحادث وی، اوپه کوم وخت کښې چه مخلوق پیدا نه وؤ نو ذات د الله تعالی سره د خپلو صفاتونه هم موجود وؤ. صاحب د روح المعانی وائی چه لفظ دجهت کله ذکرکیږی اومرادترینه امرموجودغیرالله وی نوپه دې معنی سره جهت مخلوق دې اوالله تعالی منزه دې دَ دینه چه مخلوق په ده احاطه اوکړی، ذات دالله تعالی خارج دې داحاطې دعالم نه ،نوموصوف نه دې په علواوسفل ،فوق تحت ،سره، موصوف په فوق یاتحت سره هغه څوک وی چه ده عالم په احاطه کښې وی. اوکوم ذات چه خالق دعالم دې اوخالق دجهاتودې نوهغه دعالم په احاطه کښې نه دې نوهغه موصوف په فوق سره نه دې اونه په ضددې (تحت) سره دې اوداېدیهی خبره ده، اوکله اراده کولې شی دجهت نه امرِ عدمی نوپه دې معنی سره جهت الله تعالی لره ثابت دې ځکه چه ددې معنی راجع ده سلب ته، نوچه اووئیلې شی: ((الله فوق العالم)) ددې معنی داده ((حیث انتهت المخلوقات)) ،(روح) یعنی دالله فوق العالم معنی داده چه الله تعالی دمخلوقاتودائرې نه باهردې، علامه آلوسی رحمه الله وائی : خلاصه دکلام داد چه واجبه ده تنزیه دالله تعالی دمشابهت دمخلوقاتونه، او واجب دې تفویض دعلم دمتشابهاتوالله تعالی ته، اوواجب دې ایمان په متشابهاتو په هغه وجې سره چه راغلیدی، اوداسې تاویل چه قریب الی الذهن وی اوشائع وی نظیر دهغې،پدې کښې هم باک نشته دې، علاوه داچه بعض آیاتونه داسې دی چه دهغې په تاویل کولوباندې اجماع دسلفواودخلفوده،آه.

قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ۖ قُلِ اللَّهُ ۖ شَهِيدٌ
ته وه وایه[1] چه څه څیز دې دیر لوئ په گواهئ کښ ؟ (څوك لوئ گواه دې) وه وایه چه الله تعالی گواه دې.
بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ
په مینځ ځما او ستاسو کښ او وحې کړې شویده ماته دَ دې قرآن ، دپاره د دې چه څه ویروَم تاسو پدې سره

۱ - ثمره د دلائلو

وَ مَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ

وهغه چا لره چه ورسی هغه ته دا قرآن، آیا تاسو دا شهادت کوئ (منئ) چه بیشکه دَ الله تعالی سره

اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ۚ قُلْ

نور خوك دَ عبادت اوبندگئ لائق شته، ته ووایه، چه خه دا گواهی نه کوم (نه منم) وه وایه

اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا

چه بیشکه صرف هغه دي معبودِ بر حق، یو، او بیشکه څه بیزاره یم دَ عبادت دَ هغه معبودانو نه

تُشْرِكُوْنَ ۟ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ

چه تاسو ئي دَ الله سره شریکوئ. هغه کسان چه ورکړیدي مونږ هغوئ ته کتاب، پیژنی دا قول (یعنی توحید)

كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ۘ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۟

لکه چه پیژنی دوئ خامن خپل، هغه کسان چه تاوانی کړیدی دوئ خپل ځانونه پس دوئ ایمان نه راوړی

﴿قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً﴾ دامتعلق دي ددلائلوسابقوسره اوددغه دلائلوثمره ده، په یوروایت کښي دی چه قریشونبی صلی الله علیه وسلم ته اوویل اي محمدصلی الله علیه وسلم مونږستاپه باره کښي دیهودونصاری ؤنه تپوس اوکړو نوهغوئ اوویل چه نشته دي مونږسره دده ذکر،اونه دده صفت، نوته مونږته داسي څوك اوخایه چه ستادنبوت شهات اوکړی نوداآیت نازل شو، (ای شئ) مبتداء ده (اکبرُ) ورته خبردي (شهادةً) تمیزدي دمبتداء نه،یعنی ته دوئ نه تپوس اوکړه چه دچاشهادت ډیرلوئ دي اوظاهره ده چه لوئ شهادت خودالله تعالی شهادت دي ﴿قُلِ اللّٰهُ﴾ داجواب د ﴿اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً﴾ دي- لفظ د الله مبتداده اوخبرئ محذوف دي چه «اکبرشهادةً» دي، ﴿شَهِيْدٌ﴾ خبر دمبتدا محذوفِ دي (ای وَهُوَشَهِيْدٌ) نو جواب، د سوال سره مطابق شو، یا لفظ د الله مبتداء ده او(شَهِيْدٌ) ورته خبردي اومطابقت دجواب دسوال سره په دي اعتبارسره دي چه هرکله الله تعالی گواه شونوداخوظاهره ده چه گواهی دالله تعالی ډیره لویه گواهی ده هومطابقت حاصل شوپه مابین دسوال اوجواب کښي.

جمهورعلماء وائی چه اطلاق دشئ په ذات دالله تعالی جائزدي اوداسي ونیلي شی «هوشئ

لاكالاشياء)) اودليل ئ داسوال اوجواب دى چه په دې آيت كښې مذكوردى چه ﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ﴾ لفظ دشئ واقع دې په موقع دلفظ دالله كښې (قرطبى) اودارنګه په بل آيت كښې داسې دى ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ وجه په معنى دذات سره اوددې استثناء د ((كل شئ)) نه شويده اواصل په كلام كښې استثناء متصله ده نومعلومه شوه چه ذات دالله تعالى داخل وۀ په كل شئ كښې اوپه استثناء سره خارج شو. ﴿وَأُوحِيَ إِلَيَّ﴾ دادليل وحى دې په توحيد. ﴿وَمَنْ بَلَغَ﴾ داعطف دې په ((كُم)) باندې اوددينه معلومه شوه چه دنبى صلى الله عليه وسلم نبوت باقى دې ترقيامت پورې. ﴿أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ﴾ استفهام دزجرديپاره دې اودشهادت نه مراد دَ عقل شهادت دې ((قاله الشيخ رح)) يعنى ده تيرشوؤ دلائلو نه بعدستاسوعقل داخبره منى؟ اوداشهادت وركولې شى؟ چه دالله تعالى سره نوراٰلهه شته دې. ﴿قُلْ لَا أَشْهَدُ﴾ يعنى څما عقل خودانه منى ﴿قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ زما عقل خو دتوحيد ګواهى وركوى اوكلمه د (إنما) دحصرديپاره ده. يعنى نفى دشرک اواثبات دتوحيد. نودتوحيدذكرپه دې جمله كښې اوشو او دنفى دشرک په دې روستوجمله كښې كيږى. چه ﴿وَإِنَّنِي بَرِيءٌ﴾. ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ﴾ داشكوه ده ﴿يَعْرِفُونَهُ﴾ ضميرياراجع دې قول مذكورته يعنى كله توحيد. لكه شاه ولى الله رحمه الله داسې ترجمه كوى ((مى شناسند حقيقت اين قول يعنى كلمه توحيد)) ياراجع دې ماجاء به النبى صلى الله عليه وسلم ته (ابن كثير) ياراجع دې نبى صلى الله عليه وسلم ته سره دصفاتودهغه نه. لكه روايت دې چه هركله چه نبى صلى الله عليه وسلم هجرت اوكړو مدينى ته راغې اوعبدالله بن سلام رضى الله تعالى عنه اسلام راؤړو. نوحضرت عمررضى الله تعالى عنه ترينه تپوس اوكړوددې آيت په باره كښې چه الله تعالى په خپل نبى (محمد صلى الله عليه وسلم) باند په مكه كښې داآيت نازل كړيدې نوداڅنګه ده؟ نوعبدالله بن سلام اوويئيل چه په تحقيق سره مااوپيژندنبى صلى الله عليه وسلم هركله چه م اوليدو داسې لكه چه خپل زوئ پيژنم. بلكه حضرت محمدصلى الله عليه وسلم زيات خه پيژنم دخپل ځوئ نه. نوعمررضى الله عنه ورته اوويئيل چه دا څنګه، نوهغه اوويئيل چه زه ګواهى كوم په دې چه بيشكه محمدصلى الله عليه وسلم دالله رسول برحق دې. ((ولاادرى ماتصنع النساء)) يعنى نه پوهيګم

چه خزي څه کوی، خیانت کولې شی،، په دې آیاتونوکښې دتوحید بیان دې نوبناء په اوله اودویمه توجیه مناسبت ظاهردې اوبناء په دې اخیره توجیه مناسبت دادې چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم مبین دتوحید دې ﴿اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا﴾ په آیت نمبر ۱۲ کښې وعیدؤ منکرینو دقیامت دپاره اودلته وعیداوتخویف منکرینوتوحیداودرسالت دپاره دې.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ
او څوك دې زیات ظالم دَ هغه چا نه چه جوړ کړی په الله تعالی باندې دروغ، یا نسبت دَ دروغو وکړی آیاتونو د الله.
اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ
بیشکه نه کامیابیږی ظالمان او په هغه ورځ[1] چه جمع به کړو مونږ دوئ ټولو لره بیا به وه وایو
لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾
هغه کسانو ته چه شرك ئې کړیدې، چرته دی؟ ستاسو مددګاران هغه چه تاسو به دعوه کوله (چه دا شرکاء دی)
ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾
بیا به نوی څه بهانه او عُذر دَ دوئ مگر دا چه اوبه وائی دوئ، قسم دې په الله چه رب زمونږ دې، نه وؤ مونږ شرك کونکی

﴿وَمَنْ اَظْلَمُ﴾ دازجردې منکرینوودتوحیدته بعدذکرددلائلونه، یعنی ددغه شان سړې ډیرغټ ظالم وی چه په الله تعالی دروغ جوړه وی یعنی شرک کوی اووائ چه (الملائکه بنات الله) یا (اتخذالله ولدًا) یانسبت ددروغواوکړی آیاتونږدتوحیدته، اوتوحیدنه منی. ﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ﴾ داتخویف اخروی دې مشرکانوته، ﴿لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا﴾ دا عام دې چه عبادت ئې ده بتانو کړې وی، یا دعزیر علیه السلام یا دعیسی علیه السلام وغیره ﴿اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ﴾ اضافت ئې دوئ ته ځکه اوشوچه په حقیقت کښې خودالله تعالی لپاره شرکاء نشته دې بلکه دوئ په خپل زعم باطل کښې شرکاء ګرځولی دی اوګمان کوی چه دازمونږ شفاعت کوی، ﴿تَزْعُمُوْنَ﴾ زعم قول باطل اوعقیدې باطل دواړوته وئیلې شی، ﴿ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ﴾ فتنه په معنی د،،بهانه،، معذرت سره رازی جلالین وغیره دامعنی لیکلې ده، مدارک، په معنی د،،جواب،، سره لیکلې ده.

[1] تخویف أخروی

اوجواب نه فتنه ځکه وئیلې شویدی چه داجواب محض کذب، اودروغ وؤ- حضرت الشیخ رح دخپل شیخ نه داسې ترجمه نقل کوی- گنده جواب ان کا،،اوبعض وائی چه فتنه په معنی دجرم سره دې اومضاف مقدردې،معذرت دجرم ،،امام رازی رح دزجاج نه نقل کوی ،چه مشرکین په دنیاکښې په شرک باندې ،مفتونین، عاشقان وؤ،لیکن أوس ئې برائت اوکړو اوقسم ئې اوکړو، ((والله ربناماکنامشرکین)) نورته اووئیلې شو نه وؤ افتنان د دوئ په اوئانو مگر دا چه ((والله ربنا – الایه)) نو مراد دفتنې نه شرك د دوئ دې په دنیاکښې اومضاف مقدردې ((ای لم تکن عاقبة فتنتهم الاالبراءة)) ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾ دوئ به دشرك نه انکار اوکړی، اوداگمان به اوکړی چه په دې به مونږ ته نجات حاصل شی،نوبیابه الله تعالی ددوئ خوله بنده کړی اواندامونه به ئې گواهی ورکړی، ((الیوم نختم علی افواههم – الایه))، ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه الله تعالی به مؤمنانوته دگناهونومغفرت اوکړی نومشرکان چه داووینی چه الله تعالی شرك نه معاف کوی اوباقی نورگناهونه معاف کوی نودوئ به یوبل ته اووائ چه راشئ چه داسې اووایو چه مونږ گناهکاران یوخوشرك مونه دې کړې نوقسمونه به اوکړی چه مونږمشرکان نه وؤ، نوالله تعالی به ئې خوله بنده کړی اواندامونه به ئې گواهی اوکړی. نودوئ به پوهه شی چه دالله تعالی نه هیڅ څه نه پټیگی لکه په بل آیت کښې راځی ((یومئذیودالذین کفرواوعصواالرسول لوتسوی بهم الارض ولایکتمون الله حدیثاً)).

اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ۝
اوگوره څنگه دروغ اوویل دوئ په خانونو خپلو باندې، اوورك شو د دوئ نه هغه چه دوئ دروغ جوړول.
وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً
اوبعض ددوئ نه هغه څوك دی چه غوږ کیدی تاته (خونه پوهیږی) ځکه چه پیدا کړیدی مونږ په زړونو د دوئ پردې
اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ ؕ
د دینه چه دوئ پوهه شی په قرآن او په غوږونو د دوئ کښې مونږ پیدا کړیدې بوج، اوکه او وینی دوئ هر قسم معجزه،
لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
نوبیا هم ایمان نه راوړی په هغې، تردې چه کله دوئ راشی تاته جگړه کوی ستا سره. نو وائی کافران

اِنْ	هٰذَآ	اِلَّآ	اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ ۝	وَهُمْ	يَنْهَوْنَ	عَنْهُ
نه دی دا مگر دروغ قصې دَ زړو خلقو					او دوئ منع کوی خلق دَ ایمان نه په دہ باندې		
وَيَنْـَٔوْنَ	عَنْهُ ۚ	وَ اِنْ	يُّهْلِكُوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	وَ مَا	يَشْعُرُوْنَ ۝
او لرې کيږی دَ اِتباع دَ دہ نه، او نه هلاکوی دوئ مگر ځانونه خپل اونه پوهيږی دوئ							

﴿ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا ﴾ داتعجب دې. دنظرنه مرادسوچ فکردې یعنی دتعجب په نظرسره اوګوره چه دوئ څه رنګه صریح دروغ اووئیل.﴿ وَضَلَّ عَنْهُمْ ﴾ ای انظر کیف ضل عنهم ﴿ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴾ (ما) موصوله ده اومراددینه هغه بوتان دی چه دوئ دهغې عبادت کولو. اووئیل به ئې ((هؤلاء شفعائنا عندالله)) اوافتراء په معبودانوباندې نه وه واقع بلکه دهغوئ په احوالو باندې واقع څکه چه افتراء د ذات د معبودانو، نه کیږی بلکه افتراء دا وه چه دوئ هغوئ نه شفعاء ویل. نو دلته نسبت د افتراء معبودانوته مجازاً دې دپاره دمبالغې. چه ګویاکښې هغه معبودان نفس مفترئ وه،معنی ئې داده چه دوئ خوداسې وئیل چه دامعبودان به زمونږ شفاعت کوی دوئ زمونږ اسره، وسیله ده لیکن هغوئ ترینه بالکل غائب شو،هیڅ خیرخبرئې ورته وانه غستو، اوبعض وائی چه ما مصدریه دې ((ای ضل عنهم افتراءهم)) دافتراء نه مراد هغه دروغ ،اوشرکی، قصې اوخبرې دی چه دوئ دزان نه جوړې کړې وې هغه به ترینه هیرې شی.﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ﴾ دازجردې یعنی په اهل مکه کښې بعض داسې خلق دی چه ستاخبرې په غورسره اوری مګرددې باوجودپه هغوئ څه اثرنه کوی. څکه چه دضد اوعناد اود بیابیا انکار په جه ددوئ صلاحیت اواستعداد سلب شویدې، دزړونونه ئې دحق قبلولو. استعدادختم شویدې چه په زړونوئې پردې دی، اودغوګونونه ئ دسماع قبول استعداد سلب شویدې په غوږونوکښې ئې ثقل اوبوجی دی نوپه سماع قبول سره حق نشی اوریدلې، اودسترګونه ئې دعبرت دنظرکولوصلاحیت ختم شویدې نوکه دوئ هرقسم معجزې اودلیل دتوحید اووینی نوایمان پر نه راوړی بلکه مجادله اومناظره کوی اوداسې وائ چه دا ((اساطیر الاولین)) دی، اساطیر، دروغ قِصوته وائی بعض وائی چه ددې مفردنشته دې لکه ابابیل. مذاکیر، اوبعض وائ چه داجمع داسطورة ده یااسطارة ده، یاداسطارده اودهغه جمع دسطرده

﴿ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ ﴾ دا هم زجردي اومراد ددينه عام مشركين اهل مكه دی معنی ئې داده چه دوئ نورخلق هم منع كوى دايمانه په نبى صلى الله عليه وسلم باندې اوپه قرآن اوپخپله ترينه هم لرې لرې گرځی. يادديـنه مراد ابوطالب دې اومعنی ئې داده چه نورخلق خومنع كوی دضررر سولونه نبی صلى الله عليه وسلم ته ليكن پخپله ئې نه منی. لكه په دې باندې دلالت كوى اشعاردهغه . چه وئيلى وو

والله لن يُصلوا اليک بجمعهمْ — حتّى اُوسَّد فـي الـتُّرَاب دَفِينا
فاصدَعْ بامرکَ ماعليکَ غضاضةٌ — وابشِر بذاکَ و قَرَّ منکَ عُـيُونًا
ودَعَوتَنِيْ وزَعَمْتَ اِنَّک ناصِحِي — فلقدْ صَدَقْتَ وكنتَ قَـبْلُ اَمِيْنا
وعرضتَ دينًا قد عرفتُ بأنّـه — مِن خَـيرِ اَدْيَانِ الْبَرِيَّـةِ دِيْـنًا
لَولا الملامـةُ او حـذار مسبَّـةٍ — لَوَجَدْتَنِي سـمحًا بذاک مبـيْنا

وَلَوْ تَرٰۤى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا

(اوتعجب به وكړې ته)كه وه وينې دوئ لره كله چه دوئ اودرولې شی داُور په خوا كښې. پس اووائی دوئ

يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

هائ افسوس! چه مونږ واپس كړې شوې وې دنياته اوتكذيب اونه كړې مونږ په آياتونو دَخپل رب.اوشوې مونږ دَ مؤمنانو نه.

بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ

بلكه ښكاره شو دوئ ته هغه څه چه وو دوئ پټولوئی (انكار ئی ترينه كولو) مخكښې دَ دينه.

وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا

او كه چرې بالفرض دوئ واپس كړې شو دنيا ته نوخامخا به دوئ واپس را اوگرځی هغه كارونو ته

نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝ وَقَالُوْۤا اِنْ هِیَ اِلَّا

چه دوئ دَ هغې نه منع كړې شوی وؤ، اوبيشكه دوئ خامخا دروغژن دی. او وائی دوئ ندې دا مگر

حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ۝

ژوند دَ دنيا زمونږ دې اونه يو مونږ دوباره پورته كيدونكی (ژوندی كيدونكی)

وَلَوْ	تَرٰۤى	اِذْ	وُقِفُوْا	عَلٰى	رَبِّهِمْ ؕ

او تعجب به وکړې ته، کچرې وه وینې ته هغه وخت چه دوئ اودرولې شی په حضور د خپل رب کښې.

قَالَ	اَلَيْسَ	هٰذَا	بِالْحَقِّ ؕ	قَالُوْا	بَلٰى	وَرَبِّنَا ؕ

الله تعالی به وه وائی ، آیا ندې دا ژوند حق ، دوئ به وه وائی چه هو! بیشکه حق دې او قسم دې په رب زمونږ.

قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝

او به وائی الله .پس اوڅکئ عذاب په سبب دَ دې چه تاسو کفر کولو

﴿ وَلَوْ تَرٰۤى ﴾ داتخویف اخروی دې، اوجزاء دشرط محذوفه ده چه ((لرأیت امراً فظیعا)) یعنی ددوئ حال به په دغه وخت ډیرناکاره وی،﴿ اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ ﴾وقوف هغه اودرول دی چه په هغې سره علم په حقیقت باندې حاصل شی. ﴿ يٰلَيْتَنَا ﴾یاحرف نداء ده اومنادی محذوفه ده. یاندا ء صرف دحسرت لپاره ده، ﴿ نُرَدُّ ﴾دنیاته واپس کیدل مراددی اوداخبره د لَیتَ دې﴿ وَلَا نُكَذِّبَ ﴾ په «لانکذب» او ﴿ وَنَكُوْنَ ﴾کښې دوه قراته دی یوقرات داهل مدینو اودنافع ، ابن کثیر کسائ دې، داقرات درفع دې عطف په نُردُّ باندې اوقرات دحفص اوحمزه، په نصب سره دې جواب دتمني دې په اضمارد «أنْ» سره ،ولاَ نُکذب اولاَنُکذِب،ونَکُونَ ،په تاویل دمصدرسره معطوف دی په مصدرمتوهمه باندې ، اوداټول داخل دی په تمنی کښې اوحاصل دمعنی داسې دې، (یالیت لنارُدّ)، (وانتفاء التكذيب والكون مع المؤمنين) اوداټوله جمله مقوله د (قالو) ده ﴿ بَلْ بَدَا لَهُمْ ﴾ بل داضراب دپاره دې، اودااضراب دې دتمني ددوئ نه دایمان، چه داتمنا په قصدداطاعت نه ده، بلکه دوئ په یومصیبت کښې ګرفتارشو ، چه عذاب دقیامت دې نوځکه تمنی کوی، او که چرې بالفرض والتقدیر دوئ دنیاته واپس کړې شی نوبیا اطاعت نه کوی او ایمان نه راوړی ﴿ مَا كَانُوْا يُخْفُوْنَ ﴾ بعض وائی چه ددینه مراددوئ کفری عقیدې دی لیکن په دې اعتراض واردیګی چه دوئ خوخپلې کفری عقیدې نه پټولې بلکه ښکاره کولې به ئې نوصحیح داده چه د (ماکانوا) نه مرادقیامت اونار-اواهوال دقیامت دی او«یخفون» په معنی دینکرون اویکذبون،سره دې، لکه ((هذه النارالتی کنتم بها تکذبون)) نومعنی داده چه ښکاره شو . دوئ ته هغه شئ چه دوئ به ترینه انکارکوو-اوحضرت الشیخ رحمه الله دخپل شیخ رحمه الله نه نقل کوی چه

يُخفون باب افعال دوجدان دپاره دې نومعنی ئې داده چه (يجدونه مخفيًا) يعنی کوم شئ چه دوئ په دنياکښې نه ليدو يعنی قيامت نوهغه ورته اوس ښکاره شو .﴿ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا ﴾ وجه داده چه په دو ئی کښې استعداد. اوصلاحيت دقبول دحق ختم شويدې، اوددې وجې نه دوئ په دنياکښې ددلائلو اودمعجزاتوکتلوسره ايمان نه ؤ راوړې، نوکه مشاهده اوکړى دقيامت ليکن چه که بالفرض دنياته واپس شی نوبيا به هم دوئ انکارکوى دحق نه ځکه چه ددوئ استعداد سلب شويدې اومهرِ جباريت پرلګيدلې دې، ﴿ وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ﴾ داعطف دې په (لعادوا) باندې-يعنی که چرې دوئ بالفرض دنياته واپس کړې شی نوبيابه هم عود ((واپسی)) کوی نافرمانئ،کفرشرک ته اودابه وائ چه ((ان هی الاحياتناالدنيا)) ياداجمله مستانفه ده يعنی دوئ په دنياکښې وائی چه ((ان هی الا)) ان نافيه دې- (هی) مبتدا ده (حياتنا) موصوف (الدنيا) ورته صفت دې،موصوف سره دصفت نه خبردمبتداء دې،اوضميرد (هی) راجع دې حيات ته چه روستو مذکوردې اواضمارقبل الذکرلفظًا اورتبةً په بعض مواضعوکښې جائزوی، منجمله دهغې نه دادې چه خبر مفسروی دضميردپاره لکه په دې ځائې کښې ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴾ يعنی دوئ وائی چه دمرګ نه روستوبيابل ژوند نشته دې، انکارکوی دحشرنه ﴿ وَلَوْ تَرٰٓى ﴾ تخويف اخروی دې جواب د (لو) مخذوف دې، (وُقِفُوْا) په معنی دپيش کيدلوسره دې (اَیْ عُرِضُوْا)

قَدْ	خَسِرَ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِلِقَآءِ	اللّٰهِ ۭ	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءَتْهُمُ

په تحقيق سره په تاوان کښې دی[1] هغه کسان چه دروغ ګڼړی پيښی الله ته (قيامت) ترد‌ې پورې چه کله راشی په دوئ

السَّاعَةُ	بَغْتَةً	قَالُوْا	يٰحَسْرَتَنَا	عَلٰى	مَا	فَرَّطْنَا	فِيْهَا ۙ

قيامت، ناڅاپه، وائی به دوئ هائی افسوس زمونږ په کوتاهئ او غفلت زمونږ په باره د قيامت کښې

وَهُمْ	يَحْمِلُوْنَ	اَوْزَارَهُمْ	عَلٰى	ظُهُوْرِهِمْ ۭ	اَلَا	سَآءَ	مَا	يَزِرُوْنَ ۝

اودوئ به پورته کوی پيتی دګناهونو خپلو به شاګانو خپلو باندې، خبردارا ډيريدې دې هغه بوج چه دوئ ئی پورته کوی

---

۱ - تخويف اخروی

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ

اونده زندگاني ددنيا [1] مگر لوبې او مشغله ده . اوخامخا كور دآخرت ډير غوره دې هغه جا لره چه تقوى كوي.

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۞ قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ

آيا پس عقل نه لرئ تاسو په تحقيق سره پوهيږو مونږ [2] چه خامخا خفه كوي تالره هغه خبرې چه دوئ ئې وائي

فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۞

هه خفه كيږه) پس بيشكه دوئ تاته نسبت ددروغونه كوي ليكن دا ظالمان د الله تعالى د آياتونونه انكار كوي

﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ ﴾ داهم تخويف اخروى دې اودلقاء الله نه مرادورځ دقيامت ده چه دالله تعالى په حضوركښې داودريدلوورځ ده. ﴿حَتّٰٓى اِذَا﴾ (اى استمرتكذيبهم حتى) ﴿بَغْتَةً﴾ بغير د اطلاع نه، يعنى دوئ تكذيب دقيامت كولو ، تردې پورې چه كله قيامت ناڅاپه راشي نوددوئ تكذيب به ختم شي اوافسوس به شروع كړى وائى به ﴿يٰحَسْرَتَنَا ﴾ دلته حرف (تا) د اظهار افسوس دپاره ده . ﴿عَلٰى مَا فَرَّطْنَا ﴾ ما مصدريه ده اى على تفريطنا يعنى دوئ به وائى چه افسوس دې په كوتاهئ زمونږپه باره دقيامت كښې دايمان اواعمالو. ﴿وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ﴾ داجمله حاليه ده،يعنى حال به داوى چه دوئ بۀ خپل ګناهونه په خپل خان باركړى وى ﴿اَوْزَارَهُمْ﴾ جمع د (وزر) ده (وزر) په اصل كښې ثقل اوبوج ته وائى مرادترينه ګناه ده. اوحمل كول .حقيقةً دى لكه روايت دې دسُدى وغيره نه ، چه مؤمن چه دقبرنه راوزى په قيامت كښې نومخامخ به ورته راشي ډيرخائسته، ډيرخوشبويه صورت اوبه وائى چه آيا ، ته ماپيژنې؟ مؤمن به اووائى. نه، نوهغه به ورته اووائى چه زه ستاعمل صالح يم (فاركبنى) په ماباندې راسورشه. ډيرزمانه ماپه تاباند ركوب (سورلئ) كړيده اودامعنى ددې قول دالله تعالى ده ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا﴾ (اى ركبانًا) . او كافر ته به مخامخ راشي ډير قبيح اوډير بد بويه صورت نو وه به وائى (هل تعرفنى ؟) يعنى آيا ته ما پيژنې ؟ نو دې به وه وائى (لا) يعنى نه ' نوهغه به ورته وه

---

۱ - تقليل او تحقير د دنيا لپاره د اصلاح د مشركينو.

۲ - تسلى مع تخويف .

وانی چه زه ستا قبیح عمل یم، ډیره زمانه په دنیا کښې تا رکوب (سورلی) کړې وه په ما باندې اوس به زه سورلی کوم په تا باند، او دا معنی د دې قول د الله تعالی ﴿وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ﴾، ﴿وَمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ﴾ د اصلاح د منکرینو دپاره په قرآن پاک کښې کله کله تحقیر اوتقلیل ددُنیاذکرکیږی، ځکه چه دانکار،اوعصیان بنیاد حب الدنیا دې. کمال قال علیه الصلوة والسلام (حب الدنیا راس کل خطیئة) نوپه دې آیت کښې تزهیدمن الدنیا بیانیګی په ذکردتقلیل اوتحقیرسره اودنیاته چه لهو، لعب وئیلې شویدی نویاپه اعتباردقلت سره،لکه دلوبو وخت لږ وی نودارنګه جونددنیالګ دې اویاپه دې اعتبارسره چه لکه څه رنګه چه دلهولعب هیڅ انجام اوفائده نشته دې نودغه شان هغه سامان ددنیاچه آخرت پرې نه طلب کیږی هغه هم فائده اوصحیح انجام نه لری- د﴿وَمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا﴾نه مرادهغه اعمال دی چه مختص وی په حیواة ددنیاپورې (ای وما اعمال الحیوة الدنیا الا لهو) او هرچه دی اعمال صالحه او عبادات او په قدر د ضرورت کسب دمعاش، نو دا خارج دی د (الحیوة الدنیا) نه د (لهو، لعب) معنی داده (الاشتغال بمالایعنی العاقل) فرق د دواړو په درمیان کښې په مختلفو اعتباراتو سره کړې شویدې منجمله دهغې نه دادې چه بې فائدې کارته لهوپه دې اعتبارسره وای چه په دې سره اعراض عن الحق رازی او غفلت راځی د مقصود نه اولعب ورته په دې اعتبار سره وائی چه فائده پرې نده مرتب، اوبعض وائی چه لعب هغه بې فائدې شئ دې چه مقصود ترینه زړخوشحالی حاصلول وی اوپه لهو کښې خوشحالی مقصود نه وی، صرف زړه مشغولول وی.

ـــ﴿قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي﴾داتسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته. کفاروچه تکذیب دنبی صلی الله علیه وسلم کولونوپه دې باندې به نبی صلی الله علیه وسلم غمژن کیدلو نوالله تعالی ورته تسلی ورکوی چه مه غمژن کیږه ځکه چه دوئ ستاتکذیب نه کوی بلکه څماداایاتونوتکذیب کوی. ځکه چه کله تادوئ ته څماآیاتونه نه بیانول دبعثت نه قبل نودوئ تاته الصادق الامین وئیلو، لیکن چه کله د دوئ ته زماایاتونه بیانول شروع کړل نودوئ تاته کاذب وائی ((قدنعلم)) د عنوان دمحبت اودتسلئ دې، لکه خلق قصه کوی چه مجنون دلیلی په طرف تیرشو. نوخلقواووهلو اوتکلیف ئې ورته ورکړو، نودې ډیرخفه اوغمژن شو. نولیلی

ورته جواب اوليکلو چه زه خبره شوې يم چه خلقوته زمادمحبت په وجه وهلې ئې تکليف ئې درکړېدې نودې دير خوشحاله شو. نوالله تعالى چه خپل حبيب صلى الله عليه وسلم ته دمحبت په عنوان کښې خطاب فرمائيلودپاره ددې چه خوشحاله شي. ﴿لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ﴾ ددينه دمنکرينواقوال مراددى په باره دانکاردتوحيداودرسالت کښې لکه چه مخکښې تيرشو.

﴿فَإِنَّهُمْ﴾ دامتعلق دې دمقدرسره چه (فلاتحزن) دې ﴿لَا يُكَذِّبُونَكَ﴾ ددې دوه توجيهات دى **يو دا چه** (لايکذبونک بالقلب ولکن يجحدون بالسنتهم) يعنى ستا تکذيب په زړه کښې نه کوى صرف په ژبه باندې کوى، دوچې دضدنه. لکه روايت دې چه اخنس بن شُريق دابوجهل سره ملاؤشو. ورته ئې اووئيل چه دمحمدصلى الله عليه وسلم په باره کښې ماته خبر راکړه چه صادق دې که کاذب. ځکه چه دلته خوبل هيڅ څوک نشته چه زمونږ خبرې اورى- نوابوجهل ورته اووئيل چه قسم په الله چه بيشکه محمدصلى الله عليه وسلم صادق دې، دروغ ئې چرته هم نه دى وئيلى.ليکن چه، بنوقُصى، لواء سقايه، حجابة، ندوة، نبوت هرڅه واخلى نوزمونږ دنوروقريشونور څه پاتې شو نوځکه ورته مونږ کاذب وايو. **دويمه** داچه دوئ تاته کاذب نه وائى بلکه صادق امين وائى درته ليکن دقرآن نه انکارکوى لکه ترمذى دحضرت على رضى الله عنه نه روايت ذکرکړيدې چه ابوجهل نبى صلى الله عليه وسلم ته اووئيل چه مونږستاتکذيب نه کووبلکه تکذيب دهغه څيزکوؤ چه تا را وړې دې.

وَلَقَدْ	كُذِّبَتْ	رُسُلٌ	مِّنْ	قَبْلِكَ	فَصَبَرُوْا	عَلٰى	مَا

اوخامخا په تحقيق سره دروغژن اوويلې شوډيرورسولانو ته مخکښې ستا نه پس صبر کړې وو دوئ په هغه څه

كُذِّبُوْا	وَ اُوْذُوْا	حَتّٰى	اَتٰىهُمْ	نَصْرُنَا ۚ

چه د دوئ تکذيب کړې شوې وو او تکليفونه، رسولې شوى وو، تر دې پورې چه راغې دوئ ته مدد زمونږ

﴿وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ۝﴾

اونشته دې هيڅ بدلوونکې لپاره دوعدو دالله تعالى. اوپه تحقيق سره راغليدى تاته بعضې خبرونه درسولانو

وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ

او كچري گران [1] وى په تا باندې روگرداني (مخ اړول) د دوئ نو پس كه ته طاقت لرې د دې چه طلب كړې

نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ ۚ وَلَوْ شَاءَ

سُرنگ په زمكه كښې يا اندر پايه (پاوړئ) آسمان ته، پس راوړې ته دوئ ته څه معجزه. او كه غوښتلي

اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ

الله تعالى (دوئ ته جبراً هدايت) نو خامخا به ئې جمع كړي وې دوئ لره په هدايت.

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ ۝

پس مه كيږه ته د ناپوهانو نه

﴿وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ﴾ دا هم تسلي ده، چه كه دوئ ستا تكذيب كوي نو مه خفه كيږه ځكه چه د الله تعالى نصرت به راځي لكه مخكنو انبياؤ ته چه راغلې وو ﴿عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا﴾ ما مصدريه دې يعني انبياؤ صبر كړې وو، په تكذيب د اُممُ دوئ لره په تكليف رسولو د هغوئ دوئ ته، نو ته هم صبر كوه لكه چه هغوئ كړې وو چه د الله مدد راشي لكه هغوئ ته راغلې وو او د الله تعالى وعده ده چه ﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ۝ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ ۝﴾ د دې وعدې تبديل څوك نشي كولې او يقيناً تا ته بعض حالات د رسولانو راغلي دي چه د هغوئ سره امداد شوې وو- نو د الله تعالى نصرت د انبياؤ سره يقيني دې «من» زايد دې يا د تبعيض د پاره دې لكه په بل آيت كښې دي (منهم من قصصنا عليك ومنهم من لم نقصص عليك) ﴿وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ﴾ دا زجر دې نبي صلى الله عليه وسلم ته او بيان د شدت حرص دې په ايمان د دوئ ځكه نبي صلى الله عليه وسلم ډير شفيق دې په امت باندې- نو كفارو به چه د عناد په وجه د معجزاتو مطالبه كوله نو نبي صلى الله عليه وسلم به دا غوښتله چه دغه معجزات ظاهر شي، نو كيدې شي چه دوئ ايمان راوړي نو الله تعالى او فرمائيل چه كه چرې په تا باندې د دوئ د اعراض او انكار بوج وى او غواړې چه د دوئ فرمائيشي معجزات د ظاهر شي، نو كه ستا د اطاقت وى چه په زمكه

[1] - زحر

کښې سُرنګ اووهې اودزمکې دلاندې نه دوئ تـه معجزه راوړې يااسمان تـه پـورې اولګوې.
اوآسمان ته اوخيجې دهلته نه ورته معجزه راوړې نوداسې اوکړه. اوالله تعالى دوئ تـه ددوئ
فرمائيشي معجزې لدې وجې نه نه ظاهروى چه ضرورت ورتـه نشته اوفائده حکمت پـه کښې
نشته. دالله تعالى پـه علم کښې داده چه دوئ ايمان نه راوړى. پـه خپـل اختيارسره البتـه کـه
چرې دالله تعالى دااراده وې چه جبراً دوئ مسلمانان کړى نوټول مخلوق بـه ئې پـه هدايت
اوايمان جمع کړې وې. ليکن جبرى ايمان مقبول اومنظور عندالله نه دې. ﴿فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ أَن
تَبْتَغِىَ﴾ددې آيت نه پوه داخبره معلومه شوه چه دنبى صلى الله عليه وسلم ډيرحرص وو په ايمان
ددوئ حتى کښې که چرې طاقت ئې لرلو ،ده سورنګ کولو په زمکه کښې يااسمان تـه دختلو
نودوئ هدايت اوايمان راوړلو دپاره بـه ئې دغه تکليف هم برداشت کړې وې. ليکن نـه نبى
صلى الله عليه وسلم داطاقت لرلو ، اونه دوئ ايمان راوړلو . بلـه دامعلومه شوه چه معجزات
دنبى په اختيارکښې نه وى اونبى مختارِکُل نه وى، که دهرڅه اختيارئې لرلې. نوکفاروته بـه ئې
معجزات ظاهرکړى وو ، اوهدايت به ئې ورته ورکړې وو ليکن باوجودډيرحرص اوشفقت نه ئې
داسې نشوکولې نومعلومه شوه چه مختارِ کُل نه دې اوتخصيص د﴿نَفَقًا فِى ٱلْأَرْضِ﴾﴿أَوْ سُلَّمًا فِى
ٱلسَّمَآءِ﴾څکه اوشه چه منکرينوچه کومې معجزې طلب کولې نودهغې تعلق يادزمکې سره
وويااداسمان سره.﴿فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ﴾شرط دې اوجزاء ئې مقدره ده چه فافعل او﴿فَتَأْتِيَهُم﴾عطف
دې په﴿أَن تَبْتَغِىَ﴾ باندې﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ﴾يعنى که چرې غوختلې الله جبراً هدايت ورکول اوايمان
دوئ تـه نو﴿لَجَمَعَهُمْ عَلَى ٱلْهُدَىٰ﴾ليکن جبراً هدايت ددوئ پـه مشية دالله تعالى کښې نـه دې
اوجبرى ايمان منظورمقبول عندالله نه دې، نوددې وجې نه ئې ټولوتـه هدايت نه دې ورکړې
﴿فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ﴾فاء فصيحيه ده. اومقصود دنهى نه بچ ساتل دنبى صلى الله عليه وسلم
دى دصفت دجاهلانونه. څکه چه امرلکه چه دددوام اوثُبات لپاره راځى دغسې نهى هم رازى.
مراددجاهلانونه هغه څوک دى چه دخلقو دانکاراوتکذيب په وجه جزع فزع اوبې صبرى کوى.
اودحدنه زيات تحسر افسوس کوى، يا هغه دى چه هدايت په مشية الهى سره نه ګڼرى

إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَٱلْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ
يقينا قبلوى حق لره هغه خلق چه اورى (ضد نه کوى) او مړى يعنې کافران پورته به کړى الله تعالى دوئ لره.

ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ۝ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّنْ رَّبِّهِ ؕ

بیا به طرف دهغه ته وګرځولي شي اووائي دوئ ولې نشي نازلولي په ده باندې څه نشاني دطرفه د رب د ده نه؟

قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰ أَنْ يُنَزِّلَ آيَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝

ته ووايه بيشكه الله تعالى قادر دې په دې چه نازل كړي نشاني (معجزه) ليكن زيات خلق نه پوهيږي

﴿إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ﴾ دابيان دعلت دې يعنى منكرين چه دهدايت نه محروم دي نو دضد او عناد په وجه، حق صرف هغه خلق قبلوي چه نابت او حق طلبى وى پكښې ﴿يَسْمَعُونَ﴾ نه مراد (يُنِيبُونَ) دي لكه ﴿وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَنْ يُنِيبُ﴾. ﴿وَالْمَوْتَىٰ﴾ دينه مراد كفاردى څكه چه ددوئ زړه دايمان اوتوحيد نه خالي كيدلو په وجه، مړ ،اوبې جان، دي، ددوئ دكفراوجهل تشبيه دموت سره وركړى شويده ﴿يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ﴾ يعنى كفاروته ددوئ داعراض انكارپوره سزابه په قيامت كښې وركولې شي، ﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ﴾ داشكوى ده اوځلورم سوال دمشركينو دي، يعنى دوئ وائ چه كه چرې محمدصلى الله عليه وسلم برحق نبى وى نوپه دې باندې معجزه ولې نه شى نازلولې يعنى هغه معجزه چه كافرانوئ طلب اوفرمائيش كولو. ﴿قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ﴾ داجواب دې يعنى ته ورته اووايه چه بيشكه الله تعالى قادردې چه دغه شان معجزه نازله كړي، ليكن تاسوددې دانجام نه خبرنه يئ، چه غوختلې شوې معجزه چه كله ظاهره شى اوبياهم څوک انكاركوى، اوايمان نه راوړى نوفوراً هلاكولې شي.

وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ ؕ

اونشته هيڅ زنده سر[1] په زمكه كښې اونه يوه مرغئ چه الوځي په دوؤ وزرونوخپلو. مګر دلې دى ستاسو په شان

مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ۝

مونږ ندى پريخى په كتاب (لوح محفوظ) كښې هيڅ شې (دليكلونه) بيا به خپل رب ته جمع كړي شى

[1] . اووم دليل عقلي. يعنى د باقى مخلوقاتو لپاره هم الله تعالى خالق . رازق. متصرف دې.

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا صُمٌّ وَبُكْمٌ فِي الظُّلُمَاتِ

او هغه کسان چه تکذیب ئې کړې دې د آیاتونو زمونږ ، دوئ کانړه ، ګونګیان دی. په تیرو کښې دی.

مَنْ يَشَإِ اللَّهُ يُضْلِلْهُ وَمَنْ يَشَأْ يَجْعَلْهُ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۝

هغه خوک چه وغواړي الله تعالی بې لارې کړی هغه لره، او خوک چه وغواړي الله تعالی وګرځوی هغه لره په لارې برابرې باندې

قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ أَغَيْرَ اللَّهِ

ره وایه ' خبر راکړئ ماته [۱] که راشي تاسو ته عذاب د الله تعالی یا راشي تاسو ته قیامت آیا ما سوی د الله تعالی نه

تَدْعُونَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ۝ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا

بلئ به تاسو . که تاسو ریښتنی یئ (چه دوئ لائق د بلنې دی) بلکه خاص الله لره به بلنې تاسو پس لرې به کړی هغه تکلیف

تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ۝

چه سوال کولو تاسو الله تعالی ته دهغې د لرې کولو، که ئې خوښه شي او هیر به کړئ تاسو هغه معبودان باطله چه تاسو ئې الله سره شریک ګرځئ

﴿وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ﴾ دا اوم دلیل عقلی دې په توحید د ((دآبة)) نه روستو ((فی الارض))

اود ﴿طَائِرٍ﴾ نه روستو، ﴿يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ﴾ ذکر دصفت کاشفه دې ددفع دتوهم دمجاز دپاره.

اودقصد د تعمیم لپاره، یعنی هر فرد د (دابه) او د (طائر) په مثل ستاسو دې او مراد د مماثلت

نه یا دادې چه هرقسم دحیوان ته امت ونیلې شی، نوطیرأمت دې، دواب امت دې ﴿أُمَمٌ

أَمْثَالُكُم﴾ ستاسوپه شان امت نه مراددادې چه لکه څه رنګه ستاسومخصوص فطرت

استعداددې نودغه شان هرنوع (دابې) لره مخصوص فطرت استعداددې په خپل محدود د

دائرې داستعدادکښې عمل کوی-یاترینه مراددادې چه ټول ستاسو پشان مخلوق محتاج

اوضرورتمندې اوالله تعالی دټولورازق خالق حاجت رواوې. یاترینه مرادمماثلت په توحید

اومعرفت کښې دې، یاترینه مرادمماثلت په بعث کښې دې یعنی ټول بهائم اوطیوربه

بیاژوندی کولې شی .﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ﴾ دکتاب نه مرادلوح محفوظ دې چه په هغې کښې

۱ - اتم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم

دهرڅه تقديردرج دي، دتولې زندګئ احوال، اعمال په کښې درج دی. یامراددکتاب نه قرآن دی اومرادترینه دادې چه په هرڅه څه چه هغې ته اختیاج وی په دېن کښې هغه په قرآن کښې موجوددی صراحةً یااستنباطاً ـ ﴿ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ ددینه مراد (۱) دادې چه دانسان (ذوی العقولو) حشر به کولې شی، او دَ غیر ذوی العقولو د حشر ذکر نفیاً، اثباتاً نشته دی. (۲) یا مراد دادې چه د تولو یعنی ذوی العقول او غیر ذوی العقولو حشر به کیږی، اوجمع په واؤنون سره تغلیبی ده نوچه څاروی، اومرغان دقیامت په ورځ راپورته شی اوددوئ کورنئ قصاص واغستې شی نوبیابه فناشی، په دې باره کښې ډیراحادیث دی چه ابن کثیر، قرطبی وغیرهما ذکرکړیدی، (۳) اودابن عباس او دَ ضحاک رضي الله عنهما نه روایت دې چه دحیواناتوحشرموت ددوئ دې، صاحب دروح المعانی وائی چه مراددابن عباس دادې چه يُحْشَرُونَ مستعاردې دموت دپاره. چه داتول به مړه کیږئ اوفانی کیږی لکه په حدیث کښې دی (من مات فقدقامت قيامته) نوهرکله چه یحشرون مستعارشو دموت دپاره نوداسوال واردنه شو چه تفسیر دحشرپه موت سره نه صحیح کیږی، ځکه حشر، (بعث من مكانٍ الى مكانٍ آخر) ته وائی- وجه دعدم ورود داده چه اطلاق د (إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ) په موت باندې په طریقه داستعاره علی سبیل التمثیل سره دې. نه په طوردحقیقت سره، اوهمدارنګه په موت کښې نقل من الدنياالى الاخرت دې نواطلاق دحشرپر صحیح دې. قرطبی د حدیث د جلجاء، قرناء نقل کولونه بعدوائی چه دادلالت کوی په دې چه حشر دبهائم شته دې په ورځ دقیامت باندې- اوداقول دحضرت ابوذررضی الله عنه ابوهریرة اوحسن وغیرهم دې اودابن عباس رضی الله عنه نه هم مروی دې. ضحاک رضي الله عنه هم دغه شان وئیلی دی، اوقول اول اصح دې، دوجې دظاهرآیت اوخبر صحیح نه، اویوجماعت وئیلی دی چه په آیت کښې دحشرنه مرادحشردکفارودې اوپه حدیث کښې مقصود تمثیل دې دپاره دعظمة دامردحساب اوقصاص، اواهتمام دامرده حقوقو. چه هیڅ څوک ترینه نشی خلاصیدلې، اودامقصد نه دې چه حقیقةً به په مابین دهغوئ کښې دهغوئ قصاص وی اودهغوئ حشربه وی، ځکه چه هغوئ مخاطب نه دی په احکامو، اومکلف نه دی، اوددې تائید دبعض نوروروایاتونه دې چه په هغې کښې ذکر دقصاص دحجر دې دحجر نه کما ذكره القرطبي، بيا وائی (الصحيح القول الاول) ، (۵) صحیح قول دادې چه د بهائمو حشر او قصاص په مابین ددوئ کښې شته دې اګرکه دوئ مکلف نه دی په شریعت اواحکامو سره، مکلف ته جزاء سزاورکولې شی اوددوئ په مابین کښې قصاص داظهار د

غایت عدل اوانصاف دپاره دي اواهميت دحقوقو ته اشاره ده، چه دحقوقومظالمو ،دومره اهميت دي چه غيرمكلف مخلوق ترينه آزادنه دی نومكلف به ترينه څنګه آزادشی. ﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا﴾ دازجردي ﴿صُمٌّ وَبُكْمٌ﴾ اشاره دسلب استعداد ،مهرجباريت ته ﴿فِي الظُّلُمٰتِ﴾ مراد ددينه دكفراوجهل تيرې دی، دكفراودجهل طريقې ډيرې دی نوځكه جمع ذكرشوه.

﴿قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ﴾ دااتم دليل عقلي دي على سبيل الاعتراف من الخصم.

تركيب : همزه داستفهام ده، «رايتَ» فعل فاعل «كم» حرف خطاب دي دلالت كوی په اختلاف دحال دمخاطب باندې، د رَاَيْتَ سره چه كاف خطاب نه وی متصل شوې نوپه «تاء» كښې به اختلاف اوتغير راځی : (اَرَاَيْتَ، اَرَاَيْتُمَا، اَرَاَيْتُمْ، اَرَاَيْتُنَّ) اوچه كاف خطاب ؤسره متصل شی نو تاء به هميشه مفتوحه وی اوتثنيه جمع كيږی به نه، بلكه په كاف خطاب كښې به اختلاف اوتبديل راځی نوونيلې به شی : (ارايتکَ، ارايتکُما، ارايتکُم، ارايتکُنّ) نوتاءِ. فاعل دې مرفوع محلاً ،اوكاف لره په اعراب كښې هيڅ مقام نشته دې بلكه داصرف يوحرف دې چه دمخاطب دحال تذكيرتانيث- افرادتثنية ،جمعية اظهاركوی، او«رايت» كه درؤيت بصرى نه شی ياپه معنى د عرفت سره شی يومفعول غواړی چه هغه محذوف دی،چه «حالكم» دې،اوكه د رؤيت قلبى نه شی نوبيادوه مفعوله غواړی دواړه محذوف وی خومفعول ثانی هميشه جمله استفهاميه وی سدمسد، دمفعول ثانی نوتقديردلته كښې دارنګه دې: (ارايتکم- عبادتكم الاصنام هل تنفعكم) يا (اتخاذكم غيرالله الهاً، هل يكشف عنكم العذاب) اوبعض وائی چه د ارايتكم نه بعد، شرط اوجواب شرط قائمقام دمفعولينودی اودالفظ اكثرمستعمليږی،په معنى مجازى كښې، نوكله په معنى ده تَنَبَّهْ سره وی يعنی،خبرشه دعجيبه خبرې نه لكه ﴿قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ﴾ (كهف) اوكله په معنى د(اَخْبِرْنِيْ)سره وی يعنی ماته خبراكړه دعجيبه خبرې ځكه چه كه رؤيت بصرى مرادشی نوهغه سبب دعلم دې اوعلم سبب داخباردې نومجازپه دوه واسطوسره شو،اوكه رؤيت علمى وی نوهغه سبب داخباردې نومجازپه يوه واسطه سره شو،نودلته دوه مجازه دی، يوداچه «رُؤيَتْ» په معنى د اخبار سره دې، بل دا چه همزه استفهاميه چه د طلب د رؤيت لپاره وو نو هغه د طلب د اخبار لپاره دې ليكن ارايتَ هميشه، د حالت عجيبه د اخبار- يااستخبار،دپاره مستعمليږی ارايتَ بغيردكَانَ نه دتك تعجب په ځائې كښې مستعمليږی اوسره دكَانَ نه د ډيرتعجب په محل كښې استعماليږی-

حاصل دادي چه نه دمشركينونه تپوس اوكړه چه تاسوچه دشرك مدعيان يئ اودالله تعالى سره شركاء الهه منئ. نوكه چرې په تاسوباند ددنياعذاب راشي ياقيامت راشي نوآياددې ددفع كولودپاره به تاسوخوك رابلئ؟ آياغيرالله تعالى نه بل څوك به رابلئ؟ بلكه په دغه وخت كښې به تاسوصرف يوالله بلئ، نومعلومه شوه چه صرف يوالله معبودبرحق دې.

﴿فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ﴾ د «ما» نه مرادعذاب دې ((تدعون اليه)) په معنى د (الى كشفه) سره دې (اى تدعونه الى كشفه) (روح) يعنى هغه عذاب چه دهغې ددفع كولودپاره تاسوالله تعالى ته سوال كوئ نوكه الله اوغواړي نوهغه به دفع كړي اوكه اوغواړي نودفع به ئې نه كړي. الله تعالى ددواړوخبروقدرت لري، اومعبودان باطله دهيڅ قدرت نه لري. ﴿وَتَنسَوْنَ﴾اى تتركون

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُم بِالْبَأْسَاءِ

اوبه تحقيق سره[1] لېرلي وو مونږرسولان ډېروامتونوته مخكښې ستا نه پس ونيول مونږهغوئ لره په سختوډ مال

وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ۝ فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا

او مرضونو سره د دې لپاره چه دوئ عاجزى وكړي. پس ولې نه وو كله چه راغې دوئ ته عذاب زمونږ

تَضَرَّعُوا وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

چه عاجزى ئې كړې وې ليكن سخت شوزړونه د دوئ اوښائسته كړې وو دوئ ته شيطان هغه عملونه چه دوئ به كول

فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ

پس هركله چه دوئ هير كړو هغه چه نصيحت كړې شوې وو دوئ ته په هغې سره نو را پرانستې مونږ په دوئ

أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا

دروازې د هرڅيز. تردې پورې چه كله دوئ خوشحاله شو (تكبر ئې وكړو) په هغه څه چه دوئ ته وركړې شوى وو

أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ۝ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ

اونيول مونږدوئ ناڅاپه پس دغه وخت دوئ نا اميده پاتې شو دهرڅيز نه. پس پرې كړې شوې جرړې دهغه قوم چه ظالمان وو

١ - تخويف دنيوى

﴿ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴾

او ټول صفتونه د الوهية خاص الله تعالى لره دي چه پالونکي دخلقو دي

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا ﴾ دلته (رُسلاً) مقدر دي ﴿ إِلٰى أُمَمٍ ﴾ دلته (فكذبوا) مقدر دي. اوتخويف دينوى دي چه مخکنو کافرانوته مونږ رسولان راليږلي وو-ليکن هغوئ تکذيب اوکړو نومونږ په هغوئ باندې ابتلاء امتحان اوکړو، يوځل په عذابونواوتکليفونوسره- اوبل واري په نعمتونو راحتونوسره، نوانسان عاقل کله دتکليفونونه عبرت واخلي نوعصيان اونافرمانی پريګدی اوکله دنعمتونونه عبرت واخلي نوشکريه اداکړی اوايمان راوړی، ليکن دوئ ددواړونه عبرت حاصل نه کړو نوالله تعالى په هغوئ عذاب استيصال نازل کړو اوبالکل ئې ختم کړل. ﴿ بِالْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ ﴾ باسآء مالی تکليف فقرقحط. ته وئيلې شی او (ضرآء) بدنی تکليف. مرضونه وغيره ته وئيلې شی. ﴿ فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُمْ ﴾ د (لولا) محل (تضرعوا) دي (اى هلاتضرعوا) تضرع سوال ته وائې په عاجزئ اوتذلل سره، د بلا، اوعذاب، دفع په دُعا اوتضرع سره کيږي. ﴿ وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ﴾ زړونه ئې په سخت والی مستمرپاتې وو- ﴿ وَزَيَّنَ ﴾، شرک اونورګناهونه شيطان ددوئ په نظرکښې خائيسته ښکاره کړه ﴿ فَلَمَّا نَسُوْا ﴾ اى ترکوا- ﴿ مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ ﴾ ايمان اوتوحيد مراد دي ﴿ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ ﴾ دادويم قسم امتحان وو چه کومې دخيردروازې په دوئ بندشوې وې هغه خلاصې شوې، نودوئ شکريه ادانه کړه بلکه فرح ئې وکړه، د ﴿ فَرِحُوْا ﴾ نه مرادفرح بطر. اوتکبر مراد دي، يعنى دوئ مغرور شوو، نوالله تعالى اونيول ، اودوئ تباه شو. ﴿ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴾ هلاك د کافرانو نعمت او رحمت دي د مؤمنانو لپاره نوځکه (الحمد لله) وه ويلې شو. حضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه ددې معنی داده چه ددوئ دهلاک نه دامعلومه شوه چه صفات کارسازی، داُولوهية، صفات، صرف الله تعالى لره ثابت دی، که چرې ددوئ معبودان متصرف، مشکل کشاوې، نودوئ به ئې بچ کړې وې.

﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى ﴾

ته ووايه ' وګورئ '[1] خبر راکړئ که واخلي الله تعالى غوږونه ستاسو او نظرونه ستاسو او مهر ولګوی په

[1] - نهم دليل عقلى په توحيد على سبيل الاعتراف من الخصم.

قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيْكُمْ بِهٖ ۭ اُنْظُرْ كَيْفَ

زړونو ستاسو نو څوك دي بل داسې رب سوی د الله تعالی نه چه راوړی (درکړي) تاسوته دا څيزونه. وګوره څنګه

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ۝ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ

قسم قسم بيانوو مونږ دليلونه بيا هم دوئ مخ اړوی د هغې نه وه وايه [۱] خبر راکړئ کچرې راشي تاسو ته عذاب

اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

د الله ناڅاپه (د شپې) يا ښکاره (د ورځې) نو څوك به هلاكولې شي؟ پدې عذاب سره سوی د قوم ظالمونه

﴿ قُلْ اَرَءَيْتُمْ ﴾ دانهم دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم دي. اومراد دسمع اوابصارنه ياظاهرى سمع اوبصردى ياباطنى دى ﴿ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ﴾ ددينه مراد سلب استعداد دي. يادقلوب نه مرادعقول دى يعنى كه چرې الله تعالى تاسو، كانړه- رانده- ليونى كړى. نوبل به څوك وى چه تاسو روغ كړى، اوغوګونه، سترګى،عقلونه، دركړى

﴿ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ﴾ تصريف په مختلف عباراتو، اومختلف اساليبوسره يومضمون ذكركولوته وائى. نوالله تعالى توحيداورسالت په مختلف اساليبواودلائلو عقليونقليؤ سره ذكركوى. ﴿ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴾ (ثم) داستبعاددپاره دي، (يَصْدِفُونَ) په معنى داعراض اومخ اړولوسره دي ﴿ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ ﴾ دا اعاده د اتم دليل عقلى ده سره دزيادت نه چه بغتةً جهرةً دي.د اَرَاَيْتَ نه بعداستفهام ضروراځى، كله مذكور وى اوكله مقدروى، دلته مقرردې چه (فمن يَهلكُ بِهِ، فمن يَدفعهُ) ﴿ هَلْ يُهْلَكُ ﴾، يامستقله جمله ده يادمحذوف، (فمن يهلك به) جواب دي معنى ئ داده چه هلاک مختص دې په كافرانوپورې.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ

اونه ليږو مونږ [۲] رسولان مګر زيرې وركوونكى او ويروونكى، پس چا چه ايمان راوړو اونيك كارونه ئى وكړل

۱ - اعاده د دليل سابق.
۲ - جواب د سوال مقدر

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا

بس نه به وي هيڅ يره په دوئ او نه به دوئ غمژن وي . او هغه کسان چه تکذيب کوي [۱] زمونږ د آيانونو

يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ۝ قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ

وبه رسي دوئ ته عذاب په سبب د دې چه دوئ نافرماني کوله. وه وايه : نه وايم زه تاسو ته [۲]

عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ ۚ

چه ما سره دي (خما په اختيار کښې دي) خزانې د الله. اونه پوهيږم په غيب باندې. اونه وايم زه تاسو ته چه زه فرشته يم.

إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ۝

زه نابعداري نه کوم مګر د هغې چه وحي ئې کيدې شي ماته، وه وايه آيا برابر دي ړوند اولېدونکي. بس آيا فکر نکوئ تاسي

﴿ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا ﴾ داجواب دسوال دې يعنى که چرې ته رسول ئې نوبيامونږ ته زمونږ فرمائشي معجزات ولې نه راوړې- لکه مخکښې تيرشو چه ﴿ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ ﴾ . بايه مونږ باندې عذاب ولې نه راولې- حاصل دجواب دادې چه معجزات راوړل ياعذاب راوستل دانبياؤ په اختيارکښې نه وي بلکه هغوئ بشارت انذاروركوي دثواب اوعذاب كرونه بيانوي ﴿ فَمَنْ آمَنَ ﴾ بشارت دې ﴿ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا ﴾ تخويف دې ﴿ يَمَسُّهُمُ ﴾ مس په معنى درسيدلو ، اوملصق كيدلوسره دې يعنى جوخت به شي عذاب په دوئ پورې

﴿ قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ ﴾ په دې آيت كښې، د پنځم شپږم اوم سوال جوابونه ذكركيږي. دڅلوروسوالاتوجوابونه مخكښې تيرشويدى دلته ددرې سوالاتوجوابونه ذكركيږى .دپنځم سوال حاصل دادې چه که چرې ته نبى وې مالداربه وې،ستا ملګرى متبعين به مالداروې. لکه ﴿ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝ ﴾ ، ﴿ فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ ﴾ - شپږم سوال حاصل دادې چه ته پيغمبرئې نومونږ ته دغيبوڅيزونوخبرراكړه په شام كښې دميوډغلې قيمت راته اوخايه، پټې خزانې راته اوخايه: داوم سوال حاصل دادې چه ته نبي

۱. تخويف أخروى.

۲. جواب د سوال نمبر (۵) او سوال نمبر (۶) او سوال نمبر (۷)

نې نوخوراک څکاک ولې کوې، بیاخومونږ اوته برابرشو ، جوابونه په ترتیب دادی (۵) چه زه دعوی دنبوت کوم-اومالداریٔ اوبادشاهیٔ دعوه نه کوُم چه ماسره خزانې ضروری شی اوزماملگری مالداروی (۲) زه دالوهیت دعوی نه کوم چه علم غیب به راته حاصل وی. زه عالم الغیب نه یم(۷) زه د مَلَکِیَتْ (فرشته والی) دعوه نه کوم چه خوراک سکاک به نه کوم. بلکه دنبوت دعوی کوم. نبوت سره بشریت مناسب دې مفسرین وائی چه په دې آیت کښې دمنصب رسالت په لوازماتو . روشنی اچولې شویده څکه چه منکرینوبه فرمائیشی معجزات غوښتل اودعناد په وجه به نې په مختلف قسمونوسوالات کول، چه قیامت به کله راځی . داڅنګه رسول دې چه طعام خوری بازارونوکښې گرځی غرونه دسروزروکړه وغیره، نوپه دې آیت کښې وضاحت اوشوچه دنبی دپاره داضروری نه ده چه دالله تعالی تولې خزانې به دده په قبضه کښې وی چه هرکله دده نه څوک دځه شئ طلب اوکړی نوخامخابه هغه کیږی یابه ئې په تولومغیباتو . خواه که دفرائضودرسالت سره تعلق لری یانه، به مطلع اوخبرداروی . یابه دبشری لوازماتونه برائت کوی، نوهرکله چه داامور دنبوت اورسالت دلوازماتونه نه دی نوداقسم سوالونه کول او دغه اموردتکذیب اوتصدیق معیارګرځول صحیح نه دی. بلکه محض عناددې، ﴿خَزَآئِنُ ٱللَّهِ﴾ ددینه مرادمقدورات دالله تعالی دی،یاترینه مرادمرزوقات دی-یاعبارت په حذف دمضاف سره دې (ای خزائن رزق الله).

﴿وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ﴾ په دې کښې دوه احتماله دی یوداچه داعطف دې په ((لااقول)) باندې نودڅُل ماتحت دې یعنی (قل لااعلم الغیب) دااعلان اوکړه چه زه عالم الغیب نه یم. دلته کښې نفی داصل فعل اوشوه اوپه ماقبل (لااقول لکم عندی خزائن الله) اومابعدکښې (وَلَآ اقول انی ملک) نفی دقول اوشوه څکه دغه دواړه دمشاهدې سره تعلق لری یعنی دامشاهده ده چه دنبی صلی الله علیه وسلم سره خزانې نشته دې اودامشاهده ده چه فرشته نه ده، نوهلته نفی دقول کافی وه. البته په علم غیب کښې احتمال ووچه نبی ته دې حاصل وی نوددې وجه نه د اصل فعل نفی اوشوه، اودویم احتمال دادې چه داعطف دې په محل د (عندی خزائن الله) باندې، او (لا) زاید دې دتاکیددنفی دپاره یا (لا) زائد نه دې خود((لا)) نه روستواقول مقدردې (لا اقول اعلم الغیب). بناپه دواړو تقدیرونومطلب دکلام دادې چه ما خو دا دعوه نه ده کړې چه زه عالم الغیب یم. نو تاسو چه داسې سوالات کوئ چه قیامت به کله وی. په شام کښې به دمیږو.

غلوخه قیمت دي. یاداسې سوال کوئ، چه (اخبرْنا بمصالحِنا ومضارنا فی المستقبل) یعنی په مستقبل کښې چه کوم مفید اومُضر ،اشیاء دی مونږ ته دهغې خبراکړه اوبیاچه ددې قسم سوالاتو،جواب درنکړې شی نوتاسو قدح په رسالت کوئ نوداقسم سوالات اوددې ،جواب مطالبه ،نامناسبه. اوبې محله سوالات اومطالبه ده. ځکه داسې قسم سوالات دهغه چانه کول پکاردی چه دعوه دعلم غیب ئې کړې وی او څه دغه دعوه نه کوم نوداقسم سوالات خمانه کول بې محله اومحض دضداوعنادپه وجه دی. دآیت صحیح مطلب داوؤ چه بیان شو

اواهل بدعت وائی چه «ولااعلم» الغیب په (عندی خزائن الله) باندې عطف دې یعنی صرف دویم احتمال مرادکوی، اودآیت مطلب داسې بیانوی چه زه په ژبه دانه وایم چه ما سره د الله تعالی ټولې خزانې دی اګر که په واقع اونفس الامر کښ ما سره تمامې خزانې او اختیارات دی.او زه داسې نه وایم چه په غیب عالم یم اګرکه په واقع کښې په تماتو مغیباتوعالم یم.. اوداخبره باطله ده، داتفسیرنه دې بلکه تحریف دې ځکه چه مطلب به داشی چه کومه خبره په واقع اونفس الامرکښې ده هغه زه نه وایم، بلکه دهغې خلاف وایم، بله داچه بیا به د

﴿وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ﴾ هم دغه معنی وی چه زه دانه وائم چه زه فرشته یم. اګرکه په واقع اونفس الامرکښې فرشته یم، د ((لااعلم الغیب)) نه داهم معلومه شوه چه دکوموامورو علم چه نبی ته په ذریعه دوحی سره ورکړې شی یاولې ته په ذریعه دالهام سره ورکړې شی هغې ته علم غیب نشی وئیلې نبی صلی الله علیه وسلم ته دډیرو مغیباتو علم ورکړې شویدې اودمغیباتو نه ئې خبرورکړې دې اوبیاهم ورته حکم کیږی چه اووایه چه زه په غیب نه یم عالم- نوداځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم ته دمغیباتوعلم په ذریعه وحی سره ورکړې شوې دې اوکوم علم چه په ذریعه دوحی، یاالهام، یابل څه ذریعې سره حاصل شی نوهغې ته علم غیب په اصطلاح دقرآن اوپه شرع کښې نشی وئیلې ،بلکه علم غیب هغه دې چه په اسبابو سره نه وی ،بلکه ذاتی وی، اوپه تماومغیبات باندې وی،اودجناب سیدالکونین حضرت محمدصلی الله علیه وسلم علمی کمالات بلکه تمام کمالات دتماومخلوقاتونه زیات دی اوپه مخلوق کښې ورسره هیڅ څوک برابر نشته ، خوبیاهم هغه دالله تعالی دطرف نه ورکړې شوی (عطائی) دی- اودالله جل جلاله سره برابر نه وو ، شعر :

دع ما اِدَّعَتْهُ النصارٰی فـی نبیّهم　　　واحکُم بماشِئْتَ مدحًا فیه واحتَکم

لایمکن الثّـناءُ کما کان حـقُّه　　　بعداز خدابزرگ توئ قصه مختصر

﴿إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ﴾ يعنى مادالوهيت دعوه نه ده كړې حتى چه تاسوته ستاسو مقترحات، معجزې ښكاره كړم- بلكه مادرسالت دعوه كړيده اودوحى اتباع كوم- بعض علماء ددې آيت نه اثبات كوي چه نبى صلى الله عليه وسلم اجتهادنه كولو، ليكن تحقيق دادې چه دنبى صلى الله عليه وسلم به چه اجتهاد ته ضرورت راغې نواجتهاد به ئې كولو- لكه ډيرواحاديثونه معلوميږي، البته كه چرې په اجتهادكښې به ئې غلطى راغله نوپه هغې به برقرارنشوپريښودلې نودهغې اتباع يعنى اجتهادپه حقيقت كښې اتباع دوحى وه، ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ﴾ يعنې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم اګركه بشردې اوبشرى ضروريات، دڅوراك سكاك ،ازواج وغيره، لرى خودنورو، بشرو، انسانانونه ئې ،دزمكې اسمان فرق دې، انسانى قوتونه دوه قسمه دى، علمى عملى، دعلمى قوتونوپه اعتبارسره دنبى اوغيرنبى په مينځ كښې درانده اوروغ په شان فرق دې دنبى دزړه سترګې هروخت دمرضيات الهيۀ او د تجليات ربّانيو لپاره پرانستلې وي،او د عملى قوتونو حال ئې دادې چه په هر حركت اوسكون كښې دالله تعالى دمرضياتو، تابع اومنقادوى، ﴿أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ﴾ آيا، تاسو دومره فكرسوچ نه كوئ چه حق دباطل نه جدا كړئ، ايمان راوړئ.

وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ
او ويره وه (نصيحت وكړه) (۱) په دې قرآن سره هغه كسانو ته چه يريږي دينه چه جمع كولې به شي خپل رب ته
لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ
نه به وى لپاره د دوئ ماسوى د الله تعالى د ذات نه كارساز اونه په غير د اذن د ده نه سفارش كوونكې
لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ۝ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ
لپاره ددې چه دوئ بچ شي(دعذاب نه). اومه شړه هغه كسانو لره چه بلى دوئ رب خپل صبا اوبيګا،غوارى دوئ
وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم
رضا د الله تعالى، نشته دې په تا باندې د حساب د دوئ نه هيڅ څه، او نشته دې د حساب ستا نه په دوئ باندې

۱ - زجر

مِنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ

هيڅ څه. چه نه وشړې دوئ لره (مه شړه دوئ لره) کنې شې به نه د ظالمانو نه او دغه شان آزمایو مونږ ځینې

بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

په ځنو سره. عاقبت دا چه وه وائې منکرین آیا دا هغه کسان دی چه احسان کړې دې الله تعالی په دوئ باندې

مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ۝

د مینځ زمونږ نه. آیا نه دې الله تعالی ښه پوهه په شکر کوونکو باندې

﴿ وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ ﴾ دا تخویف اخروی دې. ﴿ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ ﴾ نه مراد یا هغه مؤمنان دی چه قیامت منی خو عملی کمزوری پکښې وی یا ترینه مراد اهل کتاب یا هغه مشرکان دی چه قیامت منی. او په دې آیت کښې اشاره ده چه انذار هغه چاته نفع ورکوی چه په زړه کښې ئې خوف د قیامت وی، نو ایمان په قیامت باندې ذریعه ده دپاره د نفع اخستلو د قرآن نه . ﴿ لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ﴾ په دې کښې اشاره ده چه که یو کافر او مشرک صرف خوف او یقین د آخرت لرې. لکه اهل کتاب وغیره نو صرف د قیامت منلو په وجې سره نه د هغه مغفرت کیدی شی نه د هغه دپاره شفاعت، معتزله د شفاعت نه منکر دی او په دې آیت سره دلیل نیسی. ځکه چه دا آیت صریح دې په دې کښې چه د الله تعالی د ذات نه ماسوی بل څوک ولی. کارساز نشته دې او بل څوک شفاعت کونکې هم نشته دې. اهل سنت والجماعت وائې چه شفاعت حق دې د مؤمنانو دپاره، ډیر نصوص په دې دلالت کوی- او **جواب** د دې آیت دا دې چه دلته تقدیر دې. ((ليس لهم من دون ذاته ولى ولامن دون اذنه شفيع)) دلته نفی د شفاعت بلا اذن ده. او د مطلق شفاعت نفی نه ده. ﴿ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ ﴾ دا زجر دې. روایت دې چه رؤساؤ د مشرکینو نبی صلی الله علیه وسلم ته او وئیل چه ستا په مجلس هغه کسان ناست وی چه هغه زمونږ غلامان وو. او خوار حقیر خلق دی نو د هغوئ سره په یو ځائې کیناستلو مونږ ته شرم راځی نو نه دوئ د خپل مجلس نه اوشړه نو مونږ به ستا سره کینو او ستا خبره به واؤرو- نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل ((ما انا بطارد المؤمنين)) زه خو مؤمنان د خپل مجلس نه نه شړم. نو دوئ او وئیل چه بیا داسې اوکړه چه کله چه مونږ ستا حضور ته راشو. نو دوئ په دغه وخت کښې لرې

کوه. نوحضرت عمررضی الله عنه اووئیل چه په دي کښې خه حرج نشته دي. داغرباء خوهم کامل ایمان والادي. دوستان دی. که دځه وخت دپاره دوئ جداشي. اوغنیان راشي نوکیدې سي چه ایمان راوړی نودنبی صلی الله علیه وسلم په زړه کښې هم داسې اراده راغله. نودا آیت نازل شو. اوحضرت عمررضی الله عنه معذرت پیش کړو. اودنبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضرشو نوروستني آیت نازل شو. ﴿يَدْعُونَ رَبَّهُم﴾ ددینه مرادبلنه ده یعنې فقط دخپل رب بلنه کوی بل چاته چغه نه وهی په وخت دتکلیف اومصیبت کښې .یاترینه مراد مونځ دي یاترینه مرادذکردي. یاتلاوت دقرآن دي. ﴿يُرِيدُونَ وَجْهَهُ﴾ داحال دي دضمیر دیدعُونَ نه. ددینه مرادرضاء الهی اواخلاص دي. اوپه ﴿بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ﴾ کښې اشاره ده دوام ته. یعنې ددوئ په عبادت کښې دوام هم دي اواخلاص هم دي ﴿مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم﴾ دادمشرکانودقول جواب دي چه دوئ نبی صلی الله علیه وسلم ته اووئیل چه غریبانو په تاباندې حقیقی ایمان نه دي راوړې. حاصل دجواب دادې چه ظاهری علامات د دوئ دَاخلاص دی اودباطن حساب کول ئې په تاباندې نشته دي﴿وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ﴾ دا دتاکیددپاره ذکرکیږی. ځکه نبی صلی الله علیه وسلم دأمت دپاره مربی دې اودمربی دپاره دخپلو ما تحتانو د احوالودتفتیش کولواحتمال شته دي لیکن دَ دي برعکس دماتحت دپاره مربی داحوالودتفتیش کولوهیڅ احتمال نشته دي نودلته محتمل دمتیقن سره برابرکړې شو نوتاکیدحاصل شو. یعنې لکه دادویم احتمال چه څرنګه منتفی دي نودغه شان اول هم منتفی دي.یادحساب نه مراد. کفالت درزق دي(قرطبی) یعنې ددوئ دررزق کفالت اوبوج په تانشته دي اوستادرزق بوج په دوئ باندې نشته دي، ستاسوپه مینځ کښې تعلق صرف دالله تعالی اودایمان اوعمل صالح په وجې سره دي ﴿فَتَطْرُدَهُمْ﴾ دامنصوب دي جواب دنفی دي (ای ماعلیک من حسابهم فتطردهم) یعنې نشته دي په تاباندې حساب ددوئ چه اونې شړې- اول سبب دي دویم مسبب دي اوچه سبب منتفی وی نومسبب هم منتفی وی نوچه حساب نشته دي نوطردهم نشته دي﴿فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾فتکون منصوب دي جواب دنهی دي ((ای لاتطرد))، ((فتکون من الظلمین)) یعنې دوئ مه شړه ورنه دظالمانونه به شې، نودلته تقدیم تاخیردې اصل دارنګه وو- (لاتطردفتکون من الظلمین ماعلیک من حسابهم فتطردهم) (قرطبی) زی محشری

وائي چه جائزده چه (فتكون من الظلمين) عطف شي په ((فتطردهم)) باند دقبيلي دعطف دمسبب نه په سبب باندې ځکه طرد،شړل، سبب دې کون من الظلمين دپاره. اوطردخومنتفي دې په وجه دانتفاء دسبب سره نوکون من الظلمين هم منتفي دې. دآيت مطلب دانه دې چه نبي صلی الله عليه وسلم ،طرد ، شړل کړيدی اوظلم ئې کړيدې بلکه مطلب دادې چه طردنې نه دې کړی او نهي يعنی په طريقه دتعليق سره وئيلې شوی دی که چرې دوئ دې اوشړل نوډظالمانونه به شي. اومفسرين وائي چه نبي صلی الله عليه وسلم اراده کړې وه ددوئ دلرې کولودمجلس نه ،لگ وخت دپاره. ليکن داددپاره دطمع په اسلام دکفارو. اودااجتهادی خطائي وه نوپه دې وجه نهي راغله اومحفوظ شو دخطاء اجتهادی نه هم .امام رازی رحمه الله وائي چه په قرآن کښې چه د انبياؤ په حق کښې لفظ د ظلم استعمال شوې وی نوهغه په معنی د خطاء اجتهادی اوخلاف اولی سره وی. نبي صلی الله عليه وسلم ددې خطاء اجتهادی نه هم محفوظ اوساتلي شو. ﴿ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا ﴾ دااوله وجه دانکاردمشرکينوده حاصل ئې دادې چه مونږ ددولتمندومشرکينوازمائيش په غريبانو . مسلمانانوسره کړيدې، چه مشرکين ددولت په نشه کښې مست دی، صحابۇ رضی الله عنهم ته خوارذليل ګوری اوتحقيرئې کوی چه آيادوئ څه رنګه دالله تعالی دفضل لائق دی، نوځوک چه دصحابۇکرامورضی الله عنهم اودالله تعالی ددوستانوتحقيرکوی نوهغه دايمان اودهدايت ددولت نه محروميږي، ﴿وَكَذَٰلِكَ ﴾کښې کاف دتشبيه دپاره نه دې، لکه صاحب دروح المعاني وائي (والكاف مقحمة بمعنى ان التشبيه غيرمقصود منهابل المقصودلازمة الكناية اوالمجازى وهوالتحقق والتقرر –اهـ) حضرت شيخ رحمه الله ددې نه تعبيرکوی چه كاف للبيان الكمال.دې .لکه محاوره ده چه داسې کارنامې خومونږ کوو. نود (كذالك) معنی داده چه دازمونږ دقدرت کرشمې ،اوکمالات دی، چه مونږ په دوئ امتحان کړي دې . اولام په ﴿لِّيَقُولُوٓا﴾ کښې دعاقبت دې، يعنی انجام کارداشو چه دوئ توهين اوتحقير دصحابۇاوکړونودايمان نه محروم شو، ﴿أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ﴾ يعنی الله تعالی زړونوته ګوری، ظاهرصورت، مالدارئې ته نه ګوری

وَإِذَا	جَآءَكَ	ٱلَّذِينَ	يُؤْمِنُونَ	بِـَٔايَٰتِنَا	فَقُلْ	سَلَٰمٌ	عَلَيْكُمْ

اوکله چه راشي تاته هغه کسان چه ايمان لری په آيتونو زمونږ پس ووايه چه سلام دې وی په تاسو ،د طرفه د الله نه،

كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ

لازم كړي دي رب ستاسو په خان خپل رحم كول (هغه دا چه) چا عمل كړي وى ستاسو نه بد عمل په ناپوهئ سره

ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ ۙ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَكَذٰلِكَ

بيا توبه وباسى روستو د دينه او نيك عمل كوى، پس يقينًا هغه بښونكي دي، مهربان دي اودغه سي هميشه

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَ لِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

تفصيل كوؤ مونږ[1] د آيتونو د توحيد، او لپاره د دي چه ښه ښكاره شى لار د مجرمانو

﴿ وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا ﴾ دامتعلق دي د (ولاتطردالذين –الخ) سره. نوعلى سبيل الترقى وئيلي كيږى چه دوئ خودخپل مجلس نه مه جداكوه بلكه چه كله دوئ ستامجلس ته راشى نوخما سلام ورته اووبه، اودابشارت ورته وركړه چه الله تعالى په خپل خان باندې لازم كړيدې رحمت كول په تاسو. اوكه ستاسونه څه گناه دناپوهئ سره شوې وى نوهغه به هم معاف كوى.

فائده دادصحابه كراموشان دې، چه الله تعالى په خپل كلام ازلى كښې ذكركړيدى. اوحقه خبره داده چه دصحابه كرامورضى الله عنهم شان دقرآن نه معلوميږى نه دتاريخى رواياتونه. نوبناپه دې توجيه باندې مرادد (الذين يؤمنون – الخ) نه هغه كسان دى چه نبى صلى الله عليه وسلم منع كړې شودهغوئ دطرد نه. اودويمه توجيه په دې آيت كښې دا ده چه داپ. حق دحضرت عمررضى الله عنه كښې نازل دې. كله چه ئې مشوره وركړه اوبياآيت نازل شو ((ولاتطردالذين)) نوعمررضى الله عنه ډيرنادم شواودنبى صلى الله عليه وسلم حضورته راغي معذرت ئې پيش كړونوداآيت نازل شو-﴿ فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ﴾مرادترينه دادې چه خما سلام دوئ ته اووايه. يامراددادې چه ته پخپله دوئ ته سلام اووايه . **نوسوال** واردیگى چه سنت طريقه داده چه راتلونكى به سلام وائى. **جواب** دادې چه دا صحابو خصوصيت دې. اوددينه دامعلومه شوه چه هركله داعى دحق ته څوك سپكې سپورې اووائى اوتحقير اوتوهين ئې اوكړى نوهغه ته تسلى وركول اوبشارت وركول پكاردى.

﴿ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ ﴾ دادويمه وجه دانكارده،يعنى مونږ حق په تفصيل او وضاحت

---

[1] . رسمه، چه

سره بیانوؤ- اوددوئ دعقائدو شرکیؤ ردپه وضاحت سره کوؤ، نودوئ ضدکوی اوانکارکوی ﴿وَلِتَسْتَبِيْنَ﴾ په دې واؤ کښې درې قوله دی: (۱) دا واؤ زائد دې او ﴿وَلِتَسْتَبِيْنَ﴾ علت دې دماقبل دپاره (۲) واؤعاطفه دې اومعطوف علیه ورته په لفظ کښې مناسب مقدردې (ای لِتستبِينَ سبيلُ المؤمنينَ وَلِتستبينَ سبيلُ الْمُجرمِينَ)، (۳) واؤعاطفه دې معطوف علیه ورته په لفظ کښې نشته دې بلکه داعطف دې په مضمون دکلام سابقه باندې

قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

وه وایه بیشکه زه منع کړې شوي یم [1] د دینه چه عبادت وکړم دهغه معبودانو چه تاسو ئې عبادت کوئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَاۗءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ

چه ماسوی دالله تعالی نه دی، ته وه ایه چه زه تابعداری نکوم [2] دخواهشاتو ستاسو، په تحقیق سره گمراه به شم زه

اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ۵۶ قُلْ اِنِّيْ عَلٰي بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

دغه وخت، او نه به یم زه د هدایت والؤ نه. وه وایه بیشکه زه په ښکاره دلیل باندې یم [3] د طرف د خپل رب نه

وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ۭ مَا عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ۭ

او تاسو تکذیب کوئ د هغې، نشته دې ما سره هغه څه (عذاب) چه تاسو ئې په تلوار سره غواړئ هغه.

اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۭ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ۵۷ قُلْ

ندې اختیار مگر الله تعالی لره دې. بیانوی الله تعالی حق لره، اوهغه ډیر غوره فیصله کوونکې دې وه وایه

لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ

کهچرې وې ما سره [4] (خما په اختیارکښې) هغه شې چه تاسوئې په تلوارسره غواړئ هغه نوخامخا به فیصله کړې شوې وې

---

1 - خلورمه طریقه، تبلیغ.

2 - پنځمه طریقه، تبلیغ.

3 - شپږمه طریقه، تبلیغ.

4 - اوومه طریقه. تبلیغ.

الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ ۝

د کار په مينځ ځما او ستاسو کښې. او الله تعالى ښه عالم دی په ظالمانو

﴿قُلْ إِنِّي نُهِيتُ﴾ داځلورمه طريقه دتعليم اودعوت ده. يعنى فعل خپل ځان ته منسوب كول مخاطبين اراده كول-﴿قُل لَّا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ﴾ داپنځمه طريقه ددعوت ده. ﴿قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ﴾ داشپږمه طريقه ددعوت ده چه ماسره حقيقة دتوحيداورسالت باندې واضحه دلائل موجوددى تاسو. دضددوجې نه انكاركوئ اوتكذيب كوئ-﴿قُل لَّوْ أَنَّ عِندِي﴾ داومه طريقه دتبليغ ده اوجواب دسوال دې هغه داچه كه نه برحق نبى ئې نوزمونږ دانكارپه وجې په مونږباندې عذاب راوله. **جواب** اوشوچه عذاب نازلول ځماپه اختياركښې نه دى كه چرې وې نوزمااوستاسوپه مينځ كښې به فيصله شوې وې.

وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا

او په نيز د الله تعالى دى خزانې د غيب[1]، نه پوهيږى په هغې مگر صرف الله تعالى. او پوهيږى په هر هغه څه

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا

چه په وچه كښې دى او د درياب كښې دى، او نه را غورزيږى هيڅ پاڼړه مگر الله تعالى عالم دې په هغې

وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ۝ وَهُوَ الَّذِي

اونه پريوځى يوه دانه په تيرو دزمكه كښې اونه لونداونه وچ مگرپه كتاب واضح كښې دى . او الله تعالى هغه ذات دې[2]

يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ

چه قبض كوى روح ستاسې د شپې اوپوهيږى په هرهغه څه چه تاسوئى كوئ د ورځې. بيا راپورته كوى تاسو لره

فِيهِ لِيُقْضَىٰ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ

په بله ورځ كښې لپاره د دې چه پوره كړې شى نيټه مقرره. بيا خاص د هغه مخې ته ده پيښى ستاسو.

١ - لسم دليل عقلى

٢ - يوولسم دليل عقلى

ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۞

بيا به خبر كړي تاسو په هغه عملونو چه تاسو به كول

﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ﴾ دالسم دليل عقلي دي په توحيدباندي- اوجواب دسوال دي هغه
داچه كه عذاب نشي راوستلې نوداخواووايه چه كله به راځي. **جواب** دغيب علم الله تعالى
سره دي ماسره نشته دي، اوتقديم د «عِنْدَهُ» دپاره دحصراختصاص دي او«**مَفَاتِحُ**» ياجمع
دمفتاح ده يعني صرف الله سره دی كُنجياني دخزانودغيب. ياجمع دمفتح ده په معنی
دخزانوسره يعني صرف الله تعالى سره دی خزاني دغيبو. ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ﴾ قاعده كليه
ده او﴿وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ ددغه قاعدي كليي جزئيات دي.موجودات دوه قسمه دي.
اعيان،اعراض، اواعيان يوبري دی اوبل بحري دی اواعراض هم مختلف قسمونه دي- لكه
حركات، صفات، رطوبت يبوست وغيره دلته دټولوذكردي. يعني په تمامو موجوداتو
اودهغوئ په تمامواحوالو، تغيراتوباندي عالم صرف الله تعالى دي او﴿كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ نه
مراداعلم دالله تعالى دي يالوح محفوظ دي﴿وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم﴾ دايولسم دليل عقلي دي
په توحيد، اوتخويف اخروي دي دتوفّی نه مرادقبض دروح مميزه دي اوقيدد﴿بِالَّيْلِ﴾ په
اعتباردااكثريت سره دي نودانسان خوب اوبيداركيدل دالله تعالى دقدرت لويه نشانه اودبعث
بعدالموت نمونه ده﴿ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ﴾ ضميردفِيهِ نهاراُخرى ته راجع دي تيرشوی نهارته نه
دي راجع.﴿لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ﴾ شپه روزتيريدلوسره دانسان دمرگ مقرره شوي نيټه پوره كيږي
﴿ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ﴾ دمرگ نه روستو، بياداالله تعالى حضورته پيش كيدل دی اوداعمالو
حساب كتاب دي.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ

او دي غالب دي په خپلو بندگانو. او راليږي په تاسو باندي ساتونكي ملائك. تر هغې چه كله راشي بو تن ته ستاسونه

الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ۞ ثُمَّ رُدُّوٓا

مرگ، روح قبض كړي د هغه نه ملائك زمونږ او دوئ هيڅ كوتاهي نه كوي په حكم د الله كښې بيا به پيش كړي شي دوئ

إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ۝

الله تعالى ته چه مالك د دوئ دې ، حق دې ، خبردار، خاص هغه لره اختيار دې اوهغه زر حساب كوونكې دې

قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً

ته وه وايه [۱] څوك بچ كوى تاسو د تيرو (سختو) د وچې او د دريابونونه چه بلئ تاسوهغه په عاجزئ سره او په پټه سره

لَئِنْ أَنْجَانَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ۝ قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُمْ

(وايئ تاسو) كچرې بچ ئې كړو مونږ د دې مصيبت نه ، خامخا شو به مونږ د شكر گذارونه وه وايه [۱] الله به بچ كړى تاسو لره

مِنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنْتُمْ تُشْرِكُونَ ۝

دهغې نه او دهر غم نه بيا به هم تاسو شرك كوئ

﴿ وَهُوَ الْقَاهِرُ ﴾ دا تخويف دې، قاهِر معنى داسې زوراور، اوغالب چه ظلم نه كوى اوهيڅ څوك ئې خپلې ارادې نه نشي منع كولې اود ﴿ فَوْقَ ﴾ نه مرادفوقيت دمكان اوجهت نه دې لكه مخكښې ذكرشو. اوغلبه دالله تعالى په بندګانو داده چه دوئ ئې د عدم نه وجود ته راوباسلى دى او بيا به ورته موت وركوى، د بندګانو پيدا كيدل اودنياته راتلل ددوئ په اراده اواختيار سره نه دى اوددنيا نه تلل هم ددوئ په اراده اواختيارسره نه دى اودارنګه بيمارى صحت، خوشحالى غم، اوتمام احوال ددوئ، صِرف ديوالله جَلَّ جَلَالُه په اختيارارادې سره دى

﴿ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ﴾ دا هم يوصورت دغلبې دالله تعالى دې چه غلبه په حفاظت كولوسره دە، ارسال په معنى دمقرركولواودمحكوم ګرځولوسره دې حفظةً جمع دحافظٌ دە. لكه كتبةٌ جمع دكاتب دە. اوپه دې كښې درې قوله دى اول داچه ددينه مرادكرام الكاتبين دى چه حفاظت اوكتابت داعمالوكوى. يوملك اعمال حسنه محفوظ كوى اوليكې ئې. هغه په جانب ديمين كښې دې اوهغه اميردې اوبل ملک اعمال سيئة ، محفوظ كوى اوليكې ئې اوهغه په جانب ديساركښې دې ماموردې. **اودويم** قول دادې چه ددينه مرادهغه فرشتې دى چه حفاظت كوى دجسم دانسان دموذياتو نه چه هغې ته معقبات وائى لكه په سورت رعدكښې ذكر دې **اودريم**

۱ - دولسم دليل عقلى

...ول دادي چه ددینه مراد عام دی یعنی هغه فرشتې چه داعمالو دنګرانۍ اوداجـ...مو دحفاظت دپاره مقرری دادواړه مراددی، اوپه دې کښې تنبیه ده چه انسان لره غفلت نه دې پکار. خکه چه الله تعالی په خپله هم په دوئ باندې عالم اورقیب دې اوفرشتې پر هم مقرري دی دهرخه نګرانی ئې کوی اوتمام اعمال به ئې په ورځ دقیامت باندې علی رؤوس الاشهاد پیش کیږی اوبنکاره کیږی به، ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ﴾ یعنی دافرشتې ستاسوحفاظت کوی ترخوچه زندګی باقی وی اووخت موعوددموت نه وی راغلې لیکن کله چه وخت موعودراشی نوبیادغه فرشتې حفاظت نه کوی بلکه ددوئ ډیوټی نګرانی ختمه شی ﴿تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا﴾ د رسلنا نه مراد (الآخرون) یعنی نورې فرشتې دی چه هغوئ مقرر دی په قبض د روح باندې هغه مراد دی اوحفظه ندی مراد. اوپه دې کښې دوه قوله دی یو داچه مراددرسلنا» نه ملک الموت اواعوان دملک الموت دی، اودویم قول دادې چه یواځې ملک الموت ترینه مراددې اوجمع تعظیماً ده. که څوک سوال اوکړی چه په سورت زمرآیت نمبر ۴۲ کښې نسبت دتوفی الله تعالی ته شویدې ﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا﴾ اوپه سورة آلم سجده ۱۱ کښې نسبت ملک الموت ته شویدې ﴿قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ﴾ اوپه دې آیت کښې نسبت ډیروملائکو ته شویدی، فماوجه التطبیق، جواب دادې چه نسبت الله تعالی ته حقیقةً دې خکه چه وفات کونکې حقیقة هغه دې نوهرکله چه وخت دموت راشی نوالله تعالی امراوکړی ملک الموت ته دقبض دروح نوملک الموت ته نسبت په دې وجه دې چه دې ماموردې په توفي یعنی په قبض دروح باندې اودملک الموت دپاره نوراعوان اوملګری دی نوملک الموت هغوئ ته حکم اوکړی دروح رااوباسلو، نوچه روح حلقوم ته اورسی نوملک الموت ئې ترینه بیاپه خپله قبض کړی نودوئ ته نسبت په دې وجې سره کیږی چه دوئ اعوان اوملګری دملک الموت دی. ونیلی دی حضرت مجاهد رحمه الله چه نشته دې هیڅ یوکچه کوریاپوخ کور، مګرملک الموت دهغې طواف کوی دروزی دوه واری (السراج المنیر).

﴿وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ﴾ فرشتې کمې کوتاهی نه کوی نه دوخت موعودنه قبل دچاروح قبض کوی اونه چاته مهلت اوتاخیرورکوی ﴿ثُمَّ رُدُّوٓا﴾ ضمیرد «ردوا» راجع دې انسانانوته چه ذکرئې شویدې په ماقبل کښې ﴿وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ﴾ کښې نوداالتفات شودخطاب نه غیبوبة ته یا

دا ضمير راجع دي رُسُل ته اومراد دا دي چه دافرشتې به هم وفات شي اوبيابه دالله تعالى ته حضورته پيش شي ﴿مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ﴾ مولى په معنى دمالک على الاطلاق دټولواموروږي. اوحق په معنى دعادل. صادق الوعد. سره دې حجة الاسلام غزالي رحمه الله وائي چه حق مقابل د ـ ضل دې اوهرشئ (مخبرعنه) يابه باطل مطلقًا وي يابه حق مطلقًا وي يا به حق باطل من وجه وي نو دحق معنى داده چه هغه ذات چه موجود حقيقي بذاته دې اوهغه صرف ذات دالله تعالى دي ﴿أَلَا لَهُ الْحُكْمُ﴾ صرف دالله فيصله نافذه ده په هرخه کښې ﴿وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ﴾ الله تعالى ډير زر حساب کونکي دې لکه په يوحديث کښې دی چه چه ((فى مقدارنصف يوم)) په اندازه دنيمې ورځې کښې به حساب اوکړی. اوپه يوروايت کښې ((قدرحلب شاة)) دې وغيرذلک من الروايات

﴿قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ دادولسم دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم دي. مشرکانو به په ډيرې سختئ کښې صرف ديوالله بلنه کوله، اودابه ني وئيل چه دازموږ معبودان زموږ مددنه په درياب کښې نشي رارسيدلې نوالله تعالى فرمائي چه لکه څرنگه چه تاسو په ډيره سختئ کښې ديوالله تعالى نه مددغوارئ نودغه شان په هرتکليف کښې ديوالله نه مددغوارئ ځکه بل څوک مددگارمشکل کُشانشته دې، اومراددظلماتونه ياخودظلمات يعنى (تيرى) مراددى، ((ظلمات البر)) دا چه په صحراء او ځنگل کښې د شپې او د وريځې يا د باران يا دهوا او د گردونوپه تيروکښې راگير شي. او ((ظلمات البحر)) دادی چه په درياب کښې په (تيرو) دشپې اودوريځې يادباران يادهوااوگردونو په تيروکښې راگيرشي، يامرادظلمات نه شدايداوسختئ دی چه په انسان باندې راځی په وچه کښې وی يادرياب کښې .﴿تَدْعُونَهُ﴾ داحال دې دضميردکُم نه په ﴿يُنَجِّيكُمْ﴾ کښې ﴿تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾ دادواړه منصوب يا بنا بر حالية دی دضمير د تَدْعُوْنَ نه او دواړه مصدرپه معنى داسم فاعل سره دې منصوب دی بنا په دې چه دامفعول مطلق دې من غيرلفظه ياپه اعتبار دموصوف مقدر سره دی، اوتضرعًا په معنې دعاجزئ سره دې ياپه معنى دعلانيه اوجهرسره دې، اودخفيةً نه مرادسوال دې په زړه کښې په اخلاص سره اومراددادې چه کله تاسو په ډيره سختئ کښې صرف دالله تعالى نه سوال کوئ کله په جهرسره اوکله په زړه کښې، ياپه يووخت کښې تضرع په ژبه،اوپټ والى يعنى اخلاص په زړه کښې وی. ﴿لَئِنْ أَنْجَانَا﴾ (يقولون). يا

(يقولون) مقدر دي. او لام موطئه للقسم دي (اى والله لئن انجانا) يعني تاسو قسمونه کوئ که چرې الله تعالی مونږ ددې مصيبت نه خلاص کړو نو مونږ به خامخا الله تعالی شکر کوو په دې نعمت باندې او شکر خو د نعمت حق اداکول دی نو ددې نعمت حق ادا کول خو ايمان او توحيد دي ليکن تاسو بيا هم شرک کوئ

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ

نه وه وايه چه الله قادر دي پدې چه راوليږی په تاسو باندې عذاب دبره طرف ستاسو نه يا لاندې د خپو ستاسو نه.

أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ ۗ اُنْظُرْ كَيْفَ

يا خلط اوگډ کړی تاسو لره مختلف خيال والا ډلې. او وبه څکوی بعضې ستاسو ته جنگ دبعضو. وگوره څنگه

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ۝ وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۗ

تسماقسم بيانوو مونږ دليلونه د دې لپاره چه دوئ پوهه شی او دروغ گڼړی[1] دې لره قوم ستا او دا حق دې

قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ۝ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ۡ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝

ته وايه نه يم زه په تاسو نگهبان او ذمه وار لپاره د هرې خبرې وخت مقرر وی او زر ده چه تاسو به پوهه شئ

﴿قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَنْ يَّبْعَثَ﴾ دا تخويف دنيوی دې په دې آيت کښې ددرې عذابونو ذکر دې داولودوه عذابونو نه امت محفوظ کړې شويدې په سبب د دعا دنبی صلی الله عليه وسلم سره اودريم عذاب به وقتًا فوقتًا په دې آمت باندې نازليگی امام بخاری دحضرت جابر رضی الله عنه نه روايت ذکر کړيدې چه هرکله دانازل شو ﴿قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ﴾ نونبی صلی الله عليه وسلم اووئيل ((اعوذ بوجهک)) نو ددې عذاب حفاظت اوشو، اوچه ﴿أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ﴾ نازل شو نونبی صلی الله عليه وسلم اووئيل ((اعوذ بوجهک)) نو ددې عذاب نه هم حفاظت راغې، اوهرکله چه ﴿أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ الخ راغې نونبی صلی الله عليه وسلم اووئيل (هذااهون اوقال هذا يسر) تفسير مظهری په حواله دبغوی نقل کړيدی چه سعد بن ابی وقاص

---

[1] زجر ھ

رضی الله عنه فرمائی چه یوځل مونږدنبی صلی الله علیه وسلم سره روان وونوزمونږ تیریدل اوشو په مسجددبنی معاویه باندې نونبی صلی الله علیه وسلم مسجدته لاړو، اودوه رکعته مونځ ئې اوکړواومونږ هم مونځ اوکړو، بیانبی صلی الله علیه وسلم په دعاکښې مشغول شو اوډیروخت پورې ئې دعاکوله، اوبیائې ارشاداوفرمائیلو چه ماد خپل رب نه درې خبروسوال اوکړو یوداچه زماامت په غرق کولوسره هلاک نه شی نودادعا قبوله شوه اودویم داچه زماامت په قحط اودلوګې په ذریعه سره هلاک نشی نو دا دعا هم قبوله شوه، دریم داچه زماامت په خپل مینځ کښې په جنګ اوجدال سره تباه نه شی نودائې منع کړه، اودابن عمررضی الله عنه په روایت کښې په درې دعاګانوکښې یو داده چه په دې امت داسې دشمن مسلط نه شی چه ټول تباه اوبربادکړی، دادعاقبوله شوه ،اوچه په خپلوکښې اونه جنګیږی نودادعاقبوله نه شوه، په دې آیت کښې دعذاب الهی درې صورتونه ذکرشویدی اول داچه ﴿عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ﴾ «عذابًا» نکره ذکرشویده نودیته اشاره ده چه د (عذابًا مِنْ فَوْقِكُمْ) مختلف صورتونه کیدې شی، دفوق نه مراددادې چه داسمان دطرفه چه کوم عذاب راځی سخته هوا، صیحه، کاڼې ورول، طوفان، لکه په عادیانو ثمودیانوقوم لوط علیه السلام ، اصحاب فیل، قوم نوح وغیره باندې راغلی وو، اومراد د ﴿مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ﴾ نه هغه عذاب دې چه دلاندې طرف نه راشی لکه خسف په قارون اوغرق په فرعون، اودابن عباس اومجاهد، نه منقول ده چه «**عذاباً من فوقکم**» نه مرادظالم حاکم اوبادشاه دې، اودتحت نه مراد نافرمانه رعیت غلامان، نوکر، ملازم او اولاد دې، ظالم حاکم درعیت دپاره عذاب وی، اوسبب ورته ګناهونه او معاصی وی، لکه په حدیث کښې راغلی دی ((کماتکونون یُوَمّرعلیکم)) چه ستاسواعمال څنګه وی هغه شان به ستاسو حاکم اوبادشاه وی، او((اعمالکم عُمّالکم)) هم مشهوره مقوله ده : شعر:

شامتِ اعمال ماصورتِ نادر گرفت

په حدیث قُدسی کښې دی – ((**عن ابی الدرداء قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله تعالی یقول اناالله لااله إلاّانا، مالک الملوک وملِک الملوک قلوب الملوک فی یدیّ وإنّ العِبادَ إذاطاعُونی حولتُ قلوبَ ملوکِهم علیهم بالرّحمة والرّأفةِ وإنّ العبادَ اذا عَصَوْنی حولتُ قلوبَهم بالسخطة والنقمة فساموهم سوء العذاب فلاتشغلواانفسکم بالدعاء علی الملوک ولکن اشغلواانفسکم بالذکر والتضرع کی اکفیکم**)). **رواه ابونعیم فی الحلیة ، مشکوة ص ۳۲۳ ج ۲** .

ترجمه الله تعالی فرمائی چه زه الله یم، زمانه سوی هیڅوک معبودنشته دي. زه دټولوبادشاهانومالک یم او بادشاه یم. دټولوبادشاهانو زړونه زماپه لاس کښې دی ، او بندګان چه کله ځما اطاعت کوی، ځماحکم منی، نوزه ددوئ دبادشاهانو ،حاکمانو په زړونو کښې ددوئ «رعیت» مینه شفقت واچوم ،اوبندګان چه ځمانافرمانی کوی نوزه ددوئ دحکامو زړونه په دوئ سخت کړم چه هغوئ «حکام »دوئ ته هرقسم سخت عذابونه ورکوی. «نوچه تاسوداواوینئ » نو تاسو حکاموته په بدرد ، وئیلومشغوله کولوسره خپل اوقات مه ضائع کوئ بلکه الله تعالی ته په ذکراوزاریٔ کولوکښې مشغول شئ«یعنی دخپلو عملونو اصلاح اوکړئ» ددې دپاره چه زه ستاسو کفایت اوکړم اوستاسوحالات درست کړم. ظالم حاکم چه لکه څه رنګه درعیت اوقوم دپاره عذاب وی نو دغه شان رعیت او قوم دظالم حاکم دپاره عذاب وی. اوسبب ددې عذاب دپاره بداعمال دی، اوعلاج اوحل دمسئلې صرف او صرف. رجوع الی الله اواصلاح داعمالوده، صاحب دکشاف وائی چه ﴿عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ﴾ نه مراد ، باران بندول دی اوتحت نه مراد . دزمکې نه فصلونه اوګیاه بندوَل اونه پیداکیدل دی، د ﴿أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ داددریم عذاب ذکردې، چه ددې نه امت محفوظ نه دې یَلبِسَ په معنی دخلط کولوسره دې دیوبل سره او«شیعاً» حال دې د «کُم» نه، اوددې نه مرادهغه مختلفې ډلې دی چه دخواهشاتو تابع دی یامختلف وی په اصول او اعتقادیاتو کښې لکه په حدیث کښې راغلیدی چه په دې امت کښې به درې اویاډلې پیداکیږی ، دیوې ډلې نه علاوه به ټول په جهنم کښې وی د خواهشاتو تابع به وی دموجوده دورپاتئ هم ددې عذاب نمونه ده، اوهغه اختلاف چه په فروعیاتوکښې وی اواتباع دخواهشاتو پکښې نه وی نوهغه نه دې مراد ، ځکه هغه عذاب نه دې بلکه رحمت دې لکه اختلاف دفقهاؤ دامت، اودصحابؤاوتابعینو . اومعنی دآیت داده چه یاخلط کړی تاسولره دیوبل سره په داسې حال کښې چه تاسو، مختلفې فرقې. دخواهشاتو تابع. کړی، ﴿وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ﴾ددې نه مرادقتل اوقتال دې په خپل منځ کښې. ﴿وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ﴾ دازجردې اوضمیرد «به» راجع دې یاقرآن ته یاراجع دې عذاب ته. یعنی دوئ تکذیب کوی په وقوع دعذاب حالانکه داحق دې یعنی عذاب واقع کیدل په کفاروباندې یقینی دی نوکه دوئ سوال اوکړی چه نه وائی چه عذاب یقینی دې نوراوله ئی. نوجواب راغې ﴿قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ﴾وکیل هغه څوک وی چه دکاراختیارورته اوسپارلې سی. معنی

داده چه دعذاب دنازلیدو اختیارمانه نه دی سپارلی شوې اوزماپه اختیارکښې نه دې. اوکله دوئ داسوال اوکړی چه داخواوښایه چه کله به راځي نوجواب اوشو ﴿ لِكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ﴾ چه دقرآن دهراخبارد واقع کیدلو دپاره وخت مقرروی په علم د الله تعالی کښې نوپه خپل وخت موعود به راځی. تعین دوخت ئې مانه معلوم نه دې. البته دومره خبره یقینی ده چه به خپل وخت موعودبه راځی. د (نبأ). نه مراداخبارد قرآن او د نبی صلی الله علیه وسلم دی. مُستقرپه معنی د (وقت یقع فیه ویستقر). سره دې. یعنی هغه امورچه نبی صلی الله علیه وسلم اوقرآن . دهغی نه خبرورکړیدې نودهغې دپاره وخت دقرار اودوقوع دې

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ

اوکله چه ته وه وینې هغه کسان چه ناروا بحث کوی په آیتونو زمونږ کښې پس مخ واړوه د دوئ نه تر دې چه

يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ

مشغوله شی په نورو خبرو کښې. او که چرې هیر کړی ستا نه شیطان، پس مه کینه پس د یاد راتللو نه

مَعَ الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ

د قوم ظالمانو سره اونشته دې په هغه کسانو چه تقوی کوی د حساب د کافرانونه هیڅ څه.

وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

لیکن په دوئ باندې نصیحت کول دی د دې لپاره چه هغوئ بچ شی

﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ ﴾ دا زجردې، خوض په لغت کښې په اوبوکښې ننوتلو، غوپه کیدلوته وائی .اواستعمال ئې کیږی په لغواوعبث کښې مشغوله کیدلواوپه طعن اوعیب جوئ کښې. ﴿ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا ﴾ چه ننوځی، په آیاتونوزمونږ کښې. یعنی استهزاء اوتکذیب دآیاتونو کوی. اوددې په حکم کښې هغه خلق هم دی چه غلط تفسیرونه کوی. اوهغه اهل بدعت یکښې هم داخل دی چه دبدعت دوجې نه په آیاتونو کښې غلط تاویلات کوی لکه معتزله وغیره. نودداسې خلقوسره .ناسته ولاړه راشه درشه کول حرام دی. اوپه بل آیت کښې دی ﴿ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ اهل باطل مستحق دعذاب وی نوددوئ سره په تعلق ساتلوکښې هم

داخطره ده چه تاسومستحق دعذاب شئ اوديومؤمن دغيرت تقاضا دانه ده چه په داسې مجلسونو کښې شرکت اوکړی. البته که ناڅاپه ياسهواً په داسې مجلس کښې شريک شی.

نوديادراتللونه بعددې ددغه مجلس نه لرې شی. ﴿حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ﴾. ضميرراجع دې آيانونوته په تاويل دقرآن سره. اومراددينه دادې چه داسې بحث شروع کړی چه استهزاء پکښې نه وی اوتحريف نه کوی.

﴿وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ﴾ دانساء (هيرولو) نسبت شيطان ته تسبيباً دې. دشيطان وسوسې اچول اولايعنی طرف ته متوجه کول سبب دهيرولو دحکم دې. يعنی که شيطان ستانه دغه حکم هيرکړی چه فَأَعْرِضْ. نوديادراتللونه بعدبيامه کينه دظالمانوسره. اوخطاب په دې آيت کښې نبی صلی الله عليه وسلم ته دې اوداعلی سبيل الفرض والتقدير دې خکه . نسيان ددې حکم اوکيناستل دظالمانو سره نه دې واقع شوی دنبی صلی الله عليه وسلم نه. اوبعض وائی چه خطاب دلته اوپه ماقبل کښ نبی صلی الله عليه وسلم ته دې اومرادترينه غيردې اوچاوئيلی دی چه خطاب هرمخاطب ته دې ،اودا آيت دليل دې په جوازدنسيان دنبی صلی الله عليه وسلم نه (يعنی د نبی صلی الله عليه وسلم نه هم خبره هيرې دې شی) اوپه حديث دبخاری کښې دی (انما انا بشرمثلکم انسی کماتنسون)، اوپه بل روايت کښې. (لقد اذکرنی آية کذاوکذا کنتُ انسيتها)، راغليدی، واقعه د سهوفی الصلوة مشهوره واقعه ده. روافض وائی چه نسيان په نبی صلی الله عليه وسلم اونوروانبياؤباندې نشی راتلې په هغه احکامانو کښې چه دوئ دهغې ابلاغ عن الله تعالی کوی، اوپه نوروا احکاماتوکښې نسيان کيدې شی په شرط ددې چه اخلال فی الدين نه راځی، اوپه نيزدجمهوروعلماؤنسيان په نبی صلی الله عليه وسلم جائزوو-ليکن په دې خبره اتفاق دې چه نبی صلی الله عليه وسلم په نسيان اوخطاء اجتهادی باندې برقرار نشو پريخودلې، البته په نيزدبعض علماؤ تنبيه په خطااونسيان باندې علی الفورضروری وه اوپه نيزدبعض جائزووتاخيرترمودې دحيات پورې صاحب دروح المعانی وائی چه هغه نسيان چه منشائې اشتغال دسروی په وساوسو اوخطراتو شيطانيؤ سره .نوپه دې کښې شک نشته دې چه دامحال دې په نبی صلی الله عليه وسلم باندې اومحل دخلاف ماسوی ددينه دې. قرطبی اوصاحب دروح المعانی وئيلی دی چه سهواوخطا په اقوالو بلاغيو. کښې بالاتفاق منع ده، اوپه افعالو بلاغيو اوپه عباداتوشرعيؤ کښې مختلف فيه ده. ﴿فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ﴾ ذکری په معنی دیادراتلو د حکم د﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ سره دی. بـه

معنى دنصيحت كولو سره دي ﴿وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ﴾ ددې آيت دوه مطلبه كيدې شي. **اول** داچه كه متقيان دطعن كونكو د مجلس نه جدا كيږي نو دهغوئ دگمراهئ او ضلالت مواخذه او ضرربه دغه متقيانو نه راځي. البته په دوئ باندې په قدردخپل طاقت او استطاعت سره او د موقعې سره مناسب نصيحت كول دي. شايد هغوئ تقوى اختياركړي. **دويم مطلب** داچه متقيانو ته كه چرې په وجې ددينى يادنيوى ضرورت سره دهغوئ مجلس ته دورتللو ضرورت پيش شي او لاړ شي په وجه دضرورت سره نو دوئ ته دطعن كونكو دگناه اثر او ضررنه رسيږي ليكن ددوئ په ذمه په قدردخپل طاقت سره نصيحت كول شرط دي. ممكنه ده چه هغوئ اثرواخلي

وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا
او پريږده هغه كسان چه جوړ كړې ئې دې دين خپل لوبې او مشغله او دهوكه كړې دي دوئ لره ژوند د دنيا
وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا
او نصيحت كوه پدې قرآن سره دوئ ته. ددې لپاره چه راگيرنه شي يو نفس په سبب د عمل خپل . نه به وي ده لره
مِن دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ ۚ وَإِن تَعْدِلْ
ماسوى د الله د ذات نه دوست بچ كوونكې اونه بغير د اذن د ده نه خوګ سفارشى ، او كه فديه (جرمانه وركوي
كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا
هره جرمانه (پوره فديه) نه به شي قبلولې د ده نه. دغه كسان هغه دي چه راگير شوي به وي په وبال د هغه عمل كښې
كَسَبُوا ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ۝
چه دوئ كړې وو. د دوئ لپاره څكل دي د گرمو اوبونه او عذاب دردناك په سبب د هغې چه دوئ كفر كولو

﴿وَذَرِ الَّذِينَ﴾ داهم زجردې. اوتاكيددې دماقبل ،ياتعميم دې. يعنى دټولوهغه خلقونه بې تعلقه شه چه خپل دين ئې لهولعب گرځولې دې يعنى په دين پورې مسخرې كوي. يا دلهولعب نه مرادعبادت د اوثانو دې ياترينه مرادتحريمات غيرالله دي څكه عبادت دبُتانو اوتحريمات غيرالله لوبې دي څكه چه داصرف دنفس دخواهش په وجه دي. په امرد الله تعالى

سړه نه دی. یادامراددي چه دوئ لهولعب خپل دین ګرځولي دي یعنی کوم شئ چه لهواولعب دی لکه ډهول ،سارنګی، ډمبرنې، قوالی. وغیره دیته دین اوذریعه دمعرفت الهی وائی. لکه بعض ملنګان. اوجاهل پیران. ددي قائل دی.﴿وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا﴾یعنی کوم شئ چه په دوئ فرض وو، اومقصداصلی وونوهغې ته لهولعب وائی. اوکوم چه خسیس ادنی شئ دي نوهغه ئې مقصدګرځولي دي دهوکه شویدی. نودداسې خلقونه بې تعلقه شه. پرواه ئې مه کوه البته نصیحت ورته کوه. ﴿وَذَكِّرْ بِهِۦٓ﴾ ضمیرد «به» راجع دې قرآن ته لکه په بل ځائي کښې دی ﴿فَذَكِّرْ بِالْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ﴾ اوبناپه دې باندې (اَنْ تُبْسَلَ) مفعول له دي (ای لئلاتبسل) یاضمیردبه ضمیرمبهم دي (اَنْ تُبْسَلَ) تربنه بدل دي او (تُبسَل) په معنی د (تُحبس) سره .راګیرول. ګانړه کیدل. زاغب وائی. (البسل الممنوع بالقهر) یعنی په زوراوغلبې سره راګیرولوته بسل وائی، شاه ولی الله ﷫ د (ان تبسل) ترجمه کوی «تابهلاک ګرفتارنشود» ﴿مِن دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ﴾ (ای لیس لها من دون ذات الله ولی ولامن دون اذنه شفیع) نو استدلال دمعتزلوختم شو، ﴿وَإِن تَعْدِلْ﴾ ضمیرنفس ته راجع دې یعنی دنجات ذریعه دکفارودپاره په قیامت کښې نشته شفاعت هم نشته اوفدیه اوجرمانه ورکول هم نشته .

﴿كُلَّ عَدْلٍ﴾ داپه معنی کامل اوپوره فدیه ورکولوسره دي لکه په دې قول دعربو کښې. هورجل کل رجل،،ای کامل فی الرجولیة، او (کل) منصوب دي مفعول مطلق دي (تعدل) دپاره باعتبارد مضاف الیه سره. ﴿لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ﴾ دکفاروباطن اوظاهردواړه به په عذاب کښې وی. په خیټوکښې به ئې داسې اوبه وی چه بې حده زیاته ګرمی به وی اوپه ظاهر باندې به ئې هم نهایت ګرم اوربلیږي. اوسبب دعذاب، دپاره دوئ کفراودوام په کفردي

قُلْ	أَنَدْعُوا	مِنْ	دُونِ	اللَّهِ	مَا	لَا	يَنفَعُنَا	وَلَا	يَضُرُّنَا

و وایه آیا را وبلو[١] مونږ سوی د الله تعالی نه هغه څوك چه نه فائده راکولي شی مونږ ته اونه ضرر راکولي شی مونږ ته

وَنُرَدُّ	عَلَىٰٓ	أَعْقَابِنَا	بَعْدَ	إِذْ	هَدَىٰنَا	اللَّهُ	كَالَّذِى

او واپس شو په خپلوپوندو، پس دهغې نه چه هدایت کړی دي مونږ ته الله تعالی او شو به په شان دهغه چا

١ - ثمره د دلائلو

اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ ۖ لَهٗ أَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗ إِلَى الْهُدَى
چه بې لارې کړې وي هغه لره شيطانانو په زمکه کښې چه حيران وي، ده لره ملګرې وي بلي دوه لره طرف د سمې لارې ته
ائْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ۗ وَأُمِرْنَا
چه راشه مونږ ته. ووايه چه بيشکه هدايت د الله تعالى هم دغه صحيح هدايت دې. اوحکم کړې شوې دې مونږ ته
لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ۗ
چه تابعدار شو مونږ د رب العالمين او حکم شوې دې چه پابندې کوئ د مانځه او يره کوئ د هغه نه.
وَهُوَ الَّذِيْٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٢﴾
او دې هغه ذات دې چه خاص هغه ته تاسو جمع کولې شئ

﴿قُلْ أَنَدْعُوا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ داثمره اونتيجه دمخکنو دلائلو ده، په بعض رواياتو کښې دی چه مشرکينو.مؤمنانوته دعوت ورکړو چه ((اتبعوا سبيلنا واترکوا دين محمدصلى الله عليه وسلم)) نوجواب اوشو چه داسې توقع زمونږ نه مه کوئ، مؤمن موحد په دې فکرکښې وی چه هغه کسان چه دغيرالله په دروازوئ خپل سرونه ايخودلی دی هغه په څه شان سره ديوالله دربارته نزدې کړی. اوددوئ نه داامید ساتل چه دغيرالله په دروازه به سرټيټې اوکړی فضول دې معاذالله که داسې اوشو نودده مثال به دهغه مسافرپشان وی چه په لاره د بلدوملګروسره په يوبيابان کښې سفرکوی اوناڅاپه خبيث جنات ،پيريان، پرې راشی او په دماغ ورته قبضه اوکړی، اولاره ترينه وروکه کړی اوسرګردانه ګرځی، اوملګری ورته دخيرخواهئ دپاره اوازونه کوی چه زمونږ په لورې رازه، سمه صافه لار،داده ،مګرهغه حيران مخبوط الحواس وی، په هيڅ نه پوهيږی ،نودغه شان دآخرت دمسافرودپاره داسلام اودتوحيدسمه اوصافه لامقررشويده اودتوحيدنه دانکارکونکوپه دماغو ،شيطانانو، انسی، جنی. اهل باطلو قبضه کړيده. په حق نه پوهيږی ، نوکه چرې دوئ داهل حق ،داعيانُ دتوحيد خبره اومنی. نومنزلِ مقصودته به اورسی اوکچرې اونه منی نوتباه اوبربادبه شی، ﴿وَنُرَدُّ عَلٰٓى أَعْقَابِنَا﴾ واپس تلل په پُندو. چه ګوری مخې ته اوروان وی په شاباندې، سبب دهلاکت وی نوداکنايه ده، دبی سوچه تللو. اوهلاکت نه. چه سبب ئې بلنه اوعبادت دغيرالله دې نوداعطف د مسبب دې په سبب

باندي. ﴿ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ ﴾ داصفت دمحذوف دپاره دې (اى ارُدُّ رَدًّا مِثْلَ رَدِّالَّذِى – ا خ) «استهوته» يادهوى (بالفتح) نه ماخوذدې خواهشاتو دنفس ته وائى. «استهوت» يعنى دنفس تابعدارى ته مائل كيدل (غولول) نو «استهوته» معنى داشوه چه شيطانانوتابع د خواهشاتو گرځولې وى اوبخارى ئې ترجمه په «اضلته» سره كوى يعنى گمراه كړې وى اوبې لارې كړې وى هغه له شيطانانو. ياد هوى. (بالكسر) نه ماخوذدې. داوچت نه لاندې ته راكوزيدل اوغورزيدلوته وائى-يعنى دهلاكت په كنده كښې غورزولې وى شيطانانو. صاحب دروح المعانى وائى چه داباب استفعال دې د ((هوى فى الارض يهوى)) نه گويا چه طلب اوحرص كړې وى جناتودبوتللو دده ، په شرخنگل كښې.اولاره ئې ترينه وركه كړې وى. ﴿ حَيْرَانَ ﴾ منصوب دې حال دې دمفعول د «استهوته» نه. اوداصفت مشبه دې اومؤنث ئې. حيرى. دې لكه سكران سكرى اوددې وجې نه داغيرمنصرف دې. حيران،سرگردان. هغه څوك چه نه پوهيږى چه په كومه مخه لاړشى . ﴿ لَهُۥٓ أَصْحَٰبٌ ﴾ يعنى دملگروخبره هم نه منى. ﴿ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ ﴾ يعنى مشركينوته اووايه چه هدايت فقط دين اسلام اوتوحيددې اومونږ ته دهغې دتابعدارئ اومنلوحكم دې ﴿ وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ دلته (قِيْلَ لَنَايَا اُمِرْنَا) مقدردې مونځ دانقياد . واضحه نشانه ده ﴿ وَهُوَ الَّذِى ﴾ د قيامت په ورځ به الله جل جلاله په حضور كښ پيښى وى نو د ايمان او د كفر بدله به وركولې شى .

بِالْحَقِّ	وَالْأَرْضَ	السَّمَٰوَٰتِ	خَلَقَ	الَّذِى	وَهُوَ

او خاص الله تعالى هغه ذات [1] دې چه پيدا كړى ئى دى آسمانونه او زمكه، د حق ښكاره كولو لپاره.

وَلَهُ	الْحَقُّ	قَوْلُهُ	فَيَكُونُ	كُن	يَقُولُ	وَيَوْمَ

او اختيار لرى د هغې ورځې چه وبه وائيږ، وشه، نو وبه شى. وينا د هغه حقه ده ، حكم ئى نافذ دې اوخاص هغه لره

وَالشَّهَٰدَةِ	الْغَيْبِ	عَٰلِمُ	الصُّورِ	فِى	يُنفَخُ	يَوْمَ	الْمُلْكُ

بادشاهى ده په هغه ورز چه پوكې وكړې شى په شپيلئ كښې، هغه عالم دې په هر پټ او ښكاره باندى

١- ديارلسم دليل عقلى.

وَ هُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۷۳﴾

او هغه حکمتونو والا دې خبردار دې

﴿ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ ﴾ دادیارلسم دلیل عقلی دې په توحید باندې ﴿ بِالْحَقِّ ﴾ باء په معنی دلام سره ده او مضاف، او دارنګه معطوف مقدردې (ای لاظهار الحق والباطل) یعنی اسمانونه زمکې. علویات سفلیات ټول دتوحید دلائل دی ، یاد «بالحق» معنی داده چه (بکلامه الحق) چه هغه دادې چه «کُن» او دادلیل دې چه کلام الله مخلوق نه دې ځکه چه مخلوق په مخلوق سره نشی پیداکیدې (السراج المنیر) ﴿ وَيَوْمَ يَقُولُ كُنْ ﴾ دلته (اُذْکُر) مقدردې، اود (کُن) نه مراد دادې چه ژوندې شئ پس دمړکیدلونه ﴿ قَوْلُهُ الْحَقُّ ﴾ قول په معنی د ((قضاءه الصواب)) دې یعنی فیصله اوحکم دالله تعالی جل جلاله نافذدې په هرڅه کښې نوژوندی کول اومړه کول مشکل نه دی هغه ته. ﴿ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ ﴾ یعنی په ورځ دقیامت به ظاهری مجازی بادشاهی دماسوی الله هم ختم شی. نوبادشاهی، اوواک اختیار به صرف دیوالله تعالی وی، په نفخ الصورسره به ټولی بادشاهئ ختم شی صرف دالله تعالی بادشاهی به باقی وی

(ع) **بقاء بقاء خدائیست ملک ملک خدا**

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيْمُ لِأَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ

اوکوم وخت چه ووېیل ابراهیم [1] خپل پلار ازرته، آیانیسې ګرځې ته بُتانو لره خدایان . معبودان،

اِنِّیْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۷۴﴾ وَ كَذٰلِكَ نُرِیْٓ اِبْرٰهِیْمَ

بیشکه زه وینم تا لره او قوم ستا لره په ګمراهئ ښکاره کښې او دغسې وښودل مونږ ابراهیم ته

مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِیَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِیْنَ ﴿۷۵﴾

عجائبات، غرائب دآسمانونو، اودزمکې د دې لپاره چه دې پرې دلیل ونیسی او چه شی دې د یقین کوونکونه

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ ﴾ دادلیل نقلی دې په توحید باندې د موحداعظم حضرت

1 دلیل نقلی د ابراهیم علیه السلام تفصیلاً او د باقی وژنس (۱۷) انبیاؤ نه اجمالاً بطور دستخط

ابراهیم علیہ السلام نه تفصیلاً اودباقی اولس (۱۷) انبیاء نه اجمالاً بطوردستخط. دابراهیم علیہ السلام په نوم کښې بُت پرستی هم وه اوکوکب پرستی ((دستوروعبادت)) هم وه حضرت ابراهیم علیہ السلام دبُت پرستئ رد. په قول اوبیان سره هم کړیدې لکه په دې آیت کښې اودارنګه په سورت مریم کښې. (لِمَ تَعْبُدُ مالایسمع ولایُبصرولایغنی عنک شیئًا) اوپه عمل سره ئې هم کړیدې چه بُتان ئې ټکړې ټکړې کړل لکه په سورة الانبیاء کښې دی. ﴿فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ﴾ اودکوکب پرستئ ردئې په طور دمناظرې اوالزام سره کړیدې لکه دلته په مابعد آیتونوکښې. ۷۵ نه تر ۸۱ پورې مذکوردې. دقرآن دظاهر نه معلومیږی چه دابراهیم علیہ السلام پلار نوم ازردې. اودائې عَلَم دې، او آزر غیرمنصرف دې دوزن فعل اوعلمت دوجې نه یادوزن فعل اووصفیت اصلی دوجې نه. ځکه چه آزرددوئ په لغت کښې په معنی دمخطی (خطاکار) یااعوج (کوږ روان) سره دې، اوآزرپه غلطه لارې اوکږې لارې روان وو. نوځکه ئې نوم ازرشو. اواهل سیر وائی چه آزر، لقب دې اوعلم (نوم) ئې بناپه قول دزجاج، تارح دې یا یارخ دې. بناپه قول دامام ابن جریج، اوبعض وائی(ابن عباس رضی الله عنه مجاهد، سدی) چه آزرنوم دبُت دې نودلته مضاف مقدردې ((ای عابدازر)) - یادوجې ددیرتعلق اومحبت نه دبُت سره دهغه بت په نوم سره یادشو. ((ازر)) - د ((ابیه)) عطف بیان دې نودادلیل دې په دې چه ازر. دحضرت ابراهیم علیہ السلام پلاردې، علامه سیوطی رحمہ اللہ اوبعض نورحضرات وائی چه آزر دحضرت ابراهیم علیہ السلام پلارنه وو، بلکه تره (عم) ئې وو، اوپه عربی محاوره کښې اطلاق داب په عم. باندې شائع دې، اودوئ دلیل داوائی چه دنبی صلی الله علیه وسلم اباء اجدادتمام مؤحدین ووځکه په سورت شعراء کښې دی (وتقلبک فی السّاجدین) نودساجدین نه مراداباء واجداد. دنبی صلی الله علیه وسلم دی اودتقلب نه مرادپشت په پشت، منتقل کیدل دی نوثابته شوه چه دنبی صلی الله علیه وسلم اباء واجداد، تمام مؤحدین وو. نوددې وجې نه آزر. دابراهیم علیہ السلام پلارنه دې، لیکن صحیح داده چه آزر د ابراهیم علیہ السلام پلاردې لکه دظاهردقرآن نه معلومیږی اوپه صحیح احادیثوکښې هم دغه شان دی اوپه هیڅ صحیح حدیث کښې نه دی راغلی چه آزر، تره دې دابراهیم علیہ السلام ، اوپه آیت کښې دساجدین نه مرادصحابه کرام دی اودتقلب نه مراددنبی صلی الله علیه وسلم ګرځیدل اوراګرځیدل دی په صحابوکښې دخبرګیرنې دپاره، حضرت الشیخ فرمائی.

لیکن آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم کے آباء کرام کے ایمان وکفر کی بحث میں ہرگز نہیں پڑنا چاہئے

حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلارته دعوت اول ورکړو څکه چه داحق شرعي دې نودپلارحق اول اداکول پکاردي بل داچه آزر هغه اکابرومشرکينوکښې وو چه نورخلق به ئې شرک ته رابلل. اودنمرود معتمد. اوپيروؤ نودډې وجې نه مخکښې کړې شوپه دعوت کښې ﴿فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ **سوال** وارديږي چه په دعوت کښې خونرمي پکارده، (قال تعالى لموسى وهارون فقولاله قولالينا). خصوصًا پلارته ايذاء نه ده پکاراگرکه کافروی، «﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ داعام دې چه ابوين کافران وی یامسلمانان نوابراهيم عليه السلام ولې خپل پلار ته په سخت کلام سره مخاطبه اوکړه. سره ددينه چه ابراهيم عليه السلام «اواه حليم» وو- **جواب** دادې چه حضرت ابراهيم عليه السلام اول په نرمئ سره دعوت ورکړيدې لکه په سورتِ مريم کښې مذکوردې ليکن هرکله چه په هغې سره هدايت ته رانغې نوسخت الفاظ ئې ورته اووئيل، شايدچه په دې سره هدايت ته راشی.

قال ابو العلاء المعرى اضـرب ولـيـدک
وادلُلْهُ عـلـى رشـد و لاتقل هوطفل غيرمحتلم
فرب شـق براسٍ جرمـنـفـعةً
وقس على شق راس السهم والقلم

اوچه په دې سره هم هدايت ته رانغې نوبيائې ترينه قطع تعلق اوکړو. ﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَاهِيمَ﴾ داابطال دالوهية دکواکبودې، په زمانه دحضرت ابراهيم عليه السلام کښې خلق (کنعانيان) په زمکه کښې داصنامو، بتانودالوهية قائل وو- نودبُتانو عبادت به ئې کوو- اوپه آسمان کښې دستورو دالوهية قائل وواو دهرستوری دپاره ئې په زمکه کښې بُت خاص کړې نوچه ستوری ته به ئې تقرب حاصلولو نو دهغه دپاره به ئې چه کوم بُت، مختص کړې وو دهغه عبادت به ئې کولو. نوحضرت ابراهيم عليه السلام د بُت پرستئ ردهم اوکړو اودکوکب پرستی ردئی هم اوکړو. اوکاف په (كذلک) کښې يادتشبيه دپاره دې يعنی لکه څه رنګه چه مونږ اوخودله ابراهيم عليه السلام ته قبح دعبادت دبتانودغه شان مونږ ده ته اوخودل ابطال دالوهية دستورو. ياکاف لبيان الکمال دې يعنی دازمونږ دکمال قدرت نشانات اوکرشمې دی چه مونږ ده ته ملکوت السموات والارض اوخودل. اودَ (اراءت نُرِیَ) نه مرادخودل اوليدل دی په

سترګو دعقل اوزړه سره يعني رؤيت علمي ترينه مراددي. چه دکائناتو داسمان اوزمکې حقيقت ئې ورته ښکاره کړو، چه هيڅ مخلوق علوي وي ياسفلي. الـه نشي کيدې. ياترنيه مرادرؤيت بصري اومشاهده ده چه الله تعالى ورته دعلوياتواوسفلياتو ترکيبي نظام اوخودلو اودعجيب غريب اسرارونه ئې مطلع کړو، ددې دپاره چه دخپل قوم دکوکب پرستئ عقيده على وجه البصيرت .ردکړي. اوپخپله ورته علم مشاهدى حق اليقين درجه حاصلـه شي. لکه روايت دې چه حضرت ابراهيم عليه السلام په يوصخره «لويه ګټه» باندې اودريدو. اوالله تعالى ورته کشف اوکړودعجائباتوداسمانونو، حتى چه عرش .کرسى اودآسمان عجائبات ئې اوليدل اوحتى چه خپل مکان ئې په جنت کښې اوليدلو اودامعنى ددې آيت ده ﴿وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيَا﴾ معنى ئې داده چه په دنياکښې مونږ دته دده مکان په جنت کښې اوخودو. اودارنګه ئې ورته کشف اوکړو دعجائباتو دزمکې حتى چه نظرئې اوکړو لاندې حصې دزمکې ته او عجائباتو دهغې ته . اوروايت دعلي رضى الله عنه نه چه هرکله اوليدلو ابراهيم عليه السلام عجائبات داسمان زمکې. نواوئ ليدلو يوسړې په ګناه باندې نوبددعائې ورته اوکړه، نوالله تعالى ورته اوفرمائيل. چه اې ابراهيم،ستادعاقبليږى نوزما بندګانوته بددعاء مه کوه، زه دبنده سره درې قسمه معامله کوم يابه دې دګناه نه توبه اوکړى نوزه به ئې توبه قبوله کړم يابه دده نه داسې خوک پيداشي چه زماعبادت به کوي، يابه خما حضورته «ګناهګار» پيش شي نوکه زه اوغواړم نوعفوبه ورته اوکړم اوکه اوغواړم نوعذاب به ورته ورکړم «سراج المنير، معالم، درمنثور» ﴿مَلَكُوتَ﴾ صيغه دمبالغې ده ، دامبالغه ده په ملک کښې اوتاء،زائده ده دپاره دمبالغې. نومعنى داده چه ډيره لويه بادشاهي، اوډيرلويه بادشاهي صرف دالله تعالى ده نوددې وجې نه امام راغب وائي چه «الملكوت مختص بملك الله» تعالى اواضافت دملکوت،،سموات ارض،، ته دزيادت مبالغې دپاره دې اومراد دملکوت نه آيات داسمان زمکې دي يعني دليلونه .علوي، سفلي دتوحيد، ياترينه مراد عجائبات داسمانونودى لکه مختلف تيزحرکات دکواکب په خپلو خپلو مدارکښې چه ديوبل سره ئې تصادم نکړى. نه راځي. اوديومضبوط اساس په بنيادپه معين وخت طلوع اوغروب کوي. اوپه مقدار ديو لحظه هم دخپل مقرروخت نه تقديم ، تاخيرنه کوي. ﴿ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾ دااندازه دهغه ذات ده چه غالب قوى دې په خپله بادشاهئ کښې اوعالم دې په مخلوقاتو. ﴿وَلِيَكُونَ﴾

معطوف علیه مقدر دې چه «لیستدل» دې او د ﴿ٱلْمُوقِنِينَ﴾ نه مرادهغه یقین دې چه حاصل شي دمشاهدې دحال او دحقائقو دمخلوقاتو نه.

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَأَا كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ
پس هرکله چه تیاره را واچوله په ده باندې شپې ، وې لیدلو یو ستورې، نو وې وئیل چه آیا دا خما رب دې [1].
فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْءَافِلِينَ ۞ فَلَمَّا رَأَا ٱلْقَمَرَ
پس هرکله چه پټ شو هغه وې وئیل چه زه نه خوښوم «د خدائ توب لپاره» پټیدونکي. پس هرکله چه وې لیدله سپوږمۍ
بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي
خلیدونکې . وې وئیل آیا دا خما رب دې . پس هرکله چه هغه پټه شوه [2] نو وې ویل کچرې هدایت نوې کړې ما ته
رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ ۞ فَلَمَّا رَأَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ
رب خما «د توحید» خامخا وې به زه د قوم گمراهانونه پس هرکله چه ولیدلو ده نمر خلیدونکې ده وه ویل
هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ
آیا دا خما رب دې، دا لوئ دې «ستاسو په گمان کښې» پس هرکله چه هغه پټ شو، وې ویل اې خما قومه [3]
إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ۞
بیشکه زه بیزاریم [3] د هغه نه چه تاسوئې «دالله سره» شریك جوروئ.

﴿فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ﴾ «فاء» یاعاطفه ده اوداعطف دې په ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ﴾ اوپه درمیان کښې جمله معترضه وه- یادتفصیل دماقبل دپاره ده چه ﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ یعنی دهغې تفصیل دادې چه هرکله قلب دحضرت ابرهیم علیه السلام منورشو په انوارودلائلو

---

١ - استفهام مقدر دې او حضرت ابراهیم علیه السلام هرگز شرك ندې کړې په دې باندې شپږ قرینې دی

٢ - اوله قرینه

٣ - دویمه قرینه جمله اسمیه په دوام ، استمرار دلالت کوي.

دتوحيد سره نو دمشركينو دالزام دپاره ئې دلائل شروع كړل. اوپه مناسب وخت كښې ئې ورته دليل الزامي پيش كړو، ﴿جَنَّ﴾ په معنى د ستر (پټولو) سره دې يعنى شپه په ده راواوغوړيده ﴿كَوْكَبًا﴾ دانكره ده، اطلاق ئې په مطلق ستورى كيږى، دلته ترينه مراد، زهره، يامشترى دې چه مشركينو ددې عبادت كولو.

﴿قَالَ هَٰذَا رَبِّي﴾ دادحضرت ابراهيم عليه السلام دليل الزامي دې، نو (هذاربي) ياپه طريقه داستفهام انكاري سره دې يعنى آيادارب كيدې شى؟ يادمشركينو دزغم اولهجې په اعتبار سره دې، لكه داعامه محاوره ده چه په بعض اوقاتوكښې دچادالزام يازجر يادتهكم دپاره، دهغه په زغم يالهجې سره كلام ذكركيږى، لكه په دې قول دالله تعالى كښې ((أَيْنَ شُرَكَائِي)) يا لكه پدې قول كښ ﴿ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ﴾ يا لكه موسى عليه السلام چه وه وئيل ﴿وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا﴾ نو د (هذاربي) معنى داده چه ستاسوپه زغم اوگمان كښې دازمارب دې، ليكن ستاسودزغم اوگمان غلطى به اوس تاسوته خكاره شى. اوداوينا ده ابراهيم عليه السلام په عقيدې سره ياشك سره نه وه، اوچاچه داوئيلى دى چه داقول دابراهيم عليه السلام په طريقه دعقيدې سره وو، يادشك سره وو، اوبياروستوئې توحيداوپيژندو، نوداغلطه ده خكه چه پدې خبره باندې اجماع ده چه انبياء عليهم الصلوة والتسليمات معصوم او پاك دى دعقيدې دشرك نه اودشك نه ، قبل النبوة اوبعدالنبوة خصوصًا دحضرت ابراهيم عليه السلام شان الله جل جلاله پخپله بيان كړيدې ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِن قَبْلُ﴾ اى قبل بلوغه، قرطبى ابن كثير، اونورمحققين وائى چه جائزه نه ده چه په نبى باندې داسې وخت راشى چه دعقيدې دتوحيد اودمعرفت نه خالى وى، نبى په هيڅ وخت كښې په عقيده دكفريادشرك يادجهل عن الله تعالى وصفاته باندې نشى كيدې، دالله تعالى دذات اوصفاتومعرفت په هروخت كښې دوئ ته حاصل وى، په دې آيت كښې پخپله ډيرقرائن دى چه دحضرت ابراهيم عليه السلام داقول، په وجه دشك اودشرك سره نه وو. لكه ﴿لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي﴾ ماضى منفى ده اودارنگه ﴿إِنِّي وَجَّهْتُ﴾ صيغه دماضى ده اودارنگه ﴿قَالَ أَتُحَاجُّونِّي فِي اللَّهِ وَقَدْ هَدَانِ﴾ صيغه دماضى ده اودارنگه ﴿إِنِّي بَرِيءٌ﴾ جلمه اسميه ده په دوام اواستمراردلالت

کوی اودارنگه روستو داقول چه ﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ﴾ واضح دلالت کوی په دي چه داقول حضرت ابراهيم عليه السلام حجت اوالزام گرزوليدلي په خپل قوم. نوکه داقول په وجه دشرک يادشک سره وي نوبياخودا الزام اوحجت نشی کيدي، تمام انبياء عليهم الصلوات والتسليمات دټولوگناهونونه پاک دی، خصوصاً دشرک نه اود شک نه. اودارنگه ددي نه چه په دوئ داسې وخت راشی چه دوئ خالی وی دمعرفت دذات اوصفاتودالله تعالی نه. اوداچونکه اجماعی قطعی عقيده ده نوددي خلاف چه کوم اسرائيلی روايات دی نو د دي په مقابله کښې هغه هيڅ حيثيت نه لری، ﴿فَلَمَّآ أَفَلَ﴾ «افول» غائب کيدلو ،پټيدلوته وائی، ددي استدلال حاصل دادي چه کوم شئ چه په هغه کښې تغيرراځی اومحکوم اومسخروی نوهغه اله نشی کيدي. صاحب د روح المعاني نقل کړی دی دبعض محققينو نه چه ددي استدلال نه استفاده حاصلوی خواص. اوساط. اوعوام ، خواص فهموی د «افول» نه امکان اوهرممکن محتاج وی اومحتاج حاجت روانه شی کيدي نولابدی شوه چه انتهاراشی داسې ذات ته چه منزه وی دهغه امکان نه چه هغه حاجت رواشی، کماقال تعالی ﴿وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلْمُنتَهَىٰ﴾ اواوساط فهم کوی داافول نه مطلق حرکت اوهرمتحرک حادث وی اوهرحادث محتاج وی قديمٌ قادرته . نوآفل (پټيدونکی) اله نشی کيدي بلکه اله په هغه ذات وی چه هغه ته آفل محتاج وی. اوعوام فهم کوی دافول نه غروب اوپه غروب سره زوال دنورراشی، اوقوت اوغلبه ختم شی اودمعزول پشان شی اوهرڅوک چه داسې وی نوهغه اله نشی کيدي، اواستدلال په دغه دري واړه طريقوسره شامل دي تمام ممکناتو محدثاتوته ،انسانان وی اوکه جنات وی اوکه ملائک وی ژوندی وی اوکه مړه وی اوکه بُتان وغيره وی. نوددي وجې نه «آفلين» جمع ذکرشوه چه ﴿لَآ أُحِبُّ ٱلْءَافِلِينَ﴾ اودنفی دمحبت نه مراد نفی دمحبت دعبوديت ده، اودمحضِ محبوبيت نفی نه ده مراد ، چه کواکب، شمس،قمر، م خوخ نه دی. يامضاف مقدردي چه «لااحب عبادة الافلين» ﴿فَلَمَّا رَءَا ٱلْقَمَرَ بَازِغًا﴾ «بزوغ» طلوع ته وائی (بازغا ای طالعا) ازهری وائی چه بزوغ په اصل کښې شق ته وائی اونمرسپوږمئ چه طلوع اوکړی نوتياره څيری کړی. ﴿فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِى رَبِّى﴾ د افول «غائب کيدلو» نه معلومه شوه چه قمرهم معبودنشی کيدي لکه په ماقبل جمله کښې معلومه شوه نوپه دي جمله کښې حکم دعبادت. دکوکب اودقمر. ذکرکيږی چه داگمراهی ده ، اوددي جملی نه دامعلومه شوه

. چه ابراهيم عليه السلام مخکښې په هدايت باندې وو اوشک اوشرک کونکې نه وو ﴿لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي﴾ معنى داده چه (ان لم يثبتني على الهدى) اودامطلب نه دې چه مخکښې په هدايت نه وو ، السراج المنير) اودانبياؤ عليهم الصلوات والتسليمات داعادت دې چه خپل کمال خپل خان ته نه منسوب کوي بلکه خپل کمال عطيه الهى گنړى اوخان محتاج گنړى الله تعالى ته نوخکه دلته دهدايت نسبت، رب ته اوشوچه معلومه شى چه انبياء هم په هدايت کښې محتاج دى الله تعالى ته، ﴿فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً﴾ شمس مؤنث سماعى دې نوخکه بازغةً مؤنث ذکرشو .

اوکه څوک دا **سوال** اوکړى چه روستو (هذاربى) کښې هذا مذکرولى ذکرشو. نو بعضو **جواب** کړې دې چه دا د رعايت دخبردووجې نه څکه چه اسم اشاره چه دائره شى په مابين دمشاراليه اودخبرکښې نورعايت دخبراولى وى، اوبعضو جواب کړيدې چه شمس مؤنث سماعى دې اومؤنث سماعى دپاره تذکير اوتانيث دواړه جائزدى، اوبعضوئيلى دى چه داپه تاويل د ((هذاالطالع)) ياپه تاويل د ((هذاالضوء)) سره دې ﴿هَٰذَآ أَكْبَرُ﴾ غټ والې په اعتباردجسم اودنور دواړوسره مرادکيدې شى، اودعلماؤ دهيئة اودجديد سائنس اقوال په غټ والى دشمس کښې دزمکې اوسپوږمئ نه، مختلف دى، اوپه دې کښې اشاره خفيه ده فسادعقيدې دقوم ته چه مستحق دالوهية خوغټ وى نوکه دا الله تعالى نه ماسوى بل چاته اله وانى نوبيافقط شمس اله اوگرخوئ. ﴿قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّى بَرِىٓءٌ﴾ دلته هم دليل دَ افول دې. اوبراءت دې دشرک نه اودمعبودانو دمشرکينونه، متفرع دې په دغه دليل باندې چه افول دې. لکه دا معلوميږى د دې قول نه ﴿فَلَمَّآ أَفَلَتْ﴾ او اُفول ئى دليل وگرځولو (فلما افلت) اوبزوغ ئى دليل اونه گرخؤو، اگرکه هغه هم دليل کيدې شو، چه دا حرکت دې اوهر حرکت حادث وى – الخ . خکه چه په افول کښ عجزاوزوال ډير ظاهردې نو دا دليل گرزول اولى دى، دکواکب اودقمرعبادت دشپې کيږى، اودشمس عبادت دورځې کيږى نوحضرت ابراهيم عليه السلام دشرک ليلى دابطال په موقع کښې (لااحب الافلين) او (لئن لم يهدنى ربى – الخ) اوونيل خکه چه شرک کول خکاره نه وؤ اوشرک نهارى چونکه ظاهروؤ نوددې دابطال په موقعه ئې براءت دشرک نه خکاره ذکرکړو، چه ﴿إِنِّى بَرِىٓءٌ﴾ جمله اسميه ده دلالت کوى په دوا م او استمرارباندې. نومعلومه شوه چه ابراهيم عليه السلام شک ياشرک نه دې کړې.

إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا

ـــسکه مـ برابر کړی دی مخ خپل[1] هغه ذات ته چه پیدا کړی ئی دی آسمانونه او زمکه، کلك اوبرابر یم په توحید بندی

وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۝٧٩ وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ ۚ قَالَ أَتُحَاجُّونِّي

اونه یم د مشرکانو د ډلي نه[2] اوجگړه وکړه د ده سره قوم د ده ، وه ویل ده آیا جگړه کوئ تاسو ما سره

فِي اللَّهِ وَقَدْ هَدَانِ ۚ وَلَا أَخَافُ

په باره د توحید د الله کښې او په تحقیق سره هدایت ئی کړي دي ما ته[3] (په دلیلونو سره) ، او زه نه یریږم

مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا ۗ وَسِعَ

دهغه بُتانونه چه تاسو ئی شریك گرځوئ د الله تعالی سره مگر که وغواړی رب خما څه شي احاطه کړیده

رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ۝٨٠ وَكَيْفَ أَخَافُ مَا

خما د رب علم په هر شی باندي، آیا پس نصیحت نه قبلوئ تاسو. او څنگه وه یریږم زه د هغه چا نه

أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُمْ بِاللَّهِ مَا

چه تاسوئی د الله تعالی سره شریکوئ اونه یریږئ تاسو د دینه چه تاسو شریك گرځوئ د الله سره هغه څوك

لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا ۚ فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ

چه نه ئی دي نازل کړي د هغي په معبود والی په تاسو څه دلیل، پس کوم یو د دواړو ډلو نه زیات حقدار دی

بِالْأَمْنِ ۖ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ۝٨١ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ

د بچ کېدلو د عذاب نه. که تاسو پوهیږئ هغه کسان چه ایمان ئی راوړي دي اونه ئي دي گډ کړي ایمان خپل

---

1 دریمه قرینه

2 خلورمه قرینه جمله اسمیه

3 پنځمه قرینه

﴿بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ﴾

د شرك سره. دغه كسان د دوئ لپاره امن دي د عذاب نه او دوئ لار موندونكي دي

﴿إِنِّي وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ﴾ يعني ماخپل مخ صرف الله تعالى ته ګرځولې دې يعنى عبادت صرف دالله تعالى كوم، اومقصودم صرف الله تعالى دې. ﴿حَنِيفٗاۖ﴾ حنيف په اصل كښې مائل نه وئيلې شى اومستقيم ته هم وئيلې شى اوددې وجې نه كله .. اعرج.. ته حنيف. تفاؤلاً. وئيلې كيږى. نودحنيف معنى داده چه ميلان اواعراض كونكې دهرباطل نه اومستقيم كلك په حق اوتوحيد باندې- اوحنيف هغه چاته هم وائى چه په مونځ كښې استقبال كوى كعبې ته. يعنى مونځ كونكې كعبې ته.. ﴿وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾ دابراءت دې دجماعت دمشركينو نه په عقائدو اواقوالو اوافعالوتولوكښې اومخكښې براءت وو دشرك نه. ﴿وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥ﴾ مشركانو دحضرت ابراهيم عليه السلام مقابله په دلائلو فاسدۇ سره هم اوكړه اوپه تخويف تهديد. سره ئې هم اوكړه چه زمونږ دمعبودانو نه يره اوكړه هسې نه چه په جنون اومرضونودې اخته كړى نوحضرت ابراهيم عليه السلام دهغوئ ددلائلو فاسدۇ رد په دې سره اوكړو چه ﴿أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي﴾ چه ماته الله صحيح پوهه راكړيده اودملكوت السموات والارض، سير على وجه البصيرت ئې راباندې كړيدې نوآيازه ستاسو دفاسدو دلائلو اوخُرافاتونه متاثركيدې شم؟ اودهغوئ تخويف اوتهديد ردئې داسې اوكړو﴿وَلَآ أَخَافُ﴾ چه ستاسودمعبودانو په لاس كښې نفع نقصان، راحت زحمت هيڅ نشته نوزه ددې نه ولې اوويريږم ؟ ﴿إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ﴾ البته كه ماته په ژوند كښې، مرض يامصيبت رسيږى، نوهغه به صرف خُمادرب په مشيت اوارادې سره وى اوستاسو معبودانولره پكښې هيڅ مداخلت نشته، اودهغه په هركاركښې حكمت وى چه به هغې دهغه علم محيط دې اود هغه علم هرڅه ته وسيع دې ﴿وَكَيۡفَ أَخَافُ﴾ يعنى ستاسو دمعبودانونه زه ولې اوويريږم اوحال دا چه نه دهغوئ په قبضه كښې نفع ضررشته. اونه دتوحيد اختيارول څه جرم دې چه ماته به په دې سره سزاملاؤشى بلكه خوف اويره تاسوله پكارده چه تاسو دالله تعالى باغيان مجرمان يئ اودبدترين جرم مرتكب يئ اوالله تعالى دنفع اوضررمالك هم دې. قادردې، نوتاسو به څه پوهيږئ نوفيصله پخپله اوكړئ چه خوف چاله پكاردې، اومستحق دامن دعذاب الهى نه څوك دې، مونږ ياتاسو؟ اودالله تعالى فيصله

خوداده چه ﴿الَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ چه امن دعذاب الهی نه مؤمنانوته دې، ﴿وَلَمْ يَلْبِسُوٓا۟ إِيمَـٰنَهُم بِظُلْمٍ﴾ دظلم نه مرادشرک دې، معتزله اوخوارج ددې آیت نه استدلال کوی چه مرتکب دکبیره مخلدفی النار دې ځکه چه په دې آیت کښې اختصاص دامن راغې په هغه چاپورې چه ایمان ئې نه وی خلط کړې دهیڅ ظلم سره ځکه چه، ﴿بِظُلْمٍ﴾ نکره ده نوفائده کوی تعمیم، اوهرګناه خوظلم دې نوچه څوک دایمان سره ظلم یعنی ګناه خلط کړی نوهغه لره به امن نوی. **جواب** دادې چه دظلم نه مرادشرک دې لکه داقول دابن عباس رضی الله عنهما سعیدبن مسیب قتاده رضی الله عنهما وغیره هم دې اوپه حدیث دبخاری اونوروصحاحوکښې راغلیدی چه هرکله داایت نازل شو نوصحابؤ اووئیل چه (اَيُّنَالَمْ يَظْلِمْ) چه مونږ کښې څوک داسې دې چه ګناه به ئې نوی کړې، «مبنی ده سوال ددوئ داوه چه تنوین دتنکیر دپاره دې نو، «بظلم»، نکره ده تعمیم فائده کوی» نوجواب اوکړو نبی صلی الله علیه وسلم (الَمْ تعلمُوا الى ماقال لقمنُ لابنهِ وهُوَيَعِظُهُ يابُنَىَّ لَاتشرِ كْ باللهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ)، حاصل داچه تنوین دتعظیم دپاره دې او دظلم نه مراد ظلم عظیم دې یعنی شرک، اومطلب دآیت دادې چه کوم خلقوایمان راوړې وی اودایمان سره ئې شرک نوی خلط کړی نودوئ لره امن دې دعذاب الهی نه اوچاچه دایمان سره شرک خلط کړې وی نوهغوئ لره امن نشته دې، نومعتزله خوارج اعتراض کوی چه ایمان اوشرک نقیضین دې خلط ئې هسې هم نشی راتلې نوپه نفی کښې ئې څه فائده نشته، نود «بظلم» نه شرک اراده کول صحیح نه شو. اهل سنت والجماعت جواب الزامی ورکوی چه ستاسو په نیز خوایمان هم دګناه سره نشی جمع کیدې نوبیاهم نفی ده ظلم روستود ﴿ءَامَنُوا﴾ نه مفیده نشوه، اوجواب تحقیقی دادې چه د «آمنوا» نه مرادتوحید فی الخالقیة والربوبیة دې اودظلم نه مرادشرک فی العبادة دې اودیرخلق داسې دی چه دتوحیدفی الخالقیة والربوبیة قائله دی اودشرک فی العبادة مرتکب دی کماقال تعالی ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ﴾، ﴿قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَـٰوَٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ﴾، وقال تعالی ﴿وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ﴾، مشرکین دتوحیدفی الخالقیة قائل وؤ، خالق اورب ئې صرف الله تعالی ګنړلو، خوبیائې هم دغیرالله نه خپل حاجتونه غوختل اوهغوئ ته ئې سجدې کولې اودهغوئ په نوم ئې نذرونه ورکول نوالله تعالی فرمائی چه څوک داسې ایمان راوړی چه بل څوک «نبی، ولی» حاجت روامشکل کشا، اوداالله تعالی په شان اختیارمند، اوغیب دان ئې ګنړی نودده ایمان

معتبرنه دي. بلکه معتبراو موجب دامن هغه ايمان دي چه دهيڅ قسم شرک سره نه وي خلط .
دغه شان ايمان موجب دامن دي

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ؕ نَرْفَعُ

و دغه دليل زمونږ دي چه ورکړي وو مونږ دا ابراهيم ته په مقابله د قوم د ده کښې. پورته کوو مونږ

دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۝ وَ وَهَبْنَا لَهٗۤ

درجې د هغه چا چه وغواړو مونږ. بيشکه رب ستا حکمتونو والا . پوهه دي په هرڅه او ورکړي وو مونږ ده ته

اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ

اسحاق او يعقوب، هريو ته د دوئ نه هدايت ورکړي وو مونږ . او نوح ته هدايت ورکړي وو مونږ مخکښې د دينه

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ

او د اولاد دنوح نه مونږ هدايت ورکړي وو داؤد او سليمان ته او ايوب ته او يوسف ته او موسى ته او هارون ته

وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۝ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ

او دغسې بدله ورکوومونږ ښائسته عمل کوونکو ته او زکريا او يحيى او عيسى او الياس ته .

كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا

ټول دکاملو صالحانونه وو . اواسماعيل ته اويسع ته اويونس ته اولوط ته. او دې ټولو ته غوره والى ورکړي وو مونږ

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ

په خلقوباندې اوبعضې دپلارانو ددوئ نه او د اولاد د دوئ نه او د رونو د دوئ نه. او غوره کړي وو مونږ دوئ

وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِىْ بِهٖ

او روان کړي وو مونږ دوئ په لاره سمه باندې دغه دين حقّه هدايت دي د الله د طرفه . هدايت کوي يدې سره

مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ

هغه چا ته چه وغواړي د بندګانو خپلو نه . اوکه بالفرض دوئ شرک کړي وي نوخامخا به برباد شوي وو

عَلَيْهِمْ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾

د دوئ نه هغه عملونه چه دوئ کول

﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَا﴾ تلک اشاره ده، مذکوراستدلال دابراهیم علیه السلام ته د ((قال هذا ربی)) نه تر ((مهتدون)) پورې. ﴿ءَاتَيْنَٰهَآ﴾ ورکول په طریقه دوحی سره مراددی. ﴿عَلَىٰ قَوْمِهِۦ﴾ دپاره الزام اوغلبې په قوم باندې، نودامذکور کلام حجت، اوالزام هله کیدې شی چه په طریقه دشک اوشرک سره نه وی، اود ((علی قومه)) نه داهم معلومه شوه چه دامذکور حجت الله تعالی دابراهیم علیه السلام دپوهې دپاره نه ؤوورکړې بلکه دقوم په مقابله کښې اودهغوئ دالزام دپاره ئې ورکړې وؤ- ﴿نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ﴾ یعنی داسې حجت سبب درفع ددرجاتودې علمی عملی دواړه درجې مراددی، اودتنکیرددرجات نه معلومیږی چه ددرجاتودپاره څه مخصوص حد نشته دې دهرې مرتبې دپاسه بله مرتبه کیدې شی امام رازی رحمه الله اوجصاص وغیره محققینو ددینه دااستنباط کړیدې چه شغل په علم کلام کښې اوپه دلائلو داثبات دتوحیدکښې اشتغال په لایعنی کښې نه دې بلکه لوئې شرف اوسبب درفع ددرجاتو دې ﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ﴾ دحضرت ابراهیم علیه السلام دتفصیلی ذکرنه بعدداولسو (١٧) انبیاؤ ذکراجمالاً دې، اوداذکرنهایت په عمده ترتیب سره ذې، اول څلور انبیاء، حضرت ابراهیم، اسحق، یعقوب ، نوح علیهم السلام، اصول اباء دپیغمبرانودی حضرت داؤداوسلیمان علیهما السلام ، لوئې بادشاهان وؤ. حضرت یوسف اوایوب علیهما السلام ته په زندګئ کښې ډیر مصیبتونه اوتکلیفونه راغلی وؤ، حضرت موسی اوهارون علیهما السلام ته لوئ لوئې معجزات ورکړی شوی ووو اوحضرت عیسی اوالیاس علیهما السلام، ډیرعابدان زاهدان وو، اودحضرت اسماعیل اوالیسع، اوالیسع اویونس اولوط علیهم السلام ، ملګری متبعین ډیرکم وو اود دوئ ددین شهرت زیات نه ووالبته په یونس علیه السلام باندې روستوډیروخلقو ایمان راؤړو ، خواول ئې ملګری ډیرکم وو- نوپه دې آیت کښې دینه اشاره ده چه انبیاؤ په هرحال کښې ددین محنت کړیدې په حال دمشرئې کښې اوپه حال دبادشاهئې کښې اوپه حال دمصائبو اودسختوکښې اوپه حال دزهد کښې اوپه حال دکموالی دملګرو کښې اودمتبعینو کښې، په هرحال کښې ئې ددین محنت کړې دې ﴿وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ﴾ ضمیر راجع دې نوح علیه السلام ته نه ابراهیم علیه السلام ته ځکه چه لوط علیه السلام اګرکه د ابراهیم علیه السلام وراره ((برادرزاده)) دې نو په اولاد کښې مجازاً شامل کیدې شی لیکن یونس علیه السلام مطلقًا د ابراهیم علیه السلام په اولادکښې نه دې. ﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ﴾

یعنی لکه څه رنګه چه دوئ ته رفع ددرجاتو ملاؤشوه نوهراحسان کونکی اوددین خدمت کونکی ته هم ملاویږی، ﴿كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ﴾ داخلورانبیاء دکمالِ زهداوعبادت دوجې نه داعلی اواکمل صالحینو نه شمارشو. اوداسماعیل اوالیسع اویونس اولوط علیهم السلام دین مشهور شوې نه وؤ نو خلقو ددوئ فضیلت نه پیژندلو نوځکه ورسره ﴿وَكُلًّا فَضَّلْنَا﴾ ذکرشو. ﴿وَمِنْ آبَائِهِمْ﴾ معنی داده چه په مذکوره انبیاؤکښې چه دچاپلاران وو۔نوپه هغوئ کښې بعضو ته مونږ هدایت کړې وو. اودامعنی نه ده چه دمذکور انبیاؤ کښې دټولو آباءوؤ. لکه قادیانی دجال وغیره وائی چه دحضرت عیسی علیه السلام پلاروو.لکه د «وذریاتهم واخوانهم» مطلب دانه دې چه دټولواخوان «رونړه» ذریات وو. اوداخبره چه هرکله دحضرت عیسی علیه السلام پلارنه وونوبیاڅه رنګه په ذریت دنوح یادابراهیم کښې داخل دې. **نوجواب** دا دې چه دلونړواولادهم ذریت دې اوددې نه فقهاؤ استدلال کړیدې چه حسنین ذریت دنبی صلی الله علیه وسلم کښې داخل دی. ﴿وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ﴾ دا دواړه صفات دنبوت دی. اجتباء غوره والې دصفاتوحسنؤ لازمؤ نه دې اوهدایت دعلومو دنبوت اودصفاتو متعدیؤ نه دې اومجموعه ددواړو صراط مستقیم اولاردانبیاؤ ده. ﴿ذَٰلِكَ﴾ دا اشاره دهدایت ته چه مذکور دې په ضمن د «هدیناهم» کښې ﴿هُدَى اللَّهِ يَهْدِي﴾ الله تعالی چه چاته هدایت ورکول اوغواړی نورئې کړی. نو انبیاؤ ته الله تعالی هدایت ورکړیدې اومعصوم کړی ئې دی دضلالت اوشرک نه. اوشرک داسې ناقابل معافی جرم دې چه ﴿وَلَوْ أَشْرَكُوا﴾ که په فرض محال دوئ شرک کړې وې نودې محبوب اومقربین بندګانوته به هم داجرم معاف نه وې اوددوئ تمام اعمال به بربادشوې وې نوچه په شرک سره دانبیاء مقربینو عمل حبط کیږی نودبل څاڅه حیثیت دې

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا
داهغه کسان دی چه ورکړې وؤمونږ دوئ ته کتاب اوشریعت او پیغمبری، پس کچرې انکاروکړی د دې آیتونو د قرآن نه
هَٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا
دا خلق (اهل مکه) پس په تحقیق سره مونږ مقرر کړې دې (یعنې توفیق ورکړې دې مونږ) په دې باندې داسې قوم ته
لَّيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ ﴿٨٩﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ
چه نه دی د دې نه انکار کونکی دا ډله د انبیاؤ هغه خلق دی چه هدایت کړې دې دوئ ته الله تعالی

فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ط قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ط

پس په طريقه د دوئ اقتداء وكړه ته. وه وايه چه زه نه غواړم ستاسونه په تبليغ د دې قرآن هيڅ بدله.

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ۝

ندې دامگر نصيحت دې لپاره د ټولو خلقو

﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ ﴾ داتفصيل دهدى الله دې يعنى هدايت دالله تعالى كتاب اوحكم اونبوت دې. د «الْكِتَابَ» نه مرادجنس دې اومراد دكتاب وركولونه دادې چه يائى ورته مخكنې كتاب په ميراث كنبې وركړو يائې ورته بل جديد كتاب نازل كړو﴿ وَالْحُكْمَ ﴾دحكم نه مراد دادې چه هرنبى ته دكتاب نه علاوه وحى هم وركوى چه هغې ته حكمت اوسنت وئيلې شى ﴿ وَالنُّبُوَّةَ ﴾ يعنې وركړې وو مونږ دوئ ته نبوت ﴿ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا ﴾ ضمير راجع دې ثلاثو ته (كتاب، حكم، نبوة) ياراجع دې آياتونودقرآن نه ﴿ هَٰؤُلَاءِ ﴾ نه مرادموجوده كفاردى، اهل مكه وغيره ﴿ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا ﴾ مقرركړيدې مونږ اوتوفيق دايمان په دې باندې وركړيدې مونږ ﴿ قَوْمًا ﴾ دينه صحابه مهاجرين، انصارمراددى اوددوئ اتباع كونكى دقيامت پورې اودارنگه دهرې زمانې اتباع دانبياؤ مراددى. اوپه دې كنبې اشاره ده ديته چه الله تعالى په حفاظت ددين كنبې چا ته محتاج نه دې كه يوخاص قوم ددين حفاظت اوخدمت نه كوى نوالله تعالى دبل چانه داخدمت اخلى. اوداانتخاب الهى دې اودهغه عظيم احسان انعام دې چه دچانه ددين خدمت واخلى. الله تعالى دخادمانوددين نه دشكر توفيق وركړى (آمين)، ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ ﴾داشاره ده انبياؤ ته او﴿ هَدَى اللَّهُ ﴾ په اصل كنبې «هداهم الله» دې اوددينه يوه داخبره معلومه شوه چه انبياء معصوم دى دضلال اوگناه نه بله دامعلومه شوه چه هدايت منحصردې په طريقه دانبياؤ عليهم الصلوات والتسليمات پورې ﴿ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ﴾ ددوئ په طريقه ته هم روان شه. ﴿ اقْتَدِهْ ﴾ كنبې هاء دوقف دپاره ده اوضميرنه دې ددې نه مراددادې چه لكه څه رنگه چه هغوئ ردد شرک اواثبات دتوحيد كولونوته هم داسې كوه (اى فى نفى الشرک واثبات التوحيد) (كبير) يادامعنى ده چه لكه څه رنگه هغوئ دمنكرينو په ايذارسانئ صبر كرى وؤ نوته هم داسې

صبر کوه. (ای اصبر کما صبروا) -قرطبی) داقتداء معنی دَموافقت دَ روستنی دَ مخکنی سره په
تول اوعمل کښې اودامعنی صرف په روستو والی دلالت کوی اوپه افضلیت دلالت نه کوی
وافضلیت دمقتدی (امام) دمقتدی نه ضروری هم نه دې ځکه اقتداء دنبی صلی الله علیه
وسلم په مونځ کښې په ابوبکررضی الله عنه پسې، اوپه عبدالرحمن بن عوف پسې ثابته ده
اودارنګه اقتداء دصحابؤ په تابعینو پسی په مونځونوکښې ثابته ده حالانکه دلته افضلیت
دمقتدی یامساواة ئې دمقتدی سره نشته دې، نوداآیت دلالت نه کوی په افضلیت
دنوروانبیاؤپه سیدالکونین صلی الله علیه وسلم باندې، اوددې آیت نه یودامعلومه شوه چه
اصولِ دین دټولوانبیاؤیودی اختلاف ئې صرف په بعض فروعوکښې کښې دې. اوبل
دامعلومه شوه چه شرائع دمخکنوانبیاؤ زمونږ دپاره شرع ده اوحجت دې که چرې نسخ یا
تخصیص ثابت نه وی اوپه حدیث دبخاری کښې دی چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه په
سورة ص کښې دسجدې داثبات دپاره داآیت په دلیل کښې پیش کړې دې-علامه شیربینی
وغیره وائی چه استدلال کړیدې بعض علماء په دې آیت سره چه نبی پاک صلی الله علیه وسلم
دټولوانبیاؤ نه افضل دې ځکه چه په دې آیت کښې ((اقتده)) حکم راغلیدې اوداسې خوکیدې
نه شی چه نبی صلی الله علیه وسلم په دې باندې عمل نه دې کړې نومعلومه شوه، چه ټول هغه
خصلتونه اوصفات دشرافت چه په انبیاؤ کښې متفرق طورسره موجودوؤ، هغه ټول زمونږ په
نبی صلی الله علیه وسلم کښې جمع دی نوپه نوح علیه السلام کښې تحمل اوصبرپه ایذاء دقوم وه اوپه
حضرت ابراهیم علیه السلام کښې کرم اومجاهده فی الله اوپه دعوت کښې طریقه داستدلال وه اوپه
اسحق اویعقوب علیهما السلام کښې صبرپه مصائبو اوپه دآؤد اوسلیمان علیهما السلام
کښې شکر دنعمتونوو اوپه ایوب علیه السلام کښې صبرپه مرضونوو اوپه یوسف علیه السلام کښې
شکراوصبر په حسددبدخواهانووؤ اوموسی اوهارون علیهما السلام کښی کثرت دمعجزاتو
اودلوئ متکبر طاغی سره مقابله وه، اوپه ذکریااویحی اوعیسی اوالیاس علیهم السلام کښې
زهد فی الدنیا وو اوپه اسماعیل علیه السلام کښې صدق اوپه یونس علیه السلام کښې تضرع وه په سختئ
کښې. دې ټولوصفاتوته اشاره ده په ﴿فَبِهُدَىٰهُمُ﴾ کښې اوبیاالله تعالی نبی صلی الله علیه
وسلم ته حکم اوکړو چه ددغه انبیاؤ په طریقه ته روان شه نومعلومه شوه چه دغه ټول صفات
شرافت اوفضائل چه متفرقًا موجودوؤپه انبیاؤ کښې هغه راجمع دی په سیدالکونین صلی
الله علیه وسلم کښې، نوافضل الرسل اشرف الرسل شو (صلی الله علیه وسلم) ﴿قُل لَّآ

﴿اَسْئَلُكُمْ﴾ دانبياؤ يوسنت اوخصلت داهم دي چه په تبليغ ددين اجرت معاوضه فيس . نه اخلي، خکه تبليغ په دوئ باندې فرض عين دې اوپه فرض عين اجرت اخستل جائزنه دي اوچه فرض عين نه وي نوپه هغې باندې اجرت اخستلوکښې اختلاف دې. مدارک وائي چه ((فيه دليل على ان اخذالاجرعلى تعليم القرآن وورواية الحديث لايجوز))

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ﴾ ضميرقرآن ته راجع دې مطلب دادې، چه قرآن دقصو يادسائنس فلسفې يادتاريخ، جغرافيه ،كتاب نه دې بلكه دانصيحت اودستورالعمل دې اوصرف دعربو دپاره هم نه دې بلكه ده تمام عالم اقوامودپاره دې.

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ

او دوئ (يهوديانو) ندي پيژندلې الله په حق پيژندلو سره [1] كله چه وه ويل دوئ ندي نازل كړې الله تعالى

عَلَىٰ بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى

په هيڅ بنده باندې هيڅ شي، ته ووايه [2] چا نازل كړې دې هغه كتاب چه راوړې دې هغه موسى رڼا او هدايت

لِلنَّاسِ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا

لپاره د خلقو (يهوديانو) چه گرځوئ تاسو هغه ټکرې ټکرې، ښكاره كوئ بعضې او پټوئ ډير لره.

وَعُلِّمْتُمْ مَا لَمْ تَعْلَمُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ

او ښودلې شوى دى تاسو ته [3] په ذريعه د دې كتاب هغه څه چه نه پيژندل تاسو اونه ستاسو پلارانو.

قُلِ اللَّهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ ⊙

ته ووايه چه الله نازل كړې وو ، بيا پريږده دوئ په خرافاتو د دوئ كښې چه لوبې كوى

﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ﴾ داشكوه ده او ﴿قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي﴾ ورته جواب دې، دابن عباس

---

١ . شكوى

٢ جواب شكوى او دليل اول لپاره د صداقت د موسى عليه السلام

٣ دويم دليل لپاره د صداقت د موسى عليه السلام

ﷺ نه روايت دي چه يهوديانو نبی صلی الله عليه وسلم ته اووئيل چه آياالله تعالی په ..باندې كتاب نازل كړيدې نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه «نعم» ، نودوني اووئيل ((والله ما انزل الله من السماء كتابا)) دسعيدبن جبير نه روايت دې چه ديهوديانو يوعالم اورئيس چه مالك بن صيف نوم ئې دې راغې دنبی صلی الله عليه وسلم سره ئې مخاصمه. مناظره كوله په مكه كښې، «كه چرې دا سورة مكی وی» نونبی صلی الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل چه زه تاته قسم دركوم په هغه الله سره چه تورات ئې نازل كړيدې په موسى عليه السلام آياتانه دى موندلی په تورات كښې، چه ((ان الله يبغض الحبرالسمين، وكان حبراً سمينا)) يعنی الله تعالی نه خوښوی خورب عالم،« چه دالله تعالی خوف اودآخرت غم ورسره نه وی اودخوهشاتو نفسانيوتابع وی » او دغه عالم، رئيس خورب ملاوو ، نوپه غصه شو اواوئې وئيل چه ((والله ما انزل الله علی بشر من شئ)) نو قوم ئې ورته وه وئيل چه : هلاك شې دا دې څه وه وئيل. نو ده وه وئيل چه زه محمدپه غصه كړې وم ، نوهغوئ ده لره دمشرئې نه اوباسلو اودده په ځائې ئې كعب بن اشرف مشركړو. (السراج المنير) په دې ايت كښې اشكال دې هغه داچه كه ددې قول قائلين مشركين مكه وی لكه ابن كثير وائی نوروستوجواب ورسره موافق نه دې څكه مشركين . نه دَ موسى عليه السلام دنبوت قائل وو ، نه دَ نورانبياؤ ، اوكه يهوديان وی نوبيايو اشكال دادې چه دوئ دخپلومسلماتوخلاف خبره څنګه اوكړه؟ دوئ خودنبوت اودنزول دوحی قائل وو. اوبل اشكال دادې چه ديهودو سره مخاصمه دهجرت نه بعدپه مدينه كښې ده اوداسورت مكی دې نوددې دواړو اشكالونو جواب دغه مذكورروايت نه معلوم شو ، چه قائلين يهوددی او دغه قول ئې دغصې دجوش په وجه كړيدې، اوانسان چه كله په ډيره غصه اوغلو كښې راشی نوبيائ خپلومسلماتو ته هم خيال اوتوجه نه وی، اوددې وجې نه يهوديانودغه عالم دخپلې مشرئ نه معزول كړو چه ده ديهودودمسلماتونه خلاف قول اوكړو-اوده دغه روايت نه داهم معلومه شوه چه دوئ مكې ته تللی وو. هلته داګفتګواومناظره شويده. اوبعضو داجواب كړيدې چه كيدې شی چه داايت مدنی وی كله په مكی سورة كښې بعض اياتونه مدنی هم وی. ﴿قَدَرُوا اللَّهَ﴾ په معنی د ((ماعرفوالله)) ، يا ((ماعظموالله)) سره دې. يعنی دوئ الله تعالی نه دې پيژندلې په حق پيژندلو سره ، يادوئ دالله قدراوتعظيم نه دې كړې حق قدراوتعظيم سره ﴿حَقَّ قَدْرِهِ﴾ مفعول مطلق دې په اصل كښې ((قدره الحق)) دې بيا اضافت

دصفت وشو موصوف نه ﴿مَآ أَنزَلَ اللَّهُ﴾ سلب كلي دي، ددي په جواب كښې ايجاب جزئي راخي چه ﴿قُلْ مَنْ أَنزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي﴾الخ ﴿نُورًا وَهُدًى﴾ منصوب بنابرحاليت دى. ((نور)) نه مراد دليلونه او د ((هدئ)) نه مرادحكمونه دى ﴿تَجْعَلُونَهُ﴾داجمله حال دې د ((الكتب)) نه ياجمله استينافيه ده اودعلماؤ ديهودودشرارت بيان دې ﴿قَرَاطِيسَ﴾ اى فى قراطيس. ﴿تُبْدُونَهَا﴾ ښكاره كوئ هغه چه ستاسو دطبيعت سره موافق وى اوپټوئ هغه چه ستاسو دطبيعت اومزاج نه مخالف وى لكه دنبى صلى الله عليه وسلم اوصاف ياحكم درجم وغيره ﴿وَعُلِّمْتُم﴾دادويم دليل دصداقت دوحى دې. يعنى تاسوته چه اهل علم اواهل كتاب وئيلې شى نودتورات په وجه وئيلې شى، نودغه كتاب چانازل كړيدې؟ يادامعنى ده چه تاسوته علم دركړې شويدې په واسطه دحضرت محمدصلى الله عليه وسلم زيات دهغې نه چه په تورات كښې وو. اوبيان دهغې چه اشتباه اوالتباس په تاسواوستاسوپه آباؤ وولكه په دې قول كښې، ((ان هذاالقرآن يقص على بنى اسرائيل اكثرالذى هم فيه يختلفون)) .

﴿قُلِ اللَّهُ﴾ اى الله انزله، اودامتعلق دې د ﴿قُلْ مَنْ أَنزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي﴾ سره يعنى ته ترينه تپوس اوكړه چه داكتاب چانازل كړې دې نوكه دوئ اقراراوكړى چه الله نازل كړې دې نو(فبها) اوكه اقراراونكړى نوته اوويه چه الله تعالى نازل كړې دې ﴿ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ﴾بياپريكده دوئى لره په خرافاتو ددوئ كښې، اودازجراوتهديددې منكرينوته بعدد الزام نه په دوئ

وَهَٰذَا	كِتَابٌ	أَنزَلْنَاهُ	مُبَارَكٌ	مُّصَدِّقُ	الَّذِي
او دا قرآن هغه كتاب دې [1] چه مونږ نازل كړې دې دا، بركت والا ، تصديق كونكې دې د هغه كتابونو					
بَيْنَ	يَدَيْهِ	وَلِتُنذِرَ	أُمَّ	الْقُرَىٰ	وَمَنْ
چه د ده نه مخكښې دى. او د دې لپاره چه ته وه ويروې په دې سره مركزى كلي (يعني اهل مكه) او هغه خوك چه					
حَوْلَهَا ۚ	وَالَّذِينَ	يُؤْمِنُونَ	بِالْآخِرَةِ	يُؤْمِنُونَ	بِهِ
چاپيره د دوئ نه دى. اوهغه كسان چه ايمان لرى په آخرت باندې دوئ راوړى ايمان په دې كتاب (قرآن) باندې					

۱ - دليل وحيى لپاره د توحيد نفى شرك فى التصرف.

وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ۝

او دوئ دخپلو مونځونو ساتنه کوی

﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ﴾ دا دلیل وحی دي دنفی دشرک اعتقادی دپاره اوترغیب دي ایمان ته په محمدصلی الله علیه وسلم باندي یعنی لکه څه رنګه چه په موسی علیه السلام کتاب نازل وو - دغه ...ن داقرآن په تانازل دي اوپه دي کښي دتورات تصدیق دي چه موافق دي دهغه سره په بیان دتوحید اورسالت وغیره کښي نودا ولي نه منئ تاسو ، تنوین په «کتابٌ» کښي دتعظیم دپاره دي یعنی داعظیم شان اوقدر والا کتاب دي ﴿أَنزَلْنَٰهُ﴾ دا هم بیان دعظمت دي چه دادالله تعالی کتاب دي ﴿مُبَارَكٌ﴾ برکت، نماءاو زیادت ته وائی یعنی ((کثیرالخیر والبرکات)) دائمی نفع والاکتاب دي.دقرآن سره چه څوک تعلق ساتی نوهغه ته هم ډیرخیربرکت اوسعادت حاصلیږی او دا مجربه ده سلفًا ، ،خلفًا امام رازی رحمه الله ددي آیت په په ذیل کښي لیکی، یقول مصنف هذاالکتاب (تفسیرکبیر) محمدبن عمرالرازی - اناقد نقلت انواعًا من العلوم النقلیة والعقلیة فلم یحصل لی بسبب شئ من العلوم من انواع السعادات فی الدارین مثل ماحصل لی بسبب خدمت هذاالعلم - یعنی ماډیرعلوم عقلی نقلی حاصل کړیدی لیکن ماته دهیڅ علم نه ددین اودنیا هغه خیراوسعات نه دي حاصل شوي کوم چه ماته په خدمت ددي علم (قرآن) سره حاصل شویدي . ﴿وَلِتُنذِرَ﴾ واؤزائددي یاعاطفه دي معطوف علیه مقدردي چه «لتبین» دي «ام القری» مضاف مقدردي ((ای اهل ام القری)) ام القری (مرکزی شهر) دمکی نوم دي ام القری ورته یاپه دي وجه وائی چه دتمامو بلادو د روحانی پرورش سبب دي، ټول رحمتونه دلته نازلیږی بیا په ټوله دنیا باندي تقسیمیږی، یا ورته د دي وجه نه وائی چه د ټولوبلادو قبله رُخ دتوجه، اومجمع دهغوئ ده، دټول دنیا خلق دلته جمع کیږی، اودجغرافیه په لحاظ سره په عین وسط کښي واقع ده، یاداچه ټوله زمکه د دینه غوړیدلي اوخوره شوي ده یاداچه دااول بیت دي دخلقودعبادت دپاره.د﴿وَمَنْ حَوْلَهَا﴾نه مراد نور ټول بلاددی شرقا وغربًا اوددینه ثابتیږی عموم بعثت دسیدالکونین صلی الله علیه وسلم .﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ﴾ ضمیرراجع دي نبی صلی الله علیه وسلم ته یاقرآن ته، اوڅوک چه ایمان لری په آخرت .نو د

عاقبت فكر كوی نودهغې وجې نه ايمان په نبی اوپه قرآن لری ﴿وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ﴾ ذكر د صلوٰة روستو دذكر دايمان نه دپاره داهميت دې ځكه چه صلوة عماد الدين دې، عَلَم الايمان دې

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ
اوخوك دي زيات ظالم د هغه چا نه چه جوړ كړی په الله تعالى باندې دروغ. يا وائی وحی كړې شوې ده ماته.
وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ مِثْلَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ
او وحی نوی سوی ده نه هيڅ څه، او هغه څوك چه وائی چه زر ده چه زه به هم نازل كړم په شان دهغې چه نازل كړې دی الله .
وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوا
او ډير تعجب به وكړې ته، كه ووينې كله چه ظالمان په سختو د مرگ كښې وی، او ملائك اوږده كوونكی وی
أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا
لاسونه خپل، وائی به راوباسئ ساګانې خپلې، نن بدله دركيدې شی تاسوته د عذاب د ذلت، په سبب د هغه چه
كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ ۝
ويل به تاسو په الله تعالى باندې ناحقه خبرې او وئ تاسو چه د آيتونو دهغه نه مو تكبر كولو

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ﴾ دازجردې چه دادرې صفات يايوددينه په چا كښې موجو شی نو هغه ډير لوئ ظالم دې، اول ﴿وَمَنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا﴾ مرادترينه شرک دې لكه تحريم دهغه شئ چه الله تعالى نوی حرام كړې. مثل عمروبن لُحَيّ واتباعه القائلين بان الله حرم السوائب (مظهری) دويم ﴿أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ﴾ دعوه دنبوت كاذبه اوكړی لكه مسيلمة الكذاب، اسودعنسی، دارنګه مرزا قاديانی لعين، دريم داچه ﴿وَمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ﴾ يعنی دمقابلې دقرآن دعوه اوكړی، مفسرين وائی چه ددې مصداق نضربن حارث دې ياعبدالله بن ابی سرح دې نضربن حارثه دقرآن دمعارضې دپاره داسې ونيلی وو: ((والطاحنات طحنًا والعاجنات عجناً فالخابزات خُبزاً فاللاقمات لقمًا)) اوعبدالله بن ابی سرح دحضرت عثمان رضی الله عنه رضاعی روروو، اوكاتب دوحی وو. هركله چه دسورت المؤمنون، دا آيت نازل شو ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ﴾ .

نونبی صلی الله علیه وسلم دي را اوبللو دليکلو دپاره، نوده ليکل شروع کړه نوچه ﴿ ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ﴾ ته اورسيدو، نوتعجب ئې اوکړو دتفصيل دخلق دانسان نه. نوتعجباً ئې اووئيل چه ﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ ،نونبی صلی الله عليه وسلم ده ته اوفرمائيل چه (كذلك انزلت) دغه شان خونازل شويدې نودته شک راغې او وې وئيل (ان كان محمدصادقا لقد اوحى إِلَيَّ كما اوحى اليه) نومرتدشو، په فتح مکه کښې نبی صلی الله عليه وسلم دده دقتل حکم کړې وو، نودې پټ شو، اوبياعثمان رضی الله عنه دده سفارش اوکړو نونبی صلی الله عليه وسلم دته امن ورکړو اوايمان ئې راوړو- کامل الايمان وو، په فتح دمصرکښې حاضروو اوحضرت عثمان رضی الله عنه ده لره دمصروالی مقررکړې وو اودده په لاس افريقه فتح شويده په سنه ۲۷ھ کښې اودارنگه حبشه په سنه ۳۱ ھ دحضرت عثمان رضی الله عنه دشهادت نه بعدوفات شويدې، دعائې کړې وه چه (اللهم اجعل خاتمة عملی صلوة الصبح) نودصباح مونځ ئې کولو چه په اول رکعت کښې ئې فاتحه او (والعاديات) تلاوت کړل، اوپه دويم رکعات کښې ئې فاتحه اويوبل سورة تلاوت کړو، چه يوطرفته ئې سلام اوګرځولو نوروح ئې قبض شو. (قرطبی)

﴿ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ دغه مذکور درې قسمه ظالمانوته شامل دي، ﴿ فِي غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ ﴾ په سختو د زنکدن کښې،غمرة، شدت، (سختئ) ته وائی اوجمع ئې غُمرٌ راځی لکه نوبةٌ نوبٌ ،- من غمره الماء اذا ستره، دکوم لفظ په ماده کښې چه غين ميم وی هغه په ستردلالت کوی لکه سيف مغمودٌ مُغَمَّدٌ ای موضوع فی غمده مسترر فيه، تغمّده الله بغفرانه ای سترهُ الله. غمز(په سترګويته اشاره) غمس، په اوبو کښې ډوبيدل ، يمين غموس. ګويا کښې په ګناه کښې ډوب شو. غمض الامرای خفی، کلام غامضٌ ای غيرواضح،، جواب د ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ ﴾ محذوف دي چه (لرايت امراً فظيعًا) دي.

﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ ﴾ لاسونه اوګده کړی وی دروح قبض کولودپاره يادوهلودپاره ﴿ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ﴾ که څوك دا **سوال** وکړی چه څوك قدرت نه لری په اخراج د روح د خپل بدن نه نو بيا د (اخرجوا انفسكم) څه فائده ده؟ **جواب** ددې معنی داده (اخرجواانفسكم كرهًا) يعنی جبراً د روح اخراج مراددې په خلاف دَ روح دمؤمن نه چه هغه په رضااوخوشئ سره

اوبا سلي شي. مؤمن ته په وخت دموت كښې دالله تعالى ملاقات دهرڅه نه زيات محبوب وي. يامعنى داده چه بچ كړئ خپل ځان دعذاب نه، كه قدرت لرئ نوداتوبيخ دي. ﴿الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ﴾ ديوم نه مرادمطلق زمانه ده. نوداشامل دي عذاب دنزع، اوعذاب دبرزخ اوعذاب دحشر ته. ﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ اول دواړه قسمونوته راجع دي ﴿وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ﴾ دريم قسم ته راجع دي. دري واړه مذكوره خبري دتكبردوجې نه پيدا كيږي نوددې وجې نه عذاب داهانت ورته وركولي شي

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُمْ

او خامخا به تحقيق سره راغلئ تاسو مونږ ته يواځې . لكه چه پيدا كړي وئ مونږ تاسو اول ځل او پريخودل تاسو

مَا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ

هغه نعمتونه، چه دركړي وو مونږ تاسو ته روستو د شاګانو ستاسو نه، اونه وينو مونږ تاسو سره سفارشيان ستاسو

الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ ۚ لَقَدْ

هغه چه تاسو به دا دعوه كوله چه دوئ ستاسو په تربيت كښې شريكان د الله تعالى دي. په تحقيق سره

تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَا كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

كټ شو تعلق ستاسو په مينځ كښې او ورك شو ستاسو نه هغه چه تاسو ګمان كولو

﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا﴾ دلته (يقال لهم اذابعثواللحساب) محذوف دي يعني چه كله د حساب دپاره راپاسولې شي نو ورته به او وئيلې شي چه په تحقيق سره راغلئ نن تاسومونږ ته ﴿فُرَادَىٰ﴾ داجمع د فردٌ ده لكه كُسالى جمع دكسْلٌ ده يعني يواځې دمال اولاد، نوكرانو، مريدانو، اوعُهدونه. په دغه اشياؤ باندې انسان محنت كوي اودغې د وجې نه په كښې تكبر پيدا كيږي. په حديث كښې دي (انكم تحشرون يوم القيمة حفاةً عراةً عزلاً) يعني خپې ابله. بربنډ ناسنته به ستاسو حشر كيږي. ﴿وَتَرَكْتُمْ مَا خَوَّلْنَاكُمْ﴾ يعني عهدې دولتونه هيڅ شئې به ورسره نه وي. حتى چه كپړې. پيزار به هم ورسره نه وي لكه په حديث كښې مذكوردي. اوپه يوروايت كښې دي (قالت عائشة رضى الله عنها فقلت: الرجل والنساء جميعًا ينظر بعضهم الى بعض فقال

رسول الله صلى الله عليه وسلم الامراشدان يهمّهم ذلك) ﴿شُفَعَآءَكُمُ﴾ يعنى هغه معبودان چه دوئ شفعاء گنړل. اودهغوئ عبادت ئې له دې وجې نه کوؤ چه په آخرت کښې ددوئ شفاعت اوکړي اوالله تعالى ته ئې قريب کړي، لکه په بل آيت کښې دى (مانعبد هم الاليقربونا الى الله زلفى)

﴿أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا﴾ تاسو داگمان کولو چه دوئ دالله تعالى شرکاء اوبرخه داردى ستاسو په ربوبيت اوپه استحقاق دعبادت کښې ﴿لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ﴾ ((بينكم)) په قرآة درفع سره فاعل د (تقطع) دې اوپه قراة دنصب سره – فاعل مقدردې چه «الوصلُ» دې چه دفحوى دکلام نه معلوميږى، يعنى ((فيكم شركاء)) نه، يا تقطع په معنى د ((وقع القطع)) سره دې. اواخفش وائى چه ((بينكم)) فاعل دې باقى پاتى شويدې منصوب دې دوجى دحمل نه په اغلب احوالو دد ((بين)) په اغلب احوالو کښې منصوب وى نودلته اگرکه فاعل واقع شويدې ليکن خپل زوړ لباس ئې نه دې پريخې، اومراد دې چه ستاسو په مينځ کښې چه کوم تعلقات وو- دپيرئې مريدئې- يادپارټئې وغيره هغه ټول ختم شو، لکه په سورت بقره کښې دى ﴿وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ﴾. په دنياکښې چه کوم تعلقات په شرعى طريقې سره نه وى بلکه په شرکى طريقې سره وى نواگرکه دانبياؤ ياصحابواهل بيتو سره ياداولياؤ سره وى دابه ټول ختم شى البته کوم تعلقات چه دصلحاؤ سره وى اوپه شرعى طريقې سره وى نوهغه نه ختميږى بلکه هغه سبب اوذريعه دشفاعت ده، قال تعالى ((الاخلاء يومئذٍ بعضهم لبعضٍ عدو الاالمتقين))

﴿إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ

بيشکه الله تعالى څيروونکې[1] د دانې او د کجورې د هډوکى دې، راؤباسى ژوندې د مړ نه او راويستونکې د مړ دې

مِنَ ٱلْحَىِّ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ۝ فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ

د ژوندى نه. دغه صفاتو والا الله دې پس څنګه اړولې شئ تاسو څيروونکې د صبا دې او ګرځولې ئې ده شپه

سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ۝

وخت د آرام او نمر او سپوږمۍ د حساب لپاره، دا اندازه د زورور ذات ده چه پوهه دې په هرڅه

[1] خوارلسم دليل عقلى.

﴿إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ﴾ داخوارلسم دليل عقلي دي په توحيد اودشرك فعلي د رد مبدء ده «فالق» په معنى د موجداومبدع سره دي، ياپه معنى دخيرونكي سره دي. فلق په معنى دشق اوخيرولوسره دي، «حَبّ» جمع ده او«حبة» ئې مفرد دي. اودارنګه «نوى» نې جمع ده او «نواة» مفرددي. قاموس وائي چه نواة دكجوري اډوكى ته وائي اوامام رازي رحمه الله وغيره وائي چه د هرې ميوې اډوكى ته وائي، اوبعض وائي چه نواة چه مطلق ذكرشي نومرادترينه دكجورې اډوكې وي اودبلې ميوې اډوكې ترينه هله اراده كيږي چه اضافت ئې اوشي .لكه . نوى الخوخ، نوى المشمش وغيره، معنى داده چه الله تعالى په خپل قدرت سره كلكه دانه اوچوى اوشين نرم تيغ ترينه راوباسي. اودكجهورې اودارنګه دنوروميوو .اډوكى اوچوى اوشين ډكې ترينه راوباسي. ﴿يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ﴾ دادماقبل تفسيردې نوددې وجې نه عطف ترك شويدې. دَ «حي. ميت» نه مراد شين بوټې پيداكول دى دوچې دانې نه. اوبالعكس يعنى دشين ډكى نه وچې دانى پيداكول، ياترينه مرادعالم جاهل، ياموحد مشرك. ياانسان دنطفى نه اوبالعكس . يا د اګئې نه چرګ اوبالعكس. مراددى

﴿وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ﴾ داعطف دې په «فالق» باندې ، اوتفسير دماقبل نه دي،ياعطف دې په «يخرج» باندې اوعطف دهغه اسم چه مشابه وى دفعل سره يعنى په معنى دفعل سره وى. په فعل باندې صحيح دې اوبالعكس هم صحيح دې، لكه : ان المصدّقين والمصدّقات واقرضوا الله . «حديد ١٨» دَ «حَيّ» سره صيغه دَ فعل مضارع ذكر شويده او دَ ميت سره صيغه دَ اسم فاعل . نو نكته پكښې دا ده چه اخراج دَ ميت نه زيات اظهر دې په قدرت كښې او بل دا چه دا اول دي نو دَ دې وجه نه دَ دې تصوير او استحضار په ذهن دَ سامع كښې ډير اهم دې او تصوير او استحضار په صيغې دَ فعل مضارع سره راځى او په اخراج الميت عن الحى كښې اتيان په اصل سره شويدې ځكه چه اصل په صفاتو دَ الله تعالى كښې تعبير دې په اسم سره، او امام رازي رحمه الله وئيلى دى چه حَيّ ، اشرف دې دَ ميت نه نو هغه ئې په لفظ دَ فعل سره ذكر كړو چه دلالت اوكړي په اعتناء، دَ فعل دَ فاعل نه ځكه چه فعل دلالت كوى په تجدد او په صدور ساعةً فساعةً باندې. ﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ﴾ «ذلكم» مبتداء ده لفظ د «الله» ئې خبر دې. دا اسم اشاره ده. دمشاهد اومحسوس دپاره راځى اوذات دالله تعالى اګركه محسوس بالبصرنه دې. ليكن په ذكرداوصافو سره داسې ممتاز شولكه محسوس بلكه دهغې نه هم زيات امتياز. نوددې

وجې نه اشاره ذکرشوه چه دغه دې او ((کُم)) حرف خطاب دې دلالت کوی په حال دمخاطب.
اوددې وجې نه دابدلیږی کَ، کُما، کُنّ، راځی نو د ((ذلکم الله)) ترجمه داده چه ،،دغه
موصوف په صفاتو سابقوْ سره،، تاسوته وایم، الله دې. ﴿فَأَنّٰى تُؤْفَكُونَ﴾ ((انّی)) په معنی د
((کیف)) سره دې دامفعول د ((تُؤْفَکُون)) دې یعنی څه رنګه تاسواړولې شئ دتوحیدنه. اوڅه
رنګه څوک داسې خیال کوی چه داتصرف کونکې، ماده، طبیعت یادهر، (زمانه) دې. یابل
څوک هستی، ولی، بزرګ وغیره دې. ﴿فَالِقُ الْإِصْبَاحِ﴾ ((ای هوفالق الاصباح)) (فالق) په معنی د
خالق سره دې یاپه معنی دمظهر سره دې اواصباح په معنی دصباح سره دې یعنی الله تعالی
پیداکونکې یا ظاهرونکې دصباح دې، یا (فالق) په معنی دڅوونکی. څیرونکی سره دې نو بیا
په عبارت کښې مضاف مقدر دې: ای فالق ظلمة الاصباح بالاصباح، یافالق ظلمة اللیل
بالاصباح. ﴿سَكَنًا﴾ دامفعول ثانی دجعل دې سکنًا مصدردې په معنی دمسکون فیه سره.
یاپه معنی د ((وقت السکون)) سره ﴿حُسْبَانًا﴾ داعطف دې په سکنًا باندې. اوحرف جر
مقدردې ای بحساب (ابن عباس) یا دامعنی ده یجریان بحساب، یاحسباناً اسم دې په معنی
دحساب سره ((ای جعل الشمس والقمر حسابًا للاوقات)) داوقاتو، حساب په شمس اوقمرسره
کیږی، شمسی قمری حساب متعارف دی. ﴿ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾ شپه راوستل ورځ
راوستل. نمرسپوږمۍ چلول وغیره مذکورتصرفات، صرف هغه ذات کولې شی چه ډیر
زوراور او ډیر دلوئې علم خاوند وی، که یومعمولی شئ لکه یوسائیکل په غیردمصری نه نه
جوړیګی اوپه غیر دچلوونکی نه خودبخود نه چلیږی نوداسې عظیم نظام زمونږ په غیردصانع
عزیزعلیم نه چلیدلې شی؟

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا

او خاص الله هغه ذات دې [1] چه پیدا کړی ئې دی ستاسو لپاره ستوری د دې لپاره چه لار معلومونئ په هغې سره

فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۝

په تیروا د وچې او درياب کښې، په تحقیق سره مونږ په تفصیل سره بیان کړی دی آیتونه دهغه قوم لپاره چه پوهیږی

١ - پنځلسم دلیل عقلی

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ

اوخاص الله هغه ذات دي چه پیدا کړی ئې یئ تاسو [۱] د یو نفس (آدم) نه پس تاسو لره ځائ د آرام

وَّ مُسْتَوْدَعٌ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ۝

او ځائ د سپارنې دي، په تحقیق سره مونږ په تفصیل سره بیان کړیدی آیاتونه د هغه قوم لپاره چه بنه پوهیږي

﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ﴾ داپنځلسم دلیل عقلی دي، په ((لکم)) کښې لام دانتفاع دپاره دي په نجوم کښې ډیرې نفعې دی دلته ترینه بعض ذکرشویدی، په «لکم» کښې دټولومنافعو ذکراجمالاً شویدې اواوتفصیلاً دبعضومنافعوذکرشویدې په دې قول سره ﴿لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ چه تاسوپه دې سره لاراوسمت معلوم کړئې په ظلماتُ دبر او بحر کښې اضافت دظلمات .بر.بحرته لادنی ملابسةً دې ای ظلمات اللیل فی البروالبحر. یاد ظلمات نه مرادمشتبه لارې دی نودظلماتواطلاق په طریقه داستعارې سره دې، اودبعض منافعو تفصیل په سورتِ ملک ، آیت (۵) کښې دې چه دازینتٌ للسماء، رجومًا للشیاطین دی، اوپه ستوروسره لار، اوسمت معلومول په تیاره کښې ، مشاهددی اوپه دې دور د ترقئ کښې هم ورته احتیاج دې لکه دامشاهده ده. ﴿قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ﴾ دامذکورواضحه دلائل دی دالله تعالی دقدرت اودتوحید اوچه څوک ترینه فائده نه اخلی نوهغه علم اوهوش نه لری.﴿وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَكُم﴾ داشپاړسم دلیل عقلی انفسی دې دتوحید.د﴿نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ نه مراد حضرت آدم عليه السلام دې، ﴿فَمُسْتَقَرٌّ﴾ ای فلکم مستقر، (۱) دمستقرنه مراد صلب دپلاردې او د مستودع نه مرادرحم دموردې (۲) یادمستقرنه مراد دورځې ګرځیدل اودمستودع نه مراد د شپې دآرام ځائې دې (۳) یادمستقرنه مراددنیوی ژوند اودمستودع نه مرادمحل دې په برزخ کښې.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ

اوخاص الله تعالی هغه ذات دی [۲] چه نازلوی د طرف د آسمان نه اوبه، پس راوباسو مونږ په هغې سره زرغونه هرنوع

۱ شپاړسم دلیل عقلی

۲ اوولسم دلیل عقلی

كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ

د هر قسم. پس راوباسو مونږ د دينه شين ذكې، چه بيا روباسو مونږ د هغې نه داني په يوبل سورى. او راوباسو مونږ

مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ

د كجورونه د دې د غنچونه وږى، نيزدى (زمكې ته) او راوباسو مونږ باغونه دانګورو. او راوباسو خونه (زيتون).

وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ انظُرُوا

او انار. چه يوشان وى په رنګ او صورت كښې اونه وى يوشان په خوند او ميوه كښې. وګورئ په نظر د عبرت سره

إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ

ميوې د هرې ونې ته كله چه اول ميوه راوباسى، او بيا وګورئ پوخ والى د هغې ته. بيشكه پدې مذكور كښې

لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ

خامخا ډير دلائل دى هغه قوم لره چه ايمان لرى. اوګرځولى دى دوئ الله تعالى لره [١] شريكان. پيريان.

وَخَلَقَهُمْ ۖ وَخَرَقُوا لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ

او الله پيدا كړى دى دوئ. او په دروغه جوړوى دوئ الله لره خامن او لونړه بغير د علم نه. پاك دى الله

وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾

او لوئ دې د هغې نه چه دوئ ئې بيانوى

﴿وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ داولسم دليل عقلى (جوى) دې په توحيدباندې. مراد د سماء نه وريځ ده ياخوداسمان مراددې نومضاف مقدردې اى من جانب السماء. ﴿فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ﴾ با سببيه ده داعالم اسباب دې اومتفرق بوټى مسببات دى نوسبب يودې اومسببات متفرق دى لكه په بل ځائې كښې ﴿يُسْقَىٰ بِمَآءٍ وَٰحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِى ٱلْأُكُلِ﴾ سورة رعد. آيت

[١] زجر او شكوى ...

(۴) ﴿نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ﴾ هرقسم دمختلف گیاه کانونه، ﴿فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ﴾ ضمیرراجع دې نبات. یا «ماء» یا «کل شئ» ته ﴿خَضِرًا﴾ شین بوټې دوچې کلکې دانې نه. ﴿نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا﴾ چه راؤباسو مونږ دهغې نه دانې په یوبل سورې لکه دجوار وغنمو وربشو وګی نو دادانې دغیبو دخزانې نه راخی په زمکه کښې دننه نشته دې، ﴿وَمِنَ النَّخْلِ﴾ خبرمقدم دې ﴿قِنْوَانٌ﴾ مبتداء مؤخره ﴿مِن طَلْعِهَا﴾ بدل دې د «من النخل» نه، طلع، اول چه راښکاره شی دمیوې دکجورې نه چه هغې ته کُفرې وئیلې شی، یعنی غلاف، کخورې دمیوې، غنچې «قنوان» جمع د «قنوٌ» ده په شکل دتثنیه، اودارنګه «صنوٌ. صنوان» دکجورو ګنګ (ګنګوچی) ته قنوان وئیلې شی او اوعذق ورته وئیلې شې، اودانګورو هغې ته «عنقود» وئیلې شی، اوداجمع یعنی قنوان صنوان، په حالت دوقف کښې ئې دتثنیه سره التباس دې اوچه حالت دوقف نه وی نوبیائ فرق دادې چه په تقدیر دتثنیه به نون مکسور وی دائمًا اوپه تقدیر دجمع به په نون باندې به حرکات ثلاثه راځی بحسب الاعراب، اودارنګه چه داتثنیه وی نو په حالت داضافت کښې به ترینه نون حذف کیږی نو وئیلې به شی «هذان قنواک» اوچه جمع وی نوپه حالت داضافت کښې به نون نشی حذف کیدې نوئیلې شی «هذه قنوانک، رأیتُ قنوانک» ، اوپه دې باندې قیاس دې صنوان، ﴿وَجَنَّاتٍ﴾ داعطف دې په «نبات کل شئ» باندې، «ای فأخرجنا به جنت» ﴿مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ﴾ داهم عطف دې په نبات باندې «ای واخرجنا به شجرالزیتون والرمان» ﴿مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ﴾ داحال دې د «زیتون» نه، اودوجې دسبقیة د زیتون نه اکتفاء اوشوه په حال دده اوقیاس دې حال د «رُمّان» په دې باندې نومعنی داده «حال کون الزیتون مشتبهاوغیرمتشابه والرمان کذالک» یا دا حال دې د «رُمّان» نه، دوجې د قُرب نه نو زیتون په ده قیاس دې او په کلام کښې تقدیر دې «ای مشتبهًا بعضها وغیر متشابه بعضها» معنی داده چه زیتون بعضې د بعضو سره مشابه وی په مقدار، لون او طعم کښې، او بعضې نه وی، او دارنګه «رُمّان» او دارنګه په انګورو کښې بعضې قسمونه مخالف وی دنورونه په رنګ، مقدار وغیره کښې ، اودحضرت قتاده رحمه الله نه ددې معنی داسې مروی ده چه زیتون اورمان مشابه دی دیوبل سره په اوراقو کښې، چه په نظرکونکې باندې اشتباه راولی اومختلف دی په طعم کښې ﴿انظُرُوا﴾ مرادکتل دی په نظر دَ عبرت سره. ﴿إِلَىٰ ثَمَرِهِ﴾ ثمرجمع د ثمرةٌ ده

اوضمیر راجع دې هریوته نومعنی داده چه اوګورئ په نظرعبرت سره میوو دهریونه

﴿إِذَآ أَثۡمَرَ﴾ کله چه اول میوه راؤباسی چه په دغه وخت کښې پکښې مزه نه وی. تروه اومرئې خپه کوی. ﴿وَيَنۡعِهِۦٓ﴾ اوبیاؤګورئ پوخ والی دهغې ته چه څۀ رنګه خوګه ذائقه اوخوګ بوئ، اوخائسته رنګ، پکښې راغلیدې، دا هرڅه دالله تعالی د غیبو خزانونه راغلی دی. په زمکه کښې داسې خوند ، رنګ بوئ نشته دې ، ((يَنۡعِ)) په اصل کښې مصدردې. ((ينع ينع ينعا، ينوعًا)) ای نضج واستوی،ماضی مکسورالعین مضارع مفتوح العین. ابوعبیده وائی چه داجمع دیانع ده لکه صحبٌ صاحبٌ نو ((وَيَنۡعِهِۦٓ)) چه مصدرشی نومعنی داده ((انظروا الی حال نضجه)) اوګورئ حالت دپوخ والی دمیؤوته اوچه جمع شی نومعنی داده چه اوګورئ . پخومیؤوته.،﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ﴾ دازجراوشکوی ده، لله،، مفعول ثانی دجَعَلَ دې اوشُرکَاءَ ئې مفعول اولٰ دې او ﴿ٱلۡجِنَّ﴾ ترینه بدل دې دپاره دتحقیر، اودمفعول ثانی تقدیم دپاره د اشاره دې عظمة ددې جرم ته، اود ((جن)) نه مرادیاملائکه دی یاترینه مرادپیریان دی یاترینه مرادشیاطین دی، لکه بعض زنادقؤ وئیل چه ابلیس دالله تعالی روردې خالق دشردې. بامراددشریک ګرزولودشیاطینونه دهغوئ اتباع ده، اودسورة جن نه معلومیږی چه بعض مشرکینوجنات شریک ګرځولی دی، ﴿وَخَلَقَهُمۡ﴾ ضمیریاراجع دې جن ته یاشرک کونکوته. اوبه دې کښې اشاره ده چه مخلوق دخالق سره شریک ګرځول ډیرحماقت اوقباحت دې. ﴿وَخَرَقُواْ﴾ یعنی په دروغه سره جوړکړیدی دوئ الله تعالی لره ځامن لونړه، لکه یهودنصاری چه عزیرابن الله اوعیسی ابن الله وائی اومشرکین وائی الملائکة بنات الله- ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ﴾ دا راجع دې ((جعلوا لله شرکاء)) ته ﴿وَتَعَٰلَىٰ﴾ داراجع دې ﴿وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ﴾ ته ﴿عَمَّا يَصِفُونَ﴾ د دواړوسره متعلق دې ای سبحانه عمایصفون وتعالی عمایصفون

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن
په غیردنمونې اومثل نه پیدا کونکې د آسمانونو او د زمکې دې، څنګه کیدې شی هغه لره اولاد. او نشته دې
لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ۝ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ
هغه لره ښځه، او پیدا کړی ئې دی هرشې ، او دې په هرڅه عالم دې دغه صفتونو والا الله دې ستاسو رب دې .

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ
نشته دي لائق د عبادت بغير د ده نه، پيداكوونكي د هرڅيز دي پس صرف د هغه عبادت كوئ، اوهغه
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۞ لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۡ وَ هُوَ يُدْرِكُ
په هرڅيز باندې كارساز دي، نه مومي يعني احاطه نشي كولې په هغه د هيڅ چا نظرونه اوهغه احاطه كوي
الْاَبْصَارَ ۚ وَ هُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ۞
په (خاوندانو د) سترګو . اوهغه باريك ځيزونه ليدونكي دي، خبردار دي

﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ داعلت د ((سبحانه وتعالى)) دپاره دي، مبتدامقدره ((اى هوبديع السموات)) بديع په معنى دمبدع سره دي يعنى پيداكونكى په غيردمثل سابقه نه. نوچه دزمكې اسمان په پيداكولو كنبې مخكنبې مثل، او نمونې ته محتاج نه دې نوشريک اوولد ته هم حاجت نه لري﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ ﴾ يعنى دالله تعالى دپاره ولدځكه نشته دې چه ولدپيداكيږى دزوج اوزوجه متجانسين(هم جنس) نه اودالله تعالى دپاره هم جنس څوک نشته دي نو ،صاحبه،، يعنى زوجه ورته نشته دي نوولدورته هم نشته دي اوپه دي كښې اشاره ده چه كومو خلقوالله تعالى ته دولد نسبت كړې وونوهغوئ دالله تعالى دپاره دزوجيت عقيده نه لرله. ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ يعنى تمام اشياء(كوم چه دشان دهغې نه مخلوقيت وى) مخلوق دى اومخلوق دخالق سره هم جنس نه شى كيدې، اواولادخوهم جنس وى، نودالله تعالى دپاره خامن لونړه هم نشته دي﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ ﴾ دانتيجه اوثمره ده دماقبل دلائلونه. چه دماقبل دلائلونه داثابته شوه چه﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ دماقبل صفاتوذكركولوسره داسې تميزد ذات دالله تعالى راغې لكه چه محسوس مشاهدوى نوپه ((ذلكم)) سره ورته اشاره اوشوه، چه دغه دې تاسو ته وايم، الله تعالى، ستاسورب دې، دهرڅه خالق دې بل اله متصرف نشته دې نوفقط دهغه عبادت كوئ فقط دهغه نه خپل حاجات طلب كوئ، اودې په هرڅه وكيل دې، دهر څه دحفظ اودتدبير متولى دې

﴿ لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ په دنياكښې الله تعالى په سترګوسره نه شى معلوميدلې، بلكه په

صفاتو سره معلومیږی چه مخکښې بیان شو . ددې آیت په ظاهرسره استدلال کړیدې معتزلو خوارجواوبعضو مرجؤ چه دالله تعالی رؤیت نشی کیدې، ځکه ادراک البصر رؤیت دې نونفی دادراک البصر بعینه نفی د رؤیت ده. اهل سنت والجماعت وائی چه رؤیت دالله تعالی یوپه دنیاکښې دې اوبل په آخرت کښې دې هرچه دې په دنیاکښې نوپه دې کښې اختلاف دې چه آیا ممکن دې اوکه نه؟ حقه داده چه ممکن دې ځکه چه حضرت موسی علیه السلام دالله تعالی نه درؤیت سوال کړې وو. ((رب ارنی)) نوکه محال وې نولازمیږی چه نبی دبې خبره وی دهغه څه نه چه محال دې په حق دَ ذات دالله تعالی کښې اوداباطله ده. اوبیاپه دې کښې اختلاف دې چه رؤیت واقع دې په دنیاکښې په شپه دمعراج کښې دپاره دنبی صلی الله علیه وسلم اوکه نه؟ نوحضرت عائشة رضی الله عنها اوابن مسعود اوابوهریره رضی الله تعالی عنهما نه مروی ده چه نه دې واقع، اوحضرت ابن عباس اوانس اوعکرمه اوحسن بصری رضی الله عنهم وغیره نه مروی ده چه واقع دې، اوبعض علماؤ ددواړوقولینو په مینځ کښې تطبیق کړیدې، اوهرچه دې رؤیت دالله تعالی په اخرت کښې نوپه دې اجماع ده چه مؤمنانو ته به نعمت ددیدارالهی ملاویګی ،په دې باندې دلیل قرآن ،حدیث اجماع دی،. په قرآن کښې درؤیت دباری تعالی ذکرپه ډیروآیاتونو کښې دې لکه : (١) ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾﴾ (القیامة ٢٢) (٢) ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾﴾ (مطففین ١٥) امام شافعی وائی چه هرکله کافران دمعصیت اوکفرسره محروم دی ددیدار الهی نه نوثابت شو مؤمنانولره دیدارالهی په وجه دایمان اوطاعت سره. امام مالک رحمه الله وائی چه که چرې مؤمنانو ته دیدار حاصل نه وی نوکفاروته به الله تعالی داپیغور نه وی ورکړې (٣) ﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴾ دَ زیادة نه مراددیدارالهی دې، اواحادیث په حق درؤیت کښ تواتر ته رسیدلی دی. ((انکم سترون ربکم کما ترون القمرلیلة البدر)) الی غیرذلک - اوهر چه ده اجماع نوټول اهل حق دزما نې دنبی صلی الله علیه وسلم نه تردې زمانې پورې متفق دی په دې چه رؤیت دباری تعالی حق دې په آخرت کښې. اوهرچه دې جواب ددې آیت نه نوهغه په ډیرووجوهاتو سره دې (١) دلته نفی دادراک راغلیده نه درؤیت، اوددې دواړو په مابین کښې فرق دې، ادراک علم ته وائی په کنه اوحقیقت باندې، یاعلم په وجه داحاطې سره، اوحضرت موسی علیه السلام دادراک نفی کړیده سره داثبات درؤیت نه. ﴿فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّا﴾ سورة شعراء، آیت

۷۱ نومعلومه شوه چه ادراک غیردي درؤیت نه نودآیت مطلب داشو چه دالله تعالی دکُنه
د ذات ادراک نشی کیدي یادالله تعالی دذات لیدل په وجه داحاطې سره نشی کیدي

(۲) لاتدرکه الابصار نفی دایجاب کلی ده اوسلب کلی نه دي، سلب العموم دې عموم السلب نه دي، معنی ئي داده چه دهرچاسترګی ئي نشی لیدلې بلکه خاص خلق به ئي وینی دامعنی نه ده چه هیڅوک نششی لیدلې، (۳) دانفی درؤیت ده په دنیا کښې لکه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها په دې آیت سره استدلال کړیدي په نفی درؤیت په دیناکښې.

حاصل دادي چه ﴿ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ﴾ په نیز دمعتزلو، خوراجو، قضیه سالبه کلیه دائمه مطلقه ده اوپه نیز د اهل سنت باندې دا رفع دایجاب کلی دي، نوسالبه جزئیه مطلقه عامه ده

﴿وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ﴾ د ابصاروذکر دمجانست په وجه دي اوالله تعالی دهرڅیز ادراک کوی

• ﴿ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴾ لطیف مقابل دکثیف دي، کثیف صفت داجسامودي نودلطیف معنی داده چه ((مالایدرک بالحاسة)) یعنی هغه ذات چه په سترګوسره نه معلومیږی نودادلیل شو د (لاتدرکه الابصار) دپاره، او﴿الْخَبِيرُ﴾ دلیل دې د (وهویدرک الابصار) دپاره نو د الف نشر مرتب دي، د لطیف معنی داهم کړی شویده چه لُطف او نرمی کونکي دبندګانو سره ،اودامعنی ئي هم کړی شو یده، عالم بخفیات الامور، بغوامض الامور، بدقائق الامور

قَدْ	جَآءَكُمْ	بَصَآئِرُ	مِنْ	رَّبِّكُمْ	فَمَنْ

په تحقیق سره راغلیدی تاسوته، ذرائع دحق معلومولو (دلیلونه د توحید) د طرفه د رب ستاسو نه ، نو څوک

أَبْصَرَ	فَلِنَفْسِهٖ	ۚ	وَمَنْ	عَمِيَ	فَعَلَيْهَا ۚ

چه وه وینی حق نو دا د ده خپله فائده ده، او څوک چه روند پاتې شی (حق قبول نکړی) پس وبال به په هغه وی

وَمَآ	أَنَا	عَلَيْكُمْ	بِحَفِيظٍ	۝	وَكَذٰلِكَ	نُصَرِّفُ	الْأٰيٰتِ

اونه یم زه په تاسو باندې نګران اودغسې قسم قسم بیانوؤ مونږ آیتونه [۱] دتوحید (ددې لپاره چه دوئ پوهه شی)

۱ . د نه منلو دریمه وجه

وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۵﴾

اوچه ره وائی دوئ، تا دبل چا نه لوستلي اوزده کړي دي او لپاره ددې چه بيان کړو مونږ داهغه قوم ته چه پوهيږی

اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ

تابعداری کوه دهغې چه دهغې وحی کړې شويده تاته د طرف د رب ستا نه. نشته دې لائق د عبادت بغير د ده نه. او مخ واړوه

عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ۗ وَمَا جَعَلْنٰكَ

د مشرکانو نه او که غوښتي وې الله (جبراً مسلمانول د دوئ) نو دوئ به شرك نوې کړې او نه ئې مقرر کړې مونږ ته

عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾

په دوئ باندې نګهبان ، او نه ئې ته په دوئ باندې ذمه وار

﴿قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ﴾ داترغيب دې قرآن ته، بصائرجمع دبصيرة ده، بصيرة دزړه بينا ته وائی لکه بصر دسترګو بينائی ته وائی، مراددبصائرنه حجج اودليلونه نه دتوحيد اودحق دی چه مذکوردی په قرآن کريم کښې چه په دې سره حق اوهدايت ليدلې شی نو ﴿فَمَنْ اَبْصَرَ﴾ چاچه په دې دلائلوسره حق اوهدايت اوکتلو، ﴿فَلِنَفْسِهٖ﴾ نودده خپله فائده ده ﴿وَمَنْ عَمِيَ﴾ اوڅوک چه ړوندشو، په دې دلائلو سره ئې حق معلوم نه کړو اوهدايت ئې حاصل نه کړو ﴿فَعَلَيْهَا﴾ نودده خپل ضرراونقصان دې، الله تعالى اورسول ته اونوروأهل حقو ته څه ضررنه رسی ﴿وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ﴾ اوزه نه يم ستاسوحفاظت کونکې اوبچ کونکې دعذاب نه يادګمراهئ نه .يادامعنى چه راګيرو نکې دعملونوپه علم اوقدرت کښې،يا نګرانی کونکې جزادرکونکې بلکه الله به جزاء درکوی- ﴿وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ﴾ داده نه منلو دريمه وجه ده يعنى مونږ دتوحيد دلائل په مختلف طريقو سره ذکرکوو دپاره د دې چه دوئ ترينه نفع حاصله کړی ليکن دوئ دويرضد اوتعصب دوجې نه نه منی اواعتراض کوی چه داتادبل چانه زده کړيدی يعنى داهل کتابونه دې زده کړيدی، دادهغوئ خبرې دی، اوته ئې نسب، الله تعالى نه کوی. يعنى ستاتعلق اوتلمذ داهل باطل سره دې اومونږته داڅکاره کوی چه زه داهل حقونه يم. داسې ضدتعصب .اواعتراضونه سبب دحرمان ګرځی، اوددې آيت نه داهم معلوميږی چه دجاداسې

متعصبانه اعتراضونوته توجه نه ده پکار،بلکه ددین په خدمت کښې مشغوله اوسیدل پکاردی. تصرف دیته وائی چه یومضمون په مختلفو تعبیرونو اوطرزونوسره ذکرشی ددې دپاره چه خلق پرې پوهه شی. څکه خبره ډیره اهمه اوضروری وی. نوقرآن پاک توحید. رسالت . وغیره په مختلفوتعبیرونو اودلیلونو سره ذکرکوی. ﴿وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ﴾ معطوف علیه مقدردې چه (لیعتبرو). یا (لتقوم الحجة علیهم) دې اود ((دَرَسْتَ)) معنی داده چه ((قَرَأتَ وَتَعَلَّمْتَ)) یعنی دا خبر تا دبل چانه یعنی داهل کتابونه یادیوبل بدنام سړی نه زده کړیدې لکه په سورت نحل ۱۰۳ کښې دی، ﴿إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ﴾ اونسبت ئې الله ته کوی. او درس په معنی داختفا انمحاء سره هم رازی (پټیدل زائل کیدل) لکه اصمعی وائی ((درس المنزل اذاعفا)) حضرت عمربن عبدالعزیز اوونیل ، ((فانی خفتُ دروسَ العلم))، (بخاری) نوکه ده ((درست)) دامعنی اوشی چه تامحوه اوزائل کړو زوړ دین ،،نوداهم صحیح ده (والله اعلم) اولام په ((لیقولوا)) کښې یالام العاقبة دې اومعنی داده چه مونږ دوئ ته دتوحیدواضح بیان په مختلفو طریقو اوکړو نودوئ اونه منی اوانجام داشی چه اعتراض اوکړی یالام العلت دې او﴿وَلِنُبَيِّنَهُ﴾ په دې عطف دې مطلب دادې چه تصریف آلایات دبعضو دشقاوت سبب شی اودبعضو دهدایت ذریعه شی، ((لیشقی بهاقوم ویسعد بها آخرون)) (روح) ((کماقی قوله تعالی یضل به کثیراً ویهدی به کثیراً)) - ﴿اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ﴾ دا دویم دلیلِ وحی دې دپاره دتوحید اواشاره ده دیته چه دچامتعصبانه اعتراضونوته توجه نه ده پکار، بلکه په خپل مقصد کښې لګیدل پکاردی، اود﴿مَا أُوحِيَ﴾اهم مقصددادې چه ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ ﴿وَأَعْرِضْ﴾ داعراض مطلب دادې چه دهغوئ دمخالفت اواعتراضونوپروامه کوه ، یادامطلب دې چه دهغوئ سره قلبی محبت اودهغوئ په مجلسونوکښې شرکت مه کوه، اوچاچه دیته منسوخ باية السیف وئیلی دی نوهغوئ داعراض معنی ((کف عن القتال)) کړیده ﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ﴾یعنی که چرې اوغواړی الله تعالی جبراً ایمان ددوئ نوټول به مسلمانان شی لیکن جبری ایمان مقبول نه دې

وَلَا	تَسُبُّوا	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	مِنْ	دُوْنِ	اللهِ

او اې مسلمانانو ' کنځل مکوئ هغه معبودانو ته چه دا مشرکان دهغوئ عبادت کوی چه ما سوی د الله تعالی نه دی

فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ

پس کنځل به وکړي دوئ الله تعالى ته، دوجه دبغض اوظلم نه په ناپوهئ سره، دغسې ښائسته کړې دي مونږ هرې فرقې ته

عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ مَرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۞

عمل دهغوئ، بيا به رب د دوئ ته پيش کيدل ددوئ وي پس خبربه کړي دوئ لره په هغه عملونوچه دوئ به کول

﴿وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ﴾ په دې کښې بيان دطريقه تبليغ دې کوم شئ چه فرض وي نودهغې اداء کولوطريقه هم فرض وي لکه مونځ فرض دې نوپه صحيح طريقه اداء کولودهغې فرض دي نودتوحيد بيانول فرض دي ليکن صحيح طريقه پکښې ضروري ده هغه دا چه د چا په ذات دې حمله نه وي او د چا د ذات استخفاف او توهين دې نوي لکه بعضې جذباتيان نورو اهل علمو ته د شرك اډه، د «بدعت بورئ» وائي ((سب)) کنځلوته اودچا داسې قبائح اونقصاناتو بيانولو ته وائي چه په هغې سره دهغه تحقيراوسپکوالې راځي، اودادوه قسمه دي. يوهغه کنځل دي چه في نفسه منع دي لکه غليظ قسم الفاظ، اودروغ، بل قسم هغه دي چه دچاکوم عيوب اوقبائح بيان شي هغه په هغه کښې موجودوي ليکن هغه ذريعه وي دپاره دحرام ،لکه توهين داهل حق وغيرذلک نوداقسمٌ کنځل في نفسه اگرکه جائزدي ليکن چه ذريعه دممنوع دپاره ګرځي نوممنوع به وي، دلته ﴿وَلَا تَسُبُّوا﴾ په صيغه دجمع سره راغليده نومعلومه شوه چه داخطاب صحابؤ ته دې اومقصودترينه ادب خودل دي اورسول الله (صلى الله عليه وسلم سب، نه دی کړي چاته ،اوعلماء وائي چه ددينه دااصولي مسئله مستنبطه کيږي چه کوم شئ في نفسه واجب اوضروري نه وي بلکه يامباح وي يامستحب وي خوهغه ذريعه ګرځي دبل ممنوع اوحرام دپاره نوددغه اومستحب ترک ضروري دې اوکول ئې ممنوع دي، البته چه کوم شئ، واجب ياضروري وي نودهغې ترک جائزنه دې بلکه کول ئې ضروري دي بشرط القدرة اومراددد ﴿الَّذِينَ﴾ نه معبودان باطله دي او ﴿يَدْعُونَ﴾ صله ده، اوعائد د موصول محذوف دې چه ((هم)) دې معنى داده چه کنځل مه کوئ هغه معبودانو ته چه مشرکين دهغوئ عبادت کوي اوبلنه ئې کوي په خپلوحوائجو کښې ﴿فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ ((عدواً)) حال مؤکده دې مراددينه تجاوزعن الحق اوظلم دې. که څوک سوال اوکړي چه مشرکانوخو الله تعالى منلو او دعظمت دالله عقيده ئې لرله نوهغوئ به څنګه الله تعالى ته سب اوکړي، جواب دادې چه دضد اوغصې دوجې نه کله داسې کيدې شي لکه د، ((عدوًا)) نه معلوميږي بعض وائي چه ددينه مراد

سب دي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته یامؤمنانوته نوپه عبارة کښې مضاف مقدر دي ﴿كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا﴾ دادنه منلودپاره ځلورمه وجه ده، یعنی هرچاته ،خواه کافران وی یا فاسقان، یااهل بدعت وی خپل عمل اوعقیده ورته ښائسته ښکاریږي یعنی ثواب اوغیرت ئې ګڼري

وَأَقْسَمُوا	بِاللَّهِ	جَهْدَ	أَيْمَانِهِمْ	لَئِن	جَاءَتْهُمْ	آيَةٌ

او قسمونه خوری دوئ په الله تعالى باندې کلك قسمونه خپل چه قسم دې کچرې راغله دوئ ته معجزه

لَيُؤْمِنُنَّ	بِهَا	ط	قُلْ	إِنَّمَا	الْآيَاتُ	عِندَ	اللَّهِ	وَمَا

خامخا دوئ به ایمان راوړی په هغې، وه وایه ته چه بیشکه اختیار د معجزاتو الله تعالى سره دې. او څه خبر

يُشْعِرُكُمْ	لا	أَنَّهَا	إِذَا	جَاءَتْ	لَا	يُؤْمِنُونَ	۝

خبر کړی یئ تاسې چه «دوئ به ایمان راوړی» بلکه زه خبریم چه دا معجزې چه کله راشی نو دوئ ایمان نه راوړی

﴿ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ ﴾ دا زجراوشکوه ده ﴿ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ﴾ مضبوط قسمونه خپل، جهدمصدر منصوب دي مفعول مطلق دي، د ((اقسموا)) دپاره په اعتباردمضاف الیه سره څکه ایمان په معنی دقسمونوسره دي یاحال دي اومصدر په معنی داسم فاعل سره دي ((ای مجتهدین ل ایمانهم)) اومبرد وائی چه دامفعول مطلق دي فعل محذوف دپاره، ((ای اجتهدواجهد ایمانهم)) ﴿لَئِن جَاءَتْهُمْ﴾ لام موطئه للقسم دي ((ای والله لئن جاءهم))، ﴿آيَةٌ﴾ ددې نه مراد آیات مقترحه دی یعنی هغه معجزې چه دوئ طلب کولې، لکه روایت دي چه دوئ ونیل چه اې محمد «صلی الله علیه وسلم » ته مونږ ته وائې چه موسی علیه السلام په خپله عصاباندې حجر اووهلو نودولس چشمې ترینه جارې شوې، اوعیسی علیه السلام مړی جوندی کول نوته هم مونږ ته دغه شان معجزات ښکاره کړه چه مونږ ستا تصدیق اوکړو ، نونبی صلی الله علیه وسلم ورته اووئیل چه تاسوڅه غوارئې دوئ اووئیل چه صفا دسرو زرو کړه، او زمونږ بعض اموات جوندی کړه چه مونږ ترینه ستادرسالت تپوس اوکړو چه آیاحق دی هغه خبرې چه ته ئې کوې یاباطل دی؟ اومونږ ته ملائکه اوخایه چه ستادرسالت شهادت اوکړی، نونبی صلی الله علیه وسلم دوئ ته اووئیل چه آیا که زه دغه اوکړم نوتاسوبه څماتصدیق اوکړئې، دوئې اووئیل چه .. هو په خدائې قسم چه مونږ ټول به ستا اتباع اوکړو ، اومسلمانانو دنبی صلی الله علیه وسلم نه سوال اوکړو چه داسې معجزات دِظاهرشی چه دوئ ایمان راوړی ، نونبی صلی الله علیه وسلم

ورېدو چه دعااوکړي چه صفا سره زرشي نوجبرئيل عليه السلام راغلي اوويي وئيل يارسول الله
لک ماشئت)) چه ته څۀ غواړي هغه به اوشي، که ته غواړي چه ،صفا، دِذهب شي نوشي به .
ليکن بياهم دوئ ايمان نه راوړي نوالله تعالى به ورته خامخاعذاب ورکوي، اوکه ته غواړي
نودوئ به دغه حال پرېږده حتي چه الله تعالى به دوئ کښې دتائب توبه قبوله کړي، نودا ايت
نازل شو، ﴿إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ﴾ معجزات زماپه اختيارکښې نه دي چه زه ئې ظهوراوکړم
بلکه دالله تعالى په اختيارکښې دي اوهغه ئ دحکمت اومصلحت مطابق ظاهروي . اوچه په
ظهورکښې ئې مصلحت نه وي نونه ئې ظاهروي اوتاسوچه دکومومعجزاتو طلب کړيدې،
نودهغې ظهوردمصلحت خلاف دې، او هرکله چه دمؤمنانو تمنّئ دا چه معجزات دِظاهرشي ،
شايدچه کفار به ايمان راوړي نو الله تعالى اوفرمائيل ﴿وَمَا يُشْعِرُكُمْ﴾ تاسوخه پوهيږئې؟ چه
دوئ به ايمان راوړي، «ما» استفهاميه انکاريه دې او «شعور» علم اوپوهه ، ته وائي
اوخطاب مؤمنانوته دې چه دوئ تمنى کوله دظهوردمعجزاتو اوګمان ئې کوؤ چه مشرکان به
به دې سره ايمان راوړي، ((کُم)) مفعول اول دې د ((يُشْعِرُ)) دپاره اومفعول ثاني ورته
مابعدجمله ده، نومعنى داشوه چه تاسو څه پوهيږئې؟ يعنى نه پوهيږئې په دې باندې چه
معجزات راشي نودوئې ايمان نه راوړي، نوسوال وارديګى چه بياخو ﴿يُؤْمِنُونَ﴾ پکاروو-
نوجواب کړيدې بعض علماؤ (١) چه «لا» زائده دې دپاره دتاکيد د انکار (٢) اوبعض وائى چه
مفعول ثانى د ((يشعركم)) محذوف دې اوپه عبارة کښې تقدير دې اصل عبارت داسې وو
((ومايشعركم انهم يؤمنون، بل اُخبركم انها اذاجاءت لايؤمنون)) (٣) اوبعض علماء وائى چه ((انّها))
به معنى د ((لعلها)) سره دې، (٤) اوبعض وائى چه ((انها)) جواب دقسم محذوف دې تقدير
دارنګه دې ((ومايشعركم حالهم اقسم انها اذاجاءت لايؤمنون)) ، (٥) اوبعض علماؤوئيلى دي چه
دابا‌قي دې په خپل حال يعنى په کلام کښ تقدير نشته دې، اولا، هم زائدنه دې بلکه اصلى
دې. ليکن داکلام مبنى دې په قانون ددلائلو الاعجاز باندې. ددې توجيه خلاصه داده چه
څوک بل چاته تنبيه ورکوي په خطاء، دزعم اودعلم دهغه باندې نوکله صرف دهغه دعلم خطا ،
اوخلاف واقع کيدل ذکرکوي اوکله ورسره دهغه دخطائى عذرمعذرت هم ذکرکوي نوپه اول
صورت کښې کلام مثبت ذکرکيږي اوپه دويم صورت کښې منفى ذکرکيږي، مثلاً دچا زعم
اوخيال داوي چه فلانې به ځما اکرام احترام کوي اوپه حقيقت کښې هغه اکرام احترام کونکې
نه وي اودحقيقت علم صرف تاته وي اوهغه ته نه وي نوته کله داسې وائى ((ومايدريک ان فلانا

يكرمك)) نه څه پوهيږې چه فلانې ستا احترام كوى؟ نوداصرف دهغه دعلم اوخيال دغلطئ بيان دي. اوكله چه داسي اووائى چه ((وما يدريك انه لايكرمك)) نوددې مطلب دادې چه ستاخيال خوغلط دې ليكن ته په دې غلطئ كښې معذورئې، ستا خوعلم اوخيال دادې چه دې به څمااكرام كوى نوزه عالم يم په نه اكرام. اوته په عدم اكرام عالم نه ئې نومعذور ئې. عدم دعلم يوعذر دې نوپه نفى راوړلو كښې عذرته اشاره وى اوپه استفهام انكارى ذكركولوكښې غلطئ دخيال اواعتقادته اشاره وى. ((فكذلك الآية انما وردفيها الكلام اقامة عذرللمؤمنين فى عدم علمهم بالمغيب فى علم الله تعالى وهو عدم الايمان هؤلاء فاستقام دخول لا، وتبين ان سبب الاضطراب: التباس الانكار باقامة الاعذار، وهذامن اسمى دلائل الاعجاز)) (اعراب القرآن. للاستاذ الدرويش)

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ
(خكه) چه اړوو مونږ زړونه د دوئ او سترګې د دوئ (دحق نه) څكه چه ايمان ندې راوړې دوئ پدې باندې
أَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ
اول ځل او پريږدو مونږ دوئ لره په سركشئ د دوئ كښې سرګردانه

﴿وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَـٰرَهُمْ﴾ داعلت د ((لايؤمنون)) دپاره دې واوپه معنى دعلت دې ﴿كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا﴾ كاف هم تعليليه دې ((اى لمالم يؤمنوابه اول مرة)) اومطلب دادې چه اول دوئ دضد دوجې نه ايمان نه دې راوړې، نو دا سبب دې لپاره د ختم اوسلب استعداد، نو الله تعالى د دوئ د زړونو نه د قبول د حق استعداد سلب كړو ، اودستركو نه ئې ورته ، دنظرعبرت استعداد سلب كړو ددينه تعبير په نوروځايونو كښې په ختم اوطبع سره شويدې، اودلته دسمع ذكرنه دې شوې څكه دلته بحث دمعجزاتو محسوسودې اودهغې نه دعبرت اخستلودپاره ستركى اوزړونه پكاردى، نه سمع، ﴿وَنَذَرُهُمْ﴾ داعطف دې په ((لايؤمنون)) باندې. يعنى ((انها اذاجاءت لايؤمنون، وانها اذاجاءت نذرهم فى طغيانهم يعمهون)).

﴿فِي طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾ د ((عَمَهٌ)) نه مشتق دې دزړه ړوندوالى ته وائى، چه لازم ورسره تحير اوتردد دې

اوومه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ

او كه چرې مونږ نازل كړو دوئ ته ملائك او خبرې وكړى د دوئ سره مړى او راجمع كړو مونږ په دوئ هر شى

قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوٓا إِلَّآ أَن يَشَآءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

مخامخ نو (بيا هم) دوئ ايمان نه راوړى، مگر دا كه وغواړى الله (جبراً مسلمانول د دوئ) ليكن اكثر د دوئ نه جاهلان دى

﴿وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا﴾ دا د ماقبل تفصيل دې چه ((ومايشعركم)) دې. تاسوخه پوهيږئ چه دوئ به ايمان راوړى بلكه دوئ ايما نه راوړى اگركه ددوئ مطلوبه معجزې ځكاره شى بلكه دهغې نه زيات ځكاره شي، ﴿وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ يعنى كه ټول مغيبات لكه جنت دوزخ دوئ نه راجمع شى اودوئ ئې اووينى ﴿قُبُلًا﴾ مخامخ، قبلاً اى مقابلة، ومنه، ((وان كان قميصه قدمن قبل)) ومنه ((قبل الرجل ودبره)) ، ((حكى ابوزيد قبلا ، مقابلة ، قبلا، قِبلاً)) كله په معنى د المواجهة سره راځى (قرطبى).

﴿مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا﴾ نوبيا هم دوئ ايمان نه راوړى ځكه چه په دوئ مهرلګيدلې دې، په وجه دضداوتعصب ددوئ سره ، نوكه چرې دوئې ضدتعصب ترك كړى ، اوانابت اختياركړى نوالله تعالى په ورته توفيق دايمان وركړى، مفسرين وائى چه ددې آيت نه معلوميږى چه دمشاهدې دمعجزاتو سره نفع لازمه نه ده، بلكه اصل څيزطلب صادق اوانابت دې، (شعر) :

عاشق كه شد كه يار بحالش نظرنه كرد — اى خواجه دردنيست وگرنه طبيب هست

اومولانائې روم وائى (شعر) :

آب كم جو، تشنگى آور بدست — تا بجويد آبت از بالا وپست

﴿إِلَّآ أَن يَشَآءَ اللَّهُ﴾ كه الله تعالى اوغواړى اودوئ جبراً په هدايت راولى نودادالله تعالى دقدرت نه باهرنه ده خوجبرى ايمان، عندالله معتبرنه دې، حاصل دادې چه ددوئ دايمان راوړلوبل هيڅ صورت نشته سوادجبراوالجاء، نه اودامعتبرنه دې ځكه چه دامنافى دې دغرض التكليف سره مكلف هغه څوك وى چه اختيارمندوى مجبور مكلف نشى كيدې

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ

او دغسې گرځولى دى مونږ هر پيغمبر لره دشمنان شيطانان د انسانانو اوپيريانو نه وسوسې اچوى بعضى د دوئ نه

إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ

بعضو ته، ښائسته کړی شوی د دروغو خبري لپاره د دهوکه کولو ، اوکه خوښه وي د رب ستا نو دوئ به دا کار نوي کړي

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغَىٰ إِلَيْهِ أَفْئِدَةُ الَّذِينَ

پس پرېږده دوئ لره سره د هغې چه دوئ دروغ جوړوي . او لپاره د دې چه مائل شی دیته زړونه د هغه کسانو

لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾

چه ایمان نه لری په آخرت باندي، او چه (بیا) خوښ کړي دوئ دا دروغ، او کوی دوئ هغه څه چه دوئ ئی همیشه کوی

﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا ﴾ دادنه منلو پنځمه وجه ده، يعنى الله تعالى تكوينى طورباندي. شياطين الانس والجن دشمنان گرځولی دی دانبیاؤ دپاره چه هغوئ دتوحيد اورسالت په باره کښې دخلقو په زړونو کښې وسوسې اچوی، دشرک اودباطل خبرې ورته خائسته کړی.

﴿شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ ﴾ مفعول اول د ﴿جَعَلْنَا ﴾ دي او﴿عَدُوًّا ﴾ مفعول ثانی دي مقدم شوې دې لپاره د مسارعت بيان د عداوت ته، يا ((جعلنا)) متعدى دې يو مفعول ته چه هغه عدواً دې .او ((شياطين الانس والجن)) ترينه بدل دې، اودا آيت صريح دلالت كوى په دې چه كوم انسان دشيطان نيابت كوى نوهغه همم شيطان دې په شکل اوقالب دانسان کښې، قرطبی، دمالک بن دينارنه نقل كړيدى چه انسى شيطان په مازيات سخت دې دجنى شيطان نه ، ځکه چه جنى شيطان په تعوذ وئيلوسره لاړشي، اوانسى شيطان ماګناهونوته راکاږی عياناً، حضرت عمررضی الله عنه دیوې زنانه نه واوریده چه داشعرئی وئیلو:

انّ النساء رياحين خُلِقْنَ لكم و كلكم يشتهى شم الرياحين

نوحضرت عمر په جواب کښې اووئیل ،،

انّ النّساء شياطين خُلِقْن لنا نعوذ بالله من شر الشياطين

﴿ يُوحِي ﴾ په معنى دوسوسې اچولوسره دې ﴿ زُخْرُفَ الْقَوْلِ ﴾خائسته قول، مرادترينه مزخرف. ملمع . «زراندوه» دې يعنى هغه چه ظاهرئى خائسته وى، دزرو، رنګ پرې لګيدلي وى.اودننه خراب وى شيطانى تلبيسات اوهرباطل مذهب کښې خوشنما ،دلکش وی،په ظاهر کښې زروی اودننه زهروی ﴿ غُرُورًا ﴾دامفعول له دې په معنى د ((ليغروا)) سره ﴿وَلِتَصْغَىٰ﴾

عطف دې دې په (غرورا) چه په معنی دفاعل سره دې ﴿وَلِتَصْغَىٰٓ﴾ په معنی د (تمیل) سره دې.
لکه ((فقدصغت قلوبكما)) یاپه حدیث کښې دی. ((فاصغى لها الاناء)) اوضمیر د ﴿إِلَيْهِ﴾ راجع
دې زخرف القول ته. یاواؤزائده دې او ((لتصغى)) دجعلنا سره متعلق دې ﴿وَلِيَرْضَوْهُ﴾ په
((لتصغى)) باندې معطوف دې ﴿وَلِيَقْتَرِفُوا﴾ ((ای یکتسبوا)). حاصل داچه کوم انسان جاهل
چه په آخرت ایمان نه لرى اودآخرت غم ورسره نه وى نوهغه اول دزخرف القول په ظاهرى
ښائست دهوکه شئ نوغوګ ورته کیدی اوزړه ئې ورته مائل شی. اوبیائی خوخ اوپسند کړی
اوبیاپرې عمل اوکړی نوباطل عملونه همیشه دپاره کوی. دګمراهئی اوله درجه میلان قلب
وی. دویمه درجه ئې باطل اختیارول اوپسندکول وی په اعتقاد دزړه سره. اودریمه درجه په
معاصیؤ کښې عملاً مبتلاکیدل دائمًا وی اوکوم خلق چه ایمان په آخرت باندې لرى نو ایمان
هغوئ دباطل پرستئ نه منع کوی.

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ

آیا غیر د الله تعالی نه طلب کړم زه بل خوك فیصله کوونکې او حال دا چه الله تعالی هغه ذات دې چه نازل کړی ئی دی

إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ

تاسوته کتاب چه پکښې تفصیل دې. اوهغه کسان چه ورکړیدې مونږ دوئ ته کتاب. د دې یقین کوی

أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾

چه بیشکه دا کتاب نازل کړې شویدې د طرف د رب ستا نه په حقه سره پس هرګز مه کیږه د شك کوونکو نه

﴿أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا﴾ مشرکینولکه چه دمعجزاتو طلب کړې ووچه دهغې جواب
مخکښې تیرشونودغسې دوئ نبی صلی الله علیه وسلم ته داسې هم وئیلی وو ((اجعل بيننا
وبينكَ حكمًا مِن احبارِاليهود وإنْ شِئتَ من اساقِفَةِ النَّصارٰى ليخبرناعنک)) چه ته یوحکم (فیصله
کونکې) مقررکړه، دعلماؤدیهودو یانصاراؤ، یواسقف (عالم) چه فیصله اوکړی زمونږ اوستا
په درمیان کښې ،څکه چه دخصمینو، اومناظره کونکو دپاره (حَكَمْ) پکاروی چه فیصله
اوکړی. نوجواب راغې چه دمناظرې په وخت کښې (حَكَمْ) فیصله کونکې. دالله تعالی کتاب
دې. اوپه اهل کتابوکښې چه کوم، نیکان دی، ضدتعصب نه کوی نوهغوئ ددې تائید کوی.

استفهام انکاري په معنی دنفی سره دې يعنی (حَكَمْ) فيصله کونکې.صرف الله تعالی اودالله
تعالی کتاب دې بل څوک (حَكَمْ) نشی کيدې. ﴿وَهُوَ الَّذِیٓ اَنۡزَلَ﴾ دا بيان علت دې چه دالله
تعالی نه ماسوی بل څوک حکم نشی کيدې، حکم صرف الله تعالی دې هغه فيصله دې قرآن
په واسطه سره کړيده، نو په وخت دمناظرې کښې فيصله کونکې دالله تعالی کتاب دې کتاب
دې ﴿مُفَصَّلًا﴾ داوجه دحکميت دقرآن ده دامنصوب دې حال دې د ((اَلْكِتٰبَ)) نه.اودمفصلا نه
مراد دا دې چه دايمانياتواوعقائدوتفصيل پکښې پوره موجوددې ﴿وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ﴾
دادليل نقلی دې دمؤمنين سابقينو نه ،مراددااهل کتابونه هغه دی چه ايمان ئې راوړې دی
اوضدتعصب نه کوی. نودوئ هم ددې اقرارکوی اوعقيده لری چه دقرآن فيصله حقه ده اوقرآن
حکم دې ﴿فَلَا تَكُوْنَنَّ﴾خطاب نبی صلی الله عليه وسلم ته دې اومرادترينه امت دې

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ؕ لَا مُبَدِّلَ

او تام اومکمل دې دا کلام د رب ستا په رېشتنوالی او په انصاف سره، نشته دې هيڅ څوک بدلوونکې

لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ وَ اِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ

د کلماتو د الله (د قرآن اوهغه هرڅه آوری او پوهه دې په هرڅه . او که ته تابعداری وکړې د ډيرو هغه خلقو

فِي الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ

چه په زمکه کښې دی، واړوی به تالره د لارې د الله تعالی نه، دوئ تابعداری نکوی مگر د گمان کوی،

وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ۝ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ مَنْ يَّضِلُّ

او ندی دوئ مگر په اټکل روان دی (دروغ وائی) . بيشکه رب ستا هغه ښه پوهه دې په هغه چا چه لرې شی

عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝

د لارې دهغه نه، او هغه ښه پوهه دې په هدايت موندونکو باندې

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ﴾دابله وجه دحکميت ده، دکلمې نه مراد کلام دې يعنی قرآن يعنی
داکلام مکمل اوتام دې په صدق اوعدل سره، صدق راجع دې اخباراتو نه اوعدل راجع دې
اوامرونواهی ؤته . يعنی ددې کلام ټول اخبارات رشتيا دی، دکذب اوخلاف واقع امکان نه

لرى اوددې كلام ټول احكامات ،اوامر اونواهي سراسرعدل انصاف نه ډک دی. دظلم بې انصافئ هيڅ شائبه پکښې نشته دې، نوځکه دې حکم دې بعض وائی چه د ﴿كَلِمَتُ رَبِّكَ﴾ نه مراد دين دې يادلائل دتوحيد دی(روح) ﴿صِدْقًا وَعَدْلًا﴾ ، حال دې په معنی دصادقًا عادلاً سره. يامنصوب بنزع الخافض دې ((ای بالصدق والعدل)) يامنصوب بنابرمفعولية مطلقه دې په اعتبار دموصوف مقدره سره ای تمام صدق وعدل ،.﴿لَا مُبَدِّلَ﴾دابله وجه دحکميت ده. يعنی په قرآن کريم کښې څوک تبديل تحريف لفظی نشی کولې. محفوظ دې دتحريف نه اوپه مخکنوکتابونوکښې تحريف واقع شويدې، يادامعنی ده چه دقرآن په وعدوعيد کښې تبديل ، خُلف، نشی راتلې ، امام رازی رحمه الله داسې معنی کړيده چه دقرآن پاک په دې قوی دلائلو کښې منکرين، شکوک شبهات ،تبديل ، نشی پيداکولې

﴿وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ﴾دازجردې اودمشرکينو ددليل جواب دې، دوئ ، اکثريت دحقيقت دليل ګرځولو ، نومطلب دادې چه هراکثريت دحقيقت دليل اوسندنه شی کيدې اودامطلب نه دې چه دهيڅجا اکثريت دليل اوسندنه دې، دمؤمنو صلحاؤ اکثريت په يوخبره دليل دحقيقة وی. اوددې وجې نه ﴿أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ﴾ذکرشويدې، اکثرالمؤمنين نه دې ذکرشوې

فائده : دموجوده زمانې غيرمقلدينو ته چه اووئيلې شی چه دمسلمانانو صلحاؤاکثريت دتقليد قائل دی نودوئ په جواب کښې داآيت پيش کوی، داکثرالمؤمنين اوداکثرمن فی الارض فرق نه کوی اوداکثرالمؤمنين اطاعت سبب دګمراهئ ګرځوی (فالی الله المشتکی) ﴿إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ﴾ داعلت د ((يُضِلُّوكَ)) دپاره دې،مراددظن نه وهم پرستی ده. دشرک حقيقت وهم پرستی ده،ياترينه مراددمشرکينو دليل دې چه دوئې وئيل ، چه کوم چه تاسو قتل کړئې يعنی ذبيحه نوهغه خورئ اوچه الله تعالی ئې مړه کړی يعنی مرداره نوهغه نه خورئې نو مرداري ته ئې دالله تعالی ذبيحه (قتل کړې شوی) وئيل نوداظن دې، حاصل دادې چه دظن نه مرادهغه ظن نه دې چه معتبردې په شرع کښې، د﴿يَخْرُصُونَ﴾نه مراداټکل بې دليله خبرې دی. ياپه معنی دېکذبون سره دې- ﴿هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ﴾الله تعالی په هرڅاخه پوهه دې نودهرچا داعمالو اوعقائدو مطابق به بدله ورکوی، ددی ځائې پورې دسورة حصه اولی مضمون نفی دشرک اعتقادی پوره شوه.

فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ۝

پس خورئ د هغې[1] نه چه ياد شوې دې په هغې نوم د الله تعالى خاصةً كچرې يئ تاسو په حكمونو د هغه ايمان لرونكي

﴿فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ﴾ دا دسورة دويمه حصه شروع شوه په دې كښې نفى د شرك فعلى كيږى. په دې حصه كښې دنفى د شرك فعلى دپاره درې صورتونه ذكر كيږى (۱) تحريمات غير الله په ځلورعنواناتوسره (۲) تحريمات الله ،په يوعنوان سره (۳) نذرلغيرالله داهم په ځلورعنواناتوسره دې ﴿فَكُلُوْا﴾ دا اول عنوان دې دذكردتحريمات غير الله دپاره ﴿مِمَّا﴾ دمانه مرادهغه حيوانات دى چه مشركانو دخپلومعبودانو دتعظيم دپاره دخپل طرفه حرام كړيوؤ يعنې بحيره،سائبه ،وصيله،حام،معنى داده چه په كوم حيوان چه خاصةً نوم د الله تعالى ياد شوې وى په وقت د ذبح كښې هغه حلال وګڼئ خورئ ئې، دلته د خوړلو حكم مقصود نه دې بلكه د حلا ګڼړلوحكم مقصوددې اودحلال ګڼړلوعملى ثبوت خوړل دى نوځكه دخوړلو حكم اوشو. ﴿اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ﴾ دايمان بالايات تقاضاداده چه تحريمات غيرالله عملاً ختم كړې شى.

وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَقَدْ

او څه عذر دې تاسولره چه نه خورئ تاسو دهغه څيز نه چه ياد كړې شى نوم د الله تعالى خاصةً په هغې او حال دا چه

فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ؕ

تفصيل كوى تاسوته دهغه څيزونو چه حرام كړى ئى دى په تاسو مګر هغه څه چه مجبوره شئ تاسو هغې ته

وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

او بيشكه ډير خلق خامخا ګمراه كول كوى په خپلو خواهشاتو سره په غير د علم (دليل) نه . بيشكه رب ستا

هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ۝ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ

هغه ښه پوهه دې په تجاوز كوونكو (دحدودو د شرع نه). او پريږدئ ښكاره ګناه اوپټ ګناه، بيشكه هغه خلق

1 - حصه ثانى . نفى د شرك فعلى، د تحريمات غير الله بيان.

يَكْسِبُوْنَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ⓪

چه کسب کوی گناه زرده چه دوئ ته به سزا ورکړې شي دهغه عملونو چه دوئ ئې کوی

﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا﴾ دا د ماقبل تاکيد دې. ﴿وَقَدْ فَصَّلَ﴾ «فصّل» صيغه دماضي ده نو معنى داده چه د دينه مخکښې تفصيل شوې دې حالانکه د دې نه مخکښې مکي سورتونو کښې تفصيل د حرام. حلال نه دې شوې. سورة بقرة ، مائده کښې تفصيل شته دې خو هغه مدني دی. د دې سورت نه روستو نازل شوی دی . حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه سورة نحل مراد دې چه د دې نه مخکښې نازل شوې وؤ . ليکن په دې کښې دا اشکال دې چه په سورت نحل کښې تفصيل نشته دې. هلته محرمات اجمالاً ذکر دی او تفصيل دلته دې. حضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه دلته ماضي په معنی دمضارع سره ده او مضارع دپاره دحال ده نو (فصّل) په معنی د (يُفصِل) سره دې لکه په سورة نور کښې ﴿سُوْرَةٌ أَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا﴾ انزلنا.فرضنا . په معنی د مضارع حالي سره دی. ﴿إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ﴾ دا استثناء د ((ماحرّم)) نه ده. نو محرمات لکه ميته .دم. خنزير. ما اهل به لغير الله.په وخت داضطرار کښې حرام نه دی. دهلاکت نه دبچ کيدو دپاره دهغې خوارک ضروری دې. ﴿وَإِنَّ كَثِيْرًا﴾ ديرخلق من گهړت قصی بيانوی او نور خلق په هغې سره گمراه کوی ، عمروبن لُحَی چه هغه دسوائب رسم اول ايخودلې وو. هغه ئې اولين مصداق دې باقی تمام مضلين پکښې داخل دي﴿ظَاهِرَ الْإِثْمِ﴾ظاهرگناه هغه دې چه دظاهربدن سره تعلق لری په دې کښې شرک فعلی داخل دې او باطن گناه هغه دې چه دزړه او عقيدې سره تعلق لری او په دې کښې شرک اعتقادی داخل دې ﴿سَيُجْزَوْنَ﴾ دا وعيد دې دلالت کوی په عقاب دمذنب. نه په وجوب. او اهل سنت والجماعت وائی چه مذنب چه توبه اونکړی نو بيا ورته عقاب دې په شرط دمشية سره يعنی که الله تعالى اوغواړی نوعذاب به ورته ورکړی او که اوغواړی معافی به ورته اوکړی. سزا ورکول واجب او ضروری نه دی په الله تعالى باندې.

وَلَا تَأْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهٗ لَفِسْقٌ

او مه خورئ دهغې نه چه نوی ياد کړې شوې نوم د الله تعالى خاصةً په هغې. او بيشکه دا خوړل گناه دې.

وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰٓـئِهِمْ لِيُجَادِلُوْكُمْ

اوبېشكه شيطان خامخا وسوسې اچوي خپلو دوستانو ته د دې لپاره چه جګړه او مناظره وکړي ستاسو سره.

وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴿۱۲۱﴾

او که خبره ومنئ تاسو د دوئ بېشکه تاسو به خامخا مشرکان يئ

﴿ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ ﴾ دابيان دنذرلغيرالله دي ((مالم يذكراسم الله)) نه مراددادي چه خالص نوم دالله تعالى پرې نه وي يادشوې بلکه نوم دغيرالله پرې ذکرشوې وی يعنی نذرلغيرالله. يامتروک التسميه عامداً وی نوداپه نيزداحنافو حرام دې. دشوافعو په نيزجائزدي

﴿ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ ﴾ شياطينونه مرادانسی شياطين اوجنی شياطين دواړه مراد دی يعنی دوئ دخلقو په زړونوکښې وسوسې اچوي ،دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه مشرکانو شبه اوکړه چه کوم حيوان تاسوپخپله مړکړئ نوهغه خورئ يعنی ذبيحه اوچه الله تعالی ئ مړکړی يعنی ميتته نوهغه نه خوری؟ ﴿ وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ ﴾اطاعت په استحلال دحراموکښې.مشرکين مردار ته حلال وائی نوکه تاسوورته حلال اووائی

﴿ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴾ دادليل دې په دې چه څوک حرامو قطعيو ته حلال وائی. ياحلال قطعی ته حرام وائی هغه مشرک ،کافردې. داشرک فی الحکم اوشرک فی التشريع دې البته دکوم شئ چه حل حرمت قطعي نوی اوپه هغه کښې ادله دحل اوحرمت دواړه موجودوی نويوجانب ته ترجيح ورکول تفقه فی الدين ده. مقلدينوته په دې وجه مشرکين ووئيل چه دوئ اتباع دائمو کوی په جهالت مبنی ده. دائمه مجتهدينواتباع شرک فی التشريع ندې. مقلدين خپلوخپلواماماتوته شارحين وائی اوشارعين ورته نه وائی.

اَوَمَنْ	كَانَ	مَيْتًا	فَاَحْيَيْنٰهُ	وَجَعَلْنَا	لَهٗ

آيا هغه څوک[1] چه وی دې مړ(په جهل اوشرک سره)پس ژوندې کړو مونږ ده لره په (علم او ايمان سره) او ورکړو مونږ ده ته

---

۱ - بشارت . تخويف

نُوْرًا	يَّمْشِيْ	بِهٖ	فِي	النَّاسِ	كَمَنْ	مَّثَلُهٗ

رڼا (د ایمان او د علم) چه ګرځی دهغې سره په خلقو کښې. په شان دهغه چا کیدې شی چه صفت ئې دا وی

فِي	الظُّلُمٰتِ	لَيْسَ	بِخَارِجٍ	مِّنْهَا ؕ	كَذٰلِكَ	زُيِّنَ	لِلْكٰفِرِيْنَ

چه دې په تیرو د کفر او د جهل کښې وی. نوی وتونکې د هغې نه. دغسې ښائسته کړې شوی دی [١] کافرانو ته

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝	وَكَذٰلِكَ	جَعَلْنَا	فِيْ	كُلِّ	قَرْيَةٍ	اَكٰبِرَ	مُجْرِمِيْهَا

هغه عملونه چه دوئ ئې کوی او دغسې ګرځولی دی مونږ په هر کلی کښې. غټ خلق مجرمان دهغې

لِيَمْكُرُوْا	فِيْهَا ؕ	وَمَا	يَمْكُرُوْنَ	اِلَّا

د دې لپاره چه دوئ چل ول (حیلې) وکړی. په هغې کلی کښې (د حق خلاف) اونه کوی چل ول مګر

بِاَنْفُسِهِمْ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ ۝

د خپلو نفسونو سره اونه پوهیږی دوئ

﴿اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا﴾ دابشارت اوتخویف دې او دَ مؤمن موحد اودکافرمشرک تمثیل دې اوپه آیت کښې تشبیه تمثیلی ده،نو ((اومن کان)) مشبه ده او ﴿كَمَنْ مَّثَلُهٗ﴾ مشبه به دې او استفهام انکاری دنفی دپاره دې. دمیت نه مرادمشرک دې اود﴿فَاَحْيَيْنٰهُ﴾ نه مراد حیاة د ایمان اوتوحید دې یا دمیت نه مرادجاهل اوداحیاء نه مرادعلم ورکول دی ﴿وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا﴾ دنورمرادنورد ایمان دې اوحضرت قتاده رحمه الله وائی چه ددینه مراد قرآن دې ﴿يَمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ﴾ ددې نه مرادعمل دې په قرآن یاترینه مراددعوت دایمان دې

﴿كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ﴾ ((مَثَلُهٗ)) یازائددې نومعنی داده ((کمن هوفی الظلمت)) یا ((مَثَلُهٗ)) په معنی دصفته العجیبة سره مبتداء ده ((فی الظلمات)) خبر د مبتداء محذوف دې چه ((هو)) دې اوداجمله خبرد مَثَلُه دپاره دې، معنی داشوه چه ایا هغه څوک چه مشرک وی اوبیاورته الله

١ . د نه منول شپږمه وجه.

تعالی نور ایمانی نصیب کړی په شان دهغه چاکیدي شی؟چه دهغه صفت اوحالت دادي چه دي په ظلماتو دکفرکښي وی. د ظلماتونه مراد ظلمات دکفراودجهل مراددی مفسرین وائی چه دا آیت نازل شویدي په باره دحمزه رضی الله عنه کښي اوابوجهل کښي. لیکن حکم ئی عام دی. ابوجهل یو ځل نبی صلی الله علیه وسلم په سرباندي اووهلو. اوپه یوروایت کښی دي ((انّ اباجهل رمی رسول الله صلی الله علیه وسلم بفرث)) یعنی ابوجهل نبی صلی الله علیه وسلم په فرث(لړی) باندي اوویشتلو یعنی ګندګی اولړي نی ورواچولونوحمزه چه په دغه وخت کښي موجودنه وؤ – خکارته تللي وو. نوچه راغلو خبرشو. نوډیرغصه شو. اولینده قوس ورسره ووروان شو اوپه ابوجهل ئی په وهلو شروع اوکړه. په سرسرئ اووهلو. نوابوجهل ورته اوونیل. چه آیا. ته نه ګوري.چه ده (یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ، مونږ بي وقوف ګرځولی یو. اوزمونږخدایان ئی بي وقوف ګرځولی دی اودپلار نیکه خلاف ئي کړیدي. نوحمزه ددي وخته پوري لامسلمان شوي نه وؤ خواوئی وئیل چه ستاسونه زیات بي وقوف څوک کیدي شی چه دکاڼرو عبادت کوئی، ماسوادالله تعالی نه .اوپه دغه وخت کښي ئی کلمه دشهادت اوونیله اومسلمان شو.

﴿كَذَٰلِكَ زُيِّنَ﴾ دادنه منلودځلورمی وجه اعاده ده.﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا﴾ دا دنه منلو شپږمه وجه ده ﴿أَكَٰبِرَ﴾ مفعول اول دجعل دي او﴿مُجْرِمِيهَا﴾ئی مفعول ثانی دي یابالعکس دي اولام په ﴿لِيَمْكُرُوا﴾کښي لام عاقبت دي یعنی دهرکلي لوئی لوئی خلق .سرداران مجرمان دی اوددین حق خلاف منصوبي جوړوی اوخلق دقبول دحق نه منع کوی لیکن ددي وبال به بالاخر په دوئ راپریوځی خودوئ نه پوهیږی.

وَإِذَا	جَآءَتْهُمْ	ءَايَةٌ	قَالُوا	لَن	نُّؤْمِنَ	حَتَّىٰ	نُؤْتَىٰ

او کله چه راشی دوئ ته یوه نښه (معجزه) نو وائ دوئ هیچري ایمان نه راوړو مونږ، تر هغي پوري چه راکړي شی مونږ ته

مِثْلَ	مَآ	أُوتِىَ	رُسُلُ	ٱللَّهِ	ۗ	ٱللَّهُ	أَعْلَمُ	حَيْثُ	يَجْعَلُ

مثل د هغي چه ورکړي شوی دی رسولانو د الله تعالی ته، الله تعالی ښه پیژنی هغه ځائ چه مقرر کوی په هغه ځائ کښي

رِسَالَتَهُۥ ۗ	سَيُصِيبُ	ٱلَّذِينَ	أَجْرَمُوا	صَغَارٌ	عِندَ	ٱللَّهِ	وَعَذَابٌ شَدِيدٌۢ

پیغام خپل. زرده چه وبه رسیږی هغه کسانو ته چه مجرمان دی ذلت په نیزد د الله تعالی اوعذاب سخت

بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ

ـه سبب د دي چه وو دوئ د حق خلاف نې حيلې كولې پس څوك چه وغواړي الله تعالى هغه ته هدايت وركول

يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ

نو كولاؤ كړي (پرانخې) سينه دهغه لپاره د اسلام. او څوك چه وغواړي الله تعالى چه بې لارې كړي هغه

يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ

نووګرځوي سينه دهغه تنګه. ډيره تنګه. لكه ګوياكښې په زورسره په بره خيژي آسمان ته. دغسې اچوي الله تعالى

الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

پليتى (لعنت، عذاب) په هغه كسانو چه ايمان نه راوړي

﴿ وَاِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ ﴾ داشكوه ده. يعنى دوئ دډيرتكبراوجهالت په وجه داسې وائى چه مونږ نه دې هم رسالت راكړې شى، فرشتى دې مونږ اووينوپه مونږ دې نازلې شى. ﴿ اَللّٰهُ اَعْلَمُ ﴾ دا جواب ددغه شكوه دې يعنى الله تعالى ته داخبره خه معلومه ده چه لائق دمرتبى درسالت څوك دې. هركس اوناكس دنزول دوحى اورسالت صلاحيت نه لري.

فائده زمونږ مشائخ وائى اوپه حصن حصين كښ هم دى چه دا مقام دقبوليت ددعا دې.

تلاوت كونكې چه دې مقام ته راورسى. ﴿ رُسُلُ اللّٰهِ ﴾ دُعاد اوغواړى. بيا دې ﴿ اَللّٰهُ اَعْلَمُ ﴾ نه تلاوت شروع كړى

﴿ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ ﴾ دا تخويف دې ﴿ صَغَارٌ ﴾ذلت رسوائى ﴿ عِنْدَ اللّٰهِ ﴾يعنى په قيامت كښې. ياپه عبارت كښې تقدير د مِنْ دې ((اى من عندالله)). ﴿ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴾ يعنى سره دذلت نه عذاب شديد . په دنيا كښې په قتل سره اوپه اخرت كښې په نارسره

﴿ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴾ باء سببيه ده. اودمكرنه مرادخلق منع كول دى دايمان نه اوطلب دمنصب درسالت دې نو د متكبرينودتكبراو د مكر سزا.ذلت او عذاب دې ﴿ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ ﴾ يعنى منصب د رسالت خوالله تعالى هرچاته نه وركوى بلكه درسالت دپاره خوبعض

خلق الله تعالى منتخب كوی. اودانبياؤ نه علاوه بعض خلق داسې دی چه په دعوئ په سينوکښې دنورايمانی راتللو صلاحيت شته دې اوبعض خلق چه دمنصب درسالت مطالبه كوی نوددوئ په سينوكښې دايمان دپاره هم ځائې نشته دې، دايمان راوړلو صلاحيت هم نه لری . رسالت خوډيره لرې خبره ده. دا آيت چه نازل شو نوصحابؤ ددې متعلق تپوس اوكړو دشرح صدر په باره كښې، نونبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه دايونوردې چه الله تعالى ئې دمؤمن په زړه كښې واچوی. نو د ده زړه كُلاؤشی اوارت شی ددې دپاره نوصحابؤ عرض اوكړو چه آياددې دپاره څه علامه شته دې نونبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ((نعم الانابة الى دارالخلود والتجافى عن دارالغروروالاستعداء للموت قبل لقى الموة))،(شيربينى بحواله ابن جرير) يعنى دشرح صدرعلامه داده چه انابت كوی جنت ته، بی رغبتی ددنيانه. دمرگ دپاره تيارې كول. مخكښې دراتللو دمرگ نه .

﴿وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُۥ﴾ يعنی دگمراهانوشرح صدرنه كيږی ايمان ته بلكه ايمان راوړل ورته دومره مشكل اوگران وی لكه اسمان ته ختل چه مشكل وی او دا آيت دليل دې په دې چه هرڅه په مشيت د الله تعالى سره دی حتى چه كفر او ايمان هم . ﴿ضَيِّقًا﴾معنى تنگ او ﴿حَرَجًا﴾ مصدردې صفت دې دمبالغې دپاره نود﴿حَرَجًا﴾ معنى ده ډيره تنگه . ﴿كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى ٱلسَّمَآءِ﴾ دامبالغه ده په ضيق الصدركښې يعنى سينه ئې تنگه شی اوايمان داخيدل پكښې داسې محال شی لكه آسمان ته ختل چه عادةً محال دی

﴿كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجْسَ﴾لكه چه سينه دهغه ئې تنگه گرځولی ده، دَ ايمان نه نودغسې رجس هم په دوئ اچوی، درجس نه مرادتسلط دشيطان دې، اوزجاج ويليدی چه رجس په دنياكښې لعنت دې اوپه آخرت كښې عذاب دې، مجاهد رحمه الله وئيليدی چه رجس هرهغه څيزدې چه په هغې كښې خيرنه وی.

وَهَٰذَا صِرَٰطُ	رَبِّكَ	مُسْتَقِيمًا ۗ	قَدْ	فَصَّلْنَا	ٱلْأَيَٰتِ
او دا (اسلام. قرآن) لار د رب ستا ده نيغه،			په تحقيق سره مونږ په تفصيل سره بيان كړيدی		آياتونه

لِقَوۡمٍ يَّذَّكَّرُوۡنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمۡ دَارُ السَّلٰمِ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ وَهُوَ وَلِيُّهُمۡ

...هغه قوم لره چه نصیحت قبلوی ددوئ لپاره دي[1] کوردسلامتیا په نیز د رب د دوئ اوهغه مددګار د دوئ دي

بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٢٧﴾ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيۡعًا ۚ يٰمَعۡشَرَ الۡجِنِّ

...په سبب دهغه عمل چه دوئ ئې کوی. اوپه کومه ورځ چه جمع به کړی دوئ ټولو لره (وبه وائی) اې ټولیه د پیریانو

قَدِ اسۡتَكۡثَرۡتُمۡ مِّنَ الۡاِنۡسِ ۚ وَقَالَ اَوۡلِيٰٓـؤُهُمۡ مِّنَ الۡاِنۡسِ

...په تحقیق سره تاسو د خپل ځان تابع کړی وو ډیر د انسانانو نه. او وبه وائی دوستان د دوئ د انسانانو نه.

رَبَّنَا اسۡتَمۡتَعَ بَعۡضُنَا بِبَعۡضٍ وَّبَلَغۡنَاۤ اَجَلَنَا الَّذِىۡۤ اَجَّلۡتَ

...ربه زمونږ نفع اخستې وه بعضو زمونږ په بعضو سره او رسیدلی یو مونږ خپلې هغه نیټې ته چه تا هغه مقرر کړې وه

لَنَا ؕ قَالَ النَّارُ مَثۡوٰٮكُمۡ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

زمونږ لپاره . وبه وائی الله تعالی چه اُور ستاسو د اُوسیدلو ځائ دې. همیشه به یئ په دې کښې لیکن که وغواړی الله

اِنَّ رَبَّكَ حَكِيۡمٌ عَلِيۡمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّىۡ بَعۡضَ الظّٰلِمِيۡنَ بَعۡضًۢا

...بېشکه رب ستا حکمتونو والا خبر دار دې او دغسې ملګری[2] کوو مونږ بعضې ظالمان د بعضو سره

بِمَا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ ﴿١٢٩﴾

په سبب د هغه عملونو چه دوئ ئې کوی

﴿وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ﴾ «هذا» اشاره ده قرآن ته یامضمون سابقه ته چه نفی د شرک فعلی اواعتقادی ده ﴿لَهُمۡ دَارُ السَّلٰمِ﴾ دابشارت دې ﴿عِنۡدَ رَبِّهِمۡ﴾ ددوئ دپاره ذخیره ده. په علم د الله تعالی کښې چه دهغې علم تفصیلی صرف الله تعالی سره دې ﴿وَهُوَ وَلِيُّهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ﴾ ولی په معنی دناصر، محب، متولی دامورو سره دې، یعنی الله تعالی دخپل بنده سره مدد.

[1] بشارت

[2] د نه منلو اوومه (٧) وجه

اومحبت کوی. په سبب داعمالو صالحو سره. اومتولی داموږو ددوئ وی اوبل چانه ئي نه سپاری. ﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ﴾ داتخويف اخروی دي ﴿يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ﴾ ددينه مخکښې ((يقول)) مقدر دي. په ورځ دقيامت به الله دجنی شياطينو نه هم تپوس اوکړی اودانسی شياطينونه هم نو دواړو به اقرار دجرم اوکړی نوالله تعالى به ئي فيصله اوکړی ﴿ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ﴾ . دلته په دې آيت کښې سوال دجنی شياطينو نه مذکوردې ليکن جواب ئي نه دې مذکور. چه هغه اقراردجرم دې. اودانسی شيطاطينوجواب مذکوردې اوسوال ئي استقلالاً نه دې مذکور.
﴿قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ﴾ تاسوډيرانسانان خپل تابع کړی وو اوګمراه کړی وو. نودوئ به ددې جرم اقراراوکړی لساناً ياسکوت ددوئې اقرار دجرم دې، يعنی دوئ به اقرار دجرم اوکړی ﴿وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ﴾ هم ضميرراجع دې جن. ته او ﴿مِّنَ ٱلْإِنسِ﴾ بيان داولياؤ دې يعنی انسی شيطانان به داسې اووائی اوددوئ نه سوال کيدل صراحةً مذکورنه دې بلکه ضمناً دې نودوئ به صراحةً دجرم اقرار اوکړی چه ﴿رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ﴾ چه مونږ ديوبل نه فائده اخستلې وه دمشرکانو به په سفرکښې چه په بيابان کښې شپه راغله نوجناتو به شرارت کولو. نو دوئ به په هغوئ سره استعاذه کوله. وئيل به ئي ((اعوذبسيد هذالوادی من سفهاء قومه)) نوجنات به خوشحاله شو اووئيل به ئي((سدنا الانس بعد ان سدنا الجن)) مونږ دانسانانوسرداران شو بعد ددې نه چه مونږ دَ جناتو سرداران وو ،نوانسانانو ته به دافائده حاصله شوه چه دهغوئ دشرنه به په امن کښې شو اوجناتو ته به سيادت سرداری ملاؤشوه ﴿وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا﴾ داهم اقرار دجرم دې مراد د اجل نه قيامت دې چه دوئ ترينه انکارکولو. يعنی زمونږ انکارغلط وو.اومونږ دَ دغه جرم ارتکاب کړيدې ﴿قَالَ﴾ نوالله به دوئ ته داقرارجرم نه بعدفيصله واؤروی چه ﴿ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ﴾ اورستاسې داوسيدلوځائې دې هميشه به ئي په دې کښې. ﴿إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ﴾ مگر داکه د الله مشيت اوشی نو ستاسودراؤباسلو قدرت ئي شته دې. اوستاسوهميشه والې په اورکښې هم دالله تعالى په قدرت کښې دې اوالله تعالى دهيڅ شي نه عاجزنه دې. البته دنصوصو نه داثابته ده چه دوئ به هميشه وی په جهنم کښې نومعلومه شوه چه الله تعالى ددوئ دراؤباسلو اراده نه ده کړې. . اوبعض حضرات ددې دامعنی کوی چه اورنه علاوه نورعذابونه ورنه مراد دی لکه زمهرير. او ﴿سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا﴾ او ياترينه مراد موده

حموه دنيوی ده او دابن عباس رضی الله عنه نه مروی ده چه «ما» په معنی د «من» سره دي يعنی مگر هغه څوک چه دالله تعالی په علم کښې ده چه دوئ به ايمان راوړی.

﴿وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا﴾ حضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چه دادنه منلو اومه (٧) وجه ده يعنی په وجه دشرک سره تمام مشرکين ديوبل ملگری اودوستان دی توحيدنه قبلوی. لکه په سورت عنکبوت کښې دی ((انما اتخذتم من دون الله اوثانا مودة بينكم فی الحيوة الدنيا))

﴿نُوَلِّي﴾ دولايت نه ماخوذدي په معنی ددوستانې اوملگرتيا سره. اوولايت په معنی دامارت. سره هم رازی نوپه دي تقدير معنی داده چه مونږ بعض ظالمان په نوروحاکمان گرځو. لکه دابن عباس رضی الله تعالی عنه نه مروی دی چه الله تعالی چه ديوقوم سره دخيراراده اوکړی نو ددوئ حاکم . خير. اونيک صالح اوگرځوی اوچه اراده اوکړی دشر نو حکم په دوئ باندې دَ شر اوگرځوی ((وفی الحديث کماتکونون يؤمرعليکم)) يائې دامعنی ده چه بعض ظالمان په نوروباندې مونږ مسلط کوو. په وړوکی ظالم باندې غټ ظالم مسلط شی. او فضيل بن عياض وائی چه کله اووينی چه يوظالم دبل نه انتقام اخلی نودتعجب اوعبرت په نظرسره ورته گوره. ابن کثير په روايت دابن مسعود رضی الله عنه سره نقل کړيدی چه نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ((من اعان ظالماسلطه الله عليه)) چاچه دظالم سره مدداوکړو نوالله تعالی به په ده دغه ظالم مسلط کړی. ددې خبرې مشاهده په دې دورکښې ډيره خه کيږی. (قرطبی)

د ﴿نُوَلِّي﴾ ترجمه په قرب سره هم شوې ده. «ولی» قرب ته وائی معنی داده چه په قيامت کښې به قرب. وحدت. په نسل . لسان. وطن سره نه وی بلکه داعمالو په اعتبارسره به وی لکه ﴿احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ﴾ يعنی ظالمان اودهغوئ مناسب عمل کونکی . يوزائې راجمع کړئې اوجهنم ته ئې روان کړئې.

يَٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ

وبه وائی الله تعالی دوئ ته په قيامت کښې) چه اې ډلې د پيريانو او انسانانو آيا نه وو راغلی تاسو ته رسولان

مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا قَالُوا

ستاسو د جنس نه چه بيانول ئې په تاسو باندې آيتونه زما. او يرولې ئې تاسو د ملاقات د دې ورځې ستاسونه. نوبه وائی دوئ

شَهِدْنَا عَلَىٰ أَنفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ

چه اقرار کوو مونږ په خپلو ځانونو، او دهوکه کړیدی دوئ لره ژوند د دنیا او اقرار به وکړی دوئ په خپلو ځانونو

أَنَّهُمْ كَانُوا كَٰفِرِينَ ۝ ذَٰلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ

چه بیشکه وو دوئ کافران دا د دې وجه نه چه ندې رب ستا هلاك کوونکې د کلو په سزا د ظلم سره

وَأَهْلُهَا غَٰفِلُونَ ۝ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا ۚ

په داسې حال کښې چه اهل دهغې بې خبره وی او د هر یو لپاره مختلفې درجې دی د وجه د عملونو د دوئ نه.

وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ۝

او ندې رب ستا غافل د هغې نه چه دوئ څه عملونه کوی.

﴿ يَٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ﴾ داتخویف اخروی دې ددینه مخکښې ((یقال لهم)) مقدردې یعنی دقیامت په ورځ به الله تعالی اووائی اې ټولیه دجناتو اودانسانانو ایاتاسوته رسولان نه وو راغلی. ﴿رُسُلٌ مِّنكُمْ ﴾ ددینه بظاهرمعلومیږی چه په جناتوکښې هم رسولان راغلیدی. لیکن جمهوروعلماؤقول دادې چه دحضرت آدم عليه السلام نه مخکښې چه جنات په زمکه کښې آباد وونورسولان ورته دجناتوراغلیدی اودآدم عليه السلام نه بعددجناتو نه رسولان پیغمبران نه دی راغلی. البته. دحق داعیان مبلغین، (نذیران) ترینه راغلیدی اود﴿مِّنكُمْ ﴾ توجیه جمهورداسې کوی چه داپه اعتباردمجموعی سره دې لکه په دې قول دالله تعالی کښې ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ ﴾ .((ای من مجموعهما)) ځکه لؤلؤ دبحرِ مالح، نه راوزی. نو د ((منکم)) معنی دده ((من مجموعکم)) اودایه دې سره هم صادقیږی چه یوازی دانسانانو نه رسولان راغلی وی. دویمه توجیه داده چه رُسل په معنی دنذیرانُ سره دې نورسل الجن نذیران اودعیان دحق دی. لکه په دې قول دالله تعالی کښې .﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ ﴾ الی قوله. ﴿وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴾ دریمه توجیه داده چه مخکښې دادم عليه السلام نه جناتو ته رسولان لیګی شوی وونوپه خطاب دجناتوکښې هغوئ مراددی. ﴿يَقُصُّونَ ﴾ دبعثت درسولانو مقصد، آیاتونه بیانول دی. یعنی

...وحید و اوتذکیربمابعد الموة یعنی دقیامت تذکیردي ﴿قَالُوا شَهِدْنَا﴾ ددې شهادت نه مراد ...عتراف دې دراتلو درسولانو او دتبلیغ دهغوئ اواقراردخپل جرم دې چه شرک کفرانکار ...یامت دې ﴿وَغَرَّتْهُمُ﴾ دا علت دانکاراودتکذیب دې

﴿وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ﴾ یعنی دوئ به په قیامت کښې داشهادت ...واقراراوکړی چه مونږ په دنیاکښې کفرکړیدې په بل آیت کښې دی چه دوئ به دکفرنه ...نکاراوکړی وائی به ﴿وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ سورة انعام ، آیت : ۲۳ .نودامحمول دې په تفاوت ...د حوالواو مواقعو په یوه موقعه کښې به انکار اوکړی اوپه بله موقعه کښې به اقراراوکړی.

...شهادت ددوئ دوه ځله ذکرشو، ﴿شَهِدْنَا عَلَىٰ أَنفُسِنَا﴾ ﴿وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ﴾ نواول شهادت دپاره ...د قراردې په راتلودرسولانواوپه تبلیغ دهغوئ اودویم شهادت دپاره داقراردې په جرم. یااول ...شهادت حکایت دې دقول دهغوئ چه دوئ څنګه قول اواعتراف کړې وو اودویم شهادت بیان ...د دنظرئی. اودخطائی درائې دپاره دې ﴿ذَٰلِكَ﴾ دا ارسال درُسلُ ددې وجې نه دې چه الله ...تعالی چاته سزا اوهلاکت دګناه په وجې سره ترهغې پورې نه ورکوی چه ترڅوپورې رسولان نه ...وی رالیږلی. د ﴿بِظُلْمٍ﴾ نه مراداوبدعملونه د خلقودی اوباء سببیه ده، ﴿وَأَهْلُهَا غَافِلُونَ﴾ ...حال دې یعنی په داسې حال کښې الله تعالی څوک دکفراوګناهونوپه وجې سره نه هلاکوی چه ...دوئ بې خبره وی نودخبرولودپاره الله تعالی رسولان رالیږی، ﴿وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ﴾ تنوین په ...«کُلٍّ» کښې عوض دې دمضاف الیه نه ((ای لکل عامل درجت)). اوپه دې کښې اشاره ده چه ...مدار دجزاسزاپه اعمالو دې. ((ان خیرا فخیروان شرا فشر)).

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ
اورب ستا بې حاجته دې. خاوند درحمت دې. که وغواړی نو بوبه څی «هلاك[1] به کړی» تاسو. او نائبان به کړی
مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ كَمَا أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ۞ إِنَّ مَا
روستو ستاسو نه هغه څوك چه خوښه ئې شی لکه چه پیدا کړی ئې یئ تاسو د اولاد د قوم نورنه بیشکه هغه

[1] . تخویف دنیوی

تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ۝ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا

چه وعده ئی کیدي ښی ناسوسره خامخا راتلونکي دي. اونه يئ تاسو بچ کیدونکی وه وایه : اي قومه خما عمل کوئ تاسو

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ

به طریقه خپله باندي. بیشکه زه هم عمل کوونکي یم. زر دي چه تاسوته به معلومه شی. چه څوك دي چه وي به

لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَجَعَلُوْا

هغه لره ښه انجام په داردآخرت کښي. بیشکه نشی بچ کیدي ظالمان دالله تعالی دعذاب نه. او مقررکوی دوئ

لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ

الله تعالی لره[1] دهغي نه چه پیدا کړی ئي دی.د فصلونواوخاروونه برخه. پس وائی دوئ دا برخه د الله تعالی ده

بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ

په گمان د دوئ او دا برخه زموږ د شرکاؤ لپاره مقرر ده. پس هغه برخه چه مقرر وی لپاره د شرکاؤ د دوئ پس هغه نه رسی

اِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝

الله تعالی ته. اوهغه برخه چه مقررکوی لپاره دالله تعالی نوهغه رسی شرکاؤددوئ ته.ډیره بده ده هغه فیصله چه دوئ ئی کوی

﴿وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ﴾ الله تعالی بي حاجته دي نوپیغمبران لیگل اوتاسوته اطلاع درکول داحتیاج دوجي نه نه دی بلکه . ﴿ذُو الرَّحْمَةِ﴾درحمت په وجه دی او استغناء نی ډیره ده نوکه اوغواړی نوتاسوبه ختم کړی اونورخلق به پیداکړی اونمونه یی تاسوته ښکاره ده چه تاسوئي داولاد دنورقوم نه پیداکړی یئ، نوداتخویف دي چه که الله تعالی اوغواړی نوتاسو به تباه اوبربادکړی. ﴿اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ﴾اي مشرکانو دشرک سزا یقیناً راتلونکي ده تاسو ترینه نه شئ بچ کیدي ﴿قُلْ يٰقَوْمِ﴾ داهم تخویف دي، دکفراوشرک سزا . که في الحال نشته دي خولگ شان بعدبه تاسوته معلومه شی په مشاهدي دعذاب سره چه دچاانجام خراب اودچاخه دي

[1] د نذر لغیر الله بیان تفصیلاً

نَشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا

چه وغواړو مونږ. په گمان د دوئ کښې او بعضې څاروی حرام کړې شویدی سوریدل د هغې په سګنو.

وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا

او بعضې څاروی داسې دی چه نه یادوی دوئ خالص نوم د الله تعالی په هغې باندې په وخت د ذبح کښې

افْتِرَآءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝

په سبب د دروغ جوړولو په الله. زرده چه سزا به ورکړی دوئ ته په سبب د دې چه دوئ دروغ جوړول

﴿وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ﴾ دادنذرلغیرالله دریم صورت دې، ﴿شُرَكَآؤُهُمْ﴾ په حذف دمضاف سره فاعل د ((زَيَّن)) دې ای حبّ شُرکآئهم یعنی لکه څهٔ رنګه چه مشرکینو په خپلو غلو ،میوو، حیواناتو- کښې، دغیرالله حصه مقررکړې وه نودغه شان، دهغوئی په نوم به ئې خپل اولادهم نذرکوؤ، اودهغوئ دمحبت په وجه به ئې دهغوئ په نوم ذبح کوؤ، بعض مشرکینو به داسې نذرکولو چه که څامن ئی لسوته اورسیږی، نویوپه پکښې دبُت په نوم ذبح کوی، لکه بعض شیعه گانو داسې کړی دی چه د مُحَرَّم په ورځ ئی خپل زوئ ذبحه کړې دې،حضرت الشیخ رحمه الله به وئیل چه ((هم دغه بهادرشیعه ؤو، اوچه صرف خپل مخونه په څپیړو وهی، اوماتم جړاکوی ،نودا دله ګان شیعه دی))، ﴿لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ﴾ په نذرلغیرالله سره دوئی هلاک شی، اودین داسمعیل علیه السلام اوابراهیم علیه السلام چه توحید خالص دې دابه ګډوډشی، ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ﴾ اوکه الله تعالی غوښتلې جبراً مسلمانول ددوئ نودوئی به شرک نوې کړې لیکن جبری ایمان مقبول نه دې،﴿وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ﴾ دادتحریمات غیرالله بیان دې دویم وار،اودلته دڅلوروصورتونو ذکردې(۱) اول داچه ﴿اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ﴾ بعض حیوانات اوفصل دعاموخلقودپاره ممنوع اوحرام دی مګردبُتانودخادمانواومنجورانودپاره جائز دی (۲) دویم ﴿وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا﴾ هغه حیوانات چه دبُتانودپاره به ئې مقررکړی وو نو په هغې باندې ئې سورلی کول حرام ګڼړل،(۳) دریم صورت ﴿وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا﴾ ددینه مراددادې چه چه په وخت دذبح کښې ئی په هغې

ندي دالله تعالى نوم نه ذکر کولو بلکه داصنامو په نوم ئې ذبح کول نو داندرلغیرالله دي. یا دا
معنی ده چه دوئ په هغې باندې حج له نه تلل اودنیک کاردپاره ئې په هغې رکوب نه کوو. څکه
عادت جاري دې په دې چه په کار خیرباندې دالله تعالى نوم ذکرکیږي، نوداذم دې به ترک دفعل
خبر﴿افْتِرَاءً عَلَيْهِ﴾ چه کوم کارونه ئې کول نوهغه به ئې الله تعالى ته منسوب کول اود! په الله
تعالى باندې دروغ جوړول وو.

وَقَالُوا	مَا	فِي	بُطُونِ	هَٰذِهِ	الْأَنْعَامِ	خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ

او وائی دوئ هغه څه چه په ګیډو د دې څاروو کښې دی. خالص حلال، دی لپاره د نارینوو زمونږ او حرام دی

عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ

په زنانوو زمونږ. اوکه وی مرداریچې پس دوئ ټول (نر، ښځې) په هغې کښې برابر شریک دی. زرده چه سزا به ورکړی دوئ ته

وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا

د غلط بیان د دوئ. بیشکه هغه خاوند دحکمت او پوهه دې . په تحقیق سره تاوانیان دی هغه کسان چه قتل کړی ئې دی

أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ

خپل اولادبه کم عقلتیا سره بغیر د پوهې (دلیل) نه اوحرام کړی ئې دی هغه څه چه حلاله روزی ورکړې وه الله تعالى دوئ ته.

افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

د وجه د دروغو جوړولو نه په الله تعالى باندې،په تحقیق سره ګمراه دی دوئ اونه دی هدایت موندونکی

﴿وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ﴾ دا څلورم صورت دې دبحائر او سوائب په خیټو
کښې به چه کوم بچې(حمل) وونومشرکینوبه وئیل چه که داجوندې پیداشی نوداخالص
نارینوو دپاره حلال دې اوپه زنانوو باندې حرام دې اوکه مړپیداشی نو نارینه اوخزې ټول په دې
کښې شریک دی دټولودپاره حلال دي﴿خَالِصَةٌ﴾کښې تاء دتانیث دپاره نه ده بلکه دمبالغې
دپاره ده لکه علامه اوددې وجې نه ﴿وَمُحَرَّمٌ﴾ مذکرذکرشویدې نو دَ ﴿خَالِصَةٌ﴾ معنی
داده چه حلال دې سره دخصوصیت نه ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ﴾ په دې کښې دواړه مضمونونه .
نذرلغیرالله، تحریمات غیرالله،، دوباره بالاجمال ذکرکیږي. ﴿قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ﴾اوقتل

داولادبه كله دنذرلغيرالله دپاره وو. اوكله به دخوف دفقردوجې نه اوكله به دعاردوجې نه
وو﴿ افْتِرَآءً ﴾ نصب دمفعول له په وجې دې د ﴿ وَحَرَّمُوا ﴾ دپاره. ياحال دې نومصدريه
معنى دفاعل سره دې يامفعول مطلق دې په اعتباردموصوف مقدرسره چه حراما دې

وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ

او الله تعالى هغه ذات دې چه پيدا كړي ئې دى باغونه غوړولې شوى په خيروغيره

وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ

اوخينې داسې چه نوى غوړولې شوى په خيروغيره باندې او كجورې او فصل چه مختلف قسم وى ميوې دهغې

وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ

اوخونه. اوانارچه خينې ديوبل سره يوشان وى اوخينى نوى يوشان.خورئ دميوؤ دهغې نه.كله چه ميوه وركړى

وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۙ

وركوئ ترينه حق دالله تعالى په وخت د ريبلو (لوكولو) دهغې، او اسراف مكوئ، بيشكه الله تعالى نه خوښوى مشركان

وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

اوپيدا كړى ئې دى دخاروؤ نه باروړونكى اوچيت قدوالا،خورئ د هغې نه چه حلال كړى دى تاسو لره الله تعالى

وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۙ

او تابعدارى مكوئ د قدمونو د شيطان، بيشكه دې ستاسو لپاره دشمن ښكاره دې

﴿ وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ ﴾دادنذرلغيرالله ذكردې خلورم وار- اودليل عقلى دې دنفى
دشرك فعلى دپاره چه ذااشياء مذكوره الله تعالى پيداكړيدى. نو ﴿ كُلُوْا ﴾ تاسوترينه
پخپله خورئ. ﴿ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ ﴾ اوالله په نوم ئې وركوئ ليكن ﴿ وَلَا تُسْرِفُوْا ﴾ اى لاتشركو
الاصنام فيه. دغير الله په نوم ئې مه وركوئ ﴿ مَّعْرُوْشٰتٍ ﴾ چه غوړيدلى وى ياپه مخ دزمكې

١ - د نذر لغير الله ذكر

لکه ختکی، خربوزی، وغیره، یاغورېدلی وی په بل څیز باندې لکه انګورچه په څپرونو باندې غورېدلی وی، ﴿وَغَيْرَ مَعْرُوشَٰتٍ﴾ هغه دی چه په خپله تنه ولاړوی لکه نخل وغیره. ﴿مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ﴾ ضمیر د «أكله» راجع دې هرواحدته، ﴿مُتَشَٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ﴾ حال دې دزیتون اورمان نه، یادتولو مذکورنه په ماقبل کښې، اومرادترینه دادې چه دیوجنس بوټی، ونی، وی اومیوی ئی مختلفې وی لکه په کجورو کښې ډیراقسام دی اوپه انګوروکښې ډیراقسام دی.

دارنګه په نوروا جناسوکښې، ﴿وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ﴾ ددینه مرادپه نیزدبعض علماؤ نفلی صدقه ده ځکه چه عشراوزکوة په مدینه کښې فرض شویدې اوداسورة مکی دې اوپه نیزدبعض علماؤ نزینه مراد عشردې، اوسورت اګرکه مکی دې لیکن داآیت مدنی دې یاداچه زکوة فرض شوې وؤ په مکه کښې خومقدارد زکوة نه ووبیان شوې اوپه مدینه کښې بیان دمقادیروشویدې.

﴿يَوْمَ حَصَادِهِۦ﴾ په دې کښې اشاره ده دې ته چه که فصل اومیوه چه مالک ته دزمکې نه په لاس راشی نوعشرپکښې واجب دې اوکه مخکښې هلاک شی نوعشرورسره هم ختم شی.

﴿وَلَا تُسْرِفُوٓا۟﴾ حضرت مقاتل رحمه الله وائی ((ولاتشركوالاصنام في الحرث والانعام)) «روح، خازن» حضرت مجاهد رحمه الله وائی چه اسراف دادې چه ته قصوراوکړی دحق دالله تعالی نه، په ناحق کښې ورکول لکه نذرلغیرالله، دااسراف دې اودارنګه ونیلیدی مجاهدرحمه الله. چه که ابوقبیس غر دسرو زروشی دپاره دیوسړی اوهغه ئی خرچ کړی په طاعت دالله تعالی کښې نودااسراف نه دې اوکه څوک یودرهمو یایومُد، خرچ کړی په معصیت کښې نودااسراف دې،

﴿وَمِنَ ٱلْأَنْعَٰمِ﴾ ای انشأمن الانعام ﴿حَمُولَةً﴾ هغه چه صلاحیت لری دباراوړلو اودزمکې نه اوچت وی لکه اوښ، قچر، خر، او﴿وَفَرْشًا﴾ هغه دې چه بارنشی وړلې لکه بیزې وغیره، دینه فرش وائی ځکه چه دا نزدې وی زمکې ته یا د فرش نه مراد دادې چه دهغې دَ ویختواو وړئ نه فراش جوړیږی، ﴿كُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ﴾ یعنی دځان نه تحریمات مه کوئی ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا۟﴾ دشیطان په قدم مه زئ، یعنی دغیرالله په نوم نذرمه کوئ.

ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۖ مِّنَ ٱلضَّأْنِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْمَعْزِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ
پیدا کړی ئی دی اته جوړې، د ګډو نه دوه قسمه «مذکر،مؤنث» او د بیزو نه دوه قسمه «مذکر، مؤنث» وه وایه

ءَالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ

آیا دا دوه نران (کډ، پیسه)[1] حرام کړیدی الله تعالی یا دا دوه مادې (ګډه، بیزه)، اوکه هغه شې چه مشتمل وی

عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنثَيَيْنِ ۖ نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝ وَمِنَ الْإِبِلِ اثْنَيْنِ

په هغې باندې رحمونه د ښځو (میندو) خبر راکړئ[2] ما ته په دلیل سره کچرې یئ تاسو رښتنی اوداوښانو نه دوه

وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ۗ قُلْ ءَالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنثَيَيْنِ

اودغوایانو نه دوه قسمه . ووایه آیا دا دوه نران (اوښ، غوایه) الله تعالی حرام کړی دی یادوه مادې (اوښه. غوا)

أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنثَيَيْنِ ۖ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ وَصَّاكُمُ اللَّهُ

یاهغه چه مشتمل دی په هغې باندې رحمونه د میندو، یا وئ تاسو[3] حاضر کله چه حکم درکوز تاسو ته الله تعالی

بِهَٰذَا ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ

پدې سره . پس څوك دې ډیر ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله تعالی باندې دروغ. د دې لپاره چه ګمراه کړی خلق

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝

بغیر د علم (تحقیق) نه بیشکه الله تعالی هدایت نه ورکوی قوم ظالمانو ته

﴿ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ﴾ دابدل دې د حمولةً وفرشًا نه، اودا ابطال دشرک فعلی دې اومطالبه ددلیل عقلی نقلی وحی ده دمشرکینونه دپاره دتحریمات غیرالله﴿أَزْوَاجٍ﴾جمع دزوج ده، اوداپه دوه معانیوسره رازی، یوهغه فردچه په مقابله کښې ئې بل فردوی دده، دجنس نه لکه مذکرچه مقابل ئی مؤنث دې، دویم هغه شئ چه بل ورسره ملګرې وی دده، دجنس نه لکه مجموعه دمذکرمؤنث، بناء په اول مصداق دزوج فرد واحدوی اوبناء په ثانی مصداق ئی دوه فرده وی. دلته اوله معنی مراده ده. په دې آیت کښې داته قسمو آنعامو (خناورو) تفصیل دې

1 - د مشرکینونه د دلیل عقلی مطالبه
2 د دلیل نقلی مطالبه
3 مطالبه د دلیل وحی

دګونه دوه قسمه مذکر، مؤنث ، دبیزو (چیلو) نه دوه قسمه مذکرمؤنث . داخلورشو . او خلور روستو، ذکرکیږی یعنی دوه قسمه د ابل (اوښانو) نه. دوه قسمه دغوایانونه. ﴿ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ ﴾ دامطالبه ددلیل عقلی ده دپاره دتحریمات العباد . حاصل نی دادې چه تاسوچه دابعض ځاروی په ځان باندې حراموئی ، نو آیا ددې حرمت دپاره سبب ذکورت دې یعنی نارینه والې، اوکه انوثت دې. (زناوالې) اوکه مطلق دې. یعنی په رحم دمورکښې زیګیدل- نوبناپه اول بیاټول نارینه ځاروی حرام شو. اوبناپه ثانی بیاټول مؤنث ځاروی حرام شو. اوبناء په ثالث بیاټول ځاروی(نر،ماده) حرام شو نوتاسوبیاولې فرق کوئ چه بعض نه حرام وائی اوبعض نه حلال. دامطالبه ددلیل عقلی وه او﴿ نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ ﴾مطالبه ددلیل نقلی ده علم نه مراددلیل نقلی دې دانبیاؤ نه ﴿ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ ﴾ دامطالبه ده دلیل وحی ده. ﴿ وَصَّـٰكُمُ ٱللَّهُ ﴾ په معنی امرکم الله ای بالوحی ،سره دې ﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ ﴾دازجردې اواستفهام انکاری دې، یعنی داسې څوک چه پخپله هم شرک کوی (تحریمات غیرالله. نذرلغیرالله) اونورخلق هم ګمراه کوی اوشرک ته ئی رابلی نوداډیر غټ ګمراه دې لکه عمروبن لحی چه عربوته اول دبحائر، سوائب، رسم راوړې وو- اودابراهیم علیه السلام په دین کښې ئی تغیر راوستلې وؤ. اوپدې وعید کښې هر هغه څوك داخل دې چه افتراء علی الله وکړی یعنې دخیل خان نه په دین کښې هغه څیز داخل کړې چه الله، رسول دهغې امرنه وی کړې

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ

وه وایه نه مومندم زه په هغه وحی کښې چه کړې شوې ده ماته حرام کړې شوی.په یوخوړونکی چه خوری هغې لره

إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا

مګرچه وی مرداره یاوینه بیولې شوې. یا غوښه د خنزیر پس بیشکه دا پلیت دې یا وی دغه شې (ذبیحه) د فسق سرك.[1]

أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ

چه آواز اُوچت کړې شوې وی په هغې باندې لپاره د تقرب غیرالله ته. پس څوك چه مجبوره سی

[1] - د نذر لغیرالله بیان

غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾

چه نوی زیاتي کوونکي.په بل باندي، نه تجاوز کوونکي د حد ضرورت نه پس بیشکه رب ستا بښونکي ، مهربان دي

﴿قُلْ لَّآ اَجِدُ﴾ دانفي دنذرلغیرالله اودتحریمات غیرالله ده په دلیل وحی سره ﴿مُحَرَّمًا﴾
ددي نه مقصودنفي دهغه حرمت ده چه مشرکانودخپل ځان دطرفه کړي وو نو ددي وجي نه
ورسره روستوذکرشو﴿عَلٰى طَاعِمٍ﴾ یعنی هرخوړونکي،مذکروی اوکه مؤنث وی،نو دمشرکینو
دا عقیده باطله ده.((خالصة لذكورنا ومحرم على ازواجنا)) ﴿يَطْعَمُهٗ﴾ ددینه مرادتناول اونفع
اخستل دی په خوړلویاسکلو یارکوب وغیره سره. ﴿اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ﴾ ضمیرراجع دي طعام ته
اوداحصراضافی دي حصرحقیقی نه دي یعنی داندي مرادچه دلته چه کوم اشیاء مذکور دی د
دینه علاوه بل هیڅ څیزحرام ندي ځکه چه د دي مذکوره اشیاؤ نه علاوه ډیراشیاء حرام دی
لکه سپي،خر،ګیدړ، وغیره، بلکه مرادحصراضافی دي په اضافت سره د تحریمات دُ مشرکینو
ته حصردي یعنی تاسو چه کوم څیزونه په ځان حرام کړیدی نودغه نه دی حرام بلکه حرام
دامذکوراشیاء دی نوتاسو ولې دځان نه تحریمات کوئ﴿دَمًا مَّسْفُوْحًا﴾ وینه بهیدونکي
احترازدي دمنجمد وینی نه لکه :کبد،اینه، زړه، پختورګی ،سګي، ګردي داحلال دی او
دارنګه هغه وینه چه روستوذبح نه په غوښه پوري انختلي وی هغه پاکه ده ﴿فَاِنَّهٗ رِجْسٌ﴾
ضمیرراجع دي خنزیرته دوجي دقرب نه نومعلومه شوه چه ذات دخنزیرپلیت دي، نوددي
وجي نه دخنزیرهرجزء پلیت دي ویخته، اډوکي، څرمن ئی په دباغت سره نشی پاکیدي، اوپه
هیڅ جزء سره ئي نفع اخستل جائزنه دی. ﴿اَوْ فِسْقًا﴾ داعطف دي په ((لحم الخنـــزير)) باندي
((اى الا ان يكون فسقًا اى شيئًا ذافسق)) فسق خروج ته وائی دحدودودشرعي اودحدودودایمان
نه ، اودفسقًا تفسیردادي چه ﴿اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ﴾ چه نذرکړي شوی دپاره دتقرب غیرالله ته،
نونذرلغیرالله ،خروج دي ددائري دایمان نه اودلته دري څیزونه ذکرشویدی علی سبیل الترقی
(۱) میتة، ددي نه زیات قبیح(۲) خنزیر،ددینه زیات قبیح(۳) نذرلغیرالله ، ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ﴾په
دي کښي دحالت داضطرار بیان دي، ﴿غَيْرَ بَاغٍ﴾ شوافع ددي دامعنی کوی چه نه وی باغی
دبادشاه نه اواحناف ئی دامعنی کوی چه نه وی زیاتي کونکي په بل مضطرو یادامعنی چه نه
وی طلب ګاردلذت، ﴿وَّلَا عَادٍ﴾ نه وی تجاوزکونکي دحدضرورت نه .

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ

او په هغه کسانو [1] چه یهودیان دي حرام کړي وو مونږ هرنوکونو والا خاروي، او د غوايانو نه او د ګډو بيزونه

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ

حرام کړي وو مونږ په دوئ باندې وازدې د هغوئ مګر هغه چه لګيدلی وی د شا سره يا د کُلمو سره يا هغه چه خلط وی

بِعَظْمٍ ذَلِكَ جَزَيْنَاهُمْ بِبَغْيِهِمْ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ۝

د هډوکو سره، دا سزا ورکړې وه مونږ دوئ ته په سبب د ظلم د دوئ، او بيشکه مونږ خامخا رښتني يو

فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ رَبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ

پس که دوئ دروغژن وائی تاته پس ته وايه رب ستاسو خاوند د فراخه رحمت دې، اونه نشی واپس کيدې

بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ۝

عذاب د هغه د قوم مجرمانو نه

﴿ وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا ﴾ دادسوال مقدرجواب دې چه که دمذکوره اشياؤ نه علاوه بل څه حرام نه وې نوپه يهوديانو باندې څه رنګه ذی ظفروغيره اشياءحرام وؤ، جواب دادې چه دا اشياء خوصرف په يهوديانو باندې، دهغوئ دظلم په وجه، باندې الله تعالی حرام کړی وو، په بل چاباندې حرام نه وو، ﴿ ذِي ظُفُرٍ ﴾ نوکونو والا، ددې معنی دابن عباس رضي الله عنهما حضرت مجاهد رحمه الله ، قتاده رحمه الله نه مروی ده ((ماليس بمنفرج الاصابع)) يعنی هغه چه ګوتې ئې ديوبل نه جداشوې نه وی بلکه دګوتوپه درميان کښې پرده شانته وی، لکه اوښ، شترمرغ، مرغابئې، نودااشياء په يهوديانوحرام وو، اودارنګه حرام ووپه دوئ باندې دغوايانو اوګډانو بيزو(چيلو) هغه وازدی چه په شا، ياکُلمو،باندې لګيدلی نه وی يادادوکی سره متصله نه وی، لکه دپختورګی،(سکی) وازده يادګډلم (داپه نيزدبعضوپه محرماتوکښې داخل وواوبعضوائی چه حرام نه وو) نوداصرف په يهوديانو باندې ددوئ دشرارت په وجه

۱ - جواب د يوسوال.

حرام وو .ليكن دوئ بياهم حيلې كول شروع كړې، نودوازدونه به ئې دل جوړول اوهغه به ئې خرڅول اودهغې قيمت به ئې حلال ګڼرلو، دنبي صلى الله عليه وسلم ارشاددې چه تاسو ديهوديانو په شان حيلې مه كوئ چه دالله تعالى حرام كړې شوى څيزونه په خان په حيلو سره حلالوئ

﴿وَإِنَّا لَصَادِقُونَ﴾ يهوديانو وئيل چه داونس غوخه دابراهيم عليه السلام په دين كښې حرامه وه بلكه دنوح اوابراهيم عليهما السلام دزمانې نه مسلسل حرامه وه نوپه دې كښې اشاره ده چه دغه قول ديهوديانودروغ دې اورشتيا خبره داده چه ددغه اشياؤ حرمت دابراهيم عليه السلام په زمانه كښې نه ووبلكه ديهوديانونافرمانئ اوشرارت په وجه په دوئ حرام شوې وو لكه په سورت آل عمران آيت نمبر۹۳ كښې دى: ﴿فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾.

﴿فَإِن كَذَّبُوكَ﴾ داتسلى ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته چه ددوئ تكذيب سزاچه في الحال دوئ ته نه وركولې كيږي، ددې وجه عجزنه دې بلكه الله تعالى خاونددرحمت واسعة دې نومهلت وركوي دوئ ته ، چه كيدې شى چه دوئ دخپل كفرانكارنه واپس شى ليكن خوك چه واپس نه شى نودهغه نه عذاب نه شى رفع كيدې .

سَيَقُولُ	الَّذِينَ	أَشْرَكُوا	لَوْ	شَاءَ	اللَّهُ	مَا	أَشْرَكْنَا	وَلَا	آبَاؤُنَا
زر ده چه وائى به مشركان [1] كه خوښه وې د الله تعالى نوشرك به نوې كړې مونږ اونه پلارانو زمونږ ،									
وَلَا	حَرَّمْنَا	مِن	شَيْءٍ	ط	كَذَٰلِكَ	كَذَّبَ	الَّذِينَ	مِن	قَبْلِهِم
اونه به وې حرام كړې مونږ خه شې. دغسې [2] نسبت د دروغو كړې وو (توحيد ته) هغه كسانو چه مخكښې د دوئ نه وو									
حَتَّىٰ	ذَاقُوا	بَأْسَنَا	ط	قُلْ	هَلْ	عِندَكُم	مِّنْ	عِلْمٍ	فَتُخْرِجُوهُ لَنَا ط
تردې چه وخكلو دوئ عذاب زمونږ. ووايه ! آيا شته تاسو سره [3] خه دليل چه را ښكاره ئې كړئ مونږ ته									

۱ - شكوى
۲ - تخويف
۳ - جواب شكوه

إِنْ تَتَّبِعُوْنَ إِلَّا الظَّنَّ وَ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿١٤٨﴾

تابعداري نکوئ تاسو مګر د ګمان، او نه یئ تاسو مګر په خپل اټکل خبرې کوئ. دروغ وائی

﴿سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا﴾ داشکوی ده اودمشرکانو ددلیل ذکرکوی اودهغې نه جواب دې. مشرکانووئیل چه زمونږ شرک اعتقادی اوفعلی که چرې دالله تعالی خوښ نه وې نوموږ به شرک نه وې کړې، ځکه هرڅه دالله تعالی په خوخه اومشیت سره کیږی. دایاددوئ عقیده ده چه ((کل شئ بمشیته تعالی)) یا ئې الزامًا وئیل مؤمنانوته چه تاسوخوهرڅه په مشیت دالله تعالی سره وایئ نو زمونږ داکفرهم دالله تعالی په مشیت اورضاسره دې. نو دوئ مشیت. (اراده) او رضا یوګرڅول حالانکه فرق دې په مابین درضا او د اراده کښې. معصیت په اراده، دالله تعالی سره دې لیکن په رضا سره نه دې، نوددې وجې نه اهل سنت والجماعت وائی چه کفر دکافر مراد دالله تعالی دې اومرضی ئې نه دې.

﴿كَذَٰلِكَ كَذَّبَ﴾ دا اول جواب دې یعنی که چرې په کفر دکافر باندې الله تعالی راضی وې نومخکنی کافرانو او تکذیب کونکوته به ئې عذاب نه وی ورکړې ﴿قُلْ هَلْ عِندَكُم﴾ دا بل جواب دې یعنی تاسوسره څه یقینی دلیل نشته دې چه پیش ئی کړئې بلکه تاسو صرف دتوهماتواتباع کوئی اوداټکل اوتخمین خبرې کوئ اوهغې ته دلیل وائی

قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

ووایه پس خاص الله تعالی لره دې دلیل محکم،پس که غوښتې الله تعالی نو خامخابه ئی هدایت کړې وې تاسو ټولو ته

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ

ووایه راولئ خپل ګواهان (علماء) هغه کسان چه ګواهي وکړی پدې چه بیشکه الله تعالی حرام کړی دی

هَٰذَا فَإِن شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ وَلَا تَتَّبِعْ

دا مذکور اشیاء. پس کچرې دوئ (په دروغه) دغه ګواهی وکړی نو ته اعتبار مکوه د دوئ، او تابعداری مکوه

أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

د خواهشاتو د هغه کسانو چه دروغ ګڼړی آیاتونه زمونږ او دهغه کسانو چه ایمان نه لری په آخرت باندې.

وَ هُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۰﴾

او دوئ د خپل رب سره نور څوک برابروي (شرک کوي).

﴿ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ﴾ يعنى داثبات دشرک دپاره هيڅ صحيح دليل نشته دې بلکه ټول توهمات دى اوحجت بالغه يعنى هغه حجت چه په قوت اومتانت کښې انتها ته رسيدلې وى هغه دالله تعالى حجت دې دپاره دتوحيد ، حاصل داچه دتوحيد دلائل مضبوط اونهايت محکم دى اودَ اثبات دشرک دپاره معمولى دليل هم نشته دې، ﴿ فَلَوْ شَآءَ ﴾که چرې الله تعالى اوغواړى تاسونه جبراً هدايت، نوټولوته به هدايت درکړى ليکن جبرى ايمان معتبرنه دې، ځکه دامنافى دې دغرض د ،تکليف،،سره ،،مکلف،، هغه څوک وى چه اختيارمندوى، مجبورمکلف نشى کيدې ﴿ قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ﴾ دامطالبه ده د دليل دمشرانو، رُؤساؤ دمشرکينو نه، اودهغوئ تفضيح ده، يعنى دشرک دپاره دليل لکه چه اتباع کشران نشى پيش کولې، نو دارنگه دَ دُوئ مشران ئى هم نشى پيش کولې ، دوئى که څه دليل پيش کوى نوهغه به هم اهواء ،اوخوَد ساخته دروغ وى، نوته هغه مه منه بلکه دهغې غلطى ښکاره کړه، ﴿ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ﴾ ((اى لاتتبع اهواء الذين لايؤمنون بالآخرة)) د آخرت نه غفلت اوانکار دټولو گناهونو او دشرک بنياددې .

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ

وه وايه چه راشئ[1] چه بيان کړم هغه شې چه حرام کړيدى رب ستاسوپه تاسوباندې، چه شريک مه گڼئ دهغه سره

شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ

هيڅ شې او د مور اوپلار سره نيکى کوئ نيکى کول، او مه قتلوئ بچى خپل د وجهې د يرې د لوږې نه .

نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا

مونږ رزق درکوو تاسو ته او دوئ ته، او مه نژدې کيږئ بې حيائ ته هغه چه څرگنده وى يا پټه وى، او مه قتلوى

[1] ۔ د تحريمات الهيو بيان.

النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ

هغه نفس چه حرام کړيدی الله تعالی د هغه قتل مگر په حقه سره، دا (قولي خبري) تاکيدی حکم درکوی تاسو ته الله تعالی

بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

په دي سره لپاره ددي چه تاسوپوهه شئ . اومه نزدي کيږئ مال د يتيم ته مگر په هغه طريقه چه هغه ښائسته وی

حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ

(وحفاظت کوئ دمال ديتيم) تردي پوري چه ورسی هغه خپلي ځوانئ ته، اوپوره کوئ پيمانه (جوک) او تله (تلل)

بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا قُلْتُمْ

په انصاف سره، مونږ تکليف نه ورکوؤ هيچا ته مگر په قدر د وس د هغه، او کله چه تاسو وينا کوئ

فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ۭ

بس انصاف کوئ اگر که وی هغه څوک چه حکم پري کولي شی خپلوان،	او وعده د الله پوره کوئ،

ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝

دا حکم درکوی تاسو ته الله تعالی په دي سره لپاره د دي چه تاسو نصيحت قبول کړئ

﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ﴾ دابيان دتحريمات الله دي، په سورة مائده کښي دتحريمات الله ذکرتفصيلاً نه ووشوي دلته تفصيل دي، حاصل داچه په دي سورت کښي ددريؤمسائلوذکرتفصيلاً دي (١) نذرلغيرالله ،په مختلفوعنواناتو سره مذکوردي، (٢) دتحريمات غيرالله مختلف صورتونه بيان شويدی ،(٣) دتحريمات الله بيان په دي آيت کښي دي، اونذرلله دلته نه دي بيان شوي اوپه سورة مائده کښ بيان شوي وو-﴿تَعَالَوْا﴾په اصل لغت کښ ديته وائی چه څوک بره ولاړوی اوښکته والاته وائی چه بره راشه، بيادمطلق راتللودپاره مستعمل شويدي و نوپه دي کښي اشاره ده ديته چه په دي احکامواندي عمل کول سبب دعلواودورفعت دي، اوقرطبی وئيليدی چه په دي آيت کښي امرکړيدي الله تعالی خپل نبی صلی الله عليه وسلم ته چه دعوت ورکړی تماموخلقوته داوريدلودماحرم الله، اودغه شان واجبه ده په روستوتولوعلماؤ چه تبليغ اوبيان اوکړی خلقوته دحرا مواودحلالو . لکه

ونیلیدی الله تعالی ((لتبیننه للناس ولاتکتمونه)) کعب الاحبار چه دتورات ماهرعالم ووا ول یهودی وو بیامسلمان شوي دي وائی چه دقرآن پاک داآیات چه په دي کښې دلس خیزونو بیان دي. نو دَ تورات شروع دبسم الله نه بعد په دي آیاتونو سره شوي ده، اوداهغه لس کلمات دی چه په حضرت موسی علیه الصلاة والسلام نازل شوی وؤ.، ربیع بن خیثم خپل یوملګری ته اووئیل چه آیاپه دي خوشخالیږی؟چه تاته دنبی صلی الله علیه وسلم داسې صحیفه وصیت نامه اوښایم چه په هغې باندې مهرلګیدلې وی اوکُلاؤ شوي نه وی. نوهغه وئیل چه هو! نوده ورته اووئیل لوله دا آیت، ((قل تعالوا – الخ)) ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه داآیات محکمات دی په تماموشرائعوکښې منسوخ نه دی په هیڅ ملت کښ. ﴿مَا حَرَّمَ﴾ کښې ماموصوله دي دامفعول به د ((اَتلُ)) دې ((ای اتل الذی حرم ربکم)) او﴿عَلَيْكُمْ﴾ متعلق دې د ((حرّم)) سره دوحي دقرب نه یامتعلق دي د ((اتل)) سره ځکه چه هغه اسبق دي، دلته لس امورمذکوردی پنځه نواهي، پنځه اوامر.

پنځه نواهی دادي : ((لاتشرکوا))، ((لاتقتلوااولادکم)) ، ((لاتقربواالفواحش))، لاتقتلو النفس التی حرم الله))، ((لاتقربوامال الیتیم)) .

پنځه اوامر دادي : ((بالوالدین احسانًا)) ای احسنو بالوالدین احسانًا((اوفوالکیل والمیزان)) ، ((اذاقلتم فاعدلوا))، ((وبعهدالله اوفوا))، ((وان هذاصراط مستقیمًا فاتبعوه)).

﴿اَلَّا تُشْرِكُوْا﴾ داپه اصل کښې ((ان لادي))، ((اَنْ)) تفسیریه دي، تفسیردهغه فعل کوی چه په معنی دقول سره وی اوصریح قول نه وی، نوهرکله چه دا دټولومعطوفاتوسره تفسیر د ((ماحرّم)) شو، نوسوال واردیګی چه دلته خو بعضِ نواهی دی یعنی ((لاتشرکوا))، ((لاتقتلوا)) . ((لاتقربوا)). نو دا خو محرمات نه دی، اودارنګه بعض اوامرمذکوردی نوهغه هم محرمات نه دی نو دا څه رنګه بیان دماحرم دپاره کیدي شی، **دجواب** دپاره متعددوجوهات دی(۱) د ((الاتشرکوا)) دپاره فعل عامل مقدردي، هغه دادي : ((اتل علیکم الاتشرکوا))،((اتل علیکم ان تحسنوا بالوالدین احسانًا)) (۲) ((علیکم)) دماقبل سره نه دي بلکه دمابعدسره متعلق دي ((ای علیکم الا تشرکواو علیکم الا تحسنوا–الخ)) نوعلیکم اسم فعل په معنی د (الزموا) سره دي یعنی لازم دي په تاسوچه شرک به نه کوئی، احسان به کوئی - الخ (قرطبی) (۳) ابوسعود وائی چه مراد د ((ماحرم)) نه آیاتونه مشتمل علی التحریم دی او ((علیکم)) د اتل سره متعلق دي ((ای

...ن علیکم الایات المشتمله علی التحریم ، الاتشرکوا- الخ)) بیان دآیات مشتملو علی التحریم دي
...ودلته چه دکومونواهیوؤذکردي نو اتیان په منهیاتوحرام دي اوچه کومو اوامرو ذکردي
...ونرک دماموراتو حرام دي. (۴) ((ماحرم)) په معنی د ((وجب)) سره دي، نوترک دشرک واجب
...ي اواتیان کول په احسان سره واجب دی-﴿شَيْئًا﴾ مفعول مطلق دي په اعتباردموصوف
...مقدرسره ((ای شرکاً شیئاً)) یعنی هیڅ قسم شرک مه کوئی یامفعول به دي، یعنی دالله تعالی
...سره هیڅوک مه شریکوئی ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ ای احسنوابالوالدین احسانًا. دلته . نهی چه
...((لاتسیوا،لاتضروا))،ذکرنه شوه ، په دي کښې اشاره د چه حق دوالدینوصرف ترک داذیت نه
...ي بلکه احسان ورسره لازم دي ﴿وَلَا تَقْتُلُوا﴾ قتل یوحسی دي لکه (۱) چه مشرکانوبه په
...دجاهلیت کښې خپل اولادقتلول،یا(۲) په موجود دَورکښې ،منصوبه بندی، اواسقاط حمل
...ناجائزاوفاسدغرض په بنیاد(۳) اوبل معنوی دي هغه داچه خپل اولاد دَ دین نه محروم کړی،
...دنیا دعهداودولت دحصول دپاره، اوداقتل زیات مضردي اولادته دهغه قتل نه چه
...مشرکانوبه په جاهلیت کښې کولو ځکه راجح قول په حق دنابالغ اولاددمشرکینوکښې دادي
...چه دوئ به جنت ته ځي اودقتل معنوی په صورت کښې چه اولاددین نه محروم شي نوجهنم
...ته به ځي دوالدینودلاسه، نوداقتل زیات مضرشو.

﴿مِنْ إِمْلَاقٍ﴾ املاق فقراولوګې ته وائی، په سورت بنی اسرائیل نمبر آیت نمبر ۳۱
کښې ((خشیة املاق)) ذکردي، ځکه چه څوک به چه فی الحال فقیروو نوهغه به دفقر دوجې نه
اولاد قتلول، اوڅوک به چه فی الحال فقیرنه وؤ نو هغه به دفقر دخطرې دوجې نه اولادقتلول
نو «من املاق» د فقیرپه حق کښې دي اوددې وجې نه دلته ﴿نَرْزُقُكُمْ﴾ مقدم راغلیدي،
ځکه چه په وخت دَ فقیرئ کښې انسان اول دخپل ځان فکرکوی او ﴿خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ﴾ دمالدارپه
حق کښې دي ځکه هلته فقرفی الحال نشته دي لیکن خطره وی دفقرپه حق داولادکښې نوځکه
نی هلته «خشیة» ذکرکړیدي اواولاد ئی مقدم ذکرکړیدي.

﴿مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾ بی حیائی-زنا- په ښکاره اوپټه دواړوطریقوسره حرام او
جرم دي لیکن مشرکانوبه زناپه ښکاره طریقه سره رزالت ګڼرلواوپه خفیة طریقه سره.
اودخواصو دپاره به ئی شرافت ګڼرلو، نوځکه ددواړودحرمت تصریح اوشوه ﴿إِلَّا بِالْحَقِّ﴾

دقتل ،بحق، دري صورته دی ، قتل ارتداداً ،قتل قصاصاً- حداً په زنا بعدالاحصان سره.

﴿وَصّٰىكُمْ﴾ وصيت دالله تعالى هغه تاكيدى حكم دي چه منسوخ نه وی ﴿حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ﴾ دا غاية دمذكوردپاره نه ده بلكه دمفهوم دپاره ده چه هغه تسليم اوحواله كول دی يعنی ديتيم دمال حفاظت كوئی اوهغه ته ئی مه حواله كوئی ترڅوچه بالغ شوي نه وی نوچه بالغ شی نوبيائی ورته حواله كرئی۔ ﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ داجمله معترضه ده اومقصود ترينه دادي چه په دي احكاموباندي عمل كول ستاسودطاقت نه باهرنه دي نوعمل پري كوئ.

﴿وَاِذَا قُلْتُمْ﴾ داعام دي چه كه په فيصله كولوكښي وی ياپه شهادت كښي وی ياپه تبليغ داحكاموكښی وی ياپه بيان دمسائلوكښي وی ﴿فَاعْدِلُوْا﴾ يعنی حق اورشتياوائی. ﴿وَلَوْ كَانَ﴾ ضميردكان راجع دي مقول لهٗ مقول عليه ،ته،يعنی چه دچادپاره خبره كوئ ياپه چاباندي خبره كوئ، نوحق وايئ اگركه هغه خپل وان وی ﴿وَبِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ عهدالله شامل دي ماقبل مذكورته اونورعهدونو ته.

وَاَنَّ	هٰذَا	صِرَاطِيْ	مُسْتَقِيْمًا	فَاتَّبِعُوْهُ ۚ	وَلَا	تَتَّبِعُوا	السُّبُلَ	
او حكم ني كړي دي چه دا (مذكور) لار زما ده نيغه، نو پدي روان شئ او مه ځئ په نورو لارو								
فَتَفَرَّقَ	بِكُمْ	عَنْ	سَبِيْلِهٖ ۭ	ذٰلِكُمْ	وَصّٰىكُمْ			
(ځكه) چه هغه به تاسو جدا كړي (لرې به كړي) د الله تعالى د حق لارې نه، دا (مذكور) حكم دركوي تاسو ته الله								
بِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ ۝	ثُمَّ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	تَمَامًا	
پدي سره لپاره د دي چه تاسو متقيان شئ. بيا (واورئ) چه وركړې دي مونږ موسى [1] ته كتاب، لپاره د پوره كولو د نعمت								
عَلَى	الَّذِيْٓ	اَحْسَنَ	وَتَفْصِيْلًا	لِّكُلِّ	شَيْءٍ	وَّهُدًى	وَّرَحْمَةً	
په هغه چاچه نيك عمله وي، اولپاره دتفصيل د هرشي چه ضروري وي په دين كښي، او هدايت دي او رحمت دي								

١ ـ دليل نقلي د دوارو مضمونو لپاره.

﴿لَعَلَّهُمْ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ﴾

لپاره د دې چه دوئ په ملاقات د خپل رب ايمان راوړى

﴿وَأَنَّ هَٰذَا﴾ اشاره ده مذكور بما قبل ته يعنى اعتقادات اوشرائع ﴿صِرَٰطِى﴾لارخما ده چه په دې څوک روان شى نوماته رارسى، ﴿مُسْتَقِيمًا﴾حال دې دصراط نه اوعامل پكښې معنې داشارى ده،﴿فَٱتَّبِعُوهُ﴾ داعطف دې په لَاتُشْرِكُوا باندې نوداپه اعتباردمعنې سره مقدم دې په﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا﴾ باندې، اوداعلت د ((فاتبعوه)) دې ((اى اتبعوه لان هذاصراطى - الخ)) يافاء په فاتّبِعُوهُ كښې فاء فصيحيه ده اوشرط مقدردې، ((والمعنى اذا اردتم الفوز والنجاة من مهاوى البدع ومساقط الضلالات فاتبعوه)) نوداجمله لامحل لها من الاعراب ده، او﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا﴾ عطف دې په «لاتشركوا» باندې د «أتل» ماتحت دې،نو په محل دنصب كښې دې ياد،﴿وَصَّىٰكُم بِهِۦ﴾ ماتحت دې اوپه محل دجركښې دې ((اى وصكم بان هذاصراطى)) ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ﴾ يعنى په دې صراط مستقيم باندې روان شئ اوددينه په مخالف لاروباندې مه ځئ، دسُبل نه مرادمخالفې لارې دى لكه يهوديت نصرانيت او تولې كفرى لارې، اودحضرت مجاهدرحمه الله نه روايت دې چه ددينه مرادبدعات اوضلالت دى، ﴿فَتَفَرَّقَ بِكُمْ﴾ په اصل كښې تتفرق، وو- يوه تاء حذف شوې ده، اوباء دتعديت دپاره ده،معنې ئى داده چه په دې نيغې لارې باندې ځئ اوپه مخالفولاروباندې مه ځئ گنې تاسوبه دنيغې لارې دالله تعالى نه جداكړى، په يوحديث كښې راغليدى، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دېوهه كولودپاره يوه نيغه كرخه(خط) رانښكلو اودهغې دواړوطرفونوته ئې وړې وړې كرخې رانښكلې بيائ په هغه مينځ والاكرخه باندې لاس كيخود اووې فرمائيل چه داداالله تعالى لارده، اودطرفونووالاخطونه (كرخې) سُبُل دى اوپه هريو باندې شيطان دې دعوت وركوى هغې ته، ابن مسعودرضى الله عنه فرمائى چه نبى صلى الله عليه وسلم مونږ په داسې صراط پريخى يو، چه يوطرف ئى مونږ سره دې اوبل ئ جنت ته رسيدلې دې اوددې صراط يمين يسار ته لارې دى نوڅوک چه په صراط(سنت) روان شى نوجنت ته به اورسى اوڅوک چه صراط پريگدى اوپه يمين يسارباندې روان شى نوجهنم ته به اورسى، تفسيرقرطبى دلته په

ذم دبدعت اوداهل بدعو کښې ډير روايات ذکر کړيدي. ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ يعنى تقوى په اتباع دصراط مستقيم (قرآن سنت) سره حاصليږي. ﴿ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى﴾ دسورت په آخر کښې ددوارو مضامينو يعنى نفى دشرک اعتقادى اونفى دشرک فعلى دپاره يودليل نقلى اوبل دليل وحى ذکرکيږي. په دې آيت کښې ددليل نقلى ذکردې دموسى عليه السلام نه او ((ثمّ)) دپاره دتراخى ذکردې . تراخى زمانى دپاره نه دې، اودکتاب نه مرادتورات دې ﴿تَمَامًا﴾ منصوب دې حال دې دکتاب نه يعنى داکتاب پوره وودهغوئى داصلاح دپاره اودبيان دعقائدوداعمالودپاره.هيڅ نقص پکښې نه وو-﴿عَلَى الَّذِىْٓ اَحْسَنَ﴾ ((اى على الوجه الذى احسن)) په هغه وجه او طريقه سره چه ډيره خائسته ده. يعني په دې کتاب کښې نقص او کمې نه وو، پوره وو د دوئ د اصلاح اعتقادى اوعملى لپاره په ډيره خائسته طريقه د دوئ اصلاح کونکې وو، يا ﴿تَمَامًا﴾ مفعول له دې ، يعنى لپاره د اتمام د نعمت ﴿عَلَى الَّذِىْٓ اَحْسَنَ﴾ ((اى على كل من احسن)) په هرهغه چاچه نيکى کونکې وى، لکه موسى عليه السلام اودهغه اتباع کونکى بنى اسرائيل ،آسمانى کتاب. دنبى اوداهل علمو دپاره لوئ نعمت وى ﴿لِّكُلِّ شَىْءٍ﴾ ((اى لكل شئ ضرورى فى الدين)) ، ﴿وَّهُدًى وَّرَحْمَةً﴾ يعنى سبب دهدايت اودرحمت وو.

وَهٰذَا	كِتٰبٌ	اَنْزَلْنٰهُ	مُبٰرَكٌ	فَاتَّبِعُوْهُ	وَاتَّقُوْا

او دا کتاب دې [1] عظيم الشان مونږ نازل کړې دې، برکت والا دې، د ده تابعدارى کوئ او خان بچ کړئ د دې د خلاف نه .

لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	ۙ	اَنْ	تَقُوْلُوْٓا	اِنَّمَآ	اُنْزِلَ الْكِتٰبُ

د دې لپاره چه رحم وکړې شى په تاسو، د دې لپاره چه تاسو بيا دا ونه وايئ چه نازل کړې شوى وو کتابونه

عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ	مِنْ قَبْلِنَا	۪ وَاِنْ كُنَّا	عَنْ دِرَاسَتِهِمْ	لَغٰفِلِيْنَ	ۙ	اَوْ تَقُوْلُوْا

صرف په دوو ډلو باندې مخکښې زمونږ نه، او په تحقيق سره وو مونږ د لوستلو د هغوئ نه بې خبره يا دا ونه وايئ

---

١ - دليل وحى

لَوْ أَنَّا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّا أَهْدٰى مِنْهُمْ فَقَدْ

كه چېرې نازل کړې شوې وې په مونږ باندې کتاب نو خامخا وو به مونږ زيات په هدايت د دوئ نه، پس په تحقيق سره

جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ

راغلې دې تاسو ته واضح حجت د طرفه د رب ستاسو نه او هدايت او رحمت. پس څوك دې لوئ ظالم[1] دهغه چا نه

كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا سَنَجْزِى الَّذِيْنَ

چه دروغ ګڼړي آيتونو د الله تعالى او اعراض کوی د هغې نه. زرده چه سزا به ورکړو مونږ هغه کسانو نه

يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ۝

چه اعراض کوی د آيتونو زمونږ نه سخت عذاب په سبب د دې چه دوئ اعراض کولو

﴿وَهٰذَا كِتٰبٌ﴾ دا دليل وحي دې، او تنوين د پاره د بيان د تعظيم شان دې ﴿أَنْزَلْنٰهُ﴾ کښې نسبت د نزول خپل ځان ته د پاره د تعظيم دې ﴿مُبٰرَكٌ﴾ اى كثير الخير في الدنيا والاخرة. ﴿فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا﴾ يعنى د دې کتاب اتباع او کړئ او د مخالفت نه ځان او ساتئ نو دا سبب د رحم کيدلو دې ﴿أَنْ تَقُوْلُوْٓا﴾ دا دفع د عذر ده ((ان تقولوا)) په اصل کښې ((لئلاتقولوا)) دې ﴿طَآئِفَتَيْنِ﴾ نه مراد يهود او نصارى دى. مدارك وائي چه دا دليل دې په دې چه مجوس اهل کتاب نه دى ځکه چه که دوئ هم اهل کتاب وې نو ((طائفتين)) به تثنيه نه وې ذکر شوې ﴿دِرَاسَتِهِمْ﴾ ((دراست)) په ډيرو معانيو سره رازى ، دلته په معنى د قرائت او لوستلو سره دې. يعنى تورات انجيل هغوئى ته نازل شوى وو ،او مونږ د هغوئى د لوستلو نه غافل وو ، ځکه چه هغه عجمى ژبه وه. سريانى يا عبرانى، او عرب په هغې باندې نه پوهيدل، او بله دا چه علماء د اهل کتابو به د حق کتمان کولو . ﴿أَوْ تَقُوْلُوْا﴾ دا دوېم عذر دفع ده، د عربو دا دعوه وه چه مونږ ډير تيز ذهن والا او انابت والا يو . نو که په مونږ کتاب نازل شوې وې نو مونږ به ډير هدايت والا وو . نو الله تعالى فرمائى چه دا عذر هم ختم شو ، أوس تاسو ته دا سې کتاب نازل شو چه اشرف او اکمل الکتاب دې او ستاسو په لغت کښې نازل دې، ﴿بَيِّنَةٌ﴾ واضح بيان والا دې او سبب د هدايت او د رحمت

[1] . زجر.

دي نوځوک چه ددينه اعراض اوکړي اوتکذيب ئې اوکړي نودغه کس ډيرغټ ظالم دي اوهغه ته به سوء العذاب ورکولې شي

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ
انتظار نکوی دوئ مګر [1] د دې چه راشي دوئ ته ملائك (د مرګ) يا راشي رب ستا، يا راشي بعضې نښانې
رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا
د رب ستا، په کومه ورځ چه راشي بعضې نښانې د رب ستا فايده به نه ورکوی هيڅ نفس ته ايمان راوړل د هغه
لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ
چه ايمان ئې نوی راوړې مخکښې د دينه يا ئې نوی کسب کړی په حال د ايمان کښې نيکی، ته ورته ووايه
انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾
تاسو انتظار کوئ بيشکه مونږ انتظار کوونکی يو.

﴿هَلْ يَنْظُرُوْنَ﴾ دا تخويف دنيوی دې، دلته دعذاب درې صورتونه ذکرشويدی، يعنی دوئ چه ددلائلوباوجودايمان نه راوړی نوآيادوئ ددې انتظارکوی چه دموت فرشته راشي اودوئي ارواح قبض کړي نو دَ مرګ نه روستوبه ددوئ سترګې رڼاشي، يادې انتظارکوی چه په دوئ باندې دالله تعالی عذاب راشي يادقيامت په نښانوکښې دوئ ته داسې نښانه راشي چه دهغې په ليدلو سره دوئی مجبورشي په ايمان باندې، ليکن په دې درې واړه صورتونوکښې ايمان مقبول نه دې، ﴿اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ﴾ نه مراد ((امرربک بالعذاب)) دې (روح ، شيربينی) يا ترينه مراد قيامت دې اواتيان دالله تعالی دپاره صفت دې خوهغه ،،کمايليق بشانه،، دې، اوزمونږ داتيان په شان نه دې.

﴿اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ﴾ په حديث کښې د دې بيان په ((طلوع الشمس من مغربها)) سره راغليدې، حضرت الشيخ رحمه الله دخپل شيخ رحمه الله نه نقل کوی چه ددينه مرادهرهغه نښانی ده چه هغه چه ځوک اووينی نوپه ايمان راوړلو مجبورشي، لکه فرعون چه په وخت دغرغرې کښې

---

۱ - تخويف

ایمان راوړو لیکن قبول نه شو. اوپه سورت مؤمن کښې دی ﴿ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا ﴾ نودلته مرادمطلق هغه نشانه ده چه دهغې په لیدلوسره انسان مجبورشی په ایمان راوړلوباندې، اوپه حدیث کښې ذکردطلوع الشمس من مغربها.. دحصردپاره نه دې بلکه تمثیل دې. په روایت دمسلم کښې دی خذیفه بن اُسیدرضی الله عنه وائی چه یوواري صحابه کرامو دعلامات قیامت تذکره په خپل مینځ کښې کوله نونبی صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو اوئی فرمائیل چه قیامت ترهغې پورې نه راځی ترڅوچه تاسو دهغې نه مخکښې لس علامات نه وی لیدلی: (۱) طلوع الشمس دمغرب نه. (۲) دُخان. (۳) دابة الارض. (۴) یاجوج ماجوج. (۵) نزول دعیسی علیه السلام، (۶) خروج ددجال، دري خسفونه، (۷) یوخسف په مشرق کښې (۸) بل په مغرب کښې (۹) بل په جزیرة العرب کښې (۱۰) اوبل نار چه دعدن دقعرنه راوځی اوخلقوله به مخکښې شړی. اودطلوع الشمس من المغرب حال په بعض روایاتو کښې داسې راغلیدې چه دمغرب نه به طلوع کوی، اوپه یوروایت غیرمشهورکښې داسې دی چه درې ورځې به طلوع دمغرب دطرفه کیږی «روح» په روایت دبخاری کښې دی چه نه قائمیږی قیامت ترڅوپورې چه طلوع دشمس دمغرب نه نه وی شوی نوچه کله طلوع دشمس اوشی دمغرب نه اوخلق ئی اووینی نوبیابه ټول ایمان راوړی خوداهغه ورځ ده چه چاته نفع نه ورکوی ایمان، اونبی صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت کړ و. اوپه دې وخت کښې ایمان په دې وجه نه قبلیږی چه معتبرعندالله، ایمان بالغیب اواختیاری دې. اوچه کله دآخرت دحقائقومشاهده اوشی نوهرانسان به ایمان راوړلواوتوبه کولوباندې مجبورشی نواختیاری ایمان بالغیب نه شو، نوپه وخت دطلوع الشمس من مغربها کښې خوایمان اوتوبه مقبول نه دی. البته ددې نه بعدبه دهمیشه دپاره نه قبلیږی یابه قبلیږی؟ نوصاحب دروح المعانی وائی «ومُقتضی الاخبارفی هذاالمطلب انّه لایقبلُ الایمانَ بعد ذلک ابدًا لکنَّ الظاهرعلی مَا فِی الزواجرقبولُ مَاوقعَ بعد ذلکَ من غیرِ تقصیرٍ کمن جنّ وافاقَ بعد» یعنی دروایاتونه اګرکه ظاهراًدامعلومیږی چه دهمیشه دپاره به توبه نه قبلیږی لیکن ظاهره اوراجحه خبره داده چه قبلیږی. ځکه چه دغه حالت به هیرشی. نوددغه حالت دنسیان په وجه ایمان بالغیب اواختیاری دې اونسیان په وجه دطول العهداوقت سره دې، اوامام قرطبی اوحافظ ابن حجرپه شرح دبخاری کښې نقل کړیدی چه خلق به ددینه بعدشپږ شلې (۱۲۰) کاله پاتې وی ظاهره ده چه داوخت طویل دې نسیان په کښې راتلې شی.

﴿لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَانِهَا خَيْرًا﴾ زمخشري اونورومعتزلويه دې آيت سره استدلال کړيدې چه ايمان په غيرد عمل صالح نه نافع نه دې ځکه چه د ((اوکسبت)) معنى داده چه ((او آمنت ولم تکسب فى ايمانها خيرا)) يعنى نفع نه ورکوى هيڅانه ايمان چه مخکښې ئې ايمان نه وى راوړې يائى ايمان راوړې وى خوعمل صالح ئې نه وى کړې. نوداهم نافع نه دې. نومعلومه شوه چه ايمان په غيرد عمل صالح نه هيڅ نفع نه ورکوى. نومعلومه شوه چه اعمال جزء دى د ايمان نه اود اعمالوپه نشتوالى سره ايمان معدوم کيږى . دکشاف عبارت دادې ((فلم يفرق کماترى بين النفس الکافرة اذاامنت فى غيروقت الايمان وبين النفس التى آمنت فى وقته ولم تکسب خيرا، ليعلم ان قوله الذين آمنوا وعملواالصالحات جمع بين قرينتين لاينبغى ان تنفک احداهما عن الاخرى حتى يفوزصاحبها ويسعدوالافالشقوة والهلاک)) اهل سنت والجماعت وائى چه دمعتزلومذهب په نورو ادلو شرعيو سره مردوداوباطل دې. اوددې آيت نه متعددجوابونه کوى (۱) مشهورقول دادې چه په آيت کښې لف نشرمرتب دې خوپه جانب دلف کښې اجمال دې اوتقدير دې. نوتقديردعبارت دارنګه دې ((يوم ياتى بعض آيات ربک لاينفع نفسا ايمانها ولاکسبها خيرا، لم تکن آمنت من قبل اوکسبت فى ايمانها خيرا)) نوپه جانب دلف کښې دوه امره دى (۱) عدم نفع د ايمان. (۲) اوعدم نفع دکسب خير. اوپه جانب دنشرکښې دوه امره دى يو ((لم تکن آمنت من قبل)) دامرتب دې. په امراول بل. او ((کسبت فى ايمانها خيرا)). دامرتب دې په دويم امرچه مقدردې. (۲) صاحب دمدارک وغيره وائى چه دکسب خيرنه اعمال صالحه نه دى مراد بلکه اخلاص فى الايمان ترينه مراددې يعنى کله چه طلوع الشمس من مغربها اوشى نو. چاچه بالکليه ايمان نه وى راوړې اووس ايمان راوړى نوداتافع اومقبول نه دې اودارنګه دچاچه ايمان نفاقى وى اووس اخلاص په ايمان کښې پيدااکوى اوپه اخلاص سره ايمان راوړل غوارى نوداهم نافع اومقبول نه دې.(۳) حضرت شاه انورشاه کشميرى رحمه الله فرمائى چه چه ((او)) په سياق دنفى کښې دې نوعموم فائده کوى لکه ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا﴾ . نودلته معنى داده چه دچاچه ايمان اوعمل صالح دواړه نه وى او اُوس. يعنى بعد طلوع الشمس من مغربها نه ايمان راوړى ياعمل صالح کوى نوداتافع اومقبول نه دې(۴) ابن کثيروغيره وائى چه معنى داده چاچه ددينه مخکښې ايمان نه وؤ راوړې او اُوس ايمان راوړى نودانفع نه ورکوى. بالکل اوچاچه مخکښې ايمان راوړې وي خوعمل صالحه ئې نه وى نو

معه نه دغه ایمان نفع کامله نه ورکوی. نفع کامله داچه په غیر دعذاب نه جنت ته داخل سي

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ

بیشکه هغه کسان چه ټکړې ټکړې کړې ئې دی دین خپل او دوئ ډلې دی مختلفې نه ئې ته د دوئ نه

فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم

په هیڅ تعلق لرلو کښې. بیشکه معامله د دوئ الله تعالی ته سپرلې شوې ده. بیا به الله تعالی خبر کړی دوئ

بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ۝ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ

په انجام د هغه عملونو چه دوئ به کول څوک چه راوړی نیکی پس د ده لپاره دی لس چنده ثواب د هغې.

وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝

اوڅوک چه راوړی گناه، پس سزا به نه شی ورکولې مگر مثل دهغې او په دوئ به هیڅ ظلم نشی کیدې

﴿إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ﴾ داتخویف دی ((فرقوا)) یاپه خپله معنی سره دي یعنی دین ئې ټکړې ټکړې کړې وی چه کوم ئې دطبیعت سره موافق وی هغه منی اوکوم ئ چه طبیعت سره موافق نه وی نوهغه نه منی. یاپه معنی د ((فارقوا)) سره دي لکه په بل قرات کښې دغه شان راغلیدي یعنی خپل دین ئې پریخودلې وی. اومراددینه یهوداونصاری دی.لکه په بل آیت کښې دی ﴿وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ﴾ ، ﴿وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾ . داهم اهل کتاب دی. داقول دحضرت مجاهد رحمه الله اوقتاده رحمه الله دي یاترینه مرادمشرکین دی. یاترینه مراد «فِرَق» مبتدعه دی. لکه داقول دحضرت عائشې رضی الله عنها اوابوهریره رضی الله تعالی عنه دي (قرطبی) په حدیث کښې دی چه بنی اسرائیل دوه اویافرقې شوې وواوخماپه امت کښې به درې اویافرقې جوړیږی ټول به جهنم کښې وی مگریوه نواصحابوتپوس اوکړو چه دغه به څوک وی نواوئی فرمائیل چه (ما انا علیه واصحابی)

﴿لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ﴾ . یعنی ستاددوئی سره تعلق نشته دي اوستانه به ددوئی په باره کښې تپوس نه کیږی. ددوئی معامله الله تعالی ته حواله ده. الله تعالی به ورته ددوئ دعملونو مطابق بدله ورکوی.

﴿مَن جَآءَ بِالْحَسَنَةِ﴾ ته ابشارت دي ﴿عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ (اى عشر حسنات امثالها) ځکه چه حسنات مؤنث دي نو عشر ځکه مذکر راغليدې ، او ذکر د عَشْرُ ادنی مرتبه ده

قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا

وه وايه بيشکه زه رسولې يم خپل رب [1] سمې لارې ته يعنې دين صحيح ملت د ابراهيم ، مستقيم کلك به حق باندې.

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي

او نه وو د مشرکانو نه وه وايه چه بيشکه [2] مونځ زما او قرباني او حج زما او ژوند زما او مرګ زما

لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ

خاص الله تعالی لره دی چه رب د ټول عالم دې نشته دې هيڅ شريك هغه لره. او پدې سره حکم کړې شوې دې ما ته

وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

او زه اول د مسلمانانو نه يم

﴿قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي﴾ دسورت په آخر کښې د درې اعلاناتو ذکر دې، او دسورت د دوارو مضامينو اعاده ده، او دا اول اعلان دې چه زما دين، ملت ابراهيمي دې او ابراهيم عليه السلام حنيف . د هر قسم شرك فعلي اعتقادي نه بيزاره وو. ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي﴾ دا دويم اعلان دې په «صلاتی» کښې نفي د شرك اعتقادي ته اشاره ده او په ﴿وَنُسُكِي﴾ کښې نفي د شرك فعلي ته اشاره ده د «نسك» نه مراد ذبح يعنی قرباني ده يا طريقه د حج کولو ، يا ټول طاعات ترينه مراد دی. ﴿وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي﴾ د دينه مراد يا هغه کارونه دی چه په حالت د ژوند کښې کيږی ، او په حالت د مرګ کښې کيږی لکه وصيت وغيره، يا ترينه مراد خو دې ژوند او مرګ دې، نو دا د تکوينياتو ذکر دې او ماقبل د تشريعياتو ذکر دې يعنی زما امور تشريعيه هم صرف د الله تعالی د پاره دی، نو دا توحيد فی الالوهية شو، او زما امور تکوينيه هم صرف د الله تعالی

---

١ - د سورت په آخر کښې درې اعلانات ، دا اول اعلان دې.

٢ - دويم اعلان

دپاره دی، نوداتوحیدفی الربوبیت شو، نوداآیت دال دې په توحید کامل یعنی په ټولوحالاتو تشریعی . تکوینیوکښې، تسلیم اوتفویض ﴿وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾ په دې امت کښې اول مراددې اوهرنبی په خپل امت کښې اول مسلم وی، اوخپل امت دپاره عملی نمونه وی. یااولیت دمرتبې په اعتبارسره دې یعنی په ټولومسلمانانوکښې اول درجه مسلمان څه یم. یازه دصفت اول دمسلمانانونه یم.

قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ
ووایه چه آیا سوی د الله تعالی نه زه تلاش کړم بل رب او حال دا چه هغه رب د هرڅیز دې. او نه کسب کوی
كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ
هیڅ نفس بد عمل مګر وبال ئی په هغه باندې وی، اونشی پورته کولې یو نفس درونډ په ګناه بوج د بل چا. بیا
إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾
ستاسورب ته دی واپس تلل ستاسوپس خبر به درکړی تاسوته په هغه څه چه تاسوپه هغې کښې اختلاف کولو
وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ
او الله تعالی هغه ذات دې چه ګرځولی ئی یئ تاسې، نائبان په زمکه کښې او پورته کړی یې دی بعضې ستاسو
فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۗ
دپاسه د بعضو نه په درجو کښې، د دې لپاره چه ازمیښت وکړی په تاسو په هغه څه کښې چه درکړی ئی دی تاسوته .
إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٦٥﴾
بیشکه رب ستا . زر عذاب ورکوونکې دې (د نه منونکو لپاره) . او بیشکه هغه خامخا بښنه کوونکې رحکم کوونکې دې (دمنونکو لپاره)

﴿قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا﴾ دادریم اعلان دې. چه دالله تعالی نه ماسوی بل څوک رب نشته . صرف هغه رب دهرچادې، ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ﴾ مشرکانوبه وئیل ((اتبعوسبلناولنحمل خطیکم)) یعنی تاسو زمونږ دلارې تابعداری اوکړئ کفر، شرک اختیارکړئ اوداجرم نه دې اوکه بالفرض داجرم وی نوهغه وبال زمونږ په سردې. نوالله تعالی اوفرمائیل چه داسې نشی کیدې چه جرم

یو کس او کړی اوسزاوبال ئې په بل شي. ((وازرة)) (ای نفس وازرة) نفس دروند په گناه سره یعني گنهگار. اوکه څوک **سوال** اوکړي چه دچادگناه بوج په بل هیڅانه نه اچولي کیږي. گنهگاروی اوکه نه. نوتخصیص د ((وازرة)) یعني دگنهگارولی اوشو. **جواب** دادي چه دعوت ورکونکی مشرکان وو نوځکه تخصیص د ((وازرة)) اوشو اگر که حکم عام دي. ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ ٱلْأَرْضِ﴾ داترغیب دي عمل کولوته په احکامو ددی سورت باندي. ((خلائف)) دخلیفه جمع ده یعني نائب. اوخطاب یاټول نوع انساني ته دي ځکه چه خلافت ټولوانسانانوته ورکړي شویدي. نومراددادي چه تاسوخلفاء يئ دطرفه دالله تعالی نه په زمکه کښي نوالله تعالی تاسوته دژوند دتیرولواحکامات بیان کړیدیی نوتاسوپه هغي عمل اوکړئ. یاداخطاب امت محمدی صلی الله علیه وسلم ته دي ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دي نوامت دهغه هم خلیفه دي دمخکنوامتو. ﴿وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ﴾ یعني د ((جعلکم خلائف الارض)) نه داگمان مه کوئی چه ټول یوشان دی بلکه تفاوت شته ې څوک قوی، څوک کمزوري. څوک حاکم څوک محکوم ،څوک مالدار، څوک غریب، مالک، مملوک نر،خزه. داتفاوت دابتلاء دپاره دي چه خپل خلق مالک اوپیژنی. ﴿فِي مَآ ءَاتَىٰكُمْ﴾ ددینه مرادهرهغه صفت اوحالت دي چه انسان ته حاصل وی مالداری ،غریبي. صحت بیماری. حسن قُبُح دصورت. وغیره. ﴿إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ﴾ دا تخویف دي دنه منونکوډپاره. د ((سریع العقاب)) دامطلب نه دي چه ځانه مهلت نه ورکوی بلکه مراددادي چه کله دعذاب ورکولواراده ئې اوشی نودهغي په نافذکولوکښي هیڅ توقف نه وی. اوڅوک ئې منع کولي نشی. ﴿وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ دا بشارت دي منونکوته. دعقاب سره لام تاکیدنه دي ذکرشوي اودمغفرت اورحمت سره ذکرشویدي .ځکه رحمت ئې غالب دي په غضب باندي ((وفی الحدیث سبقت رحمتی غضبی)).

فنسئلک اللهم برحمتک التی وسعت کل شئ ان تغفرلنا وترحمنا انک انت الغفورالرحیم،

۳۰ ربیع الاول سنه ۱۴۲۸ هـ یوم الاربعاء ۱۸ ابریل ۲۰۰۷ء

رکوع	سورة الاعراف مكية	اٰيتونه
٢٤	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	٢٠٦

خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم کوونکي دي (شروع کوم)

رقمها حسب التسلسل (٧) وحسب النزول (٣٩) قبل الجن وبعد (ص)

(١) **ربط اسمي** که چرې تاسو په انعام اوحرث کښې دالله تعالى سره بل څوک شريک نه گرځوئ نوالله تعالى به تاسو دجهنم نه بلکه داعراف نه هم بچ کړي اوجنت ته به مو داخل کړي

ربط معنوي مضموني (١) په سورة انعام کښې نفي دشرک فعلي اواعتقادي په تفصيل سره ذکرشواوپه عقلي نقلي دلائلو سره مبرهن شونودلته کښې دهغې دتبليغ اوبيانولوحکم دی چه بې خوف خطرې ئې بيان اوکړه اوپه زړه کښې تنگی مه راوله .﴿فَلَا يَكُنْ فِىْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ (٢) دلته دماقبل سورت دترتيب نه برعکس نفي دشرک فعلي مقدم او نفي دشرک اعتقادي مؤخره ده. (٣) ماقبل سورة کښې دنذرلغيرالله اوتحريمات غيرالله تفصيل ذکرشوې وؤ اوډيرصورتونه يې ذکرشوی وو. دلته دهغې يونهايت اهم صورت (يعني بربنډ طواف کول) ذکردې (۴) ماقبل سورت کښې دلائل عقليه ذکرشوی وؤ اودليل نقلي بالتفصيل دحضرت ابراهيم عليه السلام نه ذکرشوې وو. اودباقی انبياؤ نه اجمالاً ذکرشوې وو. ليکن دلته دهغې بعض انبياؤ نه بالتفصيل ذکرکيږي

دسورت دمضامينو خلاصه

په دې سورت کښې درې دعوې دی. **اوله دعوی** داده چه ددې کتاب يعني دتوحيدبيان او دشرک اعتقادي اوفعلي رد په حوصله اوبهادرئ سره کوه اوکه تکليفونه راځي نوصبرکوه. زړه مه تنگوه (آيت نمبر ٢) **دويمه دعوی**. چه کوم احکام الله تعالى نازل کړی دی. حل حرمت. دهغې اتباع کوئی اودشياطينو. اتباع مه کوئ چه دځپل طرفه څه شي ته حلال حرام اووايئ. (آيت نمبر ٣) ددينه بعد دآيت نمبر٩پورې تخويفات بشارات دی. اوبيادآيت ٢٥ پورې تمهيددې نفي دشرک فعلي ته اوځلورکرته. ((يبني آدم)) خطاب مذکوردی چه دځپل طرفه تحريمات مه کوئ. دآيت نمبر ٣٥ پورې نفي دشرک فعلي ده. اودآيت نمبر٥٣ پورې

تخويفات بشارات دی. بیا **دریمه دعوی** ذکرکیږی چه ستاسورب خالق مالک صرف الله تعالی دې نولهذا ((ادعوربکم)) صرف اوصرف دهغه بلنه کوئ اودهغه نه خپل حاجات غواړئ. دآیت نمبر ۵۸ پورې ددې دعوې تفصیل دې. دهغې نه پس بیاشپږ قصې ذکردی متعلق دی ددرې واړه دعوؤ سره په طریقه دلف نشرمرتب. اوله قصه دحضرت نوح علیه السلام متعلق ده. ددریمې دعوې سره اصالةً اوداول دعوې سره تبعًا. دویمه قصه دهود علیه السلام. اودریمه قصه دحضرت صالح علیه السلام داهم ددریمې دعوې سره متعلق دی. څلورمه قصه دلوط علیه السلام ددویمې دعوې سره متعلق ده. پنځمه قصه دحضرت شعیب علیه السلام ددویمې او دریمې دعوې سره متعلق ده. بیا التفات بسوء اهل مکه دې. اوشپږمه قصه دحضرت موسی علیه السلام ده اولې دعوې سره متعلق ده چه په دې کښ اته واقعات مذکوردی په تفصیل سره او دقصص دختمیدونه پس دتخویف دنیوی نمونه ذکرکیږی . ﴿ وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ﴾ او بیا دیهودو. دیومقولې تردیددې په څلورو وجوهاتو سره چه دوئ وئیل. ﴿سَيُغْفَرُ لَنَا ﴾ د آیت نمبر ۱۶۸ نه دآیت نمبر۱۷۷پورې، اوددینه پس ترآخرپورې آیاتونه متعلق دی ددرې واړه دعووسره

مختصره خلاصه په دې سورت کښې نفی دشرک فعلی اولاً کیږی اونفی دشرک اعتقادی ثانیًا کیږی، دری دعوی، اوشپږ قصې ذکرکیږی،

الٓمّٓصٓ ①	كِتٰبٌ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	فَلَا	يَكُنْ	

الله تعالی عالم دې په مراد خپل سره د دې حروفونه، دا لوئ شان والا کتاب دې نازل کړې شویدې تاته [۱] پس نه دې وی

فِيْ	صَدْرِكَ	حَرَجٌ	مِّنْهُ	لِتُنْذِرَ	بِهٖ	وَذِكْرٰى	لِلْمُؤْمِنِيْنَ ②

په سینه ستا کښې تنگسیا. درسولو ددینه. ددې لپاره چه ته ویره وې پدې سره اولپاره د نصیحت مؤمنانو لره

اِتَّبِعُوْا	مَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكُمْ	مِّنْ	رَّبِّكُمْ	وَلَا	تَتَّبِعُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ

تابعداری کوئ دهغې چه نازل کړې شوې دې تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه او تابعداری مکوئ ماسوی د الله تعالی نه

---

۱ . اوله دعوی

أَوْلِيَاءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ۝٣ وَكَم مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا

دوزو دوستانو «شیاطینو» ډیر کم غوندې نصیحت قبلوئ تاسې . او ډیرو کلو والا هلاك کړی دی مونږ هغه

فَجَاءَهَا بَأْسُنَا بَيَاتًا أَوْ هُمْ قَائِلُونَ ۝٤ فَمَا كَانَ

پس راغلې ورغوئ ته عذاب زمونږ په وقت دشپې کښې یا به دوئ آرام کوۈ په وخت د غرمې کښې پس نه به وو

دَعْوَاهُمْ إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا إِلَّا أَن قَالُوا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ۝٥

زیاد د دوئ کله چه به راغې دوئ ته عذاب زمونږ مگر دا چه [1] ویل به دوئ بیشکه وو مونږ ظالمان

﴿الٓمٓصٓ﴾ دامقطعات دی تفصیل ئی مخکښې تیرشوې دې، ﴿كِتَٰبٌ﴾ ای هذاکتاب، ﴿حَرَجٌ﴾ یعنی ددې کتاب په تبلیغ کښې چه څه تکلیفونه راځی نوصبرکوه اوزړه مه تنګوه، دااوله دعوی ده، ﴿لِتُنذِرَ بِهِۦ﴾ دامتعلق دې دأنزل سره، یعنی مقصود ددې کتاب نه انذار او نصیحت دې، ﴿ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم﴾ دا دویمه دعوی ده یعنی دماأُنزل اتباع کوئ اودشیاطین الجن والانس اتباع مه کوئ چه دخپل طرفه تحریمات اوکړئ.

﴿وَلَا تَتَّبِعُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ﴾ ضمیر په «من دونه» کښې راجع دې «ما انزل» ته، یارب ته، مرادمنع داتباع ده په معصیت کښې، «ای لاتتبعوهم فی معصیةٍ» «جلالین» اومراد دَ اولیاء «دوستانو» نه شیاطین الجن والانس، دی، یاشیاطین اوکوهان دی،« شیربینی ،بحر، روح المعانی وغیره» یعنی دشیاطین الجن والانس اتباع مه کوئ دوئی به تاسو په شرک، بدعت .خودساخته تحریماتو کښې مبتلاء کړی

فایده باطل دې قوله دهغه چاچه وائی چه پدې کښ رد دې په هغه تقلید اومقلّد باندې چه د کتاب او سنت په مقابله کښ د بل چا قول غوره کوی، د مجتهد قول د کتاب،سنت مقابل گرځول. جهالت او تعصب دې، مجتهددکتاب اوسنتو مقابله نه کوی . بلکه تشریح :کتاب اوسنت، کوی اوترجیح د یودلیل «حدیث» لره په بل باندې ورکوی. دخپلو اصولومطابق اودیته مقابله وئیل جهالت دې، دمجتهدینو اتباع کول. اتباع په معصیت کښې

---

[1]. تخویف.

نه ده. او مجتهدين مصداق داولياء دپاره په معنى مذكورې سره هم نه دى. ﴿وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ﴾ دا تخويف دنيوى دې، «كم» خبريه دې «من قرية» ورته تميزدې او «كم» مرفوع دې محلا مبتداء ده. يامنصوب دې مفعول د (اهلكنا) دپاره دې ﴿فَجَآءَهَا﴾ كښې فاء تفصيليه ده. ﴿بَيَاتًا﴾ حال دې په معنى د (بائتين) سره. ﴿دَعْوٰىهُمْ﴾ په معنى دفرياد. سره دى ﴿اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ﴾ دظلم نه مراددادې چه دوئى اتباع دما أنزل نه كوله.

فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ

پس خامخا به تپوس كوؤ مونږ د هغه كسانو نه چه ليږلې شوى دى رسولان دوئ ته يعنې امتان

وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ

او خامخا به مونږ تپوس كوؤ د رسولانونه پس خامخا به مونږ احوال بيانوؤ په دوئ باندې په علم خپل سره

وَمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ۝ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ

او نه وو مونږ غائب د اعمالو د دوئ نه او تول د عملونو په دغه ورځ حق او يقيني دې. پس هغه څوك[1] چه دروند وي

مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ

وزن د نيكو عملونو د هغه. پس دغه كسان هم دوئ بچ كيدونكى دى د عذاب نه. او هغه څوك چه سپك وى تول د نيكئ د هغه

فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ۝

پس دا هغه كسان دى چه تاوانى كړى ئى دى خانونه خپل په سبب ددې چه دوئ په آياتونو زمونږ ظلم (انكار) كولو

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا

او خامخا په تحقيق سره ځائ دركړيدې مونږ تاسوته په زمكه كښې او پيدا كړى دى مونږ تاسو لره په دې كښې

مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝

اسباب د روزى. ډير لږ غونډې په تاسو كښې شكر كوى

[1] سارت أخروى

﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ ﴾ داتخویف اخروی دې یعنی دقیامت په ورځ به د هرچا نه سوال کیدی شي. د رسولانو نه په باره دتبلیغ کنبې اودامتیانونه په باره دمنلوکنبې اوداسوال داستعلاء یعنی معلومولودپاره نه دې بلکه دزجراوتوبیخ دپاره دې اوپه بل آیت کنبې چه ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦ ﴾ دې نو هلته دهغه سوال نفی مرادده چه دمعلومولودپاره وی

﴿ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ ﴾ یعنی که خوک دخپل جرم نه انکاراوکړی نو الله تعالی به ئې بیان او ظهار کوی ﴿ وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ﴾ ((والوزن)) مبتداء ده. ((یومئذٍ)) په اعتباردمتعلق سره ورنه خبردې. ((ای اَلْوَزْنُ ثَابِتٌ يَوْمَئِذٍ)) ﴿ ٱلْحَقُّ ﴾ صفت د ((وزن)) دې. داترکیب راجح دې په نیز دمحققینو. او دویم ترکیب دادې چه ((الحق)) خبردې. د ((الوزن)) دپاره. یعنی وزن د اعمالو . دقلب اودجوارحو. حق اوثابت دې. اوپه کیفیت دوزن کنبې درې قوله دی **اول** داچه عمل نامې به تللې شی .لکه په یوحدیث کنبې د بطاقة. ذکردې. ((فَتُوضَعُ السِّجِلاتُ فِی کَفَّةٍ وَالبطَاقَةُ فِی کَفَّةٍ، الی آخرالحدیث)) **دویم** داچه خود اعمال به متجسم شی اووزن به ئې کیږی. دابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه اعمال حسنه به صورت حسنه سره راوستې شی اواعمال سیئة به په قبیحه صورت سره راوستې شی، اوپه میزان کنبې به کیخودې شی. **دریم** قول دادې چه عامل ، یعنی دعمل کونکې وزن به کولې شی ((لماروی عنه صلی الله علیه وسلم انه قال لیاتی الرجل العظیم السمین یوم القیمة ، لایَزِنُ عندالله جناحَ بعوضةٍ)) (رواه البخاری)

﴿ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ اضافت د ..موازین.. ضمیرته دعهددپاره دې معهودپه دې سره موازین الحسنات دی. قرینه ئې ترتب دفلاح دې په دې باندې. اوموازین یاجمع دموزون ده یعنی دچاموزونات چه درانه شی. یاجمع دمیزان ده نوددینه ظاهراً دامعلومیږی چه میزانونه ډیردی. اوداده بعض اهل علموقول دې چه میزانونه متعدددی لقوله تعالی ونضع الموازین. اوجمهور اهل علم وائی چه میزان یودې اودالفظ په قرآن کنبې مستعمل دې په صیغه دجمع سره اوپه حدیث کنبې په صیغه دمفردسره هم مستعمل دې اوپه صیغه دجمع سره هم مستعمل دې نو چرته چه په صیغه دجمع سره راغلیدې نو دا یا په اعتبار دتعدد دموزوناتو سره دې خکه چه موزونات ډیردی یاجمع دپاره دتفخیم شان ده. لکه په یوروایت کنبې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه مروی ده چه دَ میزان کفتین، دومره لوئی دی چه ټول

اسمانونه اوزمكې په كنبې راتلې شي نوملائكو اووئيل چه ((ياربنا من تزن هذا)). يعنى په دې كنبې به څوک تللې شي، نوالله تعالى اوفرمائيل ((ازن به مَن شِئتُ من خلقى)) په بل روايت كنبې دى چه داؤد عليه السلام سوال اوكړو دخپل رب نه چه ماته ميزان اوښايه . نوچه اوئى ليدلو نوبى هوش ارتاؤشو، نوچه كله هوش كنبې راغلونواووې وئيل يا الهى څوک قادريږى؟ ددې ميزان ديو كف ډكولو په حسناتو سره، نوالله تعالى ورته اوفرمائيل چه اې داؤد! زه چه كله راضى شم ديوبنده نه نو. ((ملأته بتمرةٍ واحدةٍ، يا داؤد اَملؤها بكلمةِ لااله الاالله)) دا ډكوم به يو كجورې سره اوپه كلمې د ((لااله الاالله)) سره (قسطلانى)

﴿وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ﴾ داتخويف دې،﴿وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ﴾ داترغيب دې قبلولو ددعوت درسول پاک صلى الله عليه وسلم ﴿مَعَايِشَ﴾ اسباب دژوندتيرولو

وَلَقَدْ	خَلَقْنٰكُمْ	ثُمَّ	صَوَّرْنٰكُمْ	ثُمَّ	قُلْنَا

اوپه تحقيق سره پيداكړى يئ مونږ تاسوبياشكلونه دركړيدى مونږ تاسوته. بيا (داهم واورئ) چه وئيلى وو مونږ

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ⑪ قَالَ

ملائكو ته چه سجده وكړئ آدم ته. پس سجده وكړه دوئ مگر ابليس . نه وو دې د سجده كوونكو نه الله تعالى وه وئيل

مَا	مَنَعَكَ	اَلَّا	تَسْجُدَ	اِذْ	اَمَرْتُكَ ؕ	قَالَ	اَنَا	خَيْرٌ	مِّنْهُ ۚ

څه شى منع كړې ته. چه سجده دې ونكړه كله چه ما حكم وكړو تاته. وه وئيل ابليس چه زه غوره يم د ده نه

خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ⑫

(ځكه) چه پيدا كړې دې يم زه د اُور نه او پيدا كړې دې آدم د خاورونه

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ﴾ داتمهيددې مضمون دنفى دتحريمات غيرالله ته. حاصل ني دادې چه الله تعالى فرمائ چه ما آدم عليه السلام پيداكړو اوفرشتوته مې دسجدې حكم اوكړواوابليس دنافرمانئې په جه ملعون شوو اودآدم عليه السلام ادوحواء. سره ئې دشمنى شروع كړه اودوئ نه ئې وسوسې واچولې اوپه جنت كنبې ئې ترينه لباس كېږې. اوباسلى اودجنت نه ئې باهرته راؤباسل. اوس ستاسونه په كعبه كنبې كېږې اوباسى. اوتاسوته وائى جه به حالت دطواف

کې خپلې کېږې مه اغونديې، دادګناه کېږې دي . نو لکه چه څه رنګه ئې ستاسو دنيا نيکه
په جنت کښې کېږې اوباسلې دی نو دغسې ستاسونه په حالت دطواف دبيت الله کښې
کېږې اوباسل غواړي، حاصل داچه داتمهيد دې نفی دشرک فعلي. (تحريمات غيرالله) ته . د
(خلقنکم)) معنی داده ((خلقنا اباءکم طيناً غيرمصوّر)) ﴿ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ﴾ ((ای صورنا آباءکم ثم
قلناللملائکة - الخ)) دآدم خلقت اوتصويرنازل کړې شو په منزله دخلقت اود دتصوير دبنی آدم .
ځکه هغه ابوالبشردې. يا مراد د ((خلقنکم)) نه خلق دې په صُلب الاباء کښې. اود ((صورنکم))
نه مراد فی ارحام النساء دې، يادخلق نه مرادپيداکول دمادې دانسان دی په مختلفواطوارو
د نطفه، علقه، مضغه، اودصورت نه مراد صورت انسانی دې لکه ﴿ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ﴾ او
ن په دې دواړوتوجيهينوسره ﴿ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ﴾ (ثم) دتراخی ذکردپاره دی. دتراخی زمانی
دپاره نه دې ځکه چه واقعه دسجود دملائکو آدم عليه السلام ته دبنی آدم دخلق نه مخکښې وه

﴿مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ﴾ لازائده دې لکه په سورت ص ۲۵ کښې بغيرد لا. نه راغليدې يادلته
تقديردې ((ای مامنعک عن السجود ان لاتسجد)) يا مَنَعَکَ په معنی داحوج، اضطرک. سره دې
ځکه چه څوک منع کړيشی نوهغه مضطرشی خلاف ته، معنی داچه ته څه څيز مجبورکړې په
سجده نه کولوباندې، ﴿إِذْ أَمَرْتُكَ﴾ ددينه معلومه شوه چه ابليس ته هم امرشوې وو. ﴿قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ
مِّنْهُ﴾ داجواب په ظاهرکښې دسوال سره مطابق نه دې، ځکه سوال شوې ووپه باره دمنع عن
السجودکښې، اوپه جواب کښې ئې دغوره والی ذکردې، ليکن داجواب فی الحقيقت بحسب
المعنی مطابق دې دسوال سره، يعنی مانع دادې چه زه افضل اوغوره يم، اوافضل خومفضول
ته سجده نه کوی بلکه پکارده چه مفضول دې افضل ته سجده اوکړی، نوآدم عليه السلام دې ماته
سجده اوکړی . دلعين جواب په دوؤ مقدمتينو باندې مشتمل دې (صغری، کبری) اول داچه
زه افضل يم، دويم داچه دَ افضل مفضول ته سجده مناسب نه ده، اوبنياددې جواب
کبراوحسددې اودواړه مقدمتين عقلاً اونقلاً باطل دی. نقلاً خوظاهره ده اوعقلاً له دې وجې
نه چه کله ديومصلحت دپاره دې افضل مفضول ته سجده اوکړی چه هغه مصلحت حاصل شی)
نوکبری غلط دې) اوداخبره دَ لعين چه زه غوره يم نوددې دليل داسې وائی چه ﴿خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ
وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ﴾ چه زه دنارنه پيدايم اونارغوره دې اوڅوک چه دغوره نه پيداوی نوهغه هم

غوره او افضل وی اوآدم علیه السلام د خاوري نه پیدادي. اوخاوره مفضول، ناغوره، ده اودمفضول نه پیداشوي څیزهم مفضول او ناغوره وی- نودادلیل هم نقلا اوعقلاباطل دي نقلاځکه دی اوعقلاله دې وجې نه چه اول خوداخبره غلطه ده چه نارافضل دې دخاوري نه بلکه خاوره غوره ځکه په دې کښې حلم، وقار،صبر تواضع صفات دی اوپه نار کښې خفت ،حدةوارتفاع دی. نوظاهره ده چه دخاوري صفات دنارنه ډیرغوره دی . اوهمدارنګه دخاوري نه میوې، ګلونه فصلونه اوډیرپیداوارکیږی . اوپه نار کښې دا فوائد نشته دي. اودویم داچه داخبره غلطه ده چه څوک دغوره نه پیداوی هغه به هم غوره وی، بلکه کله دافضل نه مفضول پیداشي اودارنګه بالعکس دنوح علیه السلام نه کنعان پیدادي اودآزرنه ابراهیم علیه السلام پیدادي.

فائده لعین دصریح حکم انکارکړیدي اودصریح نص په مقابله کښې ئی عقلی قیاس ذکرکړیدي، نوداشرعی قیاس نه دي. شرعی قیاس حجت شرعی دي. قرطبی وئیلیدی چه په دي باندي دامت اجماع ده، چه قیاس دلیل شرعی دي اوددي دپاره ئي دلائل اونظائر ذکر کړیدی، البته دصریحی نص په مقابله کښي قیاس کول فعل دابلیس دي. لیکن دمجتهدینو قیاس، دنص په مقابله کښي نه وی بلکه علت دقیاس مستنبط وی دنص نه. نوداسي قیاس دنص مقابل ګرځول جهالت دي

قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ
وفرمایل الله تعالی پس کوز شه د دې ځائ نه پس ندی مناسب تالره چه لوئی وکړې ته پدې ځائ کښي. پس وزه
اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ قَالَ اَنْظِرْنِيْۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴﴾ قَالَ
بیشکه ته د ذلیلانونه ئی . وه ویل ده مهلت راکړه ماله د ورځي د بیا ژوندیکیدلو پوري وه ویل الله پاك
اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۱۵﴾ قَالَ فَبِمَاۤ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ
بیشکه ته د مهلت درکړي شوؤ نه ئي. نو ده وه ویل نو پس په سبب د دې چه تا زه ګمراه کړم خامخا به کینم زه
لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ
دوئ ته د ډاکو په شان په نیغه لار ستا بیا به خامخا رازم دوئ ته د مخکښي طرف د دوئ نه او د شا د طرف د دوئ نه

وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ۝

د ښي طرف د دوئ نه او د ګس طرف د دوئ نه. اونه به مومې ته اکثر د دوئ نه اطاعت کوونکي

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ

وفرمائیل الله تعالی وزه د دې ځای نه بد ویلې شوې رټلې شوې. خامخا چاچه تابعداري وکړه ستا د دوئ نه

لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ۝

خامخ ډك به کړم جهنم ستاسو ټولونه

﴿ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا ﴾ ضمیریاراجع دې جنت ته. یاراجع دې منزلې اومرتبې یعنی ذلیل شه. یاراجع دې اسمان ته. درمنثورپه روایت دابن جریرسره نقل کړیدی چه جناتو شرارت اوکړونوفرشتودوئی ته سزاورکړه اوئی شړل- اوابلیس په دوئی کښې وړوکي بچي وو. نوفرشتو آسمان ته اوچت کړو(ناری اونوری دواړه چونکه لطیف دی) نودفرشتو سره یوزائی په عبادت کښې مشغول وو. نوچه دسجدې کولوحکم اوشو نوفرشتودحکم تعمیل اوکړو اوابلیس دانکارپه وجې ملعون شو نوحکم ورته اوشوچه چه دآسمانونو نه خارج شه

﴿ فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا ﴾ دابلیس دانکارکولواصلی وجه تکبراوحسدوو تکبرمطلقاً مذموم اوبددې لیکن په مجلس دمطیعینوکښې زیات مذموم دې نواسمانونه محل دمطیعینودې نوددې تخصیص ځکه اوشوچه دلته ګناه اوتکبر زیات قبیح دې. لکه چاته چه اوئیلې شی چه په مسجدکښې غیبت مه کوه داګناه دې مقصودداوی چه په مسجدکښې غیبت کول زیات ګناه اوزیات قبیح دې، اوپه ﴿ إِنَّكَ مِنَ الصَّٰغِرِينَ ﴾ کښې یواشاره ده دیته چه داهبوط په طریقه دذلت سره دې اوپه خلاف دهبوط دآدم علیه السلام نه چه هغه په طریقه د ذلت سره نه دې. اوبل اشاره ده دیته چه بدله دتکبرذلت دې. ﴿ قَالَ أَنظِرْنِي ﴾ شیطان مهلت طلب کړو دیوم البعث پورې دپاره ددې چه دمرګ نه بچ شی اوانسانان ګمراه کړی لیکن الله تعالی ورته مهلت ورکړو دیوم الفناء پورې یعنی دنفخ اولی پورې لکه په سورت حجرکښې ((الی یوم الوقت المعلوم)) دې. اوددې آیت نه هم معلومیږی چه مهلت ورته د نفخ اولی پورې ورکړی شوې دې ځکه د ﴿ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴾ نه معلومیږی چه نورخلق به هم موجودوی. نودابلیس

دعاقبوله شوه خوناتمامه قبوله شوه، اودابليس دعاقبليدل اوده ته مهلت ورکيدل. په دې
کښې دالله جل جلاله دِ رحمکتونه دی اودانسانانو ابتلاء اوامتحان دې. اوددې آيت نه داهم
معلومه شوه چه دعادکافرقبليدې شی، اوپه کوم آيت کښې چه راغليدی ﴿وَمَادُعَٰٓؤُاْ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي
ضَلَٰلٍ﴾ نومراد ترينه دادې چه کفارچه په جهنم کښې دالله تعالى نه سوال اوکړی دنجات
نودغه دعانه قبليږی، دامعنی نه ده چه دکافرهيڅ دعانه قبليږی.

﴿قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي﴾ باء سببيه ده اومامصدريه دې ((ای بسبب اغوائک ایای))، اوداعلت دې
د (لاقعدنّ) دپاره يا باء قسميه ده او(لاقعدن) جواب قسم دې،، حضرت تهانوی رحمه الله او
نور علماء وائی چه دا دَ قهرالهی انتهائی سخت مظهردې چه ابليس ملعون مطرود شو نوپه
دې وجې سره يوداسې حجاب حائل شو چه دالله تعالی عظمت اوجلال دده نه مستورشو اوبی
حيائی پهٔ ده مسلطه شوه، نودداسې قسم کلام کولوجرات ئی اوکړو چه دلته مذکوردې ﴿
لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ﴾ مراد دقعود نه کيناستل دی دګمراه کولو اودايمان لوټ کولودپاره لکه ډاکو.
قطاع الطريق چه ډاکه کولودپاره په لاره کښې کينی ((لهم)) په معنی د ((لاضلالهم ولاغوائهم))
سره دې. ﴿صِرَٰطَكَ﴾ منصوب دې بِناپه ظرفية. ياعلی مقدردې اوصراط مستقيم هغه لاره
چه هغې باندې تللوسره وصول الی الله کيږی چه ابتداء دهغې لااله الاالله (توحيد) دې ﴿
لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ﴾ يعنی دوئ ته وسوسې اچولو دپاره به دَ څلورو اطرافونه رازم. مخکښې
طرف، شاطرف، يمين، يسار، شيطان دفوق نه نشی راتلې ځکه دفوق طرف نه رحمت راځی،
اوتحت نه هم نشی راتلې دوجې دتکبرنه. اوبعض وائی چه داکنايه ده دټولو اطرافو جوانبونه
يعنی احاطه ترينه مراد ده اوبعض وائی چه د﴿مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ﴾ نه مراد انکاردې دقيامت نه اود
﴿خَلۡفِهِمۡ﴾ نه مرادمشغول کول اومتوجه کول دی دنياته اود﴿أَيۡمَٰنِهِمۡ﴾ نه مرادمنع کول دی
دحسناتونه. او د (شمائلهم) نه مرادمبتلاء کول دی په معاصيو کښې يادیمين نه مرادقوی دې
يعنی حاکم اومالدار به په ظلم اوګناه اماده کوم، اودشمال نه مرادضعيف، محکوم. غريب
دې يعنی هغه به په سرقه .خيانت وغيره باندې اماده کوم. ﴿شَٰكِرِينَ﴾ ((ای موحدين)) (خازن
ابن کثير، ((مطيعين)) (جامع البيان ، شربينی) اوکه څوک **سوال** اوکړی چه لعين خبيث ته دغه

علم څه رنګه حاصل شو چه اکثر به په دوئ کښې ناشکري کونکي وي. جواب (۱). دا په طريقه د ظن سره لکه ﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ ﴾ (سبا ۲۰). ځکه چه ده ته معلومه شوه چه مبدا الشر په انسان کښې متعدد امور دي شيطان، نفس، هوی. او مبداء الخير ملک ملهم دی.
(۲) اويائي دا د ملائکو نه اوريدلي دي. ﴿ قَالَ اخْرُجْ ﴾ دا دعاده بعد عهد ده. اول حکم د خروج په طريقه د فيصلې سره وو او دا حکم نافذ کول دا مردي. يا اول حکم دا خراج وو د جنت نه او دويم حکم خروج دې د آسمان نه. ﴿ مَذْءُومًا ﴾ په معنی د مذموم سره دې. ذام. اشد العيب دې سره د حقارت نه. (محقوراً ممقوتا) ﴿ مَّدْحُورًا ﴾ ای مطروداً. شړلې شوې او رټلې شوې د رحمت الهی نه.
﴿ لَّمَن تَبِعَكَ ﴾ لام موطئه للقسم دې او دا تخويف دې انسانانو ته په اتباع د شيطان باندې
﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ ﴾ دا جواب قسم او سد مسد د جواب شرط دې ﴿ مِنكُمْ ﴾ نه مراد ابليس او ذريت دده، او اتباع دده دي

وَيَآدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا

او اې آدم او سيږه ته او بی بی ستا په جنت کښې پس خورئ دهغې ځائ نه چه خوښه وی ستاسې او نږدې مه ورزئ

هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّٰلِمِينَ ۝ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَٰنُ

دې ونې ته (کنی) پس شئ به تاسې د ظلم کونکو په خيل خان   پس وسوسه واچوله دې دواړو ته شيطان.

لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا

انجام ئې دا شو چه ښکاره شي دوئ ته هغه چه پټ وؤ د دوئ نه، عورتونه د دوئ. او ووې ويل چه نه يئ منع کړی تاسو دواړه

رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَٰلِدِينَ ۝

رب ستاسې د دې ونې نه مګر لپاره د احتياط د دې نه چه شئ به تاسو ملائکې يا به شئ تاسو دهميشه تاسې کيدونکو نه

وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّٰصِحِينَ ۝ فَدَلَّىٰهُمَا

او قسم ئې ورکړو دې دواړو ته چه بيشکه زه ستاسو لپاره د خير خواهانو نه يم. نو پس لاندې مرتبې ته ئې راکوز کړل دواړه

بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا

په دهوکې سره پس هرکله چه اوڅکله دوئ ونه. ښکاره شو دواړو ته عورتونه د دوئ او شروع سو دواړه

يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا

چه نګولی ئی په خان باندې د پاڼو د جنت نه. او آواز ورکړو دواړوته رب د دوئ آیا ما نه وئ منع کړی تاسو

عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۲﴾

ددې ونې نه؟ او نه وو ویلی ما تاسو ته چه بیشکه شیطان ستاسو دشمن ښکاره دی

﴿ وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ ﴾ دابیان د اعزاز دآدم علیہ السلام دی اواظهاردانعام الهی دي په آدم علیہ السلام چه سیطان ورته تحقیرکړي وو. ﴿وَلَا تَقْرَبَا﴾ مرادنهی دقربان نزدې کیدلو، عمداً اوقصداً ده چه هغه سبب دظلم دي. سهوه نسیان دنهی ماتحت نه راځی نو هغه سبب دظلم نه دي حقیقةً بلکه په سهوه نسیان سره قربان صورةً ظلم دي نه حقیقةً ﴿ فَوَسْوَسَ ﴾په دې آیت کښې دوسوسې ذکردې سره دتفصیل نه. اوکه څوک **سوال** اوکړی چه ابلیس خودجنت نه خارج شونوبیائی وسوسه څه رنګه واچوله . **جواب** کیدې شی چه دخروج نه مخکښې ئی وسوسه اچولی وی. چه الله تعالی آدم علیہ السلام ته د ((اسکن)) حکم اوکړواوابلیس ته ئی د ((اخرج)) حکم وکړو نومتصل ئی وسوسه واچوله. اودلالت کوی په دې باندې. فاء چه دتعقیب مع الوصل دپاره ده. اوداهم کیدې شی چه ددروازې دجنت نه ئی ورته وسوسه اچولی وی. اوداهم کیدې شی چه دلرې نه ئی په څه ذریعه سره (موبائل.فون) وسوسه اچولی وی ﴿لِيُبْدِيَ﴾ لام عاقبت دي یعنی انجام ئی داشوچه چه ظاهرشو عورتونه ددوئ . یالام دعلت دي اولعین ته مخکښې ددې خبرې علم حاصل وو چه عصیان اګرکه جنت کښې وی خوداسبب دې دسلب دلباس اونورونعمتونو دپاره ﴿مَا وٗرِيَ﴾ ای غطی. یعنی هغه چه پټ کړې شوی وو. په صیغه دمجهول کښې اشاره ده دېته چه عورت دانسان طبعاً فطرةً پټ والي غواړی اوښکاره کول ئی بد اومخالف دی دفطرت انسانی نه . ﴿سَوْءٰتِهِمَا﴾ دسوء نه ماخوذدې دبدن هغه حصه ته وئیلې شی چه دهغې په ښکاره کیدلو سره انسان فطرةً خفه کیږی ﴿وَقَالَ﴾ داتفصیل د وسوسې دي ﴿اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا﴾

(ای الا کراهة ان تکونا)). ﴿ مَلَكَيْنِ ﴾ یعنی تاسوته به قوة ملکی حاصل شی لکه استغناء
عن غذاء نه وغیره یابه مشابهت ستاسو د ملائکوسره راشي په ډیرو صفتونو کښې. چه غذا ته
به ضرورت نه وی.عمر به ډیروی. قدرت به لرئ په هرقسم شکلونو جوړلو . اوپه یوآن کښې
به طویل مسافت قطع کولو .﴿ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ ﴾ داترقی ده دماقبل ((ای بل تکونامن الخلدین))
د مرګ اوفناء نه به هم بچ شئ. یعنی په اکل دشجره کښې دغه فائدې دی چه ماته معلوم دی
ځکه چه زه ستاسونه مخکښې پیداشوی یم،(مشریم) ځما تجربې. معلومات ډیردې. ځما خبره
اومنئ. نوداخبرې ئی ورته دخیر خواهئ په لهجه کښې پیش کړې اوبیائی ورته په دې باندې
قسم هم اوکړو. اوآدم علیه السلام اوحواء ددینه مخکښې دروغ نه وو اوریدلی. اوداګمان ئی نه وو چه
څوک به د الله تعالی په نوم باندې په دروغه قسم خوری. نوځکه ئی ورته تصدیق اوکړو

﴿ وَقَاسَمَهُمَا ﴾ داصیغه دباب مفاعله ده مفاعله د طرفینونه وی. نو دلته ابلیس قسم کړې
دې او آدم اوحواء تصدیق د قسم کړیدې نوګویا کښې قسم دطریفینوه وشو .(مدارک). یاباب
مفاعله دمبالغ دپاره ده یعنی ډیر کلک قسم ئی ورته اوکړو ﴿ فَدَلَّاهُمَا ﴾ ښکته ئی را کوز کړل
مرتبې د اطاعت نه معصیت ته. ((دلی الدلوفی البئر)) نه ماخوذدې. اوبعض وائی چه معنی ئی
داده چه طمع ئی ورکړه دواړوته، دا ماخوذ دې دتدلیة العطشان نه. داهلته وئیلې شی چه
څوک کوهی ته داوبوپه طمع لاړشی اواوبه ورته ملاؤنه شی. ﴿ فَلَمَّا ذَاقَا ﴾ ددینه مراداکل قلیل
دې ﴿ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا ﴾ دادجمهوروپه نیزپه ظاهرمحمول دې چه حقیقةً کپړې دبدن نه
جداشوې وې په قرینه دمابعد سره چه

﴿ وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ ﴾ ای یلزقان. پیوست کولې. اوګنډل ئی پاڼې دیوبل سره دپاره ددې
چه په هینت دجامو شی. ﴿ عَلَيْهِمَا ﴾ ضمیرراجع دې آدم اوحواء علیهما السلام ته، اومضاف
مقدر دې ((ای علی سوأتهما)) یا ((بدنهما)) یا ضمیر راجع دې ((سوأتهما)) ته نوحاجت نشته
دې تقدیر دمضاف ته

فائده داالله تعالی اولاددادم علیه السلام ته یونمونه پیش کړه . چه په جنت کښې .لباس.
اونورنعمتونه انسان ته پخپله راځی لیکن هرکله چه دالله تعالی دحکم خلاف اوکړې شو.
نونعمتونه سلب شو ،اودسترپه ځائې کشف ،اودجلب دنعمتونویه ځائې سلب راغی.

نو طاعت جالب دنعمتونو او ساتر دعيوبو دي او معصيت سالب دنعمتونو او كاشف دعيوبو دي امام رازى اونورمفسرين حضرات وائى چه ددې نه معلومه شوه چه شرم، حجاب دانسان دپاره فطرى اوطبعى امر دې اوبى شرمى، بى حجابى. انسان دانسانيت نه ابليسيت طرف ته بنكته راغورزوى او بى حجابى طبعًا او عقلاً مستهجن اوقبيح كار او د انسانيت خلاف دې

﴿عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ﴾ ((تل)) په اصل كښې ((تى)) دې د اسم اشاره ده واحد مؤنث دپاره يا ورسره لام ساكن دبُعد دپاره ضم شو. نو د التقاء دساكنينو دوجې نه (ياء) حذف شوه نو تل پاتې شو. او (كما) ضمير ـ تثنيه دلالت كوى په حال دمخاطب. دلته مشاراليه واحدمؤنث دې چه شجره ده. اومخاطبين دوه دى. نوددې وجې نه اسم اشاره د واحدمؤنث اوضميرد تثنيه ذكر شو. ﴿تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ﴾ معنى داده. دغه ونه تاسو دواړو ته وايم

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا

وه ويل دواړو اې ربه زمونږ نقصان كړيدې مونږ د خپلو ځانونو. اوكه بښنه ونكړې ته مونږ ته او رحم ونكړې په مونږ

لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

خامخا شو به مونږ د تاوان والوڅ نه وفرمايل الله تعالى چه كوز شئ بعضې ستاسې د نورو بعضو لپاره دُشمنان به وى

وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ۝ قَالَ

او ستاسو لپاره په زمكه كښې ځائ د اُوسيدلو دې او نفع اخستل دى تر يووخت پورې وفرمايل الله تعالى

فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ۝

چه په دې زمكه كښې به تاسو ژوند تيروئ او پدې كښې به مره كيږئ او د دينه به راوباسلې شئ

﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا﴾ حضرت ادم عليه السلام اوحواء نهايت تضرع اوعجزى پيش كوى (ربنا) په حذف دحرف نداسره دې، اوحذف دحرف ندادپاره دمبالغې فى التعظيم دې، ځكه په نداء كښې معنى دطلب اودامروى، نداء طلب الاقبال. ته وائى، نوحرف نداء حذف شو دپاره داحترازدامرنه. اوظلم په معنى دضررياد نقصان سره دې يعنى دحكم دخلاف كولو په وجه. مونږ خپل ځان ته ضرروررسوٙ چه دجنت نه خارج شو. تاته څه ضررنشى رسيدلى

﴿وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا﴾ داطلب دمغفرت دي. اوصيغه دامر(اگركه ددعادپاره وي) ذكر نشوه
دمبالغې په تعظيم د رب اوپه تضرع خپله كښ د (غفر) نه مراد ستر د ذنب اودعيب دې
درحم نه مراد ، احسانات كول دي، يعني ستانه ماسوى زمونږ هيڅ اسره (سهاره) نشته دې.
زمونږ په عيوبو پرده واچوه. اوزمونږ سره احسانات اوكړه. اوكه ته مغفرت اورحم اونكړې
زمونږ به ډيرنقصان مندشو ، نوداسوال دي په طريقه دعريضه پيش كولوسره دپاره دمبالغې
تضرع اوعاجزئ كښ

فايده دائمواربعؤاوسلفوانفاق دي په دې خبره چه انبياء عليهم الصلات والتسليمات
معصوم دی دهرقسم گناه نه قبل دنبوت نه هم اوپس دنبوت نه هم. نوپه كومونصوصوكښې
چه دنبي په شان كښې لفظ د (ذنب) يا د (عصيان) راغلې دي يادمغفرت ذكروى لكه په دې
آيت كښې نواكثر اهل سنت وائى چه د((ذنب. سيئه .معصيت)) دپاره دمتفاوت افراد .
درجات دی. گويا دا يوكلي مشكك دې چه افرادئې متفاوت دی، دنبي ذنب. معصيت او
سيئه په اصل كښې حسنه وى فى نفسه، خودهغه دلوئ شان سره مناسب نه وى ځكه چه دهغه
شان سره ((احسن)) مناسب وى، نود احسن ترک اوپه حسن اتيان كول گوياكه دهغوئ دپاره
معصية. اوسيئه ده او ددې وجې نه وئيلې شى ((حسنات الابرارسيئات المقربين)) چه دعامو
نيكانو حسنه. داعلى درجې نيكانو. مقربينو دپاره سيئه ده نودهغوئ يوفعل ته. سيئه وئيل
دا په حقيقت كښې دهغوئ اعلى رتبى اومقام ته اشاره ده. اونه ده سيئه دمقربينوپه شان
سيئه دعوامو. دا صرف اشتراک لفظى دې حقيقت ددواړوجداجدادې. اوهم دغه شان
((مغفرت)) او((توبه)) دخواصوعفوه دگناه نه وى، گناه خونشته دې. بلكه توبه .اومغفرت.
دخواصو.په حقيقت كښې رفع ددرجاتوددوئ وى. اودارنگه چه انبياؤ خپل ځان ته دظلم
معصيت نسبت كړې دې نودا دكسر نفسى اوتضرع دپاره علامه شربينى وائى. عادت
دمقربينو دادې چه ((استعظام الصغيرمن السيئات ،وتحقيرالعظيم من الحسنات)) صغيره سيئه
خلاف الاولى ورته كبيره ښكارى، اوكبيره حسنه ورته حقيره ښكارى. علامه الوسى وائى.
((والكثيرمن اهل السنة جعلوه من باب هضم النفس بناء على ان ماوقع كان عن نسيان ولاكبيرة
ولاصغيرة معه)). علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله وائى چه مخالفت دامرتشريعى اونهى
تشريعى نه.معصيت گنړلې شى. ليكن كوم امراونهى چه دشفقت دپاره وى لكه مريض ته چه
اووئيلې شى داقسم خوراک ستا دپاره مفيددې داخوره . او دا بل قسم خوراک مفيد نه دې

پرهيز ترينه اوکره. لکه دا قسم امرنهي په نبوي طب اونوروډيرواحاديثوکښې موجودي.
خومقصود ترينه تشريع نه وي بلکه دشفقت .اودل سوزئ په بناء وي نوددي قسم امر. نهي
مخالف . معصيت نشي ګڼرلي. نوکيد شي چه نهي داکل دشجرې نه هم داقسم وي .څکه
جنت دارتکليف نه دي او د ﴿فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰ﴾ (طه) نه هم اشارة معلوميږي .

﴿قَالَ اهْبِطُوا﴾ دقبول دتوبې نه پس دهبوط حکم کښې اشاره ده چه داخروج دجنت نه به طور
داعزاز نه وه دي څکه چه خلافت اعزاز دي اودا خروج په طور دذلت سره نه دي. او ضمير د
جمع نه مراد آدم عليه السلام حواء. اوابليس دى يا خطاب فقط آدم او حواء ته دي او د جمع نه مراد
تثنيه ده لکه په سورة «طه» کښې ((اهبطا)) په صيغه دتثنيه سره دي. يا داجمع په
اعتباردذريت سره ده څکه دوئ مشتمل دي په خپل اولادباندي. ﴿بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ﴾ يعنى
ابليس ستاسواوستاسوداولاددپاره .ازلي ابدي دشمن دي. صرف په دي ضرر رسولو سره د
ده دشمنى نه ده ختمه اوزره ئې نه دي يخ شوي. ترڅوچه ستا اولاد ئي جهنم ته نه وي رسولي .
يا دامعنى ده چه په زمکه کښې به ستاسو اولاد ديوبل دپاره دشمنان وى نودا روحاني تکليف
دي. آدم اوحواء ته. اودجنت نه راوباسل جسماني تکليف وو. ﴿وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ
حِينٍ﴾ تسلي ده چه دا تکليف دلګ وخت پوري دي ((حين)) نه مراد. وقت الموت. دي يا
انقطاع الدنيا مراد ده، دثابت بناني رحمه الله نه منقول دی چه حضرت آدم عليه السلام چه زمکي ته
راکوزشو اودوفات وخت ئي راغلو نوفرشتي ترينه چاپيره شوې. اوحضرت حواء ترينه
چاپيره ګرزيدله . نوحضرت آدم حضرت حواء ته اوويئيل چه ته بيرته شه فرشتي درب خما ماته
پريږده. ماته چه څه تکليف رارسيدلي دي نوستا دوجې نه را رسيدلي دي. نو بيا چه کله
وفات شو نوفرشتو ورته غسل ورکړو په اوبوسره اود بيري په پانړوسره. اوخوشبوئ يې
اولګوله اوکفن ئې ورته ورکړو. په دري کپړوکښې .اولحدئې ورته جوړکړو او په سرانديب
کښې ئې دفن کړو. اولاد ته ئې ورته اوويئيل چه دا ستاسوطريقه ده روستو ددي نه. ﴿قَالَ فِيهَا
تَحْيَوْنَ﴾ الله جل جلاله دوئ ته اوفرمائيل چه په زمکه کښې به ستاسوحيات وى اوپه زمکه
کښې به ستاسو ممات اوقبور وى اودزمکي نه به دقيامت په ورځ پورته کيږئ دحساب
اوجزاء دپاره. اومراد دحيات نه حيات متعارفه دي چه داپه زمکه کښې وى ليکن که

غيرمتعارف حيات يعنی حيات په طريقه دخرق عادت سره دزمکې نه علاوه په آسمانونو کښې وی نو د دې نفی نشته دې نو اعتراض نه راځي په حيات دعيسی عليه السلام په اسمان کښې ځکه چه هغه په طريقه دخرق عادت سره دې

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ

ای اولاده د آدم [1] په تحقيق سره مونږ پيدا کړيدی ستاسو لپاره لباس چه پټوی عورتونه ستاسو او لباس د ښائست.

وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾

او لباس د تقوی دا خو ډير غوره دي . دا د نښانو د الله تعالی نه دی د دې لپاره چه دوئ نصيحت قبول کړي

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ

ای اولاده د آدم : [2] دهوکه دې نکړی تاسو لره شيطان لکه چه راوباسلی ئې ووٴ مور اوپلار ستاسې د جنت نه

يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ

وېستلي ئې د هغوئ نه جامې دهغوئ. د دې لپاره چه ښکاره کړي هغوئ ته عورتونه د دوئ. بيشکه دی وينی تاسو لره.

هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ

دې او اولاد د ده . په داسې طريقې چه نه وينئ تاسو دوئ لره . بيشکه مونږ گرزولی دی شيطانان دوستان

لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾

دهغه خلقو لپاره چه ايمان نه راوړی

﴿ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا ﴾ دتمهيدنه پس دَ امرمقصودی يعنی نفی د ترک فعلی ذکر دې. دلته خطاب په ((يابنی ادم)) سره څلور وارې شويدې دااول ځل خطاب دې مطلب ئې دادی چه لباس الله تعالی ددې دپاره پيدا کړې دې چه تاسو په دې سره ستر دعورت اوکړئ. لهذا بربنډ طواف مه کوئ .((انزلنا)) په معنی د (خلقنا) سره دې اوتعبير په (انزلنا) سره يا د دې

[1] د تمهيد نه بعد د اول امر مقصودی ذکر
[2] دوېم امر مقصودی

وجي نه اوشو چه اسباب دپيداکيدلو دلباس اسماني دی. لکه باران ورول اودهغي په ذريعي سره بوټي اوريښم .اوربړ. وغيره پيداکيدل نولباس صرف مصنوعي شئ نه دي يادوي وجي نه چه دزمکې هربرکت منسوب کيږی آسمان ته. دلته دلباس دوه فائدې ذکرشويد اوله فائده ستر دعورت دي. اوداډيراهم اوضروری دي نوددي وجي نه اول ذکرشو اوپه صيغه دفعل سره ذکرشو. نوکوم جديد لباس اوفيشن دنارينو يادزنانو چه په هغې کښې داعضاؤ .هيئت ظاهرکيږی نواګرکه جلدټرمن، په نظرنه راځي خوپه دي سره ستر د عورت مکمل نه حاصليږی نوداقسم لباس. لباس شرعی نه دي، اودويمه فائده دلباس دباقی بدن ټول دزينت دپاره. زينت تجمل چه دکبرپه وجې نه وی نومسنون اوموجب دثواب دي.لقوله تعالی ﴿خُذُوا زِينَتَكُمْ﴾ اوپه روايت دبخاری وغيره کښې دی چه نبی صلی الله عليه وسلم فرمائی ((كُلْ ماشئت والبسْ ماشئْت ما اخطأتك خصلتان سرف ومخيلة))

ترجمه چه زړه دي څه غواړی هغه خوره اوچه زړه دي څه غواړی هغه اغونده په شرط ددي چه ددوؤ خبرونه ځان بچ ساتي يواسراف اوبل تکبراوپه بل روايت کښې دی ((انَّ الله تعالی اِذَا انعمَ علی عبدٍ احبُّ انْ يَرٰی اَثَرَنِعْمَتِهٖ عَلَيْهِ)) .

ترجمه الله تعالی چه کله په بنده انعام اوکړی نوپه دي خوشحاليږی چه دخپل نعمت اثرپه هغه اووينی. په بل روايت کښي دی : ((ان الله جميل يحب الجمال)) الله جميل دي جمال خوښوی

﴿وَرِيشًا﴾ دامنصوب دي عطف دي په ﴿يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ﴾ باندي نودلباس دوه صفته بيان شو چه يوستردي اوبل زينت دي، يا دا بيان دلباس ثاني دي، نومعنی داده چه ((انزلناعليکم لباسين)) نولباسين مقدردي، احدهما لباسًا يواری سواتکم، وثانيهما لباسًا ريشًا، ای ذاريش)) ولفظ د ((ريش)) مصدر هم مستعمليږی اواسم هم مستعمليږی داپه اصل کښې ريش الطير .دمرغئ وزر، نه وانی مرادترينه زينت دي لکه چه ريش الطير دهغه دپاره زينت وی. اودمجاهد رحمه الله اوسدی رحمه الله نه مروی ده چه مرادترينه مال دي، راشي، مرتشي. مال ورکونکي اخستونکي. رانش چه ديونه مال اخلی اوبل ته ئ ورکوی (دلال) چه په حديث کښې مذکوردی هغه هم ددينه ماخوذ دی

﴿وَلِبَاسُ التَّقْوٰى﴾ ماقبل دحسي لباس بيان وو. اودلته دمعنوی لباس ذکردي. دالفظ سه

نصب سره هم راغلیدې، عطف دې په لباس باندې، اووپه رفع سره هم راغلیدې نو دامبتداء ده
﴿خَيْرٌ﴾ ورته خبردې اولفظ د ﴿ذَٰلِكَ﴾ رابط دې ځکه چه اسم اشاره په شان دضمیرده نو
رابط کیدې. شی یاصفت دلباس دې، دلباس التقوی په معنی کښې مختلف اقوال دی. (۱)
عمل صالح(۲) خشیة دَ الله تعالی. (۳) حیاء(۴) ایمان(۵) ښه اخلاق عادات. معنی داده چه
التقوی والالباس خوډیر غوره دې دحسی لباس نه، ځکه چه دظاهری لباس په لرې کیدلو سره
کشف دصرف عورت حسی رازی اودمعنوی لباس په لرې کیدلو سره کشف دعورت حسی
اومعنوی دواړو رازیږي، اوپه ظاهری لباس سره عارضی حسن وجمال رازی خوپه معنوی لباس
سره دائمی حقیقی حسن اوجمال رازی. (شعر)

اذا انت لم تلبس ثیابا من التقی | عریتَ وان واری القمیصَ قمیصُ

(وقال ایضا)

لیس الجمال باثواب تزیّنها | بل الجمال جمال العلم والادب

اوبعض وائی چه لباس التقوی هغه جامه ده چه دشرع مطابق وی. چه شریعت دهغې
داستعمال اجازت ورکړې وی لکه په احادیثوکښې اودفقه په کتابونوکښې په تفصیل سره ئې
ذکرراغلیدې اوستردعورت پرې هم راځي.

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ﴾ دا دویم خطاب اوامرمقصودی دې. خطاب اولاً
مشرکین عربوته دې اوبالواسطه تمام اولاددادم ته دې چه شیطان دې تاسوپه فریب اودهوکې
سره گمراه نه کړی، ستاسو،نیا،نیکه، ته ئی په جنت کښې دهوکه ورکړه اوجامې ئې ترینه
اوباسلې. اوس ستاسونه دلته په خانه کعبه کښې جامې اوباسی. مشرکین به چه حج له راغله
نوبه خپلوجاموکښې به ئی دبیت الله طواف نه کوو. دابه ئی وئیل چه دادگناه جامې دی نوبه
دې کښې مونږ طواف نه کوو. قریشودمکې به ورته جامې ورکولې اوپه هغې کښې به ئې طواف
کولو. لیکن ظاهره خبره ده چه هغه ټولوخلقودپاره نه کافی کیدلې نودوئ به بربنډ طواف
کوو. اوخپلې جامې اغوستل به ئی حرام گنړل، نارینۀ اوزنانۀ ټولوبه عریاناً دخانه کعبی نه
طواف کولو. اوداشعربه ئی وئیلو

الیوم یبدوکله اوبعضه | فما بدا منه فلا احـــــله

احلال معنی بی حرمتی قابل عذاب گنړل. یعنی نن ورځ به یاټول عورت ښکاره ک

یې بعض. لیکن عورت بربنډول بې حرمتي نه ګنړو. اوددې وجې نه نبي صلی الله علیه وسلم دحجة الوداع نه قبل حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه امیرکړواواوئې لیګلو چه په مواسم الحج کښې څواعلانات اوکړي، منجمله دهغه اعلاناتونه داوو. ((ولایطوفن بالبیت عریان)). چه دانندې دپاره څوک عریانًا طواف اونه کړي. داخراج نسبت اود (ینزع) او (یری) نسبتونه مجازاً دي په طریقه دسببیت سره ﴿وَقَبِيلُهُ﴾ نه مراد (جنوده، ذریته) دي اوددې نه معلومه شوه چه دابلیس اولاداونسل شته دي.

﴿مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ یعنی شیطان اودهغه ذریت تاسووینئ په داسې طریقې سره .یا داسې ځائ نه چه تاسوئې نه وینئ نوددغسې دشمن نه ډیراحتیاط پکاردې. دشمن چه لیدې شی نودهغه دضررنه دحفاظت او بچ کیدلوفکر هم وی انسان سره اوطریقه ئې هم سوچ کولې شی لیکن چه نشی لیدلې نوانسان سره فکر هم کم وی او د بچ کیدلو طریقه ورته هم نوی معلومه. او شیطان لیدلې هم نشی اوضررئ هم ډیرخطرناک دې، چه دایمان په مرکزباندې حمله کوی. ﴿يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ﴾ نودبچ کیدلو صرف یوصورت دې چه هغه تعوذ.او دالله تعالی په پناهئ کښې راتلل دی. اودائ چه فرمائیلی دی

﴿لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ (قضیه مطلقه عامه) ددینه مراداذې چه په عام عادت کښې نشی لیدې یاپه خپل اصلی شکل سره ئ عام خلق نشی لیدلې، اودامرادنه دې چه بالکل نه شی لیدلې لکه دامذهب دمعتزلودې ځکه چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه جناتولره لیدل په صحیح روایاتوکښې ثابت دی اودحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه جنی لره لیدل درې شپې اوکلام کول په صحیح بخاری کښې مذکوردی .اودغه شان په صحیح روایت کښې دی ((ان عفریتا من الجن تفلت علیّ البارحة - الی آخره)) نودنبی دپاره په طریقه دخرق عادت سره لیدل ددوئ په اصل شکل سره ممکن دی. اودعامو خلقو دپاره ئې لیدل په بل شکل سره واقع اومشاهد دی. ﴿أَوْلِيَاءَ﴾ دوستان اوملګری دګمراه خلقو. اوددینه معلومیږی چه مراداولیاء نه په اول ددې سورت کښې. ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ﴾ شیاطین مراد دی

وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا

او کله چه وکړی څه بد کار. وائی دوئ چه موندلی دی مونږ پدې باندې خپل مشران. او الله تعالی امر کړیدی مونږ ته

بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

ـه دى باندي. وه وايه چه بيشكه الله تعالى حكم نكوى چاته د بد كار. آيا جوړوئ تاسو په الله تعالى باندي

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ ۣ وَ اَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ

هغه خبري چه تاسو ئى علم نه لرئ وه وايه چه حكم كړيدي رب خما په انصاف سره. او برابر كړئ مخونه خپل

عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ

ئلى ته په وخت د هر مونځ كښي او دعا غواړئ د هغه نه چه خالص كوونكى يئ هغه لره عبادت.

كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَرِيْقًا هَدٰى وَ فَرِيْقًا

لكه چه الله اول پيدا كړى يئ نو دغه شان به دوباره پيدا كيږئ تاسو يوې ډلې ته ئي هدايت كړي دي او بله ډله

حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَ يَحْسَبُوْنَ

ثابته شوې ده په دوئ باندي گمراهي. بيشكه دوئ نيولي دي شيطانان دوستان سوى د الله تعالى نه او گمان كوى دوئ

اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٣٠﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

چه لار موندونكى دى دوئ اې اولاده د آدم : ونيسئ ښائست خپل په هر مانځه كښي او خوړئ او سكئ

وَ لَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾

او د حد نه زياتي مه كوئ. بيشكه الله تعالى محبت نكوى د حد نه زياتي كوونكو سره

﴿ وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً ﴾ داشكوى ده مراددفاحشه نه بربنډ طواف كول دى چه دوئ به نارينو اوزنانو عريانًا طواف كوو. اوپه عورت خاصه به ئى لاس كيخودلې وو. اوجامى اغوستل به ئى حرام گنړلې. اوددې قبيح فعل دپاره ئى دوه دليلونه وئيل اول اتباع دمشرانو ﴿وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا﴾ دويم نسبت كول الله تعالى ته. دَ اول دليل رد په نورو آياتونو كښې مذكور دې ﴿اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ اوددويم دليل رد دلته مذكوردې. اول دا ﴿قُلْ اِنَّ اللّٰهَ﴾ دويم داچه ﴿اَتَقُوْلُوْنَ﴾ دريم داچه ﴿قُلْ اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ﴾ قسط عدل انصاف ته وائى دلته ترينه

مراد .توحيد دي. ﴿وَأَقِيمُوا﴾ داعطف دي په امرباندي اوقال.پکښې مقدردي ((اى امربي وقال اقيمو)) .مخونه برابر اوسيدها كړئ قبلې ته په وخت دهرسجده كښې. ياخالص كړئ سجده خپله دپاره دالله تعالى.﴿وَادْعُوهُ﴾ دارددشرک فی الدعاء دي ﴿كَمَا بَدَأَكُمْ﴾ تخويف دي.اودتشبيه مطلب دادي چه لكه څه رنگه انسان بربنډناسنته پيداشويدي نودغه شان به ئ حشركيږى كمافى الحديث يادتشبيه مطلب دادي چه اعاده يعنى دوباره پيداكول الله تعالى ته اسان دى لكه اول پيداكول. يادتشبيه معنى داده چه لكه تاسوفريقين(دوه ډلې) وئ په دنياكښې.اهل شقاوت، اهل سعادت نودغه شان به ستاسواعاده وى په آخرت كښې. ياداچه دچاابتداء دخلق په شقاوت باندې وى نوهغه به عودكوى عمل داهل شقاوت نه اګركه په درميان كښې عمل داهل سعادت وى څكه چه اعتبارخاتمې لره وى. ادچاچه خلق په سعادت سره وى نوهغه به عودكوى عمل داهل سعادت لره.بناپه دې باندې جمله د ((فريقا هدى)) حال دي دضمير د ((تعودون)) (اى تعودون حالة كونكم فريقين)، او ((فريقا)) منصوب دي په اضمارعلى شريطة التفسيرسره.

﴿إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ﴾ دادروستوفريق سره متعلق دي ، ددينه معلومه شوه چه د ((ولاتتخذومن دونه اولياء)) نه مرادشياطين دى.﴿يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ﴾ دا دريم خطاب اوامرمقصودى دي. اودمشركينودعقيدى رددي چه ددوئ به په حالت دطواف كښې جامې نه اغوستلې اوبعض اهل عربو(بنوعامر) به په ايامودحج كښې طعام نه خوړلومګرپه قدردقوت اوبچ كيدلوسره دهلاكت نه. نوددوئ رداوشو﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا﴾ سره. خوراك سكاك په دومره مقدار سره فرض دي چه سړې پرې دَ هلاكت نه بچ كيږى او طاقت پرې حاصليږى په عبادت باندې. د ﴿مَسْجِدٍ﴾ نه مراد صلوة اوطواف دي. اود﴿زِينَتَكُمْ﴾ نه مرادثياب دى اوپه دې تعبيركښې اشاره ده دينه چه دمونځ دپاره حتى الوسع ثياب حسن اغوستل افضل دى. دحضرت حسن رضى الله عنه عادت وو چه دمونځ دپاره به ئې بهترلباس اغوستلواوفرمائيل به ئ چه الله تعالى ته جمال محبوب دي

﴿وَلَا تُسْرِفُوا﴾ اسراف په درې قسمه دي يودحاجت نه زياتي كول. په خوراک سكاک پالب س كښې. دويم دحرام څيزخوړل يااغوستل. دريم حلال څيزپه خپل خان حرامول اوپه دى

...ه برد﴿ وَلَا تُشْرِفُوٓا ﴾ معنى (لاتشركوا) ده علامه شربيني ليکي ((ولاتسرفوا بتحريم الحلال ...بالتعري في الطواف اوبافراط الطعام والشرب وعن ابن عباس، كل ماشئت واشرب ماشئت والبس ...ماشئت ماأخطاك خصلتان، سرف ومخيلة))

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ؕ

...روايه چا حرام[1] کړې دي ښائست د الله تعالى. هغه چه پيدا کړي ئي دي لپاره د بندګانو خپلو او پاک حلال رزق.

قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

...روايه. دا نعمتونه په اصل کښې د مؤمنانو لپاره دي په ژوند د دنيا کښې. خالص به وي دوئ لره په ورځ د قيامت

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ

...کښي به تفصيل سره آيتونه (احکامات) بيانوو مونږ دهغه قوم لپاره چه پوهيږي وه وايه بيشکه حرام کړيدي

رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ

...ب خما بې حيا کارونه هغه چه ښکاره د دينه اوهغه چه پټ وي او هرګناه اوظلم کول په ناحقه سره

وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا

...و دا چه تاسو شريك وګرزوئ د الله تعالى سره هغه څوك چه ندي نازل کړي الله تعالى په هغې څه دليل او دا چه تاسو ووايئ

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ

به الله تعالى باندې هغه خبرې چه تاسو ئي علم نه لرئ او لپاره د هرې ډلې نيټه وي د عذاب. پس هرکله چه راشي

اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّ لَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝

نيټه د دوئ (نوعذاب به ورکړې شي) نو نه به روستو کيږي يو ساعت او نه به مخکښې کيږي د خپل اجل نه

﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ ﴾ دابيان دتحريمات غيرالله دې مراددې﴿ زِيْنَةَ ﴾ نه ثياب دي چه به هغې سره زينت حاصليږي اووددي په عموم کښې تمام انواع دلباس داخل دي. سواى دهغې نه چه حرام

[1] - د تحريمات غيرالله بيان

دى په نص سره لكه ريښتم اوسره زردناريښؤدپاره اود ﴿وَالطَّيِّبَٰتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾ نه مراد تمام مستلذات،مزيدار،خوراكونه اومشروبات دى سوى دهغې نه چه نص واردوى دهغې په حرمت

﴿قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ (هى، ضميرطيبات يازينة ته راجع دي.اوددې آيت په تشريح كښې دوه احتماله دى اول داچه كلام په دې ځائې باندې تام شو.چه ((قل هى للذين آمنوا فى الحيوة الدنيا)) يعنى طيبات اوارزاق الله تعالى په دنياكښې دمؤمنانودپاره پيداكړيدى نوداحق دمؤمنانودې اوكفارخوغاصبان دى. يادوئ ته چه ملاويږى داختلاط اوجواردوجې نه ملاويږى. په دنياكښې مؤمنان اوكافران د يوبل سره مخلوط دى او ګاونډيان دى. نو كفارونه چه په دنيا كښې څه ملاويږى نودمؤمنانوپه وجه .اوداسې نه ده چه مؤمنانوته دكفاروپه وجه ملاويږى، اوهركله چه په آخرت كښې اختلاط.اوجوارختم شى نوبيابه داطيبات خالص دمؤمنانودپاره شى اوكفاروته به هيڅ نه ملاويږى.﴿خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ﴾دا منصوب دې په فعل مقدرسره ((اى اخلصهاالله خالصة ياتصيرخالصةً يوم القيمة للمؤمنين)) اوبه دې تقديرسره ماقبل كلام تام شو په دې ځائې باندې ((هى للذين آمنوا)) دويم احتمال دادې چه خالصةً حال دې دجارمجرورنه يعنى دضميرد متعلق نه اوحال قيدوى دذوالحال دپاره نومعنى داشوه چه دانعمتونه په داسې طريقه اوحال سره چه خالص وى دعقوبت اوعذاب نه په آخرت كښې . نوداپه دې طريقه سره خالص دَ مؤمنانو دپاره دى په دنيا كښې او دَ كافرانو دپاره په داسې طريقه ندى چه خالص وى. دعقوبت اوعذاب نه په آخرت كښې بلكه دوئ ته به په دې سره عقوبت اوعذاب وركولې شى ، ((هذه الطيبات الموجودات فى الدنياهى خالصةً يوم القيمة للمؤمنين فى الدنيا وخلوصها انهم لايعاقبون عليهاولايعذبون)) ،(قرطبى)

﴿قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ﴾يعنى جامې اغوستل په وخت دطواف كښې الله تعالى نه دې حرام كړى بلكه دا أمور ئې حرام كړيدى، (۱) هرفواحش، لكه زنا، اونوره بې حيائ، څرګندوى اوكه په پټه وى. (۲) اواثم. تمام ګناهونه يانظر كول بدن د اجنبيه ته (۳) اوبغى يعنى ظلم په خلقواوتكبر (۴) ﴿وَأَن تُشْرِكُوا﴾ اوشرك (۵) ﴿وَأَن تَقُولُوا﴾ په الله تعالى دروغ جوړول .لكه تحريم دحلال چه داشرك فعلى دې .

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ﴾جواب دسوال دې چه كفارهركله چه دخپل طرف نه تحريم تحليل كوى

اوږيږي نافرمانۍ كوى نوپه دوئ باندې فوراً عذاب ولې نه راځي نوجواب اوسو چه
هرچادعذاب دپاره يوخاص تاريخ دالله تعالى په علم كښې مقرردې ترڅوچه دغه نيټه نه وى
راغلې نوعذاب نه راځي ليكن هركله چه هغه نيټه راشي نوبيا په كښې تاخيرنه كيږي. او دا
آيت علماؤ دعلم كلام دليل گرځوليدې په دې خبره باندې چه ((المقتول ميت باجله)) . يعنى
مقتول په خپل اجل سره مړدې اوقاتل ورته اجل نه دې مخكښې كړې حتى كه چرې قاتل قتل
نه وې كړې نوبيابه هم مقتول په دغه وقت معين كښې مړكيدلو. البته قاتل نه سزاحه
ملاويږي نوهغه دهغه دكسب اودالله تعالى دحكم دخلاف كولو په وجه ملاويږي. دلته اوپه
سورت نحل نمبر ۶۱ كښې په جزاباندې فاء نه ده داخله شوې څكه چه فاءپه اذاباندې داخله
شوې ده نوپه جزاورته ضرورت نشته دې اوپه سورت يونس نمبر ۴۹ كښې په «اذا» باندې ف.
نه ده داخله شوې نوپه جزاء باندې داخله شوه. دلته **مشهورسوال** دې چه اجل چه راشي
نودتاخيرامكان فى نفسه عقلاً لرې نونفي دتاخيرمفيد ده. ليكن دراتلونه بعدتقديم
متصورنه دې. اوتقديم امكان نه لرى عقلاً نوپه نفي دتقديم كښې ﴿وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ ذكر
كولو كښې څه فائده نه معلوميږي. **جواب** (۱) د ((لايستقدمون)) عطف په جزاء نه دې حتى چه
د ((فاذاجاءاجلهم)) ماتحت شي اوداسې معنى شي چه كله اجل راشي نونه مخكښې كيږي.
بلكه داعطف دې په شرط باندې. نومعنى داده چه ((لكل امة اجل لايستقدمون عن اجلهم
واذاجاءلايستاخرون)) (۲) جزاء مقدره ((اى اذاجاء اجلهم يعذبون ولايستاخرون عن اجلهم
ولايستقدمون)) (۳) د ((اذاجاء)) نه مرادقرب داجل دې(۴) حضرت مولانا شبير احمد عثمانى
رحمه الله فرمائې چه دغيرمحتمل شئ نفى دمبالغې دپاره كيږي په محاورد كښې .لكه چه
څوك ديودكاندارنه ديوڅيزدقيمت تپوس اوكړي اوهغه ئې اوځائې نوچه خريداردقيمت
دكموالى طلب اوكړي نودوكانداروائي. چه په قيمت كښې هيڅ كمي بيشي. لاندې باندې
نشته . نودلته چونكه خريداردزيادت مطالبه نه ده كړې خونفى دزيادت صرف دحسين
الكلام ،اومبالغې دپاره ده

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ

اې اولاده د آدم ! كچرې راغلل تاسوته رسولان ستاسو د جنس نه چه بيانوى به تاسو باندې آسونه حه

فَمَنِ اتَّقٰى وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۞

نو حٔ چه څوک وسانه د شرك اومخالفت د رسولانو نه او نيك عمل ئي وكړو نو نه به وي هيڅ يره په دوئ باندي او نه به دوئ غمژن وي

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ

اوهغه كسان چه تكذيب كوي د آيتونو زمونږ او تكبر كوي د هغي نه. دغه كسان به دوزخ كښې اوسېدلو والا دي

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۞

دوئ به په دې كښې هميشه وي

﴿يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ﴾ داخلورم امرمتفرع مقصودی دې. اوپه دې كښې بيان دمعيارداستحقاق دجنت اودجهنم دې. چه تقوی اصلاح موجب داستحقاق دجنت دې اوتكذيب اواستكبار موجب داستحقاق دجهنم دې. قاديانی دجال وائی چه ددې آيت نه معلوميږی چه دنزول دقرآن نه بعدهم داحكم دې، ((امايأتينكم رسل)) نومعلومه شوه چه اتيان درسل بعددحضورصلی الله عليه وسلم نه هم كيږی. **جواب**،(١) دامتعلق دې دماقبل سره ﴿قَالَ اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ﴾ او ((قلنا)) مقدردې اومطلب دادې چه هركله ادم عليه السلام ته دهبوط حكم اوشونوپه دغه وخت ئ اولادته داخطاب اوحكم متوجه شو چه﴿اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ﴾ اوسلسلهٔ رسالت جاری وه اوپه محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ختمه شوه، حاصل دادې چه آدم عليه السلام ته په وخت دهبوط كښې څوخطابات اوشواول دنعمت لباس متعلق، بيادمنع داتباع دشيطان ((لايفتننكم الشيطان)) بيادمنع دشرك فعلی متعلق ((وكلواواشربوا ولاتسرفوا)) دمحرماتوبيان نولكه څه رنګه چه دغه مذكورخطابات متعلق وو دهبوط آدم سره نودارنګه داخطاب هم متعلق دې دهبوط دَ آدم عليه السلام سره يعنی اولاددآدم عليه السلام ته دوخت دهبوط دآدم عليه السلام نه داحكم اوشو ((امايأتينكم)) لكه په سورت بقره كښې دحكم دهبوط نه بس متصل ذكردهدئ دې «آيت نمبر ۳۸ . سورة البقره» ﴿قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ﴾ داسی نه چه دنبی صلی الله عليه وسلم دزمانې نه داحكم شروع سو ((امايأتينكم رسل)). (٢) ابن جريردابويسارسلمی نه نقل كړيدی چه دغه خطاب

«يني آدم امایاتینکم» تولوبنی آدموته په عالم ارواح کښې شویدي ۳، بعض محققین وائی هرکله چه هرخطاب چه په هره زمانه کښې هرقوم ته شویدي مخکښې دسيدالكونين صلى الله عليه وسلم نه دادهغه نه حکایت دي.

﴿فَمَنِ اتَّقَىٰ﴾ «ای الشرک وَ مخالفة الرسل» په بشارت کښې فاء ذکرده اوپه تخویف کښې نه ده ذکرځکه چه فاء په تاکید اومبالغه باندې دلالت کوی. اوبناء دبشارت هم په تاکید او مبالغه وئ اودتخويف بناء په مسامحة وی نوهلته ترک دتاکیدمناسب دي

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ

پس څوک دي زيات ظالم دهغه چانه چه جوړ کړی په الله تعالی باندې دروغ یا نسبت ددروغو وکړی آیتونو د الله تعالی ته.

أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتَابِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا

دغه کسان رسیږی به دوئ ته برخه ددوئ دلیکلی شوی «عمر، رزق» نه. تردې چه کله راشی دوئ ته ملائك زمونږ

يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ

چه اخلی ساه د دوئ. وائی به ورته چه څه شول هغه کسان چه وئ به تاسو چه هغه به رابلل تاسو په مصیبتونو کښې

مِن دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ ٣٧

سوی د الله تعالی نه. دوئ به وه وائی چه ورك شول زمونږ نه او اقرار به وکړی په ځانونوخپلو چه بیشکه دوئ وو کافران

قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ

وبه فرمائی الله تعالی چه داخل شئ دهغه ډلو سره چه ستاسونه مخکښې تیرې شوی دی د پیریانو او بنی آدمو نه

فِي النَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا

په اور کښې، هر وخت چه داخله شی یوه ډله لعنت به کوی په ملګرو خپلو تر دې پورې چه کله راجمع شی په دې کښې

جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا

تول نو وه به وائی «روستنې اتباع» ددوئ په باره دمخکنو «متبوعینو» کښې اې ربه زمونږ دې کسانو ګمراه کړی یو مونږ

فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۬ؕ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ۝

پس ورکړه دوئ ته عذاب دوچند د اُور نه . وبه فرمائی الله پاك چه هر يو لره دوچند عذاب دي ليكن تاسو نه پوهيږئ

وَقَالَتْ اُوْلٰىهُمْ لِاُخْرٰىهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ

او وبه وائی مخکنی د دوئ (مشران) روستنو ته (اتباعو ته) پس نشو تاسو لره په مونږ باندي څه غوره والي.

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ۝

پس وڅکئ عذاب په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول

﴿فَمَنْ اَظْلَمُ﴾ دازجردي ﴿اِفْتَرٰى﴾ مرادترينه نسبت دشريک اودولددي الله تعالى ته ﴿نَصِيْبُهُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ﴾ مرادهغه حصه ده چه دانسان په تقدير کښې مقررشويده عمر. رزق. اعمال اودکتاب نه مرادکتاب دتقديردي اوپه ﴿رُسُلُنَا﴾ کښي اشاره ده ديته چه په وخت دمرګ کښې ډېرملائک رازى، اګرکه قبض دروح يوه فرشته کوى اوبياۓ نورو ملائکو ته حواله کوى (کمافى الحديث) ﴿قَالُوْٓا اَيْنَ مَا﴾ فرشتي به سوال اوکړى چه چرته دى ستاسوهغه مزعومه الهه چه تاسوبه بلل په مصيبتونو کښې اوس ئ راؤبلئ نودوئ به اووائى ﴿ضَلُّوْا عَنَّا﴾ هغوئ غائب اوورک شوزمونږ نه اواقراربه اوکړى چه دوئ په وجه دبلنې دغيرالله سره کافروو. اوددي آيت نه معلومه شوه چه بلنه دغيرالله کفردي.

﴿قَالَ ادْخُلُوْا﴾ داتخويف اخروى دي ﴿فِيْٓ اُمَمٍ﴾ ((اى مع امم)) يا ((فى جملة امم)) يعنى هغه جماعت چه اقتداء ئ کړى وى بعضو د نوروبعضو. نودوئ ته به حکم اوشى چه دخپل مشابه اومثل جماعتونوسره په کفراوشرک کښې داخل شئ جهنم ته. ﴿فِى النَّارِ﴾ د (ادخلو) سره متعلق دي. ﴿كُلَّمَا دَخَلَتْ﴾ يعنى کله چه يوه ډله داخله شى جهنم ته دبلې سره نوپه ځائ دمرحبا. اوسلام به په يوبل لعنت وائ. اواتباع به دالله تعالى په حضورکښې داشکايت اوکړى په متبوعينو باندي چه دوئ مونږ ګمراه کړى وونودوئ لره دوچنده عذاب ورکړه يو دضلال اوبل داضلال.

نوالله تعالى به اوفرمائ ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ﴾ دمتبوعينودپاره هم دوه وجې دعذاب دى چه پخپله ګمراه وو. اونورخلق ئ هم ګمراه کړى وو- او د اتباعو دپاره هم دوه وجې دعذاب دى

بوکفراوگمراهی. اوبل تقلیداواتباع دګمراهانو. امام رازی رحمه الله وائی چه ضعف په اصل کښې زیادت غیرمحصورته وائی، یعنی دپاره دهریوپه تاسوکښې عذاب بی انتهاء. غیرمتناهی . نه ختمیدونکې دې

﴿وَقَالَتْ أُولَىٰهُمْ﴾ یعنی متبوعین به اتباعوته اووائی چه هرکله فیصله داده نوستاسوپه مونږ باندې څه فضیلت اوغوره والي نشته دې اوتاسو دتخفیف دعذاب مستحق نه یئ

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ
بیشکه هغه کسان چه تکذیب ئې کړې دې زمونږ د آیتونو او تکبر ئې کړیدې د هغې نه. نه به شي پرانستلې کیدلې
لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ
دوئ ته دروازې د آسمان. اونه به شي داخل جنت ته تر دې چه داخل شي اوښ په سوم د ستنې کښې. او دغسې
نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ۝ لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ
جزاورکوؤ مونږمجرمانوته　لپاره د دوئ به وی د جهنم بسترې (تولایانې) او دپاسه د دوئ به پرستنې د اُور وی
وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ۝ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
او دغسې سزا ورکوؤ مونږ ظالمانو ته　اوهغه کسان چه ایمان ئې راوړې دې اوعملونه ئې کړیدی نیک
لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝
تکلیف نه ورکوؤمونږ هیچا ته مګر په قدر د وس د هغه، دغه کسان جنت والا دی دوئ به په هغې کښې همیشه وی

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا﴾ ((ای بدلائل التوحیدفلم یصدقوا،ولم یتبعوارسلی)) . ﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ﴾ داکنایه ده، ددې نه چه په دوئ باندې رحمتونه اوبرکتونه نه نازلیږی. یادامعنی ده چه ددوئ اعمال دعاګانې نه قبلیږی، یادامعنی ده چه په دوئ کله مرګ راشی نوددوئ دارواحو دپاره به د اسمان دروازې نه پرانستې کیږی، لکه په حدیث کښې دی چه دکافرروح چه دبدن نه خارج شي نوډیربدبویه وی لکه دمردارې په شان، نوچه داسمان دروازوته اورسی نو دروازې ورته بندې وی اوداروح دهغه ځائ نه سجیل ته ګذارکړې شی ﴿حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ﴾ داتعلیق بالمحال دې لکه داوښ ننوتل په سوم دستنه کښې محال دې نودغه شان ددوئ جنت

نه داخليدل هم محال دى. دجمّل. په تشديداوفتح سره. يومعنى رصد السفينه ده. يعنى هغه رسئ دكيشتئ اودجهازچه دسمندرپه غاړه ئي په هغې سره تړى

﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ ﴾ مهادلاندې غوړولو والابسترې ته وائى اوغواش دپاس نه اغوستلو والا بسترې ته. دا كنايه ده داحاطې دنارنه په دوئ باندې ﴿ غَوَاشٍ ﴾ داجمع دغاشية ده.پټوونكى-لكه كمبل-برستن ((اى ومن فوقهم غواشٍ من جهنم)) ﴿ وَالَّذِينَ ﴾ دابشارت اخروى دې. وَالَّذِينَ موصول دخپلې صله سره مبتداء ده. ﴿أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ﴾ورته خبردې او﴿لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ په درميان كښې جمله معترضه ده اوپه دې كښې بيان ددې خبرې دې چه ايمان اوعمل صالح دچادوس نه بهرنه دې، نوددې وجې نه دهغې په ترك استحقاق دجهنم رازى

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ ۖ

او وبه باسو مونږ هغه چه په سينو د دوئ كښې وى څه خفگان ، بهيږى به لاندې د بنگلو د دوئ نه نهرونه.

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا

او وائى به دوئ چه ټول صفتونه د الوهية الله تعالى لره دى هغه ذات چه را وې رسولو مونږ دې ځائ ته.

وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ ۖ لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۖ

او مونږ نشو را رسيدلې دلته كه نه رارسولې مونږ لره الله تعالى، خامخا په تحقيق سره راغلى وو رسولان د رب زمونږ په حق سره

وَنُودُوا أَن تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

او آواز به وكړې شى دوئ ته چه دغه جنت په ميراث دركړې شوې دې تاسو ته په وجه د هغه عملونو چه تاسو به كول

﴿ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ ﴾ ددې نه مراديادادې چه دجنتيانوپه مينځ به په جنتى نعمتونوكښې يوبل سره هيڅ قسم حسد ،كينه نه وى، دا دنئ درجې والاجنتى به اعلى جنتى سره حسدنه لرى بلكه ټول جنتيان چه جنت ته داخل شى نوعلى قلبِ رجلٍ واحدٍ. به وى. يامطلب دادې چه دصالحانوپه مينځ كښې په دنيوى ژوندكښې كه چرې په څه خبره ديوبل سره خفگان اواختلاف راغلې وى نوهغه ټول خفگان اوناراضگى به دجنت ددخول نه قبل زائله

کړي شي اوتول به دیوبل نه راضي وي رونړه به وي. حضرت علي رضي الله عنه فرمائیلي دي څه امید کوم چه زه او عثمان رضي الله عنه طلحه رضي الله عنه اوزبیر رضي الله عنه به هم ددغه خلقونه یو. ﴿هَدَىٰنَا لِهَٰذَا﴾ «هذا» کښې اشاره ده فوزعظیم ته چه جنت دي یعني شکر دي چه الله تعالی مونږ جنت ته رااورسولو. دلته رارسیدل ډیر گران وو. محض دالله تعالی به فضل سره را اورسیدلو. اود ((هدانا)) نه مراد هدایت اوتوفیق دهغه اعمالو دي چه سبب ددخول دي جنت ته. ﴿وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ﴾ یعني دالله تعالی په فضل اوتوفیق سره مونږ ته هدایت حاصل شویدي زمونږ خپل ذاتي کمال نه وو. ﴿وَنُودُوٓا﴾ نداء کونکي به دالله تعالی دطرفنه فرشته وي ﴿بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ باء سببیه ده. **سوال** د دي نه معلومه شود چه عمل سبب دي ددخول جنت ته. لیکن په حدیث کښې راغلیدي. هیڅاره خپل عمل جنت ته نه شي داخلولي. اصحابو اووئیل چه ،،نه ته،،یعني تاله هم خپل عمل جنت ته نشي داخلولي نونبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ((ولاانا)) «نه زه» ((الاان یتغمدني الله برحمته)). **جواب** دادي چه عمل سبب ظاهري دي لکه میراث چه ملک گرځي په غیردکسب نه اگرکه نسب ورته مثلاسبب ظاهري دي اوسبب باطني اوسبب حقیقي ورته دالله تعالی فضل اورحمت دي نوپه حدیث کښې دسبب حقیقي ذکردي اوپه آیت کښې دسبب ظاهري ذکردي. بعض حضرات وائي چه عمل سبب دتفاوة ددرجاتودجنت دي اوهرچه دي نفس دخول جنت ته نوددي سبب فضل اورحمت الهي دي. په ﴿أُورِثْتُمُوهَا﴾ کښې اشاره ده دیته چه لکه څه رنگه چه مال موروثه وارث ته په غیر دڅه عوض نه ملاویږي نودغسي جنت، مفت، په ویړیا ملاؤشو. یادامطلب دي چه دکافرانو برخه جنت هم تاسي ته درکړې شو،بعض حضرات وائي چه د ((اورثتموها)) نه مرادملکیت دي یعني داجنت تاسوته په ملکیت کښې درکړې شو. اوهرکله چه میراث داسې سبب وودملکیت دپاره چه الله تعالی په خپله دمیراث حصص مقررکړیدي نو ارث ډیرقوي اوډیرصحیح سبب دملکیت دي نوددي وجې نه د ارث ذکراوشو

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا

او آواز به وکړي جنت والا اور ته «دوزخ» والو ته چه په تحقیق سره موندلي دي مونږ هغه «جنت»

وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ

چه وعده ني کړې وه زمونږ سره رب زمونږ په حقه ، پس ايا وه موندلو تاسو هغه (اُور) چه وعده ني کړې وه ستاسو سره

رَبُّكُمْ حَقًّا قَالُوْا نَعَمْ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ

رب ستاسو په حقه سره. وبه وائی چه هو ، پس اعلان به وکړي يو اعلان کوونکي به مينځ د دوئ کښي

اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا

چه لعنت د الله تعالی دي وي په ظالمانو باندي هغه چه منع کول ني خلق د لاري د الله تعالی نه او لټوی به هغی کښي

عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ۝ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ

کوږوالي (په شك اچولو سره) او دوئ د آخرت نه منکر وو او په مينځ د دوئ کښي به پرده وي.

وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا ۢ بِسِيْمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا

او په اعراف (اوچت ځائ دي حجاب) به څه کسان وي چه پيژنی به هريولره په نښانو دهغوئ سره. او آوازونه به وکړی دوئ

اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۣ لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ۝

جنت والو ته. چه سلام دي وي په تاسو باندي. نه به وي داخل شوي دا اعراف والا جنّت ته او دوئ به طمع لري د جنت

﴿وَنَادٰى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ﴾ يعني اوازبه اوکړی جنتيان دوزخيانوته چه ﴿اَنْ قَدْ وَجَدْنَا﴾ مقصود ددي آوازکولونه .دجهنميانوغم اوحزن زياتول دی، چه مونږ خوابدی راحت خوشحالی اوموندله. اوتاسوپه ابدی عذاب بې انتهاتکليف مصيبت کښي مبتلاء شوئ ﴿فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌ﴾ دا اعلان کونکې به فرشته وی. او د جنتيانو دخوشحالئ زياتولو دپاره اوددوزخيانو دحسرت زياتولو دپاره به اووائی چه دالله تعالی لعنت دي وی په ظالمانو چه ﴿الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ﴾ دا صفت دظالمانو دي چه پخپله هم ايمان نه راوړی اونورخلق هم دايمان نه منع کوی ﴿وَيَبْغُوْنَهَا﴾ ((اى يبغون لها عوجا)) يعنی لټوی دالله تعالی په دين کښي کوږ والي. مرادترينه شکوک شبهات اچول دی دخلقوپه زړونوکښي، عوج په کسره دعين سره .هغه نقصان اوعيب ته وئيلي شی چه معنوی وی په نظرنه رازی اوپه فتحه دعين سره هغه عيب اونقصان ته وئيلي کيږی چه

سی وی په نظر راځی

﴿ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ﴾ اوداهل جنت اودوزخ په مینځ کښي به یوحجاب(پرده وی) چه ددي حجاب په وجه به ددوزخ اثرجنت ته نه رارسی اودجنت اثربه دوزخ ته نه رسیږی. لکه په سورة حدید کښي دی ﴿ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ ﴾ جوړبه کړیشي په مینځ ددوئ کښي یودیوال نوحجاب اوسوریوشئ دي، اوددې حجاب په وجه اګرکه اثرددوزخ جنت ته اودجنت دوزخ ته نه رسیږی لیکن ګفتګوبه دیوبل سره کولې شی یاپه دې وجه چه په دې دیوال کښي به دروازه وی ﴿ بِسُورٍ لَّهُ بَابٌ ﴾ نودباب په وجه به دیوبل خبرې اوری، یاپه غیرددې نه

﴿ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ ﴾ اعراف د (حجاب) اود (سور) پورته حصه ده په لغت کښي دمکان پورته حصې ته وائی ((المکان المشرف ومنه عرف الفرس وعرف الدیک)) (قرطبی) نواعراف والوته ځکه اهل اعراف وائی چه دوئ دحجاب اودسورپه پورته حصه باندې دی اوهرعالی اعرف وی دتحتانی نه. ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : اعراف دصراط پورته حصه ده. اوبعض وائ چه اعراف جبل احددې چه دقیامت په ورځ به دغه ځائې کښي کیخودلې شی(قرطبی) سُدی وئیلیدی چه اعراف والاپیژنی اهل جنت اواهل دوزخ په علاموسره نوددې وجې نه ((سور)) او((حجاب)) ته اعراف اودوئ ته اهل اعراف وائی.

داصحاب الاعراف په باره کښي دعلماؤمختلف اقوال دی چه قرطبی وغیره ذکرکړیدی(۱) دعبدالله بن مسعودرضی الله عنه خذیفه رضی الله عنه ، ابن عباس رضی الله عنه وغیرهم نه مروی ده چه دا هغه مؤمنان دی چه نیک اعمال اوبداعمال ئ برابروی، حضرت عبدالله بن مسعودرضی الله عنه وائی چه حساب به کولې شی دخلقوسره په ورځ دقیامت کښي نوکه دچاحسنات زیات شو ،دسیئاتونه اګرکه په یوه نیکئ سره ، نوجنت ته به داخل شی اوکه دچاسیئات زیات شو اګرکه په یوه ګناه سره نوجهنم له به ځی، بیائ دا آیت تلاوت کړو ﴿ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴾ بیائ اوفرمائیل چه میزان خفیف کیږی اوثقیل کیږی په مقداردیودانې د..خردل.. سره هم ، اوکه دچاحسنات اوسیئات برابرشی نودې به په اعراف وی بیابه روستوجنت ته داخل شی. (۲) داهغه مؤمنان مجاهدین دی چه جهادته تللی وی په غیرداجازت دوالدینونه اوشهیدان شوی وی. بعض مفسرینووئیلی دی چه داهم داخل دی په

((من استوت حسناتهم مع سيئاتهم)) كښې څکه جهاد او شهادت حسنه دي. ليکن په غير د اجازت د والدينونه تلل سيئه دی. ((وذکرالطبری فی ذلک حديثاعن النبی صلی الله عليه وسلم وانه تعادل عقوقهم واستشهادهم)) (قرطبی) (۳) داعُدول دقيامت دی چه شهادت کوی په خلقو په وجه داعمالودوئ سره (۴) دا انبياء دی (۵) هغه مؤمنان چه کبيره ګناه ئې نه وی اوصغائر ئې نه وی معاف شوی په آلامو اومصائبو سره (۶) دااولاددمشرکانودی (۷) دااولاددزناؤدی (۸) داهغه خلق دی چه په زمانه دفترت کښې مړه دی (۹) داملائک دی او اطلاق درجال په ملائکوباندې هم کيدې شی (۱۰) داپه مؤمنانو او شهداؤ کښې فضلاء اوغوره خلق دی. ((فرغوامن شغل انفسهم. وتفرغوالمطالعة حال الناس)) ددوئ هيڅ شغل نشته دې. حساب کتاب پرې نشته دې اودنوروخلقوتماشه به کوی. .راجح قول په نيزدجمهورواهل علموقول اول دې اوپه نيزدبعض قول ثالث راجح دې.﴿ يَعْرِفُونَ كُلًّا ﴾ اهل اعراف به پيژنی اهل جنت اواهل نارپه علامانوسره.داهل جنت علامې به داوی چه مخونه به ئې سپين وی خوشحاله به وی اواهل نارعلامه به داوی چه مخونه به ئې توروی پريشان حال واويلا.کونکی به وی.نودوئ چه جنتيانوته نظراوکړی نوسلام به ورته اووائی. ﴿ لَمْ يَدْخُلُوهَا ﴾ يعنی اعرافيان به جنت ته داخل شوی نه وی ليکن طمع به لری. روايت کړيدې حاکم دخذيفه رضی الله عنه نه چه دوئ به په دې حالت باندې وی چه الله تعالی به طلوع اوکړی په دوئ اووبه وائی. ((قومواادخلواالجنة فقدغفرت لکم)) اوچاچه وئيلی دی چه اصحاب الاعراف انبياء دی، ياملائک دی. ياعدول ددی امت دی ياعرفاء فقهاء صلحاء دی، نوددوئ په اعراف باندې اوسيدلووجه داده چه ددوئ دفضيلت اوشرافت اظهاراوشی اوددوئ مطلع شی په حال داهل جنت اواهل ناربانديې. دايت دظاهرنه دجمهوردقول ترجيح معلوميږی.

وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا
او کله چه واړولې شی نظرونه د دوئ طرف د اور د والو ته . وه به وائی دوئ اې ربه زمونږ . مه ګرزوه مونږ
مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ
سره د قوم ظالمانو په اور کښې او آواز به وکړی اعراف والا هغه کسانو ته (په جهنم کښې) چه پيژنی به هغوئ لره

بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا

..ه نښانو د هغوئ سره. وبه وائی هغوئ ته چه هيڅ فائده درنکړه تاسو ته جمعيت «ډلې» ستاسي او هغه چه

كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ

تاسوبه پـه هغې لوئی کوله «وبه وائی ملائك كافرانوته» آيادا هغه كسان دی چه تاسوبه قسمونه كول چه وبه نه رسوی دوئ ته

اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿٤٩﴾

الله تعالى هيڅ رحمت دوئ ته خو وه ويلی شو، چه داخل شئ جنت ته نه به وی هيڅ يره په تاسوباندې اونه به تاسوخفه کيږئ

﴿ وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ ﴾ په صيغې دمجهولې ذكركولو كښې اشاره ده دې خبرې ته چه دوئ به په خپله رضاسره اهل جهنم طرف ته نه گوری. الله تعالى به د دوئ مخونه بغير د اختيار نه اهل جهنم طرف ته وگرځوی نو په دوئ به خوف راشی چه هسې نه چه جهنم ته بوتلې شو نو دعا به اوغواړی ((رَبَّنَا -الخ)) اوكه اصحاب الاعراف انبياء، ملائک ياعرفاء وی نودوئ ته خوعلم دې چه دوئ اصحاب النارنه دی نوداقول على سبيل التذلل والتشكر دې ﴿رِجَالًا ﴾. ددې نه مرادهغه اهل جهنم دی چه مالدار،عظماء، متكبرين ووپه دنياكښې نواهل اعراف به دوئ ته پيغورورکړی چه ستاسو هغه جاه، مال، عهدی، هيڅ په فائدرانغلې چه تاسوبه په اهل دين پورې ددغې دوجې نه مسخرې کولې اوهغوئ به موذليل بې حيثية بې قدره گڼړل اوس دهغوئ ددينی عهدو، قدروقيمت ،مقام دادې چه ﴿اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ ﴾. ﴿مَآ اَغْنٰى ﴾ مانافيه هم كيدې شی. اواستفهاميه هم كيدې شی. ﴿ جَمْعُكُمْ ﴾نه مرادجمع كول دمالونواودعهدو. دگريانی. دی ياترينه مرادډلې اوملگری دی. ﴿تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴾ ((ای مااغنى عنكم ماكنتم تستكبرون عن الايمان والدين)) يعنی په دنياكښې چه تاسوايمان اودين معمولی شئ گڼړلواومال اوعهدی مو.لوئ شئ گڼړلونوداهيڅ په فائده رانغلې.﴿ اَهٰٓؤُلَآءِ ﴾دااشاره ده هغه ضعيف ،بی حيثيته مؤمنانوته چه هغوئ سره مال، دنيوی عهدې ،جاه اوجلال هيڅ نه وو.﴿اَقْسَمْتُمْ ﴾تاسوبه قسمونه كول اوپه پوره ذمه واریٔ سره به مووئيل چه دوئ دهيڅ رحمت اوكاميابئ مستحق نه دی ﴿ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ ﴾ ((ای قيل لهم ادخلواالجنة)) دهغوئ دايمان قدراومقام معلوم شو. چه

دابشارت ورته ورکړې شو چه داخل شئ جنت ته، همیشه دپاره به بې غمه بې خوفه يئ

وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا

اوآوازبه وکړی اور والا جنت والو ته چه را تویئ کړئ په مونږ باندې د اُوبو د جنت نه یا را وه غورځوئ د هغې نه

رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْۤا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۙ

چه درکړې دی تاسو ته الله تعالی. دوئ به وه وائی چه بیشکه الله تعالی حرام کړی دی دا دواړه په کافرانو

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ

دا هغه کسان دی چه دوئ نیولې دې خپل دین مشغله او لوبې او دهوکه کړی وو دوئ لره ژوند د دنیا. پس نن ورځ به

نَنْسٰىهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوْا

مونږ پریږدو دوئ لره په عذاب کښې لکه چه دوئ هیر کړې وو ملاقات د دې ورځې خپلې. او پدې وجه چه وو دوئ

بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝

زمونږ د آیتونو نه انکار کولو.

﴿ وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ النَّارِ ﴾ دامکالمه ده داهل النار او دَ اهل جنت پس ددخول دهریونه دخپل خپل مقام ته. اوجنت دوزخ اگرکه دیوبل نه په ډیرنهایت بُعدکښې دی لیکن الله تعالی قادردې چه اورسوی اوازدهریوبل ته. اودامکالمه دهرجنتی اودوزخی په مینځ کښې به وی یابه دبعض اهل جنت اواهل نارپه مینځ کښې وی. لکه قرطبی وائی چه هرکله اهل اعراف جنت ته لاړشی نوطمع به اوکړی اهل ناراوابه وائی چه یاربه . زمونږ خپلوان په جنت کښې دی نومونږ ته اجازت راکړه چه مونږ ئې اووینواوکلام ورسره اوکړو ،اواهل جنت به دوئ لره نه پیژنی ځکه چه ددوئ مخونه به په جهنم کښې دسوزیدلوپه وجه تک تور. اومغیرشوی وی نو جهنمیان به خپل تعارف اوکړی اوسوال به ورته اوکړی چه ﴿ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ ﴾ مونږ ته داوبولګ ګټ راکړئ ډیرتګی یو ﴿ اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ﴾ اویادروټئ یوه لقمه راکړئ. عطف د ((مما رزقکم الله)) په ((افیضو)) باندې دقبیلی دعطف د ((علفتهاتبناوماءً باردا)) نه دې. ای علفتها (دابة) تبناوسقیتها ماءً بارداً. نودلته تقدیرد عبادت داږنګه دې ((اوالقواالینامما رزقکم الله)) . قرطبی

راۍ چه ددې آيت نه معلومه شوه چه سقي الماء افضل عمل دې. دابن عباس رضى الله تعالى عنه نه تپوس اوشوچه کومه صدقه افضله ده. هغوئ اوفرمائيل چه اوبه.اودا آيت ئ تلاوت کړو. چه په دې کښې داوبو سوال مقدم دې. دحضرت سعدرضى الله عنه والده وفات شوه نو،وئ دنبی صلی الله علیه وسلم نه ئ تپوس اوکړوچه کومه صدقه ډيره غوره ده چه هغه زه په والده پسې ورکړم نونبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائيل چه اوبه . او وئيلي دی بعض تابعينوچه دچا گناهونه زيات وی نوپکارده چه د اوبو صدقه اوکړی. او په روايت دبخاری کښې دی چه يوسړې په لارې تللو ډيرتگي شو، نوکوهی ته کوزشونواوبه ئی اوسکلې نوچه بهرته راغلونو يو سپې چه ډيرتگې وو اوپه لمده خاوره ئی خوله لگوله. نوده اووئيل په زړه کښې چه په ده باندې هم داسې تنده راغليده لکه چه په ما راغلې وه اوکوهی ته کوزشو. خپله موزه ئ داوبونه ډکه کړه سپی ته ئ اوبه ورکړې نوالله تعالى دده مغفرت اوکړو.اوپه بل روايت کښې دغه شان قصه دفاحشې خزې ده چه مغفرت ئ اوشوپه سبب داوبوورکولو سره. اودمسلم وغيره په روايت کښې دی چه يوې ښځې ته عذاب په دې وجه ورکړې شوچه يوه پيشوئ تړلی وه. اوبه اوخوراک ئ ورته نه ورکولو، ددې روايتونونه داخبره معلومه شوه چه داوبوصدقه ورکول سبب دنجات دې دعذاب نه اومنع کول ئ سبب ددخول دې جهنم ته. روايت کړيدې ابوداؤد، اوابن ماجه دحضرت عائشه رضى الله عنها نه چه چامسلمان ته اوبه ورکړې په داسې ځائ کښې چه اوبه عام په اسانئ سره ملاويږی نوداسې اجردې لکه چه غلام آزادکړی اوکه په داسې ځائ کښی وی چه اوبه په اسانئ سره نه ملاويږی نوداسې اجردې لکه چه جوندې ئ کړی

﴿قَالُوٓا﴾ نوهرکله چه دوزخيان دجنتيانونه سوال اوکړی نودوئ به ورته اووائی چه ﴿إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا﴾ بيشکه الله تعالى حرام کړيدی دادواړه يعنی طعام اوشراب،په کافرانو. تحريم نه مرادمعنى لغوی ده يعنی منع. څکه چه په قيامت کښې تحريم اوتحليل شرعی نشته دې.

﴿لَهْوًا وَلَعِبًا﴾ فرق په مابين دلهواولعب کښې بعضُ داسې کړيدې چه هغه کارچه مناسب نه وی نوهغې ته همت صرف کول دا «لهو» دې،اوخوشحالی طلب کول په داسې ځيزچه په هغې سره خوشحالی نه حاصليږی دا «لعب» دې، بعضِ وائی چه بې مقصده کارپه دې لحاظ سره چه څه فائده پرې مرتبه نه وی نودا «لعب»دې، اوپه دې لحاظ سره چه په دې سره مقصداصلی

فوب کیږی نو د ((لهو)) ده ﴿نَنسَىٰهُمْ﴾ د نسیان نه مراد ترک دي په عذاب کښې یعنی مونږ دوی
لره په عذاب کښې پریدو ځکه نسیان په معنی حقیقی سره محال دي په الله تعالی باندې

وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً

او په تحقیق سره مونږ راوړي دي دوئ ته کتاب چه مفصّل کړیدي مونږ هغه په علم خپل سره، هدایت دي او رحمت دی

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ

لپاره دهغه قوم چه ایمان لری انتظار نکوی دوئ مگر د دې (وعدې د سزا) د عملی ظاهریدلو. کومه ورځ چه راشی

تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ

ظاهریدل ددې (وعدې، سزا) وائی به هغه کسان چه هیر کړې ئی وؤ دا (قرآن) مکښې د دینه په تحقیق سره راغلی وؤ مونږ ته

رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ

رسولان د رب زمونږ په حق سره (لیکن مونږ ونه منل) پس آیا شته مونږ لره څه سفارشیان چه سفارش وکړی مونږ لره

اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ خَسِرُوْٓا

یا واپس کړې شو دنیاته پس عمل وکړو مونږ غیر دهغه عمل نه چه مونږ کولو. په تحقیق سره زیان مند کړیدی دوئ

اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝

خپل نفسونه او ورك به شی د دوئ نه هغه چه دوئ دروغ جوړول

﴿وَلَقَدْ جِئْنٰهُم بِكِتٰبٍ﴾ داترغیب دې اتباع دقرآن ته ﴿فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ﴾ الله تعالی ددې
تفصیل کړې دې په خپل علم سره یعنی لکه څه رنګه چه دالله تعالی علم کامل دې اومنزه دې
دنقصان اوخلاف واقع نه نو دغسې دا قرآن کامل دې اومنزه دې د خطاء او نقصان نه او د
خلاف واقع نه.﴿هَلْ يَنظُرُونَ﴾ داتخویف دنیوی دې.﴿اِلَّا تَاْوِيلَهٗ﴾ دوئ انتظارنه کوی مگر د
ظهور دوعید دقرآن .تاویل داولّ نه مشتق دې، مرادترینه دوعدوعید .عملی ظهوردې. ظهور
صحة مانطق به من الوعدوالوعید (شیربینی)﴿يَوْمَ يَاْتِي تَاْوِيلُهٗ﴾ مراددې نه ورځ دقیامت ده
﴿نَسُوهُ﴾ (ه) ضمیر راجع دې قرآن ته او د نسیان د قرآن نه مراد ترک دایمان اودعمل دې په قرآن

باندې ﴿قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ﴾ د تولو رسولانو ذکر موجود دې په قران کښې نو انکار د قرآن نه انکار دې د تولو رسولانو نه. نو د دې وجې نه منکرين د قرآن به اعتراف او کړې چه رسولانو حه کوم پيغام راوړې وو هغه حق وو او زمونږ انکار د رسولانو غلط وو. ليکن دا اعتراف څه فائده نه ورکوی. ﴿فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ﴾ دوئ ته به معلومه شی چه د نجات سبب يا شفاعت دې يا د نيک عمل کولو د پاره دنيا ته واپس کيدل دی. نو دوئ به تمنی وکړی د دې دواړو ((فهل)) استفهام د تمنی ليپاره دې. ﴿قَدْ خَسِرُوٓا﴾ متعلق دې د ﴿فَنَعْمَلَ﴾ سره. يعنی دنيوی ژوند د هغه يو واري وو او هغه دوئ ضائع کړيدې ﴿وَضَلَّ عَنْهُم﴾ دا متعلق دې د ﴿شُفَعَآءَ﴾ سره. يعنی د مشرکانو چه کومه عقيده وه په باره د معبودانو خپلو کښې چه دوئ به زمونږ شفاعت کوی. د هغې غلطی ښکاره شوه او معبودان د دوئ نه ورک شو.

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ
بيشکه رب ستاسو الله تعالی دې[1] هغه ذات چه پيدا کړی ئی دی آسمانونه او زمکه په مقدار د شپږ ورځو کښې
ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ يُغْشِي اللَّيْلَ
بيا برابر شو، جلوه افروز شو په تخت د سلطنت، يعنی عرش باندې (کما يليق بشانه العظيم) پټوی په تيرو د شپې سره
النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ
رڼا د ورځې په داسې طريقې چه طلب کوی شپه ورځې لره او ورځ شپې لره په جلدئ سره. او پيدا کړی ئې دی نمر
وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ
او سپوږمئ او ستوری. په داسې طريقې سره چه ټول تابع دی د هغه د حکم تکوينی. خبردار! صرف الله تعالی لره دی
الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَٰلَمِينَ ۝
پيدا کول او امر کول. ډير لوی برکتونو او کمالاتو والا دې الله چه رب العالمين دې.

۱ - د سورت دريمه دعوه يعنی خالق، مالك، کارساز صرف يو الله تعالی دې. لهذا صرف د هغه عبادت کوئ او صرف د هغه نه خپل حاجات غواړئ.

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ﴾ دا د سورة دریمه دعوه ده یعنی ستاسو رب هغه ذات دي چه د آسمانونو او زمکې بلکه د تمام کائناتو خالق دي او متصرف دي. نو هر کله چه خالق فقط الله تعالی دي او متصرف فقط الله تعالی دي نو معبود او اله فقط الله تعالی دي لهذا ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا﴾ تاسو خپل حاجت صرف د هغه نه غواړئ. د ﴿سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ نه مراد مقدار د شپږو ورځو دي ځکه چه د امتعارفه ورځ او شپه د طلوع شمس سره وابسته دی نو چه شمس نه وو پیدا نو شپه او ورځ (عرفی) هم نه وو. یا مراد دا یامونه د عالم شهود ایام نه دی مراد بلکه د عالم غیب ایام مراد دی او بناء په قول اول د علماؤ دوه قوله دی یو دا چه د شپږ ورځونه زمونږ د شپږو ورځو مقدار مراد دي، دویم دا چه هغه ورځ چه زر کاله ده لکه ﴿وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ﴾. نو اسمانونه زمکه ، (کارخانه عالم) په شپږو ورځو کښې یا په شپږ زرو کالو .نو کښې تیار شویدی لکه چه سلسله د تولید او تخلیق د انسانانو او حیواناتو .نباتاتو اوس تدریجًا چلیږی . الله تعالی قادر دي چه د امخلوقات ټول په یوه لمحه کښې پیدا کړی خو په شپږ ورځو کښې یا په شپږ زرو کالو پیدا کول و کښې تعلیم دي مخلوقاتو ته د تثبّت او تأنّی او په حدیث کښې راغلیدی، ((التانی من الله والعجلة من الشیطن)) یعنی دمه دمه حوصله سره کار کول د الله تعالی مرضی او د الله تعالی دَ توفیق نه دي او جلدی کول د شیطان نه ده، علماء وائی چه عجلت په کارونو کښې خه نه دي مګر په خلورو امورو کښې چه ذکر ئې په حدیث کښې راغلیدي (۱) جنازه چه کله تیاره شی، (۲) مونځ چه وخت ئې راشی (۳) بې نکاح زنانه چه کفو ورته برابر شی (۴) د مسافر واپسی خپل کورته چه کله خپل مقصد پوره کړی. او اختلاف کړیدي علماؤ چه ابتداء د خلق د کومې ورځې نه شوې ده او انتهائې په کومه ورځ شویده، په روایت د مسلم کښې د حضرت ابو هریره رضی الله عنه دا دی چه ابتداء د خلق د یوم السبت نه شوې ده، او اختتام ئې د جمعرات (زیارت) په ورځ شویده. (نو جمعه ازلی چهټی ده) او د جمعې په ماز دیګر باندې آدم علیه السلام پیدا شویدې، د دې دا مطلب نه دي چه د ټولو نه د اولې جمعې په ماز دیګر باندې آدم علیه السلام پیدا شوې دي حتی چه دا حدیث مخالف شی د آیت نه ځکه چه د آیت نه معلومیږی چه خلق په ستته ایام کښې شویدې او د دې حدیث نه معلوم شوه استیعاب د سبعة ایام . بل دا چه دا خو ظاهره خبره ده چه آدم علیه السلام ډیره زمانه پس پیدا شویدی. لکه په بل روایت کښې چه مذکور دی، حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله دې قول ته راجع وائی

اوشربینی وائ چه داصواب دي، اودویم قول دادي چه ابتداء دخلق دیوم الاحد اتوار نه شویده اوددي وجي نه دي ته یوم الاحد وائی اوپیرته یوم الاثنین . دغه شان الثلثاء الاربعاء یوم الخمیس وائی ځکه چه دا خامسه ورځ ده ، اوددي وجي نه دهفتی ورځی ته په پښتو کښي دخالي ورځ وائ ځکه داخالی ده، دخلق نه ، ابن کثیروغیره دي قول ته ترجیح ورکړي ده

﴿ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾ دسورت په دریمه دعوه کښي ددوؤخبروذکردي یوداچه دټول عالم خالق صرف الله تعالی دي اودویم داچه ددي چلونکي، متصرف، صرف الله تعالی دي. نولهذا ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ﴾ په دي جمله کښي ددي دویمي خبري ذکرمقصوددي علامه شیربینی رحمه الله په السراج المنیرکښي لیکی، چه وئیلیدی اهل سنت. چه استواء علی العرش صفت دالله تعالی دي بلاکیف واجب دي ایمان په دي . اوحواله کوؤعلم ددي الله تعالی ته نومعنی داشوه چه دالله تعالی دپاره استوی علی العرش په هغې وجه سره ثابته ده چه اراده کړیده الله تعالی. منزه دي داستقرارا وتمکن نه، دامام مالک رحمه الله تپوس اوکړي شو . دالرحمن علی العرش استوی، په باره کښي ، نودوئ سر ښکته کړواوبیائ رااوچت کړو. پده خولي وي او وي وئیل چه ((الاستواء غیرمجهول والکیف غیرمعقول والایمان به واجب والسوال عنه بدعت وما اظنک الاضالا ثم امربه فاخرج)) روایت دي دسفیان ثوری، اوزاعی اودلیث بن سعدوغیرهم دعلماؤداهل سنت نه په باره ددي آیاتونو کښي چه راغلیدی یعنی په باره دصفاتومتشابهؤکښي. ((امرّوها کماجاءت، اقرؤها بلاکیف واجماع السلف منعقدعلی ان لایزیدواعلی قراءة الایة – انتهی)) ددي کلام دشربینی نه دامعلومه شوه چه استواء علی العرش صفت دالله تعالی دي بلاکیف. اودامام مالک دقول. الاستواء معلوم، یاغیرمجهول، ددی معنی داده چه دامعلومه ده چه استواء علی العرش صفت دالله تعالی دي، معلوم دي اطلاق دده په الله تعالی باندي. دامعنی ئ نه ده چه معلوم المراددي، دارنګه ید، ساق، وغیره، ددینه مرادصفات دی، اجزاءابعاض نه دی. اوداهم معلومه شوه چه تفویض دعلم ددي الله تعالی ته دا دسلفو قول دي لکه دعلامه شیربینی دا قول، ((واجماع السلف منعقدعلی ان لایزیدواعلی قراءة الایة)) واضح دلالت کوی چه سلفو دمتشابهاتو معانی لغویه نه دی اراده کړی خصوصًا ،تجزی،تبعیض. په ذات دالله تعالی کښی. (تعالی الله عمایقولون علواکبیر) تفصیل دمتشابهاتوپه سورة ال عمران کښي تیر شویدي چه سلف ددي معنی نه کوی بلکه تفسیرئ په لفظ منصوصی سره کوی اوداسی وائ

((استواء يليق بشانه)) اومتاخرين اهل سنت ددې داسې تفسيركوې چه دنورونصوصو او قواعد شرعيو سره موافق وى نودلته داستواء على العرش، تفسير په تصرف سره كوى اودآيت مطلب دادې چه ددې كارخانه عالم ،خالق صرف الله تعالى دې، اود دې چلونكې صرف الله تعالى دې بل څوك نه دې ددې دچلولو تصرف اختيارنه دې حواله كړې. ﴿أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ﴾ . يعنى خبردار صرف دالله تعالى په قبضه كښې پيداكول دى اوصرف دالله تعالى په قبضه كښې تصرف چلول دى. په عام عرف كښې چه داسې اوويئيلې شى چه فلانې بادشاه په تخت كيناستلو .يافلانې سړې دصدارت يا د وزارت په كرسئ كيناستلو ، نوددينه مراد . اختيارات كنټرول وى يعنى دملك اختيار كنټرول ورسره دې. اګركه په تخت اوپه كرسئ نه وى ناست. په زمكه ناست وى. دلته ترينه هم دامعنى مرادده يعنى تصرف او اختيارصرف دالله تعالى دې ځكه چه استواء على العرش په قرآن پاك كښې، اوه ځايونوكښې ذكرشويدې (١) دلته په اعراف كښې آيت نمبر ٥٤ (٢) سورت يونس، آيت نمبر : ٣ ،(٣) سورت طه آيت نمبر ٥ ، (٤) سورت رعد ، آيت نمبر : ٢ ، (٥) سورت آلم سجده، آيت نمبر : ٤ ، (٦) سورت فرقان ، آيت نمبر ٥٩ ، (٧) سورت حديد ، آيت نمبر : ٤، اوتقريباً په هرځائ كښې داستوى على العرش نه بعدمتصلاً دتصرفاتوذكركيږى، لكه دلته ﴿يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ﴾ په سورت يونس كښې. ﴿يُدَبِّرُ الْأَمْرَ﴾ په سورت الم سجده كښې ﴿مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ۝٤ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ﴾ په سورت حديد كښې، ﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ﴾، ﴿لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ . ددينه معلوميږى چه دغه تفسير د ((استوى على العرش)) دې ،اوداسې تفسيرددې قسم متشابهاتو كول مخالف نه دې درائ. دسلفو سره بلكه دسلفونه تفسيربعض متشابهاتومنقول دې اوداقسم تفسيرغلط هم نه دې اوګمراهى هم نه ده اونه په دې سره دزمرې داهل سنت نه خروج ودسلفونه مخالفت رازى. بلكه دمتشابهاتوداسې معنى حقيقى لغوى اراده كول چه دهغې نه زميرى داخبره چه ذات دالله تعالى لره ،اجزاء، ابعاض، اعضاء دى داقسم تفسيرغلط دې ونسبت ئ سلفوته جهالت ياخيانت دې، والله الهادى الى سبيل الرشاد، اوبناء په دې تفسير. ﴿ثُمَّ﴾ دتراخى فى الذكرپاره دې چه دهغې ترجمه حضرت الشيخ به داسې كوله (بيا سو) بياداهم واوره ﴿يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ﴾ دادتصرفاتوبيان دې، فاعل ديُغشى ضميردې چه

راجع دي الله تعالی ته او ((اللیل)) مفعول اول دي چه معنٰی فاعل (غاشی پټونکي) دي ﴿النَّهَارَ﴾ مفعول ثانی دي یعنی پټوی الله تعالی په تیارې دشپې سره رڼړا دورځې. ﴿يَطْلُبُهُ﴾ طلب کوی شپه ورځې لره یاورځ شپې لره ﴿حَثِيثًا﴾ ای طلبًاحثیثًا په جلتئ سره یعنی په درمیان کښې داسې وقت نه راځی چه هغه نه شپه وی نه ورځ. ﴿مُسَخَّرَاتٍ﴾ داټول نظامی شمسی قمری وغیره ټول دالله تعالی دحکم تکوینی ماتحت دي، طلوع، غروب، کسوف خسوف. ګرمی. یخنی تیاره رڼړا، داټول دالله تعالی دحکم تکوینی ماتحت دی.

﴿أَلَا لَهُ الْخَلْقُ﴾ یعنی خالق صرف الله تعالی دي ﴿وَالْأَمْرُ﴾ یعنی متصرف اوچلونکې ددې نظام صرف الله تعالی دي بل چاته ئ هیڅ نه دی حواله کړی نودا په ماقبل مرتب دي لف نشرمرتب طورسره ،دعالم خلق ،اوعالم امر، تعریف، بعض داسی کوی چه عالم خلق هغه دي چه مادي وی اوعالم امرهغه دي چه مادی نه وی لکه روح، بعض وائ چه عالم خلق هغه ته وائ چه بالتدریج وجودته راغلې وی اوعالم امرهغه دي چه بالتدریج نه وی بلکه دفعةً وی اوبعض وائ چه ماتحت العرش عالم خلق دي اومافوق العرش عالم امردي، اوحضرت مولاناعثمانی رحمه الله تعالی اوبعض نورحضرات وائی چه خلق پیداکول ددې عالم دی، اوامر تصرف اوچلول ددی عالم دی.

اُدْعُوْا	رَبَّكُمْ	تَضَرُّعًا	وَّخُفْيَةً ۚ	اِنَّهٗ	لَا يُحِبُّ

دعا غواړئ د خپل رب نه په عاجزئ او په پټه سره (او د حد نه تجاوز مکوئ) بیشکه الله تعالی محبت نکوی

الْمُعْتَدِيْنَ ۝	وَلَا تُفْسِدُوْا	فِي	الْاَرْضِ	بَعْدَ	اِصْلَاحِهَا

د حد نه تیریدونکو سره او فساد مکوئ (په شرک سره) په زمکه کښې. پس د اصلاح دهغې نه په توحید سره

وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۚ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

او دعا غواړئ د الله تعالی نه په یرې او طمع سره، بیشکه رحمت د الله تعالی نژدې دې نیك عمل کوونکو ته

﴿اُدْعُوْا رَبَّكُمْ﴾ په دې کښې دحصرمعنی ده یعنی صرف دخپل رب نه سوال کوئ اوصرف دهغه نه خپل حاجات طلب کوئ، ﴿تَضَرُّعًا﴾ دامنصوب بنابرحالیت دې تضرعاً په معنی د

((متضرعين)) سره ياد ((ذى تضرع)) سره. دغه شان ﴿وَخُفْيَةً﴾ هم منصوب بنا برحاليت دي. او دا دواړه د آدابو د دُعانه دى. تضرع ماخوذ دې د (ضرع) نه په معنى د (ذُل) سره ((يقال تضرع فلان لفلان اذا ذل له واستكان)) اوبعض وائى چه تضرع په معنى دتملق (چاپلوسى) سره دي اوبعض وائ چه تضرعاً په معنى دعلانيةً سره دې، اوخفيةً په معنى دسِراسره دې. اوچه تضرعاًپه معنى دعاجزئ سره شي نوددينه استدلال كړيدې علماؤچه اصل په دعاكښې اودارنګه په ذكركښې اخفاء ده. اوالله تعالى دحضرت ذكريا عليه السلام مدح كړيده په دې سره چه ﴿إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا﴾، نومعلومه شوه چه اخفاء اولى ده. او ابعده ده د رياء نه. اودحسن نه روايت دې ((ان الله يعلم التقى والدعاء الخفى)) يعنى الله تعالى عالم دې په تقى اوپه دعاخفى باندې اودسلفو عادت ووچه ټول قرآن به ئ يادوولېكن ګاونډيان به ترينه نه ووخبراوطويل مونځ به ئ كولو او ملاقات كونكوته به ئ علم نه وو، اودارنګه دحضرت حسن نه روايت دې چه خفى دعا ذكر دجهرى نه اويادرجې زيات فضيلت لرى. اودارنګه ددوئ نه روايت دې چه صحابؤئ ،جُهد او كوشش كوؤپه دې كښې اوآوازدهغوئ به نه شواوريدلې مګرهمس، (نرې آواز.خُس كارې).

﴿إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ﴾ داهم دآدابو ددعانه ده چه اعتداء به نه كوى، اوداعتداء يعنى دحدنه تجاوركولودپاره هم مختلف صورتونه دى يوداچه غيرضرورى شرطونه اوقيدونه ذكركړى لكه په روايت دابوداؤدكښې دى چه حضرت عبدالله بن مغفل خپل ځوي اوكتلوچه دعائ كوله. ((اسئلك القصرالابيض عن يمين الجنة)) نودوئ هغه له لره منع كړوچه دااعتداءده په دعا كښې، بل صورت داهم دې چه تكلف كوى دسجع اودقافيه په الفاظوكښې. اوبل صورت داهم دې چه سوال كوى دداسې څيزچه هغه دده، دشان سره مناسب نه وى لكه درجه دَ نبوت وغيره،يادعامومسلمانانودضرراونقصان سوال كوى.

﴿وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَـٰحِهَا﴾ داصلاح ،اضافت ((ها)).ته اضافت مفعول ته دې، اوفاعل مقدردې ((اى بعداصلاح الله تعالى اياها)) يعنى تاسوفسادمه كوئ په زمكه كښې پس ددې نه چه الله تعالى ئ اصلاح كړيده په ارسال درُسلو اوانزال دكتبوسره، ياپه توحيدسره ، اوفسادعام دې،قتل دنفوسو، فساد دمالونو په غصب اوسرقه سره فساد دنسبونو په زناء سره اولواطت سره او دټولونه لوئ فساد كفر ،شرك دې اودارنګه بدعت دې ﴿وَٱدْعُوهُ﴾ داپه

معنی دعبادت سره دي ((ای اعبدوه)) یاپه معنی دبلنی اوسوال کولوسره دي نومکرر ذکرکول
ني یا د وجې داهتمام نه دي یاددې وجې نه چه دلته ددعاآداب باطنیه ذکرکیږی چه هغه خوف
اوطمع دی، ﴿خَوْفًا وَطَمَعًا﴾ منصوب دي بناء په مفعول له یابنابرحالیت ((ای ذوی خوفٍ من
الرد لقصورکم عن اهلیة الاجابة وذوی طمعٍ فی الاجابة تفضلاً منه))،مطلب دادې چه دعاپه دې
طریقه سره پکارده چه په زړه کښې داکیفیت وی چه خپل ځان قاصرګڼړی دَ اهلیة داجابت نه
نوخوف ئې وی د رَدکیدلو د دعاء او د الله تعالی د لوئ فضل په وجه طمع لری د اجابت ددعاء
﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ محسنین هغه دی چه عقیده صحیحه دتوحیدلری
اوعمل ئې موافق دسنت سره وی، اودرحمة نه مرادثواب اوقبولیت ددعاء اودعبادت دې.
دلته (قریب) خبردې د (رحمت الله) دپاره نوداسم دانّ اوډخبرپه مینځ کښې مطابقت نشته دې
په تذکیر،تانیث کښې نوددی دپاره مختلف توجیهات دی، (۱) لفظ درحمت زایددې لکه
((سبح اسم ربک)) کښې اسم زاید دې په دلیل ددې سره چه ددې امر د تعمیل دپاره داسې
وئیلې شی ((سبحان ربی الاعلی)) اوداسې نشی وئیلې ((سبحان اسم ربی الاعلی)) (۲) رحمت په
معنی داحسان، اوثواب سره دې(۳) تذکیرد مضاف الیه په لحاظ سره دې(۴) تانیث درحمت
حقیقی نه دې نوتذکیرتانیث دواړه پکښې جائزدی.

وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۖ حَتَّىٰ

او الله تعالی هغه ذات دې چه رالیږی هواګانې زیرې ورکوونکی مخکښې د رحمت (باران) دهغه نه. تر دې پورې

إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا

چه کله را پورته کړې وريځې درنې په اوبو سره روانې کړو مونږ هغه ، طرف د زمکې مړې (وچې) ته ، پس راوړوه وږ مونږ

بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ

په هغې باندې اوبه، پس راؤباسو مونږ په هغې سره هر قسم میوې، دغسې راؤباسو مونږ مړی د قبرونو نه.

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ۝ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ

لپاره ددې چه تاسو نصیحت قبول کړئ. اوکلې پاکیزه(عمده زمکه) راؤزی بوټی دهغې نه په حکم درب دهغې.

وَالَّذِیْ	خَبُثَ	لَا یَخْرُجُ	اِلَّا	نَکِدًا	کَذٰلِکَ	نُصَرِّفُ	الْاٰیٰتِ
اوهغه زمكه چه خرابه (خوره ناكه) وي		نه راوباسي	مگر	بې كاره بوټي.	دغسې قسم.	قسم بيانوو	مونږ آيتونه

لِقَوْمٍ	یَّشْکُرُوْنَ ۝
هغه قوم لره	چه شكر كوي

﴿ وَهُوَ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ ﴾ دادليل عقلي دې په توحيدباندې، اودتصرفاتوبيان دې چه لكه څنگه چه الله تعالى په علوياتوشمس. قمر.نجوم. كښې متصرف دې نودغه شان په ماديات وسلفياتوكښې متصرف دې، اومثال هم دې دقرآن اودتوحيددپاره چه قرآن په شان دباران رحمت دې لكه په حديث كښې دی ((مثل مابعثني الله به من الوحي كمثل غيث اصاب الارض – الخ)) دباران نه مخكښې هواگانې خوشخبرى وركونكى وى دغسې دقرآن نه مخكښې كتابونوكښې دقرآن اودرسول الله صلى الله عليه وسلم بشارات وو، اولكه څنگه چه دباران نه مخكښې وريځې وى نودغسې په ابتداء كښې مشركينوسختى مقابلې اوتيارې جوړې كړې وى. اولكه څه رنگه چه زمكه يوقسمه هغه وى چه په باران سره ترينه فائده حاصليږى بل قسمه بې كاره وى نودغه شان دقرآن نه بعض خلق فائده حاصلوى اوبعضوته نقصان رسى، ﴿بُشْرًا﴾ داجمع دبشيرده يعنى خوشخبرى وركونكى، اوپه يوقراءت كښې نُشراً دې نوهغه په معنى دخوَرونكو،ياپه معنى دژوندى كونكوسره دې﴿ اَقَلَّتْ ﴾دا هواگانې دمشرق اومغرب طرف نه راشى اووريځې راوچتى كړى نوبيادغه وريځې الله تعالى روانې كړى طرف دهغه كلى ته چه وچ وى اوپه هغې باران اوكړى.

هواگانې خلورقسمه دی وريځى (صبا) وريځى راوچتوى (شمال) وريځې جمع كوى (جنوب) وريځى گرځوى (دبور) وريځې جداجداكوى، ﴿كَذٰلِكَ﴾ داجمله معترضه ده دپاره دبيان دنمونې دبعث بعدالموت،﴿ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ ﴾دامثال دې دپاره دمؤمن اودكافر. قلب دمؤمن دعمده زمكې په شان دې په عمده زمكه چه باران اوشى نودهغې نه ميوې گلونه اونورنفع ولاخيزونه پيداشى نودمؤمن په زړه چه دقرآن رحمت راشى نودده بدن نه خائسته اعمال اخلاق پيداشى اودكافرقلب د، بې كاره ،اوشوره ناكې زمكې په شان دې باران پرې اوشى نوځه ترينه نه پيداكيږى اوكه پيداشى نوهغه بې كاره ناقص وى. نودغه شان كافرته كه قران

اورسی نوده ته هیڅ فائده نه ورکوی. ﴿لَا يَخْرُجُ﴾ ای نباته ﴿إِلَّا نَكِدًا﴾ ((ای قليلا لاخير فيه)) (روح) منصوب بنابرحالیت دې ((ای ذانکد)).

فائده ددې ځایه پورې درې دعوې پوره شوې، ددېنه پس شپږ قصې ذکرکېږی چه ددرې واړو دعوو سره متعلق دی اول درې قصې ددريمې دعوی سره متعلق دی څلورمه قصه ددويمې دعوې سره متعلق ده پنځمه قصه ددويمې اودريمې دعوې سره متعلق ده او شپږمه قصه داولې دعوې سره متعلق ده .

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ
اوبه تحقیق سره لیږلې وو مونږ نوح[1] قوم دهغه ته . پس وې ویل چه اې زما قومه. خاص د یو الله عبادت کوئ.
مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝ قَالَ الْمَلَاُ
نشته تاسولره هیڅ څوك معبود، غیر دهغه نه، بیشکه زه یرېږم په تاسو باندې د عذاب د ورځې لوئی نه وه ویل غټانو
مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ
د قوم دهغه، بیشکه مونږ وینو تا لره په گمراهئ ښکاره کښې . وه ویل هغه اې قومه ځما نشته په ما باندې
ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ
هیڅ قسم گمراهي لیکن زه رسول یم د طرف د رب العالمین نه. رسوم تاسوته پیغامونه (حکمونه) د رب خپل.
وَ اَنْصَحُ لَكُمْ وَ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝
او خیر خواهي کوم ستاسو او پوهېږم د طرف د الله تعالى نه په هغه څه چه تاسو پرې نه پوهېږئ

﴿لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا﴾ دااوله قصه ده، د دريمې دعوې سره متعلق ده يعنی داخبره چه ((اُدْعُوْا رَبَّكُمْ)) صرف ديورب عبادت کوئ داځه نوې خبره نه ده بلکه ډيره پخوانئ مسئله ده چه نوح عليه السلام خپل قوم ته بيان کړيده . لفظ د (نوح) علم عجمی دې چونکه ثلاثی ساکن الاوسط دې نوددې وجې نه منصرف دې اوظاهره داده چه نوح علَم دې مشتق نه دې دځه نه. اوچاچه

---

۱ - اوله قصه د دريمې دعوې سره متعلقه ده بطور لف نشر غير مرتب .

ونيلى دى چه دالقب دي مشتق دنياحة، نه اونوح ورته دكثرت نياحت دوجې نه وائ. اواسم محض نى(سكن يا شاكرياعبدالغفار، ياعبدالجبار) وو، دا مرجوح دي، نوح عليه السلام اول هغه نبى دې چه دمشركينودمقابلې دپاره راليګلې شوې وو، دحضرت آدم عليه السلام نه پس دلس پشتونوپورې اولاددآدم عليه السلام په توحيدباندې قائم وو، دشرك اودبت پرستئ ابتداء ددينه اوشوه، (كماهومروى عن ابن عباس رضى الله عنه) چه بعض صالحين وفات شوچه دهغوئ نومونه، (وُد، سُواع، يغُوث، يعُوق، نسر) وؤ، نوخلقودهغوئ تصويرونه جوړ كړو، ددې دپاره چه دهغوئ داحوالواوعباداتويادتازه وى، نوبياځه زمانه پس نورخلق چه پيدا شو، نوهغوئ ددغه تصويرونومطابق مجسمې جوړې كړې، څه زمانه پس ددغه مجسموعبادت شروع شو نوهركله چه بُت پرستى عامه شوه نوالله تعالى نوح عليه السلام راوليګو، حضرت نوح عليه السلام قوم ته، نه نيم سوه(٩٥٠) كاله تبليغ كړيدې، اونبوت ورته ديوقول مطابق دپنځوس كالونه پس ملاؤشويدې اودبل قول مطابق ورته دڅلورسوه كالونه بعد ملاؤشويدې اوكل عمرئ ددې مشهورقول مطابق څوارلس نيم سوه كاله دې ،اطول الانبياء عُمراً دې.

﴿إِلَىٰ قَوْمِهِۦ﴾ ددې نه معلومه شوه چه بعثت ئ عام نه وو ،بلكه دخپل خاص شريعت په اعتبارسره صرف خپل قوم ته مبعوث وو، يعنى دنوح عليه السلام شريعت صرف ددغه زمانې دخلقودپاره وؤ، اګركه اصول دټولوانبياؤ مشترك دى، په دغه وخت كښې په ټوله زمكه كښې ټول خلق هم دغه ووچه نوح عليه السلام ورته راليګلې شوې وو، ليكن دده شريعت صرف ددغه موجوده زمانې دخلقودپاره وو، دعامودپاره نه وو، نودده عموم بعثت ثابت نه شو،ځكه دعموم بعثت معنى داده چه دنبى شريعت دتمامو انسانانودپاره وى، بلكه عموم بعثت دخواصودسيدالكونين حضرت محمدمصطفى صلى الله عليه وسلم نه دې چه شريعت ئ دتماموهغه انسانانودپاره دې چه موجودووپه زمانه دده كښې اودقيامت پورې پيدا كيدونكى ټول انسانان ،بلكه دټولوجناتودپاره،بلكه بناپه قول تحقيق باندې دملائكو او ټولو جماداتودپاره رسول دې،اوفائده دارسال معصومينوته اوجماداتوته اظهار دشرافت دې په ټولو مخلوقاتو.

﴿يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ﴾ په دې كښې دحصرمعنى ده يعنى صرف ديوالله عبادت كوئ، مالى عبادت وى اوكه بدنى عبادت وى اوكه قولى عبادت داټول صرف دالله تعالى دپاره خاص كړئ. ﴿مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ﴾ (من) زائددې دتاكيددنفى دپاره، معنى ئ داده نشته دې ستاسودپاره

هيڅوک اله غيردالله تعالى نه، اودتوحيدنه په انكاركولوسره عذاب ددنيا او دعقبى راځي • ﴿قَالَ الْمَلَأُ﴾ د انبياؤمخالفت اول دقوم رئيسانوكريدې، ملا. اشراف مالداران اومشرانو دقوم ته وائي ، ((يملاالقلوب بجلالهم والعيون بجمالهم)) دوئ نوح عليه السلام ته ګمراه وائ اودتوحيددعوت ته ګمراهي واي ﴿لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ﴾ دا ابلغ دې د (ضَلَالٌ) نه ځكه چه (ضللة) دلالت كوي په جنس باندې نونفي دجنس ابلغ وي ﴿وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ﴾ دادعوه درسالت ده اودكفارودقول رددې على سبيل الترقي يعنى زه ګمراه نه يم بلكه دهدايت په لويه اعلى مرتبه يعنى رسالت باندې فائزيم ﴿أُبَلِّغُكُمْ﴾ دمنصب نبوة ذمه وارى تبليغ دې په همدردئ خيرخواهئ سره، هرنبى خيرخواه اوشفيق وي په امت، نبى چه دتوحيدواضح بيان كوى اودلائل دتوحيدبيانوى نوپه زړه كنبې ئ دقوم خيرخواهئ همدردى وى اودچادمغلوب كولو . ساكت كولو، رسواكولواراده اواندازپكښې نه وى ﴿وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ﴾ دنبى علم دالله تعالى دطرف نه وهبى علم وى په ذريعه دوحي سره اوزيات وى دعلم د امت نه نو حضرت نوح عليه السلام فرمائى چه ما ته د الله تعالى د طرف نه دا علم دې چه په انكار سره عذاب دنيوى اواخروى راځي

أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ
آيا تعجب كوئ تاسو چه راغې تاسوته نصيحت د طرف د رب ستاسو نه په واسطه د يو سړى سره ستاسو نه،
لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۞
د دې لپاره چه ويروى تاسو او چه بچ شئ تاسو د شرك نه او د دې لپاره چه په تاسو رحم وكړې شى
فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا
پس دوئ تكذيب كوؤ دهغه پس بچ كړو مونږ ده لره او هغه څوك چه دهغه سره وؤ په كشتئ كښې او غرق كړل مونږ
الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ ۞
هغه كسان چه تكذيب ئې كولو زمونږ د آيتونو، بيشكه وؤ دوئ قوم رانده

﴿أَوَعَجِبْتُمْ﴾ دمشركينو دشبهاتونه يوه لويه شبه داوه چه درسالت اوبشريت په مينځ كښې

منافات دي.لكه دوئ به وئيل ﴿لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً﴾ لكه موجوده اهل بدعت هم دغه شان
گمان لري چه رسول وي نوبشربه نه وي. دَ دوئ او دَ هغوئ په مينځ كښې فرق دادي چه
مخكنومشركانونبي ليدلي وونودبشريت نه ئ انكارنشوكولي نودرسالت به ئ انكاركوو.
اوموجودواهل باطلونبي نه دي ليدلي نودنبوت نه انكارنه كوي خودبشريت نه انكاركوي.
اوبنياد دَهُلو يو دي. نوحضرت نوح عليه السلام فرمائي چه داخه دتعجب خبره نه ده چه بشررسول
شي ﴿عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ﴾ په واسطه ديورجل سره.ستاسودجنس نه. بشر. رَجُلٌ مِّنكُمْ. نه واضحه
معلومه شوه چه نبي بشراومذكروي اونسب ئ معلوم وي اوعمده اعلى نسب والاوي.
﴿لِيُنذِرَكُمْ﴾ رسالت دپاره دانذاردي اوانذارسبب دتقوى دي﴿وَلِتَتَّقُوا۟﴾ اوتقوى سبب درحم
دي﴿وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ اودلته لَعَلَّ ذكرشونوپه دي كښې اشاره ده ديته چه په تقوى سره
داجراوثواب لزوم وجوب نه راځي بلكه رحمت اوثواب محض فضل احسان دَ الله تعالى دي.
اودارنگه اشاره ده ديته چه متقي دي اعتمادپه خپل تقوى نه كوي، اوبي خوفه كيدل ورته نه
دي ېكار﴿فَكَذَّبُوهُ﴾ صيغه دماضي ده دوام اواستمراردپاره ده ،يعني دوئ مستمروو په
تكذيب باندي.نوموږبچ كړل دلره اوهغه څوك چه دده سره ووپه كشتئ كښې چه دهغوئ په
تعدادكښې مختلف اقوال دي دابن عباس رضي الله عنه قول دادي چه اتيا (٨٠) كسان وو. او
د ﴿ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟﴾ نه معلوميږي چه طوفان صرف د نوح عليه السلام د قوم په علاقه وؤ چه هغه عراق
دي، اوكومه خبره چه طوفان په ټوله زمكه وؤ نو د هغې دا توجيه كيدي شي چه ټوله هغه
زمكه چه انسانان پري آباد وؤ. ﴿قَوْمًا عَمِينَ﴾ دزړونوړوندوالي ترينه مراددي.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم
اوليږلي وؤ موږ عاديانو ته[1] رور دهغوئ هود، وه وئيل ده اې قومه خما ! صرف د يو الله بندگي كوئ نشته ستاسو لپاره
مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ۝ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦٓ
هيڅوك معبود غير د هغه نه، آيا پس بچ كيږئ تاسو د شرك نه. وه وئيل غټانو هغو چه كفر ئې كړي وؤ د قوم د ده نه،

١ ـ دويمه قصه د دعوى ثالثي سره متعلقه.

إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿۶۶﴾

...شکه مونږ خامخا وینو تا لره په کم عقلتیا کښې او بیشکه مونږ خامخا گمان کوؤ په تا باندې د دروغژنو نه

قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۶۷﴾ أُبَلِّغُكُمْ

وه ویل ده اې قومه ځما نشته په ما باندې هیڅ کم عقلتیا لیکن زه رسول یم د طرف د رب العالمین نه رسوم تاسو ته

رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿۶۸﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ

پیغامونه (حکمونه) درب خپل اوزه ستاسو لپاره خیرخواه ، امانت گریم آیا تعجب کوئ تاسو چه راغي تاسو ته

ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ۚ وَاذْكُرُوا

نصیحت (وحی) د طرف د رب ستاسو نه په واسطه د یو سړي ستاسو نه، د دې لپاره چه تاسو ویروی. او یاد کړئ دا نعمت

إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ

کله چه وگرځولئ الله تعالی تاسو خلیفه گان د زمکې، وروستو د قوم د نوح نه او زیات نې کړو تاسو لره

فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً ۖ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۶۹﴾

په پیدایش (جسمونو) کښې فراخي (قوت) پس یاد کړئ نعمتونه د الله تعالی د دې لپاره چه کامیاب شئ تاسو

قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ

وه ویل دوئ . آیا ته مونږ ته راغلې نې ددې لپاره چه مونږ بنده گي وکړو دیو الله او پریږدو هغه چه دهغوئ عبادت به کولو

آبَاؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۷۰﴾

زمونږ مشرانو. پس راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته یروی مونږ دهغې نه کچرې نې ته درښتیا ویونکو نه

﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا﴾ دا دویمه قصه ده، اوددریمې دعوې سره متعلق ده ،عاد دحضرت نوح عليه السلام په نسل کښې په پنځم پُښت کښې دددوئ دځوئ سام په اولاد کښې دي اودوئ ته عاداولی اوعادارم وئیلې شی،ارم دعادیانواوثمودیانودواړوجدااعلی دې اودعاد سره اولی ذکرکول دتمیزدپاره دی دثمودیانونه، ځکه چه عاداوثمودواړه د ،،ارم،، دوه شاخونه دی چه

يوته عاداولی وئیلې شی اوبل ته ثمودوئیلې شی، اوبعض مفسرین وائی چه په قوم عادچه هرکله عذاب راغلونودوئ یو وفدمکې معظمې ته راغلې ووهغوئ دعذاب نه محفوظ وو، نودوئ ته عاد اُخری وئیلې شی، اوقوم عاددیارلس قبیلی وې سکونت ئې په احقاف کښې وو دعمان نه دحضرموت اویمن پورې آبادوو، ددوئ کلی، علاقی، ډیرآبادوو، سرسبز باغونه زمکې ئې لرلې اوډیرقوی الجثه وواوپه ټول خلقوباندې غالب وو، دالله تعالی دطرف نه په دوئ باندې مالی جسمانی انعامات ډیرپه کثرت سره وولیکن دوئ دخپل قوت وشوکت په نشه کښې مست وو، اود ﴿مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً﴾ نعرې ئې لګولې، اوپه شرک اوبُت پرستئ کښې مبتلاء وونوالله تعالی په دوئ باندې خپل بل روحانی انعام اوکړو چه نبی ئې ورته مبعوث کړو. حضرت هود عليه السلام هم دحضرت نوح عليه السلام په نسل کښې په پنځم پشت کښې. بعض حضرات مفسرین اتم پشت وائی دسام په اولادکښې وو،اوددې وجې نه ئې ورته ((اخاهم هودا)) اووئیل، حضرت هود عليه السلام خوې دیعرب، ابن قحطان، دې، چه په یمن کښې آبادوواویمنی قوم ددوئ په نسل کښې دې، دوئ ته قحطانی وئیلې شی، په حدیث دبخاری اوابوداؤدکښې ((مَلِکٌ من قحطان)) راغلیدې، په یمن کښې دعربی لسان ابتداء دیعرب نه شویده، دامخکنی عرب ووچه دوئ ته عربِ عاربَه وئیلې شی، اودحضرت اسمعیل عليه السلام نه پس والاؤته ، عربِ متعربّه وئیلې شی، حضرت هود عليه السلام خپل قوم ته تبلیغ شروع کړو

﴿يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ﴾ دنوح عليه السلام په قصه کښې فاء ذکرده، ((فقال)) دلته نشته دې، ددې یوه **توجیه** داده چه په فاء ذکرکولوکښې اشاره ده اتصال اودوام ته یعنی دبعثت سره متصل همیشه دعوت شروع کړو چه دادهغه خصوصی فضیلت وو، **دویمه توجیه** داده چه هغلته فاء دپاره دتفصیل دماقبل ده اودلته ((قال)) جمله مستانفه ده جواب دسوال دې چه څه ئې اووئیل نوجواب اوشوچه ((قال ـ الخ)) اودنوح عليه السلام په قصه کښې ،﴿قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖ﴾ دې

﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ ورسره نشته دې اودلته شته دې نوددی وجه داده چه په قوم دهودعلیه السلام کښې بعض غټان داسې ووچه کفرئ نه ووکړې، لکه مرثدبن سعدنوددې وجې نه ((الذين كفروا)) ذکرشو. چه اشاره شی چه اعتراضونه اوطعنونه صرف هغه غټانوکړی ووچه کافران وو. اودحضرت نوح عليه السلام قوم تمام غټان کافرووهیڅوپه کښې ایمان نه وو راوړې نوځکه ((الذين كفروا)) ذکرنشو ﴿فِىْ سَفَاهَةٍ﴾ سفاهت دعقل کمزورئ ته وائ، اوفی. ذکرکول

ومبالغې دپاره دی ((ای متمكنا راسخا ف سفاهة)) په هرنبي باندې جدا جدا طعن لګيدلې دې.
دنوح عليه السلام په قصه کښې (ضللة) دې او دلته (سفاهة) دې.

﴿لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ﴾ رسول کم عقل کم علم نه وی، بلکه رسول ته درب العلمين دطرفه دواړه اکمل ورکړې شوی وی. ﴿وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ﴾ د نوح عليه السلام په قصه کښې ((أنصح)) په صيغه دفعل سره مذکوردې چه دلالت کوی په تجددباندې ځکه چه دنوح عليه السلام دعوت په نوې نوې طريقوسره وو، ليلاً، نهاراً سراً وجهراًوغيره لکه په سورت نوح کښې مذکور دی اودعوت دهود عليه السلام دغه شان نه وونو دلته صيغه داسم فاعل ذکرشو﴿أَمِينٌ﴾ ذکر کول دځپل ذات دمدح دپاره نه دی بلکه مقصود رد دقول دکافرانودې چه وئيل ئې ﴿وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ نودسوال واردنه شو چه مدح دځپل ذات کول ممدوح نه دی﴿خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ﴾ يعنى دنوح عليه السلام دقوم دهلاکت نه پس ئې تاسوته دزمکې خلافت اوتصرف درکړواوجسمانی قوت ئې درکړونوددې نعمتونوشکريه داده چه ايمان راوړئ.﴿فِي الْخَلْقِ﴾ په جسمونوکښې ((فيماخلق من اجرامكم)) (کشاف)﴿بَصْطَةً﴾ قوة،زيات والې، دقران دظاهر نه معلوميږی چه ددوئ جسمونه دعاموانسانانودجسمونونه زيات اوقوی وو،په بعض رواياتو کښې دی چه څلورسوه ګزه دبعضُ طول وو، اوا٠نى طول به ئې سل ګزه وو، نوکه دغه روايات صحيح وی نوبيامراددزيادت دجسم نه زيادت دې په مقداردطول چه دحضرت آدم عليه السلام په زمانه کښې وو، نودحديث صحيحه نه مخالفت نه راځی چه بخاری وغيره روايت کړيدې چه دآدم عليه السلام قد شپيته ذراعه وو، اواولادبه ئې دهغې نه نه کميږی ځکه چه ددی آيت نه معلومه شوه چه دعاديانوقددآدم عليه السلام دقدنه هم زيات وو، والله اعلم. ﴿أَجِئْتَنَا﴾ استفهام انکاری په معنى د ((لاينبغي)) سره دې يعنى داستادعوت بالکل نامناسب او غلط دې چه ته وائې چه صرف دیوالله تعالى عبادت اوبندګئ کوئ اوزمونږ آباؤاجدادوچه د کومومعبودانوعبادت کوو هغه ترک کړو﴿فَأْتِنَا﴾ دضداوعناددوجې نه ئې طلب دعذاب اوکړو.

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَادِلُونَنِي

او وويل ده په تحقيق سره ثابت شويدې په تاسو باندې د طرف د رب ستاسو نه عذاب او غضب. آيا جګړه کوئ تاسو ځما سره

فِيْٓ	اَسْمَآءٍ	سَمَّيْتُمُوْهَآ	اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمْ	مَّا	نَزَّلَ اللّٰهُ

په باره دالوهیت، دنومونوکښې چه هغه ایخودلی دی تاسو اوستاسو مشرانو.ندې نازل کړې الله تعالی

بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ۚ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۞ فَاَنْجَيْنٰهُ

دهغې په الوهیت څه دلیل. پس تاسوانتظار کوئ بیشکه زه ستاسوسره دانتظار کوونکونه یم. پس بچ کړو مونږ دهٔ له

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

اوهغه کسانو له چه د دهٔ ملګری وو په سبب د رحمت خپل. او پرې کړې مونږ جرړې دهغه کسانو چه تکذیب ئې کولو

بِاٰيٰتِنَا وَ مَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۞

د آیتونو زمونږ او نه وو دوئ مؤمنان

﴿ قَالَ قَدْ وَقَعَ ﴾ اووئیل هود علیه السلام دعذاب طلب کولوته ضرورت نشته دي، عذاب ستاسودپاره واجب شویدې په سبب دکفراوشرک ستاسوسره نوطلب ته ئې حاجت نشته طلب خودهغه شئ پکاروی چه دنه راتلواحتمال پکښې وی ﴿ فِيْٓ اَسْمَآءٍ ﴾ ددینه مرادهغه بې حقیقته اومن ګهړت صفات دی چه دوئ خپلومعبودانولره ثابتول ، مشکل کشا، حاجت رواخالق رازق وغیره صفات، یامراددا اسماؤنه خودمسمیات اواصنام دی اوڅوک چه دیواسم لائق نه وی نوهغه ته اسم وئیلې شی، نومعنی داشوه چه آیاتاسوڅماسره جهګړه کوئ په هغه مسمیاتوکښې چه تاسوورته هغه نوم وضع کړیدې چه لائق نه دې ورسره نوګویاکښې دغه مسمیات په منزله دصرف اسماؤدی، حاصل داچه داسماء نه مرادیاصفات دی یامسمیات دی چه لائق داسم نه دی ددې مثال په موجوده دورکښې داده چه بعض خلق بعض اولیاؤته ، بادو بابا ، ګوزن بابا ، وائی ، وغیرذالک ﴿ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ ﴾ یعنی تاسوپه خپله مدعی دشرک باندې هیڅ دلیل نه لرئ اوڅمامدعی دتوحیددرهم نشئ کولې ﴿ فَانْتَظِرُوْٓا ﴾ یعنی جدال ختم کړئ اوانتظاردنزول دعذاب اوکړئ، ﴿ فَاَنْجَيْنٰهُ ﴾ دنجات اوعذاب نسبت الله تعالی خپل ځان ته اوکړو ﴿ وَقَطَعْنَا ﴾ اوسبب دعذاب ئې تکذیب ذکرکړواوسبب دنجات ئې رحمت ذکرکړو نو معلومه شوه چه نجات دمؤمینوواجب نه دې په الله تعالی باندې بلکه صرف تفضل اواحسان

...ي. اود ﴿ وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ ﴾ نه معلوميږي چه ددوئ نسل ختم شويدي اوبعض وائ چه
...كفار بالكل هلاک شويدی اودمؤمنانونسل پاتی شويدي. اوداهم ممکنه ده چه دکفارونابالغ
...بچی پاتې شوې وی اوددوئ نسل ته عادِ اُخرٰی وئيلې شی. اوهلاکت ددوئ په بيزې اوگرمې
...هوا سره شويدي. ﴿ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٢٤ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ بِأَمْرِ رَبِّهَا ﴾ . اوتفصيل دهلاکت ددوئ
اهل سيروداسې ذکرکړيدي چه هرکله دوئ دحضرت هود عليه السلام تکذيب اوکړونوالله تعالى
...ددوئ نه باران بندکړو درې کاله حتی چه دوئ په ډيرتکليف کښې شو. اوپه دغه زمانه کښې
...طريقه داوه چه کله به په دوئ څه بلاء اوتکليف راغې نودوئ به مسجدحرام ته حاضريدل
...اودتکليف رفع کيدلودعاء ئ غوختله دمشرکانو اومسلمانانو ټولو دغه طريقه وه. په دغه
...زمانه کښې په مکه باندې عمالقه وو، نودعاديانووفددخپل عادت مطابق حرم ته روان شوچه
...اوباکسان وو اوپه دوئ کښې مرثدبن سعدهم وو چه مسلمان ووليکن خپل اسلام ئ پټ کړې
...وو. هرکله چه دوئ مکې ته قريب شونودحرم نه باهرنه دعمالقوسردار معاويه بن بکر
...اوسيدلو، چه هغه ددغه وفدديوكس، جلهمه، خال،ماما،وو. نودوئ معاويه سره ډيره شول
...اوهغه ددوئ ډيرقدراحترام کولو، نودوئ يوه مياشت تيره کړه، شراب به ئ سکل اودده
...وينزې ،غزل ويونکی، ورده او جراده، نه به ئی غزلې اوريدلې، نومعاويه بن بکر.سوچ اوکړو
...چه داخلق چه دکوم مقصددپاره راغلی ووهغه ترينه هيرشو، ليکن دعربودعام عادت مهمان
...نوازئ په وجه ئ ورته داسې وئيلې نه شو چه لاړشئ حرم ته دخپل مقصددپاره. چه دوئ گمان
...اونکړې چه زمونږ نه تنګ شويدي نوغزل ويونکی وينزې ته ئې اووئيل چه په خپل غزل کښې
...داسې خبری اوکړه چه دوئ ته خپل مقصدياد راشی نوهغې چه دغه شان اشعاراووئيل نودوئ
...بوهه شو اويوبل ته ئی اووئيل چه مونږ خوخپل قوم ددې دپاره راليږلی وو چه دهغوئ دپاره
...دُعاء اواستغاثه اوکړو. زمونږ نه دخپل مقصدپه حصول کښې ډيرتاخيراوشوراځئ چه حرم ته
...لاړشو اودخپل قوم دپاره دباران سوال اوکړو،نومرثدبن سعدخپل اسلام ظاهرکړواودوئ ته
...ئ اووئيل چه په خدائ مې دې قسم وی چه ستاسوپه دعاسره باران نه کيږی ليکن که چرې
...دخپل نبی تابعداری اوکړئ اوخپل رب ته انابت اورجوع اوکړئ نوپه تاسوبه باران اوشی.
...نووفدوالاؤمعاويه ته اووئيل چه مرثددلته دخپل ځان سره حصارکړه چه زمونږ سره مکې ته
...لاړنه شی ځکه ده اتباع کړيده ددين دهود عليه السلام اوزمونږ دين ئ پريښودلې دې. نوبيادغه
...وفدمکې ته داخل شو، دباران دعائ کوله نومرثددمعاويه دکورنه خارج شو اوددې وفدسره

ملاؤشوا وهغوئ لاتراوسه پورې دعانه وه کړې، نومرثد دعا اوکړه چه ياالله دوئ چه څه دعا غواړي ماپه هغې کښې مه داخله وه بيا د وفد مشر «قَيل» دعاشروع کړه. «اللهم اسق عاداًماکنت تسقيهم» باقي ملګروئ اووئيل «اللهم اعط قليلاً ماسئلک واجعل سؤلنامع سؤله» .
نوالله تعالى درې قسمه وريځې پيداکړې، يوقسم سپينه اوبله سره وه اوبله توره وه. نو بيا د آسمان نه آوازراغې چه اې قيل غوره کړه دخپل ځان اودخپل قوم دپاره په دې درې واړوقسمونوکښې يوقسم.نوقيل..توره وريځغوره کړه ځکه چه په دې کښې اوبه ډيرې وي. نو داسمان دطرفه نه ندا راغله، «اخترت رماداًرمدًالاتبقى من ال عادٍ احداً»، اودغه توره وريځ، الله تعالى روانه کړه قوم عاد طرف ته ،نودوئ ته ظاهره شوه د«وادي مغيث» دطرفه، نودوئ چه اوليدله نواوئ وئيل ﴿هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا﴾ ددې وريځې نه هواراغله، اول داوريخ يوې ښځې اوليدله چه نوم ئې «مهدر» وو نوهغه بې هوشه اوغورزيده نوکله چه په هوش شوه نوخلقوترينه تپوس اوکړو چه څه دې اوليدل هغې اووئيل داسې هوامې اوليدله چه په هغې کښې داُورلمبې دې اومخکښې ترينه څه کسان ووهغوئ راښکله. نوالله تعالى داهواپه دوئ باندې اوه شپې اواته ورځې مسلطه کړه اوټول هلاک شو، اوحضرت هود عليه السلام اودده ملګرى مؤمنان هم په دغه علاقه کښې په يوځپرکښې وو، دوئ ته به يخه متعدله « فرحت بخش» هواراتله. دقوم دهلاکت نه پس حضرت هود عليه السلام اومؤمنان مکې ته لاړل چه دالله تعالى عبادت ئې کوو حتى چه وفات شو اودفن شو بين الركن والمقام ،ابن عساکرد عبدالرحمن بن سابط نه روايت کړيدې چه په مابيّن د«رکن» اود«مقام» کښې ددرې اويا انبياؤقبوردي، هود عليه السلام ، نوح عليه السلام ، شعيب عليه السلام ، صالح عليه السلام ، اسمعيل عليه السلام ، اوروايت دې چه دنبي قوم به چه کله هلاک شو نوبيابه نبي اومؤمنانومکې ته هجرت اوکړو اوهغلته به ئې دمرګ پورې دالله تعالى عبادت کولو، روايت کړيدې بخاري په تاريخ کښې اوابن جريروغيرهما دحضرت علي رضي الله عنه نه چه قبر دهود عليه السلام په حضرت موت کښې دې کثيب احمرسره،«روح المعاني، سراج المنير»

وَإِلَىٰ	ثَمُودَ	أَخَاهُمْ	صَٰلِحًا	قَالَ	يَٰقَوْمِ	اعْبُدُوا	اللَّهَ
او لېږلې وو مونږ ثمودیانو ته [1]		رور د دوئ صالح ،		وه وئيل هغه	اې قومه څما ،	بندګي کوئ صرف د	يو الله

[1] . دريمه قصه د دريمې دعوې سره متعلق.

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

نشته دي تاسو لره هيڅ معبود غير د هغه نه. په تحقيق سره راغليده تاسوته واضحه معجزه د طرف د رب ستاسو نه.

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا

دا ده اوښه د الله تعالى تاسو لره معجزه پس پريږدئ دا چه خوراك كوي په زمكه د الله تعالى كښې او مه رسوئ ديته

بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ

هيڅ تكليف، «كني» پس وبه نيسي تاسو لره عذاب دردناك اوياد كړئ «دا» كله چه وګرځولې الله تعالى تاسو

خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا

خليفه ګان روستو دعاديانو نه اوځاى ئې دركړوتاسوته په زمكه كښې ، جوړوئ تاسو د نرمې زمكې نه بنګلې.

وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝

او كنئ تاسو غرونه جوړوئ ترينه كورونه، پس ياد كړئ نعمتونه د الله تعالى او مه ګرځئ په زمكه كښې فساد كوونكي

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا

وويل غټانو هغه چه تكبر ئې كولو «د مال د وجه نه» د قوم د هغه نه، هغه چا ته چه كمزورى ګڼلې كيدل.

لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

يعنې هغه چاته چه ايمان ئې راوړې وو د دوئ نه آيا تاسو يقين كوئ چه صالح رسول دې د طرفه د رب د ده نه.

قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

دوئ وه ويل بيشكه مونږ په هغه څيزچه دوئ پرې راليږلې شوى دى ايمان راوړې دې. وه ويل هغه چاچه تكبر ئې كړې وو

اِنَّا بِالَّذِيْٓ اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝

بيشكه مونږ په هغه څه چه تاسو پرې ايمان راوړې دې انكار كوونكي يو.

﴿وَاِلٰى ثَمُوْدَ﴾ دادريمه قصه ده ددريمى دعوې سره متعلق ده، ثمودنوم دقبيلې دې په

اصل كنبې دانوم ددوئ دجداعلى دې، چه ثمودبن عابربن ارم بن سام بن نوح علیه السلام . نوقبيله مسمى شوه په اسم دجداعلى سره، اودوئ دعربوپه شمال مغرب كنبې دحجاز اوشام په مينځ كنبې په لاره دتبوک باندې آبادوو. ددوئ لوئ مركزى شهرحجروو -اوس هغه ځائ ته مدائن صالح وائ داهغه كندرات دى چه نبى صلى الله عليه وسلم عزوه تبوک ته دتشريف وړلوپه موقع ددوئ په علاقه تيرشواواوئ فرمائيل ((لاتدخلواعلى هؤلاء المعذبين الاان تكونوا باكين - الخ)) ثموديان دعاديانوپه شان قوى اوبهادردولتمند،اوپه تعميراتوكنبې ډيرماهروو. ددوئ تعميرى يادگارونه تراوسه پورې باقى دى، چه په هغې باندې ارمى. ثمودى كتبى منقوش دى. ﴿بَيِّنَةٌ﴾ دتوحيداورسالت واضح دليل.

﴿هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ﴾ دابيان د ((بيّنة)) دې، اضافت دناقه لفظ د الله ته دپاره دتشريف دې. اوبله وجه داده چه دناقې پيدائش په غيرداسبابو عاديۆ نه ووځكه ئې اضافت الله تعالى ته اوشو. حضرت صالح علیه السلام خپل قوم ته ډيره طويله زمانه دعوت دتوحيدپه ډيرواضح دلائلووركړوليكن دوئ انكاركولواودصالح علیه السلام نه تنګ هم شواوملامت هم، نومشوره ئ اوكړه چه مونږ دده نه داسې مطالبه كوو، چه دې ئ نشى پوره كولې، نو دانكار كولو دپاره به عذرجوړشى اودملامتئ نه به بچ شو، هغه داچه د وچ كلك غر نه دې حامله اوښه پيدا شى، نوصالح علیه السلام ددوئ نه عهدواخست چه كه دا مطالبه ستاسوپوره شى نوبيابه ايمان راوړئ نوټولووعده اوكړه دايمان، نوصالح علیه السلام دعااوكړه نواوښه پيداشوه، اوبيالنګه شوه بچې ترينه پيداشو، دمعجزې په ليدلو سره څه خلق مسلمانان شو، اونورخلقوهم دايمان راوړلواراده وه خويوڅوسردارانومنع كړل، حضرت صالح علیه السلام ته خطره اوشوه چه دوعده خلافئ په وجه به په قوم عذاب راشى نو دشفقت دوجې نه ئ اووئيل چه ددې ناقې حفاظت كوئ اوتكليف ورته مه رسوئ كيدې شى چه دعذاب نه بچ شئ د ﴿تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ﴾ نه مراد .دانه دې چه څوک دئ دخپل فصل وغيره نه، نه منع كوى بلكه مراددادې چه كومه عامه مرعى ده، نودهغې نه ئې مه منع كوئ، دا اوښه عظيم الخلقت اوښه وه نوخوراک به ئې ډيرزيات كولو. اوپه مرعى كنبې به نورحيونات ددې دليدلو نه پريدل او اوبه به ئې هم ډيرې زياتې سكلې او ددوئ داوبودسكلوكوهى دفرشتوپه نګرانئ كنبې تقسيم وويوه ورځ به د قوم وۆ اوبله ورځ به دناقې وه نوټولې اوبه به ناقې سكلې، ليكن پئ پكښې دومره ډيروو چه

نه به خلاصیدل . اخر دوئ د ناقې نه تنګ راغلل هغه ئ قتل کړه نو عذاب پرې راغلو .﴿خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ عَادٍ﴾ یعنی دمخالفت په وجه دتباه شوؤ خلقونمونه ستاسو وړاندې ده دهغې نه عبرت واخلئ﴿وَبَوَّأَكُمۡ﴾ داتذکیربالاء الله دي. ﴿ٱسۡتُضۡعِفُواْ﴾ کمزوری ګڼړلي کیدل دغریبئ دوجې نه یا د نسب د وجې نه. اودبخاری په حدیث دهرقل کښې دی چه ضعفاء اتباع درسولانووی﴿لِمَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُمۡ﴾ دابدل دې د ((استضعفوا)) نه او اشاره ده چه ټولوضعفاؤ ایمان نه وو راوړې ﴿أَتَعۡلَمُونَ﴾ داقول په طریقه تخویف اوددهمکئ سره وو. اوهغوئ ددینه خوف اونکړوبلکه علی سبیل الترقی ئ ووئیل ﴿إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلَ بِهِۦ﴾ یعنی صرف په صالح عليه السلام باندې نه بلکه په مسئله توحیدهم ایمان لرو.

فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا

پس دوئ هلاکه کړه اوښه او نافرمانی ئې وکړه د حکم د رب خپل نه او وه ویل دوئ اې صالح : راوړه مونږ ته

بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ

هغه عذاب چه ته بروی مونږدهغې نه که ئې ته د رسولانو نه . پس ونیول دوئ لره زلزلې پس وګرځیدل دوئ

فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ۝ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ

په خپلو کورنو کښې پرمخې پراته . نو واپس روان شو صالح د دوئ نه او وې ویل چه اې قومه خما · خامخا په تحقیق سره

أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ۝

ما رسولې دې تاسو ته پیغام د خپل رب او ستاسو خیر خواهي مې کوله، لیکن نه خوښوئ تاسو نصیحت کوونکی

﴿فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ﴾ عقرپه اصل کښې دخپو پریکولو ته وائ مرادترینه نحردې یعنی اول ئ ورته خپې پرې کړې بیائ ذبح کړه. داکاریوکس کړې وولیکن ټول پرې راضی وونو ټولو ته ئ نسبت اوشو، نوم ددغه کس قدار بن سالف دې په حدیث کښې راغلیدې چه ددغه قوم ډیرشقی کس هم دغه کس وو. نوهرکله چه داکارئ اوکړونو صالح عليه السلام ورته اووئیل چه اوس به د الله تعالی عذاب راځی علامه ئ داده چه صبابه ستاسو مخونه زیړشی. اوبله ورځ به ستاسو مخونه (چهرې) سرې شی اوبله ورځ به توری شی، نودوئ اراده اوکړه چه صالح عليه السلام قتل کړو نو

څوکسان وریسي لاړل، نو الله تعالی دوئ هلاك كړل آخر پرې عذاب راغې چه بیان ئ دادي ﴿ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ ﴾ اوپه سورة هودکښې دصیحه ذکردې نو صیحه پرې دبره نه راغلې ده او رجفه یعنی زلزله دلاندې نه راغلی ده. یامراد د رجفې نه حرکت القلب دی چه په سبب دصیحه سره راغلې وو﴿ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ ﴾ په دې کښې دوه قوله دی یو دا چه داتولی (یعنی واپس تلل د صالح علیه السلام دٙ دوئ نه) په حالت دحیات کښې وه قبل دهلاک ددوئ نه. نوپه آیت کښې تقدیم تاخیردې، دویم قول دادې چه داپس دهلاکت ددوئ نه ده خومقصوددخطاب نه افهام. اسماع نه ده بلکه اظهار دحسرت دې.اونداء،خطاب همیشه دافهام اسماع دپاره نه وی کله داظهارحسرت دپاره هم وي

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ

او لیږلې وو مونږ لوط [1] کله چه ده وه ویل خپل قوم ته. آیا تاسو راتله کوئ بدکارئ ته مخکې والې ندې کړې ستاسو نه

بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ

دې کار ته هیڅوا دخلقو نه بیشکه تاسو راتلل کوئ نارینو ته په شهوت سره. بغیر د ښځونه .

بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ۝ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْهُمْ

بلکه تاسو قوم یئ د حد نه تیریدونکی (مشرکان) او نه وو جواب د قوم د هغه مگر دا چه وه ویل دوئ وباسئ دوئ لره

مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ۝ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

د کلی ستاسونه. بیشکه دوئ داسې خلق دی چه خان پاك ساتل غواړی. پس بچ کړو مونږ ده لره او اهل د ده لره

اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝ وَ اَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ؕ

مگر ښځه د ده، وه هغه د پاتې کیدونکو نه په عذاب کښ او را وه ورولو مونږ په دوئ باندې نا آشنا باران یعنی کاڼی

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

پس وګوره څنګه وو انجام د مجرمانو

[1] - څلورمه قصه متعلق د دعوی ثانیی سره .

﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ ﴾ داخلورمه قصه ده ددويمي دعوې سره متعلق ده. چه ﴿ اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ﴾ . دماانزل تابع شئ دشياطينو اتباع مه کوئ. لوط عليه السلام قوم دشيطان داتباع نه منع کړوليکن هغوئ منع نه شو نوعذاب پرې راغلو. اوپه دې قوم کښې دشرک بيماری هم وه اودخلاف فطرت قبيح عمل (لواطت) بيماری هم وه الله تعالی دوئ ته لوط عليه السلام مبعوث کړو. لوط عليه السلام ددې قوم دنسب نه نه ووبلکه دحضرت ابراهيم عليه السلام وراره وو. لوط بن هاران بن تارخ (آزر) دلوط عليه السلام اوابراهيم عليه السلام اصل وطن بابل – مغربی عراق بصرې ته قريب وؤ . ملك شام ته د هجرت کولو نه بعد حضرت ابراهيم عليه السلام په علاقه د کنعان کښې مقيم شو اولوط عليه السلام الله تعالی دسدوم دخلقو دپاره مبعوث کړو. په هغوئ کښې دشرک نه علاوه . خلاف فطرت قبيح عمل (لواطت) هم عام وو، چه ددوئ نه مخکښې هيچا داعمل نه ووکړې نولوط عليه السلام دوئ ته تبليغ شروع کړو﴿ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ﴾ قوم ئ ورته صرف په دې لحاظ سره وئيلی دی چه هغوئ ته ليګلې شوې وو، اودهغوئ دنسب نه. نه وو ﴿ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم ﴾ ددوئ دعمل دقباحت ته اشاره ده په دوؤوجهوسره يوه داچه دا فاحشه ده او فاحشه هغه ګناه ته وائ چه عقل، عرف. شرع ئ قبيح ګڼړی. بله وجه داچه تاسو ددې ګناه ايجاد اوابتداء اوکړه نوروستوخلق چه په دې ګناه کښې مبتلاء کيږی نوسبب ورته تاسو يئ. مفسرينوليکلی دی چه ددې قبيح عمل تعليم دې قوم ته ابليس ورکړې وو چه په شکل دامرد (بې ګيرې) هلک کښې خکاره شواوددې فعل دعوت ئ ورکړو. (فكان اول من نكح ف دبره) (شربينی) اوبعض اهل تاريخ وائ (والله اعلم) چه حلق اللحية (ګيره خريل) هم دوئ نه په مشوره دشيطان شروع شوی دی. په دوئ کښې به چه دچاګيره اوشوه اودقبيح فعل عادت به نې وو. ليکن دچاميلان بۀ ورته نه کيدو، ميلان به ئ بې ګيرې هلک ته کيدو نو شيطان به ورته مشوره ورکړه چه ګيره اوخريه نو (شاب، امرد) هلک به جوړشې (والله اعلم)

﴿ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴾ تاسوداسې قوم يئ چه تجاوزکوئ دحلالونه حراموته. ياقوم ئ مشرکين . يعنی ستاسوعمل اوعقيده دواړه ډيرقبيح دی يادامطلب دې چه ددې خلاف فطرت فعل ارتکاب په وجه تاسودانسانيت دحد ودو او دائرې نه وتلی يئ.

﴿ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ ﴾ يعنی آخری خبره ددوئ صرف داوه چه هرکله لوط عليه السلام مونږ. نولوته ګنده اوقبيح وائ اوخپل ځان پاک ګڼړی، نوپاک اوناپاک خويوځائ نشی جمع کيدې نوراشئ چه دوئ دخپل وطن نه جلاوطن کړو، چه دوئ زمونږ دخواهشاتوپوره کولو دپاره

رکاوټ جوړنشي. الله تعالى فرمائي چه دوئ خولوط علیه السلام اودهغه ملګرى جلاوطن کول غوختل ليکن مادوئ لره دمخ دزمکې نه جلاوطن کړه اولوط علیه السلام اودهغه اهل مې بچ کړل مګردده هغه ښځه چه مشرکه وه اوددغه قوم نه وه، اودخپل قوم دپاره به ئ جاسوسى کوله چه کله به دلوط علیه السلام ميلمانه راغله نودې به خپل قوم ته خفيه اطلاع ورکوله. ﴿ٱلْغَٰبِرِينَ﴾ په دوه معانيوسره راځي تيرشوى ،باقي پاتې شوى، دلته دويمه معنى مراده ده. ﴿وَأَمْطَرْنَا﴾ مرادترينه باران دکانړودې، اوپه سورة حجرنمبر ۷۴ اوهودآيت نمبر ۸۱۴ کښې ددوئ کلى الټه کيدل. اوصيحه هم مذکوردى نوپه دوئ ددرې قسمه عذابونه جمع شويدى. اوبعض وائې چه کوم خلق په سفرکښې ووپه هغوئ کانړې راغليدى اوکوم چه مقيم وونوپه هغوئ صيحه اوعلاقه الټه کيدل راغليدى

وَإِلَىٰ	مَدْيَنَ	أَخَاهُمْ	شُعَيْبًا ۗ	قَالَ	يَٰقَوْمِ	ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ

اوراليږلې وو مونږ مدين والو ته[1] رورددوئ شعيب . وه وئيل ده اې قومه زما ؛ صرف د الله تعالى بندګى کوئ

مَا	لَكُم	مِّنْ	إِلَٰهٍ	غَيْرُهُۥ ۖ	قَدْ	جَآءَتْكُم	بَيِّنَةٌ	مِّن رَّبِّكُمْ

نشته دې تاسو لره هيڅوک معبود غير دهغه نه. په تحقيق سره راغليده تاسوته واضح معجزه د طرف د رب ستاسو نه

فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ

پس پوره کوئ پيمانه (جوك) او تول. او مه کموئ د خلقو نه مالونه دهغوئ او فساد مکوئ په زمکه کښې

بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۝

پس د اصلاح د هغې نه. دا کارونه فائدې والا دى تاسو لره که يئ تاسو ايمان والا

﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ﴾ داپنځمه قصه ده، ددويمې اودريمې دعوې سره متعلق ده. ﴿ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ﴾ ددريمې سره متعلق دې ﴿فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ﴾ ددويمې دعوى سره متعلق دې. قوم دشعيب علیه السلام په تجارت کښې دخپل طرف نه ايجادات اوکړه اومحرمات ئ حرام اونه ګڼرل . په دې قصه کښې اول دعوت دتوحيددې بياثبات د رسالت دې. بياپه باره داحکاموماليوکښې داصلاح حکم اودافسادنهى ده.﴿مَدْيَنَ﴾ خوئ

۱ . پنځمه قصه د دويمې او دريمې دعوې سره متعلق

...حضرت ابراهيم علیه السلام دې اوكوم قوم ته چه حضرت شعيب علیه السلام مبعوث شويدې هغوئ
...اولاد مدين دى نودوئ په نوم دجداعلى سره ياديږي اوپه كوم شهركښې چه حضرت شعيب
علیه السلام سكونت كولودهغه شهرنوم هم مدين دې لكه په بل آيت كښې په قصه دموسى علیه السلام
كښې راغليدى ﴿ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ ﴾ په دې آيت كښې كه چرې دمدين نه قوم مرادشي
...نوتقديرته حاجت نشته دې اوكه شهرترينه مرادشي نوبيامضاف مقدردې. ((اى الى اهل مدين))
...يا ((سكان مدين)) اوحضرت شعيب علیه السلام په دريم پُشت كښې دمدين په اولادكښې دې. شعيب
...بن ميكيل بن يشجربن مدين . نوشعيب علیه السلام دخپل قوم نسبي روروو. اوده ته خطيب الانبياء
...ويلې كيږي په وجه ددې چه بيان ئ ډيراحسن اوواضح وو. حضرت شعيب علیه السلام چه كوم قوم
...ته مبعوث شوې وونوهغوئ په قرآن كښې په اهل مدين اصحاب مدين سره هم ذكركيږي اوكله
اصحب الايكه سره هم ذكركيږي نودبعض مفسرينو (كماقال قتادة) رايه داده چه دادواړه
جداجداقومونه دى اول حضرت شعيب علیه السلام يوقوم ته مبعوث شوې وواوچه هغوئ هلاك
...شونوبيابل قوم ته مبعوث شو. وجه داده چه په دې دواړوقومونوباندې چه كوم عذاب
راغليدې نوهغه په قرآن پاك كښې مختلف ذكرشويدې، صيحه، رجفه، داهل مدين په باره
كښې مذكوردى، او ((عذاب يوم ظله)) داصحب الايكه په باره كښې ذكرشويدې. بله وجه داده
چه داهل مدين په باره كښې دحضرت شعيب علیه السلام سره ((اخوهم، اخاهم)) ذكردې اوداصحب
الايكه په باره كښې ورسره نشته دې نومعلومه شوه چه دادواړه جدا جدا قومونه دى، او اكثر
مفسرين د دو دې قائل دى چه اصحاب مدين اواصحاب الأيكه دواړه ديوقوم نوم دې
خومدين ئ نسبي نوم دې، اوحضرت شعيب علیه السلام ددوئ سره په نسب كښې شريك وونوددې
وجې نه اخاهم، اخوهم، ورسره ذكركيږي اواصحب ايكه ددوئ مذهبي نوم وو، ځكه چه ايكه
ځنګل (بن) ته وائى، دوئ ونې خپل معبود ګرځولې وې ، اوشعيب علیه السلام ددوئ سره په مذهب
كښې شريك نه وو نوددې وجې نه ورسره اخ نه ذكركيږي ، اومختلف عذابونه په مجرمانو
راتلل څه مستبعدنه دى نوپه دوئ باندې مختلف عذابونه راغليدى لكه روح المعانى وغيره
مفسرينودابن عباس رضی الله عنه نه نقل كړيدى چه دحضرت شعيب علیه السلام په قوم باندې اول داسې
سخته ګرمى مسلطه شوه چه ګوياكښې چه دجهنم دروازه په دوئ كولاؤشوې وه، چه نه دوئ ته
په سُورى باندې آرام راتله اونه په اوبوكښې. دګرمئ نه چه ډيرتنګ شو نوپه ته خانو . كښې
ننوتل خوهلته زياته ګرمى وه، بياقريب ځنګل ته لاړل، (چه دوئ به هلته داشجاروعبادت كوو)

وربخ راغله يخه هواترينه چالوشوه نودوئ ټول هلته جمع شو. اوخدائ مجرمان په غيردبوليس. سپاهي نه دهلاکت مقام ته جمع شو، نوددغه وريځې نه په دوئ اُور. هم راغلو اوددې نه تعبيرشويدې په يوم الظُلّه سره. اوصيحه پرې هم راغله. اودزمکې نه زلزله پرې هم راغله اوتباه شو. ﴿ بَيِّنَةٌ ﴾ ددې نه مرادمعجزه ده خوپه قرآن کښې ئې تعين نشته دې،لکه داکثرو انبياؤ دمعجزاتواودنبي صلى الله عليه وسلم دډيرومعجزاتو ذکرهم په قرآن کښې نشته دې. ليکن دمدعي دنبوة دپاره معجزه خامخاوی، اوبعض وائي چه د ((بينه)) نه دشعيب عليه السلام واضح بيان اووعظ مراددې. ﴿ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ ﴾ تول، ناپ، دحقوق العبادنه دی اوپه قوم دشعيب کښې داجرم زيات وو﴿ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ ﴾ بخس کموالی اونقصان دحق ته وائي په دې کښې دناپ، تول نه علاوه په نوروحقوقُ کښې دکمی اونقصان کولونه منع ده. برابره خبره چه دمال متعلق وی لکه غلا، غصب، دهوکه، اوکه دعزت آبرومتعلق وی، دهرذی حق. حق اداکول ضروری دی اوکوتاهي پکښې کول حرام دی، چه دچاتعظيم تکريم ضروري وی نودهغه تعظيم نه کول دهغه په حق کښې بخسس،اوکمی.دې . ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ ﴾ دفسادنه کفراومعاصی مراددی﴿ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ﴾ اصلاح بعثت دنبي اواعطاء دشريعت ده. ﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ دا اشاره ده ماقبل مذکور احکاماتو ته ،چه توحيدرسالت، حقوق العبادپوره کول، ترک دبخس اوترک افساد دې او د خير نه مراد نافع دې يعنی خيراونفع په دغه مذکوره اموروکښې ده اوتاسوته چه په کومه امورو کښې ګټه خکاری، دهوکه بخس وغيره دغه دخيراودنفع امورنه دی﴿ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ دکلام په آخرکښې چه شرط راشی اوجزاء ئې صراحةً مذکوره نه وی نوددينه مرادتاکيدوی، نوددينه دماقبل مضمون تاکيد مقصوددې.

وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ

او مه کينئ په هره لاره کښې چه يره وئ خلق او منع کوئ د لارې د الله تعالى نه هغه څوک چه ايمان راوړی په الله تعالى.

وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَانظُرُوا

او لټوئ تاسو پدې کښې کوږوالې، او ياد کړئ هغه وخت چه وئ تاسو لږ پس ډير ئې کړئ تاسو. او وګورئ تاسو

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَائِفَةٌ مِّنكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ

چه څرنګه وو انجام د مفسدانو . او کچرې وی يوه ډله له تاسونه چه ايمان لرى په هغه څه چه رالېږلې شوې يم زه

وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا

او بله ډله وی چه ایمان نه لری پس انتظار وکړئ تر دې چه فیصله وکړی الله تعالی په مینځ زمونږ کښې

وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿۸۷﴾

او هغه غوره فیصله کوونکې دې

﴿ وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ ﴾ په لاروکښې کیناستل ددوؤ. وجهونه وو. یو داچه ځوک مسافرین به تیریدل نودوئ به دهغوئ نه ..شوکه.. لوټ مارکول یاناجائزټیکس به ئې ترینه اغستلوبل داچه ځوک بۀ دحضرت شعیب علیه السلام حضورته راتلل دایمان په نیت نودوئ به هغه دایمان نه منع کول اوظلم زیاتې به ئ پرې کولو. ﴿ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ ﴾ دوئ به خلق دایمان نه په دوؤطریقوسره منع کول یودهمکی ورکول اودباؤ اچول اوبل هغوئ ته شبهات اچول اوپه حضرت شعیب علیه السلام باندې طعنونه کول نوپه دې آیت کښې ددواړو طریقوذکردې ﴿ وَتَبْغُونَهَا ﴾ ((ای تبغون لها)) لټوئ په دین دالله تعالی کښې شکوک شبهات. عوج په کسره دعین سره مستعملیږی په هغه عیب کښې چه حسی نه وی بلکه معنوی وی اوپه فتح دعین سره مستعملیږی په هغه عیب کښې چه په نظرراځی. (بکسرالعین لایدرک بفتح العین وبفتح العین مایدرک بفتح العین). ﴿ وَاذْكُرُوا ﴾ داترغیب دې اوتذکیربالاء الله دې ﴿ قَلِيلًا ﴾ کم والي په اعتبار داشخاصو سره هم مراددې اوپه اعتباردمال سره یعنی فقر. غربت. هم مراددې. روایت دې چه مدین بن ابراهیم علیه السلام نکاح کړې وو. دلوردحضرت لوط علیه السلام سره نوالله تعالی په دوئ ډیربرکت نازل کړو نودوئ ډیرزیات شودمال اوعددپه اعتبارسره. ﴿ وَانظُرُوا ﴾ داترهیب دې دوئ ته روستودترغیب نه ،اودادواړه خبرې یعنی ترغیب اوترهیب خطیب اوداعی لره پکاردې اوددې وجې نه حضرت شعیب علیه السلام ته خطیب الانبیاء لقب ورکړې شویدې ﴿ وَإِن كَانَ طَائِفَةٌ مِّنكُمْ ﴾ داخطاب دکفارو سره دې اومقصودترینه توبیخ دې ﴿ فَاصْبِرُوا ﴾ د صبرنه مراد انتظاردفیصلې دې یعنی که تاسوایمان نه راوړئ نودالله تعالی دفیصلې انتظاراوکړئ، اوکلک والې ترینه نه دې مراد، ځکه چه نبی حکم نه کوی په غلط دین باندې دصبر. یاداخطاب مؤمنانوته دې، اومقصودترینه تلقین دصبراواستقامت دې په حق اوپه ایذاء دکفاروباندې.

اتمه پاره ختمه شوه ولله الحمد اولاً واخراً

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ

وه ويل غټانو هغو چه لوئي ئي كړي وه د قوم د ده نه خامخا وبه باسو مونږ تا لره اي شعيبه او هغه خوك

اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ

چه ايمان ئي راوړي دي ستاپه ملگرتيا كښي دكلي زمونږ نه، يابه واپس شئ په دين زمونږكښي . وه ويل شعيب

اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۚ۟ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ

آيامونږ به واپس شو اگركه يومونږ بد گڼونكي ستاسو دين لره په تحقيق سره جوړ كړي به وي مونږ په الله تعالى باندې

كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ

دروغ كچرې واپس شو مونږ په دين ستاسو كښي، پس دهغي نه چه بچ ساتلي يو مونږ الله تعالى دهغې نه.

وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ

او هرگز جائز او لائق ندى مونږ لره چه واپس شو دين ستاسو ته ، ليكن دا چه خه وغواړي الله تعالى چه زمونږ رب دي (نو هغه كيږي)

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا

راگيركړيدي رب زمونږهرشي په علم خپل كښي،خاص په الله تعالى باندې زمونږتوكل دي، اي ربه زمونږ

افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ۝

فيصله وكړې په مينځ زمونږ كښي او په مينځ د قوم زمونږ كښي حقه فيصله اوته ډير غوره فيصله كوونكي ئي

﴿قَالَ الْمَلَأُ الَّذِيْنَ﴾ په دې كښي بيان دتكذيب دكفارودې چه دوئ دحق دعوت قبول نه كړوبلكه داعي دحق اودهغه ملگروته ئ اووئيل چه ستاسودبقاء اودزندگۍ تيره ولوصرف دوه صورته دي يوداچه زمونږ په دين كښي داخل شئ بل داچه..جلاء وطن.. او..ملك بدر.. شئ. ليكن الله تعالى فيصله داوه چه مؤمنان به جلاوطن كيږي نه بلكه مخالفين به ئ دمغ دزمكې نه جلاوطن كيږي كما قال تعالى ﴿فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ﴾ (ابراهيم: ١٣ - ١٤)، ﴿اَوْ لَتَعُوْدُنَّ﴾ عودواپس كيدلونه واى

مخكني حالت ته نودالفظ دحضرت شعيب عليه السلام دملگروپه نسبت سره حقيقه صادقيږي اوشعيب عليه السلام خوددوئ په ملت كښې مخكښې نه وونوددوئ په اعتبارسره دالفظ يا تغليباً مستعمل دې، يادكفارودخپل گمان اوزعم مطابق ئ وئيلي دې ځكه حضرت شعيب عليه السلام دبعثت نه قبل خپل قوم ته دعوت نه ووشروع كړې اودمدين دخلقودكفرياتومتعلق ئ سكوت كولونودوئ گمان اوكړو(چه حضرت شعيب عليه السلام زمونږ په ملت كښې داخل دې ياعود په معنى دصيرورت اودداخليدلو سره دې. اولفظ د﴿إِنْ عُدْنَا﴾ چه په مابعدآيت كښې دې هغه هم يا تغليباً دې يامشاكلةً دې ياپه معنى دداخليدلو سره دې.﴿قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ﴾ دا جواب دحضرت شعيب عليه السلام دې، مدخول دهمزه مقدردې ((اى اندخل فى ملتكم ولوكنا – الخ)) او استفهام انكارى دې په معنى دنفى سره دې يعنى داسې هرگزكيدې نه شى چه مونږ ستاسوپه باطل ملت كښې داخل شو . داخوپه الله تعالى باندې افتراء ده ځكه چه دنبى هرقول فعل دالله تعالى دامرمطابق وى نودنبى داخيدل په يوملت كښې، ددې مطلب داوى چه الله تعالى ددې امركړيدې، نوداافتراء على الله شوه نوددينه بل زيات ظلم اوگناه نشته دې﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا﴾ .

﴿وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا﴾ يعنى داسې هرگزنشى كيدې چه مونږ ستاسوپه ملت كښې داخل شو په خپلې رضاسره ياستاسوپه اكراه اوجبرسره ﴿إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ﴾ استثناء متصله ده.يعنى كه بالفرض دالله تعالى مشيت ديوكس په باره كښې اوشى نوهغه هيڅوك نشى بدلولې. يادااستثناء منقطع ده او ((الاّ)) په معنى دلكن سره دې اوخبر د ((لكن)) محذوف دې چه ((فهو كائن)) مطلب دادې چه مونږ خوهرگزستاسوپه ملت كښې نه داخليږو . هرڅه چه كيږي هغه د الله تعالى په ارادې سره كيږي. نو كه زمونږ د اخراج يا د هلاكت اراده الله تعالى كړې وى نو هغه به كيږي. مونږ هغې ته تياريو . په هغې كښې به دالله تعالى حكمت اومصلحت وى اود الله تعالى علم په ټولو مصالحواوحكمتونومحيط دې. ستاسوددباؤنه مونږ مرعوب نه يو .زمونږ اعتمادپه يوالله تعالى جل جلاله دې، غرض داچه دباطل قبلولوته مونږپه هيڅ صورت كښې نه يوتيار .

﴿رَبَّنَا افْتَحْ﴾ حضرت شعيب عليه السلام چه دقوم دايمان نه مايوس شونودعائ اوكړه چه ياالله زمااودقوم په مينځ كښې فيصله اوكړې، په حق يعنى عدل سره يعنى عذاب پرې نازل كړې ځكه مجرم نه

سزاورکول عدل دي. دا بددعاده په لهجه ددعاء خیر کښې،

لطیفه بعض امامان ددعاء اختتام په دې آیت سره په بالجهر کوي، حالانکه دا دعا نه ده. نو گویا چه دوئ نه پوهیږي یا دخپلو مقتدیانو نه ډیر ناراض او تنګ دی

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ

او ووویل غټانو هغو چه کفر ئې کړی ووډ قوم د ده نه، قسم دی کچرې تاسو تابعداری وکړه د شعیب بیشکه تاسو به

إِذًا لَّخَاسِرُونَ ۝ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ

په دغه وخت کښې خامخا د تاوان والؤ نه شئ. پس ونیول دوئ لره زلزلې پس شول دوئ په کلی خپل کښې

جَاثِمِينَ ۝ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۛ الَّذِينَ

پرمخې پراته (مړه) هغه کسان چه دروغژن ئې ګنړلو شعیب، ګویا که نه وو اوسیدلی په هغې کښې. هغه کسان

كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ۝ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ

چه دروغژن ئې وګنړلو شعیب شول هم دوئ تاوان والا. نو واپس روان شو د دوئ نه او وې وئیل اې قومه خما

لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ

خامخا په تحقیق سره رسولی دی ما تاسوته پیغمانونه د رب خپل او خیر مې لټولي دي ستاسو

فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ ۝

پس څنګه به زه خفه شم په (هلاکت) دقوم کافرانو

﴿وَقَالَ الْمَلَأُ﴾ هرکله چه شعیب علیه السلام اوودده ملګری دکفارودداباؤنه مرعوب نه شونودوئ یوبله طریقه اختیارکړه، اوئ وئیل چه که چرې تاسودشعیب علیه السلام اتباع اوکړه اوایمان تقوی خواختیارکړه نوستاسوملکی معیشت، ملکی ترقی به تباه شي، لکه دموجوده دور باطل پرست ،ترقی یافته.. هم داسې وائي چه دین اسلام دترقی دپاره رکاوټ دي. حضرت شعیب علیه السلام لکه څه رنګه چه خپل قوم ته دتوحید، رسالت اوحقوق الله تاکید کولو نو دغه شان ئې ورنه دحقوق العباداودمعاملاتو ددرست کولوهم ډیرتاکیداواهتمام ئې کولو. اوددهوکې اوناجائزطریقه تجارت نه ئې خلق منع کولو، نودکفارومشرانوخلقوته داسې قسم وسوسې

اجول شروع کړل، چه دشعیب علیه السلام په اتباع سره زمونږ ملکی معیشت ته ډیرنقصان رسی. لکه
په موجوده دورکښې هم داطریقه باطل پرستانوخپل معمول ګرځولې دې. په جمله د ﴿لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ﴾ کښې ډیرتاکیدات دی، دکلام په صدرکښې لام مؤطئه للقسم
راغلیدې اوشرط راغلیدې اوجواب په لفظ کښې دقسم دپاره دې اوپه معنی کښې جواب
قسم اوجزاء د شرط دواړه دی اوتاکیدئ په «انّ» او «لام» سره شویدې. یعنی داخبره په قسم
سره کووچه که چرې تاسودشعیب علیه السلام اتباع اوکړه نویقینًا تاسوبه خامخاپه نقصان کښې
راشئ اوملکی معیشت اوترقی به ختم شی. ﴿الرَّجْفَةُ﴾ په دوئ باندې دلاندې نه زلزله
راغلیده اودبره نه صیحه، یعنی ډیرسخت آواز، چعه، دجبرئیل، پرې هم راغلیده، اودوریځې
نه اُور، پرې هم نازل شویدې «عذاب یوم الظلة» اوپه قول دقتاده رحمه الله باندې عذاب یوم الظلة
په جداقوم راغلیدې اورجفة، صیحه، په بل قوم راغلیدی، ﴿فِي دَارِهِمْ﴾ نه مرادشهرددوئ
دې﴿جَاثِمِينَ﴾ پرمخې، نسکورپراته.

﴿الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا﴾ دامبتداء ده خبرئ محذوف دې، «ای فنوا» ختم اونیست نابودشو
﴿كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا﴾ لکه چه دوئ بالکل نه وی اوسیدلی په دې کښې﴿الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا﴾ داپه
مقابله دقول دکفاروکښې دې چه هغوئ وئیل چه تابعداری دشعیب علیه السلام سبب دخسران دې
نوالله تعالی فرمائ چه تکذیب دشعیب علیه السلام سبب دخسران دې﴿هُمُ الْخَاسِرِينَ﴾
داحصراضافی دې په نسبت سره اتباع دشعیب علیه السلام ته دې یعنی صرف دوئ خاسرین وو .نه
اتباع دشعیب علیه السلام ﴿فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ﴾ یعنی هرکله چه په قوم باندې عذاب شروع شو نودې
ترینه واپس شواواوئ وئیل چه ﴿أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي﴾ ما دپیغمبرئ حق اداکړیدې﴿وَنَصَحْتُ لَكُمْ﴾ اوستاسوخیرخواهی مې کړیده اوپه تاسومې ډیرشفقت کړیدې. نوپه
تاسوباندې عذاب داتمام حجت نه بعدراغلیدې نوپه تاسوباندې دعذاب راتللوافسوس نه
کوم، ستاسودکفرپه وجه سره ﴿عَلَىٰ قَوْمٍ﴾ «ای علی عذاب قوم» په کافرانو چه عذاب راشی
نوپه هغې غم اوخفګان نه دې پکار، البته دهغوئ په کفرخفګان جائز دې .

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ

او نه دي ليږلي مونږ[1] په هيڅ يو کلي کښې هيڅ يو نبي مگر مبتلا کړي مو وو اهل د دې په سخت فقر

وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ

او مرضونو سره د دې لپاره چه دوئ زارئ وکړي (الله تعالى ته) بيا بدل راوړه مونږ په ځائ د سختئ باندې خوشحالي

حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ

ترڅو چه دوئ زيات شول (ترقي ئ وکړه) اووه ويل دوئ په تحقيق سره رسيدلي وو مشرانو زمونږ ته تنگدستي او خوشحالي

فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٩٥﴾ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا

پس ونيول مونږ دوئ لره ناڅاپه اودوئ نه پوهيدل اوکچرې بيشکه اهل د کلو ايمان راوړې وې او تقوى ئي کړې وې

لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ

نو خامخا به پرانستي وو مونږ په دوئ برکتونه د آسمان او د زمکي نه ليکن دوئ تکذيب وکړو پس ونيول مونږ دوئ لره په عذاب سره

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا

په سبب د هغه عملونو چه دوئ به کول آيا بې خوفه دي دا کلو والا، د دينه چه را به شي دوئ ته عذاب زمونږ

بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿٩٧﴾ اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا

په وخت د شپې کښې او دوئ به اوده وي آيا بې خوفه دي دا کلو والا د دينه چه راشي دوئ ته عذاب زمونږ

ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩٨﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ

په وخت د څښت کښې اودوئ لوبې کوي (غافل وي) آيا بې خوفه دي دوئ دعذاب د الله تعالى نه. پس نه بې خوفه کيږي

مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٩٩﴾

دعذاب د الله تعالى نه مگر قوم تاوانيان

1 الفت اهل مکي ته

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ ﴾ دامتعلق دي دتیرشوؤپنځه واقعاتوسره .دقوم داصلاح دپاره
الله جل شانه نبی رالیږی اوچه هغوئ دنبی خبره نه مني نوبیاالله تعالی دهغوئ داصلاح دپاره
دوه قسمه ابتلاء امتحان راولی، ددې دپاره چه ددوئ هیڅ معذرت پاتې نه شي . یوابتلاء
بالنقم ده اوبله ابتلاء بالنعم ده،دانسان فطرت دې چه دمصیبت په وخت کښې ئ الله تعالی
یادراخی اوالله تعالی ته رجوع کوی اوتوبه کوی اودارنګه انسانی فطرت دادې چه دراحت په
وخت کښې شکرګذاروی اودمحسن ذات داحساناتوشکریه اداکوی. نوکوم قومونه چه تباه
شوی ووهغوئ ته الله تعالی نبی رالیږلې وو . نبی په ډیرشفقت خیرخواهئ .همدردئ سره
دوئ ته دعوت ورکړونوچه دوئ دنبی دعوت قبول نه کړونوالله تعالی په دوئ اول امتحان
اوابتلاء بالنقم اوکړو-﴿ بِالْبَأْسَآءِ ﴾ مالی تکلیف فقر، فاقه ﴿ وَالضَّرَّآءِ ﴾ بدنی تکلیف .بیماری
مصیبتونه، نوچه دوئ په دې سره رجوع الی الله اونه کړه نوبل امتحان پرې راغلو . مالی
وسعت، صحت سلامتیا ،﴿ حَتَّىٰ عَفَوا ﴾ دوئ زیات شواوترقی ئ اوکړه. عفویه معنی دزیادت
سره دې ((عفاالنبات ،عفاالوبر)) یعنی ددواړوقسموامتحاناتونه ئ عبرت حاصل نه کړواوئ
ونیل چه داانقلابات اومختلف قسم حالات راتلل داعمالونتیجه نه ده بلکه عادت دزمانې دې
اودالوئ قسوتِ قلبی «دزړه سخت والې» دې چه په هیڅ حالت کښې الله تعالی ته رجوع نه
کوی اوداعلامه دبدبختئ اوسبب دعذاب دې نوالله تعالی ددوئ ګرفت اوکړو﴿ بَغْتَةً ﴾
ناخاپه، بغتةً،هغه عذاب ته وائ چه تاریخ اومخصوص وخت دنزول ئ معلوم نه وی. سره
دغفلت داهل نه ، اګرکه علامات ئ راغلی وی خومعذبین غافل وی، عبرت نه اخلی

﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰٓ ﴾ داهم دماقبل سره متعلق دې اومطلب دادې چه کفرشرک اومعاصی
سبب دنزول دعذابونواومصیبتونودې اوایمان تقوی سبب دنازلیدودبرکتونودې. داسمان
برکتونه، بارانونه دی په وخت دضرورت کښې اورحمتونه نازلیدل دی. اودزمکې برکات.
دزمکې پیداوار. اوپه خپل مینځ کښې اتفاق اواتحاددې، تقوی ددې امورودپاره سبب دې
دتقوی په وجې سره داراځی. بعض اساتذوفرمائیلی دی چه اسمانی برکات علوم فیضانیه
دی اواراضی برکات علوم کسبیه دی،په تقوی سره په دواړه قسمه علوموکښې ترقی
راځی.دعلم برکت دمادی نعمتونودبرکاتونه زیات لوئ نعمت دې. ((اللهم ارزقناه بفضلک
وکرمک یا ارحم الراحمین)) ﴿ أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰٓ ﴾ همزه دپاره داستفهام انکاری په معنی

دلاینبغی سره دي اوفادتعقیب دپاره ده. اوداهل قرٰی نه مراداهل مکه اوتمام موجوده خلق دی.﴿ أَفَأَمِنَ ﴾ په معنی دبې خوفه کیدل بې غمه کیدلو سره دي یعنی بې خوفه کیدل اوغفلت نه دې پکار. دغفلت وخت یودخوب وخت دې بل دمشغولیت دې په لعبو یامعاملاتو ددنیاکښې اول ته اشاره ده په دې قول کښې چه﴿ بَيَٰتًا ﴾ دامنصوب بناء برظرفیت دې ((ای وقت اللیل)) یاحال دې په معنی د باتتین سره ﴿ وَهُمْ نَآئِمُونَ ﴾ حقیقةً خوب ترینه مراددې یادغفلت ترینه مراد دې. اودویم ته اشاره ده په دې قول کښې ﴿ ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴾ ﴿ أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ﴾ مکرخفیه تدبیرته هم وائي. اوالله تعالى چه بنده ته مهلت ورکوی هغې ته هم وائي. ((قال الراغب، مکرالله امهال العبدوتمکینه من اعراض الدنیا))، دلته دا دویمه معنی زیاته مناسبه ده، ((فالمراد به استدراجه العبد العاصی حتی یهلکه فی غفلته)) .(روح) حضرت تهانوی رحمه الله دمکرالله ترجمه په (ناگہانی پکڑ) سره کړیده.﴿ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ د ((خاسرون)) نه مرادکفاردی نواحنافوددینه استنباط کړیدې چه دعذاب الهی نه قطعًا بې خوفه کیدل کفردې اوشوافع وائي چه گناه کبیره ده(روح).

أَوَلَمْ	يَهْدِ	لِلَّذِينَ	يَرِثُونَ	الْأَرْضَ	مِنْ	بَعْدِ	أَهْلِهَا

آیا نده ښکاره شوې هغه کسانو ته چه وارثان شویدی د زمکې، پس د هلاك د مخکنو اوسیدونکو د هغې نه

أَنْ	لَّوْ نَشَآءُ	أَصَبْنَاهُم	بِذُنُوبِهِمْ ۚ	وَنَطْبَعُ	عَلَىٰ	قُلُوبِهِمْ

دا خبره که وغواړو مونږ عذاب به ورسوؤ مونږ دوئ ته په سبب د گناهونو د دوئ، او مهر لگوؤ مونږ په زړونو د دوئ

فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ۝ تِلْكَ الْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ

پس دوئ نه آوری دغه کلی بیانوؤ مونږ په تا باندې بعضې د خبرونو دهغوئ نه، اوخامخا په تحقیق سره راغلی وو دوئ ته

رُسُلُهُم	بِالْبَيِّنَٰتِ	فَمَا	كَانُوا	لِيُؤْمِنُوا	بِمَا	كَذَّبُوا

رسولان د دوئ په واضحه معجزاتو سره، پس نه وو هغوئ چه ایمان ئې راوړې وې په سبب د دې چه انکار کړې وو دوئ

مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْكَٰفِرِينَ ۝ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم

دمخکښې نه. د دې وجه نه مهر لگوی الله تعالى په زړونو د کافرانو اونه وو موندلی مونږ د ډېرو خلقو لپاره

مِّنۡ عَهۡدٍۚ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ لَفَٰسِقِينَ ۝

وعده پوره کول، او په تحقیق سره موندلی دی مونږه ډیر خلق خامخا فاسقان

﴿ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ ﴾ دا زجر اوتخویف دې منکرینوته ، د ((یهد)) په صله کښې چه لام راشی نوپه معنی د ((يَتَبَيَّنُ)) سره وی نودلته ترینه مرادواضح کیدل اوخکاره کیدل دی د ﴿ يَرِثُونَ الۡأَرۡضَ ﴾ نه مرادسکونت کونکی دی، مرادترینه کفارمکه وماحولها دی چه په وخت دنزول دآیت کښې ژوندی وو. یعنی آیا دوئ ته دمخکینوقومونودحالاتونه داخبره نه ده واضحه شوې چه که چرې مونږ اوغوارونودوئ به هم دهغوئ په شان هلاک کړوځکه کوم سبب دهلاکت دهغوئ وونوهغه جرم په دوئ کښې هم موجوددې ﴿ أَن لَّوۡ نَشَآءُ ﴾ داجمله په تاویل دمفردسره فاعل دې د (يَهۡدِ) دپاره﴿ أَصَبۡنَٰهُم ﴾ عذاب به ورکړودوئ ته په سبب دګناهونودوئ سره ﴿ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ ﴾ داجمله مستانفه ده، مطلب ئې دادې چه دکوم قوم ضداوتعصب داسې ځائ ته اورسی چه هغه نه دنبی دوعظ اوارشادنه متاثرکیږی اونه دحالاتونه عبرت اخلی نوددغه شان ضدیانو، معاندینوپه زړونوالله تعالی مهرجباریت لګوی اودقبول دحق صلاحیت او استعدادوالانعمت ترینه سلب کوی نودوئ بیانه اوری په سماع قبول سره

﴿ تِلۡكَ الۡقُرَىٰ ﴾ داهم دمخکینوقومونوذکردې دپاره دتذکیردموجودؤکفارویعنی مخکینو کفاروته چه رسولان راغلل اوواضحه معجزات ئې ورته ښکاره کړل نوهغوئ انکاراوتکذیب اوکړواوضدعنادئ شروع کړواوپه کوم شئ باندې چه ئ اول تکذیب کړې وونوپه خپله رایه باندې مضبوط اودریدل اګرکه واضح دلائل په حق باندې موجودوو نودضداوعنادپه وجه به په هغوئ مهرجباریت لګیدلو﴿ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ اللَّهُ ﴾ دغه شان دټولوکافرانو، مخکینی روستنی ټولوپه زړونوباندې الله تعالی مهرلګوی دضداوعنادپه وجه، ﴿ وَمَا وَجَدۡنَا ﴾ دامتعلق دې دټولوکافرانودحال سره چه سبب دعذاب ارتکاب دخلاف عهدوو، د﴿ مِّنۡ عَهۡدٍ ﴾ نه مراد وفا د وعدې دتوحیداوداقراردربوبیت دالله تعالی ده چه په عالم ارواح کښې اخستې شوې ده او دانبیاؤ په ذریعه دهغې یاددهانی تجدیدپه هردورکښې شوې دې. ﴿ وَإِن وَجَدۡنَآ ﴾ ان مخفف من المثقل دې اسم ئ ضمیرشان مقدردې، ﴿ لَفَٰسِقِينَ ﴾ ای خارجین عن دائرة العهد.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ىٕهٖ

بيا وليږلو مونږ وروستو د دغه پيغمبرانو نه [1] موسىٰ په معجزاتو زمونږ سره فرعون ته او غټانو د قوم دهغه ته

فَظَلَمُوْا بِهَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ وَقَالَ مُوْسٰى

پس هغوئ عناداً انكار وكړو دهغې نه، پس وګوره چه څرنګه شو انجام د فساد كوونكو او وه ويل موسى

يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ

اې فرعونه بيشكه زه رسول يم د رب العالمين د طرف نه كلك يم [2] په دې چه نه به وايم په الله تعالى باندې

اِلَّا الْحَقَّ ۭ قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝

سوا د حق نه، په تحقيق سره راوړې مې ده تاسو ته واضحه معجزه د طرف د رب ستاسو نه، پس پرېږده خما سره بنى اسرائيل

قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ فَاَلْقٰى

وه ويل فرعون كچرې راوړې وې تا څه معجزه [3] نو ښكاره كړه هغه كه ئې ته د رښتنو نه. پس وغورځوله موسى

عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ

همسا خپله پس ناګهانه هغه ښامار وؤ [4] ښكاره. او را وې ويستلو لاس خپل د ګريوان نه پس ناګهانه هغه

بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ۝

تك سپين وؤ [5] لپاره د نظر كوونكو

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى ﴾ دا شپږمه قصه ده، دا متعلق ده دعوه اولى سره يعنى لكه څه رنګه چه حضرت موسى عليه السلام دا ستقلال او صبر مظاهره په تبليغ كښې كړيده نو ته هم صبر كوه

١ - شپږمه قصه د اولې دعوې سره متعلق ده.
٢ - د اته واقعاتو نه اوله واقعه
٣ - د نبوت ګواه
۴ اول ګواه
۵ دويم ګواه

اوزړه کښې تنگی مه راوله ﴿فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ﴾ داقصه ددې ځائ نه شروع ده او د.ع.۲۰آیت نمبر۱۲۲ باندې ختميږي په دې کښې دحضرت موسی علیه السلام دزندگئ. مختلف انه واقعات ذکرشویدی هره واقعه دحضرت موسی علیه السلام عزیمت اواستقلال تصویردې اوله واقعه دموسی علیه السلام فرعون ته تلل اودتوحیددعوت ورکول اودخپل قوم بنی اسرائیلو دآزادئ مطالبه کول اومعجزات خکاره کول اوبیادفرعون جادوگر جمع کول وغیره په دې کښې مذکوردی.﴿فَظَلَمُوا﴾ ای کفروا ﴿بِهَا﴾ ای بالمعجزات یادامعنی ده چه باوجود دروٴیت دمعجزاتونه ئ کفراوکړو، دې ته کفرعنادی وئیلې شی. ﴿حَقِيقٌ﴾ داصفت دې درسول یاخبربعدخبرد ((اِنّ)) دې یاخبردمبتداء مخذوف دې ((ای اناحقیق)) .حقیق په معنی د جدیر. یا حَرِیصٌ .سره دې یادامبالغه ده په حق کښې ای ثابت مستمر. یعنی زه په حق باندې کلک اومستمر یم﴿إِنِّي رَسُولٌ﴾ بیان درسالت دې،﴿حَقِيقٌ عَلَىٰ﴾ بیان دتوحید دې

﴿قَدْ جِئْتُكُم﴾ اثبات درسالت اودتوحیددې﴿فَأَرْسِلْ﴾ مطالبه دآزادئ دقوم ده. دارسال معنی داده چه دوئ پریگده چه وطنِ اصلی شام ته لاړشی. بنی اسرائیل په زمانه د یوسف علیه السلام کښې مصرته راغلی وو، نوبیافرعون اوقبطیانودوئ خپل غلامان گرخولی وو.اوسخت سخت کارونه به ئ پرې کول، دحضرت موسی علیه السلام په ذریعه الله تعالی دوئ آزادکړل. ذوهب رحمه الله نه روایت دې چه په مابین دزمانې دیوسف علیه السلام اودموسی علیه السلام کښې څلورسوره کاله وو،﴿فَأْتِ بِهَا﴾ فرعون دموسی علیه السلام نه درسالت دلیل اوگواه طلب کړو، نوحضرت موسی علیه السلام دوه گواهان پیش کړل، په یوکښې اشاره تخویف ته وه اوپه بل کښې بشارت وو، یعنی ددعوت دانکارانجام مصیبتونه اودائمی عذابونه دی اوددعوت دقبول انجام نوراودائمی خوشحالئ دی،﴿ثُعْبَانٌ﴾ اژدها. بنامارته وائ په بل آیت کښې ((جان)) راغلیدې یعنی وړوکې مار. اوپه بل ځائ کښې «حية» راغلیدې یعنې مطلق مار. نوبعض حضرات وائ چه اول وړوکې وواوبیاترینه لویه اژدهاجوړه شوه اوبعض وائ چه دحرکت په اعتبارسره ئ ورته «جان» وئیلې دې اودجُوثې په اعتبارسره ئ ورته ثعبان وئیلې دې. اود﴿مُّبِينٌ﴾ نه معلومه شوه چه حقیقةً ماروو ،نظربندی نه وه علامه شیربینی په السراج المنیرکښې وئیلی دی مارچه خوله کولاؤکړه نوددواړوجامو په مینځ کښې ئ اتیاگزه فاصله

وه يوه جامه ئ په خمكه اوبل دفرعون دبنگلي په ديوال وه. اوپه لكئ باندي نيغ اودريدو ديوميل په مقدارئ طول وو. اوفرعون ته ئ رامخ كړو نوفرعون په تيخته روان شو اودستونه پرېي شروع شو نوڅلورسوه واري دستونه اوشو. اوپه خلقوئ حمله اوكړه نوپنځويشت زره ترينه مړه شو. اوفرعون په چغوسرشو. موسى عليه السلام ته زاري ئ شروع كړه چه ماخلاص كړه نوزه به تاايمان راوړم اوبنى اسرائيل آزادوم. نوچه موسى عليه السلام په لاس اونيولو نوعصا ترينه جوړه شوه. نوفرعون اووئيل چه څه بله معجزه هم شته دي نوموسى عليه السلام ورته لاس دترخ نه رااوباسلو نوداسې رڼړائ كوله لكه نمر. اودزمكي اسمان درميان ئ رڼړاكړو نوچه بيائ په گريبان كښې داخل كړونودخپل مخكينى حالت په شان شو. ﴿لِلنّٰظِرِيْنَ﴾ دبيضاسره متعلق دي اوپه دې كښې اشاره ده ديته چه رڼړادلاس داسې عجيبه غريبه اودعام عادت خلاف وه چه خلق به ئ تماشى ته جمع كيدل.

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ

وه ويل غټانو د قوم د فرعون نه بيشكه دا موسى جادو گر دې ډير پوهه غواړي چه وباسي تاسو د ملك ستاسو نه

فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ

پس څه حكم (مشوره) كوئ تاسو وه ويل هغوئ مهلت وركړه ده لره او ورور د ده لره او وليږه په ښارونو كښې

حٰشِرِيْنَ ۝ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ۝ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا

راجمع كوونكي چه راولي تاته هرجادوگر پوهه. ماهر او راغلل جادوگران فرعون ته. نو وه ويل دوئ.

اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ۝ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۝

بيشكه وي به مونږ لره څه أجرت (انعام) كچرې شو مونږ غالب وه ويل فرعون آو ' اوبيشكه تاسو به خما د مقربينو. خواصو نه يئ

﴿قَالَ الْمَلَاُ﴾ فرعون دموسى عليه السلام دمعجزاتونه ډيراوويريدلواوخپل درباريان اوخواص اركان مملكت ئ جمع كړل اول ئ په خپله اووئيل (كمافى السورة الشعراء) چه داخولوئ ساحردې اوبيادده. په تائيدكښې نوررومشرانودخپلورايواظهاراوكړو چه ﴿اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ﴾ فرعون دموسى عليه السلام ددعوت نه په شدت سره انكاركوو. ليكن ددوئ دكمال نه ئ

انکارنه شوکولې، نواقرارئ اوکړو لیکن تعبیرئ ترینه په داسې الفاظوسره اوکړوچه څوک
برې دحق ګمان اونه کړی.اوددوئ دجدجهدمقصدئ په داسې اندازکښې خلقونه پیش
کړوچه څوک ورته مائل نه شی . اوداطریقه داهل باطل په هردوړکښې ده. نواوئ ونیل چه
داموسی ﷺ ساحردې خودعاموساحرانونه زیات ماهردې اودده. دتحریک اوجدوجهد
مقصد دادې چه خلق خپل ځان ته مائل کړی اوبالآخرپه اقتدارقبضه اوکړی اودقبطیانو،بنی
اسرائیلو، دازادئ اوحمایت په نامه ټول قبطیان چه ددی وطن. اصلی اوسیدونکی دی
اوباسی اودملک په خزانوقبضه اوکړی. ﴿ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴾ داکلام دفرعون دې چه
سردارانوته ئ اوونیل چه حالات ستاسوپه مخکښې دی نوددې په باره کښې ستاسو څه
مشوره ده، ﴿ قَالُوٓا أَرْجِهْ ﴾ ارجاء تاخیرته وائ، داصیغه دامرده په اصل کښې (ارجئه) .دې لکه
په قرءت دابن کثیراوابوعمروکښې دغه شان دې، ارکانواومشیرانوددربارمشوره ورکړه چه
دموسی ﷺ اوهارون ﷺ چیلنج اومقابله دې فی الحال مؤخره شی اوددوئ دمقابلې دپاره
دې ماهرین دفن راجمع کړې شی اودهغوئ په ذریعه سره دې مقابله اوکړې شی نودوئ
زبردست کوشش شروع کړو اودملک داطرافواکنافونه ئ جادوګران طلب کړل. په دغه
دورکښې په مصرکښې دسحردیره چرچه وه اودسحردتعلیم دپاره سکولونه. کالجونه وو.
اوماهران استاذان وو، اوعادت الهیه دادې چه هرنبی له معجزه دهغې زمانې سره مناسب
ورکوی، نودوئ دسحرپه تعلیم مزیدتوجه ورکړه اوبیائ ډیرساحران راجمع کړل. په
مقدارکښې ئ دمفسرینومختلف اقوال دی یوقول داتیازرودې. هرکله چه دوئ جمع شونو په
رومبنی مجلس کښې ئ داخبره اوکړه ﴿ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا ﴾ فیس اومعاوضه، ئ طلب کړه دباطل
پرست خلقوهرعمل ددنیاوی مقصددپاره وی، اودانبیاؤاوله خبره داوی ﴿ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ
أَجْرٍ ﴾ هرکاراګرکه د دین وی خو چه ددنیادنفع دپاره اوشی اوبنیادئ دنیوی نفع وی نوهغه
دین نه وی په حقیقت کښې اګرکه په ظاهرصورت کښې ددین لوئ خدمت لیدلې شی.
نوفرعون دوئ ته اوونیل چه ﴿ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴾ یعنی تاسوخوصرف مال غواړئ اوزه
به مال هم درکړم اوعُهدې به هم درکړم،(لکه په موجوده دورکښې په اسمبلیانوکښې په دی
دواړوځیزونوسره ممبرانوخریدفروخت کیږی) علامه شیربینی وائ چه مددغوختل دفرعون
دساحرانونه واضح دلیل دې په دې چه دې عاجزذلیل بنده دې اودارنګه طلب داجرت

دساحرانو دفرعون نه دليل دي په دي چه هغوئ قادرنه ووپه دي چه داعيانونه سره سپين زرجوړکړي. گني نودفرعون نه به ئ طلب دمال نه کوؤپخپله به ئ داحجارونه ذهب فضه جوړکړي وو. نوپه دي آياتونوکښي تنبيه ده انسان ته په دي دقانقو. اوچه دهوکه نه شي په خبروداهل باطلو اوپه دروغودهغوئ آه ، اکثرسلاطين ،ليډران، ساحران ډيري لوئی دعوي کوی اوډيردروغ وائ. په دوئ دهوکه کيدل اوددوئ نه متاثره کيدل نه دي پکار

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾ قَالَ اَلْقُوْا ۚ

وه ويل دوئ اي موسى ! يا نه وغورزوه يا به شو صرف مونږ غورزوونکي اولاً وه ويل موسى وغورزوئ تاسو اول

فَلَمَّآ اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ

پس هركله چه وغورزولي هغوئ خپلي همساگاني نو جادو ئي وكړو په سترگو د خلقو باندي او وي يرول دوئ

وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿١١٦﴾

او راوړي ورلو جادو لوئ

﴿ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى ﴾ دساحرانوپه خپل سحرډيره بهروسه اواعتمادوونوموسى عليه السلام ته ئ اووئيل چه ياته خپل عصاواچوه يابه مونږ.﴿وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴾ (نحن) ضميرفصل دي په مابين داسم دكان اوخبركښي اوخبر﴿ الْمُلْقِيْنَ ﴾ معرف باللام دي نوحصرفائده كوی. مطلب دادي چه زمونږسحردومره عظيم دي چه صرف مونږ به القاء كونكي شواوتاته به موقعه ملاؤنه شي. ساحرانودموسى عليه السلام ادب اوكړوچه مقدم ئ كړو په القاء كښي په خپلونفسونو. نوپه دي وجه باندي ورته الله تعالى توفيق دايمان اودهدايت وركړو، نوموسى عليه السلام ورته اوفرمائيل﴿ قَالَ اَلْقُوْا ﴾ مقصودددينه حكم يااذن دالقاء دسحرنه دي خكه سحرحرام دي اوكفردي خصوصًا چه دحق په مقابله كښي هم راشي اونبی دحرام حكم اواذن نه كوی بلكه مقصوداختياردا حدالشقين دي خكه چه ساحرانوددوؤخبرواختيارركړوچه ياته القاء اولاً اوكړه ياىئ مونږ كوؤ نوموسى عليه السلام ورته اوفرمائيل چه زه دادويم شق اختياروم چه تاسواولاًالقاء اوكړئ، ددي دپاره چه حق واضح شي.﴿سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ ﴾ داسحردنظربندئ وو، دعاموخلقواودموسى عليه السلام په قوت خياليه باندي ئ كړي وو.

اودانبياؤپه قوة عاقله باندې سحراثرنه شي كولي ﴿وَاسْتَرْهَبُوهُمْ﴾ سين زايد دي يه دمبالغي دپاره دي يعنی خلق ئې ډيروويرول اوږعب هيبت ئې پرې غالب كړو. ﴿بِسِحْرٍ عَظِيمٍ﴾ دومره لوئ سحروو چه ساحرانواودهغوئ استاذانو ته داعلم وو چه ددينه لوئ سحرنشته اوكه څرې په دې باندې څوک غالب شو نوهغه به ساحرنه وي بلكه نبي به وي. دساحرانو دسحرپه وجه عام خلق اوويريدل. اودموسی علیه السلام په نفس كښې هم په دې وجه خوف اوخطره راغله چه اظهاردحق به اونه شي. ځكه چه دوئ ډيرماران جوړكړل اوخما دعصانه به يوماړجوړيږي. نودحق وضوح اوغلبه به رانه شي. ﴿فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَىٰ﴾ هم دامعنى ده. اودامطلب نه دي چه موسى علیه السلام دسحردساحرانونه ويريدو

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾

او وحي وكړه مونږ موسى ته چه وغورزوه همسا خپله پس ناګاهه ني تير كړل هغه څه چه دوئ جوړول په سحر سره

فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ

پس ښكاره شو حق او بې كاره (فيل) شو هغه عملونه چه دوئ كول پس مغلوب شو دوئ په دغه ځائ كښې

وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓا آمَنَّا

اوواپس شوذليل. شرميدلي اووه غورزولې شو ساحران سجده كوونكي وه وئيل دوئ ايمان راوړې دی مونږ

بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ آمَنتُم بِهِ

په رب العالمين باندې چه رب د موسى او دهارون دې وه ويل فرعون آيا ايمان راوړو تاسو په دد باندی

قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا

مخكښې د اجازت خما نه. بيشكه دا يو چل ول دي چه تاسو جوړ كړي دي په دې ښار كښې لپاره د دې چه وباسئ تاسو

مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ

د دينه اوسيدونكي د دې. پس زرده چه پوهه به شئ تاسو خامخا به پريكړم لاسونه ستاسي اوخپې ستاسي اړول نه

ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿١٢٥﴾

بیا به خامخا په سولئ کړم تاسو ټول وه وئیل دوئ بیشکه مونږ خپل رب طرف ته ګرځیدونکی تلونکی یو

وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ

او ته بد نه ګڼړې زمونږ نه مګر دا خبره چه ایمان راوړې دې مونږ په آیتونو د رب خپل هرکله چه راغلل مونږ ته

رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿١٢٦﴾

اې ربه زمونږ! راتوئی کړه په مونږ ډیر صبر او وفات کړه مونږ په حالت د اسلام

﴿وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى﴾ په میدان کښې باطل په زوراوقوت سره ښکاره شو. عادت الهی دادې چه ترڅوپورې چه حق دباطل په مقابله کښې په حرکت کښې نه وی راغلې نوباطل نه ختمیږی. اوکله چه حق په حرکت کښې راشی نوباطل لاړشی، موسی علیه السلام چه حق. عصا. ته حرکت ورکړونوباطل ورک شو﴿تَلْقَفُ﴾ ای تبتلع، کوم شئ چه آسانئ سره ، بې تکلفه په مرئ کښې تیریږی لکه اوبه، حلوا ، نوپه هغې کښې دامستعملیږی نودوئ چه کوم ماران جوړکړی وونوعصاهغه اوخوړل ختم ئ کړه، اوبعض وائ چه هغوئ درسُواوعصاګانونه ماران جوړکړی ووپه سحرسره نوپه عصاسره دسحراثرختم شو، نودتلقف(تیرول) مطلب دادې چه دسحراثرترینه ختم شو، ﴿يَاْفِكُوْنَ﴾ افک اړولوته وائ داصل نه او دروغ اوباطل ته اِفک ځکه وائی چه په هغې کښ اړول اوتبدیل وی داصل نه﴿ فَوَقَعَ الْحَقُّ ﴾ ای ظهر﴿ فَغُلِبُوْا ﴾ فرعونیان په دې عظیمه مقابله کښې مغلوبه شواوشرمیدلی واپس شو، ﴿ وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴾ دحق دظهورنه بعدساحرانوایمان راؤړواوپه سجده پریوتل، اُلقیَ دمجهول صیغه ده. اوغورځولې شوساحران سجده کونکی، په دې کښې اشاره ده چه دالله تعالی دطرفه دهدایت نورپه دومره ډیرمقدارسره راغې چه ګویاکښې دوئ بې اختیاره په سجده پریوتل. اوکوم خلق چه فرعون دموسی علیه السلام دمغلوب کولودپاره اودمقابلې دپاره راوستې ووهغوئ دفرعون دمغلوب کولوسبب شو . اوده مقابلې ته راغله، ساحرانودحضرت موسی علیه السلام ادب اوکړونو الله تعالی ورته نعمت دایمان ورکړو، ((من اتانی یمشی اتیته هرولة)) د بنده لګ عمل کله دلوئ خیرسبب

اوگرځي، ساحرانوچه دانعره بلنده کړه ﴿ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ نو فرعون اوويل ((ایای تعنون)) ماته وايئ رب العلمين؟، نوهغوئ اوونيل چه نه. ﴿رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ﴾ فرعون هم خان ته رب موسی.ونيل خکه چه دموسی عليه السلام تربيت دده په کورکښې شوې وو. نوهغوئ ورسره داهم ضم کړو﴿وَهَٰرُونَ﴾ فرعون چه داخبره واورېده نوالزام ئ شروع کړو. ﴿ءَامَنتُم بِهِۦ﴾ دلته همزه داستفهام مقدر ده يعنى آيا؟ تاسوايمان راوړوپه موسى عليه السلام بغيرداجازت زمانه داسې معلومیږی چه داستاسواستاذدې تاسوئ شاګردان يئ اوپه شريکه باندې.خوځماخلاف ځماد حکومت ختمولوخفيه منصوبه تياره کړې ده. ليکن زه ستاسودامنصوبه کامیابیدلوته نه پريږدم بلکه تاسوته سزادرکوم اول به ستاسو لاسونه خپې ادل بدل پريکړم چه شکل اوهيئت ستاسو خراب شی اوبيابه تاسوپه سُولئ،،(پهانسی) کړم هغوئ ددې نه ګبراؤنه شوبلکه اوئ ونيل ﴿إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ﴾ چه مونږ به دشهادت په وجه رحمت دخپل رب ته لاړشو. اوزاعی رحمه الله روايت کړيدې چه جنت دوئ ته ښکاره کړې شوحتى چه دوئ ورته نظرکولو. فرعون ددوئ دقتل دهمکی ورکړيده ، ليکن ددوئ دشهادت تصريح نشته.البته دقتاده نه روايت دي ((کانوااول النهار کفاراًسحرة وفی آخره شهداء بررة)) دروستو آيت نه هم معلومیږی چه دوئ ته شهادت ملاؤ شويدې چه ((افرغ علیناصبراً وتوفنامسلمين)) دابن عباس رضی الله عنه اوكلبی اوسدی نه هم داسې روايت دې چه فرعون دوئ قتل کړی دی اوبعض وائ چه فرعون نه دې قادرشوې په قتل ددوئ لقوله تعالى ((لايصلون اليکما انتماومن اتبعکماالغلبون)). ﴿وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ﴾ يعنى كوم شئ چه سبب داکرام اعزازدې هغه ستاسوپه نيزجرم اوعيب دې. ﴿أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا﴾ راتوئ کړه په مونږصبر.يعنى صبرکامل راکړه. ﴿وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ﴾ مونږ ته مرګ په حال داسلام نصيب کړه.

وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُۥ لِيُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ

اووه ويل غټانودقوم دفرعون نه [1] آيا پرېږدې ته موسې اوقوم د هغه د دې لپاره چه فساد وکړی په زمکه کښې

---

[1] - دويمه واقعه

وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ

او دوئ پرېږدي بندګي ستا او د معبودانو ستا. وه وئيل فرعون زرده چه قتلوو به خامن د دوئ او ژوندي به پرېږدو

نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ

جنکئ د دوئ. او بېشکه مونږ په دوئ باندې زورور یو وه وئيل موسیٰ قوم خپل ته مدد غواړئ د الله تعالیٰ نه

وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ

او صبر کوئ. بېشکه زمکه د الله تعالیٰ په اختيار کښې ده. ورکوي ئې هغه چا ته چه خوښه ئې شي د بندګانو خپلو نه

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ

او ښه انجام د متقيانو دي وه وئيل دوئ تکليفونه راکړې شويدي مونږ ته مخکښې د راتلو ستا نه او روستو د راتلو ستانه.

قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ

وه وئيل موسیٰ نزدې ده چه رب ستاسو هلاک به کړي دشمن ستاسې. او خليفه ګان به وګرزوي تاسو په زمکه کښې

فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾

پس ګوري به چه څرنګه عمل کوئ تاسو

﴿وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ﴾ دا دويمه واقعه او حال دي دا حوال د موسى عليه السلام نه. په دې کښې د نورو مصيبتونو بيان دي په موسى عليه السلام او د ده په قوم، او د دوئ د تثبت بيان دي. بعض درباريانو د فرعون د ته دا مشوره ورکړه چه موسى عليه السلام او د ده ملګري ختمول پکار دي ځکه چه دوئ فساد پيدا کوي په بيان د حق سره او مخالف پارټي جوړه وي ﴿اَتَذَرُ﴾ استفهام انکاري په معنى د لاينبغي سره دې يعنى د دوئ پرېښودل نه دي پکار ځکه چه دې باغي دې او د حکومت باغي ته سزا ورکول پکار وي نو فرعون دا مشوره قبوله کړه او سزائ تجويز کړه. قتل د اولاد د بني اسرائيلو. ﴿وَاٰلِهَتَكَ﴾ اکثر مفسرين وائي چه د دينه مراد هغه معبودان دي چه په مصر کښې د هغې عبادت په امر د فرعون سره کيدلو، چه هغوئ ته ئې، رب ادنی. وئيل او خپل ځان ته ئې (رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى) وئيل او د دغه معبودانو صورتونه. بعض د غوايي. بعض د ګډ او بعض د نمر

...یوگمن وو، فرعون دیته رب ادنی وئیل اوداخبره چه ئ کړې وه ﴿مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي﴾ نوددینه ئ مقصودانکارووجوددالله تعالی نه چه معبود حقیقی برحق هئ اودادنی معبودانونفی مقصودنه وه، بعض مفسرین لکه شاه عبدالقادر رحمه الله وائی چه فرعون په دربارکښي دده عبادت کیدلو، اوباهرئ خپل تصویرونه مجسمې تقسیم کړې وې. اوخلقوته ئ دهغې دعبادت کولوحکم کړې وونود ((الهتک)) نه دغه مراد دی. ﴿قَالَ فِرْعَوْنُ﴾ فرعون اووئیل چه زه دخپل مخکینی دستورمطابق دبنی اسرائیلو خامن قتلول دوباره شروع کړم. ددې دپاره چه زمونږ غلبه برقرارپاتې شی .﴿وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ﴾ یعنی فرعون اووئیل چه بنی اسرائیل کمزوری دی نودوئ فسادنشی کولې. اگر که وقتی طوردوئ به یوه مناظره کښې غالب شو، بلکه مونږغالب یواودوئ ترقئ ته نه پریګدو.﴿قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا﴾ موسی علیه السلام خپل قوم ته تسلی ورکړه، اودمصیبت ددفع کولودپاره ئ ورته دوه علاجه اوخودل چه یوصبردې، چه مفتاح الفرج دې اودویم استعانت بالله دې. مصیبتونه راوستل اوزائل کول دالله تعالی په قدرت کښې دی نو ددې وجې نه هغه طرف ته متوجه کیدل اودهغه نه مددغوختل دکامیابئ ذریعه ده، اودوه بشارتونه ئ ذکرکړل یودنیوی چه ﴿إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ﴾ دویم اخروی چه ﴿وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ ﴿قَالُوا أُوذِينَا﴾ دادبنی اسرائیلوشکوه ده اودتثبت بیان هم دې،بنی اسرائیلودخپلو مصیبتونو شکایت اوکړوچه مخکښې هم فرعون زمونږ اولادونه قتلول اوذلت کارونه بیګاراخستلو اوستا دراتللونه بعدبیاداسلسله شروع شوه نوموسی علیه السلام دوئ ته داو، تسلی ورکړه، ﴿عَسَىٰ رَبُّكُمْ﴾ یعنی دالله تعالی مرسته اومددزرددررسیدونکې دې، تاسوبه اووینئ چه دغه دشمن به موهلاک شی اودوئ داموالواملاکومالکان به تاسوشئ، لیکن داخبره یاده لرئ چه لکه نن په سختئ اوغلامئ کښې ستاسوامتحان اخستې کیږی نودغسې به په خوشحالئ اوآزادئ کښې هم ستاسې ازمینت کیدې شی، چه دکوم حدپورې تاسودالله تعالی دنعمتونو قدر. اوشکرگذاری کوئ

وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ

او په تحقيق سره نيولي وو ۱ مونږ فرعونيان په كلونو د سوكړې (قحط) سره او په كموالي د ميوو سره

لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۝ فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ

لپاره د دې چه دوئ نصيحت واخلي پس هركله چه به راغله دوئ ته خوشحالي ويل به دوئ دا حق زمونږ دي

وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗ ؕ اَلَآ

اوكه وبه رسيدو دوئ ته څه تكليف نو بدفالي به نيوله دوئ په موسى او په ملګرو د ده سره. خبردار

اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

بيشكه سپيره والي د دوئ مقرر وو په نزد د الله تعالى ليكن ډير د دوئ نه پوهيږي

﴿ وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ﴾ دادريمه واقعه اوحال دي، په دې كښې دبنى اسرائيلوسره امداداوپه فرعونيانو د اوو(۷) عذابونوذكردي، سنت الله دادي چه مخالفينودحق ته اولاً خفيفه سزاوركولي شي. ددې دپاره چه دوئ حق قبول كړي ليكن كله چه دوئ دضداوتعصب نه واپس نه شي نوبيا ورته عذاب استيصال روكولي شي.نوپه فرعونيانوباندې هم ددې سنت مطابق اولاً خفيف عذابونه شروع شو، نوچه دوئ ته به كله آرام، خوشحالي ملاؤشوه نوويل به ئ چه دازمونږخوبى اوكمال دي اوچه عذاب اوتكليف بۀ ورته اورسيدونودوئ به په موسى عليه السلام اوپه قوم دده بدفالي نيوله چه داعذابونه ددوئ په وجه راغليدى حالانكه دادوئ دخپلوبداعمالونتيجه وه.اوآخردوئ دخپل مسخ شوى فطرت مطابق فيصله اوكړه حضرت موسى عليه السلام ته ئ اووئيل چه هرقسم معجزه سزاچه ته مونږ ته پيش كړې خو مونږ ايمان نه راوړو. نودحفيف عذابونونه بعدپه دوئ عذاب استيصال راغلو. ﴿بِالسِّنِيْنَ﴾ دااول عذاب دي داجمع د ((سَنَةٌ)) ده په معنى دمطلق كال سره ليكن په محاوره كښې ددې اطلاق دقحط په كال باندې كيږي اودلته هم دامعنى مراده ده﴿ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ ﴾ دادويم عذاب ووچه باغونوبه ئ ميوې نه كولې حتى چه په اونه كښې به صرف يوه دانه يادوه پيدا كيدلې. ثمرات

۱ . دريمه واقعه

میوزنه اونورآمدني اوتجارتي منافعوته هم شامل دي. قتاده ﷫ وائي چه عذاب دسنين
بانډواوصحراوالؤدپاره وو، اونقص من الثمرات دکلو اونباررونو دپاره وو. ﴿لَعَلَّهُمْ﴾ يعنې
داعذابونه راوستل ددي دپاره وو چه دوئ ترينه عبرت اونصيحت حاصل کړي.حضرت
سعيدبن جبير رضی الله تعالی عنه نه روايت دي چه فرعون څلورسوه کاله عمرتيرکړيدي.
اودري سوه شل کالونوکښې په ده هيڅ تکليف بيماری نه ده راغلې اوکه چرې به ده باندي
دردبالوګه يابخار، راغلې وې نوده بهٔ دخدائ دعوه نه وې کړې

﴿فَإِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡحَسَنَةُ﴾ يعنی عذاب راوستل خوددي دپاره ووچه دوئ عبرت حاصل
کړي ليکن دوئ عبرت حاصل نه کړوبلکه چه کله بهٔ په دوئ باندي خوشحالی اوخه حالت
راغلونوهغه به ئ خپل کمال ګڼرلو اوچه تکليف به راغلو نوپه موسی اوده په ملګروبه ئ
بدفالی نيوله . ﴿ٱلۡحَسَنَةُ﴾ معرف باللام اوپه ﴿فَإِذَا﴾ سره چه دقطعية دپاره دي ذکرشو. په
دي کښې اشاره ده کثرت اوقطعية ته، او ﴿سَيِّئَةٌ﴾ منکر او په (انْ) سره چه دشک دپاره دي
ذکرشودپاره داشاري قلت اوعدم اصالت ته ﴿يَطَّيَّرُوا﴾ بدفالی به ئ نيوله. دادطيرنه مشتق
دي هغوئ به په مرغه سره فال اچولو، چه خې طرف ته به والوتلو، نو دا نيک فال وواوچه
چپ طرف ته به ئ هوااوکړه نودابدفال وو.

لِّتَسۡحَرَنَا	ءَايَةٍ	مِن	بِهِۦ	تَأۡتِنَا	مَهۡمَا	وَقَالُواْ

او وه وئيل فرعونيانو اې موسی ؛ هر هغه څه چه ته راوړې موږ ته هغه، څه معجزه د دې لپاره چه جادو وکړې به موږ

بِهَا فَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ

به هغې سره پس نه يو موږ په تا ايمان راوړونکي پس راوليږو موږ په دوئ باندي طوفان او ملخان او سرې

وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿١٣٣﴾

او چندخې او وينې نښاني وې جدا جدا پس دوئ تکبر وکړو او وو دوئ قوم مجرمان

﴿وَقَالُواْ مَهۡمَا﴾ دوئ دخپل مسخ شده فطرت مطابق واضحه جواب ورکړوچه هرقسم
معجزه چه موږ ته ښکاره شي موږ ايمان نه راوړو، په لفظ د «مهما» کښې دري قوله دي
يوداچه داپه اصل کښې «ماما» دي اول الف په هاء سره بدل شويدي. **دويم داچه** داپه اصل

کښې مرکب دي ((دمه)) نه چه په معنی دکف اومنع سره دي اود (ما) شرطیه نه. **دریم داچه** دا کلمه براسها ده. موضوع ده دپاره دزیادت عموم ((هرهغه شئ)) او دَدي وجه نه داسُوردقضیه موجبه کلیه واقع کیږی. ﴿مِنْ ءَايَةٍ﴾ بیان دمهمادي. ﴿مَهْمَا﴾ مرفوع محلاً دي مبتداده. اسم شرط دي ﴿تَأْتِنَا﴾ په ده سره مجزوم دي فعل شرط دي او په نیز دبعض نحاتو فعل شرط خبر د ((مهما)) دي اوپه نیزد بعضُ جزاء ده یعنی ﴿فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ﴾ خبر دي اوپه نیز دبعضو مجموعه دفعل شرط اوجزاء خبردي. ﴿لِتَسْحَرَنَا﴾ دضددوجهِ نه هرآیت اومعجزي ته جادووائ. ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ﴾ دادریم عذاب وو. طوفان په اصل کښې مطلق هرهغه شئ ته وائ چه احاطه ئ کړې وی، چاپیره شوې وی دلته ترینه مرادیاموت کثیردي لکه داروایت دي دابن عباس رضی الله عنه نه یاترینه طاعون مراددي لکه داروایت دي دحضرت عائشه رضی الله عنهانه اودابوقلابۃ رحمه الله نه روایت دي چه مراد ترینه جُدری (ننکی. چیچك) دي چه دا عذاب اول په دوئ شروع شوې وؤ ، اومشهوره داده چه مراد طوفان داوبودي. سعید بن جبیر وائ چه هرکله ساحرانوایمان راؤړواوفرعون مغلوب واپس شوپه خپل کفرباندې محکم شونوالله تعالی په دوئ مسلسل عذابونه شروع کړل، اول پرې سنین. قحطونه راغلل، اونقص الثمرات راغلل اوددینه قبل ئ ورته یدبیضا، عصاء والامعجزه ښکاره کړې وه. اودوئ ایمان نه ووراوړې نوبیاالله تعالی په دوئ طوفان نازل کړوچه داسمان نه ډیرباران اوشونودقبطیانو په کورونواوفصلونوکښې دومره اوبه اووریدې چه په ولاړې به ئ مرئ ته رسیدلې اودوئ به شپه اوورځ ولاړوونه خوب وو، نه ارام، اوواړه ماشومان به ئ په اوچتوخایونوکینولی وو. اودسبطیانو(بنی اسرائیلو) کورونه ورسره پیوست وو لیکن په هغې یوقطره اوبه هم نه وې ننوتې، داطوفان په دوئ باندې یوه هفته وو. دیوم السبت ((دهفتې ورځ)) نه دبل سبت پورې، نودوئ ګبراؤشوچه جان، مال موهلاکیږی نودموسی علیه السلام سره ئ عهداوکړو چه ته دعاء اوکړه چه داعذاب دفع شی نوموږ به ایمان راؤړو .اطاعت به کوؤ. نوالله تعالی ددوئ نه طوفان بندکړو، اوهواراغله اوزمکه وچه شوه اودزمکې نه داسې ګیااوفصلونه پیداشوچه دهغې مثال نه وونودوئ اووئیل چه دکوم څیزنه چه موږ یریدلی وو هغه خوزموږ دپاره لوئ نعمت وو، نوبیائ سرکشی نافرمانی شروع کړه اووئ وئیل چه موږ نه ایمان راؤړو اونه بنی اسرائیل آزادوو، نوالله تعالی په دوئ باندې څلورم عذاب راؤلیږه

﴿وَالْجَرَادَ﴾ ملخانو ددوئ فصلونه اومیوې اوخوړلې. په بعضُ روایاتو کښې دی چه ددوئ کورونو هغه دروازې چه دلرګووی هغه اودارنګه چهتونه اوکیږې اونور دکورسامانونه ئې وخوړل، داصرف دقبطیانو په فصلونو اوکورونو مسلط وو. دبنی اسرائیلو کورونه مالونه زینه محفوظ وو، نو دوئ بیاګبراؤشو، اوعهدئ اوکړو اوموسی عليه السلام ته ئې اووئیل چه ته دعااوکړه چه دا عذاب دفع شی، مونږ به ایمان راوړو. نوموسی عليه السلام دعااوکړه اوباهر راغی په خپله عصاسره ئې اشاره اوکړه مشرق اومغرب طرف ته نوملخان .ټول روان شو مشرق مغرب ته اوچه کوم طرف ته به ئې اشاره کوله په عصاسره نوملخان به دغه طرف ته تلل اودوی نه عذاب دفع شواودوئ مطمئن شو، نوبیائ وعده خلافی اوسرکشی شروع کړه. نوالله تعالی په دوئ باندې، پنځم عذاب دامسلط کړو﴿وَالْقُمَّلَ﴾ قمل هغه سپګوته هم وائ چه په بدن اووینتوکښې پیداکیږی اوچیچل کوی اوهغې ته هم وائ چه په غله کښې پیداکیږی اودغلې نه مغزاوخوری،هغې ته سپږئ وائیلې شی ،اودارنګه هغې ته هم وئیلې شی چه په حیوان توبورې اوشی چه هغې ته کُنې وئیلې شی، دلته داټول قسمونه مرادکیدې شی اودارنګه .وروګې. بروږې،داټول په کښې داخل دی،ددینه بعدبیاشپږم عذاب داوؤ چه.

﴿وَالضَّفَادِعَ﴾ چندخې ئې په کورونوکښې اوپه لوخوکښې اودخوراک سکاک په ځیزونو کښې دومره ډیرې پیداشوې چه هیڅ شئ ترینه نه شوبچ کیدلې، لوخی، بسترې .هرځای دچندخو انبار لګیدلې وو، دخوراک اوخبروکولوپه وخت کښې به په خوله کښې ننوتلې. په بستروباندې دومره په کثرت سره وې چه خوب ارام ترینه نه شو کیدلې. بیااوم عذاب داوؤ چه

﴿وَالدَّمَ﴾ دقبطیانوپه اوبوکې وینی وې اودبنی اسرائیلواوبه به صفاوې، اوبنی اسرائیلو به چه په څه لوخی کښې اوبه رواغستلې نوصفابه وې اوچه قبطی له به ئې ورکړې نوبیابه په کښې وینه وه، بلکه په یولوخی کښې به ئې اوبه راواخستلې او په یو وار به چه ترینه سبطی اوقبطی سکلې نو د سبطی خولې ته به صفا اوبه راتلې اودقبطی خولی ته به وینه ورتله .په دې عذابونوکښې هرعذاب اوه ورځې وو، اودیوعذاب اوبل عذاب په درمیان کښې به یوه میاشت وقفه اومهلت وو.داووه عذابونه آیات بینات دی اودوه مخکښې ذکرشویدی، عصا.یدبیضاء. دامجموعه نهه شو، دیته ئې تسع آیات بینت وئیلی دی په سورت بنی اسرائیل کښې

﴿ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ﴾ داحال دې د «مفصّل» نه ،معنی داده چه دلالت ئې واضح وو، شک نه

کووعاقل په دي کنبي چه داآیات الهیه دی اوسحرجادونه دي، یادامعنی ده چه جداجداوي په
زمانه کنبي دهریواودبلی په درمیان کنبي یوه میاشت مهلت اووقفه وه. په بعض روایاتوکنبي
دی چه داتسع آیات په تسع سنین کنبي وو

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ

اوهرکله چه به راغي په دوئ باندي یوعذاب نو ویل به دوئ چه اي موسی دعاوکړه زمونږلپاره د خپل رب نه برکه کښي

بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ

په سبب د دي چه وعده ئي کړیده ستاسره ،کچري لري کړو تا (په دعاء سره) زمونږ نه دا عذاب خامخا به مونږ ایمان راوړو

لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۳۴﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ

په تا باندي او خامخا به پرېږدو ستاسره بنی اسرائیل . پس هرکله چه لري کړو مونږ د دوئ نه عذاب.

اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

د یو نیټي پوري چه دوئ به رسیدونکی وو هغي ته نو دغه وخت به ماتوله دوئ وعده پس بدل واخست مونږ د دوئ نه

فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾

پس غرق کړل مونږ دوئ په دریاب کنبي په سبب ددي چه دوئ تکذیب کولوزمونږ د آیتونو او وو دوئ د هغي نه بې پروا

وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا

اوبه میراث سره ورکړه مونږ هغه قوم ته چه کمزوری کړي شوی وو مشرقی طرفونه د زمکي او مغربی طرفونه د دي

الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۭ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ

هغه زمکه چه برکتونه اچولی دی مونږ په هغي کنبي، او پوره شوه ښائسته وعده د رب ستا د بنی اسرائیلو سره

بِمَا صَبَرُوْا ۭ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا

په سبب د دي چه دوئ صبر کړي وؤ، او هلاك کړل مونږ هغه چه جوړول به فرعون او قوم د ده او هغه چه دوئ

...غرقوون ﴿١٣٦﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ

...من غورول په څيرونو) اوپوري ويستل مونږ بني اسرائيل [1] د درياب نه نو راغلل دوئ په يو داسي قوم باندي

يَعْكُفُونَ عَلٰٓى أَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوا يٰمُوسَى اجْعَل لَّنَآ إِلٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ ۚ

...عبادت ئي كولو د بُتانو خپلو ، وه وئيل دوئ چه اي موسى ! جوړ كړه زمونږ لپاره يو بت لكه چه د دوئ لپاره دي بتان.

قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿١٣٨﴾

وه وئيل موسى : بيشكه تاسو داسي قوم يئ چه جهالت كوئ

﴿ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ ﴾ ددي نه مرادهغه عذابونه دي چه په ماقبل كښي ذكرشو دسعيد بن جبيرنه روايت دي چه ددينه مرادطاعون دي چه په قبطيانومسلط شوي وو ،اويه يوه ورځ كښي ترينه اويازره كسان مړه شوي وو ، امام رازي رحمه الله وائ چه اول قول صحيح دي ځكه چه الرجزمعرف بلام العهددي معهودهغه عذاب دي چه مذكورسابقاً دي ،﴿ يٰمُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ ﴾ ربّنا ئي اونه وئيل دتكبردوجي نه ﴿ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ بما ،جارمجرور متعلق دی د اُدع سره يعني اوغواړه ،اوسوال اوكړه دخپل رب نه دهغه څه چه تاسره ئ وعده كړي ده. هغه داچه په توبه اوايمان راوړلوسره به عذاب دفع كيږي يعني دعذاب ددفع كيدلو دُعا اوكړه نومونږ به ايمان راوړو يا «باء» سببيه ده ،اومامصدريه دي يعني په سبب دعهد د تا سره. دعهدنه مرادنبوت دي باجابت ددُعادي اونبوت ته عهدځكه وائ چه الله تعالى عهدكريدي چه اكرام دنبي كوى

﴿ لَئِن كَشَفْتَ ﴾ كه ستاپه دعاسره عذاب دفع شو ،﴿ إِلَىٰٓ أَجَلٍ ﴾ داجل نه مرادهغه حدزماني دي چه په هغي كښي به دعذاب وقفه وه ياترينه مرادوخت دغرق دي .﴿ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ ﴾ مخكښي عذابونه داستيصال دپاره نه وو ، بلكه دعبرت دحاصلولودپاره وو چه رجوع الى الله اوكړي. ليكن هركله چه دوئ عبرت حاصل نه كړو اورجوع الى الله ئ اونه كړه نوپه دوئ عذاب استيصال راغي اوپه درياب كښي غرق شوتباه شو. په دي آيت كښي سبب دغرق دوه ذكرشو. تكذيب اوغفلت ،اګركه دَ دوئ نورهم ډيرګناهونه ووچه هغه ټول سبب دغرق دپاره وو.

---

١ . خلورمه واقعه

خودادواړه دنوروګناهونودپاره بنیاداوجړوو، نوددوئ ذکراوشو، اودنوروئفی نه ده شوي. اوکه خوک **سوال** اوکړی چه غفلت خوغیراختیاری امردې نوداخه رنګه سبب دعذاب کیدې شی ، نو **جواب** دادې چه دغفلت نه مراداعراض دې دآیاتونو نه اوالتفات نه کول دی اودانوهین دې. نودااختیاری امردې. ﴿الْقَوْمَ الَّذِينَ﴾ بنی اسرائیل ترینه مراددی﴿يُسْتَضْعَفُونَ﴾ کمزوری کړې شوی وو په مصرکښې، غلامانئ ترینه جوړکړی وو، اوخامن ئ ورته ذبح کول اوسخت کارونه ،بیګارنی پرې کولو. ﴿مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا﴾ کنایه ده دټولواطرافو . جوانبونه . او د ﴿الْأَرْضِ﴾ نه زمکه دشام یادمصر ده یادواړه دی لکه داقول دجمهورودې. په شام کښې برکتونه باطنی هم دی چه مسکن اومدفن دانبیاؤ علیهم السلام دې اوظاهری هم دی. کثرت دارزاقواوثمارو، اومصرهم محل دبرکاتواوثمارودې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه فرمائی چه دمصردریائ نیل سیدالانهاردې حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنه فرمائ چه دبرکاتوپه لسوحصوکښې نهه حصې برکتونه په مصر کښې دی اوباقی یوه حصه په ټوله زمکه کښې ده (بحر) ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ﴾ (الحسنیٰ) صفت د (کلمة) دپاره دې یعنی پوره شوه ښکلې وعده درب ستا ،چه دنبی اسرائیلوسره ئ کړی وه چه ﴿عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ﴾ هلاک ددشمن اودغلامئ نه آزادیدل اوددشمن دملک اومال مالکان ګرځیدل دی ﴿بِمَا صَبَرُوا﴾ په دې کښې اشاره ده چه صبر دَ انعام او دَ ترقئ او کامیابئ دپاره سبب دې

﴿وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ﴾ دمارهلاکت ته وائ، یعنی کوم مظاهر، مناظرچه فرعونیانو دکبراونخوت داظهاردپاره جوړکړی وو هغه پخې پخې مانړئ ،ښنګلې خرابې، ورانې شوې په سورت الشعراء کښې دی ﴿فَأَخْرَجْنَاهُم مِّن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾﴾، آیت نمبر : ٥٧-٥٨- ٥٩ ، **سوال** دسورت اعراف دآیت نه معلومیږی چه دفرعونیانوبنګلې کارخانې وغیره تباه شویدی اودسورت شعراء آیت نه معلومیږی چه صحیح سالمې وې، چه لفظ د کذلك وربانديې دلالت کوی . **جواب** (۱) حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه کیدې شی چه بنی اسرائیلو دفرعون په عمارتونواوبنګلوکښې رذوبدل، تغیرراوستې وی لکه داعادت دې چه دویم سلطنت داول سلطنت انتظامات متغیرل اومتبدل کوی نودیته ئ ((دمرنا)) وئیلی وی، (۲) دهلاکولونه مراددادې چه فرعون چه دموسی

عليه السلام خلاف كومې منصوبې اوحيلې جوړولې هغه فيل اوناكام شوى. اودامرادنه دې چه آبادى نا، شوه. «ابوحيان» (۳) هلاكت دمال، اودمكان يوصورت دادې چه مالک ترينه نفع وانه خلى اومر شي. «ابوحيان» (۴) دا هم كيدې شي چه الله تعالى بنى اسرائيلوته دغه عمارتونه كارخانې صحيح سالم وركړى دى اوبياى روستوهلاک اوتباه كړى وى «مسائل الرازى» ﴿يَعْرِشُونَ﴾ يعنى هغه مكانات اوعمارتونه چه دوئ به بلاضرورته دتكبرپه طورسره دنگ دنگ جوړ كړى وو، ياهغه دانگوروزيلې چه په ديوالونو اوڅپرونو ئى غوړولى وى يعنى باغونه ئ هم تباه شو. «يرفعون الابنية المشيدة فى السماء» ، او «ماكانويعرشون من الجنات» «كبير»

﴿فَأَتَوْا عَلَىٰ قَوْمٍ﴾ داخلورمه واقعه اوحال دې په دې كښې دبنى اسرائيلو دعقيدې دكمزورئ بيان دې، بنى اسرائيل دفرعون نه خلاص شو، اوصحيح سالم ددرياب نه پورې شونوتيريدل ئ اوشوپه يوقوم باندې چه دبُتانوعبادت ئ كوو، دغه بُتان په شكل دغوابانديې ووادوغه قوم څوک واى چه د «لُخم» دقبيلې نه وواوڅوک واى چه دهغه كنعانيانونه وو چه امرشوې وو موسى عليه السلام ته دهغوئ دقتال، نوبنى اسرائيل چونكه مخكښې دمصرى بت پرستانو سره اوسيدلى وو نودغه غلط صحبت اثروو چه دوئ ددومره واضحه معجزاتو ليدلو باوجود د داسې جليل القدرجلالى پيغمبرنه داسې نامناسب اوناجائزمطالبه اوكړه چه

﴿اجْعَل لَّنَا إِلَٰهًا﴾ اوددې كلام نه ددوئ كفرياارتدادنه ثابتيږى خكه چه دوئ دغيرالله عبادت نه دې كړې، نه ئ غيرالله ته معبودونيلى دى صرف دومره ده چه دوئ دخپل نبى نه دجهالت په وجه دامطالبه اوكړه چه موږ له يومعبود مجسم اوگرزوه چه هغه زموږ قبلة التوجه شى يابه ددوئ دازعم وو چه حلول داله ممكن دې اوداسې جهل د «نوى مسلمان» دپاره عذركيدې شى حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله ليكى، جاهل انسان ته دغيرمرئى اوبې صورته معبود دعبادت نه تسكين نه حاصليږى، هركله چه دوئ داسې قوم اوليده چه دغواشكل ته ئ عبادت كوونودوئ ته هم داخواهش پيداشو، او د دى نظير هغه دې چه بعض نو مسلم، اعرابو په جنگ حنين كښې دنبى صلى الله عليه وسلم نه سوال اوكړو : «اجعل لناذات انواط كمالهم ذات انواط» مشركينوبه ديو ونې تعظيم كوو چه دهغې نوم ذات انواط وو، په كال كښې به يو وارې هغې ته راتلل دهغې تعظيم به ئ كولو، «گوياكه دادونى عرس وو» نونبى صلى الله عليه وسلم دوئ ته اوفرمائيل چه تاسوداسې خبره اوكړه لكه موسى عليه السلام ته چه قوم ئ كړې وه اوموسى

عَلَيْهِ السَّلَام ورته ونیلي وو ﴿اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ﴾

اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٩﴾
بېشکه داخلق هلاك به کړي شي هغه چه دوئ مشغول دي دهغې په عبادت کښې اوباطل دي هغه عملونه چه دوئ ني کوي
قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ
وه ونیل موسی آیا سوی د الله تعالی نه طلب کړم تاسو لره بل معبود. او حال دا چه هغه غوره والي در کړېدی تاسونه
عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٠﴾ وَ اِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ
په خلقو د دې زمانې او کله چه مونږ خلاص کړئ تاسو د فرعونیانو نه چه رسول به ني تاسو ته سخت عذاب.
يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ يَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ
قتلول به ني ځامن ستاسې او ژوندئ به ني پرېښودلې جینکئ ستاسې او په دې کښې احسان وو
مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿١٤١﴾
د طرف د رب ستاسو نه لوئ

﴿اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ﴾ يعنى دابت پرستان چه په کوم کارکښې دی ددې انجام هلاکت دې اوباطل دې هغه عمل چه دوئ ئې کوی چه عبادت دَ بُتانودې. اګرکه دوئ په هغې سره تقرب الی الله قصد کړیدې خوداباطل دې ﴿هٰۤؤُلَآءِ﴾ اسم د (اِنَّ) دې ﴿مَا هُمْ فِيْهِ﴾ موصول صله مبتداء مؤخره ده ﴿مُتَبَّرٌ﴾ خبرمقدم دې اوداجمله خبرد (اِنَّ) دې. ﴿قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا﴾ حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام خپل قوم ته وائ چه آیاتاسودالله تعالی عظیم احساناتوته نه ګورئ؟ چه دمعبودباطل دعبادت خواهش لرئ ، معبودباطل خوتاسوته هیڅ نه دی درکړی، اوالله تعالی تاسوته په ټول جهان والاؤ باندې فضیلت درکړیدې اونجات ئ درکړیدې داسې ظالم دشمن نه چه ستاسو اولادئ قتلول نوداسې ذات نه علاوه دبل چاعبادت کول ،دعقل اونقل دتقاضی خلاف دې.

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ
اووعده کړې وه مونږ د موسی سره د دیرشو شپو اوپوره کړې وو مونږ دغه میعاد په لسو نورو سره. پس پوره شو

مِيقَاتُ رَبِّهٖٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسٰى لِأَخِيهِ هٰرُونَ اخْلُفْنِي

وخت مقرر د طرفه د رب ددہ نه څلوېښت شپې، او وه وئیل موسی خپل ورو هارون ته چه خلفه او نائب سه زما

فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾

په قوم زما کښې او اصلاح کوه او مه ځه په لار د فساد کوونکو

﴿وَوٰعَدْنَا مُوسٰى ثَلٰثِينَ لَيْلَةً﴾ داپنخمه واقعه ده په دې کښې ذکر دمیقات اول اودنزول دتورات، اوکلام دالله تعالی دموسی علیه السلام سره، اوطلب درویت وغیره اموردی، بنی اسرائیل چه دفرعون نه خلاص شونوموسی علیه السلام ته ئې درخواست اوکړو چه مونږ له یوقانون اودستور پکاردې چه دهغې تحت مونږ خپل ژوندتیروؤ، موسی علیه السلام دالله تعالی په بارګاه کښې درخواست پیش کړو نوالله تعالی ورته اوفرمائیل چه څلوېښت ورځې په کوه طورکښې چله اوکړه چه دعالم ناسوت دمعاملاتونه انقطاع راشی اواستعداددملکیت حاصل شی اوداسمانی کتاب داخذصلاحیت پیداشی، دحضرت موسی علیه السلام دطرف نه دمعتکف کیدلووعده وه اودالله تعالی دطرف نه دَ تورات دورکولووعده وه نوددې وجې نه ﴿وَوٰعَدْنَا﴾ باب مفاعله ذکرشو. په سورت بقره کښې ددې واقعې ذکرداسې دې ﴿وَإِذْ وٰعَدْنَا مُوسٰى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ دهغې نه معلومیږی چه دابتداء نه دڅلوېښت شپووعده وه اوددې آیت نه معلومیږی چه ابتداء ددیرشوشپو وعده ده بیاروستوڅلوېښت شپې شوې، نوبعض علماء وائې چه دلته هم دهغه څلوېښت شپوبیان دې لیکن په بل اسلوب سره اواسلوب بیان ددې دپاره بدل شو چه معلومه شی چه څلوېښت شپې په دې طریقه سره وې چه یوه میاشت دذی القعده مکمله وه اولس شپې ورسره دذی الحجه وې اویه دغه لسوشپوکښې ورته تورات ملاؤشوې دې اوبعض علماء وائې چه اول وعده دیوې میاشتې وه اوبیاپرې لس ورځې نورې زیاتې شوې، اودلس ورخودزیاتولونه .کیدې شی، چه دامقصدوی چه دریاضت په اثناء کښې، دعبودیت په وظائفواوتقرب دآدابواداء کولوکښې که چرې کمې تقصیررانه شی نوبیایوه میاشت پوره ده اوکه راشی نوبیازیاتول پکاردی، لکه بعض مفسرینووئیلی دی چه موسی علیه السلام دیرش ورځې اعتکاف اوکړو اودیرش روژې ئې داسې او ساتلې چه افطارئې پکښې نه ووکړې او دیرشمې روژې پوره کیدلونه بعدئې افطاراوکړو او مسواک ئې استعمال کړو نوچه په کوه طور کښې په مقررمقام کښې حاضرې اوکړه نوالله تعالی

ورته اوفرمائيل چه دروژه داردخولي نه چه تبخيرمعده په وجه کومه بدبوئ رازي هغه ماته دمشکودخوشبوئ نه زياته محبوبه ده اوتاهغه زائله کړه نو ددې وجې نه لس روژې نورې اوساته اوپه بعض رواياتوکښې ددپرشمي روژې نه بعدصرف دمسواک د استعمال ذکر دې.ليکن د دې واقعې نه دا استدلال نشي کيدې چه د صائم لپاره مسواك مکروه يامنوع دې څکه چه ددې مذکوره واقعې دپاره قوي سندنشته دې اوداهم کيدې شي چه دادې دموسى عليه السلام يا د شريعت موسوى خصوصيت وى اوزمونږپه شريعت کښې دصائم دپاره استحباب دمسواک ثابت دې په حديث دعائشه رضى الله عنها سره چه روايت ئ کړيدې بيهقى ((خيرخصائل الصائم السواک)). په آيت کښې د ﴿لَيْلَةً﴾ ذکردې اګرکه موسى عليه السلام خلوينت ورځې هم تيرکړيدى نوتخصيص دليلة يادولې وجې نه شويدې چه عبادت دشپې زيات لذيذوى.يادوى وجې نه شويدې چه اشاره ده ديته چه په احکاموشرعيؤکښې تاريخ قمرى معتبردې چه ابتداء ئ درؤيت دقمرنه کيږى اوداپه شپه کښې وى اوبياهرتاريخ قمرى، دغروب شمس نه شمارلې کيږى. امام قرطبى دابن عربى رحمه الله په حواله نقل کړيدى ، ((حساب الشمس للمنافع وحساب القمر للمناسک)) يعنى شمسى حساب ددنيوى منافعودپاره دې اوقمرى حساب دعباداتودپاره دې

﴿وَأَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ﴾ يعنى پوره کړې مونږ دغه ديرش شپې چه ذى القعده مياشت ده په نورولسودذى الحجې سره ﴿فَتَمَّ مِيقٰتُ رَبِّهِۦٓ﴾ نوپس پوره شو هغه وخت چه رب مقررکړې وو. داعطاء دتورات دپاره خلوينت شپې، په سبب دضم کولودلسوشپو، ديرش شپوسره ،داخبره دماقبل نه معلومه شوه چه اتمام دثلثين په عشره سره اوشو نوخلوينت پوره شوې، ليکن بياذکرکول ئ چه ﴿فَتَمَّ مِيقٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ ددې دپاره دې چه څوک داتوهم اونه کړى چه عشربه جزء دثلثين وى اوداتمام دثلثين په عشرسره به دامطلب وى چه عشره به دعشرين سره ضم وى نوثلثين به تام شوې وى، نوپه دې جمله کښې ددې توهم ازاله اوشوه چه اتمام د ، ثلثين په عشر ، ، سره ددينه متعارفه معنى مرادده يعنى ضم دعشر د ثلاثين سره ،اوفرق په مابين دميقات اووقت کښې دادې چه وقت مطلق زمانې ته وئيلې شى اوميقات هغه زمانه ده چه دڅه کاراوعمل دپاره مقرروى.

﴿وَقَالَ مُوسٰى لِأَخِيهِ﴾ حضرت موسى عليه السلام کوه طورته دتللوپه وخت کښې هارون عليه السلام ته اووئيل چه ته څماخليفه شه په قوم کښې، **سوال** واردېږى چه هارون عليه السلام په خپله نبى دې أونبى

خودبل چاخلیفه نه وی اونه په نبوة کښې خلافت راخي. **جواب** دادې چه داخلافت په نبوة کښې نه دې بلکه په انتظامی اموروا وسیاسی امورو کښې خلافت دې. حضرت موسی علیه السلام صرف نبي نه وو بلکه دقوم اعلی سرداراو دانتظامی اوسیاسی امورو متولی اوذمه دارهم وو. حضرت موسی علیه السلام چونکه دبنی اسرائیلو داعتقادی کمزورئ اودتلوّن مزاجئ پوره تجربه لرله نوځکه ئ په زيات تصريح اودیرتاکیدسره اوفرمائیل ﴿وَأَصْلِحْ﴾ دقوم اصلاح کوه ﴿وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ﴾ یعنی په قوم کښې که څوک فساد کوی نودهغوئ دحوصله افزائ اوهمت افزائ کارمه کوه. اوددې وجې نه چه هرکله سامری فسادشروع کړو نوهارون علیه السلام ورته علی الرغم داسې اوونیل ﴿يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ﴾ الاية.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ

او هرکله چه راغي موسی نیتې مقررې زمونږ ته او خبرې وکړې د ده سره رب د ده. وه ونیل ده اې ربه خما

أَرِنِىٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ

وښایه ماته خپل ذات چه نظر وکړم تاته، وفرمائیل الله تعالی چه ته ما هرګزنشي لیدې لیکن ګوره غر ته.

فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ تَرَىٰنِى ۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ

نوکه هغه ټینګ شوپه خپل ځائ نو پس زرده چه وینې ته ما، پس هرکله چه خپل نور ښکاره کړو رب د ده. غر ته

جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ

وئ ګرزولو هغه هموار او پرې ووت موسی بې هوشه، پس هرکله چه په هوش شو. وې ونیل پاکی ده تا لره،

تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّى اصْطَفَيْتُكَ

توبه کړیده ما تاته او خه د ټولونه اول یقین کوونکې یم وه وفرمائیل الله تعالی چه اې موسی بیشکه ما غوره کړې ئې ته

عَلَى النَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِى وَبِكَلَٰمِى فَخُذْ مَآ ءَاتَيْتُكَ

په خلقو باندې په پیغامونو خپلو سره او په (بلا واسطه) کلام کولو سره. پس ونیسه هغه کتاب چه درکړو ما تاته.

وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٤﴾

او شه دشکر کوونکو نه

﴿ وَلَمَّا جَآءَ مُوسٰى لِمِيقَاتِنَا ﴾ موسی علیه السلام په کوه طورکښې په هغه وخت چه موعود وو دپاره داعطاء دتورات دځلوېښت ورځونه بعدمخصوص مقام ته حاضرشو.چه ديته ، ،ميقات اولى ، ،ونيلې شى، اوالله تعالى ورسره په يومخصوص اوممتازاندازكښې مكالمه اوكړه چه ده ته ئې ډيرخونداومزه ورکړه نودرؤيت اوديدارمطالبه ئې اوكړه ﴿ وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ ﴾ نه مرادبلاواسطه اويه مخصوص اندازكښې كلام دې چه دهغې دوجې نه موسى علیه السلام ته كليم الله ونيلې شى، داسې كلام يوواړې دنبوت ملاويدلوپه وخت كښې شوې وو، اوبل واړې دتورات ملاويدلو په وخت كښې شوې وودلته دادويم مراددې، اوددې مخصوص كلام تفصيل الله تعالى ته معلوم دې اوهركله چه موسى علیه السلام ته دكلام الله اوريدلونه ډيرخونداولذت حاصل شونوتمنائ دديداراوكړه اودرخواست ئې اوكړو، شعر:

نه تنها عشق از گفتار خيزد بسا كه اين دولت از گفتار خيزد

﴿ رَبِّ أَرِنِيٓ ﴾ خماودخپل ذات ددرميان نه حجاب لرې كړه خپل ديدار بلاحجابه راؤخايه،داسوال دموسى عليه السلام دشوق اومحبت دوجې نه وواودبنى اسرائيلوسوال ﴿ أَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً ﴾ دعناداوانكاردوجې نه وو نوځكه هغه موجب دعقاب شو ﴿ أَنظُرْ إِلَيْكَ ﴾ دا مجزوم دې جواب امر(ارنى) دې كه څوك **سوال** اوكړى چه رؤيت (ليدل) مرتب كيږى په نظرباندې اودلته خونظرمرتب شو په رؤيت باندې حال داچه نظراول وى اورويت روستووى، **جواب** دادې چه د «ارنى» نه مراددادې چه ماقادركړه په خپل ديدار، په دې شان چه حجاب ددرميان نه لرې كړه، اوظاهره ده چه نظرددينه بعدكيږى، ﴿ قَالَ لَن تَرٰىنِي ﴾ يعنى ته مانه شى ليدلې ، يعنى قدرت نه لرې چه په دې عالم ناسوت كښې په دې مادى، فانى كيدونكى حواسوسره ماووينى، تعبيرپه ،لن ترانى،، سره شويدې، اوپه لن أرى (زه نه شم ليدې كيدې)) سره نه دې شوې نوپه دې كښې اشاره ده دې ته چه رؤيت نامكن نه دې ليكن ته ئې په دې موجوده حالت سره طاقت نه لرې، معتزله وائ چه دالله تعالى ديدارنه شى كيدې، دوئ منكردى درؤيت دالله تعالى، دليل نيسى په دې آيت سره لن ترانى ،دوئ وائ چه «لن» دنفى تابيدى دپاره دې، اهل سنت والجماعت وائ چه لن دنفى دتاكيددپاره دې اودتابيددپاره نه

دي، دليل ئ داقول دالله تعالى دي، ﴿فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا﴾ ، مريم ۲۲. كه «لن» دتابيد دپاره
شي نود «اليوم» سرئ تناقض راځي، بل داقول دالله تعالى ﴿وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا﴾ البقره ۹۵، كه لن
دتابيددپاره وي نوابداً ذكركول به تكرارشي، اوداقول دالله تعالى ﴿فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِي﴾ يوسف ۸۰، كه لن دتابيد دپاره وی نودغايه ذكركول ورسره منافات لري. اوپه ﴿لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا﴾ كښې تابيددليل خارجي نه معلوم دي مدلول دلن نه دي

اهل سنت والجماعت وايئ چه رؤيت دالله تعالى په آخرت كښې واقع دي نصوص صريحه احاديث متواتره په دې دال دی ،مؤمنانوته به دانعمت عظمی ورکولې شي په جنت كښې اوپه دنیاکښې ممکن دي عقلاً او واقع نه دي، دامکان عقلاً دليلونه دادی(۱) «(لَنْ تَرَانِي)» سره تعبيرشويدي «(لَنْ أُرٰى)» ئ نه دي وئيلي نو دا تعبيرمشعردي په امكان درؤيت (۲). موسی علیه السلام ددې طلب كړيدي اوكوم شئ چه ممتنع وی په شان دالله تعالى كښې نوانبياء دهغې طلب نه كوی، طلب دممتنع جهل دي اوانبياء دجهل نه پاک دی اوحضرت موسی علیه السلام چه «(اِنّي تُبْتُ)» وئيلي دی نوداتوبه دګناه نه ده بالاجماع بلكه داتوبه دتواضع اوعبدیت دوجې نه ده، باددې وجې نه چه بې اجازته ئ دعاكړې وه، اودانبياؤ شان ډيرلوئ دي نوددوئ توبه درفع ددرجاتودپاره وی نه د ازاله دسيئاتودپاره(۳) تعليق درؤيت شويدې په استقرارالجبل پورې اوداممکن امردي اومعلق په ممکن پورې ممکن وی.

﴿وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ﴾ دموسی علیه السلام ددرخواست جواب په «(لن تراني)» باندې پوره شوو اوس الله تعالى حضرت موسی علیه السلام ته، دتشفی اوتسلئ اواطمينان قلب دپاره ديو عملي تجربه حکم ورکوی، چه ګوره، غرچه دظاهري مادي اعتبارسره دانسان نه ډيرزيات قوت اوطاقت لري په هغه باندې زه دخپل تجلئ يوذره ښکاره کوم نوکه هغه برداشت کړه نوته به هم خمادتجلئ ليدل برداشت کړې، ليکن که غربرداشت نه کړه نوکمزورې وجوددانسان به څنګه طاقت دبرداشت کولواولري.

﴿فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ﴾ موسی علیه السلام جبل ته کتل شروع کړل الله تعالى خپله تجلی په دغه غرباندې واچوله نوغربرداشت اونه کړوتکړې تکړې اوذرې ذرې شو، يعنی دغرهغه حصه چه تجلی چه تجلی پرې راغلې وه، او موسی علیه السلام صرف دغه غر ته په کتلو سره بې هوش پريوت، (تجلی) په لغت کښې ظهوراوانکشاف ته وائ، «(تجليتُ العروس، اذا اظهرها، تجلت السيف)»

دصوفیه کرامو په نیز تجلی دخه خیزبالواسطه لیدلو ته وائ لکه یو خیزچه په واسطه دائینه سره اولیدلې شي، نوتجلي رؤیت نه دې په دې آیت کښې درؤیت نفی اودتجلی اثبات مذکوردې نوداهم په دې دلالت کوی چه تجلی اورؤیت جداجدادی، روایت کړیدې احمد او ترمذی اوعبدبن حمیداوبیهقی ‹اوحاکم اوترمذی دې سندته صحیح وئیلی دی› دحضرت انس رضی الله عنه ((ان النبی صلی الله علیه وسلم قرء هذه الاية (فلماتجلی ـــ الایه) قال هکذاواشارباصبعیه ووضع طرف ابهامه علی انملة الخنصر، وفی لفظ علی المفصل الاعلی من الخنصرفساخ الجبل)) ، ((وعن ابن عباس رضی الله عنه قال ماتجلی منه سبحانه الاقدرالخنصرفجعله ترابًا))، یعنی نبی صلی الله علیه وسلم ددې آیت په تفسیرکښې دتجلی بیان داسې اوکړو چه ابهامه گوته ‹غټه گوته› ئ ده خنصرگوتی ‹کچه گوته› په سرباندې کیخودله اشاره وه قلت اوکموالی دنُورته چه دومره لگه حصه دنُورظاهره شوه نوغرتکړې تکړې شو، صاحب دروح المعانی وائ چه دا ‹حدیث› دهغه متشابهاتونه دې چه علم به ئ حواله کولې شی الله تعالی ته اویابه په کښې تاویل کولې شی په داسې طریقه چه لائق وی دشان دلوئ ذات سره، ‹روح› نوددینه اعضاء، اجزاء، اراده کول، زیغ دې، الله تعالی منزه دې داعضاء ،جوارحو، اوتجزی اوتبعض نه،لیس کمثله شئ، ﴿دَكًّا﴾ په معنی د مدکوکًا سره دې، دک، دق، قریب المعنی دی، ﴿صَعِقًا﴾ په معنی دصاعقًا، سره دې بیهوش، ((ای مغشیا علیه)) عن ابن عباس والحسن، وقال قتادة میتًا، حضرت موسی علیه السلام په دې حالت باندې یوه هفته وو یایوه ورځ شپه وو، ﴿وَخَرَّ﴾ دخرورنه مشتق دې په معنی دسقوط سره دې اوبعض وائ چه خرورهغه سقوط ‹راپریوتل› دې چه دهغې سره آواز، خرارې، وی په سبب دازله دفهم سره اوسقوط مطلق پریوتلوته وائ.

﴿فَلَمَّآ أَفَاقَ﴾ هرکله چه موسی علیه السلام په هوش شونواوئ وئیل یاالله پاکی ده تالره دعیب نه اوددینه چه دافانی سترګی ستا د ذات دتجلیاتو متحمل شی، ﴿تُبْتُ إِلَيْكَ﴾ په خپل درخواست معذرت غوارم، قرطبی وائ چه اجماع کړیده امت په دې خبره چه داتوبه دمعصیت نه ده، ﴿وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ په دې خبره چه ستارؤیت په دنیاکښې نشی کیدې په دې باندې زه دټولونه اول اوزیات یقین کونکې یم، ﴿قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ﴾ داتسلی ده، دطرفه دالله تعالی نه موسی علیه السلام ته چه رؤیت اودیداراګرکه اونه شو لیکن دغه نورامتیازاوشرف خوڅه لګ شئ نه دې هغه داچه ته مې غوره کړې ئ ستادموجوده زمانې په خلقو،یعنی په اُمتیانواودارنګه هارون علیه السلام باندې خکه

هغه اگركه نبي وو ليكن صاحب شرع نه وو بلكه ماموروو په اتباع د موسى ﷺ بل داچه د تاسره مې بلاواسطه كلام كړيدې، او په عطف ﴿وَبِكَلَامِي﴾ كښې په. ﴿بِرِسَالَتِي﴾ باندې اشاره ده ديته چه دادواړه جداجدامستقل منصبونه ، اوعزتونه دى اودشكرنه مرادعمل كول دى په تورات باشاعت دتورات دې، امام رازى ﷺ وئيلي دى چه دا تسلي وركول هم يودليل دې په امكان درويت باندې، ځكه چه د تسلي دَ يوممكن شئ په عدم حصول وركولې شى نوكه رؤيت ممتنع وې نوحاجت به نه ووتسلئ وركولوته، ابن ابى شيبه ، ،روايت كړيدې دكعب نه چه او وئيل موسى ﷺ اې ربه، ماته اوښايه يوداسې عمل چه زه ئ اوكړم نوهغه شكروى ستاد احساناتونوالله تعالى ورته اوفرمائيل چه : ((لااله الاالله وحده لاشريک له له الملک وله الحمدوهوعلى كل شئ قدير)) وايه نوګويا ، چه موسى ﷺ يوداسې عمل اراده كړې وو چه هغه زيات شاق اودروندوى په بدن باندې، نوالله جل جلاله اوفرمائيل چه اې موسى كه چرې اوه اسمانونه اودوئ آبادونكى علاوه خمانه، اووه زمكې، دميزان په يوطرف كښې كيخودلې شى نودابه ثقيل شى په هغه تولوباندې(روح) رويت دې چه موسى ﷺ بعد ددې نه چه الله تعالى ورسره كلام اوكړو كوم چه دلته مذكوردې، نودده په مخ، چهره باندې انوارات دومره غالب شو چه هيچابه طاقت نه لرلوچه ده ته اوګورى اوپه مخ به ئ حجاب ، برقع وه، اوترمرګ پورى وه، ددوئ بى بى دوئ ته اووئيل چه ((أنا لَمْ أرکَ منذ كلّمکَ رَبُّک)) يعنى دكوم وخت نه چه تاسره ستارب كلام كړيدې نوماستامخ، څهره، نه ده ليدلې، نوموسى ﷺ دمخ نه حجاب لرې كړو نوچه بى بى ئ ورته اوكتل نودنورپه شان چمک اوبرق ئ وهلو. نوپه خپلوسترګوئ لاسونه كيخودل، اوپه سجده پريوته، اوئ وئيل : ((اُدْعُ الله ان يجعلنى زوْجتک فى الجنة)) يعنې دعا اوكړه د الله تعالى نه چه زه ستابى بى يم په جنت كښې،نوموسى ﷺ اووئيل . چه بس دغه شان خبره ده، يعنى ته به خماسره ئ په جنت كښې، خوپه شرط ددى چه خمانه روستوبل خاوندا ونه كړې ځكه ښځه دروستنى خاوندسره وي، (والله اعلم) ، (السراج المنير)

وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ

او ليكلى وو مونږ دده لپاره په تختو كښې د هر قسم ضرورى وعظ [1] او تفصيل د هر ضرورى حكمونو.

۱ - «موعظة» مفعول له دې يا بدل دې د «من كل شئ» نه.

فَخُذْهَا	بِقُوَّةٍ	وَأْمُرْ	قَوْمَكَ	يَأْخُذُوا	بِأَحْسَنِهَا ۚ

نو پس ونيسه دا په کلکه سره او حکم کوه قوم خپل ته چه عمل کوی په ډير ښائسته خبرو د دي.

سَأُورِيكُمْ دَارَ الْفٰسِقِينَ ۝

زرده چه وبه ښائم تاسوته ملك د نافرمانانو

﴿ وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ ﴾ اکثرمفسرين وائ چه تورات شريف په الواحوکښې ليکلې شوې وو، نوددغه الواحومجموعه تورات دې اوبعض وائ چه دغه، ألواح دتوارت نه علاوه وې چه دتورات دنزول نه مخکښې موسى عليه السلام ته مرحمت کړې شوې وې، اود﴿ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ نه مرادهرهغه شي دې چه ددوئ دپاره ضروری وو، او ﴿ مَوْعِظَةً ﴾ نه مراد، نصائح، تخويفات بشارات دی او د ﴿ وَتَفْصِيلًا ﴾ نه مراداحکام دتورات دی، دالواحوتفصيل بعض مفسرينو کړيدې، چه الواح دڅه شئ نه جوړوو، زبرجد، زمرود، سدره، وغيره اقول دی اودارنگه دعدد، اومقدار، اوليکونکی دالواحوڅوک وو، محققين وائ چه په صحيح روايت سره ددې امورو تفصيل نه دې راغلې نوسکوت ترينه پکاردې، ﴿ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ ﴾ ضميرراجع دې الواحوته يعنی په خپله هم په دې دعمل کولواهتمام کوه اوقوم ته هم ددې حکم کوه، پيغمبردقانون شرعی نه مستثنی نه وی، د﴿ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ ﴾ نه مراددعمل کولواهتمام دې ياترينه مرادپه کلکه اواحتياط سره نيول دی چه دغه الواح دلاس نه اونه غورځيگی، لکه دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې (ذکره القرطبی) چه موسى عليه السلام چه هرکله الواح اوغورزولې، (دډيرې غصې دوجې نه) نوشپږمه حصه ئ پاتې شوباقی رفع شوې اوپه بل روايت کښې دی چه اومه حصه ئ پاتې شوه، ﴿ بِأَحْسَنِهَا ﴾ اضافت بيانيه دې اوپه دې کښې تنبيه ده په دې باندې چه په دغه الواحوکښې ماسوا داحسن نه بل هيڅ نه وو، نومعنی داشوه چه امرکوه خپل قوم ته چه په دې باندې عمل کوی ښکه په دې کښې چه څه دی هغه ټول احسن دی، ياداحسن نه عزيمتونه مراددی ښکه چه عزيمت احسن وی اورخصت حسن وی لکه مثلاً دظالم نه انتقام اخستل حسن دی ليکن صبرکول اومعاف کول ئ عزيمت اواحسن دی نوگويا چه بنی اسرائيلو ته ئ دعزيمتونو او مندوباتو داهتمام حکم ورکړو، ﴿ سَأُورِيكُمْ دَارَ الْفٰسِقِينَ ﴾ په دې آيت کښې خطاب بنی اسرائيلو

سره دي اودفاسقينونه مرادعمالقه دی چه بې دينه وو اود ((دارالفاسقين)) نه مرادشام، كنعان دی چه عمالقه په هغې قابض وو،اوياترينه مصرمراددې نوپه دې كښې بشارت دې بنی اسرائيلوته چه تاسوته به په دشمن غلبه حاصله شی اودهغوئ ملک به تاسوقبضه کړئ. ((ای سيورثهم ارض اعداء هم وديارهم)) (كبير) اودارنګه په دې كښې بنی اسرائيلو ته دعبرت حاصلولو ترغيب دې چه دفسق اوسرکشۍ انجام هغه وی چه تاسوبه ئ اووينئ چه دنافرمانو عمالقؤ فرعونيانوكوم انجام وو، يامرادد﴿دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ﴾ نه جهنم دې چه ليدل ئ كيږی په ورځ دقيامت باندې نوبيادا آيت تخويف دې.

سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ
خامخا به اړوم زه د آيتونو خپلو نه هغه كسان چه تكبر كوی په زمكه كښې په ناحقه سره. اوكه وه وينی دوئ
كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ
هرقسم معجزه نو ايمان نه راوړی په هغې، او كه وه وينی دوئ لار د هدايت نه نيسی هغې لره لار. او كه وه وينی دوئ
سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٤٦
لار د گمراهئ نيسی هغې لره لار، دا په سبب د دې سره چه دوئ دروغ گڼړی آيتونه زمونږ او دوئ د هغې نه غافل دی
وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ
او هغه كسان چه دروغ گڼړی زمونږ آيتونه او ملاقات د آخرت، برباد دی عملونه د دوئ، بدله نشی وركيدې دوئ ته
إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤٧
مگر دهغه عملونو چه دوئ ئې كوی.

﴿سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ﴾ يعنی په الواحوكښې خومفصل احكام هدايت وو ليكن متكبرين ترينه فائده نه شی حاصلولې، اودالله تعالى په بارگاه كښې ددوئ هيڅ قدرنشته دې اودوئ ته به ددوئ دبدواعمالوبدله وركولې شی، اوپه دې كښې تنبيه ده په دې چه دعناداواستكبارانجام ديربدوی اوتكبركونكوته دقبول دحق توفيق نه ملاويږی، قتادة د﴿ سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ﴾ ترجمه كوی ، سامنعهم فهم القرآن، متكبردفهم دقرآن اودايمان بالقرآن نه محروم وی، ،صرف، ، اړول

اومنع کولوته ونيلي شي، اومرادترينه محروم ساتل دی په ذريعه دمهرجباريت سره.
﴿يَتَكَبَّرُونَ﴾ چه خان لوئ گنړی په خلقو. ﴿بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ داظرف متعلق دي دمخذوف سره اوهغه حال دي دفاعل د ((يتكبرون)) نه، ((اى يتكبرون متلبسين بغيرالحق)) خکه تکبريه حقه سره صفت خاصه دالله تعالى دي لکه په حديث قدسی دابوداؤدکښي دی ((عن ابى هريرة رضى الله عنه الكبرياء ردائى والعظمة ازارى فمن نازعنى فى واحدمنهماقذفته فى النار)) ياداظرف متعلق دي ديَتَكَبَّرُوْنَ سره اودبغيرالحق نه مراددوئ دين باطل دي، اوبعض وائ چه ددينه مرادتکبردي په هغه چاباندي چه تکبرنه کوی لکه انبياء، نوداتکبربغيرحق دي اوتکبريه متکبرباندي، حق دي، حرام نه دي اوپه اثرکښي راغليدی چه ((التكبرصدقة)) ليکن تکبربحقِ ،درحقيقت تکبرنه دي صرف صورةً ظاهراً تکبردي نو بنا په دي قول د ((بغيرالحق)) قيدلګولوکښي اشاره ده چه دوئ دحقيقةً دتکبرارتکاب کوی

﴿وَإِن يَرَوْا﴾ يعنى دعناديه وجه دوئ دتوفيق دخيرنه محروم شو. اومهرجباريت پري اولګيدو نوکه دوئ هرقسم معجزه اووينى نوايمان نه راوړی اوکه رُشد اودحق لاراووينی نو باوجود ددينه چه هغه واضحه اوواسعه لارده، خودوئ په هغي نه ځی، اوکه دګمراهئ او دباطل اونفسانی خواهشاتو، لاره اووينی نوباوجودددينه چه هغه تنګه اودهلاکت وی خودوئ په هغي په منډوروان وی اوداحالت ددوام دتکذيب اوغفلت نه پيداکيږی،چه انسان هميشه په تکذيب او غفلت کښي وی نوزړه ئ مسخ شی(اعاذناالله بفضله) ﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا﴾ داتخويف اخروی دي

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِن بَعْدِهِ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ ۚ
او جوړ کړو قوم د موسي پس د تلو د ده نه (طورته) د کالو د دوئ نه سخي، يوه ځثه چه هغي لره آواز وؤ .
أَلَمْ يَرَوْا أَنَّهُ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا ۘ
آيا دوئ سوچ نه کولو چه دا سخي خبري نشی کولي د دوئ سره او نشی ښودلي دوئ ته څه لاره د فائدي.
اتَّخَذُوهُ وَكَانُوا ظَالِمِينَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا
دوئ ونيوؤ سخي په خدائی سره او وؤ دوئ ظالمان او هرکله چه ښيپمانه شو دوئ او پوهه شو

أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا ۙ قَالُوا لَئِن لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا

چه بیشکه دوئ په تحقیق سره گمراه شوی دی دوئ. نو وه وئیل دوئ کچیري رحم ونکړی رب زمونږ

وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

او بښنه ونکړی مونږ ته نو خامخا به شو مونږ د تاوانیانو نه

﴿ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ ﴾ داواقعه دهغه وخت ده چه کله موسی علیه السلام کوه طورته لاړ د میقات اول دپاره اودَ راوړلودتورات دپاره، نوسامری ته یو موقعه ملاؤشوه، اودمخکښې نه ورته دبنی اسرائیلو مزاج معلوم شوې وو، چه کله دوئ د موسی علیه السلام نه طلب اوکړو چه ﴿اجْعَل لَّنَا إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ﴾ ددینه ورته معلومه شوې وه چه ددې قوم مزاج دبُت پرستئ دې. بنی اسرائیلو سره څه زیورات دقبطیانونه پاتی شوی وو څکه چه بنی اسرائیلو دهجرت کولوپه وخت دقبطیانونه زیورات په عاریت سره په دې بهانه اخستي وو چه په مونږ کښې ښادی «واده» دې. نوفرعونیان چه تباه شو نودغه زیورات دوئ سره پاتی وو، سامری اووئیل بنی اسرائیلو ته چه داخوزمونږ دپاره حلال نه دی، په دغه زمانه کښې دکفارونه حاصل شده مال غنیمت دمسلمانانودپاره جائزنه وو. بنی اسرائیلو دده دحکم مطابق هغه ټول زیورات راوړل، اوسامری سره ئ جمع. کیخودل، اوده ترینه دسخی مجسمه جوړه کړه اوهغه خاوره چه دجبرئیل علیه السلام داسپ دخپو د لاندې نه ئ راغستې وه هغه ئ په کښې واچوله اودهغې نه دسخی دآواز په شان آوازراوتلو.

﴿جَسَدًا﴾ بدل دې د ((عجلاً)) نه یعنی دغه عجل چه سامری جوړکړې وو هغه صرف جسد وو، روح په کښې نه وو، دحیات نه معرّی وو، بس صرف یواوازبه ترینه وتلو لکه سخی چه «با. با» کوی. ددې آیت نه معلومیږی چه حقیقةً سخی نه وو، غوخه، وینه په کښې نه وه. اوداقول غوره دې اوبعضوئیلی دی چه حقیقةً سخې وو، غوخه وینه ترینه جوړه شوې وه. د﴿مِنْ حُلِيِّهِمْ﴾ اضافت د «حلی» بنی اسرائیلوته شویدې نومعلومیږی چه دا دَ دوئ ملکیت گرځیدلې وو. څکه چه دهلاکت دفرعونیانونه روستودهغوئ میراث ملکیت دبنی اسرائیلوگرځیدلې وو. لکه ﴿كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ﴾ حم دُخان ۲۵-۲۸،اوددی نه فقهاء دامسئله مستنبطه کړیده چه مسلمان چه کله دکافرپه مال قبضه استیلا، حاصله کړی نودده ملکیت گرځی. ﴿أَلَمْ يَرَوْا﴾ دادبنی اسرائیلو دحماقت بیان دې، چه داسې څیزئ خپل معبودگرځولي ووچه نه ئ په کلام

قدرت وو، اونه ئ دوئ ته څه لاره خودلې شوه ﴿ اتَّخَذُوهُ ﴾ ((اى اتخذوه الها)) مفعول ثانى محذوف دې. دا ((اتخذ)) په معنى دمعبودګرځولوسره دې اواول

﴿ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ ﴾ په معنى دجوړولوسره دې، په دې کښې اختلاف شويدې چه علاوه دهارون علیه السلام نه ټولوبنى اسرائيلودعبادت دعجل ارتکاب کړې وويانه؟ دحسن نه روايت دې چه ټولوکړې وو سوى دهارون علیه السلام نه، خکه چه موسى علیه السلام دعاء داسې کړيده ﴿ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي ﴾ نومعلومه شوه چه نورخوک مستحق ددعادمغفرت نه وونوکه چرې څوک په کښې مؤمن وې نودهغوئ دپاره به ئ هم دعادمغفرت کړې وه، اوجمهوروائ چه دهارون علیه السلام نه علاوه نورهم ډيرخلق په ايمان پاتى وو، په دليل ددې قول دالله تعالى سره ﴿ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ ﴾.

﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ ﴾ دحضرت ابن عباس رضى الله عنه اونوروحضراتونه مروى ده چه ددې معنى ندامت بلکه سخت ندامت دې ځکه چه څوک چه ډيرنادم شى نوبه خپل لاسونوباندې چکونه لګوى لکه ﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ ﴾ ،نوسرئ په لاسونوکښې ارتاؤشى، اوداکلام په اصل کښې ((سقط فوه فى يده)) وو، نوفاعل حذف شو اوفعل معروف نه مجهول جوړشو، اوچاونيلى دى چه نادم دندامت په وجه سرټيټ کړى نوځکه ترينه تعبيراوشو په ((سقط فى ايديهم)) سره، اوواوپه ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ ﴾ کښې دمطلق جمع دپاره دې اودترتيب دپاره نه دې ځکه چه ندامت ددوئ روستو دواپس کيدلودموسى علیه السلام دکوه طورنه وو، ځکه چه دواقعى ترتيب داسې دې چه حضرت موسى علیه السلام چه کله دميقات اولى نه واپس راغلو اوقوم ئ په شرک کښې مبتلاء اوليدل نوقوم ئ ملامت کړواواوئ ونيل ورته ﴿ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ﴾ اودقوم دجواب نه روستوبياهارون علیه السلام ته متوجه شو اوئ ونيل چه ﴿ قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا ﴾ اوبياى سامرى ته خطاب اوکړو، ﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ ﴾ ، اوبياى ددينه روستو، هغه عجل اوسيزه ، دقوم په مخکښې نودوئ پوهه شو چه سامرى مونږ غلط کړى وو اوبه خپل شرک کولوډيرنادم شو، ﴿ وَرَأَوْا ﴾ يعنى پوهه شودوئ چه بيشکه مونږ ګمراه شوى يو، دامقدم دې

﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ نه، یعنی اول دوئ پوهه شو چه مونږ ګمراه شو نوبیانادم شو. وجه دتاخیرفی الذکرداکیدې شی چه ﴿ وَرَأَوۡا ﴾ په معنی دجزم اویقین سره دې اوندامت کیدې شی چه په شک یاظن سره راغلې وی نوجزم په ګمراهۍ باندې متاخردې دندامت نه (والله اعلم)

﴿ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا ﴾ دااعتراف دې دخپل جرم اوطلب دتوبه دې په ډیرعاجزانه لهجه سره چه دالله تعالی درحمة اومغفرت نه علاوه زمونږدپاره دخسارې اونقصان نه دبچ کیدلو هیڅ ذریعه اواسره نشته دې، اودالله تعالی درحمت اومغفرت استحقاق نه لروبلکه دابه محض دالله تعالی فضل اوکرم وی چه زمونږ مغفرت اوکړی، حضرت آدم علیه السلام هم دغه شان سوال کړې وو. ﴿ وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا ﴾ مغفرت په منزله دتخلیه دې اورحمت په منزله دتحلیه دې نودحضرت آدم علیه السلام په کلام کښې مغفرت مقدم ذکرشویدې ځکه چه تخلیه مقدم وی په تحلیه باندې اودلته رحمت مقدم ذکرشویدې یاددې وجې نه چه دامقصود اصلی دې اومغفرت ئ وسیله ده، نوپه تقدیم کښې اشاره ده چه دامقصوداصلی دې یاددې وجې نه چه رحمت په معنی دقبول دتوبې سره دې نوهغه مقدم دې په مغفرت باندې اوکله رحمت په معنی دمزید احسان اوبچ کیدلوسره وی دګناه نه نوهغه روستووی دمغفرت نه اوپه دعادآدم علیه السلام کښې هم دامعنی مراد ده

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي
او هرکله چه واپس راغې موسی خپل قوم ته ډیر په غُصه او غمژن، وې وئیل چه بد نیابت دې نیابت چه تاسو کړې دې
مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ
ځمانه وروستو، آیا جلتی وکړه تاسو، د امردرب ستاسې نه، او کیښودلې ئې تختئ، او وې نیولو سر د ورو خپل
يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ
چه راښکلو ئې خان ته، وه وئیل هارون اې خویه د مور ځما ؛ بیشکه قوم کمزورې ګڼرلې وم زه او قریب وو
يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝
چه زه ئې قتل کړې وې، پس مه خوشحاله وه ځما په سپکولو سره دشمنان اومه شماره ما د قوم ظالمانانو سره

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ ۖ

وه ونيل موسى اي ربه خما ! ببښنه وكړه ماته او ورور خما ته او داخل كړه مونږ په خپل خاص رحمت كښې

وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ۝

او ته ئې زيات مهربان د رحم كوونكو نه

﴿وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰ﴾ داشپږمه واقعه ده موسى عليه السلام ته په كوه طور كښې تورات ملاؤشو .اوالله تعالى ورته اوونيل چه ﴿فَتَنَّا قَوْمَكَ مِن بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ﴾ ، نودې ډير په غصه اوناراضګئ سره واپس شو،﴿غَضْبَانَ﴾ غضبناك ،ناراض﴿أَسِفًا﴾ شديدالغضب، دا دواړه قريب المعنى دى، منصوب دى حالين مترادفين دى دضميرد رَجَعَ نه ياحالين متداخلين دى چه ثانى حال دې دضمير مستترنه په اول كښې،﴿بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي﴾ معنى ئ داده چه بددې هغه فعل چه تاسو كړيدې خمادتلونه بعد ، چه عبادت دعجل دې نوداخطاب دقوم هغه كسانو ته دې چه دعجل عبادت ئ كړې وو لكه سامرې وغيره شو ، يادا خطاب حضرت هارون عليه السلام اومؤمنانو ته دې چه تاسوخمادتلونه بعدخمادخلافت حق نه دې آداكړې ،موسى عليه السلام وصيت كړې وو، ﴿اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ﴾ نوتاسوچه داقوم دعبادت دغيرالله نه نه دې منع كړې نوحق دخلافت مونه دې پوره كړې،﴿أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ﴾ داخطاب قوم ته دې چه تاسوتلواراوكړوپه شرك سره اوپريخود تاسې امر د رب يعنى انتظاركول خمادراتلو.

﴿وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ﴾ دلته دحضرت موسى عليه السلام دوه عملونه ذكردى چه دواړه په ظاهركښې دنبى دشان سره مناسب نه معلوميږى يوداچه موسى عليه السلام هغه تختئ اوغورځولې چه تورات ئ پرې ليكلې شوې وو ، دادكتاب الله توهين دې چه ممكن نه دې دشان دنبى نه، بل داچه هارون عليه السلام چه نبى هم دې اودموسى عليه السلام رورډې اودرې كاله ترينه مشردې هغه ئ دسراودګيرى نه اونيولو ، اوخان ته ئ راښكلو دخپل داسې مشررور چه نبى هم وى توهين دې اولوالعزم نبى دشان سره مناسب نه دى،نود﴿وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ﴾ توجيه داده چه د﴿وَأَلْقَى﴾ نه مرادغورزول نه دى مرادلكه په دې قول دالله تعالى كښې﴿فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ﴾

ودي نه دامرادنه دي چه په مخ ئ ورته راؤويشت. نودلته د ﴿وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ﴾ نه مراد كيخودل
ئ په ادب سره . ليكن هركله چه داكيخودل په عجلت اوجلتئ سره وو نوتعبيرترينه په الفاء سره
اوشو. اوعجلت اوجلتي كول له وجې دحميت اوغيرت للدين نه وه. اواشاره وه تفظيع دعمل
بني اسرائيلوته چه ددوئ دافعل ډيربد . اوخطرناک دې نوددې په منع كولوكښې ډيره جلتي
پكارده، اوبعض وائ چه موسى عليه السلام دوجې دشدت غضب لله،نه دخپلواعضاو جوارحونه بې
اختياره شو، نوالواح ترينه بې اختياراوغورزيدل . اوهرچه دې هغه روايت دابن عباس رضى
الله عنه چه دالقاء په وجه بعض اولواح منكسر(مات) شو اوشپږسبع ۲۱۷مرتفع شو اويوسبع
۱۱۷پاتی شوه. نوبعضو ددينه انكاركړيدې. وئيلى دى امام رازى چه نشته دې په قرآن كښې
مګرذكرد (ألقى) دې اوهرچه دې كسراورفع نو دا نشته دې په قرآن كښې ((ومثله لايليق
بالانبياء))، اوكه داروايت صحيح تسليم كړې شى نوكسر. يارفع كيدل دموسى عليه السلام فعل نه
دې، دموسى عليه السلام فعل خوصرف وضع بعجلة (په جلتئ سره كيخودل) وواودافعل مأذون فيه.
اوجائزبلكه مستحسن دې،من باب ﴿وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ﴾ نوكسر او رفع نه دموسى عليه السلام
غرض وواونه ئ په زړه كښې ددې تصوروو اونه ئ په خيال اوګمان كښې داسې وه چه په جلتئ
كيخودلوسره به كسريارفع رازى، او د ﴿وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ﴾ توجيه داده چه داپه نيت دتوهين سره
(معاذالله)، نه وو بلكه دعتاب اوګيلې په طرزسره وو. خكه موسى عليه السلام دتللوپه وخت كښې
حضرت هارون عليه السلام ته ډيرتاكيداووصيت كړې وو چه دقوم اصلاح كوه نوپه واپسى كښې ئ چه
هركله دقوم ګمراهي اوليده نوګمان ئ اوكړو. اوپه خيال كښې راغله چه هارون عليه السلام به دقوم په
اصلاح كښې پوره كوشش نه وى كړې. اوسُستي تساهل به ئ كړى وى اودتبليغ په فرائضو
كښې به ئ تقصير كړې وى، نوددى مظنون تقصيرپه نسبت يوقسم عمل عتاب ئ وركړو،
اوشكايت ئ ترينه اوكړو. ﴿مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴿٩٣﴾﴾ اوهارون عليه السلام
بيشكه چه نبى وواوپه عمركښې هم دحضرت موسى عليه السلام نه مشرو. ليكن په رتبه كښې موسى
عليه السلام دده نه لوئ وو اوپه مذهبى اوشرعى اموروكښې هارون عليه السلام دده تابع اودده وزيرحيثيت
ئ لرلو، نوپه دغه موقعه كښې دموسى عليه السلام دطرفه عمل عتاب، اوشديده پوښتنه. سوء ادب
اونامناسب عمل نه دې

﴿قَالَ ابْنَ أُمَّ﴾ حضرت موسى عليه السلام اوهارون عليه السلام ، حقيقى اعيانى. (دموريلار) دواړوكښې

شريک رونړه دی دلته ذکر دمورد پاره د ترحم دی خکه چه د مورد طرفه رحم زيات وی. حضرت هارون علیه السلام حقيقت الحال بيان کړوچه ما د تبليغ او د اصلاح په فرائضو کښي کوتاهی نده کړي. او په ډير وضاحت سره مي ورته د توحيد بيان کړيدي حتی چه دوی خماقتل ته تيارشول. ﴿فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَآءَ﴾ اوپس ته مه خوشحاله وه په ماباندي دشمنان يعنی داسي کارمه کوه چه دشمنان خوشحاله شی هغه داچه ته خماسره په جهګړه اواختلاف شی، داهل حق په خپل منيخ کښي اختلاف اوجهګړه سبب دخوشحالئ داهل باطل وی. شماتت هغه خوشحالی ته وائ چه حاصله شی په سبب دتکليف رسيدلوسره دشمن ته

﴿قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي﴾ موسی علیه السلام ته چه حقيقت الحال ښکاره شو نومغفرت ئ طلب کړو چه که خمانه په حالت دغصه کښي کوتاهی شوي وی يادهرون علیه السلام نه څه کوتاهی شوي وی نويا الله مونږ معاف کړه اوپه خپل رحمت کښي مونږ داخل کړه. يعنی مزيد انعام اوکړه اوپه خپل قرب کښي ترقی راکړه

إِنَّ	الَّذِينَ	اتَّخَذُوا	الْعِجْلَ	سَيَنَالُهُمْ	غَضَبٌ	مِّن رَّبِّهِمْ

بيشکه هغه کسان چه نيولي ئي دي سخي په خدائي سره زرده چه وبه رسی دوئ ته غضب د طرف د رب د دوئ نه

وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ۝ وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ

او ذلت په ژوند د دنيا کښي. او دغسي سزا ورکوؤ مونږ دروغ جوړونکو ته . او هغه کسان چه عملونه کوی ناکاره

ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝

بيا توبه وباسی پس د دي عملونو نه او ايمان ئي راوړو بيشکه رب ستا پس د دي توبي نه خامخا بښونکی . رحم کوونکي دي

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ۖ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى

او هرکله چه په آرام شوه (سره شوه) د موسی نه غصه . را واخستلي تختئ. او په نسخو، ليکلي شوي دهغی کښی هدايت وو

وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ۝

او رحمت وؤ د هغه خلقو لپاره چه دوئ خاص د رب نه يريری

﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ﴾ داتخويف اوزجردي اومراددينه هغه خلق دی چه دعجل عبادت

ئ کړي وو او توبه ئ نه وه کړې لکه سامري او دهغه ملګري نوهغوئ ته په دنيا کښې ذلة رسيدلې وو. لکه په سورت طه کښې دی ﴿فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ﴾ باتر ينه مراد هغه يهود دی چه په زمانه دنبی صلی الله علیه وسلم کښې دی يعنی په دوئ دالله غضب دې اودوئ لره ذلت دې. ﴿وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ﴾ (بقرة) او ﴿اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ﴾ ((تعيير الابناء بفعل الاباء)) دې.خکه چه دوئ راضی وو په فعل دآباؤ باندې.﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ﴾ يعنی کوم خلق چه په الله تعالی باندې افتراکوی په هغوئ به هم غضب الهی اوذلت راځي. دسفيان بن عيينه اوامام مالک رحمهماالله نه روايت دې چه هرهغه څوک چه په دين کښې دخپل طرفه بدعات ايجادکړی نوهغه مفتری دې اوپه هغه به په آخرت کښې غضب اودنياکښې ذلت نازليږی

﴿وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ﴾ داترغيب دې توبې ته اوبشارت دې توبه کونکوته.﴿وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى الْغَضَبُ﴾ هرکله چه دموسی عليه السلام غصه سړه شوه نوهغه الواح چه ايخودلې ئ وو هغه ئ رواغستل ﴿الْأَلْوَاحَ﴾ ددينه ظاهرأسالم الواح مراددی نوځکه امام رازی وائی چه ظاهر د دې دلالت کوی چه تختئې نه وې ماتې شوې. ﴿وَفِي نُسْخَتِهَا﴾ يعنی په ليکلی شوؤ دالواح کښې. يعنی تورات کښې. تورات ته نسخه وئيل ياپه دې وجه دی چه موسی عليه السلام ته ليکلې شوې کتاب (تختئې) ورکړې شوې وو. اونبی صلی الله علیه وسلم ته قرآن په کتابی شکل اوتختئې کښې ليکلې شوې نه دې ورکړې، ياپه دې وجه .چه نسخ ((نقل مافی کتاب الی کتاب آخر)) ته وئيلې شی، نومنقول ته نسخه وئيلې شی لکه چه منقول عنه ته هم نسخه وئيلې شی اوتورات نقل شويدې دلوح محفوظ نه ﴿هُدًى وَرَحْمَةٌ﴾ ددينه احکام مراددی خکه چه څوک چه عمل اوکړی په احکامو نوهغه موصوف ګرځی په هدايت سره اوموعودوی په رحمة سره، ﴿هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ﴾ اسمانی کتاب، هدايات، دهغه چادپاره ذريعه دهدايت اورحمت وی چه په زړه کښې ئ خوف الهی وی اواخلاص وی. لکه په ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ کښې يوتوجيه داده چه دمتقين نه مراددالله تعالی خوف کونکی دی، نوپه ((يرهبون)) کښې د خوف الهی ذکر دې او ((لربهم)) کښې اخلاص ته اشاره ده

وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

او غوره کړل موسی د قوم خپل نه (۱) اویا سړي. لپاره د وخت مقرر زمونږ. پس هرکله چه ونيول دوی لره زلزلې

قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ؕ

وه وئيل موسی اې ربه خما که ناغوښتي وي نو هلاك کړې به وي تا دوی لره مخکښې د دې نه او مالره.

اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ۭ تُضِلُّ

آیا هلاکوې نه مونږ لره په سزا د هغه کار چه کړيدي کم عقلو زمونږ نه. ندې دا مگر امتحان ستا دی. گمراه کوې ته

بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُ ۭ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

په دې سره هغه څوك لره چه وغواړې ته او هدايت کوې هغه چاته چه وغواړې. ته مددگار زمونږ نې پس ښښنه وکړې مونږ ته

وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ۝ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا

او رحم وکړې په مونږ او ته غوره د ښښونکو نه ئې او وليکه (يعني مقرر کړه او توفيق راکړه) مونږ ته په دې دنيا کښې

حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَآ اِلَيْكَ ؕ قَالَ عَذَابِيْٓ

نيکي او په آخرت کښې هم ښائسته بدله. بيشکه مونږ رجوع کړيده تاته. اوفرمائيل الله تعالی عذاب خما

اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ؕ فَسَاَكْتُبُهَا

رسوم ئې هغه چاته چه وغواړم. او رحمت خما. رسيدلې دې هر شي ته. پس خامخا به دا رحمت وليکم

لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ۝

خاص هغه چا لره چه يره کوي دالله تعالی نه اوورکوي زکوة اوهغه کسان چه هغوئ په آيتونو زمونږ ايمان راوړي

﴿ وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ ﴾ دا اومه واقعه ده په دې کښې دميقات ثانی بيان دې اوميقات اولی چه هغې ته ميقات کلامی وئيلې شي دهغې ذکرمخکښې تيرشويدې (قومه) منصوب بنزع

۱- اوومه (۷) واقعه

الخافض دي ((اى من قومه)) يا دا چه ﴿سَبْعِينَ رَجُلًا﴾ بدل ياعطف بيان دي د ((قومه)) نه نوتقديرته حاجت نشته دي .حضرت موسى عليه السلام چه دعجل دمعاملې نه په اطمينان سره شو. نوتورات ئې رواخستواوبنى اسرائيلو ته ئې احكام بيان كړل نودوئ اووئيل چه دا خو ډېرسخت احكام دى. اومونږ ته څه معلومه ده چه دادطرفه دالله تعالى نه دى اوكه دخپل طرفه مقرركړيدى. البته چه مونږ په خپله دالله تعالى كلام واؤرو نويقين به اوكړو چه دادطرفه دالله تعالى نه دى. نوموسى عليه السلام دالله تعالى په بارګاه كښې عرض اوكړو نوحكم ورنه اوشو چه ددوئ ديوڅو مشرانو كسانو وفدمنتخب كړه كوه طورته ئې راوله چه څما كلام واؤرى. نوموسى عليه السلام اويا كسان منتخب كړل اودهغوئ سره كوه طورته لاړ. اوبعض حضرات وائى (كساف الكبير والروح وغيره) چه دااويا كسان كوه طورته. دحضرت موسى عليه السلام په نګرانى كښې دعبادت العجل دګناه نه دمعذرت غوښتلو دپاره تلى وو، نوچه دوئ كوه طورته اورسيدل نوالله تعالى دخپل رحمت سپينه وريځ په غرباندې رواچوله اودوئ ټول پكښې پټ شو اوموسى عليه السلام اووفد ټول په سجده شو. نودوئ دالله تعالى هغه كلام واؤريدو چه دموسى عليه السلام سره ئې كوو. يعنى هغه احكامات چه په تورات كښې وو، نوچه وريځ لرې شوه نوموسى عليه السلام دوئ ته رامخ كړو نودوئ بيابل شک پيداكړو چه مونږ ته څويته اونه لګيده چه داكلام دالله تعالى وو. مونږ به هله يقين اوكړو چه الله تعالى عيانًا اووينو ﴿حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً﴾ نوددې ګستاخانه اومعاندانه سوال په وجه سره الله تعالى په دوئ باندې داسمان نه صاعقه (تندر) نازل كړو اودلاندې نه ېرې زلزله شروع شوه، نوهلاک شول. جمهورمفسرين وائ چه دوئ مړه شو اودحضرت وهب نه روايت دې چه حقيقةً مړه نه وو. دمړوپه شان بى حسه بې هوشه وو.نوموسى عليه السلام ددوئ دهلاكت نه دبچ كيدلو. يا د بيا جوندى كيدلو دپاره دعااوكړه اوئ وئيل چه ﴿رَبِّ لَوْ شِئْتَ﴾ اې الله كه چرې ستااراده وې ددوئ دهلاكت، نودوئ اودازنګه زه به دمخكښې هلاک كړې وو. فرعون دلاسه .يابه درياب كښې.يابه هغه وخت كښې چه دوئ دعجل عبادت كوو. داټولې دهلاكت موقعې وې ليكن چه په دغه موقعوكښې دې دهلاكت نه بچ كړى دى نواوس ېرې هم رحم اوكړه دهلاكت نه ئې بچ كړه. يائ جوندى كړه، ګنى بنى اسرائيل به وائ چه تادقوم مشران بوتلل اوهلاک دې كړل . اوخمادقتل اومقابلې دپاره به تيارشى. ﴿أَتُهْلِكُنَا﴾ دا استفهام دطلب دپاره دې. يعنى مونږ مه هلاكوه. يااستعظام دپاره دې،يعنى داسې خونشى كيدې چه ته مونږ هلاک كړې په

فعل دَ سفهاؤ سره، دسفهاؤ نه مراد هغه کسان دی چه عبادت دعجل ئ کړې وو. یاترینه مرادهغه کسان دی یه اویاکسانو کښې چه طلب درؤیت ئ کړې وو. یعنی یا الله . مونږ داتوقع نه لرو چه خوښې وقوفه کسان به غلط فعل اوکړی. اوزه اوټول بنی اسرائیل به هلاک شو هرکله چه ستانه زمونږ دااميدې چه دسفهاؤپه فعل سره به مونږ نه هلاکوې نومعلومه شوه چه ﴿إِنْ هِيَ﴾ نه ده دارجفه . صاعقه.﴿إِلَّا فِتْنَتُكَ﴾ مګر يو امتحان دې .عذاب نه دې اودامتحان په وجه بعض خلقوته هدايت ملاؤشی اوبعض ګمراه شی ،موسی عليه السلام دُعاوکړه چه یاالله ته زمونږ مددګاری. مونږ ته مغفرت اوکړه اورحم راباندې اوکړه اوپه دنیاکښې هم حسنه راکړه يعنی دنیکو اعمالو توفيق راکړه اوپه آخرت کښې هم، يعنی نيک اعمال زمونږ محفوظ کړه اواجرثواب پرې راکړه،نو ددې دعانه روستو بيادغه خلق جوندی شو (کماف البقرة) ﴿إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ﴾ ای تبنا. هودرجوع برفق ته وائ اوهودجمع دهائدده په معنی دتائب سره ﴿قَالَ عَذَابِىٓ﴾ الله جل جلاله حضرت موسی عليه السلام ته تسلی ورکړه چه اول خوځمارحمت غالب دې په غضب باندې ځکه چه زه عذاب هغه چاته ورکوم چه مې خوخه شی اګرکه مستحق دعذاب هرنافرمان وی خوزه هرنافرمان ته عذاب نه ورکوم اورحمت مې دومره عام دې چه هرچاته وسيع دې. نافرمان، سرکش ته هم په دنياکښې دالله تعالی رحمت رسيدلې دې. نودالله تعالی رحمت خومطلقاً غالب دې په غضب باندې ،چه غيرمستحق ته هم رسيدلې دې نوبياچه کوم خلق درحمت مستحق دی حسب وعده نو ﴿فَسَأَكْتُبُهَا﴾ سين دتاکيددپاره دې يعنی دمستحيقينو دپاره به زه خامخاپل رحمت مقررکړم. اودمستحقينودرحمت الهی صفات دا دی (۱) ﴿يَتَّقُونَ﴾ (۲) ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ﴾ (۳) ﴿بِـَٔايَٰتِنَا يُؤْمِنُونَ﴾ (۴) ﴿الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ﴾ دا آيت چه چه ﴿قَالَ عَذَابِىٓ﴾ حضرت موسی عليه السلام ددعاپه جواب کښې مذکوردې . موسی عليه السلام دعااوکړه ﴿أَنتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا﴾ الی ....﴿فِى هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى الْءَاخِرَةِ﴾ ددې دعا دوه حصی دی يوه حصه اوجزء ددعا دادې چه په کوموخلقوعتاب اوعذاب راغليدې نودوئ ته دې معافی اوشی اورحمت دې پرې اوشی اودويم جزء ددعا دادې چه خما دپاره اوخما دامت دپاره دې په دنيا او آخرت دواړو کښې رحمت حسنه اوليکلې شی. نود اول جزء ددعا جواب داسې اوشوچه خما عادت دادې چه هرمجرم ته عذاب نه ورکوم بلکه هغه چاته عذاب ورکوم چه دډيرې سرکشئ په وجه ورته عذاب ورکول غواړم نو لهذادغه کسان چه ته ورته معافی غواړې دوئ ته به هم عذاب

نه ورکوم . د دویم جزء دُعا جواب داسې اوشوچه رحمت خماخویه دنیاکښې عام دې هرڅه ته شامل دې. اویه آخرت کښې د رحمت مستحق هغه څوک دې چه په دې صفتونباندې متصف وي.

حضرت مولاناشاه انورشاه صاحب فرمائ چه د ﴿وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ معنی داده چه د رحمت دائره تنګه اومحدوده نه ده لیکن دامعنی ئ نه ده چه په هرشی باندې بالفعل رحمت راغلیدې اوبالفعل هرشی مرحوم دې. لکه ابلیس دیوبزرګ صوفی عبدالله تستری سره دغه شان مناظره کړې وه اوهغه ئ لاجواب کړې وو

«في فيض الباري ص۲ ج۴ ((حاج ابليس مع عبدالله التستري انك تقول اني اعذب في النار وكيف يكون ذلك لانّ الله تعالى يقول ورحمتي وسعت كل شيئ فاجاب التستري ان الرحمة للذين يقيمون الصلوة ويؤتون الزكوة وبربهم يؤمنون ولست منهم فضحك منه وقال كنت ارى انك عالمٌ عارفٌ فاذا انت ممن لايعرف شيئا قيدت صفاته المطلقة فان الله قادرعلى الاطلاق وانت تقيدها وخالقٌ على الاطلاق فكذا هو رحيمٌ على الاطلاق فانت تقيدها فلم يدر التستري ما يقل له. قلتُ ولا ادري ماذا افحم التستري واين اللعين من قوله تعالى فانه ليس فيهاالابيان سعتها لاحكم بالرحمة على حد قولك هذه الدارتسع الف رجل ولولم يدخل فيها واحد ـــ الخ)) دحضرت قتاده نه روایت دې چه هرکله دا آیت نازل شو ﴿وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ نوابلیس اوونیل چه زه هم یوشی یم دا شیاؤ نه .نوپه ما به هم رحم کیږی نوالله تعالی اوفرمائیل ﴿فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ﴾ نونا امیده شوابلیس نوبیائی یهودیانو اونصاری ؤ اوونیل چه مونږ هم تقوی کوو اوزکواة ورکوؤ اودالله تعالی په آیتونو ایمان راؤړو. نومونږ به هم مرحومینو فی الاخرة کښې یو. نوالله تعالی اوفرمائیل چه

﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ

دا هغه کسان دی چه تابعداری کوی د رسول، نبی، اُمّی. هغه چه مومی دوئ ذکر دهغه لیکلې شوې د دوئ سره

فِي ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ

په تورات او انجیل کښې. حکم کوی دوئ ته د نیکئ اومنع کوی دوئ لره د بدئ نه او حلالوی د دوئ لپاره

ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِي

پاک څیزونه او حراموی په دوئ باندې ګنده څیزونه او لرې کوی د دوئ نه درانه حکمونه د دوئ او هغه سختې سزاګانې

كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ

چه وي په دوئ باندې. پس هغه کسان چه ايمان راوړي په ده باندې اوتعظيم ئې کړې وي د ده او مدد ئې کړې وي د ده

وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ ۙ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۱۵۷﴾

او تابعداري ئې کړې وي د هغه نور چه نازل کړې شويدې د ده سره. نو دغه کسان خاص دوئ کامياب دي

﴿ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ ﴾ نودوئ ترينه خارج شو. په دې آيت کښې دنبي صلى الله عليه وسلم لس صفات ذکردي (۱) ﴿ الرَّسُولَ ﴾ په اعتباردپيغام راوړلوسره دطرف دالله تعالى نه (۲) ﴿ النَّبِيَّ ﴾ په اعتبارد انباء. يعنى خبرورکولوسره خلقوته اوپه اعتباردرفعت اودلوئ مرتبې سره (۳) ﴿ الْأُمِّيَّ ﴾ يعنى نالوستونکې اوناليکونکې. دا د بل چا دپاره صفت دمدح نه دې اونبى صلى الله عليه وسلم دپاره عين کمال اومعجزه ده چه بې لوستلو ليکلوئ علمى عملى اخلاقى کمالات لامحدود دئ. دلوستونکى.ليکونکى سړى کمالات دهغه دتعليم نتيجه وى ليکن چه څوک ليکونکې نه وى اوعلوم. فيوضات اوکمالات ئ لامحدودوى نودابنکاره معجزه ده. دأمي. يوه معنى داده چه ليکونکې لوستونکې نه وى. منسوب «ام» ته. بچې چه دمور نه پيداشي نوپه دغه وخت کښې دچاشاګردنه وى، نوليکل . لوستل نه شي کولې. اونبى صلى الله عليه وسلم په ټول عمرکښې دهيچانه نه څه زده کړيدى اونه دچاشاګرشويدې. ليکن دکومو علومو اومعارفو اوحقائقو اواسرارو افاضه چه ئ فرمائيلى ده، نوهيڅ مخلوق دهغې عُشر عشيرته نه شى رسيدلې نوددې وجه نه أمي لقب، صفتِ مدحه اوافتخاردې، دويمه معنى دأمي منسوب أم القرى يعنى مکى معظمى ته په دې وجه چه هغه مولد دې. (۴) ﴿ يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا ﴾ يعنى دنبى صلى الله عليه وسلم نوم اوصفات په تورات انجيل کښې موجوددى. سره ددينه چه يهودونصارى ډېرتحريفات کړيدى اوکوشش ئ کړيدې چه نبى صلى الله عليه وسلم صفات پټ کړى. بيهقى په دلائل النبوة کښې نقل کړيدى چه انس رضى الله عنه وائ چه ديويهودى بچې وو چه دنبى صلى الله عليه وسلم خدمت به ئ کولو. اتفاقًا هغه بيمارشو نونبى صلى الله عليه وسلم دهغه تپوس له تشريف فرماشو. اوددغه بچى سر طرف ته ئ پلار ولاړووتورات ئ لوستلو. نونبى صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل چه اې يهودى ستاذې په هغه الله قسم ږى چه تورات ئ په موسى عليه السلام نازل کړيدې اووايه چه په تورات کښې څماحالات صفات.

وخمادظهوربيان تاسومونדلې دې؟ نوهغه انکاراوکړو. نوهغه بچې اوونيل چه يارسول الله دې غلط واي په تورات کښې ستاسو ذکر اوصفات موندلى دى اوکلمه دشهادت ئ اوونيله نونبى صلى الله عليه وسلم صحابوته اوفرمائيل چه دابچى مسلمان دې اودوفات کيدونه بعدددده تکفين اوتجهيزاوکړئ

﴿۵﴾ ﴿يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ﴾ ﴿۶﴾ ﴿وَيَنْهَـٰهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ﴾ دمعروف نه مرادتوحيدسنت اوټول اعمال صالحه اخلاق حسنه دى اودمنکرنه مراد شرک بدعة اوتمام اعمال قبيحه دى. دمعروف لغوى معنى ده پيژندلې شوې (آشنا) اود منکر معنى لغوى ده (نا آشنا). نيکوعملو ته معروف ځکه وائ چه دامشهوراومعلوم دى په شرع کښې اوپه دوردصحابوتابعينويعنى خيرالقرون کښې، اوکوم کارچه په خيرالقرون کښې نه وونوهغه معروف اونيک کارنه دې بلکه منکردې دکوم کاراصل چه په کتاب الله اوسنت کښې نه وى اونمونه ئ په خيرالقرون کښې نه وى نوهغه بدعت اوګناه وى اګرکه په ظاهره کښې نيک عمل معلوميږى. امربالمعروف اونهى عن المنکراګرکه دهرنبى صفت دې ليکن حضرت محمدصلى الله عليه وسلم ته په دې کښې خاص امتياز اوخصوصيت حاصل وو ځکه چه دنبى صلى الله عليه وسلم بعثت عام دې تمام اقوامو اوطبقاتو ته دې، تعليم يافته غيرتعليم يافته بادشاهان. رعايا. غرباء. مالداران. هرزبان، اومزاج والامخلوق دنبى صلى الله عليه وسلم ددعوت ددائرى ماتحت دى. اودټولوپوهه کول په داسې طريقه سره چه ټول ترينه متاثره اومستفيدشى، داامتيازصرف نبى صلى الله عليه وسلم ته حاصل وو ﴿۷﴾ ﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَـٰتِ﴾ ددينه مرادهغه پاکيزه اشياء دى چه په بنى اسرائيلوباندې په طوردسزاسره حرام شوى وولکه وازده وغيره کماقال تعالى ﴿ذَٰلِكَ جَزَيْنَـٰهُم بِبَغْيِهِمْ﴾ اودارنګه بحيره سائبه چه جاهلانويه خپل خان حرام کړې وې. ﴿۸﴾ ﴿وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَـٰٓئِثَ﴾ لکه نذرلغيرالله (خنزير) دم مسفوح ﴿۹﴾ ﴿وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ﴾ اصرهغه ثقيل اودرانه بوجونه ووچه په بنى اسرائيلو مقررشوى وو. لکه دقبوليت دتوبى دپاره خپل خان قتلول. جلاوطن کيدل. شرط وو. اودارنګه دهغه اندام پريکول چه ګناه به ترينه صادرشوې وو.

اوپريکول دځائ دنجاست دجامې نه. ﴿۱۰﴾ ﴿وَالْأَغْلَـٰلَ﴾ جمع د غُل ده اوغُل هغه زنځيراوطوق ته وائ چه دمجرم په غاړه کښې اچولې شى. دلته ترينه مرادهغه سخت احکامات دى چه په بنى اسرائيلو لازم کړې شوى وو په منزله دطوق په غاړه دمجرم کښې لکه په دوئ باندې په قتل

عمداوخطء رو کښې قصاص وو او اومعافي اوديت نه وو. او دارنګه مال غنيمت دوی له حلال نه وو چه دا سخت سخت حکمونه زمونږ په ملت کښې نشته دي. منسوخ شويدی

﴿فَالَّذِينَ ءَامَنُوا بِهِۦ﴾ په دې کښې دفلاح کامل شرائط مذکوردی چه ايمان دې په نبی صلی الله عليه وسلم اوبه صرف ايمان راوړلو سره کامل فلاح نه حاصليږی بلکه تعظيم اواحترام هم ضروری دی اوبياصرف احترام هم کافی نه دی بلکه اتباع ضروری ده چه په اتباع دقرآن اوسنت سره راځی. نويه ﴿يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ﴾ کښې داتباع سنت ذکراويه ﴿وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِيٓ﴾ کښې داتباع دقرآن ذکردی. قرآن ته نوروئيلی شی چه په نورسره ظلمات ختميږی. اودخپل واجداونورانيت دپاره په خپله دليل وی څه بل دليل ته ئ حاجت نه وی نودغه شان په قرآن سره دظلم اوجهالت ظلمات ختميږی اودخپل حقانيت دپاره په خپله دليل دی

آفتاب آمد دليل آفتاب گردليلی بايدت زورومتاب

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُۥ مُلْكُ
ووایه اې ټولو خلقو بيشکه زه رسول د الله تعالی يم تاسو ټولو ته. هغه الله چه خاص هغه لره ده بادشاهی
السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ فَـَٔامِنُوا
د آسمانونو او د زمکې. نشته دې لائق د بندګئ څوك بغير د ده نه. ژوندی کول او مړه کول کوی. پس ايمان راوړئ تاسو
بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ
په الله تعالی باندې او په رسول دهغه چه نبی . امی دې. هغه چه ايمان لری په الله تعالی او دهغه په ټولو کلامونو باندې
وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ
او تابعداری وکړئ دهغه د دې لپاره چه هدايت ومومئ او بعضې د قوم د موسی نه يوه ډله ده چه ښودنه کوی
بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾
دحق. او په حق فيصلې کوی

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ﴾ درسول الله صلی الله عليه وسلم ذکريه تورات کښې وو اوحضرت موسی عليه السلام ئ بشارت ورکړې وو اوبه انجيل کښې هم وو حضرت عيسی عليه السلام ئ بشارت

ورکړې وو، کماقال تعالی ﴿يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ﴾ اوپه دې آیت کښې دحضورصلی الله علیه وسلم درسالت عامه اعلان اوبشارت په قرآن کښې دحضورصلی الله علیه وسلم په ژبه آورولې کیږی ﴿جَمِيعًا﴾ دَ هرملك. دَ هرې طبقې او د هرې زمانې د ټولو انسانانو جناتو دپاره رسول یم. ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ درسالت اهم مقصدبیان دتوحیددې نو دادا هم مقصدبیان دې. ﴿فَآمِنُوا﴾ یعنی په توحیدسنت باندې مضبوط شئ نوهدایت به اوموندئې ﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰ﴾ اکثریهودیان سرکش اونافرمان وو لیکن په دوئ کښې ملغلرې، اوداسې مخلصین ، حق بین. خلق هم شته دې چه نوروخلقونه دحق خودنه اوبیان کوی اوپه خپله هم په حق باندې فیصله اوعمل کوی لکه عبدالله بن سلام وغیره شو

وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ إِذِ اسْتَسْقَاهُ

وتقسیم کړل مونږ دوئ لره[۱] دولس خاندانونه. جدا جدا ډلې. او وحې وکړه مونږ موسی ته کله چه اوبه وغوښتې د ده نه

قَوْمُهُ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۖ فَانبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ

قوم د ده. چه وو وهه په همسا خپلې سره دغه ګټه. پس راووتې د دینه دولس چينې. په تحقيق سره وپیژندلو

كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ

هرې ډلې ګودر خپل. او سورې کړې وؤ مونږ په دوئ باندې د وريځې. اورا ليګلی وؤمونږ په دوئ باندې ترنجبين

وَالسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۚ وَمَا ظَلَمُونَا

اومرزان، ووئیل مونږ،خورئ د پاك هغه څیزونونه چه درکړيدی مونږ تاسونه او دوئ زمونږ هیڅ تاوان ونه کړو

وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾

لیکن وؤ دوئ چه خپل تاوان ئې کولو

﴿وَقَطَّعْنَاهُمُ﴾ دااتمه واقعه ده په دې کښې دځلوروانعاماتو ذکر دې.اول ددوئ داصلاح

۱ - اتمه واقعه

اودنظم وضبط برابرولودپاره دولس حصوته تقسیمول خکه چه دحضرت یعقوب علیه السلام دولس خمن وو نویه دي دولسوروڼوکښې دهریوروراولادپوره قبیله وه .دویم انعام دګټي نه دولس چینی داوبو راویستل. دریم انعام دوريځي سوري کول . څلورم انعام من اوسلوی. ﴿أَسْبَاطًا﴾ جمع دسبط دہ. په لغت کښي ((والدالولد)) یا ((ولدالبنت)) یا ((القطعة من الشئ)) ته وائی. اوپه عرف کښې دبنی اسرائیلویوجماعت ، خاندان ته وائ نوسبط. په بنی اسرائیلوکښې داسي دي لکه قبیله په بنی اسماعیل اوعربوکښي (روح) ﴿وَقَطَّعْنَاهُمُ﴾ کله متعدی کیږی یومفعول ته اوکله متعدی کیږی ددوومفعولینو ته .نوبناء په اول باندي، دلته ..هم.. مفعول دي او ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ حال دي اوبناء په ثانی ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ مفعول ثانی دي. اوپه تمیز کښي ئ دوه قوله دی یوقول دادي چه محذوف دي چه ((فرقة)) دي مثلاً ای اثنتی عشرة فرقة.او﴿أَسْبَاطًا﴾ تمیزنه دي بلکه بدل دي د ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ نه یوددي وجي نه چه ددي قسم عددتمیزمفردمنصوب وی اواسباط جمع دہ اوبله داچه که داتمیزشی د ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ دپاره نودا خو جمع دہ اواقل افراددجمع دپاره ثلاثة وی نودوئ به شپږ دیرش قبیلی شی. اودویم قول دادي چه اسباطا تمیزدي اوداسباط اطلاق په یوه قبیله هم کیږی نودامفرددي اګرکه صورةً جمع دہ لکه انصار. اوتانیث ئ په اعتباردتاویل سره دي په ((امة)) یا ((جماعة)) سره ﴿أُمَمًا﴾ منصوب دي بدل دي داسباطاً نه په دي تقدیرچه هغه تمیزشی اوبدل نه شی خکه چه بدل عن البدل جائزنه دي اوکه اسباطابدل شی د ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ نه نوبیادانعت دي یابدل بعدبدل دي د ﴿اثْنَتَيْ عَشْرَةَ﴾ نه. (روح) اوپه ذکرداُمماً کښې اشاره ده دیته چه هرسبط جماعت کثیرة، اومستقل مقتدی وو. دبل تابع نه وو

﴿وَأَوْحَيْنَآ﴾ دادویم انعام دي، ﴿فَانْبَجَسَتْ﴾ انبجاس لږو اوبو راوتلوته وائ او انفجار ډیرو اوبوته وائ. په سورة بقرة کښي ، ((فانفجرت)) دي نواول اوبه لږ لږ راوتلي بیاډیري شوي اوبعض وائ چه انفجاراوانبجاس په یوه معنی سره دی نوددواړو آیتونویه معنی کښي فرق نشته دي اود﴿فَانْبَجَسَتْ﴾ نه مخکښي ((فضربه)) مقدردي اوهغه ذکرنه شودپاره ددي چه اشاره شی دیته چه موسی علیه السلام په حکم منلوکښي هیڅ توقف اودیری نه ده کړي﴿وَظَلَّلْنَا﴾ دادریم

انعام ذکردي. دغمام نه مراد سپينه وريخ ده چه دنمرګرمی به ئ دفع کوله اوباران به ئ نه ختموله.﴿وَأَنزَلْنَا﴾ داځلورم انعام دي.من ترنجبين ته وائ چه سپين وودواوري په شان اوخوګ وو. داسمان نه به دشپي اوريده. او﴿وَالسَّلْوَىٰ﴾ مرزان دی بناپه مشهورقول باندي

وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ

اوکله چه وه ويلي شو دوئ ته او سيرئ په دې کلی کښې . او خورئ يدې کښې چه کوم ځائ کښې مو خوښه وی

وَقُولُوا حِطَّةٌ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيئَاتِكُمْ ۚ

او وايئ چه مونږ ته بښنه وکړه او داخل شئ دروازې ته سجده کونکی. معاف به کړو مونږ تاسو ته ګناهونه ستاسو

سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ

ضامخا به زيات ثواب ورکوو احسان کوونکو ته پس بدل کړو هغه کسانو چه ظلم ئي کړی وؤ د دوئ نه.

قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ

بل قول غير دهغې نه چه ويلي شوي وؤ دوئ ته . پس را وليږلو مونږ په دوئ باندې سخت عذاب د آسمان نه.

بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

په سبب د دې چه دوئ ظلم کولو

﴿وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا﴾ دانعاماتو دذکرنه بعد دبنی اسرائيلو دسرکشئ اوکجروئ ذکردي دحضرت موسی علیه السلام دوفات نه بعد حضرت يوشع علیه السلام جانشين شو. اوده په قيادت کښې بنی اسرائيلوملک شام فتح کړو. الله تعالی ورته حکم اوکړو چه بيت المقدس ته لاړشئ اوهلته خما عبادت کوئ. دباب نه د، ،مسجدبيت المقدس، دروازه مراد ده اودښار دروازه نه ده مراد، نو دوئ چه هلته لاړل نوتمسخرئ شروع کړو نوعذاب پرې راغلو باقی قصه په سورة بقره کښې تيره شوې ده صرف دالفاظو اودتقديم تاخير دبعض کلماتوفرق دي ليکن دامخالفت نه دي

وَسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ

او تپوس وکړه د دوئ نه د حال دهغه کلی نه چه وؤ په غاړه د درياب. کله چه دوئ تجاوز کولو د حد شرعی نه

فِي السَّبْتِ	اِذْ	تَأْتِيهِمْ	حِيتَانُهُمْ	يَوْمَ	سَبْتِهِمْ	شُرَّعًا

په ورځ د خالي كښې كله چه راتلل به دوئ ته مهيان (كبان) د دوئ په ورځ د خالي ښكاره په سر د اوبو

وَيَوْمَ	لَا	يَسْبِتُونَ	لَا	تَأْتِيهِمْ	كَذٰلِكَ	نَبْلُوهُمْ

او كله به چه ورځ د خالي نه وه په دوئ. نو نه به راتلل دوئ ته. دغسې. ازميښت كوو مونږ په دوئ باندې

بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ۝

په سبب د دې چه دوئ نافرماني كوله

﴿ وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ ﴾ دقصوپه اختتام باندې تخويف دنيوى ذكركيږى اودهغې نمونه بيانيږى.داواقعه په زمانه دداؤ عليه السلام كښې راغليده د ((قريه)) نه مراد ((ايله)) شهردې چه اوس هغې ته .. عقبة داؤد عليه السلام وئيلې شى. چه دبحرقلزم په غاړه دمدين اوطور. په مينځ كښې واقع وو. چونكه دابښار ددرياب په غاړه وو. نواوسيدونكوئ دښكار ډيرعادت لرلو. دالله تعالى دطرفه په دوئ ابتلاء امتحان اوشو، په دې شان چه دخالي (هفته) ورځ دموسى عليه السلام په ملت كښې دتعظيم ورځ وه په دې ورځ كښې ښكاركول منع وو.ليكن ددوئ دامتحان دپاره به په دې ورځ به داسې ډيرمهيان موجودوو چه داوبوپه سربه خرګندګرځيدل اوپه نوروورځوكښې به غائب وو. نوښكاريانوچه به اوليدل نوصبرترينه اونه شو اودالله تعالى دصريح حكم خلاف كول ئ په حيلوسره شروع كړو اودرياب په غاړه ئ ډنډونه جوړكړل نوكله چه به دخالي په ورځ مهيان په دغه ډنډونوكښې داخل شو نودوئ به ورته دوتلولارى بندې كړې. اوپه بله ورځ يعنى داتوارپه ورځ به ئ نيول وئيل به ئ چه په دې باندې ((صيديوم السبت)) صادق نه راځى.نوګوياكښې دوئ الله تعالى ته دهوكه وركوله نوعذاب الهى پرې واقع شو

فايده مطلق حيلوته حرام وئيل صحيح نه دى جمهورعلماء واى چه حيلې درې قسمه دى **يوقسم** حرام دى داهغه دى چه مقصودترينه ابطال دحق وى يااثبات دباطل وى ياترينه مقصود حاصلول دحراموى لكه په دې قصه داصحاب السبت كښې يالكه په حديث كښې دى چه په بنى اسرائيلو باندې شحوم (وازدې) حرامې شوې نودوئ حيلې اوكړې ((فجملوها وباعوها)) نوپه دې سره دوئ متسحق دلعنت شو، **دويم قسم** حيلې هغه دى چه ضرورى اوواجب دى داهغه دى چه مقصودترينه اثبات دحق ياابطال دباطل يااجتناب دحرامونه وى لكه په حديث دبلال رضى

الله عنه كښې چه نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل ((بع الجمع بالدراهم ثم ابتع بالدراهم الجنيب- الخ)) رواه البخاری وغیره. **دریم قسم** حیلی هغه دی چه مباح یامستحب دی چه مقصود نړینه تسهیل وی په احکاموشرعیو کښې لکه ﴿ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِۦ ﴾ یالکه چه نبی صلی الله علیه وسلم دزانی ضعیف دحددپاره حیله کړی وه. (کمافی السنن) وفقهاؤ احنافو چه کومې حیلې ذکرکړیدی نوهغه دواجب یامباح یامستحب دقبیلې نه دی اودناجائزوحیلو دجواز حکم فقهاؤ نه دې کړې البته دنفادحکم ئ کړیدې اوفرق دې په مابین دجواز اودنفاذ کښې.

﴿شُرَّعًا﴾ دا جمع تکسیردشارع ده یعنی څرګندپه سرداوبو

﴿وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ﴾ اوهغه ورځ چه دوئ داخل فی السبت نه وویعنی په غیردورځې د خالی ﴿لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ﴾ لفظ د ((کذلک)) دماقبل سره متعلق دې یعنی نه به راتلل دغه شان څرګندبلکه غائب به وو، نووقف په ((کذلک)) باندې دې اوداهم احتمال دې چه وقف په ((لاتاتیهم)) باندې شی او ((کذلک)) د مابعد سره متعلق شی. ((ای کذلک نبلوهم)) دغه شان مونږ په دوئ ازمیښت اوکړو

فائده په کوم ځائ کښې چه وقف په مخکښې لفظ اوروستنی لفظ دواړوباندې کیدې شی لکه په دې ځائ کښې نوهغې ته معانقه وئیلې شی،اودبعض قراء ویناده چه دقرآن مجید په نصف اول کښې وقف په دویم ځائ باندې اولی دې اوپه نصف اخیرکښې وقف په اول ځائ اولی دې. داقول صحیح دې

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ

اوکوه وخت چه وه ویل بوې ډلې ددوئ نه . ولې وعظ کوئ تاسو داسې قوم ته چه الله تعالی هلاک کوونکی دې هغوئ لره

أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ

یا ورله عذاب ورکوونکې دې سخت عذاب. وه ویل هغوئ لپاره د عذر پیش کولو ستاسو رب ته او امید دې

يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِۦٓ

چه دوئ بچ شی د دې ګناه نه پس هرکله چه دوئ هیرکړو هغه چه دوئ ته نصیحت ورکړې شوې وو په هغې سره

أَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

نو بچ کړل مونږ هغه کسان چه منع ئې کوله د بدئ نه او ونیول مونږ هغه کسان چه ظلم ئې کړی وو

بِعَذَابٍ بَئِيْسٍ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا

نه عذاب سخت سره په سبب ددې چه دوئ نافرمانی کوله. پس هرکله چه دوئ نافرمانی وکړه دهغه نه چه دوئ منع سوی وو

عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ۝

د هغې نه. وه وئیل مونږ دوئ ته چه شئ تاسو شادوګان. ذلیل

﴿وَاِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ﴾ قرطبی اونورمفسرین وائ چه بنی اسرائیل درې فرقې شو. یوه فرقه عاصیه، دویمه ناهیه چه دوئ ئې دګناه نه منع کول. دریمه فرقه ساکته وه. لیکن حضرت مولانا عثمانی رحمه الله فرمائ چه داسې معلومیږی چه دوئ څلورفرقې وو.(۱)یوهغه خلق چه دحکم الهی صریح مخالفت ئ کوو(۲) دویم هغه خلق وو چه په نصیحت کولواونهی عن المنکرکنبې تر آخره پورې مشغول وو. (۳) دریم هغه خلق وو چه نصیحت اوتبلیغ ئ یوڅوورځې اوکړو خوبیامایوس شو اوستړی شو اوتبلیغ ئ بس کړو(۴) څلورم هغه خلق وو چه ساکتین وو چه نه په بدعملئ کښې شریک وو اونه ئ نهی عن المنکرکوله نودې رستنو ډلو. هغه دریمې ډلې ته یعنی نصیحت کونکوته اووئیل چه ددغه نافرمانو نه دحق دقبلولو امیدنشته دې نوتاسو ولې دوئ ته په نصیحت کولوسره خپل سرونه نه خوګوی. مغزان دردوئ ددوئ دکرداراوعادت نه خوداسې معلومیږی چه یاخوالله تعالی دوئ لره بیخی تباه اوهلاکوی یاورته دیرسخت عذاب ورکوی.﴿قَالُوْا مَعْذِرَةً﴾ دامفعول له دې یامفعول مطلق دې ((ای نعتذرمعذرة)) یعنی مونږ خپل عذراوصفائ دالله تعالی په بارګاه کښې پیش کوؤ چه مونږ په عمل دتبلیغ کښې قصور اوکوتاهی نه ده کړې. اوددې نه بعض علماء استدلال کړیدې چه نهی عن المنکرفرض ده اګرکه مبلغ ته علم وی چه په دې موقعه نهی عن المنکر. فائده نه کوی. جمهورعلماء وائ چه نهی عن المنکرچه چرته یقینًا مفیده نه وی نونصیحت کول واجب نه دې خو. .عالی همتی. .ده اوعزیمت دې اوترک ئ رخصت دې. البته که چرې نصیحت کول بالکل عبث وو یاترینه توهین ددین راتلو نوبیاواجب الترک دې. دلته کښې هم یوه فرق مایوسه شویده نوعمل ئ په رخصت کړیدې اونصیحت ئ ترک کړیدې اوبله فرقه نه ده مایوسه شوې

بائ عمل په عزيمت کړيدي نونصيحت اوتبليغ ئ جاري ساتلي دي ﴿ وَلَعَلَّهُمْ ﴾ دادويم جواب دي، نومصلحينومبلغينودوه جوابونه ورکړل. اول داچه په مرتکبينو دګناه باندي اتمام حجت اوشي اوزمونږ معذرت اوصفائ دالله تعالى په بارګاه کښې پيښې شي. اودويم داچه کيدي شي دوئ نصيحت قبول کړي نومعلومه شوه چه دوئ بالکل مايوس نه وو. ﴿ فَلَمَّا نَسُوا ﴾ هرکله چه مجرمانو نصيحت دناصحينو داسي پريخودلکه چه هيرشوي وي ترينه پائ بالکل آوريدلې نه وي نوالله تعالى دوئ لره هلاک کړل، اونصيحت کونکي ئ بچ کړل. ﴿ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوٓءِ ﴾ دالفاظو عموم په دي دلالت کوي چه هغه کسان چه اول ئ نصيحت کولواوبيامايوس شول نصيحت کول ئ پريخودل اوهغه کسان چه سلسله دنصيحت ئ جاري لرله دادواړه دلي نجات والادي اوهلاک شوي صرف ظالمان دي چه دالله تعالى نافرماني ئ کوله لکه دامنقوله ده ، دحضرت عکرمه رضي الله عنه نه چه ابن عباس رضي الله عنه دده دفهم تحسين کړيدي اوانعام ئ ورته ورکړي دي لکه حضرت عکرمه فرمائ چه ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائيل چه ((اسمع الله يقول))يعني الله تعالى فرمائي ﴿ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ ﴾ . ﴿ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ ، ((فلا ادرى مافعلت الفرقة الساكتة وجعل يبكى)) نوعکرمه فرمائي چه ما اووئيل چه ((جعلني الله فداک)) لتانه قربان شم، ته نه ګوري چه دوئ بدګنړلي وو هغه عمل چه هغوئ کوو. ﴿ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ ﴾ ((ولم يقل الله انجيتهم لم يقل اهلكتهم قال فاعجبه قولى ورضى به وامرلى ببردين فألبسنيهما)) ، باقي هغه کسان چه پرله پسي ترآخره پوري ساکته پاتي وو نوالله تعالى هم ددوئ دذکرنه سکوت کړيدي ابن کثيرليکي((فنص)) چه الله تعالى تصريح اوفرمائيله په نجات دنصيحت کونکو اوپه عذاب دمعذبينو ظالمانو، اوسکوت ئ اوفرمائيلو دحال دهغه کسانو نه چه سکوت ئ کړي وو دوعظ نه ځکه چه سزادهرګناه مناسب دحال دګناه سره وي نودوئ نه مستحق دمدح وو چه مدحه ئي اوکړي شي او نه په ګناه کښې شامل وو چه مذمت ئ بيان شي، اوکه څوک **سوال** اوکړي چه ترک دوعظ هم معصيت دي نودوئ په کښې داخل دي، **نوجواب** دادي چه ترک دوعظ هله معصيت دي چه هيڅ څوک وعظ کولو والاموجودنه وي اودلته دارنګه نه ده.

﴿ فَلَمَّا عَتَوْا ﴾ (عَتَوْا) نافرمانئي سرکشئ انکارته وئيلي شي يعني هرکله چه دوئ نافرماني اوانکاراوکړو دترک دهغه کارنه چه دوئ ترينه منع کړي شوي وو نوپه دوئ عذاب راغلو مسخ شو، **په دي آيت کښې دوه توجيه دي** يوه داچه په دوئ باندي اولاً عذاب بئيس يعني سخت

عذاب راغلي وو اودوئ ترينه عبرت نه وواخستي اودګناه نه نوؤ منع شوی نودوباره په دوئ باندې عذاب دمسخ راغي، **دويمه توجيه** داده چه په دوئ باندي يوعذاب راغليدې يعنی عذاب دمسخ او﴿ فَلَمَّا عَتَوْا ﴾ تفسيردې، د﴿ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا ﴾ دپاره، روايت دې چه يهوديانوته امراوشو چه ورځ دجمعې دعبادت دپاره غوره کړئ، نودوئ ورځ دخالی (هفته) غوره کړه نوازمينبت پرې اوشو، چه الله تعالى په دوئ باندې حرام کړو ښکار کول په دې ورځ باندې اودوئ ته امراوشو دتعظيم ددې ورځې، پس مهيان به په ورځ دخالی باندې خرګند راتلل نودوئ صبراونشو او د ابليس په مشوره ئې حيلې كول شروع کړل، نورو مصلحينو دوئ منع كول ليكن دوئ منع نه شو، نوهغوئ ترينه جدائ اوعليحدګی اختيارکړه اوپه مينځ کښې ديوال جوړکړو، استوګنه، خوراک، سکاک، هرڅه ئ ترينه جداکړه، اودواؤ عليه السلام بهٔ دې نافرمانو باندې لعنت اووايو يوه ورځ چه دا خلق باهرته رانه غلل نومصلحينو چه ددوئ كورونومكانونوته سرونه ښکاره کړل نوددوئ نه شادوګان (بيزوګان) اوخنزيران جوړشوی وو، نوچه دروازې ئ بيرته کړې ورداخل شو ، نودغه قردو اوخنازيرو به داخپلوان پيژندل اوراتلل به ددوئ په خپوکښې به پريواته اوجړل به ئ ، نودوئ بهٔ وئيل چه آياموني تاسونه وئ منع کړی، نوهغوئ به دسريه اشارې سره وئيل چه هو، اوبعض وائ چه ځوانان شادوګان شوی وو اوبوډاګان خنزيران شوی وو، اواختلاف کړې شويدې چه آيا ، دامسخ شوی باقی پاتې شوی وو اوموجوده قرده، ددوئ نسل دې ياهلاک شوی دی اونسل ئ منقطع شويدې، په آيت کښې دلالت په هيڅ نشته (والتحقيق هوالثانی) روايت دې د حسن رحمه الله نه چه دې بنی اسرائيلو (په دې حيلو سره) داسې نوړئ اوخوړله چه ډيرناقابل هضم، مضردصحت وه اوډيردروند تاوان والاوه په دنياکښې اوډيرطويل عذاب والاوه په آخرت کښې ، اودجابررضی الله عنه نه روايت دې چه په مابين دبنده اودرزق دده کښې حجاب وی (چه دهغې په وجه رزق په نظرنه راځی) نوکه دابنده صبراوکړی نودارزق راوځی، دده طرف ته اوکه صبراونه کړی نوحجاب څيرې شی اونه رسيږی بنده ته مګرهغه چه دده دپاره مقدروی(سراج المنير).

عَلَيْهِمْ	لَيَبْعَثَنَّ	رَبُّكَ	تَأَذَّنَ	وَ إِذْ

اويادکړه هغه وخت[1] کله چه خبر کړل رب ستا بنی اسرائيل، خامخا به راليږی (مسلط کوی به) په دوئ باندې

١ - تخويف دنيوی

إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۭ اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۚ

تر ورځې د قيامت پورې هغه څوک چه رسوي به دوئ ته سخت عذاب. بيشکه رب ستا خامخا زر عذاب ورکوونکي دی.

وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ

او بيشکه دی خامخا بښونکی. ډير مهربان دی او ټس نس کړل مونږ دوئ لره په زمکه کښې مختلفې ډلې.

مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ۡ وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ

بعضې د دوئ نه نيکان دی او بعضې د دوئ نه سوی د دينه دی. او ازميښت کړې وو مونږ په دوئ په خوشحالو

وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾

او تکليفونو سره د دې لپاره چه دوئ را وګرځي د نافرمانۍ نه

﴿ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ ﴾ داتخويف دنيوی دی، ((تَاَذَّن)) په معنی د ((اَعْلَم)) سره دی. يعنی اعلان اوکړو، او دا کلمه جاری ده په مجری دقسم اوددې وجې نه ئ په جواب کښې لام مؤطنه للقسم اونون تاکيدثقيله راغليدې ،يعنی دالله تعالی دطرفه په ذريعه دانبياؤ سره دا اعلان شوې وو چه کله چرې دايهودپه تورات عمل پريږدی اوحيلې شروع کړی نوالله تعالی به دقيامت پورې وقتاً فوقتاً په دوئ باندې داسې خلق مسلط کوی چه دوئ به په سخت عذابونوکښې مبتلاء کوی نو کچرې دوئ دَ سرکشئ نه واپس نشی نوالله تعالی سريع العقاب دې، او که واپس شی نو هغه غفور الرحيم دې معاف به ئې کړی، سخت عذابونونه مرادمحکومانه ژوند ، جزيه وغيره مراددی، لکه مسلط شوی وو پدوئ کله يونانی، کشدانيين، بياکلدانيين بيانصاری بياامت دمحمد صلی الله عليه وسلم اوپه آخرکښې به پرې عيسی عليه السلام مقررشی، د١٩٤٨، نه دوئ ته په ظاهرکښې څه آزادی ملاؤشويده، ليکن دانه ددوئ استقلالی حکومت دې اونه قوت دې بلکه داداسلام دُشمن دعناصرو، داسلام خلاف دسازش په نتيجه کښې يوه چهاؤنی ده، چه په ظاهرصورت کښې پرې يهود قابض دی اوپه دننه کښې، نصاری وغيره دی، دحقائقو نه باخرخلق په دې حقيقت خه پوهيږی ﴿ وَقَطَّعْنٰهُمْ ﴾ داهم تخويف دنيوی دې چه ديهوديانو دسرکشئ په وجه ددوئ اجتماعيت ختم شو اوقوت اوشوکت ئ پاتی نه شو اومختلف مذاهب په دې کښې پيداشول، **«دااحوال امتِ محمدی ته دعبرت حاصلولودپاره اوروله شی»** ليکن ددې

باوجودخني کسان په دوئ کښې نيکان وو اواکثر فاسقان سرکش وو اودغه اکثرو دپاره هم الله تعالى. درجوع اوانابت الى الله مواقع پيداکړې دي چه کله ئ پرې انعامات کړيدي اوکله ئ په سختو اوتکليفونوکښې مبتلاء کړي دي، ددې دپاره چه دانعاماتو اواحسانانو شکريه اداکړي اودتکاليفو اومصيبتونو نه او پريږي الله تعالى طرف ته رجوع اوکړي

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى
پس د دوئ نه روستو راغلل نا اهل نائبان وارثان شو د كتاب (تورات) اخلى سامان د دې ادنى زندگانئ
وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ ؕ
او وائي دوئ [1] خامخا به بښنه کولې شي مونږ ته، اوکه بيا راشي دوئ ته سامان دغسې (حرام) نور، نو هغه هم اخلى.
اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ
آيا ندې اغستې شوې [2] د دوئ نه كلكه وعده په كتاب كښې چه نه به وائى په الله تعالى باندې مگر حق.
وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ
او لوستلى دى دوئ هغه حكمونه چه پدې كتاب كښې دى، او كور د آخرت (جنت) غوره دې هغه خلقو لره
يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۞ وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ
چه ځان بچ کوي د نافرمانى نه، آيا پس عقل نه لرئ تاسې. اوهغه كسان چه منگولې لگوى په كتاب د الله تعالى (عمل پرې كوى)
وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ۞ وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ
او پابندى كوى د مانځه، بيشكه مونږ نه برباد كوؤ ثواب د نيكئ كوونكو. اوكله چه پورته كړو مونږ غر، [3]
فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْۤا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا
دپاسه د دوئ نه، گويا كښې لكه دا چترئ وه اويقين وكړو دوئ چه دا راپرې وتونكې دې پدوئ، وه وئيل مونږ وه نيسئ

۱ - د يهوديانو يوه مقوله او د هغې ترديد.

۲ - وجه اوله د ترديد

۳ - ترديد په وجه ثانى سره.

مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

هغه کتاب چه درکړیدي مونږ تاسو ته په کوشش سره او یادوئ هغه څه چه بدي کښي دي ددي لپاره چه تاسو متقیان شئ

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ ﴾ داپه آخر کښې ديهوديانو ديوباطلي مقولې تر ديد دي خلف په سکون دلام سره ناأهل نائب ته ونيلى شي اوپه فتح دلام خلف، سره صحيح نائب ته ونيلي شي. لكه سلف، چه صحيح پيشوا مقتدى ته ونيلي شي. مطلب دادي چه ددوئ په رومبنو پلرونو. نيکونوکښي څه صالحين هم وو. خوددوئ روستني اولادخوخات. داسي ناأهل نائبان شو چه هغوئ دکتاب تورات، وارثان او حاملان اوګرځيدل، ليکن ددنيادلګ اومعمولي سامان. منفعت دپاره ئ په آياتوکښي تحريف اوکتمان شروع کړو. رشوتونه. نذرونه اخستل ئ شروع کړل، اودتعجب خبره داده چه دوئ داقبيح اورزيل حرکتونه دخپل ځان دپاره جائزاوقابل مغفرت ګنړل اووئيل به ئ چه مونږ دالله تعالى اولاد، اومحبوبان يو.نومونږ ته هيڅ خطره اوضررنشته،﴿ سَيُغْفَرُ لَنَا ﴾ خامخابه مونږ ته مغفرت کيږي.﴿ وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ ﴾ اوکه چرې راشي دوئ ته دغسې مال حرام نورنوهغه هم اخلي. يعني په تيروناجائزوحرکاتوئ ندامت نشته او داسي عزم ئ نشته چه آئنده دپاره به داسي قبيح ،رزيل حرکتونه نه کوو

﴿ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم ﴾ ديهودو ددغه مذکورقول ردپه څلوروجوهاتو سره کيږي اوداأوله وجه ده ﴿ مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ اضافت د ،،ميثاق،، کتاب ته بمعنى ،،في،،دي کتاب نه مرادتورات دي. ﴿ أَن لَّا يَقُولُوا۟ ﴾ بدل دي دميثاق نه ياتفسيردي، ﴿ إِلَّا ٱلْحَقَّ ﴾ دقطعي مغفرت حکم. سره دارتکاب دمعصيت نه ، ناحق دي اوددوئ نه په تورات کښي وعده اخستې شوي وه چه په الله تعالى باندي ناحقه مه وايي﴿ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ﴾په دي کښي دفع ددي توهم ده چه کيدي شي چه دوئ ته عهدمعلوم نه وي، پوهه شوي نه وي. يعني ددوئ نه عهداخستې شوي وو. اودوئ ته معلوم وو لوستلي او درس کړي ئ وو، اوددي باوجودئ،،ديده ودانسته،، غلط. دروغ. الله تعالى ته منسوب کول. ﴿ وَٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ ﴾ يعني که دوئ تقوى اختيارکړي وي اوددنيافاني، عرضي لذاتو ته ئ ترجيح نه وي ورکړي نودابه ډيره غوره وي ،خوداکارهغه څوک کوي چه دعقل نه کارآخلي، اودوهم، اودخواهشاتو دنفس مطابق نه وي روان. ﴿ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ ﴾ دابشارت دي هغه يهوديانوته چه په خپل عهدقائم وو، يعني په يهودوکښي چه کوم خلق په

خپل کتاب تورات باندې، منګولې لګوی، یعنی اعتقاد اوعمل ئ دتورات موافق دې چه دهغې سره ایمان په رسول الله صلی الله علیه وسلم ضروری دې نودغه خلق مصلحین دی نوددوئ اجرنه ضائع کیږی بلکه دوئ ته به دوچنده اجرملاویږی ﴿وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ﴾ دادغه مقولې دتردیددپاره وجه ثانی ده، حاصل داچه که چرې ستاسو مغفرت خامخااویقینی وې نوولې ستاسو په مشرانوباندې، غرپورته کړې شو،، روایت دې چه کله بنی اسرائیلو دتورات داحکامو منلونه اعراض اوکړو نوپه دوئ باندې کوه طور راپورته کړې شو اودوئ ته اوونیلې شو که دااحکامات نه منئ نوداغردرباندې راپریوځی اودلاندې نه چقیګئ.نودوئ مجبوره شو منلوته .اوجبرپه دین کنبې اګرکه نشته دې لیکن داجبر په اصولوکنبې نه دې بلکه په فروعوکنبې دې. داجائزدې، لکه داعام دستوردې چه څوک چه دچاحکومت تسلیم کړی نوددغه حکومت دقواعدو اوضوابطو پابندئ ورته ضروری وی، ﴿كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ﴾ ددینه صریح معلومیږی چه غرپه دوئ باندې په حقیقت کنبې حسًا پورته کړې شوې وو، ﴿ظُلَّةٌ﴾ ((کل مااظلک)) ته وائ یعنی هرهغه څیزچه په تاباندې سُورې کوی، څپر، چت، چترئ ، وریځ، او ((نتق)) دویخ راؤباسلوته وائ دلته ترینه مرادپورته کول دی په دلیل د((فوقهم)) او ((ظُلّةٌ)) سره

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ
اوکله چه راوباسل رب ستا [1] د بنی آدمونه یعني د شاه ګانو د دوئ نه اولاد د دوئ اوګواهان ئې کړل دوئ
عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۛ شَهِدْنَا ۛ
په نفسونو د دوئ ، آیا نه یم زه رب ستاسې؟ وه وئیل دوئ چه ولې نه ئې ، ګواهی کوؤ مونږ،
اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ۝
دا وعده د دې لپاره ده چه بیا تاسو ونه وائی په ورځ د قیامت چه بیشکه وؤ مونږ د دې توحید نه بی خبره
اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَاۗؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ
یاداسې ونه وائې چه بیشکه شرك کړې وؤ پلارانو ،نیکونو زمونږ،مخکښې زمونږنه اووؤ مونږ اولاد روستو د هغوئ نه،

١ - تردید په وجه ثالث سره

أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ ۝ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ
نو آیا پس هلاکوې ته مونږ په هغه کار چه کړي وو بدکارانو   او دغه شان مونږ په تفصيل سره بيانوو آيتونه
وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ۝
او د دې لپاره چه دوئ را وګرځي د کفرنه

﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ﴾ دا د يهودو د دغه قول رد د پاره دريمه توجيه ده (أخذ) په معنی د (اخرج) سره دي، ليکن ذکر شو (أخذ) د پاره د تنبيه په اهتمام شان دماخوذ خکه . اخذ.. يعنی اخستل دهغه شئ کيږي چه خوخ کړي شوي اوپسند کړي شوي وی، يعنی بنی ادم مهتم بالشان او غوره مخلوق وو، عندالله. او ﴿مِن ظُهُورِهِمْ﴾ بدل دي د ﴿بَنِي آدَمَ﴾ نه. ﴿وَأَشْهَدَهُمْ﴾ او ګواهان ئ کړل هر يو د دغه اولادنه په خپل خان باندې، يعنی اقرار د ربوبيت خپل ئ ترينه واخستلو عقل ئ ورته ورکړو، او سوال ئ ترينه اوکړو چه ﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾ نو دوئ جواب ورکړو، ﴿قَالُوا بَلَىٰ﴾ چه بيشکه ته زمونږ رب ئ ﴿شَهِدْنَا﴾ مونږ اقرار کوو ستا د ربوبيت ،چه صرف ته رب ئ ((لارب لناغيرک)) ﴿أَن تَقُولُوا﴾ دامفعول له دي دفعل مقدر د پاره چه فهميږی دماقبل نه، چه ((اخذنا منکم الاقرار لئلا تقولوا)) يعنی داقرار او شهادت خکه واخسته چه بياتاسو د توحيد د ترک او داختيار د شرک د پاره داسې اونه وايئ چه ﴿إِنَّا كُنَّا﴾ مونږ خود توحيد نه بالکل بې خبره وو، يا داسې اونه وايئ، په عذر کښې چه زمونږ آباؤ شرک کړي وو، او مونږ ذريت، ناپوهه بچې وو بل خوک مربی زمونږ نه وو، او څه لار راته معلومه نه وه چه په هغې روان شوي وي، نو اصل مجرمان دغه مشران وو. ﴿أَفَتُهْلِكُنَا﴾ آيا؟ ته مونږ ته عذاب راکوې په جرم دهغوئ سره ،نو ددې وعدې او اقرار اغستلو په وجه عذر ختم شو، خکه چه په ازل کښې الله تعالی دهرچانه په مستقل طور باندې وعده اقرار اخستي دې، پلرونو، اولادونونه، هريو يو ته ئ دعقل اوپوهی ورکولونه پس، اقرار وعده اخستي ده.

فايده په دې آيت کښې دوعدې ازلی ذکر دې يعنی هغه وعده او اقرار د توحيد او د ربوبيت دالله تعالی چه د انسانانو نه اخستې شوي وو، د دې موجوده نظام عالم. او دَ دې عالم مشاهده وجودنه قبل چه هغې ته عالم ارواح ونيلې شي،

دلته يو څو امور قابل تحقيق دی.(١) د دې آيت په تفسير کښې ډير احاديث راغلي دی منجمله

دهغې نه حدیث مرفوع دابن عباس رضی الله عنه دې چه روایت ئې کړیدې، احمد،نسائ، اوحاکم ورته صحیح ونیلی دی، اوغیرهم. ((عن ابن عباس رضی الله عنه انه علیه السلام قال اخذالله المیثاق فاخرج من صلبه کل ذریة ذراها فنثرها بین یدیه، کالذرثم کلمهم قُبلاً قال الست بربکم قالوابلی)). اودغه شان روایت دحضرت عمررضی الله عنه نه مرفوعاً مروی دې اودارنګه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه مروي دې مرفوعاً، دټولوروایاتوحاصل دادې چه دحضرت آدم علیه السلام دشانه دهغه ټول اولادپه شکل دنرومیږو کښې راؤیستلې شو اودالله تعالی دربوبیت اقرارترینه واخستې شو. نودلته **سوال** واردیګی چه دا حدیث خودددې آیت نه مخالف دې، ځکه چه دآیت معنی داده چه دبنی آدم نه دهغوئ اولادونه راؤیستلې شو اودحدیث نه معلومه شوه چه دحضرت آدم علیه السلام دشا، نه اولاددهغه راؤیستلې شو. **جواب** دادې، چه دآیت نه دا معلومیږی دبنی آدمونه دهغوئ اولادراویستلې شویدې اودحدیث نه چه دا معلومیږی چه دآدم علیه السلام نه دهغه اولادراویستلې شویدی نوددې دواړو په مابین کښ څه مخالفت خونشته بلکه دواړه مراددی خوپه حدیث کښ دیوصورت ذکردې اوپه آیت کښې دیوصورت ذکرصراحةً دې اوبل صورة ضمناً معلومیږی ځکه بنی آدم په شا دآدم علیه السلام کښې وو، نودبنی آدم نه اخراج سره لازم دې اخراج دآدم علیه السلام نه لکه چه دراهم په تهیلئ کښې وی اوتهیلئ په صندوق کښې وی،نودراهم دتهیلئ نه راویستل،، ددی سره لازم دې راویستل دتهیلئ دصندوق نه لکه داظاهره ده، نوپه حدیث کښې ددې صورت ذکرصراحةً شویدې چه دآیت نه ضمناً معلومیدلو، نودآیت مطلب داشو چه دآدم علیه السلام نه دهغه صلبی اولادراؤیستلې شولکه،هابیل ، قابیل، اوددوئ نه بیاددوئ اولاد، دغه شان داسلسله، الی یوم القیمة پیداکیدونکی ټول په عالم ارواح کښې پیداشو

(۲) دآدم علیه السلام نه اودبنی آدمونه ذریت ددوئ نه په کوم ځائ کښې اوکله رااویستلې شو؟

جواب بعض وائ چه په عالم ارواح کښې، لکه دامشهور اوراجح قول دې اوعندالبعض دآدم علیه السلام ،دجنت نه دنیاته دراليګلو نه بعد، اوبعض وائ چه په عرفات کښې په وادی نعمان کښې، لکه په حدیث دابن عباس رضی الله عنه کښې دی ((قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اخذالله المیثاق بنعمان یعنی عرفة))، (مشکوة).

(۳) راویستل په څه کیفیت سره وو؟ بعض وائ چه په ظَهر (ملا) کښې سورې اوشو، نودهغې نه را اویستلې شو، بعض وائ چه دسردوېښتو دبیخ نه، ابوالطاهر قزوینی وائ (کما

هوا لراجع) دشا د ویښتو دجړنه ، لکه څوله چه دوېښتو دجړنه، راوخی

(۴) بیضاوی اوبعض نورحضرات وایٔ چه اشهاد، اقرار، حقیقةً نشته دي بلکه داپه طور دتمثیل اوتصویرذکرشویدي اومقصودترینه دادي چه الله تعالی دبنی آدمو پیداکولونه قبل دخپل ربوبیت **دلائل** قائم کړل لکه اسمانونه زمکې، اوددوئ دپیداکولونه بعدئ ددوئ دپوهه کولودپاره دوئ ته عقل ورکړو، اودپوهیدلوصلاحیت ئ ورته ورکړو، دپاره ددې چه دقیامت په ورځ دوئ داعذراونه کړی چه.مونږ نه پوهیدلو، دیته علماء دبیان، مجازتمثیلی، وایٔ، چه مشابه کړې شو حال دنوع انسانی بعددوجوداوبعددمکلف کیدلونه اوسره دنصب الدلائل نه داخذالمیثاق اواقرارسره، نوذکرشومشبه به اواراده شوترینه مشبه، لیکن تمام محدثین ، صوفیه ،اهل تحقیق وایٔ،چه اخذالمیثاق اقرارمکالمه، سوال جواب حقیقةً بلسان القال شویدي لکه چه په حدیث دابن عباس رضی الله عنه کښې دی،((انه علیه السلام قال اخذالله المیثاق فاخرج من صلبه کل ذریة ثم کلمهم قُبُلاً قال الست بربکم — الخ)) دارِوایت صریح دې چه اخرج اومکالمه، حقیقةً بلسان القال،وه.

(۵) څه حکمت وویه عهداخستلوکښې؟ اوخصوصًا چه یادهم پاتی نه شو اوبل داکه عهداخستلې شوې وې نو پکار ده چه یا د وې، **جواب**: حکمتونه د الله تعالی په کارونو کښې بې شماره وی، دلته دا حکمت کیدې شی چه داپه منزله دتخم شی دشجر الایمان دپاره، داتخم دانسانانو په ارواحوکښې واچولې شی اوبیایٔ دتحفظ دپاره اودنشو ونما دپاره،داوبواوصحیح ماحول انتظام اوکړې شی نوشجرایمان به،نشونما، ، اوکړی، اوبارآوره به شی، نوعهدازلی اجمال دې اوعقل سلیم، وحی ،الهام دهغې تفصیل دې اوکه تخم نه وی اچولې شوې یایٔ دتخفظ اوداوبو، اوذصحیح ماحول بندوبست اونه شی، نوشجرایمان نه پیداکیږی، اودالله تعالی دربوبیت اودتوحید مسئله به یونظری منطقی مسئله شی چه دعوام الناس فهم رسیدل به ورته مشکل شی فطری به نشی حالانکه داداسې فطری مسئله ده چه څوک چه اهلیت اوصلاحیت داستدلال نه لری هغوئ هم ددې قائل دی، اوپه حدیث کښې دی ((کل مولودٍ یولدعلی الفطرة)) دا دَ شجرِ ایمان هغه تخم دې، ((فابواه یهودانه اوینصرانه — الخ)) دایٔ دتخفظ دپاره دصحیح ماحول ذکردې باقی **داسوال** چه عهدازلی اګرکه یقینی اوصحیح دې لیکن یاد پاتی نه شو، **نوجواب** دادې چه بعض کاملینو ته خویاددې: ((قال علی رضی الله عنه انی لاَذْکُرُ العهد الَّذِیْ عَهِدَ اِلَیَّ ربی واعرِف مَن کان هناک عَن یمینی وشمالی)) یعنی حضرت علی رضی الله

تعالى عنه فرمانى چه ماته عهدِ ازلى يادديِ اوداراته هم يادى چه خما خى طرف ته څوك وو او چپ طرف ته مې څوك وو، ذون النون مصرى وانى ((كانه الان فى اذنى)) اوعوامونه اواكثروته اګركه يادنه دي ليكن ديادولو دپاره انبياء راغليدى بل دا چه پوشئ كله چاته معلوم وى د يو ذريعه سره، اوكله ورته معلوم وى داثرپه ذريعه سره اګركه يادنه وى، لكه يومتعلم چه اعلى معيارته اورسى نودي داتسليموى چه ددي منتهى بنياد، ابتداء وه يعنى هغه وخت چه د ((الف.باء.تا.ثا)) نورانى قاعده، بغدادى قاعده، ويله، ياې په كچى، پهلى، جماعت كښې سبق ونيلو. اګركه دخاص وخت، مكان اودتعليمى خصوصياتوعلم ورته نه وى حاصل دغه شان دازلى تعليم داثرپه وجه اولادآدم عليه السلام دربوبيت او دتوحيد د عقيدې فطرت لرى اګركه بعض كسان دعقلى، روحانى، بيمارئ په وجه منكرشويدى ليكن داداصل فطرت سره منافات نه لرى، په ازل كښې اقرارتماموخلقوكړيدې، روستنې انكاردعقلى اوروحانى بيمارئ په وجه دي نو دا سوال هم وارد نه شو چه كله ټولو اقراركړې دي نو بيا بعض څه رنګه منكرشو؟

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ ﴾ يعنى مونږ دوئ ته دغه مخكنى واقعات په تفصيل سره ددې دپاره بيانوؤ چه دوئ پوهه شى اوخپله اصلاح اوكړى اودګمراهئ اوغلطې لارې نه واپس شى

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا

او بيان كړه دوئ ته قصه [1] د هغه سړى چه وركړې وؤ مونږ هغه ته علم د آيتونو زمونږ نو هغه پريښودل، را وه وتلو دهغې نه،

فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ۝ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ

نو پسې ورپسې شو شيطان پس شو دې د ګمراهانونه . او كچرې غوښتې وې مونږ نو خامخا پورته كړې به وه مونږ

بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ

مرتبه د ده په سبب د دې آيتونو سره ليكن دې مائل شو زمكې ته، او روان شو په خواهش خپل پسې، پس مثال د ده

كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ

داسې شو لكه د سپى. كه ته بوج اچوې پده نو ژبه راؤباسى هوكيږى اوكه پريږدې ده لره اوبوج پرې نه اچوې

---

١ . د باطلې مقولې ترديد په وجه رابع سره .

بِلْهَثْ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاقْصُصِ

نو بيا هم ژبه راوباسي هوكيږي. دا مثال د هغه قوم دي چه تكذيب كوي د آيتونو زمونږ. پس بيان كړه ورته

الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

دا احوال، د دې لپاره چه دوئ فكر وكړي بد دي په مثال كښې هغه قوم چه تكذيب كوي د آيتونو زمونږ

وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٧٧﴾ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ

او خاص په خپلو نفسونو دوئ ظلم كوي هغه څوك چه هدايت وكړي هغه ته الله تعالى پس هغه

الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٧٨﴾

لارموندونكي دي اوهغه څوك چه بې لارې كړي هغه لره الله تعالى پس هم دغه كسان تاوانيان دي

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ﴾ داددغه قول ديهودو درددپاره څلورمه وجه ده يعنى كه چرې ستاسو مغفرت يقيني وې نوولې ستاسو يوعالم دبدعملئ په وجه په شان دسپي شو، پدې آياتونو كښې دَ يهودو دَ يوعالم دَ ملعون كيدو واقعه ده، ددې شخص په باره كښې دصحابو رضى الله عنه اوتابعينونه مختلف روايتونه مذكوردي په دې كښې زيات مشهوراوقابل اعتمادقول هغه دې چه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه وغيره نه مروى دې، چه دده نوم بلعم بن باعوراء دې، داډيرمستجاب الدعوة اوصاحب كرامات ولي اولوئ عالم وو چه دولس زره شاگردان به دده په مجلس كښې حاضر وو. دفرعون دهلاك اودفتح دمصرنه پس چه هركله موسى عليه السلام بنى اسرائيلو ته دجبارينو سره دجهادكولوحكم اوكړو نوموسى عليه السلام چه لښكرتياركړو او دجبارينو مقابلې ته روان شو، نودوئ ته يقين اوشوچه دحضرت موسى عليه السلام په مقابله كښې خوفرعون تباه شويدې نومونږ ته به خامخا شكست ملاويږي،نودوئ جمع شواوبلعم بن باعوراء ته لاړل اوئ وئيل چه موسى عليه السلام سخت خويه سړې دې اوډيرلښكرئ ددې دپاره جمع كړيدې چه مونږدخپل ملك نه اوباسي، ته دعااوكړه چه موسى عليه السلام زمونږ د مقابلې نه واپس شي. بلعم بن باعوراء مستجاب الدعوات وو، اسم اعظم ورته معلوم وو نوچه داسم اعظم په ذريعه به ئ

[1] - د سورت د درې وارو دعوؤ سره آيتونه متعلق ذكر كيږي ، دا د اولې دعوې سره متعلق دې

دعا اوکړه، نوهغه به قبلیده نوبلعم بن باعوراء اوونیل چه موسی علیه السلام دالله تعالی نبی دی. دالله تعالی فرشتی ورسره دی، دهغه دقرب عندالله مقام ماته معلوم دی نوزه دهغه خلاف دعانه شم کولی. نودوی ډیراصراراوکړو اوډیری هدی نذرانی ورته ورکړې نوده قبولی کړی، اوپه بعض رواياتوکښې دی چه دده ښځې دی آماده کړو په قبول دهداياتو اوپه دعاکولو. حاصل داچه دموسی علیه السلام خلاف دعاکول ئې شروع کړل، په دغه وخت کښې دالله تعالی دقدرت یوعجیبه کرشمه ظاهره. شوه، هغه داچه کوم الفاظ دبددعای دموسی علیه السلام په حق کښې دونيلو اراده وه نودخولې نه بهٔ ئې دغه بد دعا دجبارينو په حق کښې راوتله، نوهغوئ ورته اوونيل چه ته خومونږ ته بددعاکوې. بلعم اوونيل چه خمازبه خماپه اختيارکښې نه ده، ددې په خلاف خماقدرت نشته دې نتيجه داشوه چه په دغه وخت کښې په دغه قوم باندې هم تباهي راغله، اوبلعم ته داسزاملاؤشوه چه ژبه ئې باهرراؤتله، لکه سپې چه په ډيره ګرمئ کښې ژبه باهرراوباسی او، هوکیږی. اوولايت، ايمان هرڅه ترينه سلب شو، نوده اوونيل چه خمادنيااخرت هرڅه تباه شو. اوونيلی شويدی چه دتورات خلاف ئې شروع اوکړه، اوونيلی شويدی چه په دنياکښې اول ده کتاب ليکلې وو په دې مسئلې باندې چه ددنيا دپاره څوک صانع جوړونکې نشته دې، دا دحرص اودمحبت دنيا نتيجه وه، بيائې جبارينوته اوونيل چه خماپه دعاباندې څه اونه شو خوزه تاسوته يوتدبيرښايم، هغه داچه تاسوخپلې خائسته زنانه دبنی اسرائيلو په لښکرکښې داخلې کړئ .نوکه دوئ په حرام کارئ کښې مبتلاء شو نودالله تعالی مددبه ترينه کټ شی اودالله تعالی قهر،عذاب به پرې نازل شی، چنانچه جبارينو چه دغه شان کاراوکړو دبنی اسرائيلو ديوخاندان، يعنی دبسط شمعون يومشربه بدکارئ کښې مبتلاء شو نوعذاب الهی په دوئ مسلط شو چه سخت قسم طاعون وو چه دهغې دوجې نه په يوه ورځ کښې اويازره بنی اسرائيل مره شو.بيابنی اسرائيلو هغه زانی مزنيه دواړه په منظرعام باندې قتل کړل اوتوبه ئې اوکړه نوطاعون دفع شو

﴿ءَايَٰتِنَا﴾ ((ای علم اياتنا)) يعنی علم په احکامو دتورات، ځکه دې عالم وو په تورات اوپه نوروکتابونوصحائفو الهيو باندې، اوداهم ممکنه ده چه علم داسم اعظم ترينه مراد شی، ځکه چه مفسرينواکثرو، تصريح کړيده چه دې عالم ووپه اسم اعظم ،، ﴿فَٱنسَلَخَ مِنْهَا﴾ انسلاخ په اصل کښې دخاروی نه څرمن ويستلو ته وائی، يامارچه پوستکې اوغورزوی، دلته دعلم آيات تشبيه ورکړې شويده دلباس سره يادڅرمن سره چه دانسان دبقاء اول دزينت ذريعه ده، اوپه

﴿فَانسَلَخَ﴾ كښې اشاره ده چه دې دعلم اومعرفت نه بالكل جدا شو. اوبه علم ئ عمل پرينښودلو ﴿فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ﴾ شيطان په ده پسې شو. يعنى دده گمراه كولويسى اولگيدو. اوپه دې كښې اشاره ده چه ده چه ترڅوپورې علم اوعمل اوذكرالله، نه ووپرينښودې نودشيطان دتسلط نه محفوظ وو. اوكله چه ئ ددنيا محبت اوقدرپه زړه كښې راغلو اودآياتونودعلم قدر اوشكرئ اونه كړو نوشيطان پرې مسلط شواوگمراه شو. قرطبى واي چه مااوريدلى دى دبعض عارفينونه چه بعض انبياؤسوال اوكړو دالله تعالى نه په باره دبلعم بن باعوراء كښې چه دې ولې مطرود، ملعون شو بعد ددغه آياتونو اوكراماتونه. نوالله تعالى اوفرمائيل چه ده خماشكرنه ووكړې په هغه نعمت چه ماورته وركړې وو. اوكه چرې ده يوواري خما شكركړې وې نوما به نرينه دغه نعمت نه وې سلب كړې، ﴿وَلَوْ شِئْنَا﴾ اشاره ده چه هدايت دالله تعالى په قبضه كښې دې، اوصحيح عمل اوعقيده سبب درفعت اودعزت دې چه په دې سره ډيره لويه مرتبه اوعزت حاصليږي .ليكن كه څوک دعلم په مقتضى عمل اونه كړي نوعلم په ده باندې حجت اودده دپاره سبب دخسارې گرځى، په دې آيت كښې دبلعم دملعون كيدلودپاره دوه امره ذكرشوى دى يو ددنيا محبت اودنيا ته ميلان،﴿أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ﴾ داخلاد په معنى كښې ميلان اولزوم دواړه داخل دى. اودارض نه مراددنياڅيزونه دى، اوبعض واي چه دارض نه مراد، سفالة.. ((ضدالعلو)) (لاندې والې) مراددې، اودويم اتباع دخواهشاتو. ﴿وَاتَّبَعَ هَوَاهُ﴾ اودادواړه څيزونه دگناهونو جراوبنياد دې كمافى الحديث ((حُبُّ الدنيا رأسُ كُلِّ خطيئةٍ)) په دې آيت كښې اول دمشيت ذكردې، ﴿وَلَوْ شِئْنَا﴾ بيادبلعم دعمل ذكردې ((لكِنَّهُ أخلدَ)) نواشاره شوه چه هرڅه اگرپه اراده اومشيت دالله تعالى سره كيږي ليكن فعل اواختيار دعبدورته سبب دې اودخيل دې په كښې ﴿فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ دا تشبيه داقبح شئ سره ده،كلب ډيرقبيح اوحريص دې، حتى چه دده، دڅوته كړې شوى لوخى دوينځلوحكم په ((سبع مرار)) اوه (۷) ځلوسره راغليدې، اويو وارې په كښې استعمال دخاورې هم راغليدې اودارنگه دې څپله گندگى خورى او بيا څپل قئ (اولتى) ستى او دا علامه دَ ډير حرص ده، اودسپى په احوالوكښې ډيرقبيح حال دادې چه ژبه باهرته راؤباسى اوپه زوره زوره ساه اخلى، هوكيږي،، هنگيږي،، نوداتشبيه شوه داقبح الاشياء سره په اقبح الاحوال كښې ﴿إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ﴾ د تَحملْ نه مرادشړل دى يابوج اچول دى ﴿يَلْهَثْ﴾ لهث ديته واي چه ژبه به باهرته راؤباسى اوپه زوره زوره سره ساه اخلى اوبدبودا،ه

هوا را اوباسی، نورتول حیوانات داسی دی چه ددننه نه هواباهرته اودباهرنه تازه هواء دننه ته بې
تکلیفه رااوباسی، البته که چرې که ثقل بوج پرې راشی نوبیاپه تکلیف سره داسې کوی.
.هوکیږی. ، لیکن سپې په هرحال کښې دغه شان کوی، بوج پرې وی یانه وی ﴿ذَٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ
الَّذِينَ﴾ یعنی دهرتکذیب کونکی دآیات الله دغه مثال اودغه مقام عندالله دې، څه تحصیص
ئ ددغه زمانې په یهودو پورې نشته دې ﴿سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ﴾ یعنی دظلم کونکو، اودالله
تعالی دآیاتونودتکذیب کونکو مثال ډیربددې، هیڅ غیرتمند انسان ئ په خپل ځان باندې
چسپان کولوته تیارنه دې، ﴿مَن يَهْدِ اللَّهُ﴾ ددینه بعد، دسورت درې وارړه دعوؤسره متعلق
آیاتونه ذکرکیږی دا داولې دعوې سره متعلق دې یعنی مسئله پوره پوره بیانوه اوپه زړه کښې
تنگی مه راوله، مسئله بیانول ستاذمه داری ده باقی هدایت ورکول یانه ورکول، دالله تعالی
کاردې، نه خپله ذمه واری پوره کوه.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ
او په تحقیق سره پیدا کړیدی مونږ [1] د جهنم لپاره ډیر د پیریانو او انسانانونه، دوئ لره داسې زړونه دی
لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا
چه نه پوهیږی په هغې سره په حق باندې، او د دوئ لپاره داسې سترگې دی چه نه وینی په هغې سره حق لره،
وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ
اودوئ لره غوږونه دی چه نه آوری په هغې سره حق،دغه کسان په شان د ځاروؤدی بلکه دوئ زیات بې لارې ، بې پوهه دی،
أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾
دغه کسان هم دوئ غافلان دی.

﴿وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ﴾ دا ددویمې دعوې سره متعلق دې یعنی دماانزل اتباع کوئ او
دشیاطینو اتباع مه کوئ چه نوی نوی تحریمات اوکړئ اوڅوک چه دخپل ځان دطرفه تحریمات
کوی لکه بربنډ طواف دبیت الله ،یا ددې په مثل نورکارونه نوداخلق دځناورو په شان دی، چه نه

۱ . دا د دویمې دعوې سره متعلق دې.

په حق پوهیږي اونه ئ اوري اونه ئ ویني ددوئ انجام جهنم دې. اوکه څوک د **اسوال** اوکړي چه په دې آیت کښې ﴿ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ﴾ ذکردې اوپه بل آیت کښې ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ «ذاریات» ذکردې نوداخوتعارض دې **جواب**«۱» په دې آیت کښې دغایه تکویني ذکردې اوپه سورت ذاریات کښې دغایه تشریعي ذکردې«۲» لام په لِجَهَنَّمَ کښې لام العاقبة دې یعنی انسان خودعبادت دپاره پیدادې لیکن چه عبادت ترک کړي نوانجام ئ جهنم شي

﴿لَهُمْ قُلُوبٌ﴾ قلب محل دعلم اوادراک دې اوغوږ ونه سترګې، الات دی، نودوئ داتول ضائع کړیدی په خپل اختیارسره. څکه په دې آیت کښې نسبت دوئ ته شویدې. ﴿لَا يَفْقَهُونَ﴾﴿لَا يُبْصِرُونَ﴾﴿لَا يَسْمَعُونَ﴾نوجبرمذموم نشته دې اوتشبیه ددوئ دانعاموسره په دې خبره کښې ده چه دهغوئ مقصدلکه چه صرف خوراک سکاک خواهشات پوره کول دی نودغه شان ددوئ مقصد هم دغه دې، تمیزدحلال حرام جائزناجائز نه کوي اتباع دماأُنزل نه کوي ﴿بَلْ هُمْ أَضَلُّ﴾ کفار دخناورونه زیات بې وقوفه دی، خناورپه تمیزدحلال حرامو باندې نه دی مکلف. او دخپل فائدې اونقصان په خایونوپوهیږي اوخپل مالک پیژني اودهغه تابعداري کوي اوکفار داسې نه دی

وَلِلَّهِ	الْأَسْمَاءُ	الْحُسْنَىٰ	فَادْعُوهُ	بِهَا	وَذَرُوا الَّذِينَ

او خاص د الله تعالی لپاره دی «۱» نومونه ښائسته پس رابلئ هغه په دغه نومونو سره، او پرېږدئ هغه کسان

يُلْحِدُونَ	فِي	أَسْمَائِهِ	سَيُجْزَوْنَ	مَا	كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

چه کږلیچ کوي په نومونو د هغه کښې، زرده چه بدله به ورکړې شي دوئ ته دهغه عملونو چه دوئ ئې کوي

وَمِمَّنْ	خَلَقْنَا	أُمَّةٌ	يَهْدُونَ	بِالْحَقِّ	وَبِهِ	يَعْدِلُونَ ۝

او دهغه خلقو نه چه مونږ پیدا کړیدی یوه ډله داسې ده چه لار ښائي د حق او پدې حق دین فیصلې کوي

﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ﴾ دا آیت متعلق دې ددریمې دعوې دسورت سره یعنی خپل حاجات صرف دیوالله تعالی نه طلب کوئ دخائسته صفاتو اونومونومالک صرف الله تعالی دې، حُسنی تانیث دأحسن دې، ډیرخائسته اسماء هغه دی چه دصفات کمال په هغه اعلی مقام دلالت کوي

۱ ـ دا د دویمې دعوې سره متعلق دې.

چه هغې ته بل څوک نه شي رسيدلې. دالله تعالی سره لکه چه په ذات کښې څوک مماثل نشته
دې نو دغسې ورسره په صفاتو کښې مثل نشته دې ، دمخلوق اودخالق په صفاتو کښې لکه علم
وغيره شو، صرف اشتراک دلفظ دې، معنی اومدلول ئ بالکل جداجدااومبائن دی لکه
سوادبياض اګر که په لون کښې شريک دې ليکن نوع دهريومباننه ده دبل نه او ،لکه څه رنګه
چه دالله تعالی دذات وحقيقت ادراکِ اوعلم مخلوق نشی کولې. په دنيااوآخرت کښې بلکه د
حقيقت د ذات علم صرف او صرف الله تعالی ته دې نو دغه شان د صفاتو علم ئی هم صرف الله
تعالی ته دې، مخلوق دهغې د ادراك نه عاجز دې، او عجز د ادراك نه په حقيقت كښې ادراك دې
او دې ته اشاره ده په قول د صديق اكبر رضي الله تعالی عنه كښې چه دوئ ويلی دی چه ((العجز
عن درك الادراك ادراكٌ)) ، يعنی بنده ته چه دا منكشفه شی چه زه عاجزيم د معرفت د ذات او
صفات نه نو دا معرفت دې او دارنګه ديته اشاره ده په حديث كښې چه ((لا اُحصی ثناءً عليك
كما اثنيت علی نفسك)) يعنی زه احاطه نشم كولې ستا په محامدو او ستا د اُلوهيت په صفاتو.
او تفاوت د درجاتو د انبياؤ او د ملائكو او د اولياء په اعتبار د تفاوة د معرفت د اسماؤ
اوصفاتو سره دې نو چه د چا وقوف په عجائبو د ملك ملكوت او خلق الارواح والاجساد باندې
زيات دې نو مرتبه د معرفت د اسماؤ اوصفاتو ئی زياته وی، او د تمامو مخلوقاتو نه زيات دا
مقام سيد الكونين (صلی الله عليه وسلم) ته حاصل دې (كذا فی الروح).
په حديث كښې دی چه دالله تعالی دپاره يوكم سل نومونه دی څوک ئی چه يادكړی نوجنت
ته به داخل شی، اودأسماء حسنی په باره كښې علماؤ مختلف تصانيف كړيدی چه لائق
دمطالعی دی.

﴿فَادْعُوهُ بِهَا﴾ دعاء په دوؤ معانيو سره راځي يوپه معنی دذكراوتسبيح تحميدسره،دلته
دامعنی هم اراده كيدې شی، دويم په معنی دبلنې ،يعنی طلب دحاجاتو سره اودامعنی هم
مرادكيدې شی يعنی دمشكلاتو اومصيبتونونه دخلاصيدو دپاره اوحاجتونو اومرادوونودپوره
كيدلو دپاره صرف الله تعالی رابلئ اوصرف دهغه نه سوال كوئ اوسوال په وسيله داسماء
حسنی سره كوئ دا اقرب الی الاجابت دې، دكومواسماؤ په ذريعه سره چه ددعادقبوليت زيات
اميد اوتوقع كيدې شی هغه په احاديثو كښې مختلف ذكرشوی دی په بعض رواياتو كښې دی
چه ﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ﴾ دالله تعالی هغه اسم اعظم دې چه ددې په

ذریعه سره دعاقبلیږی اوپه بعض روایاتوکښې، ﴿الٓمٓ ﴿١﴾ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴿٢﴾﴾ مذکوردي اوبعض روایاتوکښې ((یاحی یاقیوم)) مذکوردي اوپه بعض روایاتوکښې، ((یا احد الصمد الذی لم یلدولم یولد ولم یکن له کفوااحد)) مذکوردي، په یوروایت کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم حضرت فاطمه رضی الله عنها ته وصیت اوکړو، چه دا دعا وایه. ((یاحی یاقیوم برحمتک ... اصلح لی شانی کله ولاتکلنی الی نفسی طرفة عین)) دادعادتمامو حاجاتومشکلاتو دحل دپاره ډیره مفیده ده، بیهقی په روایت دابن مسعودرضی الله عنه سره نقل کړیدی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه چاته ورسیږی هَمّ (پریشانی) یاحزن، غم، نوهغه دي دادعا اولولی ((اللهمّ اِنّی عبدک وابنُ عَبْدِکَ ناصیق لی یَدِکَ مَاضٍ فِیَّ حُکْمُکَ عدلٌ فِیَّ قضاءُکَ اسئلکَ بکُلِّ اسمٍ هُوَلَکَ سَمَّیْتَ بِهِ نَفْسَکَ اَوْاَنْزَلْتَهُ فِی کِتَابِکَ اَوْعَلَّمْتَهُ اَحَداً مِنْ خَلْقِکَ اَواسْتَاْثَرْتَ بِهِ فِی عِلْمِ الْغَیْبِ عِنْدَکَ اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِیْعَ قَلْبِیْ وَنُوْرَصَدْرِیْ وَذَهَابَ هَمِّی وَجَلَاءَ حزنی)) اودا دعاډیره موثره ده، صاحب دروح المعانی وائ چه داحدیث صریح دي په دي چه نشته دي حصر داسماؤ د الله تعالی په یوکم سلوکښې ځکه چه په دي حدیث کښې ،او،او، ذکردي دا دلالت کوی په عدم حصر، اونقل کړیدي نووی رحمه الله اتفاق دعلماؤ په دي باندي، اونقل کړیدی ابن عربی دبعضونه چه الله تعالی لره زرنومونه دی اودبعض نه روایت دي چه ځلورزره دی اودبعضو صوفیو نه نقل دي چه اسماء دالله تعالی لاتعدّ ولاتحصیٰ دی .

﴿ وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ ﴾ الحاد، ،کوږوالي انحراف اومیلان عن الحق ته وائ، الحادپه اسماؤدالله تعالی کښې په مختلفو وجوهاتو سره راځی یوداچه مشرکینو دخپلو اصنامو دپاره اسماء مشتق کړی وو، داسماؤ دالله تعالی نه لکه ،،لات،، دالله تعالی،،نه مشتق کړي وو،عزی،، ئ دعزیزنه مشتق کړي وو، دویم داچه دالله تعالی دپاره داسي اسم استعمال شی چه موهم دمعنی فاسدي وی لکه بعض بدویانو به ونیل یا ابالمکارم، یاابیض الوجه، یاسخی، دریم داچه دالله تعالی نوم بل چاته اونیلي شی، لکه چاته رحمن، ویل یا،رزاق، ونیل، ،وغیرذلک، څلورم داچه دالله تعالی دپاره داسي اسم ثابت کړي شی چه شرع پري نوی وارده، نومراددترک نه په ((ذروالذین – الخ)) کښې اجتناب دي ددغه شان اسماؤ نه، اواطلاق داسم د،،واجب الوجود،، یادموجود،، یاداطلاق داسم د،،خُدا،، په الله تعالی باندي په اجماع سره دي اواجماع دادلو، دشرع نه ده نوداهم ماوردبه الشرع ده، صاحب دروح المعانی وائ، چه علماء داسلام متفق دی په جوازد اطلاق د هغه اسماؤ اوصفاتو چه وارد وی په هغي باندي اذن د شارع

نه اوپه عدم جواز د هغه اسماؤ اوصفاتو چه وارد وی منع دهغې نه اوپه کومو اسماؤ صفاتو چه اذن اومنع دواړه نه دی وارد اوالله تعالی متصف وی په معنی دهغې سره اوموهم دنقص نه وی بلکه مشعروی په مدح (مبتداء) سره، اونوی داسماء (معترضه) اعلامونه چه موضوع دی په نورولغاتوکښې. خکه چه نشته دې هیچالره نزاع په جوازدهغې کښې. نوپه دې کښې (خبر) اختلاف دې. جمهوراهل حق یٔ منع کوی اومعتزله ورته مطلقاً جائزوایٔ اوبعض توقف کړیدې. خکه چه جواز اومنع دواړه داحکامو د (شرع) نه دی اودلیل په یوجانب نشته دې نوتوقف ضروری شو. الخ دې کلام نه معلومه شوه چه اطلاق داسم علَم لکه لفظ د (خدا) په الله تعالی باندې جائزدې بالاتفاق اوپه دې کښې نزاع نشته دې دشرح عقایدپه شرح نبراس صفحه (١٧٠) کښې دی ((قال بعض المحققين لانزاع فی جواز اطلاق اسمائه الاعلام الموضوعة فی اللغات كـــــ (خدا) فی الفارسيه (تنكرى) بالتركية وانماالنزاع فی الاسماء الماخوذة من الصفات والافعال فقال المعتزلة والكرامية يجوز اطلاق كل مادل العقل على اتصافه تعالى و لم ياذن به الشرع وقال قوم يجوز مايرادف الاسماء الشرعية الاماكان مخصوصًا بلغة الكفار وقال القاضی ابوبكر كل لفظ دل على معنی ثابت لله ولم يكن موهمًا بنقص جازاطلاقه وشرط اخرون مع ذلک ان يكون مشعرا باجلال اوتعظيم وتوقف امام الحرمين وفصل الامام الغزالی وقال يجوز مايدل على الذات وقال الامام الاشعری لابدمن اذن الشارع، وفی شرح الموقف وهوالمختار، ثم قال، وذلک للاحتياط، احترازًا عما يوهم باطلاً،وقال الالوسی ،والمختار عندی عدم توقف اطلاق الاسماء المشتقة الراجعة الی نوع من الصفات النفسية والفعلية وكذالصفات السلبية عليه تعالى على التوقيف الخاص بل يصح الاطلاق بدونه لكن بعدالتحری التام وبذل الوسع فيماهونص فی التعظيم والتحفظ الی الغاية عمايوهم ادنی ادنی نقص معاذالله تعالى فی حقه لانامامورون بتعظيم الله تبارک وتعالى بالاقوال والافعال ولم يحدلنا حدفيه فمتی كان فی الاطلاق تعظيم له عزوجل كان ماذونا به))

حاصل دادې چه اطلاق دلفظ د،،خدا،، په الله تعالی باندې جائزدې اوپه دې کښې دچاخلاف نشته اونورصفات چه مشعروی په تعظیم دالله تعالی اوادنی توهم دنقص پکښې نه وی دهغې اطلاق مختلف فیه دې اوراجح دادې چه جائزدې اوداطلاق ماذون فیه دې په اذن عام سره .اوهرکله چه اطلاق دلفظ د(خدا) په الله تعالی بادې جائزشو نودعاکول پدې سره هم جائز دی. د ممانعت لپاره څه وجه نشته دې، او د ﴿فَادْعُوهُ بِهَا﴾ دا معنی نده چه دعاء صرف په مخصوص اسماء حسنی سره جائزده اوپه غیرسره جائزنه ده

﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ ﴾ دامقابل دې د ﴿وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ﴾ یعنی ټول مخلوق یوشان نه دی بلکه

يوه ډله داسې ده چه نوروخلقوته لارښائ دحق. اودحق راهنمائ ورته کوي. اوبه حق باندې فيصلې کوي. دلته ددوۍ خوبيانوذکردې چه دامعياردفضيلت اوذريعه دفوقيت اودفلاح ددارينوده. اوددې دواړو خصلتونوپه وجه دې امت ته فضيلت حاصل دې اول داچه دوئ نوروخلقو ته مشوره اورهنمائ دحق کوي اودخپل ذاتي خواهش اوخانداني اوقومي رسوماتو دعوت اومشوره نه ورکو ي. دويم داچه دخپل مينځ نزاع اوجګړې کښې دالله تعالى دقانون خيال ساتي اودهغې مطابق فيصلې کوي. اودا ايت په دې دليل دې چه دقيامت پورې به په دې امت کښې دغه شان کسان موجودوي ابن جرير په روايت دابن جريج سره نقل کړې دى چه نبى صلى الله عليه وسلم مونږ ته اوونيل چه ﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ ﴾ خمادا امت دې. اودقتاده نه روايت دې چه مونږ ته رسيدلى دى چه نبى صلى الله عليه وسلم به داآيت تلاوت کولونوفرمائيل به ی. چه داخو ستاسو په حق کښې دې، اوستاسونه مخکښې يوامت ته داصفات ورکړې شوى وو اودا ايت ئ تلاوت کړو ﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴾ مطلب دادې چه دموسى عليه السلام په امت کښې هم يوجماعت ددې صفاتو حامل وو. ليکن امت محمد يه ته په دې کښې خصوصي امتيازحاصل دې، اوکلبى نه روايت دې چه ددې نه مراد مؤمنين داهلِ کتابو دى، اوبعضو وئيلى دى چه دينه مراد علماء اوداعيان الى الدين دى، اواستدلال کړې شويدې په دې آيت سره په صحت داجماع دهرعصربرابره خبره ده که عصردصحابۆ وى يادروستنو خلقووى، خکه که چرې اجماع مختص وې په عصر النبى (صلى الله عليه وسلم) يا په عصردصحابۆپورې نوبيادې ذکرته هيڅ حاجت نه وۆ خکه داخومعلومه ده چه دنبى صلعم اودصحابۆ زمانه دخيرالقرون زمانه ده

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾

اوهغه کسان چه تکذيب کوي[1] زمونږ د آيتونو ، په رو رو نيسو مونږ دوئ لره په داسې طريقه چه دوئ به نه پوهيږي

وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا ۗ مَا بِصَاحِبِهِم

اومهلت ورکوم دوئ ته.بيشکه تدبير خما محکم دې. آيا دوئ فکر. سوچ نکوي[2] چه نشته دې په دې ملګرى ددوئ باندې

---

١ . د اولې دعوې سره متعلق
٢ . زجر

مِّنْ جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ

هیڅ لیونتوب. ندي هغه مګر یره وونکي ښکاره دي آیا دوئ نظر نکوی د عبرت. په بادشاهئ د آسمانونو

وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ وَأَنْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ

او زمکه کښې. او په هغې کښې چه پیدا کړیدی الله تعالى هرشي. او پدې کښې چه شاید قریب راغلي وی

أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٥﴾ مَن يُضْلِلِ اللَّهُ

نیته د دوئ. پس په کومه خبره باندې وروسته د قرآن نه به دوئ ایمان راوړی هغه څوک چه بې لارې نې کړی الله تعالى

فَلَا هَادِيَ لَهُ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾

پس نه به وی لار ښودونکې هغه ته. او الله تعالى پريږدى دوئ لره په سرکشئ د دوئ کښې سرګردان

﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا﴾ دامقابل دهغه کسانودی چه په ماقبل آیت کښې ذکرشو ﴿سَنَسْتَدْرِجُهُم﴾ رورو به نیسو مونږ دوئ لره، داستدراج لغوی معنی داده چه ، درجه په درجه، رو، رو، بره ختل یاکوزیدل یابل کارکول ((استفعال من الدرجة بمعنى النقل درجة بعد درجة من سفل الى علواوبالعكس)) ، اوپه اصطلاح دقرآن اوسنت کښې ئ معنی داده چه یوبنده ګناهونه، ظلم کوی اوپه ده باندې دهغې په وجه په دنیاکښې څه مصیبت اوتکلیف نه راځی بلکه مزیده په ترقئ روان وی حتي چه دده بی هوشی اومستی انتهاء ته اورسی او په موت سره ختم شی. ، داستدراج معامله دکفاروسره کیږی اوکله دمسلمان ګنهګار سره هم کیږی، لکه روایت دې چه کله حضرت عمررضی الله عنه ته دکسری خزانې راوړې شوې نودوئ دعااوکړه، ((اللهم انى اعوذبک ان اکون مستدرجًا فانى سمعتک تقول سنستدرجهم)) صحابؤ رضى الله عنهم اوسلفو ته به دغلبه، خوف په وجه داستدراج خطره وه، ﴿مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ ((ای نستدرجهم استدراجًا من حیث لایعلمون)) یعنی په داسې طورسره ئ نیسو چه دوئ نه پوهیږی، بلکه دوئ ګمان کوی چه دازمونږ ترقی ده.

﴿إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ﴾ بیشکه دالله تعالى خفیه تدبیر اوددوئ دهلاکت خفیه اسباب محکم دی دهغې مدافعه په هیڅ حیله اوتدبیر سره نه شی کیدې ((کید)) پټ تدبیر، دیته وائ چه داسې کاراوکړی چه دهغې ظاهررحمت، اوباطن ئ قهراوعذب اوهلاکت وی ﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا﴾

دازجردې منكرينو درسالت ته . ابن جرير طبري په خپل تفسير كښې روايت كړيدې چه يوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم دسحرپورې په دعوت دايمان كښې مصروف وو اودقريشو دهرخاندان بيل بيل نوم به ئې اخستلو . اواسلام ته ئې رابلل او دعذاب نه به ئې يرول. نودورځې يومشرك مسلمانانوته اووئيل چه ستاسى دغه ملګرې ليونې شويدې چه په توره تياره شپه كښې دسحرپورې غرېده نوداآيت نازل شو چه آيادوئ سوچ فكرنه كوى په قرآن اودنبى صلى الله عليه وسلم په حالاتو اوصفاتوكښې چه داخبره ملعومه كړى چه دې مجنون نه دې هغه ټول عمر ستاسوسره اوسيدلې دې دهغه داحوالو نه تاسوواقف يئ. دده عقل پوهه امانت ديانت دېخوانه مسلم اومعروف مشهوردې

﴿ أَوَلَمْ يَنظُرُوا فِي مَلَكُوتِ ﴾ داهم زجردې يعنى آيادوئ سوچ ولې نه كوى چه په ملكوت يعنى محكم نظام سلطنت اوعجائباتو دقدرت كښې چه دتكوينى اوتنزيلى آياتونو تصديق اوكړى اوداچه دارسول (صلى الله عليه وسلم) رشتينى دې مجنون نه دې اودارنګه دوئ داسوچ ولې نه كوى چه زمونږ نيته دمرګ يادعذاب رانزدې ده چه دهغې نه مخكښې ايمان راوړى،دالله تعالى توحيد اودرسول الله صلى الله عليه وسلم رسالت تسليم كړى، يادامطلب دې چه كه دوئ په عجائباتو دقدرت كښې غورفكراوكړى نودابه ورته معلومه شى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مجنون نه دې بلكه په ټولو مخلوقاتوكښې زيات پوهه، عاقل دې او د ده خبرې دمجنونانوخبرې نه دى بلكه دالله تعالى دملكوت اودتكوينى اوتنزيلى آياتونواثبات دې بلكه مجنونان دوئ په خپله دى، اودارنګه كه دوئ په تيرشوؤ حالا تواوراتلونكو حالاتوكښې غورسوچه اوكړى نودابه ورته معلومه شى چه ددوئ هلاكت قريب دې.

﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ ﴾ يعنى كه په قرآنى آياتونودوئ ايمان نه راوړى نوپه دنياكښې بل كوم داسې كلام دې، چه دو ئ به په هغې ايمان راوړى، يعنى روستو دقرآن نه بل منزل كتاب نشته اوروستو دحضرت محمدصلى الله عليه وسلم نه بل رسول نشته، معتزلو په لفظ د«حَدِيث» سره تمسک كړيدې په دې خبره چه قرآن حادث دې، **جواب** (۱) حديث په معنى دحادث سره نه دې بلكه حديث هرهغه كلام ته وئيلې شى چه نقل كيږى نوقرآن نقل كړيدې، جبرئيل عليه السلام دالله تعالى نه اونبى صلى الله عليه وسلم نقل كړيدې دجبرئيل نه (۲) اوكه حديث په معنى دحادث سره شى نودامحمول دې په الفاظو اوكلماتو، اوقديم كلام نفسى دې.

﴿ مَن يُضْلِلِ اللَّهُ ﴾ دا تسلى ده رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يعنى تاخپله فريضه پوره كړيده، باقى هدايت وركول يانه وركول دادالله تعالى كاردې، نوځوک چه ضداوتعصب كوى

نو الله تعالى ي د هدايت نه محروم كړي او هيڅ څوک ورته هدايت نه شي وركولي

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا

تپوس كوي دوئ ستا نه [1] په باره د قيامت كښې چه كله به وي قائم كيدل دهغې، ووايه چه بيشكه علم د هغې

عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ؕۘ ثَقُلَتْ

خاص د رب زما سره دي [2]. نه ښكاره كوي هغې لره [3] په خپل وخت باندې مگر الله تعالى. درنه (ثقيله) خبره ده [4]

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ يَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ

په آسمانونو كښې او په زمكه كښې. نه به راځي قيامت تاسو ته مگر ناگاهه. تپوس كوي دوئ ستا نه [5] چه گويا كه ته

حَفِيٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾

تلاش كوونكي د هغې ئې. ووايه چه بيشكه علم د هغې [6] الله تعالى سره دي، ليكن ډير خلق نه پوهيږي

﴿ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ ﴾ دازجردي منكرينو ته، منكرين چه دالله تعالى دتوحيداودرسول الله درسالت نه انكاركوي نوداپه دې وجه چه دوئ دقيامت اودحساب كتاب قائل نه دى، اواستهزاءً تپوس كوي چه قيامت به كله وي، تپوس كونكي يايهوديان دي ياقريش مكه دي، چه دوئ نبي صلى الله عليه وسلم ته اووئيل ((يامحمد بيننا وبينك قرابة فاذكرلنامتى الساعة)) ساعة اسم دې داسماؤ دقيامت نه .قيامت ته ساعت ځكه وائ چه دابه واقع كيږي ناگاه، يادې وجې نه چه حساب داعمالو اوفيصله به كيږي په يوساعت كښې، يادې وجې نه چه داورځ سره داوگدوالى نه په منزله ديوساعت دې په نيزدالله تعالى، ﴿ مُرْسٰىهَا ﴾ مصدرميمى دې په معنى داثبات اوقيام يعنى راتلل دقيامت. ﴿ مُرْسٰىهَا ﴾ مبتداء ده ﴿ اَيَّانَ ﴾ خبرمقدم دې ﴿ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا ﴾

---

١ . زجر په طور د شكوى

٢ . جواب په اولي وجه سره

٣ . جواب په وجه ثاني سره

٤ . جواب په وجه ثالث سره

٥ . جواب په وجه رابع سره

٦ . جواب په وجه خامس سره

دا جواب په وجه اول سره دی﴿إِنَّمَا﴾ دحصر دپاره دی په معنی د «ما الا» سره. ترجمه یې په فارسی کښې په ،جز این نیست، سره کیږی. اوپه پښتو کښې. خبره داده بلکه نه ده، سره کیږی یعنی خبره داده چه دقیامت علم الله تعالی خپل خان سره ساتلی دی بل چاته یې نه دی ورکړی.

﴿لَا يُجَلِّيهَا﴾ جواب په وجه ثانی سره دی. نه ظاهره وی قیامت لره یعنی نه قادریګی په اظهاردوقت معین دقیامت، اوپه اخبار. اعلام دوقت دقیامت مګر صرف الله تعالی ، کمافی قوله تعالی﴿إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾

﴿ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ﴾ جواب دی په وجه ثالث سره دی. ددی یومعنی داده چه ((خفی علمها علی اهل السموات والارض)) یعنی پټ دی علم دقیامت په اهل داسمانونواوزمکواوکوم شی چه پټ وی نو هغه ثقیل وی په زړه (قرطبی) بله معنی ئی دا ده چه دا ډیره درنه معامله ده او هیبت ئی په اهل دآسمانونو اوزمکو ډیردی خکه چه په دی کښې فناء اوموت ددوی دی نواهل داسمانونو اوزمکو عاجز دی ددی دعلم نه، طاقت نه لری دعلم ددی ﴿لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً﴾ داجواب په وجه رابع سره دی چه قیامت به ناګاه راخی په حدیث دبخاری کښې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دی چه قیامت به په داسې حالت کښې راخی چه یوسړی به بل ته ، یعنی دکانداربه ګاهک ته دکپړې تهان کولاو کړی. نونه به دوی بیع کړی وی اونه به یې کپړه راتوله کړې وی چه قیامت به راشی، اوپه داسې حالت کښې به قیامت راخی چه یوسړی به دخپل اوښې نه پی لوشلې وی اواستعمال کړی به نی نه وی چه قیامت به راشی. اویوسړې به دخپل حوض مرمت اصلاح (لیو) کوی فارغ شوې به نه وی چه قیامت به راشی، اویوسړی به لقمه، په لاس کښې را اوچته کړی وی،خوړلې به ئی نه وی چه قیامت به راشی. ﴿يَسْأَلُونَكَ﴾ یعنی دوی د قیامت په باره کښې بیا تپوس کوی چه تاته اګرکه علم ذاتی دقیامت نه وی لیکن تابه دهغې تلاش کړی وی اوعلم دقیامت به دی حاصل کړی وی

﴿كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا﴾ددی یوه معنی داده چه ګویا کښې ته تلاش کونکې یې اومبالغه کونکې یې په سوال اوتلاش کښې دقیامت نه. ((من قولهم احفیتُ فی المسالة اذابالغت فی السوال)) یعنی عالم یې په قیامت نوخکه دوی تپوس کوی. بله معنی یې داده چه ګویاکښې ته مهربان یې په تپوس کونکو باندې اوخوشحالیږی په سوال دقیامت نه (ومنه قوله تعالی انه کان بی حفیاء)

﴿قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا﴾ یعنی ددوی خوداخیال دی چه ته دقیامت په تحقیق اوتفتیش اوسراغ

لګولو کښې مشغول یٔ اودتلاش نه بعد دي دهغې علم ته خان رسولي دي، اوحال دادي چه دغه علم صرف الله تعالى پورې مخصوص دي، اودادلايعلمون اوجاهلانو خيال دي چه نبی به عالم الغيب وی اودقيامت د وقت مخصوص علم به ورته حاصل وی

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِیْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

وه وايه زه اختيار نه لرم خپل خان لره [1] د هيڅ نفعې اونه د ضرر مګر هغه چه وغواړی الله تعالى (نو کيږی)

وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛۚ وَمَا مَسَّنِیَ السُّوْٓءُ ۛ

اوکه زه پوهيدلې [2] په غيب باندې نو خامخا به ما ډيرې حاصلې کړې وې فائدې، اونه به رسيدلې ماته څه تکليف.

اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ۠ ﴿۱۸۸﴾

نه يم زه مګر يروونکې او زيرې ورکوونکې يم هغه چا لره چه ايمان لری.

﴿قُلْ لَّآ اَمْلِكُ﴾ داجواب په وجه خامس سره دي چه زه خپل خان لره اختيارنه لرم دنفع دحاصلولويادضرردفع کولونودقيامت علم بهٔ څه رنګه اولرم﴿اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ﴾ دااستثناء منقطع ده ((اِلاّ)) په معنى دلکن سره دي ((ماشاء الله)) یٔ اسم دي خبریٔ محذوف دي ((اى فهو كائن)) يعنى زه مالک نه يم اختيارنه لرم خپل خان لره دنفع يادضرر، ليکن الله تعالى چه څه اوغواړی نوهغه کيږی، اوکه استثناء متصله شي نوبیایٔ معنى داده چه زه مالک نه يم ((فى وقت من الاوقات الاوقت مشيته)) مګرپه هغه وقت کښې چه الله تعالى اوغواړی اوماته قوت اوطاقت راکړی، نودادلالت کوی په دی باندې چه قدرت دعبدچه مؤثر وی نوباذن الله اوبارادة الله مؤثردي.

﴿وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ داپل جواب دي، يادماقبل توضيح او تحقيق دي يعنى که چرې ماته دهرغيب علم حاصل وې نومابه خان له خيرډير حاصل کړې وې اوماته به هيڅرې څه تکليف نه وې رسيدلې اوحالانکه چه داسې نه ده، لکه په غزوهٔ حديبيه کښې دنبى صلى الله عليه وسلم اودهٔولوصحابهٔ کرامو ډيرزيات شوق اوخواهش وو دعُمرې

---

١ - جواب په وجه سادس سره.

٢ - جواب په وجه سابع سره.

ليکن اونه شوه اګرکه دثواب نه محروم نه شول ليکن دکوم عمل په اراده چه راغلی وو نوهغه حاصل نه شو نومعلومه شوه چه علم غيب ورته نه وو که چرې علم غيب ورته حاصل وو به دې خبرې چه مونږ عمره نه شو کولې نو احرام به نی نه وې کړې، اوپه احدکښې اونورومواقعو کښې ورته ډير تکليفونه رسيدلی دی.، حديث الافک، شاهددې چه نبی صلی الله عليه وسلم ته چه ترڅوپورې وحی نه وه راغلې نودډيرو ورځوپورې پريشان حال وو، دغيب دعلم نه لرلوپه وجه تکليف رسيږی او پريشانی راځی اودنفع فوات راځی په اختياری امورو کښې په حجة الوداع کښې ئ اوفرمائيل ((لَواستقبلتُ مِن امریْ ما استدبرتُ لماسقتُ الهدی)) يعنی که زه، لاپخوا پوهيدلې په هغه شئ باندې چه روستو راپيښ شونوله سره به م هدی زان سره نه وې راوستې، د ابن عباس رضی الله عنه نه تفسيد «خير» په ربح فی التجارة سره مروی دې اوتفسير«سوء» په فقرسره، مقصوددادې چه مقصودنفی د استکثار «ډيروالی» ددنيوی خيرده، نه داخروی ، دامذکوره آيت دليل دې په نفی دعلم الغيب دنبی صلی الله عليه وسلم نه؛ اهل بدعت وائ چه داآيت دليل نه شی کيدې په نفی دعلم غيب خکه چه دلته ﴿وَلَوْ كُنتُ﴾ دماضی ده نوددينه نفی دعلم غيب صرف په ماضی کښې ثابتيږی نه په مستقبل کښې **جواب**، شرح عقائد کښې په ضمن دتقرير دبرهانی تمانع کښې چه اشاره ورته په دې آيت کښې ده ﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا ﴾ سوال کړيدې چه کان صيغه دماضی ده، نوددې آيت نه خوصرف دامعلوميږی چه ډيرالهه په ماضی زمانه کښې نه وونو کيدې شی چه روستو دې متعدد آلهه موجود وی نو بيا ئی جواب کړيدې چه په ((لوکان)) کښ ((لو)) استدلاليه دې اوداچه په ماضی داخل شی نوزمانه ماضی ترينه مرادنه وی بلکه مقصود استدلال وی په انتفاء د لازم سره په انتفاء د ملزوم باندې په طريقه داستمرار سره دلته هم «لو» د استدلال لپاره دې چه په نفی دلالت کوی اومقصود دادې چه ((اعلم الغيب)) هم نشته، او ،،مامسنی السوء،، او ،،استکثار،، دَ ،،خير،، هم نشته ليکن نفی داستکثار دخير، مس السوء ، دليل دې په نفی داعلم الغيب ، اوحديث د ((لواستقبلت من امری الخ)) دحجة الوداع حديث دې چه منسوخ هم نه دې خکه چه محدثينو تصريح کړيده چه په حجة الوداع کښې منسوخ احکامات نشته ، اودارنګه احتمال هم نشته چه علم غيب دې په مستقبل کښې ثابت شی حتی چه داحديث منسوخ شی کمامر، اوپه ډيرو احاديثو کښې واردی چه په مرض وفات کښې چه په نبی صلی الله عليه وسلم باندې باربار غشی راتله نوچه په هوش به شو نوتپوس به ئ کوو چه آيا جماعت شويدې که نه؟

او دا صریح دلیل دې چه په آخری عمر کښې هم نبی صلی الله علیه وسلم ته دتمامو مغیباتو علم نه وؤ ورکړې شوې

فائده علم غیب چه صفت خاصه دالله تعالی دې داهغه علم دې چه محیط وی په هرڅه باندې. اولذاته وی یعنی بې دواسطې داسبابو آلاتو نه وی، اودانبیاؤ علم په امورتشریعیۀ باندې محیط وی لیکن په ټولو تکوینیاتومحیط نه وی بل داچه لذاته هم نه وی بلکه په سبب دوحی اواخبارسره وی. نوددې وجې نه انبیاؤ ته چه دبعض مغیباتو علم حاصل شی نوهغې ته په اصطلاح دقرآن سنت کښې علم غیب نه شی ونیلې بلکه انباء عن الغیب ورته ونیلې شی

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

الله تعالی هغه ذات[1] دې چه پیدا کړی یې تاسې د یو نفس نه. او پیدا کړې ئې ده د دغه نفس نه بی بی د هغه

لِیَسْكُنَ اِلَیْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا حَمَلَتْ

ددې لپاره چه آرام وکړی دهغې سره پس هرکله چه پټه ئې کړه (جماع ، صحبت ئې وسره وکړو، نو حامله شوه دا

حَمْلًا خَفِیْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّاۤ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ

په حمل سپك سره. نو گرزیده راگرزیده د دغه حمل سره. پس هرکله چه درنه شوه، نو سوال ئې کولو د الله تعالی نه

رَبَّهُمَا لَىِٕنْ اٰتَیْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِیْنَ ۝

چه رب د دوئ دې. چه قسم دې که تا راکړو مونږ ته روغ رمټ بچې نو خامخا به شو مونږ د شکر گزارونه

فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِیْمَاۤ

پس هرکله چه ورکړو الله تعالی دوئ ته روغ رمټ بچې، نو وگرزول دوئ الله تعالی لره شریکان په هغه بچی کښې

اٰتٰىهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ۝ اَیُشْرِكُوْنَ

چه ورکړې دی الله تعالی دوئ ته پس لوئ دې الله تعالی دهغه نه چه دوئ ئې ورسره شریك جوړوی آیا دوئ شریکوی

---

[1] د دویمې دعوی سره متعلق

مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

..الله تعالى سره هغه څوك چه نشي پيدا كولي هيڅ شي او دوئ پيدا كړي شويدي اوطاقت نه لري دا سركان.

لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى

..ي مشركانو لره د مدد كولو. اونه د خپلو ځانونو سره مدد كولي شي او كه رابلئ تاسو دوئ لره لار ښودني ته.

لَا يَتَّبِعُوْكُمْ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾

نو دوئ تابعداري نه كوي ستاسي. برابره ده په تاسو كه رابلئ دوئ لره يا تاسو چپ يئ

﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ دا آيت متعلق دي ددويمي دعوې سره چه ﴿وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ﴾ يعني دشياطينو اتباع مه كوئ چه دغيرالله په نوم نذرونيازوركړئ يااولاد خپل غيرالله ته منسوب كړئ. ﴿مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ دلته دوه قوله دي **يوقول** دادي چه دنفس واحدة اوزوجهانه مرادمطلق زوج زوجة دي او د «مِنْهَا» نه مراد «مِنْ جِنْسِهَا» دي ((اى خلق كل واحدمنكم من نفس واحدةٍ وخلق لكل نفس زوجًا من جنسها)) (روح) يعني پيدا كړي يئ دي په تاسو كښې هريو شخص دَ مطلق نفس واحده نه او دَ هر شخص دپاره ئې د ده دَ جنس نه زوجه (بي بي) پيدا كړيده، د (منها) تفسير په (من جنسها) سره دنوروآيتونو نه هم معلوميږي لكه ﴿وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا﴾ (نحل) ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا﴾ (روم) اوبناپه دي قول باندي ضمير د ((جعلاله شركاء)) راجع دي مطلق زوج اوزوجه ته.

دويم قول دادي چه د «نفس واحدة» نه مراد حضرت آدم عليه السلام دي داقول دجمهورو مفسرينو دي. ليكن حضرت آدم عليه السلام نوم نه دي ذكرشوي خكه چه دلته مقصود ددي خبري بيان دي چه دټولو انساني نسلونو. اصل.اب. يودي متعدداصلونه نشته دي نوهركله چه مقصود بيان دوحدت وونود..واحدة. تصريح اوشوه. دآدم عليه السلام تصريح اونه شوه. اود..زوجها..نه مراد حواء.. ده. او د «منها» معني داهم كيدي شي چه دآدم عليه السلام نه پيداشويده اوداهم كيدي شي چه من جنسها ترينه مراد شي. ﴿لِيَسْكُنَ اِلَيْهَا﴾ يعني زوجه ئ ددي دپاره پيداكړه چه ددي نه سكون اوآرام جسماني روحاني. دماغي وغيره حاصل كړي. اوپه دي كښې اشاره ده چه ښځه

په اعتبار د اصل خلقت سره تابع د رجل (سړی) ده. ﴿فَلَمَّا تَغَشّٰهَا﴾ پس هرکله چه پټه ئ کړه ښځه. یعنی جماع او صحبت ئ ورسره اوکړو ﴿حَمَلَتْ حَمْلًا﴾ نو په اول وهلت کښې حمل خفیف وو، صرف نطفه علقه وه. ﴿فَمَرَّتْ بِهٖ﴾ ((ای استمرت به، والمراد بقیت به کما کانت قبل)) یعنی په مخکنی حالت باقی پاتې شوه لکه مخکښې چه به بی تکلیفه ګرځیده راګرځیده ، پاځیده کیناسته. نو په دغه حال باندې اوس هم وه. ﴿فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ﴾ پس هرکله چه دولد دلوئید لو په وجه ئ ګیده ډکه شوه او په دې ثقل بوج راغلو نو په دې باندې هیڅوک خبر نه وو چه په دې کښې څه شئ پټ دې. حیوان دې، انسان دې نارینه دې یازنانه، روغ رمټ دې یاشل ګوډ دې نوښځې خاوند دواړو دالله تعالی په دربار کښې عرض اوکړو. چه که ته په خپل فضل سره مونږ ته روغ رمټ ،دکارلائق بچې راکړې نو مونږ به ستاشکر ګزاریو نوکله چه الله تعالی ددوئ دغه تمنی پوره کړه نو

﴿جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ﴾ دوئ الله تعالی له شریکان اوګرځول اوالله تعالی د شرکاؤنه بالاتر، دې هیڅ شریک نه لری، دا آیت د مشکل مواضعونه دې او اشکال پیداشویدې دیوحدیث نه چه هغه حدیث تفسیر ګرځولې شویدې ددې آیت دپاره ، حدیث دادې چه روایت دې دسمره رضی الله عنه نه، اودارنګه دابن عباس رضی الله عنه نه، چه دحضرت حواء رضی الله عنها اولادبه پیداکیدل، نوژوندی به نه پیداکیدل ، نوشیطان ورته دیونیک مخلوق په شکل کښې راغې اوداحامله وه او ورته ئې وه وئیل چه کله ستابچې پیداشی نودهغه عبدالحارث، نوم کیده، نوژوندې به پاتې شی، ابلیس په ملائکو کښې په حارث سره بللې کیدو لیکن حواء رضی الله ته ته ددې علم نه وو، نوکله چه بچې پیداشو نوحواء دهغه نوم عبدالحارث کیخود ، نو په دې آیت کښې ددې ذکردې، ددې حدیث روایت کړیدې ترمذی او، ،حسن غریب،، ئ ورته وئیلی دی اودارنګه روایت ئ کړیدې حاکم اوصحیح ئ ورته وئیلی دی دارنګه طبری په خپل تفسیر کښې دابن عباس نه روایت کړیدې، نوداحدیث چه ددې آیت تفسیر شی نود ﴿جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ﴾ نه مرادآدم اوحواء دی نو نسبت دشرک دوئ ته راغلو، ددی اشکال جواب په دریو طریقو سره دې **اول** داچه ډیرومفسرینو ددې حدیث دَ صحت نه انکارکړیدې لکه ابن کثیر ، قرطبی ،بیضاوی ،.کبیر، وغیرهم، نو په دې تقدیرباندې اشکال نه په آیت کښې شته دې نه په حدیث کښې، لیکن ډیرمفسرین وائ چه انکاردصحت نه بعددتحسین دترمذی اودتصحیح دحاکم، اودبعد

ذکرحدیث نه په مسنداحمد، کښې مشکل دی، **دویم** داچه داحدیث تفسیر دآیت دپاره گرخول ضروری نه دی، دآیت تشریح په غیر ددی حدیث نه هم کیدې شی.(۱) چه مراد د﴿نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ او د ﴿زَوْجَهَا﴾ نه مطلق زوج شی لکه چه تیر شو. (۲) یاداچه مراد آدم علیه السلام اوحواء شی په اول کښې لیکن ددوئ ذکر په طور دتمهید سره وی اوپه ﴿جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ﴾ کښې مطلق زوج زوجه مرادشی، لکه دا توجیه مروی ده دحسن بصری رحمه الله نه اوددی تائید ددینه کیږی چه دلته کښې که چرته هغه واقعه مرادوې چه په روایت کښې ده نو ((جعلا له شریکًا)) به ئې ونیلې وې نه شرکاء.(۳) بیضاوی روح المعانی وغیرهما وائي چه کیدې شی چه ((خلقکم)) خطاب دقریشو سره وی او د ((نفس واحدة)) نه مراد ددوئ نیکهٔ قصی دې اودهغه زوجه قریشیه وه. الله تعالی ورته څلورخامن ورکړه نودوئ دهغوئ نومونه کیخودل عبدمناف عبدشمس عبدالعزی عبدالدار، (ای دارالندوه) حاصل داچه ددې آیت تعلق دآدم علیه السلام سره نه دې. **دریم** داچه دغه حدیث صحیح یاحسن اومنلې شی اودآیت دپاره تفسیر اومنلې شی، لکه ډیرو سلفونه داسې منقوله ده نوبیاتوجیه داده چه دعبدالحارث، نوم شرک حقیقی نه دې، اول ددې وجې نه چه په اعلامو (نومونو) کښې معنی لغوی نه وی معتبره، دویم ددې وجې نه چه د،،عبد اضافت،، حارث،، طرف ته مستلزم نه دې چه حارث دې معاذالله معبودوی، میلمه پالونکی انسان ته عرب،، عبدالضیف،، وائي، اودهغې مطلب دانه دې چه دمیلمه عبادت کوی، دریم داچه دانوم حضرت آدم علیه السلام نه دې اینبودلې بلکه حواء اینبودلې دې نو دَ عصمت دَ نبی سره څه منافات نشته دې، البته دَ بچې دَپاره دَ نبی په کور کښې نامناسب نوم اینبودل چه په ظاهری طورترینه دشرک بوئ راخی، دمعصوم نبی دلوئ شان سره مناسب نه وه، اودقرآن عظیم داعادت دې چه دانبیاؤ اومقربینو دوړوکی زلّت نه په سخت عنوان سره تعبیرکوی، په قانون د(حسنات الابرار سیئات المقربین) سره، لکه دحضرت یونس علیه السلام په قصه کښې، ﴿فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ﴾ اوپه بل مقام کښې ئې ﴿حَتَّىٰ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا﴾ فرمانیلی دی علی توجیه بعض المفسرین، نودغه شان دلته ((جعلاله شرکاء)) تغلیظًا ونیلی شویدی، اونسبت دواړوته مجازاً شویدې.

فایده زیاته صحیح توجیه په آیت کښې داده چه دلته مراد مطلق زوج زوجه دی کمامر، اودشرك نه مراد حقیقی شرک دې په قرینه دمابعد سره څکه چه په مابعد کښې دحقیقی شرک

ابطال کبری اوکه آیت دحضرت آدم علیه اسلام دقصي سره متعلق شی نوبیادشرک نه مراد شرک حقیقی نه دي بلکه شرک فی التسمیه مراددي اوپه مابعدکښي دشرک فی التسمیه په مناسبت سره دشرک حقیقی ابطال مقصوددي. ﴿ أَيُشْرِكُونَ ﴾ یعنی داسي خیزونه څه رنګه دالله تعالٰی سره شریک جوړیدي شی چه عاجز بي بس. مخلوق دی اومشرکینو په خپلو لاسونو جوړکړیدی اوددوئ امدادهم نشی کولي بلکه دخپل خان امدادهم نه شی کولي. ﴿ وَإِن تَدْعُوهُمْ ﴾ داخطاب یادمؤمنانو سره دي اود. «هم» ضمیر نه مراد مشرکین دی اومطلب دادي چه اي مؤمنانو که چري تاسومشرکینو ته دهدایت یعنی داسلام دعوت ورکوئ نودوئ ستاسو تابعداری نه کوی اوپه اسلام کښي دعناد په وجه نه داخلیږي یاخطاب مشرکانو ته دي او«هم» ضمیربتانوته راجع دي اودازیات راجح اودسیاق سره موافق دي اوددي دوه مطلبه کیدي شی یوداچه که تاسو دوئ لره په دي غرض سره راوْبلئي چه تاسوته څه لاراوښائي یاستاسو راهنمائ اوکړی په څه مسئله کښي نوهغوئ داسي نه شی کولي. دویم داچه که تاسودوئ لره رابلئي چه څه لاروړته اوخائي نودوئ په دي هم نه پوهیږی اوستاسواتباع نه کوی.

إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ
بیشکه هغه کسان چه بلئ ئي تاسو په خپلو حاجتونو کښي سوا د الله تعالٰی نه. بندګان دی ستاسو پشان محتاج.
فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ
نو پس راوْبلئ دوئ. نو دوئ دي ستاسو څه حاجت پوره کړی. که تاسو يئ ریشتني. آیا دوئ لره خپي شته
يَمْشُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ
چه تلي شی په هغي سره ؟ آیا دوئ لره لاسونه شته چه رانیول کوی په هغي سره، آیا دوئ لره سترګي شته
يُبْصِرُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ
چه لیدل کوی په هغی سره. آیا دوئ لره غوږونه شته چه اوریدل کوی په هغي سره؟ ووایه راوْبلئ شریکان خپل، بیا چل ول (تدبیر) جوړ کړئ ماته
فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَالَّذِينَ
پس مهلت مه راکوئ ماته بیشکه خما مددګار الله تعالٰی دي هغه ذات چه نازل کړي ئي دي کتاب، اوهغه مددکوی د نیکانو اوهغه کسان

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ

چه تاسوئي رابلئ په خپلو حاجتونو كښې سوا د الله تعالى نه. طاقت نه لري د مدد كولو ستاسو. او نه د خپلو ځانونو سره

يَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٧﴾ وَ اِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ۭ وَتَرٰىهُمْ

مدد كولې شي كه تاسې رابلئ دوئ سمې لارې طرف ته. نو دوئ نه آوري. او ته به وينې دوئ لره گمان به كوې

يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٩٨﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ

چه دوئ گورى تاته اوحال دا چه دوئ هيڅ نه وينى خپل عادت وگرزوه معافى كول [1]. او امر كوه د نيكئ

وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾

او اعراض كوه «مخ اړوه» د جاهلانو نه

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ ﴾ دابيان دعجز دمعبودانو دې، اوددوئ معبودانو ته چه ئ عبادونيلي دى نودا په دې اعتبار سره چه دوئ بتان په شكل دانسانانو جوړكړې وو، نوپه طريقه داستهزاء سره دلته دهغوئ عجز بيان شو، چه زيات نه زيات داسې كيدې شى چه ستاسومعبودان ستاسو په شان عبادشى ،اومراد دمثليت نه دادې چه هغوئ ستاسوپه شان مخلوق اوعاجزدى نوځه رنگه هغوئ معبودان كيدې شى اود ((فادعوهم)) امر د زجر اوزورنې دپاره دې دَ اجابت يا اجازت دپاره ندې ﴿ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ ﴾په دې كښې هم بيان دعجز دمعبودانو ددوئ دې، اومقصود دا دې چه ستاسومعبودانو لره قوئ فاعله نشته دې، يعنى دكاردكولوقوة آلات او ذرائع لاسونه خپې ورسره نشته دې، اودارنگه دعلم او ادراک آلات قوتِ سامعه باصره نه لرى نو دوئ نهايت عاجزدى نومعبودان نشى كيدې،اودامطلب نه دې چه معبودِبرحق لره به لاوسونه خپې وغيره اعضاء وى، شيربينى رحمه الله په خپل تفسير «السراج المنير» كښې واي چه بعض جاهلانو په دې آيت سره دليل نيولې دې په اثبات داعضاؤ باندې دپاره دالله تعالى په دې شان چه عدم ددې اعضاؤ دليل دې دعدمِ الوهيت دبتانو نومعلوميږى چه داله برحق، الله تعالى ، دپاره به اعضاء وى، جواب دادې چه مقصود ددې آيت نه دادې چه انسان، افضل ،احسن دې، دبُت نه ځكه چه

١ - تسلى

انسان لره لاس ،خپې ،سترګې وغیره شته دي اوبُت لره نشته دي ، نوافضل ،اکمل، چه د آدَوْن.
اخس عبادت کوی نوداجهل دي، اهـ،، ددې کلام نه معلومه شوه چه الله تعالی لره اعضاء
جوارح ثابتول دجاهلانو عقیده ده، اود ،،ید ،،عین،، ساق،، اثبات چه الله تعالی لره شویدي
په نصوصو کښې نو دهغې نه ، اعضاء،اجزاء جوارح نه دی مراد.

﴿قُلِ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ﴾ مشرکانو نبی صلی الله علیه وسلم ته اووئیل چه زمونږ دآلِهَوُ عجز
اوذم مه بیانوه ګنی دوئ بهٔ درته ضرر اورسوی اوخه بلاء آفت به دربانديې نازل کړی نویه دي
آیت کښې ددې جواب راغلو چه راؤبلئ خپل شرکاءخمادضرراوهلاک دپاره اوتاسو هم ورسره
شامل شئ اوخمادضرردپاره تدبیرونه منصوبی جوړ کړئ، لیکن تاسوپه دې نه یئ قادرخکه چه

﴿إِنَّ وَلِـِّۧيَ اللَّهُ﴾ خمامددګار الله تعالی دي اوددې ثبوت یودادې چه﴿نَزَّلَ الْكِتَٰبَ﴾ اودویم داچه

﴿وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّٰلِحِينَ﴾ دعاموصالحانوامدادکوی نوخمابه خامخا کوی ابن عباس رضی الله عنه
وائ چه صالحینو نه مرادهغه څوک دی چه دالله تعالی سره هیڅوک نه برابروی اودالله تعالی
نافرمانی نه کوی، نودالله تعالی عادت کریمه دادې چه دصالحینو سره امدادکوی، اودحفاظت
ئ کوی، حضرت عمربن عبدالعزیزرحمه الله دخپل اولادپاره ذخیره اوسرمایه نه جمع کوله
نوچاورته په دې باره کښې څه خبره اوکړه نودوئ اوئیل چه خما اولادبه یامجرمان وی یابه
صالحان وی نوکه صالحان وی نوبیاخوالله تعالی ددوئ ولی اومددګاردې، اوالله تعالی چه
دچامددګار شی نودهغه خمامال ته حاجت نه وی اوکه مجرمان وی نوالله تعالی فرمائیلی دی،

﴿فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ﴾ نوزه دمجرمانو دپاره فکرمندنه یم، ﴿وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ﴾
یعنی الله تعالی خمامددګاردې اودټولومؤمنینو صالحینومددګاردې اوستاسو معبودان، نه
ستاسو مددکولې شی اوهم نه دخپل ځان مدد کولې شی اودافرق دې په مابین دمعبودبرحق

اومعبود باطل کښې ﴿وَإِن تَدْعُوهُمْ﴾ یعنی بتان خومددنه شی کولې بلکه څه اوری هم نه
اوحسن بصری رحمه الله تعالی وائ چه معنی داده چه که تاسوکفارولره دعوت دایمان ورکوئ،
نودوئ ئ نه آوری.

﴿وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ﴾ یعنی اې محمد (صلی الله علیه وسلم) یااې مخاطبه، ته وینی بتانولره
چه نظرکوی تاته، یعنی په شان دنظرکونکی دی ځکه چه دو ئ بُتانولره سترګی جوړې کړې
وې، لیکن هیڅ نه وینی؟ ځکه چه جمادات دی، ﴿خُذِ الْعَفْوَ﴾ په دې کښې تسلی هم ذکرکیږی

نبی صلی الله علیه وسلم ته اوآداب ددعوت هم ذکرکیږی.﴿خُذِ﴾ نه مراد په عمل کښ راویستل ، اوعادت گرځول دی یعنی عفو کول خپل عادت اوگرځوه او په عمل کښې ئ راوله د﴿الْعَفْوَ﴾ ډیرې معانی کړې شویدی چا وئیلی دی چه مرادمعافی کول دی مشرکانوته کله چه هغوئ سب، شتم، ظلم کوی، نومؤمنانوته عفوکول پکښې په طریق اولی سره داخل دی، اوچاوئیلی دی چه مرادترینه دادې چه نرمی کوه اوسخت گیری، سخت خوئ مه کوه چه مؤمنان درنه متفرق نه شی کماقال تعالی ﴿وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ دحضرت عکرمه نه روایت دې چه کله داآیت نازل شو نونبی صلی الله علیه وسلم دحضرت جبرئیل عليه السلام نه ددې مطلب تپوس اوکړو نوجبرئیل امین عليه السلام اووئیل، ((لاادری حتی اسئل)) نودالله تعالی نه ئ تپوس اوکړو اوواپس راغونواوئ وئیل چه الله تعالی فرمائ ، ((ان الله یامرک اَنْ تصلَ مَنْ قَطَعَکَ وتُعطِیْ مَنْ حَرَمَکَ وتَعفُو عَمَّنْ ظَلَمَکَ)) (فتح الباری) اوچاوئیلدی چه مراددادې چه د اغنیاؤ د مال نه زائده حصه واخله هغه چه دوئ ته اسانه وی داحکم قبل دنزول دحکم دزکوة نه وو، او ﴿بِالْعُرْفِ﴾ په معنی دمعروف سره ټولوطاعاتو ته شامل دې، اوتوحیددټولوسردار دې نوددې وجه نه عطاء رحمه الله ددې ترجمه کوی په ((لااله الاالله)) سره، ﴿وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ یعنی دجاهلانو دجهل جواب اومقابله په جهل سره مه کوه بلکه دسلامتیا والاقول وایه، قالواسلاماً.

وَإِمَّا	يَنزَغَنَّكَ	مِنَ	الشَّيْطَانِ	نَزْغٌ	فَاسْتَعِذْ	بِاللَّهِ إِنَّهُ	سَمِيعٌ
اوکه ورسی تاته د طرف د شیطان نه خه وسوسه پس پناه ونیسه په الله تعالی سره بیشکه هغه هرڅه آوری ،							
عَلِيمٌ ۝	إِنَّ	الَّذِينَ	اتَّقَوْا	إِذَا	مَسَّهُمْ	طَائِفٌ	مِّنَ الشَّيْطَانِ
عالم دې په هرڅه بیشکه هغه کسان چه یریږی د الله تعالی نه کله چه ورسی دوئ ته څه وسوسه د شیطان نه،							
تَذَكَّرُوا	فَإِذَا	هُم	مُّبْصِرُونَ	۝	وَ	إِخْوَانُهُمْ	يَمُدُّونَهُمْ
نویادکړی دوئ الله تعالی لره پس په دغه وخت کښې دوئ پوهیدونکی وی. اوورونړه دشیطانانو راکاږی دوئ لره شیطانان							
فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ۝							
په گمراهئ کښې بیا دوئ کمې نکوی په گمراهئ کښې							

﴿ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ ﴾ يعنى كه چرې په تقاضا دبشريت سره تاته دجاهلانو دعمل په وجه غصه راشى نوازاله ئ په تعوذ سره اوكړه . نزغ، نسغ، نخس، په يومعنى دى، لغوى معنى ئ ((ادخال الابرة اوطرف العصااو مايشبه ذالک فى الجلد)) ته واى، يعنى دانسان دحيوان په جلداوبدن كښې تيره څيزلكه ستن وغيره داخلول چه برآنګيخته شى، اومرادترينه دلته وسوسه شيطانى ده اواطلاق ئ په فسادهم كيږى لكه په دې قول دالله تعالى كښې ﴿مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِى وَبَيْنَ إِخْوَتِىٓ ﴾ (يوسف) اى افسدالشيطن.

﴿ فَٱسْتَعِذْ ﴾ جواب دامرمحذوف دې ((اى يدفعه عنک)) او ﴿ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ دمحذوف جواب دپاره علت دې، دا آيت دلالت كوى چه اكثر غصه دشيطان دوسوسى اودتسلط نه راځى اوعلاج ئ اعوذبالله ويل دى، پيغمبر دشيطان دتسلط نه مبرا وى اومعصوم وى نوعلماء واى چه داد باب د ﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ دقبيلى نه دې يعنى خطاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دې اومراد ترينه غير دې، يا دا چه دا تعليق بالشرط دې نودلالت نه كوى په وقوع باندې. ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ ﴾ يعنى استعاذه په وخت د وسوسى كښې دمتقيانو سنت دې د﴿طَٰٓئِفٌ ﴾ نه مرادوسوسه دګناه ده چه احاطه اوګيره كوى په سړى باندې. ﴿تَذَكَّرُوا۟ ﴾ يعنى دوئ يادكړى الله تعالى لره اوذكرشروع كړى، يايادكړى وعدوعيدلره، اوانجام دګناه لره، مراددادې چه شيطان غصه، اووسوسه دګناه هرچاته اچوى ليكن متقيان دشيطان دشرنه په دې طريق سره بچ كيږى چه دوئ دالله تعالى ذكركوى، اووعدوعيد يادوى اودګناه انجام يادكړى نو دعفلت دپردونه ئ سترګې آزادى شې، حق اوباطل، نفع نقصان، خيراوشر، اووينى نو دشيطان په وسوسه عمل نه كوى، اوكوم خلق چه دشيطان رونړه اواتباع دى نوهغوئ دالله تعالى دذكرنه غافل وى، وعدوعيد اودګناه انجام نه يادوى نودوئ په ګمراهئ كښې ترقى كوى اوپه ګناه اومعصيت كښې كمى نه كوى. ﴿ لَا يُقْصِرُونَ ﴾ ضميرشياطينو ته راجع دې يا اِخوانُوته راجع دې يعنى شياطين په وسوسواچولو كښې كمى كوتاهى نه كوى اواخوان ئ په معصيت اوګناه كښې قصورنه كوى.

ط	اجْتَبَيْتَهَا	لَوْلَا	قَالُوا	بِآيَةٍ	تَأْتِهِم	لَمْ	وَإِذَا

اوكله چه رانه وړې ته دوئ ته [1] يوه معجزه (كومه چه دوئ غواړى) وائى دوئ تا ولې غوره نكړه او پيش نكړه دا معجزه.

۱ ـ شكوه

قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا

نه وه وايه چه بېشکه[1] زه خو تابعداری کوم دهغې چه وحي کولی شي ماته د طرف د رب خما نه. دا حه ذکر شوي

بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝

د پوهې خبرې او دلائل دی د طرف د رب ستاسي نه او هدايت دې او رحمت دې دهغه قوم لپاره حه ايمان لري

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝

او کله چه لوستې شي قرآن نو غوږ کيدئ هغې ته او چپ شئ د دې لپاره چه په تاسو رحم وکړی شي

﴿وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ﴾ داشکوی اوجواب شکوی ده. دمشرکانوعقیده وه چه آیاتونه اومعجزې پیغمبر. پخپله جوړوی نوددې وجې نه به دوئ دیوخاص معجزې. طلب کولو . نوچه هغه مخصوصه معجزه به ظاهره نه شوه دځه مصلحت په وجه نودوئ به ونیل چه که ته پیغمبری نودامخصوصه ، فرمایشی معجزه ولې نه پیش کوې.﴿لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا﴾ اجتباء دځپل ځان دطرفه جوړولو ته وائ لکه عرب وائ: اجتبيت الكلام ، اى اختلقته. انشاته من عندک. بعض مفسرين وائ دادجبايت نه ماخوذ دې په معنى دجمع سره. اوددې وجې نه حوض ته جبايه وائ چه په دې کښې اوبه جمع کیږی غالب استعمال ئ په معنى داختيارکښې کيږي. اى هلا اخترتها، ﴿قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ﴾ یعنی خماکاراومنصب ، اتباع دوحی اودرسالت فرائض پوره کول دی. فرمائشی معجزات نه خماپه اختيارکښې دی اونه خما دفرائضو منصبيؤنه دی دنبوت دمدعى په ذمه مطلق معجزه ښکاره کول وى ، مخصوصه. فرمائشى معجزه ضرورى نه ده. ﴿هَٰذَا بَصَائِرُ﴾ هذاکښې اشاره ده قرآن ته چه مشتمل دې په دلائلو چه مذکوردی په دې سورة معنى کښې ،عقلی، نقلی نو﴿هَٰذَا﴾ معنى جمع ده اودامبتداء ده﴿بَصَائِرُ﴾ ئ خبردې لفظًا جمع ده نومطابقت په مابين دمبتداء اوخبرکښې راغلو معنى، اوبصائر جمع دبصيرة ده.هغه ظهور ته وائی چه په هغې سره ليدل وشى (بينائى) اوحمل د (بصائر) په (هذا) باندې يا تشبيه بليغ ده يا مجاز مرسل دې خکه قرآن سبب دې د ظهور د حق او د عقل د بصيرت اوليدلو دپاره نوداتسميه دسبب باسم المسبب ده، اومقصوددادې چه دقرآن هرهرآيت يوه مستقله معجزه ده.

---

1 - جواب شکوی.

نودنورومعجزاتو طلب كولوته څه حاجت دي؟ اوداقرآن صرف معجزه هم نه ده بلكه هدايت هم دي او رحمت دي د عقائدو اود احكاماتو مكمل بيان دي

﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْءَانُ ﴾ يعنى د قرآن نه مكمل فائده اوهدايت هغه څوک حاصلولې شي چه قرآن ته په خاموشئ اوادب سره توجه اوكړى، ددې آيت په شان نزول كښې مختلف روايات دى. يوداچه داحكم په مانځه كښې دقرائت په باره كښې نازل شويدې، يا د خطبه په باره كښې يا په نوروحالاتوكښې مختلف روايات دى ليكن د دې رواياتو په مابين كښې څه تناقض . اختلاف نشته دې. ټول مراد كيدې شى ليكن د قراءت خلف الامام په باره كښې ددې نزول په ډيرو رواياتو سره ثابت دې. اومجمع عليه دې. اواحنافو ددينه دقرات خلف الامامه ممانعت ثابت كړيدې په دې شان چه ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْءَانُ ﴾ شامل دې جهرى مونځ اوسرى مونځ دواړوته اودارنګه شامل دې فاتحه اوغيرفاتحه ته . لكه حافظ ابن تيميه وائ چه سورة فاتحه دقرآن كريم په سورتونو كښې افضل سورة دې چه ددى مثل نه په تورات كښې شته دې نه په انجيل كښې نه په زبوركښې، نوداسې نشى كيدې چه داستماع اوانصات حكم سورت فاتحه ته شامل نه شى، نوپه دې آيت كښې دمقتدى وظيفه توجه كول اوغوږ ايخودل فرمائيلې ده، اودامام وظيفه قرآت كول خودلى ده، نوددې آيت نه په واضحه طورسره معلومه شوه چه قرات صرف دامام فريضه اوذمه ده، اودمقتدى فريضه اوذمه خاموش كيدل اومتوجه كيدل دى برابره خبره ده چه سرى مونځ وى اوكه جهرى وى اوقراءت هم عام دې چه دسورت فاتحه وى اوكه دنوروسورتونووى، او﴿ فَٱسْتَمِعُوا ﴾ داستماع نه ماخوذدې، اواستماع عامه ده دسماع نه (نه بالعكس) يعنى استماع په غير دسماع نه هم راځى اودسماع سره هم راځى لكه حديث كښې راغليدې (مسلم دارمى وغيرهما) چه دنبى صلى الله عليه وسلم عادت كريمه وو چه په جهاد كښې به ئ چه كله په يوكلى، علاقى، باندې حمله كوله نودطلوع فجرنه قبل به هلته اورسيدو، ((وكان يستمع الاذان فان سمع اذ انا امسک والا اغار)) يعنى نبى صلى الله عليه وسلم به غوږ كيخودو . نوكه اذان به ئ واوريدو نوحمله به ئ نه كوله اوكه اذان به ئ وانه وريدو، نوحمله به ئ كوله نوپه دې حديث كښې داستمع نه روستو((سمع)) هم ذكردې او ((والا)) ذكردې نومعلومه شوه چه په غير دسماع نه هم استماع متحقق كيږى ((والا فيلزم فى الحديث تقسيم الشئ الى نفسه ومباينه كمالايخفى)) اوداستماع دغه معنى ټولو اهل لغتو ليكلى ده، صراح ٣١٣ . تاج العروس ص ٥٩١ مفردات راغب ٢٤٢ دغيرمقلدينو امام علامه شوكانى وائ : ((يدل على النهى عن

القراءة عندمجرد الجهرولیس فیه ولالی غیره مایشعر باعتبار السماع)) یعنی په جهری مونخونوکښې نهی دقرآت نه ددې تعلق دسماع سره نشته دې. سماع وی اوکه نه وی په دواړو حالتونوکښې قرات خلف الامام منع دې. ﴿ وَأَنصِتُوا ﴾دا د انصات نه مشتق دې. انصات خاموش کیدلو ،اوچپ کیدلو ته وائ. امام ابوبکرالرازی په خپل تفسیر احکام القرآن کښې وائ. ((وقال اهل اللغة الانصات الامساک عن الکلام والسکوت لاستماع القرءة ولایکون القاری منصتا ولاساکتا بحال. وذلک لان السکوت ضدالکلام وهوتسکین الالة عن التحریک بالکلام)) یعنی اهل لغت وائ چه انصات منع کیدلو ته وائ دکلام نه، اونه شی کیدې . قرات کونکې په هیڅ حال کښې،جهروی یا اخفاء وی، منصت . ساکت خکه چه سکوت ،تکلم ،ضدین دی،تکلم تحریک السان بالکلام دې اوانصات اوسکوت تسکین الالة عن التحریک دې،امام راغب وائ ((السکوت مختص بترک الکلام)) نومعلومه شوه چه قرآت سراً هم دانصات سره منافی دې. اوپه صحیح حدیث کښې راغلیدی چه کله به جبریل عليه السلام وحی راوړله نونبی صلی الله علیه وسلم به ، داویدلو سره سره، آهسته آهسته، په پټه طریقه سره قرآن ونیلو ((وکان یحرک شفتیه)) نبی صلی الله علیه وسلم به آهسته آهسته شونډې مبارکې خوزولې، نوالله تعالی داحکم نازل کړو، ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ ﴾ ،یعنی ژبې ته حرکت مه ورکوه بلکه ((فاستمع وانصت)) بلکه آوره، اوخاموش کیږه. نوددینه معلومه شوه چه په پټه، آهسته لوستل هم داستماع اوانصات سره منافی دی خکه چه نبی صلی الله علیه وسلم به په جهرنه لوستلو ،اودهغې باوجود ورته حکم دفاستمع وانصت کیږی ،اوبعض علماؤ د﴿ وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِى نَفْسِكَ ﴾ نه استدلال کریدې دجوازدقرات سراً دپاره نوحافظ ابن کثیر وغیره په دې باندې ردکریدې اووئیلی دی چه دابعیدې دحق او انصاف نه اومنافی دې دانصات سره چه مامور به دې، ((هذابعید مناف للانصات المامور به)) اوداحنافو دکتابونو مشهورعبارت دې چه ((النائ کالقریب)) یعنی څوک چه دخطیب نه بعیدوی نودهغه حکم دقریب دې چه دخطبې په دوران کښې سکوت پرې واجب دې، صاحب دفتح القدیر وائ چه په نیزدامام ابوحنیفه رحمه الله په دوران دخطبې کښې درود په نبی صلی الله علیه وسلم مطلقاً ونیل نشته دې خکه چه دامنافی دې داستماع اوانصات سره اوپه نیزدامام ابویوسف په نفس کښې ونیلې شی اوصاحب د(جوهره) شرح القدرو وائ ((ویصلون علی النبی صلی الله علیه وسلم فی انفسهم ولاینطقون به)) یعنی دخطبې په دوران کښې به تلفظ اونطق په درود سره نه کوی بلکه په تصورسره به په زړه کښې درود وائ، ددینه معلومه شوه چه سراً ونیل هم منافی دی

دانصات اواستماع سره والله اعلم ﴿لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ لعل په کلام الهی کښې د وعدې دپاره مستعمليږی .نوددينه معلومه شوه، چه چرته دقرآن درس کيږی اوخلق ئ په غوراحترام سره آوری نو په دوی باندې درحمت الهی نزول راځی

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ
او يادوه رب خپل په زړه خپل کښې په عاجزئ او په يرې سره، او په ښکته سره د جهر قولی نه (په زوره ويلونه)
بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ
صبائی او بيگانی او مه کيږه د غفلت کوونکو نه بيشکه هغه کسان چه په نيزد درب ستا دی تکبر نه کوی
عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ۝
د هغه د عبادت نه او پاکی وائی هغه لره او خاص هغه لره سجده کوی

﴿وَاذْكُرْ رَّبَّكَ﴾ ددينه مراد عام ذکردې چه شامل دې دُعالره هم اوتلاوت لره هم اوتسبيح تهليل لره هم.﴿فِيْ نَفْسِكَ﴾ داشامل دې دوؤ صورتونولره **يو** ذکرقلبی په غير دتلفظ لسانی اونطق نه **دويم** ذکرقلبی سره دحرکت دلسان نه اوبه غير دآوازنه، چه ديته ذکرسری وئيلې شی، دادواړه قسمونه دذکرخفی دپاره دی، اوذکرجهری دپاره هم دوه صورتونه دی، يوجهرمتوسط ،اوبل جهر مفرط. جهرمتوسط دادې چه په داسې آوازسره وی چه صرف په خپله ئ آوری (کماهو المروی عن ابن عباس رضی الله عنه) اوجهرمفرط دادې چه ډيربه زوره سره وی، په حديث کښې ددې قسم نه منع راغليده، ((اربعوا علی انفسکم – الخ)) د ﴿وَدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ﴾ نه مرادادې چه دجهر مفرط نه کم وی يعنی جهرِ متوسط. اوبعض مشانخو ددې آيت نه استنباط کړيدې چه ذکرخفی افضل دې دجهری نه، اوبه روايت داحمد کښې((خيرالذکر الخفی)) راغليدې. ﴿تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً﴾ منصوب بنابرحاليت دی په تاويل داسم فاعل سره ای متضرعا وخائفا ياپه تقدير دمضاف سره ((ای ذاتضرع وخفية)) اودابه اصل کښې خوفة وو، واؤ په الف سره بدل شويدې، دتضرع نه مرادادې چه دالله تعالی دعظمت اوجلال استحضاروی، اودخوف نه مرادادې چه دخپلوگناهونو اوبه عبادت کښې دتقصير په وجه، په زړه کښې دالله تعالی دعذاب يره موجوده وی. ﴿بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ﴾ (غدو) دَ غدوة جمع ده مابين صلوة الفجروطلوع الشمس ته وائ (يعنی صبائ) ، ((آصال)) د (اصل) جمع ده او (اُصُلٌ) د (اَصِيْلٌ) جمع ده، مابين العصر الی غروب الشمس ته وائ . بيگائ اوداکنايه ده، ددوام، نه يادامطلب دې چه کم ازکم ،

صباګ بیګاګ، په ذکراوتلاوت کښې مشغول کیدل پکاردي، اوپه احادیثوکښې، په دې دواړه اوقاتوکښې دذکر ډیرفضائل واردديوفقنا الله.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ ﴾ د «عند»، نه مراد «عندیه»، په اعتبارد تقرب الی الله اورضاء الهی سره دې مکانی عندیة یازمانی عندیة نه دې مراد ،ځکه چه الله تعالی منزه دې دمکان اوزمان نه اوپه دې آیت کښې دمقربینو ددربارالهی ملائک انبیاء دحال بیان دې، دترغیب دپاره ، دلته د درې صفاتو ذکر راغلیدې **اول صفت** د زړه دې ﴿ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ **دویم صفت** دژبې اوزړه دواړودې ﴿ وَيُسَبِّحُونَهُ ﴾ تسبیح لسانی قلبی **دریم صفت** دباقی اعضاؤ جوارحو دې ﴿ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ﴾ په روایت دمسلم وغیره کښې دی چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کله چه بنی آدم آیت دسجدې تلاوت کړی اوسجده، «تلاوت» اوکړی نوشیطان یوطرف ته شی اوجړاکوی، وایئ «په وجه دحسد اودشمنئ سره» های هلاکت اوافسوس دې، امراوکړې شو بنی آدم ته دسجدې نوسجده ئ اوکړه نوده لره جنت«واجب» شو اوماته امرشوې وو اوماانکار اوکړو نوماله ناراواجب شو، په بل روایت کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چه نشته دې یومسلمان چه اوکړی یوسجده مګرالله تعالی اوچتوی ده لره په دې سره مرتبه یامعاف کړی په دې سره ګناه ،یاجمع کړی دواړه، اوپه روایت دابوداؤدوغیره کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به په سجده کښې دادعا باربار ونیله سَجَدَ وجهی روایت کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چه نشته دې یومسلمان چه اوکړی یوسجده مګرالله تعالی اوچتوی ده لره په دې سره مرتبه یامعاف کړی په دې سره ګناه ،یاجمع کړی دواړه، اوپه روایت دابوداؤدوغیره کښې دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به په سجده کښې دادعا باربار ونیله : ((سَجَدَ وجهی للذی خلقه وشق سمعه وبصره بحوله وقوته، فتبارک الله احسن الخالقین)).

تم تفسير سورة الاعراف بفضل الله تعالى وحُسن توفيقه ، فله الحمد كما هو اهله وصلى الله على النبي الكريم وعلى اله واصحابه اجمعين

جمعه

١١ - ربیع الثانی سنــ ١٤٢٩ هـ　　١٨ - مارچ سنــــــــ ٢٠٠٨ ع

د مضامينو فهرست

عنوان **صفحه**

د دویم جلد فهرست ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً

د دويم جلد فهرست ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً